# د افغانستان

# تاريخ او خپروني



دکتور محمد حلیم تنویر

ژباړونکي: زبیر شفیقي او فدا محمد فایض

PROPERTY OF ARIC KABUL
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012873 5

# د افغانستان

## تاریخ او خپرونې

**History & Journalism in Afghanistan**

ACKU

PROPERTY OF ACKU
12873

دکتور محمد حلیم تنویر
**Dr.M.Halim Tanwir**
ژباړونکي: زبیر شفیقي او فدا محمد فایض

# د علمي او فرهنګي خپرونو څانګه

## انستیتوت تحقیقات و بازسازی افغانستان

**Research & Reconstruction Institute of Afghanistan**
**Dept. of Academic Historical & Cultural Publication**

دکتاب نوم: **د افغانستان تاریخ او خپرونې**
محقق او لیکوال: **دکتور محمد حلیم تنویر**
ژباړونکي: **محمد زبیر شفیقي او فدا محمد فایض**
لومړی چاپ، د غویي میاشت ۱۳۸۰ لمریز کال/اپریل ۲۰۰۱م.
خپروونکي: دافغانستان د څیړنو او بیاودانو انستیتوت په هالند کې
چاپ: دصبوراسلامي نشراتي مرکز، پشاور- پاکستان
شمیر: ۲۰۰۰ توکه
پرله پسې دچاپ شماره: ۹

*Name of the book:* ***History & Journalism Afghanistan***
*Writer:* ***dr.M.Halim Tanwir***
*Translators:* ***M.Zobiar Shafiqi & Feda Mohammad Faiz***
*First edition in Pashto language, April 2001*
*Saboor Publishing Centre, Peshawar, Pakistan*

***Afghanistan Institute***
***P.O.Box 1586***
***1300 BN Almere - Holland***
***Tel: 00-31-(0)36-5300093 Fax: 00-31-(0)36-5300468***
***E-mail: Afghaninstitute@hotmail.com***

***ALL RIGHTS RESERVED د چاپ حقوق محفوظ دي***

***ISBN 90-805342-4-2 دنړیوالو ثبت شماره: ۲-۴-۸۰۵۳۴۲-۹۰ شابک***

بسم الله الرحمن الرحيم

## دمطالبو فهرست


دپيل خبري ۱

لومړي برخه

د امير شير علي خان د واکمنۍ دوره ٤

دمحمدزيو ورونو پنځه کلنۍ جګړه

اجتماعي اصلاحات او ژورناليزم ٥

دشير علي خان تيروتنې: ٦

۱/ دپاچايي اعلان او دانګليسانو په وړاندې محافظه کارانه دريځ

۲/ دسيد جمال الدين افغان تبعيد

۳/دبرتانوي هند د نظامي مساورينو استخدام

٤/ دمومندو پاڅون تکونه

٥/ دعبدالله جان وليعهدي

٦/ پر روسانو باور

سيد جمال الدين افغان او مطبوعات ۱٤

دعربو ادبياتو ته د سيد خدمتونه ۲٥

دمطبوعاتو په باب دسيد جمال الدين مقاله ۲٦

د جريدې ګټې ۲۷

دسيد جمال الدين آثار ۳۱

دافغانستان په معاصر ژورناليزم کې د عروة الوثقى تداوم ۳٤

کابل (لومړنې نوم ورکې خپرونه) ۳٥

شمس النهار (دافغانستان په مطبوعاتو کې لومړني عملي ګام) ۳۸

دلومړي برخې پايليکونه او اخځونه ٤۰

## دویمه برخه


د عبدالرحمن خان د واکمني دوره ٤٣

دعبدالرحمن خان تیروتني ٤٤

١/ له ایوب خان سره خدعه

٢/دانګلیسانو غوښتنو ته تمایل

٣/ د روسانو په وړاندي محافظه کاري

٤/ دمجاهدینو د مشرتابه ټکونه

٥/ دایران د تجاوزیه وړاندي کمزوري دریځونه

٦/د محمد زیو کورني ته پاملرنه

د مطبوعاتو اختناق ٤٩

دعبدالرحمن خان مرګ ٥٠

د امیر حبیب الله خان سلطنت ٥٣

د حبیب الله خان د دوري بیارغاونه

دحبیب اله خان تیروتني ٥٣

١/ له روسانو او انګلیسانو سره محافظه کارانه اړیکي

٢/د مشروطه غوښتونکو ټکونه

دمطبوعاتو را ژوندي کول ٥٦

محمود طرزي د افغانستان د ژورنالیزم بنسټګر ٥٨

– ژوند لیك

– د محمود طرزي آثار

سراج الاخبار (په ژورنالیزم کي دویم ارتقایي ګام) ٦٥

– مولوي عبدالروف

– محمد سرور واصف

– مولوي نجف علي

سراج الا طفال(دکوچنیانو لومړني اخبار) ٦٨

حبیب الله خان ووژل شو

ددویمي برخي لمنلیکونه او اخځونه ٧٠

دریــمه برخــه


د امان الله خان پاچایي (دافغانستان د خپلواکي تاریخي دوره) ۷۱
د امان الله خان تیروتنې ۷۳
۱/ له انګلیسانو سره د اوربند اعلان
۲/ دراولپنډي د (سولې) د شرمیدلي تړون لاسلیک
۳/ له روسانو سره دوستانه اړیکې
۴/دبیرنیو پروګرامونو تحمیل
د امان الله خان پرخلاف د اولسي پاڅون پیل ۸۱
د امان الله خان د دورې مطبوعات ۸۳
په افغانستان کې د مطبوعاتو لومړی قانون
د مطبوعاتو مستقل ریاست
راډیو افغانستان
دامانیه د دورې دولتي جریدې او ورځپاڼې ۸۴
د افغانستان د ولایاتو جریدې ۸۷
د امان الله خان د دورې آزاد جریدې ۹۳
انیس (لومړنۍ آزاد او غیر دولتي جریده په افغانستان کې)
محی الدین انیس (مظلوم او مبارز ژورنالیست) ۹۷
- ژوند لیک
انیس( داخبار لومړني مصادره او په افغانستان کې د ژورنالیست لومړنی محاکمه) ۹۹
د محی الدین انیس آثار ۱۰۱
د انیس سرمحرر او مسوولین(له پیله تر طالبانو تر دورې پورې)
د اماني دورې ژورنالیستان ۱۰۵
د حبیب الله(دسقاو په زوي مشهوره) د واکمنۍ دوره ۱۱۳
د حبیب الله د سقوط پرخوري ۱۱۶
دحبیب الله د دورې خپروني ۱۱۷
د حبیب الله د حکومت ضد جریدې ۱۱۹
د دریمې برخې بلیکونه او اخځونه ۱۳۱

## څلورمه برخه


د محمد نادر شاه د واکمنۍ دوره ۱۳۳

د څرخي کورنۍ سره د پاچا دښمني ۱۳۶

دمحمد نادر شاه تیروتنې ۱۳۹

د محمد نادر شاه د دورې ژورنالیزم ۱۳۱

د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ دوره ۱۳۸

د محمد هاشم خان صدارت ۱۳۹

د شاه محمود خان د صدارت دوره ۱۴۲

دمطبوعاتو دویم آزاد قانون

دمطبوعاتو په دویم قانون کې آزادي خبروتې

د(ویښو ځلمیانو) سیاسي سازمان

دمحصلینو اتحادیه

د محمد داود خان در صدارت دوره ۱۴۹

د داود خان د صدارت فرهنګي - مطبوعاتي فعالیتونه

د داود خان په دوره کې د نړیوالې اړیکې

د مشروطه شاهۍ اعلان ۱۵۴

دافغانستان سیاسي ګوندونه ۱۵۷

۱/ د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند(خلق، پرچم او ستم ملي)

۲/ شعله جاوید

۳/ افغان ملت

۴/ مساوات

۵/ صدای عوام

۶/ اتحاد ملي

۷/ حزب اسلامي(د جوانان مسلمان غورځنګ)

د دکتور محمد یوسف د صدارت دوره ۱۶۴

د محمد هاشم میوندوال صدارت ۱۶۵

د نور احمد اعتمادي حکومت ۱۶۸

د دکتور عبدالظاهر حکومتي دوره ۱۷۰

د محمد موسی شفیق لنډ مهالی صدارت ۱۷۱

د محمد ظاهر شاه د دوره مطبوعات ۱۷٤
آزاد او غیر دولتي خپروني ۱۷٥
ګهیځ لومړني آزاده اسلامي جریده ۱۸٥
ولې ګهیځ د ځوانانو مسلمان دنهضت غږي نه شو؟ ۱۸۷
ددي دوري دوه پوهان ۱۹۳
۱/ صلاح الدین سلجوقي او آثار
۲/ عبدالحي حبیبي او آثار
راديو افغانستان (یوازني علمي ډله ییزه رسني وسیله) ۱۹۹
په افغانستان کي تیاتر، فلم او سینما ۲۰٤
- عبدالرشید لطیفي
- ولې د فلم او سینماځوي پيل شوي هنر بي بنياده شو؟
باختر آژانس ۲۰۷
دولتي مطبوعات ۲۰۸
د ځلورمي برخي پايليکونه او اخځونه ۲۲۱


## پنځمه برخه


د محمد داود د واکمني دوره (پرجمهوري د شاهي نظام بدلون) ۲۲٤
د محمد داود لومړني مطبوعاتي کنفرانس ۲۲۸
د جمهوریت لومړني ټولنیز اصلاحات ۲۲۹
د محمد ظاهر شاه استعفا لیك ۲۳۰
د کمونیستانو خپلسري ۲۳۱
الف / په دولتي ادارو کي د کمونیستانو زیاتول
ب / د مخالفینو له منځه وړل
د اسلامي غورځنګ غبرګون او د محمد داود وارخطایي ۲۳٥
د افغانستان خلکو ته خطاب ۲۳۸
دمحمد داود اساسي قانون او لویه جرګه ۲۳۹
یو حزبي سیستم او د آزادو مطبوعاتو د قانون الغا ۲٤۱
د محمد داود د سیاسي تګلاري بدلون ۲٤۲
د محمد داود ورستي ورځي ۲٤٥

د علي احمد خرم وژنه ۳٤٦
د میر اکبر خیبر ترور ۳٤٧
د محمد داود پر خلاف د نظامي فعالیتونو پیل ۳٤٩
جمهوریت (د افغانستان د جمهوري دولت خپرني ارگان) ۳٥١
د داود د دورې مطبوعات او فرهنگ ۳٥٤
د دولت مطبوعاتي او تبلیغي فعالیتونه ۳٥٩
په افغانستان کې د ژورنالیزم زده کړه ۳٦٠
تلویزیون په افغانستان کې ۳٦٣
د پنځمې برخې پایلیکونه او اخځونه ۳٦٥

## شپږمه برخه

د کمونیستانو کودتا (د ۱۳٥٧ د ثور اوومه) ۳٦٦
داگسا د جاسوسي سازمان ۳٦٨
دکمونیستانو جنایات ۳٧٠
دتلویزیوني خپروني پیل ۳٧٤
د رژیم په رسمیت پیژندنه او د هیوادونو غبرگونونه ۳٧٦
دخلق او پرچم اختلافات ۳٧٧
دمارکس او لینن ستاینه ۳٧٩
دتره کي او امین اختلافات
نور محمد تره کي(ژوند لیك) ۳٨۳
دحفیظ الله امین سل ورځني حکومت ۳٨٥
د انقلاب ددفاع سازمان ۳٨٧
د کام جاسوسي سازمان ۳٨٨
د امین وروستي ورځي ۳٨٩
دحفیظ الله امین (ژوند لیك) ۳٩١
د ثور انقلاب ۳٩۳

پر افغانستان د روسانو(شوروي اتحاد) تیري ۳٩٥
دببرك کارمل بیانیه ۳٩٧

| | |
|---|---|
| د کارمل رژیم او بې وسې بې | ۲۹۹ |
| ولې روسانو په افغانستان کې مداخله وکړه؟ | ۳۰۳ |
| پر افغانستان د تجاوز په اړه نړیوال غبرګون | ۳۰۷ |
| پر پنجشیر او پکتیا کې د روسانو حمله | ۳۱۱ |
| پلار وطنه ملي جبهه | ۳۱۳ |
| د خاد جاسوسي سازمان | ۳۱۷ |
| د نجیب الله د واکمنۍ دوره | ۳۲۳ |
| ملي پخلاینه | ۳۲٤ |
| د ژنیــو تړون | ۳۲٥ |
| په افغانستان کې د روسانو ماته او د شوروي اتحاد ټوټې ټوټې کېدل | ۳۲۷ |
| دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند پښوته یوځغلند نظر | ۳۲۸ |
| په شوروي کې د اختناق تر چتر لاندې د کارمل هڅې | ۳۳۳ |
| لومړني اعتراف او په اختناق کې غبرګون | ۳۳٤ |
| نجیب او دائتلافي حکومت سیاسي مانور | ۳۳٥ |
| د افغانستان کې د کمونیستانو جنایات | ۳۳٦ |
| د نجیب الله د رژیم رانسکوریدل | ۳۳۹ |
| د نجیب الله (ژوند لیك) | ۳٤۱ |
| دکمونیستانو د دورې ژورنالیزم | ۳٤۳ |
| دکابل رژیم خپروني | ۳٤۷ |
| حقیقت انقلاب ثور | ۳٤۸ |
| په اروپا کې د خلق او پرچم کمونیستي ډلو خپروني | ۳٦۲ |
| د افغانستان مائویـستان | ۳٦۳ |
| دمائویستانو سازماني هڅې او انشعابونه | ۳٦٤ |
| د مائویستانو خپروني | ۳٦۹ |
| د هیواد د ننه او بهر د مائویستانو خپروني | ۳۷۰ |
| د ښیرمه برخـه پایلیکونه او اخځونه | ۳۷٥ |

## اوومه برخه


د افغانستان اسلامي نهضت ٣٨٠
حزب اسلامي(٠ دافغانستان د مسلمانو ځوانانو نهضت) ٣٨١
عبدالرحيم نيازي (داسلامي نهضت بنسټ ايښودونكي) ٣٨٣
رهبري شورا ٣٨٥
دمائويستانو او اسلام پالو ترمنځ ټكر ٣٨٦
د نهضت پټ فعاليتونه ٣٨٧
په اردو كي د حكمتيار فعاليت ٣٨٨
د مهندس حبيب الرحمن شهادت ٣٨٩
د داود پر خلاف لومړني وسله وال پاڅون ٣٩٠
د افغانستان د اسلامي نهضت اړيكي او فعاليتونه ٣٩١
د ځوانانو په نهضت كي د رباني موقعيت ٣٩٣
په حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو د اسلامي نهضت د نامه بدليدل ٣٩٤
د حكمتيار د زعامت ټاكنه او د رباني انشعاب ٣٩٥
له اسلامي نهضت سره د مسعود اړيكي
د څرخي پله زندان د بنديانو پاڅون ٣٩٧
غازي سيد اكبر
عمليات او د مجاهدينو وسله وال پاڅونونه ٣٩٨
د افغانستان جهادي - سياسي ګوندونه ٤٠٠
حركت انقلاب اسلامي ٤٠١
د افغانستان د نجات ملي جبهه ٤٠٣
د مجددي او رباني ائتلاف او بيرته انشعاب ٤٠٤
له حزب اسلامي څخه د مولوي خالص انشعاب ٤٠٥
پيمان اتحاد اسلامي افغانستان ٤٠٦
د افغانستان د آزادي لپاره اسلامي اتحاد ٤٠٧
د افغانستان د مجاهدينو اسلامي اتحاد ٤٠٨
د مجاهدينو په منځ كي د اداري فساد پيل ٤٠٩
دسنت ګرايي او بنسټ پالني ترمنځ اختلاف ٤١٠
اووه ګوني اتحاد ٤١١


ACKU

| | |
|---|---|
| په کعبه کې د لوري مراسم | ٤١٣ |
| له حکمتيار سره د وقاد اختلاف | ٤١٥ |
| د اووه ګوني اتحاد خپروني | ٤١٦ |
| دري ګوني اتحاد | ٤١٧ |
| د دري ګوني اتحاد خپروني | ٤١٨ |
| د افغانستان د قوماندانانو شوري | ٤١٩ |
| د افغانستان د مجاهدينو ائتلاف | ٤٢١ |
| د حکمتيار او ريګن د ملاقات معضله | |
| د عمومي بخښنې اعلان | ٤٢٣ |
| دمجاهدينو انتقالي اسلامي حکومت | ٤٢٥ |
| د مجاهدينو ترمنځ تساند او تفاهم او مذهبي اختلاف | |
| د کوردوويز فعاليتونه | ٤٢٦ |
| دملګرو ملتونو پنځه فقره يي طرحه او مجاهدين | |
| د روسانو او مجاهدينو ترمنځ سياسي خبري اتري | ٤٢٨ |
| مشورتي شوري او نامأنوس تراوونه | ٤٣٠ |
| دلند مهالي دولت خپروني | ٤٣٢ |
| د شوري نظار او حزب اسلامي اختلافونه | ٤٣٤ |
| د مسعود وژني او د اختلافونو دوام | ٤٤٣ |
| د شهنواز تني کودتا | ٤٤٣ |
| د پاکستان، ايران او مجاهدينو دري اړخيز کنفرانس | ٤٤٥ |
| ايران د حکمتيار د وژلو حکم ورکړ | ٤٤٦ |
| په کنړ کې د حکمتيار او مولوي جميل الرحمن ترمنځ جګړه | ٤٤٧ |
| بينن سيوان او له مختلفو اړخونو سره خبري | ٤٤٨ |
| امريکا او شوروي او په افغانستان د وسلو بنديز | ٤٤٩ |
| ملګري ملتونو او بين الافغاني خبري اتري | |
| دښارونو سقوط او له مجاهدين سره پيوستون | ٤٥٠ |
| دپاکستان پر تخريبي عملياتو د مجددي انتقاد | ٤٥٣ |
| په مسکو کې د روسانو او مجاهدينو رسمي ملاقات | |
| له دوستم سره د نجيب الله اختلاف | ٤٥٣ |
| د نجيب الله استعفا | ٤٥٤ |
| د اوومه برخه پاپليکونه او اخځونه | ٤٥٧ |

اتمه برخه


د افغانستان د مجاهدينو اسلامي حزبونه( د مقاومت د دوري خپرونې او ژورنالیزم) ٤٦٠
حزب اسلامي افغانستان
دافغانستان د ښځو اسلامي سازمان ٤٦٢
د ګلبدين حکمتيار ژوند ليك ٤٦٣
شهادت (د افغانستان د جهاد لومړنی جريده او ورځپانه) ٤٦٦
خواهر شهيد(د کابل د مجاهدينو لومړنی پټه خپرونه) ٤٦٩
انسا(د مجاهدينو لومړنی خبري آژانس) ٤٧٠
افغانستان غږ راديو (د مجاهدينو په خبرني تاريخ کې لومړني اوريدونکي پيغام رسوونکي) ٤٧١
د افغانستان د اسلامي حزب خپروني ٤٧٣
جمعيت اسلامي افغانستان ٤٨٥
د برهان الدين رباني ژوند ليك ٤٨٧
د جمعيت اسلامي خپروني ٤٨٩
د افغانستان د نجات ملي جبهه ٤٩٨
د صبغت الله مجددي ژوند ليك ٤٩٩
د نجات ملي جبهې خپروني ٥٠١
د افغانستان ملي اسلامي محاذ ٥٠٣
پير سيد احمد ګيلاني ژوند ليك ٥٠٤
د افغانستان د ملي اسلامي محاذ خپروني ٥٠٥
د مولوي يونس خالص (حزب اسلامي) ٥٠٦
د حزب اسلامي خالص خپروني ٥٠٧
وړوي محمد نبي محمدي( د افغانستان حرکت انقلاب اسلامي) ٥٠٨
د حرکت انقلاب اسلامي خپروني ٥٠٩
د افغانستان د آزادي لپاره اسلامي اتحاد ٥١٠
عبدالرب رسول سياف ژوند ليك ٥١١
د اتحاد اسلامي خپروني ٥١٣
د افغانستان شيعه ګوندونو ٥١٥
١/ دافغانستان د نصر سازمان

۲/ د افغانستان د مجاهدین خلق سازمان ۵۱۷
۳/ د افغانستان دعوت اسلامي
٤/ د افغانستان د اسلامي جهاد پاسداران ۵۱۸
۵/د افغانستان اسلامي نهضت ۵۱۹
٦/ د افغانستان اسلامي نیرو
۷/دافغانستان شوري اتفاق اسلامي ۵۲۰
۸/ رعد حزب اسلامي ۵۲۱
۹/ هزاره نوي نسل(نسل نو هزاره)
۱۰/ حزب الله ۵۲۲
۱۱/ د افغانستان د مستضعفینو جنبش
۱۲/ روحانیت جوان ۵۲۳
۱۳/ د افغانستان آزادي بخښونکي اسلامي سازمان(الحدید)
۱٤/ اسلام مکتب توحید ۵۲٤
۱۵/ د افغانستان مبارزو مسلمانانو سازمان
دافغانستان د اسلامي انقلاب متحده جبهه ۵۲۵
دمزاري او محسني اختلافات ۵۲٦
د افغانستان حرکت اسلامي ۵۲۷
د افغانستان د اسلامي حرکت خپروني
د شیخ آصف محسني ژوند لیك ۵۲۸
دافغانستان د ائتلاف اسلامي شوري ۵۳۱
دافغانستان وحدت اسلامي گوند ۵۳۲
د مزاري او اکبري اختلافات ۵۳۳
مزاري د مسعود د ټپل شوي جگړي قرباني ۵۳٤
وحدت گوند او اکبري اختلافات ۵۳۵
د عبدالعلي مزاري ژوند لیك ۵۳٦
د وحدت گوند خپروني ۵۳۷
د متفرقه سازمانونو خپروني ۵٤۰
د افغانستان د جهاد د خپرنو او تبلیغاتو سازمانونه ۵۷۸
۱/ د افغانستان د جهاد ثقافتي شوري
۲/ د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفترونه ۵۷۹

د مجاهدینو د تبلیغاتو دفترونو خپرونې ۵۸۰
۳/ د افغانستان د آزادو لیکوالو اتحادیه ۵۸۴
٤/ د افغانستان د جهادي څیړنو مرکز ۵۸۵
۵/ د افغانستان اسلامي فرهنگي مرکز
٦/د افغانستان د جهادي آثارو د ترجمې کانون ۵۸٦
۷/ دافغانستان د اسلامي دایرة المعارف انجمن ۵۸۷
۸/ افغان اطلاعاتي مرکز ۵۸۸
د افغانستان مهاجر لیکوالان، شاعران او ژورنالیستان ۵۹۰
په افغانستان کې د نړې بشري سازمانونه ٦۲۸
د اتمه برخه پایلیکونه او اخځونه ٦۳۰

نهمــه برخـــه

د مجددي او رباني دوره ٦۳۳
له کمونیستانو څخه مجاهدینو ته واك د لیږدولو دوره
د شمال ائتلاف شورې ٦۳۵
دملګرو ملتونو نوې وراندیز او د حزبونو ګډوډي ٦۳۷
د ظاهر شاه له تیلو څخه د حکمتیار ویره ٦۳۸
د مجاهدینو نظامي تحرکات ٦۳۹
لند مهالي اداري پنځه دیرش کسیز کمسیون وراندیز ٦٤۰
دنجیب الله استعفا او د مسعود خوځښتونه ٦٤۱
دکابل د ښار د اطرافو د قوماندانانو شورا ٦٤۳
د وکیل او مسعود لیدنه په جبل السراج کې ٦٤۵
دعبدالرحیم هاتف سرپرست تاکل کیدل
دایران، روسیې او پاکستان دریځونه ٦٤٦
د مجاهدینو د مشرانو د پووالي په اړه د نوازشریف ناکامي ٦٤۷
حزب اسلامي ته د مسعود ګواښ ٦٤۸
له حکمتیار او مسعود سره د پاکستان اړیکې ٦٤۹
دمسعود او بینن سیوان خبري اترې
په چارآسیاب کې د حکمتیار او رفیع لیدنه ٦۵۱
له مسعود سره د حکمتیار تیلفوني خبري ٦۵۳

دمجاهدینو (۵۱) کسیزي شوري جوړیدل ۶۵۹
کابل فتحه شوه ۶۶۱
د مجددي دوه میاشتنۍ دوره ۶۶۳
د کابل په بګرامیو کې د مسعود او حکمتیار د سولې ترون ۶۶۵
پاکستان ته د مجددي سفر ۶۶۶
وینې تویدل او لوټماري ۶۶۷
د مجددي تیروتنې ۶۶۸
دبرهان الدین رباني دوره ۶۷۱
د ننګرهار جهادي شورا
دافغانستان ملي اسلامي جنبش ۶۷۳
د جنبش ملي خبروني ۶۷۶
دعبدالصبور فرید د صدارت لنډه موده ۶۸۱
د عبدالصبور فرید ژوند لیك
په کابل کې داخلي جګړې ۶۸۳
دافشار جګړه ۶۸۴
بهرنۍ اړیکې او نامتجانس دریځونه ۶۸۵
د هرات او شیندند جګړې ۶۸۷
ددوستم او حکمتیار مخالفتونه ۶۸۸
له استعفی څخه د رباني انکار او د بلې جګړې پیل ۶۸۹
په کابل کې انارشي "ګډوډي"
د حکمتیار پر خلاف د امریکا دریځ ۶۹۱
د اهل حل او عقد شورا ۶۹۲
دحزب اسلامي د ننه انشعاب ۶۹۳
پیام آزادي رادیو تلویزیون ۶۹۵
داسلام آباد ترون ۶۹۶
د جلال آباد ترون ۶۹۹
شوراي هماهنګي او د حزب اسلامي د پاشل کیدو پیل ۷۰۰
د رباني اشتباهات ۷۰۱
د برهان الدین رباني د دوري خبروني ۷۰۳
په نړۍ کې د افغانانو خوري وري خبروني(دطالبانو د دوري له آغاز څخه تر اوسه) ۷۰۸
د نهمه برخه پایلیکونه او اخځونه ۷۳۷

ACKU

لسمه برخه


| | |
|---|---|
| د طالبانو اسلامي امارت دوره | ۷۲۹ |
| په هیواد کې د طالبانو د سفر تاریخ | |
| د طالبانو تحریک څوک او څه شي دي | ۷۳۳ |
| د طالبانو نظامي غړي | ۷۳٤ |
| د ملا محمد عمر"مجاهد" ژوند لیك | ۷۳٦ |
| دکندهار شورا | ۷۳۷ |
| دافغانستان اسلامي امارت | |
| مرکزي عالي شورا | ۷۳۸ |
| دافغانستان د اسلامي امارت کابینه | ۷۳۹ |
| مذهبي پولیس(امربالمعروف و نهي عن المنکر) | ۷٤۲ |
| دشمال متحده جبهه | ۷٤۳ |
| په شمال جبهه کې د ایران نفوذ | |
| امریکا او طالبان | ۷٤٥ |
| د بن لادن معما او طالبان | ۷٤۸ |
| داسامه بن لادن ژوند لیك | ۷٥۰ |
| ایران او کسات غوښتونکي عکس العملونه | ۷٥۱ |
| د افغانستان د اسلامي امارت مطبوعات او ډله ییز رسنۍ وسایل | ۷٥۳ |
| د لسمي برخې پایلیکونه او اخخونه | ۷٥۷ |
| وروستي خبري | ۷٥۸ |
| آماتور ژورنالیستان او بې مسوولیته بازاري خبري | ۷٦٤ |
| داشخاصو الفبایي فهرست | ۷٦٦ |
| دخپروني او جمعي رسنیو الفبایي ردیف | ۷۲٤ |
| سلسله ادب و دانش برای کودکان | |

## دافغانستان د نامتو ژورنالیستانو او ورځپانو عکسونه


| | |
|---|---|
| ۱ / سید جمال الدین الدین افغان | ۲٤ |
| ۲ / د شمس النهار جریده | ۳۷ |
| ۳ / محمود طرزي | ۵۷ |
| ٤/ د انیس ورځپانه | ۹۵ |
| ۵ / محي الدین انیس | ۹۸ |
| ٦ / د جمهوریت ورځپانه | ۲۵۳ |
| ۷ / د ثور انقلاب | ۲۹٤ |
| ۸ / حقیقت انقلاب ثور (ورځپانه) | ۳٤۹ |
| ۹ / د شهادت(ورځپانه) | ٤٦۸ |
| ۱۰ / د البدر(میاشتني جریده) | ۵۸۱ |
| ۱۱ / د شریعت ورځپانه | ۷۵٤ |


ACKU

# د پیل خبرې

کوم کتاب چې ستاسې تر مطالعې لاندې دی، زما د هغه اوږد مهالي کار نتیجه ده چې غوښتل مې په افغانستان کې د ژورنالیزم یا صحافت او په مجموع کې د خپرنیو رسنیو په باب څېړنه وکړم او د مطبوعاتو له لومړنی څرک نه تر معاصرې دورې ( د یوویشتمې پېړۍ پیل) پورې تاریخي پیښې د فرهنګ او ژورنالیزم له بهیرسره یو ځای و څېړم، یا وڅېړم او په تألیف او لیکنه یې پیل وکړم. په حقیقت کې داکتاب د نولسمې پېړۍ له پای (۱۲۷۵ ش) نه د دیویشتمې پېړۍ آغاز (د ۱۳۷۹ ورې) پورې د معلوماتو یوه ټولګه ده.

که څه هم چې د امیر شیر علی خان له دورې نه د محمد ظاهر شاه تر دورې پورې د ژورنالیزم په باب څه ناڅه مقالې او رسالې لیکل شوې دي، خوداسې څېړنه چې وکولای شي د افغانستان دله بېړۍ رښتې دهغه له تاریخي ابعادو او زماني پېښنو سره تحلیل او تفسیر کړي، نه ده خپره شوې. د افغانستان تاریخ او صحافت زما دهغې زماني راسې داطلاعاتو، تجربو او یادښتو محصول دی چې لا د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي شاګرد وم او تر اوسه پورې چې د هیواد دننه یا بهر دتاریخي بدلونو په مدوجزر او زماني نا انډولیو کې واقع وم، مطبوعاتو خپل رنګا رنګ بهیر طی کړ او په تاریخ او ټولنه کې یې خپل اثرات پر ځای پرېښودل. زه تر اوسه په دې لار کې ډېر حالات او ابعاد ګورم او کاږم یې. وسې غوښتل ددې تجربو ډېره لږه برخه ولیکم او ددې کتاب پر یادښتو یې ور زیات کړم.

دافغانستان تاریخي پیښې هغه مهال له مقدسو او نامبارکو پیښو او لنډ مهالو بدلونو دکې شوې چې د ثورد اوومې نیټې کودتا زموږ پر خلکو وتپل شوه او لا ډېر وخت نه وتیر شوی چې د پخواني شوروي اتحاد تیری زموږ په تاریخ کې یوه توره صفحه پرانسته. د روسي عسکرو او د هغوی د لاسپوڅي رژیم په مقابل کې زموږ د مسلمان ملت د مبارزو تاریخ، زموږ په تاریخ کې یوه نوې جبهه او نوی باب پرانست افغان مجاهدینو پخپل ځوارلس کلن جهاد کې د شوروي کمونستي نظامي زبر ځواک داسې په ګونډو او دړې وړې کړ چې لویدیځ یې تصورهم نشوای کولای.

دافغانستان مجاهدین د خپلو مبارزو په تاریخي مقطع کې له کمبودونو او بې نظمیو سره سره د روسانو په وړاندې د خپل ځوارلس کلن جهاد په دوران کې ډېر ښه وځلېدل او د کمونیزم ددکتاتوري نظام په له منځه وړلو کې خپل تاریخي نقش تر سره کړ. خو عواقبو ته نه پام او د مدني ټولنې د جوړونې د پراختیا په اړه دبرنامې او پروګرام نشتوالي ددې باعث شو چې پخپله په دې اورکې وسوځي. د مجاهدینو بې نظمه اداري سره په افغانستان کې د نظام تغییر او د یو شمیر افرادو سلیقې چې له بیګانه هیوادو سره یې

اړیکې سلموسي وي د کورني جنګ اور لا پسې په غرغنه وکړ. په حقیقت کې د افغانستان کورني جنګ د یوه سیاسي تناقض، سیمه ییزودرګیرو هیوادونو د تضادونو او رقابتونو محصول ګڼل کیدای شي. د یوه داسي نظام موجودیت چي باید د مجاهدینو د مقاوست د حرکت په توګه منځ ته راغلی وای او په یوه دولتي نظام کې ددیني تفکر سره د آزادي غوښتني د خوځښتونو د پراختیا د محور په توګه رامنځ ته شوی وای، په حقیقت کې د نورو لپاره د سلو ورنه و.

افغانستان د مختلفو سازمانو تر منځ د کورني جنګ په نتیجه کې یوه له اختناقه ډکه دوره تیره کړه چي بیای هم ډیری تیاری پیښې یې زموږ د تاریخ پاڼو ته وسپارلي. ما په دې کلونو کې افغانستان ته سفرونه درلودل او له مختلفو سازمانونو، رهبرانو، قوماندانانو، علماو او د مختلفو ډلوله سیاستوالو سره وغږیدم او تاریخي اسنادمې راټول کړل، چي ددغو پیښو او معلوماتو یوه برخه مې پردې توګه ورزیاته کړه. دافغانستان د تاریخ او ژورنالیزم کتاب نه داچي په تبلیغي اړخونو او د ټولنیزو رسنیو په باب خبرې لري بلکې لوستونکوته د تاریخي پیښو، سیاسي شخصیتو، ګوندونو او دافغانستان د پیښو، د پیښلیکني په باب هم عمومي معلومات وړاندې کوي. سره له دې چې هیله مې لرله چې ډله ییزې رسنې وسیلې په هره دوره او د هغې دورې په شرایطو کې تحلیل کړم او په مختلفو ابعادو کې دهغې په څیړنې او تفسیر سره کتاب په تخصصي توګه علمي ټولنو، پوهنتونو، څیړنیزو مرکزونو او لوستونکوته وړاندې کړم خو دداخلي پیښو په باب د خلکو لیوالتیا او د تاریخ لیکنې په محور کې د هرې دورې مسایل زه له دغې تخصصي څیړنې نه منع کړم داکتاب په تاریخي عرصو کې د معلوماتو یو استراج ګڼل کیدای شي. هیله من یم یوه ورځ مې دا ارمان (په افغانستان کې د تخصصي ژورنالیزم لیکنه) د خپل هیواد په پوهنتونو کې د ژورنالستانو او محصلینو د پوهولو لپاره تر سره کړم. یو له هغو اساسي عواملونه چي زموږ تاریخي، فرهنګي، او اجتماعي پانګې یې نیست ونابود کړي او یا یې د نورو هیوادو په څولې کې ور واچولې، اختناق او د واحدې اداري نشتوالی، دسلې ژمني نه موجودیت او له وطن سره نه مینه او محبت دی. نن نه دا چي افغانستان د سیاسي نظامي ناملایماتو په فضا کې ژوند کوي بلکې د نورو هیوادو تر مستقیم فرهنګي یرغل لاندې واقع شوی دی او زموږ ټولې فرهنګي پانګې یې په نورو نوسونو نوسولې او د افغانستان کتابونه، مشاهیر، پوهان او.شاعران یې د نورو مال ګڼلي دي. ښایي په اوسنیو کلونو کې د نورو له خوا زموږ د فرهنګ د مسخ کولو اغیزې دومره، ملموسې نه وي. مګر دا تجاوز زموږ پر خاوره دروسانو تر تجاوز ډیر خطرناک دی.

لکه څرنګه یې چي له نامه نه څرګنده ده.داکتاب د نړۍ برجسته مورخینو د څیړنو او پراخو څیړنو پر بنیاد د تاریخي پیښو بنکارندوی دی چي په هالیندکې دافغانستان د څیړنو په انستتیوت کې موجوددي او د نړیوالو اخبارونو، اطلاعاتو او نړیوالو ډله ئیزو رسنیو پر استناد لیکل شوی دی. هڅه مې وکړه پیښې لکه څرنګه چي پیښې شوي دي منعکسې کړم ځکه تاریخ لیکنه یو مهم کار او داسې امانت دی چې

باید پرته له لاسوهنې راتلونکو ته وسپارل شي. مؤرخ باید امین وی او هغه څه چې پیښ شوی دی باید بیان کړی. دمورخ ډیره لږه تیروتنه هم دیوه ملت دیوی مجموعي یايوی دوری دوژنی معنا لري. ما د تاریخي تفکر پربنا هڅه وکړه چې د پیښوپه لیکنه کی امین واوسم، چې له یوی خوا له تیروسره جفا و نکړم او له بلې خوا د افغانستان دملت په وړاندی یو برداشت ولرم چې کوم کتاب مې لیکلی ژوندی او تلپاتي وي. په دی کتاب کی چې د نولسمې پیړی له نیمایی نه یوویشتمی پیړی تر آغاز پوری پیښی پکی لیکل شوی دی، تاریخي پیښې چې، د ژورنالیزم د پیژندنې لپاره دیوه سمد او په تبلیغ کی د مطبوعاتو او خپرنیو رسینو نقش، زده کړه او د خلکو مصروفیت په لنډ او مقطعي ډول بیان شوی دی، خو دا پیښې کولای شي زموږ د ټولنې دتاریخي حقایقو ممثل شي. د تفصیل لپاره د لیکونکي تألیف" افغانستان درقرن نزده و بیست" ته مراجعه وکړي. ددی کتاب په پیښلیکنه کی هڅه شوی ده چې، د لوستونکو او څیړونکو د اسانتیا لپاره شمسی او میلادی سنې دواړه یو ځای ذکر شي.لمنلیکونه او مأخذونه مې د هری برخې په آخرکی ځای کړی دی، همدارنګه د اشخاص صواد ډله ئیزو رسنیو نوموته په جلا ډول په سردفه توګه راوړل شوی دی او له ټولو هغو علمي ټولنو، انستیتیوتونو، فرهنګي مرکزونو، فرهنګي شخصیتونو د افغانستان ته ژمنو سینه والو دوستانو نه چې له ماسره یې په دی څیړنه کی مرسته کړی ده.مننه کوم، چې پر خدای په توکل او دهغه (ج) په مرسته د خپل هیواد فرهنګي او تاریخي غنا د تل لپاره د تاریخ په سینه کی وساتو.

همدارنګه له محترمو ژورنالستانو هریو محمد زبیر شفیقي او فدا محمد فایض نه ډیره مننه کوم چې ددی کتاب په پښتو ژباړلو کی یې د قدر وړ همکاری وکړه، همدارنګه له با احساسه لیکوال حیات الله وحدت نه ډیره مننه چې دکتاب د اهتمام او خپرولو په چارو کی یې تکلیفونه وګالل.

محمد حلیم تنویر

د ۱۳۸۰ لمریز کال دغبرګولی

او د ۲۰۰۱ کال می میاشت

هالیند آلمیر ښار

لومړۍ برخه

# د امیر شیر علی خان دواکمنۍ دوره

۱۲٤۲–۱۲۵۷ هـ ش (۱۸٦۳–۱۸۷۸م)

شیر علی خان د امیر دوست محمد خان زوی دی چې په ۱۲۰۲ هـ ش کال زیږیدلی، ددوست محمد خان زامن په تول هیواد کې د سیمو د رئیسانو په حیث د افغانستان سیاسي بنه او اجتماعي جوړښت ملوک الطویفي ته واړاوه او د محمد زیو کورنۍ دکورنۍ هرج و مرج تا داوکښیبندو. سره له دې چې تر دوی د مخه د تیمور شاه زامنو هم په افغانستان کې د غسې یو حالت منځ ته راوړی و. ددوست محمد خان د زامنو په خود خواهي بنا رقابتو چې د هغه د ځوارلسو ودونو محصول و د قدرت د لاسته راوړنې پخاطر هر ډول عمل ته لاس واچاوه چې د لوی افغانستان ویشاک (تجزیی) ته یې زمینه مساعده کړه. سره له دې چې د تیمور شاه د زامنو اختلافاتو په تول هیوادکې کورنۍ جنګ منځ ته راوړ او د افغانستان د ورانولو او تجزیې پیلامه ګنل کیږی، ددوست محمد خان موجودیت او له انګلیسانو سره یې اړیکو او هغې خواته یې تمایل، دروسانو، انګلیسانو او ایران د زړورتیا باعث شو چې افغانستان تر هغې وروسته لا پسې کوچنی کړي او داحمد شاه ابدالي امپراتوری چې و یې کړای شو پخپلو فتوحاتو سره پخوانی افغانستان(خراسان) راژوندی کړی، د اضملال او ساتی خواته سوق کړی.

## د محمد زیو ورونو پنځه کلنی جګړه

د شیر علی خان دواکمنۍ دوره په دوه متفاوتو دوروکې د څیړنې ورده. دهغه د پاد شاهۍ لومړۍ دوره ۱۲٤۲–۱۲٤۷هـ ش (۱۸٤۳–۱۸٤۸م) د هغه دورونو او مخالفي کورنۍ په تکو نه کې تیره شوه همدا چې دوست محمد خان په هرات کې ومړ دولیعهد په حیث د شیر علی خان په پاچهي ټاکنې یولوی مصیبت رامنځ ته کړ او نورو ورونو یې د شیر علی خان له پاچاکیدو سره خپل مخالفت اعلان کړ. دواک پر سر هغه او د هغه د ناسکه یا میرنیو ورونو محمد افضل خان او محمد اعظم خان چې ترده مشران وو، ترمنځ رقابت اوج وموند او په خونړیو جګړو پای ته ورسید له هغې جملې نه:

۱– د کرمې جنګ: په دې جنګ کې محمد اعظم خان ماته وخوړه او هند ته وتښتید ۱۲٤۲ش:۱۸٦٤م.

۲– د تخته پل جګړه: شیر علی خان په دي جګړه کې محمد افضل خان محاصره او تسلیمی ته یې اړ

ایست. د محمد افضل خان زوی عبدالرحمن خان بخارا ته وتښتید. شیر علي خان خپل ورور زندان ته واچاوه ١٢٤٣/١٨٦٤.

٣- دوردکو دسید آباد جګړه: شیر علي خان چې پاچاېې يې له لاسه ورکړې وه، په کندهار کې د لښکر په راټولو بوخت شو او د کابل په لوري يې حمله وکړه. د وردکو په سید آباد کې د هغه او اعظم خان- عبدالرحمن د ګډو ځواکونو تر منځ سخته نښته وشوه او تر پنځو زرو زيات کسان ووژل شول. شير علي خان په دې جنګ کې ماته وخوړه او د غزني خواته وتښتید،١٢٤٤ش/١٨٦٥ په غزني کې يې بيا هم ماته و خوړه کندهار او تر هغې وروسته هرات ته وتښتيد د کندهار اداره د اعظم خان د زامنو په لاس ولويد، افضل خان له زندانه خلاص او په کابل کې يې د پاچاېې اعلان وکړ.١٢٤٥ش/١٨٦٦م

٤- د پنجشير د بازارک جګړه: په دې جګړه کې د شير علي خان او عبدالرحمن خان تر منځ يو نيم زرکسه ووژل شول او د شير علي خان د قواو سر لښکر فيض محمد خان چې د بلخ والي و، ووژل شو. شير علي خان ماته وخوړه او پخپله هرات ته وتښتيد.١٢٤٦ش/١٨٦٧م

٥- د کندهار جګړه: د محمد اعظم خان زامنو دا جګړه عمدا پيل کړه او د خلکو له ملاتړنه برخمن نه وو او د هغوی اعمان د خلکو د کرکې باعث شوی وو. دا جګړه په کابل کې د محمد افضل خان ترمرګ وروسته چې محمداعظم خان پاچا شو، د ١٢٤٦/ په ميزان/١٨٦٧ اکتوبر کې پيښه شوه. په دې جګړه کې شير علي خان د اعظم خان زامنوته ماته ورکړه.

٦- دشش ګاو جګړه: د محمد اعظم خان د لښکرو په ماتې سره، عبدالرحمن خان له يوه بل لښکر سره له کابله د غزني پر لورو لاړ او د غزني په شش ګاو کې ددښمنو ډلو تر منځ خونړۍ جګړه ونښته چې د محمد اعظم خان او عبد الرحمن خان په ماته پای ته ورسيده، عبدالرحمن خان بخاراته وتښتيد او محمد اعظم خان ايران ته ولاړ او په بير جند کې وفات شو١٢٤٧ش/١٨٦٨م.

## اجتماعي اصلاحات او ژورناليزم

د اصلاحي پروګرام تاداو چې د شير علي خان د واکمنۍ په دويمه لس کلنه دوره کې يې د عمل جامې واغوستې ، دسيد جمال الدين افغاني دافکارو زيږنده وه. شير علي خان د خپل پلار دوست محمد خان د غلامانه مفکورې پرخلاف وکړای شو په غير مستقيمه توګه د سيد له افکارونه ګټه واخلي. سره له دې چې په افغانستان کې يې د سيد شتون ونه زغامه، شير علي خان د لارو په جوړونه، د اقتصاد په پياوړتيا، د سوداګرۍ، دودې، ژورناليزم او مطبوعاتو او بين المللي اړيکو په برخه کې پولړکارونه وکړل.

په دې دوره کې کورني امنيت په نسبي توګه تأمين شو او اصلاحي پروګرام د سيد ديوه ملګری سيد

نور محمد شاه په واسطه چې د شیر علي خان په دوره کې صدر اعظم و، تطبیق شو. سید نور محمد شاه په سیاسي مذاکراتو اود افغانستان په قضیه کې له ذیدخلو هیوادو سره محتاط و او کوښښ یې کاوه چې له یوې خوا دافغانستان ملي وحدت او زمکني بشپړتیا اعاده او وساتي او له بلې خوا د انګلیس، روس او ایران د سیاسي فشارونو مخه ونیسي. کولای شو د شیر علي خان دورې ته د اصلاحي پروګرامونو دمعبر نوم ورکړو که څه هم چې د دې پروګرامونو اوبنیادونو انکشافي حرکت ډیر سست و، ددې سستیا اصلي علت په سیاسي چارو او دهیوادو په امنیت کې د شیر علي خان تیروتنې کنلای شو چې و یې نشو کړای دغه پروګرام په بریالیتوب سره عملي کړي.

ژورنالیزم د شیر علي خان د دورې له اساسي کارونونه شمیرل کیږي. لکه څرنګه چې سید جمال الدین له هیواده تر وتلو د مخه هغه ته دیوې سرتاسري هیوادني ورځپاڼې وړاندیز کړی و شمس النهار د افغانستان لومړنی رسمي اخبار دی چې، چاپ شو. لومړنی مطبعه هم دشیرعلي خان په دوره کې په بالاحصار کې تأسیس شوه چې هم به یې ورځپانه چاپوله او هم به یې کتابونه او دولتي اعلامیې چاپولې. خپرونې او اعلامیې تردې دمخه خصوصاً د امیر دوست محمد خان په دوره کې د انګلیسانو له خوا او د هغوی له نظر سره سم په هندوستان کې چاپیدې او په افغانستان کې خپریدې او توزیع کیدې چې دی کار د انګلیسانو ښکیلا ښې ګڼې ساتلې.

په دې دوره کې یو لړ کارونه لکه د مخابراتي او پستي مؤسسې تشکیل، او دلومړي ځل لپاره د پستي چاپ اوله خلکو نه د مالي تعزیراتو لرې کول د اصلاحي کارونو له جملې نه شمیرل کیږي.

## د شیرعلي خان تیروتنې

### ۱ – د پاچایي اعلان او د انګلیسانو په وړاندې محافظه کارانه دریځ

لکه څرنګه چې معموله شوې وه چې د افغاني شاهانو دتولو کارونو رپوټ باید انګلیسانو ته ورکړل شي، د سلطنت اعلان اود انګلیسانو له خوا د هغې تأیید هم ضروري خبره وه. شیر علي خان پر دې ښه پوهیده چې انګلیسان هیڅکله هم دیوه مستقل او مقتدر افغانستان غوښتونکي نه دي او د شاه شجاع او دوست محمد خان په څیر افرادو ته هرکلی وایي او دا چې د انګلیسانو په نسبت د شیرعلي خان اړیکې له روسانو سره نژدې وې، زیات فشارونه راغلل چې د سلطنت په اعلان کې د شیر علیخان د بدلون باعث شو.

شیر علي خان د خپل سلطنت په پیل کې له روسانو، انګلیسانو او محمدزیي کورنې سره د اختلافاتو په درې بعدي لړزان دریځ کې واقع و. کله چې شیر علي خان د ۱۲۴۲ په جدی/د ۱۸۶۳ دسمبر

کې خپله پاچاهي انګریزانو ته اعلان کړه، عملاً د انګریزانو له خوا د بې تفاوتۍ او په رسمیت نه پېژندنې له یوه حالت سره مخامخ شو چې د شیر علي خان سیاسي شخصیت ته یوه ضربه اود افغانستان له سیاسي استقلال سره مخالفت ګڼل کېده. شیر علي خان د دې پرځای چې، د خپل نظامي قدرت په چمتو کولو کې پر اولسي ځواک تکیه وکړي چې په دې توګه د افغانستان سیاسي استقلال بیا احیاشي د انګلیسانو په وړاندې یې محافظه کارانه دریځ ونیو او د خلکو د آزادۍ غوښتنې مفکوره یې تر پښو لاندې کړه.

انګلیسانو چې داختلافاتو په را پیدا کولو او اولسي قوت په تجزیه کې ډېر زیار ایست چې له یوې خوا دغه قوتونه د انګریزانو په وړاندې پاڅون ونشي کړای او له بلې خوا، افغانستان په آسانۍ سره تجزیه کړای شي. د شیر علي خان په وړاندې یې د هغه د پاچاهۍ د بې اهمیته ښوولو په خاطر د بې تفاوتۍ لار غوره کړه او هغه یې د یوه اجیر او سیاسي یرغمل په توګه وساته چې خپل ټول اهداف عملي کړای شي.

## ۲- دسید جمال الدین افغان تبعید

د شیر علي خان تر ټولو ستره تیر وتنه د اسلامي نړۍ د مفکر سید جمال الدین افغان تبعیدو دا تصمیم هغه وخت ونیولای شو چې سیاسي او اقتصادي پیچلتیاو د افغانستان لمن را ټینګه کړه او هیواد د روسانو او انګلیسانو تر فشار لاندې په تجزیه کېدلو مجبورېده.

شیر علي خان د خپلې پاچاهۍ په پیل کې له سید جمال الدین سره مینه وښوده او هغه ته یې په دربار کې ځای ورکړ او د سید جمال الدین انقلابي افکار په داسې حال کې چې شیر علي خان د انګلیسانو په وړاندې محتاط و چې پاچاهي یې په رسمیت وپېژني، د انګلیسي او روسي استعمار او استبدادي حکومتونو په راپرځولو کې د شیر علي خان د هڅونې باعث ګرځېدلي وو.

انګلیسانو د سیدجمال الدین د افکارو په درک کولو سره کوښښ وکړ چې د شیر علي خان د دولت داراکینو ترمنځ اختلافات پیدا کړي او په دې توګه له کلیدي چارونه د سید د لرې کولو زمینه برابره کړي، د انګلیسانو ګومارل شوکسانو چې د شیر علي خان باوري اطرافیان وو، د سید جمال الدین موجودیت شیر علي خان ته د هغه د سلطنت په پایښت کې ډېر خطرناک توجیه کړ. د انګلیسانو د وه تنو ګومارل شویو محمد رفیق لودي مشاور او میرزا محمد حسن خان د بیرالملک د شیر علي خان سرمنشي د خپلو نورو اطرافیانو په مرسته یوه توطیه جوړه کړه چې سید جمال الدین پخپلو افکارو سره د پاچا په وړاندې دیوه اولسي پاڅون لامل کیږي او دا به د دې باعث شي چې د پادشاه د ګران زوی عبدالله خان ولیعهدي له خطر سره مخ شي او بنایي یوه ورځ سید د شاه پرځای کښېني نو ځکه ددغسې یوه ماجرا جو شخص موجودیت د دولت په ګټه نه دی سید باید یا زنداني وي او یا انګلیسانو ته وسپارل شي او یا هم تبعید

شي.

همدارنګه د شیر علي خان نژدې کسانو هغه ته اندیښنه ور واچوله څرنګه چې سیدجمال الدین پخواهم د هغه له مشر ورور محمد اعظم خان سره ښې اړیکې درلودې، ښایي دده په راپرځولو کې له محمد اعظم خان سره چې اوس په ایران کې دی، مرسته وکړي. په داسې حال کې چې هغه د ملي وحدت او زمکنۍ بیشپړتیا پلوی اود ملوک الطوایفي نظام د نفې او ورونو د جنګونو دپای ته رسوني غوښتونکی و، هغه حتی محمد اعظم خان ته توصیه کړې وه چې د افغانستان د ملي وحدت، زمکنۍ بشپړتیا او سیاسي استقلال د ساتنې په خاطر له شیر علي خان سره بیعت وکړي او د کورنۍ جنګ لړۍ پای ته ورسوي. کله چې سید د ځان په اړه د شیر علي خان بدګومانۍ او مخالفت درک کړ، راضي شو چې افغانستان پرېږدي. سید د خدای پامانۍ پر وخت خپل لس ماده یي اصلاحي پروګرام شیر علي خان ته وسپاره او هیله یي وکړه چې پاچا وکړای شي، دا پروګرام په بریالیتوب سره تطبیق کړي.

## ۳- د برتانوي هند د نظامي مشاورینو استخدام

سره له دې چې شیر علي خان په پټه او یا دغونډو پر وخت له انګلیسانو سره خپل مخالفت څرګنداوه خو کوښښ یې کاوه چې دیوه تعادل په ساتنې سره مسایل له روسانو او انګلیسانو دواړو سره مطرح کړي او خپل موقعیت په محافظه کاري سره وساتي. د هغه د همدې دریځ نیو ني له امله هغه له یولړتیرو تنو سره مخ شو چې له هغې جملې نه یو هم د برتانوي هند د نظامي مشاورینو ګومارل وه. دې کار نه دا چې د خلکو پر روحیه منفي اغیزه وکړه بلکه د مشاورینو موجودیت د داخلي کشمکشونو د رامنځ ته کېدو او دانګلیسانو د زیاتې لاسوهنې زمینه برابره کړه، چې په پای کې یې د دویم ځل لپاره یې د انګلیسانو د سیاسي - نظامي مداخلې زمینه برابره کړه.

کله چې شیر علي خان د حربي ښوونځي تأسیس ته اقدام وکړ د انګریزانو دوه تنه ګومارل شوي ولي محمد خان لاټي او محمد اسلم خان چې د شیر علي خان درباریان وو، د هغو اړیکو له مخې چې له انګلیسانو سره یې درلودې، کوښښ وکړو د برتانوي هند د مشاورینو په استخدام کې د پاچا موافقه ترلاسه کړي.

"امیر په سیاست کې خوشباوره او بې احتیاطه و هغه عقیدتاً پر هندي مسلمانانو ورور ګلویز باور درلود پر دې اساس د هغه دربار ډیر ژر د انګلیس د دولت د جاسوسۍ په مرکز بدل شو. مشهور جاسوس قاضي قادر د افغانستان په سیاسي او اداري چارو کې لاس پیدا کړ او هندي افسرانو په افغان اردو کې لاروموندنه"(۱)

د شیر علي خان صدر اعظم سید نور محمد شاه له دې کار سره مخالفت وښود ولې د پاچا ګومارل

شوی درباریان چې غالباً د هغه وریرونه او محمد زیان وو د پاچا په افکارو او اجراآتو کې زیات نفوذ درلود. دانگلیس گومارل شوی په لویو پوستونو کې وټاکل شول اود افغانستان د اردو صلاحیت یې ترلاسه کړ. له هغې جملې نه یو هم کریم بخش و چې د پاچا له خوا یې د سپهسالاری رتبه واخسته. وروسته ترهغې چې د افغانستان په اداره کې د انگلیسانو نفوذ تکمیل شو پر افغانستان یې سیاسی فشار راوړ چې له هغې جملې نه:

الف- د کورنیو اختلافاتو تشدید او د کورنیو جنگونو رامنځ ته کیدل او د شیر علی خان او د هغه د زوی محمد یعقوب خان ترمنځ د اختلافاتو ایجادول.

ب- د سیاسی اختناق ایجادول او په کابل کې د منشی بختیار په څیرگومارل شویو په تحریک د اختلافاتو څرگندول.

ج- د کورنی د افرادو استخدام: د شاه کورنی او د انگلیسانو د جاسوسانو په توگه د هغوی تمویل چې له هغې جملې نه ولی محمد خان لاتی، اسماعیل خان، سهردل خان، عبدالله خان، سلطان احمد خان، سردار اسلم خان او محمد حسن خان منشی چې تول د شیر علی خان وریرونه وو او د انگلیسانو له خوا له مالی پلوه تقویه او له سیاسی پلوه یې ملاتړ کیده.

انگلیسان دافغانستان له تولو تصمیمو او سیاسی اړیکونه خبروو او د هغو توافقاتو پر بنا چې د برلین په مذاکراتو کې چې دافغانستان په اړه دانگلیسانو اوروسانو ترمنځ په۱۲۵۲ش/۱۸۷۳م کال شوی وپرافغانستان دکامل تسلط او یا د هغه د تجزیې پلویان وو او نه یې غوښتل افغانستان ته سیاسی استقلال ورکړی.

انگلیسانو چې د سملی په مذاکراتو کې (د ۱۲۵۳ ثور/اپریل۱۸۷۳م) اعلان وکړ چې "د افغانستان دولت باید پخپل بهرنی سیاست کې د انگلیس له دولت نه مشوره واخلی" دا ثابتوی چې انگلیسی استعمار د افغانستان نیولو ته سترگی نیولی وې او نه یې غوښتل د افغانستان استقلال اعاده شی.

د- ایرانیانو ته دسیستان پریښودل: سیستان د ایرانیانو له خوا اشغال شو او د افغانستان او ایران ترمنځ منازعی زور واخست. انگلیسانو د منځگړی په توگه مداخله وکړه او د ایرانیانو په موافقه په ۱۳۵۲ش/۱۸۷۲م کال گولډ سمیټ*Sir Frederi Gold smid* دا منازعه دیوه پخوانی سازش پر اساس او د افغانستان د تجزیې په پام کې نیولو سره، د ایران په گټه فیصله کړه. او سیستان یې ایران ته وسپاره.

## ٤- د مومندو د پاڅون تکونه

د ۱۲٤۳ په جوزا/۱۸٦٤ جون کې مومندو وروسته تریوی غونډی، د سعادت خان مجاهد د زوی سلطان محمد خان په مشری د انگلیسانو پر خلاف پاڅون پیل کړ چې ددی پاڅون لړی نورو قومونه ته

خپره شوه.

انګلیسانو د هغې نه پاسلرنې پر اساس چې د شیر علي خان په اړه یې درلوده، د موسندو پاڅون دانګلیسي واکمنې په را پرځولو کې یو بل لوی خطروګانه او د خپل ګومارل شوي ولي محمد خان لاتې په واسطه یې له پاچا سره اړیکې تینګې کړې او د دې پاڅون د سرکوبولو غوښتنه یې وکړه. شیر علي خان د ارابطه له انګلیسانو سره د خپلو اړیکو د ټینګولو لپاره یوه ښه چانس وګانه او خپل عسکریې موسندو ته ولیږل چې زیات شمیر خلک شهیدان شول او د قیام مشر په باجوړ کې انزوا غوره کړه.

## ٥- د عبدالله جان ولیعهدي

د شیر علي خان یو بله تېروتنه د هغه د کوچني زوی عبدالله جان د ولیعهدي اعلان و چې د هغه د کورنۍ د اختلافاتو د راسنځ ته کېدو، د هیواد دسیاسي نظم د له منځه تللو، د سید جمال الدین افغان د تبعید او په افغانستان کې د انګلیسانو د مداخلې باعث شو.

د پاچا مشر زوی یعقوب خان هرات ته ولاړ او خلکو د پاچا پر خلاف تحریک کړ او کله چې د جګړو او وینې توئیدو لمنه پراخه شوه، یعقوب خان چې د شخصي ارادې له پلوه ډېر کمزوری سړی و، ځان یې پلار ته تسلیم کړ او شیر علي خان هغه زندان ته واچاوه چې تر زندان وروسته یې د هغه اراده لاپسې کمزورې کړه او په یوه ډارن او بې زړه انسان بدل شو. چې د هیواد د اداري ځواک تړې سلب شوي و.

انګلیسانو د یعقوب خان د رواني حالت په درک سره کله یې چې هغه سلطنت ته ورساوه په همغه جبن کې یې پرې د ګندمک تړون لاسلیک کړ (د۱۲۵۷ دغبرګولي ۹/د ۱۸۷۹می ۳۰) او په دې توګه د یوه ستر ملي خیانت مرتکب شو.

د شیر علي خان د پاچايي په بهرنیو مذاکراتو کې، په ځانګړې توګه له روسانو او انګلیسانو سره، د موافقه لیک یوه ماده د عبدالله جان د ولیعهدي په رسمیت پیژندل و. ځکه شیر علي جان تر ډیره د خپلې وروستي میرمن تراغیزې لاندې و او دا د شیر علي خان د کورنۍ داخلي کمزوري وه چې انګلیسانو له هغې نه سیاسي ګټه اخسته. وروسته تر هغې چې عبدالله جان د ۱۲۵۷ش په وري/ ۱۸۷۸ سپتمبر کې په نابېره توګه وسړ دامیر تولې هیلې له خاورو سره خاورې شوې او د عزلت ځنډه یې غوره کړه.

انګلیسانو له دې حالت نه په ګټې اخستنې سره په افغانستان د دوهم یرغل لپاره تیاری ونیو. د انګلیسانو ګومارل شویو د نظامیانو او عسکرو، او شاه ته نږدې خړو د خلکو ترمنځ په تخریب او د خلکو د احساساتو په راپارولو لاس پورې کړ او د افغانستان وضع یې نا رامه او مغشوشه کړه. شیر علي خان چې له کلو نوراسي پر روسانو یو خو شباورانه اعتماد درلود، مزار شریف ته ولاړ چې په بخارا کې د روسانو مرسته جلب کړای شي.

٦- پر روسانو باور

د شير علي خان بله تيروتنه د روسانوپر وعدو او د روسي هيأتو په مذاكراتو د هغه خوشباورانه اعتماد و. چي له دي وعدو سره جوخت روسانو دانګليسانو د مخنيوى په خاطر پر ترکستان او ازبکستان خپل تيرى بشير دوستانه وګانه او شير علي خان ته بي داډ ورکاوه چي پر افغانستان د تيرى نيت نه لري. امير به د روسانو په دى حيله غلي شو په داسي حال کي چي د برلين په موافقه ليک کي د افغانستان د تجزيي په باب د روسانو او انګليسانو ترمنځ موافقه شوى وه. انګليسانو هم هڅه کوله چي د افغانستان جنوبي برخي غصب او اشغال کړى.

د غبار په وينا: "هغه هميشه د تزار پر دولت باور درلود چي دروغ نه وايي او له خپلي خبرى نه، نه په شاکيږى؛ نو ځکه پخپله محاسبه کي تيرووت(٣) لکه چي روسانو په ١٢٥٤ ش/١٨٧٤م کال. (خيوه) چي د افغانستان د خاورى جزو، اشغال کړه، شير علي خان بي تفاوتي غوره کړه، انګليسان سره له دى چي دافغانستان د بهرني سياست په اړه د پاچا له تصميم ته خبر وو، خو له روسانو سره بي د هغه د اړيکو په باب انديښنه وښوده او د هند وايسرا ليتن *Lytton* ويلي وو: "چي کله هم شير علي خان د انګليسانو شرايط ونه مني او له روسانو سره له اړيکونه ډډه ونه کړى د انګليس او روس دولتونه به د دواړو په موافقه، افغانستان د زمکي د نخچي له مخى محوکړي"(٤)

د روسانو په واسطه د خوقند تر اشغال ١٢٥٤ ش/١٨٧٥ او د مروى او خيوه تر تسخير وروسته د روسانو او عثماني ترکيي اړيکي خرابي شوى او په همغه وخت کي د ترکانوله خوا يو هيأت کابل ته راغى او له شير علي خا نه بي وغوښتل چي په روسي ضد غورځنګ کي له ترکانو سره اتحاد وکړي: خو شيرعلي خان دا وړانديز ردکړ اودبي طرفي اعلان بي وکړ(٥)

غبار ليکي: "انګليسان په غير مستقيم ډول په فعاليت ليګاوو. له هغي جملي نه د عثماني ترکيي يو نماينده کابل ته راغى او زيارىي وايست چي شير علي خان پر دى قانع کړى چي د انګليسانو غوښتني ته مثبت ځواب ووايي او له روسانو سره له تماسونونه ډډه وکړي، ځکه د امهال تزارى روسيه د ترکانو تر تولو ستر دښمن و. په هغه جګړه کي چي په ١٨٧٨م کي د دواړو خواو ته منځ پيښه شوه، روسان اسلامبول ته نژدى شول، خو انګليسانو د اتريش او آلمان په اتفاق، د برلين په کنګره کي روسان د (سان تسيفاو) پر ترون بيا کتني ته اړايستل. روس په دى نشه کي شو چي انګليسانو ته تهديدى وسايل برابر کړى نو ځکه افغانستان ته متوجه شو او د ترکيي استازى د روسانو د همدى کوښښ د مخنيوى په خاطر، کابل ته داخل شو. نوموړى استازى چي وليدل د روسانو په وړاندى د افغانستان دريځ د ترکانو د دريځ په څيردى له افغانستانه نهيلي ستون شو."(٦)

روسانو د اړیکو د ښه کولو په خاطر، خپل هیأتو نه کابل ته واستول چې انګلیسانو د افغان – روس د دوستی په باب یو نمایش وي. د شیر علی خان د نه خوښی سره سره جنرال استولیتوف *Stalietov* د دواړو خواو ترمنځ د مذاکراتو لپاره یوه مسوده جوړه کړه چې: د عبدالله جان د ولیعهدی په رسمیت پیژندل، اقتصادی – فرهنګی اړیکی او په ځانګړو سیاسی حالاتو کی د روسانو مرستی پکی شاملی وی.

انګلیسانو هم غوښتل چې شیرعلی خان بی هیأت ومنی خو هغه چې د ولیعهد عبدالله جان په ماتم کی ناست وو بی نه غوښتل له انګلیسانو سره مذاکرات ترسره کړی او کله چې لویی کیوناری *Louis Cavagnar* د خپل هیأت له غړو سره له خیبر نه کابل ته روان و د افغانستان د ماموړینو له خوا د ورود اجازه ورنکړای شوه چې دی کار انګلیسان په غوسه کړل اود انګلیسانو او شیر علی خان ترمنځ احتجاج آمیزه لیکونه رد و بدل شول او دا انګلیسانو ته په افغانستان کی د دویمی مداخلی پلمه وه.

د ۱۲۵٦ د قوس په دریمه/ د ۱۸۷۸ د نوسبر ۲۱ مه، انګلیسانو له دریو خواو نه پر افغانستان حمله وکړه. شیر علی خان د عمومی جهاد اعلان وکړ خود اولسی ځواکونو په تنظیم کی بی هڅه ونکړه او له روسانو نه د مرستی غوښتنی په خاطر بی د بلخ لاره ونیوله او جنرال کاوفمن*Kaufmann* ته بی سنت پترز بورګ *St. Petershurg* ته سری واستول او نظامی مرسته بی وغوښتنه روسانو د دواړو خواو ترمنځ د تفاهم غوښتنه وکړه او له شیر علی خان سره بی له مرستی نه ډډه وکړه.

پاچا انګلیسانو ته یو لیک واستاوه او د مذاکراتو غوښته بی وکړه، انګلیسانو د هغه وړاندیز رد کړ او خپلو پرمختګونو ته بی دوام ورکړ. شاه دوه ځلی تصمیم ونیو روس ته سفر وکړي او د مرستی غوښتنه وکړي خو کله چی مزار شریف ته ورسید او غوښتل بی له آمونه تیرشی د روسانو له خوا منع کړای شو.

د افغانستان خلکو د وطن دوستی د احساساتو او دتیری کوونکی په وړاندی د وحدت له مخی، ورځ په ورځ خپل یو والی او پیوستون اعلاناوه او د شیر علی خان د محافظه کارانه اقداماتو مخالف وو. پاچا چی ډیر نهیلی شوی و، بلخ ته نژدی ومړ (د ۱۲۵٦ د حوت ۲ مه/د ۱۸۷۹ د فبروری ۲۱ مه)

خلکو د وروستی منشر تابه دتاکنی لپاره، د هغه زوی یعقوب خان له زندانه راخوشی کړ او په پاچا بی بی وټاکه خو هغه د همغه ضعف النفس له امله د هیواد له اداری نه عاجزو او د هیواد هره برخه بی د خپلی کورنی یوه غړی ته وبخښله چی داکار بیا هم دانګلیسانو په دسیسو د تشنج، اختناق،کورنی جنګ او د خود رایو او ملوک الطوایفی حکومتونو د تشکیل باعث شو.

انګلیسانو له موقع نه ګټه واخسته او د خپل جاسوس ولی محمد لاتی په مرسته او د یعقوب له دارنتوب او مزاجی او روانی حالت نه په کمی اخستنی سره، پر هغه د ګندمک شرمیدلی ترون لاسلیک کړ او د کرمی، خیبر دری، لنډی کوتل سبی او پشین سیمی بی انګلیسانو ته وسپارلی (۱۲۵۷ د جوزا ۹مه/ د ۱۸۷۹ د می دیرشمه)

د افغانستان اداره عملاً د انګلیس د سفیر کیوناری په لاس کی وه او په بالاحصار کی بی د یعقوب خان

پرځای کارکاوه. یعقوب خان په افغانستان کی مازی د انګلیسانو تجاوز او هغوی ته د زیانی ګټی اخستنی زمینه برابروله. خلک چی د انګلیسانو په وړاندی په جهاد کی په حرکت راغلی وو. د یعقوب خان په وړاندی یی خپله کرکه څرګنده کړه، پر بالاحصار یی حمله ور وړه کیوناری او د هغه ملګری یی په اور کی وسوځل (د ۱۲۵۷ د میزان یوولسمه/د ۱۸۷۹ دسپتمبر دریمه)

دا پیښنه د افغانستان په مسأله کی د انګلیسانو د جدی غبرګون لامل شو او د هغوی اضافی قواو د کندهار، جلال آباد او پکتیا له لوری پر کابل حمله وکړه. یعقوب خان د انګلیسانو هرکلی ته لوګر ته ورغی انکلیسانو هغه له خپلو وزیرانو او مامورینو سره بندی او هند ته یی تبعید کړ چی د عمر تر پایه پوری هملته پاتی شو. انګلیسانو یو ځل بیا بالاحصار په وینو ولاړه، د وسلو ذخیری یی چور کړی او له افغانانو نه یی د خپلو وژل شویو مامورینو غچ واخست

# سید جمال الدین افغان او مطبوعات

سید جمال الدین افغان په افغانستان او اسلامي نړۍ کې د نوي ژورنالیزم بنسټګر د خپلې ځوانۍ په کلو کې په فقیرو او استعمار ځپلو هیوادو کې په ټولنیزو اصلاحاتو او بیارغاونه پیل کړې و. هغه خپل کار له خپل هیواد افغانستان نه پیل کړ او د امیر شیر علي خان د پاچاهۍ په دوره کې، سره له دې چې په کابل کې د انګلیسانو او هغوی د جاسوسانو تر فشار لاندې واقع و او سره له دې چې خپل پخواني دوست او همکار محمد اعظم خان یې له لاسه ورکړی و، د شیر علي خان د فکر په سهارولو او د افغاني ټولنې دجوړښت لپاره یې هلې ځلې وکړې.

سید دلومړي ځل لپاره په کابل کې د "کابل" په نامه یوه نشریه چاپ کړه. دا نشریه قلمي لیکل شوې او غوښتل یې د خپل هیواد د اصلاحي طرحې پخاطر دا کار تر سره کړي چې وروسته یې بیا د چاپ وبارهم ترلاسه کړ.

محققین په دې باب ځیرنې لري او لیکي چې: "ځنې په دې عقیده دي چې د شیر علي خان په زمانه کې د کابل په نامه یوه نشریه د سید جمال الدین افغاني تر نظر او مدیریت لاندې خپریده" (۷) مایل هر وي پخپله رساله (معرفي روزنامه ها، جراید و مجلات) کې چې په ۱۳۴۱ش کال د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې، د کابل خپروني د چاپ ذکر کړی دی. عبدالرؤوف بینوا په کابل مجله کې لیکلي: "د ۱۸۷۸م کال په پای کې د امیر شیر علي خان د سلطنت پر وخت د کابل په نامه اخبار خپریده." (۸)

د اسلام محقق ال بکدانوف په اسلامیک کلچر *Islamic Culture* کې لیکي: "دلته د (کابل) اخبار په باب چې د شیر علي خان د واکمنۍ په وروستیو شپږو میاشتو (د ۱۸۷۸ په وروستیو کې/۱۲۵٦ش). خپریده کوم ذکر نه دی شوی..." (۹)

له کابل خپروني نه کومه نښه نښانه، نه ده پاتې مګر د دې جریدې په خپرولو سره، کولای شو د ژورنالیزم پیل د سید جمال الدین افغان په ابتکار سره وګڼو.

شمس النهار جریده چې د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې لومړنی پاتې نشوی خپرونه ده د سید په ابتکار او وراندیز چې د تبعید په وخت کې یې شیر علي خان ته کړی و په ۱۲۵۱ش/۱۸۷۳ میلادي کال خپره شوه، د سید یو شاګرد مولوي عبدالرؤوف د هغې مسؤول مدیرو.

د سید له شاګردانو نه کولای شو مرحوم غلام محمد طرزي، محمود طرزي (د سراج الاخبار مسؤول مدیر) ملا عبدالله، ملا محمد عمر او ملا محمود چې هغه مهال په هرات کې د قلم او فکر خاوندان وو او د سید د اقامت پر وخت د هغه له محضر نه مستفیض شوي وو، یاد کړو.

په کندهار کی یو شمیر مبارزین او د پښتو او دری ژبی لوی لیکوالان لکه برهان الدین بلخی، قاضی عبدالسلام، تلمیذ صوفی، قاضی سعد الدین، ملا عبدالحق او قاضی غلام چی په تاریخ کی د سید جمال الدین د فکر لارویان معرفی شوی دی، یا دولای شو.

ملا مشک عالم او ملا نصر الله د سید جمال الدین له فکر نه په زده کړی سره وکړای شو څپه مبارزاتی تګلاره د انګلیسانو پر خلاف عیاره کړی او د پښتنون او هزاره قوسونو ترمنځ نژادی اختلافات له منځه یوسی اود افغانستان – انګلیس په دویمه جګړه کی له ځانه کارنامی په یادګار پریږدی.

سید جمال الدین په هند کی د ملا هادی سبزواری د اشعارو کتابت ترسره کړ او د هغی ترڅنګ دسید مقالی په مستعارو نومونو خپریدی. سید په (۱۲٤۹ ش/ ۱۸۷۰ م) کال په مصر کی چی تریوی نیمی سیاستی زیات یی داقامت اجازه ونه مو ندای شوه، وکړای شول د قاهری ځوان او د فکر خاوند نسل د مطبوعاتو او پرخلکو یی دا غیزی له لاری د انګلیس په وړاندی په مبارزاتی مسیر سم کړی. لکه چی پخپله هم د مطبوعاتو د نقش او عروة الوثقی جریدی په باب لیکی: "د ملتونو او امتونو ناروغی د ورځپانو او مجلو د خپرونی له لاری تداوی شوی دی او هغوی د غورځنګ او ویښتیا به خواته راکاږی، مګر د وروسته پاتی ملتونو، دجهل او غفلت د عمق او وسعت په دلیل یوازی داکار کافی نه دی"(۱۰)

سید له مصر نه تبعید شو، خو د د خپل تفکر بنیادیی پرځای پریښود هغه دترکیی اسلامبول ته ولاړ او د هغه ځای له علمی شخصیتونو سره اشناشو او د ترکیی په دار الفنون کی یی د تدریس حق وموند اود هغه ځای د تدریس سنتی اصول یی د عصرو زمان له غوښتنو سره سم بدل کړل. د سید ناستو ته په زرګونو کسان راتلل او د هغه په خبرو او لیکنو کی به جذب شول. سید جمال چی په ترکی ژبه هم کامل عبور درلود، وکړای شو عثمانی ترکیه حتی دولتی رجال او شخصیتونه ترخپلی اغیزی لاندی راولي؛ خو د ترکیی د یو شمیر سنتی روحانیونو چی ګټی یی په خطر کی لویدلی وی، حسادتونه ددی باعث شول چی په ترکیه کی دسید پر خلاف تبلیغات پیل کړي او د سید تجدد پالنه د یو ډول ارتداد په نامه تبلیغ کړی. ترهغی چی عبدالحمید پاشا هغه جبراً له ترکیی نه وشاړه.

قاهری ته دسید دویم سفر پر اسلامی نړی او مطبوعاتو مثبتی اغیزی پر ځای پریښودی، ځکه سید سربیره پردی چی په الازهر پوهنتون کی د تدریس حق وموند، له خپلی جونګړی نه یی خپل تدریسی فعالیتونه او د مقالو لیکل پیل کړل او ځوانانو ته یی د (تلویح الاصول) تدریس پیل کړ.

د سید جونګړه، د روښانفکرانو، ځوانانو، طلابو، او لویو علماو د راغونډیدو په مرکز بدل شوی و. دورځی به په سلګونو کسانو د سید له محضره ګټه اخسته.

سید جمال د هغی مینی له امله چی د افغانستان او افغان اولس له برخلیک سره یی درلوده، خپل لومړنی کتاب د (تاریخ الافغان) په نامه په عربی ژبه ولیکه چی د افغانستان په تاریخی پیښنو یی د سید فکری جریان بیانا وه.

سید په قاهره کې د مهمو مذهبي مسايلو، له انګليسي بلوسګرو نه د عربو د آزادۍ په برنامه او له انګليسانو نه د مصر دسياسي استقلال د اعادې، په توله نړۍ کې د مسلمانانو د وحدت او د عربو دفکرې طبقې لپاره د اسلامي مترقي اصولو (د اصول تدريس په بنه) په توضيح لاس پورې کړ.

سيد جمال الدين د مبارزې يو الګو او د قرآني پوهې يوغښتلی استاذ و. هغه قرآن ته د مراجعې تاداو کښېښود او همېشه يې تأئيد کاوه چې مسلمانان دې ځان وپېژني او يو موټی دې شي، هغه د مسلمانانو د نجات لاره په دې کې کتله چې د قرآن په اصولو په اتکا سره د غرب حاکمه او استبدادی ځواکونه وځپل شي، او د ملتونو د جهاد او الهام سرچينه يې قرآن ګڼله.

"سيد مجرد، پاک نفسه، متواضع او د لمانځه پابندو او لږ ويده کېده. د ورځې به يې له يوځل نه زيات خواړه نه خوړل، د قوي حافظې خاوندو او خبرې يې په استدلال سره کولې" (۱۲)

د مصر يو ليکوال ليکي: "کومه شعله چې سل کاله د مخه سيد جمال الدين په مصر کې روښانه کړه تر اوسه نه ده مړه شوې او تر اوسه هم دهغه په ياد وفا داره ده ... هغه د خپل ژوند او ملي شعور مثمر ترينه دوره او د خپلو مبارزاتو له عظمته ډکه مرحله زموږ لپاره پای ته ورسوله، زموږ متفکرين يې رهبري کړل. هغه د مسلمانانو معنوي پلار او د هغوی د ځواکمن پاڅون او ويښتيا به محرک ګڼل کيږي."

د ۱۲۸۸ نه تر ۱۲۹۰ پورې د مصر په ځوانه طبقه کې د سيد فکري نفوذ داسې مرحلې ته ورسيد چې هغه يې د دوام د توقف اوله موقعيته د زياتې اجتماعي او سياسي ګټې په فکر کې واچاوه. د روسي او عثماني ترکيې او افغان – انګليس په دويمه جګړه کې هغه دخلکو فکري مرجع شوه. د افغانستان له تاريخ ته په ګټې اخستنې سره يې تاريخ الافغان لومړی په عربي ژبه د مقالو په بڼه اووروسته يې په يوه مجموعه کې خپور کړ. د هغه نظر د افغانستان په باب داسې و چې، د انګليسي سياستوالو پام يې د هغه خواته ور واړاوه او د هغه د تحديد په لټه کې شول؛ مګر سيد سره له هغه چې کومې ضربې په کابل، بمبئي او اسلامبول کې وخوړلې د مصر د درسي حلقو د حقوقو په شاګردانو کې يو انتخاب رامنځ ته کړ چې خپل ملګري په تولو کارونو کې وارد کړي، او پخپله په ښکاره له مخې نه ګوښه وی خو په باطن کې د کارونو واګې دده په لاس کې وي. د مطبوعاتو او فرهنګي کارونو په لړکې په دې هڅه کې شو چې د مصر د فراه ماسونې تشکيلاتو نه چې د مصر د سياست او حقوقو زبده کسان پکې وو د خپلو راتلونکو سياسي نقشو لپاره کار واخلي. (۱۴)

سيد جمال الدين په مصر کې د فلسفې اوعلومو تدريس پيل کړ او د هغه شاګردان په مصر او نوره نړۍ کې د ادب، علم، هنر، فلسفې او علم روښانه ستوری شول او د تولنيزو او فرهنګي بدلونو تاداوبې کښېښود. سره له دې چې ښکيلاک اولا سپوڅويي په مصر، هند، ترکيه، لبنان، سوريه او افغانستان کې د سيد شاګردان شکنجه، زنداني او تبعيدکړل خو د توحيد د مکتب دغه سرلاري د ځليدونکې لمر په څير د باطل په مقابل کې وځليدل او و جنګيدل او تر اوسه پورې دغه مکتب په نړۍ کې د اولسي

انقلابونو باني دی.

د سید له مشهور شاګردانو کولای شود شیخ محمد عبده، ابراهیم لقانی، ادیب اسحق، فتحی زغلول، ابراهیم هلباوی، محمود ساعی البدودی، ابراهیم المویلیجی، سلیم غنحوری، صنوع (ابو نظاره) محمد او یو شمیر نور، مصری، سوریه یی او لبنانی لیکوال چې د هغه د تابعیت په حلقه کې راتول شوی وو، یاد کړو.

یو له هغو کسانو چې د مصر واکمنۍ ته تر رسیدو پورې دسید جمال الدین د فکری حلقې یو جزء و، توفیق پاشاو چې د مصر د خدیو اسماعیل پاشا زوی و.

سید د خپلو مطبوعاتی فعالیتونو په لړکې الاهرام ورځپاڼې ته چې نوی تأسیس شوی وه، مقالې لیکلې. خو د سید د فکر ترڅو دا کار کافي ونه کانه او د هغه مصری پلویانو، شاګردانو او علماو د (مصر)، (التجاره) او (الشرق) ورځپاڼې تأسیس کړې چې د دې ورځپاڼو د خپرولو له لارې د سید افکار تولو خلکو ته ورسوی.

صنوع (ابو نظاره) د سید له مریدانو وو هغه او سلیم غنحوری د (کوکب الشرق) په نامه ورځپاڼې خپرولې چې دا دواړه لیکوالان د خپلو ورځپاڼو له لارې په عربي نړۍ کې د سید د افکارو خپروونکي وو. کله چې توفیق د اسماعیل پر ځای د مصر پاچا شو، د دې پرځای چې له سید سره همکاري وکړي له دې ویرې نه چې سید د خپلو افکارو له لارې د هغه پر کارونو انتقاد وکړي او د هغه سیاسي قدرت ته خطر پیښ نکړي د هغه د توقیف او وروسته د تبعید حکم صادر کړ او د سویز کانال په څنګ کې داسماعیلیه بندر له لارې د بیړۍ په واسطه هند ته روان شو. سید په هند کې د خپل اقامت پر وخت د (رد علی الدهریین) کتاب چې دحقیقت مذهب نیچری) او (بیان حال نیچریان) یا (مذهب ناتورالیسم *Naturalism*) په نامه شهرت لري په لیکلو پیل وکړ (داکتاب په افغانستان کې د شهید میر سعید بریمن له خوا د نیچریه تر عنوان لاندې په پښتو ژبه هم ژباړل شوی دی) د سید د کتابونو له جملې نه دا کتاب په فلسفي معاملو کې د زیات بحث او توجه وړ شو. دکتاب موضوع د طبیعت د اصالت د معنا او طبیعت ګرایی چې هغه مهال د خلکو په منځ کې رواجیده او خلک یې د خدای پرستی نه د بې خدای خواته بلل، توضیح وه.

سید جمال په هند کې هڅه وکړه چې د مسلمانانو او هندوانو اختلافات له منځه یوسي او د هند یوه متجدد چې پخپله هم د سید له افکارو متأثرو، په مرسته دا معضله حل کړي. "د سید احمد خان د تجدد غوښتنې افکار سره له دې چې د لویدیزو علومو د زده کړې اوله خرافاتو سره د مبارزې په برخه کې یې د سید له افکارو سره مشابهتونه درلودل، خو استعماری رنګ یې خپل کړی و"(۱۵)

سید جمال الدین د انګلیسي د استعمار ماهیت د بربنډولو پخاطر، کوښښ وکړ په فرهنګي او سیاسي دوارو جبهو کې سر راپورته کړي چې په فرهنګي بعد کې یې افکار، د سید احمد خان له افکارو

سره په تکر کې شول، سید جمال غوښتل چې له ځوانانو سره په تماس کې شي، او د مسلمان او هندو اختلافات چې دانګلیسي استعمار زیږنده وه، له منځه یوسي.

د هند حکومت سید کلکتې ته احضار کړ او په ۱۲٦۲ ش/د ۱۸۸۳م کال اواخرو کې یې لندن ته تبعید کړ. مګر سید د هغو انقلابي افکارو له لامله چې درلودل یې، غوښتل یې په لندن کې چې دانګلیسي استعمار د تصمیم نیونې مرکز او د استعمار زړه و، خپله مبارزه پیل کړي. انګلیسي مقاماتو هڅه وکړه چې هغه ته د سودان د پاچا یې په سپارلو تطمیع کړي خو هغه انګلیسانو ته په ځواب کې وویل. "دا وراندیز مو په سیاسي مسایلو کې دناپوهې ښکار ندوی دی. آیا سودان ستاسې ملکیت دی چې پاچا یې، یې ماته را بخښئ/ سودان د سودان د خلکو حق دی او که تاسې سوله خوښې یاست، ښه دا ده چې دایرلند ستونزو ته پاملرنه وکړئ چې له هره نظره تاسې ته نژدې دی"

انګلیسان په دې فکر کې شول چې سید یوه لرې وروسته پاتې غیر اسلامي هیواد ته تبعید کړي. فرانسویان چې هغه مهال د هیوادونو په غصب کې د انګلیسانو سرسخت رقیبان وو د سید شخصیت ته متوجه شول او هغه یې یو انګلیس دښمنه شخصیت وګڼه او هغه ته یې په پاریس کې د اقامت او سیاسي فعالیت حق ورکړ.

سید د استعماري سیاست او په ځانګړې توګه د انګلیسي او روسي استعمار پرخلاف یو لړ مقالې ولیکلې چې د اروپا په ورځپانو کې خپرې شوې او د علم او پوهې د خاوندانو پاملرنه یې ځانته را جلب کړه. سید په دې مقالو کې په مصر او ترکیه کې د حاکمو دولتو موجودیت تر شدید انتقاد لاندې ونیوه او د فرانسې موقعیت یې متعادل وساته چې خپل سیاسي او فرهنګي کار ته د فعالیت زمینه ولري.

فرانسویانو فکر کاوه چې د سید جمال الدین په آزادو پریښودلو سره کولای شي، پر انګلیسانو مهلکه ضربه وارده کړي په داسې حال کې چې سید دهر ډول استعمار او استبداد پرخلاف مبارزه کوله او په ټوله نړۍ کې د اسلامي فرهنګ او تمدن د احیأ په فکر کې و.

په پاریس کې د سید د اقامت پر وخت د هغه یوملګری محمد عبده هم فرانسې ته ورغی او په ۱۳۰۱ هـ ق/۱۲٦۳ش/۱۸۸٤م د عروة الوثقی جریدې لومړی ګڼه په دوو ژبو عربي او فرانسوي خپره شوه چې د زیاترو هیوادو د پاملرنې وړ وګرځیده.

د عروة الوثقی سیاسي اهمیت دومره زیات و چې لاس په لاس به ګرځیده اوخلکو به دهغې له مخې نقلونه اخستل او په استعماري هیوادو خصوصاً انګلیسانو ته یې په سیاسي محافلو کې ویره را پیدا کړه. انګلیسانو هڅه وکړه چې تر استعمار لاندې هیوادو لکه هند، ترکیه او مصر ته یې مخنیوی وکړي. په مصر کې یوقانون تصویب شو چې خبرېې په العروة الوثقی کې په دې ډول خپور شو: "په قاهره کې د مصر نظار مجلس تشکیل شو. اود العروة الوثقی جریدې د مخنیوي اهتمام یې کړی او دستور ورکړی شو چې مصر ته د نوموړې جریدې د ورو د مخنیوي اوزیاته څارنه یې وشي"(۱٦)

"سور ته خبر را ورسیده چي که ددی خبرله نشر نه وروسته له هر چا سره العروة الوثقی ورځپانه پیدا شوه له پنځلسونه دی تر شل لیره پوری نقدی جریمه ورکوی او دا لویه جزا ده" العروة الوثقی تراتلسو ګڼو وروسته مصادره شوه (۱۲۶۳ش د تلی ۲٤/د ۱۸۸٤ د اکتوبر شپاړسمه)

په وروستیو وختو کی العروة الوثقی د سید د شاګردانو په همت په لبنان او مصر کی په کتابی بڼه خپره شوه چي د وروستیو یو نیم سل کالو د بدلون یوه منبع ګڼل کیږی.

د سید یوه لویه کارنامه د فرانسي په "سوربون" پوهنتون کی له فرانسوی فیلسوف ارنست رنان سره د دین په باب علمی مناظره وه.

رنان د مخه ویلي وو هغه څه چي په اسلامی نړی کی د علم او فلسفي په نامه پیدا شوی دی، په واقعیت کی یونانی فلسفه ده."

سید جمال الدین د رنان ددی ادعا د رد په باب څه بحثونه بیان کړل چي متن یی په (ژورنال ددبا-*Jour-nal desdeDbats*) ورځپانه کی خپور شو. زیاتره څیړونکی او اسلام پوهان په دی باور دی چي د سید ځواب په هغه نشریه کی په تحریف شوی بڼه خپور شوی دی او د سید له فکر سره مطابقت نه لری. "رنان ته د سید جمال الدین د ځواب څه برخی جعلی او فرانسوی ژباړن یی به بی شرمانه تحریفاتو د هغه چاپ ته اقدام کړی دی" (۱۷)

سید خپل بحث په دلایلو سره بیان کړ چي په نیچریه کتاب *La Refutation des materialistes* کی د (رنان ته د سید جمال الدین ځواب *Reponse de Jamalad-Din- Afghani a Renan*) تر سرلیک لاندی چي د ګو شوان *Giochon* لیکنه ده، په ۱۹٤۲ میلادی / ۱۳۲۱ش کال په پاریس کی خپور شو.

رنان ته د سید د ځواب لنډیز داو:

علم او فلسفه خصوصاً په هغه معنا چي د نوسمی پیری په پای کی مخالفینو او (اروپائیانو) له دی دووکلمونه اخستله له دین سره چي د احکامو مجموعه ده، منافات لری. سید مسلمانان له هغو دامونونه چي د ننني علم او فلسفي مدافعانو یی پر لاره غوړولی دی خبروی او د اسلام د مخکنیو پوهانو لکه بلخی ابن سینا، او ابن خلدون په څیر په دی باورو دی چي د فلسفي او شریعت ترمنځ اساسی توپیر موجود دی. د سید هدف د دین او فلسفي ترمنځ تعارض دی هغه په دی باوردی چي دا تعارض د اسلام او فلسفي ترمنځ نه دی بلکه د ټولو ادیانو په باب دی او په دی توګه رنان حق نه لری یوازی مسلمانان له دی بابته ملامت کړی. اسلام د مسیحیت په پرتله له فیلسوفانو سره ښه رفتار درلود.

همدا رنګه سید په خپله مقاله کی لیکی: "ادیان په هرنامه چي یادیږی، یو د بل په شان دی. ددین او فلسفي ترمنځ هیڅ ډول سازش او پخلاینه ممکنه نه ده. د ین سړی ته وربښیي چي د ایمان خاوند وی خو فلسفه غواړی هغه د ایمان له قیده خلاص کړی. په دی توګه څه ډول ممکنه ده دا دواړه یو تر بله سره موافق وي/ تر هغی چي بشر په جهان کی دی د ازادانه څیړنی او جزمی احکامو ترمنځ جګړه روانه ده او زما ویره

دا ده چې ددې جګړې پای د آزاد فکر په بوی ونه انجامېږي. ځکه اولس له عقل نه بېزار دی او یوازې خواص او هوښیاران دي چې، له عقل نه برخمن دي او علم هرڅومره که خوندور وي سړی نه شي مړولای، ځکه انسان په مطلوب کمال پسې هڅه کوي او دایي خوښېږي چې په یوه تیاره اولږې جهان کې چې فیلسوفان نه هغه درک کوي او نه یې غواړي، ژوند وکړي..."(۱۸)

سید له یوې مخې د اسلامي فکر او ختیځ د فرهنګ او تمدن د احیا په فکر کې و. دی وایي: "خواره واره فکرونه مې راټول کړل او ډول ډول تصورات مې را جمع کړل او ختیځ او د هغه خلکو ته مې وکتل. د افغان هیواد زه دځان په اړه مشغول کړم؛ ځکه لومړنی ځمکه ده چې زما بدن لمس کړې ده او بیا هند ته چې زما عقلیت پکې وده کړې ده او ایران چې د ګاونډیتوب په حکم او جزیرة العرب له حجاز نه چې د وحې راکوزېدو ځای دی او ... هغه سرنوشت چې ورسر. مخامخ شوی دی. ختیځ ...! ختیځ...!"

سید د خپل سیاسي وضعیت په درک کولو سره او د هغه له سیاسي فرهنګي فعالیت نه د فرانسویانو مخنیوي او د العروة الوثقی مصادره چې د انګلیس او فرانسې په تفاهم سره شوې وه، له فرانسې نه لندن ته ولاړ او کوښښ یې وکړ دیوه عرب پېژاند لیکوال چې ویلفرید بلنت *Wilfrid Blant* نومېد، په منځګړتوب انګلیسي مقامات پر خپل سیاست بیا کتنې ته وهڅوي خو د سید ټول کوښښونه له ماتې سره مخ شول. (۱۱۸٦م)

سید په لندن کې د ایران له قاجاري پاچا سره پېژندګلویزه کښه درلوده. پاچا خوښ شو او هغه ته یې ایران ته دتګ بلنه ورکړه. سید جمال الدین د ناصر الدین شاه په بلنه د عربستان او نجدله لارې او بیا د شیراز او اصفهان له لارې تهران ته ورسید. ۱۲٦۷ ش/۱۸۸۸م اوله پاچا سره د سید په اولنیو خبر اترو کې د ایران پوهان او لویان له هغه نه په ویره کې شول. سید په دې ناسته کې په صراحت سره ایراني رجال په تظاهر تورن کړل او پاچا یې په سلطنتي چارو کې په خپله شکمن کړ او د ایران ټول باسوادان او روښانفکران یې دې ته وبلل چې د ایران د نجات لپاره په یوه عمومي غورځنګ کې سره را ټول شي او د انګلیس د استعماري پروګرامونو په وړاندې په متحده توګه مبارزه وکړي. همدا راز هغه د بې شماره غیر نګاحي ښځو په درلودلو سره د شاه دحرم داخلي وضع محکومه کړه. اقتصادي مسأله او په ایران کې یې د تنباکو بحران د ایران د وضعې د مهارلو په خاطر د انګلیسانو د استعماري ماهیت یوه برخه وبلله "د ایران شهنشاه د سید د مقام او منزلت او د هغه د خبرو په نفوذ چې په کومه اندازه یې د هغه هیواد د مشرانو په زړونو کې کړې دی یوه شو. له سید جمال الدین نه وویرید او ډیر پریشانه شو او نوره یې هغه ته پاملرنه ونه کړه. او له سید سره یې خپل سلوک ته تغییر ورکړ"(۱۹)

پاچا، سید په یوه خاصه بلنه دیوه پروګرام د عملي کولو په خاطر د آذربایجان مرکز باکوته واستاوه او وعده یې ورکړه چې په مسکو کې به د ایران د پروګرامونو په باب خبرې کوي. سید پوه شو چې د ایران مقاماتو په یوه خدعه او چل هغه له ایرانه وایست.

کله چې د سید آوازه روسیې ته ورسیده د روسیې مشرانو په ډیر درناوی سره سید ومانه او سیاسي مشرانو د سید په مقام او منزلت اعتراف وکړ... دا چې پوهیدل چې سید د محمد اعظم خان په دوره کې څه وخت د افغانستان د دولت له وزیرانو نه و، هغه ته په سیاسي ارزښت قایل شول او سید هم د افغانستان، ایران، عثماني هیوادو او روسیې په باب څه اساسي مقالې د روسیې لومړۍ درجه مطبوعاتو ته ولیکلې چې په سیاسي محافلوکې یې شور و غوغا ګډه کړه"(۲۰)

سید د روس له قیصر سره د بین المللي سیاست په اړه یوه تفصیلي کتنه وکړه. هغه داسې پروګرامونه وړاندې کړل چې روسان د انګلیسانو د استعماري ګټو پر خلاف را وپاروي... د روسیې په مطبوعاتوکې د سید مُقالې د انګلیسانو د استعماري تحرکاتو، په ایران کې د اداري فساد د افغانستان ایران او هند د ځمکو په اشغال کې د روسانو د استعماري پروګرامونو، او تودو او بوته د رسیدو په باب دي چې د همدې موضوعاتو په طرح کولو سره په العروة الوثقي کې هم څه مقالې چاپ شوې.

سید په پیترزبورګ ښارکې پر ماتریالیزم د معنا او متافزیزم د برترۍ په باب څه علمي او پرتلیز بحثونه درلودل. هغه روسي ژبه په ټول فصاحت سره په یوه اونۍ کې زده کړه او په مباحثوکې یې ترجمان ته ضرورت نه درلود. سید د څه لپاسه پنځوسو ملیونو مسلمانانو چې د روسانو تر ظلم لاندې په مسلمان میشتو جمهوریتونوکې اوسیدل، له حقوقو نه د دفاع غږ اوچت کړ او د هغوی ددیني حقوقو غوښتنه یې وکړه او د روسیې قیصر یې پردې قانع کړ چې مسلمانانو ته قرآن کریم او نوردیني کتابونه خپاره کړي.

روسي ژورنالستانو چې سید جمال الدین ډیرښه پیژانده، کوښښ وکړ چې له هغه نه د مرکزي آسیا، افغانستان او هند په مسألوکې مرسته وغواړي او د روسیې له دولت سره د سید اړیکې نورې هم نژدې کړي؛ خو روسي دولتي مشران له سیدنه ویریدل او کوښښ یې کاوه له سید سره د اړیکو دروزې وتړي. څرنګه چې سید په پیترزبورګ کې د قرغزي، ایراني او قفقازي ځوانانو روزنه پیل کړې وه، روسي دولت یې ډیر ژر د اخراج حکم صادرکړ اوسید د مونښن خواته المان ته ولاړ. دا وخت ناصر الدین شاه دوباره آلمان ته راغلی و، غوښتل یې له سید سره خبرې وکړي؛ خو هغه ونه غوښتل ۱۲۶۸ش/۱۸۸۹م. سید داتریش ویانا ښار ته ولاړ، پاچا هم ویانا ته ولاړ او سید ته یې بلنه ورکړه او ژمنه یې وکړه چې په خپله دوستۍ ټینګ دی (۱۸۹۰م) خو بیایې هم سید د سیاسي مذاکراتو په پلمه پیترزبورګ ته واستاوه. یو عربي محقق لیکي. "سید ته یې بلنه ورکړه چې د ایران د اداري اوتولني په تنظیم کې خپل نقش تر سره کړي.

سید له شاه نه وغوښتل چې، فاسد اشخاص چې میرزا علي اصغر صدر اعظم هم په همغه ډله کې و، له خپلو دندو لرې کړي چې په ایران کې د اصلاحاتو زمینه تحقق ومومي. دا وړاندیز د صدر اعظم د پلویانو او انګلیسانو د حسادت سبب شو.(۲۱)

په تهران کې دانګلیسانو سفیر سر دورموند ولف پرسید فضا دومره تنګه کړې وه چې له سید سره یې

ACKU

په تهران کې د شاګردانو ناسته ولاړه هم ګرانه شوې وه او هره ورځ به دسید پر خلاف یو سؤ قصد کېده. سید قم ته ولاړ او اوه میاشتې یې د شاه عبدالعظیم د مقبرې ترڅنګ تیرې کړې اوله همغه ځایه د سید سیاسي او فکري فعالیتونه تنظیمېدل. په زرګونو کسانو د هغه له محضر نه ګټه واخسته. پاچا د هغې ویرې له کبله چې له سید نه یې درلودله، د هغه فعالیتونه ترڅارنې لاندې ونیول او د هغه شاګردان یې د هغه له صحبت نه منع کول. د سید شاګردانو پاچا ته یو لیکلي تهدید واستاوه چې ایرانۍ مقامات یې لاسیدته متوجه کړل.

د ناصر الدین شاه جاسوسانو او مامورینو د روژې په مبارکه میاشت کې چې هواهم ډیره سړه وه، هغه په کشولو کشولو سره د مرقد له څنګه وایست او، لاسونه یې د هغه پخپل پټکي وتړل، جامې یې ترې وایستې او په ډیره غیر انساني وضع یې په خره چپه سپور کړ او پلازمینې ته یې بوت. "دلته و چې یوځل بیا هوې و جنجال، خرافاتو او تکفیر پر علم او پاک لمنې غلبه وکړه او سید یې د ناروغۍ له بسترنه بهر وایست او په وهلو او ښکنځلو یې چې له سره ترپښو لوڅ و، بیوه اوویل یې ایها الناس (ای خلکو) دا سید نه دی، بابي دی (بابي سید علي محمد شیرازي ته منسوب دی چې ځانته یې باب الله وایه او پیروان یې درلودل) او مسلمانان ګمراه اوبې دینه کوي. ناصر الدین شاه ته دعا وکړئ چې تاسي یې د هغه د ژبې له شره په امان کې کړئ. (۲۲)

سید له ایرانه تروتو او بصرې ته تررسیدو پورې هر څیزې چې په لاره تیرېده د ناصر الدین شاه قاجار د پلویانو له خوا په کانو ویشتل کېده. د سید یو نژدې ملګرې مخزومي پاشا چې د سید خاطرات یې لیکلي دي، د خپل کتاب په سریزه کې لیکي: سید به چې هر کله ایران یا داوه رنګ به یې تغییر کاوه. او په فکر کې به ډوب شو. سید څو ځله ویلي وو چې د ژوندانه بدترینه خاطره یې په ایران کې د هغه ژوند دی.

مدرسي پخپل کتاب کې لیکي: سید یې پر یوه یابو لوڅ سپور کړې و او تر بصرې پورې یې په ډیره بده وضع کله سپور او کله پیاده بوت په داسې حال کې چې سید څلویښت درجې تبه درلوده او هیڅکله یې اجازه ورنکړه چې لږ استراحت وکړي او د پاچا پلویانو ګومان وکړ په دې توګه کولای شي د اسلام روښانه ډیوه خاموشه کړي خو له دې نه نا خبره و چې (یریدون یطفؤنور الله والله یتم نوره ولوکره الکافرون)(۲۳)

سید جمال الدین داټول ناخوالې او د ایران اداري فسادونه میرزا حسن مجتهد شیرازي ته چې په نجف او کربلا کې د شیعیانو د تقلید مرجع وه ولیکل؛ خو سید ته هیڅ ځواب ورنه شوه. د بغداد والي او نور رجال سید ته راغلل او هغه ته یې بلنه ورکړه چې بغداد ته ورشي، خو سید د کشتۍ په واسطه له بصرې نه لندن ته روان شو. (۱۲۷۰ ش/۱۸۹۲م) افغان سید په لندن کې د هند ډیوه مشهور لیکوال ملکم خان په ملګرتیا د"ضیاء الخافقین" نشریه خپره کړه، په دې خپرونه کې چې په عربي ژبه خپرېده د سید نظریات او عقاید منعکسېدل. او د ایران د فاسد پاچا او د هغه د فاسدې بیوروکراسي په باب یې یولړ مقالې خپرې کړې. سوداګرو په خپلو تجارتي سالونو کې د ضیاء الخافقین ځینې ګڼې ایران ته استولې او په ایران کې به


په لاس لیکل کیده او لاس په لاس به گرځیده. همدا راز په دې خپرونه کې د اهل تشیع د تقلید د مرجع په باب هم یولړ مقالې خپرې شوې. ځرنګه چې د انګلیس دولت په ایران کې له یوه لوی اقتصادي سیاسي بحران سره مخ شوی و د ضیاء الخافقین د خپریدو زغم یې نه درلود او په لندن کې مصادره او ودرول شوه (د ۱۲۷۱ ش کال د ورې میاشتې/ د ۱۸۹۲ مارچ)

کله چې د ترکیې پاچا سلطان عبدالحمید د سید جمال الدین له حاله خبر شو، په لندن کې یې خپل سفیر ته وظیفه ورکړه چې سید اسلامبول ته دعوت کړي چې د مسلمانانو د تولنې په وحدت کې د خپل (پان اسلامیزم *Pan Islamism*) له مخې خپل نقش ترسره کړي؛ ځکه سلطان عبدالحمید دا درک کړی وه چې اروپایی هیوادو، اسلامي هیوادو ته سترګې پټې کړې دي او کولای شي د نفاق د ایجاد دولو، کورنیو جنګونو او هیوادو د تجزیې له لارې خپلو اهدافو ته ورسیږي. پاچا، له دې فتنو سره د مبارزې لپاره سید جمال الدین غوره کړ.

سید په ۱۲۷۱ ش (د ۱۸۹۲ وروستیو) کې اسلامبول ته ورسید "او د عثماني دربار یو لوی دفتر چې د سید داستقبالوونکو له جملې نه وله سید نه وپوښتل چې ستاسې دسامان او لوازمو بکس چیرې دی/سید ورته وویل چې پرته د کتابونو او جامولو صندوق نه بل څه نه لرم. ویې پوښتل ځای یې راوښیې! سید خپلې سینې ته اشاره وکړه او یې ویل دا دکتابونو صندوق دی او بیایې خپلو جامو ته اشاره وکړه. (۲۱)

اسلامبول ته د سید په رسیدو سره د هغه تود هرکلی وشو او د هغه هیواد په وزارت کې د ښوونې او روزنې چارې ور وسپارل شوې. د ابو الهدی په نامه د ترکیې مفتي چې سید به (ابو ضلال) باله د سید پر خلاف ناوړه تبلیغات پیل کړل او په یو دول یې عبدالحمید پاشا هم تر اغیز لاندې راووست او سید یې ترڅارنې لاندې ونیو. له دې سره جوخت په قم کې د شاه عبدالعظیم د مزار ترڅنګ د سید دیوه شاګرد میرزای کرماني په واسطه د ناصر الدین شاه وژل کیدل په ترکیه کې د سید موقعیت لاپسې بحراني کړ. تر هغې وروسته سید د یوه محبوس په توګه ژوند کاوه. تر هغې چې د ۱۲۷٦ د کب پراتلسمه/د ۱۸۹۷ د مارچ نهمه، د ژامې د سرطان له امله په پنځوس کلنۍ کې وفات شو، خوځنې په دې عقیده دي چې سید ته یې زهر ورکړل او شهید یې کړ او د اسلامبول د مشایخو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

د ۱۳۲۷ کال د تلې پر اتلسمه/د ۱۹۴۸ د اکتوبر لسمه د سید تابوت او جسد له ترکیې نه کابل ته انتقال کړای شو او د کابل پوهنتون په محوطه کې خاورته وسپارل شو. د تدفین پر وخت کله چې صدر اعظم شاه محمود خان د هغه هډوکي ولیدل په ژړا شو، د هغه د کوپړې هډوکي یې را پورته کړ او وچولی یې ښکل کړ او ویې ویل: خدای دې موږ مسلمانان چې په ټوله اسلامي نړۍ کې مو د دې سړي په حق کې جفاکړې ده وبخښي اود افغانستان د دولت نورو اراکینو هم د هغه د تدفین په مراسمو کې ژړل.




علامه سید جمال الدین افغان د اسلامي نړۍ متفکر او د افغانستان د مطبوعات بنسټ ایښودونکی

### سید جمال الدین د مطبوعاتو په باب لیکي

"هر امت باید همیشه د اخلاقو د ساتنې او د سعادت په لور د ملکاتو د حفاظت له غفلت نه یو منبه (را ویښوونکی) له هبوط نه یو صائن (ساتونکی) او د فضایلو په لور یو سوقوونکی او هڅوونکی او د کمالاتو په لور یو قائد (رهبر) او د رزایلو نه یو قانع او د نقایصونه یو زاجر (منع کوونکی) او د معروف خواته آمر او له منکر نه یو منع کوونکی ولری او کله چې په بصیرت سره لار ووهو او د عقل په ترازویی وسنجو و په دې وخت کې هیڅ داسې څه نه وینو چې دغه ټول صفتونه ولری مګر جراید او ورځنی اخبارونه..."(۲۵)

سید په مصر کې حاجي مستان مراغه یې ته په یوه لیک کې لیکي:

"ورځپاڼې باید حقیقت اود ملت په حال ګتوری چاری ولیکي هم عیب و ښيي او هم یې د علاج لاری، نه دا چې له کراهت انګیزه اغراقاتو او مبالغو ډک وی..."(۲۶)

مدرسي لیکي: سید جمال الدین د خپلو فارسي (دری) او عربي مقالو په مجموعه کې خصوصاً پخپله خاصه ورځپاڼه (عروة الوثقی دپاریس چاپ کې) کې د افغانستان حالاتو ته خاصه پاملرنه لری اود خپل سیاسي ژوندانه تر پایه یې ځان سید جمال الدین حسیني افغاني معرفي کاوه. له دې امله لازمه ده چې زموږ افغاني ورونه نومیالی سید او لوی تولنیز عالم د ځان وګني او د هغه نوم زمزمه کړی)(۲۷)

PROPERTY OF ACKU 12873

### د عربو ادبیاتو ته د سید خدمتونه

سید جمال الدین په مصر کې د خپلې استوګنې پر وخت په مختلفو علوموکې ځوانان وروزل او خپلو تولو شاګردانو ته یې توصیه کوله چې په نوی سبک ادبي، سیاسي، اجتماعي او دیني مقالې ولیکي او د عربي ادب له نویو تګلارو سره ښه آشنا شي.

سید پخپله خاصه انشا سره او (النخله)، (البصیر)، (د مصر جریده)، (التجاره) (د مشرق ستوری، (کوکب شرق) او (ابو نظاره) په ورځپاڼو او جرایدوکې یې په نشر سره د مصر په ادبیاتوکې یو لوی بدلون راووست. شاګردانویې د هغه د لیکوالې له سبک نه پیروی وکړه اود هغوی په رشد کې دیوه بنسټیز بدلون لامل شو اود هغوی هریو تر اوسه پورې د مصر له لویو لیکوالانو نه ګڼل کیږي.

شیخ محمد عبده وایي: "له لسوکالو راسې د مصر دټولو لیکوالانو او قلم د خاوندانو په منځ کې له پخوانیو نه نیولې تر اوسه پورې د سید په څیر شخصیت نه وینم. د قلم هغه خاوندان، ځوانان، استادان او ټول د سید جمال الدین له شاګردانو نه ګڼل کیږي او یا یې د هغه له شاګردانو نه فیض وړی دی."(۲۸)

ادیب اسحق چې د سید له شاګردانو نه و، او د سوریې له او سیدونکي نه واود هغه مهال له مشهورو

لیکوالونه ګټل کیږي. یځپل (الدار) نومې کتاب کې لیکي:

"په څه چې پوهیږم، ټول مې له سید جمال الدین افغان نه زده کړي دي." (۲۹)

محمد پاشا مخزومي (د سید جمال الدین خاطرات) په کتاب کې لیکي: خپل شاګردان یې د ادبي، حکمي او دیني مقالو لیکلوته هڅول. هغو هم د سید ترنظر لاندې په لیکلو پیل وکړ او استاذان شول. د لیکوالۍ فن د استاذ د کوښښونو له امله پرمختګ وکړ او د هغو له جملې نه څوکسه پیاوړي شول چې په مختلفو موضوعاتو کې یې ښه شیان تهیه او چمتو کړل. په مصر کې د سید شاګردانو نبوغ پیدا کړ او د هغوی په لیکنو به خاورې او دوړې نه کښیناستې. سر له دې چې زیاتره یې ځوانان وو، خو پخپل فن کې استادان او ماهران شول. هر چا چې په دې رشته کې کارکاوه او ځوان واو پخپل فن کې استاذ او ماهر شو، یا دا چې د سید شاګرد اویا یې د هغه له مکتب نه پیروي کوله. او هر څوک چې له دې حقیقت نه انکار وکړي، زیاته خبره یې کړې ده. ځکه، حقیقت ټولو ته څرګند دی." (۳۰)

"سید جمال الدین په تشولاسو، اوپرته د هیڅ مرجع له ملاتړه د اروپا د لویو ځواکونو په وړاندې چې له هغوی سره له مبارزې نه عبارت دی، سرته ورسوله. سید پخپلو مبارزاتو کې د لویدیزو هیوادو او د هغوی د ګومارل شویو له دسیسو سره مخامخ شو، خوله دې ټولو سره یې چې لوی بریالیتوب ترلاسه کړي و، د او چې دځنو معاصرو لیکوالو لکه د (افغاني او عبده) د کتاب مؤلف او نور لیکوالان لکه خدیوری د نظراتو، پر خلاف سید جمال الدین یو ځان ستاینې یاخود پسند سیاستوال نه و او د ختیځ یولوی رهبرو. هغه مهال چې ټوله آسیا او د نړۍ مسلمانان په درانه خوب اوده وو، چې دا له نولسمې پیړۍ سره مصادف و، هغه پخپل قلم له استعماري ځواکونو سره مبارزه پیل کړ او د اروپایي ښکیلاک په مقابل کې یې په خلکو کې د آزادۍ روحیه و پوکله." (۳۱)

ACKU

## د مطبوعاتو په باب دسید جمال الدین مقاله

سره له دې چې د سید افکار او آثارد دنیا په مختلفو څیړونو کې موجود دي او پرله پسې کار او څیړنې ته اړتیا لري خو هغه څه چې اوس یې تصور کیږي دا دي چې: افغان سید د سیاسي ستونزو او تبعیدی او یې امانه مبارزو له لا امله ډیر لږ وخت ومونډ چې، مستقل آثار له ځانه په یاد ګار پریږدي. احیاناکه چیرې هغه وخت د غږ دضبط تکنولوژي موجوده وای اویوازې د سید جمال الدین ویناوې مو د اسلامي رنسانس اونړۍ د مسلمانانو د وحدت په اړه د سیدد عقایدو او فکر د مجموعې په توګه څیرلی وای نو څرګنده شوې به وای چې د اسلامي نړۍ سیاسي تز به د تحقیق په نړۍ کې یوه لویه برخه رانښځ ته کړې وای.

د سید دری مقالي د لومړی ځل لپاره د هغه په ژوند د هند په مجلو، جرایدو او ورځپانو کی خپری شوی. هغه مهال چی سید په پاریس کی د العروة الوثقی په خپرولو بوخت و د هغه د فکر لارویانو او مینه والو د هغه دری مقالي دیوی مجموعی په توګه په کلکته کی چاپ کړی.

وروسته دا مقالي د صفت الله جمالل په زیار په ۱۳۳۰ ش/۱۹۵۱م کی د انتشارات خاور، تهران له لاری د (مقالات جمالیه) په نامه خپری شوی چی د مرتضی مدرسی په لیکنه، دا مقالي پخوا د میرزا لطف الله خان په واسطه راټولی شوی وی (داکتاب ځنی هغه مقالي لری چی پکی جزوی تصرف شوی دی) او په ایران کی یی پکی څه تصرفات کړی دی د هغه د افغانی هویت په باب پکی د تصرفاتو کوښښ شوی دی.

غواړم د افغان سید هغه مقالي چی د جریدی د ګټو (مطبوعاتو) په نامه لیکل شوی ده د خپل کتاب په دی برخه کی را نقل کړم. ځنی کلمات او لغات په قوسینو کی د زیات تفهیم پخاطر تشریح شوی دی.

## د جریدی ګټی

*لاسعادة لامه لیس لها سائق الفضائل ولازاجر عن الرذائل* (کوم قام چی نیکی ته هڅوونکی او له بدیو نه منع کوونکی نه لری، د نیکبختی مخه نشی لیدلای)

انسان عجیب حالت لری چی د نیکبختی او سعادت مستقیمه لار پریږدی او د بدبختی په اغزنه ... لار کی خپله سوکالی لټوی که څوک صحیفی، تواریخ او د سیرت کتابونه په غور سره ولولی او په مضامینو کی یی د بصیرت په سترګو غور وکړی یی له شکه به ورته څرګنده شی چی د یوه امت اویایوی قبیلی غنا او ثروت امنیت او سوکالی او سلطه و سطوت (پرچا غلبه او برلاسی) د کمی قوت او لوړتیا، عزت او شان او شهرت هغه وخت متحقق شوی دی چی د هغه امت افراد په نیکو اخلاقو متخلق او په نیکو خویو متصف شوی وی او د هغه قام هره طبقه له هغه بصیرت نه برخمنه وی او فقر او ذلت او کمزوری او انحطاط و حقارت او پریشانی او نوم ورکتوب یی په هغه وخت کی وی چی جهل او ړندبست د ټولو افرادو په برخه شی او ډله ډله د اخلاقو په فساد او د افکارو په تباهی اخته شی.

په دی وسیله هرڅوک کولای شی حکم وکړی چی د امتونو سعادت د هغوی د بینایی او مهذبه اخلاقو او بدبختی او شقاوت یی دغباوت او بدو خویو نو نتیجه ده. بلکی د هغه د هر فرد سوکالی پرته له تعاون او توازانه امکان نه لری ځکه چی په بنکاره توګه یوکس یا ټولکی چی له څه افرادو نه تشکیل شوی وی تر هغی پوری د ضروری ژوندانه لپاره قیام نه شی کولای چی د خپل سعادت او سوکالی لاربی نه وی موندلی. د ډیرو او مختلفو مزاجو د خاوندانو ترمنځ مرسته او یو د بل بار اوچتول تر هغی ممکن نه دی چی په چارو کی برابر والی، په افعالو کی تناسب او په اعمالو کی تعاون منځ ته نه وی راغلی: په هغه ډول

چې مختلف افراد یو موټی او یولاس شي او دا کار د اخلاقو له اعتداله پرته ممکن نه دی او دسجایاو (خوی‌ونو) له اعتدال، له بصیرت او عقلي قواو له تعدیل (برابروالی) او د خویونو او ملکاتو له تقویم او تهذیب پرته نا ممکن دی. البته دانا (د انیت په اعتبار په من والي یعنې نفس الامرکی د حکم ثبوت) بصیر مدبر او لما (د علت په اعتبار پوښتنه) یا ځان پیژاندی بصیرد تدبیر خاوند او متجسس به حکم وکړی چې د هر است د سعادت رښتینی علت، عقل، بصیرت، نزاهت (پاکوالی) او د اخلاقو اعتدال دی اود شقاوت او بدبختی علت یې، د نوموړو علتونو زوال دی. څرنګه چې د ټګلاره روښانه شوه باید پوه شو چې نفساني اخلاق او عقلي قوی او ملکات جزری مدی، قبضي بسطي ارتفاعي او انخفاضي (پستي)، نقصاني، عروجي او مبسوطي عجایب لري (یعنې له لوړ او ځوړ سره مخ کیږی).

حتی که چیری یو است غفلت وکړی او لږ وخت هم د خپلو نفساني اخلاقو او عقلي قواو باندی سترګی پټی کړی او په تعدیل (برابر ساتلو)، تقویم (سیده کولو) او پر مخ بیولو کی یی تساهل وکړی. که څه هم دغه اخلاق او قواوی عالي درجې ته رسیدلي وی په کرار کرار به دنابودی خوا ته مخه کړی ترهغی چې کاملاً به نابودی شي او هغه امت به نه دا چې له سعادت او سوکالی نه محروم شي بلکی په لږ وخت کی به له د انسانیت له دایری نه بهرشي او له وحشي حیواناتو سره به یوځای شي.

پس هر است د اخلاقو د ساتنې او ملکاتو د حفاظت او له غفلت نه دسعادت په لور لارښوونی لپاره له سقوط نه ساتونکی او د فضایلو په لور سوقوونکی او د کمالاتو په لور لارښود، د رذایلو نه مانع، د نقایصونه د ساتونکی د معروف په لور آمر او له منکر نه منع کوونکی ولري اوکه چې د بصیرت مسبار (یوه آله ده چې دمعدی زخم پری معاینه کوی) ته سیر وکړو او د عقل په میزان یی و سنجوو هیڅ داسې شی چې په دی زمانه کی په دی تولو صفتو متصف وی او ددی تولو مزایا ولرونکی وي مګر ورځنی جراید (ورځپاڼی) او جراید.

څکه هر صنعت او حرفه خاصه موضوع لري او یا هغه عام چې دنا اهلانو، سوء تصرف له امله خاص شوی او خاوند یی پکی مستغرق شوی په مدنیت کی یی له خپلو شریکوالو سترګی پټی کړی او د هغود مخکیتوب او وروسته توب له زیان نه یی غفلت کړی دی بلکی دژوندانه ضرورتونو دیر وخت د خپل صفت له اتغان (استوارول) نه منع کړی دی. خو اخبار هغه یوازنی صفت دی چې موضوع یی د استونو عمومی احوال او اخلاق، غایه یی د خپلو شؤونو اصلاح اود هغی لپاره د سعادت او رفاهیت او امنیت جلب بلکی د تولو استونو لپاره وی.

۱ - له دی وجی چې جریده (اخبارنامه) د فضایلو د خاوندانو د فضیلت په خپرونه کی مسابقه کوی. اول د حقه ستاینی (محمدت) لپاره چې د فضیلت د خاوندانو جزا ده. او دویم نور د دی فضایلو د آکتساب د هڅونی (حث) پخاطر.

۲ - همیشه د دی لپاره چې بدخلک او عام وکړی یی له زیان او ارتکابه وساتی هغه بدی په ګوته کوی

چې زيانونه يې متعدي دي.

۳- د جميله اخلاقو ګټې په ښکاره دلايلو او مشوقو بيانونو په داسې توګه چې عوام ترې ګټه واخلي، او خواص هم ترې محروم پاتې نشي، هره ورځ په خپلو متونوکې اداکوي. او بد، صفات د هغه له ضررونو سره په ښو الفاظو سره شرح کوي.

٤- د علومو ګټې د ټولو لپاره داسې بيانوي چې، هر څوک په دې باور شي چې دهر امت سوکالي عزت او سعادت په رښتينو علومو او معارفو کې دي، نه پرته له هغه. او د جهل زيانونه په داسې ډول بيانوي چې، غبي جاهل اعتراف کوي چې کوم ضرر هغه ته رسيدلي دي د جهل او ناپوهۍ له لامله دي.

٥- د علومو د شرف درجې، په بشري ټولنه کې د هغو ګټو په تناسب ټاکي او د هريوه دلوازمو اندازه مدلله کوي چې يوناپوه د لږې ګټې لپاره خپل ګران بيه عمر صرف نه کړي او له هغې لويې ګټې چې په نورو علوموکې د اشتغال له امله ترلاسه کيږي، محروم نه شي.

٦- دصنايعو اړتيا چې دعلومو نتيجه ده په مدني ټولنه کې ټاکي اوله پرمختګ پرته، دسوکالي او سعادت په نه حصول قاطع دلايل وړاندې کوي.

۷- ضروري علومو چې د انسان د نامه د صدق په خاطر يې زده کړه ضروري ده داکه جغرافيه ده که د طبيعي علومو مبادي او ستور پيژندنه او جوي پيښې ياد کړني لوازم، يا د حرفو غوښتنې وي يا طبي ضرورتونه، عمراني چارې يا د ښارونو د تنظيف او يا د اولاد روزنه په هغه ډول چې عوام الناس ترې ګټه واخلي، ذکرکوي.

۸- د انسان تحديد او د هغه فضيلت شرح کوي او تر هغې وروسته بېايان او د مال او دولت خاوندان د انسانيت فضيلت ته رابولي او علومو او معارفو، او صنايعو لپاره يې د عمومي مدرسو جوړولو او روغتونو جوړولو ته هڅوي.

۹- او د... هڅونې او مړو نفسونو د احيأ لپاره د تيرو پلرونو او نيکونو فضايل په خوږه ژبه دهغه اولادې ته ورياد وي او دا خپل مسؤوليت ګڼي.

۱۰- د تيرو امتونو احوال په تفصيل سره پخپلو ستونوکې ورتقلوي چې سياستوال، له هغې نه خپله برخه ترلاسه کړي، او سوداګر ترې خپله برخه واخلي او د علمونو خاوندان ترې علمي ګټې ترلاسه کړي او د امت افراد د هغوی پر احوال دقيق نظر وکړي. که د سعادت اهل دي اجتهاد يې کړي دهغه په اسبابو پوه شوي پس، دهغه همت يې هڅولي او د حميت او غيرت رګ (عرق) يې په حرکت راوستي چې د هغې د معارض او مقابل (مبادرات) او مجازات (يود بل لپاره دودکسونګ) په لټه کې شي اوکه د شقاق اهل وي چې له هغې نه عبرت واخلي ځان ترې وساتي.

۱۱- واکمن عدالت ته رابلي اوګټې يې بيانوي او د ټول رعيت وکالت کوي شکايتونه يې حکومت ته رسوي او د بدې خورو ماموريتو سخه نيسي. راتلونکې پيښې راسپړي د حل و عقد خاوندان خبر وي

چې د هغې له وقوع نه د مخه د هغې دفع اوعلاج وکړی چې حکومت او رعیت یې له ضرره په امان کې وی.

۱۲- که کوم پر دی سرې د هغه قام ته کوم خراب نسبت وکړی په پخودلایلو یې چې د پوهانو په وړاندی له تورو هم تیره وي، له خپل قام نه دفاع واجبه ګنې.

۱۳- د هر عاقل د فکر امانتونه تولو عاقلانو ته رسوی او عالمان یو پر بل خبروی.

۱٤- کله کله د خپلو لوستونکو د خوښی لپاره خوندور حکایتونه، ظریفې نکتې او بلیغ شعرونه وړاندی کوی.

۱٥- د است متلاشی اجزا او د هغه متفرقه اعضا را تولوی نوی ژوندانه ته یې راګرځوی.

۱٦- خپل لوستونکی د عالم په سیروسیاحت خوښوی.

۱۷- په ځنډنیو ناروغتیاو اخته ناروغان، ماهرو طبیبانو او جاهلان متفننو عالمانو ته رهنمایی کوی او فقیرانو ته دغنا پروخت لاربښوونه کوی.

۱۸- د است دوست له دښمنه جلا کوی او د تلبیس جامه یې څیروی.

۱۹- د ځای ساتنې په غرض د شر او شقاوت ځایونه په ګوته کوی، خلک د سعادت لاری ته رابلی، د ګټو د جلب او د افرادو د دفع پخاطر، حقایق لکه څرنګه چې دی هغسی ښکاره کوي، په هرځه او هر ځای کی چې د است لپاره کومه ګټه ګوری اعلانوی یې او بالاخره جریده، سعادت غوښتونکو ته جهان نما دوربین او حقیقت ښوونکی ذره بین دی. جریده یو نیک فرجامه رهبر، او سعادت بخښوونکی دوست دی. جریده یو مهربان طبیب او متواضع ناصح دی. جریده یو خاضع مؤدب دی جریده یو ویښ پهره دار او هوښیار حارس (ساتونکی) دی جریده د تولو لپاره یو کامل مربی دی، د تولو لپاره شاقی تریاق او بې نوم وښبانو لپاره بهترین نشاط بخښونکی دی او د غافلانو لپاره بهترین منبه دی، مړه زړونه ژوندی کوي، او مړاوی افکار په حرکت راولي، په یوازیتوب کی د مجلس ملګی او په په بدساعت کی ښه اندیوال، د عالمانو سرمایه ده او د عارفانو پیرایه او ښکلا، سوداګرو ته رهبر او واکمنو ته د عدل کولو مشاور دی کرګرانو ته د کرنې قانون دی او صنعتکارانو ته د صنعت استاذ. څوانانو ته د مکتب و مدرسه او عوامو ته د اوږ زده کونې مرکز دی د بصیرت خاوندانو ته د سترګو نور او د سیاست خاوندانو ته یو منلی قانون دی. د مدنیت لپاره یو ټینګه کلا او بشر د سعادت لپاره د حبل متین حیثیت لری. د جریدی شرف و منزلت او کثرت او په علومو، معارف او مدنیت کی د استونو په پرمختګ پوری تړلی وی، څکه چې عارف عالم خپل ضرورتونه له غافل جاهل نه ښه پیژنې او د هغو د لاس ته را وړنې لپاره ډیره هڅه کوي. پس هر است چې سعادت او سوکالی غواړی باید پوه شی چې له جرایدو او یوسیه اخبارونو (ورځپانو) پرته به خپل اصلی مقصود او حقیقی مطلوب ته ونه رسیږی. پس باید په کنډو کپرو سرنه شی، او د جریدی خاوند باید د حق خاوند وی نه د درهم او دینار بنده.

ځکه که چیرې د درهم او دینار بنده شو، نو حق به باطل او باطل به حق، خاین به امین او امین به خاین، صادق به کاذب او کاذب به صادق، ګټه به تاوان او تاوان به ګټه، حسن به قبیح او قبیح به حسن، حقیقي موهوم به موجود او حقیقي موجود به موهوم، بنبي، ددغه دول جریدی نشت له شتون نه په کراتو بهتر دی. اوس چې د اخبار ګټه او خوند معلوم شو، لازمه ده اوس خپله خواشیني ځرګنده کړم او ووایم، هندوستان چې له پخوا زمانو راسې د علومو او معارفو معدن، د صنایعو او بدایعو منبع، د حکمت او فلسفي چینه او د مدنیت د قوانینو او نظامونو کان و، ولې پکې دا جراید له ځرنګه چې بنایي قدر و منزلت نه لري او چاپیدونکي جریدې پکې دګوتو په شمار دی په داسې حال کې چې نفوس یې دوه سوه ملیونو ته رسیږي خلک یې ولې د جرایدو له لوستلو سره مینه ونه لري. چې له هغې نه ګټه واخلي.

مګر کوم عذر چې دهند ځنې مخور کسان د جریدې په نه لوستوکي وراندې کوي چې په دې هیواد کې چاپیدونکي جریدې ګټور مطالب نه لري نو ځکه یې طبیعت لوستوته میلان نه کوی د منلونه دی، ځکه هر د بصیرت خاوند ته ځرګنده ده چې، د صنعت، حرفو او کارونو بنه والي دعمومو په رغبت او میل پوری اړه لري، نو نقص باید په افکارو کې ولټوو نه په جریدوکې. که چیرې خلک د جریدو لوستلوته کامل او رښتیني رغبت پیدا کړي، بې له شکه به د جرایدوخاوندان خپل افکار مصروف کړي او هغه څه په چې د عقل په زوایاو کې لري د امت د افرادو د خوښې سره سم وځلوی او بلکې خپل فکر به د نورو له فکر سره شریک کړي او هره ورځ به د عوامو د تربیې او تهذیب لپاره ولیکي، دا دی د هغه څه مجمل چې غوښتل مې د جریدې د فضیلت په باب یې بیان کړم. والسلام(۳۲)

## د سید جمال الدین آثار

۱ – *تاریخ الأفغان*: سید جمال الدین دا کتاب چې د امیر دوست خان او تر هغه د وروستنه زمانې د تاریخي جریان بیانوونکی دی، په عربي ژبه ولیکه چې "د هغه له بهترینو آثارونه دی چې افغان اولس یې د غفلت له خوبه را ویښ او د هغه کالبوت ته یې له حق کلماتو نه نوی ساه ور وبخښله، لکه چې افغانان اوس هم د هغه نوم په درناوی او تقدیس سره اخلي او هغه، خپل ناجي ګڼي اودهغه په افغاني کلمه ویاړي."(۳۳)

یو بل محقق په دې باب لیکي: "هغه مهال چې سید په مصر کې و، د افغانستان د تاریخي، جغرافیایي او سیاسي حالاتو په باب یې یوه رساله ولیکله چې په ۱۳۱۸ هـ ق کال په مصر کې چاپ شوه. په دې رساله کې د خپلې زمانې سیاسي بدلونونه تشریح کوی چې څه دول پردی د افغانستان په برخلیک لوبې کوی..."(۳۴)

سید د خپلې افغانولې حق ادا کړ او اولینه رساله یې په دیر بدو او ترسیاسي فشار لاندې شرایطو کې د

حپل هیواد افغانستان په باب ده.

دا کتاب په ۱۳۱۸ش/۱۹۳۹م د افغانستان د امانیه دورې دیوه ژورنالست محمد امین خوګیاني په واسطه له عربي نه په دري ژباړل شوی او چاپ شوی دی. کتاب په یو سلویو مخوکی د "بخش سوم حیات سید جمال الدین افغان" په نامه خپور شوی دی. محمد امین خوګیاني، یو بل کتاب (حیات سید جمال الدین) په نامه چې د نشراتو ددی لړی لومړنی برخه ده ولیکه او په همغه کال په کابل کی خپور شو.

۲ – *رد الدهرین:* سید جمال الدین له مصر نه تر وتلو وروسته په ۱۲۹۸ق کال د هند په بمبئی ښار کی د نیچریې رساله، یا (رد الدهرین) ولیکه دا کتاب په نورونو مونو لکه (حقیقت مذهب نیچریه). (بیان حال نیچریان) یا (مذهب ناتورلیسم *Naturalism*) هم شهرت لری او د سید تر نورو رسالو زیات پام ور واووښت او شهرت یې پیدا کړ.

د کتاب موضوع د طبیعت اصالت او طبیعت پالنه ده چې هغه مهال یې د خلکو ترمنځ رواج موندلی و او د خدای له نمانځنې (پرستش) نه دهریت ته اوښتي وو.

۳– *دا لعروة الوثقی ورځپانه:* د ۱۳۰۱ په جمادی الاول (د ۱۸۸٤ مارچ) کی د العروة الوثقی لومړنی ګڼه په عربي او فرانسوی ژبو په پاریس کی له چاپه را ووته چې د زیاترو هیوادو پام یې ځانته ورواړاوه.

د العروة الوثقی بنسټګر او سیاسي تحلیل ګر، سید جمال الدین و او مدیریت یې د سید دیوه شاګرد محمد عبده پر غاړه و. د العروة الوثقی سیاسي اهمیت دومره زیات و چې هره ګڼه به یې لاس په لاس ګرځیده او د هغې له مخې به بیا په لاس لیکل کیده. عروة الوثقی د ښکیلاکګرو هیوادو په تیره بیا د انګلیسانو په سیاسي کړیوکی ویره پیدا کړی وه او ان د انګلیسي ښکیلاک په مقابل کی د پاڅونونو د مخنیوی په خاطر یې مصر او ترکیې ته ورود منع کړی و.

ددی ورځپاڼې اهداف تر هغه څه چې په نشراتو کی منعکسیدل، ژورو. د العروة الوثقی مطالب په اسلامي هیوادو کی د استعماري هیوادو د سیاست ځیرنه، د مسلمانانو کمزوری او د اسلام نړیوال یووالی ته د هغوی رابلل وو.

"د العروة الوثقی جریدی یا د اسرافیل شپیلی پوکی د نړی د مسلمانانو په سره پره کی د ژوندانه داسی ولوله او د استقلال داسی زلزله او د سعادت داسی قریحه پیداکړه چې دار و پالستعماري هیوادونه عموماً د اسلامي مستعمراتو د نهضت له ویتو متزلزل او سیاستوال یې مضطرب شول. نو ځکه د دی جریدی د نفوذ له زیاتوالی نه په ویره کی شول او په مختلفو دولونو له هغې جملی نه د انګلیس تولو متصرفاتو نه یې له داخلیدو نه د مخنیوی اسباب برابر کړل. او دا کار انګلیسانو وکړ او په باطن کی د فرانسی له خوا نه هم تأیید شو. تر هغې چې د عروة الوثقی ستوری په اتسمه میاشت پریوت (د نوموړی جریدی د لیکنی محل چې سید او شیخ محمد عبده یې په لیکلو بوخت و، د سیزووکوڅه وه چې د مارتل په دوو سخوکی

یوه کوڅه وه.) (۳۵)

"ددې څېړونې پیام د اسلامي مسایلو او اسلامي هیوادو د واکمنو د عمومونو اصلاح، له جهل او فساد سره مبارزه، د اسلام لومړنیو زده کړو ته مراجعه او همدا راز د جابرو واکمنانو راپرځونه له نورو مباحثو نه و چې په عروة الوثقی کې به تبلیغیده. د عروة الوثقی پان اسلامیزم د خلافت تر چتر لاندې د اسلامي قدرت احیا وه" (۳٦)

"سید جمال په خپلو فارسي(دري) او عربي مقالو خصوصاً د پاریس چاپ عروة الوثقی کې د افغانستان حالاتو ته خاصه توجه لرې او د خپل سیاسي ژوندانه تر پایه پورې یې ځان سید جمال الدین حسیني افغاني معرفي کاوه. له دې لامله بنایي چې زموږ افغاني وروته ستر سید اولوی تولنیز عالم د ځان وګڼي او د هغه نوم زسرمه کړي." (۳۷)

٤- د *حمله القرآن و حجة البالغه رسالې*: سید حمله القرآن او حجة البالغه رسالې هغه مهال ولیکلې چې د ناصر الدین شاه قاجار له خوا له قم ښار نه تربصرې پورې په غیر انساني توګه تبعید، شکنجه، تعذیب، سنګسار او حتی بې حرمته شو او په بصره کې له اقتصادي ستونزو او فقر سره لاس وګریوان و او مزاجي حالت یې د پاچا د مامورینو د اذیت له لامله خراب او علیل شوی و.

د ادواره رسالې د شیعه علماو او د هغوی د مجتهدینو لپاره په عربي ژبه لیکل شوې وې او میرزا شیرازي ته یې چې د شیعیانو د تقلید مرجع وه د ناصر الدین شاه د مظالمو په باب لیکلې خو هغه په دې باب بې پروایي کوې او نه غوارې د قاجاري پاچا پر خلاف فتوی ورکړي. افغان سید سخت نهیلی شو او وروسته یې په انګلستان کې خپل فرهنګي فعالیتونه پیل کړل. ددې محافظه کارۍ او د پاچا د اداري فساد په باب یې په ضیاء الخافقین کې په تفصیل سره لیکنې وکړې.

حجة البالغه او حمله القرآن جریدې وروسته په لندن کې خپرې شوې.

٥- *ضیاء الخافقین*: کله چې سید جمال الدین لندن ته ورسید، کوم شناخت چې انګلیسي دیپلوماتانو له هغه نه د اسلامي نړۍ دیوه متفکر په توګه درلود، د هغه درناوی یې وکړ. سید د انګلیسانو په مجالسو کې د ناصر الدین شاه قاجار او د هغه د درباریانو د ظالمانه کړنلارو په باب مؤثرې اوږدې خطابې ورکړې چې حتی حاضرینو وژړل. "سره له هغه چې سید قوي البنیه سړی و خوکومې صدمې چې هغه ته رسیدلې وې د هغې له لامله علیل المزاج او کمزوری شوی و. له ایرانه په وحشیانه توګه د هغه تبعید او ترخانقین پورې یې په کړنګ ژمي کې بیول. د عمر تر پایه پورې د هغه په زړه کې بدې اغیزې پریښودې." (۳۸)

سید په ۱۳۰۹ هـ ق/۱۸۹۲م ضیاء الخافقین ورځپانه د خپل یوه هندي شاګرد (ملکم خان) په مالي مرسته تأسیس کړه. د دې ورځپانې په څو محدودو ګنو کې یې د ایران د رژیم مفاسد او د اهل تشیع د

تقليد مرجع ته څه مطالب وليکل. د انگليس دولت په دې ملاحظې سره چې په ايران کې له بحرانه سره مخ ونوموړي ورځپانه مصادره او نشريې ودراوه.

نورې رسالې او مقالې چې له سيد نه پاتې دي په لاندې دول دي:

٦- د حقيقت اشيا رساله، ٧- طفل رضيع، ٨- د سيد دځينو مکاتبو سواد، ٩- خطابه در تعليم و تربيت (د تعليم او تربيې په باب خطابه)، ١٠- اسباب حقيقت سعادت وشقاوت انسان (د انسان د سعادت او شقاوت اسباب)، ١١- فوايد فلسفه (دفلسفې گټې)، ١٢- فلسفهء وحدت و جنسيت و حقيقت اتحاد لغت (د وحدت او جنسيت فلسفه او د لغاتو د وحدت حقيقت) ١٣- شرح حال آکهوريان با شوکت و شان، ١٤- در لذايذ نفسيه انسان، ١٥- در عجب و کبر، ١٦- در جهالت و نادانې، ١٧- در شعرو شاعرې، ١٨- مقالهٔ سر، ١٩- در تعليم و تعميم، ٢٠- تفسير مفسر، ٢١- چرا اسلام ضعيف شد؟ ٢٢- فوايد جريده، ٢٣- له فرانسوې فيلسوف ارنست رنان سره دسيه مباحثې، ٢٤- البيان فى الانکليز والافغان.

### د افغانستان په معاصر ژورناليزم کې دعروة الوثقى تداوم

عروة الوثقى د ١٣٦٠ په حمل/د ١٩٨١ مارچ کې د سويس په ژنو ښارکې ديوې درې مياشتنى مجلې په توگه په درې او انگليسى ژبو په خپرونو پيل وکړ.

عروة الوثقى د افغانستان يوه مسلمان ژورنالست او سياستوال دکتور عبدالحکيم طبيبي چې د سيد له عاشقانو اولارويانو نه و، احيا کړه. دې مجلې ترسلو په زياتو مخونو کې تاريخي او سياسي موضوعات او په افغانستان پورې اړوند خبرونه خپرول.

دکتور طبيبي د عروة الوثقى مجلې مسؤول مدير داسلامي او افغاني فرهنگ د احيا په فکر په دې کار کې له زيات جديت اوزيار نه کاروا خست او د ژوند تر وروستي سلگې پورې بې تفاوته پاتې نه شو. هغه سره له دې چې دافغانستان ردوونکو پيښو سخت زوراوه، او يوازنې هيله يې افغانستان ته آبرومندانه راستنيدل و د ١٣٧٧ د حمل په پنځلسمه/د ١٩٩٨ د اپريل څلورمه د هجرت په نړۍ کې د اجل داعى ته لبيک ووايه. دعروة الوثقى دويمه دوره، او يا گڼې خپرې شوې چې په رنگه پښتۍ، جلا دار کاغذ او د١٧ x ٢٤ سانتي متر په کچه خپرېده.

دکتور طبيبي د سيد جمال الدين په باب زياتې څيړنې او مطالعې کړې دي او په زياترو بين المللي سيمينارونو اوکنفرانسونو کې يې گډون وکړ او ډيرې ارزښتناکه مقالې يې وړاندې کړې دي. هغه د سيد په باب په خپله يوه مقاله کې ليکي: "د سيد جمال الدين افغاني مليت د تثبيت لپاره د هغه ددوستانو لکه د العروة الوثقى جريدې د تحرير رئيس شيخ محمد عبده او د مصر د سياسي غورځنگ بنسټگر سعيد

ذوغلول په لیکنوکې نور اسناد هم تر سترګوکیږي. شیخ محمدعبده د سید جمال الدین بیوګرافي ولیکله او پـه هـغـې کـې یې تأییدکړه چې هغه یوه افغان دی اود افغانستان دکونړ دی او ابو تراب د هغه خادم و."(۳۹)

طبیبي عقیده درلوده: "هیڅ داسې څوک به چې د هغې زماني تاریخ یې لوستی وی، پیدا نه شي چې د ختیزو ترسو په کالبوت کې د ازادی د ساه په پوکلوکې د سید جمال الدین له ورتیا او ازادی غوښتنې نه انکـار وکـړي. سیـد پـرتـه لـه هـغـه چې نـوري ځـانګـړنـې یې درلودی، یو لوی سیاستوال او بې ساري روښانفکرو."(۴۰)

که د افغان سید په باب هر څه وویل شي، کافي به نه وی څکه د هیواد د معاصر فیلسوف مرحوم بهاؤالدین مجروح په وینا: "سید هم د پخوانیو فیلسوفانو لکه ابن سینا او ابن رشد او هم په نوی معنا دیوه سیاسي متفکر په څیره او هم دیوه مجاهد ژورنالست او شوره پښنت او ماجراجو سبارز په توګه راڅرګند شو."که وکتل شي، باید د سید نظر او ژوند له مختلفو ابعادونه وڅیړل شي مګر "هغه څه چې په ځانګړې توګه یې ددې څیرې په اهمیت ورزیات کړی او هغې ته یې خاصه معنا ورکړه له دې نه عبارت و چې د نړې د تاریخ ستره پیښنه یعنې د اسلامي ختیځ له تمدن سره د لویدیځ تمدن تکرو. کومه ستره او فعاله ونډه چې هغه په دې جریان کې واخسته، د سید دریځنیونه وه، چې د تاریخ له یوه ستر جریان نه یې نمایندګي وکړه. هغه جریان چې لا تر اوسه د تاریخ برخه شوی نه ده او سور نن په جدی او ډیره پیچلې توګه له هغې سره مخ یو."(۴۱)

په افغانستان کې ژورنالیزم لکه چې د سید په قلم او د هغه په افکارو پیل شو، د هغه د یوه بل عاشق لاروی محمود طرزی په واسطه یې دوام وموند. "... دا محمود طرزی و چې سید جمال الدین یې د افغانستان خلکوته لامعرفي کړ. محمود طرزی د سید جمال الدین د تأثیراتو په نسبت په یوه استعماری ضد شخصیت بدل شو."(۴۲)

د سید جمال الدین د ژوند په باب په لنډه توګه سره خبری وشوی (وګوری زندګی نامه و آثار سید جمال الدین افغاني، ددې کتاب د لیکوال تحقیق او تألیف)

## کـــابل
### لومړنۍ تومورکۍ خپرونه

د کابل په نامه یوه خپرونه د۱۲۴۲ – ۱۲۴۵ هـ ش/۱۸۶۳–۱۸٦٦م کلونو تر منځ د شیر علي خان د واکمنۍ پروخت د سید جمال الدین له خوا خپره شوه چې د خلکو په منځ کې یې عام شهرت درلود. د افغاني محققینو له جملې نه هم یوه پخپله تحقیقي رساله کې لیکل دي: "په دې وخت کې د کابل په نامه

یوه نشریه د سید جمال الدین په مدیریت او دهغه تر نظر لاندی خپریده"(٤٣) خو یو شمیر په دی عقیده دی چی په عواموکی (کابل جریده) له (شمس النهار) سره مغالطه شوی ده. له کابل جریدی نه تر اوسه پوری څه آثار لاس ته نه دی راغلی: خو پروفیسور ال بکدانوف پخپل کتاب (اسلامیک کلچر) کی راوړی دی چی نشریه د سید جمال الدین په مدیریت په کابل کی خپریده. کابل نشریه په پښتو او دری ژبو په موقوت دول خپریده او قلمی ایکل شوی وه.

سره له دی چی دکابل جریدی په باب څه ثبوت په لاس کی نشته: خو کولای شو هغه د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کی د لومړنی نوم ورکی نشریی په توګه یاده کړو.

کاری که بر توکل تو کردم ابتدا | یارب بفضل خویش رسانش بانتها

الهی بنام تو راحت دل و جان | سرمایه راحت ... روان

چون شمس ازین آشکارا | ذرات تو کائنات پیدا




هر سبزه که از زمین برآید | بر وحدت تو زبان گشاید

نمبر | مطبوعه یوم پنجشنبه پانزدهم شهر ذیحجة الحرام سنه ۱۲۹۰

نقشهٔ اشتهار واجب الاظهار شمس النهار

| شرح قیمت اخبار | درصورت عدم ادای پیشکی | شش ماهه پیشکی |
|---|---|---|
| سالیانه عـه روپیه چهره شاهی | سالیانه عـه روپیه چهره شاهی | عـه روپیه چهره شاهی |

قیمت اخبار متفرق فی اخبار ...... ده آنه

هرکسی که سوای دادن زر قیمت اخبار بنام خود اخبار بند سازد تا زمانی که زر قیمت اخبار ادا نکند قیمت اخبار به ذمه اش محسوب شده در وقت حساب ازاو گرفته خواهد شد و تفصیل قیمت اخبار که در نقشه مندرج است امرای کامکار و رؤسای نامدار و نوابان و راجه گان و والیان ملک از این حساب مستثنی هستند اوشان هرچه از روی فیاضی و فیض رسانی موافق شان و شوکت و ناموری خود عطا و مرحمت فرمایند زیبا و شایان است

شمس النهار عکس د افغانستان لمړنی ورځپانه

لمړی گنه ۱۲۵۱ ش / ۱۸۷۳ م

# شمس النهار

## د افغانستان په مطبوعاتو کې لومړنی عملي ګام

لکه چې د مخه ذکر شول، د سید جمال الدین له اصلاحي برنامونه چې دافغانستان له پرېښود لود مخه یې پاچا، شیر علي خان ته وړاندې کړه له اصلاحي برنامې سره د یوې هیواد شموله ورځپاڼې خپرول و. شمس النهار د افغانستان په مطبوعاتو کې د لومړني عملي ګام په توګه په ۱۲۵۱ ش/۱۸۷۳م کې له چا په راووته.

د شمس النهار لومړنۍ ګڼې په دوو مخو کې وې چې ورووسته شپاړسو مخونو ته لوړه کړای شوه د خبرونو متن په نستعلیق او چاپ یې سنګي دی (د چاپ لومړنی صنعت) د شمس النهار مهتمم او مسؤول مدیر میرزا عبدالعلي خان په افغانستان کې د ژورنالیزم له بنسټګرانو نه یا دشوی دی. شمس النهار په هرو دوو اونیو کې یعنې هفته ترمنځ د بالاحصار په شمس النهار مطبعه، کې چاپېده او د شمس النهار لوحه او دزمریانود تصویر ترمنځ چې په یوه لاس کې یې توره او په بل لاس کې یې د شمس النهار عنوان دی، لیدل کېده.

د شمس النهار کچه ۲۱X۲٦ سانتي متره وه. او محتوا یې له سرمقالې (اشتهار) پرته بهرنۍ خبرونه، د افغانستان د ولایاتو پېښې او اطلاعي (خبرتیاوې) وې. د شمس النهار د نوشتو د متن ژبه درباري او د ابیاتو له نشر سره په تملق او مبالغه د شیر علي خان د شخصیت ستاینه ده، چې له عامې ژبې او عامه مطبوعاتو سره توپیر لري.

شمس النهار له هیواده بهر هم لوستونکي درلودل او په هغې کې یې ګډون کړی و. د هرې ګڼې بیه (لس آنې) د هغه وخت مروجې پیسې وې چې په هند کې هم معمولې وې. دمایل هروی په وینا "محدود شمیر لوستونکي یې درلودل" بنبې چې د شمس النهار لوستونکي غالباً خواص وو چې د عوامو ترمنځ یې موضوعات خپرول ځکه "کم سواده او نیمه باسواده خلک د هغه د مطالبو له فهم او ادراک نه عاجز وو." (٤٥)

د دې خپرونې یې د خپرولو متملقانه تګلاره (د میرزا عبدالعلي په اهتمام پورې اړه لري چې په دې توګه یې کولای شو، شمس النهار ته دوام ورکړي). (٤٦)

شمس النهار په افغانستان د انګلیسانو د تجاوز پر وخت چې پر افغانستان یې دویم تیری و، په ۱۲۵۷ ش/۱۸۷۸ کې له منځه ولاړه.

### میرزا عبدالعلي

میرزا عبدالعلي د شمس النهار لومړني مسؤول مدیر دی چې حپل توم یې د افغانستان د ځوانۍ او

مروج دو دله مخی په جریده کی خپورنکړ. میرزا عبدالعلی د کابل د خطاط او خوشنویس په نامه هم شهرت درلود چی د شیخ محمد بهایی خلاصة الکتاب یی خطاطی کړی و دا کتاب د کابل په عامه کتابتون کی موجود دی.

### عبدالقادر پشاوری

دا سړی د شیر علی خان له مصاحبانو او د پښور له یوسفزیونه و چی د منشی او پاچا د سیاسی – نظامی مشاور په توګه یی کارکاوه. هغه د شمس النهار دلومړنی مسؤول مدیر په توګه هم یاد شوی دی.(۴۷) عبدالقادر خان په پښتو، دری، اردو او انګلیسی ژبو پوهیده.

# د لومړي برخې پایلیکونه او اخځونه


١- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار څلورم چاپ (د ایران چاپ) ١٣٦٨، ٥٩٨ مخ

٢- افغانستان (انګلیسي) لویي دوپري، دریم چاپ، پرنس تون پوهنتون (نیو جرسي) امریکا، ١٩٨٠، ٤٣٢م مخ.

٣- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار، ٥٩٩مخ.

٤- افغانستان، دوپري، ٤٠٧مخ.

٥- هماغه اخځ ٤٠٨مخ

٦- افغانستان...، غبار، ٦٠٤ مخ.

٧- سیر ژورنالیزم در افغانستان، کاظم آهنګ، کابل مطبعه، ١٣٤٩ لومړی مخ.

٨- شمس النهار (مقاله) آریانا مجله، عبدالرؤوف بینوا، د کال څلورمه ګڼه، نهم کال، کابل ١٣٤٧.

٩- سید جمال الدین افغاني (مقاله) اسلامیک کلچر مجله (انګلیسي)، ال بکدانوف، د ١٩٢٩م جنوري، ١٢٧مخ.

١٠- العروة الوثقی (د مقالو مجموعه) سید جمال الدین ومحمد عبده، انتشارات بعثت، قم ١٣٩٠ هـ ق، ٤مخ.

١١- سید جمال الدین و بیداری مشرق زمین، محمد محیط طباطبایی، دفتر فرهنگی اسلامی، لومړی چاپ ١٣٧٠ش تهران ٣٧ مخ.

١٢- سید جمال الدین الافغاني (مقاله) آخر الساعه (عربي مجله) د عکاسي هنر، پنځمه ګڼه، ١٩٧٩، ٣٠ مخ.

١٣- هماغه اخځ، ٣٠مخ.

١٤- سید جمال الدین... طباطبایی ٤٠ مخ.

١٥- سیری در اندیشه های سیاسی عرب، حمید عنایت، انتشارات امیرکبیر، څلورم چاپ، ١٣٧٠ تهران، ٨٦ مخ.

١٦- سید جمال الدین افغان، مرتضی مدرسی چهاردهی، انتشارات اقبال ١٣٣٤، تهران، ٣٩مخ.

١٧- اسلام و علم، محمد حمید الله حیدر آبادی، دسید هادی خسروشاهي ژباړه، انتشارات سعدی، تبریز، ١٣٤٨، ٣٢مخ.

١٨- (جواب جمال الدین به رنان)، ګوشوان، پاریس، ١٩٤٢، ١٨٣ - ١٨٥ مخونه د حمید عنایت د سیری در اندیشه سیاسی عرب د کتاب د ١٠٤م مخ په حواله.

١٩- سید جمال الدین افغان، مدرسي ٦٣ مخ.

٢٠- هماغه اخځ ٦٤مخ.

٢١- جمال الدین الافغانی (عربی) الدکتور محسن عبدالمجید مؤسسه الرساله الطبع الاولی ١٤٠٢ هـ، (١٩٨٣م) بیروت، ٢٧م مخ.
٢٢- سید جمال الدین افغانی، مدرسی، ٦٨ مخ.
٢٣- هماغه اخځ ٦٤ مخ.
٢٤- هماغه اخځ ٧٤مخ.
٢٥- مقالات جمالیه، سید جمال الدین افغانی، ١٧ مخ.
٢٦- سید جمال... طباطبایی، ٢٦٢ مخ.
٢٧- زندګی و فلسفه اجتماعی سید جمال الدین، مرتضی مدرسی، چهاردهی، انتشارات اقبال ١٣٣٤، تهران، ١١مخ.
٢٨- سید جمال الدین افغان (مقاله) د غلام احمد خان کنډک مشر ژباره، کابل مجله، دریمه ګڼه، دریم کال، ١٣٤١، کابل ٢٨ مخ.
٢٩- هماغه اخځ ٢٨ مخ.
٣٠- خاطرات سید جمال الدین افغانی، محمد پاشا مخزومی د مدرسی ژباره، انتشارات اقبال، ١٣٤٥، تهران ٣٤ - ٣٥ مخونه
٣١- سید جمال الدین افغان (مقاله) دکتور عبدالحکیم طبیبی. (په تهران کی د سید جمال الدین د شهادت سلم تلین) ثور، ١٣٧٦.
٣٢- مقالات جمالیه د میرزا لطف الله را تولونه (د هند د کلکتی له جرایدونه) د صفات الله جمالی په زیار انتشارات خاور، تهران، ١٣٣٠ش، د (فوایه جریده) برخه.
٣٣- شرح حال و آثار سید جمال الدین افغان، میرزا لطف الله خان، انتشارات ایرا نشهر، دیارلسمه ګڼه، برلین، ١٣٠٤ ش، ٢٤ مخ.
٣٤- زندګانی وفلسفهء اجتماعی و سیاسی سید جمال الدین مرتضی مدرسی، چهاردهی، انتشارات اقبال، ١٣٣٤ تهران ١١م مخ.
٣٥- شرح حال و آثار... میرزا لطف الله خان، ٣٨مخ.
٣٦- زندګی و اندیشهٔ اصلاح ګر بزرګ "محمد عبده"(**Muslim Education Quarterly** له جمله د سلام ورځپانی د بهرنی سرویس ژباره، تهران، ١٩٩/١٠/١١.
٣٧- زندګی و فلسفه، مدرسی، ١١م مخ.
٣٨- یاد شوی اخځ، ٥٣مخ.
٣٩- العروة الوثقی، دویم دور، انګلیسی چاپ (مجله) له ٧٠ - ٧١ ګڼی، دکتور عبدالحکیم طبیبی، جینوا، سویس، د ١٩٩٨ اوری.
٤٠- سید جمال الدین افغانی (مقاله) دکتور طبیبی (د افغانی سید د شهادت دسلم تلین سیمینار، تهران)

٤١- سید جمال الدین افغان د برخورد شرق دغرب داکتر سید بهاؤ الدین مجروح، (د سید اتیایم تلین) ١٣٥٥ د مقالی دویم ځل چاپ، تعاون مجله ١١ مه ګڼه، څلورم کال، د ١٣٧٦ ثور - د ١٩٩٧ مې - پیښور، پاکستان.

٤٢- سید جمال الدین افغاني، د طبیبی مقاله، د سید د شهادت د سلم تلین دسیمینار لپاره، تهران.

٤٣- معرفی روزنامه ها، مجلات و جراید (رساله) مایل هروی دولتی مطبعه، پروان، ١٣٤١ (١٩٦٢) ٩٢ مخ.

٤٤- افغانستان در پنج قرن اخیر، میرمحمد صدیق فرهنګ انتشارات درخشش، مشهد، ١٣٧١، ٣٧٧ مخ.

٤٥- یادشوی اخځ ٩٧ مخ.

٤٦- سیر ژورنالیزم در افغانستان، کاظم آهنګ، ١٤ مخ.

٤٧- تاریخ ادبیات افغانستان، پنځمه برخه، میر غلام محمد غبار، کابل، ٣٩٧ مخ.

## دویمه برخه

# د عبدالرحمن خان د واکمنۍ دوره

## د مطبوعاتو اختناق

## ۱۲۵۸–۱۲۷۹ شمسي (۱۸۸۰–۱۹۰۱م)

د انګلیسانو په دویم تیري او د افغانستان په اشغال سره، د افغانستان په هر ګوټ کې د جهاد غږ پورته شو. مجاهدینو په هره برخه کې جهادي ځواکونه د انګلیسانو په وړاندې سنظم کړل. په هرات کې داولسي خوځښتونو قومانده د سردار محمد ایوب خان په لاس کې وه او په کندهار کې یې پرانګلیسانو د حملې تیاري ونیو، د افغانستان د نورو برخو مجاهدینو، له اطرافو نه د کابل پر لور حرکت وکړ.

محمد جان خان وردک له وردک او میدان، میر بچه خان کوهدامني له خپلو نورو ملګرو سره او محمد کریم خان او غلام قادر خان او پیاني له شمالي، څرخي غلام حیدر خان او محمد حسن خان لوګري له جنوب، غلام حیدر خان کابلي او پرویز خان پغماني له لویدیځ او ملاشک عالم له غزني او په سلګونو نورو مجاهدینو له ګرد افغانستانه د جهاد غږ او چت کړ او غوښتل یې له دښمن سره مخامخ وجنګیږي او د انګلیسانو په تارو مارکولو سره، د افغانستان خپلواکي او ملي حاکمیت اعاده کړي.

د افغانستان په جنوب ختیځ او جنوب لویدیځ کې د مجاهدینو او انګلیسانو ترمنځ خونړۍ او شدید جنګونه ونښتل، د میوند په جنګ کې د سردار محمد ایوب خان په د رایت دانګلیس دپنځه ویشت زرو عسکرو نه، یوازې پنځه ویشت تنو په نیم ژواندي دول ځانونه کندهار ته ورسول. په کابل او د هغې په شاوخوا کې سره له دې چې په زرګونو افغانان شهیدان شول خو مجاهدینو وکړای شول چې انګلیسان تیښتې ته اړباسي او یو شمیر انګلیسان یې په شیرپور کې په دفاعي حالت کې کلا بند کړل.

د امیر عبدالرحمن خان هم چې یوولس کاله یې په سمرقند او تاشکند کې تیر کړي وو، د بدخشان او کندز خواته روان شو او په (رستاق) کې یې د یوې غونډې په ترڅ کې د جهاد غږ اوچت کړ. د شمال دقومونو مشران، خانان او بډای خلک چې افغانستان یې له دولت او واحد مشرتا به نه محروم لیده په ډیر لږ وخت کې دعبدالرحمن خان په شاوخوا راټول شول او په ټولو شمالي صفحاتو کې له انګلیسانو سره د جهاد لپاره چمتو شوې داوطلبه قواوې او له عبدالرحمن خان سره یو ځای شوې چې شمیر یې له سلوکسونه سلوز روکسانو ته ورسید (د ۱۲۵۷ حوت/ د ۱۸۸۰ مارچ)

# د عبدالرحمن خان تیروتنې

## ۱ – له ایوب خان سره خدعه

هغه مهال چې خلکو په درست افغانستان کې په سرعت سره د مقاومت قواوې تنظیمولې، انګلیسانو دا خوښښتونه لوی خطرګانه نو ایوب خان عبدالرحمن خان ته لیک، واستاوه. د عبدالرحمن خان ویره نوره هم ډیره شوه هسې نه چې ایوب خان په راټولونکې کې د افغانستان سیاسي واک ترلاسه کړي نو ځکه یې په ریاکارانه ډول ایوب خان ته ځواب ورکړ چې: "له انګلیسانو سره په دښمنۍ کې د افغانستان ګټه نشته، ښه داده چې له هغوی سره د پخلاینې لاره خپله کړی."

همدا راز هغه ایوب خان ته خبر ورکړ چې تر ثاني خبر پورې د انګلیسانو پر خلاف حرکت ونکړي. ایوب خان ډیروخت منتظرو په داسې حال کې چې ځواکونو او افسرانو یې له انګلیسانو سره په مخامخ کیدو کې عجله کوله. عبدالرحمن خان د انتظار او اوربند له دې موقع نه په ګټې اخستنې سره له انګلیسانو سره په تماس کې شو او دواړه خوا وې (انګلیسان او عبدالرحمن خان) یو د بل د اهدافو په رسمیت پیژندنو کې تفاهم ته ورسیدل.

ایوب خان د خلکو په ټینګار د کندهار خواته روان شو. او په میوند دښته کې له انګلیسانو سره جنګ ونښت او ایوب خان بریالی شو (د ۱۲۵۸ دچونګاښ نهمه/د ۱۸۸۰ د جولای شلمه) د برتانوي هند دولت چې کندهار خواته د ایوب خان ترمشرې لاندې د مجاهدینو د ځواکونو له پرمختګ نه په ویره کې و، خپلو ځواکونو ته یې خبر ورکړ چې که یوه میاشت ایوب خان په یوه اوږده جنګ یا اوربند کې مصروف کړي او له حیلونه کار واخلي مرسته به ور ورسیږي. له بلې خوا انګلیسانو د عبدالرحمن خان پاچاهي او قدرت په رسمیت وپیژاند او د انګلیسانو د ګټو دساتنې په خاطر یې له هغه سره تفاهم ته، سره نژدې شوي وو. انګلیسانو په کندهار کې د خپلو قواو د ساتنې یا له هغه ځایه دوتنې په خاطر له عبدالرحمن خان نه اولسي او نظامي مرسته وغوښته عبدالرحمن خان چې د ایوب خان په له منځه وړلو کې دا وړاندیز اغیزمن ګانه، په دې حمله کې یې عسکر او د هغوی اعاشه پر خپله غاړه واخسته او خپلې قواوې یې د انګلیس په واک کې ورکړې. د انګلیسانو قواو ځانونه کندهار ته ورسول او حمله یې پیل کړه. د ایوب خان ځواکونو ماته وخوړه او د هرات خواته وتښتیدل. (د ۱۲۵۸ دوږی شپږم، د ۱۹۸۰ د اګست اته ویشتم) کله چې ایوب خان، د عبدالرحمن خان له خدعې او چل نه خبر شو چې له انګلیسانو سره یې د اولسي قواو او مجاهدینو په تکونه کې مرسته کړې ده د قواو په تجدید یې پیل وکړ، او په هرات کې د قومونو مشرانو هم ورسره؛ همکاري وکړه دوباره یې په کندهار حمله وکړه او د عبدالرحمن خان قواو ماته وخوړه (د۱۲۵۹ غویی/ د ۱۸۸۱ اپریل) د کندهار خلکو د هغې کرکې له امله چې له عبدالرحمن

خان نه يې د انګليسانو د دوست او ملګرې په توګه درلوده، له ايوب خان سره د افغانستان د پاچا په توګه بيعت وکړ.

عبدالرحمن خان دښا له خوا خپل ځواکونه کندهار ته ورسول او ايوب خان ته يې ماته ورکړه، روحانيون، مجاهدين او د قومونو مشران يې اعدام کړل. ايوب خان هرات ته ولاړ او چې هلته يې هم زمکه د ځان لپاره سره تنې وليده، ايران ته ولاړ. څرنګه چې د ايران دولت هغه په يوه کمزوري نظامي حالت کې وليد او هم ددې لپاره چې له انګليسانو سره يې اړيکې پياوړې شي، ايوب خان يې ونيو او انګليسانو ته يې وسپاره، انګليسانو هغه ترڅارنې لاندې لاهور ته تبعيد کړ، تر هغې چې عمله يې ساه ورکړه.

## ۲ - د انګليسانو غوښتنو ته تمايل

لکه چې د مخه مې هم ورته نغوته وکړه، عبدالرحمن د خپل سلطنت د ټينګښت په خاطر، د انګليسانو سياسي ملاتر ضرورګانه او دې هدف ته د رسيدو په خاطر يې دې ته تمايل درلود چې ځان له انګليسانو سره نژدې کړي. دا تمايل د امير او انګليسانو ترمنځ په لومړني مکاتبه کې ګنل کيده. انګليسانو خپله سياسي تګلاره بدله کړه او د نظامي فشار پرځاى يې په سياسي تفاهماتو کې نفوذي لارې ولټولې او دليدو را ليدو او متقابلو همکاريو زمينې پيل شوې. (له دې اړيکو د شير علي خان صدر اعظم حبيب الله خان چې په هند کې زنداني و، خبر شو او د مجاهدينو مشرانو ته يې ليک واستاوه چې د عبدالرحمن خان له ملاتر نه لاس واخلي. مګر دغه ليکونه چې د محمد جان خان وردګ او ملا مشک عالم په نومونو و د انګليسانو لاس ته ورغلل. څرخي غلام حيدر خان چې کله خپل ليک تر لاسه کړ، سکوت يې غوره کړ او محافظه کاري يې وکړه او غوښتل يې له عبدالرحمن خان سره خپلې اړيکې عادي وساتي. د مجاهدينو يوازنۍ مشر چې وبې کړاى شو د عبدالرحمن خان په وړاندې مقاومت پيل کړي، غلام حيدرخان وردګ و چې له ماتې سره مخ شو.(۱)

کله چې انګليسان خبر شول چې عبدالرحمان خان له سل زره کسيزې قوې سره چاريکارو ته ورسيد د "ګريفن" په مشرۍ يې يو هيأت شمالي ته واستاوه. عبدالرحمن خان، څرخي غلام حيدر خان د انګليسي هيأت دساتنې لپاره وګوماره. مذاکرات درې ورځې جاري وو. انګليسانو سره له دې چې د غزنې، ګرشک او کندهار په جنګونو کې يې سختې ماتې خوړلې وه او عملاً د مذاکراتو له لارې د يوې حل لارې غوښتونکي و، په مذاکراتو کې يې کوښښ وکړ چې عبدالرحمن خان خپل مديون کړي. هغوى درک کړې وه چې عبدالرحمن خان په کابل کې د سياسي واک رسيدو ته سخت لېوال دى. انګليسانو وغوښتل له دې موقعيت نه په ګټې اخستنې سره خپل پلان د امير له لارې عملي کړي. په همدې اساس

ګریفن وړاندېز وکړ چې:

۱– د افغانستان پاچا د انګلیسانو له مشورې پرته له هیڅ بل هېواد سره سیاسي اړیکې نشي ټینګولای.

۲– د انګلیسي قواو د وتو پر وخت، پاچا مسؤول دی چې د انګلیسانوقواوې د مجاهدینو د حملو له خطر نه وساتي او اعاشه به یې هم د پاچا پرغاړه وي.

۳– پاچا باید د ګندمک تړون تأیید کړي.

عبدالرحمن خان د انګلیسانو دا وړاندیزونه واک ته درسیدو پخاطر پرته له ځنډه ومنل (د ۱۲۵۸ د زمري لسمه/د ۱۸۸۰ د جولای دیرشمه) او د یوه ملي خیانت مرتکب شو.

جلال آباد او کندهار ته د انګلیسانو د قواو د سوق پر وخت، عبدالرحمن خان حکم کړی و چې څوک د انګلیسانو مزاحمت ونکړي او د پاچا ساتونکو قواو په ساتنه کې، انګلیسي عسکر د خلکو د تکوني لپاره هغو دواړو خواو ته سوق شول.

د افغانستان پرښارونو د روسانو د پرله پسې تیریو او د هغو د اشغال له لامله، د افغانانو اوروسانو اړیکي لاخرابې شوې. (۱۲٦۳ش/۱۸۸۵م) او انګلیسانو د عبدالرحمن خان د جذبولو پخاطر، هغه هند ته دعوت کړ. عبدالرحمن په هندوستان کې د خپل پنځه ورځنی تم کیدو پروخت د انګلیسانو خواته خپل تمایل وښود اود خپل سفر په وروستي ورځ یې څرګنده کړه که چیرې له دواړو لوریو نه پر یوه حمله وشي دواړه دولتونه (افغان، انګلیس) به یو له بله دفاع وکړي. عبدالرحمن خان په دې خبره په افغانستان کې د انګلیسانو دلامداخلې زمینه برابره کړه. انګلیسانو وروسته وغوښتل اجازه ورکړای شي چې عسکري د دفاع لپاره هرات ته واستول شي. عبدالرحمن خان د سرحدي جنجالونو د حل په اړه، تل دانګلیس په ګټه امتیازات ورکړي او دا پخپله د افغانستان په اداره کې د انګلیسانو دلا، لاسوهنې لامل او د هیواد په تجزیه منجر شو.

د ډیورند معاهده، زموږ د هیواد تر تولو توره پیښه ده چې د عبدالرحمن په دوره کې لاسلیک شوه. انګلیسانو چې له ډیرو مخکې کلوراسې د افغانستان د تجزیې او د افغان اولس د کمزورې کولو په لټه کې وو، په پښتنو کې د اختلافاتو په را پیداکولو سره یې د دې ارمان د تحقق لار برابره کړه او ګومارل شوی یې چې د شیرعلي خان په دوره کې د افغانستان په اداري دستګاه کې یې لار کړې وه او له اداري صلاحیتونونه برخمن وو، د قومونو ترمنځ دفتنود را پیداکولو لپاره توظیف کړل. ناکراری او اختلافونه اوج ته ورسیدل د اولسي پاڅونونو له ویرې له انګلیسانو سره په تماس کې شو. دا پریدیو د قوم نمایندګان چې د امیر حضور ته کابل ته راغلي وو، د انګلیسانو په وړاندې یې د خپلو مبارزو په هکله د پاچا هیڅ ډول ملاتړ ترلاسه نه کړای شو او تش لاسونه او نهیلي ستانه شول. د عبدالرحمن خان د ظلمونو په وړاندې چې تولنیزه قضایي مختنقه کړې وه، د خلکو کرکه مخ په زیا تیدوه. انګلیسانو د قومونو په منځ کې د ملیشي از اجیرو کسانو

اخستنې ته شروع وکړه، او د دوه چنده مزدورۍ په ورکولو یې امنيتي پوستې منځ ته راوړې. داسې اسنادې هم جعل کړل، چې، ګواهي يې ورکوله چې پښتنانه قومونه د جدايي او د انګليسانو د اطاعت غوښتونکي دي؛ سرمو تايمر ډيورنډ Sir Mor Timer Durand په مشرۍ يو هيأت کابل ته راغی او څلويښت ورځې يې په چهل ستون ماڼۍ کې له پاچا سره مشورې وکړې. انګليسانو د افغانستان نقشه له پخوانه جوړه کړې وه (په ننني بڼه) چې د افغانستان جنوبي او ختيزې سيمې يې جلا کړې، چترال، باجوړ، مومند، اپريدی د وزيرستان مسعود، بلوچستان او سيستان يې د افغانستان له نقشې نه حذف او هغه يې د برتانوي هند له مستعمرې سره يو ځای کړل. انګليسانو تأکيد کاوه چې يا بايد پاچا دغه سرحدونه په رسميت وپيژني او لاسليک يې کړي او يا دا چې جنګ به دوام ومومي.

عبدالرحمن خان د هغه هيبت سره چې د خلکو په وړاندې يې، د خپلو ظلمونو له لامله درلود، د انګليسانو په مقابل کې ډېره تواضع او له ځانه تيريدنه ښوده. د عبدالرحمن خان په شخصيت کې دا دوه ډوله توپ يوله سياسي واکمنې سره د هغه دميني او له بلې خوا د اولسي پاڅونو د مخنيوي په خاطر و. امير د ډيورنډ شرميدلي تړون د هيواد له مشرانو سره له مشورې پرته په ۱۲۷۱ش/۱۸۹۳م کال لاسليک کړ: د انګليسانو په وړاندې د پاچا دنه مقاومت يو لامل دا و چې ملت يې ډير زوروړی و او ويريده چې که له انګليسانو سره ټکر وکړي بنايي خلک پخپله ده پر خلاف پاڅون وکړي."(۲)

### ۳- د روسانو په وړاندې محافظه کاري

دپاچا دريځ د روسانو په وړاندې هم په داراو محافظه کاري بناو. د سرحدي لانجو او په مرکزي آسيا او د افغانستان په حدودو د روسانو د تجاوز په تشديديدو سره افغانانو د روسانو په وړاندې له خپلو اشغال شويو زمکونه ددفاع، جنګ او مقاومت لپاره تياري نيوه. عبدالرحمن خان خپلو عسکروته امر کړی و چې که روسانو پرپنجده او مرغاب حمله وکړه بايد جنګ او مقاومت ونه کړای شي او بايد ميمنې او هرات ته په شاشي خو پر پنجده د روسانو د حملې پر وخت افغاني عسکر تر وروستي سلګۍ پورې و جنګيدل. عبدالرحمن خان د افغانستان د تاريخ او خپل ژوند په باب ليکي:"غوث الدين خان د افغاني سرتيرو په ګډون تر هغه وجنګيدل چې ټول هلته ووژل شول. د روسانو د بې ځايه او قانون خلاف حرکت سره سره د انګليسانو له خوا هيڅ مؤثر اقدام ونه شو. دا چې په خپله هم د خپلې معاهدې د شرايطو پابندوم، نمی شوای کولای مستقيماً له روسانو سره ټکروکړم"(۳) د انګليسانو هيأت هرات ته وتښتيد او پنجده د روسانو له خوا اشغال شوه (د ۱۲۶۳ ش کب/ د ۱۸۸۵م مارچ)

کله چې عبدالرحمن خان د پنجدې له نيولو خبر شو، پرته له دې چې پرې متأثر شي وويل:"زه د خپلې خاورې له يوې برخې نه چې روسان پرې نزاع لري، تيريږم او هغه روسانو ته سپارم چې منازعات مو ختم

شي."

دو پری لیکي: "د پنجدې په اشغال سره، د لویدیځ تولو مطبوعاتو د روسانو او برتانیې ترمینځ دیوه جنګ پیشبیني کړې وه خو د واړو خوا او وروسته له مذاکراتو موافقه کړې وه چې د دوه اروپایانو وینې باید د یوه آسیایي لپاره تویې نه شي. عبدالرحمن خان هم غوښتل قضیه د مذاکراتو له لارې حل شي او د جنګي محاذ د افغاني، انګلیسي او روسي اړخونو ترمنځ مذاکرات پیل شول. روسانو د ذوالفقار سیمه افغانانو ته ورکړه خو پنجده یې د ځان ګڼله او د ذوالفقار ترمنځ فاصل خط سورچک، ګلران او د آمو سیند وټاکل شو"(٤)

همدا راز روسانو په ۱۳۷۰ش/۱۸۹۲م پرپامیر حمله وکړه. عبدالرحمن خان له انګلیسانو نه مرسته وغوښته، انګلیسانو د مخکنۍ سازش له مخې لوی پامیر، روسانو ته وبابنه او یوازې کوچنی پامیر او واخان، د افغانستان د خاوری جزء پاتې شو او عبدالرحمن خان لکه څرنګه چې د افغانستان یوه لویه برخه انګلیسانو ته وبخښله، زمونږ د هیواد زیاته برخه یې روسانو ته ورکړه چې په دې دول وکړای شي د خپل سلطنت پایښت تضمین کړي.

### ٤- د مجاهدینو د مشرتا به تکونه

افغاني مجاهدین چې د انګلیسانو په ماتولو کې یې مهم نقش درلود، د افغان – انګلیس تر دویم جنګ وروسته، دیوه مقتدر اسلامي او ملي حکومت چې د هیواد زمکني بشپړتیا اوسیاسی استقلال اعاده کړي د تشکیل غوښتونکي وو؛ خو عبدالرحمن خان ددې پرخلاف د خپلې واکمنۍ د ټینګښت په خاطر له انګلیسانو سره دوستانه اړیکي ټینګې کړې چې داکار د جهاد د مشرانو دکرکې (د افغان انګلیس د دویم جنګ کې) لامل شو. انګلیسانو غوښتل له ایوب خان سره چې هرات یې په لاس کې و او د جهاد یو مشرو، اړیکي ټینګې کړي چې دعبدالرحمن خان په وراندې پاڅون وکړي د دې مسألې په درک کولو سره، عبدالرحمن خان د هیواد د بارسوخه شخصیتو او د هغوی د خدمتونو په پام کې نه نیولو سره، د مجاهدینو چې زیاتره یې له عبدالرحمن خان سره په کابل کې وو، په تکونه لاس پورې کړ. هغه د انګلیسانو دکړ نلارې نه په ګټې اخستنې سره د مجاهدینو مشران په عامه ذهنیت کې یاغي، د انګلیسانو د جاسوس او خاین په نامه معرفي او له منځه یې یوړل. ددې دورې مهم شخصیتونه له سردار محمد ایوب خان، ملامشک عالم، محمد جان خان وردک، میرزا عبدالقادر خان او پیاني، څرخي غلام حیدر خان، ملا نجم الدین (د هډې آخندزاده) محمد موسی خان صافي، میر بچه خان کوهدامني، ملا عبدالرحیم کاکړ، داؤد شاه خان نایب سالار، محمد عثمان خان، صافي محمد شاه خان تګابي، غلام حیدر خان کابلي، عبدالقادر خان غزنوي، ملا عبدالغفور لنګري، پرویز شاه خان یغماني، میر درویش خان بابه قشقاري،

جلندر خان تتمدره يي، فتح محمد خان بایانی، عبدالکریم خان اندړی، عبدالرحمن خان برکت، حسین علي خان سپه سالار، دلاور خان میمنه گی، پیر دوست محمد خان احمد زی، محمد شاه خان غلجي او په لسگونو نورو کسانو نه عبارت وو. د افغانستان - انګلیس جنګ د مجاهد و شخصیتو د فعالیتوپه باب د لیکوال *"تاریخ افغانستان در قرن نزده و بیست"* اثر ته مراجعه وکړی)

### ٥- د ایران تجاوز په وراندی کمزوری دریځونه

کله چی ایران، د هرات په لویدیځ کی به "هشتادان" سیمه حمله وکړه، عبدالرحمن خان بیا هم له انګلیسانو نه مرسته وغوښته. د دواړو لوریونه یو هیأت وټاکل شو، او د دی سرحدی منازعی ریاست د انګلیسانو پرغاړه و چی د ایرانیانو په گټه یی پریکړه وکړه او د هشتادان نیول شوی سیمی او نمکسار یی ایران ته ورکړی. افغانی هیأت احتجاج وکړ: خو عبدالرحمن خان خپله موافقه اعلان کړه (١٢٦٦ش/١٨٨٨م).

### ٦- د محمد زیو کورنی ته پاملرنه

عبدالرحمن خان، یوازی د محمد زیو کورنی ته پاملرنه کوله او پر هغو یی باور و او ددی کورنی هر نراوبنځی ته یی که له محمد زیو پرته له بل چا سره یی هم واده کړی و معاش وټاکه. د هرنر لپاره ٤٠٠ ا دهری بنځی لپاره ٣٠٠ کابلی روپی، همدا رازتول مهم منصبونه محمد زیوته ورکړل شوی وو. عبدالرحمن د محمد زیو له دوه کورنیو ویره درلوده او پرهغوی یی اعتماد نه کاوه یوه د طرزی کورنی او بله د ایوب خان کورنی.

## دمطبوعاتو اختناق

مطبوعات او ژورنالیزم، د عبدالرحمن خان په دو ره کی سره وو. ملت د خبرو یا عریضی او یا مکتوب لیکنی حق نه درلود. پاچا هم کوښښ کاوه، چی خلک په تیتو سترگو د اعلامیو خپرو لو له لاری د دولت له اوامرونه خبر شي او دا په دی دوره کی د تولنیزو رسنیو د یوازنی وسیله وه. اعلامیی د کابل په بالاحصار کی په دولتی مطبعه کی چاپیدی.

کله چی عبدالرحمن خان د هیواد په شمال کی د انګلیسانو پرخلاف جهاد اعلان کړ (١٢٥٨ د غویی لسمه/ ١٨٨٠ داپریل دیرشمه) په دی برخه کی اعلامیی چاپ شوی او په تول افغانستان کی خپری شوی.

په ١٢٦٤ش/١٨٨٦م د صنایعو لوسړنی فابریکه له فرانسویانونه و پیرودل شوه اوکابل ته انتقال کړای

شوه چې د دار السلطنت د مطبعې (مطبعهء دار السلطنت) په نامه یادیده. په دې فابریکه کې څو محدود کتابونه چاپ شول چې د عایشهء درانی له دیوان، پندنامې او تاج التواریخ (د عبدالرحمن خان ژوند لیک) نه عبارت وو.

په دې دوره کې د فرهنګي اختناق او مطبوعاتودنه رشد اصلي علت داو چې پاچا له اولسي قیامونو او د نړۍ او سیاسي جریاناتو نه د ملت له خبریدنې نه ویریده. پاچا عملاً نه غوښتل ملت سیاسي آګاهي پیدا کړي. له بلې خوا خلکو په ویره او ترس کې ژوند کاوه او د څرګندونو او تولنیزو پیښو او مطالبو د بیان جرأت یې نه درلود. که څه هم عبدالرحمن خان بو ځل امر کړی و چې یوه نیمه ازاده ورځپانه دې د دولت او شخصاً پاچا تر نظر لاندې چاپ شي؛ خو هیڅوک حاضر نه شول چې په دې کار کې برخه واخلي او دا یوازنی علت و چې د عبدالرحمن خان ترسرګه پورې هیڅ ورځپانه یاکومه بله خپرونه چاپ نه شوه.

د عبدالرحمن خان ترتولو ستر تبلیغاتي کار په پښتو ژبه درسالوچاپول وو چې د پاچا دیوه معتمد (ملا محمد خان افغان) په واسطه لیکل کیدې او د انګلیسانو پر خلاف چاپ او خپریدې. غالباً دا نشرات په جنوبي او ختیزو سرحداتو کې د قبایلو ترمنځ خپریدل.

انګلیسان د اختناق په دې دوره کې هم بې تفاوته پاتې نه شول او په افغانستان کې یې دعامه افکارو د تخدیر لپاره کوښښ وکړ چې د خیالي او خرافي کیسو رسالې چې غالباً به د دیوانو او پیریانو خیالي کیسې وې په هند کې په پښتو او دری ژبو چاپ کړې او د افغانستان خلک یې په اوها سوراوخرافاتو مشغول کړل. همدا راز یې اسلامي او دیني کتابونه په تحریف شوې یا اړول شوې بڼه د افغانستان په بازارونو کې نشر کړل چې له جهل او خرافاتو سره په ګډولو د افغان او لس دیني فکر هم دې لارې خواته راکاږي. دا ډول نشرات تر اوسه هم د افغانستان په زیاترو سیمو کې لوستونکي لري.

## د عبدالرحمن خان مرګ

پاچا د نقرس یا بندونو د درد په ناروغۍ اخته شو او د استوګنې ځای یې د کابل په باغ بالا کې و. زیاتره مؤرخین دهغه مرګ له همدې ناروغۍ نه ګڼي خو یو شمیر په دې عقیده دي چې عبدالرحمن خان ته د هغه د زوی حبیب الله خان د یوه ګومارل شوي په وسیله د ناروغۍ په بستر کې د دوا پر ځای زهر ورکړل شو او مسموم کړای شو. (د ۱۲۷۹ د تلې یوولسمه/د ۱۹۰۱ د آکتوبر لومړۍ نیټه)

کله چې د عبدالرحمن خان د مرګ خبر په ملت کې خپور شو سره له هغې چې زیاتر خلک خوشاله وو، خو د اختناق له دغې دورې نه یې چې کومه ویره درلوده چاپخپلو کې د دې خبرو د بیان جرأت نشوای کولای، هسې نه چې مجازات شي.

عبدالرحمن خان په ۱۲۲۲ش/۱۸٤٤م کال په کابل کې وزیږید. د ځوانۍ دوره یې په بلخ کې له خپل

پلار افضل خان سره تیره کړل: "هغه خپلې نظامی زده کړې د کمپ بل Compbell په نامه له یوه انګلیس متخصص نه ترسره کړې او د افغانستان په شمال (قطغن) کې یې نظامی تمرینونه پای ته ورسول. هغه په دې دوره کې یو ظالم نظامی و چې د زده کړې پروخت به یې افراد عملاً وژل. کمپ بل د شاه شجاع یو خدمتګار او د دوست محمد خان سیاسی مشاورو او د افغانستان د اردو د لوی درستیز په توګه یې وظیفه اجراکړې وه. کمپ بل د برتانیې سیاسی اهدافو ته د رسیدو په خاطر ظاهراً مسلمان شوی و او د جنرال شیر محمد خان په نامه یې د افغانستان عمده نظامی وظیفې پرغاړه درلودې." (۵)

# د امیر حبیب الله خان سلطنت

## د ژورنالیزم احیا

(۱۲۷۹-۱۲۹۸ش/۱۹۰۱-۱۹۱۹م)

حبیب الله خان په ۱۲۵۰ش /۱۸۷۲م کال وزیږید. هغه او ورورېې نصرالله خان د عبدالرحمن خان د مشرانو زامنو له جملې نه و. د هغوی مور د دربار له وینځو نه وه چې عبدالرحمن خان ځان ته نکاح کړه. حبیب الله خان پنځه نکاحي او تر پنځه دیرشو زیاتې (صورتي) ښځې درلودې. حبیب الله خان تر پنځو سو زیات اولادونه درلودل.

کله چې حبیب الله خان سلطنت ته ورسید پخپله اولینه بیانیه کې یې خلکو ته وویل: "دا چې په اسلام کې یوه سړي ته تر څلورو زیاتې نکاحي ښځې روا نه دي نو څکه سي خپلې یوې ښځې ته طلاق ورکړ چې د شرعي سره سم عمل وکړای شي."(۶)

امیر حبیب الله خان لوی حرمسرای درلود او د حرم دننه ښځې ترسلوزیاتې وې او د دولت زیاته بودجه د هغوی په زیوراتو، لباس، معاشونو او د حرمسرای په محفلونو لګیده. پاچا به زیاتره په حرمسرای کې و او د هیواد چارې یې نورو ته پریښې وې چې له هغې جملې نه یې ورور نصر الله خان، او محمود طرزي په څیر خبیرخلک وو چې د افغانستان په بیارغاونه کې یې مهم نقش ولوباوه.

د ولیعهدی په باب کورنی اختلافات د حبیب الله خان ترسلطنت دمخه د هغه دمور اوبي بي حلیمي ترمنځ چې دامیر دوست محمدخان لمسی او دعبدالرحمن خان له ښځونه وه، اوج ته رسیدلي وو. بي بي حلیمي غوښتل زوی یې محمد عمر د پاچا ولیعهد شي څکه مور او پلار دواړه یې محمد زیان وو.(۷)

کله چې حبیب الله خان سلطنت ته ورسید خپله میره او میرنی ورور محمد عمر یې په همیشنی څارنه کې ساتل. همدا راز نصر الله خان (نائب السلطنة) یې د هغه د نیکو قومي او اولسي اړیکو له لامله چې له روحانیونو او قومونو سره درلودلې د سلطنت په لومړیو کې ترڅې څارنې لاندې ساته. هغه د افغانستان له ملي شخصیتونو نه شمیرل کیده چې وبې کړای شو د حبیب الله خان سلطنت تینګ کړي.

## د حبیب الله خان د دورې بیارغاونه

په لومړې مرحله کې پاچا کوښښ وکړ چې د عبدالرحمن خان د زماني استبدادي قوانین او مقررات لغو کړي او هغه له اختناقه ډکه فضا چې په ټول هیواد کې یې ویره پیداکړه وه، له منځه یوسي. په دې دوره

کې یې د پلار د وخت زیاتره زندانیان آزاد کړای شول. کوم بندیان چې د بالاحصار په سیاه چالونو کې ژوندي وو، پرېښنودای شول. کوم کسان چې په شکنجه محکوم وو، په مختلفو وختونو یې د حبس موده او مجازات تخفیف شول، پر خلکو زیاتې تحمیل شوې مالیې له منځه یو وړل شوې، د پلار د وخت تبعید شوې کسان یې بیرته هیواد ته وغوښتل چې له هغې جملې نه د طرزي کورنۍ هم وه. په هر ځای کې مکتبونه او مدرسې تأسیس شوې. په ۱۲۹۱ش/۱۹۰۳م کال د حبیبیې ښوونځی په کابل کې تأسیس شو. آلماني او انګلیسي متخصصین او انجنیران په بندونو، نهرونو، صنعتي فابریکو او د صنایع په چارو کې دبرخې اخستنې لپاره افغانستان ته وبلل شول. په افغانستان کې د غلام او ښځې پلورل او پیرل رسماً منع کړای شول. په حقیقت کې دا ټول کارونه د حبیب الله خان د فکر زیږنده نه وه، دا بنیادي تحولات او اجتماعي ریفورمونه، کنه چې محمود طرزي د افغانستان د بیا ودانولو لپاره افغانستان ته راغی او له پاچا سره یې څه ناستې وکړې د پاچا پر ذهن یې اثر وکړ. خلک چې د عبدالرحمن خان له ظلم زورنه په تنګ شوي وو، د حبیب الله خان د دورې او ټولنیزو بدلونو او هیواد د رفاه او بیارغاونې هرکلی یې وکړل او له هغومخالفتونونه چې له شاهي کورنۍ سره یې درلودل، تیرشول.

حبیب الله خان هم د اریفورمونه پخپله ګته لیدل چې دیوې آرامې و مصوونې ټولنې په جوړولو سره پرته له کوم سر خوږه، زیاتره به په تفریحي سفرونو بوخت وي، پاچایي وکړي.

## د حبیب الله خان د دورې تیروتنې

امیر حبیب الله خان سره له هغې چې د عبدالرحمن خان د اختناق تر دورې وروسته یې په ټولو ټولنیزو چاروکې بدلون راوستی و، خو عملاً د یوه ټولنیز او سیاسي بدلون د پایښت په فکر کې نه و. هغه عملاً له انګلیسان او روسانو سره د یوه داسې خوشامد او مسامحې لاره نیولې وه چې د افغانستان ګټې یې له خطر سره مخامخ کړې وې. تردې پرته دروښانفکر قشر چې له پردیو سره د مبارزې په روحیه یې په افغانستان کې چټک رشدکړی او یو نوې حرکت و، مخه یې ونیوله او و یریده نه چې دا روښانفکري حرکتونه د هغه د سلطنت او راحت غوښتنې چاپیریال له خطر سره مخ کړي.

### ۱ـ له روسانو او انګلیسانو سره محافظه کارانه اړیکې

حبیب الله خان د انګلیسانو په وړاندې له ډیر نرمښت او تواضع نه کار اخست او همیشه د روسانو، انګلیسانو او ایران په وړاندې د کاملې بې طرفۍ پلوی و. انګلیسانو د هغه د سلطنت په لومړیو شپو کې د لارډ کرزن Lord Curzon ترمشرۍ لاندې یو هیأت هغه ته واستاوه چې له یوې خوا یې پرې د پلار د وخت د دیورند شرمیدلې تړون تأیید کړي او له بلې خوا پاچا ته د تش په نامه کومکونو په ورکولو سره،

هغه له مخالفت نه د سکوت خواته راکاږي.

حبیب الله خان د مذاکراتو په لومړیو څو دوروکې له انګلیسانو سره د کورنی موافقې له لاسلیک نه ډډه وکړه او د هر تکي په اړه یې د انګلیسانو بلنه رد کړه، خو انګلیسانو پخپل پاسته سیاست او دامتیازاتو د غولوونکو وعدو په وسیله پاچا په غیر مستقیم ډول د موافقه لیک، لاسلیک ته اړ کړ. سرلویس دان Sir Lewis Dane د انګلیس زوړ سیاستوال او د انګلیسانو په پارلمان کې د افغانستان او ایران د شتون مخالف، ددې هیأت رئیس و او په خپلو حیلو سره پر دې بریالی شو چې د افغانستان ټول کورني او بهرنی واک د انګلیسانو په واک کې ورکړي (د ١٢٨٤ د وری لومړنی نیټه/د ١٩٠٥ د مارچ یوویشتمه) خلکو د موافقه لیک په لاسلیکولو سره د حبیب الله خان په وړاندې خپله کرکه او مخالفت ځرګند کړ او د افغانستان په مختلفو برخوکې دمخالفتونو تنظیم پیل شو. روحانیونو په دې فعالیتوکې مهم نقش درلود. خو دا چې دې روحانیونو له نایب السلطنة نصر الله خان سره بنې اړیکې درلودې، د اولسي پاڅونو مخه یې ونیوله.

حبیب الله خان (دانګلیسانو بلنه وسنله او د ١٢٨٥ ش په ژمی/١٩٠٦م) کې یې هندوستان (نننی هند او پاکستان) ته سفر وکړ. انګلیسانو د پاچا د راضي ساتلو په خاطر، د هغه ډیر تود هرکلی وکړ او په دوه اړخیزې همیشنی دوستی یې ټینګار کاوه، حبیب الله خان هم دې دوستی ته وفادار پاتې شو، ان کله چې د پاچا ورور نصر الله خان او د پاچا زوی امان الله خان دانګلیسانو له دې حیلې نه خبر شول او مخالفت یې پیل کړ، حبیب الله خان یې مخه ونیوله.

د لومړی نړیوال جنګ په پیل کیدو سره په ټوله سیمه کې سیاسي فضا بدله شوه او اروپا په یوه عمومي جنګ کې ښکیل شوه. افغانستان دیوه استعماری ضد اوله استعمار سره په اخ وډب کې هیواد په توګه د آلمان، اتریش او ترکیې پام جلب کړی و. انګلیس او روسیه د آلمان دو اړه دښمنان په حساس حالت او سیاسي او اقتصادي بحران کې واقع وو او افغانستان چې له انګلیس سره یې دوه جنګونه شاته پریښې وو او هم یې د روسانو د تجاوز په وړاندې د هیواد په شمالي ښارونو کې مقاومت پیل کړی و، سره له دې چې ترکیه د عبدالرحمن خان له انعطاف نه منوونکي دریځ نه خوشاله نه وو، بیا یې هم کابل ته یو هیأت راواستاوه. د آلمان او اتریش هیأتو نه هم کابل ته راغلل او له حبیب الله خان نه یې وغوښتل په دغه کمزوري دریځ کې چې روسان او انګلیسان واقع دي، افغانستان کولای شي په شمال کې له روسانو او په جنوب کې له انګلیسانو نه خپلې غصب شوې ځمکې ترلاسه کړي. (د ١٢٩٤ش تله/١٩١٥م آکتوبر).

په ترکمنستان، سمرقند او بخارا او د آمو سیند هغې خواته خلک دکابل د حکومت له خوا د جهاد اعلان ته سترګې پر لاروو چې ددې اعلان ترحمایې لاندې د روسانو پر خلاف خپل جهاد له سره پیل کړي. د افغانستان په جنوب کې د ډیورنډ کرښې دواړو خواوته د انګلیسي امپراتوري او استعماري پروګرامونو د راپرځولو په خاطر یې جهاد ته خپل چمتو والي ښود او حتی د وزیر قوم د حبیب الله خان له

اعلان پرته د انګلیسانو پر مرکزونو خپلې حملې پیل کړي. دکپتان او سکارفان نیدر مایر *Captain Osker van Nieder Mayer* اولتونانت وارنر *Lieutenant Waner* په مشرۍ الماني هیأت حبیب الله خان ته وعده ورکړه چې دانګلیسانو یا روسانو پر خلاف د جنګ دپیلولو سره به په لومړۍ مرحله کې سل زره میله توپک، درې سوه عراده لرونکې توپونه، او شل ملیونه انګلیسي پونډه له افغانستان سره مرسته وکړي. (۸) خو حبیب الله خان غوښتل چې په نسبي آرامۍ کې و اوسي اود افغانستان له پخوانۍ زمکنۍ بشپړتیا نه چې غضب شوې وه، تېر شي. په همدې خاطر یې د درې وارو هیوادو هیأتو نه یې نتیجې خپلو هیوادو ته ولیږل او خپله یې طرفي یې اعلان کړه.

د حبیب الله خان دې کار او له انګلیسانو سره یې سازش د خلکو لاکرکه راوپاروله او د افغانستان په سرحداتو کې یې د خلکو په روحیه بده اغیزه وکړه او پراګنده اولسي خوځښتو په ټول هیواد کې منځ ته راغلل.

د هډې ملا نجم الدین خان (د هډې اخندزاده) په ۱۲۸۸ ش/۱۹۰۹ کال د انګلیسانو پر خلاف د جهاد فتوا ورکړه. په کابل، کاپیسا، پروان، لوګر او پکتیا کې په دوه درې ورځو کې د خلکو احساسات راوپارېدل او د جهاد لپاره آمادګي پیل شوه. نصر الله خان نائب السلطنة هم د جنوبي له قومونو سره په تماس کې شو او یوه اندازه وسله یې هم د مجاهدینو د تقویې لپاره واستوله.

امیر حبیب الله خان د خلکو جهاد د اسلام د پاچا له اجازې پرته جایز ونه ګاڼه او د مبارزینو دنیولو هڅه یې وکړه او له هغې جملې نه د لوګر د موسهې ملا محمد جان اخندزاده چې د جهادي قوتونو د آماده کولو په حال کې و، کابل ته وغوښتل شو او ترڅارنې لاندې ونیول شو. امیر، ناظر محمد صفر خان چې د اطلاعاتو مسؤول او د نائب السلطنة له مطمئنو کسانو نه و زندان ته واچاوه. حاجي عبدالرزاق خان یې چې دنائب السلطنة او سرحدي قومونو ترمنځ منځګړی وهم ونیو او بېره یې پرې وشکوله (۹)

د افغانستان له تحولاتو سره په ایران اوهند کې هم د انګلیسانو په مقابل کې نارامي زیاتېدې، انګلیسانو چې په ډېر کمزوري حالت کې وو، له تأمل نه کار واخست او ویې غوښتل ځانونه د خلکو له احساساتو سره همنواوښيي او پرېنږدي چې اولسي حرکتونه په مخامخ جګړو بدل شي؛ خو د افغانستان په شمال کې اوتر آموسیند اخوا خلک په احساساتو سره له روسي سپاهیانو سره په جنګ بوخت شول او په تاشکند کې یې په سلګونو آلماني اسیران آزاد کړل.

امریکایي افغانستان پېژوندونکي پخپل کتاب کې لیکي: "که افغاني عسکر د هند پر خوا تللي وای حبیب الله خان به لکه احمد شاه ابدالي په یوه بل امپراتور بدل شوی وای او د افغانستان امپراتوري د آمو له هغې غاړې ته تر هند بحر پورې پراختیا موندله." (۱۰)

حبیب الله خان په هوښیارۍ سره په کابل کې یوه عمومي غونډه جوړه کړه او د جهاد مشران یې په سیاسي چارو او مذاکرو مشغول کړل. همدا راز په ټولو ولایتو او جوماتونو کې دپاچا له امره د اطاعت په

اړه اعلامیې خپرې شوې او وروسته یې خپله بې طرفي اعلان کړه. او ځېنو مخالفین یې څه اعدام او څه یې تبعید یا زنداني کړل.

### ٢- د مشروطه غوښتونکو تکونه

د افغانستان تراتوکالو پاچا یې پورې د کابل روښانفکرانو او د تحصیل څ وندانو په یوه نامنظم ډول د یوه اصلاح غوښتونکي او مشروطه غوښتونکي حزب دجوړونې پلویان وو چې له یوې خوا مطلقه شاهي په مشروطه شاهي بدله کړي او له بلې خوا د افغانستان په استقلال کې ځېل اغیزمن نقش ولوبوي، مګر دا چې یو شمیر محمد زیانو هم ددې نا منظمې ډلې غړیتوب درلود، د سیاسي حزب د تشکیل پلان افشا شو او پاچا د دې ډلې پنځه ځلويښت (تر ډېرو سو زیات وګوری نهضت مشروطیت در افغانستان و قربانیان استداد دسید مسعود پوهنیار لیکنه = ژباړن) تنه غړي ونیول او اعدام یې کړل، او یو شمیر یې هم بندیان کړل (١٢٨٧ش/١٩٠٩م) نایب السلطنة نصر الله خان، امان الله خان او د هغه وخت سیاسي متفکر محمود طرزي یې هم متأثر کړل، ځکه د حبیب الله خان دا محوري خلک د انګلیسي ښکیلاک ضدکسان شمیرل کیدل. هغوی له خلکو سره په اړیکو کې بیاکتنه وکړه. کله به چې پاچا خپلې دوه دري میاشتنې ژمنۍ رخصتي د افغانستان په ختیزو ولایتو کې تیرولې امان الله خان غوښتل چې ځان د خلکو په وړاندې اولسي وښيي. حبیب الله خان د خپل زوی د موقعیت په درک کولو سره دې ته چمتو شوی و چې د بیا سرکشۍ په صورت کې امان الله خان بندي او موربې طلاقه کړي.

په دغسې یوه حالت کې اداري فساد، رشوت، اختلاس دعامه شتمنۍ غصب د افغانستان د اداري د مامورینو عادي کارو. زیاتره حکومتي او دولتي منصبونه یا په پیسو اخستل کیدل او یا هم په اجاره اخستل کیدل چې د اداري دا فاسده تګلاره ان د ظاهر شاه تر له منځه وړلو پورې په افغانستان کې جاري وه او د افغانستان د دولتي رسمي ادارو د تعاملاتو برخه شوې وه. د افغانستان اداري تګلاره د حاکم، مستوفي یاوالي په خود مختاري او خپلسرې هملته محدودیده او د عوایدو یوه برخه د پاچا سهمبې ته ځانګړې کیده. حبیب الله خان هم له دې منفي تګلارې نه د شاهي او دولتي بودجې د زیاتولو په خاطر راضي ښکاریده. اداري فسادونه په هزاره جات، پکتیا او کندهار کې د نا آرامیو سبب شول چې د پاچا د قوتونو له خوا وځپل شول. خلکو په خپلو تمایلاتو کې له دوه نورو شخصیتونو سره پیوند واخست چې یو له هغو نه امان الله خان په کابل او بل نصر الله خان په جلال آباد کې و.

## د مطبوعاتو را ژوندی کول

د حبیب الله خان د دورې یو له اساسي کارونه د مطبوعاتو را ژوندي کول و. دې کار د خلکو په روحیه ډیره ښه اغیزه وکړه. په دې زمانه کې د دار السلطنت له مطبعې پرته، د(مطبعه عنایت) په نامه یوې بلې



محمود طرزی عکس د افغانستان د ژورنالیزم پلار
د وری لمړی نیته ۱۲٤۳ – د لیندی دوهمه ۱۳۱۲ ش
۱۸۸٤ آگست ۲۳ – ۱۹۳۳ د نومبر ۲۲ م

مطبعې هم په کار پیل وکړ، چې په دوارو مطبعو کې د لیتوګرافي کار سر ته رسیده او پراخیده. همدا راز د تیپوګرافي چاپخایونه چې د چاپ لپاره دبخار ماشینو مجموعه وه او د مجلد جوړونې او صحافت او زنګوګرافي چې عکسونه یې تهیه کول، ماشین هم افغانستان ته راوړل شو او په کار یې پیل وکړ.

د بنګلو هنرونو برخې ته هم پاملرنه وشوه. هنرمندان د نقاشۍ، عکاسۍ او خطاطۍ په برخه کې تخلیقي کارونو ته وګومارل شول چې غالباً له دې هنرمندانو نه په طباعتي چارو کې هم کار اخستل کیده.

د چاپ په برخه کې کتابونه او رسالې خپرې شوې او دمحمود طرزي آثار او نور متفرقه کتابونه د فرهنګي کار د مجموعې په توګه د باندې عرضه شول.

خارجي نشرات خصوصاً کتابونه او ترکي خبري رسالې د افغانستان د زیاترو لیک لوست والا کسانو پام د ځان خوا ته راواړولې و او له یوه اورده تحجر او انجماد نه یې چې پر خلکو یې حکومت کاوه د افرادو په فکري تحول کې مثبت رول ولوباوه، د لومړۍ نړیوال جنګ پیل د افغانستان د عامه خلکو پر افکارو اغیز درلود او له روسانو او انګلیسانو سره د پخوانۍ دښمنۍ له لامله، له نړیوالو پیښو او بهرنیو اخبارو او نشراتو سره په ټول افغانستان کې مینه زیاته شوې وه، همدا راز د چاپ صنعت او ژورنالیزم دیوې نوې پدیدې په توګه د افغانستان دعامه افکارو په راویښونه کې مؤثر نقش درلود.

د محمود طرزي په ابتکار، سراج الاخبار ورځپاڼې اونورې خپرونې په افغانستان کې د مطبوعاتو بنکارندې (پدیدې) ته لاره پرانسته او د ځوانانو د بنیادي فرهنګي تولنیز تحول او سیاسي افکارو دخپریدو لامل شو.

## محمود طرزي

### د افغانستان د ژورنالیزم بنسټګر

محمود طرزي دسید جمال الدین افغاني له اخلافونه و چې د سلطنت د یوه استبدادي اوله اختناقه ډکې دورې تر تیریدو وروسته یې تریوه حده د سید اهداف په افغاني ټولنه کې پیاده کړای شول. د دې نومیالي شخصیت تر ټولو سترکار د فکر، قلم، فرهنګ اومطبوعاتو را ژوندي کول و چې کولای شو هغه د مطبوعاتو دویم پلار اوپه افغانستان کې د نوې ژورنالیزم بنسټګر وبولو.

### ژوند

محمود طرزي د ۱۲۴۳د ورې په لومړۍ نیټه/د ۱۲۸۲ ق ربیع الثاني/د ۱۸۸٤ د اګست ۲۳ په غزني کې د افغانستان دیوه نومیالي پاچا سلطان محمود غزنوي د مرقد ترڅنګ دنیا ته سترګې وغړولې او پلار

یې پرې محمود نوم کېښېښود.

*به روز غرهٔ ماه ربیع الثانی بود*
*که آمد آن گل نورس به بوستان شهود*
*چوکرد اختر سعدش طلوع در غزنین*
*نهاد نام گرامیش را پدر محمود*

پلار یې غلام محمد طرزی (د افغان – انګلیس د جنګ د دورې د ازادی غوښتونکی) او نیکه یې رحمدل خان په کندهار کې د بارکزو د قوم یوسپین ږیری و.

د محمود طرزي د کوچنیوالی دوره د امیر شیرعلي خان دواکمنۍ له دورې سره مصادفه وه او یوه آرامه دوره یې تیره کړه. کله چې عبدالرحمن خان واک ته ورسید د محمود طرزي پلار د پاچا له نژدې کسانو نه و شمیرل شو او محمود طرزي په شپاړس کلنۍ کې د اردو د یوې کوچنۍ ډلې رهبري پرغاړه واخسته.

په هغه وخت کې په ټول افغانستان کې ملي پاڅونونه اوج ته رسیدلي وو. او انګلیسانو د مقابلې توان نه درلود. د انګلیس سیاستوالو کوښښ وکړ د هغه تمایل له لامله چې عبدالرحمن خان یې دانګلیسانو خواته لري، نو موږ ي په رسمیت وپیژني، او محمد ایوب خان د مجاهدینو یو مشر چې په کندهار او هرات کې یې سیاسي، نظامي واک درلود اوله انګلیسانو سره هیڅ ډول روغې جوړې ته چمتو نه و، له مخې نه لرې کړي او همدا راز د ایوب خان او عبدالرحمن خان ترمنځ د اختلافاتو د زیاتیدو له لامله کورنیو مخالفتونو ته لمن ووهي. چې دا ددې دورې د کورنیو جنګونو پیل ګڼل کیږي.

کله چې عبدالرحمن خان، د ایوب خان پرخلاف خپل علني مخالفت پیل کړ او دانګلیسانو په مرسته یې په کندهار حمله وکړه او جنګ یې شروع کړ، غلام محمد طرزي د دې کار مانع شو او خپل مخالفت یې څرګند کړ. طرزي نه غوښتل چې ایوب خان دیوه مبارز او یوه مجرب افغان په توګه دافغانستان له سیاسي ډګر نه لرې کړای شي.

عبدالرحمن خان، غلام محمد طرزي د هغه له مخالفینو سره د مکاتبې په تور د ۱۲۵۹ ش په ژمي/۱۸۸۱م کې ونیو او په کندهار کې یې زندان ته واچاوه. (۱۱) د هغه ټوله شتمني مصادره شوه او وروسته انګلیسانو عبدالرحمن خان ته مشوره ورکړه چې طرزي له خپلې کورنۍ سره له افغانستانه تبعید کړي.

محمود طرزي دغه وخت د پلار په پاملرنه چې خپله شاعر، ادیب، خطاط او دعرفان او مطالعې خاوند و، د هغه لومړني ښوونکي او استاد آخندزاده ملا محمد اکرم هوتک نه د صرف، نحوې، پښتو او دري او عربي ادبیاتو د زده کړې لپاره واستول شو. وروسته یې د فلسفې او شعر زده کړه پیل کړه او د میرزا عبدالقادر بیدل (رح) اشعار او مولینا جلال الدین بلخي (رح) مثنوی معنوی یې دهغه له تفسیر سره زده کړه او په دې توګه د محمود طرزي د مطالعې ساحه پراخه شوه او خپلې زده کړې یې د ادبیاتو، اسلام او

غرب د حقوقو، سیاست او اجتماعي او طبیعي علومو د مبادي په زده کړه کې پراخې کړې.

محمود طرزی هند ته د تبعید پر وخت ۱۲۶۰ ش/۱۸۸۱م، اردو ژبه هم زده کړه په ۱۲۶۳/۱۸۸٤کې بغداد او له هغه ځایه دمشق ته روان شول. په همدې کال د محمود طرزي میرمن چې د ننګرهار ولایت د خوګیانو وه وفات شوه. پلار یې، محمود طرزي د علومو د زده کړې او آزادي غوښتنې له تجربو او فکر نه د ګټې اخستنې لپاره سید جمال الدین افغان ته اسلامبول ته واستاوه.

له سید سره د طرزي کتنې او د هغه له محضر نه استفادې د هغه په افکارو ژوره اغیزه وکړه لکه چې پخپله وایي:

"علامه سید جمال الدین افغان د عرفان او پوهې یو کان و، داووه میاشتنې لیدنه کتنه له د اویا کلن سیاحت سره برابر دی".(۱۲)

محمود طرزي کله چې په بغداد کې و، ترکي ژبه زده کړه او ډیرې فصیحې او رواني خبرې یې کولې او ترکانو تصورنه کاوه چې هغه غیرترکي دی. عربي ژبه یې هم پخوا په افغانستان کې زده کړې وه خو کله چې د مشق ته ولاړ په عربي ژبه کې یې کامل مهارت پیداکړ. هغه یو ځل له خپل پلار، او خپلې کورنۍ سره دحج لپاره بیت الله شریف ته ولاړ او بیرته د مشق ته راستون شو.

محمود طرزي په دمشق کې په تخصصي توګه د ژبې زده کړه پیل کړه او په لږه موده کې یې هغه زده کړه. په ۱۲۷۰ ش/۱۸۹۱م کې یې د سوریې له یوې عربي نجلۍ سره واده وکړ او ددې از دواج ثمر شل زامن او لوڼې وې.

طرزي د ټولو ښارونو له جملې نه چې د تبعید په دوره کې یې لیدلي وو، د سوریې د مشق ښار ترټولو خو ښیده او هغه ته یې (شام جنت مشام) نوم ورکړی و اوښایي ددې له وجې چې میرمن یې د شام وه پر هغه خپله میرمن ډیره ګرانه وه.

طرزي په سوریه کې د ترکیې له سیاسي حرکتونو سره هم په تماس کې و چې په سیاسي او فرهنګي فعالیتونو کې یې د سید جمال الدین د خبرو اغیزې ترسترګو کیدې.

په ۱۲۷۸ ش/۱۹۰۰م کې د هغه پلار غلام محمد طرزي به جلا وطنۍ کې وفات شو او محمود طرزي چې پنځه ویش کلن و د خپل کور سرپرستي ورپه غاړه شوه. نو موړی په هغه وخت کې د ترکیې د حکومت له خوا د د مشق ښاروال ټاکل شوی و.

کله چې عبدالرحمن خان مړشو، طرزي په ۱۲۸۰ ش/۱۹۰۱م د تسلیت په پلمه د امیر حبیب الله خان خواته کابل ته راغی او له هغې سره جوخت یې ورته د پاچا یې مبارکي هم وویله. عثماني حکومت هم کابل ته د محمود طرزي په سفر خوشاله و چې که د هغه په وسیله داریکو ښه والي ممکن شي.

طرزي نه (۹) میاشتې په کابل کې پاتې شو. او د افغانستان په بیارغاونه او د ټولنیزو بنیادي ریفورمونو په باب یې له امیر حبیب الله خان سره مشوره او تفاهم وکړ. هغه په دې اړه یو لړ طرحې وړاندې کړې او

ژمنه یې وکړه چې د افغانستان د بیا ودانولو د طرحې په عملي کولو کې به ترکي متخصصین استخدام کړي.

امیر حبیب الله خان موافقه وکړه او له هغه نه یې وغوښتل چې له خپلې کورنۍ سره افغانستان ته راشي. طرزي تر درویښت کلن تبعید وروسته د مشق ته ولاړ او له خپلې ټولې کورنۍ سره کابل ته راستون شو۱۲۸۲ش/۱۹۰۳ او په ده افغانانو کې یې استوګنه غوره کړه.

محمود طرزي د پاچا د اعتماد وړ سیاسي اقتصادي، عمراني او فرهنګي مشاور په توګه مقرر شو. هغه خپلې دوه لوڼې د حبیب الله خان دوه زامنو ته په نکاح کړې. خپله لومړنۍ لور یې چې خیریه، نومیده عنایت الله خان ته چې وروسته د معین السلطنة او د پاچا د ولیعهد په توګه وټاکل شو او دویمه لور (ثریا) یې امان الله خان ته په نکاح کړه چې بیا وروسته د ملکه ثریا په نامه مشهوره شوه.(۱۳)

طرزي چې په افغانستان کې کوم مهم کارونه سرته ورسول د کابل او افغانستان د نورو لویو ښارونو ترمنځ د لویو لارو جوړول، د جبل الاسراج د برښنا د بند جوړول او د کابل ښار د شاوخوا تنویر، له پغمان نه کابل ته د څښلو د اوبو د نلونو غزول د دولت د نشراتي اورګان په توګه د سراج الاخبار د جریدې خپرونه وه چې په دویم نشراتي پړاو کې دمحمود طرزي تر مسؤول مدیریت لاندې له چاپه راووته.

سراج الاخبار جریده پنځه کاله د مخه یوه ګڼه د مولوي عبدالرؤوف په مدیریت چاپ شوه، خو محمود طرزي په افغانستان کې د ژورنالیزم یو تخصصي تاداو کښیښود. هغه د ژورنالیزم په باب عقیده درلوده چې:

"اخبار یوه داسې جهان نما هنداره ده چې سړی په کور کې ناست وی او د دنیا له حالاتو یې خبروی... اخبار یوه داسې بر بنده او تیره توره ده چې دوطن د بد خواهانو ژبې غوڅوي... اخبار یو داسې ادیب معلم دی چې انسان پرته له کوم قید او فشاره د ډیرو عالي علومو زده کړې ته هڅوي... اخبار یو داسې له هاره ډک ګلزار دی چې هر څوک د خپلې خوښې سره سم له هغه نه ګل راشولی شي او الحاصل، د اخبار له مطالعې نه د هر صنف خلک ګټه اخلي او اخستلای یې شي."(۱٤)

محمود طرزي د ژورنالیزم اساسي اصول (اطلاع، زده کړې، سرګرمي) د خپل مطبوعاتي کار پر بنیاد وټاکل او هیڅ رشته او مقام یې له ژورنالیزم سره برابر نه ګاڼه. هغه د سراج الاخبار په لومړنۍ ګڼه کې پخپله لومړنۍ سرمقاله کې ولیکل:

"اخبارونه په دې عصر کې د هیوادونو او اولسونو د ژبې حیثیت لري. او په اوسنیو وختو کې له وحشي او بدوي قومونو پرته بل هیڅ دولت او قوم نشته چې د اخبار خاوند نه وی"(۱۵)

د محمود طرزي شهرت او د ژورنالیزم سبک د افغانستان له سرحدونو بهر ایران هند او مرکزي آسیا کې روښانفکرانو او علمي ټولنو ته لاروکړه؛ څکه سراج الاخبار تعلیمي، روزنیزې او په سیاسي ښېښو د آزاد انتقاد په ژبه مقالې خپرولې. طرزي د آزادو او زړه ورو مطبوعاتو پیوی و چې یو ژورنالست حیثه خبره

بي پردې خلکو ته ورسولای شي او د تولنې له ناخوالو خبرې وکړي.

محمود طرزي دسیاسي مسایلو اوسیمه ییزو بدلونو په باب بې تفاوته نه و او غالباً به یې لیکنې د هیواد پالنې له احساس سره د انګلیسانو او روسانو له سیاست سره په ټکر کې وې. هغه د هیواد پالنې په باب داسې لیکي:

"زما علم خوښیو هیوادوالو، او زما همدینو او هم آیینو هم ملتو! آیا پوهیږو چې خپل وطن ولې راباندې ګران دی؟ که له هغو ټولو بې شمارو سوبونو یو یو بیان کړو پکار ده چې دټولو کایناتو په باب خبرې وکړو؛ ځکه کاینات زموږ وطن دی. زموږ موجودیت په وطن پورې تړلی دی. د وطن دوستۍ مقصد یوازې له خپل عزت، ملیت او ناموس سره مینه لرل دي، له خپلې آزادۍ سره مینه ده." (۱۶) هغه همدا ډول لیکي:

"د انسان زړه تل د قبله نما دعقرب په څیر همغه د خپل وطن پر لور متوجه او مایل وي او همدا چې یو وخت تر لاسه کړي لکه مارغه چې مزې یې له پښو شلیدې وي په هغې لور اویاکه وکړای شي له خپلې ټولې ځالې او خپل کور سره هغې خواته الوځي.

آیا نه ګورې دملتونو او دولتونو د جنګونو او جدلونو ترمنځ لکه یو الماني چې په هندوستان کې استوګن شوی وي یا یو فرانسوی یا یوناني چې په چین او امریکا کې میشت وي، همغه شیبه ګورې چې که تجارت ولري، خپل تجارت اوکه کومه کرونده ولري، خپله کرونده پریږدي او د خپل هیواد په لور روانیږي.

له دې نه څه پیښیږي؟ له دې نه څه پیښیږي چې که وجدان ایمان او عقل ټول پر دې حکم کوي چې، هغه هیواد چې د وراثت، ولادت، پالنې، مورنۍ شفقت، د پلرنۍ تربیې، ازدواج د اولاد لویوې، تابعیت، متبوعیت او ددې په څیر ډېر نور حقونه لري، د ښمن د حملې په تهلکه کې لویدلی دی. په بله وینا وطن چې مورده، وطن چې پلار او نیکونه دي، وطن چې ښځه او اولاد دي وطن چې شرف وناموس و افتخار دي مبادا چې د ځانې دښمن په ولکه کې ولویږي." (۱۷)

"طرزي د سیاسي تفکر له پلوه له سید جمال الدین نه په پیروۍ سره، له امپریالیزم سره په ضدیت کې د اسلامي تونې د اتحاد جدي پلوی و." (۱۸) نوموړی په سراج الاخبار کې لیکي:

"آسیا باید د آسیایانو وي. غربي هیوادو لکه په نورو لویوو چوکې چې پر کمزورو هیوادو حملې کړې دي، هڅه کوي پر آسیایي هیوادو هم مسلط شي او په چور او تالان پیل وکړي." (۱۹) په دغسې یوه سیاسي دریځنیونه، برتانوي هند او روسیې په ګډه اووروسته د تفاهم له لارې د محمود طرزي د پروګرامونو پر خلاف په توطیو لاس پورې کړ، چې د هغو تبلیغاتو مخه چې د سراج الاخبار له لارې به خپریدل، ونیسي. دې د دواړو استعماري هیوادو په افغانستان کې خپلو ګومارل شویو کسانو ته لارښوونه وکړه چې د محمود طرزي پر خلاف، دیوه جنګ پلوي او فساد خوښي شخص په توګه تبلیغات پیل کړي. دې تبلیغاتو ان

پرشاهی کورنی او پخپله حبیب الله خان هم آغیز وکړ.

محمود طرزی په ۱۲۹۷ش/۱۹۱۸ کال له سیاسی او فرهنگی کارونو گوښه کړای شو. کله چی امان الله خان د خپل پلار تر وژل کیدو وروسته دسیاسی چارو واگی په لاس کی واخستی طرزی د امان الله خان سیاسی مشاورو خو د افغانستان د سیاسی استقلال د لاس ته راوړنی او د انگلیسانو له خوابی د په رسمیت پیژندنی پخاطر د افغانستان او انگلیسانو په مستقیمو مذاکراتو کی، تر استقلال دمخه او وروسته، د مذاکرای د هیأت ریاست غاړه نه درلود. او د راولپنډی له معاهدی ناراضه شو او پر پاچا یی اعتراض وکړ. ترخپواکی وروسته د افغانستان د دولت د بهرنیو چارو د وزیر په توگه وټاکل شو.

په ۱۳۰۱ش/۱۹۲۲م کال یی په فرانسه کی د افغانستان د سفیر او مختار وزیر په توگه کار وکړ اود افغانستان او فرانسی اړیکی یی ټینگی کړی، د فرانسویانو په همکاری یی د استقلال د لیسی تاداو کښنیښنود، همدا راز یی په افغانستان کی دلرغون پیژندنی وسایلو په اړه له فرانسی سره قرار داد وکړ. په ۱۳۰۳/۱۹۲٤ کال د امان الله خان پر خلاف د گودملا د اغتشاش پروخت بیرته کابل ته ستون شو او بیا د بهرنیو چارو د وزارت دنده وروسپارل شوه. په ۱۳۰٤ش /۱۹۲۵م کال دامان الله خان د تیروتنو له لامه له دولتی کاره گوښه شو او استعفایی وکړه، خو ظاهراً یی د حمی استعفا لپاره ناروغی پلمه ښره.

په ۱۳۰۷ش/۱۹۲۸ کال د تداوی په غرض د یوه کال لپاره سویس ته ولاړ، او بیرته کابل ته ستون شو. دا هغه وخت و چی د امان الله د تیرو تنو پر خلاف د اغتشاشونو کړی پراخیده او کورنیو جنگونو په ټول افغانستان کی نیلی وځغلولی.

محمود طرزی د خپلی کورنی او امان الله خان سره کابل د کندهار په نیت پریښنود (د ۱۳۰۷ د کب ۱۳مه/د ۱۹۲۸ د مارچ ٤مه) او د ایران د ویزی د ترلاسه کولو وروسته له خپلی کورنی سره لومړی هرات او بیا تهران ته ولاړ. لس میاشتی یی د تهران ښار په شمیران کی تیری کړی او تر هغی وروسته د ترکیی اسلامبول ښار ته روان شو.

هغه په ترکیه کی د فراق او جلا وطنی د درد په زغملو سره، غوښتل دخپل ژوندانه خاطرات ولیکی هغه د خپلو خاطراتو لومړی برخه چی د کوچنیتوب، ځوانی او له هیواده د سعید دوری وی ولیکله: خو د ځیگر د سرطان ناروغی هغه ته د نور څه لیکلو او ژوند مجال ورنکړ اود ۱۳۱۲ش د لیندی په دویمه/د ۱۹۳۳ د نوامبر ۲۲مه د ٦۸ کالو په عمر د خدای(ج) د رحمت غیږی ته ورغی چی له خپل وصیت سره سم د ابو ایوب انصاری(رح) د زیارت ترڅنگ خاورو ته وسپاره شو (یاد یی تل او لاریی له د رویه ډکه اوسه)

ویی چی محمود طرزی په اسلامبول کی د خپل دویم هجرت په دوران کی په خیابانونو او بی کوری کی په پرله پسی توگه د وطن په یا دژړل او خپل دا شعر یی لوست:

*درغربت آگر مرگ بگیرد بدن من*

*آیا که کند قبر و که دوزد کفن من*

*تابوت مرا بر سر کوهی بگذارید*
*تا باد برد خاک مرا در وطن من*

## د محمود طرزي آثار

۱- منتخب اشعار غلام محمد طرزی ١٨٨٦/١٣٠٤ د خپل پلار د اشعار و مجموعه یې پخپله قلم لیکلې وه.

۲- مجموعه صنایع: دا د دری ادب دلویانو د شعرونو منتخبات دی چې په ١٨٨٣/١٢٦٢ کال یې په کراچۍ ښار کې تدوین کړې وو.

۳- مجموعهٔ اخلاق: داکتاب بیا هم په اسلامي نړۍ کې د علماو او متفکرینو د افکارو مجموعه ده چې له اخلاقي کتابونو نه چې په ترکي ژبه موجود و، په اغیزي متنني سره تألیف اوتدوین شوی و.

٤- دیوان اشعار غلام محمد طرزي: دا دیوان یې د پلار په لاربښوونه د محمود طرزي له خوا تدوین او را ټول شوی و.

٥- سیاحت نامه: د ترکیې د اسلامبول د سفر شرح.

٦- از هر چمن سمنی و از هر دهن سخنی: د محمود طرزي د ادبي چاپ شویو آثارو مجموعه ده چې وروسته په ١٢٩١ش/١٩١٢ دکابل په عنایت مطبعه کې چاپ شو.

۷- تلخیص حقوق بین الدول: داکتاب چې د دولتونو ترمنځ د سیاسي او حقوقي مسایلو ترجمه ده او د محمود طرزي له خوا په ١٢٧٥ش/١٨٩٧م له ترکیې نه په دري ژبه ژباړل شوی دی. داکتاب عبدالرحمن خان ته د طرزي اهدا وه چې چاپ نه شو او د هغه اصلي نسخه تر اوسه هم لاس ته نه ده راغلې.

۸- سیاحت سه قطعه روی زمین: داکتاب په ١٢٩٤/١٩١٥کې په ٦٧٣ مخونوکې دکابل په عنایت مطبعه کې چاپ شو.

۹- روضه حکم: داکتاب په اخلاق، علمي، فني او حکایتي مسایلو مشتمل دی، په ١٣٠٨ش/١٩٢٩ کې تألیف شوی او وروسته په ١٣٣١ش/١٩٥٢م کال دکابل په عنایت مطبعه کې چاپ شوی دی.

۱۰- مطالعات صحیه: داکتاب په ١٢٩٨ش/١٩١٩م کال له ترکي نه دري ژبې ته ژباړل شوی دی او همغه قلمي نسخه یې تر اوسه دکابل په عامه کتابتون کې موجوده وي، او تر اوسه نه دی چاپ شوی.

۱۱- رسالهٔ اغذیه و طبخ: دا اثر هم له ترکي منابعو نه ژباړل شوی دی.

۱۲- سیاحت در دورا دور زمین در هشتاد روز: داکتاب هم له ترکي نه دري او بیا عربي ته ژباړل شوی دی.

۱۳- بیست هزار فرسخ سیاحت در زیر بحر: داکتاب په ٣٦٢ مخوکې ژباړل شوی دی.

۱۴- جزیرۀ پنهان: له ترکي ژبې نه ژباړل شوی دی. د ارمان په ۴۸۰ مخونو کې دی.

۱۵- تاریخ حرب: دا کتاب په څلور ټوکونو کې د حبیب الله خان په غوښتنه ترجمه او چاپ شو چې د روس او جاپان د جګړو په باب و.

۱۶- پراګنده: د محمود طرزي د اشعارو مجموعه ده چې د کابل په عنایت مطبعه کې له چاپه را ووته.

۱۷- معلم حکمت: د محمود طرزي دا اثر چې د طبیعي علومو په باب علمي موضوعات پکې دي، ګڼ شمېر مطالب لري، او په ۱۰۴ مخونو کې په کابل کې خپور شو.

۱۸- سیاحت در جوهوا: د فانتزي سفرنامه چې په ۲۱۹ مخونو کې ژباړل شوې ده.

۱۹- دیدني ها و شنیدني ها: په اتو فصلونو کې د محمود طرزي خاطرات او ژوند لیک لیکل شوي دي.

## سراج الاخبار

### په ژورنالیزم کې دریم ارتقايي ګام

سراج الاخبار د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې دویمه ارتقايي خپرونه ده چې تقریباً تر دیرش کلن فرهنګي رکود او سیاسي نقاهت او دعبدالرحمن په وخت کې د مطبوعاتو تر مرګ او اختناق وروسته، د ۱۲۸۵ش د مرغومي ۲۲مه/د ۱۹۰۶م د جنوري ۱۱مه د امیر حبیب الله خان په دوره کې چاپ شو. سراج الاخبار په لومړۍ دوره کې، د سراج الاخبار افغانستان په نامه یادیده او د دولت نشراتي اورګان و.

امیر حبیب الله خان ددې جریدې مسؤولیت مولوي عبدالرؤوف خان ته چې د سلطنتي کورنۍ د ښوونې مسؤولیت یې هم درلود، وسپاره د افغانستان د سراج الاخبار د لومړۍ ګڼې تر چاپ وروسته انګلیسانو شدید عکس العمل وښود او پاچا مذاکرات پیل کړل. انګلیسانو ددې جریدې د ادامې په باب خپل مخالفت وښود اود هغو توافقاتو په بنا چې د مخه امیر، هند ته د خپل رسمي سفر پروخت، له انګلیسانو سره لاسلیک کړي وو، برتانيې ځان د افغانستان اصلي واکمن او د افغانستان دسیاسي چارو وصي او قیم ګاڼه او حبیب الله خان یې دې ته اړکړ چې د خپل پلار له سیاست نه پیروي وکړي او دانګلیسانو له خوا د طرح شویو پروګرامو سره سم هیواد اداره کړي. سراج الاخبار ترلومړنۍ ګڼې وروسته مصادره اووځنډول شو.

سراج الاخبار افغانستان خبري محتوی، داخلي او بهرني ورپوټونه او علمي مطالب چاپ کړي وو. او په دار السلطنة مطبعه کې چاپ شوی و.

په دویم ځل، سراج الاخبار تر شپږ کلنې فرهنګي او مطبوعاتو خلا وروسته د یو شمېر روښنانفکرانو او نوښتګرود هلوځلو په نتیجه کې د ۱۲۸۹ په مرغومي/۱۹۱۱ جنوري کې په کابل کې له چاپه را و ووت.

د دې جريدې دويم دور د سراج الاخبار الافغانيه په نامه د محمود طرزي په مسؤوليت چې هغه مهال د حبيب الله خان يو با اعتماده سړی و، د مطبوعاتو په تاريخ کې لار پرانسته.

طرزي چې د ښکيلاک له سرسختو مخالفينو نه و، د افغانستان د مطبوعاتو په را ژوندي کولو کې له خپل موقعيت نه زيانه ګټه واخسته. "طرزي په پرله پسې توګه پر اروپا يې استعمار حملې کولې او عقيده يې درلوده چې د اسلامي هيوادو په سياسي او ټولنيز جوړښت کې دې د اسلامي بنسټپالو په واسطه تغييرات رامنځ ته شي. هغه پخپلو ليکنو کې منازعه کوله چې د مسلمانانو عمومي عقيده له لويديزو اسلوبونه زده کړه نه وه. د محمود طرزي مقالې د افغانستان د سياسي خپلواکۍ او همدا راز له اروپايي ښکيلاک نه د نورو اسلامي هيوادو د خلاصون په خاطر وې"(٢٠)

سراج الاخبار الافغانيه له لومړۍ ګڼې نه تر دولسمې ګڼې پورې په دو ولسو مخونکې او تر هغې وروسته په شپاړسو مخونو کې چاپيده. په پيل کې يې چاپ په سنګي توروکيده ولې تر درېيم خپرنې کال وروسته، په طباعتي تورو او د بنوعکسونو له چاپ سره يې ډير ښه رونق پيداکړ. د اخبار اندازه ٢٢x٢٤ سانتي متره وه، چاپ شميره يې په پيل کې پنځه سوه ګڼې وې چې وروسته يې زرو شمارو ته ارتقا وکړه.

حبيب الله خان د انګليسانو په مشوره څو ځلې محمود طرزي ته اخطار وکړ چې په سراج الاخبار کې سياسي مقالې نه خپرو. خو د طرزي د وطن دوستي روحيه دې اخطارونو ته نشواى ز غملاى کيداى او داستعمار په تکونه او د افغانستان د سياسي خپلواکۍ په اعاده کې له نورو همګامو روښانفکرانو سره جوړه روان و.

حبيب الله خان د محمود طرزي صلاحيتونه محدود کړل، د سراج الاخبار مالي امکانات يې له منځه يوړل او حکم يې وکړ چې ددې جريدې د خپرونې ځاى بدل شي.

محمود طرزي له دوو ځوانو، انقلابي او مسلمانو ژورنالستانو عبدالرحمن لودين او عبدالهادي داوي سره، طباعتي سامان او لوزم د عبدالهادي دا وي کور ته انتقال کړل. دا وي چې خپل اشعار او مقالې يې دپريشان په مستعارنامه خپرولې د دې شعر په خپرولو سره:

*در وطن گر معرفت بسيار می شد بد نبود*

*چاره ء اين ملت بيمار می شد بد نبود (الخ...)*

دمخمس تر پايه پورې يې د افغانستان پرتړلې ټولنې او د وخت پر ټولنيزو حالاتو انتقاد وکړ، زندان ته وا چول شو. (د ١٢٩٧ د چونګاښ ١٢مه/د ١٩١٨ دجون ٣مه)

طرزي په اتمه ګڼه کې دې مطلب ته په اشاری سره ليکې: "تيراووم کال، يو دروند او ويروونکى کال و، دا بيچاره جريده په هغه پيل کې تر پايه له څنو تهلکو او خطرونو سره مخ وه ... ډير ځله داسې وشول چې دغې بيچاره جريدې تر يوې اووني د زيات ژوند تمه نه لرله، دا داری د شړيدو او دهشت په قهر او شدت سره په اعدام او هلاک تهديد وله...."(٢١)

او تر همدې ګڼې وروسته، سراج الاخبار د ۱۲۹۷ په میزان میاشت کې له نشره پاتې شوه.

## مولوی عبدالرؤوف

مولوی عبدالرؤوف د مولوی عبدالرحیم زوی چې په خاکي مشهور و په ۱۲۲۵ش/۱۸٤٦م په کندهار کې زیږیدلی دی او د افغانستان له جیدو مدرسینو او عالمانو نه شمیرل کیده. هغه د عبدالرحمن خان او حبیب الله خان په دوره کې د سلطنتي کورنۍ د معلمي او تدریس دنده هم پرغاړه درلوده. مولوی عبدالرؤوف په تفسیر، حدیث، پښتو او دري ادبیاتو، فقهي مسایلو، ریاضي، منطق، تاریخ، نجوم او کلام کې تبحر درلود او په پښتو/دري ژبه کې یې د خاکي په تخلص شعرونه هم ویل.

د امیر حبیب الله په زمانه کې د ادبي انجمن رئیس او د سراج الاخبار افغانیه مسؤول مدیر هم وټاکل شو. په ۱۲۹۲ش/۱۹۱۳م په ٦٧ کلنۍ کې په کابل کې وفات شو.

### د مولوی عبدالرؤوف آثار

۱- کشکول: د اشعارو منتخبات او په پښتو، دري او عربي ژبه یاد ښتونه دي.

۲- خردنامه، امیري: په دري ژبه

۳- سلامنامه: په عربي ژبه

٤- تفسیر افغاني: په پښتو ژبه د قرآن کریم تفسیر وچې د مولوی عبدالرؤوف په وفات سره ناتمام پاتې شو.

٥- کلمات امیر البلاد في الترغیب الی الاستجهاد: د عبدالرحمن خان په وخت کې په عربي لیکل شوی دی.

٦- افغانستان: له عربي نه په پښتو ژباړل شوی دی.

۷- انجیل: د انجیل د کتاب څه برخې یې په دري ژباړلې دي.

## محمد سرور واصف

مولوی محمد سرور واصف الکوزي کندهاري د مشروطیت د غورځنګ له بنسټګرانو نه شمیرل کیږي. هغه د سراج الاخبار لومړنی محرر او د ادبي انجمن غړی و. واصف په ۱۲۸۲ش/۱۹۰۳م کال په حبیبیه لیسه کې د ښوونکي په توګه کار وکړ. واصف یو مبارز عالم، او د هغې د ورې له روښانفکرانو نه شمیرل کیږي چې د حبیب الله خان په حکم له یو شمیر نورو روښانفکرانو سره زندان ته واچول شو او دوه ورځې وروسته یې د شیرپور د غونډۍ پرسر په توپ کې والوځاوه.

## مولوي نجف علي

مولوي نجف علي د سراج الاخبار د جريدې سرمنشيال و چې په دري او اردو ژبو به يې شعر وايه. د دې ژورنالست زياتره شعرونه په کابل مجله کې خپاره شوي دي. هغه د کابل د ادبي انجمن غړی هم و او د حبيبي ليسې له مشهور ښوونکوونه و.

## سراج الاطفال

د حبيب الله خان د سلطنت په وروستي کال د محمود طرزي په مديريت د سراج الاطفال په نامه يوه جريده، په کابل کې له چاپ راووته. (د۱۲۹۷ د تلې ۱۵مه/د ۱۹۱۸ د اکتوبر ٦مه) ددې خپرونې دچاپ هدف د افغاني کوچنيانود فکري سطحې لوړتيا وه. د سراج الاطفال مطالب له ساده ديني، روزنيزو مقالو د صنعت او کرنې په برخه کې د دنيا د بدلونو له خبرونو نه عبارت وو. د سراج الاطفال مخونه څلور اوکچه يې ۲۱x۳۱ سانتي متره وه چې د کابل په دار السلطنة مطبعه کې چاپيده.

سراج الاطفال پنځلس ورځنۍ خپرونه وه. کله چې محمود طرزي د حبيب الله خان په وخت کې له فرهنگي او سياسي کارونو گوښه کړای شو، د سراج الاطفال د خپرونې کار هم تراتوگنو وروسته موقتاً ودريد.

طرزي، عبدالهادي داوي د دې خپرونې د مسؤول مدير په توگه پيشنهاد کړ چې تر شپارسمې گڼې پورې دمقالو د علمي سطحې د ودې سره خپور شو؛ ځکه هغه مهال سراج الاطفال، تر کوچنيانو، لويانو زيات لوست.

### حبيب الله خان ووژل شو

پاچا چې زياتره وخت به د خيبر کورنۍ ترځنگ په سيروسياحت کې و، ژمنۍ رخصتۍ به يې په ختيزو ولايتو کې تيرولې او اوړی به د کابل په شمال کې اوسيد. د ۱۲۹۷ په کب/ د۱۹۱۹ د فبروری په شلمه د لغمان کله گوش ته د ښکار لپاره ولاړ. د شپې د نظامي افرادو له خوا چې دده په نظام کې د اعتماد او واک خاوندان وو دده د استراحت پر خيمه حمله وکړه، او د کب پر دويمه شپه و وژل شو. قاتل يا قاتلان وتښتيدل او ونه پيژندل شول. *(د حبيب الله خان د وژل کيدو پېښه اروابناد سيد مسعود پوهنيار پخپل کتاب تاريخ مشروطيت و قربانيان استبداد دا افغانستان کې په تفصيل او هستنده توگه راوړې وه. ژباړن)*

زما (ليکوال) دنيا په روايت چې پلار يې امير محمد خان فرقه مشر، په کابل کې د پاچا د نظامي چارو مسؤول و، کله چې امير محمد خان دپاچا د وژلوله پروگرام نه خبر شو، پاچاته يې ديوه ليک په واسطه د

هغه د وژنې دتوطیې راپور ورکړ.

"کله یې چې د امیر حبیب الله خان تر وژل کېدو وروسته د هغه جیبونه ولټول، د واسکټ په بغلي جیب کې یې د امیر محمد خان لیک و چې د امان الله خان پلویانوته په لاس ورغی. امان الله خان چې کله د پاچا یې اعلان وکړ. امیر محمد خان یې تر ډېرو شکنجو وروسته تر دیوال لاندې کړ او وېې واژه او توله کورنۍ یې د بدخشان فیض آباد ته تبعید کړه"(۲۲)

غالباً تصور کېږي چې، امیر حبیب الله خان، د امان الله خان دېوه وفادار ملګري، شجاع الدوله له خوا وژل شوی دی. ځکه امان الله خان د افغانستان په بیارغاونه اوله انګلیسانو نه د افغانستان د سیاسي خپلواکي په ترلاسه کولو کې عجله درلوده او د پلار استراحت غوښتنه او محافظه کارۍ یې نه شوای زغملای.

د حبیب الله خان په وژل کېدو سره زیاتره قومي مشران، ځنګ او حتی د سلطنتي کورنۍ زیات غړي د نصر الله خان د پاچاکېدو پلویان وو؛ نو موږې هغه مهال د مشرقي نایب الحکومه و. خلکو په جلال آباد ښار کې له هغه سره بیعت وکړ او دنصر الله خان پاچاهي اعلان شوه. په داسې حال کې چې له دې سره جوخت امان الله خان په کابل کې دپاچاهۍ اعلان وکړ او خپل تره ته یې له ګواښنه ډک لیک واستاوه چې د پاچاهۍ خیال له سره وباسي، او له هغه سره بیعت وکړي. نصر الله خان چې یو بادرایته او په افغاني ټولنه زهیر سړی و د قومونو مشرانوته یې وویل چې له امان الله خان سره بیعت وکړي. خپله هم له پاچاهۍ نه تېر شو او د ځان له خوا د پاچاهۍ اعلان یې امان الله خان ته په یو لیک کې، له یوې خوا دقومي مشرانو تېنګار او له بلې خوا په هېواد کې دېوې سیاسي خلاء کول وبلل، او پخپله له امان الله خان سره د بیعت لپاره کابل ته روان شو.

## د دویمې برخې لمنلیکونه او اخځونه


۱- افغانستان، دوپړی، ۴۰۹مخ.

۲- هماغه اخځ ۴۲۱مخ.

۳- سفرنامه و خاطرات امیر عبدالرحمن خان د غلام مرتضی خان کندهاری ژباره دایرج افشار سیستانی په کوښښ، انتشارات نسل دانش، ۱۳۶۹، تهران، ۲۹۵مخ.

٤- افغانستان، دوپړي، ٤٣٢مخ.

٥- هماغه رخځ، ٤١٧مخ.

٦- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار، ۷۰۰ مخ.

۷- افغانستان، دوپړی، ۴۳۰مخ.

۸- هماغه مأخذ، ۴۳۵مخ.

۹- افغانستان در مسیر...، غبار، ۷٤۰ مخ.

۱۰- افغانستان، دوپړی، ۴۳۵ مخ.

۱۱- محمود طرزی، نصیر سهام، دولتی مطبعه، کابل، ۱۳۶۷، ۲ مخ.

۱۲- مقالات محمود طرزی در سراج الاخبار افغانیه، ددوکتور روان فرهادی تدوین، کابل مطبعه، ۱۳۵۵، ۱۵ مخ.

۱۳- افغانستان، دوپړی، ٤٥۰مخ.

١٤- سیر ژورنالیزم در افغانستان، کاظم آهنګ، ۵۲مخ.

١٥- مقالات محمود طرزی...، روان فرهادی، ٧٤مخ.

١٦- سراج الاخبار (جریده) اوومه ګنه، لومړی کال، مقاله: (وطن دوستی) سرغوږی میاشت، ۱۲۹۰ (د ۱۹۱۱ دسمبر)، کابل.

۱۷- مقالات محمود طرزی...، روان فرهادی، ۳۰۷مخ.

۱۸- محمود طرزی، سهام، ٤۰مخ.

۱۹- هماغه خځ، ٤١مخ.

۲۰- افغانستان، دوپړی، ۴۳۹مخ.

۲۱- سراج الاخبار افغانیه، اتم کال، لومړی ګنه، د ۱۲۹۷ تله/د ۱۹۱۸ اکتوبر، کابل.

۲۲- روایت له مرحومی تاج بی بی بنت امیر محمد خان نه چې د حبیب الله خان په وخت کې فرقه مشرو، هغه مرحومه زما نیا وه (مؤلف)

دریمه برخه

# د امان الله خان پاچایي

## د افغانستان د خپلواکۍ تاریخي دوره

(۱۲۹۸ - ۱۳۰۸ش/۱۹۱۹ - ۱۹۲۹)

"کله چې نصر الله خان کابل ته راغی، د امان الله خان له خوا ونیول شو او زندان ته ولیږل شو. د نایب السلطنة یو شمیر نور ملګري د بالاحصار او ارګ په سیاه چالانوکې واچول شول او یو شمیرېې په څو ورځوکې اعدام کړای شول. نصر الله خان د ۱۲۹۹ تر غوبې/د ۱۹۲۱ تر اپریل پورې درې کاله په زندان کې پاتې شو او هلته وفات شو. سره له هغې چې د غلام جیلانې خان چرخي له خوا چې د کابل د ارګ د امنیت مسؤول و، څو ځلې منځګړتوب وشو، چې که نصر الله خان په زندان کې له نظارته خلاص شي، خو امان الله خان دا منځګړتوب ونه مانه "(۱) دیو شمیر مورخینو او افغانستان پیژندونکو په عقیده، امان الله خان چې دنصر الله خان له ملي او اولسي تفکر او دا چې د جنوب او ختیځ په قومونوکې یې خاص نفوذ درلود، ویریده چې که هغه خوشې یې کړي په مقابل کې به یې پاڅون وشي.

امان الله خان، څېل ورونه چې د عنایت الله خان په ګډون د نصر الله خان د پلوی په تور بندیان وو، له زندان خوشې کړل او د پاچایي په دویم ځل اعلان یې د افغانستان له ټولو قومونو او ولایتوله حکمرانانو او ټول افغانستان نه د بیعت غوښتنه وکړه. (د ۱۲۹۷ دکب ٤مه/د ۱۹۱۹ د فبروری ۲۳مه)

یوه اوونۍ وروسته د دولت اعلامیې چې د امان الله خان سیاسي تګلاره یې ټاکله، په ټول هیواد کې خپرې شوې. پر دې بنا چې "افغانستان لکه د نړۍ د ټولو خپلواکو څواکو په څیر د هیواد دننه او بهر خپلواک دی..." په دې اعلامیه کې اجباري کار بیګار منع کړای شو او پاچا ملت ته وعده ورکړه، چې اصلاحات به منځ ته راولي چې د هغې پر اساس، افغانستان د نړۍ د پرمختالیو هیوادو په څیر، ګام واخلي...

د امان الله خان په وروستیو اعلامیو او وینا وکې د جهاد او خپلواکۍ غوښتنې پیغامونه راټول چې خلکو د پاچا ددې پیغامونو تو دهرکلي وکړ. هغه مهال چې لومړی نړیوال جنګ پای ته رسیدلی و، او اروپایي هیوادو د انګلیسانو په شمول د مقاومت او دیر جنګ توان له لاسه ورکړی و. له انګلیسانونه د افغانستان د خپلواکۍ لپاره لاره پرانستله.

امان الله خان لارد چلسفور *Lard Chilsford* ته هند ته یو پیغام واستاوه خو انګلیسانو د هغه پیغام ته کومه پاملرنه ونه کړه. امان الله خان خپل صدر اعظم او کابینه وټاکله. عبدالقدوس اعتماد الدوله د صدر اعظمی چارې، محمود طرزی د بهرنیو چارو وزارت او علی احمد دخان چې د پاچا د سور له خپلوانونه و، د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شول. د وسله والو ځواکونو قومانده یې پخپله پرغاړه واخسته او د خپلو تکړه جنرالانو، غلام نبی څان څرخی او محمد نادر خان سره یې په ختیزو، جنوبی او جنوب لویدیزو برخو کې د سفر برې لپاره تیاری ونیو.

امان الله خان چې په کومه چټکتیا سره د افغانستان له بیاو دانولو سره مینه درلوده، په دې عقیده و چې د عمرانی پروګرام تر شروع کولو دمخه، د خپلواکی اعلان وکړي اوله دې طرحې سره یې خپل هیأتونه روسیې او اروپا ته واستول.

د امان الله خان د سیاسی تفکر په درک کولو سره، د دیورند دتش په نامه سرحدی کرښې قومونو او قبایلو د انګلیسانو په وراندې د جهاد لپاره، خپل تیاری ونیو، چې د آزادی غوښتنې د احساساتو دا څپې ان تر دیلی او بمبئی پورې هم ورسیدې او دانګلیسی بنګیلاک پرخلاف اولسی پاڅونونه پیل شول. د انګلیس نظامی ځواکونو هڅه وکړه چې دا پاڅونونه وتکوی اوله منځه یې یوسی او په دې خاطریې د افغانستان د سرحداتو په لور خپل نظامی تحرکات پیل کړل.

اپریدی لوسرنی قوم و چې دانګلیسانو پر خلاف یې خپلې حملې پیل کړې او د انګلیسانو قرار ګاه یې حمله ورووړه، په ننګرهار، کونړ او لغمان (مشرقی سمت) کې مجاهدینو حربی ځواکونه تشکیل کړل او د خپلو وسلو سره یې د خیبر درې خواته حرکت وکړ. د افغانستان دولتی ځواکونه چې مشری یې د جنرال صالح محمد خان پرغاړه وه تشویق شول او په لنډی کوتل او خیبر دره کې یې د انګلیسانو پرمورچلو حملې وکړې (د ۱۲۹۸ د غویی ۱۴مه/د ۱۹۱۹ د می ۳مه) په دې حملو کې د انګلیسانو مرکزونو یو پر بل پسې سقوط وکړ. انګلیسی عسکرو د خپلو قواو د تقویې په خاطر له راولپنډۍ او دیلی نه د افغانستان د سرحدونو په لور حرکت وکړ. د دې خبرې په خبریدو سره د پیښنور خلکو خپل پیوستون اعلان کړ او په جهاد یې پیل وکړ. د انګلیس نظامیانو خلک کلا بند کړل او پرې یې نښنودل چې له افغانی قواو سره یو ځای، او په جنګونو کې برخه واخلی. جنګ، د خیبر په دره کې زور واخست. (د غویی۱۹/ د می ۸مه) او له دواړو خواوونه زیات کسان ووژل شول. صالح محمد خان د مرو کسانو د جسدونو په لیدلو سره خپله روحیه بایله، افغانی عسکرو ته یې د شاګرځ امر وکړ او پخپله د جنګ له ډګره وتښتید. افغانی قواوې چې د پرسختګ په حال کې وې، فراری قیادت یې په سوق او اداره کې منفی اغیز وکړ اوویې نشو کړای خپل کارونه په یوه محور کې تنظیم کړي. انګلیسانو له وخته ګټه واخسته او خپلې حملې یې چټکې کړې او افغانی قواوې یې له ماتې سره مخ کړې. د لنډی کوتل نظامی مرکزونه یې بیرته ونیول اود جلال آباد په لوریې پرسختګ پیل کړ. انګلیسی الوتکو جلال آباد ښار بمبارد کړ.

امان الله خان د افغاني قواو دماتې او صالح محمد خان د تیښتې د خبرې اورېدو سره په غوسه شو او ۱ هغه يې بندي کړ. پاچا په مشرقي کې د افغاني قواو قومانده غلام نبي خان څرخي ته وسپارله. د افغانستان عسکري قواو بیا په انګلیسي مرکزونو خپلې حملې پیل کړې اود مختلفو قومونو مجاهدینو په سو کې عملاً له افغاني قواو سره مرسته وکړه او انګلیسان يې ماتې ته اړایستل. جنګي روحیې داسې حالت غوره کړ چې حتی د انګلیس اجیري ملیشې ډله ډله له افغاني قواو سره یو ځای کېدې او جنګ بیا خیبر درې ته ورسید او انګلیسانو دفاعي حالت غوره کړ.

په جنوب لوېدیځ (کندهار) کې افغاني قواوې د اعتماد الدوله عبدالقدوس خان په مشرۍ له زیاتو اولسي تسهیلاتو نه برخمنې وې او اولسي خلکو په رضاکارانه ډول په جنګ کې برخه واخسته. څرنګه چې د دښمن جنګي روحیه کمزورې شوې وه د افغاني قواو په وړاندې لږ مقاومت وشو، دکندهار خلکو د جهاد اعلان وکړ، او له عسکرو سره يې یو ځای د (چمن) په لور پرمختګ وکړ او انګلیسي قواوې يې هلته کلابندي کړې.

په جنوبي جبهاتو کې افغاني ځواکونو د سپهسالار محمد نادر خان تر مشرۍ لاندې د ګردیز خواته حرکت وکړ. د جنوبي خلکو هم د جهاد اعلان وکړ او تر پنځو سو زرو زیات کسان د انګلیسانو پر خلاف داوطلبانه جنګ ته چمتو شول. (د ۱۲۹۸ د غويي ٤مه/د ۱۹۱۹ د اپریل ۲٤مه)

جنرال محمد نادر خان د خپلو دوو نورو نظامي ورونو شاه محمود خان او شاه ولي خان په مرسته خپلې قواوې په درې برخو کې تنظیم، سوق او اداره کړې او د ۱۲۹۸ د غبرګولي په دویمه/د ۱۹۱۹ د مۍ پر ۲۳مه يې خپلې حملې پیل کړې. نایب سالار شاه ولي خان دپنځه دېرش زرو داوطلبو کسانو او د مسعود او وزیرو د قومونو د مجاهدینو په مرسته، د وزیرستان خواته حرکت وکړ. نایب سالار شاه محمود خان د سیمې د پنځلسو زرو مجاهدینو او یو شمیر حکومتي عسکرو په مرسته د (پیواړ) خواته چې د انګلیسانو مهم نظامي مرکزو، خپل پرمختګ ته ادامه ورکړه. محمد نادر خان د پاتې عسکرو سره چې د ځاځیو او منګلو یو شمیر مجاهدین هم ورسره وو، په تل کې د انګلیسانو پر اصلي مرکز حمله وکړ او هغه يې ونیو. انګلیسان د جنوبي په درې واړو جبهو کې له ماتې سره مخامخ شول او د اور بند غوښتنه يې وکړه.

## د امان الله خان تیروتنې

### ۱ - له انګلیسانو سره د اوربند اعلان

د افغان - انګلیس په دریمه جګړه کې د افغانستان د نظامي ځواکونو موقعیت، تنظیم او د جهادي ځواکو ملاتړ، دکابل د مرکزي دولت په لید توګه کې چې د انګلیسانو سره مخالفت و، د افغانستان د

اشغال شویو زمکو د اعادې او احمد شاه بابا د دورې د افغانستان د تشکیل لپاره زیات امکانات برابر کړې وو.

ددې کامیابیو عوامل ډیر وو ځکه انګلیسانو په افغانستان کې د دوو سخکنیو ساتو په نسبت، په افغانستان کې د اشغال کړو زمکو د ساتنې قوت نه درلود او جنګې جرأت یې له منځه تللی و. له بلې د افغانانو زړورتیا او د خپلواکې غوښتنې تفکر ایرانیانو او هندیانو ته هم د اجرأت وربخښلای و چې، افغانانو ته په ورته پاڅونو لاس پورې کړې. د مرکزي آسیا قومونه او د سمرقند، بخارا او تاشکند خلکو ته هم هیله پیدا شوه چې په اولسي پاڅونو او جهادي ځواکو سره کولای شي د روسي بلوسګرو په وړاندې په مقاومت او د خپلو حقوقو په لاس ته راوړلو لاس پورې کړي.

د جهاد او افغانستان د خپلواکې په اعلان سره، په ټول هیواد کې خلکو په ډیر شوق سره، د انګلیسانو او روسانو په وړاندې په جهاد کې د برخې اخستنې اعلان وکړ. روحانیونو او قومي مشرانو د جهادي ځواکونو په تنظیم کې ډیر سهم نقش ولوباوه ځرنګه چې مرکزي دولت او پخپله امان الله خان د افغانستان د پاچا په توګه د انګلیسانو په وړاندې د جنګ او مبارزې پلوی و، د مجاهدینو مشرانو په خیبر، پکتیا او چمن کې د داوطلب ځواکونو تر تنظیم وروسته، د دولتي قواو تر اداري لاندې په مبارزه پیل وکړ چې د افغانانو بریالیتوب یې حتمي کړی و.

د انګلیسانو حکومت د افغانستان دسیاسي – نظامي حالت په درک او مطالعې سره، په صوبه سرحد او د ډیورند د کرښې په امتداد خپل نظامي قوماندانان د بې کفایتې په ګناه لرې کړل او په د پلوماسۍ کې یې له افغانستان سره د تفاهم او خبرو لار پرانسته.

له دې سره یې په یوه محیلانه عمل لاس پورې کړ چې د سرحدي قومونو مشران او مخورکسان د دالیو او پیسو په وسیله تطمیع کړي او هغوی جهاد ته له دوام ورکولو نه منع کړي. همدارنګه انګلیسانو د کابل په اداره کې د خپلو اجیرو او ځیره خورو نه په ګټې اخستنې سره، چې کلیدي دندې یې لرلې، کوښښ وکړ د اشغال شویو زمکو د لاس ته راوړنې په خاطر او د افغانستان د خپلواکې په باب د دولت په قاطع تصمیم کې بیاکتنه او بدلونونه رامنځ ته کړي.

انګلیسان د قبایلو او سرحدي قومونو په تطمیع کې بریالي نه شول، ځکه د افغانستان زیاتره قومونه او قبایل دیوه قوي افغانستان د تشکیل او په سیمه کې دانګلیسانو د ښکیلاکګرو ځواکونو د له منځه وړلو پلویان وو. انګلیسانو په یوه بله حیله لاس پورې کړ. په ډیلي کې یې د افغانستان سفارت له مربوطه اسنادو سره ضبط، او دسفیر کورنې یې یرغمل ونیوه او د افغانستان سفیر عبدالرحمن یې کابل ته راولیږه چې پاچا اوربند ته اړ باسي. همداراز یې پرافغانستان سیاسي او نظامي فشار زیات کړ. د دوپرې په وینا:

"کله چې انګلیسانو د خپلو جنګي الوتکو په واسطه جلال آباد اوکابل بمبارد کړل امان الله خان یې پخپل تصمیم کې مترددکړ او هغه کسان یې چې له انګلیسانو سره د جنګ پلویان وو محکوم. اود

ACKU

محمود طرزی په واسطه بی دا جنگ یو غیر ضروری جنگ وباله"(۲)

امان الله خان پرته له دی چی په دی باب فکر وکړی او د مجاهدینو له مشرانو او قوماندانو سره مشوره وکړی د انگلیسانو له خوا پیشنهاد شوی اور بندومانه (د۱۲۹۸ ۰ نیرگولی ۱۳ مه/د ۱۹۱۹ د جون دریمه) که چی انگلیسان پوه شول چی دماتی پر وخت بی پراسان الله خان خپل اهداف ومنلای شول، نور پیشنهادونه بی هم مطرح کړل چی افغانی قواوی دی د دیورند کرښی په امتداد د انگلیسانو له سیاسی او نظامی مرکزونه پنځوس کیلومتره په شا شی او هم د افغانستان دولت مجبور دی چی د اوربند په اعلان سره د اولسی پاڅونونو او د مجاهدینو د تکونی نوښت پیل کړی او یا هغوی هم د اوربند منلوته مجبور کړی. چی په دی برخه کی هم یوه پته موافقه وشوه.

## ۲- د راولپنډی د (سولی) د شرمیدلی تړون لاسلیک

امان الله خان د سولی د هیأت په غوره کولو کی د محمود طرزی له مخالفت سره سره علی احمد خان (چی ماما زی بی و) او دا وخت د کورنیو چارو وزیر و، د هیأت د رئیس په توگه راولپنډی ته واستاوه. محمود طرزی پوهیده چی علی احمد خان، انگلیسانو ته زیات تمایل لری. طرزی غوښتل چی د دارو هیوادو په توافقاتو کی باید د هغه برخای ملی عناصر برخه ولری چی انگلیسان ونه کړای شی خپل اهداف پرافغانانو تحمیل کړی.

د هیأت تر حرکت دمخه، محمود طرزی یو ځلی بیا تأکید وکړ چی، د مطالبو رؤ وس او ددی مذاکراتو پریکړی، باید د افغانستان په بی قید و شرطه آزادی، د دیورند د کرښی په امتداد د سرحدی قومونو او قبایلو د برخلیک دټاکنی د حق رعایت اود انگلیسانو له خوا د جنگی غراماتو دور کولو په محور وڅرخی نه له دی مسایلونه بهر په نور څه.

خو د محمود طرزی د پیشبینی سره سم علی احمد خان د انگلیسی هیأت له رئیس همتن گرانت *Hamilton Grant* سره په ۱۲۵۸د وری ۱۷ مه/۱۹۱۹ د اگست ۸مه نیته (په سرحد رور جدوجهد آزادی نومی کتاب کی د مولانا الله بخش یوسفی په وینا د اگست لسمه) د راولپنډی لاندینی پنځه ماده ییزه معاهده لاسلیک کړه.

۱- د دوارو خواو ترمنځ دسولی ټینگښت.

۲- څرنگه چی افغانان د جنگ عامل دی، د ترانزیتی اموالو د صدور او ورود پرمخ دی د هند بحری لاره وتړل شی.

۳- په هند کی دی د امیر حبیب الله خان توله شتمنی د انگلیسانو له خوا ضبط شی او امان الله خان ته به د پخوانیو توافقاتو پربناء لکه پلار او نیکه ته بی چی ورکول کیدل هیڅ برخه (سهمیه) ورنکړل شی.

٤- له برتانوی دولت سره د افغانانو په تمایل د دوارو خواو ترمنځ د سیاسی اړیکو تمدید.

ه – د افغانستان دولت، د هند او افغانستان ترمنځ د ډیورنډ کرښه چې دمخه امیر حبیب الله خان هم تأیید کړې وه، د سرحدي کرښې په توګه تصدیقوي، او هغه منې او په خیبر کې به سرحدي حدود د برتانوي دولت په واک کې ورکړي.

د ا شرمېدلې تړون چې د افغانستان د خلکو د ګټو پر خلاف و، لاسلیک شو. د جنوبي سرحدونو قومونو او قبایلو او د ټول افغانستان مجاهدین ددې معاهدې له لاسلیک نه نهیلي شول. د افغانستان دولتي قواو ته په درې واړو جبهو کې د اوربند حکم صادرشو. همدا راز حکم وشو چې شل میله (پنځوس کیلو متره) د ډیورنډ له کرښې نه پرشاشي.

جنرال محمد نادر خان له دې حکم سره مخالفت وکړ او درې کاله یې خپلې قواوې په ټل کې وساتلې او د مبارزې د دوام او د افغانستان د اشغال شویو ځمکو د لاس ته راوړنې پلوی و.

په کابل کې محمود طرزي او عبدالهادي داوي د پاچا پرتصمیمونو اعتراض وکړ. امان الله خان د دې لپاره چې مخالفتونه غلي کړي، ظاهراً یې علي احمد خان له کاره ګوښه کړ او ترڅارنې لاندې یې ونیو؛ خو کله چې مخالفتونه غلي شول، علي احمد خان یې بیا ونازاوه او خپله خورېې هم په نکاح ورکړه:

" د راولپنډۍ د تړون اصلي هدف داو چې د افغانانو او انګلیسانو تر منځ شپږ میاشتنی اوربند تینګ شي، چې انګلیسان وکړای شي د مذاکراتو له لارې دخپلو سیاسي اهدافو په اجرا بریالي شي؛ خو چې کله تړون لاسلیک شو، افغانستان پخپلو بهرنیو چارو کې ازاد شو"(۲)

تر هغې وروسته افغاني او انګلیسي هیأتونو، تګ راتګ پیل کړ او سفارتي اړیکې یې د سفارتونو او قونسلګریو د پرانستلو حدته لوړې کړي. د مجاهدینو او ډیورنډ د کرښې د دواړو غاړو د قومونو مشرانو غوښتل له امان الله خان سره وګوري او له هغه نه د ډیورنډ د شرمېدلي تړون په باب توضیحات وغواړي ځکه هغوی د جهاد د دوام او له افغانستان سره د صوبه سرحد د یو ځای کولو پلویان وو، خو امان الله خان له هغو سره ډیر سوړ سلوک وکړ او هسې یې دیوه تعارفي کتنې لپاره هم ونه منل. د قومونو مشران ډیر نهیلي اوله عقدو سره بیرته ستان شول. انګلیسانو د قومونو له موقعیت نه په ګټې اخستنې سره په اپریدیو او مسعودو د حملې لپاره خپلې ضربتي قواوې واستولې او پر آزادې غوښتونکویې خپلې حملې له سره پیل کړي. چې د هغوی زیات شمیر شهیدان او زیات شمیر یې لوګر ته په هجرت اړ شول. اماني دولت د خلکو د دغسې حساس موقعیت په درک کولو سره، د انګلیسانو د غیر انساني سلوک په وړاندې هیڅ عکس العمل ونه ښود او سکوت یې غوره کړ.

محمود طرزي چې د دولت داسوړ سلوک او د قومونو مظلومیت ولید، ډیر سخت متأثر شو او د نشراتو له لارې یې د سرحداتو د خلکو له حقوقو نه دفاع پیل کړه او پاچایي د عامه آذهانو ترفشار لاندې واقع کړ. تر هغې چې دلویې جرګې په رابللو مجبور شو.

امان الله خان په ۱۳۰۱ش/۱۹۲۳م جلال آباد ته ولاړ او د یوې وینا په ترڅ کې یې د سرحد نه دپوري

افغاني ورونو له حقوقونه دفاع وکړه. انګليسانو د پاچا د دې سياسي دريځنيونې په وړاندې عکس العمل وښود او د دواړو خواو د سياسي اړيکو دوام يې د صوبه سرحد له قبايلو سره د افغانستان د دولت د اړيکو په قطع کولو پورې مربوط کړ.

## ۳- له روسانو سره دوستانه اړيکې

امان الله خان له روسانو سره، د دوستانه اړيکو په ټينګولو کې بنکاره ګام واخست او په لومړي مرحله کې يې له ولاديميرايليچ لينن (دکمونست ګوند له رهبر) سره چې نوی سياسي واکمني ته رسيدلی و مکاتبه پيل کړه. امان الله خان د ۱۲۹۷ د کب په ۹مه/۱۹۱۹ د فبرورۍ ۲۸مه، د لينن تر مشرتابه لاندې د روسيي دولت په رسميت وپيژاند. په دې پسې د ۱۲۹۸ د وري ۷مه/ د۱۹۱۹ د مارچ ۲۷مه روسانو د افغانستان خپلواکي په رسميت وپيژنده. امان الله خان لينن ته ديوه ليک په ترڅ کې د افغانانو او روسانو ترمنځ د دوستي وړانديز وکړ. او په دې پسې يې جوخت يوهيأت روسيي ته وليږه چې د روسانو له خوا يې تو دهرکلي وشو. دې هيأت د ۱۲۹۸ د غبرګولي په ۷مه/ د ۱۹۱۹ د مې په ۲۸ مه په تاشکند کې له روسانو سره سياسي مذاکرې پيل کړې.

د ۱۲۹۸ په وری ۱۹۱۹/ ستمبر کې ميخاييل باروين *Michael Barvin* د بلشويکي روسيي د سفير په توګه کابل ته راغی او له امان الله خان سره د يوې ګتنې په ترڅ کې يې پر دوو خبرو موافقه وکړه:

۱- د پنجده د اشغال مسأله چې روسانو د هغې له استرداد نه ولې خالي کاوه، امان الله خان تأييد کړه چې پنجده به تر دې وروسته د روسيي د خاورې جزء وي.

۲- افغانستان ژمنه کوي چې په مرکزي آسيا کې د آزادي غوښتونکو مبارزو پلوي ونه کړي او ددې قيامونو په تکونه کې چې د بلشويکي رژيم پر خلاف په جريان کې دي له مسکو سره عملي مرسته وکړي.

باروين د روسانو له خوا ضمانت وکړ چې دانګليسانو د مداخلو په وړاندې به له افغانستان سره مرسته وکړي.

د ۱۲۹۸ د ميزان په ۲۲مه/ د ۱۹۱۹ د اکتوبر ۱٤ مه محمد ولي خان د امان الله خان د ځانګړي استازي په توګه مسکوته سفر وکړ او له لينن سره يې يو لړ مذاکرات وکړل. هيأت د افغانستان د دولت دريځ او نوی خپلواکي هم الزاماً د روسيي د بهرنيو چارو د وزارت مقاماتو ته تشريح کړه. (۱)

د ۱۲۹۸ د ليندې په شپږ مه/ د ۱۹۱۹ د نومبر ۲۱مه لينن، امان الله خان ته د دواړو خواو ترمنځ د دوستي ديوه قرار داد دلاسليک په خاطر، يو ليک واستاوه. دکابل دولت له انګليسانو سره په تضاد کې له مسکو سره د توافقاتو په اړه تمايل وښود او د مرکزي آسيا د بدلونو په اړه يې بې تفاوتي وښوده او

روسان یې د ځان له خوا د مرکزي آسیا له مسلمانانو سره په نه همکارۍ داده کړل. روسانو د ۱۲۹۹ ل په زمري/ ۱۹۲۰ اګست کې پر بخارا نظامي تیري وکړ او هغه یې ونیوه.

د ۱۲۹۹ د تله په ۲۸مه/ د ۱۹۲۰ د اکتوبر ۲۰مه د غلام صدیق خان څرخي او عبدالهادي داوي په مشرۍ یو افغاني هیأت بخارا ته ولاړ او د بخارا د نظامي اشغال په باب یې له روسانو سره خبرې وکړې او په دې اړه یې د افغانستان رسمي دریځ چې په کامله بې طرفۍ او له روسانو سره په دوستۍ بناو، هغوی ته اعلان کړ. دا د بخارایي مبارزینو دمې او روستې مرحله ګڼل کیده.

د ۱۲۹۹ د کب پر ۹مه/ د ۱۹۲۵ د اګست ۲۱مه د افغانستان او روسیې ترمنځ د دوستۍ معاهده لاسلیک شوه. چې (پنجده) او (سرو) سیمې یې چې د روسانو له خوا اشغال شوې وې د روسیې د خاورې د جزء په توګه تأیید کړې. او روسانو په مرکزي آسیا کې د مسلمانو مبارزینو د ټکولو لپاره په نظامي اقداماتو لاس پورې کړ.

د ۱۳۰٤ د لیندۍ پر شپږمه/د ۱۹۱۹ د نوامبر په ۲۶مه د افغانستان او روسیې ترمنځ د نه تیري او د دواړو ترمنځ د کاملې بې طرفۍ په باب یوه معاهده لاسلیک شوه او یو کال وروسته د کابل او تاشکند ترمنځ د مواصلاتي لارو او سوداګرۍ قرار داد لاسلیک شو.

کله چې د ۱۳۰٦ش په چونګاښ/د۱۹۲۷ جولای کې امان الله خان د مسکو له سفره کابل ته راستون شو، غوښتل یې د اقتصادي پروګرامونو په تطبیق او د قرار دادونو په لاسلیکولو سره افغانستان د اروپايي هیوادو په څیرد صنعت او پرمختګ له پلوه پرمختګ وکړي.

"هغه څه چې امان الله خان یې د روسیې خواته متمایل کړ، سوسیالستي افکار یا د شوروي خوا ته د هغه اشتیاق نه و، بلکې له یوې خوا د انګلیسانو فشارونه او له بلې خوا ددغه هیواد، نه سرسپتي وی... امان الله خان د خپل سلطنت په لومړیو کې، لینن ته خو لیکونه ور واستول او د دوستانه اړیکو غوښتنه یې وکړه. لینن ترې و غوښتل چې د خپل هیواد د سوسیالستي کولو لپاره هڅه وکړي... د امان الله خان هدف د انګلیسانو له سلطې نه خلاصون و؛ خو لینن هغه ته داسې سخته لاره ور مخکې کړه چې منل یې ګران و... له دې سره هم روسانو افغانستان ته څه وسلې او کومکونه ولیږل..."(٥)

یو شمیر مؤرخین او مفسرین له هغه نه، دا ډول برداشت لري، بیا هم ددې خبرې وضاحت کاملاً ښکاره دی. امان الله خان غوښتل په افغانستان کې یو داسې نظام ټینګ کړي چې دین په هغې کې یې اغیزې او لویدیزو زمه او آزاد تمایلات ولري. امان الله خان، اتاترک او رضا شاه په افغانستان، ترکیه او ایران کې درې لائیکي (بې دیني) څیرې ګڼل کیږي چې لومړی یې د افغانستان د مسلمانو خلکو د حساسیت له لامله ژر له سیاسي ډګره وایستل شو؛ دویم یې په خپلو افکارو سره چې تر اوسه پورې لارویان لري په ترکیه کې یو سیکولر رژیم ټینګ کړ او په دې رژیم پورې د ترکیې ټولې تولنیز اقتصادي جوړښت د هغه هیواد، د بدبختۍ شاهد دی او دریم یې په ایران کې داسلامي انقلاب ترپیل کیدو

(۱۹۷۸/۱۳۵۷) پورې په غرب پورې د تړلي بې بندوباره رژیم په توګه د امریکا سیاسي پیټي پرشا وګرځاوه.

پاچا له روسانو سره د خپلو اړیکو په پراخولو پسې و. یو مؤرخ لیکي: "د روسانو خواته د امان الله خان اوله دې هیواد سره د دوستي هیله، د دې په خاطر نه وه چې د افغانستان د خپلواکي غوښتنې د داعیې ملاتړ وکړي... بلکې یو عکس العمل او تظاهرو چې غوښتل یې د انګلیسانو په وړاندې یې وښيي..."(٦)

یو انګلیسي مؤرخ د (افغانستان) په نامه پخپل کتاب کې له روسانو سره د افغانستان داړیکو په باب لیکي:

"افغاني پاچایان یاله خپواکي سره د زیاتي مینې او یاد بهرنیانو د تجاوز له لامله، د تاریخ په اوږدو کې د نورو لاسپوڅي پاتې شوي دي. ان امان الله خان چې د افغاني مبارزینو (مجاهدینو) له خوا تراوسه (د کمونیزم لومړنۍ نمونه) ګڼل شوی، ده او په دې نامه یادیږي. امان الله خان د افغانستان په اردو کې روسي انجنیران او تخنیکي متخصصین مقرر کړل چې دافغانستان په هوایي قواوکې د پیلوټ او تخنیکر په حیث کار وکړي. روسیې د مننې په توګه امان الله خان ته دیارلس الوتکې وبخښلې. همدا راز هغه، روسي انجینرانو ته زمینه مساعده کړه چې په مواصلاتو او مخابراتو کې خلاص مټ ولري او په پای کې د کابل - تاشکند هوايي لاره پرانستل شوه. پردې ټولو شواهدو سر بیره د متقابلې دوستي او بې طرفي لومړی تړون له روسانو سره لاسلیک شو..."(٧)

## ٤- د بیړنیو پروګرامونو تحمیل

د امان الله خان د سلطنت په دوره کې د افغانستان د بیارغاونې پروګرامونه د دولت له سیاسي چارو نه شمیرل کیدل چې د خلکو په اذهانو کې یې هم مثبت اغیز درلود؛ د بیلګې په توګه په کابل، پغمان، لغمان، ننګرهار (جلال آباد) کې د ودانیو جوړول همدا راز د المانیانو په مرسته د کابل ښار او دارالامان د ماڼۍ ترسنځ د اورګاډي د پټلۍ غزول د دې دورې له مهمو بیلګو نه شمیرل کیږي.

خو له دې مثبتو بدلونو سره جوخت د کابل پر خلکو، د دین، فرهنګ او رواجونو پر خلاف چارې تحمیل کړای شوې چې د اولس احساسات یې ژوبل کړل او د شدیدو غبرګونو باعث شول. خصوصاً کله چې امان الله خان د اروپا له سفره بیرته راستون شو له خلکو سره یې په سلوک کې یو فاحش تغییر لیدل کیده چې په هغه زماني مقطع او د افغانستان فرهنګي اجتماعي فضا کې د منلو وړنه و. په دې برخه کې توجیهاتو هم څه اغیزنه شوای کولای چې له هغې جملې یو شمیر بیړنۍ ریفورمونه په لاندې ډول وو:

***الف: حجاب له منځه وړل:*** امان الله خان د حجاب یا د ښځو د ستر مخالف و او د خپل ترکي سیال

کمال اتاترک په څیرېږي غوښتل د حجاب دلری کولو لپاره اقدام وکړي. ددی کار لپاره یې د ښار له ګنې ګوني ډکو ځایونو کې د حجاب دلری کولو څارندویه پوستې جوړې کړې چې له هغې جملې نه هم د کابل سر پټې چارچته بازارو.

دولتي موظف کسان د خپلو چنګکونو په واسطه، د ښځو تګ راتګ څاره او کله به چې له هغه ځایه تیریدې د چنګکونو په واسطه به یې چادرۍ ګانې، له سره لرې کولې. افغاني میرمنې به چې له مخکنې آمادګې پرته له حجاب سره له عادي جامو سره د کوم کار د سرته رسونې لپاره له کوره وتلوته اړشوې، یو ناڅاپه به د سلګونو نارینه و په مخ کې چې ددې مسخره لوبې د کتنې لپاره به د مراقبتي برجونو شاو خواته را ټول شوی وو واقع شوې، ځای به یې بایلود او کوم کونج ته به یې پناه یوره.

دی عمل، په عامه انظارو او د کورنیو دمیړونو، وروڼو او پلرونو په منځ کې ډیربد اغیز وکړ او فکرېږي وکړ چې امان الله به د افغانستان لپاره د یوې بلې بدبختۍ باعث شي چې اوس په ملي نوامیسواو د کورنیو په حریم تیرې کیږي. خلکو د دولت د دی عمل په وړاندې عکس العمل وښود، او د مذهبي روحانیونو له شرعي فتوا سره چې د امان الله خان د تکفیر غږیې پورته کړی و، یو ځای شول.

ددې حالت یوه عیني شاهد د انګلیس د سفیر میرمن، فرانسیس همفریز *Francis Humphrys* وه چې وروسته یې خپل کتاب کې لیکي: "یوه مهمه شیبه چې زما په یاد ده دا ده چې امان الله خان په پغمان کې دخلکو دیوې عمومي غونډې په منځ کې له خپله ځایه پورته شو اودښځو د آزادۍ په باب یې خبرې وکړې. هغه له خلکو وغوښتل چې خپلې ښځې دحجاب له قیده آزادې کړي او وروسته یې پخپل لاس دملکه ثریا له سره ټیکرې لرې کړ او ویې ویل: تردې وروسته، ستاسې هر یوکولای شي زما ښځه وګورې."(۸)

"همدا راز پاچا امر وکړ چې د پلا زمیني په ځانګړو جادو کې لوحې او تابلوګانې و دروې او ولیکي: هیڅ ښځه له دې ځایه له چادرې سره نشي تیریدای."(۹)

*ب: د اروپايي لباس اوعاداتو تحمیل:* غالباً د کابل ارګ په شاوخوا جادوکې به هغه ښځې چې چادرۍ او یا هغه سرې چې ملي جامې، لنګوټې اوکمیس وپرتوګ به یې اغوستې و نه شوای کرځیدای. په کابل او د ولایتو په مرکزونوکې په دولتي ادارو، مجلسونو او رسمي چاروکې به دسړی د شخصیت معیار دریشي، شپوخوله، د لاس امسا، نکټايي، د سګرټودپایپ او سګرټ څښل وو. داکسان به په ټولنه کې د روښانفکر او مترقي قشر په نامه معرفي کیده.

په دولتي قانون کې تصویب شوی وو چې کوچنیان په ښوونځیو او لویان په دولتي ادارو کې له اروپايي لباس پرته په درس یاکار کې نه شي شاملیدای.

*ج: د ټولنې دینې سننو ته نه پاملرنه:* کله چې امان الله خان د اروپا مهم ښارونه لکه لندن، پاریس، روم، وارسا، بروکسل برن، برلین، او مسکو ولیدل او بیرته هیواد ته راستون شو، اریان و څکه هغو ټولنو

چې د پرمختګ له پلوه مخ په وړاندې ګامونه اخستي وو، د افغانستان له وروسته پاتې ټولنې سره د مقايسې وړ نه وو.

هغه پرته له دې چې د خپلې ټولنې اصولو او عنعنو او د خلکو ديني ګروهې ته پام وکړي د خلکو د ديني معتقداتو فکري سطحې په پام کې نه نيولوسره. داسې چاروته لاس واچاوه چې، بنه ګانده يې نه درلوده.

په ۱۳۰۲ش/۱۹۲۳م کې يې د خپل نامه له سره، د (امير) کلمه حذف کړه او له خلکو نه يې وغوښتل چې هغه دافغانستان د پاچا په نامه يادکړي.

"امان الله خان له انګليسانو وغوښتل چې داسې هيأتونه او ډلې افغانستان ته ورولېږي، چې دلويديز فرهنګ په خپرولو کې فعاليت وکړي او د تجدد *Modernazation* او اسلامي ضد *Anti Islamic* هر ارخيز فعاليتونه پيل کړي"(۱۰)

انګليسانو تر ټولو د مخه د امان الله خان د مېرمنې ملکه ثريا هغه عکسونه چې د اروپا په رسمي ميلمستاوکې له چادرې او دا تکرې پرته په اروپا يي لباس کې ليدل کيده چاپ او بازار ته عرضه کړل.

پاچا اعلان وکړ چې هيڅوک تريوې زياتې ښځې نشي نکاح کولی او هغه څوک چې تريوې زياتې نکاحي ښځې لري د دولت له خوا طلاق ورکړل شوې او بيرته نه ګرځول کيږي. "پاچا امان الله خان لکه چې خلکو ويل د خدای(ج) او اسلام پر خلاف راګرځيدلی و"(۱۱)

امان الله خان د ديني علومو تدريس يوازې په يوې ځانګړې مدرسې پورې محدودکړ او په ښوونځيو کې يې د عربي ژبې پر ځای اروپايي ژبې په نصاب کې شاملې کړې. په ادارو او عسکري نظام کې يې دږيرې ښريبل حتمي کړل ټول دا عملونه په ترکيه کې ديوه سيکولرستي حکومت د راوستو لپاره د کمال اتاترک له اقداماتو سره ورته وو. اتاترک وکړای شو ټولنه بې دينه کړي او دين له سياست نه جداکړي، خو امان الله خان نه دا چې دې هدف ته و نه رسيد بلکې ملي اهداف او د افغانستان بيارغاونه يې هم د خلکو د ديني غوسې په لمبو کې له منځه يوړه. هغه پخپلو بيړنيو اقداماتو سره يو زيات شمير ديني روښانفکران له هغې جملې نه محمود طرزی د هغه له مترقي تفکر او يوې متمدنې ټولنې د جوړولو له ارمان سره ګوښه کړ په داسې حال کې چې هغه کولای شوای د مدني ټولنې د تحقق په لاره کې ټول عمراني او انکشافي پروګرامونه عملي کړي اوله هغې سره په خپلو عقيدتي ارزښتونو پورې ملنډې ونه وهي اوله سيکولاريزم نه يې کرکه درلوده. له امان الله خان سره د محمود طرزي يو اختلاف همدا و.

## د امان الله خان پر خلاف د اولسي پاڅون پيل

د امان الله خان د تجدد يا نوښت پروګرام د عوامو شديد مخالفت را وپاراوه. د شينزارو خلکو په

۱۳۰۷/۱۹۲۸م پاچا ته د کافر خطاب وکړ او پر جلال آباد ښار يې حمله ور وړه. تاریخي ودانۍ، د سراج العمارة ماڼۍ او د انګلیس قونسلګرۍ يې وسوځوله، امان الله خان د خپلو مخالفینو د ټکوني لپاره مشرقي ته نظامي قوه واستوله خو دی قوی نه نظم درلود نه جنګي روحیه. خلکو، د امان الله خان د نظامي قواو په شمول د افغان انګلیس تر دریم جنګ وروسته د پاچا او د هغه د تفکر په باب اندیښنه درلوده ترهغې وروسته چې امان الله خان له انګلیسانو سره تړونو نه لاسلیک کړل او مجاهدینو ته يې شاکړه د هغه په باب د خلکو کرکه زیاته شوه او د پاچا دا عمل يې خیانتګانه او نهیلي وو.

امان الله خان د مادي او سیاسي مرستو د ترلاسه کولو لپاره مصطفی کمال اتاترک ته مخه کړه او له هغه نه يې نظامي مرسته وغوښته. اتاترک د امان الله خان د پاچاپي په پیل کې هغه ته مشوره ورکړې وه چې باید دبیارغاوني او تجدد د پروګرامونو تر عملي کولو د مخه یو منظمه او دولت ته وفاداره اردو جوړه کړي چې د مخالفتونو پر وخت هغه وتکولې شي. په همدې خاطر یو شمیر ترکي نظامي مشاورین، افغانستان ته واستول شول، چې دنظامي قوتونو په تشکیل او تنظیم کې مرسته وکړي؛ خو امان الله خان لا د تجدد پروسه نه وه پیل کړې چې په مقابل کې يې شدید عکس العملونه پیدا او په اولسي قیامونو پای ته ورسیدل.

په دې پاڅونو کې چې کابل هم پکې شامل و حبیب الله کلکاني چې د سقاو په زوی مشهور و، په څېریو شخصیت وکړای شو د امان الله خان لاسونه او پښې وتړي چې د مخالفینو د ټکوني لپاره نه کوم اقدام وکړای شي او نه مقاومت. امان الله خان انګلیسانو ته د مرستې لاس وروغزا وه خو انګلیسانو نه دا چې ورسره مرسته ونه کړه، بلکې د امان الله خان پر خلاف يې د اخبار او تبلیغاتي پاڼو په خپرولو سره چې د امان الله خان د تکفیر حکم يې صادر کړی و د خلکو د مذهبي احساساتو اور لاپسې تود کړ. څرنګه چې دافغانستان سیاسي حالات د پاچا د اقداماتو پر خلاف څرخیدل، د جنګ وزیر عبدالعزیز بارکزي او داخله وزیر عبدالاحد وردک هم له پاچا نه مخه وګرځوله او له مخالفینو سره يې پټې همکارۍ پیل کړې.

کله چې حبیب الله کلکاني کابل ته نږدې خیرخانې ته ورسید، او ځواکونو يې ښهر آراتر حملو لاندې ونیوله امان الله خان له محمود طرزي او غلام صدیق خان څرخي سره چې د کورنیو غړي يې هم ورسره وو دسوتر په سپرلۍ کندهار خوا ته روان شول. غلام صدیق خان پاچا ته مشوره ورکړه، چې په الوتکه کې له کابله، مسکوته ولاړ شي، خو امان الله خان هند ته روان شو او له هغه ځایه د بیړۍ په واسطه ایتالیاته روان شو. امان الله خان د محمد ظاهر شاه د پاچاپي په وروستیو کلونو کې مړشو. جنازه يې افغانستان ته راوړل شوه او جلال آباد کې خاورو ته وسپارل شو.

## د امان الله خان د دورې ژورنالیزم یا مطبوعات

د امان الله خان دوره، د افغاني ټولنې په جوړښت کې د قانونمندۍ یوه خاصه مقطع ګڼل کیږي چې ترپنځوسو زیات قوانین (نظامنامې) یې طرح او نافذ کړې چې له هغې جملې نه د آزادو مطبوعاتو په شمول په افغانستان کې د مطبوعاتو قانون و چې تر هغې وخته پورې د آسیايي هیوادو او ګاونډیانو په تاریخ کې دغسې قوانین نه و تصویب شوي.

## په افغانستان کې د مطبوعاتو لومړنی قانون

### د ۱۳۰۳ د مرغومي ۱۰ مه/د۱۳۲٤ م د دسمبر ۳۱مه مرغومي

په افغانستان کې د مطبوعاتو لومړنی قانون په ۱۳۰۳ ش کال د امان الله خان په دوره کې طرح او نافذ کړای شو. یو شمیر مؤرخین د امان الله خان دوره د قوانینو د تنفیذ او د قانون په سیورې کې د نوې ټولنیز ژوندانه بهترینه سیاسي دوره ګڼي. په دې دوره کې یو زیات شمیر اخبارونه او جریدې په داسې یوه ټولنه کې چې فقر ځپلې وه، خپریدې او د فرهنګ او بیان د آزادۍ په ملاتړ روښانفکرو او پر وطن زړه سواندو شخصیتونو سر راپورته کړ. مدني تمایلاتو د سیاسي آزادیو په تثبیت او د ټولنیزو خدمتو او پراختیا په برخه کې د آزادۍ زمینه زیاته کړه "په همدې دوره کې لومړنی ازاده شخصي خپرونه د مطبوعاتو لومړني قانون او د مطبوعاتو لومړني محاکمه منځ ته راغله، هغه څه چې د هیواد او سیمې په تاریخ کې یې سیاسي سابقه نه درلوده"(۱۲)

زیاترو مشروطه غوښتونکو چې په سوکې یې محمود طرزي هم و د امان الله خان د دورې دولتي مشران د خلکو د سالمو افکارو په ارتقا او د افغانانو د وطن دوستۍ او خپلواکۍ غوښتنې داحساساتو په تشدید او انګلیسي ښکیلاک په مقابل کې د مبارزې لپاره کافي نه ګڼل او د آزادو او غیر رسمي مطبوعاتو د منځ ته را وړلو پلویان هم وو "چې د هغه وخت د مطبوعاتو د مضمون انعکاس د رسمي مطبوعاتو له ساره چوکاټ نه په نویو قالبونو کې وګوري"(۱۳)

د (مطبوعاتو د نظامنامې) په انفاذ سره چې په افغاني ټولنه کې افرادو مطبوعاتو ته ژر لاره وسونده، ډیر ښه او مخکښ عواقب لکه (انیس)، (افغان) (نسیم سحر)، (نوروز) او (پشتون ږغ) له ځانه سره درلودل.

دا جریدې د ملي او آزادۍ غوښتونکو احساساتو ځرګندوی وو او د لویدیزې نړۍ د تحولاتو او انکشافاتو په باب یې هم معلوماتي مطالب خپرول. همدا راز یې د ټولنې د وروسته پاتې توب په اړه په

محتاطانه ډول خپل انتقادونه مطرح کول. "د دې دورې مطبوعات چې د کمي او کيفي جوړښت او اقداماتو نه برخمن وو، ځانګړې خصوصيت درلود". (۱٤)

د دې دورې خصوصيت دا و چې، په هند، ماوراء النهر او ايران کې يې تولو آزادي غوښتونکو غورځنګونو ته انګيزه او فکري تحرک ورکړ او ډير لږ د انګليسي ښکيلاک تر اغيز لاندې راغلل. د انګليسانو ظالمانه واکمنې د خلکو د لاکړکې سوب شو او هغوی ته يې د خپلواکې ملي تفکر ورکړی و. آزاد مطبوعات د خلکو په ويښتيا به او د عامه اذهانو په تنوير کې مهم رول درلود.

## د مطبوعاتو مستقل رياست

دا دولتي اورګان، په کابل کې د مطبوعاتو د نظامنامې تر انفاذ وروسته منځ ته راغی، او ددی سازمان کار، د مطبوعاتي چارو څارنه او (امان افغان) جريدې خپرول و. د دې اداري لومړنی سرپرست سيد محمد قاسم وتاکل شو.

وروسته د مطبوعاتو مستقل رياست د خپل کار ساحه پراخه کړه او اطلاعاتي مواد به يې هم تهيه کول او کورني او نړيوال خبرونه به يې تر ژباړې او ترتيب وروسته، په کابل او ولاياتو کې خپرونو ته استول.

## راديو افغانستان

راديو او راديويي نشراتو دلومړي ځل لپاره دامان الله خان په دوره کې فعاليت پيل کړ. (۱۳۰۵ ش / ۱۹۲٦م) د راديو په تخنيکي برخه کې لومړني متخصص مامور عطاء الله خان و چې د راديو په تخنيکي چارو او دهغې د امواجو د استوونکي دستګاه د زده کړې لپاره په ۱۳۰۵ کال المان ته واستول شو او د زده کړې تريوې لنډې دورې وروسته دراديو له دستګاه او څو تنو الماني متخصصينو او مشاورينو سره بيرته افغانستان ته راستون شو. *(د راديو د تاريخچې په باب دې د همدې کتاب د محمد ظاهر شاه د واکمنې دورې ته مراجعه وشي)*

### د امان الله خان د دورې دولتي جريدې او ورځپاڼې

د هغه مهال ژورناليزم او تولنيزې رسنۍ (راديو–سينما) د هغه وخت ددې برخې له نويو پديدونه ګڼل کيدې. مطبوعات په نوې آزاد شوي افغانستان کې د زده کړې، اطلاع او سرګرمي ښه وسايل وو. محمود طرزي چې په افغانستان کې د ژورناليزم بنسټګر هم شميرل کيده، ريښتيني خدمت يې کړی دی او اسانيه دوره يې ځلانده کړه. مطبوعات په دې دوره کې په دوو دولتي او آزادو برخو کې منځ ته راغلل چې عبارت

دی له:

د خپروني نوم: **امان افغان**

د تأسیس کال: د ۱۲۹۸ د وري ۲۲مه/ د ۱۹۱۹ د اپریل ۱۲مه

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اماني دوري خپرني اورگان

مسؤول مدیر: عبدالهادی دا وی (له پيله تر دوه دیرشمی گنی پوری) وروسته پاینده محمد فرحت، عبدالجبار، محمد حسن سلیمی، سید محمد قاسم، غلام محمد او غلام نبی جلال آبادی چې د۱۳۰۷کال په ژمي کی د حبیب الله په پاڅون کی ووژل شو.

د خپریدو ځای او چاپ شمیره: کابل، ۵۰۰ گنی

کچه او خپروني ژبه: په پیل کی یی کچه ۲۳ x ۳۲ سانتی متره وه او په دوه ستونو کی چاپیده تر دوه دیرشمی گنی وروسته یی کچه ۱۷ x ۲۵ سانتی متره شوه په ۱۳۰۷ - ۱۳۰۸ش/ ۱۹۲۷-۱۹۲۸، د ٤٦ x ٦٦ سانتی مترو په اندازه لویه کړای شوه. په پښتو او دری یی خپروني کولی.

د خپروني نوعیت او د چاپ بنه: اوونیزه، اخباری جلا دار کاغذ اوکله هم عادی کاغذ.

د خپروني د پای کار: د ۱۳۰۸ش تله /د۱۹۲۹ اکتوبر، محتوی: لکه چی په لومړی گنه کی یی راغلی دی: "د اخبار د لوستوله لاري له زده کړی اوتحصیل سره د خلکو مینه، د نړی له پرمختگ او بدلونو نه خبرتیا، د اسلامی نړی او نورو هیوادو دپیښنو په باب د خلکو نظر، په افغانستان کی د مطبوعاتو د حالت د ښه کولو لپاره له خلکو نه د د مرستی راتولول، د امان افغان د خپروني دپالیسی برخه وه.

په محتویاتو کی یی غالباً سرمقالی د افغانستان د خپلواکی او انگلیسانو د غندنی په باب دی او همدا راز علمی، معلوماتی د دولت بیانونه او رسمی اعلامیی او همدا راز د طبیعی علومو او شعرو ادبیاتو او لنډو داستانو او روغتیایی مسایلو په اړه ضمیمی خپریدی، یو ستون هم د مسؤول مدیر په نامه لیکونو ته ځانگړی شوی و او په امان افغان کی اعلانونه هم خپریدل. په دی جریده کی د گڼون بیه په کابل کی د کال لس کابلی روپی او ولایاتو کی اتلس روپی او په بهرکی ۲۲ روپی وی.

یادښت: امان افغان جریده د امیر حبیب الله خان تر وژل کیدو وروسته، د دولت لومړنی خپرنی اورگان و.

د خپروني نوم: **ارشاد النسوان**

د تأسیس کال د ۱۳۰۰ ش وری/ د ۱۹۲۱ مارچ، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دولت (خو په جریده کی د هغی ذکر نه دی شوی) په نامه، رسماً سمیه د محمود طرزی میرمن چی په بی بی عربی سره مشهوره وه د جریدی د مدیری په توگه معرفی شوی وه.

سر محرره: روح افزا چې په منشیه مشهور وه. د خپریدو ځای او چاپ شمیره: په لومړنی خپرنی کال یې کچه ۲۵ x ۳۵ سانتی متره وه، په دویم خپرنی کال یې کچه د ۲۲ x ۲۷ سانتی مترو په اندازه کوچنی کړای شوه، او د مخونو شمیر یې ۸ و او په دری ژبه خپریده.

د خپرونې نوعیت او د چاپ بنه: اوونیز، په سنګی چاپ په لږ شین رنګی کاغذ په دری ستونو کې خپریده.

د خپرونې د کار پای: ۱۳۰۷ ش/ ۱۹۲۹م د امان الله خان د سلطنت پای. محتوی: هغه اختصاصی مطالب چې، د ښځو لپاره خپریدل، غالباً د ښځو په خاصی دلی پورې یې اړه درلوده، چې هغه په لوړې طبقې پورې مربوطې باسواده او یا نیمه باسواده ښځې وې. همدا راز د ارشاد النسوان نور مطالب د ښځو د نړیوالو خبرونو، د نړۍ سیاسی پیښو، په زړه پورې پیښو، کیسو او وجیزو او نصیحتونو نه عبارت وو. د ګڼون کلنی بیه یې په هیواد کې پنځه کابلی روپۍ، او په بهر کې دوه روپۍ وې.

یادښت: دا خپرونه د برهان الدین ربانی د واکمنی پر وخت په کابل کې د ښځو د عالی مؤسسې له خوا بیا احیا کړای شوه، *(د هغې دورې خپرونو ته دې مراجعه وشی)*

د خپرونې نوم: حقیقت

د تأسیس کال: د ۱۳۰۳ د زمری ۲۲مه/ د ۱۹۲٤ د اګست ۱۳مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: د امانی دوری دولت.

سر محرر برهان الدین کشککی.

د خپرونې ځای او چاپ شمیره: دارالسلطنة مطبعه، ده افغانان، کابل ۱۰۰۰ ګڼی. کچه او خپرنی ژبه: ۲۰x۳۳ سانتی متره، پښتو او دری د خپرونې نوعیت او د چاپ بنه: په اونی کې دری ګڼی، سنګی چاپ، په څلورو مخو کې چې هر مخ یې دوه ستونه درلودل.

د خپرونې د کار پای: تر ۱٤۰ ګڼو وروسته، د ۱۳۰٤ زمری میاشت/۱۹۲۵ اګست. محتوی: د هیواد داخلی خبرونه، مقالې، پښتو او دری شعرونه، د نړۍ خبرونه، له بهرنیو خپرونو نه را اخستیل شوی مطالب، د هیواد د وحدت په باب اعلامیې.

د خپرونې نوم: ابلاغ

د تأسیس کال: ۱۳۰۰/۱۹۲۱م

ناشر او د امتیاز خاوند: د افغانستان د امانی دوری دولت.

سر محرر: میرزا محمد اکبر خان، سید ایشان حسینی خطاط، محمد ایوب.

د خپرولو ځای او تیراژ: کابل، تیراژ یې نه دی معلوم.

کچه او خپرنی ژبه: په متفاوتو کچو ۳۰x۳۳ او تر هغې لوړې کچې، پښتو او دری.

د خپرونې نوعیت او د چاپ بنه: ابلاغ خپرونه د ورځې د مسایلو او خبری موضوعاتو په پام کې نیولو

سره خپریده، او صحافت یې په یوه لوی مخ کې و چې د خلکو دخبرتیا لپاره، او عامه تولنو کې به څرول کیدی.

د کار پای: ۱۳۰۵ش/۱۹۲۶م

محتوی: ابلاغیي، په سیاسي تولنیزو او اقتصادی برخوکې د دولت اجراآت. یادښت: ابلاغ د اماني دورې د یوالي خپرونه وه، چې په کابل اوکندهارکې د خلکو د خبرتیا لپاره پردیوالونو څرول کیده، ددی خپروني، د خپرولو علت له پښتو نه د خلکو خبرول وو، ځکه زیاترو خلکو بې د اخستو وس نه درلود او یا په جریده کې له ګډون سره نابلده وو.

د خپروني نوم: **ثروت**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۳ش لیندی میاشت/ د ۱۹۲٤ نومبر، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دولت د اقتصادی اهدافو بیانوونکی.

سر محرر: صلاح الدین سلجوقی، د خپروني ځای او چاپ شمیره: کابل، نامعلوم تیراژ، کچه او د خپروني ژبه: ۳۳x۲۵ سانتي متره، پښتو او دری د خپروني نوعیت او د چاپ بنه: پنځلس ورځنۍ، په اتو مخونوکې چې په هر مخ کې د جریدی مطلب په نستعلیق خط او سنګي چاپ کې ډیزاین کیدل.

د خپروني دکار پای: د ۱۳۰٤ مرغومي/د ۱۹۲۵ دسمبر.

محتوی: د خپروني مسایل اقتصادی او تجارتي وو چې له هغې سره جوخت یې اسلامي او فلسفي مضامین هم خپرول.

## د افغانستان د ولایاتو جریدې

د هیواد په ولایاتو کې هم جرایدو او ورځپانو خپل ځای وموند او دولت داسماعیل افندی په مشرۍ مصر او ترکیې ته فرهنګي هیأتو ولیږل او له دې دو و هیوادونه یې د طباعتي آلاتو او وسایلو د پیرنې غوښتنه وکړه. په جلال آباد،کندهار، هرات او مزار شریف کې هم نوی مطبعې تأسیس شوې.

د اماني دوری اوونیزې او میاشتنې خپروني په لاندې توګه معرفي کولای شو.

د خپروني نوم: **اتحاد مشرقي**

*(د افغانستان په ولایاتوکې د دولت لومړنې خپرونه)*

د تأسیس کال: د ۱۲۹۸ش کب/ د ۱۹۲۰ مارچ. خپرندوی: د افغانستان د دولت د اهدافو خپروونکی امتیاز: د مشرقي ولایت تنظیمي رئیس.

سرمحرر: الحاج میرزا شاهرخ خان، برهان الدین کشککي، محمد بشیر خان، عبدالجبار، محمد امین خوګیاني. د محمد نادر شاه په دوره کې: دکتور الله نواز خان د خپروني ځای او چاپ شمیره یا تیراژ: د

جلال آباد مطبعه، د مشرقی ولایت مرکز. تیراژ د ۵۰۰ او ۱۰۰۰ گنو ترمنځ.
کچه او خپرنی ژبه: ۲۵ x ۳۳ سانتی متره په شپږم خپرنی کال کی یی کچه ۳۳x۲۲ سانتی متره، پښتو او دری.
د خپرونی نوعیت او د چاپ بڼه: په اوونی کی دوه ځلی د شنبی او چهار شنبی په ورځو خپریده، چاپ یی په سنگی تورو په حروفی مطبعه کی ترسره کیده او عنوانونه یی خطاطی کیدل.
د خپرونی د کار پای: تر شپږو کالو خپرونو وروسته په ۱۳۰٤ش/۱۹۲۵م
محتوی: زیاتره به د امان افغان د مطالبو را اخستنه وه چی غالباً به په پښتو ژبه هم ژباړل کیده. اوکورنی او بهرنی خبرونه، مقالی اشعار او په زړه پوری مطالب یی لرل.
یادښت: دا جریده د محمد نادر شاه د سلطنت په دوره کی د ننگرهار په نامه احیاکړای شوه چی علت یی له دی جریدی سره د پاچا مینه وه ځکه هغه د امان الله خان په دوره کی د مشرقی د تنظیمیه رئیس په توگه کارکاوه او د (اتحاد مشرقی) جریدی ته به یی هم پام کاوه.

د خپرونی نوم: **ستارهٔ افغان**
د تأسیس کال: د ۱۲۹۹ لیندی/د ۱۹۲۰ نومبر
خپرندوی او د امتیاز خاوند: په کوهستان (پروان ولایت) کی د دولت خپرنی اورگان، د کوهستان د حکمرانی په امتیاز.
سرمحرر: میر غلام محمد الحسینی (چی وروسته یی پخپلو لیکنوکی د غبار تخلص غوره کړ).
د خپرونی ځای او چاپ شمیره: د جبل السراج (دکوهستان ولایت مرکز) مطبعه، پنځه سوه گنی.
کچه او خپرنی ژبه: ۳۷x۲۷ سانتی متره، دری
د خپرونی نوعیت او د چاپ بڼه: اوونیزه، سنگی چاپ، په څلورو مخوکی خپریده چی هر مخ په دوو ستونوکی تهیه کیده. خطاطی یی د غلام صدیق پرغاړه وه.
د خپرونی دکارپای: د ۱۳۰۰ ش چونگاښ/د ۱۹۲۱ جون.
محتوی: خبرونه، علمی او اخلاقی مطالب.
یادښت: دا جریده د سیمی د اشرافی طبقی او خوانینو دنه رضایت له لامله ډیره ژرد امانی دوری د مطبوعاتو له ډگره وایستل شوه؛ ځکه مطالب یی له خلکو سره په فکری تضادکی هم وو. دویمه مسأله، د مسؤول مدیر په شاوخوا د یو شمیر ځوانانو چی چپی تمایلات یی درلودل، را تولیدل و او دا د وخت د دولت له سیاسی تکلاری سره مخالفت، گڼل کیده.

د خپرونی نوم: **غازی**
د تأسیس کال: د ۱۳۰۰ ش میزان/د ۱۹۲۱ آکتوبر خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دولت د

اهدافو بیانوونکی، د جنوبی سمت حکمرانی.
سرمحرر: عبدالله، مولوی یعقوب، حسن خان.
د خپرونی ځای او تیراژ: الغازی مطبعه، خوست، جنوبی ولایت تیراژ یې نامعلوم.
کچه او خپرونی ژبه: ۴۰x۳۲ سانتی متره، پښتو.
د خپرونی نوعیت او د چاپ بنه: او نیزه (د چهار شنبی په ورځ) د جریدی د هرمخ مطالب په دری ستونوکی.
د خپرونی د کار پای: ۱۳۰۶ش/۱۹۲۹م
محتوی: د انګلیسانو په وړاندی د خلکو د تحریک په باب خبرونه او مقالی او د افغانستان له دولت سره، د افغانستان د سرحدی قومونو یووالی.
یادښت: غازی جریده په جنوبی سمت کی دشاه محمود خان د حکمرانی پر وخت خپریده.
د خپرونی نوم: **اتفاق اسلام**
د تأسیس کال: ۱۲۹۹ وری/د ۱۹۲۰ ستمبر.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: په هرات ولایت کی د افغانستان د دولت د افکارو ناشر.
سرمحرر: عبدالله قانع هروی، میرزا عبدالکریم احراري، صلاح الدین سلجوقی، غلام سرور جویا.
د خپرونی ځای او تیراژ: دانش مطبعه (په هرات کی د مطبوعاتو د مستقل ریاست دولتی مطبعه) په لومړیو وختوکی پنځه سوه ګنی او وروسته زرګنی، د محمد ظاهر شاه او محمد داؤد دواکمنی پر وخت یې تیراژ دری زرو او څلور زروګنو ته لوړشو.
کچه او خپرنی ژبه: په پیل کی ۳۵x۲۱ سانتی متره د محمدظاهر شاه او محمد داؤد په وخت کی ۷۵x۶۰ سانتی متره، پښتو، دری.
د خپرونی نوعیت او د چاپ بنه: اوونیزه، په پیل کی څلور مخه، هر مخ په دری ستونوکی تر ظاهر شاه په وروسته دوروکی چی مخونه یې له شپږو نه تر لسو پوری زیات شو هر مخ په شپږو ستونوکی، لومړنی چاپ یې سنګی حروف و او په خطاطی سره ښکلی کول کیده. وروسته په حروفی چاپ له چاپه راووته. تر اووم خپرنی کال (۱۳۰۵ش) وروسته یې د حروفی چاپ بنه غوره کړه. د سنګی چاپ ددوری مشهور خطاطان یې میرزا شیر محمد خان طبیب او ملا عبدالفتاح خان وو.
د خپرونی د کار پای: دا خپرونه د امان الله خان له وخته تر اوسه پوری نه ده ودرول شوی اود هیواد دپخوانیو او مستمرو جرایدو نه شمیرل کیږی.
محتوی: داتفاق اسلام زیاتره مطالب دادی: اخباری مطالب، محلی خبرونه، مرکی، د شعر و ادب مخونه، ګټوری علمی مقالی، او معلوماتی مسایل.

د خپرونې نوم: طلوع افغان

د تأسیس کال: د ۱۳۰۰ش د چونګاښ ۱۵مه/د ۱۹۲۱د جولای ٦مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دولت افکار، دکندهار د اطلاعاتو او کلتور مدیریت.

سر محرر یا لومړنی مسؤول مدیر یې مولوی صالح محمد هوتک و. دعبدالعزیز الکوزی (مشهور په بابا جان) خواجه محمد، سید حسین او عبدالحی حبیبي په څېر ژورنالستانو هم ددې جریدې مسؤولیت پر غاړه درلودې دی.

د خپرونې ځای او تیراژ: دکندهار ولایت مطبعه،له ۵۰۰-۲۰۰۰ ګنې. کچه او خپرنې ژبه: په پیل کې ۴۰X۳۲ سانتي متره، د ظاهرشاه او محمد داوود په دوره کې ۷۵X٦۰ سانتي متره، پښتو او دري.

د خپرونې نوعیت او د چاپ بڼه: اوونیزه، په پیل کې چاپ له خطاطي سره، په دوو مخوکې. له ۱۹۲۲/۱۳۱۱ نه یې مخونه د څلورو او اتو ترسنځ په متفاوتو وختو کې. حروفي چاپ له رنګه عنوانو سره او د ستونوبنې تغییر او ارتقا وموندہ. د خپرونې دکار پای: د طلوع افغان خپرونه تر اوسه دوام لري او دافغانستان په ولایاتوکې له پخوانیو خپرونو نه ګنل کیږي. محتوی: خبرونه، دولتي اعلامیې، محلي خبرونه، ادبي مخونه، اومقالې، او هم دکابل له خپرونونه اقتباسي مطالب.

د خپرونې نوم: بیدار

د تأسیس کال: د ۱۳۰۰ ش کب/د ۱۹۲۲ مارچ. خپرندوی او دامتیاز خاوند: دافغانستان ددولت خپرنی اورګان. د بلخ ولایت په مرکز مزار شریف کې د اطلاعاتو او کلتور مدیریت.

سرمحرر:لومړنی مسؤولین یې عبدالعزیزخان، محمد جعفر، غلام حسن غزنوی، میر حیدر، عبدالصمد، عبدالقیوم، او ګل محمد ادبیار د جریدې دسنګې چاپ پروخت میرزا ثاقب د جریدې مسؤول بلل شوی دی. دکمونستانو په وخت کې رازق فاني.

د خپرونې ځای او تیراژ: دمزارشریف د بنار مطبعه، له ۵۰۰-۲۰۰۰ ګنی کچه او خپرنی ژبه: په پیل کې یې کچه ۳۷X۲۰ سانتي متره، دمحمدظاهرشاه او محمد داؤد خان په وخت کې یې کچه ۵۸X٤۲ سانتي متروته ارتقا وموندہ.

د خپرونې نوعیت یادول او د چاپ بڼه: اوونیزه تر ۱۹۳۲/۱۳۱۱ پورې په څلورومخوکې په دوه ستوني بڼه خپریده- وروسته حروفي چاپ څه اسانتیاوې رامنځ ته کړې اوس په ٦-۱۰ مخونوکې خپریږي د خپرونې دکار پای: تراوسه دوام لري او د ولایاتوله پخوانیو خپرونونه ګنل کیږي.

محتوی: کورنی او بهرنی خبرونه، ددولت اعلامیې د ادب څانګړې مخونه، روغتیا او ښځه، اودکابل خپرونه او بهرنیو خپرونونه څه اقتباسات.

یادښت: د اماني دورې په پیل کې یې نوم (اتحاد اسلام) و، چې مسؤول مدیر یې عبدالرزاق خان یاد

شوې دی. تر دوو ګڼو وروسته یې نوم په بیدار بدل شو.

## د اماني دورې ځانګړې خپرونې

د اماني دورې د ژورنالیزم یو برجسته توب د اختصاصي خپرونو چاپ و چې په سیاشت او یا فصل کې به یې د زده کړې مطالب خپرول او د خلکو په علمي وده کې یې پوره لاس کاوه له هغې جمله نه.

د خپرونې نوم: **معرف معارف**

د تأسیس کال: ۱۲۹۸ش/۱۹۱۹م د افغانستان د خپلواکې د اعلان سره جوخت. خپرندوی او د امتیاز خاوند: په افغانستان کې د زده کړې بیانوونکې، معارف وزارت.

سرمحرر: محمد حسین او همکاران لکه عبدالهادی داوی. میر غلام محمد غبار او سید قاسم.

د خپرونې ځای او تیراژ: د کابل د ماشین خانې مطبعه، کابل، ۴۰۰ ګڼې. کچه او خپرنې ژبه: ۷X۱۲ سانتي متره وروسته ۱۶X۵ سانتي متره، په جیبي کچه، پښتو او دری.

د خپرونې نوعیت او د چاپ نېټه: میاشتنۍ مجله، حروفي چاپ، تر څلورمې ګڼې پورې، په ۴۸ مخو کې را وروسته په ۶۰ مخوکې، یو ستونه د کتاب په څېر.

د خپرونې د کار پای: ۱۳۰۲/۱۹۲۲

محتوی: علمي او روزنیزې مقالې او د زده کړې تګلارې.

یادښت: دا مجله وروسته بیا د (آیینهء عرفان) په نامه یاده شوه *(مراجعه وکړی)*

د خپرونې نوم: **مجموعهٔ عسکریه**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۰ش لړم/ د ۱۹۲۱ نومبر

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دولت افکار، حربیه وزارت.

سرمحرر: عبداللطیف غونډ مشر، محمد عمر خان غونډه مشر، محمد یعقوب، او محمد اکبر یې په امانیه دوره کې مسؤولیت پر غاړه درلود.

د خپرونې ځای او چاپ شمیره: دار السلطنة مطبعه، کابل، ۳۰۰ - ۱۰۰۰ ګڼې کچه او خپرنې ژبه: ۲۴X۱۵ سانتي متره، پښتو، دری، د خپرونې نوعیت او د چاپ بڼه: میاشتنۍ مجله، او کله هم په دوو میاشتو کې یوځل. لومړنۍ ګڼې یې سنګي چاپ، وروسته حروفي. پوښ یې پنډاو داخلي کاغذیې جلا دار و، مخونه له ۲۵ تر ۵۲ او مصوره چاپیده. د خپرونې د کار پای: ۱۳۰۹ش (۱۹۳۰) د محمد نادر شاه د دورې پیل

محتوی: نظامي مسایل او ځانګړې زده کړې، او هم د جنګ د بدلون او افغانستان د اردو په باب، په نظامي او د وسلو په برخه کې نوښتونه.

یادښت: مجموعه عسکریه د محمد نادرشاه په وخت کې د (اردو) په نامه یاده شوه. *(مراجعه وکړی)*

د خپرونې نوم: مکتب
د تأسیس کال: د ۱۳۰۸ اوری/ د ۱۹۲۹ مارچ
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د معارف خپرنی اورگان، معارف وزارت.
سرمحرر: جلال الدین طرزی
د خپرونې ځای او چاپ شمیره: انیس مطبعه، کابل، ۵۰۰ گنی.
کچه او خپرنی ژبه: ۲۱x۳۰ سانتی متره، دری
د خپرونی نوعیت او د چاپ بنه: پنځلس ورځنی، په دوو مخوکی په حروفی طبع.
د خپرونی د کار پای: د ۱۳۰۸لړم/د ۱۹۲۹ آکتوبر تر پنځلسو گنو وروسته.
محتوی: علمی مطالب، پندونه، ادبی مطالب
یادښت: دا اختصاصی جریده د کابل د مکتبو او مدرسو شاگردانو ته خپریده.
د خپرونې نوم: آیینهٔ عرفان
د تأسیس کال: د ۱۳۰۳ ش جوزا/ د ۱۹۲٤م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: په افغانستان کی د روزنیزو اهدافو بیانګر، معارف وزارت.
سر محرر: د تحریر هیأت، هاشم شایق افندی.
د خپرونې ځای او تیراژ: کابل، د ۳۰۰ او ۵۰۰ گنو ترمنځ. کچه او خپرنی ژبه: ۱۵x۲۰ سانتی متره، په دری ژبه د خپرونی نوعیت او د چاپ بنه: میاشتنی مجله، پنڅه پښتی، داخلی مخونه یی یو ستون، سنگی چاپ:
د خپرونی د کار پای: ۱۳۰۵ش/ ۱۹۲٦م.
محتوی: ادبی، علمی، تاریخی او معلوماتی مضامین او اشعار.
یادښت: په یوه خپرنی کال کی هره میاشت خپریده وروسته له نشر نه پاتی شوه، په ۱۳۰۵ کی یی بیا په کار پیل وکړ مگر تر دری گنو وروسته بیرته ودریده.
د خپرونې نوم: مجموعه صحیه
د تأسیس کال: د ۱۳۰٦ لیندی/د ۱۹۲۷ نوامبر
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د طبی اهدافو بیانوونکی: د افغانسان مستقل طبی مدیریت.
سرمحرر: حسن سلیمی، عبدالرشید لطیفی.
د خپرونی ځای او تیراژ: کابل، ۲۳۰۰ گنی.
کچه او خپرنی ژبه: ۳۳x٤۱ سانتی متره، پښتو او دری.
د خپرونی نوعیت او د چاپ بنه: میاشتنی مجله، سپین کاغذ پنڅه پښتی، ۲٤ مخونه

د خپرونې د کار پای: د ۱۳۰۷ وری/ د ۱۹۲۸ اگست.
محتوی: روغتیایي مقالې، د ناروغتیاو وقایه، د کورنیو روغتیا یې لار ښوونې.

د خپرونې نوم: **اصلاح**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۹ مرغومی/ د ۱۹۲۲ د سمبر.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: دې جریدې د قطغن ولایت د حکمران نایب سالار محمد نادر خان په نوبښت او خپرنې امتیاز په کار لاس پورې کړ.
سر محرر: محمد بشیر
د چاپ ځای او چاپ شمیره: خان آباد، قطغن ولایت، نامعلوم
کچه او خپرنې ژبه: په یوه مخ کې، ۴۰X۲۳ سانتي متره، دري.
د خپرونې نوعیت او د چاپ بنه: نامنظمه، سنګي چاپ او خطاطي د خپرونې د کار پای: ۱۳۰۲ ش تر ۴۸ ګڼو وروسته.
محتوی: اخبار، مقالې او دولتي اعلامې.
یادښت: د محمد نادر خان د دورې اصلاح ورځپاڼې ته دې مراجعه وشي.

## د امان الله خان د دورې آزادې جریدې

د خپرونې نوم: **انیس**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۶ ش د ثور ۱۵ مه/ د ۱۹۲۷ د مې ۵ مه.
خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: غلام محي الدین انیس.

د چاپ ځای او شمیره: انیس مطبعه، کابل، د لومړی ګڼې تیراژ ۴۵ نسخې و (د انیس، د کال کتاب، ۳۲مخ) تر هغې وروسته له ۱۰۰ تر ۵۰۰ نسخې پورته شو، او تر دریمې ګڼې وروسته زرو ګڼو ته ورسید. او د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې ترټولو محبوبه ورځپاڼه ده چې تر ټولو زیاته پلورل کیده د انیس تیراژ په وروستیو کلو کې تر لس زرو پورې ورسید او تر هغې هم لوړشو.

کچه، د چاپ بنه او ژبه: په لومړیو پنځو کالو کې ۲۸X۲۰ سانتي متره له څلورو نه تر دولسو مخو پورې، هر مخ دوه ستونه درلودل. په ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲ کې د انیس کچه ۳۰ X ۴۰ سانتي مترو ته بدلون وموند. او مخونه یې له ۴–۸ پورې وو په ۱۳۳۰/۱۹۵۱ کال یې کچه ۶۰X۸۰ سانتي مترو ته لویه کړای شوه انیس جریده په پیل کې په رفیق مطبعه کې چاپیده. کله یې چې مؤسس یوځه زیاته مالي توانایي تر لاسه کړه، د انیس په شخصي مطبعه کې چاپیده. د نادر شاه په دوره کې دا جریده دولتي کړای شوه ۱۳۱۳ش/۱۹۳۴م او دولت انیس د خپلو اهدافو خپروونکې وباله. انیس د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په

وخت کی ورځپانه شوه، او د افغانستان د دولت خپرنی اورگان وباله شو. دا ورځپانه د کابل په دولتی مطبعه کی چاپیده او ۱۲ مخو ته لوړه کړای شوه.

انیس د محمد موسی شفیق د صدارت پر وخت د هیوادله یوی بلی معتبری ورځپانی اصلاح سره یو ځای کړای شوه اود حکومت په چوکاټ کی "د عامه اړیکو یوه اداره جوړه او تأسیس شوه... دا دوه ورځپانی دیوی ورځپانی په حیث سره مدغم کړای شوی چی په یوه وخت کی په تولو ولایاتو کی توزیع کیده." (۱۵)

"د حکومت تر اداری لاندی خپرنی مؤسسات، د حکومت له مداخلی نه فارغول د شفیق د حکومت د سیاست برخه شوه او د دی هدف لپاره خپرنیو مؤسسو ته نوی اساسنامه تدوین کړای شوه او د اصلاح او انیس ورځپانو ادغام په دی لاره کی لومړنی تجربه وه. نوی ورځپانه د (اصلاح - انیس) په نامه ونومول شوه. ددی ورځپانی نوم ایښودنه یوه حساسه مسأله وه؛ ځکه پاچا محمد ظاهر شاه نه غوښتل اصلاح ورځپانه له منځه ولاړه شی. د(اصلاح - انیس) ډیر مخونه، ډیر تیراژ او ډیر اعلانونه پیداکړل. د هیواد په تاریخ کی د لومړی ځل لپاره یوه ورځپانه په یوه وخت کی په ټول هیوادکی خپریده. د شفیق حکومت، د(اصلاح-انیس) ورځپانی ته پراخه خپرنی ازادی ورکړه خو کمونستانو له دی ازادی نه د حکومت د زوروني او یا چپی داعیی لپاره بده استفاده کوله، چی ددی مطلب په درک کولو سره ورځپانه په یوه سالم چوکاټ کی ولویده. د(اصلاح-انیس) تیراژ له ۲۰۰۰ نه ۸۰۰۰ گنو ته لوړ کړای شو." (۱٦)

بنام خداوند بخشاینده مهربان

**انیس**

روزنامهٔ ملی عصر

موسس غلام محی الدین انیس سال تاسیس ۱۳۰۶

THE ANIS DAILY

چهارشنبه ۷ جمادی الاول ۱۴۲۰ هـ.ق شماره ۳۵ نمبر مسلسل ۱۹۰۸۶

رئیس، هیأت تحریر و همه، کارکنان روزنامهٔ ملی انیس هشتادمین سالگرد استرداد استقلال کشور را به پیشگاه عالیقدر امیرالمؤمنین، شورای سرپرست، اردوی فد اکار امارت اسلامی وکافهٔ ملت غیور افغانستان تبریك وتهنیت عرض میدارند.

# د خپلواکۍ بختور بیرغ د عید ګاه له مبارک جومات نه را پورته شو

د خواره، ګران، انقلابي او تاریخي افغانستان میړنو، ننګیالو، توریالو او سرښندونکو زړورو زامنو هغه ښکلئه د تاریخ په اوږدو کې د آریانا، باختر، خراسان او افغانستان په چوپړ کې چې ښوروکه کلن تاریخي ویاړلري، له مغرور مقدوني، سکندر نه نیولي تر غلګر چنګیز، تر استعمارګر بابر، ترمکار او رنګ، تر اشغالګر انګریز او ترمتجاوز شوروي پورې

چې په زرګونو کالونه آزاد او خپلواک اوسېدلی دی هیڅ ته یې د بل واکي سر ټیټ کړی نه دی، او د بل تر واک لاندې ژوند په زندان حساب او دا غوره بولي چې زموږ اتل او میړني ننګیالي بابا خوشحال خان خټک داسې په غوځه ژبه یاد کړی ده، وایي:

آزادي تر پادشاهیـه لا تیره کا
چې د بل ترحکم لاندې ښي زمان ښ
هو افغانانو نه ترخندو کش او د

دنیا د ښوروالو او غرونو ځخه دا ډېره درنه ده چې د بل تر حکم لاندې اوسي، د لویو غرونو نه لاندې په دې نه د بل د لاس لاندې، بل نه سر ټیټول په افغان او افغانیت کې نشته؛ ځکه سر ټیټول په افغانانو کې لوی شرم او ستر پیغور ګڼل کیږي، له دې نه مرګ غوره او سه یولي افغانان په خپل ګور، کلي او وطن سرورکوي

او داسې میړني چیغه په دې هکله پورته کړي:

بیرغ مې سور په قبر هسک کړی
په شهادت د خپل وطن سرورکومه
هرا

افغانان هغه ننګیالي، توریالي او میړني خلک دي چې د ښوروزمانو او ښو تاریخ په ښوروژ ورو لو ټورګورګل کې یې د سپیني تیري توري په پړه کولو، د ښتو تیر ګیو په

م.م ع



د افغانستان په پلازمېنه (کابل) کې د عید ګاه هغه جومات چې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو بختور غږ ترې پورته شو.

## فریاد مجاهد

بسان موجها در پیچ و تابم
نمی سازم دگر در شام ظلمت
به آتشم حرام باشد اگر من
منم دریای پرموج و خروشی
پرواز من بگو بر آشیانم
نمی نوشم بدان از بادهٔ غیر
سکوتم را درین دوران نبینی

سبك سیر و بلند پرواز عقابم
شوم مهتاب و در ظلمت بتابم
چو خون اندر رگ ملت شتابم
بهر موجش نهنگ باشد به آبم
بهر دشت گرد خورده جوابم
که خود پیمانه و آب شرابم
که من فرزند دور انقلابم

## آزادی

بلبل چمن نغمه سرا گشت دگر بار
از شوق شکرخنده زند غنچه به گلزار
این جوش و خروش و شعف و عشرت و شادی
عشق است که از قلب وطن گشته نمودار
باشد مگر آوازهٔ آزادی ملی میهن
کاین عشرت و شادی بوطن گشت پدیدار
معشوق آزادی زرو پرده برانداخت
کز پرتو نورش بدرخشد رخ کهسار
بر روح فدائی که فدا ساخت سر و جان
در عشق وطن باد دو صد رحمت غفار
در معرکهٔ جنگ دلیرانه در آویخت
خصم ازلی اصلاح رضا داد به ناچار
مردان سلحشور و جوانان وطن خواه
از فرط محبت همه پرمایه و سرشار
سروف ذوگشت نقیب ازره تمکین
تا شاد شود روح نیاکان فداکار



بنای با عظمت طاق ظفر، یاد ایثار گران راه استقلال را زنده نگهمیدارد

سرمقاله

## پر استعمارچیانو د افغانانو د بری رمزونه

پوهان وائي چې د تاریخي پېښو کرونولوجیکي کتنه ددې لپاره ضروري ده چې د حقې د پراختیا ریښوی تواژ نه پري روښانه کیږي او ددې لپاره چې د پېښې ریښې پیدا شي تر هغه به په مجرد ډول نه، بلکې له نورو پدیدو سره په ارتباط کې ترڅېړنې لاندې نیول کیږي.

د پنځه زره کلن تاریخ په بهیر کې افغانان په کراتو کراتو له اجنبي استعمار چیانو او کشورګشایانو سره لاس او پنجې نرمې

۲ مخ

# فرخنده بادهشتادمین سالگرد استرداد استقلال کشورعزیزمان افغانستان

انیس لومړنی آزاد او غیر دولتي ورځپاڼه د افغانستان د مطبعاتو په تاریخ کې

د تأسیس کال: د ۱۳۰۶ ش د ثور ۱۵ مه/ د ۱۹۲۷ د مي ۵ مه.

د داؤود د واکمنی په وخت کی ، (۱۳۵۳-۱۳۵۷) انیس ورځپانه د دولت په معتبر خپرنی اورګان بدل کړای شو. او تیراژ یی لس زروګنو ته ورسید.

انیس په ۱۳۵۷ کال د کمونستی کودتا سره څه موده له نشره پاتی شوه؛ خو څه موده وروسته، بیاهم د نورو نشراتو ترڅنګ د دولت خپرنی اورګان شو او ددی رژیم اهداف، د انیس له لاری هم خپریدل. د ببرک کارمل په وخت کی انیس، د پلار وطنی ملی جبهی د خپرنی اورګان په توګه نوموول شوی وه. انیس د برهان الدین ربانی په وخت کی هم څه موده د څه حوادثو بنکار او له نشره پاتی شوه.

انیس ورځپانه یو کال وروسته بیرته احیا کړای شوه، چی په لږ تیراژ یی د دولتی خپرونو ترڅنګ فعالیت کاوه.

واک ته د طالبانو په رسیدو او د کابل په نیولو سره، انیس د نورو خپرونو ترڅنګ مصادره شو او له نشره پاتی شو؛ خو په ۱۳۷۶/۱۹۹۸ کال یی وروسته بیا د هیواد د مطبوعاتو په تاریخ کی خپله لاره پرانستله او تر اوسه پوری د دولت د خپرنی ارګان په توګه خپریږی.

انیس په نامنظمه توګه او مازی څوګنی دیو شمیر افغانانو له خوا په کلفورنیا کی هم خپریده چی مسؤولیت ئی د دکتور اسد الله شعور او فریده انوری پر غاړه و.

د خپرونی نوعیت او خپرنی ژبه: ورځپانه (په اوونی کی شپږ ځله خپریده) پښتو او دری.

د ورځپانی د کار پای: تر اوسه خپریږی او د هیواد له معتبرو او پخوانیو ورځپانو نه شمیرل کیږی.

محتوی: د انیس محتوی او مطالب پراخ دی او مختلف ابعاد لری او له همغه پیله یی په خپرنی سیاست کی د نظر دا وسعت لیدل کیده. محی الدین انیس په لومړی ګڼه کی د خپلی خپرونی اهداف داسی بیان کړی:

"د انیس اساسی اهداف، د ټولو خلکو او خصوصاً مامورینو د آګاهی لپاره (علمی، قانونی) دروحی او ادبی مطالبو تهیه کول دی" (۱۷)

یوله هغو دلایلو نه چی انیس وکړای شو په ټولنه کی خپله لار پرانیزی، او تر اوسه پوری په هیڅ سیاسی مقطع کی له خنډ سره نه ده مخامخ شوی، په معتدله توګه د حقایقو بیان او متنوع موضاعاتو خپرول دی.

"مؤسس، د امتیاز خاوند، محرر او طابع یی (مرحوم انیس) د همغی ګڼی (لومړنی ګڼه) په سرمقاله کی ولیکل چی: انیس د مطبوعاتو په نړی کی یو نوی زیږیدلی کوچنی دی او غواړی د فراغت په وختو کی ندیم، د کار په ساعتونو کی مرستیال، په ګرانو چارو کی مشاور، په غمجنو حالاتو کی سمیر او لنډه دا چی د عمومو په فکری او عملی ژوندانه کی په ځانګړی توګه مامورینو ته، مؤنس او خدمتګار وی) (۱۸): څکه انیس د ټولو د تفکر او غوښتنو سره سم وکړای شو د خلکو په افکارو کی ځای ولري. او ددی

ورځپاڼې د تیراژ د پورته تګ علت هم، همدا دی.

انیس ورځپاڼه سره له دې چې افغانستان په مختلفو سیاسي دورو کې په مطبوعاتو کې ځای لرلای خو په همغه سیاسي محدوده کې یې هم خبرونه خپاره کړي دي. نسبت تولو خپرونو ته د انیس امتیاز دا دی چې ان سیاسي واکمنو د خپل واک په دوره کې دیوې هر اړخیزې او مطبوعاتو د آزادۍ دبدیل په توګه خلکو ته وړاندې کړې. انیس د امان الله خان په دوره کې د اطلاع، او "پیام" په رسونه کې مهم نقش درلودی دی او دا چې د هیواد د باسوادو کسانو شمیر لږو، انیس د ملت لپاره یو بنه پیغام رسونکې و د انیس محتوی له همغه پیله، د ګټورو اولوستو وړ مطالبو ژباړه، خبرونه او بهرنی نشرات و.

# محی الدین انیس

## یو مظلوم او مبارز ژورنالست

### ژوند

غلام محی الدین انیس د غزنی په مقر ښار کې زیږیدلی دی او په کوچنیوالی کې له خپل پلار سره چې (د سترګو) طبیب و، مصر ته ولاړ، او کورنی یې کسب وکار او سوداګری پیل کړه. وروسته سوداګر (تجارت پیشه) شول. پلار یې هم سوداګری کوله او ایران او مصر ته به یې مالونه وړل او له مصره به یې څه مالونه افغانستان ته راوړل. د انیس د کوچنیوالی دوره د امیر عبدالرحمن خان د واکمنی له دوری (۱۲۵۸ — ۱۲۷۹ ش) سره برابره وه او د عبدالرحمن خان د اختناق او ظلم له لامله چې د اندړو په قوم او مشهور مبارز (ملا مشک عالم) یې وکړل او د اندړو دری زره کورنی د قتل، ظلم او شکنجو لاندې راغلې، د انیس کورنی په مصر کې استوګنه غوره وبلله او همله پاتې شول.

انیس په دې دوره کې په قاهره کې د سید جمال الدین د مکتب له روح او دهغه د مصری شاګردانو له فکر نه زیاته ګټه واخسته او خپلې زده کړې یې په مصر کې پای ته ورسولې.." محی الدین خپل کوچنیتوب او ځوانی له وطن سره په مینه کې په جدایې کې تیر کړ"(۱۹) هغه هڅه کوله چې افغانستان ته ستون شي. "که څه هم د انیس کورنی زیات کلونه په مصر کې تیر کړل؛ خو د وطن عشق او د افغانستان محبت یې په زړونو کې و. پلار یې خپل زوی محی الدین هم د وطن له مینې سره وروزه او د بناغلي شاکر په وینا: "افغانستان یې هغه ته معرفي کړ چې پلرنی وطن یې دی"(۲۰) د امان الله خان په دوره کې په مطبوعاتو کې څه پر مختګونه را څرګند شول او هغه وخت چې محی الدین انیس د وطن د هجران په اورکې سوځیده او دهیواد جریانات یې څارل، محمد اسماعیل افندی د حکومت له خوا مصر ته واستول شو چې یوه مطبعه په مصر کې وپیرې او هیوادته یې راوړي. دا سړی له محی الدین انیس سره اشنا شو او افغانستان ته یې د راستنیدنې د هیلې هرکلی وکړ. (۱۳۰۰ ش/۱۹۲۱م)"(۲۱)

کله چې محي الدين انيس هرات ته ولاړ، مسجد سعدیه (په اتمه هجری پیړی کې د افغانستان نامتو عالم مولانا سعد الدين تفتازانی د تدریس ځای) کې اوسید (اوس په "مسجد غودال" مشهور دی). او همدا راز د هیواد له یوه مشهور لیکوال او ژورنالست سرور جویا سره اشنا شو. او ددی نوسیالی ادیب له محضر نه یې ډیر څه زده کړل. چې له هغی جملې دری ژبه او ادبیات و. ضمناً یې ځوانانو او اهل علم ته د عربی ژبې او اجتماعی علومو تدریس پیل کړ. او همدا رازیې د (ندای طلبهء معارف یا حقوق ملت) په نامه یو کتاب ولیکه چې د هرات په مطبعه کې چاپ شو. دا لومړنی کتاب دی چې په هرات کې چاپ شوی دی. کله چې په ۱۳۰۳ ش کې د امان الله خان په وخت کې د ازادو مطبوعاتو قانون نافذ شو، انیس کابل ته راغی. د (۱۳۰٤ژیې) او په ده افغانانو کې یې د روغن فروشانو په سرای کې استوګنه غوره کړه. مرحوم غلام شاکر د انیس یو پخوانی لیکوال د محي الدين انيس د ژوند لیک په باب لیکي: "د بناغلی محي الدين انيس تولہ پانګه خو جلده کتابونه او عربی مجلې وی. که څه هم هغه په مصر کې دنیا ته سترګې پرانستلې. بنایی د مطالعی او کنجکاوی له لامله یې له خپل هیواد او د هغه له وروسته پاتی توب سره آشنایی پیدا کړی وه نو څکه د هغه هدف د آزادو مطبوعاتو له لاری د قوم ویښتیا وه. د همدی مفکوری پر اساس یې د یوی جریدی د خپرونی تصمیم ونیو او په ډیره لږه پانګه یې چې درلوده، رنګ او کاغذ تهیه کړ او خپله لومړنی ګڼه یې د (انیس) په نامه د تخته دو په کچه د کاربن پیپر په واسطه، خپره کړ."(۲۳)

لومړنی غیر دولتی جریده، د انیس په نامه په کابل کې د ۱۳۰٦ ش د غوبی په پنځلسمه تأسیس شوه. د انیس جریدی محتوی د وطن پالنی ملی احساسات، د هیواد د خپلواکی ساتنه او د تمدن په برخه کې دلویدیځ د نویو اختراعاتو او اکتشافاتو په باب خبرونه وو. انیس د هیواد د وروسته پاتی توب او اداری چارو په باب هم خپرونی کولی.



انیس د خلکو ترمنځ زیات محبوبیت درلود او مسؤول مدیر یې په خپله شخصی پانګه یوه چاپخانه (مطبعه) تأسیس کړی وه.

مرحوم محي الدين انيس پخپله مقالی او خبرونه لیکل او ژباړل یې، بیایې هغه حروفچینی کول او چاپ ته یې سپارل، بیا به یې بازار ته عرضه کول او انیس به یې لاس په لاس پلوره.

د محي الدين انيس دی زیارد خلکو ترمنځ د انیس جریدی د لامحبوبیت لامل شو او تیراژیې ورځ په ورځ زیاتیده. کله به چې انیس جریده له چاپه پاتی شوه، د کابل د سینماګانو په پرده کې به یې خبر خپور شو او خلک به یې خبر کړل.

# انیس

## د اخبار لومړنی مصادره او په افغانستان کې دژورنالست لومړنی محاکمه

د لومړني ځل لپاره انیس د (پاسبان بیدار خواب) په نامه د یوې انتقادي مقالې په خپرولو چې د (س-دین) په قلم لیکل شوې وه د ۱۳۰۷ کال د ورې په ۲۱ مه مصادره او له خپرونې پاتې شوه. دې مقالې چې پردولتي د ستګاه او پولیسو پکې ډېر کلک انتقاد شوی ؤ د کابل امنیتي او اداري مامورین په غوسه کړل او امان الله خان ته یې شکایت وکړ او د اخبار د مسؤول د محاکمې غوښتنه یې وکړه. د کابل امنیتي مامورین چې د مطبوعاتو له انتقادي تګلارې سره بلدنه وو، د انیس دا انتقاد یې د کینې له مخې وګانه؛ د انیس اداري ته ولاړل، د محي الدين انيس متې یې وتړلې مطبعې او دفتر و دیوان ته یې کولپ (قفل) واچادو او مهرولاک یې کړل.

خلک د دولت له دې عمل نه په خبریدو سره د محي الدين انيس په پلوی پاځیدل او دښار په لارو کوڅوکې یې په مظاهرو لاس پورې کړ چې زیاتره یې د دولت مامورین او روښانفکران وو. د سلطنت وکیل له خلکو بخښنه وغوښته او انیس یې له زندانه خوشې کړ. انیس د اخبار په ۲۸ مه ګڼه کې له خلکونه مننه وکړه.

په حقیقت کې دې اقدام، له انیس سره د خلکو اړیکې ټینګې کړې او له هغې نیټې وروسته یې دیوې اولسي او نوښتګرې خپرونې په توګه د آزادۍ زمینه ورته مساعده کړه.

انیس جریده په اماني دوره کې ډېر حساس او ښه موقعیت درلود، او دولتي مامورینو به په ښکاره او پټه ددې خپرونې په مالي بنیه کې مرستې کولې.

د حبیب الله کلکاني په دوره کې، زیاترو خپرونو خپل نومونه بدل کړل؛ د آزادو مطبوعاتو نافذ شوی قانون یې اعتباره کړای شو او غیر دولتي خپرونې له هغې جملې نه انیس هم بند شو. اروابناد محي الدين انيس په دې دوره کې دیوې لنډې مودې لپاره د (حبیب الاسلام) د دولتي جریدې مسؤول مدیر شو او څه وخت هم له کاره ګوښه کړای شو. انیس چې په افغانستان کې د روښانفکرۍ او مشروطیت له دا عیونونه و، پکتیا ته ولاړ او هلته یې د ګستنتر په واسته خپلو خپرونو ته دوام ورکړ.

د محمد نادر شاه د واکمنۍ پروخت، انیس ونشو کړای په مطبوعاتي چارو کې ارت مټ ولري او ددې جریدې خپرونې د نادر شاه د سیاسي لوبو د لاس آله شوې.

انیس د نادر شاه د سلطنت په لومړیو وختو کې د انیس سازي څو ګنې خپرې کړای شوې، چې هر ځل تر سیاسي فشار لاندې ونیول شو او دولتي مامورینو د انیس د انتقادونو زغم نه درلود. واقعیت دا و

چې د حکومت تکلاره او د نادر شاه د دوری سیاستونه، دکتاتورانه او آمرانه وو چې پاچا او مصاحبانو یې د مطبوعاتو له انتقاد او حتی د مطبوعاتو د قانون په چوکات کې له مطبوعاتو ویره درلوده. انیس جریده ودرول شوه او د افغانستان مظلوم مبارز ژورنالست محی الدین انیس زندان ته واچول شو.

نادر شاه، انیس دامانیه دورې یو سفکوروی ځوان باله او نه یې شو کولای پرې باور وکړي او د مطبوعاتي فعالیتو لپاره اجازه ورکړي. بله دا چې محی الدین انیس څه موده د حبیب الله کلکاني په دوره کې د دولت د نشراتي اورګان (حبیب الاسلام) مسؤول مدیرو. تر ټولو مهمه دا چې محی الدین انیس د آزادی او وطن دوستی دروحیې په درلودلو سره، انتقادی قلم درلود، چې د نادر شاه د دولت کلیدی افرادو ته دزغم وړنه و.

کله چې د نادر شاه لویې جرګې (ملي انتصابي شورا) د دولت اساسي اصول تصویب کړل. د مطبوعاتو آزادي یې له منځه یوړه او شدید قیود یې پرې ولګول.

د کابل با سواده او روښانفکره خلک په دوو ډلو – محافظه کارانو او انقلابیونو یشل شوي وو، لومړنی ډله د نادرشاه له دولت سره په سازش کې ووه او دویمې ډلې د دکتاتورانه او ضاع له لاسه د محی الدین انیس له حقوقو د دفاع جرأت نشوای کولای. د انیس میرمن (دګدا محمد خان) لور د کابل (مراد خاني) او سیدونکې له یوه زوی او یوی لور سره یې سرنوشته او فقیرانه ژوند تیراوه او زوی ته یې د وخت د حکومت له خوا اجازه نه وه ورکړل شوې چې تحصیل او زده کړه وکړي؛ ځکه هغه د محی الدین انیس زوی و او د زده کړې حق یې نه درلود. د هغه یو دوست وا انیس غوښتل په زندان کې هم افغانستان ته خدمت وکړي؛ خو د ژوند تر وروستیو ورځو پورې په زندان کې ولچک او زولانه و. (۲۴)

محی الدین انیس په زندان کې په سل (توبرکلوز) ناروغی اخته شو خو بیا هم له زندانه پرې نه ښودای شو. دولت، د عامه اذهانو د غلی کولو په خاطر، د انیس جریدې امتیاز په دولت پورې وتاړه، او د دولتي خپروني په توګه یې په کار پیل وکړ.

با نشاطه او پرکاره ژورنالست اود هیواد د مطبوعاتو د تاریخ مظلوم مبارز محی الدین انیس د ظاهر شاه د پاچاهی په زمانه کې چې تره یې محمد هاشم خان صدراعظم و، په زندان کې ساه ورکړه (۱۳۱۷ش/۱۹۳۸م) (یادبې تل او لاربې له لارویو ډکه اوسه) دولتي ماموړینو د هغه جسد نامعلومې هدیرې ته یوړ او د ابهام او جوپتیا په حالت کې یې خاورو ته وسپاره.

د افغانستان یو معاصر لیکوال د انیس د ژوند لیک په باب د (روزنامه نگاری که قلمش را شمشیر ساخته بود) تر سرلیک لاندی لیکي:

"که اوس د انیس له یوازني زوی نه وپوښتل شي، چې پلار دې څه دول وفات شو؟ ژاړي او وایي نه پوهیږم. که وپوښتل شي چې کله وفات شو، ژاړي او وایي چې نه پوهیږم وکه بیا ترې وپوښتي چې د پلار قبر دې چیرته دی؟ بیاهم ژاړي او وایي چې نه پوهیږم او که ترې وپوښتل شي چې پلار دې چیرته وفات

شو؟ په غمجن حالت او په پرله پسې ژړا به درته ووايي چې په زندان کې، په زندان کې، په زندان کې...»(۲۵)

يو شمير مؤرخين په دې عقيده دي چې هغه يې د حبيب الله کوهدامني سره د همکارۍ په نسبت په زندان کې له منځه يوړيا له منځه ولاړ.(۲۶)

بل ليکي چې: "هغه، هغه مسلول و چې په استبدادي زندان کې يې بې غږه غوره ساه ورکړې وه او د همدې استبداد له ويرې و چې چا د دې باهمته او بادرايته ژورنالست د ژوند په باب څه ونه ويلای شول."(۲۷)

په ۱۳۳٤ش/۱۹۵۵م کې د لومړي ځل لپاره، د محي الدين انيس د ژوند په باب په انيس ورځپانه کې په لنډو څه وليکل شول او د انيس د کال کتاب په دولتي مطبعه کې چاپ شو، خو د هغه د ژوندانه واقعيتونه په کامله توګه پکې نه وو بيان شوي.

## د محي الدين انيس آثار

### ۱ – ندای طلبه معارف يا حقوق ملت

دا کتاب د امان الله خان د امنيې د وزير شجاع الدوله په تشويق چې هغه مهال د هرات نايب الحکومه هم و د هرات په دانش مطبعه کې چاپ شو. د کتاب سال اهيس د ليکوال محمد بشير رفيق په وينا: "د هغه کامله خطي نسخه د حاجي شمس الدين خان کتاب پلورونکي له ورثې سره موجوده وه"(۳۰) ندای طلبه کتاب په حقيقت کې يو تولنيز رسان دی چې د آزادۍ او قانون په باب يې بحث کړی دی او دا د تولو هغو روښانفکرانو چې له بهرني نړۍ سره يې آشنايي درلوده، غوښتنه وه. د امير حبيب الله خان په دوره کې زياتره مشروطه خواهان د قانون او آزادۍ چې محي الدين انيس پخپل کتاب کې ذکر کړې و، غوښتونکي؛ وو خو هغوی د دې قانون او آزادۍ په جرم زندان ته واچول شول او په ګولۍ وويشتل شول. په هرات کې د محي الدين انيس د اقامت کفاره هم هيڅکله وژل او زندان نه و چې ورسره مخ شو."(۳۱)

### ۲- بحران ونجات

دا د مرحوم انيس بل کتاب دی چې د اماني دورې د وروستيو پيښو، حبيب الله کلکاني د ورې، د اغتشاش پيل او هم په افغانستان کې د بل سياسي نظام د منځ ته راتګ د زمينې په باب بحث کوي.

## د انيس سر محرر او مسؤولين

### له پيله د طالبانو تر دورې پورې

انيس ورځپانه چې تر اوسه د افغانستان د مطبوعاتو په تاريخ کې ارزښتمن مقام لري، د هيواد يو شمير

برجسته ژورنالستانو یې د خدمت مسؤولیت پرغاړه درلود چې د لاس ته راوړلو مأخذونو له مخې یې سر محرران او مسؤولین له پیله د محمد داوود خان د جمهوریت د دورې تر پایه پورې په لنډه توګه بیانوم:

۱- محی الدین انیس، مؤسس، مسؤول او د انیس د ملي ورځپاڼې د امتیاز خاوند. ۱۳۰۶-۱۳۰۸ش ۱۹۲۷/۱۹۳۰م.

۲- مرحوم غلام سرور جویا د انیس ورځپاڼې دویم مسؤول مدیر.

۳- مرحوم استاذ عبدالرشید لطیفي چې دوه ځله د انیس د مسؤولیت او لیکوالۍ مسؤولیت ورسپارل شوی دی یوځل په ۱۳۱۹ش او بل ځل په ۱۳۳۹-۱۳٤۱ش/۱۹٦۰-۱۹٦۲م.

٤- سناتور محمد امین خوګیاني له ۱۳۱۱-۱۳۱۹ش/۱۹۳۱-۱۹٤۰م د انیس مسؤول مدیر و.

٥- محمد عثمان صدقي د انیس د امتیاز خاوند او لیکوال له ۱۳۲۲-۱۳۲٦ش/۱۹٤۳-۱۹٤۷م.

٦- محمد هاشم میوند وال د انیس مسؤول مدیر او د امتیاز خاوند چې د هغه دکار په وخت کې د ژوندون، مجله هم د ده په ابتکار تأسیس شوه. ۱۳۲٦-۱۳۲۸ش/۱۹٤۷-۱۹٤۹م.

۷- محمد یونس حیران مسؤول مدیر له ۱۳۲۸ش-۱۳۲۹ش/۱۹٤۹-۱۹٥۰م.

۸- محمد نجیم آریا د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر له ۱۳۲۹-۱۳۳۲ش/۱۹٥۰-۱۹٥۳م.

۹- محمد خالد روښان مسؤول مدیر له ۱۳۳٦-۱۳۳٦ش۱۹٥۳-۱۹٥۷م.

۱۰- محمد قاسم واجد مسؤول مدیر له ۱۳۳٦-۱۳۳۸ش/۱۹٥۷-۱۹٥۹م.

۱۱- محمد ابراهیم عباسي چې دوه ځله یې د محمد ظاهر شاه او بوځل د محمد داود خان په وخت کې د انیس ورځپاڼې د نشراتو د ریاست دنده پرغاړه درلوده.

۱۲- صباح الدین کشککي، هغه مهال چې استاذ لطیفي د انیس د ورځپاڼې آمریت پر غاړه درلود، صباح الدن کشککي دځه وخت لپاره ددې ورځپاڼې مسؤول مدیر وټاکل شو. په ۱۳۳۹/۱۹٦۰کې.

۱۳- عبدالحمید مبارز مسؤول مدیر په ۱۳۳۹/۱۹٦۰کې.

۱٤- سید خلیل مسؤول مدیر په ۱۳٤٤/۱۹٦٥کې.

۱٥- محمد شفیع رهګذر مسؤول مدیر، د ظاهر شاه د واکمنۍ د دورې وروستی مسؤول مدیر ۱۳٥۲ش/۱۹۷۳م.

۱٦- دکتور محمد آصف سهیل د انیس د نشراتو رئیس د ۱۳٥۲ د چونګاښ د ۲٦ مې نیټې له کودتا نه د همغه کال تر پایه پورې (۱۹۷٤).

۱۷- محمد ابراهیم عباسي رئیس او مسؤول مدیر له ۱۳٥۳-۱۳٥٥ش/۱۹۷٤/۱۹۷٦م.

۱۸- سرشار روښني رئیس او مسؤول مدیر له ۱۳٥٥ د ۱۳٥۷ د ثور تر اومې ۱۹۷٦-د۱۹۷۸ د اپریل تر ۲۸مې نیټې پورې.

## د ۱۳۵۷ د ثور د اوومې تر کودتا وروسته

۱۹- علي گل پیوند د ۱۳۵۷ د ثور له اوومی د ۱۳۵۸ د جدی تر شپږمې نېټې پورې د تره کي او امین په کمونیستي دوره کې د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۸ مه - ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷ مه.

۲۰- محمدزمان مومند د ۱۳۵۸ له جدی نه تر ۱۳۷۱ ش (د روسي قواو د حضور پر وخت) د ۱۹۷۹ د دسمبر له ۲۷ نه د ۱۹۹۲ تر فروري پورې.

۲۱- د نجیب په دوره کې جلال نوراني او محمد اسماعیل محشور.

## د استاد برهان الدین رباني په دوره کې

۲۲- فضل الرحمن فاضل له ۱۳۷۲-۱۳۷۵ ش/۱۹۹۳-۱۹۹۶م.

*یادښت: فضل الرحمن فاضل په پیل کې د یو څه مودې لپاره د دغې ورځپاڼې چارې پرمخ بېولې خو د ۱۳۷۲ ش له وروستو میاشتو نه د ۱۳۷۵ کال د میزان تر پنځمې نېټې پورې چې طالبانو کابل ونیو، بناغلی غلام رسول قرلق ددې ورځپاڼې رئیس او مسؤول مدیر و. په دغه دوره کې چې قرلق د ورځپاڼې رئیس او مسؤول مدیر و ما ورسره ډېره لږه قلمي همکاري هم کړې ده (ژباړن فایض)*

## د طالبانو د واکمنې پروخت

۲۳- طالب العلم خادم احمد حقیقي:

د خپروني نوم: پښتون ږغ

د تأسیس کال: د ۱۳۱۷ ش زمری/ د ۱۹۲۹ آگست.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: په پیل کې نامعلوم، وروسته تر هغې چې د مطبوعاتو په مستقل ریاست پورې وتړل شوه، د رادیو افغانستان د اهدافو خپروونکې.

مسؤول مدیر: فیض محمد ناصري، میر سید قاسم، عبدالهادي داوي، محمد یوسف آیینه، ناصر طهوري.

د خپروني ځای او تیراژ: (افغان) مطبعه، کابل، وروسته دولتي مطبعه د ۵۰-۱۰۰ ټوکو پورې. د محمد ظاهر شاه او محمد داؤد په زمانه له ۱۰۰۰ - ۲۵۰۰ ټوکه.

کچه او خپرني ژبه: په پیل کې ۱۵X۲۱ سانتي متره، په ۱۳۴۰ ش/۱۹۶۰م کې ۲۱X۳۰ سانتي متره، پښتو او دري.

د خپروني نوعیت او د چاپ بڼه: په پیل کې پنځلس ورځنی مجله، وروسته میاشتنی مجله، د داوود خان د جمهوریت په وخت کې بې پنځلس ورځنی مجلې ته ارتقا وکړه. په پیل کې په توره او سپینه کاغذی پښتي په ۲۰ مخو کې د ظاهر شاه په دوره کې له رنګه پښتي سره له ۲۰-۳۰ مخو پورې او د داوود په دوره کې بې پنځوسو ته ارتقا وکړه.

د خپروني د کار پای: په ۱۳۵۴ ش/۱۹۷۵م بې خپل نوم په (آواز) بدل کړ. محتوی: ادبي، هنري، سینمایي

مقالې، اشعار، لنډ داستانونه، نقدو تیاتر او همدا راز راډیویي پروګرامونه.

د خپرونې نوم: **افغان**

د تأسیس کال د ۱۲۹۹ د چونګابن ٤مه/ د ۱۹۲۰ د جون ۲۵مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: په پیل کې یې ځان آزاد معرفي کاوه وروسته دولتي اورګان شو.

مسؤول مدیر: محمد جعفر کندهاري، پاینده محمد فرحت.

د خپرونې ځای او چاپ شمیره: کابل، له ۵۰ – ۱۰۰ ګنې.

کچه او خپرنې ژبه: ۲۱X۳۲ سانتي متره، دري پښتو.

د خپرونې نوعیت او د چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده، اوونیزه په دوو مخوکې او هر مخ درې ستونه، په سنګي چاپ او خطاطي د خپرونې د کار پای: ۱۳۰۷ش/۱۹۲۹م هغه مهال چې د امان الله خان پر خلاف پیل شوی قیام کابل ته ورسید.

محتوی: علمي، څېړنیزې مقالې، اخلاقي مضامین، اشعار او د امان الله خان بیانیې.

د خپرونې نوم: **نسیم سحر**

د تأسیس کال: د ۱۳۰٦ د سلواغې ۷مه/ د ۱۹۲۸ د جنوري ۲۵مه.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: نه دی ذکر شوی

سرمحرر: احمد راتب باقي زاده.

د خپرونې ځای او تیراژ: کابل، نامعلوم تیراژ.

کچه او خپرنې ژبه: ۲۲X۳۵ سانتي متره، دري.

د خپرونې نوعیت او د چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده، په دوو مخوکې هر مخ په دوو ستونوکې، د نسیم سحر دوه وروستۍ ګڼې څلور مخیزه وې.

د خپرونې د کار پای: د ۱۳۰۷ش جوزا/د۱۹۲۸مې.

محتوی: مقالې، ادبي مضامین، د بهرنیو جرایدو نه ژباړې، نقد او دورځې تولنیز مسایل.

یادښت: د جریدې د انتقادي روحیې له لامله دویمه ګڼه یې چې د اماني دولت له خوا مصادره او له چاپه پاتې شوه، مسؤول مدیر یې محاکمه شو.

د خپرونې نوم: **نوروز**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۷ د زمرې لومړۍ نیټه:/د۱۹۲۹ د جولای ۲٤مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: نه دی ذکر شوی.

سرمحرر: محمد نوروز، میرزا میر غلام.

د نشر ځای اود چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده، د ۲–۱۰ مخو پورې د خپرونې د کار پای: د ۱۳۰۷ د

لیندی ۱۵ مه/د۱۹۲۹ د دسمبر ٦ مه. توله (۹) گڼې خپره شوه.
محتوی: د دې جریدې مطالب دعادی خلکو د پوهې له سطحې نه لوړوو او علمي، اسلامي، فلسفي او تحلیلي مضامین به پکې خپریدل چې د تجدد (نوښتتوب) د فکر په سیوری کې به پکې د ورځې تولنیز مسایل خپریدل.

## د اماني دورې ژورنالستان

### جویا/ سرور

جویا د افغانستان له بنسټگرو ژورنالستانو نه دی. نو موړی په ۱۲۷۷ش/۱۸۹۸م کال په کابل کې زیږیدلی دی. نوموړی د افغان-انگلیس په دریمه جگړه کې په کندهار محاذ کې دیوه نظامي په توگه له هیواده دفاع وکړه. د امان الله خان په وخت کې په کابل د فرهنگي هیأت غړی وټاکل شو او یو ځل بې د افغانستان له فرهنگي هیأت سره مسکوته سفر وکړ. سرور جویا په هرات کې د غلام محی الدین انیس لپاره د دری ژبې او ادبیاتو استاد و او همدا راز یې په هرات کې دانش مطبعه تأسیس کړه.
په ۱۳۰۷ش/۱۹۲۸م د (اتفاق اسلام) د ورځپاڼې مسؤول مدیر وټاکل شو وروسته د کابل د ادبي انجمن مسؤول وټاکل شو، وروسته په کابل کې د روښانفکرانو د خوځښت پر وخت زندان ته واچول شو او په ۱۳۲۵ش/۱۹٤٦م له زندانه پریښودای شو. په ۱۳۲۸ش/۱۹٤۹م کال له یو شمیر روښانفکرانو سره د (وطن) گوند غړی شو. چې دویم ځل په ۱۳۳۱ش/۱۹۵۲م کال زندان ته واچول شو او یو ولس کاله بې په زندان کې تیر کړل او په ۱۳٤۱ش/۱۹٦۲م کې بې له نړۍ نه سترگې پټې کړې.

### خوگیانی/محمد امین

محمد امین خوگیانی زموږ د هیواد له زړه ورو ژورنالستانو نه دی. نوموړی په ۱۲۷۸ش/۱۹۰۰مکال د ننگرهار د خوگیانیو په (کناباد) کې زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې بې له خپل عالم پلاره سرته ورسولې او وروسته بې بیا د خپلې سیمې له مشهورو علماو نه زده کړه وکړه. تر هغې وروسته بې د لاهور په نعمانیه اسلامي کالج کې د صرف، نحوی منطق، اخلاق، فقهي، اصول، تفسیر، او حدیثو زده کړه وکړه او د تجوید، عروض، کلام او ادب په باب بې هم څه مطالعې وکړې د تحصیل تر فراغت وروسته له ۱۲۹۹-۱۳۰۳ش/۱۹۲۰-۱۹۲٤م د خوگیانو په (شجاعت) ښوونځي کې د سرښوونکي په توگه وظیفه اجرا کوله.
په ۱۳۰۵ش/۱۹۲۷ کې بې د ننگرهار د مطبوعاتو او اتحاد مشرقي د مرستیال په توگه کار وکړ. وروسته بیا تر ۱۳۰۸ش/۱۹۲۹م پورې ددې جریدې مسؤول مدیر و. د حبیب الله کلکاني په وخت کې په

کورکینولی شو. د محمد نادر شاه د سلطنت په پیل کی د (اصلاح) جریدی مسؤول مدیر وټاکل شو او په ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱م د انیس مسؤول مدیر وټاکل شو. په ۱۳۱۹ش/۱۹۴۰م د مطبوعاتو د مستقل ریاست مشاور شو او بیا یوکال د عدالیی وزارت معین و. له ۱۳۲۷-۱۳۲۹/۱۹۴۸-۱۹۵۰ پوری د تمییز دعالی محکمی رئیس شو. په ۱۳۴۹ش/۱۹۷۰م د مشرانو جرګی انتصابی غړی و په ۱۳۶۴ش/۱۹۸۵م په کابل کی د اتیاکالو په عمر وفات شو.

## د خوګیانی آثار

۱- حیات سید جمال الدین (لومړی توک)
۲- د سید جمال الدین د تاریخ الافغان پښتو ژباړه.
۳- حیات سید علی ترمزی
۴- د قضا تاریخ
۵- د پښتونولی خبری؟ (په هیواد کی د ازادی غوښتنی په اړه)

## داوی/عبدالهادی

د افغانستان د مشروطیت د دوری له مخکښو ژورنالستانو نه دی. داوی د عبدالاحد خان زوی دی چی پلار یی د عبدالرحمن خان طبیب و، نوموړی د کندهار له اوسیدونکو نه و چی هغه مهال کابل ته راغلی و. عبدالهادی داوی په ۱۳۷۴ش/۱۸۹۵م کال د کابل په باغ علیمردان کی زیږیدلی دی او خپلی زده کړی یی تر رشد په درجی پوری په حبیبیه لیسه کی پای ته رسولی دی.

نوموړی د امان الله خان د دوری له نوميالیو ژورنالستانو نه و د (امان افغان) مسؤول مدیر و. نوموړی د حبیب الله خان په دوره کی د عبدالرحمن لودین د دوستی اود مشروطیت د روښانفکری له داعیی سره د تړاو په جرم زندان ته واچوال شو چی دامان الله خان په وخت کی له زندانه پریښودای شو.

په ۱۳۰۰ ش/۱۹۲۱م په لندن کی د افغانستان د وزیر مختار او وروسته په امانیه دوره کی د سوداګری وزیر و. کله چی محمد نادر شاه واک ته ورسید، داوی یو ځل بیا د امان الله خان د پلوی په تور زندان ته ولیږل شو. په ۱۳۲۵ش/۱۹۶۴د محمد ظاهر شاه د واکمنی پروخت له زندانه پریښودای شو او په اندونیزیا کی د افغانستان دسفیر په توګه وټاکل شو. د ظاهر شاه د مشروطیت په دوره کی یی د مشرانو جرګی د رئیس په توګه کار وکړ او د ۱۳۶۱ د زمری په ۲۷مه/د ۱۹۸۲م د اګست ۱۸مه په کابل کی وفات شو.

## د داوی آثار

۱- کلیات داوی د اشعارو مجموعه

۲- تجارت شمالی
۳- آثار اردوی محمد اقبال لاهوری
٤- لالی ریخته (د یو شمیر مشهور شاعرانو د منظومو آثارو ژباړه)
٥- عبرت نامه (له ترکی نه په دری ژبه دیوه اخلاقی کتاب ژباړه)
٦- حافظ شیرازی (ژوند او اشعار)
۷- مقالات خطابات
۸- حیات در مصر
۹- زما رسول پاک (له اردو نه په پښتو ژبه ژباړه)
۱۰- مجموعه پریشان (اشعار داوی)
۱۱- پښتو او نوری ژبې.
۱۲- د پښتو تاریخ او آینده.
۱۳- رجال وطن
١٤- پښتو اشعار
۱٥- غیاصه (پښتو منظلوم اثر)

## غبار غلام محمد

غبار د افغانستان له هغو ژورنالستانو او مؤرخینونه و چې، خپل ټول عمر یې د هیواد ملي ګټو ته وقف کړ او پرله پسې زندانونه یې ولیدل. هغه د روښانفکرانو او تجدد غوښتونکو د حلقې یو مهم غړی و چې په افغانستان کې د مشروطه نظام غوښتونکی و. غبار په ۱۲۷٦ش/۱۸۸۹م د کابل په لاهوری دروازه کې وزیږید او د محبوب خان کابلي زوی دی. په دیارلس کلنۍ کې یې مورمړه شوه او لږ وروسته یې پلار هم له لاسه ورکړ. څه موده یې په بدخشان کې له خپل تره سره تیره کړه او یو کال وروسته د ځوانۍ په پیل کې کابل ته ستون شو. غبار ژورې مطالعې او څیړنې پیل کړې. کله چې امان الله خان واک ته ورسید، ژورنالیزم ته یې مخه کړه او د حسیني په تخلص یې په جبل السراج کې د (ستاره، افغان) په خپرولو پیل وکړ. ددې خپرونې تر مصادره کیدو وروسته یې دیر کلونه د دولت په مختلفو پوستونو کې کار وکړ. او په ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱م د کابل د ادبي انجمن غړی شو.

غبار په ۱۳۲۸ش/۱۹٤۹ کال د اولسي جرګې په اتمه دوره کې د وکیل په توګه وټاکل شو؛ خو په وروستي دوره کې ناکام شو او د دولت له خوا زندان ته واچول شو چې اته کاله یې په زندان کې تیر کړل. په ۱۳٥٦ د سلواغې په شپاړسمه/د ۱۹۷۸ د جنوری پنځمه دور پیښې ناروغۍ له امله وفات شو او په

شهدای صالحین کې خاورونه وسپارل شو.

## د غبار آثار

۱- افغانستان و نگاهی به تاریخ آن.
۲- افغانان در هندوستان (دکابل مجلې له لومړي نه تر نهمې ګڼې) ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲م.
۳- تاریخ مختصر افغانستان (از اوستا تا قرن بیست)
٤- احمد شاه بابای افغان، کابل مطبعه، ۱۳۲۲ش/۱۹٤۳م.
٥- خراسان، د انجمن تاریخ چاپ، کابل ۱۳۲٦ش/۱۹۷٥م.
٦- امرای محلی افغانستان، په آریانا مجله کې چاپ، لومړی کال له لومړي ګڼې، تر ۱۲ سې او دویم کال: له ۳-۷ ګڼې پورې.
۷- تاریخ افغانستان (د اسلام له ظهوره د طاهریانو تر سقوطه، د انجمن تاریخ چاپ، کابل ۱۳۲٦ش/۱۹٤۷م.
۸- تاریخ افغانستان دریم ټوک
۹- تاریخ قرون اولی (درسی کتاب)
۱۰- افغانستان به یک نظر، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۲٦ش/۱۹٤۷م.
۱۱- ادبیات دورهء محمد زایی ها، د معارف د مطبعی چاپ، کابل، ۱۳۳۱ش/۱۹٥۲م.
۱۲- افغانستان در مسیر تاریخ، د کابل مطبعي چاپ، ۱۳۲٦ش/۱۹٦۷م. (داکتاب په زندان او تر هغه بهر د غبار د ۲٤ کلنې څېړنې محصول دی.

یادښت: د افغانستان در مسیر تاریخ دویم جلد چې په ۱۹٦۷ کې تکمیل شوی په ۱۳۷۸ش/۱۹۹۹م کې لومړی دهغه د زوی حشمت خلیل غبار له خوا د امریکا په متحده ایالاتو او بیا په پېښور کې د دار النشر خپرني مؤسسې له خوا تکثیر شو چې د نادري کورنۍ د ظلمونو له بوږنوونکو داستانونه ډک دی. دی کتاب له همدې لامله د هغه په ژوند د نادري کورنۍ د واکمنې پر وخت د چاپ حق نه درلود او د غبار تر مرګ ۲۲ کاله وروسته چاپ شو. (ژباړن)

## کشککی/ برهان الدین

د افغانستان له مشهور و او مبارزو لیکوالو او ژورنالستانونه و. چې په ۱۲۷۱ش/۱۸۹۲م د ننګرهار ولایت دسره رو د اولسوالي په کشکک کلي کې زیږیدلی دی. نوموړی لومړنی زده کړې له خپل عالم پلار نه وکړې. په اته کلنۍ کې هند ته روان شو او د هغه هیواد په مختلفو مدرسو کې یې زده کړه وکړه او د بمبئی له (هاشمیه) مدرسې نه یې خپل بریالیک ترلاسه کړې.

کله چې کشککی له هنده بیرته هیواد ته ستون شو څه موده یې په کشکک کې داماست او تدریس دنده پرغاړه واخسته. له ۱۲۹۹-۱۳۰۲ش/۱۹۲۰-۱۹۲۳ د(اتحاد مشرقی) جریدې مسؤول مدیر و. وروسته په کابل کې د (امان افغان) جریدې معاون شو. څه وخت هم د امانیه دربار د تحریراتو او سوانحو مسؤول و. د حبیب الله (دسقاو زوی) په دوره کې د حبیب الاسلام جریدې مسؤول مدیر. د محمد نادر خان په وخت کې د دار التحریر شاهی مامور و.

له ۱۳۱۰-۱۳۱۸ش/۱۹۳۱-۱۹۳۹ د اصلاح مسؤول مدیر و په ۱۳۱۹/۱۹۴۰م کې د معارف وزارت د ښوونې او روزنې رئیس او د (عرفان) د ځانګړې مجلې مسؤول مدیر و.

په ۱۳۲٦ش/۱۹٤۷ د دولتي مطابعو مدیر و.

د ۱۳۳۲ د جدی په پنځلسمه/د ۱۹۵٤ د جنورۍ پنځمه د دماغي ناروغي له لامله د ننګرهار په کشکک کې وفات شو.

## د کشککي آثار

۱- د قرآنکریم ترجمه او تفسیر (د نورو علماو په همکارۍ)

۲- نادر افغان (ژوند لیک)

۳- رهنمای قطغن و بدخشان

٤- پټه مینه (پښتورسان)

٥- رویداد های لویه جرګه دار السلطنة

٦- شعر العجم له اردو نه پښتو ته د علامه شبلي نعماني د اثر ژباړه.

۷- په پټه، د پټو پلټنې په پښتو ژبه د فرانسوي ناول ژباړه.

۸- سیرة النبي (صلعم) پښتو ژباړه لومړی او دویم ټوک.

۹- دیباچه تحفة الایمان في سیرة النعمان له اردو نه په پښتو ژبه د حضرت امام اعظمؒ ژوند لیک.

۱۰- معارف وزارت ته مختلف درسي کتابونه.

## لودین، عبدالرحمن

د افغانستان یو انقلابي او شوره پښتي ژورنالست و چې له تولنیزو ستونزو سره یې مبارزه کوله. نوموړی په ۱۲۷۲ش/۱۸۹٤م په کابل ښار کې وزیږید او زده کړه یې تر (رشدیه) درجې پورې په حبیبیه لیسه کې پای ته ورسوله. له عربي، اردو، ترکي او انګلیسي ژبو سره یې اشنایي درلوده. تر فراغت وروسته یې په (سراج الاخبار افغانیه) کې د محرر په توګه کار وکړ او د هغې دورې د روښانفکرانو او پوهانو په حلقه کې یې مطبوعاتي فعالیتونه پیل کړل، چې محمود طرزي او عبدالهادي داوي له هغې جملې نه

دی.

د لودین اشعار د (افغان) په مستعارنامه په مطبوعاتو کې چاپېدل. هغه د امیر حبیب الله خان د کرنلاری مخالف و او د احتجاج په توګه، کله چې هغه د خپل موټر په سپرلی له پل خشتي نه تیریده، پر هغه د تومانچې ډزې وکړې. هغه د خپل دغه ناکام احتجاج په پای کې ونیول شو او د روښانفکرانو له یوې ډلې سره چې دمشروطیت په غورځنګ کې یې مهم نقش درلود، زندان ته واچول شو.

کله چې امان الله خان سیاسي واکمنۍ ته ورسید، لودین له زندانه پریښودای شو او د (امان افغان) د همکار په توګه مقرر کړای شو. وروسته د اساسي قانون د کمیسیون غړی شو او هم یې په نړیوالو اړیکو کې دیوه فرهنګي سیاسي غړي په توګه کار وکړ. څه موده یې د کندهار د ښاروال په توګه دنده سرته ورسوله، څه موده دکابل د ګمرک رئیس و.

د حبیب الله کلکاني په دوره کې لودین بیا زندان ته واچول شو. کله چې محمد نادر خان واک ته ورسید، کابل ښار وال شو، خو تر لږې مودې وروسته د امان الله خان د ملګرې په تور په کابل ارګ کې د محمد نادر شاه د جلادانو په واسطه ووژل شو.

## محمد حسین

ددې دورې یو مشهور ژورنالست دی. نوموړی د معرف معارف لومړني مسؤول مدیر و ۱۲۹۸-۱۳۰۷ش/۱۹۱۹-۱۹۲۸م هغه د مشروطیت د لومړني غورځنګ غړی بلل شوی دی او یوولس کاله یې په زندان کې تیر کړي. محمد حسین د هند په علیګړ پوهنتون کې زده کړه کړې وه او په پښتو، دری، انګلیسي او اردو ادبیاتو ښه پوهیده. نو موړی د حبیبي لیسې د تأسیس پروخت ۱۲۸۸ش/۱۹۰۹م کابل ته راغی او د هغې لیسې له لومړنیو ښوونکو نه و. نو موړی د تاریخ او جغرافيې مضامین تدریسول. محمد حسین هم د مشروطیت غورځنګ د غړیتوب په ګناه په داسې وخت کې چې ۲٦ کاله عمریې درلود، د ارګ زندان ته واچول شو. کله چې امان الله خان پاچا شو هغه له زندانه پریښودای شو. هغه په زندان کې قرآن کریم حفظ کړی و او هم یې په تفسیر کې ژورې مطالعې وکړې د امان الله خان په زمانه کې د معارف وزارت د تدریساتو د عمومي رئیس په توګه وټاکل شو. هغه د امان الله خان په باب د (پادشاه افغان) په نامه یو کتاب ولیکه.

محمد حسین د حبیب الله کلکاني په دوره کې د حبیب الاسلام د رسمي جریدې مسؤول مدیر شو. کله چې محمد نادر خان واک ته ورسید، هغه له کابله هند ته وتښتید ځکه ویریده چې نادر خان د مشروطه غوښتونکو او امان الله خان پرپلویانو باور نه لري؛ خو هغه بیا هم په هند کې د (انقلاب افغانستان) په نامه د نادر خان د کارونو په ستاینه کې یو کتاب ولیکه. هغه د افغانستان یو پر کاره

ژورنالست و او زیات آثار تری پاتی دی.

محمد حسین د افغانستان لومړنی داستان لیکونکی او ناول لیکونکی گڼل کیږی چې د (جهاد آکبر) په نامه یو مشهور ناول لری او د افغانستان په داستان لیکنه کی خاص مقام لری. هغه په پښتو، دری او اردو ژبو څه آثار لیکلی دی:

۱- قبایل افغانی د دکتور بلیو انگلیس د کتاب ژباړه، دا کتاب یې د ناسمو موضوعاتو په تصحیح کولو سره وژباړه.

۲- تاریخ افغانستان له حواشیو سره له انگلیسی نه په دری د میلسن د کتاب ژباړه.

۳- امان المدرسین: د ښوونکی او زده کوونکو لپاره تدریسی لارښود.

٤- امان المامورین: د واکمن دولت مامورینو او قاضیانو ته مشوره.

٥- جغرافیهٔ افغانستان: په دوه ټوکو کی.

٦- صرف ونحو او عروض په اردو ژبه.

۷- چکی هے د افغانستان په باب په اردو ژبه ناول.

۸- پښتو صرف ونحو.

۹- افغانی نسب (پښتو)

۱۰- عدل و داد د امان الله خان د واکمنی په باب ټولنیزه - تاریخی ډرامه.

۱۱- مغل وپټان د افغانانو او مغولو د تاریخ په باب ډرامه.

۱۲- د شکسپیر له ډرامو نه اقتباسات:

د دی ډرامو د حکمت او لطایفو برخی یې د افغانستان له حالت سره په پرتله په انگلیسی لیکلی دی.

۱۳- د پنجاب د اقتصاد حالات: په انگلیسی ژبه.

۱٤- دانبیاو ضروری حالات: په اردو.

۱٥- افغانی انقلاب او نتایج یې: په انگلیسی ژبه دسقاوی پیښو په باب.

۱٦- روسیی او مرکزی آسیا ته زما سفر: په انگلیسی.

## هوتک، صالح محمد

د افغانستان یو باتدبیره او پرکاره ژورنالست و چې په ۱۲٦۹ش/۱۸۸۹م په کندهار کی زیږیدلی دی. لومړنی او لوړی زده کړی یې د کابل په حبیبیه لیسه کی پای ته ورسولی تر فراغت وروسته یې د پښتو ادبیاتو د ښوونکی په توگه وظیفه اجرا کوله.

په ۱۲۹۹-۱۳۰۷/۱۹۲۰-۱۹۲۸ د کندهار د معارف مدیر وټاکل شو او په هغه ولایت کی یې ډیر ښوونځی جوړ کړل. په ۱۳۱٦ش/۱۹۳۷م د کابل دا دبی انجمن (تاریخ ټولنی) غړی شو. په ۱۳۳٥/۱۹٥٦

په اولسي جرګه کې د کندهار ښار د وکیل په توګه شو، د ۱۳۳۹ ش د وري په څلورمه/د ۱۹۶۱م د اګست ۲۶ مه په کابل کې وفات او په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو.

## د هوتک آثار

۱– د پښتو ژبې درسي او لارښود کتابونه.

۲– د پښتو ژبې صرف و نحو.

۳– په پښتو ژبه د عزیزي تفسیر ژباړه.

٤– پښتو مثنوي: د مولانا جلال الدین بلخي د مثنوي د څه برخو منظومه ژباړه.

٥– په پښتو او دري ژبو د مولوي صالح محمد هوتک اشعار.

ACKU

# د حبیب الله (د سقاو په زوی مشهور) د واکمنی دوره

د ۱۳۰۷ د مرغومی ۲۶ مه - د ۱۳۰۸ د تلی ۲۳ مه

(د ۱۹۲۹ د جنوری له ۱۹ - د اکتوبر تر ۱۵ می)

د امان الله خان له سرسختو مخالفینو نه یو هم حبیب الله کلکانی و. کله چې هغه د امان الله خان له لبنکریانو شمیرل کیده د امان الله د اسلامی ضد تگلارو پر خلاف یی لومړی په شمالی او بیا په ټول افغانستان کی جهاد اعلان کړ. او د هیواد د علماو او روحانیونو له خوایی د غازی حبیب الله خان او خادم دین رسول الله لقبونه هم پیداکړل.

حبیب الـله بی سواد او پاک زړی سړی و چې د دولت د واکمنانو پرخلاف یی د زور خبری کولی او دبی وزلـو پـه وړاندی مـهربان و. لـکه چـی د انـگـلـیس د مـسـتـشـار سر فرانسیس هـمـفـریـز **Sir Francis Hamphrys** سیرمن چی هغه مهال په کابل کی وه ولیکل: "تر تولو لویه پیښه چی د امان الله خان په وړاندی د حبیب الله او خلکو د مخالفت د څرګندیدو لامل شو هغه مهال دی چی امان الله د پغمان په لوبغالی کی دیوی وینا په ترځ کی له خلکو نه وغوښتل چی خپلی میرمنی ازادی کړی او د خپلی میرمنی ثریا له سره یی په عام محضر کی پوړنی لری کړ او وبی ویل هر څوک تر دی وروسته کولای شی زما میرمن وګوری." (۳۰)

د امان الله خان د لویی جرګی غړی هم په ټول افغانستان کی له هغه نه ناخوښی وو. ملایانو په هر ځای کی (د یوه بی دینه شخص په توګه) د هغه پر خلاف د پاڅون اعلان وکړ. د شینوارو خلکو په جلال آباد ښار کی سراج العمارة او د انګریزانو قونسلګری وسوځوله. دشور بازار حضرت د امان الله خان د یوه مخالف په توګه زندان ته واچول شو.

په دغسی یوی له اختناق ډکی دوری کی حبیب الله چی د سقاو په زوی مشهور و اولاد مخه یی د عیاری تګلاره غوره کړی وه، تر تولو زیاته ګټه واخسته او د امان الله خان پرخلاف یی خپلی قواوی منظمی کړی. "هغه د اروپا د (روبن هود) Rabin Hood په څیر د بډایانو لوړ رتبه دولتی مامورینو مالونه لوټل او بی وزلوته یی بخښل" (۳۱)

له سید حسین او ملک محسن سره چی مشهور غله وو د حبیب الله ائتلاف د هغه د عیاری تګلاره په غلا بدله کړه. که څه هم د هغوی غلا، له امان الله خان سره په مخالفت کی په عامه اذهانو کی بل ډول توجیه کیدله؛ خو ریښتیا دا دی چی غلا په اسلام کی یو بد عمل ګڼل شوی دی. غبار لیکی: "دا چی هغوی دیرګنو له منځه راپور ته شوی وو له چل، چلوتی او د خلکو له غولونی نه یی کرکه درلوده. سره له

هغې چې د خلکو مالونه به یې غلا کول او لوټل خسیس نه وو او هرڅه به یې چې لاس ته راوړل، پر نورو به یې لګول او د عصري غلو په څېر یې د سرو اوسپینو په ذخیره کولو، سوداګرۍ او ګټې سره اشنایي نه درلوده" (۳۲)

حبیب الله د عبدالرحمن زوی د ۱۲٦۸-۱۲٦۹ش/۱۸۸۹ کلو ترمنځ د کوهدامن په کلکان کې زیږیدلی او په ۱۲۹۷ش/۱۸۱۸م د افغانستان د اردو په نمونه قطعه کې شامل شو او د سنګلو په جګړه کې یې هم ګډون کړی و: "ویل کیږي چې هغه به د عسکري خدمت پروخت کله غلا ته هم ته، او د دې جنګ تر سوبې وروسته جلال آباد ته ولاړ اود خپلې عسکرۍ ملګري یې له زندانه وتښتول او خپله کابل ته ستون شو. هغه کلکان ته دتګ پروخت د دولت له یوه کوچني تولګي سره چې د هغه وسله یې په زور سره تری اخسته ټکر وکړ. حبیب الله هغوی ووژل، وسلې یې تری واخستې او دولت ته یې وسپارلې چې تعقیب شي، خو حکومت په دې برخه کې سترګې پټې کړې او حبیب الله یې وراته. هغه د حکومت ددې عمل په وړاندې عقده واخسته او دمشهورو غلو له ډلې نه له سید حسین سره چې د هغه دسرستیال په توګه ورسره و، پروان ته ولاړ او د غلا چارې یې له سره پیل کړ. حکومت د هغه څارنه پیل کړه او په همدې وخت کې د حبیب الله غلا وی په یوه سیاسي توطیه بدله شوه" (۳۳)

حبیب الله او سید حسین په فعاله توګه هم د افغانستان دننه او هم سرحداتو ته، تګ راتګ درلود. هغه د پیښور په مالګې منډه یې (نمک منډی) کې یو سماوار (چایخانه) درلود او دروحانیونو له لارې ورسره د انګلیسانو اړیکې زیاتې شوې. هر چیرته به چې ته له ملا سره به مخامخ شو چې هغه به یې د امان الله خان وژنې اود د هغه پر خلاف دجهاد اعلان ته هڅاوه او کله به یې وسلې او پیسې لاس ته راوړلې. (۳٤)
دا مورخ همدا راز لیکي چې:

"د هغه او امان الله خان ترمنځ پخلاینه ګرانه څه، چې ناممکنه وه او اصلي تیروتنه پخپله پاچا او تنظیمیه رئیس ته راجع کیږي چې هغه یې په وسلو او پیسو تقویه کړ" (۳۵)

حبیب الله خان د ۱۳۰۷ش د مرغومې پر ۲٦مه/ د ۱۹۲۹ د جنوري ۱۹مه د عنایت الله خان تر درې ورځنۍ پاچایې وروسته د کابل واک په لاس کې واخست. ډا چې زیاتره علماو او روحانیونو له امان الله خان سره شدید مخالفت درلود واک ته د حبیب الله د رسیدنې هرکلی یې وکړ "او له اسلامي تولنې سره د جفا په جرم یې د امان الله خان مجسمه په زمکه وویشته او د محمود طرزي برنجي مجسمه یې چې غوښتل یې د افغانستان اردو د کمال اتاترک په دول جوړه کړي له منځه یوړه" (۳٦) د ستونزې او مخالفتونه، واک ته د حبیب الله تر رسیدنې وروسته پیل شول. هغه حکومت د مخالفینو او همکارانو او اجرائي افرادو په دوه جهتوکې ساتلې و، یوه ډله غله و او بله باسواده او پوه خلک. د سقاو د زوی کلیدي چارې دغلو په لاس کې وې. سیدحسین نایب السلطنة، د پاچا وررور حمید الله معین السلطنة او ملک محسن د کابل والي وټاکل شو. په دې اختلافاتو کې ډیر لږ روښانفکرانه مخالفت یا د نظر څرګندو نه د

اعدام په حکم پای ته رسیده.

د اسلام دین د حکومت دټینګښت لپاره ډیره ښه وسیله وه، په داسی حال کی چی هغوی اصلاً په اسلام نه پوهیدل او هغه یی نه عملی کاوه.

لکه چی د امان الله خان په دوره کی بی دین په عجولانه اقداماتو سره مسخره کړی و، د حبیب الله پروخت دین د جهالت په لاس زنځیر و زولانه و اوله اسلام نه یی یوازی د قدرت دټینګښت لپاره کار اخست.

د نظر خاوندان او پوه خلک، د حبیب الله د واکمنی په دوره کی د هغه د سیمه ییزو کورنیو تمایلاتو له لاسه ورځ په ورځ د هغه په وړاندی کرکجنیدل او د خلکو سپیڅلی احساسات چی د ټولو ټولنیزو، سیاسی او اقتصادی ستونزو د حل لپاره د یوه اسلامی حکومت غوښتونکی و، ورځ په ورځ سړیدل.

## د حبیب الله د دوری مطبوعات

په دغسی یوه فضا کی مطبوعات هم سخ په ځوړی وو. سقاو د زوی د دربار اصلاح پالوهاند وکړ چی د هغه حکومت ته مدنی رنګ ورکړی نو د سید محمد حسین او وروسته برهان الدین کشککی په لیکوالی یی د (حبیب الاسلام) د جریدی خپرونه پیل کړه.

مطبوعات د امان الله خان د دوری له لوړ نه یودم د سقاوی دوری له ځوړ سره مخامخ شوه؛ خو حکومت د خپلی ارتیا او له مطبوعاتو نه د ګټی اخستنی په خاطر، کوښښ وکړ د بیړنیو فرمانو او ابلاغیو په وسیله حبیب الاسلام جریده چی د (امان افغان) پرځای خپریده، فعاله وساتی"(۳۸)

د حبیب الله حکومت ټولی دولتی او غیردولتی (آزادی) خپرونی منع کړی او یوازنی جریده چی د دولت ژبه ګڼل کیده (حبیب الاسلام) وه.

د هیواد په ولایاتو کی خپرونی د نوموړو په بدلولو سره د دولت د اهدافو خپروونکی وی. (د کتاب په وروستی برخه کی دی د دی دوری جرایدو ته مراجعه وشی) خو د کتاب د چاپ او نشراتو هیڅ خبره نه وه او انحرافی او خرافی کتابونو چی په لاهور او بمبئی کی د انګلیسانو د بریخو په واسطه لیکل کیدل او چاپیدل، د فرهنګ د سمسورتیا او له اسلام نه د آګاهی پرځای په هیواد کی عامه ذهنیت د خرافاتو او د اسلامی اصالت دله منځه وړنی، ویری ترهی او د اوهاسو په باب د فکرکولو په لور بیولی و.

د حبیب الله دولت د زاړه فکر او تجددیانوښت، بی قانونی او عیاری سره په تضاد کی واو دولتی قانون د راژوندی کولو بی سوادی او روښانفکری، د معتدلی اسلام غوښتنی په مقابل کی د خرافاتی سنتو په لور د اجتهاد په سنځ کی واقع شو او د دی تضادونو نتیجه د کشمکشونو، چی دحبیب الله په نظام کی را خرګند شوه، راسنځ ته کیدل و. د امانی دوری ډیر ماموریں او نظامی خلک زندانو ته واچول شول. د

امان الله خان دوه ورونه یې د هغوی د یو شمیر مامورینو په ګډون اعدام کړل.

انیس جریده چې په هیواد کې لومړنۍ آزاده جریده وه له خپرونو پاتې شوه، د هیواد اقتصاد وشړېد، غلا او دلارو نیول د حبیب الله د کلیدي کسانو په ملاتړ په ټول هیواد کې زور واخست چې دې کار تولنیز نظم له منځه یوړ. خلک چې د داعي او منجي په توګه د حبیب الله په راتګ سره خوشاله وو، ورځ په ورځ کرکجن شول او بې امنیتي د ټول هیواد فضا اشغال کړه.

### حبیب الله د سقوط پرځوړ

د نادر شاه په راتګ او په پښتونو کې له همغږۍ سره په کتنه سقاوي حکومت د سقوط په ځوړ او د دوو لویو ځواکو (انګلیس په جنوب او روس په شمال کې) د نه ملاتړ له خطر سره مخ شو. انګلیسانو حبیب الله ته دیوې وسیلې په سترګه کتل، چې په یوه انتقالي مرحله کې یې د یوې سیاسي خلا په ډکولو سره هغوی د خپلې خوښې سړي ته چې په هغه زمانه کې احتمالاً محمد نادر خان و، رسول (39) انګلیسانو له امان الله خان سره چې په کندهار کې د هغوی د مرستې منتظر و، له هرډول مرستې نه ډډه وکړه؛ ځکه هغه مهال د امان الله خان اړیکې له مسکو سره ښې وې.

روسانو د حبیب الله د دولت له موجودیت نه ویره درلوده؛ "ځکه حبیب الله همیشه دبسمه چي مبارزینو او مجاهدینو سره چې د بخارا مهاجرین و ملاتړ کاوه او هغوی ته یې د بخارا په بیرته ازادۍ زیرې ورکاوه. د مجاهدینو د ډلې یو مشر ابراهیم بیګ یې د ۱۳۰۸ش په غویي/د ۱۹۲۹ اپریل کې کله چې غلام نبي خان څرخي د یو شمیر روسي عسکرو سره (بنایي د افغانستان په شمال کې د امان الله خان پلویان وي، مؤلف) پر مزار شریف حمله وکړه، له سید حسین سره یوځای د مقابلې لپاره د افغانستان شمال ته واستاوه" (40).

د ستالین د بهرنیو چارو وزارت د امان الله خان په وړاندې د حبیب الله قیام د انګلیسانو وسیله وبلله او تر هغې چې امان الله خان له کندهاره اروپا ته ولاړ نه شو له هغه نه یې خپل ملاتړ څرګنداوه، خو تر هغې وروسته یې دفاعي سیاست غوره کړ اود انګلیسانو په توافق یې په غیر مستقیم ډول له نادر خان نه خپل ملاتړ څرګند کړ.

"که څه هم انګلیسانو په افغانستان کې له نوي وضعې نه ډیره ګټه واخسته؛ خو روسان هم زیانمن نه شول." (41)

"په روسیه کې دوه ډوله دریځنیونې موجودې وې: کمونستانو حبیب الله د خوارې کښې طبقې برخه ګڼله او له هغه نه یې دفاع پیل کړه، په داسې حال کې چې روسي سیاستوالو د سقاو د زوی په باب د یې تفاوتۍ لارو نیوله" (42)

د سقاو د زوی په سقوط کی دیر عوامل د خیل وو، چی تر ټولو مهم یی له پوهو خلکو سره له مشوری پرته خپلو بی سوادو او غلو ملګرو ته دلویو دولتی القابو ورکول وو او ترټولو مهم د حبیب الله مطلقه بی سوادی او له اداری چارو او مدیریت سره نابلد تیا وه. نور عوامل هم موجود وو چی خلک یی له هغی اداری نه ماره او له مخالفینو سره یی ملګری کړل.

جنرال محمد نادر خان د ۱۳۰۸ د تلي په ۲۳مه/ د ۱۹۲۹ د اکتوبر پنځلسمه د خپلو نظامی قواو سره کابل ته ننووت. حبیب الله کوهستان ته وتښتید. وروسته د هغی ژمنی له مخی چی نادر خان ورسره وکړه او د قرآن کریم په حاشیه کی یی په لاسلیکولو سره هغه ته بخښنه وکړه او هم د سید حسین په تشویق کابل ته ستون شو؛ خو نادر خان په خپله ژمنه ونه درید او هغه یی د هغه له اوولس تنو ملګرو سره اعدام کړ.

# د حبیب الله خان د دوری خپروني

په دی دوره کی د امانی دوری زیاترو خپرونو د نومونو په بدلون سره چی اسلامی تمایل پکی ترسترګو کیده، را منځ ته شوی. دا غبرګون او له امان الله خان سره د مخالفت له لامله، چی د هغه د اجراآتو پر اساس د روحانیونو له خوا پری د تکفیر حکم صادر شوی و، وښوول شو. په دی غبرګون کی د امان الله خان د دوری یو شمیر لیکوال او سیاستوال هم شامل وو، خو د حکومت په اداره کی د ناسالمو افرادو په نفوذ سره په هغوی د کار کړی دیره تنګه شوی وه او یا دا چی ګوښه شوی وو او یا یی نوښتونه ساړه شوی وو. د امانی دوری د مطبوعاتو قانون لغو کړای شو او آزادی خپرونی منع کړای شوی. د حبیب الله د دوری دولتی خپروني په لاندی ډول دی.

د خپروني نوم: ***حبیب الاسلام***

د تأسیس کال د ۱۳۰۷ ش د کب نهمه/د ۱۹۲۹ د فبروری اته ویشتمه. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دولت خپرني اورګان. مسؤول مدیر: غلام محی الدین انیس، سید محمد حسین، برهان الدین کشککی، د خپروني ځای، تیراژاو ژبه: کابل له ۱۰۰ - ۳۰۰ ګنو، پښتو، دری د خپروني نوعیت، ګڼه او د چاپ بڼه: اوونیزه، ۳۲ X ٤۲ سانتی متره، په څلورو مخوکی او هر مخ په څلورو ستونو کی. د جریدی لپاسه د (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا) آیت شریف ځای درلود.

محتوی: اسلامی مقالی، د امان الله خان پر رژیم انتقادونه، کورنی او بهرنی خبرونه.

د خپرونې نوم: *اتفاق اسلام*
د تأسیس کال: د ۱۲۹۹ش ورې د امان الله خان په دوره کې خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي دولت. مسؤول مدیر: غلام سرور جویا.
د خپریدو ځای، تیراژ او ژبه: هرات، ۲۰۰، دری
د خپروې نوعیت، کچه او د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۳۵x۲۱ سانتي متره، په څلورو مخوکې.
د خپرونې د کارپای: دوام لري.
محتوی: دولتي اعلامیې، او فرمانونه، اسلامي او ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *مؤید الاسلام*
د تأسیس کال: (د طلوع افغان) په نامه یې نوم بدل کړ
خپرندوی اود امتیاز خاوند: په کندهار کې د دولت خپرنې اورګان.
مسؤول مدیر: د پخوانی دوری افراد لکه عبدالعزیز الکوزی.
د خپرونې ځای، تیراژ او ژبه: کندهار، نامعلوم، پښتو.
د خپروې نوعیت، کچه او د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۴۰x۳۲ سانتي متره، حروفي چاپ.
د خپرونې د کار پای: د نادر شاه په وخت کې د وه څله د طلوع افغان په نامه احیاکړای شوه او تر اوسه خپلو خپرونو ته دوام ورکوي. محتوی: د دولت اعلامیې او دریځونه، اسلامي مقالې.

د خپرونې نوم: *رهبر اسلام*
د تأسیس کال: د بیدار جریدې ادامه
خپرندوی او د امتیاز خاوند: په قطغن کې د دولت خپرنې اورګان
مسؤول مدیر: ؟
د خپریدو ځای، تیراژ او خپرنې ژبه: مزار شریف، نامعلوم، پښتو او دری.
د خپرونې نوعیت، کچه اود چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۳۷x۳۰ سانتي متره له ٤-٦مخونه.
د خپرونې د کار پای: د نادر شاه په دوره کې بې دوه څله په هرات کې د "بیدار" په نامه په خپرونو پیل وکړ او تر اوسه په همدې نامه دوام لري.
محتوی: د دولت د اهدافو خپروونکې، اسلامي او ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *جریدة الایمان*
د تأسیس کال: د ۱۳۰۷ش ورې/د ۱۹۲۹ مارچ مسؤول مدیر: مولوی محمد ابراهیم خان کاموی.

د خپرونې ځای، تیراژ او خپرنې ژبه: د ننګرهار د سر خرود بابریوکلي، نامعلوم، پښتو.
د خپرونې نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: میاشتنۍ خپرونه، ۳۲x۲۰ سانتي متره، د دوه او څلورو مخو ترمنځ.
د خپرونې د کار پای د ۱۳۰۸ ش تله/د ۱۹۲۹ اکتوبر، تراتو میاشتو وروسته.
محتوی: د دې خپرونې مطالب لکه چې د حبیب الاسلام په جریده کې ذکر شوي دي: د ایمان اصول، د ایمان رڼا، کورنۍ او بهرنۍ پیښې.

د خپرونې نوم: *نهضت الحبیب*
د تأسیس کال: د ۱۳۰۷ ش وری/ د ۱۹۲۹ مارچ
خپرندوی او د امتیاز خاوند: په شمال کې د دولت د اهدافو خپروونکی. مسؤول مدیر: مولوی محمد بشیر.
د خپرونې ځای، تیراژ، ژبه: د خان آباد ښار (قطغن) د ۵۰-۱۰۰ ګنو پورې، دري.
د خپرونې نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: اوونیزه جریده. ۳۰x۲۱ سانتي متره، په دوو ستونوکې.
د خپرونې د کار پای: د حبیب الله کلکاني د حکومت سقوط
محتوی: د امان الله خان پر خلاف د پاڅون په باب، کورنۍ پیښې، اسلامي مضامین.

## د حبیب الله د حکومت ضد جریدې

د خپرونې نوم: *اتحاد افغان*
د تأسیس کال: د حبیب الله کلکاني پر خلاف د پاڅون کال د ۱۳۰۸ وری/۱۹۲۹.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: جنرال شاه محمود خان غازي.
مسؤول مدیر: یعقوب حسن.
د خپرونې ځای، تیراژ، ژبه: پکتیا، ۲۰۰ ګڼې، پښتو.
د خپرونې نوعیت، کچه اود چاپ بڼه، نامنظمه اوونیزه جریده، یا اوونۍ ترمنځ، په دوه مخوکې.
د خپرونې د کار پای: د ۱۳۰۸ تله/د ۱۹۲۹ اکتوبر.
محتوی: د سقاوي حکومت پر ضد تبلیغات، او د محمد نادر شاه د مشرتابه او د هغه له ورونو نه پلوي. د حبیب الله کلکاني په را پرځولو کې د قومونو تحریکول.

د خپرونې نوم: **دکور غم**

د تأسیس کال: د ۱۳۰۸ ثور/ د ۱۹۲۸ اپریل

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حبیب الله کلکاني ضد افکار. مسؤول مدیر سید حسن.

د خپریدو ځای، تیراژ او خپرنې ژبه: جلال آباد (مشرقي سمت) نامعلوم، پښتو، دري.

د خپرونې نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: په اوونۍ کې دوه ځله ۲۰ x۳۲ سانتي متره په دوو مخو کې.

د خپرونې د کار پای: واک ته د محمد نادر شاه رسیدل.

محتوی: د حبیب الله په راپرځولو کې د پښتنو قومونو یووالی، سیاسي مقالې، تبصرې او کورنۍ خبرونه.

یادښت: ددې جریدې لګښت انګلیسانو ورکاوه.

د خپرونې نوم: *غیرت اسلام*

د تأسیس کال: د ۱۳۰۸ ثور/ د ۱۹۲۹ اپریل.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کابل د رژیم ضد جریده

مسؤول مدیر: عبدالحکیم.

د خپرونې ځای، تیراژ او خپرنې ژبه: جلال آباد (مشرقي سمت) نامعلوم، پښتو.

د خپرونې نوعیت، کچه اود چاپ بڼه: اوونیزه، ۲۰ x ۳۲ سانتي متره په دوو مخوکې.

د خپرونې د کار پای: واک ته د نادر شاه رسیدل.

محتوی: په مشرقي او جنوبي سمت کې د محمد نادر خان په پلوی د قومي احساساتو راپارول او په کابل کې د حبیب الله کلکاني د حکومت له منځه تګ.

## د دویمې برخې پای لیکونه او اخځونه


۱- د مرحومې کبرا (بی بی خورد) بنت غلام جیلانی خان څرخی روایت چې د لیکوال د کورودانی ترور (خاله) کیږي.

۲- افغانستان، دوپری، ٤٤٣ مخ.

۳- افغانستان (۱۹۰۰-۱۹۳۲) آدمک ٤٤٣ Adamek, Berkeley 1967 مخ.

٤- افغانستان، دوپری، ٤٤٣ مخ.

٥- افغانستان، علی رضا علی آبادی، دایران د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسی او بین المللی څیړنو مرکز تهران، ۱۳۷۳، ۱٤٤ مخ.

٦- دسایس و جنایات روس در افغانستان از امیر عبدالرحمن خان تا ببرک، دکتور حقشناس، د جمعیت اسلامی فرهنگی کومیته تهران، د تلی لومړی نیټه، ۱۳٦۳، ۳۹ مخ.

۷- افغانستان، جرج آرنی.

George Aney Mandarin Paper backs, London 1989 ، ۳۰ مخ.

۸- هماغه مأخذ، ۲۱ مخ.

۹- افغانستان، در مسیر تاریخ، غبار، ۸۱۲ مخ.

۱۰- افغانستان، دوپری، ٤۳۰ مخ.

۱۱- هماغه مأخذ ٤۳۱ مخ.

۱۲- قانون مطبوعات، دکتور محمد ظاهر صدیق د فردای افغانستان سیمینار، پنځم توک، د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا، ثور ۱۳۷۰، اسلام آباد. ۱۳۸ مخ.

۱۳- مطبوعات غیر دولتی... د فردای افغانستان، سیمینار پنځم توک، ۱۹٤ مخ.

۱٤- افغانی خپرونې: حبیب الله رفیع، پیښور، ۱۳۷۰، ۱۷٤ مخ.

۱٥- دهۀ قانون اساسی، صباح الدین کشککی، د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا، ۱۳٦٥، اسلام آباد، ۸٤ مخ.

۱٦- هماغه مأخذ ۱۷٤ مخ.

۱۷- سیر ژورنالیزم در افغانستان، آهنگ، ۱۹۷ مخ.

۱۸- سرگذشت انیس، بشیر رفیق، کتاب سال انیس، دولتی مطبعه کابل، ۱۳٤٥ ش، ۱۳ مخ.

۱۹- د افغانستان د ژورنالیزم مخکښان، زرین انځور، دولتی مطبعهٔ، کابل، ۱۳٦٥، ۱۷٤ مخ.

۲۰- کتاب سال انیس، محمد بشیر رفیق، دولتی مطبعه کابل، ۱۳٤٥، ۳۸ مخ.

۲۱- د افغانستان د ژورنالیزم مخکښان ...، زرین انځور، ۱۷٥ مخ.

۲۲- مطبوعات غیر دولتی قبل ازکودتای کمونستها، محمد شفیق وجدان د فردای افغانستان سیمینار، پنځم توک، ۱۹۵ مخ.
۲۳- سرگذشت انیس، غلام عمر شاکر، کتاب سال انیس، محمد بشیر رفیق، دولتی مطبعه کابل ۱۳٤۵، ۳۸ مخ.
۲٤- د افغانستان د ژورنالیزم مخکښان...، انځور، ۱۷۸ مخ.
۲۵- روزنامه نگاری که قلمش را شمشیر ساخته بود (مقاله) فریدون (لطیف ناظمی)، آواز مجله، لومړی ګڼه، لومړی کال، ۱۳٦٤ش. ۱۵-۱٦ مخونه.
۲٦- افغانستان در پنج قرن اخیر، میر محمد صدیق فرهنګ، ٦۰ مخ.
۲۷- مطبوعات غیر دولتی محمد شفیق وجدان...، ۱۹۵ مخ.
۲۸- کتاب سال انیس، محمد بشیر رفیق، ۳۸ مخ.
۲۹- د افغانستان و ژورنالیزم...، انځور، ۱۷٦ مخ.
۳۰- افغانستان، جورج آرنی، ۲۱ مخ.
۳۱- هماغه مأخذ ۲۲ مخ.
۳۲- افغانستان در مسیر...، غبار، ۵۲۷ مخ.
۳۳- افغانستان دوپری، ٤۵۲ مخ.
۳٤- افغانستان در ...، غبار، ۸۱٦ مخ.
۳۵- هماغه مأخذ ۸۱۵م مخ.
۳٦- افغانستان در پنج قرن...، فرهنګ، ۵٦٤ مخ.
۳۷- افغانستان در مسیر...، غبار، ۲۸ مخ.
۳۸- د افغانستان مهالنی خپرونی په پرون، نن او سباکی، حبیب الله رفیع، پنځم سیمینار، د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا، اسلام آباد، ۱۷٤ مخ.
۳۹- افغانستان در پنج قرن...، فرهنګ، ۵۸۱ مخ.
٤۰- دسایس و جنایات روس...، حقشناس، ۵۷ مخ.
٤۱- افغانستان در پنج قرن... فرهنګ، ۵۸٤ مخ.
٤۲- افغانستان، دسیاسی څیرنو دفتر، ۱٤۵ مخ.
٤۳- افغانستان در مسیر...، غبار، ۸۲۸ مخ.

څلورمه برخه

# د محمد نادر شاه دواکمنۍ دوره

## له مطبوعاتو نه دویرې دوره

د ۱۳۰۸ ش دتلې ۲۳مه - د ۱۳۱۲ دلیندۍ ۱۷مه

د ۱۹۲۹ داکتوبر ۱۵مه - د۱۹۳۳ د دسمبر ۸مه.

جنرال محمد نادر خان د امان الله خان له تومیالیو قوماندانانو نه و چې له غلام نبي خان څرخي سره یې رقابت او د نظر اختلاف درلود. هغه خپل سیاسي - نظامي موقعیت له پاچا سره په اړیکو کې موازنه کاوه او غوښتل یې پاچاته په نژدیوالي کې لازمه برتري لاس ته راوړي. هغه له همغه وخته د سلطنت او پاچايي خوبونه لیدل او له نورو جنرالانو سره یې پخپلو دریځونو کې د اختلافاتو د رشد زمینه برابروله او له پښتنو قومونو سره یې خپل منزې مرغلین کړل. دا اختلافات ددې باعث شول چې امان الله خان د خطر احساس وکړي او هغه د هیواد له سیاسي - نظامي ډګره لرې وساتي. کله چې نادر خان په ټل کې د ډیورنډ کرښې نه د خپلو ځواکونو په شاکولو کې د امان الله خان حکم و نه مانه د سیمې او انګلیسانو د پاګڼا دولکې په اړه یې د قومونو ملاتړ ترلاسه کړ.

نادر خان قومونو ته ځان د راولپنډۍ د تړون مخالف ورو پېژاند او د ډیورنډ کرښې په واسطه یې د پښتو قام جلاکول یو خیانت وګاڼه، په داسې حال کې چې امان الله خان د خپل سیاسي موقعیت په ټینګولو کې نرمښت ته چمتو شوی و او د نظر دا اختلاف یې په راتلونکې کې د ځان لپاره ستر خطرګڼه نوځکه امان الله خان تصمیم ونیو چې نادر خان په پاریس کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکي (۱۳۰۳ش/۱۹۲٤م)

د حبیب الله کلکاني په پاڅون او د کابل په نیولو سره نادر خان ته ډېره ښه زمینه برابره شوه چې په جنوبي سیمو کې له خپل قومي نفوذ نه کار واخلي. هغه له خپلو ورونو سره په ګډه د امان الله خان رفورمونه وغندل او هڅه یې وکړه چې ځان د هغې مخالف وښيي او په افغانستان کې د خپل سیاسي واک د ټینګښت لپاره، ځان ته د پښتو ځای پیداکړي. د واک په ترلاسه کولو کې دا د هغه د سیاسي چارو د پرمختګ لپاره ډېره ښه وخت و.

محمد نادر خان له خپلو ورونو سره چې په مصاحبانو یادیدل په فرانسه کې د انګلیسانو له سفارت نه ویزه واخسته او بمبئ ته ولاړل او له هغه ځایه د افغانستان سرحدونو ته ورسیدل. هغه مهال چې هند د

انګلیسانو په ولکه کې و د محمد نادر شاه او د هغه د وروڼو په راستنیداکې یې مهم رول ولوباوه.

محمد نادر په لاهور کې د اسلامي نړۍ له مشهور فیلسوف او شاعر علامه محمد اقبال لاهوري سره وکتل. اقبال چې د خپلواکۍ د غورځنګونو او آزاد افغانستان مینه وال و په دې مینې سره یې غوښتل خپل پیام مشرق کتاب امان الله خان ته ورکړي. د امان الله خان له عجولانه او اسلامي ضد اعمالو او همدا راز یې له بې درایتۍ او له خلکو سره د ښه سلوک نه درلودلو له لامله ډېر متأثرو. اقبال د حبیب الله کلکاني د اختناق دوره د افغانستان او سیمې لپاره خطرناکه وګڼله اوله محمد نادر خان نه یې وغوښتل چې افغانستان له دې حالته وژغوري. (۱)

"نادر، د افغانستان پاچا له اقبال سره پخوانۍ دوستي درلوده. اقبال، نادر شاه له هغه وخته پیژاند (د لیک رالیک په وسیله) چې په پاریس کې د افغانستان سفیرو. د اقبال په وینا، نادر خان نیمه پنجابي و څکه پلار یې په لاهور کې زیږیدلی و او همله واوسید." (۲) نادر شاه پخپله په (دیره دون) کې زده کړه وکړه او په اردو یې رواني خبرې کولې (۳). د لومړي ځل لپاره اقبال، نادر خان د اورګاډي په یوه تم ځای کې ولید چې افغانستان ته د تګ په لار کې په لاهور کې تم شوی و. نادر خان اقبال ته په ټوکه وویل: "مافکر کاوه چې تاسې به لویه ږیره لرئ. اقبال ورته وویل چې ما فکر کاوه چې تاسې به دیوه جسیم پهلوان په څیر یاست"

خونه دغه د اسلام شاعر هغسې وچې نادر شاه فکر کاوه او نه هغه تصویر چې اقبال په ذهن کې درلود د اسلام پر غازي نادر شاه صدق کاوه." (٤)

اقبال، نادر شاه یوې ګوښې ته بوت او ورته وېې ویل چې زه فقیریم او فقط پخپله دعا له تا سره مرسته کولای شم؛ لس زره روپۍ یې نادر شاه ته ورکړې او وېې ویل هیله ده دا ډېرې لږې پیسې دې په کار شي.

"په دې خبرې سره د نادر شاه سترګې له اوښکو ډکې شوې او دا فقیرانه ډالۍ یې په نیک فال ونیوه" (٥)

محمد نادر خان له خپلو وروڼو هاشم خان او شاه ولي خان سره پېښور ته ولاړ، هاشم خان کویټې ته ولاړ چې له پښتنو قامونو سره وګوري او ټول په خپل ځان راټول کړي. نادر خان د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې له مختلفو قومونو سره ناستې درلودې او د رضاکار لښکر په را ټولو لویې پیل وکړ. توتاخیلو، ځاځیو، منګلو، ځدرانو، وزیرو، او احمد زیو له هغه نه خپل ملاتړ څرګند کړ او د پاچاهۍ پګړۍ یې لادمخه ورته پرسر کړه او بیعت یې ورسره وکړ.

د نادر خان بل ورور شاه محمود خان چې په کابل کې و، د حبیب الله کلکاني له خوا په ګردیز ښار کې د پکتیا دوالي په توګه مقرر کړای شو او د دولت له خوا د تنظیمیه رئیس په توګه وظیفه ورکړای شوه چې د سیمې قبایل، له دولت سره ملګرتیا ته راوبلي. کله چې هغه خبر شو چې وروڼه یې سرحدي سیمو ته راغلي دي، پخپله پاراچنار ته روان شو او له نادر خان سره یې خپله همکاري اعلان کړه او په دې توګه جنوبي د نادر خان لاس ته ورغي.

په ۱۹۲۹/۱۳۰۷ نادر خان بیا په پکتیا کې (اصلاح) جریده چاپ کړه چې د حبیب الله کلکاني مخالف اهداف یکې څېړيدل او هم يې په داسې دول د افغانستان مسأله د خلکو ترمنځ مطرح کړې وه چې دامان الله خان ملګرو تصور کاوه چې بنايي محمد نادر خان واک ته تر رسيدو وروسته تبعيد شوی پاچا امان الله بيرته را وغواړي او تر هغې چې کابل نه ونيول شوی، نادر خان، په ښکاره د امان الله خان د پلويانو له دې غوښتنې سره موافقه ښوده او هغوی يې په نخښنه کول چې تربرې د مخه د هغه پر خلاف بله جبهه پرانه نستل شي.

د ۱۳۰۸ په تلې/اکتوبر ۱۹۲۹م میاشت کې شاه محمود خان او شاه ولي خان کابل ونيو او داو طلب جنګياليو لوټ تالان پيل کړ، عامه شتمنې چور شوې، نادر خان سره له دې چې له دې حالته راضي نه ښکاريد اما له دې لامله چې تر اوسه يې پرتول افغانستان تسلط نه و موندلای د دې هرج و مرج په وړاندې غلي پاتې شو او هغه يې د حبيب الله په وړاندې يو قانوني عمل وګڼه.

حبيب الله کلکاني کوهستان ته وتښتيد، محمد نادر خان عمومي بخښنه اعلان کړه، د مجددی کورنی چې له مصاحبانو او د خلکو ترمنځ له بانفوذه او روحانيونونه وه، د نادر خان او حبيب الله ترمنځ منځګړتوب وکړ. د شور بازار حضرت له هغه قرآن کريم سره چې نادر خان يې په حاشيه کې لاسليک کړی و، حبيب الله ته ورغی، او ديوه مصلح په توګه يې وغوښتل د کورنی جنګ فتنه غلې کړي. د حبيب الله مرستيال سيد حسين هم هغه وهڅاوه چې کابل ته ولاړ شي. کله چې حبيب الله کابل ته ورسيد د امنيتي مسؤولينو له خوا ونيول شو او له اوولس تنو ملګرو سره يې اعدام کړای شو.

نادر شاه تردې پيښې وروسته، ملي جرګه داير کړه چې په هغې کې د پښتنو قومونو مشرانو برخه واخسته نادر خان چې تر هغه وخته پورې د کابل په نيولو کې د امان الله خان حامي ګڼل کيده، ځان رسماً پاچا اعلان کړ او په دې جرګه کې راتول شويو تولو کسانو ورسره بيعت وکړ (د ۱۳۰۸ دتلې ۲۶مه/ د آکتوبر ۱۹۲۹ ۱۸مه) نادر شاه د قومونو د مشرانو ددې عمل درناوی وکړ او د جنوبي سرحداتو خلک يې د عسکری له مکلفيته وبخښل، چې دی قانون د محمد ظاهر شاه تر وخته دوام درلود.

نادر شاه د (۱۳۰۹ په وری مياشت کې (د ۱۹۳۰ستمبر) لويه جرګه ارو غوښته خو ددې جرګې زياترو غړو د پاچا ملاتر ونه کړ او له بيعته يې ډډه وکړه. حکومت د خپل واک د ټينګښت لپاره بيا دجنوبي داوطلب جنګيالي اروغوښتل چې د ياغي ځواکونو په ټکونه کې ورسره مرسته وکړي. په همغه ځای پردل خان کوهستاني د حبيب الله له يوشمير پلويانو سره پاڅون وکړ، دولتي ځواکونو پرشمالي حمله وکړه، پردل خان ووژل شو. او خوځښت غلې شو.

په ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱ د حبيب الله پلويانو په هرات کې پاڅون وکړ او تصور کيده چې ددې قيام لمن پراخه شي. پاچا له انګليسانو ته مرسته وغوښته، انګليسانو لس زره ميله ټوپک، پنځه مليونه مرمۍ، او اويا زره انګليسي پونډ ورکړل. جنرال شاه محمود خان، له عسکری ځواکونو سره هرات ته ولاړ، او په يوه

خونړۍ تکرکې یې خوښښت غلی کړ.

په همغه کال د شینوارو خلک هم د یو لړ مادي امتیازاتو لکه د مالونو د ګمرکي او مالیاتي تعزیراتو دلرې کولو غوښتنه وکړه چې دا غوښتنه ډېر ژر ومنل شوه او خوښښت غلی شو.

په همغه ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱ کال د آسو هغې خواته د سمرقند او بخارا خلکو د روسي اشغال او د مرکزي آسیا د ځمکو د نیولو پر خلاف په تاجکستان کې جهاد اعلان کړ. د مقاومت د ابراهیم بیګ ترسشري لاندې ورځ په ورځ پیاوړی کیده. د همغه ځای مجاهدینو د روسانو پر خلاف د خپلو مبارزو د دوام لپاره افغانستان یو ښه او د ادمن مورچل ګڼه. ابراهیم بیګ د روسانو د تجاوز پروخت افغانستان ته پناه راوړې وه.

په دې اړه د روسانو سیاسي هیأت له دولت سره په تماس کې شو. او پرښه ګاونډیتوب او بې طرفۍ یې چې د امان الله خان په وخت کې یې ترون لاسلیک شوی و، ټینګار کاوه. محمد نادر شاه چې لاهم په ټول افغانستان کې د خپل واک له ټینګښت نه ډاډه نه و، او له کورنیو پاڅونو ویرېده. په قیدو شرط سره یې (روسانو له په رسمیت پیژندنې سره موافقه وکړه او سپهسالار شاه محمود خان یې د ابراهیم بیګ د ځواکونو د تیت وپرک کولو په خاطر، قطغن ته واستاوه. په پرله پسې جنګونو کې د ابراهیم بیګ ډیر کسان له منځه یوړل شول او پخپله دی دواخان او پامیر له لارې د پامیر غرونو ته وارول شو. وروسته ابراهیم بیګ د روسانو په لاسو زنداني او شهید کړای شو. ځنې مؤرخین په دې عقیده دي چې ابراهیم بیګ یې روسانو ته وسپاره او پرې نښودای شو، چې "د مزدور نادر شاه په لاس کفارو ته د هغه مسلمان مبارز سپارل... په حقیقت کې د اسلام دښمنانو ته د بخارا د سعادت د کیلي سپارل او د کفر پښوته د اسلام د بیرغ تیټول و."(٦)

## له څرخي کورنۍ سره د پاچا دښمني

لکه دمخه مو چې هم ورته نغوته وکړه، د څرخي کورنۍ ورونه او محمد نادر خان او مصاحب ورونه یې د امان الله خان په اداره کې د دوو رقیبو ابعادو او ځواکونو په حیث موجودو و چې امان الله خان د دې واقعیت په درک کولو سره، نادر خان پاریس ته د سفیر په توګه ولیږه. کله چې نادر خان د کابل واک ته ورسیده، د څرخي کورنۍ له خوابې کلک مخالفت وشو. غلام صدیق خان، غلام نبي خان او غلام جیلاني خان درې ورونه د غلام حیدر خان څرخي زامن د لوګر یوسف زي دي. دې کورنۍ د افغان – انګلیس له دویم جنګ او عبدالرحمن خان د سلطنت له وخته د محمد نادر خان تر وخته د افغانستان په سیاسي او نظامي چارو کې حساس نقش درلود او د آدمک په عقیده: "څرخي کورنۍ د امیر امان الله خان له ډیرو وفا دارو پلویانو نه شمیرل کیده"(۷)

کله چې نادر خان کابل ونیو او د پاچا بې اعلان یې وکړ د افغانستان د نورو سیمو او برجسته سیاسي شخصیتونو له کلک مخالفت سره مخ شو چې له هغې سره مقابله ګرانه ښکاریده او څرخي کورنۍ یوله دغو مخالفینو نه شمیرل کیده. ځکه هغوی فکر کاوه چې، نادر خان، د امان الله خان د بیرته را وستو لپاره داهلې ځلې پیل کړې دی نه دا چې پخپله دواک پرګدۍ کښینې. همدا راز له قشري پلوه هم د څرخي کورنۍ د نادر خان کورنۍ د اشرافي تیټ کچ کورنۍ ګڼله او عقیده یې درلوده چې "دنادر خان پلار سرداریوسف خان او اولاده یې د محمد زیي کورنۍ له نوکرانو نه دي او کامل افغاني اصلیت نه لري"(۸)

نادر خان د سلطنت په پیل کې له ترسبنت او حیلې نه کار واخست او خپل مخالفان یې په یوه دول د افغانستان له سیاسي – نظامي دګره لرې کړل او څرخي ورونه یې په برلین، انقره او توکیو کې د سفیرانو په توګه وټاکل چې غلام جیلاني خان ونه منله، په کابل کې وزګار پاتې شو او غلام نبي خان په نه زړه ترکیې ته ولاړ؛ له امان الله خان سره یې هم وکتل او د سیاسي واک د ناجایز غصب له امله یې نادر خان ته یو له غوسې دک لیک واستاوه. همدا راز د افغانستان په مختلفو ځایو خصوصاً په ختیزو او جنوبي سرحداتو کې اعتراض امیزه حرکتونه پیل شول.

په تبلیغاتي اړخ کې هم روښانفکرانو او د امان الله خان پلویانو مخالفت پیل کړ. عبدالرحمن لودین یو روښانفکر ژورنالست و چې، نادر خان هغه د کتنې په پلمه ارګ ته وغوښت او د دوه‌ی ترخوړلو وروسته یې د خپلو جلادانو په واسطه، د ارګ په یوه خنده کې وواژه. محي الدین انیس او عبدالهادي داوي یې زندان ته واچول. میر غلام محمد غبار تر څارنې لاندې و او د زندان شپې یې تیرولې. په ټول افغانستان او په ځانګړي توګه په کابل کې دي تبلیغاتو اوازو چې نادر خان د انګلیسانو نوکر دی او د هغوی په واسطه واک ته رسول شوی دی، عامه ذهنونه مغشوش کړي وو او د نادر خان نوی دولت چې د کابل د نیولو پروخت د دولت توله خزانه یې د جنګي داوطلبانو له خوا چور شوې وه او کومه پشتوانه یې هم نه درلوده ویره درلوده چې ځان باید له سقوطه وژغوري.

د نادر شاه کورنۍ وغوښتل چې، له څرخي کورنۍ سره خپل اختلافونه د خپلوۍ د پیوندونو له لارې حل کړي، له همدې لامله یې له غلام جیلاني څرخي نه وغوښتل چې خپلې دوه لونې (کبرا/ بي بي خورد) او (زبیده/بي بي عربي) دده وریرونو محمد داؤود او محمد نعیم د سردار محمد عزیز خان زامنو ته په نکاح کړي، څرخي دا وراندیز ونه مانه او هغه یې یوه حیله وګڼله. (۹)

نادر شاه، شاه محمود خان جنوبي ته واستاوه او تر دوه اوونیو وروسته له دې رپوټ سره چې څرخي کورنۍ د ځدرانو په نارامۍ کې لاس لرې کابل ته ستون شو. له دې نارامیو سره جوخت غلام نبي خان چې د ښه نیت او ارامۍ په خاطر کابل ته راغلی و، د نادر شاه اندیښنه زیاته کړه؛ ځکه چې د غلام نبي خان په راتګ سره، د امان الله خان پلویان او د نادر خان مخالفین د هغه په کورکې چې د شاه دو شمشیره د زیارت ترشا په (جوی شیر) کې واقع و راټول شوي وو، "نادر شاه خپل سر یاور سید شریف خان د غلام

نبي خان کورته واستاوه او هغه او ورورېي غلام جیلاني خان، دلکشاماني ته وروغوښتل. معلومه نه وه چې غلام نبي خان د پاچا له نیته خبرو اوکه نه خو هغه او ور ورېي دسریا ور په ملگرتیا دلکشاماني ته ورغلل او د پاچا په انتظار دیېک لاندی ودریدل. لږ وروسته پاچا له پاس پوړ نه رابنکته شو او همدا چې سترگي بې پرغلام نبي خان ولگیدی په ډیره غوسه بې هغه مخاطب کړ او په دسیسه بې تورن کړ، کنځلې او ستغې سپورې بې ورته وکړې. غلام نبي خان دفاع وکړه او وې ویل چې پلار ته بې له کنځلونه ډده وکړي څکه هغه یو غازي و. پاچا نورهم په غوسه شو او سرباور ته بې امر وکړ چې وبې وهي. همدا چې هغه د وزیر مختار په سوک شپیره کولو پیل وکړ پاچا وویل (داسې بې ووهه چې مړشي). سرباور د پاچا دیوه ساتونکي (محافظ) توپک واخست پخپله او نورو نظامي افرادو د توپک په قنداغونو، غلام نبي خان وواژه، وروسته تر هغه پاچا امر وکړ چې ورور بې غلام جیلاني خان او دوه د تره زامن بې جانباز خان او شیر محمد خان زندان ته واستوی او همدا راز دپاچا په امر د هغوی کور مال او شته مصادره شول او د کورني غړي بې نران، ښځې او کوچنیان د قلعهٔ فتوکی زنداني کړای شول. (د ۱۳۱۱ د لړم ۱۷مه/ د ۱۹۳۲ د نومبر ۸مه).

تردې پیښې وروسته د افغانستان زیات شمیر روښانفکران زندان ته واچول شول او یا اعدام کړای شول. د امان الله خان یو پلوی چې سید کمال نومید او په آلمان کې بې د برښنا په برخه کې د انجنیري زده کړه کړې وه په برلین کې د افغانستان پر سفارت حمله وکړه او د نادر خان ورور (د محمد داؤود پلار) سردار محمد عزیز خان، بې وواژه.

د ۱۳۱۲ د لیندی په ۱۷مه/ د ۱۹۳۳ د نومبر ۸مه کله چې نادر شاه د نجات لیسې د شاگردانو جایزې ویشلې، د څرخي کورني یوه سرتیري عبدالخالق هغه په تومانچه وویشت او وبې واژه، دا ورځ د غلام نبي خان د وژنې له تلین سره برابره وه، عبدالخالق شپاړس کلن و او د غلام نبي خان د یوه خدمتگار زوی و چې هغه په زوی ولی هم نیولی و. کله چې عبدالخالق د نادر خان د وژنې په اړه په تحقیق کې اعتراف کړی و چې هغه د خپل پدر خوانده (غلام نبي خان) د وینو د غچ اخستنې په خاطر دا کار وکړ. عبدالخالق د یو زیات شمیر نورو کسانو سره تر غیر انساني شکنجو لاندې اعدام کړای شو.

محمد نادر شاه او مصاحبانو بې اسلامي شعایر په داسې توگه د خپل کورني سیاست په تگلاره کې ځای کړی وو چې د لویو او هیواد شمولو غونډو د جوړولو، د پاڅونونو د ځپلو او د جنگي داوطلبانو د راټولولو پر وخت بې اسلام او مذهبي شعایرو ته زیات درناوی د خپل کار اساس ښود. پاچا روحاني شخصیتونه چې اولسي نفوذ بې هم درلود، په خپل څنگ کې ساتلي وو او د خپل واک په ټینگښت کې بې د هغوی له مشورو او فتواگانو نه گټه اخسته.

د شاه مصاحبانو (محمد هاشم خان، شاه محمود خان او شاه ولي خان) او هم برجسته روحانیونو لکه فضل عمر مجددی، نقیب شیر آغا (ښایي د لیکوال هدف د شیر آغا پلار سید حسن وی چې په نقیب

صاحب مشهور نه پخپله شیر آغا = ژباړن) او محمد صادق مجددي چې د شور بازار په حضرت مشهور و د نادر شاه د سلطنت او ظاهر شاه د سلطنت په لومړیو کې د څلرویشت کالو په شاوخوا کې په خصوصي ډول د یوې با صلاحیته اجرائي شورا په توګه کار وکړ او سلطنت یې ټینګ کړ.

د محمد نادر شاه په دوره کې مطبوعاتو او ژورنالیزم ته ډېره لږه پاملرنه وشوه؛ ځکه دولت له یوې خوا د خپل واک دټینګښت لپاره هلې ځلې کولې او له بلې خوا یې د مخالفتونو په منځ کې ژورنالیزم او مطبوعات یو لوی تبلیغاتي خطرګانه.

# د محمد نادر شاه تیروتنې

## ۱ – ترسوګند وروسته د حبیب الله کلکاني اعدام

کله چې نادر شاه د قرآن کریم په حاشیه کې لاسلیک وکړ او محمد صادق مجددي، چې د دواړو ترمنځ یې منځګرتوب کاوه حبیب الله کلکاني دی ته چمتو کړ چې کابل ته راشي. کله چې حبیب الله له خپلو اوولس تنو ملګرو سره کابل ته راغی نادر شاه پرته له دې چې د قرآن کریم حرمت یې ساتلی وی هغوی ټول اعدام کړل او جسدونه یې د دولت په خپله ادعا (د خلکو د عبرت په خاطر) د څوورځو لپاره د سرنجان غونډۍ ته مخامخ چمن کې ځوړند کړل، چې په دې توګه دولت اولسي باور له لاسه ورکړ او نادر خان د خلکو ترمنځ د (سوګند ماتوونکی نادر) په نامه مشهور شو.

### ۲ – د امان الله خان په نامه خدعه

کله چې نادر خان او ورونږي په مشرقي او جنوبي سرحداتو کې له قومونو سره غونډۍ درلودې خپلو مبارزو ته یې داسې رنګ ورکړی و چې هغوی د افغانستان ساتونکي او د امان الله خان د بیرته راستنیدو پلویان دي. د امان الله خان زیات پلویان د نادر خان په دې تکتیک وغولیدل او تر وروستي شیبې پورې چې نادر خان په کابل کې د سلطنت اعلان وکړ، چا داګومان هم نه کاوه چې نادر خان به د واک تر لاس ته راوړنې وروسته د خپلواکۍ کتیبه هم پخپل نامه حک او د امان الله خان نوم به ترې حذف کړي. همدا راز یې د کابل د نیولو د مبارزو په دوران کې د امان الله خان زیاتره ملګري په نښه کړل او ترڅه وخت وروسته یې یو شمیر بندیان او یو شمیر یې اعدام کړل.

### ۳– د محمد ولي خان اعدام:

هغه یې له امان الله خان سره دخیانت په جرم اعدام کړ، په داسې حال کې چې نادرشاه پخپله داسان الله خان مخالف و. وایي چې هغه یې هم خپل سیاسي رقیب ګانه او ویې غوښتل ژریې له ډګر نه لرې کړي.

### ٤- د تاجکستان د مبارزینو فرار او تبعید

ابراهیم بسمه چې د تاجکستان د مبارزینو مشر د افغانستان د دولت د فشار په نتیجه کې له آموسیند ور اخوا پورې ویستل شو چې د کمونستانو په لاسو ترکیوتنې وروسته اعدام کړای شو. یو شمیر مؤرخین وایي چې نادر شاه دسه تیت په بنا هغه روسانو ته وسپاره.

### ٥- د څرخي کورنۍ ناځوانمردانه اعدام

د امان الله خان د پلویانو په نامه، نادر شاه له بهره د څرخي کورنۍ په بیرته راستنولو کې هم د قرآن کریم په حاشیه کې لاسلیک وکړ او د خپل ورور شاه ولي خان په واسطه یې د ترکیې په اسلامبول کې غلام نبي خان څرخي ته، پیغام واستاوه، چې هغه له ځانه سره راولي او هغه د هغې دورې وزیر مختار هم و. خو د غلام نبي خان راستنیدنه د افغانستان په جنوب کې له ناراسیو سره مصادفه وه او دا د پاچا په اندددی کورنۍ دله منځه ورلو دیر بنه وخت و.

### ٦- پرځوانانو او روښانفکرانو، نه باور

دا مسأله چې د روښانفکرانو او محمد نادر شاه د دولت ترمنځ د اختلافاتو د څرګندولو لامل شوه، یوزیات شمیر روښانفکران او ځوانان زندانونه واچول شول او په افغانستان کې یو دکتاتوري حکومت را منځ ته کړای شو.

# د محمد نادر شاه د دورې ژورنالیزم

واک ته د محمد نادر شاه په رسیدو سره په افغانستان کې ژورنالیزم یا صحافت په بله بڼه را ژوندی کړای شو. پاچا اداري او قانوني تګلاره، هغسې لکه د امان الله خان په وخت کې یې چې په نیمه آزاده توګه جریان درلود، په دې دوره کې مطبوعات یو ضرورت و چې بنایي د زماني جبر محمد نادر شاه دې ته اړایسته چې د خپلو سیاسي اهدافو د تحقق په لار کې له هغې نه دیوې وسیلې په توګه کار واخلي. د دې دورې مطبوعات په یوه آمرانه فضا کې د دولت تر شدیدې څارنې لاندې وو او زیاتره خپرونې د پاچا د اهدافو خپروونکې وې. (اصلاح) چې د دولت یوازنۍ معتبره خپرونه وه، د دولت اعلامیې او فرمانونه خپرول او د محمد نادر شاه په ګټه یې تبلیغات کول؛ څکه یې د خپلې واکمنۍ په وخت کې سره له هغې چې وبې کړای شو د هیواد زمکنۍ بیشپړتیا او ملي واکمني وساتي او هیواد د تجزیې له خطره وساتي، دیرې لوی تیروتنې هم وکړې چې د خلکو باور ترې سلب شو.

محمد نادر شاه دیوه محافظه کارانه سیاست پلوی وو، چې، د مطبوعاتو د قانون د تنفیذ جرأت یې نه درلود او له تبلیغاتو نه سخت ویریده.

یو شمیر روښانفکران او د امان الله خان پلویان له سرحد نه اخوا د هند شمال (نننې پاکستان) ته وتښتیدل او په لاهور کې یې د (افغانستان) او (فغان افغان) په نامه خپرونې چلولې چې د امان الله خان په پلوی او د محمد نادرشاه د غولوونکي سیاست پر خلاف وې. همدا راز یې په دې جرایدو کې له انګلیسانو سره د نادر شاه پټې اړیکې او ژمنې بربنډولې.

"نادر شاه له دې تبلیغاتو نه وویرید او بلې خدعې ته یې لاس واچاوه. هغه علامه اقبال ته چې پخوایې په افغانستان کې دسولې راوستوته هڅولی و، بلنه ورکړه چې کابل ته سفر وکړي، خو له دې سره هم تر دیره وخته د نادر شاه د دولت ضد روحیه د سرحدونو نه بهر پاتې وه"(۱۱)

د نادر شاه په کابینه کې د هغه دکتاتور ورور محمد هاشم خان د صدارت پر کرسۍ کار کاوه. هغه لکه عبدالرحمن خان په تولنه کې د هر ډول وګړنیزې (فردي) ازادي مخالف و. د ۱۳۰۹ش په تلې میاشت/۱۹۳۱ اکتوبر کې نوی اساسي قانون په (۱۱۰) مادو کې تصویب او نافذ کړای شو. د پاچا انتصابي شورا (ملي جرګه) چې (۱۰۵) غړي یې درلودل دا قانون تأیید کړ. د نادر شاه په اساسي قانون کې پر مطبوعاتو کلک بندیز ولګول شو په داسې حال کې چې د اساسي نظامنامې په تجدید کې په یوه ساده کې د مطبوعاتو د ازادي وعده ورکړې شوې وه." (۱۲)

(انیس) د افغانستان لومړنۍ آزاده خپرونه چې د حبیب الله کلکاني په وخت کې مصادره شوې وه د

نادر خان په له اختناقه ډکه دوره کې بیا، د دري ګنو ترخپرولو وروسته مصادره شوه او مسؤول مدیر یې اروابناد محي الدین انیس زندان ته واچول شو خو دولتي ژورنالیزم په دې دوره کې پراختیا وسونده، له هغې جملې نه:

د خپرونې نوم: *اصلاح*

د تأسیس کال: ۱۳۰۱ مرغومی/ د ۱۹۲۳ دسمبر

خپرندوی او د امتیاز خاوند: محمد نادر، هغه مهال چې د قطغن د نایب الحکومه په حیث یې کار کاوه.

مسؤول مدیر: په قطغن کې یې لومړنی مسؤول مدیر شیر احمد بنودلی دی او څنې محمد بشیر، د اصلاح لومړنی مسؤول مدیر بولي. د اصلاح دویم مسؤول مدیر حافظ فیض محمد خان دی. په پکتیا کې: نصر الله خان او وروسته په کابل کې محمد حسن سلیمي، محمد زمان تره کي، محمد امین خوګیاني، محي الدین انیس، برهان الدین کشککي، د نادر شاه د واکمنی پر وخت د دې ورځپاڼې مسؤولیت پرغاړه درلود. په ۱۳۳۰ش/۱۹۵۱م کې د مطبوعاتو د دویم قانون په له منځه وړلو سره، محمد فیروز د اصلاح مسؤول مدیر وټاکل شو. د محمد ظاهر شاه د واکمنی په وخت کې یې عبدالرحمن پژواک او سید فقیر علوي، مسؤول مدیران پاتې شوي دي، په دې اړه زیات مأخذونه نه لرم. (مؤلف)

د خپرونې ځای، چاپ شمیره، خپرونې ژبه: خان آباد، ګردیز، کابل په پیل کې د پنځوسو ګنوترمنځ، او د محمد موسی شفیق د صدارت پروخت ۸۰۰۰ نسخې، پښتو، دري.

د چاپ نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: په پیل کې پنځلس ورځنی، وروسته اوونیزه، او د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پروخت د هیواد ملي ورځپاڼه وه، په پیل کې ۲۲ x ۳۳ سانتي متره په یوه مخ کې په دوو ستونو کې چاپیده، د محمد موسی شفیق په صدارت کې د ۱۲ تر ۱٦ مخو پورې، کچه یې تر ٤٢x٥٨ سانتي مترو پورې ورسیده.

د خپرونې د کار پای: د ۱۳۵۲ش د چونګاښ ۱۵مه/ د ۱۹۷۳ د جولای ۱۷مه د داؤود خان د ۱۳۵۲ د چونګاښ د شپږویشتمې له کودتا سره په کابل کې د رژیم په بدلون سره چې شاهي رژیم په جمهوري بدل شو. محمد داؤود اصلاح ورځپاڼې د نادر خان میراثي یادګار ګانه نو په همدې خاطر یې د دې ورځپاڼې تشکیلات د (جمهوریت) په نوې تأسیس شوې ورځپانه بدل کړل. او اصلاح ورځپانه دتل لپاره له خپرونو پاتې شوه.

محتوی: په خان آباد کې د اصلاح ورځپاڼې محتوی داخلي مقالو او موضوعاتو تشکیلوله، وروسته د دولت ژبه او خبرې اورګان شو او دیوې معیاري ورځپاڼې ټول مطالب یې درلودل.

یادښت: کله چې د حبیب الله کلکاني پاځون په کابل کې بریالی شو او امان الله له واکه ګوښه کړای شو، اصلاح جریده هم له خپرونو پاتې شوه. هغه مهال محمد نادر خان هم فرانسې ته تللی و. د ۱۳۰۷ش په زمري/ د ۱۹۲۹ په اګست کې چې امان الله خان له فرانسې نه پکتیا ته ستون شو، اصلاح بیا په همغه پخواني کچ په ګردیز کې پخپلو خپرونو پیل وکړ او زیاتره مطالب یې د حبیب الله کلکاني پر خلاف د سرحدي قومونو هڅونه وه.

د حبیب الله درژیم په سقوط سره، اصلاح جریده دولتي او وروسته په لوی کچ ددولت یوه معتبره ورځپاڼه شوه او په څلورو مخونو کې په کابل کې خپریده.

اصلاح ورځپاڼه د محمد نادر شاه د سلطنت له زماني نه د محمد ظاهر د پاچا یی تر سقوطه پوري (د ۱۳۲۵ش د چونګاښ ۲۶مه) د دولت ویانده وه او د دولت ټول فرمانونه، اعلامیې او قوانین په پښتو او دري ژبو پکې خپریدل.

د نوراحمد اعتمادي د صدارت پر وخت چې محمود حبیبي د اطلاعاتو او کلتور وزیر و، په ورځپاڼه کې انحرافي او د اسلام ضد مطالب او همدا راز د حضرت پیغمبرﷺ پر خلاف یو کار تون خپور شو. (دا مهال د ورځپاڼې مدیر سید فقیر علوي و، زیارن) چې د خلکو د احتجاج باعث شو او دولت هغه ګنه مصادره کړه او نسخې یې له بازاره را ټولې کړې او دا ورځپاڼه موقتاً له خپرونو پاتې شوه.

د محمد موسی شفیق د صدارت پروخت چې صباح الدین کشککي د اطلاعاتو او کلتور وزیر و، د هیواد په کچه د ورځپاڼو د تصمیم په لاره کې څه نوښتونه رامنځ ته شول او هڅه کیده چې دولتي ورځپاڼې د دولت له اداري بهرې کړای شي او په آزادو ورځپاڼو بدلې کړای شي. هغه مهال (اصلاح) او (انیس) ورځپاڼې سره مدغمې کړای شوې او د محمد ظاهر شاه د مخالفت سره سره یې د (اصلاح - انیس) په نامه خپل فعالیت پیل کړ. که تیراژ او مخونه یې هم زیات کړای شول او په لږ وخت کې په ټول افغانستان کې خپریده.

د خپروني نوم: *کابل*

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱م

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ادبي انجمن

مسؤول مدیر: لومړنی مسؤول مدیر یې مشهور شاعر محمد انور بسمل و. محمد حسن کاکړ د ظاهر شاه په دوره کې د کابل مسؤول مدیر و. د خپروني ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: د کابل دولتي مطبعه، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګنو پوري، پښتو، دري.

د چاپ نوعیت، کچه، او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۱۵X ۲۱ سانتي متره، غیر مصوره چې ځینې

مطالب یې لرل د ۴۰-۶۰ مخونو پورې. د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۱ش/۱۹۹۴م.
محتوی: د افغانستان د ادبیاتو او مشاهیرو، هنری او تاریخي مسایلو په باب مقالې.
یادښت: د دی مجلې مسؤول مدیر له یو شمیر نورو مشروطه غوښتونکو سره، چې د ادبی انجمن غړی وو، د کابل د مجلې تر خپرونې یو کال وروسته، زندان ته واچول شول.

د خپرونې نوم: *اتحاد مشرقی (په ۸۷ مخ کې مطالعه وکړئ).*

د خپرونې نوم: *اردو*
د تأسیس کال: ۱۳۰۱ش/۱۹۲۲م.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ملی دفاع وزارت
مسؤول مدیر: د محمد داؤود د جمهوریت پروخت شمس الدین ظریف صدیقی
د خپرونې ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: د دفاع وزارت مطبعه، کابل ۲۰۰۰ ګڼې، پښتو، دری.
د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: دری میاشتنی مجله، (فصلنامه) ۲۸ x ۲۱ سانتی متره مصوره له څیړنیزو مطالبو سره، د ۴۰-۱۰۰ مخو پورې.
د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۳ش/۱۹۹۴م
محتوی: په نظامی مسایلو کې تخصصی مقالې او مطالب، جنګونه، وسلې او جنګی تاکتیکونه، د پاچا او دفاع وزارت اعلامیې، د خاصو ورځو نمانځنه، مرکې او بهرنی رپوتونه.
یادښت: دا خپرونه دمحمد ظاهر شاه اومحمد داؤدو په وخت کې دمحتوی اوکیفیت له پلوه ډیره ښه شوه.

د خپرونې نوم: *افغان کالنی*
*(د افغانستان لومړنی کالی)*
خپرندوی او د امتیاز خاوند: کابل ادبی انجمن
مسؤول مدیر؟
د خپرونې ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: د کابل دولتی مطبعه، ۵۰۰ جلده، پښتو - دری.
د چاپ نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: په کال کې یو ځل د یوې مجموعی او کتاب په بڼه ۲۱x۱۳ سانتی متره، مصوره.
د خپرونې د کار پای: کالنی د دولت د اورګان په توګه په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې خپریده، او د نجیب الله (وروستی کمونست جمهور رئیس) تر وخته په کابل کې خپریده.
محتوی: د افغانستا پیښې، او د وزارتو او دولتی ادارو فعالیتونه.

د خپرونې نوم: *هرات*
د تأسیس کال: ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د هرات ولایت ادبي انجمن
مسؤول مدیر: محمد سرور جویا
د خپرونې ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: هرات ښار، ۵۰۰ ګنې، دري د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: دوه میاشتنی مجله، ۲۱x۱۳ سانتي متره ۴۰-۵۰ مخونه، حروفي چاپ،
د خپرونې دکار پای: ؟
محتوی: د افغانستان او بهر په باب ادبي، هنري، تاریخي او ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *مجله بلدیه هرات*
د تأسیس کال: ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د هرات ښاروالي.
مسؤول مدیر: ؟
د چاپ ځای، تیراژ او خپرنې ژبه: هرات ښار، ؟، دري.
د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۲۱x۱۵ سانتي متره، حروفي چاپ، ۲۰ مخه.
د خپرونې د کار پای: ۱۳۱۲ش/۱۹۳۳م.
محتوی: ټولنیزې او روغتیایي مقالې او په کورنیو او ښاروالي پورې اړوند مطالب.

د خپرونې نوم: پښتو
د تأسیس کال: د ۱۳۱۱ د مرغومی ۱۵مه/د ۱۹۳۳ د جنوری ۵مه.
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د کندهار ادبي انجمن
مسؤول مدیر: مولوی صالح محمد هوتک
د خپرونې ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کندهار ښار، ۵۰۰ ګنې، پښتو.
د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۱۵ x ۲۱ سانتي متره حروفي چاپ، د ۳۰-۴۰ مخه.
د خپرونې د کار پای: ۱۳۱۲ش/۱۹۳۳م د محمد نادر شاه له وژنې سره سم.
محتوی: د پښتو ادبیاتو، د افغانستان د شخصیتو او تاریخي او هنري مسایلو په باب څېړنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *حی علی الفلاح*
د تأسیس کال: ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: ؟ مسؤول مدیر؟
د خپرونې ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل مطبعه، ؟، پښتو، دری.
د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۱۵x۲۱ سانتی متره ۳۰-۴۰ مخه.
د خپرونې د کار پای: ۱۳۱۲ش/۱۹۳۳م د محمد نادر شاه وژل کیدل.

د خپرونې نوم: *اقتصاد*
د تأسیس کال: ۱۳۱۱ش/۱۹۳۲م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: ؟ مسؤول مدیر: ؟
د خپرونې ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل مطبعه، ؟، پښتو، دری.
د چاپ نوعیت، کچه، او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۱۵x۲۱ سانتی متره ۳۰مخه، حروفی چاپ.
د خپرونې د کار پای: ۱۳۱۲ش/۱۹۳۳م د محمد نادر شاه د دوری پای.
محتوی: اقتصادی مقالې او خبرونه او هم د دولت تولنیز او سیاسی مسایل.

د خپرونې نوم: *عرفان*
د تأسیس کال: د ۱۳۱۰ش وری/د ۱۹۲۹ اپریل
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د معارف وزارت روزنیز او علمی افکار.
مسؤول مدیر: لومړی مسؤول مدیر مشهور شاعر محمد هاشم شایق. په ۱۳۱۹ش/۱۹۱۸م کې برهان الدین کشککی د دې مجلې مسؤولیت پر غاړه درلود.
د چاپ نوعیت، کچه، او د چاپ بڼه: دری میاشتنی مجله، دوه میاشتنی او میاشتنی، ۳۳x۴۱ سانتی متره، ۳۰-۴۰ مخه.
د خپرونې د کار پای: د محمد ظاهر شاه د دوری پای او د محمد داوود د جمهوریت پیل (۱۳۵۲ چونگاښ ۲٦مه)
محتوی: ادبی، فلسفی مقالې، د بهرنیو خبرونو ژباړه، روغتیایی مطالب، اشعار او کله هم دولتی اعلامیې او همدا راز روزنیز علمی، په زده کړې او پالنې پورې اړوند مسایل.
یادښت: دا خپرونه د نجیب الله په وخت کې بیا راژوندۍ کړای شوه.

د خپرونی نوم: *پیام تندرستی*

د تأسیس کال: د ۱۳۱۰ش زمری/د ۱۹۳۱م اگست.

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د روغتیا د مستقل ریاست خپرنی اورگان.

مسؤول مدیر: عبدالرشید لطیفی.

د خپرونی ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰ ټوکه پښتو - دری

د چاپ نوعیت، کچه او د چاپ بنه: دوه میاشتنی مجله، ۴۱x۳۳ سانتي متره په سپین اخباری کاغذ کی، ۳٤ مخه یورنگ چاپ.

د خپرونی د کار پای: د ۱۳۱۱ثور/د ۱۹۳۲ اپریل.

محتوی: علمی، روغتیایی مقالی او د کورنی روغتیا

## هغه جریدی او خپرونی چی بیا راژوندی کړای شوی

لکه چی د مخه وویل شول، د حبیب الله کلکانی په وخت کی د امانی دوری زیاترو دولتی جریدو خپل نوموته بدل کړل چی د هغی دوری د واکمنی دستنو د ټینګښت لپاره مهم شمیرل کیدل. محمد نادر شاه ددی خپرونو پخوانی نوموته را ژوندی کړل او یو شمیر خپرونی بی ودرولی. هغه خپرونی چی پخپلو پخوانیو نومو را ژوندی کړای شوی. عبارت دی له: (اتفاق اسلام) په هرات کی، (طلوع افغان) په کندهار کی، (اتحاد مشرقی) وروسته ننگرهار په جلال آباد کی، (بیدار) په مزار شریف کی، او (مجموعهٔ عسکریه) (مجموعهٔ اردوی افغان) او (آئینهٔ عرفان) په کابل کی.

# د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ دوره

۱۳۱۲-۱۳۵۲ش/۱۹۳۳-۱۹۷۳م

محمد ظاهر شاه د ۱۳۱۲ د عقرب په دولسمه/ د ۱۹۳۲د نومبر په اتمه د نجات د مکتب دیوه ممتاز شاگرد او څرخي کورنۍ دپلوی د عبدالخالق په لاس د خپل پلار محمد نادر شاه تر وژل کیدو وروسته د واک پرگدی کښېناست. "نادر په همغه شیبه او یا په سرمی ترلگیدو څو دقیقی وروسته، وسړ، خو حکومت د احتیاط له مخی اعلان وکړ چی پاچا یوازی ټپی شوی دی. شاه محمود خان د ذیصلاحو ملکی او عسکری مامورینو امنیت څه په کابل او څه هم په شاهی ارگ کی پرغاړه واخست. تر هغی وروسته شاه محمود خان په یوه مهمه غونډه کی د پاچا وژل کیدل اعلان کړل او محمد ظاهر شاه ته بی بیعت ورکړ. محمد ظاهر شاه د محمد نادر شاه یو ویشت کلن زوی و"(۱۳)

د افغانستان واکمنی د محمد ظاهر په څیر دیوه نوی ځلمی په واسطه پرمخ بیول اسانه کار نه و؛ خو د محمد ظاهر شاه د ترونو د مخلصانه همکاری په وجه دی واکمنی څلویښت کاله دوام وکړ. او دا "یوه دیره ښه موقع وه چی روسانو وکړای شو په پوره خاطر جمعی او ښکاره دول خپل استعماری پروگرامونه یو پر بل پسی زموږ په هیواد کی عملی کړی"(۱۴) یو شمیر مؤرخینو "ظاهر شاه دښه نیت خاوند؛ خو ضعیف النفسه گڼلی دی"(۱۵)

جورج آرنی لیکی: "کله چی نادر شاه ووژل شو او ظاهر شاه بی ترونو په یوه اتفاق دواک پرگدی کښېناوه، ظاهر شاه د خپلی واکمنی په لومړیو شلو کالو کی له یوسمبول پرته نور څه نه و او د خپلو ترونو، په سیوری کی بی سلطنت پر مخ بیوه"(۱۶)

هغه همدا راز د هغه وخت دوه ځوانان شهزاده ظاهر او شهزاده داؤود چی کورنی په هغو پوری زړه ترلی و د سیاسی مقایسی په باب په کابل کی د انگلیسی د سفیر د لیکنی په استناد لیکی چی: "شهزاده ظاهر او شهزاده داؤود دوه کم تجربی ځوانان وو چی د نادر شاه په وژل کیدو سره، ژر او د تاریخ په جبر سیاسی دگرته راکښودل شول"(۱۷)

شهزاده ظاهر او شهزاده داؤود په لومړنی ښوونځی او حربیه کی سره تولگیوال وو، او زده کړه بی یو ځای پای ته ورسوله. د بهرنی زده کړی لپاره هم یوځای فرانسی ته واستول شول. دوپری لیکی: "کله چی اتلس کلن زلمی شهزاده (محمد ظاهر) له حربی ښوونځی نه فارغ شو، د جنگ او معارف د وزیر په توگه مقرر کړای شو چی دا دواړه سازمانونه پیچلی او گران او د هغه له وس نه بهر وو؛ خو عملاً کارونه د ظاهر شاه ترونو تر سره کول"(۱۸)

د انګلیسانو یو سیاسي مامور دبلیو کې فراسر تایتلر W.K. Fraser Tytler چې دیرش کاله یې د افغانستان په سرحدونو او هند (پخواني) او هم د افغانستان د ننه تیرکړي دي پخپلو خاطراتو کې د محمد ظاهر او محمد داؤود په باب لیکي: "دادوه ځوانان مې چې په ناز و تنعم کې لوی شول د نادر شاه تر مرګ د مخه د خپلواکۍ د ورځې په تجلیل کې ولیدل. د داؤود مزاج نسبت ظاهر شاه ته له یوه افغان سره ورته والي درلود چې زما په نظر کولای یې شوای په راتلونکې کې افغانستان اداره کړي. داؤود یو او توکرات او یو کامل نظامي وو. هغه په خپلو قوي احساساتو او پخه ګروهه چې درلوده یې کولای شو چې هغه با انضباطه اداره چې وګنو. ظاهر مې چې هغه مهال وکوت د نادر شاه په بل اړخ کې واقع و او مراسم یې کتل، هغه متظاهراو ځان ښودی (خودنما) ښکاریده چې ځان یې پرهیزګار او با ادبه معرفي کاوه." (۱۹)

یو هندي دپلومات وایي چې ظاهر شاه به تل ځان د کار له فشاره ګوښه کاوه او یو استراحت غوښتونکې سړی و هغه په سپرلي کې ډیر ماهر و او هر سهار به د کابل د لویدیځ په شل کیلومتره کې د پغمان شنې سیمې ته ته او کله به یې هم ورځې هلته تیرولې او په شاهي باغ کې به په باغواني لګیاو. (۲۰)

د محمد ظاهر شاه داوړدې واکمنۍ پر وخت مطبوعاتو د نورو دولتي سکتورونو غوندې ډیر بدلونونه لیدلي دي چې له هغې جملې نه دوه ځلې د ازادو مطبوعاتو تنفیذ، د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې لوبې تاریخي مرحلې ګڼل کیږي. د هیواد تاریخي پیښنو او سیاسي بدلونو په پام کې نیولو سره، ښه پوهیږم چې د مطبوعاتو او ژورنالیزم بهیر په جلا مرحلو کې وڅیرم چې د افغانستان په مطبوعاتو د چوپتیاو او سیاسي اختلافاتو اغیزې په واضح توګه بیان کړای شي.

## د محمد هاشم خان لومړۍ وزارت (عظمی صدارت)

## د بیان او مطبوعاتو چوپتیا

۱۳۱۲-۱۳۲۵ ش/۱۹۳۳-۱۹٤٦

کله چې محمد ظاهر د افغانستان خلکوته د پاچا په توګه اعلان شو، محمد هاشم خان د خپلو دوو نورو ورونو شاه محمود خان او شاه ولي خان په همکارۍ د هیواد اداره په لاس کې واخسته چې د عظمی صدارت دنده له همدې سره پاتې شوه. د بهرنیو چارو وزارت فیض محمد زکریا، دفاع وزارت شاه محمود خان او د کورنیو چارو وزارت محمد ګل مومند پر غاړه واخست.

محمد هاشم خان چې یو ظالم سړی و خپل تول پام یې بین المللي اړیکو، د هیواد امنیت او پر سلطنت کامل تسلط ته واړاوه هغه د بیان له آزادۍ نه سخت ویریده او هیڅکله یې هم ونه غوښتل چې دده په صدارت کې دې مطبوعات سررا اوچت کړي؛ د بیان آزادي په چوپتیا بدله شوې وه. په دې دوره کې

یوازې دولتي جریدې او ورځپاڼې لکه (اصلاح) او (انیس) په کابل او رسمي جریدې په ولایتو کې چې د دولت د اهدافو څېړوونکې وې، څېړیدې او د مطبوعاتو عمده کار د دولت د ابلاغیو او فرامینو خپرول وو.

"صدر اعظم سردار محمد هاشم چې په حقیقت کې بې د چارو واګې په لاس کې وې، تولې اداري چارې (د سیرې په حرکت) پرمخ بیولې، هسې نه چې د پرمختګ چټکتیا، د امان الله خان دواکمنۍ ترخه تجربه تکرار کړي. په دې توګه امان الله خان نه دا چې په تاریخ کې د خپلو تیرو تنو مسؤول دی، بلکې د وروستي محافظه کارۍ مسؤولیت هم ور په غاړه دی. د هاشم د حکومت اوولس کلنې دورې خلک دو مره سترې کړې وو چې حتی شاهي کورنۍ هم د خلکو له آواز سره هم غږې شوه..."(۲۱)

د هاشم خان دکابینې په لومړنۍ غونډه کې له نورو هیوادو سره د افغانستان اړیکو ته پاملرنه وشوه چې اقتصادي اړیکو ته هم زمینه برابره کړي. د افغانستان او ایران د سرحدونو په باب تګلارې غوره شوې او افغانستان د ملګرو ملتو په غړیتوب ومنل شو." (۲۲) پر همدې کال ۱۳۱۳ش/۱۹۳٤م امریکا هم افغانستان په رسمیت وپیژاند.

د ۱۳۱۵ش په ورې/ د ۱۹۳٦ مارچ د افغانستان او امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د دوستۍ لومړی تړون، په لندن کې د افغانستان د مختار وزیر علي محمد خان او کورنیلوس فان انګریټ *Cornelies Hvan Engert* ترمنځ لاسلیک شوه او په ۱۳۲۷ش/ ۱۹٤۸م کال د سفیرانو په واسطه سیاسي اړیکې ټینګې شوې، چې په امریکا کې دافغانستان لومړنی سفیر سردار محمد نعیم د محمد داؤود ورور وټاکل شو او واشنګټن ته واستول شو او په کابل کې ایلي، ای پالمر *Ely E Pulmer* د امریکا سفیرو.(۲۳)

همدا راز له شوروي سره د بې طرفۍ او نه تیرۍ لومړنی تړون د ۱۳۱۵ د ورې پر ۷مه/ د ۱۹۳٦ د سپتمبر پنځمه لاسلیک شو.

یوه، سیاست وروسته د ظاهر شاه دویم تره شاه محمود خان چې حربیه وزیر هم و مسکو، ترکیې او ایران ته سفر وکړ او د افغانستان سیاسي دریځ یې چې نړیوال جنګ دوام درلود، تشریح کړ.

صدر اعظم هاشم خان هم هند ته سفر وکړ او له هغه ځایه اروپاته ولاړ چې د افغانستان سیاسي اړیکې پراخې کړي. روسانو او انګلیسانو علاقه وښوده چې له افغانستان سره مرسته وکړي خو صدراعظم د امان الله خان د ترخوتجربو په پام کې نیولو سره له روسانو سره په بارترۍ (جنس په جنس) بنه، د سوداګرۍ تړون رد کړ.

هاشم خان تمایل درلود چې له درې هیوادو، جرمني چې هغه مهال فشیستان د هټلر په مشرۍ په واک کې و،ایټالیا (دموسولوني په مشرۍ د جرمني مؤتلف هیواد) او جاپان (دآسیا د لوبې و چې دتشکیل غوښتونکی) سره سیاسي او اقتصادي اړیکې ولري.(۲٤) چې له دې هیوادونه هریوه په ډیره مینه له افغانستان سره د خپلو اړیکو په پراخولو کې هڅه وکړه او څه پروژې یې پیل کړې.

یوه مهمه پیښه چې د هاشم په دوره کې یې د افغانستان حیثیت پورته بوت، د جرمنې، ایټالیا او جاپان د ۱۸۰ تنو ماموړینو او د پلوماټانو په سپارلوکې یې چې په افغانستان کې وو، د روسانو او انګلیسانو وړاندیز ته رد ځواب ورکړ. افغانستان دیوی اعلامیې په خپرولو سره، په سیاسي پیښوکې خپله کامله بې طرفي اعلان کړه او دا ماموړین یې میلمانه او د هغوی اخراج یې د افغاني فرهنګ مغایر وګڼل او هم یې د هیوادونه تشدده ډک عکس العمل په باب اعلان وکړ چې که د المان مخالف هیوادونه افغانستان په نظامي یا سیاسي قوت وګواښي د افغانستان دولت چمتودی چې د نظامي ځواک په استعمال سره د دغو ماموړینو په نه سپارلوکې له خپل دریځ نه دفاع وکړي.

۱۳۲۰ ش/۱۹٤۱م د افغانستان دولت سره له هغې چې پر ایران د روسانو او انګلیسان له حملې نه خبرو خو هغوی ته یې د جرمنې د ماموړینو د سپارلو په اړه خپل شدید مخالفت وښود. د افغانستان دې دریځ له جرمنې سره په ښو اړیکوکې مثبت اغیز وکړ.

## د مطبوعاتو د مستقل ریاست تأسیس

د مطبوعاتو او ژورنالیزم په برخه کې په ۱۳۱۸ ش/۱۹۳۹ د مطبوعاتو مستقل ریاست تأسیس شو او دافغانستان نومیالی لیکوال او مفکر علامه صلاح الدین سلجوقي د دې ریاست مسؤولیت پرغاړه واخست. په دې سازمان کې فرهنګي او مطبوعاتي فعالیتونه منظم شول او اداري تشکیلات یې په شپږویشت څانګوکې پراختیا و موندە چې پر رادیو افغانستان، د نشراتو عمومي مدیریت، خبري آژانس، د پښتو ژبې او ادبیاتو انجمن، انجمن تاریخ (تاریخ ټولنه) د صحافت او دولتي خبرونو مدیریت، دولتي مطبعه او موزیم مشتمل وو.

په داسې شرایطو کې مطبوعات د دولت اغیز او شدید سانسور لاندې واقع و او هیڅ‌ها هم په مطبوعاتوکې د تحریک او نوښت وس نه درلود. صدر اعظم محمد هاشم خان چې دخلکو ترمنځ دیوه ظالم او مستبد شخص په نامه مشهور و، په دې بریالي شوی و چې له دې آمرانه فضا نه په ټول هیوادکې د امنیت د تأمین په لارکې چې په افغانستان کې د ملي وحدت د ټینګښت لامل شو، ګټه واخلي.

خو په عامه اذهانوکې دې رکود او انجماد داسې یو حالت رامنځ ته کړی و چې ټول خلک اوان، سلطنتي کورنۍ پوزې ته راغلي وه او د حکومت په جوړښت کې یې د سیاسي – اجتماعي بدلون غوښتنه وکړه. د ۱۳۲۵ د ثور په نولسمه/د ۱۹٤٦ د مې نهمه د رادیو له لارې د محمد هاشم خان د استعفی خبر خپور شو. محمد هاشم خان د ۱۳۳۲ د لړم په څلورمه/د ۱۹۵۳ د اکتوبر په شپږویشتمه په کابل کې وفات شو.

## د شاه محمود خان لومړي وزارت (عظمی صدارت) د مطبوعاتو او احزابو نسبي آزادي
## ۱۳۲۵-۱۳۳۲ش/۱۹٤٦-۱۹۵۳م

محمد ظاهر شاه خپل بل تره سپه سالار شاه محمود خان غازي چې هغه مهال حربیه وزیر و دیوه ریفورمست او نو ښتگر په توگه صدراعظم وټاکه، د هغه په وخت کې مهمې پیښې لکه دویم نړیوال جنگ، د پاکستان د حکومت تشکیل او د پښتونستان سرحدي مسأله، په افغانستان کې د مطبوعاتو او سیاسي گوندونو آزادي، منځ ته راغله چې دا ددې دورې ځانگړې پیښې گڼل کیږي.

د افغانستان روښانفکرانو او باسوادو کسانو، شاه محمود خان دیوه متجدد او مدرنیست تحصیل یافته په حیث و هڅاوه چې د اداري چارو په پروگرام کې بنسټیز بدلونونه راولي.

د افغانستان اولسي جرگې د یو شمیر فعالیتونو په نتیجه کې، که څه هم چې لنډه موده یې تیره کړې، خو په تاریخ کې د ثبت شویو جنجالونو پیلوونکې شوه او په دې بریالي شوه چې د حکومت د اجرائیه قوې په وړاندې یې خنډشي او ځان ته د اپوزیسیون په توگه تبارز ورکړي. د جرگې له ۱۲۰ تنو غړونه، څلویښت تنه تحصیل یافته او متنفذین وو چې د شاه محمود خان حکومت یې په مسخره کولو سره دې ته اړایست چې، د هیواد په قضایي او اداري چاروکې یې د پوښتنو او ځواب خواته راکاږي. د شاه محمود خان یو شمیر وزیرانو پاچا ته شکایت وکړ او د اولسي جرگې له دې تگلارې نه په اندیښنه کې وو.

### د مطبوعاتو دویم آزاد قانون

"د دې شورا یا جرگې یو مهم کار د مطبوعاتو د قانون تدوین او تصویب و چې په هغې کې یې آزادو خپرونو ته هم اجازه ورکړې وه او دا د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې د مطبوعاتو د دویم قانون په توگه ثبت شوی دی. په دې قانون کې آزادو نشراتي فعالیتو ته اجازه ورکړای شوه او شاه محمود خان د ۱۳۲۹ د د سرغوږې پر یوولسمه،/د ۱۹۵۱ د جنورۍ لومړۍ نیټه د نورو اصلاحاتو په لړکې، د مطبوعاتو د قانون په نافذو لوسره فکري ساه اخستنې ته اجازه ورکړه" (۲۵)

(د مطبوعاتو دویم قانون له دننه او بهرنه دفساد له ایجاد سره جوخت منځ ته راغی او داله دویم نړیوال جنگ سره له یوې خوا او په داخل کې د روښانفکري حلقو د منځ ته راتگ سره له بلې خوا، برابرو او هم د هغه مجبوریت له مخې چې عامه افکارو د آزادو مطبوعاتو له لارې تبارز ورکاوه چې ملت باید د

چارو په سمبالښت کې شریک شي او د مکلفیت دوره پای ته ورسي چې په دې توګه د دې دورې د مطبوعاتو قانون د دوه اړخیز کورني او بهرني فشار نتیجه وه.

د لومړۍ ځل لپاره په همدې دوره کې موږ په مطبوعاتو کې دوګرنیزې آزادي سرحده او آزاد فکري غورځنګونه د سیاسي کړیو له لارې وینو. د لویدیځ فکري اغیزې په محدود خود چې ایدلوژۍ ژورې اغیزې په ښکاره توګه وینو او افکاریې د دې دورې د کوچنیو جریدو پرمخونو را څرګندیږي.(۲۶)

## د مطبوعاتو په دویم قانون کې ازادي خپروني

د مطبوعاتو د دویم قانون په انفاذ سره، په افغاني ټولنه کې د فرهنګي - سیاسي او روښانفکرو شخصیتو له خوا نورې ازادي خپروني را منځ ته شوې. یو شمیر جریدې د خاصو سیاسي - فلسفي فکرونو او هدفو خپروونکې وې، چې د خلکو له شدید غبرګون سره مخامخ شوې. له دې مجلې نه لاندې آزادي خپروني یا دولاې شو:

د خپروني نوم: *انګار*

د تأسیس کال: د ۱۳۲۹ مرغومی/د ۱۹۵۰ جنوری، کابل.

مسؤول مدیر او د امتیاز خاوند: فیض محمد انګار

ژبه، تیراژ: پښتو او دري، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګنې

محتوی: انتقادي اوله احساسه ډکې ټولنیزې، سیاسي او ادبي مقالې.

یادښت: مسؤول مدیر کندهاري او د پښتونستان د داعیې سرسخت پلوی و.

د خپروني نوم: *ندای خلق*

د تأسیس کال او د خپرولو ځای: د ۱۳۲۹ مرغومی/د ۱۹۵۰ جنوری، کابل.

مسؤول مدیر، د امتیاز خاوند یا ناشر: دکتور عبدالرحمن محمودي

ژبه، تیراژ: دري، ۱۰۰۰ ګنې.

محتوی: د ندای خلق خپرنې ټګلاره غالباً د وخت دحکومت پر اداري - سیاسي دستګاه انتقاد او ټولنیزې او سیاسي مقالې یې خپرولې.

یادښت: د خپروني په پیل کې د وخت د بهرنیو چار وزارت د ندای خلق جریده حمایه او تمویلوله خو وروسته د مسؤول د برښدو نیوکو پر اساس، جریده یې ملاتړه پاتې شوه. دکتور عبدالرحمن محمودي چې غوښتل یې پخپل چپي فکر سره د محصلینو په اتحادیه کې (۱۳۲۸ش/۱۹٤۹م) د فشار د قوې په توګه او

همدا راز په اولسي جرگه کې خپل سیاسي موقعیت ټینګ کړي، د ندای خلق خپرول یې هدف ته د رسیدو لپاره د یوې وسیلې په توګه کارول؛ خو د آزادو مطبوعاتو د دویم قانون په له منځه وړلو سره، محمودي زندان ته واچول شو او د شعلهٔ جاوید د چپ سیاسي حزب چې په افغانستان کې د یوه مائوئستي حزب په توګه وپیژندل شو، د مؤسس په نامه تورن شو. هغه په ۱۳٤۰ش/۱۹٦۱م د محمد داؤود د صدارت په وخت کې په زندان کې مړشو.

د خپرونې نوم: *وطن*

د تأسیس کال او د خپرولو ځای: د ۱۳۲۹ کب/ د ۱۹۵۰ فروري، کابل

مسؤول مدیر، د امتیاز خاوند یا ناشر: میر غلام محمد غبار او همکاران یې: (عبدالحی عزیز) چې په ۱۳۲۹ (۱۹٦۰) د داؤود د صدارت په لومړي دوره کې د پلان وزیر وټاکل شو) او میر محمد صدیق فرهنګ (په ۱۳٤۰ش (۱۹٦۱م) د پلان وزارت معین په ۱۳٤۸ش (۱۹٦۹) د اولسي جرګې غړی و.)

خپرنې ژبه او تیراژ: دري، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګڼې.

محتوی: تولنیزي او ادبي مقالې، داستان او شعر، په محافظه کارانه توګه.

یادښت: میر غلام محمد غبار هم د دولت دیوه مخالف په توګه له چپې فکر سره د ویښو ځلمیانو، د سیاسي ګوند غړیتوب ترلاسه کړ. نوموړی په ۱۳٤۲ش/۱۹٦۳م کې د نوي ریفورم او مشروطه شاهي په اعلان سره، له زندانه پرېښودای شو. غبار په ۱۳٤٤ش/۱۹٦۵کال له کابل نه د اولسي جرګې لپاره ځان کاندید کړ خو ماته یې وخوړه؛ تر هغې وروسته یې انزوا غوره کړه او د مرګ تر ورځې پورې یې له تولو لرې توب غوره کړ.

د خپرونې نوم: *نیلاب*

د تأسیس کال او د خپرولو ځای: ۱۳۲۰ش/۱۹۵۱م، کابل، مسؤول مدیر، د امتیاز خاوند یا ناشر: محمد فیروز. ژبه، تیراژ: پښتو - دري، د ۵۰۰ ګڼو په شاوخوا کې.

محتوی: د واکمن دولت د اهدافو په پام کې نیولو سره، تولنیزي او سیاسي مقالې.

یادښت: ددې جریدې مسؤول مدیر سره له هغې چې چپې او کمونستي افکار درلودل؛ خود آزادو جریدو او مطبوعاتو په له منځه تللو سره د اصلاح د مسؤول مدیر په توګه کار کاوه.

د خپرونې نوم: *ولس*
د تأسیس کال اود خپرولو ځای: ۱۳۲۹ش/ ۱۹۵۰م، کابل. مسؤول مدیر او د امتیاز خاوند یا ناشر: گل پاچا الفت
ژبه، تیراژ: پښتو، زرگنی
محتوی: ادبي، ټولنیزې او سیاسي مقالې، شعر، داستانونه او وجیزې.
یادښت: د حکومت په وړاندې د دې خپرونې تگلاره، محافظه کارانه او سازش گرانه وه.

د خپرونې نوم: *آیینه*
مسؤول مدیر اود امتیاز خاوند: غلام حبیب نوابي
ژبه، تیراژ: دري، ۵۰۰ – ۱۰۰۰ گنې
محتوی: مختلفې غیر سیاسي مقالې
یادښت: دې جریدې د بې هدفۍ له لامله د مختلفو مقالو په خپرولو سره، د دولت باور را جلب کړی و او تر پایه یې په دولتي مطبعه کې د چاپ اجازه تر لاسه کړې وه چې د شکل له پلوه، ترنورو خپرونو ښکلې وه.

د خپرونې نوم: *اتوم*
د تأسیس کال او خپرولو ځای: ۱۳۲۹ش/ ۱۹۵۰م/فاریاب، دمیمنې ښار
مسؤول مدیر او د امتیاز خاوند: محمد رحیم شیدا
ژبه، تیراژ: دري، ؟
محتوی: ټولنیزې، ادبي او دیني مقالې.
یادښت: مسؤول مدیر یې د مشروطیت په دوره کې د اولسي جرگې د وکیل او وروسته د فاریاب دوالي په توگه کار وکړ.

د خپرونې نوم: *پامیر*
د تأسیس کال او د خپرولو ځای: ۱۳۳۰ش/ ۱۹۵۱م، کابل
د امتیاز خاوند یا ناشر: کابل ښاروالي
مسؤول مدیر: ؟
د خپرونې د کار پای: ۱۳۵۸ش/ ۱۹۷۹م.
محتوی: مختلف ټولنیز، ادبي او تاریخي مسایل، خبرونه راپورتاژونه او د دولت فعالیتونه.

یادښت: دا خپرونه، د یوې آزادې خپرونې په توګه منځ ته راغله خو وروسته د کابل ښاروالۍ د خپرنې اورګان په توګه په هره اوونۍ کې خپرېده. له ٤–٨ مخونه یې درلودل،کچه یې ٥٧X٤٠ سانتي متره د کابل په دولتي مطبعه کې چاپېده.

د ژباړن یادښت: دې خپرونې د استاد رباني د واکمنۍ پروخت هغه مهال ډېر ښه رونق پیدا کړ چې ښاغلی محمد ابراهیم ورسجي کابل ښاروال او تکړه او ځوان لیکوال انجنیر سهر الدین مشیدبي رئیس او مسؤول مدیر وټاکل شو. جریده د کمپوټر په لیک په ښکلې صحافت په دولتي مطبعه کې چاپېده او تر ډېره پورې د د یوې آزادې جریدې بڼه ماتیده.

د خپرونې نوم: *صدای ملت*
د تأسیس کال او د خپرولو ځای: ١٣٢٩ش/١٩٥٠، هرات ښار

د خپرونې نوم: *پیام افغان*
د تأسیس کال او د خپرولو ځای: ١٣٢٩ش/١٩٥٠م کندهار ښار.

د خپرونې نوم: *الفبا*
د تأسیس کال او د خپرولو محل ١٣٣٠ش/١٩٥١م کندهار ښار.

د دې دورې آزادو جرایدو په یوډول نه یو ډول له نویو سیاسي سازمانونو سره اړیکې درلودې او د مطبوعاتو او تبلیغاتو په سطح د هغوی د اهدافو بیانوونکې وو. په دې جرایدو کې به زیاتره د دموکراسۍ، مشروطیت، دولتي نظام او دنړۍ د سیاسي جوړښت په باب لیکنې خپریدې. غیر دولتي خپرونو د ظاهري ښې له پلوه نواقص اوکمې لرلې، ځکه زیاتره د غه جریدې په لاس لیکل کیدې او بیا به ګستتر شوې. دا چې ولې په کابل کې د دولتي مطبعې د شتون سره سره هم دغو جریدو یکې د چاپ مجال پیدا نکړ؟

"ښایي نوموړو جریدو د مخالفت او انتقاد له وجې دولتي مطبعې ته لار نه وې موندلې او ښایي د چاپ لپاره یې لازمه پانګه نه درلوده او یا دا چې احتمالاً دې جریدو نه غوښتل د فشار په توګه د دولتي مطبعې قیود ومنې." (٢٧)

مطبوعات او د نشراتو نوی قانون په افغانستان کې ددوو سیاسي سازمانو د تشکیل لامل شو چې زیاتره ځوانانو او تحصیل یافته کسانو یې غړیتوب ترلاسه کړ.

### د (ویښو ځلمیانو) سیاسي سازمان

دا سازمان په ۱۳۲٦ش/۱۹٤۷م په کندهار ښار کې تأسیس شو، زیاترو آزادي خوښوونکو ځوانانو په دولتي نظام کې د مشروطیت د منځ ته راتګ، د موکراسي او ټولنيز عدالت له فکر سره د افغاني ناسیونالیزم پر محور را ټول شول او خپل فعالیت یې پیل کړ چې البته د ګرځوونکو غړو ترمنځ یې سوسیالیزم ته شکلي تمایل لیدل کیده. د ویښو ځلمیانو عمده غړي عبارت وله: عبدالحي عزیز، ګل پاچا الفت، عبدالحي حبیبي، شمس الدين مجروح، عبدالرؤوف بینوا، میر غلام محمد غبار، فیض محمد انګار او نور محمد تره کي او شمیر نورو کسانو نه. دی سازمان د یو لړ مقالو په خپرولو سره، د دی ډلی د افرادو په انسجام کې کوښښ وکړ؛ خو دا چې یو شمیر افرادو یې د عوامي ملي ګوند مشر خان عبدالغفار خان او ځنو یې پښتو ناسیونالیزم ته تمایل پیدا کړ او همدا راز د سوسیالیزم په لور دیو شمیر غړو انحرافات د دی لامل شو چې دویښو ځلمیانو په سازمان کې درځ پیدا شي.

دی سازمان په ۱۳۳۰ش/۱۹۵۱م کې غوښتل خپل تشکیلات پراخ کړي او د دولت پر خلاف په یو شمیر اقداماتو لاس پوري کړي او هم ځان د فشار د قوي په توګه مطرح کړي. حکومت دویښو ځلمیانو د دی حرکت په وړاندي له تشدد نه کار واخست او د دی سازمان یو شمیر نظامي کسان پاکستان ته وتښتیدل او د حزب ۲۵ تنه برجسته غړي ونیول شول او زندان ته واچول شول چې زیاتره یې د محمد داؤود خان د صدارت تر پایه پوري سره شول او لږ شمیر یې چې ژوندي وو، د مشروطیت په پیل کې له زندانه را پریښودای شول.

## د محصلینو اتحادیه

دا سازمان دیوه سیاسي تشکل په نامه بلکي دیوه تجدد غوښتونکي حرکت په توګه په ۱۳۲۸ش/۱۹٤۹م کال په کابل پوهنتون کې منځ ته راغی. د دی سازمان او آزادو مطبوعاتو فعالیت د دی لامل شوی و چې یو شمیر کسان په اولسي جرګه کې د شاه محمود خان د سلب اعتماد د تأیید جرأت وکړي. کله چې شاه محمود خان له امریکا نه راستون شو، سیاسي اوضاع ډیره حاده شوی وه. ځني مؤرخین په دی باور دي چې، داؤود خان په دی توطیه کې پوره لاس درلود او ځرنګه چې هغه د دفاع د وزارت او صدارت د مرستیال دنده سرته رسوله، کوښښ یې کاوه چې د دولت نظام رانسکور کړي. "شاه محمودخان چې له ټولو توطیونه خبرو وي کړای شو چې شاه له راتلونکو خطرونو (په افغانستان کې د روسانو نفوذ) نه خبر کړي او هغه یې دی ته چمتو کړ چې له دفاع وزارت نه د داؤود خان په لري کولو کې موافقه وکړي"(۲۸) پاچا د ۱۳۳۰ د تله په شپاړسمه/د۱۹۵۱ آکتوبر داؤود خان له کاره ګوښه کړ او د قوای مرکز قوماندان جنرال

محمد عارف خان یې د دفاع وزیر په توګه وټاکه.

همدا راز پاچا د آزادو مطبوعاتو قانون لغو کړ او ازادې خپروني ودرول شوې. سیاسي – مطبوعاتي فعالیت له منځه ولاړ، او په دې جریان کې مطرح کسان لکه دکتور محمودي، غلام محمد غبار، محمد سرور جویا، میر محمد صدیق فرهنګ، برات علي تاج او یو زیات شمیر نور زندان ته واچول شول.

"سره له دې چې د تسوید شوي قانون په چوکات کې د دې دول مطبوعاتو عمرلنډو او په ګرانه سره یوه کال ته رسیده خو دغو جریدو وکړای شول چې د سیاسي ډلو د منځ ته راتګ پیلامه شي. ذهنونه یې چپ او ښي فکرونه ورسول او په دې توګه فردي ازادۍ او د انساني مقام د تبارز لپاره مبارزه په دویمه او دریمه درجه کې واقع شوله"(۲۹)

د مطبوعاتو د دویم قانون د ازادو مطبوعاتو د مشخصي ایدیالوژۍ په نه درلودلو سره، انتقادي وی او د خلکو د غوښتنو او تولنیز نظام په جوړښت کې یې د بدلون خبرې کولې. په دې جرایدو کې خبرونه او راپور تاژونه، نه خپریدل بلکې د مقالو په خپرولو سره یې د مسؤولینو فکر منعکساوه.

په ۱۳۳۱ش/۱۹۵۲م د سلطنتي کورنۍ ترمنځ تحرکونه او سلیقوي اختلافات پیدا شول. زیاتره ځوان شهزادګان لکه محمد داؤود خان او محمد نعیم خان د محمد عزیز زامن یوې خوا ته واقع شول او د شاه محمود خان مقاومت بلې خوا ته پر پاچا سیاسي فشار زیاتاوه. سره له هغې چې د شاه محمود خان دوره دافغانستان په پرمختګ کې له ځانګړو خوندو نه برخمنه وه او د زیاتو اقتصادي او صنعتي پروژو ترڅونه یې د امریکا له متحده ایالاتو، المان او جاپان سره لاسلیک کړل او په کار یې پیل وکړ خو سیاسي پیښنو (پښتونستان) او د افغانستان او پاکستان ترمنځ هیوادنیو اختلافاتو زیاتو نظامي تحرکاتو او بهرنیو نظامي مرستو ته ارتیا درلوده. روسانو د پښتونستان په مسأله کې د افغانستان د سیاست پلوي کوله، او کله چې داؤود خان د ۱۳۳۱ د کب پرینځلسمه/د۱۹۵۳ د مارچ پنځمه داستالین د تدفین په مراسمو کې د ګډون لپاره مسکو ته ولاړ، له روسانو سره یې اړیکې دوستانه شوې. محمد ظاهر شاه چې ترسیاسي فشار لاندې واقع و، له شاه محمود خان نه وغوښتل چې استعفا وکړي.

صدر اعظم شاه محمود خان د ۱۳۳۲ د وږي پراته ویشتمه/د ۱۹۵۳ دسپتمبر نولسمه استعفا وکړه، او محمد ظاهر شاه، محمد داؤود خان ملت ته د صدراعظم په توګه معرفي کړ. شاه محمود خان په ۱۳٤۸ش/۱۹۵۹م په کابل کې وفات شو.

## د محمد داؤود خان لومړۍ وزارت (عظمی صدارت)
## (مطبوعات د دکتاتوری ترسیوری لاندی)
## ۱۳۳۲-۱۳٤۲ش/۱۹٥۳-۱۹٦۳م

کله چې داؤود خان د افغانستان د صدراعظم په توګه وټاکل شو، ٤۳کلن و. هغه پخپله لومړنی راديويي وينا کې خپله کابينه معرفي کړه او خپله سياسي تګلاره يې د ۱۳۳۲ش د وږی پراته ويشتمه/د۱۹٥۳ دسپتمبر پر نولسمه اعلان کړه او د پښتونستان د سرحدی سيمي په باب يې چې د افغانستان او پاکستان تر منځ لانجه منه موضوع ده دريځ دا و چې بايد هغه د افغانستان په خاوری پوری وتړل شي او دا يې په بهرنی سياست کې پريکنده دريځنيونه وه.

د محمد داوؤد خان سياسي دريځنيونی د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوړ جنګ لاپسي تودکړ او روسانو په يوه دول له افغانستانه خپل ملاتر اعلان کړ، چې افغاني سياستوالو ته له روسانو سره د مفاهمې ور پرانستي وی او د افغانستان - پاکستان له سياسي اختلافاتو نه چې د دواړو هيوادو ترمنځ د جنګ احتمالات موجود وو، اعظمی ګټه ترلاسه کړی.

تبليغاتي جنګ زور واخست، راديو او نشراتو په همدی برخه کې شديد اللحنه خپرونی درلودی او دولت له دريځنيونی نه يې سخته دفاع کوله. محمد داؤود د مطبوعاتو دويم قانون لغو اعلان کړ. ازادی جريدی يو پر بل پسي له نشره پاتي شوی او مسؤول مديران او د نشراتو مسؤولين زندانو ته واچول شول. "سردار محمد داوود د حکومت په سنځ ته راتلو سره، دکتاتوری او اختناق يوځل بيا د دموکراسی او آزادی ځای ونيو. دی اختناق په افغانستان کی دوام وکړ. ددی دوری د اختناق اغيز د محمد هاشم خان له دوری نه کم نه و..."(۳۰)

د صدر اعظم سردار محمد داوود لومړنی ميلمستيا د افغانستان په وراندی د روسانو له ډيپلوماسی او د دوستانه اړيکو په له سره پيلولو نه په منته جوړه شوه. د روسانو يو ماهر سياستوال (ميخاييل واسلويچ دګتيار) چې په افغانستان کی د سفير په توګه کارکاوه هڅه وکړه چې د افغانستان له سياسی وګړو سره جدا اړيکی ټينګی کړی او هم يې له محمد داؤود خان نه وغوښتل چې د دو اړو هيوادو ترمنځ په فرهنګی اړيکو کی همکاری وکړی.

### د محمد داؤود د صدارت فرهنګی - مطبوعاتی فعاليتونه

محمد داؤود خپل لومړنی فرهنګی هيأت د دکتور محمد انس تررياست لاندی چې هغه مهال د

کابل پوهنتون رئیس و مسکو ته ولیږه (د ۱۳۳۲ د لیندی اولسمه/د ۱۹۵۳ د دسمبرنهمه) "تر هغې وروسته د افغانستان د معارف دروازې د روسانو پرمخ پرانستل شوې او د فساد او تباهی دی مکروبونو زموږ په فکری او روزنیز و مرکزو کې لار پیدا کړه..."(۳۱) "داوود ته د هغه د ایدلوژیکې فعالیتونو پربنا دسره شهزاده (شهزاده سرخ) لقب ورکړی شوی و. د هغه سیاست او اجراآتو، بې له شکه واک ته د کمونستانو د روسولو لپاره بنه زمینه برابره کړه."(۳۲)

د دولت رسمی خپرونې په هغه وخت کې (اصلاح) او (انیس) ورځپاڼې وې. همدا راز د تبلیغاتو د تقوبې او جنوبي سرحداتو د خلکو ترمنځ د نفوذ په خاطر (هیواد) ورځپاڼه تأسیس کړای شوه او په پښتو ژبه چې د افغانانو ګډه ژبه ده او له سرحدونو بهرا غیز لري، تقویه کړای شوه.

د شوروی (تاس) خبری آژانس چې پخوایې د ۱۳۳۱ د چونګاښ په یوویشتمه/د۱۹۵۲ د جولای دولسمه په کابل کې خپله نمایندګی پرانستې وه د دی آژانس د نمایندګانو په توګه د افغانی کمونستانو د تاکنې له لاری هڅه وکړه چې د افغانستان د باسواده طبقی ترمنځ خپل فرهنګی/سیاسی فعالیتونه چټک کړی. روسانو نور محمد تره کې (د کمونستی رژیم د دولت لومړنی رئیس) د دی تبلیغاتی سازمان د نماینده په توګه وټاکه. روسانو ترهغې وروسته وکړای شول چې د نړیوالو خبرونو په تغییر او عامه اذهانو په انحراف سره ان د افغانستان په خبری سرچینو په اغیز کولو سره، حساس نقش ولوبوی.

د ۱۳۳۰ ش دوری نهمه/د ۱۹۵۱ د اګست میاشتې یو دیرشمه د (پښتونستان) د ورځې په نامه و نومول شوه او د رادیو افغانستان په پروګرامونو کې د پښتونستان یو ساعته خپرونې د (دا پښتونستان زمونږ) د ترانې په ویلو سره ځای درلود. دا پروګرام د کمونستی رژیم د وروستي جمهور رئیس نجیب الله د واکمنی ترپایه (۱۳۷۱ ش/۱۹۹۲م) د رادیو افغانستان له لارې خپریده.

## د داوود خان په دوره کې نړیوالې اړیکې

صدر اعظم محمد داوود د پښتونستان مسأله د خپل کار سرلیک وټاکه او له امریکایانو سره هم "له ریچاردنکسن Rechard Nixon سره د مذاکراتو پر وخت یې د افغانستان د وروسته پاتې توب او دخلکو د بدبختی په باب هیڅ خبره ونه کړه او له امریکایانو یې هیڅ مرسته ترلاسه نه کړه"(۳۳)

د ۱۳۳۲ په سرغوبی/ د ۱۹۵۳ دسمبر کې له روسانو سره د سوداګری تړون لاسلیک شو.

د ۱۳۳۳ په لیندی/ د ۱۹۵٤ په نومبر کې د روس فرهنګی هیأت کابل ته راغی او فرهنګی تړونونه لاسلیک شول.

د ۱۳۳٤ په وری/د ۱۹۵۵ په مارچ کې محمد داوود د رادیو له لاری بیړنی حالت اعلان کړ او له خلکو نه یې وغوښتل چې له پاکستان سره په جنګ کې برخه واخلی. په کابل او جلال آباد کې د پاکستان پر

خلاف مظاهری وشوی او له تول هیواده په زرګونو کسان کابل ته راغلل چې په دې جنګ کې برخه واخلي.

د ۱۳۳٤ د جوزا پر اوومه/ د ۱۹۵۵ د مې اته ویشتمه د شوروی روسیې سفیر دیکتیار له محمد ظاهر شاه سره وکتل او له نظامي مرستو نه یې په یوډول ولې خالي کړاو ویې نه غوښتل چې عملاً په دې جنګ کې له افغانانو سره مرسته وکړي، خو په اختلافاتو او د افغانستان او پاکستان ترمنځ په کشمکشونو کې یې په ښکاره ځان د افغانستان پلوی معرفي کاوه. کله چې داؤود ځان له سیاسي او نظامي ملاتړه بې برخې احساس کړ له پاکستان سره په اړیکو کې یې د عربستان، مصر، عراق او ایران هلې ځلې وستایلې او بیرته یې له پاکستان سره د اړیکو د ښو کولو کوښښ وکړ.

د ۱۳۳٤ د چونګاښ پر پنځمه/ د ۱۹۵۵ د جون شپږویشتمه د افغانستان او روسیې ترمنځ د ترانزیتي چارو موافقه لیک، لاسلیک شو.

د ۱۳۳٤ د لړم په اووه وویشتمه/د ۱۹۵۵ د نومبر دیارلسمه په کابل کې لویه جرګه دایره شوه او محمد ظاهر شاه د رایو په اکثریت د پښتونستان په پلوی خپل ملاتړ اعلان کړ.

د ۱۳۳٤ د لیندۍ پر دوه ویشتمه/ د ۱۹۵۵ د دسمبر دیارلسمه د روسیې د کمونست ګوند عمومي منشي بولګانین Bulganin او صدراعظم خروشچف Khrushchev کابل ته رسمي سفر وکړ او دواړو خواو د ۱۳۰۰ش/۱۹۲۱م سرحدي معاهده بیا تأیید کړه. همدا راز یې دبې قید و شرطه پور او روسي وسلو د پلور لوپه باب له محمد داؤد او پاچا محمد ظاهر شاه سره قرار دادونه لاسلیک کړل.

د ۱۳۳۵ د ثور پرشلمه/د ۱۹۵٦ د مې پرلسمه ظاهر شاه د پاکستان جمهور رئیس اسکندر میرزا ته په کابل کې ښه ارغلاست ووایه او د پاکستان او افغانستان اړیکې په نسبي توګه ښې شوې.

د ۱۳۳٦ش د حمل پر دولسمه/د ۱۹۵۷ د اپریل دویمه د امریکا د جمهور رئیس ځانګړی پلاوی کابل ته راغی او د افغانستان او روسانو د اړیکو له نژدیوالي نه یې خپله اندیښنه څرګنده کړه. محمد ظاهر شاه او محمد داؤود چې له روسانو نه ترڅه حده ناخوښې وو، د افغانستان په دیپلوماسۍ کې یې دبیا کتنې لپاره د هغه وخت دمالیې وزیر عبدالملک عبدالرحیمزی واشنګټن ته واستاوه چې د اقتصادي قرارداد او انکشافي پروژو د تأسیس د امکاناتو په باب قرار دادونه لاسلیک کړي. امریکا له افغانستان سره د اړیکو د لا ښه والي په خاطر د کابل پوهنتون په ودانولو کې مرسته وکړه.

روسانو د افغانستان او امریکا د اړیکو د ښه کېدو په باب اندیښنه وښوده "دیوې توطیې په ترڅ کې یې عبدالملک خان عبدالرحیمزی په دې نامه چې د محمد ظاهر شاه د وژلو نیت یې درلود، د ضبط احوالات رئیس عبدالرسول خان په واسطه ونیو او زندان ته یې واچاوه؛ ځکه هغه د داوود د کابینې یو فعال غړی و چې له روسانو سره یې په اړیکو کې زیات مخالفت ښوده" (۳٤)

د ۱۳۳٦ د سلواغې پر ۲٤مه/ د ۱۹۵۷ فبروري ۱۳مه محمد ظاهر شاه پاکستان او هند ته رسمي سفر

وکړ چې له ګاونډیانو سره په اړیکو کې بیا کتنه وکړي.

روسانو په تبلیغاتي فعالیتونو او فرهنګي اړیکو کې هڅه وکړه او د افغانستان فرهنګي هیأتونه مسکو ته ولاړل، یو زیات شمیر افغاني ځوانان د پښتو او دري ادبیاتو په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره مسکو ته ولاړل.

د ۱۳۳٦ د تلې پر ۱۹مه/ د ۱۹۵۷ د اکتوبر پر ۱۱مه د کمونست ګوند عمومي منشي لیونډبریژنف کابل ته سفر وکړ او په یوه قرارداد کې یې د امریکا د فعالیتونو په وړاندې د پولي تخنیک د پوهنځي تاداو کښېښنود، چې له امریکایانو سره په مقابله کې د افغانستان په علمي مرکزونو کې ځای ولري.

د ۱۳۳۷ د جوزا ۳۰مه/ د ۱۹۵۸ د جون پرشلمه د امریکا په ټینګار او د هغې اندیښنې له مخې چې د افغانستان په باب یې درلوده، محمد داوودخه هیواد ته رسمي سفر وکړ او له امریکا نه یې وغوښتل په افغانستان کې پانګه واچوي.

د ۱۳۳۷ د چونګاښ پر ۲۲مه/د ۱۹۵۸ د جولای ۱۳مه د روسي اقتصادي پلاوی کابل ته راغی او د افغانستان د کانو او اقتصادي سرچینوو دڅېړنې غوښتنه یې وکړه. د توپوګرافي په قرارداد کې چې له روسانو سره لاسلیک شو، د افغانستان د ټولو برخو عکاسي یې وکړه او د شمال د نفت و ګاز په باب چې فرانسویانو د هغې په اړه زړه رابښکون درلود، روسانو د افغانستان دولت د سیاسي فشارونو له لارې دې ته اړایست چې له فرانسویانو سره د قرارداد له لاسلیک نه ډډه وکړي. وروسته یې د دې کار نوښت پخپل لاس کې واخست او په کار یې پیل وکړ.

همدا راز د تېرو اقتصادي تړونو پر اساس چې د زړو روسي وسلو د خرڅلاو په باب لاسلیک شوي وو، افغاني ځوانانو ته یې د زده کړو بورسونه مهیاکړل او د دفاع وزارت عملاً د روسانو تر اغیز لاندې راغی.

د ۱۳۳۷ د تلې پر ۹مه/ د ۱۹۵۸ د اکتوبر لومړۍ نیټه د روسي د رئیسه هیأت مشر مارشال ورسیلوف Warshilov د محمد ظاهر شاه په بلنه کابل ته راغی او د بتخاک په سیمه کې یې نظامي مانورونه اجرا کړل. د افغانستان حکومت له دې نظامي مانورو سره جوخت دیوی اعلامیې په خپرولو سره خپل آزاد سیاست اوبی پرې توب اعلان کړ.

د۱۳۳۸ د جوزا پر اوولسمه/د۱۹۵۹ دمی پر اته ویشتمه محمد داوود مسکوته سفر وکړ او له بریژنف سره یې اقتصادي، نظامي، تولیدي پروژو، سوداګرۍ او ترانزیت په برخه کې قرار دادونه لاسلیک کړل.

د ۱۳۳۸ دلړم په لومړۍ نیټه: د ۱۹۵۹ د اکتوبر ۲۵مه د اولسي جرګې او مشرانو جرګې پلاوی (هیأت) مسکوته رسمي سفر وکړ او د افغان-شوروي د دوستۍ انجمن جوړ شو.

د ۱۳۳۸ د لیندۍ پر اوولسمه/ د ۱۹۵۹ د دسمبر پر اتمه د امریکا جمهور رئیس ایزنهاور د محمد ظاهر شاه په بلنه کابل ته راغی او له دې سفر سره جوخت د افغانستان دولت له لویدیزو هیوادو سره د خپلو سیاسي اړیکو په پراخولو او د اقتصادي قراردادونو په لاسلیکولو کې هڅه وکړه.

د ۱۳۳۸ش د مرغومې په اته ویشتمه/ د ۱۹۶۰ د جنوری ۱۸مه د اوبولګولو د پروژو، مواصلاتو او لارو جوړولو په برخه کې هم له روسانو سره قراردادونه لاسلیک شول.

د ۱۳۳۸ د کب پر ۱۲ مه/ د ۱۹۶۰ د مارچ پر ۳مه د روسیې صدر اعظم خروسچف او د بهرنیو چارو وزیر اندری ګرومیکو کابل ته سفر وکړ او د پښتونستان په مسأله او نظامي مرستو ترکیز د افغانستان او پاکستان اړیکې یو ځل بیا خړې پړې کړې.

د ۱۳۳۹ د وری پر ۲۹ مه/د ۱۹۶۰ د اپریل پر ۱۵مه محمد داوود ایران، اتریش او مسکو ته ولاړ او یوه میاشت په مسکو کې پاتې شو چې د زمک پیژندنې د څیړنې او د شمال د نفت و ګاز پروژې په باب هم قرار دادونه لاسلیک شول. دا مهال دکتیار په پاکستان کې د روسیې د سفیر په توګه وټاکل شو او د هغه پر ځای انتونوف Antonov په کابل کې د شوروي د نوي سفیر په توګه وټاکل شو.

د۱۳۳۹ دزمرې پر اوولسمه/د۱۹۶۰داګست اتمه دنغلودبریښنابندچې دروسانوپه همکاري جوړشوی و، په کار پیل وکړ چې تر هغې دمخه په کابل کې دافغان-شوروي ددیرش کلنواړیکو جشن جوړ شو.

د ۱۳٤۰ د لړم پر اوومه/ د ۱۹۶۰ د اکتوبر ۲۹مه په دویم پنځه کلن پلان کې د روسانو مرستې د لويې جرګې له خوا تصویب شوې.

د ۱۳٤۱ په وری د ۱۹۶۱ کال په اپریل کې د افغانستان او شوروي ترمنځ، په کابل کې د اوسیدنې د کورونو (مکروریان) په اړه هم یو قرارداد لاسلیک شو. "داؤود خان چې د هیواد په نظامي پیاوړتیا او اقتصادي وده کې کومه بیړه درلوده، د روسانو د مرستو پوازې مثبت اړخونه لیدل او د منفي اړخونو له لیدلونه یې سترګې پټولې. په دې معنا چې د وسلو په تهیه او د انکشافي پروژو په تمویل خوشاله و او سوسیالستي هیوادو ته د لړ عمر څوانانو استولو ته یې چې په هر ډول فکري قالب کې اچولو ته چمتوو، هیڅ اندیښنه نه درلوده."(۳٦)

له بلې خوا په سلطنتي کورنۍ کې اختلافات ورځ په ورځ زیاتیدل او محمد ظاهر شاه په دې اندوخر کې ځان ورک کړی و. په افغانستان کې سیاسي فضا هم د محمد هاشم خان دورې ته ورته وه چې داؤود خان دکتاتوري حکومت پر دموکراسي غوره ګاڼه. له بلې خوا له روسانو سره د محمد داؤود نژدې اړیکو، پاچا د نړیوال سیاست په کچ له محدودیتو سره مخ کړی و.

د سلطنتي کورنۍ اختلافات داسې وو چې محمد داؤد د خپل تره محمد هاشم خان تګلاره غوره کړې وه او نه یې غوښتل له خپل بل تره شاه ولي خان سره تفاهم وکړي. د شاه محمود خان د زامنو او شاه ولي خان اړیکې هم په دې نسبت چې، بلقیس د ظاهر شاه لور لومړی دشاه محمود خان د زوی سلطان محمود غازي په نامه شوې وه او وروسته کله چې اروپا ته ولاړه د شاه ولي خان له زوی عبدالولي سره یې موافقه او واده وکړ، خرابې شوې وې او په سلطنتي کورنۍ کې یې اعتماد کم کړی و. له بلې خوا عبدالولي چې د یوه ځواکمن نظامي (د قوای مرکز رئیس) په توګه وظیفه اجرا کوله د محمد داؤود پروا نه

کوله، د نظامي چارو شاه رګ هم د جنرال عبدالولي په لاس کې و.

محمد داؤود پاچا ته یو لیک واستاوه او د اساسي قانون د تدوین مشروطه شاهي د اعلان او سیاسي ګوندونو د تشکیل په باب یې خپل وړاندیزونه پاچا ته وړاندې کړل. د محمد داؤود هدف دا و چې په سلطنتي کورنۍ کې خپل رقیبان بې واکه کړي او له بلې خوا خپله دیوه سیاسي شخصیت په توګه دیوه سیاسي ګوند له لارې بیا د هیواد سیاسي واک ته ورسیږي... "محمد داؤود غوښتل پاچا سازی د دولت د یوه تشریفاتي رئیس په توګه نقش ولري".

هغه څه چې پاچا او مشاورینو یې په ځانګړې توګه شاه ولي خان او (زوی یې) جنرال عبدالولي په پام کې درلودل د محمد داؤود له طرحو سره توپیر درلود... هغوی غوښتل محمد داؤود کاملاً د سیاست له ډګره ګوښه کړي. رقابتونه او میرڅې د هغوی ترمنځ ژورې وې."(۳۷)

خو محمد ظاهر شاه دا جرأت نه درلود چې له خپل واک نه ګته واخلي او داؤود ګوښه کړي. ظاهر شاه د خپل تره شاه ولي خان په مشوره وغوښتل داسې کارونو ته لاس واچوي چې داؤود په غوسه کړي چې پخپله صحنه پریږدي او استعفی وکړي، نو ځکه به چې محمد داؤود هر کار کاوه پاچا به یې په مقابل کې بې تفاوته و او سوړ برخورد به یې ورسره کاوه. محمد داؤود د پاچا په دې کار په غوسه شو، او د ۱۳٤۱ د حوت په یوولسمه/ د ۱۹٦۳ د مارچ په دویمه یې خپله لیکلی استعفی پاچا ته وړاندې کړه لکه چې محمد داؤود د چونګابن د شپږویشتمې نیټې تر کودتا وروسته پخپله لوسړنی بیانیه کې وویل: "لس کاله د مخه مې خپل وروستي وړاندیز پاچا ته وړاندې کړ او د هغې تطبیق مې د افغانستان په خیر ګڼانه..."

"محمد داؤود د نوي نظام په وړاندې او د هغو کسانو په وړاندې چې، د هغې په منځ ته را وړلو کې یې نقش درلود، په ځان کې یوه ژوره کرکه وروزله. چاچې په نوي نظام کې خپلې ګټې په خطر کې لیدلې د هغه پر شاوخوا را ټول شول او محمد داؤود وکړای شول د سلطنتي کورنۍ دمصونیت تر چتر لاندې د نوي حکومت په خلاف پر شورا، غیر حکومتي مطبوعاتو د معارف په شاګردانو او ان حکومتي کدرونو کې یو لړ تخریبونه رهبري کړي. یو شمیر کسان چې وروسته د پرچم کمونست ګوند برجسته غړي شول د محمد داؤود د صدارت پر وخت نژدې اړیکې درلودې (چې وروسته یې ځانونه له منځه یوړل) د سلطنتي نظام په را پرځولو کې له هغه سره مرسته وکړه"(۳۸)

## د مشروطه شاهۍ اعلان

### د سیاسي احزابو او مطبوعاتو تشکیل

بالاخره سردار محمد داؤود پاچا ته خپله استعفی وړاندې کړه او د ملت په وړاندې یې خپل احساس دیوه لیک په ترڅ کې څرګند کړ او ویې لیکل: "تر هیواد او خلکو ته په صداقت سره خدمت کول

سپیڅلی شی نشته او که ژوند انسان ته ارزښت لری بیا یی هم رښتینی ارزښت په همدی کی دی اوبس ولی دا چی یو څوک پوه شي چی د څه معاذیرو له لامله، نوردو ظیفی د اجرا وس نه لری او بیا هم خپلی دندی ته دوام ورکوی، زما په اندګناه ده"(۳۹)

خو د محمد داؤود تر استعفی وروسته چی دیوه لیک په ترڅ کی یی پاچا ته وراندی کړه، د افغانستان په سیاسی فضا کی یو بدلون رامنځ ته شو او پاچا د کورنیو اختلافاتو نه تر پوزی راغلی و: رژیم یی له مطلقه شاهی نه په مشروطه شاهی واړاوه او اجرایی واک یی داسو کسانوته ورکړ چی په شاهی کورنی پوری نه وی تړلی.

هانری برادشر پخپل کتاب کی لیکی: "ظاهر شاه هڅه وکړه چی مطلقه عنعنوی شاهی په نوی مشروطه شاهی واړوی خو د څه عواملو په نسبت یی دا آرزوتر سره نه شوه، په دی عواملو کی د هغه د متبوع هیواد پرځان د حکومت کولو نه چمتو والی و، همدا راز هغو دمؤسساتو تعلل او اداری بی کفایتی چی دیوه اولسی حکومت لپاره ضرور ګڼل کیږی په هیواد کی اقتصادی ستونزی رامنځ ته کړی.(۴۰)

پاچا د ۱۳۴۲ دوری پر لومړنی / د ۱۹۶۳ د مارچ ۲۷مه د یوه اساسی قانون د طرحی او مسودی لپاره یو کمیسیون وټاکه. د تدوین شوی اساسی قانون د څلرویشتمی مادی له مخی: "د سلطنتی کورنی غړی په سیاسی ګوندونو کی ګډون نه کوی او لاندی دندی نه تر سره کوی:

۱- عظمی صدارت(لومړی وزارت) ۲- د شورا غړیتوب، ۳- دستری محکمی غړیتوب،

د سلطنتی کورنی غړی، د ژوند تر پایه د سلطنتی کورنی د غړیتوب صفت ساتی"(۴۱)

اوویی غوښتل داؤود له سیاسی ډګر وباسی. په سیاسی ډګر کی هم قوانین منځ ته راغلل. د اساسی قانون په دریم څپرکی (فصل)کی داسی راغلی دی: "د افغانستان اتباع حق لری د مادی او معنوی اهدافو د تأمین په خاطر، د قانون له احکامو سره سم دلی تأسیس کړی. د افغانستان اتباع حق لری د قانون له احکامو سره سم سیاسی حزبونه جوړ کړی خو په دی شرط چی:

۱- د احزابو د فعالیتو او هغو مفکورو چی د احزابو تشکیلات په هغی بنا شوی وی، اهداف داساسی قانون له مندرجو ارزښتو سره ټکرونه کړی.

۲- د حزب تشکیلات او مالی سرچینی ښکاره وی.

کوم ګوند چی د اساسی قانون له احکامو سره سم جوړیږی، د قانونی موجباتو او دستری محکمی له حکم پرته نه ړنګیږی"(۴۲)

محمد داؤود هم د کورنیو د سیسوپه وړاندی یی تفاوته پاتی نه شو؛ له خپل اولسی، سیاسی او اجرایی نفوذ نه په ګټی اخستنی سر یی هڅه وکړه چی د سیاسی احزابو په تشکل لاس پوری کړی. "داؤود خان تمه درلوده چی یو ځل بیا د سیاسی احزابو او انتخاباتو له لاری واک ته ورسیږی او دا لاریی اساسی قانون پرمخ وتړله. یعنی هغه له مدنی او سیاسی حقوقو محروم کړای شو، نو ځکه خو داؤود خان

ددی حرکت د ناکامولو لپاره خپل پټ او ښکاره مخالفت پیل کړ.» (۴۳)

محمد داؤود چې په یوه سیاسي او ټولنیزه تنګناکې واقع شوی و، هڅه وکړه د افغانستان سیاسي واک ته درسیدو پخاطر د غیج اخستنې لار پیداکړي. روسانو چې د سیاسي پیښنو په اړه په دقیقه توګه کارکاوه، له یوه خوا یې د محمد داؤود په ملاتړ لاس پورې کړ او شوروی پلوو کمونستانو ته یې له هغه سره د نږدی کیدو امر وکړ او د غیر مستقیمو فعالیتو زمینې یې د کمونستانو په واسطه پیشنهادکړی او له بلې خوا د سیاسي احزابو د قانون تنفیذ، د مشروطه شاهي په پیل کې کمونستانو ته هم د سیاسي فعالیت اجازه ورکوله چې په مستقل ډول فعالیت وکړی او محمد داؤود هم په عامه اذهانوکې د دی سیاسي جریانو د ملاتړ په توګه، منسوب کړی.

محمد داؤود هم د یوی ستری تاریخي تیروتنې مرتکب شو او هدف ته درسیدو په خاطر له نامطلوبو کمونستي سیاسي بهیرونو او روسانو سره نږدی شو، چې په پای کې یې پخپل له منځه تګ پای ته ورسیده.

په افغانستان سیاسي ګوندونه، د دی قانون له مخې جوړ شول؛ خو د دولت له خوا رسماً د سیاسي ګوندونو په نامه نه منل کیدل. روسانو د افغان شوروی په دوه اړخیزو اړیکوکې د فشار له لاری غوښتل چې افغاني کمونستان د پاچا له ملاتړ نه برخمن وی چې په آزاده توګه فعالیت وکړای شي. له بلې خوا د شاهي کورنې داخلي فضا پاشل شوی وه او د محمد داؤود، شاه ولي خان، عبدالولي خپلسرّیو د سلطان محمود غازي بې تفاوتیو، د محمد ظاهر شاه استراحت غوښتنې او بالاخره د پاچا د زامنو بې سریو چې په هیوادنیو چاروکې یې هیڅ ډول ابتکار او د رایت نه درلود، د دولتي سازمانو د ټولنیزو اړیکو په اداره کې اغیزی رامنځ ته کړی وی او اداری فساد او اختناق یې اوج ته ورساوه.

"د هیواد ممتاز قشر چې زیاتره وګړی یې په سلطنتي هرم کې مدغم شوی وو په دی بریالي شوی و چې د اقتدار د تمرکز تګلاری ته په بریالیتوب سره داسې انکشاف ورکړی چې هغوی له امتیازاتو سره په حاکم قشرکې پاتې شي. خو دا اراده یې نه درلوده چې پر همدی تګلاری په اتکاسره، خپل انکشاف او تکامل ته پامرنه وکړی... ددی په پام کې نیولو سره چې اساسي قانون یې د تیوری له نظره منلای و خو په عمل کې یې په سنجول شوی توګه او هو ښیاری سره د عملي کولو مخه نیوله" (۴۴)

امریکایانو چې په افغانستان کې د روسانو له نفوذ نه یوه مبهمه ویره درلوده، داؤود ته یې خوځلې د مذاکراتو په ترځ کې ګواښ وکړی و چې له روسانو سره په اړیکو او د قرار دادونو په لاسلیک کې محتاط و اوسي "خو داؤود دبې ځایه غرور له مخې ویل چې هغه غواړی روسي سګرټ په امریکا یې اورلګیت ولګوی خو نه پوهیده چې په دی اورلګیت سره به ټول هیواد په اورکې وسوځوی او دا د هغه لویه تیروتنه وه" (۴۶)

# د افغانستان سیاسي ګوندونه

سیاسي ګوندونه په دې مرحله کې د خپلو پلوي هیوادو په ملاتړ په غیر رسمي خوفعال ډول تأسیس شوي او په افغانستان کې يې په سیاسي او تبلیغي کچ خپل فعالیتونه پیل کړل. چین او شوروي یو له بل سره په رقابت کې د مائوئیزم له تر سره د مسکو د مارکسیزم - لیننیزم ته په برترۍ ورکولو سره، لکه د دریمې نړۍ په نورو هیوادو کې يې چې د خپلو سیاسي جریانو تاداو ایښې و، په افغانستان کې يې هم د خپلو پلوي سیاسي جریانو نو تاداو کښېښود او له هره پلوه يې تقویه کړل. نور ګوندونه هم د افرادو د فکري خصوصیتونو پر بنا د بهرنیو هیوادوله ملاتړ نه برخمن وو. د مشروطیت د دورې سیاسي ګوندونه چې ښکاره يې سیاسي فعالیتونه کول دا دي:

## ۱ – د افغانستان دخلق د موکراتیك ګوند

دا حزب چې له افغاني کمونستانونه تشکیل شوی و، د متفاوتو سلیقوی اهدافو په درلودلو سره، د نوي اساسي قانون تر انفاذ وروسته، سره راټول شول اود ۱۳٤٤ په مرغومی/ د ۱۹٦٥ په جنورۍ کې يې په کابل کې د افغانستان د خلق د موکراتیک ګوند تأسیس کړ او په خپلو فعالیتونو يې پیل وکړ. د دې ګوند عمده غړي نور محمد تره کی، ببرک کارمل او طاهر بدخشي وو. هغوی خپل فعالیتونه د (خلق) جریدې د خپرولو له لارې پرمخ بیول او د ملي سیاست په کچ يې د اولسي جرګې د کرسیو د لاس ته راوړلو هڅې پیل کړې. د اولسي جرګې په لومړنیو انتخاباتو کې ببرک کارمل انا هیتاراتب زاد او نور احمد نور چې ددې ګوند عمده غړو وه پارلمان ته لار پیدا کړه.

دا حزب تریوه کال ائتلاف وروسته، چې د کمونیزم د درې مهر و ترمنځ، راسنځ ته شوی و د انشعاب ښکار شو او په ۱۳٤٥ ش/ د ۱۹٦٦ کال په وروستیو کې يې جدا سیاسي دلي منځ ته راوستې:

### الف– خلق ګوند

دې ګوند، ځان، د افغانستان د خلق د دموکراتیک ګوند په نامه معرفي کړ او څرنګه چې (خلق) جریده د نور محمد تره کی په مسؤول مدیریت خپره شوی وه، خلقي ګوند تر پرچمیانو، شوروي ته ځان ډیر مخلص باله او تواضع یې کوله "خلقیانو پخپله تګلاره او احساس کې نسبت پرچمیانو ته ناسیونالستي تمایلات درلودل" (۱۷). د خلق ګوند زیاتره غړي پښتانه وو او له ملي تفکر سره د کمونستي رژیم غوښتونکي وو. د خلقیانو په حرکتونو کې زیات افراط لیدل کیده او عملونه يې له فکر

سره زیاتره یو شان وو. خلق ګوند په اردو کې هم نفوذ درلود او یو شمیر کسان لکه شیرجان مزدوریار، سید محمد ګلاب زوی، فیض محمد، پاچاګل وفادار او اسد الله سروری هغه کسان وو چې وروسته یې په کمونستي کودتاکې مهم نقش درلود.

انتوني آرنولډ پخپل کتاب (څو ګوندي کمونست) کې لیکي: "روسانو نور محمد تره کي ته د هغه د کتاب "دبنګ مسافری" چې په پښتو ژبه لیکل شوی و او هیڅ ډول تولنیز او ادبي ارزښت نه لري، په بدل کې دلینن دجایزې تر عنوان لاندې، ۷۰۰۰۰۰ ډالر رشوت ورکړ او تره کي یادې شوې پیسې د خپل ګوند په تنظیم کې ولګولي" (۴۸)

هانري برادشر لیکي چې: "په ۱۹٦٤م/۱۳٤۳ش هغه (نور محمد تره کي) په کابل کې د شوروي له سفارت سره یوه ارتباطي کړې تشکیل کړې وه. تره کي د خپل خوښې مطبعه کې ناست و، افغاني ځوانان یې شوروي مامورینو ته چې فکر کیده دکاجي بې غړي وو، معرفي کول. د نوي اساسي قانون تر انفاذ وروسته، کله چې پارلماني انتخاباتو ته ترتیبات نیول کیدل، سیاسي ګوندونه لانه وو تشکیل شوي، تره کي د دیر شو په شاوخوا کې ځوانان پرځان راټول کړل او د خلق د دموکراتیک ګوند یې تأسیس کړ." (٤٩)

کشککي لیکي: "تره کي د میلمستاو په ګډون په عامه غونډو کې لږ لیدل کیده... تره کي به ان د شوروي سفارت په غونډو کې دیر لږ لیدل کیده. سړی دې نتیجې ته رسیده، چې شورویان، نسبت خلقیانو ته له پرچمیانو سره، نژدې اړیکې لري.

خلقیان په زیاتره سیاسي مظاهرو کې سره له هغې چې له پرچمیانو سره یې ائتلاف کاوه او د جوانان مسلمان په وړاندې یې سره پیوستون درلود خو سلیقوي اختلافونه یې ښکاره وو او یو بل ته یې غاړه نه ایښوده. خلقیانو د خلق دموکراتیک ګوند پلویان اصلي کمونستان ګڼل او په پرچمیانو یې د ظاهر شاه د دربار د نوکرانو په نامه ملنډې وهلې. خلقیانو ځانونه خواري کښ او د خلکو له منځه راوراړ شوي او اولسي ښودل. څرنګه چې خلقیان زیاتره د افغانستان د کلیوالي سیمو او سیدونکي وو، ښاري توب او د کابل مدرنیزه تمایلات یې چې د پرچمیانو په فکر کې را څرګندیدل، یو ډول تملق او ارتجاع ګڼله.

خلق ګوند د حفیظ الله امین، عبدالحکیم شرعي جوزجاني، صالح محمد زیري، دستګیر پنجشیري، صدیق عالمیار او عبدالرشید آرین په څیر یو شمیر برجسته غړي درلودل او د ۱۳۵۷ د ثور ترکودتا پورې یې فعالیتونه درلودل. برادشر د تره کي په باب دې نتیجې ته رسیدلی دی چې هغه یې "یو رؤیایي لیکوال، حرفه یې ویاند، دلوړو اهدافو لرونکی یو سړی خو د عملي تدابیرو نه لرونکي ستایلی دی. (۵۰) (پر دې برخه کې دې دلا تفصیل لپاره ددې کتاب شورمې برخې ته مراجعه وشي)

## ب- پرچم ګوند

پرچم ګوند چې مؤسس يې ببرک کارمل دی، وروسته ترهغې چې د هغه او تره کي ترمنځ اختلافونه رامنځ ته شول، پرچميانو ځانونه له خلقيانو نه جلا کړل. د کمونست ګوند د انشعاب او پرچم ګوند د تأسيس دليل د پاچا خواته د کارمل تمايلات وو، څکه ډېر وخت يې د هغه پر دسترخوان خوړلي وو. کله يې چې په اولسي جرګه کې د هغې جرګې د وکيل په توګه بيانيه ورکړه، پاچايي ديوه ترقي غوښتونکي پاچا په توګه وستايه چې د کمونست ګوند د غړو ترمنځ ګډوډي راغله او پرچميان يې دکارمل له لامله چې وروسته يې پرچم ګوند هم تأسيس کړ، د (شاهي کمونستانو) په نامه دول.

دکمونستانو د انشعاب دويم علت دا و چې کارمل دکمونست ګوند په رهبري کدرکې "هڅه وکړه چې مير اکبر خيبر چې هغه مهال دپوليسو منصبدار و د ځان په پلوی مرکزی کوميتې ته راولي؛ خو بريالی نه شو او په نتيجه کې يې د ۱۹٦٦ دسپتمبر پر څلرويشتمه/ د ۱۳٤۵ دوری دويمه استعفی وکړه خو د ګوند په غړی توب پاتی شو"(۵۲)

پرچم ګوند له تره کې سره د هغو مخالفتو له لامله چې ورځ په ورځ به زياتيدل، وغوښتل د ۱۳٤٦ په چونګاښ/ د ۱۹٦۷ په جولای کې د افغانستان د خلق د دموکراتيک ګوند په نامه په سياسي ډګرکې سر را پورته کړي او نور کمونست غړي د تره کي له څنګه لری کړي. د سليمان لايق او بارق شفيعي په څير کسان چې دو اړو خواو ته يې سرو نه خوځول، ځانونه کارمل ته نژدی کړل. د کشتمند، پنجشيري او شهپر په څير کمونستان هم کارمل ته نژدی شول. پرچم جريده چې ددی ګوند د اهدافو څېروونکي و او د شاهي تر پايه پرته له مصادرې خپريده او د لوړ رتبه دولتي مامورينو سلاتړ هم ورسره و، د روسانو د اهدافو په پرمخ بيولو او د پرچميانو د سياسي چارو په تينګښت کې مهم نقش لوباوه.

"دکارمل اوتره کي ترمنځ رقابت (وورسته دامين اوکارمل ترمنځ) دهر فرکسيون هيله وه چې، يوازې همغه ډله د مسکو له تأييد نه برخمنه وي. د هغوی دريځونه يو دبل په وړاندی دومره نه پخلاکيدونکي وو چې هره يوه مقابل لوری د امپرياليزم او ارتجاع دلاس آله ګڼله. تره کي په دی تورنيده چې د سي آی ای ګومارل شوی دی. په مقابل کې به خلقيانو کارمل تورنا وه چې له سلطنتي درباره نمايندګي کوی.(۵۳)

پرچم ګوند چې له پاچا سره له خپلو اړيکو نه هم ګټه اخسته، له روسانو سره په نژدی توب او د هغوی په چوپړکې ډېر فعال شوی و او د ښوونځيو او پوهنتون د شاګردانو ترمنځ يې زياتره ځوانان د آزادی د مفکوری په نامه يې لاری کول. زياتره ځوانانو به چې يې بندوباری، شراب څښنی، جنسی اړيکو او تولنيز و فسادو ته تمايل درلود د پرچميانو له خواجذب کړای شول. دا ډله چې وروسته يې د خاد د جاسوسي شبکې د فعالينو، د زندانو د مستنطقينو او د انقلاب د دفاع د سازمان د سرګروپانو په توګه د کارمل - نجيب په رژيم کې کليدی چاری په لاس کې وی، په افغانستان کې د تولنيز فساد لامل شول.

د افغانستان کمونستانو پرته له يو شمير تعاملي بين الحزبي اصطلاحاتونه چې د مشرانو ترمنځ به يې

کارول کیدل، نور د مارکسیزم - لیننیزم له ماهیت نه خبرنه وو. همدا راز دی گوند له محمد داؤود سره نژدې اړیکې درلودې او د کمونستانو د تینګښت پروګرامونه یې پرمخ بیول. پرچم ګوند د افغانستان په سیاسي اوضاع کې تخریبي رول ولوباوه (د مشروطیت د دورې د آزادو جریدو او ثور د اووسې ګوندنا برخې ته دې مراجعه وشي)

## ج- ستم ملي

دا سیاسي جریان هغه مهال منځ ته راغی چې د کارمل او تره کي اختلافات اوج ته ورسیدل. دستم ملي مشر طاهر بدخشي یو پیژندل شوی کمونست و چې ځان یې د پښتنو سرسخت مخالف ګاڼه او نه یې شو کولای د خلق - پرچم له کمونستانو سره توافق وکړي. په همغه ۱۳٤٦ کال چې کارمل له تره کي نه جلاشو، طاهر بدخشي هم د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوندنه انشعاب وکړ او د ستم ملي ګوندیې تأسیس کړ.

ستم ملي یو مائوستي کمونستي ګوند دی چې ځانونه یې د چیني کمونیزم د تګلارې پلویان ګڼل. هغه په ملي کچه باور دلود چې پر لږکیو (اقلیتو) ستم شوی دی او باید خپل حقونه ترلاسه کړي چې غالباً یې د ویشاک (تجزیې) اهداف درلودل. داسې انګیرل کیږي چې د مشروطیت د دورې د آزادو مطبوعاتو په دوره کې، د دې ګوند اهداف د (پیام وجدان) جریدې له لارې د (ترکمني) په واسطه خپریدل. (مراجعه دې وشي) خوګشککي لیکي چې: "دې ګوند ونشو کړای کومه خپرونه را وباسي او دیوه منظم ګوند په توګه منځ ته راشي؛ ځکه د مسایلو د حل لپاره د تشدد پلوی و".(٥٤)

"ستم ملي ګوند له (ساما) نه را جدا شو او مائوستي تمایلات یې درلودل... د اتیایمې لسیزې په پیل کې کابل رژیم په دې پلمه چې ستم ملي انشعابي مائوستي ګوند دی، په دې هڅه کې شو چې نیلي یې و چې کړي او د هغې په نتیجه کې د حزب نقش ډیر کمزوری شو..."(٥٥)

د حزب دموکراتیک نوین (شعله جاوید) د یوه غړي عثمان لندۍ د وینا په استناد "ستم ملي له شعله جاویده یوه جدا شوې ډله وه چې په ۱۳۵۰ ش/۱۹۷۱ کې انشعاب کړی و..."

د دې حزب زیاتره فعالیتونه په بدخشان او اندراب کې وو. ددې ګوند اهدافو لازم صراحت چې د اولسي اهدافو بیانوونکې وي، نه درلود او په هیڅ ډول یې نشوای کولای د افغانستان په راتلونکې کې موثر نقش ولري. پر همدې اساس د افغانستان نورو حتی کمونستي ډلو ستم ملي ډله مردوده ګڼله. مشهور کمونستان لکه سلطان علي کشتمند او غلام دستګیر پنجشیري د ستم ملي پټ داعیان وو او په دې برخه کې یې له ځانه تمایلات ښودل.

د ستم ملي مؤسس طاهر بدخشي په بدخشان کې زیږیدلی او هلته یې زده کړه کړې وه. ثانوي زده

کړی یی په حبیبه لیسه او د تخصص دوره یی د کابل پوهنتون په اقتصاد پوهنځی کی سرته ورسوله. بدخشی د سلطان علی کشتمند له خور جمیلی سره واده وکړ. نوموړی د ۱۳۵۷ په زمری میاشت کی (د ثور ترکودتا دوه میاشتی وروسته) د حفیظ الله امین له خوا زندان ته واچول شو او د ۱۳۵۸ د وری پرشپږویشتمه/د ۱۹۷۹ دسپتمبر اوولسمه اعدام کړای شو.

## ۲- شعلهٔ جاوید (حزب دموکراتیک مترقی - مترقی د موکراتیک گوند)

د سیاسی سازمان یو چپی او د چین پلوی کمونست گوند دی چی د مائوستانو په نامه هم شهرت لری. هغوی له نورو سره په قهر جنه مبارزه عقیده درلوده. دی گوند به زیاتره له جوانان مسلمان سره تکر کاوه. چی دا تکربه زیاتره په ښوونځیو او کابل پوهنتون کی کیده. د دی گوند بنسټگران د ډاکتر عبدالرحمن محمودی کورنی وه چی ډاکتر عبدالرحمن هم د شاه محمود خان د صدارت پروخت له همدی اهدافو سره د (ندای خلق) جریده خپروله *(د غیر دولتی نشراتو برخی ته دی مراجعه وشی)*

د شعله جاوید مهم غړی عبارت وو له ډاکتر عبدالرحیم محمودی، ډاکتر عبدالهادی محمودی، انجنیر محمد عثمان لنډی، ډاکتر سید کاظم دادګر، د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی استاد پروفیسر محمد اسحاق، سید بشیر امین، ډاکتر عین علی بنیاد، عبدالله، قاسم وحید، عزیز الرحمن، محمد عیسی میخانیک، عبدالله محمودی، سیف الرحمن، عظیم محمودی، ببرک محمودی، غلام سرور، عبدالنبی، غلام حبیب شاهپور، نور محمد، نور الله محمودی او له محمد اعظم نه.

همدا راز دی سازمان ادعا درلوده چی د دی حزب مشری د سلطنت د دوری باغی عبدالمجید کلکانی پر غاړه وه. مجید کلکانی د شمالی په غرنیو برخو کی نظامی مرکزونه جوړکړل اوکله ناکله به یی چریکی عملیات هم کول. کلکانی په ۱۹۷۸/۱۳۵۹ کال د کابل په مکروریانوکی ونیول شو او اعدام کړای شو.

تر هغی وروسته د شعله جاوید مشری د مجید کلکانی د ورور عبدالقیوم (رهبر) پر غاړه شوه. غالباً شعله یان په اروپاکی زیات تنظیم شوی وو او خپرونی یی هم کولی. عبدالقیوم رهبر هم اروپا ته فرار شو. شعلهٔ جاوید د داؤود خان د جمهوری ریاست پروخت د (ساما)، (سازا) او (هجاما) په نومونو فعالیت کاوه چی د دی ډلی له کمونستی اهدافو سره یی اړخ لګاوه.

شعله یانو د (حزب دموکراتیک نوین) ترنامه لاندی فعالیت کاوه. د هغوی د فعالیتونو مرکزونه د هرات او نیمروز ښارونه وو او د عبدالله رستاخیز په نامه یوکس دکمونستی قوتو په تنظیم بوخت و. هغه عقیده درلوده چی خپله مبارزه به له کلیونه ښارونو ته بیایی. د شعله یانو یوه بل رهبر عثمان لنډی د کابل پوهنتون په ساینس پوهنځی کی استادو. دی سازمان ډیر فعالیتونه وکړل اوکله ناکله یی له ستم ملی سره

ګډې هلې ځلې وکړې چې د مجاهدينو په ليکوکې نفوذ وکړي. ددې ډلې زياتو غړو په جمعيت اسلامي کې غړيتوب ترلاسه کړ او افراد يې د برهان الدين رباني او احمد شاه مسعود سره ځانګړی مقام درلود.

د جمعيت اسلامي ډلې (رباني - د مسعود نظار شورا) دنه ائتلاف يو علت د دغو چپي افرادو موجوديت و چې د حزب اسلامي لومړۍ درجه دښمنان وو. د شعله ياتو فعاليتونه د برهان الدين رباني دواکمنې پروخت منظم شول د (سازا)، (سزا) (حزب کارګران) او (ساجا) غړو چې د نجيب د واکمنې پر وخت يې د هغه له اداري سره ائتلاف درلود، مجاهدينو ته د واک د انتقال سره سم له احمد شاه مسعود سره اړيکې ټينګې کړې او د دولت حساس پوستونه يې ونيول. رباني ته ديوه نژدې سياستوال په تائيد ډاکټر عبدالرحمن، ډاکټر عبدالله او ډاکټر نجيب الله لفرايي د شعله جاويد (ساما) او ستم ملي کليدي غړي دي چې نه غوارې د مجاهدينو د اسلامي ډلو ترمنځ ائتلاف راشي او پخپله د افغانستان د اداري رهبري پخپله غاړه واخلي. په هغه مصاحبه کې چې برهان الدين رباني د ۱۳۷۳ په وری/ د ۱۹۹٤ په مارچ کې د بي بي سي را ديوله دری سرويس سره په يوه مرکه کې چې د ۱۳۷۱ په وری/د ۱۹۹۱ په سپتمبر کې يې کړی وه، په بدخشان کې يې له طاهر بدخشي سره د خپل تفاهم خبره وکړه. په قوي احتمال، مائوستانو له احمد شاه مسعود نه زياته سياسي ګټه واخسته او حتی د هغه اسلامي تګلاره يې په سياسي برخوردونوکې د نژاد پالنې خواته راکښه کړه اوکوښښ يې کاوه چې له نورو ډلو سره په جنګ کې قومي او مذهبي مسايل رامنځ ته کړي او خلک را وپاروي.

د شعله ياتو اهدافو وروسته له ستميانو سره څه ورته والی پيداکړ اود خلقيانو او پرچميانو پر خلاف يې دريغ ونيوه؛ خو وروسته پر کابل له واکمن کمونستي رژيم سره پخلاشول. څه وخت يې پخپل منځ کې تکرو نه وکړل او يو شمير يې د کابل له رژيم سره ملګري شول او يو شمير نور يې په تکتيکي ډول د مجاهدينو ليکو ته ورننوتل او په سياسي تشکيلاتو اود جهادي ډلو د وحدت په اړه يې د هغوی تګلاري زيانمنې کړې. کله چې برهان الدين رباني کابل ته ولاړ، ساماياتو د فشار دقوت او کاري ډلې په توګه د رباني له حکومت سره يو لړ توافقات وکړل. نژادي او ژبني اختلافات چې اوس يې په افغانستان کې زور اخستی دی د مائوستانو او ستم ملي د اختلاف اچونې د افکار وزيږنده ده.

## ۳- افغان ملت

افغان ملت يو ملي ګرا ګوند دی چې خپل اهداف د (سوسيال دموکرات ګوند) تر سرليک لاندې بيانوي. د دې ګوند مؤسس انجنير غلام محمد فرهاد دی چې په (پاپا) يې شهرت درلود. هغه د افغانستان د ساختماني له لومړنيو انجنيرانو نه ګڼل کيږي چې په المان کې يې زده کړه وکړه اود انجنيرۍ په برخه کې يې يو لړ خدمتونه وکړل.

د دې ګوند سیاسي اهداف ډیر لوړ وو، او په لومړیو کې یې د –(لوی افغانستان) ادعا درلوده چې بنایي ددې ګوند د غړو په اذهانو کې اوس هم دا مفکوره موجوده وي. "افغان ملت ادعا کوله چې د ننني پاکستان ځنې برخې، د ایران ځنې برخې او دشوروي (پخواني) څه برخې د افغانستان د خاورې برخې دي... له مسکونه یې غوښتې وو چې پنجده افغانستان ته وسپاري. پنجده په ۱۸۸۵م کال د روسي عسکرو له خوا اشغال شوه، د افغانستان له خاورې جدا او د روسیې له خاورې سره مدغم کړای شوه" (٥٦)

په ۱۳٤۸ش/۱۹٦۹م په افغان ملت کې انشعاب رامنځ ته شو او فدا محمد فدایي د دې حزب د جدا شوې برخې مشري پر غاړه واخسته چې سیاسي فعالیتونه یې ناکام شول او ویې نشوای کړای پارلمان ته لار پیدا کړي.

دا حزب نن په امریکا، اروپا، پاکستان او هندې کې څه انشعابي برخې لري او تر همدې نامه لاندې جریدې هم لري. (د غیر دولتي نشراتو برخې ته دې مراجعه وشي.)

## ٤– مساوات

کله چې محمد هاشم میوندوال د صدارت له دندې استعفي ورکړه، د ۱۳٤٥ په زمري/۱۹٦٦ په اګست کې یې په کابل کې (جمعیت دموکرات مترقي) په نامه یوه ډله جوړه کړه. د دې سیاسي سازمان د اهدافو خپروونکې جریده مساوات نومیده. مساوات د کمونستانو یو سرسخت مخالف ګوند ګڼل کیده؛ څکه پرچمیانو، میوندوال د (امریکایي) په نامه پیژاند. میوندوال د محمد داؤود د جمهوري ریاست چې عمده او با صلاحیته غړي یې د پرچم ګوند غړي وو، په لومړیو کې د کودتا په تورونو او په زندان کې یې شهید کړ.

## ٥– صدای عوام

صدای عوام یو چپي ګوند دی چې د کارګرانو او کرګرانو د ملاتړ ادعا کوي. ددې ګوند رهبري عبدالکریم فرزان کوله چې په اولسي جرګه کې د هرات د زنده جان اولسوالي نماینده و. دې ګوند د (صدای عوام) په نامه یوه خپرونه هم درلوده. دې ګوند سره له دې چې خپله تګلاره یې په یوه ډول سوسیاستي بلله، خو په واقعیت کې کمونستي ګوند نه و او د کمونستي او غربي تمایلاتو ترمنځ یوه منځنۍ لاروه. صدام عوام لږ پلویان درلودل او غالباً د دې ګوند غیر واضحې تګلارې همه د خلکو له پامه غورځولې و او ناکام شو.

## ٦ - اتحاد ملی

د (حزب وحدت ملی) په نامه یو سیاسی محافظه کار او غربی وزمه سازمان و چې د امان الله رسول په واسطه اداره کېده. استاد خلیل الله خلیلی، عبدالحمید مبارز او ګل احمد هم د دې ګوند له پلویانو او سلاترو نه شمېرل کېدل چې هم یې مادی امکانات درلودل او هم یې لوړ رتبه دولتی منصبونه. د دې سازمان اهداف د (اتحاد ملی) په نامه دیوې جریدې له لارې خپرېدل.

## ۷ - حزب اسلامی (د جوانان مسلمان غورځنګ)

یو برجسته حزب چې د افغانستان په راتلونکې کې یې مهم نقش لوبولای شوای او واکمن دولت، چې او نیمه چپی ګوندونه ټول ورسره په مخالفت کې واقع وو، د جوانان مسلمان اسلامی غورځنګ دی. دا غورځنګ پر ۱۳٤۸ ش *(د بناغلی ګلبدین حکمتیار په وینا دوری په دیارلسمه - ژباړن)* ۱۹٦۹م په کابل پوهنتون کې د (شهید) عبدالرحیم نیازی په واسطه تأسیس شو. دا چې دی غورځنګ د افغانستان په تاریخ او په ځانګړی توګه پر افغانستان د روسی ځواکونو د تیری او کمونستی حکومتو پر وخت مهمه برخه لرلی وه هغه سی په جدا برخه کی مطالعه کړی دی. *(د دی کتاب اوهمی برخه ته دی مراجعه وشی)*

## د ډاکتر محمد یوسف د صدارت دوره

*د ۱۳٤۱ د حوت ۱۹ مه - ۱۳٤٤ ش د عقرب ۷مه*

*د۱۹٦۳ د مارچ ۱۰مه - د ۱۹٦۵ داکتوبر ۱۲مه*

ډاکتر محمد یوسف چې د محمد داؤود د کابینې یو پرکاره وزیرو د کانو او صنایعو د وزیر په توګه بې کار کاوه. نوموړی د ۱۳٤۱ش د کب پرنولسمه/۱۹٦۳ د مارچ لسمه د پاچا له خوا د افغانستان د نوی صدر اعظم په توګه وټاکل شو. همدا راز پاچا د نوی اساسی قانون تسوید د صدر اعظم له مهمو دندونه شمېره او د خبرګانو یو اووه کسیز هیأت یې د آزاد قانون (نوی دموکراسی) د مسؤولینو په توګه توظیف کړ چې عبارت وو له: سید شمس الدین مجروح (عدلیه وزیر) او د کمیسیون رئیس، د اطلاعاتو او کلتور وزیر سید قاسم رشتیا (د کمیسیون مرستیال)، د ښوونې او روزنې د وزارت مشاور ډاکتر میر نجم الدین انصاری، د عدلیې وزارت د قوانینو رئیس محمد موسی شفیق، د ښوونې او روزنې د وزارت دویم معین ډاکتر عبدالصمد حامد، د کابل پوهنتون پروفیسر اود بین الدول حقوقو متخصص پروفیسر حمید الله او د کانو او صنایعو د وزارت د برنامه ریزی رئیس میر محمد صدیق فرهنګ.

دی کمیسیون د ۱۳٤۳ د ثور پر ۲٤مه/ د ۱۹٦٤ د می ۱٤مه د اساسی قانون د تسوید کار پای ته

ورساوه. پاچا د لویې جرګې د تدویر غوښتنه وکړه "نوی اساسي قانون د دې جرګې غړيتوب او د هغې خاصيت ته تغيير ورکړ اود ۷۸مې مادې له مخې، لويه جرګه د شورا له نمايندګانو او ولاياتو د جرګو له رئيسانو نه مرکبه وه"(۵۷)

د دې جرګې له خوا د رايو په ډيرښت پريکړه وشوه چې د اساسي قانون د څلرويشتمې مادې د تعديل له مخې، سلطنتي کورنۍ د سياسي فعاليت حق نه لري او دا خبره محمد داؤود ته متوجه وه چې په راتلونکې کې بې د فعاليت مخه ونيول شي.

د ۱۳۴۳ د وږى په ۱۸مه/د ۱۹٦٤ د سپتمبر ۹مه څلورسوه کسيزې لويې جرګې د مشروطه دورې اساسي قانون تأييد کړ او د نادر شاه د دورې مطلقه شاهي د هغې له اساسي قانون سره منسوخ شوه.

د نوی قانون له مخې، د موکراسي او د بيان او مطبوعاتو ازادې يو څل بيا د محمد داؤود د دورې اختناق مات کړ. د ډاکتر محمد يوسف په کابينه کې د افغانستان تکړه ژورنالست محمد هاشم ميوندوال د اطلاعاتو اوکلتور د وزير په توګه وټاکل شو. هغه د دې کابينې له کارې تګلارې سره مخالفت کاوه. "هغه تصميم درلود چې مطبوعات د حکومت پر څنو اجراآتو انتقاد وکړي." (۵۸) او عامه اذهانو ته بې انتقال کړي.

ډاکتر محمد يوسف چې د مطلقه او مشروطه شاهي ترمنځ تر انتقالي دورې وروسته د پاچا له خوا د نوې کابينې په تشکيل موظف شوی، و د خپل صدارت په دويمه دوره کې بې وغوښتل له يو شمير نوښتونو سره په کار پيل وکړي؛ خو اولسي جرګې هغه او د هغه د کابينې غړي په مالي فساد تورن کړل او له بلې خوا په هغو مظاهرو کې چې د کمونستانو په همکارۍ د ښوونځيو د شاګردانو له خوا د حبيبيې ليسې مخې ته د دار الامان پرسړک وشوې له پوليسو سره په ټکرکې يو کس ووژل شو. دا يو ډير ښه سندو چې ډاکتر محمد يوسف له يو خوا د خلکو اوله بلې خوا د اولسي جرګې ترفشار لاندې واقع شې او استعفى ته اړشي. د کابينې تر تشکيل څلور ورځې وروسته د ۱۳٤٤ش د لړم د دريمې /د۱۹٦٥ د اکتوبر ۲۵ مې پيښنه د شاګردانو د مظاهرو په ښه واقع شوه او صدر اعظم ونه شو کړاى خپل کار ته دوام ورکړي. پاچا چې له دې پيښنو ويريده، ډاکتر يوسف بې استعفى ته اړايست.

## د محمد هاشم ميوندوال لومړۍ وزارت (عظمى صدارت)

د ۱۳٤٤ د لړم ۷مه – د ۱۳٤٦ د تلې ۱۸مه

د ۱۹٦٥ د اکتوبر ۲۹مه – د ۱۹٦۷ د اکتوبر ۱۰مه

محمد هاشم ميوندوال يو پياوړى ژورنالست او باتجربه سياستوال و. د صدارت د پست تر اشغال

وروسته په همغو لومړيو ورځو کې کابل پوهنتون ته ولاړ او غوښتل یې له محصلینو سره خپلې اړیکې ښې کړي؛ خو روسانو چې له میوند وال سره ښې اړیکې نه درلودې د هغه حکومت یې په افغانستان کې د ځان د ګټو پر خلاف یو ستر خطرو با له نو څکه یې خپلو ګوماړل شویو ته دنده وسپارله چې د هغه د حکومت پر خلاف مظاهرې پیل کړي.

"د صدراعظم په توګه د میوندوال انتخاب د لویدیځ لپاره یو ښه زیری او د روسانو لپاره یو دردوونکی اتفاق و؛ څکه روسان په دې ښه پوهیدل چې میوندوال یو هوښیار اوزیرک سیاستوال دی چې په هیڅ نیرنګ به د هغوی تر سلطې لاندې را نه شي او د نورو تګلاري به تعقیب نه کړي. له همدې لامله وویریدل او مصلحت یې په دې کې ولید چې له هرې لارې کیږي د هغه په لرې کولو کې هڅه وکړي"(۵۸)

امریکائیانو د میوندوال د مقررۍ هرکلی وکړ اوله افغانستان سرې یې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه، صدراعظم هم هڅه وکړي چې په افغانستان کې د روسانو نفوذ کم کړي او د امریکا یې مرستو هرکلی وکړي. هغه خپله کابینه شوراته معرفي کړه. په دې کابینه کې د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یوه ښځه د وزارت د پست لپاره معرفي شوه. دا ښځه د روغتیا وزیره پیغله کبرا نورزۍ وه. میوندوال که څه هم د بهرنیوچارو د وزیر په تاګنه کې تیرووت: خو ویل کیږي چې نور احمد اعتمادي د هغو نژدې اړیکو له لامله چې له سلطنتي کورنۍ سره یې درلودې، د پاچا په وړاندیز په دې دنده ګومارل شوی و.

د محمد هاشم میوندوال یو خصوصیت د او چې غوښتل یې د حکومت او خلکو ترمنځ اړیکې ټینګې کړي او دیوه نوښتګر سیاسي شخصیت په توګه یې د افغانستان مختلفو ولایاتو ته د (خلکو ته ورځم) تر عنوان لاندې سفرونه پیل کړل او د افغانستان مختلفو کلیو او بانډو اوښارونو ته ورغی؛ د خلکو ستونزې یې له نژدې نه تر څیړنې لاندې ونیوې او له هغوی سره یې تفاهمونه وکړل. هغه د حکومت رسمي مطبوعاتو ته آزاد صلاحیت ورکړی و چې د دې سفر جریان د خلکو له انتقادونو سره په کامل ډول او پرته له هیڅ ډول سانسوره خپور کړي.

میوندوال په نړیوال سیاست کې ښې اړیکې او ناپیلتوب تعقیب کړ. د عربو او اسرائیلو په شپږ ورځنۍ جنګ کې یې چې په ۱۳٤٦ش/۱۹٦۷ کې وشو دعربو له داعیې نه سخت ملاتړ وکړ. همدا رازیې دیوه سیاسي نوښتګر په توګه وړاندیز وکړ چې افغانستان حاضر دی د امریکا او ویتنام په جنګ کې دیوه منځګړي رول ولوبوي چې د دواړو خو او ترمنځ سوله تأمین شي: "میوندوال دیوه مفکوروي انسان په توګه د حکومت کولو په هنر کې د نوښتونو په وړاندولو قادرو خو سره له دې یې هم نشوای کولای چې خپلې منځ ته راوړې مفکورې تعقیب کړي.

کله چې میوندوال د ملګروملتو په بیړنۍ غونډه کې د ګډون لپاره نیویارک ته ولاړ، د ۱۳٤٦ دورې په ۳مه/۱۹٦۷ د مارچ ۲۳مه د امریکا له اولس مشر لیندن جانسن سره تر کتنې وروسته ورته د امریکا د کلفورنیا پوهنتون له خوا د حقوقو افتخاري دکتورا ورکړل شوه. میوندوال تر هغې وروسته فرانسې ته سفر

وکړ او له جنرال شارل دوګل سره یې اوږدې خبرې وکړې او له لویدیځ سره یې یو لړ اقتصادي قرار دادونه لاسلیک کړل چې د روسانو د زیاتې اندیښنې سبب شول. روسانو خپلو کمونستو لاس پوڅو (د خلق – پرچم غړو) ته وظیفه ورکړه چې په کابل کې د میوندوال پر خلاف مظاهرې پیل کړي. چې په دې توګه یې میوندوال د سي آی ای (CIA) د جاسوس په نامه تورن کړ. "خو په حقیقت کې میوندوال امریکا ته تمایل نه درلود، هغه یو افغان و او د روسانو د پراختیا هڅې له سیاست نه چې غوښتل یې په افغانستان کې یې د کمونیزم له لارې عملي کړي، بنه خبروو." (۶۰) "د میوندوال د ناکامولو او بدنامولو لپاره د پر دې تر شاه لاسونو د کا جي بي په همکارۍ په کابل کې یو شمیر نارامۍ رامنځ ته کړې او روسانو ددې سنجول شوې پلان په واسطه غوښتل زموږ د هیواد شخصیتونه یو پر بل پسې له سیاسي ماتې سره مخ کړي او واکمنې ته د محمد داوود د بیارسوني لپاره زمینه برابره کړي." (۶۱)

میوندوال د دې مطلب په ذکر سره چې څنې کړي (کمونستان) خپلې ملي ګټې په پام کې نه نیسي او غواړي ستونزې زیاتې کړي او له هغې نه ګټه واخلي او ددې مطلب په ذکر سره چې روغتیایي حالت یې د صدارت د چارو د پرمخ بیولو توان نه درلود او هم یې د همکارو وزیرانو په نه همکارۍ، د اداري فساد د زیاتیدو اودده نوښتونو ته د پاچا دنه پام له لامله یې د ۱۳۴۶ د تلې پر اتلسمه/ د ۱۹۶۷ د اکتوبر پرلسمه له خپلې دندې استعفی وکړه.

میوندوال چې یو مهم مسلمان او ملي شخصیت و د سیمې دیوه پیاوړي ژورنالست او سیاستوال په توګه پیژندل شوی و. میوندوال یو ډیر برجسته نطاق و چې د ملګروملتو دسازمان په مباحثو او د هیوادونو له مشرانو سره د کتنې پر وخت یې په اسانۍ سره پخپلو رقیبانو خصوصاً پاکستانیو د پلوماتانو برلاسي موندله. غالباً د پاکستان، هند او ایران د پوماتانو له هغه سره په مباحثو کې د خپلو مطالبو د وړاندې کولو جرأت له لاسه ورکاوه.

وروسته تر هغې چې له لومړي وزارت (صدارت) نه یې استعفی ورکړه او دیوه سیاسي ګوند (جمعیت دموکرات مترقي) د تشکیل تصمیم یې ونیو د "مساوات" په نامه یې یوه خپرونه هم په پام کې درلوده، په خیاباني مظاهرو کې یې ګډون کاوه، او په خپلو بیانیو کې به یې چې زیاتره به په زرنګار پارک کې ورکول کیدې، ځان د سید جمال الدین افغان دلارې لاروی او د هغه د اهدافو په تعقیب مکلف ګڼه. هغه په دې اړه کتابونه ولیکل او چارقل شریف یې تر تفسیر وروسته په مختلفو جزو کې خپور کړ چې د هغه د انقلابي اهدافو بیانوونکې و.

محمدهاشم میوندوال په ۱۳۳۰–۱۳۴۰ش/ ۱۹۵۱–۱۹۶۱م په لندن او واشنګټن کې دافغانستان دسفارت مسؤولیت پرغاړه درلود. کله چې محمد داؤود د اولس مشر په توګه واک ته ورسید. میوندوال دتداوی لپاره له هیواد د بهرتللی و. دروسانو له خوادمخه دطرح شوي پلان له مخې له میوندوال نه وغوښتل شول چې هیواد ته ستون شي. هغه د ۱۳۵۲ ش د وږی پر یوویشتمه/ د۱۹۷۳ دسپتمبر په دولسمه

کابل ته ستون شو د وه اوونی وروسته یې هغه دکودتا او د داؤود د را پرځولو په تور زندان ته واچاوه.

دداؤود د (ضبط احوالات) یو مخفي مامور محمد امین چې پښ اطلاعات یې وړاندې کول په یوه مجلس کې په ژړا اعتراف وکړ چې میوندوال ته کمونستانو ډیرې بدې شکنجې ورکولې او هغه، هغه حالت لیدلی دی. روسي مشاورین په نظامي چاروکې د (انقلابي محکمې) ترنامه لاندې په دې توطیه کې شریک دي. د دې شخص د وینا پر استناد میوندوال د کورنیو چارو د (کمونست) وزیر فیض محمد، او ژاندارم و پولیس د رئیس عبدالقدیر نورستاني او د میوندوال د تحقیق مسؤول صمد ازهر (پرچمي) په واسطه شهید کړای شو.

د محمد داؤود رژیم دیو شمیر جعلي او غلطو اسنادو د خپرولو له لارې د میوندوال شهادت، انتحار (ځان وژنه) اعلان کړ چې دنکټایي په واسطه یې ځان په کوټه کې ځوړند کړ. په داسې حال کې چې میوندوال په اسلام معتقد لیکوال و چې د قرآن کریم د سورتونو تفسیري جوتوی چې هغه د ایمان قوت درلود. د هغه د انتحار خبره په هیڅ ډول سهي نه وه او د کمونستانو له خوا یو توطیه ګڼل کیږي.

یادښت: میروند وال مساوات ګوند د واک پر وخته جوړ کړ چې دا د هغه ستره سیاسي تیر وتنه ګڼل کیږي، ځکه کله یې چې له صدارته استعفي وکړه زیاتره ملګروی دهغه ملګرتیا پریښوده - ژباړن)

# د نور احمد اعتمادي حکومت

*د ۱۳٤٦ د لړم نهمه - د ۱۳۵۰ د ثور ۲٦ مه*

*د(۱۹٦۷ د اکتوبر ۳۱ مه - د ۱۹۷۱ د مې ۱٦ مه)*

محمد ظاهر شاه د صدارت لپاره د اعتمادي تر انتصاب د مخه انتظار او زیار وایست چې میوندوال بیرته را وګرځي او د صدارت دنده ومني. "له سشهو دو علایمونه معلومیږي چې پاچا میوندوال ته ویلي وو چې د روغتیایي حالت تر ښه کیدو وروسته به بیرته دصدر اعظم په توګه وټاکل شي. پاچا او ملکه د کابل په شفاخانه کې د میوند وال تر تداوی وروسته د هغه د پوښتنې (عیادت) لپاره د هغه کورته ورغلل. او بله دا چې پاچا د میوندوال تر استعفي وروسته تر (۷۰) ورځو پورې څوک د صدارت لپاره ونه ټاکه او دا دمیوندوال د درنښت نښه ده"(۱۲)

کله چې نور احمد اعتمادي له پاچا نه د تقرر فرمان ترلاسه کړ، تقریباً یوه میاشت تیره شوه چې هغه خپله سیاسي تګلاره (خط مشي) ملي شورا ته وړاندې کړه او درایو د اخستنې لپاره شورا ته ولاړ. هغه لکه خپل نیکه سردار عبدالقدوس خان (اعتماد الدوله) په کارونو کې لیق و او کوم خوځښت او عملي نوښت یې له ځانه نه ښود.

د اعتمادي په کاري تګلاره کې د افغانستان د ادارو ترمنځ یوه بې اعتمادي رامنځ ته شوې وه. دملي شورا زیاتره نمایندګانو په وزیرانو او مامورینو د فشار د قوې په توګه له خلکونه رشوت اخست او غیر قانوني کارونه یې اجرا کول. په اداري چارو کې تنبلي او سستتوب د افغانستان د اداري تګلاره شوې وه. صدراعظم معمولاً د ورځې یوولس بجې د خپل کار دفتر ته راته، اداري اختناق ټولنه په یوه بد حالت کې واقع کړې وه. د هیواد د مطبوعاتو وزارت یوه بې بند و باره سرې محمود حبیبي ته سپارل شوې و چې د خپلې میرمنې (شفیقه محمود حبیبي) په غیر اخلاقي حرکتونو به د انحراف خواته، ته. د دولت په رسمي خپرونو کې به د اسلام ضد مطالب خپریدل او په سینماګانو کې به انحرافي فلمونه ښودل کیدل او د ایراني، ترکي او روسي مبتذلو فلمونو مخنیوی نه کیده.

له بلې خوا دکابل پوهنتون او ښوونځیو د شاګردانو مظاهرې ورځ په ورځ پراخیدې چې د اعتمادي پر حکومت یې سیاسي فشارو نه زیات کړل. سره له هغې چې اعتمادي له چپې ډلو سره ښې اړیکې درلودې او له محمد داؤود سره یې هم چې په ټولنه کې د پاچا د مخالف په توګه معرفي شوی و اړیکې ښې وې، خو بیا هم روسانو په افغانستان کې بې ثباتي رامنځ ته کوله چې د اختناق له دغو وختونو نه د کمونستانو په تقویه کې ګټه واخلي. له بلې خوا هغه مهال د ټولنې واقعیتونه داسې و چې د کمونستانو او اعتمادي د حکومت اړیکې اونیک نظر د محمد داؤد او حکومت د بانفوذه کسانو په واسطه منځ ته راغلې و او دا په کابل کې د کمونستانو دلا فعالیت لپاره یوښه ضمانت و. نور احمد اعتمادي د میوندوال په وړاندې چې هغه مهال یې د یوه ژورنالست او یوه سیاسي ګوند د رهبر په توګه کار کاوه، یو دښمنانه دریځ خپل کړی و. " په آزادو او دولتي مطبوعاتو کې بې بندوباری، د راډیو د پروګرامونو تګلاری او د دولتي جراید محتویاتو له خلکو سره پوښتنې پیدا کړې وې.

د ۱۳٤۹ په لیندۍ میاشت/د ۱۹۷۰ نومبر کې د اولسي جرګې اعتراض پورته شو او د رایو په اتفاق یې صدراعظم سلب اعتماد کړ، چې له هغې سره جوخت استیضاحي غونډه جوړه شوه. د ۱۳۵۰ د وري پر ۲۸مه/د۱۹۷۱ د اپریل ۱۷مه، اعتمادي ونکړای شو د اولسي جرګې پوښتنو ته ځواب ووایي او دې ته اړ شو چې د ۱۳۵۰ د ثور پر شلمه/د۱۹۷۱د مې پرلسمه استعفی وکړي. محمد ظاهر شاه هغه په ایتالیا کې د افغانستان سفیر وټاکه. د محمد داؤود د جمهوري ریاست پر وخت هغه د پاچا او محمد داؤود ترمنځ دمنځګړي او رابط رول ولوباوه. د محمد داؤود د جمهوریت پر وخت اعتمادي لومړی په مسکو او بیا په اسلام آباد کې د سفیر په توګه دنده ترسره کوله. د ۱۳۵۷د ثور د کودتا پر وخت اعتمادي په کابل کې و او دنور محمد تره کي د کمونستو پلویانو له خوا زندان ته واچول شو "روسانو وروسته تر هغې چې د افغـانسـتان د کمونستانو د رهبري کدر د ۱۹۷۸/۱۳۵۷ د کوتا د اهدافو په پرمخ بیولو کې د افغانستان له اداري نه عاجزو، تصمیم ونیو چې اعتمادي چې دا مهال په زندان کې و د مسکو د پلوی حکومت د رئیس په توګه مقرر کړي: خو حفیظ الله امین د حکومت د رئیس په توګه د روسانو له پلان نه خبر شو او هغه

بې د ۱۹۷۹ په وروکې له زندانه وایست او اعدام يې کړ"(٦٤)
صباح الدين کشککي ليکي په وروستيو شيبوکې چې اعتمادي له زندانه بهر ایستل کیده په زندان کې يې له هغه سره خدای پاماني وکړه، او د مخ بنګلولو پر وخت يې هغه ته ویلي وو، چې "زما په حق کې دعا وکړی."
همدا راز کشککي د اعتمادي په باب لیکي چې: "دا ادعا به غلطه وي چې اعتمادي د روسانو د لاس آله و يا يې د هغوی تر اداري لاندې کار کاوه، بلکې شورويانو د اړیکو د يوې دقیقې شبکې د رامنځ ته کولو له لارې (اعتمادي له داوود خان او داؤود خان د پرچم له کمونستانو سره) په دې پوه شول چې اعتمادي کولای شي، ګټې يې په افغانستان کې تأسين کړي."(٦٥)

## د ډاکتر عبدالظاهر حکومتي دوره

### د ۱۳۵۰ د جوزا ۱۸ مه - د ۱۳۵۱ د ليندی ١٤ مه

### (د ۱۹۷۱ د جون اتمه - د ۱۹۹۷ ددسمبر پنځمه)

ډاکتر عبدالظاهر چې په امریکا کې يې زده کړې کړې وه په ډېر حساس وخت کې د صدارت په دنده وګومارل شو. په دې دوره کې سره له دې چې د احزابو قانون رسماً د ملي شورا له خوا نه و تصويب شوی خو هر سازمان د خپلو نشراتو له لارې ځان منظم کړی و. په کابل پوهنتون او عالي تعلیمي مؤسسو کې سیاسي ډلو تپلو وسعت موندلی و او فکري دريځنيوني ورځ په ورځ مشخصيدی. دا جهت نیوني غالباً په دری ابعادو کې واقع وې چې له يوې خوا يې پخپلو منځو او له بلې خوايي له دولت سره مبارزه کوله:
کمونستان (خلقيان، پرچميان، شعله یان او ستمیان)، جوانان مسلمان غورځنګ چې په اخوانيانو مشهور واو ملت پالي طرفان (افغان ملتیان او جمعیت مترقي چې په مساوات مشهور شوی و) پخپلو منځو کې سره اخته وو.
داکتر عبدالظاهر په ۱۳۱۱ش کال په لغمان ولايت کې زیږيدلی. ده د طب په څانګه کې د تحصیلاتو ترتکمیلولو وروسته د محمد داؤود صدارت پر وخت د روغتیا د وزیر په توګه کار کاوه. وروسته دلغمان له مرکز نه د اولسي جرګې دغړیتوب لپاره کاندید شو. دډاکتر محمد یوسف په کابینه کې د صدارت د مرستیال او د روغتيا د وزير په توګه وټاکل شو. له ۱۳٤۰-۱۳٤۸/۱۹٦۱-۱۹٦۹ پورې يې د اولسي جرګې درئيس په توګه ډیر حساس پست په لاس کې و او د محمد ظاهر شاه يو ډیر با اعتماده سړی و. خو دهغه دصدارت پر وخت د حکومت پر خلاف په مجموع کې سیاسي مخالفتونه، دکانو او صنايعو د کارګرانو احتجاج او دپرله پسي وچکالي له لاسه چې د هیواد په مرکز، لویدیځ او شمال کې د مدهشو

سیلابونو سره یو ځای رامنځ ته شوی وه، د کارګرانو مخالفت وضع بحرانی کړه او د برحال حکومت پرخلاف د خلکو د اعتراضونو باعث شوه. هغه مهال سره له هغې چې ددوو ملیونو ډالرو په بیه ترېوالی غذایي مرستی افغانستان ته راورسیدی خود ملت د ردېی نه شو دوا کولای، د غور ولایت خلکو له چغچران ښار نه هجرت وکړ او کابل، هرات او کندهار ته مهاجر شول چی له لوږی نه نجات وموبی. د غذایي موادو په بدل کی د انسانانو پلورنی، تولنیز جوړښت بلی خواته بیوه چی دا بازار د پاکستان ترسر حدونو پوری هم رسیدلی و.

حکومت په دغسی حالت کی یو کامل درایت نه درلود او سازی یی ولایاتو ته په سفرونو سره خلک د یوه موهوم انتظار خواته راکاږل او د دولت په تبلیغاتو یی زړه ښه کړی و. غیر دولتی او ازادو جریدو هم غوغا جوړه کړی وه د خلکو فشار او دیوه مناسب حل لاری نه موجودیت صدراعظم ډاکتر عبدالظاهر او د صدارت مرستیال ډاکتر عبدالصمد حامد دی ته اړ کړل چی په چغچران کی د خلکو دله غوسی ډکو مظاهرو سره تر مخامخ کیدو وروسته استعفا ورکړی.

ډاکتر عبدالظاهر هیڅ پروګرام نه درلود او د اولسی جرګی په وړاندی یی هم له صداقت نه کار وا نه خست او هم په یو ډول نه یو ډول ویریده چی په استیضاحی غونډوکی څه ځواب ووایی. په دی توګه د اولسی جرګی زیاترو غړو لاد مخه له هغه نه سلب اعتماد کړی و. دکار د ځونګوالی په باب د اولسی جرګی د غړو ترمنځ اختلاف و او د هغوی ژبیو اختلافاتو د ډاکتر عبدالظاهر د حکومت په له منځه وړلو کی تأثیر درلود. د ډاکتر ظاهر د حکومت پر وخت د لویو لارو امنیت خراب شو، په لویو لاروکی غلاګانی او جنایات زیات شول. قاچاق مخ په زیاتیدو شو، او د هیواد اداری جوړښت په یوه اداری فساد پای ته رسیدلی و او نور ډیر داسی عوامل چی ډاکتر عبدالظاهر یی استعفی ته اړایست (د ۱۳۵۱ د تلی ۲مه/د ۱۹۷۲ دسپتمبر ۲۴مه)

په پیل کی پاچا د صدراعظم استعفا و نه منله، خو ډاکتر عبدالظاهر دویم ځل د همغه کال د لیندی پرخوارلسمه د دسمبر ۵مه) بیا خپله استعفا پاچا ته وړاندی کړه، پاچا د هغه پر ځای محمد موسی شفیق د صدر اعظم په توګه وټاکه.

## د محمد موسی شفیق لنډمهالی لومړی وزارت (عظمی صدارت)

د ۱۳۵۱ دلیندی شپاړسمه - د ۱۳۵۲ د چونګاښ ۲۶ مه

(د ۱۹۷۲ د سمبر ۷ مه - د ۱۹۷۳ د جولای ۱۷ مه)

محمد موسی شفیق د افغانستان تر ټولو متحرک سیاسی شخصیت و. هغه په ډیر لږ وخت کی

وګرای شو چې د افغانستان سیاسي، اقتصادي او فرهنګي مسیر له انحراف، سقوط او نیستي نه وژغوري. شفیق په امریکا کې زده کړه کړې وه چې هیواد ته تر راستنیدو وروسته یې د هیواد په تقنیني چارو کې کلیدي نقش تر سره کړ. د شفیق اړیکي له اولسي جرګې، سیاسي شخصیتو او پاچا سره دوستانه وې. هغه درک کړې وه چې له افغانستان سره د روسانو اړیکي دوستانه، نه دي. اوله سوړ سره یې په ملي او اقتصادي کچ ډیر خیانت کړی دی. هغه وغوښتل چې په نړیوالو اړیکو کې له ټولو هیوادو سره د تفاهم ور پرانیزي، کله چې هغه د صدارت د مقام لپاره نامزد کړای شو په دوو ورځو کې یې له شورا نه د اعتماد رایه واخسته.

تر هغې وروسته یې له ګاونډیانو سره د اړیکو په ښه کولو کې کوښښ وکړ او د ایران او افغانستان ترمنځ یې دهیرمند د او بو دویش جنجال د یوه پریکړه لیک په واسطه پای ته ورساوه. له لویدیزو هیوادو سره یې هم دکرنې او صنعت په چارو کې اړیکي ټینګې کړې او د هیواد صادراتو، ارتقایي بڼه خپله کړه.

د مطبوعاتو او ژورنالیزم په برخه کې هم تغییرات را منځ ته شول. (اصلاح) او (انیس) ورځپاڼې یې په یوه اداري تشکیل کې مدغم کړې چې په ډیروسخونو کې د خبری او روزنیزو مطالبو په خپرولو سره په ټول هیواد کې ویشل کیده. اسلامي مسایلو ته ډیره پاملرنه وشوه او پنځه وخته اذان د راډیو له لارې خپریده. په کابل ښار کې نایټ کلبونه منع کړای شول او د کلیسا د ودانۍ جوړول وځنډول شول او نیم کاره ودانۍ یې ونړول شوه. همدا راز یې د هغوکسانو د محاکمې حکم صادر کړ چې د کلیسا په جوړولو کې یې لاس درلود چې د ۱۳۵۱ د مرغومې په دولسمه /د ۱۹۷۳ د جنوري په دویمه دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې اعلان شو: "د حکومت وظیفه ده چې د اسلامي ضد تمایلاتو مخه ونیسي."

د شفیق د حکومت بل نوښت دا و چې دغیر دولتي او ازادو خپرونو په سلو کې دیرش لګښت د آزادو مطبوعاتو د تقویې پخاطر دولت پرغاړه واخست. همدا راز یې له جاپان سره د تلویزیون د دستګاه په اړه لومړني مذاکرات پیل کړل.

شفیق چې په افغانستان کې د احزابو د رسمي تشکیل پلوی و، له پاچا نه وغوښتل چې د احزابو قانون نافذ، تصویب او توشیح کړي. پاچا د محمد موسی شفیق له ریفورمونونه خوښ و او هغه ته یې عام و تام واک ورکړ چې د افغانستان په ادارو کې اصلاحات را منځ ته کړي چې بیروکراسي له منځه ولاړه شي؛ ځکه له دغسې حالته زیاتره هیوادونه په ځانګړې توګه شوروی اتحاد او افغاني کمونستان د ځان په ګټه بده استفاده کوي.

شفیق د افغانستان د سیاسي اوضاع د ښه کولو په اړه روسانو ته داډ ورکړی و چې د چپیانو په وړاندې اقدامات باید د حکومتي ضد سیاست په توګه و نه ګڼل شي خو روسان د شفیق سیاسي تګلارې او د افغنستان په اداري جوړښت کې بنیادي بدلونو اندیښمن کړي وو او خصوصاً چې شفیق ځان د اسلام خوا خوږی معرفي کړی و. په واقعیت کې شفیق، خلکو د اخواني په نامه پیژاند او هغه د مسلمانانو

خواته تمایلات درلودل. ګلبدین حکمتیار ته یې چې یو وخت په کابل پوهنتون کې د مسلمانو او کمونستو محصلینو د ټکر پر وخت ددې پیښې دیوه عامل او د جوانان مسلمان دیوه ګیډې کس په توګه یې زندانی کړی و، له زندانه د خلاصون زمینه برابره کړه، روسانو په اردوکې د کمونستو عناصرو په تنظیم لاس پورې کړ.

د افغانستان د دفاع وزیر جنرال خان محمد چې یوې اداری او بې کفایته سړی و له مسکو سره پخپلو اړیکوکې په نه خوځښت قانع شوی و او د اردو نظامی چارې د پاچا د زوم سردار عبدالولي په لاس کې وې چې له محمد داؤود سره په کورنۍ دښمنۍ او رقابت کې واقع و. عبدالولي چې یو مغرور، بې اداری او دکتاتور سړی و د تولنې ناخوالوته یې په بې تفاوتی سره کتل. هغه په دې باوروچې یوازې د هغه نظامی خوله کولای شي، افغانستان اداره کړي.

محمد داؤود چې د محمد موسی شفیق له ریفورمونو نه په ویره کې و، له دې نه اندیښنه درلوده هسې نه چې د هغه اقدامات د حکومت او دولت د ټینګښت باعث شي او د هغه د دولت د راپرځولو اوکودتا پلان ناکام شي.

محمد داؤود د کمونستانو په توافق چې زیاتره یې پرچمیان وو، له روسانو سره دې نتیجې ته ورسیدل چې نور باید د مشروطه شاهی تمغر تول کړای شي. د ۱۳۵۲ د چونګاښ پر۲٦ مه/ د ۱۹۷۳ د جولای ۱۷ مه ټانکونو د کابل په خیابانوکې حساس ځایونه ونیول او زیاتره دولتي سازمانونه او اداری یې اشغال کړې. د محمد داؤود کودتا پر دې بریالۍ شوه چې دمحمد ظاهر شاه څلویښت کلن سلطنت ته سقوط ورکړی او مشروطه شاهی خپل ځای جمهوریت ته پرېښودی.

د محمد داؤود د کودتا پر وخت، محمد ظاهر شاه، په ایتالیاکې و او تر اوسه همهلته اوسیږي. صدر اعظم محمد موسی شفیق زندان ته واچول شو اوکمونستانو غوښتل چې هغه هم لکه محمد هاشم میوند وال د یوې توطئې په واسطه له منځه یوسي. د زندان په لومړی کال محمد موسی شفیق په یوه نمناکه زیر زمینۍ کې تیرکړ چې پښې یې له حرکته پاتې وې. هغه دوه نیم کاله په زندان کې پاتې شو. محمد داؤود د کمونستانو په لاس د محمد هاشم میوندوال دشهادت له ترخې تجربې نه ویره درلوده چې شفیق هم له منځه یو نه سی نو ځکه یې د هغه د خلاصون حکم صادرکړ او د جمهوریت په وروستیوکې یې کله کله له هغه نه مشوره اخسته او د نوی اساسی قانون په مسوده کې یې د محمد موسی شفیق دنظریاتو درناوی کاوه. روسان له محمد داؤود سره د شفیق له اړیکو نه په اندیښنه کې وو، ځکه د جمهوریت په وروستیوکې یې په دولتي ادارو کې موقعیت ډیرکمزوری شوی و او داؤود دلویدیځ خواته تمایل پیداکړی و. کمونستانو هڅه وکړه چې دا اړیکې غوځې کړي.

وروسته تر هغې چې د ۱۳۵۷ د ثور پر اوومه د محمد داؤود په وړاندې د کمونستانو کودتا کامیابه شوه، موسی شفیق لومړنی سړی و چې بیا زندان ته واچول شو او یوه اوونۍ د دفاع وزارت په زیر زمینۍ

کې بندي و "د عزیز آکبری په نامه د پولیسو یو بدنام ساتنمن چې د تره کي – امین په وخت کې د اکسا معاون و په خوند خوند به یې د موسی شفیق د جسمي او روحي شکنجو او د هغه دله منځه ورلو کیسې کولې: شفیق به سي کله په خاورو اوختو څملاوه اوکله به مې له یوې خوا، بلې خواته کشاوه. ما نه غوښتل شفیق ژر مړ شي، په پښو یې د تومانچې په دز سره ویني راغلې اولکه یو زخمي مرداره زما ترپښو لاندې بې حاله پروت و. په هر څو دقیقوکې به مې یو ځل کلاشنکوف له برچې سره د هغه سترګو ته وروړ او هغه ته به مې کنځلې او فحش ویل. زموږ یو بل ماسور ملګری خلیل مې څنګ ته راغی او عذر یې وکړ او راته یې وویل ملګري اکبري! باید له صدر اعظم صاحب سره له انسانیت نه کار واخستل شي، که وژل کیږي هم باید په ادب او عزت سره ووژل شي، او بیا یې د تیې موسی شفیق په وهلو پیل وکړ. اکبري وویل شفیق ماته عذر وکړ چې مه کوی ما مه وژنې خو تر څو ساعتو ساعت تیریو وروسته مو هغه وواژه. (٦٦)

هغه د ۱۳۵۷ د ثور په ١٤مه/۱۹۷۸د مې پر څلورمه د پرچم ګوند دیوه ګومارل شوی خلیل الله په واسطه د کابل هوایي ډګر ته بوتلل شو او پر سرېې په تومانچه وویشت او شهید کړای شو. خلیل الله وروسته د کارمل په وخت کې د روسانو له خوا د جنرالي رتبې ته رسیدلی و او د دفاع وزارت مرستیال وټاکل شو. (٤٧)

موسی شفیق د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر، پیاوړی ژورنالست او لیکوال او حقوق پوه او زیرک سیاستوال و. شفیق د ننګرهار ولایت دکامې اولسوالي اوسیدونکی، د جید عالم مولوی محمد ابراهیم کاموی زوی و. خپلې زده کړې یې د حقوقو په برخه کې د مصر په الازهر پوهنتون او امریکا کې سرته رسولې وي. په ملي ژبو پښتو او دری سربیره یې په عربي، انګلیسي، فرانسوی او اردو ژبو کامل تسلط درلود.

## د محمد ظاهر شاه د دورې مطبوعات

لکه دمخه مو چې شرح کړل ژورنالیزم د محمد ظاهر شاه په دوره کې د آزادو مطبوعاتو د قانون له دوه دورو او د مشروطیت د دورې له برخې سره له مناسبو خصوصیتونه برخمن دی. په دې دوره کې که څه هم په فکري ابعادو او د فرهنګ د پراختیا په برخه کې باثباته کارنه دی شوي، خو د تیرو دورو په پرتله، ځانګړې موقعیت لري.

افغانستان پخپل ترپنځو زرو کالو ریات فرهنګ او تاریخي پانګو سره چې د هیواد په اطرافو کې موجودو او پخپل بډای ادبي – فرهنګي تاریخ سره چې د غزنویانو، خوارزمشاهیانو او غوریانو نه تر

اوسه زموږ ملت ته به یادګار پاتې دي په خواشینې سره ژورنالیزم د فرهنګي چارو د تسریع د سمد په توګه ونشوای کړای چې خپله دنده سرته ورسوي او د سیاستوالو د سستیا او محافظه کارۍ سره او کوم داربې چې له ژورنالیزم او مطبوعاتو نه درلود، سهي ګته ترې وانه خستل شوه. مطبوعات د عبدالرحمن خان، محمد نادر خان، صدراعظم محمد هاشم خان او محمد داؤود خان د اختناق په دوروکې، د تولنیزو ناخوالو اود هیواد د سیاستوالو د سلیقو او تمایلاتو په محدوده کې پاتې شو.

زموږ لیکوالانو او پوهانو ته به د کار لږه زمینه برابریده، همغه و چې موږ تر اوسه پورې د خپل فرهنګ او ادبیاتو په احیاکې کوم مشمرکار ونه کړای شو او نه مو د هیواد له فرهنګي او تاریخي اصالت نه دفاع وکړای شوه.

ژورنالیزم د محمد ظاهر شاه د مشروطیت په دوره کې له همغو ځانګړنو سره چې آزادو مطبوعاتو ته یې د نشر زمینه برابره کړې وه، د ژورنالیزم په تاریخ کې د یوې تاریخي مرحلې په توګه شمیرل کیږي. په دې مرحله کې به غیر دولتي ورځپاڼې، دولتي مطبوعات او د افغانستان نورې خپرنې رسنۍ په جدا جدا برخوکې مطالعه کړو.

## آزاد او غیر دولتي خپرونې

دآزادو مطبوعاتو دریم قانون چې په افغانستان کې دمشروطیت له اعلان سره ملګرې و، د تولنې په سیاسي اوفرهنګي جوړښت کې لوی بدلونونه رامنځ ته کړل آوازدې خپرونې چې جلاسیاسي او عقیدتي فکرونو ته منسوبې وې بازار ته راووتې. د خپرونو سره جوخت د نشراتو پرشاوخوا سیاسي فعالیتونه هم چې وروسته د احزابو نوموته ورته منسوب شوه، په غیر رسمي، خو فعاله توګه منځ ته راغلل. په دې دوره کې د مطبوعاتو قانون د محمد ظاهر شاه د سلطنت تر سقوط پورې دوام درلود. ددې دورې نشرات هم د ډلو، طبقو او قشرې صنف بندیو د سیاسي فعالیتو تاریخي ځرګندونه کوله، له هغې جملې نه:

د خپرونې نوم: *اتحاد ملي*

د تأسیس کال د ۱۳٤۸ش د چونګابن ۲۸مه/د ۱۹٦۹ د جولای ۱۹مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: اتحاد ملي ګوند، مسؤول مدیر: عبدالحکیم مژده، عبدالحق ناصري، د چاپ ځای، تیراژ او خپرني ژبه: کابل، ۱۵۰۰ ګنې، دري او پښتو. نوع، کچه، او د چاپ نوعیت: اوونیزه، ٤۰X۳۰ سانتي متره، یو رنګ، ٤ مخه. دکار پای: د ۱۳۵۲ د چونګابن ۲٦مه/د ۱۳۷۳ جولای، محتوی: محافظه کاره او د واکمن نظام پلوی خپرونه.

د خپروني نوم: *افغان*
د تأسيس کال: د ۱۳۵۰ د سنبلې ۱۵مه/د ۱۹۷۱دسپتمبر ٦ مه، خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: محمد حسن ولسمل، د چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۵۰۰، پښتو، دری، نوع، کچه، د چاپ نوعیت: اوونیزه، ۵۵x۳۵ سانتي متره، ٤ مخه، د کار پای: د ۱۳۵۲د چونګاښ ۲٦مه. محتوی: د شورا له لارې د دموکراسۍ، او د پښتونستان د مسألې د حل پلوی.

د خپروني نوم: *افغان ملت*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۵د وری ۱٦مه/د ۱۹٦٦د اپریل ۱۵مه، خپرندوی او د امتیاز خاوند: سوسیال دموکرات ګوند د انجنیر غلام محمد فرهاد (په پاپا مشهور) په مشرۍ.
مسؤول مدیر: علي احمد ملت یار، قدرت الله حداد، حبیب الله رفیع. چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه، کابل، د ۱۰۰۰ او ۲۰۰۰ ګنو ترمنځ، پښتو او دری، د خپروني نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ٦۰X٤۵ سانتي متره، له څلورونه ترشپږو مخو پورې، یو رنګ، چاپي.
د کار پای: د ۱۳٤٦د ثور ۲۲مه/د ۱۹٦۷د مې ۱۳مه خو دا جریده په دوهم ځل د ۱۳۵۱تر وری/ د ۱۹۷۲ اپریل پورې خپریده.
محتوی: سیاسي، ټولنیزې مقالې، دورځې په مسایلو او دهغه مهال د سیاسي ډلو ترمنځ پر اخ ودب تبصرې.

یادښت: د دموکراتاتو ټولنیز سازمان (افغان سوسیال دموکرات) د پښتونستان د مسألې یو ملي ګرا اورګان و. افغان ملت دیوې مقالې په خپرولو سره چې د حکومت پر خلاف یې ولیکله، صدر اعظم محمد هاشم میوندوال په دې تورن کړ چې، د امریکا له اطلاعاتي سازمان سي آی ای سره اړیکې لرې. داخپرونه د همدې مقالې په خپرولو سره د ۱۳٤٦ دکب په لومړی نیټه/ د ۱۹٦۸ د فبروري شلمه له خپرونو پاتې شوه. دې موضوع ته وروسته د خلقیانو، پرچمیانو او شعله یانو له خوا لمن ووهل شوه او د میوندوال په لرې کولو کې یې تخریبي رول ولوباوه.

غلام محمد فرهاد د افغانستان له لومړنیو انجنیرانو نه و چې په المان کې یې زده کړه وکړه او بیرته هیواد ته ستون شو. هغه دوه نمونه یې کارونه وکړل یو د سیوند جادې جوړول او بل د شیردروازې دغره پرسره د برېښنا د مزي غځول. په دې کار سره یې د خلکو ترمنځ محبوبیت زیات شو او سیاسي حیثت یې پیدا کړ. فرهاد د اولسي جرګې په انتخاباتو کې د کابل ښار داووسي ناحیې د نماینده په توګه وټاکل شو، خو پاپا چې د رهبرۍ قدرت نه درلود او سیاست یې په ښکاره ډول پرمخ نشوای بیولای، عملا یې په پارلمان کې تر وینا وروسته خپل دریځ په محافظه کارانه ډول بیان کړ، او خلکو ته ثابت شو. له هغه دیوه با

درایته سیاسي شخص په توګه دخلکو تمه وشلیده حتی دا مسأله په افغان ملت ګوند کې د انشعاب باعث هم شو. فدا محمد فدایي د ملت جریدې په خپرولو سره، د افغان ملت یو بل سیاسي جریان را منځ ته کړ.

د کمونستي حکومت تر رامنځ ته کیدو او د روسانو تر تیرې وروسته په سوسیال د موکرات ګوند کې زیات بدلونونه او انکشافات رامنځ ته شول او مختلفې انشعابي ډلې پکې منځ ته راغلې اود افغان ملت په نامه په پاکستان، اروپا او امریکا کې پراګنده خپرونې لري.

د خپرونې نوم: *افغان اولس*

د تأسیس کال: د ۱۳٤۸ د زمرې اتمه/د ۱۹٦۹ د جولای دیرشمه

خپرندوی او د امتیاز خاوند: سناتور قیام الدین خادم

مسؤول مدیر: مسافر صادق، عبدالقیوم عبدالرحیمزی

د چاپ ځای: تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، له ۵۰۰ – ۱۰۰۰ ګنې، پښتو.

د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده ۳۰X۵۰ سانتي متره یورنګ په څلورو مخو کې.

د کار پای: د ۱۳٤۸ د وږي شلمه/د ۱۹٦۹ دسپتمبر ۱۵مه

محتوی: دخلکو د حقوقو د را ژوندی کولو پلوی.

د خپرونې نوم: *افکارنو*

د تأسیس کال: د ۱۳۵۰ د لړم اتمه/ د ۱۹۷۱ د آکتوبر دیرشمه.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: نور الله نورزاد

مسوول مدیر: ضیا حیدر

د چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، ۱۰۰۰ نسخې، پښتو او دری، د خپرونې نوعیت، کچه او د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۳۰X۵۰ سانتي متره له ٤-٦ مخونه.

د کار پای: تر څلورو ګڼو وروسته له نشره پاتې شوه د ۱۳۵۰ لیندۍ/د ۱۳۷۱ نومبر.

محتوی: دا جریده د اسلام، قانون او حکم پر اساس د حکومت د تأسیس پلوی وه، چې دامتیاز د خاوند نورزاد په مرګ سره له نشره پاتې شوه.

د خپرونې نوم: **پرچم**

د تأسیس کال د ۱۳٤٦ د کب ۲٤ مه/د ۱۹٦۸ د مارچ ١٤مه. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د

خلق دموکراتیک جمعیت، مسؤول مدیر: سلیمان لایق، میراکبر خیبر.
د چاپ ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۲۰۰۰ ګنی، پښتو او دری. د خپرونی نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۶۰x۴۰ سانتی متره، د ۴-۸ مخونو پوری په یوه رنګ کی.

دخپرونی دکار پای: د۱۳۴۸ دچونګاښ ۲۴مه/د۱۹۶۹ دجولای ۱۵مه په لومړی دوره کی، په دویمه دوره کی د۱۳۵۲ دچونګاښ ترشپږویشتمی (دمحمد داؤوددکودتا اوله شاهی نه په جمهوری درژیم بدلون)

محتوی: سیاسی او کمونستی مقالی، د یالتیک ماتریالیزم مطالب او د شوروی اتحاد اهداف، د پرچم ډلی د مشرانو بیانیی.

یادښت: کله چی خلقیان له کارمل سره مخالف شول، پرچمیانو همغه د خلقیانو په اهدافو خوله دولت سره په یو څه سازش بله ډله را منځ ته کړه. د ۱۳۴۸ش/۱۹۶۹م په پارلمانی انتخاباتو کی دری تنو پرچمیانو پارلمان ته لار پیدا کړه. د پرچمیانو کمونستی ډله د خلقیانو په پرتله، پاچا ته دمنلو وه، د ببرک کارمل پلار جنرال محمد حسین و او د نجیب الله پلار اختر محمد د دولت لوړ رتبه جنرالان وو، چی د پاچا او کمونستانو ترمنځ یی منځګړتوب کاوه. پرچم جریده چی د دی ډلی د اهدافو بیانوونکی وه د عوامو ترمنځ د جنرال زادګانو په نامه هم مشهوره وه.

د خپرونی نوم: *پروانه*
د تأسیس کال: د ۱۳۴۷ دلیندی یوولسمه/۱۹۶۸م، د دسمبر دویمه خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: امان الله پروانه، د چاپ ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰ ګنی، پښتو او دری، د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۴۵x۳۰ سانتی متره یورنګ په څلورو مخو کی.
د کار پای: د ۱۳۴۸ د لړم دیرشمه/د۱۹۶۹ د نومبر شلمه، محتوی: د حکومت مخالفه، چی پر ورځچارو کسانو یی انتقاد کاوه.

د خپرونی نوم: *پکتیکا*
د تأسیس کال: د ۱۳۴۸ د کب نولسمه/د ۱۹۶۹ د مارچ لسمه خپرندوی او د امتیاز خاوند، مسؤول مدیر: شاه زمان ستانکزی، د چاپ ځای، تیراژ خپرنی ژبه، کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګنی، د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده ۴۰x۳۵ سانتی متره، یورنګ په څلوره‌مخوکی.
د خپرونی د کار پای: د ۱۳۵۲د چونګاښ شپږویشتمه/د ۱۹۷۳ د جولای اولسمه محتوی: مقالو یی د افغان ملت له سیاسی جریان سره زیات ورته والی درلود؛ خو دی جریدی په ښکاره ځان د واکمن نظام د استقرار پلوی ګاڼه.

د خپرونې نوم: *پیام امروز*

د تأسیس کال: د ۱۳٤٥ ش سلواغې شلمه/د ۱۹٦٦ د فبروري نهمه، خپرندوی او د امتیاز خاوند: غلام نبي خاطر، مسؤول مدیر: عبدالرؤوف ترکمن، محمد طاهر محسني. د چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، ۱۵۰۰ ګڼې، دري، د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بڼه، پنځلس ورځنې جریده، ٤٥×۳۰ سانتي متره، له ٤-٦ مخونه، دوه رنګه، تایپي، چاپي.

د کار پای: د ۱۳٤٥ د جوزا څلورمه/د۱۹٦٦ د مې پنځه ویشتمه، محتوی: سیاسي او ټولنیزې مقالې، او په افغانستان کې د ورځې پیښې. پیام امروز دیوې دولتي ضد او د دولت پر ورځنیو اجراآتو د انتقاد په خاطر خپریده خو په حقیقت کې دا خپرونه له سیاسي خپرونو نه، نه ګڼل کیده چې د کومې ځانګړې سیاسي ډلې دریځ بیان کړي. پیام امروز د بې خاصیته دولتي خپرونو له ډلې نه هم نه شمیرل کیده، چې د دولت په ما دې ملاتړ پر مخ ولاړه شي. زما له نظره پیام امروزر یوه حادثه زیږوونکې خپرونه وه چې د سیاسي جریانونو خبر جوړونه یې چټکوله او له هغې نه یې کټه اخسته. پخپله خپرونې د افغانستان د خلکو د افکارو د ویښولو ادعا درلوده او خپله تګلاره یې "مطبوعاتي خدمت" څرګند اوه.

که د پیام امروز مقالې دقیقې وڅیړل شي، مقالو د کمونستانو له خم (ستمیانو) نه رنګ اخست. دا سازمان چې، د مطلقې برترې او په هیوادنیو چارو کې په نژادي بنیاد د افغانستان د جدا کولو پلوی و، الحادي اهداف هم درلودل.

یادښت: دا خپرونه د دولت مخالفه وه او ناشر یې غلام نبي خاطر له دولت سره د مخالفت په نامه د پیام امروز د کار له ادامې نه استعفا وکړه. دوپرې لیکې چې خاطر او ترکمني د طاهر بدخشي په رهبرۍ له ستمي جریان سره نژدې اړیکې درلودې. وروسته تر هغې چې ددې جریدې د ماموړینو ترمنځ انشعاب راغی، غلام نبي خاطر د ستمي توب له اهدافو نه ځان ګوښه کړ او ترکمني چې دستم ملي غږي و یوله بله جدا شول او غلام نبي خاطر د (سبا) په نامه بله خپرونه راو ایسته.

غلام نبي خاطر چې ددې جریدې د امتیاز خاوند و پر افغانستان د روسانو تر تیرې وروسته په بنکاره توګه له مائوستانو سره همکاري وکړه او په نوې ډیلي کې د شعله يې کمونست په نامه مشهور و او په مظاهرو کې به یې هم د مجاهدینو د پلویانو پر خلاف جلا تشکیلات رامنځ ته کول.

د خپرونې نوم: *پیام وجدان*

د تأسیس کال: د ۱۳٤٥ د زمرې دویمه/د ۱۹٦٦ د جولای ۲٤مه، خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: عبدالرؤوف ترکمني، د چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګڼې، دري، د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۵۰×۳۰ سانتي متره یو رنګ په څلورو مخو کې.

د کار پای؟

محتوی: یوه ملي ګرا خپرونه وه چې له ستمي تفکر سره یې نژدیو الی درلود او له پښتنو سره په مخالفت کې یې تولنیزې او سیاسي مقالې خپرولې.

یادښت: د پیام وجدان اصلي هدف د غیر پښتنو لړکیو د حقونو د لاس ته راوړلو لپاره مجادله وه او همیشه یې د تاجکو او هزاره ولړکیو د حقونو مسأله مطرح کوله او هغوی یې د پښتنو په مقابل کې محکوم اقلیتونه ښودل. د پیام وجدان جریده له مسلکي او ژورنالیستک اړخه بې پروګرامه وه، او په پای کې یې دیوه اندازه پیسو دلاس ته راوړنې په مقابل کې د کمونستانو مقالې هم خپرولې.

مشهور افغانستان پیژندونکي دوپرې لیکي: دا چې مسؤول مدیر یخپله د قومي لړکیو له ډلې نه و ستمي اهدافو او تمایلاتو ته د هزاره لړکې درسیدنې په لار کې یې مقالې خپرولې چې زیاتره خلکو د هغه ضدیت له امله چې له ستمیانو سره یې درلود، د پیام وجدان له لوستلونه ډډه کوله.

په حقیقت کې کولای شو پیام وجدان له بې خاصیته او محافظه کاره خپرونو نه وګڼو چې پرما دې ګټو سر بیره د زمان له پیښو سره سمه پرمخ تله او له جریاناتو نه یې په یوازې توګه مادي ګټه اخسته.

د خپرونې نوم: *پیکار*

د تأسیس کال: د ۱۳۵۰ د لیندۍ ۲٤ مه/ د ۱۹۷۱ د دسمبر پنځلسمه. خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: غلام محمد الماسک. د چاپ ځای، د چاپ شمیره یا تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګڼې، پښتو او دري، د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه، ۵۵X۳۰ سانتي متره، ٤ مخه، د کار پای: د ۱۳۵۲ د چونګابن ۲٦ مه. محتوی: دې خپرونې د افکارنو لاره تعقیبوله.

د خپرونې نوم: *ترجمان*

*(په افغانستان کې لومړنۍ کارتوني خپرونه)*

دتأسیس کال: د ۱۳٤۷ دوری ۲۹مه/د ۱۹٦۸ د اپریل ۱۸مه، خپرندوی اود امتیاز خاوند: آزاده انتقادي خپرونه، ډاکټر عبدالرحیم نوین، مسؤول مدیر: علي اصغر بشیر، د چاپ ځای: تیراژ، خپرنی ژبه: کابل له ۲۰۰۰-٤۰۰۰ ګڼې، دري. د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه، ۵۰X۳۰ سانتي متره، ٤-۸ مخه یورنګ.

د کار پای: ۱۹۷۱/۱۳۵۱، محتوی: تولنیزې او سیاسي طنز آمیزه مقالې، سیاسي کارتونونه چې د جریدې د چلوونکي په ابتکار او نوښت په بریالیتوب سره نشر شوه.

د خپرونې نوم: *جبهۀ ملی*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د جدی لسمه/د۱۹٦۷ د دسمبر دیرشمه. خپرندوی، اود امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: عبدالرب اخلاق. د چاپ ځای، تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰، پښتو او دری. د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ٤۰x۵۸ سانتی متره، په دوو رنګوکی له ٤–۸ مخه.
دکار پای: د ۱۳٤۸ د غبرګولی ۲۵مه/د۱۹٦۹ د جون پنځلسمه د اقتصادی ستونزوله لامله نشر نه شوه.

د خپرونی نوم: *خلق*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۵دوری ۲۲مه/د۱۹٦٦ د اپریل پنځمه خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند، نورمحمد تره کی. مسؤول مدیر: بارق شفیعی.
د چاپ ځای، چاپ شمیره یا تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۱۵۰۰۰ ګنی، پښتو او دری، د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده: ۳۰x٤۵ سانتی متره، دوه رنګه، چاپی. د کار پای: د ۱۳٤۵ د ثور ۲٦مه/د۱۹٦٦ د مې ۱٦مه، محتوی: سیاسی او ماتریالستی مقالی، دکمونیزم او مارکسیزم – لینینیزم معرفی، دکمونستانو فعالیتونه.

یادښت: دا جریده د خلق – پرچم د کمونستانو خپرنی اورګان و چی د پخوانی شوروی اتحاد له خوابی ملاتړ کیده. د اساسی قانون په انفاذ سره چی د آزادو مطبوعاتو لپاره یی زمینه برابره کړی وه، لوسرنی آزاده خپرونه ګڼل کیده چی په کابل کی خپره شوه او مقالی یی د اسلامی عقایدو پر خلاف وی. د افغانستان اولسی جرګی ددی جریدی له خپرولو نه ناخوښی څرګنده کړه او خپل مخالفت یی اعلان کړ. خلق جریده د پنځوګنو تر خپرولو وروسته ودرول شوه. د خلق جریدی اساسی هدف د ماتریالستی فکر خپرول، د کمونستی دلی تنظیم، له اسلام او ټولو مذهبی شعایرو او مشروطیت سره مخالفت و. په مشرانو جرګه کی یی هم شدید مخالفت وشو.

د خلق جریدی د امتیاز خاوند نور محمد تره کی، یو بی بندوباره او بازاری سړی و چی د کمونستانو په قالب کی یی تبارز کړی و. د خلق مسؤول مدیر بارق شفیعی یو مشهور پرچمی و چی د ثور له کودتا سره جوخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو. هغه د خلق او پرچم ترمنځ یو دوه مخی دریځ ولوباوه کله چی د ثور تر کودتا وروسته د خلق او پرچم ترمنځ انشعاب راغی، بارق شفیعی پخپلو بیانیوکی په ښکاره توګه ببرک کارمل ته بد او رد ویل او غوښتل یی ځان خلقیانو ته نژدی او وفادارو ښیی. هغه د حفیظ الله امین په وخت کی له کاره ګوښه کړای شو اوکله چی روسانو پر افغانستان تیری وکړ، اوکارمل یی واک ته ورساوه د روسی سشاورینو په لزوم دید او دزوم نور احمد نور په ضمانت یی بیا په کلیدی دندو وګومارل شو.

د خپرونې نوم: خیبر
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د تلې ۱۸مه/د ۱۹٦۸ داکتوبر لسمه. خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: محب الرحمن هوسا. د چاپ ځای، تیراژ، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګڼې، پښتو او دری، د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ٤۰x۵۸ سانتي متره، دوه رنګه له ٤-۸ مخه، د خپرونې د کار پای: د ۱۳٤۸ د لړم ۷مه/د ۱۹٦۹ د اکتوبر ۲۹مه، محتوی: سیاسي، دیني او ټولنیزې مقالې.
یادښت: د دې جریدې مسؤول مدیر داولسي جرګې یو کاندیدو چې له ماتې سره مخ شو. هغه د خپلو فعالیتو په لړکې خیبر جریده خپرول پیل کړل، چې په انتخاباتي چاروکې د هغه بڼه ملاتړ شي. د دې جریدې له عمده اهدافو نه د افغانستان له ازادي نه دفاع او له افغانستان سره د پښتونستان پیوستون وو. په دیني مستوا کې یې محافظه کارانه تګلاره خپله کړې وه. دا خپرونه په عادي توګه د ۱۳٤۸ په لړم میاشت کې له نشره پاتې شوه، خو د ۱۳۵۰ د لړم پرلسمه/د ۱۹۷۱ د نومبر په لومړۍ نیټه یې بیرته په نامنظمو خپرونو پیل وکړ چې د داؤود له کودتا سره له نشره پاتې شوه.

د خپرونې نوم: *روز*
د تأسیس کال: ۱۳۵۰ش/۱۹۷۱م
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د سوسیالستانو له خوا چې دسپین زر شرکت او د هغه د مؤسس سرور ناشر مخالف وو، خپریده. د چاپ ځای: کندز.
یادښت: دا خپرونه پخوا تر دې چې وویشل شي د دولت له خوا منع کړای شوه او ټولې توزیع شوي نسخې یې هم را ټولې کړای شوې.

د خپرونې نوم: *روزګار*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۸ش د لړم ٦مه/ د ۱۹٦۹ د اکتوبر ۲۸مه خپرندوی او مسوول مدیر: یوسف فرند، د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل، ۱۰۰۰، پښتو او دری. د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه، ۳۰x۵۰ سانتي متره، یو رنګ، د ٤-۸ مخه، د کار پای: د ۱۳۵۲ د چونګابښ ۲٦مه، محتوی: د مشروطیت او اساسي قانون ملاتړي ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *سبا*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د ثور ۱۸مه/د ۱۹٦۸ د مې اتمه، خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: غلام

نبي خاطر.
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: په کابل کی سبامطبعه، ۱۰۰۰-۱۵۰۰نسخی، پښتو او دری. د خپروني نوعیت،کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده،کله په اووني کی دری ځله او وروسته ورځپانه، ۳۰×۵۰ سانتی متره، دوه رنګه، څلور مخه. د کار پای: د محمد داؤود د ۱۳۵۲ د چونګابن د شپږویشتمی/۱۹۸۳ د جولای ۱۷ می کودتا.
محتوی: دا خپرونه په مختلفو او متفاوتو مقالو سره خپریده، وروسته یی له چپیانو سره د مخالفت لاره ونیوه. د جریدی د امتیاز خاوند په پیام امروز جریدی کی تر انشعاب او له کاره تر استعفا وروسته، بیا د حکوموت په وړاندی نرم دریځ خپل کړ "د زیاترو افغانانو په ګومان سبا نشریی له دوستانه نیوکو چی د وختچاری opportunisam کړنلاره وه، کار اخست. (٦٨)

د خپروني نوم: *سپیده دم*
*(لومړنی آزاده ادبی جریده)*
د تأسیس کال د ۱۳٤۸ش د کب ۲۱مه/د۱۹٦۹د مارچ ۱۲مه
خپرندوی او د امتیاز خاوند: ادبی اوونیزه، سید محمد بامداد
مسؤول مدیر: عبدالبشیرکبیر، محمود فارانی
د چاپ ځای، چاپ شمیره یا تیراژ، خپرنی ژبه:کابل، ۵۰۰-۱۵۰۰ ګنی، پښتو او دری د خپروني نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۳۵×۵۵ سانتی متره، یورنګ، څلور مخه، د کار پای: د ۱۳٤۸د وری ۲٤مه/د ۱۹٦۹دستمبر ۱۵مه، د اقتصادی ستونزو له لامله، محتوی: د هیواد په آزادو مطبوعاتو کی یوه ادبی او هنری جریده چی په مختلفو هنری او ادبی برخوکی یی مقالی، شعر او نقد یاکره کتنه خپروله.

د خپروني نوم: *شعلهٔ جاوید*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷د وری ۱۷مه/د ۱۹٦۸ د اپریل ٤مه.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: جمعیت دموکراتیک نوین دکتور رحیم محمودی.
مسؤول مدیر: دکتور هادی محمودی، د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه:کابل، ۲۰۰۰ ګنی، پښتو او دری، د خپروني نوعیت،کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۳۰×٤۵ سانتی متره یورنګ، ٤-۸ مخه.
د کار پای: د ۱۳٤۸ چونګابن/د۱۹٦۹ جولای د اولسی جرګی د انتخاباتو وخت. محتوی: سیاسی، تولنیزی او ماتریالستی مقالی چی غالباً یی دچین له کمونیزم او مائوستی ایدیولوژی نه پلوی کوله. داخپرونه د قهر جنی مبارزی پلوی وه، او د افغانستان له چپی سازمانونه ګنل کیده.

د خپرونی نوم: شوخک

د تأسیس کال: د ۱۳۵۰ دلیندی ۲۵مه/د ۱۹۷۱ د دسمبر ۱۶مه

خپرندوی او دامتیاز خاوند: عبدالغفار گداز

مسؤول مدیر: عزیز مختار

د چاپ ځای: تیراژ، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ گنی، پښتو او دری. د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بنه: طنز دوله اوونیزه، ۲۹X۲۱ سانتی متره، یو رنگ، ۱۲مخه.

د کار پای: د ۱۳۵۱ د مرغومی ۱۸مه/ د ۱۹۷۲ دجنوری ۸مه، محتوی: طنز وزمه مطالب او مقالی چی له کارتون سره یه ملگری وو. دی جریدی له ترجمان سره زیات شباهت درلود، دا جریده له دولت سره د نامناسبی کرنلاری له لامله مصادره شوه.

د خپرونی نوم: *صدای عوام*

د تأسیس کال د ۱۳٤۷ د وری شپږمه،/د ۱۹٦۸ د مارچ ۲۷ مه. خپرندوی او دامتیاز خاوند: دجمعیت عوام خپرنی اورگان، دکتور عبدالکریم فرزان، مسؤول مدیر: محمد عارف حنیفی.

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: اوونیزه جریده، ۳۰X۵۰ سانتی متره، دوه رنگه، ٤ مخه.

د کار پای: د ۱۳٤۷ د چونگابن ۹مه/د جون شلمه، محتوی: ټولنیزی، تاریخی او سیاسی مقالی.

یادښت: جمعیت عوام یو کوچنی گوندو چی په چپی تگلاری سره یی د مسلم – گاندی (Mus-lim - Gandgian) تر تعقیباوه. کله چی عبدالکریم فرزان د گوند له ریاست نه استعفا وکره، دا دله وپاشل شوه.

دخپرونی نوم: *کاروان*

(د مشروطیت د دوری لومړنی آزاده خپرونه)

د تأسیس کال: د ۱۳٤۷د تلی دویمه/د ۱۹٤۸دستمبر ځلرویشتمه، خپرندوی او دامتیاز خاوند: مستقله ورځپانه، صباح الدین کشککی. مسؤول مدیر عبدالحق واله.

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: کابل، ۱۵۰۰-۲۰۰۰ گنی، پښتو او دری. د خپرونی نوغیت، کچه، دچاپ بنه: ورځپانه، ٦۰X٤۰ سانتی متره، یورنگ، له ٤-۸ مخه، د کار پای: د ۱۳۵۲ کال د چونگابن د شپږ ویشتمی کودتا/د ۱۹۷۳ د جولای اوولسمه.

محتوی: د ورځی خبرونه، ټولنیزی، سیاسی مقالی، ځانگری راپور تاژونه ځانگری مخونه، شعر و ادب.

یادښت: کاروان ورځپاڼه د ژورنالیزم د معیارونو له نظره دهغه مهال په سیاسي شرایطو کې یوه تخصصي ورځپاڼه شمیرل کیده چې ټول خبرې د خبررسوني، تفریحي او معلوماتي ارخونه یې د لوستونکو لپاره په پام کې نیولي وو. د دې ورځپاڼې نوښت د معاصر افغانستان متبحر ژورنالست صباح الدین کشککي پر غاړه درلود.

د خپروني نوم: *کمک (کومک)*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د زمري لسمه/ د ۱۹٦۸ د اگست لومړۍ نیټه.
خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: محمد یعقوب کمک
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرني ژبه: کابل، له ۵۰۰-۱۰۰۰ ګنې، پښتو او دری، د خپروني نوعیت، کچه، خپرني ژبه: اوونیزه، ٤۰X۳۰ سانتي متره، دوه رنګه، ۸ مخه.
د کار پای: مازې یوه ګنه چاپ شوه.
محتوی: دا خپرونه د حکومت په اجراآتو او اداری، ټولنیزی تګلاری له لامله د دولت د مخالفی اوتخریبي خپروني په توګه مصادره شوه او دولت یې د بیاخپرولو اجازه ورنکړه.

د خپروني نوم: *ګهیځ (لومړنی اسلامی جریده)*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د تلې یوویشتمه/ د ۱۹٦۸د اکتوبر د یارلسمه خپرندوی او د امتیاز خاوند: په افغانستان کې اسلامي افکار، منهاج الدین ګهیځ. مسؤول مدیر: منهاج الدین ګهیځ، عبدالسلیم فرقاني.
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرني ژبه: کابل، ۱۰۰۰-۲۰۰۰ ګنې، پښتو او دری، د خپروني نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ٦۰X٤۰ سانتي متره، له ٤-٦ مخو، یورنګ.
د خپروني د کار پای: د ۱۳۵۱ ش کال په ژمي/۱۹۷۰ کې د منهاج الدین ګهیځ په شهادت سره. محتوی: اسلامي سیاسي او فلسفي مقالې، د ماتریالیزم دیالکتیک د فسلفي رد.

## *ګهیځ لومړنی آزاده اسلامی جریده*

ګهیځ جریده، له اسلامي ارمان سره د جریدې د امتیاز د خاوند د احساس او محبت له لامله او ددغسې یوې ټولنې د تحقق په هیله، د افغانستان د ازادو مطبوعاتو په ډګر کې راووته. بنایي یو شمیر دا بنیادې پراو د (جوانان مسلمان) د خوځښت د تشکیل په اړه له پامه وغورځوي خو څرنګه چې کمونستانو وکړای شو ژر په سیاسي ډګر کې ځانته لار پرانزي، ګهیځ هم د اوضاع په درک کولو سره یوه

شو چې خپله هغه وجیبه چې خدای تعالی(ج) د یوه مسلمان ژورنالست په توګه د هغه پرغاړه اچولې په متانت، زړورتیا او بوازې ډول ترسره کړي.

ګهیځ جریدې په تنګلاسی او یوازې توب مګر په سربښندنې او زړورتوب سره خپل کار پیل کړ چې د کمونستانو د فعالیتو په مخ کې یو لوی خنډو. د جوانان مسلمان سیاسي او فکري بحران د آزادو مطبوعاتو په پیل سره ساه واخسته. مسلمانانو د ګهیځ جریدې خپرول چې له کمونستانو او ماتریالستانو سره په مخامخ تکرکې واقع وه یوه انګیزه شمیرله، چې یو شمیر یې خوځښت ته وهڅول.

زه (لیکوال) چې د هغه مهال دحبیبي د لیسې شاګردو او له خپلو تولګیوالو سره په ادبي او شعري مناقشوکې د اقبال د اشعارو تحلیلي برخه په لاس کې درلوده، داکار له نورو مسلمانو شاګردانو سره د شناخت او پیژندنې وسیله شوه چې له هغې ډلې نه فضل الرحمن مجددي هم و چې موږ دکمونستانو په مظاهروکې د ګډون تمایل نه درلود او په اسلام ګروهمن وو. همدا د مسلماني او پر خدای(ج) د ایمان بهیر موږ یوه داسې لیکې ته راکاږلو چې د سیاسي بحران په جریان او مشروطه دورې د آزادو مطبوعاتو په نشرکې یې زموږ تمایل د ګهیځ جریدې خواته زیات کړ او خو تنه په قرآنکریم سره په تعهد سره په محمد جان خان واټ کې د ګهیځ جریدې دفتر ته ولاړو او د دې جریدې په تکثیر او خرڅلاوکې موهم خپل چمتو والی وښود.

زه د قلم له اتل شهید ګهیځ سره داسې مهال آشنا شوم چې مسلمانو ځوانانو غوښتل په کابل پوهنتون کې یو اسلامي سازمان تشکیل کړي او دا آشنایي د خپل ژوند له ویاړونو نه ګنم؛ ځکه هغه متواضع، خاموشه، مهربان او کاریګر سړی، دهغه نافذو سترګو موږ ته د خوځښت امید رابښه. هغه همیشه د خپلو ماموړینو په وړاندې یوه ګیله کوله چې: "ولې مسلمان پوهان او لیکوالان د ډیرو لږو پیسو پخاطر متحد الشکله، محافظه کارانه دیني مقالې لیکي او د اطلاعاتو اوکلتور وزارت (پیام حق) مجلې ته ترجیح ورکوي په داسې حا لکې چې په دې شرایطوکې چې اسلام دکمونستانو له خطر سره مخ دی له موږ سره قلمي همکاري نه کوي او رانه لرې ګرځي".

د ګهیځ جریدې محتویات پر اسلام دکمونستانو د تورونو په مقابل کې خپریده د (روشنفکر امروز) او (ارتجاع چیست مرتجع کیست؟) مقالې یې تر اوسه پورې په زړه دي، هغه مهال چې چپي جریانونه د اساسي قانون او آزادو مطبوعاتو له خدمتونه برخمن و، او دشوروي اتحاد او چین د سفارت سیاسي، اقتصادي ملاتړیې درلود، پاچا هم په حکومتي اداره کې د یو شمیر وزیرانو او بانفوذه اشخاصو د موجودیت له لامله غلی و او محمد داؤود هم له دې جریانو سره همکاري کوله. ګهیځ جریده او یا هم د (جوانان مسلمان) غورځنګ چې په کابل پوهنتون کې د ځومظلومو او سر بښندویه ځوانانو له خوا د پوهنتون د جومات پر پوزې جوړ او نضج ته ورسید د افغاني تولنې خصوصاً تکنوکراتانو او بیوروکراتانو په منځکې یې ډیر لږ تبلیغاتي اثر درلود؛ ځکه هغوی ځانونه د اسلام د اعیان ګڼل. د پاچا په اداره کې

مسلمانو افرادو له ګهیځ جریدې او یا جوانان مسلمان له غورځنګ سره له همکارۍ نه ډډه وکړه او هغه یې یوه اضافي جریده او اضافي سازمان ګاڼه؛ خو بیا هم اسلامي خوځښتونه او تحرکات او د ځوان نسل مینې د دولت یا کوم سازمان له ملاتړه پرته، فوق العاده وده وکړه او په پوهنتون او ښوونځیو کې یې ځانګړې محبوبیت پیدا کړ.

## ولې ګهیځ د جوانان مسلمان د نهضت غړی نه شو؟

دا پوښتنه چې ولې ګهیځ د جوانان مسلمان دغورځنګ خپرنې اورګان نه شو، او یا دا چې ددې جریدې د امتیاز خاوند ولې د اسلامي سازمان غړیتوب تر لاسه نه کړ، لا یې ځوابه پاتې ده او دقیق معلومات په منځ کې نشته "دا چې آیا ګهیځ جریده چې د ۱۹٦۸ په اکتوبر کې یې په خپرونو لاس پورې کړې و او د اسلامي داعیې قهرمانه شوه، ریښتیا ددې غورځنګ د اورګان په توګه فعالیت کاوه، سهي معلومات په لاس کې نشته" (٦٩ او ٧٠) خو دیوه لویدیز لیکوال په وینا، صباح الدین کشککي په خپل کتاب (دهۀ قانون اساسی) کې لیکي:

"... د جوانان مسلمان یوې سربښندویه ډلې په کابل پوهنتون کې شاګردان تنظیم کړل او ګهیځ جریدې د دین د پلویانو شکایتونه او نارضایتې چې ځنوبې لوړ دولتي منصبونه ترلاسه کړي وو، منعکسوې او داسې بریښنې چې د دیني علماو دا ویښه شوې طبقه د فشار دیوه فعال ګروپ په توګه را څرګندیږي." هماغه ۱ خځ ۱۵۱ مخ. یو لویدیز لیکوال لیکي: "... ګهیځ هڅه کوله د پاکستان له جماعت اسلامي ګوند سره چې د مودودي په وسیله یې تا داد ایښنول شوی و، اړیکې ټینګې کړي" (٧١)

سا (لیکوال) د جوانان مسلمان نه یوه برجسته غړي انجنیر ګلبدین حکمتیار سره په یوه ځانګړې سرکه کې له هغه نه په دې سازمان کې د منهاج الدین ګهیځ د غړیتوب په هلکه وپوښتل هغه وویل: "منهاج الدین ګهیځ رسماً د نهضت غړیتوب نه و ترلاسه کړی او بنایي هم د څه سیاسي او تولنیزو ملحوظاتو پر بناوې چې نه یې شوای کولای ګهیځ جریده خپره کړي او ددې خوځښت له اهدافو نه دفاع وکړي، خو د هغه تفکر په همغه تاریخي مقطع کې نه دا چې د جوانان مسلمان د اهدافو بیا نوونکې وبلکې موږ به د کمونستانو په وړاندې په یوه مور چل کې ناست وو." (٧٢)

منهاج الدین ګهیځ د ۱۳۵۱ش کال/۱۹۷۰م په ژمي کې په اسرار آمیزه توګه شهید کړای شو. یو شمیر وسله وال کسان په یوه بې لمبر پلیټه روسي جیپ کې د کابل په ګذرګاه کې د هغه کورته ورغلل او دروازه یې وټکوله د ګهیځ په راوتلو سره یې په هغه ګولې وچلولې او هغه یې شهید کړ او خپله وتښتیدل. د یو شمیر کسانو په عقیده، د ګهیځ قاتل د کابل د امنیي د پولیسو یو مامور صمد ازهر و چې د پرچم د سیاسي ګوند غړی و. کله چې صباح الدین کشککي دیوه مسؤول ژورنالست په توګه غوښتل دغه اسرار آمیزه قتل تعقیب کړي، د کابل د امنیې قوماندان عبدالمنان هغه ته توصیه وکړه چې د قاتل د پیدا

کولو لپاره کنجکاوي ونه کړي.

د خپرونې نوم: مردم
د تأسیس کال: د ۱۳٤٥ د ثور یوویشتمه/د ۱۹٦٦ دمی یوولسمه خپرندوی او د امتیاز خاوند: سید مقدس نگاه.
مسؤول مدیر: غلام محی الدین تفویض
د چاپ ځای: چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل، ۱۰۰۰ گنې، پښتو او دري د خپرونې نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوو نیزه، ٤۰×۳۰ سانتي متره په څلورو مخوکې، دوه رنگه.
د کار پای: د ۱۳٤٥ د جوزا پنځه ویشتمه/د ۱۹٦٦ د جون پنځلسمه، محتوی: تولنیزي او کمونستي ضد مقالي، له کمونستي گوندو سره مخالفت.
یادښت: دا خپرونه په کابل کې د امریکا د سفارت په مالي مرسته تأسیس شوی وه چې د مارکسستي – لیننستي فکر مخالفه او په آزادو مطبوعاتو کې د خلق جریدې ځواب ووایي؛ خو دا چې مطالب یې د افغانستان د مسلمان اولس د غوښتنو ځواب نه شوویلای د لړو لوړ رتبه دولتي مامورینو د پام وړ وگرځیده. مردم جریدې له دیني دیدگاه نه له کمونیزم سره مخالفت نه درلود مگر ددې جریدې نورې مقالې د تبعیض، رشوت، اختلاس او نورو تولنیزو ناخوالو په اړه د پام وړوې.

د خپرونې نوم: *مساوات*
د تأسیس کال: د ۱۳٤٥ د چونگاښ دریمه/ د ۱۹٦٦ د جون څلرویشتمه خپرندوی او دامتیاز خاوند: پوهاند عبدالشکور رشاد او محمد شریف ایوبي، مسؤول مدیر: پوهاند محمد رحیم الهام، عبدالغني میوندی د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل ۲۰۰۰ گنې، پښتو او دري. د خپرونې نوعیت، کچه او د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ٤۰×۳۰ سانتي متره، په اتو مخوکې، دوه رنگه. د کار پای: د ۱۳٤٥ د مرغومې پنځمه/ د ۱۹٦٦ د دسمبر شپږویشتمه. محتوی: سیاسي – تولنیزې مقالې، فلسفي بحثونه او دورځې جریانات اعلامیې او راپورتاژونه.

یادښت: مساوات جریده د محمد ظاهر شاه د مشروطیت د دورې د دویم صدراعظم محمد هاشم میوندوال په مشرۍ دیوه لبرال گوند جمعیت دموکرات مترقي خپرنې اورگان وهغه چې د دولت پرسیاسي او اداري تگلاره د انتقاد او هم د کمونستانو د توطیې په نتیجه کې د صدارت له دندې گوښه کړای شو، هڅه یې وکړه چې د جمعیت مترقي د سیاسي گوند په واسطه د سیاسي واک دلاس ته راوړنې او په پارلماني انتخاباتو کې برې ترلاسه کړي. میوندوال د محمد داؤد په جمهوري دوره کې د کمونستانو له

خوازندان ته واچول شو او تر شکنجې لاندې شهید کړای شو. میوندوال چې په حقیقت کې یو ملي ګرا مسلمان و او د ټولنې له ټیټې طبقې نه د صدارت مقام ته رسیدلی و، د ټولنې دردېې دیرینه احساسولای شو. هغه د شاهي دورې بیوروکراسي چې د روسانو او داخلي کمونستانو په ملاتړېې افغانستان د تباهي خواته روان کړی و، ښه درک کوله میوندوال غوښتل چې آزاده اسلامي ټولنه منځ ته راولي چې خپل هدف ته د رسیدو په لارکې ناکام شو.

مساوات جریده د ۱۳٤٥ش د جدي ترپنځمې/ د ۱۹٦٦ د دسمبر تر شپږویشتمې پورې پنځه میاشتې منظم نشرات درلودل. دا چې د میوندوال اکثره مقالې د حکومت پر خلاف ښکاره انتقاد او مخالفت و، نور احمد اعتمادي، دا جریده د اتلسو میاشتو لپاره مصادره کړه او له نشر نه پاتې شوه. مساوات جریدې د اعتمادي تر صدارت وروسته، بیرته خپلې خپرونې پیل کړې او د ۱۳۵۱ تروری/ د ۱۹۷۲ اپریل پورې په نامنظمه توګه خپریده. خو محبوبیت یې کم شو او پلویان یې نه درلودل.

دې خپرونې غوښتل چې دیني تفکر، دموکراسي، مشروطیت، ټولنیز عدالت او سوسیالیزم په یوه ملي تصور کې سره را ټول کړي مګر دا چې ددې جمعیت پلویانو امریکایي تمایلات درلودل مخالفینو له هغه نه یو پردې پالي تصویر جوړ کړی و. مساوات جریدې په وروستیو کې خپل انقلابي خاصیت له لاسه ورکړی و. دا جریده اوس هم په پیښور کې ددې ګوند د لارویانو له خوا (۱۳۷۹ش – ۲۰۰۰م) خپریږي.

د خپرونې نوم: **معرفت**

د تأسیس کال: د ۱۳٤٥ش غبرګولې/ د ۱۹٦٦ جون

خپرندوی، د امتیاز خاوند: مسؤول مدیر: غلام معصوم اخلاص

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰–۱۰۰۰ ګنې، دري.

د خپرونې نوعیت، کچه د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ٤۰x۳۰ سانتي متره، یو رنګ له ٤–٦ مخه.

د کار پای: د ۱۳۵۲ د چونګاښ شپږویشتمه/ د ۱۹۷٤ د جولای اوولسمه

محتوی: ملي او اجتماعي مقالې.

یادښت: معرفت چې یوه آزاده محافظه کاره جریده وه په حقیقت کې د دولت په ملاتړ خپریده. زیاتره یې ملي مسایل مطرح کول او ډیر لوستونکي یې هم نه درلودل. دې جریدې ځان یوه ملي مترقي جریده ګڼله، په داسې حال کې چې لګښت یې دولت ورکاوه. د دې خپرونې د کار تګلاره د زماني بدلونو او دولت له خوښې سره سم مخ په وړاندې تله او په همدې خاطر د محمد داؤود د چونګاښ د شپږویشتمې نیټې تر کودتا پورې خپریده.

د خپرونی نوم: *ملت*
د تأسیس کال: د ۱۳۵۱ د میزان څلورمه/ د ۱۹۷۱ د ستمبر شپږویشتمه
خپرندوی او د امتیاز خاوند: فدا محمد فدایی
مسؤول مدیر: حبیب الله رفیع
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: کابل، ۱۵۰۰ ګنی، پښتو او دری.
د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۵۰x۳۰ سانتی متره، یورنګ د ٤-۸ مخونه.
دکار پای: د ۱۳۵۱ د جوزا شلمه/ د ۱۹۷۲ د جون لسمه
محتوی: (د افغان ملت د سوسیال دموکرات ګوند نه دجداشوی ډلی خپرونه وو چی د دریځنیونی له پلوه له افغان ملت سره یو شان وو. دا دواړه جریدی پر دولت د شدید انتقاد له لامله مصادره او له خپرولو نه پاتی شوی.

د خپرونی نوم: *ندای حق*
د تأسیس کال: د ۱۳۵۰ د وری څلرویشتمه/ د ۱۹۷۱ دستمبر پنځلسمه خپرندوی او د امتیاز خاوند: مولوی عبدالستار صدیقی.
مسؤول مدیر: غلام نبی زرمتی
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: کابل، ۱۰۰۰ ګنی، پښتو او دری. د خپرونی نوعیت، کچه، د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۵۰x۳۰ سانتی متره په څلورو مخوکی.
دکار پای: د ۱۳۵۰ د مرغومی اته ویشتمه/ د ۱۹۷۲ د جنوری اتسلمه د اقتصادی ستونزوله لامله
محتوی: ندای حق یوه اسلامی بی پری خپرونه وه چی اسلامی او سیاسی مقالی بی خپرولی.

د خپرونی نوم: *وحدت*
د تأسیس کال: د ۱۳٤۵ د سلواغی یوولسمه/ د ۱۹٦٦ دجنوری یودیرشمه خپرندوی، د امتیاز خاوند او مسؤول مدیر: مولانا خال محمد خسته
د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنی ژبه: کابل، ۱۰۰۰ ګنی، پښتو او دری. نوعیت، کچه د چاپ بنه: اوونیزه جریده، ۵۰x۳۰ سانتی متره، دوه رنګه تایپی، چاپی، ٤ مخه
دکار پای: د ۱۳٤۵ د جوزا دیرشمه/د ۱۹٦٦ د جون شلمه د اقتصادی ستونزو په وجه
محتوی: تولنیزی او ادبی مقالی او مضامین

یادښت: دې جریدې له سیاسي پلوه عامه پاملرنه لږه را جلب کړې وه او خپرنې تګلاره یې کاملاً محافظه کارانه وه. که څه هم په ښکاره یې په نورو جهتو کې ځان له دولته جدا معرفي کاوه خو د دولت ملاتړ ورسره و. له بلې خوا دې جریدې صوفیانه دید درلود او زیاتره یې ادبي مقالې، شعرونه او ویرنې خپرولې او د ازادو مطبوعاتو د وضع شویو احکامو سره پرمخ تله. د دې خپرونې مالي لګښت استاد خلیل الله خلیلي پر غاړه اخستي و. استاد هغه مهال په سعودي عربستان کې د افغانستان سفیر و. وحدت جریده په غیر مستقیم ډول د حزب مترقي (جبهه ملي) خپرنی اورګان ګڼلای شو. پخپله لومړنی ګنه کې یې التقاطي، اهداف بیان کړي او د اونیزې په وچولې کې ملي پخلاینه، له اساسي قانون او پارلماني واکمنې نه دفاع ذکر شوې وه.

د خپرونې نوم: **هدف**

د تأسیس کال: د ۱۳٤۷ د لیندۍ شلمه/ د ۱۹٦۸ د دسمبر یوولسمه خپرندوی او د امتیاز خاوند: غلام محمد اورمل.

مسؤول مدیر: محمد رحیم مهربان

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰-۱۰۰۰ ګڼې، پښتو او دری. نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۳۰X۵۰ سانتي متره، یو رنګ، ٤ مخه

پای: د ۱۳٤۸ د غبرګولي پنځه ویشتمه/ د ۱۹٦۹ د جون پنځلسمه.

محتوی: د محمد هاشم میوندوال د سازمان او تفکر مخالفه جریده وه او مقالې به یې غالباً د مساوات جریدې په ځواب ګې لیکل کیدې چې بنایي مخالفو سیاسي جریانو ورسره مرسته کوله.

## د دې دورې دوه آزادې مجلې:

د خپرونې نوم: *اسلام*

د تأسیس کال ۱۳۵۰ش/ ۱۹۷۱م

خپرندوی، د امتیاز خاوند، مسؤول مدیر: منهاج الدین ګهیځ

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: کابل، ۵۰۰ ګڼې، پښتو او دری.

نوعیت، کچه، د چاپ بڼه: میاشتنۍ مجله، ۲۱X۲۹ سانتي متره.

محتوی: یوه دیني او اسلامي مجله وه چې عقیدتي، ټولنیزې او سیاسي مقالې او مضامین یې خپرول.

د خپرونی نوم: *دریا*

د تأسیس کال: د ۱۳۵۰ش/ ۱۹۷۱م

خپرندوی او د امتیاز خاوند: سپورږمی رؤوف

مسؤول مدیر: عبدالستار

د چاپ ځای: چاپ شمیره، خپرنی ژبه: کابل، ۵۰۰ ګنی، پښتو او دری.

نوعیت، کچه، د چاپ بنه: میاشتنی مجله، ۲۹X۲۱ سانتی متره

د کار پای: ؟

محتوی: ادبی مجله چی مقالی، داستانونه، اشعار، نقد او ادبی، هنری مسایل یی خپرول.

ACKU

# د دې دورې دوه پوهان

## ۱- صلاح الدین سلجوقي

علامه صلاح الدین سلجوقي د افغانستان مشهور ژورنالست، جید عالم او نوميالي فیلسوف و. پلاربې مفتي سراج الدين سلجوقي هروي دی. په ۱۲٦٤ش کال په هرات ښار کې زیږیدلی او په ۱۲۷۰ش/۱۸۹٦م کې يې خپل لومړنی زده کړې له پلار سره پای ته ورسولې. وروسته يې له نورو استاذانو نه متداوله علوم زده کړل. په ۱۲۹٤ش/۱۹۱۵م کې د هرات د محکمې د منشي په توګه مقرر شو. څه موده وروسته کابل ته راغی او په حبيبيه ليسه کې يې د ادبياتو او فلسفې درس ورکاوه. په ۱۳۰۰ش/۱۹۲۱م کې د هرات د معارف مدير شو، په ۱۳۰۲/۱۹۳۳م کې په پخواني دنده سربېره د هرات د (اتفاق اسلام) جريدې مسؤول مدير هم شو. په ۱۳۰۳ش/۱۹۲٤م د کابل د دار المعلمين د استاذ په توګه او په ۱۳۰٤ش/۱۹۲۵م کې د معارف وزارت د تأليف او ترجمې غړی شو چې د (ثروت) جريدې مسؤوليت يې هم پرغاړه و. په ۱۳۰۵/۱۹۲٦ کې د دار التحرير شاهي فرهنګي منشي او په ۱۳۰۷ش/۱۹۲۸م کې د اماني دورې ترپايه د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت د مطبوعاتو د مدير په توګه پاتې شو.

علامه سلجوقي د حبيب الله کلکاني په وخت کې بندي کړای شو، چې د پلار په منځګړتوب يې را خلاص شو او په هرات کې پاتې شو. په ۱۳۱۰ش/۱۹۳۱م د محمد نادر شاه په وخت کې په بمبئ او دهلي کې د افغانستان د قونسل په توګه پاتې شو. د مطبوعاتو د مستقل رياست په تشکيل سره دافغانستان په کابينه کې د مطبوعاتو د مستقل رئيس په توګه مقرر کړای شو. په ۱۳۲۷ش/۱۹٤۸م په پاکستان کې د افغانستان د سفارت د مستشار، او په ۱۳۲۸ش/۱۹٤۹م کې د اولسي جرګې په اوومه دوره کې د هرات د خلکو په نمايندګي د شورا غړی شو په ۱۳۳۲ش/۱۹۵۳م کې بيا د مطبوعاتو مستقل رئيس شو. په ۱۳۳۳-۱۳٤۱ش/۱۹۵٤-۱۹٦۲ په قاهره کې د افغانستان سفير و چې وروسته يې استعفا ورکړه او افغانستان ته راستون شو او پاتې عمربې په څېړنه، مطالعه او د آثارو په ليکنه تير کړ. علامه سلجوقي د ۱۳٤۹ د غبرګولي په شپاړسمه/د ۱۹۷۰ د جون په شپږمه وفات او په شهدای صالحين کې خاورو ته وسپارل شو.

## د علامه سلجوقي آثار

۱- تاريخ فتوحات اسلاميه: له عربي نه په دري ژبه د سيد حسن بن سيد زين د حلاني د اثر ژباړه.

۲- مقدمه علم اخلاق: په دوو برخوکې چې په ۱۳۳۱ ش کال په دولتي مطبعه کې چاپ شو.

۳- علم اخلاق: د یوناني فیلسوف ارسطو داثر دری ژباړه. داکتاب په ۱۳۷۱ کال په کابل کې چاپ شو.

٤- تهذیب اخلاق: له عربي نه په دری داین مسکویه دکتاب ژباړه.

٥- افکار شاعر: د مشهورو ادبي څیرو او افغانستان د ادبیاتو د تاریخ بهیر په باب څیړنه چې دوه ځلې په ۱۳۲٦ ش/۱۹٤۷م او ۱۳۳٤ ش/۱۹٥٥م په کابل کې چاپ شو دی.

٦- جبیره: په کابل کې د اطلاعاتو او کولتور وزارت له خوا چاپ شوی دی.

۷- نگاهی به زیبایی: داکتاب د مرحوم سلجوقي تألیف او ترجمه ده چې په ۱۳٤۲ ش/۱۹٦۳م کې په کابل کې چاپ شو.

۸- محمد (ص) در شیر خوارگی یا سرگذشت یتیم جاوید: له عربي نه په دری ژبه د محمد شوکت التوني د اثر ژباړه، په ۱۳٤۲ ش/۱۹٦۳م په کابل کې چاپ شوی دی.

۹- نقد بیدل: د مولانا عبدالقادر بیدل د اشعارو په باب څیړنه او نقد چې په ۱۹٦٤/۱۳٤۳ په کابل کې چاپ شو.

۱۰- تجلی خدا در آفاق و انفس: له فلسفي تحلیل سره د خدای پېژندنې په باب عرفاني او دیني کتاب دی چې په ۱۳٤٤ ش/۱۹٦٥م کې په کابل کې چاپ شوی دی.

۱۱- اضواء علی میادین الفلسفه و العلم و اللغه والفن والادب: سلجوقي دا اثر په عربي ژبه لیکلی دی او په ۱۳٤۱ ش/۱۹٦۲م په قاهره کې چاپ شوی دی.

۱۲- اثر اسلام في العلوم والفنون: په عربي ژبه چې په ۱۳۳٥ ش/۱۹٥٦م په قاهره کې چاپ شوی دی.

۱۳- تقویم انسان: داکتاب د هغه تر وفات وروسته په ۱۳٥۲ ش/۱۹۷۳م د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شو.

۱٤- اخلاق: په اماني دوره کې د رشدیه دوری لپاره د ښوونځیو درسي کتاب.

۱٥- ادبیات: د امانیه دوری درسي کتاب چې د معارف وزارت له نصاب سره سم لیکل شوی دی.

۱٦- ثروت: درسي کتاب دی چې د اماني دوری د عالي زده کړو په برخه کې د اقتصاد په اړه لیکل شوی دی.

۱۷- قواعد ادبیه: یوگډ اثر دی چې له قاري عبدالله او هاشم شایق سره یې یوځای لیکلی دی.

## ۲- عبدالحی حبیبي

علامه پوهاند عبدالحی حبیبي د افغانستان له نومیالیو تاریخي، فرهنگي او هنري شخصیتونو نه

شمیرل کېږي چې د ژورنالیزم، څېړنې، او تاریخ لیکنې او ادبیاتو په برخه کې یې د افغانستان په معاصر تاریخ کې برجسته او فعال رول درلودی دی. د پوهاند حبیبي آثار د افغانستان د تاریخ، فرهنګ، ژبې او تاریخي افغانستان د علمي نتیجو لپاره یو کوښښ دی. هغه خپل ټول عمر څېړنو او علمي لیکنوته وقف کړ، چې هره مقاله او هره لیکنه یې د تلپاتې آثارو له جملې نه او د افغانستان دتاریخي - فرهنګي احیایوه هڅه ده. پوهاند حبیبي د هیواد له نومیالیو شخصیتونه شمیرل چې د ، د هیواد ډیرو لړو سربښندویه زامنو دهیواد د تاریخي ارزښتنو د تثبیت دفاع او بیا کتنې لپاره هغه په ځیر هاند کړی دی. هغه د افغاني لیکوالویو غوره الګو ده.

عبدالحی حبیبي د ملا عبدالحق آخندزاده زوی د ۱۲۸۹ ش په ثور د ۱۹۱۰ په سې کې د کندهار ښار په بامیزیو کوڅه کې وزیږید. هغه لاکوچنی و چې پلار یې وفات شو او خپلې لوسرنې زده کړې یې د کندهار ښار په جوماتونو کې سرته ورسولې. په ۱۳۰۶ ش؛۱۹۲۷ م کال د طلوع افغان ورځپاڼې مرستیال او څلور کاله وروسته یې مدیر شو. هغه خپلو مطالعاتو ته دوام ورکړ او اردو او انګلیسي ژبې یې هم زده کړې اود افغانستان دا صیل فرهنګ د احیا، پښتو، دری، اردو، د افغانستان اوسیمې د تاریخ ژبپوهنې، کتاب پیژندنې، پخوانی خراسان او ننني افغانستان په باب خپلې څېړنې پای ته ورسولې.

پوهاند حبیبي، پرڅیړنو او لیکونو سربیره، په اداري چاروکې هم مسؤولیتونه درلودل. په ۱۳۱۹-۱۳۲۰م/ ۱۹٤۰-۱۹٤۱م د پښتو ټولنې عمومي مدیر اود مطبوعاتو دمستقل ریاست مرستیال، د ادبیاتو د فاکولتې لومړنی رئیس، د تاریخ استاذ او د پښتو ټولنې رئیس، په ۱۹۲٦ ش/۱۹٤۷م د کندهار ولایت د معارف مدیر، وروسته په کوټه کې افغاني وکیل التجاره په ۱۹۲۷-۱۳۳۰/۱۹٤۸-۱۹٥۱م کې په اولسي جرګه کې دکندهار د خلکو وکیل. د ۱۳۳۰-۱۳٤۱م/۱۹٥۱-۱۹٦۲م په منځ کې د حکومت له اجراآتو سره د مخالفت او سیاسي ستونزوله امله مجبور شو چې هیواد پریږدی او په پاکستان کې استوګنه غوره کړي. په ۱۳٤۱ش/۱۹٦٦ د افغانستان د تاریخ ټولنې (انجمن تاریخ) رئیس شو. په ۱۳٥۱ ش/۱۹۷۲ کې د صدراعظم فرهنګي مشاور شو. تر هغې وروسته یې په زیاترو علمي سیمینارونو او کنفرانسونو کې د اسنادو په وړاندې کولو سره د افغانستان له تاریخي او فرهنګي داعیې نه په دفاع سره یې ګډون کړی دی او تر ۱۳٦۳ ش/۱۹۸٤ پورې د افغانستان د کولتوري کومیټې مشاورو. نوموړی د ۱۳٦۳ د ثور پر شلمه/د ۱۹۸٤م د مې پرلسمه په کابل کې وفات او په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو.

## د پوهاند حبیبي آثار

د پوهاند حبیبي آثار په دری برخو ویشلای شو: یو دتاریخي کتابو په باب څېړنه چې د مقدمو، تحشیو

او یا د پښتو په لیکلو سره یې د افغانستان د تاریخ او فرهنګ په ژوندی ساتلو کې هاند کړی دی او نوموړی آثار یې بیا ژوندي ساتلي دي. دا آثار عبارت دي له:

۱- د منهاج سراج جوزجاني "طبقات ناصری" له تصحیح، مقابلې، تکمیل او حواشیو سره په دري ژبه:

۲- طبقات صوفیه له تعلیقاتو، سریزې او تصحیح سره، په دري ژبه.

۳- زین الاخبار له مقابلې، حواشیو او تعلیقاتو سره، په دري ژبه.

۴- تازه نوای معارک د منشي عطا محمد شکار پوری لیکنه.

۵- فضایل بلخ د عبدالله محمد بن محمد بن حسین حسیني بلخي لیکنه.

***د پوهاند حبیبي خپل لیکلي آثار او یو شمیر نور هغه اثار چې سریزې او تحشیې یې پرې لیکلې دي:***

۱- د خوشحال خان خټک د کلیاتو تهیه، تصحیح، سریزه او چاپ.

۲- د احمد شاه بابا د دیوان تصحیح، مقاله او سریزه.

۳- د پښتو ادبیاتو تاریخ په دوو ټوکو کې.

۴- پښتانه شعرا - لومړی ټوک.

۵- پټه خزانه: تصحیح: تعلیقات او په دري یې ژباړه.

۶- د پښتو شعرونو د لیک تاریخچه.

۷- تاریخ افغانستان در عصر تیموریان هند

۸- یک تحقیق نوین درباره کابلشاهان.

۹- مؤرخین ناسور گمنام

۱۰- افغانستان بعد از اسلام.

۱۱- جغرافیای تاریخی افغانستان

۱۲- هفت کتیبهٔ قدیم.

۱۳- پښتو ولویکان غزنه.

۱۴- تاریخ مختصر افغانستان په دوو جلدو کې.

۱۵- په اوسني پښتو شعر کې د ژوند څپې.

۱۶- نسب وزادگاه سید جمال الدین افغان.

۱۷- د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده.

۱۸- زندگی نامه ابن سینای بلخي.

۱۹- پښتو نثر ته کره کتنه.
۲۰- امیر کروړ ودودمان او، په دری ژبه.
۲۱- تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان از عصره قبل التاریخ تاکنون.
۲۲- اسمانی نغمی او لاهوتی سرودونه
۲۳- زندگی نامهء ابن سینای بلخی.
۲۴- ظهیر الدین محمد بابر شاه.
۲۵- بابر در افغانستان Babur in Afghanistan
۲۶- و قایع تاریخ از آغاز تاکنون.
۲۷- جنبش مشروطیت در افغانستان.
۲۸- پنجاه مقاله (د حبیبی د ځنو مقالو تولګه)
۲۹- هنر در عهد تیموریان.
۳۰-د عبدالقادر خټک دیوان او نور

## دپوهاند حبیبي مقالې

پروفیسر حبیبي تر یوسلو پنځو سوزیاتې څېړنیزې، تاریخي او فرهنګي مقالې د افغانستان مطبوعاتو ته لیکلې او چاپ کړې یې دي. د کابل پوهنتون یوه استاذ په دې برخه کې څېړنه کړې او تر اوسه یې ۱۰۱ مقالې په ګوته کړې دي چې د پوهنمل رحیمي له څېړنې نه په ګټې اخستنې سره ددې مقالو دیوې برخې عنوانونه راوړم:(۷۲)

۱- تاریخ سجدول و مؤلف آن، ۲- روش تاریخ نګاري د ونفر مؤرخ بزرګ، ۳- میر معصوم (نامی)، ٤- عجایب الاخبار (په پښتو)، ٥- ایا هزاره کلمهٔ قدیم است؟، ٦- صنعت توپ سازی در دورهٔ احمد شاهی، ۷- قدیمترین مسافران انګلیسی در افغانستان، ۸- اوضاع مالی و اقتصادی افغانستان در قرون نخستین اسلامی، ۹- فیض الله بنیانی مؤرخ، عالم او لیکوال، ۱۰- یاد داشت هایی در صنایع افغانستان (په پنځو برخو کې) ۱۱- کارنامهٔ ابو مسلم خراسانی، ۱۲- برمکیان بلخی، ۱۳- آمدن رسولان و خطابه به دربار غزنی، ١٤- ابو مسلم خراسانی در زیر تیغ ابو منصور، ١٥- برمکیان در پرورش علم و ثقافت، ١٦- مآثرغزنوی، ۱۷- مقامات ابو نصر مشکان، ۱۸- تشکیلات عسکری افغانستان در قرن نزدهم، ۱۹- از کتابهای ګمشدهٔ افغانستان، ۲۰- رتبیلان زابلی، ۲۱- قصص الانبیای پوشنجی بانابی، ۲۲- خواند میر مؤرخ هروی، ۲۳- مبادی فرهنګ افغانی، ٢٤- رهنمای تاریخ افغانستان، ٢٥- شیخ فقیر الله حصارکی جلال آبادی مرد عارف و مؤلف و رهنمای روحانی عصر احمد شاهی، ٢٦- تاریخ کابل شاه درکعبه، ۲۷- یک سند تاریخی، ۲۸- اهمیت افغانستان از نظر تاریخ باستان شناسی

آسیای میانه (په دوو برخوکې)، ۲۹- نیم قرن در آغوش آزادی، ۳۰- تاریخ نویسی در افغانستان، ۳۱- ضیا محمد طبیب غزنوی، ۳۲- حرکت تنظیم زراعتی در وادی هریرو دو دریای کابل، ۳۳- افغان و افغانستان، ۳٤- لوی تول مختار سید نورمحمد شاه (په دری برخوکې)، ۳۵- د هرات یو مؤرخ او سفیر، ۳٦- نکات جدید در تاریخ افغانستان، ۳۷- بیهقي او افغان شال، ۳۸- بقایای حکمرانان کوشانی در افغانستان، ۳۹- بلخ یکی از پایگاه های علوم اسلامی، ٤٠- دربان حکیم کابلی دردربار خلیفهٔ بغداد، ٤١- تعمیرات عصر بابر و اثر آن در هند، ٤٢- بابر و شخصیت علمی و ادبی او (په دوو برخوکې) ٤٣- شخصیت سیاسی و اداری بابر و اثر های آن در افغانستان وهند، ٤٤- شیخ المحدثین مولانا نصیر الدین کاکړ. ٤٥- شیخ الاسلام فسوره بن محمد گردیزی، ٤٦- نمونه یی از اشتباهات مستشرقین، ٤٧- منهاج السراج جوزجانی آموزگار و داور و تاریخ نگار و مفکر افغانی، ٤٨- عیاران یا اخیان، ٤٩- به یاد فداکاران جهاد استقلال، ٥٠- پدر آزادی و تجدد اصلاح در افغانستان مرحوم طرزی افغان، ٥١- جورجانی که جوز جانی، ٥٢- چگونه مولوی واصف قندهاری با اخوان افغان به دهن توپ بسته شد. ٥٣- سفرای چین قتنکاوقاشی به دربار غزنه، ٥٤- سه کتاب گمشده، ٥٥- سید حسن خان فرقه مشر شهید افغان، ٥٦- چند نکته از تاریخ افغانستان، ٥٧- چگونه امیر حبیب الله به سیاحت هند رفت و ازین سفر چه تأثیری با خود آورد؟، ٥٨- تیمورشاه درانی، ٥٩- خراسان از نظر ادب و تاریخ (په دری برخوکې)، ٦٠- شیران بامیان، ٦١- سیاسی رهنما اوښوونکی سید جمال الدین افغانی دده د نوشتو په رناکې، ٦٢- تاریخ گویی به تعمیه در اشعار قدیم دری، ٦٣- سید جمال الدین در پرتو نوشته عربی خودش، ٦٤- د پښتون سید جمال الدین د سلوکالو تلنه، ٦٥- دفکر او سیاست قاید سید جمال الدین افغان، ٦٦- دمیرویس حرکت، ٦٧- مؤرخین قندهار، ٦٨- کاکا صاحب شیخ رحمکار، ٦٩- دګوهرخان ختک قلب السیر، ٧٠- د افغان نوم په تاریخ کې، ٧١- د افغانستان دوه تنه پوهان، ٧٢- په پخوانی افغانستان کې بودایی او یونان اثرونه. ٧٣- دسیستان تاریخونه او احیاء الملوک، ٧٤- نام افغان و افغانستان در تاریخ دورهٔ اسلام، ٧٥- د قندهار زوړ ښار، ٧٦- اخوند پنجو او دده دولی کارونه، ٧٧- احمد شاه بابا او سند، ٧٨- اشرف الوزراء ٧٩- روه په ادب او تاریخ کې، ٨٠- فواید غیاثی، ٨١- د افغانستان یوځو ادبی او علمی کورنی، ٨٢- سیدال ناصر ملی او ادبی شخصیت، ٨٣- د امیر علی شیر نوابی فرهنگی او ادبی کارنامی. ٨٤- مولوی عبدالواسع کندهاری، ٨٤- امیر کروړ جهان پهلوان، ٨٥- خلجیان معاصر امیر خسرو بلخی و هویت تاریخی.

# راډیو افغانستان

## پوازنی علمي ډله ییزه رسنی وسیله

راډیو د یوې مفاهموي وسیلې په توګه په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۰۵ش/۱۹۲۰م کې جوړه شوه، ښاغلي عطاالله خان تخنیکي متخصص چې په المان کې یې زده کړې کړې وه له څو تنو المان مشاورینو سره کابل ته راغلل او دشیر دروازې غره له معبر سره یې د هارټل په ترڅنګ په (کوټي لنډني) کې یو دوه سوه واتیزه راډیویي دستګاه نصب کړه چې په ۳۶۰ متروپې څپلې خپروني پیل کړې. د راډیو لیږونکي دستګاه دوه انتنه درلودل چې ۲۵ متره وو او ددې ودانۍ ترڅنګ ودرول شول.

راډیو په پیل کې کورني او بهرنۍ خبرونه او مقالې خپرولې. د راډیو لومړني نطاقان سرور ګویا اعتمادي او عبدالجبار وو. وروسته د موسیقۍ خپرونه هم په پروګرامونو کې شامله کړای شوه چې استاذ قاسم د راډیو لومړنی سندرغاړی او وروسته استاذ نتو او قربان علي رباني وو چې د هیواد په راډیو کې له لومړنیو سندغاړو او هنرمندانونه شمیرل کیږي. لومړني راډیوګانې دګوشکي راډیو، یا (کریستل) په نامه مشهوري وې چې لکه د تلفون ګویا یوازې یوه کس اوریدی. په پیل کې به کورنیو په وار سره له راډیو نه ګټه اخسته. د راډیوګانو شمیرهم کم و. په کابل کې یوازې سل پایې راډیو ګانې موجودې وې زیاتره خلکو به له هغې نه ګټه نه شوای اخستلای خو وروسته افغانستان ته د راډیوګانو واردول زیات شو چې په پنځو، اوو اولس ځراغه و یې شهرت درلود او د انتنونو په نصب سره به یې آواز بنه اوریدل کیده. دولت د خلکو د خبرتیا او آګاهي لپاره له چار چته بازار سره لوړ سپکرونه نصب کړي وو. د راډیو نشراتو تر ۱۳۰۷ش/۱۹۲۸م پورې دوه کاله دوام وکړ؛ ځکه د امان الله خان پر خلاف نارامي زیاتې شوې وې او یو کال وروسته چې امان الله خان افغانستان ترک کړ، د حبیب الله کلکاني او محمد نادر شاه په دوره کې راډیو نه وه.

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په لومړیو کې (۱۳۱٤ش/۱۹۳۵م) د وزیرانو د عالي غونډې په پریکړه د ۳۲ زره سترلنګ پونډو په بیه (دهغه وخت د یو ملیون او اووه زره افغانیو معادل) د اقتصاد د وزیر عبدالمجید زابلي په واسطه له المانه د راډیو نوې دستګاه واخستل شوه او په ۱۳۱۷ش/۱۹۳۸م کې د پل باغ عمومي ترڅنګ د راډیو نوې ودانۍ جوړه کړای شوه او د راډیو نوې دستګاه له ښواوزیاتره امکاناتو سره تأسیس شوه. د راډیو لیږونکي (فرستنده) دستګاه په یکه توت کې نصب کړای شوه چې تر اوسه هملته ده. د راډیو سامان آلات د آلماني متخصصینو له خوا نصب او ځای پر ځای کړای شول او راډیو په خپرونو پیل وکړ. د راډیو شپیني پروګرام دماښام له ۷ بجو نه تر ۹ بجو پورې زیات کړای شو، د افغانستان

د خپلواکۍ په جشن کې چې په ۱۳۱۹ش/۱۹۴۰م د کابل په حضوری چمن کې تجلیل شو، په ټوله منطقه کې لوډسپیکرونه نصب کړای شول او دمعارف د وزیر محمد نعیم په پیغام سره راډیو افتتاح شوه او ټولو خلکو له هغه نه ګټه او خوند واخست.

د راډیو پروګرامونو هم انکشاف موندلی و چې د مطبوعاتو د مستقل ریاست په چوکاټ کې بې دیوه عمومي مدیریت په تشکیل کې کار کاوه. د راډیو پروګرامونه د دمحاوره پې ژبې، کرنې، علمي او ټولنیزو مطالبو، روغتیا، تاریخ، روزنیزو چارو او موسیقۍ په برخه کې جوړیدل. دولت کمیسیونونه وټاکل او په ولایاتوکې هم له المانه پیرل شوي آخذې نصب کړای شوې چې د افغانستان د ولایاتو خلک هم د راډیو له نشراتو نه ګټه واخلي. له ټولو لیکوالو، شاعرانو، سندرغاړو او د موسیقۍ له استاذانونه وغوښتل شول چې د راډیو د پروګرامونو په بهترولو کې مرسته وکړي.

صلاح الدین سلجوقي چې د مطبوعاتو مستقل، رئیس و، د ژورنالستانو یو کمیسیون جوړ کړ چې استاذ خلیل الله خلیلي، استاذ برشنا، استاذ لطیفي او استاذ ګل پاچا الفت په دې کمیسیون کې نشراتي مسؤولیتونه پرغاړه واخستل. راډیو په عادي توګه څلورنیم ساعته نشرات درلودل، چې یو ساعت به سهار او دری نیم ساعته به د شپې له خوا خپریدل.

په ۱۳۳۰ش/۱۹۵۱م کې د لنډو څپو لیږونکي (فرستنده) دستګاه هم له المانه وپیرل شوه او انګلیسي او اردو خبري پروګرامونو او همدا راز د پښتونستان ورځنی پروګرام په خپرولو پیل وکړ. په ۱۳۳۸ش/۱۹۵۹م د بهرنیو خپرونو پروګراسو پراختیاو مونده او فرانسوي او عربي پروګرامونه هم پیل شول. په ۱۳۴۰ش/۱۹۶۱م کې د راډیو خپروني دولس نیم ساعتو ته لوړې کړای شوي.

په ۱۳۴۳ش/۱۹۶۴م کې د راډیو نوې دستګاه په نوې ودانۍ کې چې په انصاري واټ کې جوړه شوې وه د ثبت او نشر له نویو استدیوګانو سره په نویو لنډو او منځنیو څپو خپلې خپرونې پیل کړې او د راډیو تشکیلاتو عمومي ریاست ته ارتقا وکړه. د هنر او ادبیاتو اداره، د روزنې اداره، دموسیقۍ اداره، د پښتونستان خپرونه، بهرنۍ خپرونې او نور پروګرامونه رامنځ ته شول. د کابل راډیوم نوم په (راډیو افغانستان) بدل کړای شو او الماني او روسي خپرونې یې هم پیل کړې چې په دې توګه ورځنۍ خپرونې تر ۱۷ ساعتو پورې ورسیدې چې په مجموعي توګه راډیو ۷۵ پروګرامونه درلودل.

راډیو افغانستان، دیوې سمعي دله بیزې رسنۍ په توګه د پیغام رسونې په یوه ښه موقعیت کې واقع وه او زیات اوریدونکي او سینه وال یې درلودل. د افغانستان په زیاترو ولایاتو کې د پیغام اخستنې دیره ښه مرجع راډیو افغانستان وه او د رژیمونو په راپرځولو کې یې هم ښه نقش ترسره کړ.

د ۱۳۵۲ د چونکاټ په شپږویشتمه، د محمد داؤود په کودتا او د شاهي رژیم په را پرځولو سره، د راډیو تشکیلاتو څه لوسړنې پراختیاو مونده، او نوم یې په (د آریانا افغانستان ملي راډیو- تلویزیون) واړول شو. سره له هغې چې د راډیو خپروني د دولت تر اداری لاندې وې او آزاده رسنۍ فضایي محدوده

وه؛ خو د پروګرامونو څرنګوالي په متعادل حد کې وو او د خپل پیغام اخستونکي يې خوښ ساتل.

د ثور د اوومې په کودتاه سره راديو د نظامي او خلقي او پرچمي کمونستانو د سیاسي فعالیتو د تنظیم او قوماندې مرکز و. ټانکونه او نظامي افراد د راډيو د ودانۍ په انګړ کې هر چیرته وو او ټول خلک به يې شارل. د راديو مامورينو او ژورنالستانو د کمونستي افکارو په محدوده کې د آرام ساه نه شوای کښلی. د افغانستان يو محقق ژورنالست زرين انځور ليکي: "د ثور د اوومې له کودتا سره لکه چې د راديو ودانۍ په ټانک او توپک سره اشغال شوه له کيفي پلوه هم د کمونستانو او روسانو د اهدافو تر تسلط لاندې واقع شوه..."(۷٤)

زه (ليکوال) د ثور د اوومې د کودتا پر وخت د راديو - تلويزيون نوي مامورووم او د (راديو مجلې) تصدي مې پر غاړه وه، د کمونستانو د متحجرو او متشددو حالاتو شاهدوم چې خپلې عقيدې يې په شعاري او تحميلي مطالبو کې د راديو له لارې خپرولې. په پيل کې يې کليدي چارې غير مسلکي حزبي افرادو ته وسپارلې. خيال محمد کټوازي، اسد الله کشتمند، او شهسوار سنګروال د هنر او ادبياتو د ناظر په توګه ماته دستور راکړ چې د هغوی په وينا د انقلابي اهدافو سره سم، يادداشت هفته، شعر او موسيقي خپره کړم. ما چې د (عدم درايت) په حکم سر غړو نه وکړه د تره کي مفکوروي کتاب يې راته راوړ چې په پښتو برخه کې له دې کتاب او په دري برخه کشتمند د (لينن کبير!) په باب خپلې تکراري جملې خپرې کړې. او د دري لوسړيو اونيو پيښنو زه دې ته اړکړم چې د تيښتې لارو لټوم. تصادفاً چې تلويزيون ديوی جدا مفاهموي وسيلې په توګه خپرونو ته آماده و او کوم مامورين چې په دې برخه کې يې معلومات درلود اويايې ژده کړې کړی وی په تلويزيون کې مقرر کړل چې زه هم د هغوی له جملې نه وم؛ خو د کمونستانو د اختناق په شرايطو کې دا تغيير له بارانه پاځيدل او تر ناوی لاندې کښيناستل وو چې ډيره لږه موده مې کار وکړ او هجرت ته اړ شوم.

کمونستانو له سره د راډيو په پروګرامونو (انقلابي) نومونه کښيښنول او دکارګر، زحمتکش دهقان وکرګر، سرخ او سور، څارندوی د خلکو په خدمت کې، پيشاهنګ، فلسفي شاعران، زمونږ لوی شمالي ګاونډی او دهغې د امثالو د روزنيزو او معلوماتي سرګرميو ځای ونيو.

د محتوي له پلوه هم پروګرامونه د کمونستانو د مفکورې پر شاوخوا څرخيدل چې د چلوونکو پر طمطراقه القاب او سياسي بدلون د افغانستان لپاره ديوی لويې فاجعې پيل شو. کمونستانو ددې لپاره چې د افغانستان قومونه ځان ته نږدې کړای شي او هم د مجاهدينو پر خلاف تبليغات پيل کړي، د پښه يې، بلوچي، ترکمني، ازبکي، او نورستاني ژبو پروګرامونه يې په راډيو کې ورزيات کړل.

د روسانو تر تيرې وروسته د راډيو خپرونې د سهار له اتو نه د شپې تر يوولسو بجو پورې رواني وې؛ خو د پروګرامونو محتوی ډيره کمزورې او د سياسي تبليغاتو پر شاوخوا چورليدې. د دې لپاره چې له سرحد نه دوراخوا مهاجرينو لپاره خپل تبليغات زيات کړي روسانو د "وطن غږ" په نامه يوه بله راديو

تأسیس کړه او هم افغانستان ته د روسانو د سرو قواو په راتګ سره د (افغانستان غږ) رادیو د یوه جلا تشکیل په توګه په کار پیل وکړ. ددې رادیو وسایل بې له ختیز المانه راوړل.

کله چې د افغانستان د اسلامي حزب رادیو په قوي خپرونو سره په خپرونو پیل وکړ، چې زیاتره به د کابل ښاریانو لپاره په (اف ام – FM) موج خپریدې روسانو په همغو ځپو د "آسمايي غږ" په نامه رادیو يې خپرونې پيل کړې.

د کمونستانو په دوره کې په ننګرهار، کندهار، هرات، بلخ او ځینو نورو ولایتونو کې د محلي راديوګانو منځ ته راتګ له هغو بدلونونه شمیرل کیږي چې له کمې پلوه سړي کولای شي هغه یاد کړي. د افغانستان د راديو – تلويزيون تشکيلات د (کمیټهٔ دولتي وزارت رادیو – تلويزيون سينما توګرافي) په نامه اعلان کړای شول. له سیاسي واکه د ببرک په لرې کولو سره، نجیب الله راديو – تلويزيون د اطلاعاتو او کولتور په وزارت پورې وتړل.

راديويي خپرونې د تره کي، امين او کارمل په وخت کې شعارې وې چې درواغجنې وعدې او د مقاومت په له منځه وړلو کې به يې غلط رپوټونه خپرول. د کارمل او د نجيب الله په لومړيو وختو کې راديو له مجاهدينو سره د جنګ خبرې کولې. د قوت له موضع نه يې په خپل اند د انقلاب د دښمنانو په له منځه وړلو او اولسي تنظيم کې د حل لاره لټوله؛ خو دا چې روسانو نور له مجاهدينو سره د مقابلې وس نه درلود په کرار کرار په نړيوال کچ د ملي پخلاينې او روسي قواو دوتلو خبرې منځ ته راغلې، د نجيب الله دواکمنې په وروستيو کې د راډيو په خپرونو کې يو کلي بدلون را منځ ته شو. ديني او اسلامي پروګرامونه له سره خپریدل. ملي پخلايني او روغې جوړې ته تمايل او په افغانستان کې ديوې مبارز ځواک په حيث د مجاهدينو پر موجوديت اعتراف عامه ذهنيتونه مغشوش کړل. پوښتنه دا وه چې کمونستانو ولې خپله تګلاره بدله کړه؟ په ۱۳۷۱ش/۱۹۹۳ کال چې صبغة الله مجددي کابل ته راغی، د خلکو روحيه اوان د راديو خپرونې د جهادي مفکورې پرشاوخوا څرخيدې خو د اداري او مسلکي کدرو د نشتوالي له لامله او يا هم د مجاهدينو ترمنځ دنه اتحاد او ګډې استراتيژۍ دنه موجوديت له لامله، کمونستانو او پلويان يې چې تردې وخته د افغانستان په اداره کې فعال وو، به اشتباه واخسته. د مجاهدينو ترمنځ د اختلافاتو درامنځ ته کولو لپاره يې خيل متدوال پروګرامونه خپرول.

مجاهدين ددې لپاره چې متحجر او بې پروګرامه معرفي نه شي د کمونستانو د دورې له ابتذال سره سازش وکړ او راديو يې پروګرامونو د انحراف لاره خپله کړه.. په ځانګړې توګه چې برهان الدين رباني سياسي واکمنۍ ته ورسيد. (پوشمير) پرونې مسلمان مجاهدين يې بندوباره او آزاد خياله ثابت شول چې ان کمونستان د هغوی اعمالو ته حيران وو. د برهان الدين رباني په دوره کې راديو يې پروګرامونه محدود شول، د پروګرامونو په تواتر کې يا داچې بې نظمي راغله او يا دا چې مجهول وو. د تبليغاتو په کچ ستغې سپورې برودکاست کيدې. د ولاياتو راديوګانې له منځه ولاړې او زياتره وسايل يې د مربوطه کار مندانو

له خوا له هیواده بهر وپلورل شول. د ۱۳۷۵ د تلی پنځمه/ د ۱۹۹٦ دستمبر۲٦مه طالبانو تر یوی حملی وروسته کابل ونیو او د رادیو نشرات یوازی د مجاهدینو د بریالتوب د اعلاسیو په خپرولو آکتفا کوله. تر اوسه پوری د سهار او مابنام له خوا څو ساعته خپرونی لری. (۷۵)

د ژباړن یادښت: طالبانو کابل پر ته له کوم دزو دوزه ونیو او دا دیوه سخکنی توافق او سازش نتیجه وه، خو وروسته یی نتیجه سرچپه راووته او هغه څه عملی نکړای شوو چی ژمنه یی شوی وه.

# په افغانستان کې تیاتر، فلم او سینما

د تیاتر هنر په افغانستان اوږده تاریخي سابقه لري او په پرله پسې پیړیو کې د تمثیل له لارې د ټولنیزو اهدافو د بیان یوازنی وسیله ده. په پخوانیو وختو کې دتیاتر هنر د پاچاهانو د خوښې او تفنن لپاره په لوړنۍ توګه موجود و. افغانستان په بازارونو کې دا هنر د "سادوګانو" په واسطه اجرا کیده. څولسیزې د مخه چې په ټولنیزو رسنیو کې له ورځپاڼې پرته نور څه نه وو، او دکتاب لوستنې او سواد سطح هم ډیره ټیټه وه د تاریخي مطالبو بیان د همدې سادوګانو، او وروسته د څوکسیزو ننداړو په واسطه اجراکیده.

له ۱۳۳۰ش/۱۹۵۱م نه وروسته تیاتر په افغانستان کې رونق وموند. دکابل په چمن او پل محمود خان په سیمو کې پرانستې ننداړتون جوړ شو او پوهنې ننداړې، کابل ننداړې او زینب ننداړې تأسیس شوه. ننداړې په مختلفو سطحو په ابتدایي توګه اجراکیدې چې غالباً د تمثیل د صحنې له کمبود او لږو امکاناتو سره، دنظر هغه وسعت چې افغاني ډرامه لیکونکو درلود، د ننداړې په صحنه کې نشو تمثیلیدای. د محمد داؤود په جمهوري دورکې د تمثیل او تیاتر هنر خاصي ځانګړنې درلودې او ځوان او نوښتګر ډرامه لیکونکي لکه سید مقدس نګاه او ستار جفایي دامریکا دکولتوري مرکز په همکارۍ یو شمیر ډرامې تمثیل کړې. په دې دوره کې لاندې ننداړې د یادونو وړ دي: (کچري قروت) چې دسید مقدس نګاه لیکنه وه او د ستار جفایي په دایرکټرۍ تمثیل شوه. (قاتل کیست) د انصاري لیکنه، (هرکه اول بردخانه نبرد) حمید جلیا لیکنه (پر جیره) د عبدالقیوم بیسد لیکنه (مرغ زیرک) دشفا لیکنه، د (اپارتمان او کارو انسرای) ننداړې د جنابي، (عاطفه) د عزیز الله هدف ایمن او داسې نور.

## عبدالرشید لطیفي

د افغانستان دتیا تر په برخه کې د عبدالرشید لطیفي هلې ځلې د ستاینې وړ دي. هغه زموږ د هیواد له نامتولیکوالانو او هنرمندانو نه و. نوموړی په ۱۲۹۲ش/۱۹۱۲م کې وزیږید او د عربي، انګلیسي او روسي ژبې په باب یې خپلې زده کړې پای ته ورسولې. په پنځلس کلنۍ کې له محي الدین انیس سره [illegible] او پخپل ژوند کې دوه ځلې د انیس ورځپاڼې مسؤول وټاکل شو. هغه د "مجموعه [illegible] مجلې مسؤولیت هم پرغاړه درلود. رشید لطیفي یو با استعداده هنر مند و د نړۍ زیاتره مشهورې ن[illegible] یې په دري وژباړلې او د افغانستان په تیاتر کې یې د هغود اجرا زمینه برابره کړه. لطیفي یې د افغانستان د تیاتر د پلار په نامه هم یاد کړی دی. هغه مشهورې ننداړې ولیکلې له هغې جملې نه متخ[illegible] سالو، شام زندګي، شهدا، ګرسنه ها، شمع هایی که می سوزند، او، او پدرم نیست یادولای شي. [illegible]شید لطیفي د

۱۳٤٤د جوزا پرېووېشتمه/د ۱۹٦۵ د جون پر یوولسمه د سرطان د ناروغۍ له لامله وفات شو.

د فلم او سینما هنر تر اوسه پورې په افغانستان کې خپله اساسي لاره نه ده پرانستې او کوم ارزښتمن کارېې هم نه دی ترسره کړی. د سینمایي فلمو هنر په تیرو دو ولسیزو کې د تفاهم د څرګندونې او پیغام د انتقال په توګه د عامې پاملرنې وړو. د ظاهر شاه د سلطنت په لوسړیو کې د اروپایي او هنري فلمونو وار دول پیل شول او په کابل او ولایاتو کې د سینماګانو جوړول د خلکو د تفریح او مشغولا په صنعت کې دپاملرنې وړوګرځېد. زیاتره فلمونه به چې په افغانستان کې د پاملرنې وړګرځېدل، رمانتیک او تراژیک عاشقانه داستانونه به یې درلودل چې حتی د هندي فلمونو ممثلین د خلکو په خیالي الګوګانو تبدیل شوي وو او خلکو ځانونه په هغو داستانو او هنر متدانو پورې مربوط ګڼل. د سینماګانو د استانونو زموږ یو شمیر خلک په رواني ناروغیو اخته کړي وو.

فلم او سینما په افغانستان کې تود بازار درلود او په هند کې جوړ شوي فلمونه زیاتره افغانستان ته واردېدل، د مشروطیت په دوره کې چې په ټولنیزو چارو کې یې ازادي هم منځ ته راوستې وي، اروپایي، امریکایي، ایراني او ترکي فلمونو له عشقي او بربنډو صحنو سره، خلک د فکري انحراف خواته راګاږلي وو. د داؤود په وخت کې د فلمونو واردول د دولتي کومیتې تر څارنې لاندې ونیول شول خو دواردو شویو فلمونو په محتوي کې همغه، انحراف، بې پیغام توب، جنسي تحرکاتو، اویا پیښنو جوړوونکو صحنو دسینما بازارګرم کړی و. د کمونستانو په دوره کې زیاتره فلمونه له ختیز بلاک خصوصاً شوروي اتحاد نه واردېدل چې د زیاتر و فلمونو تاریخي پیغام، له نورو هیوادونه د راوړل شویو فلمو په مقایسه ښه و؛ خو په سیاسي اړخو کې سیاسي فلمونه هم موجود وو چې پر لیدونکو یې خاص اغیز درلود او جبراً یې باید هغه ننداړی وای.

مګر په افغانستان کې د فلم جوړونې هنر لکه چې ابتدایي و نه دا چې تر اوسه پورې رشد ونه کړ، بلکې داضمحلال خواته ولاړ. لومړنی آماتور سینمایي فلم د (عشق و دوستی) په نامه په ۱۳۲٤ش/۱۹٤۵م کې د څلورو تنو نارینه و افغاني هنر مندانو رشید لطیفي، عبدالرحمن بینا، قیوم بیسد او عبداللطیف نشاط، او یوې ښځې (میرمنې قریشي) په ګډون په هند کې د هند د سینمایي ستدیو په واسطه جوړ او وښودل شو.

د محمد هاشم میوندوال د صدارت په دوره کې د کابل راډیو ترڅنګ د (افغان فلم) مدیریت جوړ کړای شو او صمد آصفي چې په عکاسي او فلمبرداري کې یې په آلمان کې زده کړه کړې وه د دې مؤسسې مسؤول وټاکل شو. د افغان فلم لومړنی سینمایي محصول د (عقاب) په نامه یو فلم و چې په ډېره کمزورې سوژه په یو ساعت او شلو دقیقو کې وښودلی شو. دویم سینمایي فلم د (روزګاران) په نامه و چې بیا یې هم د فلم د هنر له اړخه په محتوي او تخنیکي چارو کې څه کمی وې او د خلکو له خوا یې زیات هرکلی ونه شو. د افغان فلم دریم سینمایي فلم د محمد داؤود د جمهوریت په دوره کې د "رابعهٔ بلخي" په نامه جوړ

شو چې نسبتاً له ښه کیفیت نه برخمن و.

د کمونستانو په دوره کې د فلم هنر د ابتذال لاره خپله کړه او کمونستي شعارونو د افغان فلم په لومړني فلم کې په هیوادکې دا هنر د انحطاط خواته بوت. د دې دورې دریم فلم د "اندرز مادر" په نامه و چې ښه سوژه یې نه درلوده او د خلکو له ساړه هرکلي سره مخ شو. د تلویزیوني پروګرامونو په زیاتیدو او له سینما سره د خلکو د زړه راښکون د کمیدو له لامله، نه دا چې واردو شویو فلمونو کتونکي نه درلودل بلکې د فلم هنر هم په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ شو.

سینمایي - تلویزیوني فلم چې جهادي اړخ یې درلود په پیښور کې د حزب اسلامي افغانستان دفلمبرداري د مدیریت له خوا څه ناقص محصول درلود چې د روسانو د تجاوز پر وخت زموږ د خلکو مظلومیت او د مجاهدینو مبارزې ښيي. دا سازمان د کابل په څنډو (چار آسیاب) کې د حزب اسلامي په ماتې سره، له منځه ولاړ. له سیمې نه بهر، د انجنیر لطیف په ډایرکټرۍ، په مسکو کې د (شیرین ګل پرسوز) سریال د افغانانو د بوږنوونکي ژوند بیانوونکي دي.

## ولې دفلم او سینما نوی پیل شوی هنر یې بنیاده شو؟

فلم زموږ په ټولنه کې دیوې ډله ییزې روزنیزې وسیلې په توګه، سره له هغې چې د تلویزیون او هنر تخنیک نړیوال شوی دی، د یوه بومیا او ښوونکي حیثیت لري چې خپل پیغام خپلو لوستونکو ته په کامله توګه رسوي. یعنې یوه موضوع کتونکي ته د تحلیل ترحده ښيي، او د وروستنیو پیښو، یا دا چې نتیجه ګیري کوي اویایي د کتونکو قضاوت ته پریږدي. د فلم هنر دکتو او اوریدلو هنر دی دیوه ښه او نامطلوب فلم اغیز دومره دی چې کتونکي په ځان پسې راکاږي. په معاصره نړۍ کې زیاتره فلمونه پیروان لري او زیاتره هنرمندان، مینه وال او کتونکي لري.

په دې لنډو خبرو سره، زموږ خبره د افغانستان د فلم په باب وه، چې ولې له کوچنیتوبه بلوغ ته ونه رسید؟ ولې د فلم نوی غوړیدی ګل له غوړیدو سره سم مړاوی اووچ شو؟

په دې باب مختلف عوامل موجود دي چې تر ټولو مهم یې د هنر وده ده. د فلم هنر، په افغانستان کې د نورو هنرو په څیر د غوړیدا ځای پیدا نکړ. په اقتصادي برخه کې چا د دې هنر په برخه کې پانګه وانه چوله او د فلم هنر دیوې تفنني مسألې په توګه نالیدلې وګڼل شو او د هغې پر ځای له نورو هیوادونه د بازارۍ او انحرافي فلمونو راوړلو ته ترجیح ورکړل شوه.

دویم د فلم جوړونې د متخصصینو نه درلودل. همداسې چې تر اوسه د افغانستان په ژورنالیزم او ادبیاتو کې د سناریو لیکنې د تخصص زمینه نه ده مساعده شوې، د داستان د سینمایي بڼې په اړه هم کوم کار نه دی شوی او په دې برخه کې داسې کسان نه وو چې پروګرامونه پر مخ بوځي.

دریم د تخنیکي سامانو او لوازمونه موجودیت. زیاتره فلمونه په ډېره بطې توګه، خامه تجربه او لومړنیو وسایلو تولید شول.

څلورم د تلویزیون پیل او د سبتدلو پروګرامو وړاندې کول، ګډا او موسیقي د زیاترو خلکو پام د تلویزیون خواته واړاوه او د سینما او فلم بازار سوړ پاتې شو.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا فلم او سینما په ګانده (آینده) کې په افغاني ټولنه کې د عامه اړیکو د لویې وسیلې په توګه، پیغام او نقش لرلای شي؟ زه په دې باوریم چې د فلم او سینما په ګډون ټول هنرونه نه دا چې پیغام لرلای شي، بلکې د پیغام په رسونه او زموږ د ټولنې د فرهنګي تشو په ډکولو کې هم مهم ګنل کیږي.

موږ په افغانستان کې د یوې اسلامي ټولنې په توګه ولې تر اوسه ونه شوای کړای چې خپل تاریخي او فرهنګي ارزښتونه د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړو: زموږ د هیواد هره کیسه او تاریخي پیښه یو پیغام لري، چې له یوې خوا زموږ د فرهنګ له ډاډینې سره مرسته کوي او له بلې خوا به زموږ تاریخي - فرهنګي هویت بیرته راژوندی کړي او د پردیو لاسونه به زموږ د فرهنګي اصالتونو له چورتالان نه لنډ کړي.

په فلم او سینما کې باید زموږ د ټولنې تیر اوننني واقعیتونه ترسیم شي، د سکندر له تجاوزه د چنګیز او مغولو ترتیري، د صفویانو تجاوزونه، دري څلې د پیرنګي تیري، د روسانو بلوسه، جنګ او اوسنی مصیبت او اختناق، د خلکو رواني حالات، تاریخي سوبې، د محمود غزنوي او احمد شاه ابدالي فتوحات، د تاریخ د لویو شخصیتونو ژوند او مبارزې، تاریخي کیسې، د فردوسي شاهنامه او هغه کیسې چې په افغانستان کې تاریخي ځایونه لري او داسې نور چې کولای شي زموږ د تیر ژوند ځنډې او پیښې بیان کړي، باید را ژوندي کړای شي او په تاریخ کې ثبت کړای شي. فرهنګ کولای شي د فلم او سینما له لارې وده وکړي. کله چې یو سناریو لیکونکی یا داستان لیکونکی د پورتنیو مسایلو په اړه ولیکي، او دا مطلب چې فلم ته څه اړتیا ده او خلکو ته باید څه پیغام ولرو چې ټولنه له سالمو ز او یو نه ننداری ته وړاندې کړای شي، چیرته او د څه هدف لپاره، او باید څه محتوی او پیغام ولري!

د فلم هنر نه یوازې د سینما په برخه کې بلکې د مستندو فلمونو په جوړولو سره، باید د پیښو بیان زده کړي او د خبرتیا وسیله هم شي.

اوس چې په افغانستان کې فلم او سینما نشته، باید په تکمیلي بهیر کې په افغانستان کې د اړیکو د تاریخ نقص اوخلا ته پاملرنه وشي.

## باختر آژانس

باختر آژانس په ۱۳۱۸ش/۱۹۳۹کال په کابل کې خپل فعالیت پیل کړ. دې آژانس د اطلاعاتو او کولتور د وزارت تر نظر لاندې کار کاوه. دې خبري آژانس، د کورنیو خبرونو لپاره د خبرونو په تهیه او

ترجمه او د تیلی تایپ *Teletype* په وسیله یې د نړۍ خبري اژانسو نو ته په رسونه کې اساسي رول درلود. باختر آژانس زیاتره له اسو شیتدپرس، رویټر، تانیوګ، تاس، فرانسپرس او سنهوا سره اړیکي درلودې چې د افغانستان په باب خبرونه یا سیاسي تفسیرونه به یې استول او یا به یې اخستل. باختر آژانس تراوسه په همغو پخوانیو وسایلو او تشکیلاتو کار کوي. څرنګه چې د تیلي کمونیکشن *Telecommunication* سیستم چې د مصنوعي سپوږمیو له لارې رسنۍ نړیزه (جهاني) کوي نشته، د افغانستان خبرونه د ګاونډیو هیوادو د آژانسونو په حواله او یا د دله بیزو وسیلو د ژورنالستانو په وسیله بهرته استول کېږي.

## دولتي مطبوعات

د افغانستان دولتي مطبوعات چې د دولت د اهدافو بیانوونکي او د رسمي پیغامونو او ابلاغیو رسوونکي وو، په مرکز او ولایاتو کې یې د اطلاعاتو او کولتور وزارت تر څارنې لاندې کار کاوه. انیس او اصلاح ورځپانو، د زیات تیراژ او اعتبار له لامله چې د لوستونکو په منځ کې یې پیداکړې و خپل نشراتي اهمیت ساتلی و. *(د دې دوو ورځپانو د تحول په باب دې د هغوی د تاریخچو برخې ته مراجعه وشي.)*

په انیس او اصلاح ورځپانو سربیره، لاندې خپرونو او ورځپانو د دولت د خپرنیو اورګانو په توګه کار کاوه.

د خپروني نوم: *آریانا*

د تأسیس کال: ۱۳٤۰/۱۹٦۱م

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان پیژندنې مدیریت او وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت د توریزم ریاست.

مسؤول مدیر: صلاح الدین سلجوقي، علي رضوي...

د چاپ ځای: چاپ شمیره، خپرنۍ ژبه: کابل، ۱۰۰۰-۱۵۰۰، انګلیسي، نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: د وه میاشتنۍ، دري میاشتنۍ مجله، ۲۲X۱۵ سانتي متره، مصوره، ٦۰ مخه.

د کار پای: د ۱۳۵۷د ثور د اوومې تر کودتا پورې په زیات تیراژ او د نجیب الله د واکمنۍ په وخت کې نامنظمه. ۱۹۹٤/۱۳۷۳.

محتوی: تاریخي مسایل، لرغون پژندنه، او دافغانستان د کولتور او ژبو پیژندنه.

یادښت: افغانستان کالنی ددې مجلې په باب لیکي: "د افغانستان د آریانا مجله، چې یوه دري میاشتنۍ انګلیسي مجله ده، په ۱۳٤۱ش کال زموږ د ملي مشر ښاغلي محمد داؤود د صدارت پر وخت تأسیس شوه، خو د څوګنو تر خپریدو وروسته، نوره خپره نه شوه." (۲۷) او د جمهوریت په دوره کې په هرو دری

میاشتوکی خپریده

د خپرونی نوم: *ادب*
د تأسیس کال: ۱۳٤٤ش/۱۹٦٥م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشری علومو پوهنځی.
مسؤول مدیر: پوهنوال حبیب الرحمن هاله، پوهاند محمد رحیم الهام، پوهنوال عبدالرسول رهین، ډاکتر محمد حسین راضی، ډاکتر قیام الدین راعی، شاه علی آکبر شهرستانی.
د چاپ ځای: د کابل پوهنتون مطبعه
چاپ شمیره: زرگنی.
خپرونی ژبه: دری
نوعیت، کچه، د چاپ بنه: دری، میاشتنی یا شپږ میاشتنی اختصاصی مجله (فصلنامه) ۲٤X۱۲ سانتی متره، یورنگ له ٦۰-۱۰۰ مخو پوری.
د خپرونی د کار پای: د ۱۳۵۷ چونګاښ/د ۱۹۷۸ جولای،
محتوی: ادبی، تاریخی د دری ژبی د تاریخ او ادبیاتو د اصولو په باب مقالی، ادبی نقد د دری ژبی د شاعرانو او لیکوالو په باب لیکنی.

د خپرونی نوم: *افغانستان*
د تأسیس کال: ۱۳٤۹ش/۱۹۷۰
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتوروزارت، تاریخ ټولنه (انجمن تاریخ)
تیراژ: ۱۰۰۰ نسخی
ژبه: انګلیسی
نوعیت، کچه، د چاپ بنه: دری میاشتنی مجله (فصلنامه) ۳۰X۲۰ سانتی متره، رنګه پښتی، مصوره، د ۵۰-۷۰مخه.
د کار پای: ۱۳۷۰ش/۱۹۹۱م
محتوی: د تاریخی او فرهنګی او عنعنوی مسایلو له پلوه د افغانستان معرفی.

د خپرونی نوم: *افغانستان بانک*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۵/۱۹۵٦، کابل

ناشر د افغانستان ملي بانک
مسؤول مدیر ؟
تیراژ:؟
نوعیت: میاشتنی مجله، فصلنامه، چاپي، دوه رنګه مصوره
کچه، ۲۱X۲۹ سانتي متره.
خپرنۍ ژبه: پښتو – دری
د کار پای:؟
محتوی: ټولنیزی، ادبي او اقتصادی مقالي

د خپرونی نوم: **پوهنه**
د تأسیس کال او ځای: ۱۳٤۰/۱۹٦۱م کابل
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د پوهنې وزارت
مسؤول مدیر: محمد اکبر روشنضمیر
تیراژ:؟
نوعیت: میاشتنی مجله، دوه رنګه، ۵۰–۷۰ مخه.
خپرنۍ ژبه: پښتو – دری
کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره
د کار پای:؟
محتوی: د زده کړې په باب او ټولنیزی مقالي، شعر، ادب او تاریخي مسایل

د خپرونی نوم: ***پیام حق***
د تأسیس کال: ۱۳٤۱ش/۱۹٦۲
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت د نشراتو مدیریت (وروسته ریاست)
مسؤول مدیر: امین الله حلیم، سخیداد فایز، محمد ګلاب بشار
د چاپ ځای: کابل
تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه
خپرنۍ ژبه: پښتو – دری
نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: میاشتنی مجله، ۲۱X۳۳ سانتي متره، رنګه له ۴۰–۵۰ مخه

د کار پای: دوام لري
محتوی: دیني مجله، له اسلامي او عقیدتي مضامینو سره.

د خپرونې نوم: *تعلیم او تربیه*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۳ ش/۱۹۵٤ کابل
خپرندوی اود امتیاز خاوند: د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې انستیتوت. مسؤول مدیر:؟
تیراژ: زرگنې.
نوعیت: میاشتنۍ مجله، ٦۰ مخه، دوه رنګه
خپرنې ژبه: پښتو – دري
کچه ۲۱x۳۰ سانتي متره
د کار پای:؟
محتوی: ټولنیزې او روزنیزې مقالې

د خپرونې نوم: *جغرافیه*
د تأسیس کال: ۱۳٤۹ ش/۱۹۷۰ م
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د کابل پوهنتون دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی
مسؤول مدیر: د تاریخ او جغرافیې دیپارتمنت
د چاپ ځای: د پوهنې مطبعه، کابل
تیراژ: ۱۵۰۰ گڼې
خپرنې ژبه: پښتو، دري
نوعیت، کچه او د چاپ بڼه: څانګړې دري میاشتنۍ مجله (فصلنامه)، ۱۸x۲۲ سانتي متره، یورنګ، ۵۰ مخه
د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰/۱۹۹۱
محتوی: له پراخو ابعادو سره د نړۍ د پیژندنې په باب مقالې

د خپرونې نوم: *رنا*
د تأسیس کال او محل: ۱۳۳٦ ش/۱۹۵۷، کابل.
خپرندوی:؟

مسؤول مدير:؟
تيراژ:؟
نوعيت: مجله چې کله کله به خپريده. محتوی: ادبي تولنيزه ذوقي.

د خپروني نوم: *زيری*
د تأسيس کال: ۱۳۱٦ش/۱۹۳۷م دويم دور د ۱۳۳۱د زمری اتمه/د۱۹۵۲د جولای ۳۰مه
خپرندوی او د امتياز خاوند: پښتو ټولنه
مسؤول مدير: لومړنی مسؤول مدير صالح محمد هوتک وروسته صديق الله ريښتين
د چاپ ځای: کابل
تيراژ: ۱۰۰۰–۱۵۰۰ ګڼی
ژبه: پښتو
نوعيت، کچه، د چاپ بنه: اونيزه جريده، ٥٦X٤٠ سانتی متره، يورنګ، د څلور اواتو مخو ترمنځ
د کار پای: ۱۳٦۰ش/۱۹۸۲م
محتوی: د تاريخ او اصولو په باب څېړنيزی مقالی. پښتو ژبه او ادب، ادبي نقد، شعر، داستان
يادښت: دی جريدی په لومړنی خپرنی دروکی تر ۱۳۲۰/۱۹٤۱م کال پوری خپلو خپرونو ته ادامه ورکړه خو د کاغذ د کمبود له امله له چاپه پاتی شوه.

د خپروني نوم: *ژوندون*
د تأسيس کال: ۱۳۲۷ش/۱۹٤۸م
خپرندوی، دامتياز خاوند او مؤسس: محمد هاشم ميوندوال،
مسؤول مدير: محمد هاشم ميوندوال، شکريه رعد،
د محمد داؤود په دوره کی: راحله راسخ.
د کمونستانو په دوره کی: محمد نجيب، جلال نورانی.
د چاپ ځای: کابل
چاپ شميره: له ۲۰۰۰–۳۰۰۰
خپرنی ژبه: پښتو – دری
د خپرونی ډول: کچه، د چاپ بنه: اوونيزه مجله، ۳۳X۲۱ سانتی متره مصوره، رنګه له ۵۰–۱۰۰مخه
د کار پای: ۱۳۵۸ش/۱۹۷۹م

محتوی: یوه معیاری مجله چې د لوستونکو د علاقې وړ ټول مطالب یې درلودل.
یادښت: داخپرونه د روسانو د تجاوز پر وخت او د هغې د مؤسس سیونداوال سره د حساسیت له لامله له نشره پاتې شوه او د هغې پرځای د سباوون په نامه یوه بله خپرونه راووته.

دخپرونې نوم: *ساینس*
د تأسیس کال: ۱۳٤۹ش/۱۹۷۰م
خپرندې او دامتیاز خاوند: دکابل پوهنتون د ساینس یا علومو پوهنځی.
مسؤول مدیر:؟
د چاپ ځای: د کابل پوهنتون مطبعه
چاپ شمیر: ۵۰۰ ټوکه.
خپرنې ژبه: پښتو – دری
د خپرونې ډول: کچه، د چاپ بڼه، دری میاشتنی ځانګړی مجله (فصلنامه)
یورنګ، ٦۰ مخه.
د کار پای: ۱۳۵۸ش/۱۹۷۹م
محتوی: دفزیک، کیمیا، بیولوژی او جیولوژی په برخه کې ساینسی څیړنیزی مقالې.

د خپرونې نوم: *سره میاشت*
د تأسیس کال: ۱۳۳۷ش/۱۹۵۸م خپرندوی او د امتیاز خاوند: د سرې میاشتې عمومي ریاست. مسؤول مدیر: رقیه ابوبکر (۱۳٤٤/۱۹٦۵م)، د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: له ۲۰۰۰–٤۰۰۰، ژبه: پښتو، دری او انګلیسي، د خپرونې ډول: کچه، چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده، ٤۵X۳۰ سانتي متره، دوه رنګه، ٤–۸ مخه، د کار پای: ۱۳۷۰ش/۱۹۹۱م محتوی: د پیښو او د هغو د مخنیوی په اړه معلوماتي مقالې، کورنۍ او بهرنۍ رپوټونه.
یادښت: جریده د محمد ظاهر شاه او هم د کمونستانو په وخت کې په سره میاشت یادیده، د محمد داؤود په وخت کې یې د"عاطفه" په نامه خپرونې درلودې.

دخپرونې نوم: *سواد*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۳ش/۱۹۵٤م، کابل.
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د پوهنې وزارت د سواد د زده کړې ریاست. مسوول مدیر:؟، چاپ شمیره: ۲۰۰۰، دخپرونې ډول: میاشتنۍ مجله، ٤۲ مخه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۵X۲۰ سانتي متره. د کار پای:؟،

محتوی: د سواد زده کولو په باب مقالی او د هغه ریاست د فعالیتونو خبرونه.

د خپرونی نوم: *شرعیات*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۵۰ش/۱۹۷۱م کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځی. مسؤول مدیر: استاد نعمت الله شهرانی. چاپ شمیره: ۲۰۰۰. د خپرونی نوعیت: دری میاشتنی مجله، دوه رنگه، ٦۰ مخه، ژبه: پښتو - دری کچه: ۲۰x۲۵ سانتی متره، د کار پای: ؟، محتوی: اسلامی، تحلیلی او عقیدوی مقالی.

د خپرونی نوم: شکینه
د تأسیس کال او ځای ۱۳۳۵/۱۹۵٦کابل، د خپرونی نوعیت: مجله، کچه: ؟ خپرنی ژبه: پښتو - دری.

د خپرونی نوم: *شوری*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳٤/۱۹۵۵، کابل، خپرندوی: د افغانستان د ولسی او مشرانو جرگی خپرنی اورگان. مسؤول مدیر:؟، چاپ شمیره: ۲۰۰۰ دول: رقعه یی، مجله یی، چاپی، مختلف مخونه. کچه: ۲۹x۳٤ سانتی متره، ژبه: پښتو - دری، د کار پای:؟، محتوی: د شوراگانو (جرگو) نافذ شوی احکام او قوانین.

د خپرونی نوم: *الفلاح*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۵/۱۹۵٦م کابل. خپرندوی او دامتیاز خاوند: عدلیه وزارت، مسؤول مدیر: عبدالاحد عشرتی. چاپ شمیره: ؟، نوعیت: دری میاشتنی مجله، یورنگ، ٦۰مخه، ژبه: پښتو - دری، کچه:؟، د کار پای:؟، محتوی: ټولنیزی، قضایی او د قانون په باب مقالی او لیکنی.

د خپرونی نوم: *قضا*
د تأسیس کال: ۱۳٤۷ش/۱۹٦۸م. خپرندوی او دامتیاز خاوند: عدلیه وزارت. مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: ۵۰۰ گنی ژبه: پښتو - دری.
دول: کچه، د چاپ بنه: دری میاشتنی اختصاصی مجله (فصلنامه) ۱۸x۲٦ سانتی متره، د کار پای: ۱۳۵۷ش/۱۹۷۸م محتوی: قضایی مقالی، قانون نامی او د قانون او دولت په باب د قضائیه قوی اعلامیی.

د خپرونې نوم: *کابل تایمز* **Kabul Times**

د تأسیس کال ۱۳٤۱ش/۱۹٦۲ د محمد داود د صدارت پر وخت

خپرندوی او د امتیاز خاوند: دافغانستان د پیژندنې (معرفي) مدیریت، وروسته د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور وزارت.

مسؤول مدیر: د داؤود پر وخت، سید شفیع راحل

د چاپ ځای، چاپ شمیره، خپرنې ژبه: دولتي مطبعه، کابل، ۲۰۰۰، انګلیسي

د خپرونې نوعیت، کچه، چاپ بنه: ورځپانه، ۵۷X۳٦ سانتي متره، مصور له ٤-۸ مخه.

د کار پای: دوام لري.

محتوی: دا ورځپانه بهرنې لري نه د افغانستان د معرفي په هکله خپریږي.

د خپرونې نوم: *کانونه او صنایع. د کانو او صنایعو وزارت.*

د خپرونې نوعیت: اختصاصي مجله، کچه: ۲٤X۱۸ سانتي متره.

ژبه: پښتو، دري.

د خپرونې نوم: *د کوچنیانو انیس*

د تأسیس کال: ۱۳۵۱ش/۱۹۷۲م

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د انیس خپرنې ریاست

مسؤول مدیر: شکریه رعد، جلال نوراني

د چاپ ځای: کابل مطبعه

چاپ شمیره: ۳۰۰۰

خپرنې ژبه: پښتو–دري

د خپرونې دول: کچه، چاپ بنه: اوونیزه مجله، ۲٤X۱٦ سانتي متره، رنګه پښتي، مصوره، ٤۰–۵۰ مخه.

د کار پای: په ۱۳۵٤ کې د خپرونې نوم په "کمکیانو انیس" بدل کړای شو او د برهان الدین رباني د واکمنۍ ترپایه پورې یې خپرونو دوام درلود. محتوی: مقالې، کارتون، کیسې، فکاهي، معما، اوراغلې لیکونه د کمکیانو انیس د ژورنالیزم له پلوه د کوچنیانو لپاره یوه بنه معیاري مجله وه.

یادښت: د کمونستانو په دوره کې یې مطالب شعاري او سیاسي شوي وو.

د خپرونې نوم: کرنه
د تأسیس کال: ۱۳٤۸ ش/۱۳٦۹م
خپرندوی اوداستیاز خاوند: د کرنې او اوبولګونو وزارت
مسؤول مدیر:؟
د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې
خپرنې ژبه: پښتو، دری.
د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه: میاشتنی مجله، دوه میاشتنې، ۲۲X۱۹ سانتي متره، مصوره، یورنګ، ٤۰ مخه.
د کار پای: ۱۳۷۱ ش/۱۹۹۲م، محتوی: کرنیزې او معلوماتي مقالې، سرکې او بهرنی رپوټونه.

د خپرونې نوم: *لمر*
د تأسیس کال: ۱۳٤۹ ش/ ۱۹۷۰م
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت
مسؤول مدیر: ډاکټر محمد طاهر صدیق، ډاکټر شیر احمد نصری (ډاکټر حقشناس)
د چاپ ځای: کابل
چاپ شمیره، ۵۰۰–۱۰۰۰ ګنې
خپرنې ژبه: پښتو، دری، د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه، میاشتنی مجله، ۲۲X۱۸ سانتي متره، ۳۰–۵۰ مخه، رنګه، د کار پای: د ۱۳۵۲ د چونګاښ شپږویشتمه/د ۱۹۷۳ د جولای ۱۷مه. محتوی: ټولنیزې مقالې چې غالباً به د شاهي دولت په تأیید کې وي.
یادښت: دې خپرونې د "خدا، وطن، شاه" یعنې خدای،هیواد او پاچا تر شعار لاندې خپلې خپرونې پرمخ بیولې.

د خپرونې نوم: *مهری*
د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۷ ش/۱۹۵۸م، هرات.
خپرندوی: د هرات ادبي ټولنه (انجمن ادبی) مسؤول مدیر؟- تیراژ یا چاپ شمیره؟، د خپرونې ډول: مجله (فصلنامه) کچه: ۲۲X۱۷ سانتي متره، ژبه دری، د کار پای:؟، محتوی: ادبي، ټولنیز

د خپرونې نوم: *میرمن*
د تأسیس کال: ۱۳٤۲م/۱۹٦۳م

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د میرمنو ټولنه
مسؤول مدیر: ۱- رقیه ابوبکر (۱۳۲۹ش/۱۹۵۰م)، ۲- صالحه اسین اعتما ی (۱۳۴۰ش/۱۹۶۲م)، ۳- صالحه فاروق اعتمادی (۱۳۴۴ش/۱۹۶۰م)، ٤- عزیزه ګردیزی (۱۳۵۹ش/۱۹۸۰م)
د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: له ۱۰۰۰-۱۵۰۰ ګڼې
ژبه: پښتو- دری، د خپرونې ډول: کچه، چاپ بڼه: میاشتنۍ مجله، ۳۳X۲۱ سانتي متره، رنګه، مصوره ٦۰ مخه. د کار پای: ۱۳۷۳ش/۱۹۹٤م، محتوی: د ښځو په باب مطالب، ټولنیزې او سیاسي مقالې، داستان شعر.

د خپرونې نوم: **ورمه**
د تأسیس کال: ۱۳٤٤/۱۹٦٥
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشری علومو د پوهنځی پښتو ډیپارتمنټ
مسؤول مدیر: پوهاند عبدالشکور رشاد، ډاکتر مجاور احمد زیار
د چاپ ځای: کابل - د پوهنې مطبعه
چاپ شمیره: ۱۰۰۰ ګڼې، ژبه: پښتو. د چاپ نوعیت: کچه او چاپ بڼه: دری میاشتنی مجله (فصلنامه)، ۱٦X۲۱ سانتي متره، یورنګ، ۵۰ مخه.
د کار پای: ۱۳۵۷/۱۹۷۸
محتوی: د پښتو ادبیاتو تاریخ، د پښتو لیکوالو او مشاهیرو په باب مقالې، ادبي نقد، شعر وادب

د خپرونې نوم: **هیواد**
د تأسیس کال: ۱۳۳۲ش/۱۹۵۳م د محمد داؤود د صدارت دوره خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت، مسؤول مدیر:؟ د کمونستانو په دوره کی اسین افغانپوراو زلمی هیوادمل "د استاد رباني په دوره کی استاذ اجرالدین اقبال، هغه په دې ورځپانه کی یو بل نوښت راسخ ته کړ چې د عقیدتي - سیاسي، خانه و خانواده او ادب د برخي ځانګړې پاڼې یې هم چاپولې چې زیات مینه وال یې لرل. د استاد رباني د حکومت په وروستیو دری میاشتو کی (۱۳۷۵) چې استاذ اقبال د اطلاعاتو او کولتور وزارت فرهنګي معین شو، عبدالوکیل عمری د هیواد رئیس شو . د چاپ ځای: کابل دولتي مطبعه، چاپ شمیره، ۳۰۰۰-۵۰۰۰ (د محمد داؤود په وخت کی) د استاد رباني په وخت کی لس زره شماری او اختصاصي پاڼې یې هر یوه (۲۰۰۰) پاڼې ژبه: پښتو، د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه: ورځپانه، ۵۷X۳٦ سانتي متره ۸-۱۲ مخه، مصوره، د استاد رباني په وخت کی یې په کورنی جنګ کی د دولتي مطبعې دله سنځه تلو له امله چې په ټوله مطبعه کی سازی دوه ماشینه روغ پاتې شول او هغه هم چاریکار ته انتقال

کړای شول، کچه وره شوه.(ژباړن)
محتوی: دی ورځپاڼي په لومړيو ځلونوکي زياتي مقالي د پښتونستان په باب خپرولي د هيواد د دولتي ورځپاڼي د خپرني تګلاری په باب ليکي: "د پښتونستان قضيي ددی ورځپاڼي د وياړونو برخه زياته کړی ده لکه چي څرګنديږی دی ورځپاڼي له لومړی ګڼي څخه تر اوسه پوری د پښتونستان نوم له خپلي نشراتي خولي څخه نه دی اچولی..." (۷٦)

د استاد رباني په وخت کی ددی ورځپاڼي خپرني تګلاره بدله وه او زياتره به سياسي، ټولنيز، ادبي، عقيدتي، سياسي او نور اسلامي مسايل، خبرونه خبری رپوټونه او نور مسايل پکی خپريدل. دا ورځپانه د طالبانو په وخت کی هم خپريږی خو خپل هغه کيفيت يی چي د مجاهدينو په وخت کی درلود، ونه شو ساتلای او يايي ترلاسه نکړای شو چي عمده لامل يی د يوه تکړه پرسونل نه درلودل دی.(ژباړن)

(د کابل، عرفان، روغتيا، زيری، پښتون ږغ،ننګرهار "اتحاد مشرقي" په باب دی د محمد نادر شاه د دوری خپرونو او د پامير جريدی په باب دی د شاه محمود خان د صدارت وری خپرونو ته مراجعه وشی.)

# دولتي خپروني، د افغانستان په ولاياتوکی

ورځپانو او جرايدو د هيواد په ولاياتوکی هم په ننني توګه پراختيا و موندہ او خپروني يی تر پخوا په نسبي توګه بنی شوی. د (طلوع افغان) په کندهار (اتفاق اسلام) په هرات، (بيدار) په مزار شريف او (اتحاد مشرقي) په جلال آبادکی د پخوا په څير خپلو خپرونو ته دوام ورکړ. *(دريمی برخی ته دی د امان الله خان په دوره کی د ولاياتو خپرونو ته مراجعه وشی)*

د ولاياتو زياترو خپرونو د محمد هاشم ميوندوال، محمد موسی شفيق د عظمی صدارت او محمد داؤود د جمهوری رياست په دوره کی له اوونيزو جريدو نه ورځپانو ته ارتقا ورکړه. همدا راز په نوموړو ولاياتوکی د اطلاعاتو اوکولتور د مديريتونو په تأسيس سره، کورني خبرونه، اعلاسي، او بهرني خبرونه د باختر آژانس په وسيله ور رسيدل او د کار او ابتکار مستقله ساحه يی نه درلوده. نوری خپروني چي د محمد ظاهر شاه په وخت کی يی په مطبوعاتوکی فعاليت درلود دا وی:

دخپروني نوم: ***اتحاد بغلان***
د تأسيس کال: ۱۳٤٤ش/۱۹٦٥م
خپرندوی او د امتياز خاوند: دبغلان ولايت دمطبوعاتو مديريت مسؤول مدير: سيف الدين مستمند سلجوقي (۱۳٤۹ش/۱۹۷۰م) دوهمه دوره (داود خان په دوره کی) (۱۳٥۳ش/۱۹۷٤م) دچاپ ځای: د مرکزی بغلان مطبعه، چاپ شمير: ۱۰۰۰-۱٥۰۰ ګڼي، ژبه: پښتو، دری، دول، کچه، چاپ بڼه: اوونيز،

جریده د محمد داؤود د جمهوریت پروخت ورخپانه شوه. ۳۸X۵۰ سانتي متره، یورنگ، ٤ مخه.
د کار پای: ۱۳٦٥/۱۹۸٦م محتوی: کورني خبرونه، بهرني رپوتونه تولنیزی مقالي، او د سیمه ییزو فعالیتو په باب مطالب.

یادبنت: په ۱۳٥٤ش/۱۹۷٥م کال چي محمد داؤود د القابو په ثبت کي د سیمه ییزو کلماتو دحذف په باب یو قانون تصویب کړ، اتحاد بغلان جریدی تر هغي وروسته د اتحاد په نامه خپلو خپرونو ته دوام ورکړ. دا جریده د کمونستانو په وخت کي بیرته د اتحاد بغلان په نامه خپره شو. په ۱۳٦٥ش/۱۹۸٦م کي چي بغلان ولایت د مجاهدینو لاس ته ورغی د تخصصي افرادو د نشتوالي او همدا راز د اړتیا وړ موادو لکه کاغذ، رنگ او نور چي له پخواني شوروی اتحاد نه راتلل، د نشتوالي له لامله له نشره پاتي شوه.

د خپروني نوم: *بدخشان*

د تأسیس کال: ۱۳٤٦ش/۱۹٦۷م

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د بدخشان د اطلاعاتو او کولتور مدیرت. مسؤول مدیر: محمد ظاهر صدیق. دچاپ ځای: د فیض آباد مطبعه. چاپ شمیره: ۱۰۰۰ ټوکي، ژبه: پښتو او دری، نوعیت، کچه، چاپ بنه: اوونیزه جریده، د محمد داؤود په وخت کي ورخپانه شوه، ٤۰X٥٦ سانتي متره، یورنگ، ٤ مخه، دکار پای: ۱۳٦٦ش/۱۹۷۱م، محتوی: کورني خبرونه، دولتي اعلامیې، تولنیزی مقالي او سیمه ییز رپوتونه.

د خپروني نوم: *پروان*

د تأسیس کال: ۱۳٥۱ش/۱۹۷۲م. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور عمومي مدیریت. مسؤول مدیر محمد ظاهر صدیق. د داود خان په دوره کي: سیف الدین مستمند سلجوقي (د وری ۱۳٥٥/۱۳٥٦ش/۱۹۷٤-۱۹۷۷م) د چاپ ځای: چاریکار ښار. چاپ شمیره: ۱٥۰۰ ټوکي، خپرني ژبه: پښتو او دری، د خپروني دول، کچه، چاپ بنه: پنځلس ورځني (هفته ترسنځ) د محمد داؤود په جمهوریت کي ورخپانه، ٤۰X٥۸ سانتي متره، ٤-٦ مخه، د کار پای: ۱۳٥۷ش/۱۹۷۸م د ثور کودتا. محتوی: کورني او بهرني خبرونه، مقالي او دولتي اعلامیې.

د خپروني نوم: *دیوه* (په ۲٥٥ صفحه کي مطالعه وکړی)

د خپروني نوم: *ستاره*

د تأسیس کال: ۱۳٥۰ش/۱۹۷۱م خپرندوی او د امتیاز خاوند: د فاریاب د اطلاعاتو او کولتور مدیریت. مسؤول مدیر: سیف الدین مستمند سلجوقي (۱۳٥۰ش/۱۹۷۱م)، داود خان دوره: محمد گل ادبیار (۱۳٥٤ش/۱۹۷٥م)، چاپ ځای: د میمني ښار. چاپ شمیره: ٥۰۰-۱۰۰۰ ټوکي، خپرني ژبه: پښتو، دری. د خپروني دول، کچه، چاپ بنه: پنځلس ورځني جریده ٤۰X٥٦ سانتي متره، یورنگ، ٤مخه. د کار پای: ۱۳٥۲ش/۱۹۷۳م. محتوی: له باختر آژانس نه لاس ته راغلي خبرونه او اعلامیې.

د خپرونې نوم: *ستورې*

د تأسیس کال او ځای: ۱۳۳۲ش/۱۹۵۳م میمنه، خپرندوی: ؟، مسؤول مدیر:؟ پنځلس ورځنۍ جریده، ٤مخه، کچه: ٥٢X٤٠ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کار پای: ؟ محتوی: ټولنیزه ادبي، ذوقي.

دخپرونې نوم: *سنائي*

د تأسیس کال: ۱۳٥۱ش/۱۹۷۲م

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د غزنی د اطلاعاتو او کولتور عمومي مدیریت، مسؤول مدیر: د داود خان په دوره کې سیف الدین مستمند سلجوقي (۱۳٥۰ش/۱۹۷۱م) محمد کل ادبیار (۱۳٥٤ش/۱۹۷٥م)، د چاپ ځای: غزنی ښار، چاپ شمیره: ۱۰۰۰، ژبه: پښتو، دري. دول کچه، چاپ بڼه: اونیزه جریده د محمد داؤود په وخت کې ورځپانه، ٤۰-٥٨ سانتي متره، ٤-٦مخه، د کار پای: ۱۳٥۷ش/۱۹۷۸م د نور محمد تره کي دوره، محتوی: خبرونه، مقالې، شعر.

د خپرونې نوم: *سیستان*

د تأسیس کال: ۱۳٥۰ش/۱۹۷۱ خپرندوی او دامتیاز خاوند: د فراه د اطلاعاتو او کولتور مدیریت، مسؤول مدیر؟ د چاپ ځای: ګرشک ښار، چاپ شمیره: ٥۰۰-۱۰۰۰ګنې. ژبه: پښتو او دري، د خپرونې دول: کچه، چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده، ٥٤X٤۰ سانتي متره، یورنګ، څلور مخه. دکار پای: ۱۳٥۹ش/۱۹٥۰م محتوی: خبرونه، اعلامي د دولت اهداف او مقالې او سیمه ییز (محلي) رپوټونه.

د خپرونې نوم: *فاریاب* (په ۲٥٦ مخ کې مطالعه وکړی)

د خپرونې نوم: *ورانګه*

د تأسیس کال: ۱۳٤٦ش/۱۹٦۷م، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د پکتیا د اطلاعاتو او کلتور عمومي مدیریت: مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: ګردیز، چاپ شمیره: ۱۰۰۰، ژبه: پښتو د خپرونې دول، کچه، چاپ بڼه: اوونیزه جریده، د موسی شفیق په دوره کې ورروسته ورځپانه، یورنګ، ٤-٦ مخه.

د کار پای: ۱۳٦٨ش/۱۹۸۹م. محتوی: کورنۍ او بهرنۍ خبرونه، اعلامي او مقالې.

د خپرونې نوم: *هرات* (په ۲٥۷ مخ کې مطالعه وکړی)

دخپرونې نوم: *هلمند*

د تأسیس کال: ۱۳٥۰ش/۱۹۷۱م، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د هلمند ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت. مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: د ګرشک مطبعه، فراه ولایت. چاپ شمیره: ٥۰۰-۱۰۰۰. ژبه: پښتو او دري، د خپرونې دول، کچه، چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ جریده. ٥٤X٤۰ سانتي متره، یورنګ، ٤ مخه د کار پای: ۱۳٥۹ش/۱۹۸۰م، محتوی: کورنۍ خبرونه او مقالې.

## د څلورمې برخې پاڼليکونه او اخځونه (مآخذونه)


۱- افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنگ ۵۷۷ مخ.

۲- داقبال نیکونه او لیکنې (انګلیسي) بشیر احمد دار، لاهور چاپ، ۱۹۶۷م، ۳۱ مخ.

۳- د افغانستان سفرنامه (انګلیسي) سید سلیمان ندوي، لاهور چاپ ۱۹۳۰م، ۶۲ مخ.

٤- زندګي و افکار علامه اقبال لاهوري، ډاکتر جاید و اقبال د ډاکتر شهیندخت کامران مقدمه ژباړه، دویم چاپ ۱۳۷۲م انتشارات قدس رضوي، تهران، ۷۰٤ مخ.

۵- یاد اقبال (اردو) صابر (کلوروي) ۲۰م مخ د زندګي و افکار علامه اقبال د کتاب پر استناد.

٦- امروز بخارا، فردا افغانستان (مقاله) م حنیف، میثاق خون مجله، ۸مه ګڼه، د جمعیت اسلامي افغانستان خپرونه، پېښور، د ۱۳۶۵ الرم ٦٦ مخ.

۷- روابط خارجی افغانستان در نیمهٔ قرن بیست، لودویک آدمک **Ludwig Adamec** د پوهاند محمد فاضل صاحبزاده ژباړه، کانون ترجمه آثار جهاد افغانستان ۱۳۷۱، پېښور، پاکستان ۲۷۵ مخ.

۸- د اروابنادې بي بي کبرى (بي بي خورد) د غلام جیلاني خان څرخي لور د لیکوال د ماندیني ترور (خاله) روایت.

۹- هماغه اخځ (روایت)

۱۰- افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنګ، ٦۰۳ مخ.

۱۱- هماغه اخځ، ۵۹۷ مخ.

۱۲- افغاني څېړونې، حبیب الله رفیع، د افغانستان د جهاد د ثقافتي شورا پنځم سیمینار، اسلام آباد، ۱۳٦۵، ۱۷٦ مخ.

۱۳- روابط خارجی افغاستان در نیمهٔ اول قرن بیست لودویک آدمک، ۱٤۷ مخ.

۱٤- د سایس وجنایات روس در افغانستان، حقشناس، ۷۳ مخ.

۱۵- افغانستان، دایران د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي مطالعاتو دفتر.

۱٦- افغانستان (انګلیسي) جورج آرني **George Arney** ۲۷ مخ.

۱۷- هماغه اخځ، ۲۸ مخ.

۱۸- افغانستان (انګلیسي) لویي دوپرې **Louis Dupree**، ٤۷۷ مخ.

۱۹- افغانستان، جورج آرني، ۳۰ مخ.

۲۰- افغانستان، دوپرې، ٤۷۸ مخ.

۲۱- وسایل ارتباط جمعی درجامعهٔ آیندهٔ افغانستان (مقدمه) فردای افغانستان، د افغانستان د جهاد د ثقافتي شورا، پنځم توک، د ۱۳۷۱ ثور، اسلام آباد، ۲۰۰ مخ.

۲۲- د سایس و جنایات روس، حقشناس، ۷۳ مخ.

۲۳- افغانستان، دوپرې، ٤۷۸ مخ.

۲٤- هماغه اخځ، ٤۷۹ مخ.


ACKU

۲۵- مطبوعات غیردولتی (مقاله) محمد شفیق وجدان، فردای افغانستان، ۱۲۷ مخ.
۲۶- افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنگ، ۹٤٤ مخ.
۲۷- مطبوعات غیر دولتی، وجدان، ۲۰۱ مخ.
۲۸- دسایس وجنایات روس... حقشناس، ۸۲ مخ.
۲۹- قانون مطبوعات (مقاله) دکتور محمد صدیق صدیق، کتاب فردای افغانستان، پنځم ټوک، ۱٤۰ مخ.
۳۰- افغانستان، جورج آرنی، ۲۳۳ مخ.
۳۱- نشرات غیر دولتی، فردای افغانستان، ۲۰۲ مخ.
۳۲- دسایس وجنایات روس، حقشناس، ۹۳ مخ.
۳۳- هماغه اخځ، ۹۲ مخ.
۳٤-
۳۵- هماغه اخځ، ۹۲ مخ.
۳۶- مطبوعات کمونستی در افغانستان، پوهاند حبیب الرحمن هاله د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا، ۱۳۷۰، ۳۵۱ مخ.
۳۷- دهۀ قانون اساسی، صباح الدین کشککی، د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا، اسلام آباد، ۱۳۶۹، ۱۲۰ مخ.
۳۸- هماغه اخځ، ۱۶ مخ.
۳۹- د صدر اعظم محمد داؤود د استعفا متن، اردو مجله، د افغانستان د جمهوری دولت د دفاع وزارت خپرونی اورګان، ۱۲ مه ګڼه د ۱۳۵۳ د زمری میاشت/د۱۹۷٤ جولای، ۱٤ مخ.
٤۰- افغانستان و اتحادشوروی، هانری براد شر، د افغانستان د جهاد د ثقافتی شورا ژباړه، جوزا، ۱۳۷۰، اسلام آباد ۲۳ مخ.
٤۱- د افغانستان اساسی قانون، دویم فصل (باچا) ۲٤ مه ماده، دولتی مطبعه ۱۳٤۳.
٤۲- هماغه اخځ، دریم فصل (د خلکو حقوق او اساسی دندی) ۳۲ مه ماده.
٤۳- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان، عبدالحمید مبارز، ۱۳۷۵ میزان، ۲۶۰ مخ.
٤٤- سقوط سونارشی درافغانستان، دکتور عطا محمد نورزایی، د ۱۹۹۱ آکتوبر کولون (جرمنی) ٤۰ مخ.
٤۵- هماغه اخځ ٤۲ مخ.
٤۶- روسی ساختن افغانستان (انګلیسی)
**Afghanistan and the nightmare of Communism**
پروفیسر محمد اسحق نګارګر، افغان اطلاعاتی مرکز، پېښور، ۱۹۸۶، ۸ مخ.
٤۷- دهه قانون اساسی، کشککی، ۱٤۶ مخ.
٤۸- کمونست چندحزبی **Afghanistan's Communist Party (The fragmented PDPA)** آنتونی آرنولد او روزانا کلاس **Anthony Arnold and Rossanne klass** د پوهاند ډاکتر محمد یوسف علمی ژباړه، کانون ترجمۀ آثار جهاد افغانستان نومبر ۱۹۸۸، پېښور، ۶۰ مخ.
٤۹- افغانستان و اتحاد شوروی، هانری برادشر، ۲۹۰ مخ.
۵۰- دهۀ قانون اساسی، ۱٤۸ مخ.
۵۱- افغانستان و اتحاد شوروی، ۲۷ مخ.

ACKU

۵۲- هماغه اخځ، ۳٦مخ.
۵۳- دهٔ قانون اساسی، ۱٤۸مخ.
۵٤- هماغه اخځ، ۱۵٦مخ.
۵۵- افغانستان، د ایران دبهرنیو چارو د وزارت خپروني، دریم چاپ، ۱۳۷۳ش تهران، ۲۲٤مخ.
۵٦- دهٔ قانون اساسی، ۱۵٤مخ.
۵۷- هماغه اخځ، ۳۳مخ.
۵۸- جنایات و...، حقشناس، ۱٦٤مخ.
۵۹- دهٔ قانون اساسی، ٤٦مخ.
٦۰- هماغه اخځ، ٤۷مخ.
٦۱- جنایت و...، ۱٦۳مخ.
٦۲- دهٔ قانون اساسی، ۵۱مخ
٦۳- جنایات و دسایس...، حقشناس، ۲۰۱مخ.
٦٤- دهٔ قانون اساسی، ٦۳مخ.
٦۵- هماغه اخځ.
٦٦- داؤود خان د کاجی بی په لوموکی، هارون، د خیبر چاپولو مؤسسه ۱۳۷۳، ۱۰٦مخ.
٦۷- دهٔ قانون اساسی ۹۳مخ.
٦۸- افغانستان، دوپری، ٦۰۳مخ.
٦۹- ۷۰- دهٔ قانون اساسی، ۱۵۱مخ.
۷۱- افغانستان، اسلام و نوګرایی، الیور روا Oliver Roy د ابو الحسن سروقد مقدم ژباړه، انتشارات قدس رضوی، تهران ۱۳٦۹-۱۱۷مخ.
۷۲- د افغانستان د اسلامی حزب له امیرانجنیر ګلبدین حکمتیار سره د لیکوال ځانګړې مرکه، سپینه شګه، پکتیا، د ۱۳۷۱ تله/۱۹۹۲ اکتوبر.
۷۳- علامه حبیبی او د هغه تاریخی آثار، پوهنمل رحیمه "میزان" میاشتنی په دیلی کی د افغانستان د سفارت، خپرونه، ۳۸-٤۰ ګڼی د۱۳۷۷ش مرغومی میاشت/د ۱۹۹۸ دسمبر.
۷٤- په افغانستان کی د رادیو تاریخچه (مقاله) فردای افغانستان، د افغانستان د جهاد ثقافتی شورا ۱۳٦۵ اسلام آباد، ۲۱۸مخ.
۷۵- په دی برخه کی له لاندی اخځونه ګټه اخستل شوی ده:
الف: د افغانستان د دوله بیزی مفاهمی د وسایلو څیړنیز سیمینار (سیمینار تحقیقی وسایل مفاهمه جمعی) د جهاد ثقافتی شورا، ۱۳٦۵)
ب: افغانستان کالنی، اطلاعات او کولتور وزارت د محمد داؤد دوره ۱۳۵۳
ج: د رادیو د تاریخچې مقاله، زرین انځور، د ثقافتی شورا سیمینار.
د: رادیو، پیام و کلام بربال امواج، اوستا، امید مجله. ٤۹ مه ګڼه د ۱۳۷۳ الرم، ۲۸-۲۹ مخونه.
۷٦- افغانستان کالنی، ۱۳۵۲-۱۳۵۳ داطلاعاتو او کولتور وزارت ٤۰مه ګڼه د کابل دولتی مطبعه، ۲۱۳مخ.
۷۷- هماغه اخځ، ۲۱۱مخ.

پنځمه برخه

# د محمد داؤد د واکمنۍ دوره

## پر جمهوری د شاهی نظام بدلون

د ۱۳۵۲ د چونګابښ ۲٦ مه - ۱۳۵۷ د ثور اوومه

د ۱۹۷۲ د جولای ۱۷ مه - د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۷ مه

د چونګابښ پر ۲٦/۲۵ شپه د داؤود پلوی نظامی فرقی چی لادمخه له هغو سره د کودتا په اجرا کی موافقه شوی وی، د رسم ګذشت په خاطر د دفاع وزیر د معاینی لپاره د تیارسی په حالت کی وی. د زرهدارو پنځلسمه او څلورمه قوی، د قوای مرکز د انضباط تولی، د کابل بالاحصار صاحب منصبان او د قرغی څلورمی فرقی په دی کوتاکی ګډون وکړ. محمد داؤود په همغه شپه کی د اضطراب او پریشانی په حالت کی د خپل کهاله په چو تره کی قدم واهه: هلته چی، تر کودتا دوه ورځی د مخه پاچاګل وفادار یوه دستګاه مخابره ورته را وړی وه هم لیدل کیده. د داؤود ناظر حاجی باز محمد منګل وایی چی داؤود ماته وویل: "که هلکانو یوځل شروع وکړه بیا کامیابی زموږ ده"(۱)

د شپی دولس بجی لومړنی فشنګ د کودتا د پیل د قوماندی په توګه د کابل فضا ته پورته کړای شو او نظامی عملیات پیل شول... "محمد داؤود وفادار ته هدایت ورکړی و چی که کودتا ناکامه شوه، هغه موظف دی چی د تومانچی په واسطه هغه (محمدداؤود) ووژنی" (۲) زیاتره خلقی او پرچمی صاحب منصبانو په نظام کی دیوه بدلون په خاطر، دچمتووالی اعلان کړی و. داؤود د هر یوه دنده مشخصه کړی وه. غوث الدین فایق چی د داوود له مخلصینونه ګڼل کیده، او له کمونستانو سره یی ارتباط نه درلود، توظیف کړای شو چی جنرال عبدالولی ونیسی او پری یی نږدی چی قوای مرکز ته ولاړ شی. فایق په وزیر اکبر خان مینه کی د سردار عبدالولی پرکور د ټانک په یوه ډز سره هغه ونیو او کارته پروان ته یی د قدیر نورستانی کور ته چی د پاچا د نظامی او سیاسی شخصیتونو د څارنی د مرکز په توګه ټاکل شوی وبوت. وروسته یی جنرال عبدالولی د ارګ (کوټی باغچه) ته انتقال کړ. صدراعظم موسی شفیق یی په قرغه کی له خپل کوره ونیو او مارشال شاه ولی خان په پغمان کی داؤود ته دیوه نږدی منصبدار صاحب جان له خوا ونیول شو. "شاه ولی خان یو زړورسړی و چی د کودتا په وړاندی یی په سړه سینه او په آرامی سره برخورد وکړ. وکله چی پوه شو داکودتا د داؤود خان په مشری تر سره شوی ده په آرامی سره یی وویل: "داؤود می یوه سترګه او ظاهر می بله سترګه ده" هغه ترڅو ورځنی نظارت وروسته د ناروغتیا په وجه په څلور صد بستر روغتون کی بستر شو.

کله چی ټانکو نور کابل ارګ کلابند کړ د ګارد دعسکرو او کودتا چیانو تر منځ چی په سرکی یی د

بالاحصار د کوماندو قطعي رئیس ارکان فیض محمد واقع و، تکړ راغی او حبیب الله د هغوی لومړنی متعرض ټانکست ووژل شو. (د حبیب الله زرمتي ټانک ارتل پله ته نژدې له سرکه لاندې واووښت او زرمتي پکي ومړ – ژباړن) ملکي حمیرا د ګارد قوي ته هدایت ورکړ چي له مقاومته لاس واخلي او تسلیم شي، ځکه پوهه شوی وه چي د کودتا په سرکي محمد داؤود واقع دی. د پاچا مشر زوی او د سلطنت وکیل احمد شاه یې ونیو او د نظارت لپاره یې د قدیر نورستاني کورته بوت اوله نورو سره یې بندي کړ. نبي عظیمي چي د انضباط د قواو یو ضابط و، رادیو ته ولاړ، او په دری ټانکونو سره یې رادیو اشغال کړه. د دفاع وزیر خان محمد خان، لوی درستیز ډګر جنرال غلام فاروق خان، او د کابل د امنیې عمومي قوماندان جنرال عبدالحکیم کټوازی پرته له کوم مقاومته ونیول شول. د کورنیو چارو وزیر نعمت الله پژواک چي د پرچم د ډلې کمونست و د پولیسو او ژاندارم د قواو د غوښتنې په وړاندې چي غوښتل یې له هغه نه هدایت واخلي، ځان په کورکي پټ کړ.

د رادیو افغانستان خپرونې، د سهار په شپږو بجو د عظیم الشان قرآن په تلاوت پیل او وروسته د رسم ګذشت او مارش په موسیقي سره یې دوام وموند. د رسم ګذشت د موسیقي په جریان کي د دولت له جنرالانو او لوړ رتبه منصبدارانو نه د اعلامیو په خپرولو سره غوښتل کېدل چي له مقاومت نه لاس واخلي او له نوی انقلابي شورا سره خپله ژمنه نوې کړي. محمد داؤود له جنرال عبدالکریم مستغني سره رادیو ته ولاړ او د سهار په ۹ بجویې خپله لومړنۍ اعلامیه ایراد کړه.

"خوږو خویندو او ورونو سلام:

بنده په هیواد کي د مختلفو مسؤولیتو او دندو په اوږدوکي تل دیوه هدف په لټه کي وم چي د افغانستان د خلکو او په ځانګړې توګه محرومي طبقې او ځوان نسل ته مود مادي او معنوي ودې یو ربښتیني او مثبت چاپېریال میسر شي او زموږ د هیواد ټول وګړي پرته له کوم تبعیض او امتیازه د هیواد پرمختګ او ابادي په لارکي برخه واخلي او د مسؤولیت احساس وکړي.

وختونه تیرشول او ډیرې هڅې وشوي چي هغه عوامل چي تجاربوته په پاملرني سره ددغسې یوه هدف ته درسیدو په لارکي خنډ کېدل، له منځه یوسو او په ځانګړي توګه په هیواد کي یو د باور وړ امنیت ټینګ کړو چي یوه مثبت اقتصادي او ټولنیز بدلون ته په سالمه توګه اجازه ورکړي؛ ځوان کول ته د مصونیت احساس ورو بخښي او د خرافي او ارتجاعي ودې مخه ونیسي. د دې پراوونو تر وهلو وروسته مي بل کوم داسي علت نه لیده چي پورتني هدف ته د رسیدو پخاطر زموږ په هیواد کي یوه نوې صحنه را منځ ته نه شي.

ما د خپل هیواد د راتلونکي سعادت لپاره له یوې ربښتیني او معقولي دموکراسۍ نه چي تا داوبي د افغانستان اکثریت خلکو ته پر خدمت ایښوول شوې وي، بله لاره نه لیده او نه یې ګورم. زما په اند د داسي یوې ټولنیزي وضعي تا داو د خلکو د ټولو حقوقو تأمین او د ملي حاکمیت پراصل کامل اعتراف

دی چې باید څه په پټه او څه په ښکاره، پورتنیو دوه اصلو ته زیان و نه رسول شي.

دا مقدسه هیله وه چې زه یې اړکړم لس کاله د مخه سي خپل ورورستني وړاندیز پاچا ته وړاندې کړم او دافغانستان د خلکو د خیر او سعادت لپاره د هغې تطبیق وغواړم. دا چې هغه هیلې ولې د هیواد په دې بې سرو ساماني پای ته ورسیدې او ولې هغه ضعیف النفسه سلګرې له اصلي هدف نه منحرف او غلطه لاربې تعقیب کړه، یو اوږد داستان دی...

... نتیجه دا شوه چې، هغه پخواني امیدونه او نیکې ارزوګانې په یوه قلابي (درواغجنه) دموکراسي چې له پیله پر عقدو، شخصي او طبقاتي ګټو، تقلب، د سیسو، درواغو اوریا او د خلکو پر غولوبې استواره وه، بدلې شوه. خو دې ټولو درواغجنو تبلیغاتو په دې لسوکالو کې ونشوای کړی چې ترخه حقیقتونه چې د هیواد اقتصاد، اداري، اجتماعي او سیاسي حالت له مطلق انحطاط او شړیدلو نه عبارت دی د افغانستان د خلکو او بهرنې نړۍ له سترګو نه پټ کړي.

لنډه دا چې د موکراسي یعنې د خلکو حکومت په یوه انارشیزم او سشروطه سلطنت په یوه مطلق العنان رژیم بدل شو او دا دې قدرتونه هریو، یود بل او د خلکو پرخان اخته شول. او د "بیل بې کړه ایل بې کړه" د فورمول پراساس یې په ټول هیواد کې اوربل کړ چې وکړای شي ددې ککړې او تیارې فضا په سیوري کې چې له فقر او بدبختي نه ډکه وه خپل مادي او ممکن سیاسي اهداف ترلاسه کړي.

هیواد پالې چې د هیواد په هرګوټ کې وو د وطن دی ځورونکې حالت ته په ډیر تأسف او تألم سره کتل، او د خپل هیواد د اوضاع مراقب وو؛ په ځانګړې توګه اردو دا درد ترټولو زیات احساساوه او په دې تمه چې، نن یا سبا به دا فاسده او شړیدلی دستګاه د ملت له بدې ورځې نه خبر او د ځان د اصلاح او سموني کوښښ به وکړي، له ډیر صبر او زغم نه کار واخیست؛ خو نتیجې ثابته کړه چې، دا هیلې کاملاً بې ځایه، او رژیم او دولتي دستګاه دومره فاسده شوه چې نوربې اصلاح ته کومه هیله پاتې نه شوه، نو ځکه ټولو هیواد پالو او په ځانګړې توګه د افغانستان هیواد پالې اردو تصمیم ونیو چې نور دې فاسد رژیم ته د پای ټکی کیښیږدي او هیواد له دې بدبختي نه وژغورل شي.

ګرانو هیوادوالو!

باید تاسې خبر کړم چې نور دا نظام له منځه ولاړ او نوی نظام چې له جمهوریت نه عبارت دی او د اسلام له ریښتینې روح سره موافق دی د هغه ځای ونیو. زه او زما سلګرې د زړه، له کومې تاسې ته د افغانستان د دې لومړني جمهوریت مبارکي درکوو او هغه د افغانستان او افغان اولس د سعادت او سرلوړې لپاره مسعود او مبارک غواړم..."(۲)

محمد داؤود په دې پیغام کې د هیواد په هره څنډه کې د افغانستان له سربښندونکې اردو نه وغوښتل چې د نظام له بدلون سره خپله ژمنه څرګنده کړي او مخالفت ونه کړي.

محمد داؤود په دې پیغام کې د افغانستان بهرنې سیاست په آزادو قضا وتونو سره په بې طرفي او هم

د نړیوالو اړیکو په کچ "د هیواد د ملي غوښتنو پر اساس" د افغانستان او نورو هیوادو ترمنځ د اړیکو په پراختیا ټینګار وکړ. له پاکستان سره یې د افغانستان د اړیکو په اړه د پښتونستان مسأله د دواړو هیوادو ترمنځ دیوه سیاسي اختلاف په توګه یاده کړه او د دې مسألې د حل غوښتنه یې وکړه.

د افغانستان د جمهوریت د مرکزي کومیټې په لومړنۍ ناسته کې چې د چونګاښ په ۲۷مه دایره شو، د مرکزي کومیټې غړي عبارت وله: حسن شرق، غلام حیدر رسولي، قدیر نورستاني، فیض محمد، جګړن مولاداد، سرور نورستاني، یوسف فراهي، عبدالله، عبدالحمید محتاط، پاچا ګل وفادار، ضیا او غوث الدین فایق نه.

محمد داؤود هغه کسان چې د چونګاښ د شپږویشتمې نیټې په کودتا کې یې فعال رول درلود، دکابینې د غړو په توګه معرفي کړل. د جمهوري ریاست، عظمی صدارت، بهرنیو او دفاع وزارت دندې یې پخپله پرغاړه واخستې. حسن شرق یې چې د ده د صدارت پر وخت یې د تحریراتو رئیس و، د صدراعظم د معاون په توګه معرفي کړ. هغه په پرچم ګوند کې یو مهم او دکاجي یې د اعتبار وړ سړی و.

همدا راز د ۱۳۵۲کال د زمري پریوولسمه/ د ۱۹۷۳د اګست ۲مه د افغانستان د جمهوریت مرکزي کومیټې یو شمیر نورکمونستان هم دوزیرانو په توګه انتخاب کړل، چې له هغې ډلې نه:

۱– فیض محمد چې عسکري تورن او د کابل په بالاحصار کې د اوپراسیون مدیر و، د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو. فیض محمد له پرچم ډلې سره په مشوره ډیره ژر پخواني والیان عزل او د پرچم غړي یې د والیانو، اولسوالانو او علاقه دارانو په توګه وټاکل.

۲– ډاکتر نعمت الله پژواک یو مشهور کمونست چې له مسکو سره یې نیغې اړیکې درلودې او د ننګرهار ولایت د سره رود د اولسوالي د باغبانیو (باغوانیو) د کلي له چغتایانو نه دی د معارف دوزیر په توګه

۳– عبدالحمید محتاط (د مخابري لومړی بریدمن) چې زیاتره یې له ستم ملي ګوند سره اړیکې درلودې د مخابراتو د وزیر په توګه.

٤– پاچاګل وفادار (تورن) د سرحدونو د چارو د وزیر په توګه.

٥– جیلاني باختري چې د پرچم ګوند برجسته غړی او د ببرک کارمل د ترور (خاله) زوی و، د کرنې د وزیر په توګه

٦– محمد خان جلالر، د کاجي یې مهم غړی چې د محمد داؤود په.را پرځونه کې یې مسکو ته جاسوسي وکړه، د سوداګرۍ د وزیر په توګه

۷– سعید افغاني په کابل پوهنتون کې یو مشهور پرچمي د وزارت د رتبې په حفظ سره د تمییز د رئیس په توګه چې وروسته د اسلامي شؤونو وزیر شو. د کابینې نور غړي په لاندې ډول وو:

غوث الدین فایق (د استحکام جګتورن) د فوائد عامې د وزیر په توګه، ډاکتر عبدالمجید د عدلیه وزیر

په توګه، سید عبدالاله د مالیې وزیر په توګه، پوهاند عبدالقیوم د کانو او صنایعو د وزیر په توګه، پوهاند نظر محمد سکندر (چې په کابل کې سکندرسره مشهور و) د روغتیا وزیر، پوهاند عبدالرحیم نوین د اطلاعاتو او کلتور وزیر، علي احمد خرم د پلان، همدارنګه وحید عبدالله چې په لندن کې یې په افغاني سفارت کې د کاتب په توګه کارکاوه، د بهرنیو چارو د وزارت د معین په توګه وټاکل شول. جنرال عبدالکریم مستغني د ډګر جنرالي په اخستلو سره لوی درستیز اود هیواد د دفاع دویم کس شو. جنرال اسماعیل چې د پاچا پر وخت هم د اطلاعاتي سازمان رئیس و د نور احمد اعتمادي په سنځګړتوب پر خپله دنده پاتې شو.

سره له هغې چې دخلق او پرچم کمونستي ډلې د داؤود له تشکیلاتو نه چندان راضي نه وو، خو دا چې شوروي اتحاد لومړني هیوادو چې د محمد داؤود جمهوري نظام یې په رسمیت وپیژاند، دکمونستانو لپاره ډیره ښه زمینه وه چې ددې نظام په پلوی راپاڅېږي. ببرک کارمل اناهیتا راتب زاد او نور احمد نور هر چیرته د محمد داؤود په ملاتړ اود محمد ظاهر شاه په له منځه تلو دخوشحالي غونډې درلودې. خلقیانو هم په یوه اعلامیه کې له محمد داؤود نه خپل ملاتړ څرګندکړ. کله چې محمد ظاهر شاه د محمد داؤود له کودتا نه خبر شو، په پاریس کې یې د افغانستان سفیر روان فرهادي ته خبر ورکړ چې د سفر خرڅ لپاره څه پیسې ورکړي، خو هغه پاچا ته د پیسو له ورکولو نه ډډه وکړه.

## د محمد داؤود لومړنی مطبوعاتي کنفرانس

محمد داؤود د افغانستان د جمهور رئیس او صداعظم په توګه خپل لومړنی مطبوعاتي کنفرانس، ترکودتا یوه اوونۍ وروسته د ۱۳۵۲ د زمری پر دویمه/د ۱۹۷۳ د جولای ۲٤مه د جمهوري ارګ د باغ په صحن کې د بهرنیو خبریالونو په وړاندې دایر کړ او د خبریالانو پوښتنو ته یې داسې ځوابونه ورکړل.

پ: کولای شې د کودتا او جمهوریت د اعلان دلایل شرح کړئ؟

ځ: کله چې د اصلاح امید کاملاً له منځه ځي او هیواد د بدبختي او تباهي پرلوربیول کیږي او په دولتي دستګاه کې فساد اوج ته رسیږي په هغه وخت کې هر هیوادپال او وطندوست له دې ور اخوا بله وظیفه نه لري او له دغسې یوه اقدام پرته بله لار نهویني.

پ: څه وخت تصمیم ونیول شو چې کودتا ترسره شي او دا کودتا څه ډول سرته ورسیده؟

ځ: نه غواړم دې پوښتنې ته په تفصیل سره ځواب ووایم ولې روښانه ده په داسې حالاتو کې چې له عادي لارو د اصلاح امکان له منځه ځي د انقلابي حرکتو لپاره عملیات پیل کیږي.

پ: د سلطنتي کورنۍ د غړو موقعیت څه دی او په جمهوریت کې څه رول لوبولای شي؟

ځ: د پخواني سلطنت غړي په خیروخیریت کې ژوند کوي، د نوي نظام په راتلو سره د هغوی رول

پای ته رسیدلی دی البته د افغانستان د همیشنیو اتباعو په توګه به وپیژندل شي.

پ: ویل کیږي یو شمیر کسان چې له کودتا سره مخالف وو، د کودتا په جریان کې وژل شوي او یا وروسته اعدام شوي دي ایا حقایق راته ویلای شي؟

ځ: په ډیر صراحت سره ویلای شم چې دا کودتا یوه کامله سپینه کودتا وه ځکه نه دا چې کوم مقاومت ونه لیدل شو، بلکې د ټولو وسله والو قواو احساسات، او د اردو او افغانستان د ټولو خلکو او په ځانګړې توګه د ځوانانو او منورو طبقې ګډون ورسره ملګرې و او دا حرکت یې تأیید کړی دی.

پ: د نوي جمهوریت لپاره څه ډول سیستم په پام کې نیول شوی دی او مرکزي کومیټه به څه رول لوبوي.

ځ: په دې برخه کې د لومړي ورځې په بیانیه کې پوره رڼا اچول شوې ده د ملي نیکبختیا لپاره داسې انقلاب منځ ته راغلی دی چې ټول یې شاهدان دي او هغه یې ثمر ته ورساوه. د هغې تعقیب د مرکزي کومیټې مقدسه او مهمه وظیفه ده. د جمهوریت راتلونکي اساسي قانون په طبعاً هرڅه وټاکي. موږ د داسې هیواد پالو کسانو په لټه کې یو چې د درنو وظایفو د اجرا توان ولري او کومې دندې چې ورسپارل کیږي هغه په ښه توګه، او د دې انقلاب له روحیې سره سم پرمخ بوزي.

محمد داؤود د پښتونستان قضیه یو داسې واقعیت وګڼه چې له هغې نه انکار نه شي کیدای او د هغې حل لاره یې د دواړو غاړو په حسن نظر او پښتنو اوبلو څو په غوښتنو پورې مربوطه وګڼله.

## د جمهوریت لومړنی ټولنیز اصلاحات

محمد داؤود د ټولنیزو اصلاحات په باب پخپل لومړني کنفرانس کې "د اقتصاد وده، د ژوند د سطحې لوړول، د عدالت تأمین او بنیادي او ټولنیز ریفورمونه، د حکومت مهم او لومړني ګامونه" وګڼل(۹).

د داؤود له لومړنیو ټولنیزو اصلاحاتو نه یوهم د بیرغ د شکل او ملي نښان بدلول وو، چې شین رنګ یې د تور او سره رنګ دوه چنده شو. په جمهوریت ورځپانه کې چې د محمد داؤود د رژیم خپرنی اورګان و، د بیرغ درنګ او ملي نښان په باب لیکي: "د جمهوري بیرغ تور رنګ پرافغانستان د پردیو ښکیلاکګرو د تیریو په وړاندې د افغانستان د خلکو د ملي مبارزي علامه، سور رنګ د ښکیلاک په وړاندې د آزادۍ دلاس ته راوړنې لپاره د سربښندنې علامه او شین رنګ امید پخښونکي او دسوکالۍ او نیکبختۍ چې د ۱۳۵۲ د چونګایښ د شپږویشتمې د جمهوري نظام تر شعاع لاندې چې د خلکو د پرمختګ لپاره تأسیس شوی دی، فضا تمثیلوي.

نښان دغنمو له دوه وږو سره چې د کرنیز هیواد علامه، محراب اومنبر د خلکو د دیني زده کړو او

شعایرو، عقاب د افغانستان د تاریخی هیواد د لویښت او اوچت پروازی او د لمر ورانگی په ملی ژوند او دانقلاب په بریاکی د چونگاښ د شپږویشتمی انعکاس ګنل کیږی." (۵)

همدا راز شاهی ارګ په جمهوری ارګ و نومول شو، نوی بانکنوت چی په هغی کی د محمد داؤود تصویرو د ظاهر شاه د دوری د بانکنوتو پرځای بازار ته راغلل او تول بانکونه ملی کړای شول. د افغانستان د آزادی د جشن مراسم بی چی پخوا به دوری پرلوسری نیټه تر سره کیدل، د چونگاښ شپږویشتمی نیټی ته بدل کړل، قومی او سنطقوی اصطلاحات چی د افرادو او خصوصی شرکتونو په نومونوکی وو حذف کړای شول؛ په عریضوکی ساده لیکنه معمول شوه او د ع، ص، ج او دی ته ورته القابو راوړل منع کړای شول، د افغانستان ملی سرود هم بدل کړای شو او د عبدالرؤوف بینوا نوی شعر (څو چی دا زمکه آسمان وی) چی د افغانستان د ملی وحدت تمثیل یی کاوه، رایج شو.

محمد داؤود هڅه وکړه چی په لومړی سرحله کی شاهی کورنی له ځانه لری کړی او فشاریی راوړ چی محمد ظاهر شاه رسماً د افغانستان له پاچاهی نه استعفی وکړی. پاچا هم ددی په بدل کی چی کورنی بی پری وسپارل شی په لاندی ډول خپله استعفا واستوله چی د هیواد په مطبوعاتوکی منعکسه شوه.

## د محمد ظاهر شاه استعفا لیک

ورور جلالتمآب جمهور رئیس

له کومی شپی سی چی د وروستیو جریاناتو خبر و اورید تر دی وخته سی فکر دهیواد خواته متوجه و او د راتلونکی په باب یی اندیښمن وم مګر همدا چی پوه شوم د افغانستان خلکو د خپلو ملی چارو د راتلونکی په باب په غوڅ اکثریت سره د جمهوریت د رژیم سلاتر کړی دی د خپل هیواد د خلکو د آرادی په درناوی ځان د افغانستان له سلطنته مستعفی ګنم او په دی توګه له خپل تصمیم نه تاسی ته خبر درکوم په داسی حال کی چی زما هیله زما د ګران وطن اعتلا ده ځان دیوه افغان فرد په توګه د افغانستان تر بیرغ لاندی ګنم. زما دعا دا ده چی، لوی او توانا خدای دی همیشه زما د هیواد او هیواد والو ساتونکی وی.

محمد ظاهر شاه

۱۳۵۲ د زسری ۲۱ مه

محمد داؤود د دی استعفی لیک تر خپریدو وروسته، د پاچاکورنی ته اجازه ورکړه چی له افغانستانه ووځی. د جمهوریت لومړنی پاسپورټ هغوی ته ورکړل شو. د پاچا دکورنیو غړو بهرته د خپلی پانګی او ملکیت دایستلو حق نه درلود. کله چی هغوی هوایی ډګرته بوتلل شول، په دولت کی د فعالو کمونستانو له خوا په غیر انسانی او سپکه توګه تلاشی شول او د پاچا دکورنی د ښځو شخصی ګانی بی

هم مصادره کړی. يوه ورځ وروسته چې محمد داؤود د ګمرک د مامورينو له دی سلوکه خبر شو، ډير خوا شيني شو.

## د کمونستانو خپلسري

داؤود خپل هدف ته د رسيدو لپاره چې د سلطنت را پرځول وو، د کمونستانو د فعاليتو په باب نا آګاهانه برخورد درلود او دا تولی پيښنی او برخوردونه يې د ملي ګټو په جهت کې توجيه کول. د حکومت تشکيلاتي ورانديزونه غالباً د حسن شرق له خوا اجرا کيدل او يا به د هغه په منځګړتوب د محمد داؤود فرمان صادريده. سره له هغه چې داؤود پوه شوی و چې بايد د جمهوري رياست، صدارت دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو کارونه پخپله د خپل ورور محمد نعيم په مشوره پرمخ بوځي؛ خو بيا هم کمونستانو په دوو برخو کې خپل فعاليتونه پرته له هغې چې د محمد داؤود ليدتوګی ته پام وکړی پر مخ بيول، چې يو د خپلو غړو زياتول او په دولتي اداره کې يې توظيف او بل د خپلو مخالفينو له منځه ورلو.

### الف: په دولتی اداروکی د کمونستانو زياتول

د خلق او پرچم کمونستانو هاند کاوه چې د هيواد په استقرار کې د داؤود موجوديت ديوه سمبول په توګه داسې وساتي چې د دولت تول شاهرګونه د دوی په لاس کې وی. د چونګابڼ د شپږويشتمی نيټې د کودتا په لومړيو ورځو کې نعمت الله پژواک چې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه تاکل شوی و، د ببرک کارمل په مشوره د اتيا تنو پرچمي ښوونکو او يو شمير خلقيانو نومونه د کورنيو چارو وزير فيض محمد ته ورکړل او هغه د حسن شرق له لاری د محمد داؤود تأييد واخست او هغوی يې په تول افغانستان کې د ولسوالانو او علاقه دارانو په توګه مقرر کړل. همدا راز يو شمير نورو بدنامو کسانو دولتي پستونه اشغال کړل چې له هغې جملې نه مولوی عبدالعزيز و چې له خلقي کمونستانونه ګڼل کيده. نوموړی د عدليه وزارت د جمعيت العلما رئيس په توګه وټاکل شو. هغه د حفيظ الله امين له دوستانونه و، اود مجاهدينو د وژلو فتوايي ورکړه.

د ژاندارم او پوليسو په دفترو کې چې د داؤود په وخت کې په خارندوی ونومول شول زيات شمير ظالم او د سرکمونستانو حساس دولتي پستونه اشغال کړل له هغې دلې نه:

جليل نورستاني چې د پوليسو د رتبې ترفيع يې واخسته او د نجيب په وخت کې د خاد وزارت د سرستيال په توګه مقرر شو. غلام فاروق يعقوبي چې د نجيب په وخت کې د خاد وزيرو، صمدازهر چې د

کمونستانو په وخت کې د ژ اندارم او پولیسو قوماندان او وروسته یې د امنیې د عمومي قوماندان په توګه کار کاوه، ډاکتر قطره د وزیر اکبرخان روغتون رئیس، جنرال باقي او اتمر چې د کورنیو چارو د وزارت د پیژند مدیران وو او د کارمل - نجیب په دوره کې د جنرالۍ رتبې ته ورسیدل.

د افغانستان دوالیانو په باب هم فعالیتونه ترسره شول، عبدالاحد شیرزی د زابل والي، عبدالمجید شینواری د نیمروز والي، سید داؤود هاشمي د فراه والي، محمد آصف یاسي یوسفي د بغلان والي، عزیز الله واصفي د ننګرهار والي، عبدالرزاق عابدي د کندز والي، محمود حبیبي د کابل والي، فضل الربي پژواک د هلمندوالي، بیت الله پیلوټ د ارزګان والي، عبدالکریم عمر خیل (دصمد ازهر پلار) د پروان والي، حاجي محمد څمکني د کونړوالي (د تره کي په وخت کې د هو تلونو رئیس او د نجیب په وخت کې د کارمل پر ځای د افغانستان د خلق د دموکراتیک ګوند د انقلابي شورا رئیس) مقرر شول. زیاتره دغه والیان پرچم ګوند ته منسوب وو او یو شمیر یې د کمونستانو پلویان ګڼل کیدل.

په دفاع وزارت کې هم یو شمیر کسان چې له کمونستانو سره یې اړیکي درلودې تر تقاعد وروسته یې د ماموریت حقوق بیرته اعاده او د برحاله مامورینو په توګه مقرر شول چې له هغې جملې نه د ببرک کارمل پلار جنرال محمد حسین خان د پکتیا د قول اردو د قوماندان په توګه د ډاکتر نجیب پلار جنرال اختر محمد په پیښور کې د افغانستان د وکیل تجار په توګه، صاحب جان صحرایي (خلقي) د کونړ ولایت د قبایلو مدیر، خان محمد ځدران (د ګلابزوی ورور) د تورخم د ګمرک د رئیس په توګه چې وروستي دوه کسه د خلق ګوند غړي وو.

### *ب: د مخالفینو له منځه وړل*

کمونستانو هڅه کوله چې د خپلو غیرمسؤولانه او د افغانستان د اسلامي او ملي ګټو پر خلاف اعمالو په واسطه داسي څه ترسره کړي، چې له یوې خوا محمد داؤود په تولنه کې منفور او د مستبد او خپل چاري په توګه معرفي شي او له بلې خوا خپل مخالفین د محمد داؤود د اداري او ځوان جمهوریت تر نامه لاندې تصفیه کړي. هغوی پخپل دې له جنایته ډک پروګرام کې ترتولو لومړی د افغانستان مسلمانو شخصیتونه چې د افغانستان په اطرافو کې یې وجاهت درلود متوجه شول، له هغه جملې نه:

۱- انجنیر حبیب الرحمن د جوانان مسلمان دغورځنګ دویم رهبر چې د افغانستان په اردو کې د نفوذي فعالیتو او د دولت پرخلاف د اردو د منصدارانو د تحریک په تور زندان ته واچول شو. نوموړی د ۱۳۵۳ش کال د زمري په ۱۷مه نیټه، د ۱۹۷٤ د اګست په ۱۸مه په اعدام محکوم او د کرملین د ګوماړل شویو په لاسو شهید کړای شو.

۲- مولانا محمد عطاء الله فیضاني: چې د افغانستان له غوره علماو او مجتهدینونه و او د پښتو او

ACKU

درې ژبو له مشهور لیکوالونه و چې دیوې توطیې په ترڅ کې یې له خپلو مریدانو سره د تروریست په تور ونیو او وروسته د نظامي څانګرې محکمې له خوا په شلو کالو زندان محکوم کړای شو. فیضاني چې په دین کې د متجددینو نه ګنل کیده، په خپله څانګرې لید تو ګه یې د اصلاحاتو وړاندیز کاوه. نوموړی یې د حفیظ الله امین په وخت کې له خپلو مریدانو سره په ډله ییزه توګه شهید کړ. مولانا فیضاني د (جهان زیرتلسکوب قرآن) په نامه کتاب لیکل دی چې له نورو آثارونه یې د پام او ستاینې وړدی. همدا راز هغه له هغو روحاني افرادو نه شمیرل کیږي. چې په پل خشتي جومات کې یې د دولت پرخلاف د افغانستان د علماو په مظاهروکې فعال رول درلود (۱۳٤۹، جوزا)

۳- محمد سرور ناشر: یو مسلمان د ملت خواخوږی او د افغانستان خدمتګار چې خپله توله پانګه یې د هیواد د بیارغاونې په لارکې ولګوله او سپین زر شرکت او قزل کلا یې چې وروسته په شیر خان بندر مشهور شو جوړ کړل. هغه یې د شرکتونو د تفتیش او اختلاس په پلمه بندي کړ او په دوه کاله زندان محکوم شو. کله چې حفیظ الله امین واک ته ورسیدو ورور یې عبدالله امین د شمال زون رئیس چې یو وخت د ناشر د قلم مخصوص مدیر و، هغه له زندانه را خلاص کړ.

٤- جنرال سید میر احمد شاه: د دفاع وزارت یو مسلمان جنرال چې نه یې غوښتل د غلام حیدر رسولي او امروته چې دلوی درستیز په توګه یې کار کاوه غاړه کښیږدي، په ۱۳۵۵کال د اسلامي غورځنګ د یو شمیر نورو غړو لکه استاد سید اسماعیل پاسخ هاشمي او استاد اختر محمد سلیمانخیل او یو شمیر نورو سره د کودتا په تور ونیول شو، او تر څو کاله زندان وروسته د کمونستانو دواکمنې په دوره کې شهید کړای شو.

۵- محمد هاشم میوند وال: کله چې د چونګاښ د شپږویشتمې نیټې کودتا بریالې شوه، د کمونستانو لومړنې فعالیت په وزیر اکبر خان مینه کې د محمد هاشم میوند وال د کور تلاشي وه. میوندوال، محمد نعیم خان ته ته چې پخواني دوست او ملګرې یې و شکایت وکړ؛ خو په دې باب هیڅ پامرنه ونه شوه. د ۱۳۵٤ د وری پر۲۹ مه/د ۱۹۷۳ د اپریل پر۲۹مه د میوندوال د نیولو خبرله دې تورسره یو ځای خپور شو چې له جنرال خان محمد مرستیال سره یې یو ځای د جمهوری نظام پرخلاف کودتا کوله. په دې توطیه کې کمونستانو لوی لاس درلود چې هر څوک وغواړي د تروریست او کودتا چې په نامه ونیسي او زندان ته یې واچوي. په همدې توګه یې یوزیات شمیر پانګوال او لوړ رتبه عسکري منصبداران یې چې د کمونستانو مخالف وو، له صحنې نه وایستل. یو شمیر نوریې هم چې په دې ډول تورونو زندان ته واچول، په لاندې ډول وو: د هوايي مدافعې پخواني عمومي قوماندان ډګر جنرال عبدالرزاق، جنرال ګلبهار خان، تورنجنرال نیک محمد سهاک، تورنجنرال محمد رحیم ناصري، ډګروال ماما زرغون شاه شینواري، د هوايي مدافعې عمومي قوماندان ډګروال سید امیر، جنرال عبدالسلام ملکیار، ډګروال کوهاټ خان،

هوايي سنصبدار ډګروال محمد اکرم، جګړن محمد هاشم کامه وال، په اولسي جرګه کې د کوچیانو وکیل حاجي الله نظر دستوخیل. دشینوارو پخواني وکیل مولوي سیف الرحمن، د اولسي جرګې پخواني غړی سعد الله کمالي ، د پښتني تجارتي بانک رئیس جنت ګل غروال، حاجي الله ګل او مولا ګل سوداګر ورونه، حاجي متان ځاځي محمد عارف شینواری چې په کابل کې یې د رکشا تجارت کاوه.

قدیر نورستاني د سیوندوال د تحقیق او شکنجې لپاره د پرچمیانو یو بدنام هیأت وټاکه، چې عبارت وو له صمد ازهر، ډاکتر قطره، غلام رسول اتمر، عبدالله همکار، فاروق یعقوبي، او نصر الله عمر خیل نه. دې هیأت سیوند وال په بې عزتي، توهین او عذاب شکنجه کړ. سیوندوال د کورنیو چارو د وزارت په زیر زمیني کې تر شکنجو او تحقیق لاندې واقع و. محمد اسماعیل فرمان د داؤود د ملي مصونیت رئیس د روسانو د سفارت او کارمل په سپارښتنه داؤود ته جعلي اسناد وړاندې کړل او د هغې پراساس یې د جنرالي یوه ترفیع رتبه هم واخسته. سیوند وال شپه او ورځ د صمدازهر ترلغتو لاندې شکنجه شو تردې چې شهید شو. سیوندوال تر شهادت یوه ورځ دمخه د کورنیو چارو د وزارت له زیر زمیني نه په کوما حالت کې د همزنګ ته یوړل شو. دا صحنه عبدالملک عبدالرحیمزي چې پخپله هلته بندي و، لیدلې وه. یو بل شاهد ډاکتر بالمکنداس د کابل پوهنتون د عدلي طب رئیس دی. وروسته یې اقرار وکړ چې حتی په خپل رپوټ کې یې لیکلي وو چې: "د محمد هاشم سیوندوال اصولي معاینات عملي نکړای شول" او وایي چې "د سیوندوال د انتحار په هکله د عدلي طب تأیید په زور او جبر سره واخستل شو" صمد ازهر د افغانستان یو لوی جنایتکار د سیوندوال او یو شمیر جنرالانو د قاتل په توګه پیژندل شوی او په تاریخ کې ثبت شوی دی.

کوم تورن کسان چې په مختلفو کلو په زندان محکوم شول هر یوه په کومو اعترافونو چې وبې کړل، له شکنجونه د خلاصون یوازنۍ لا همدا درواغجن او تپل شوی اعترافونه ګڼي چې د روسانو او کمونستانو په واسطه د محمد هاشم سیوندوال پر خلاف بې توطیه جوړه کړای شوې وه.

جنرال خان محمد مرستیال، ډګروال ماما زرغون شاه شینواری عارف ریکشا، ډګروال سید امیر او مولوي سیف الرحمن چې لاسونه یې شاته تړل شوي وو د خلورسې زغره والي قوا تعلیمي میدان ته بوتلل شول او دیوالونو ته ودرول شول، توری پردې یې پرمخونو اچول شوي وې او دماشنیدار تولۍ ته حکم وکړای شو چې ګولۍ پرې وچلوي او په دې توګه یې هغوی شهیدان کړل.

یو افغان محقق د محمد هاشم سیوندوال او عبدالملک عبدالرحیمزي د کودتا په باب لیکي: "د سیوندوال د نیولو توطیه، اتلس کاله وړاندې د عبدالملک خان عبدالرحیمزي د نیولو توطیې ته چې داؤود په واک کې و، زیات ورته والی لري:

۱– عبدالرحیمزی او سیوندوال دواړه پیژندل شوې شخصیتونه او د محمد داؤود نژدې دوستان وو.

۲– دواړه د امریکا تر سلا تړ لاندې په کودتا تورن شول.

۳- د دوارو په باب پرته له یوه راپوره چې دولت لاس ته راوړی و، او د هغې له مخې یې پریکړه وکړه، نور اسناد نشته.

٤- میوندوال، تر شکنجې لاندې ساه ورکړه او که نه په عمري قید هم محکومیده، عبدالرحیمزی هم ۲۳ کاله په زندان کې تیر کړل.

٥- د دواړه لپاره یې یو شمیر جنرالان هم ونیول"(٦)

## د اسلامي غورځنګ غبرګون او د محمد داؤود وارخطایي

څرنګه چې د جوانان مسلمان (حزب اسلامي) غورځنګ د محمد ظاهر شاه د سلطنت په وروستیو کې د محصلینو په اتحادیه کې تر ټولو زیاتې کرسۍ ترلاسه کړې، د محمد داؤود په کودتا سره د پوهنتون د محصلانو فعالیتونه ترکلکې څارنې لاندې وو او کمونستان ډیر جدي شوي وو. د دولت حساسې کرسۍ له هغې جملې نه ملي مصونیت د کمونستانو په واک کې و. د افغانستان اسلامي غورځنګ او د انجنیر حبیب الرحمان په مشرۍ د هغه چلوونکې شوراکوښښ وکړ چې د غورځنګ د غړو روحیه له تأثر نه په خوځښت بدله کړي. د نظامي چارو مسؤولیت هم د هغه پرغاړه و او فرهنګي برخه ګلبدین حکمتیار اداره کوله. اسلامي غورځنګ هغه مهال خپل پام زیات اردو او نظامي چارو ته واړاوه. د ۱۳۵۲/۱۳۷۳ په نیمایي کې د اردو یو زیات شمیر منصبوالو له اسلامي غورځنګ سره ژمنه وکړه، او لږ وروسته د انجنیر حبیب الرحمن په مشرۍ دیوه ستر نظامي پاڅون طرح تیاره کړای شوه؛ خو د یوه شمیر نفوذي او منافقو افرادو د خیانت په اثر د دې غورځنګ نظامي تحرکات دولت ته افشا شول او انجنیر حبیب الرحمن ددې پاڅون د لومړي کس په نامه ونیول شو. (د اسلامي غورځنګ یو مهم غړي چې له انجنیر حبیب الرحمن سره یوځای نیول شوی و، هغه نفوذي سړي چې د داوود اتقاد ته یې هر څه افشاکړل عزیز الرحمن بنی چې هغه مهال په حبیبیه لیسه کې شاګردو او د کمونستانو په دوره کې د جنرالي رتبې ته ورسید او له جنرال تنې سره تر ناکامي کودتا وروسته یوځای پیښور ته وتښتید - ژباړن)

د خلکو د نا رضایتې په زیاتیدو او دا چې د هیواد زیاتره خلک په پریشانۍ او اختناق کې اوسیدل، تحرکاته زیات شول د (جوانان مسلمان) غورځنګ هم د محمد داؤود سیاسي موقعیت ښه پیژندلای و، چې دکمونستان او روسانو په انحصار کې واقع شوی دی، او پخپله دا سازمان هم ترفشار لاندې واقع و او بله چاره یې نه لیده پرته له دې چې په ټول هیوادکې په نظامي او تهاجمي عملیاتو لاس پورې کړي.

د جوانان مسلمان غورځنګ چې د مسلمانانو او علماو په غړیتوب سره د اسلامي نهضت یا حزب اسلامي په نام مشهور شوی و او دیو زیات شمیر ځوانانو او علماو له سلاتړ نه برخمن و، وبي نشوای کړای د فشار د یوې قوي په توګه چوپ پاتې شي. د دې نظامي عملیاتو قومانده دا ځل د ګلبدین حکمتیار

پرغاړه وه. کله چې د نظامي عملیاتو پروګرام په شورا کې مطرح شو، برهان الدین رباني نه دا چې مخالفت وکړ، بلکې هغه یې یوه تهلکه وګڼله او خپله تردې عملیاتو د مخه مصرته ولاړ. مولوی خالص لا دمخه پاکستان ته تللی و.

حبیب الرحمن چې په دې برخه کې ځومره اطلاعات درلودل ټول یې د سرې لیکونو په واسطه حکمتیار ته انتقال کړل، چې د هغو اطلاعاتو په رڼا کې په اردو کې د حکمتیار فعالیتونه اغیزمن ثابت شول. حکمتیار یو زیات شمیر مسلمان نظامیان تنظیم کړل، خو عجولانه اقدامات او د یو شمیر کسانو افشا د نظامي افسرانو په نیولو پای ته ورسیده.

محمد داؤد پوه شوی و چې جوانان مسلمان، د نظام د اعمالو په وړاندې بې تفاوته نه پاتې کیږي ځکه یې د دې غورځنګ د غړو په تشخیصولو سره د جوانان مسلمان ډیر غړي ونیول او زندان ته یې واچول. ګلبدین حکمتیار ددې نهضت د یوه منصبوال غړي جګتورن شیر علي په کور کې محاصره و چې له هغه ځایه تر تیښتې وروسته د شمالي قرزې ته ولاړ او د نظامي عملیاتو اجرایي یو مهم ضرورت ګڼه.

دا چې د اسلامي غورځنګ (جوانان مسلمان) یو زیات شمیر کسان زندان ته اچول شوی وو او د روسانو او خلقي، پرچمي کمونستانو فعالیتونه هم د مسلمانانو پرخلاف ګړندي او پراخ شوی وو، حکمتیار د نظامي عملیاتو طرح جوړه کړه، چې په یوه وخت کې یې په کابل، لغمان، بدخشان، غزنې، پکتیا او پنجشیر کې عملي کړي. د ۱۳۵٤ د چونګابن ۲۸مه/ د۱۹۷۵ د جولای ۱۹مه چې د جشن او چونګابن د شپږویشتمې دریمه شپه وه، د نظامي عملیاتو طرح جوړه شوه، د کابل د عملیاتو قومانده د حکمتیار پر غاړه وه، په دې ډول چې د جشن په دریمه شپه کله چې محمد داؤد د مرنجان غونډۍ لاندې د جشن منطقې ته راځي، د بریښنا د مزي په پرې کولو سره چریکي عملیات پیل شي. په لغمان کې د داسې چریکي عملیاتو قومانده د مولوي حبیب الرحمن، په پنجشیر کې د سیف الرین نصر تیار او خواجه محمد محفوظ، په کشم کې د ډاکتر محمد عمر په سره رود او کونړ کې د استاد ګل محمد او محمد مالک پرغاړه وه. که څه هم دا عملیات دبې تجربګۍ اونه تنظیم له امله له ناکامۍ سره مخ شول او یو شمیر قوماندان ونیول شول، خودې مخالفت د یوه لوی تحرک په توګه محمد داؤود وارخطا کړ او هغه یې دې ته ار ایست چې له روسانو سره په خپله سیاسي تګلاره او د کابینې په غړو کې بیاکتنه وکړي.

د ۱۳۵۵ش/۱۹۷۸م په وروستیو کې د داؤود د رژیم اختصاصي نظامي محکمې د اسلامي غورځنګ درې تنه غړي په اعدام، ۲۳تنه یې په عمري قید، او پاتې یې د مختلفو مودو په حبس محکوم کړل. په اعدام محکوم کسان عبارت وو له:

۱- مولوي حبیب الرحمن، ۲- دکتور محمد عمر، ۳- خواجه محمد محفوظ منصور. هغه کسان چې په دوام حبس یا اوږدې مودې قید محکوم شول دا وو:

٤- پوهاند غلام محمد نیازي، ٥- انجنیر سیف الدین نصر تیار، ٦- استاد غلام رباني عطیش، ۷-

سید عبدالرحمن، ۸- شاه ابدال، ۹- عبدالستار مستوفي، ۱۰- محمد نسیم طارق مسمیار، ۱۱- انجنیر شفیق، ۱۲- انجنیر عبدالعالم، ۱۳- شیر علی خان ساتک، ۱٤- عبدالحمید، ۱۵- سحرګل زلمی، ۱٦- مولوی عبدالرشید، ۱۷- دکتور ولی جان، ۱۸- نادر خان بدخشي، ۱۹- عبدالقیوم، ۲۰- عبدالغفور لالا، ۲۱- استاد عبدالقادر توانا، ۲۲- سید عمر، ۲۳- انجنیر محمد عمر، ۲٤- انجنیر محمد زمان، ۲۵- سید احمد، ۲٦- استاد عبدالحبیب، ۲۷- استاد مولوی محمد ابراهیم همیم کاکړ، ۲۸- استاد سربلند، ۲۹- سید خلیل آغا، ۳۰- انجنیر عبدالصبور، ۳۱- انجنیر غلام نبی، ۳۲- غلام حضرت منیب، ۳۳- احمد شاه، ۳٤- محمد شاه، ۳۵- قاری محمد عمر، ۳٦- استاد محمد آصف خان، ۳۷- ضیاء الدین پیلوټ، ۳۸- عبدالوهاب خان، ۳۹- صادق خان، ٤۰- عبدالواحد خان، ٤۱- قاضي نجیب الله، ٤۲- دکتور عبدالشکور، ٤۳- انجنیر عتیق الله، ٤٤- عبدالحمید، ٤۵- محمد نسیم بهار، ٤٦- محمد کاظم شارقي، ٤۷- عبدالعظیم، ٤۸- عبدالقیوم، ٤۹- غلام سخي واثق، ۵۰- قاری معصوم، ۵۱- مولوی امیر محمد، ۵۲- مولوی غلام حضرت، ۵۳- محمد نسیم، ۵٤- مولوی حمید الله (صاحب حق)، ۵۵- مولوی محمد نسیم عابد، ۵٦- عبدالغفورلالا، ۵۷- مولوی صادق، ۵۸- مولوی عزیز الرحمن، ۵۹- دکتور شمس الحق، ٦۰- طاهر خان، ٦۱- عظیم الله، ٦۲- قاری اعظم، ٦۳- شاه جهان، ٦٤- انجنیر وزیر محمد، ٦۵- انجنیر عبدالحی، ٦٦- انجنیر عبدالرزاق، ٦۷- معلم محمد امین، ٦۸- محمد خطاب، ٦۹- نادر خان، ۷۱- استاد نذیر خان، ۷۱- محمود شاه، ۷۲- حامد شاه، ۷۳-سید باز، ۷٤- ظاهر خان، ۷۵- استاد فضل الربی، ۷٦- عبدالعظیم، ۷- اصغر محمد، ۷۸- مهدی خان، ۷۹- دکتور شاه ولي، ۸۰- سلیم خان، ۸۱- آقا محمد عایل، ۸۲- استاد سید اسماعیل پاسخ هاشمي، ۸۳- استاد اختر محمد سیلمانخیل، ۸٤- عبدالستار، ۸۵- طاؤوس خان، ۸٦- نور خطاب، ۸۷- عبدالحق، ۸۸- ګل رحمن، ۸۹- فضل الرحمن، ۹۰- عبدالاحد، ۹۱- نورالحق، ۹۲- استاد سید احمد، ۹۳- محمد قاسم، ۹٤- محمد الله، ۹۵- حاجي سمیع الله، ۹٦- حاجي عبدالغفار، ۹۷- استاذ عبدالرحمن البینګاري، ۹۸- محمد طاهر میداني وال، ۹۹- محمد طیب، ۱۰۰- استاد ګل محمد وردک، ۱۰۱- تورن عبدالهادي مشهور به "پدر"، ۱۰۲- مولوی عبدالهادي، ۱۰۳- سهیل منګل، ۱۰٤- مولوی دوست محمد، ۱۰۵- مولوی ګل رحمان دیوبندي (په ۱۳۵۵کال کې د شپږو میاشتو لپاره بندي پاتې شو). ۱۰٦- خلیل الرحمن مشهور په جمال احمد (اوس دکتور خلیل الرحمن رحماني) (٤ میاشتې زنداني و او د مولوی صاحب دیوبندي زوی دی) ۱۰۷ محمد کریم "رحیمي" (د لنډې مودې لپاره)

د اسلامي غورځنګ د پاتې کسانو نوموړنه سي تر اوسه نه دي پیدا کړي، (د اسلامي نهضت د لنډې تاریخچې په باب دې د دې کتاب اووم څپرکی، تاریخ نهضت های اسلامي ددې کتاب د لیکوال لیکنې او څېړنې ته مراجعه وشي)

محمد داؤود د یو شمیر کمونستان له کابینې نه وایستل او د سفیرانو په توګه بې مقرر کړل. له همغې

جملې نه د کورنیو چارو وزیر فیض محمد په جاکارتا (اندونیزیا)، پاچاګل وفادار په لیبیا او د مخابراتو وزیر عبدالحمید محتاط په توکیو (جاپان) کې مقرر شول. د روغتیا وزیر نظر محمد سکندر، دکرنې وزیر غلام جیلاني باختري، د پوهنې وزیر نعمت الله پژواک او د تمییز رئیس سعید افغاني له کاره ګوښه کړای شول او بې کاره پاتې شول.

محمد داؤود چې ډیر وارخطاً شوی و، پوه شو چې غلطه سیاسي تګلاره یې خپله کړې ده او دافغانستان ملي مصلحت د کمونستانو د اعمالو او روسانو په سیاست کې راګیر دی. د خلکو د جلبولو په خاطر یې هرات ته سفر وکړ او هلته یې خلکو ته اعتراف وکړ چې هدف یې د افغانستان ملي مصلحت دی او خلک باید هغه کوم خاص سیاسي ګوند ته منسوب نه کړي.

## دافغانستان خلکوته خطاب

محمد داؤود د ۱۳۵۲ د وږي پر لومړی/د۱۹۷۳م د آګست پر۲۵مه د (خطاب به مردم افغانستان – د افغانستان خلکوته خطاب). تر سرلیک لاندې خپله سیاسي تګلاره ملت ته بنکاره کړه. هغه د استقلال د استرداد او افغان اولس سربښندنو د یادولو په لړ کې اعلیحضرت امان الله خان او اعلیحضرت محمد نادر شاه یادکړل او یې ویل: "مونږ غازي اعلیحضرت امان الله خان او غازي اعلیحضرت محمد نادر شاه او هغو مشرانو ته چې له بیګانه و سره د مجادلې په لومړی لیکه کې ولاړ وو، او د دې خاورې قربانیانو ته چې په فطري رشادت او آزادۍ غوښتنې سره یې د ازادۍ په لار کې سرونه ورکړل، د تقدیر او درناوي په سترګه ګورو او د استقلال د جګړې د ټولو شهیدانو ارواو ته زیات درودونه استوو."

هغه د سلطنت پر دوره په انتقاد سره او دا چې خپلې کورنۍ او طبقاتي ګټې یې د ملي ګټو او هیواد د محرومو طبقو په لار کې قربان کړې و ویل:

"پخواني رژیم د محرومو طبقو د ګټو او مصلحتو، د رښتینې دموکراسۍ او هیواد د پرمختګ پر خلاف عمل وکړ. زمونږ ګران هیواد افغانستان پریمانه طبیعي زیرمې، حاصلناکه خاوره، با استعداد او خواري کښ نفوس او زورتمدن لرې خو زمونږ د هیواد او خلکو حالت ددې ټولو مساعدو عواملو پر خلاف، د تیر منسوخ رژیم دواک په اثر دردوونکی دی" (۷)

محمد داؤود په ملي مسأله کې د ګډ ملي فرهنګ را منځ ته کول او تبعیض له منځه وړل عنوان کړل. د صنایعو په وده او د ملي اقتصاد په تعادل کې یې شخصي پانګې اچونې تشویق کړې. د هیواد د مالیو سیستم یې پرغیر مستقیم د مستقیم مالیاتي رجحان پر اساس، او یازمکنې اصلاحات د دولت له بنیادي پروګرامونو نه معرفي کړل. لکه چې د داؤود د زمکنیو اصلاحات پروګرام داسې سنجول شوی و چې زمکه وال فیودالان او خانان د زیاتې مالیې په ورکولو، مجبور شوي وو چې د خپلو زمکو یوه برخه د زمکنیو

اصلاحاتو په پروژه کې مستحقو کرګروته ورکړي. ددې پروګرام پر اساس زیاتره لوی زمکه وال د داؤود د تولنیزو اصلاحاتو د تګلارې مخالف شوي وو او د مسلمانو سبارزینو خوا ته یې تمایل وښود.

محمد داؤود په لومړي دويم او دريم پنځه کلن پلان باندې په انتقاد سره د هغو د ثمرته نه رسیدو عوامل د کار له فیصدۍ سره بیان کړل: د صنعت، سوداګرۍ او ترتولو مهم دکرنې په و ده یې چې زموږ د هیواد په سلوکې نوي محصولات تشکیلوي، زیات تینګار وکړ. د افغانستان خلکو ته خطاب یا وینا (خطاب به مردم افغانستان) د محمد داؤود دکتورین وو چې غوښتل یې د هغې پر مبنا تولنیز، سیاسي او اقتصادي اصلاحات په افغانستان کې تطبیق کړي.

## د محمد داؤود اساسي قانون او لويه جرګه

محمد داؤود هاند وکړ چې د لويې جرګې په د ايرولو سره وکړای شي خپل نظام ته قانوني بنه ورکړي او خپل سیاسي اقدامات د لويديځ خواته متمایل کړي. همدا راز هغه وعده کړې وه چې نوی اساسي قانوني به جوړ شي. په دې خاطر يې پخواني صدراعظم موسی شفيق چې د کمونستانو په واسطه د صدارت په زیمناکه زیر زمیني کې بندي او فلج شوی و، بیرته تر تداوي لاندې ونیو او له زندانه را پريښودای شو. موسی شفیق دنوي اساسي قانون په تدوین کې د محمد داؤود فکر له سره سم چې د دموکراتيک جمهوريت ترنامه لاندې ديو حزبي نظام د تشکیل غوښتونکي و، د اساسي قانون مسوده جوړه کړه. دا قانون د محمد داؤود له خوا تأیید شو او د هغه د توشیح او محمد داؤود د جمهوري رياست د قانوني کولو يوازني لاره لويه جرګه وه.

د لويې جرګې لومړني اقدامات په ولايتو، ولسواليو او علاقه داريو کې د کورنيو چارو د وزارت له خوا پيل شوي وو. محمد داؤود پريکړه کړې وه چې کوم کسان دلويې جرګې دغونډې له اجندا او طرح شوي اساسي قانون سره مخالفت کوي، باید په لويه جرګه کې د ګډون مجال پیدا نکړي. د داؤود باوري کسانو هڅه کوله چې داسې کسان په دې غونډه کې د ګډون لپاره کانديد کړي، چې دهغې جرګې له پريکړونه سرغړونه ونه کړ. او په دې توګه هغوی د دولت د رئيس په وړاندې خپل اخلاص وښود. د کورنيو چارو وزارت، ولسوالانو او علاقه دارانو ته ويلي وو چې خپل معرفي کړي کسان تضمين کړي. د مقدماتي کار لپاره باید له هرې حوزې او ولسوالي نه شپږ تنه اعتمادي افراد ولايت ته معرفي کړای شي او ولايت له هغو نه درې کسه تضمين او مرکز ته يې واستوي بيا مرکز له دې دريوکسانو نه يوکس دهغې محلي د نماينده په توګه غوره او د لويې جرګې دغړيتوب لپاره يې معرفي کړي.

د دې پروسې تر تکميل وروسته، د لويې جرګې ټول غوره کړای شوي غړي د ۱۳۵۵ش د سلواغې پر۲۵ مه/د ۱۹۷۷د فروری ١٤ مه د لومړنيو غونډو لپاره د پولي تخنيک پوهنځي په ليليه کې ځای پرځای

کړای شول. هغوی د طرح کړای شویو پروګرامونو په تطبیق، او اساسي قانون د مسودې په څېړنه مکلف وو. داوني په پای کې د هغوی دمشغولتیا لپاره کنسرتونه محفلونه، میلمستیا وې او د جلال آباد زراعتي فارمونو ته سیر و سیاحت په پام کې نیول شوی و. د دولت لوړ رتبه غړي او لوړ رتبه منصبوال هم د لویې جرګې په غړ وکي شامل وو.

د ۱۳۵۵ ش د کب پر پنځمه:د ۱۹۷۷ د فبروري پر ۲٤مه د لویې جرګې غونډه د کابل د عامې روغتیا په تالار کې د کرنې د وزیر عزیز الله واصفي په ریاست پرانستل شوه. د دې غونډې منشیان د آریانا لیسې ښوونکې محمد علي هزاره او د ښوونې او روزنې مدیر میر حبیب سهیلي وو. هغوی د اساسي قانون مواد پرته له علني مناقشې او مخالفته ولوستل چې د رایو په ډېربښت تصویب شول. د محمد داؤود د اساسي قانون موادو د جمهوري ریاست په برخه کې د شپږ اویا یمې مادې پر اساس، د جمهور رئیس د کارموده شپږ کاله ټاکلې وه. د یادونې وړ داده چې د خلکو د سیاسي شعور د نشتوالي له امله په افغانستان کې یو حزبي حکومت په پام کې نیولی شوی و. دا جمهوریت، د نوی اساسي قانون د شلمې مادې سره سم؛ (د افغانستان دموکراتیک جمهوریت) ونومول شو.

په دې اساسي قانون کې د اجرائیه، قضائیه او مقننه قواو ترمنځ تفکیک نه و موجود او د عمومي انتخاباتو، آزادو مطبوعاتو د قانون او بیان د آزادۍ په باب پکې څه نه وو ویل شوي. د جمهوري ریاست په اساسي قانون کې د جمهوري ریاست د مقام لپاره د ځان د کاندیدولو په اړه د څو ځلو لپاره کوم قیدنه وایښول شوی. د دې قانون په (۲۱مه) ماده کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه درلوده، په داسې حال کې چې لویې جرګې د اعتماد دسلبولو او یا اجرائیه قوې د څارنې صلاحیت نه درلود. په دې قانون کې جمهور رئیس په هیڅ ډول مسؤولیت نه لرلو تمثیل شوی و او د نورو افرادو محاکمې او نظارت هم پیچلې بڼه درلوده. په دې لویه جرګه کې تصمیم ونیول شو چې باید د افغانستان راتلونکې جمهور رئیس و ټاکل شي په داسې حال کې چې دجمهور رئیس د انتخاب تګلاره کاملاً تصنعي وه او ملت پوهېده چې دا ټول اقدامات د محمد داؤود د جمهوري نظام د قانوني ښوولو په خاطر دي. هغه پخپله هم د لویې جرګې دغړو په لیکه کې ناست و او ځان یې د جمهوري ریاست لپاره کاندید نه کړ چې غونډه رښتیني او د دموکراتیکه بڼه غوره کړي.

د دې غونډې یوې ښځینه غړې اعلان وکړ چې محمد داؤود باید ځان د جمهوري ریاست لپاره کاندید کړي او عزیز الله واصفي ددې لپاره چې غونډه دیموکراتیکه وښيي، وویل: خورې! محمد داؤود خان نه کاندیدوي. د ژاندارم او پولیس پخواني قوماندان وریښمین خان چې د غلام حیدر رسولي په تضمین غونډې ته راغلی و، په دې تصور چې داؤود خان رښتیا هم نه غواړي ځان کاندید کړي، پاڅېد

اوویې ویل:

که رئیس صاحب دولت یې نه کوي نو رسولي صاحب دی کاندید شي. په هغه پسې په لویه جرګه کې د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ نماینده حاجي عبدالوهاب پاڅېد او ویې ویل: که یې رښتیا رئیس صاحب دولت نه کوي نو تکلیف مه ورکوئ...

واصفي د خبرو لړۍ پرې کړه او محمد داؤود خان کاندید کړ. دویم رقیب هم نه و موجود، هغه د لویې جرګې د غړو په غوښ اکثریت غوره شو او دیوه اتل او غوره کړای شوي زعیم په توګه یې پرولیو پورته کړ او یادګاري عکسونه یې واخستل:

## یو حزبي سیستم او د آزادو مطبوعاتو د قانون الغا

محمد داؤود خپل د دولت ریاست په قانوني کولو سره ځانته دیوه داسې سیاسي ګوند د تشکیل زمینه برابره کړه چې په اساسي قانون کې دهغه په باب یوه ګونګه یادونه شوې وه. تردې دمخه په کابینه کې بدلونونه منځ ته راوستل شول. ډاکتر حسن شرق چې محمد داؤود ته نژدې سړی او په کاجي یې پورې له ترلو کمونستانو و، د صدارت له مرستیالۍ نه لرې او په توکیو کې د افغانستان د سفیر په توګه مقرر کړای شو. محمد داؤود دیو حزبي سیستم د تأسیس او اجرا په اړه په کار پیل وکړ. هغه یوکمیسیون جوړ کړ چې غړي یې حیدر رسولي، ډاکتر عبدالمجید او پاس یوسفي وو چې دې ګوند ته دخلکو د جلب او جذب په خاطر یو پراخ کار پیل کړي. ددې کار لپاره د دولت یوه اندازه بودجه تخصیص کړای شوه. دا ګوند چې په (ملي غورځنګ) مشهور دی په مالیې وزارت کې یې سازماندهي کېدله او په زیاترو ادارو او پوهنتوني مرکزو کې په دې اړه پرله پسې کوښښونه کېدل چې د لیک لوست خاوندان او روښانفکران دې ګوند ته جذب کړي. د ملي غورځنګ اصلي مرام (خدای هیواد او رهبر) و. کمونستانو چې د محمد داؤود د سیاسي تګلارې په تغییر باندې پوه شوي وو، د مسکو په لارښوونه په تکتیکي ډول په ملي غورځنګ کې هم غړیتوب ترلاسه کړ چې په راتلونکې کې د افغانستان له سیاسي ډګره لرې پاتې نه شي. په دولت کې یو شمیر لوړ رتبه مسلمانانو هڅه وکړه چې، دې ګوند ته مسلمان ځوانان جلب او جذب کړي چې په راتلونکې کې د کمونستانو په وړاندې دیوه بدیل په توګه ځای ولري.

محمد داؤود تریوه حده د خپلو مسلمانو مامورینوله تګلارې نه خوښ و او تصوریې کاوه چې ددغسې قوت په راتګ سره په راتلونکې کې کولای شي د اسلامي غورځنګ (جوانان مسلمان) په وړاندې مقاومت وکړي او هم د کمونستانو په شړلو کې یوه بالفعله قوه وي. د جمهوریت ورځپاڼې رئیس ډاکتر سهیل، دانیس ورځپاڼې رئیس سرشار روشني او د کابل پوهنتون رئیس پوهاند عبدالسلام عظیمي د مسلمان کدرله جملې او د مسلمانانو په وړاندې د نرمښت او د محمد داؤود د رهبرۍ له کدرنه

د کمونستانو د لری کولو پلویانو وو. هغوی په مطبوعاتي فرهنګي او تربیوي مرکزونو کی د جلب وجذب پروګرامونه پیل کړی وو.

محمد داؤود په خپله تاریخی بیانیه "خلکو ته خطاب"کی ویلی وو. "جمهوری دولت به د مطبوعاتو د پراختیا اودیموکراتیکو خپرونو لپاره د خلکو دویښتا به په خاطر، مؤثر کومک وکړی، او د تیاتر ملی هنرونه، سینماګانی او رادیو به تقویه او پراختیا به ورکړی او همدا راز به په ګران هیوادکی د تلویزیون د شبکی د ایجاد لپاره په لازم وخت کی اقدام وکړی"(۸)

د دولت خپرنی سیاست، د افغانستان د بی طرفی پر سیاست، افغانی اصالت، یووالی، خپلواکی او ملی حاکمیت بنا و. د اطلاعاتو او کولتور وزارت د جمهوریت په لومړی کال، د مطبوعاتو مقرره تسوید او تصویب کړه چی د هغی دلار ښوونی پر اساس د دولت ترنظر لاندی ګنوری او سالمی خپرونی پراختیا وموندی.

## د محمد داؤود د سیاسی تګلاری بدلون

محمد داؤود د افغانستان د نړیوالو اوضاع او نړیوالو اړیکو په درک کولو سره یوه شو چی که همغسی په روسانو تکیه ولري نو له بهرنی نړی سره به په سیاسی انزوا کی پاتی شي. په کابینه کی بدلون راوستل د محمد داؤود په سیاسی تګلاره کی د بدلون لومړنی ګام ګڼل کیده، په ځانګړی توګه بی چی کله حسن شرق له ځانه لری کړ: خو بیا بی هم هیله درلوده چی د اقتصادی پروژو په تکمیل او د هیواد په بیارغاونه کی له مسکو سره تفاهم ولري. د پښتونستان په مسأله کی که څه هم دا مسأله بی دافغانستان اصلی داعیه او د هیواد پوازنی کړکیچ ګڼلی و خو محمد داؤود درک کړه چی، روسان غواړی افغانستان مازی د امریکایانو لپاره د یوه سنه بدیل او په سیمه کی د فشار د قوی په توګه وساتی او عملاً نه غواړی ځان په یوه سیاسی - نظامی ملاتړ کی راګیر کړی. محمد داؤود په پورتنی مسأله کی د خپل دریځ په بدلولو سره، پاکستان ته د سفر لپاره د ذوالفقار علی بوټو بلنه ومنله او د ۱۳۵۵ په زمری/۱۹۷٦ اګست کی بی پاکستان ته سفر وکړ. د ۱۳۵٦ش په تله د ۱۹۷۷ په اکتوبر کی چی په پاکستان کی رژیم بدل شوی و، د پاکستان نظامی واکمن جنرال محمد ضیاء الحق د محمد داؤد په بلنه کابل ته سفر وکړ او د پښتونستان مسألی ته د حل لاری د پیداکولو په خاطر بی دوستانه مذاکرات ترسره کړل. له بلی خوا کوسی اړیکی چی محمد داؤود له بلو چو ګوندونو او عوامی نیشنل ګوند او خان عبدالغفار خان، خان عبدالولی خان، اجمل خټک او د دوی په څیر له نورو شخصیتو سره درلودی، درک کړه چی دا دلی او افراد پرته له دی چی له افغانستانه یوه بده سیاسی ګټه واخلي، نور د پښتونستان د قضیی په درد نه خوری. له بلی خوا له ځانه د کمونستو ګوندونو د غړو لری کول د محمد داؤد او صوبه سرحد د ګوندونو اړیکی

سرې کړي.

پرچمیانو هم چې اوضاع پخپله ګټه نه لیده، له خلقیانو سره دنژدې والي لپاره تمایل وښود. چې که وکړای شي دیوه ائتلاف په وسیله پر داؤود سیاسي فشار راولي. په پیل کې نور محمد تره کي وغوښتل چې د پرچمیانو په لرې کولو سره د خپل سیاسي ګوند په ګټه ګام واخلي. نوموړي څو ځلې ارګ ته ولاړ اووبي غوښتل چې له محمد داؤود سره وګوري، خو محمد داؤود له هغه سره له کتنې نه ډډه وکړه. خلقیانو د پښتنو قومونو یو شمیر بانفوذه مشران هم د خیرخواه افرادو په توګه محمد داؤود ته واستول چې که نور محمد تره کي د هغه له ګوند سره محمد داؤود ته نژدې کړي؛ خو محمد داؤود هغو ته په صراحت سره ویلي وچې" زه اوس پرچمیانو ته په سلام او نژدې کیدو هم پښیمان یم."

خلقیانو او پرچمیانو د روسانو په مشوره په هغه غونډه کې چې له دار الامان سره نژدې یې د روسانو په سفارت کې درلوده، مجبور کړای شول چې د ځان دبقا او د روسانو دګټو د ساتنې په خاطر، سره ائتلاف وکړي. ضمناً هغوی ته ویلې شوي وو چې د محمد داؤود پر خلاف له ظاهري تخریباتو نه ډډه وکړي چې د کمونستانو په وړاندې تردې نور حساس نه شي؛ خو په اردو او تولنیزو سازمانو کې د محمد داؤود فعالیتونه له سربښت سره مخ کړي او یا یې په غیر مستقیمه توګه تخریب کړي. همدا راز هغوی ته دستور ورکړل شوی وچې، یو شمیر یې د ملي غورځنګ نوي تأسیس شوي ګوندته تمایل وښيي چې په راتلونکې کې هم نفوذې لاره ولري.

اوضاع که څه هم آرامه معلومیده؛ خو په دولتي سازمانو کې بدلون لیدل کیده. که څه هم محمد داؤود د خلق – پرچم ګوند له ائتلاف نه خبر شو، مګر د قدیر نورستاني د راپورونو له مخې یې دا هڅې ډیر جزوي ګڼلې وې. روسانو له دولت سره د نفوذ او اطلاعاتو له یوازني مرجع محمد خان جلا لرنه چې لاهم په کابینه کې د سوداګرې وزیر و، او په تولو سشورو او سفرو کې به له محمد داؤود سره ملګرې وګټه اخسته او د داؤود سیاسي تګلاره یې تعقیبوله.

د ۱۳٥٦ش په پای/د ۱۹۷۸ په پیل کې محمد داؤود په ناڅاپي ډول مارشال تیتو ته چې پخواني دوست یې و او د ناپیلتوب د سیاست له بنسټګرانو نه و، بلګراد ته ورغی او د خپلې سیاسي تګلارې په بدلون کې یې د هغه ملاتړ ترلاسه کړ. د بیرته راګرځیدو پروخت یې په مسکو کې له لیونید بریژنف سره یوه کتنه درلوده. د شوروي د کمونست ګوند عمومي منشي محمد داؤود ته په صراحت سره وویل: "څه باک یې درلود چې نورو هیوادوته تر سفر د مخه یو ځل له خپل شمالي ګاونډي سره په تماس کې شوي واست؟"

داؤود د هغه سلي احساس او غرور له مخې چې درلودیې ډیر په غوسه شو او ځواب یې ورکړ: "افغانان هر څوک چې وغواړي خپل هیواد ته یه د راتګ اجازه ورکړي اوکه وغواړي و یې باسي، و به یې باسي."

د هغه مهال د بهرنیو چارو د وزارت د تشریفاتو رئیس عبدالصمد غوث چې د "افغانستان سقوط" په نامه یې کتاب لیکلی د محمد داؤود د کتنې په اړه لیکلي چې بریژنف هغه ته وویل چې: "په تیرو وختو کې د افغانستان حکومت د ناتو د هیوادو متخصصینو ته اجازه نه ورکوله چې، د افغانستان په شمال کې ځای پر ځای شي خو اوس له دې تعامل نه پیروي نه کیږي. د شوروي حکومت دا انکشافات په ناخوښنې سره تعقیبوي او غواړي چې د افغانستان حکومت ځان د هغوی له شرنه چې له جاسوسانو ور اخوا نور څه نه دي، خلاص کړي."

کوټه چوپتیا پرسر اخستې وه، څنې روسان وارخطا شول، داؤود په یوه ساړه او غیر هیجاني آواز وویل: "هغه څه چې وویل شول، هیڅکله به هم افغانانو ته د منلو وړنه وي، افغانان ستاسې خبرې د خپل هیواد په کورنیو چارو کې ښکاره مداخله ګڼي... موږ به هیڅکله هم تاسې ته اجازه درنکړو چې موږ ته دستور راکړئ چې خپل هیواد څه ډول اداره کړو اوکوم کسان استخدام کړو. دا موضوع چې موږ بهرنیان څه ډول او چیرته استخدام کړو، هغه امتیاز دی چې یوازې د افغانستان په دولت پورې اړه لري. که ضرورت شو، افغانستان به بنایې فقیر پاتې شي؛ خود خپل عمل او تصمیم ازادي به وساتي."

محمد داؤود ددې خبرو په کولو سره له خپله ځایه پورته شو، او د بهرنې دروازې پرلور ولاړ، بریژنف په بنده ځان هغه ته ورساوه، او د وحید عبدالله له لارې یې هغه ته وویل چې دا جندا له مخې له هغه سره خصوصي ګتنه هم لري. داؤود د هغې په ردولو سره وویل: "نور د خصوصي کتنې ضرورت نشته"(۹)

محمد داؤود کابل ته په ستنیدو سره په عاجله توګه درې ځلې د مصر له جمهور رئیس محمد انور السادات سره په تماس کې شو او د کتلو غوښتنه یې وکړه او لیبیا، مصر، سعودي عربستان او ایران ته یې د سفر پروګرام جوړ کړ. په دې سفر کې یې اووه کلن پرمختیایي پلان هم له ځانه سره درلود. نوموړو هیوادو له افغانستان سره دانکشافي پروژو په سرته رسونه کې بلا عوضه مرستې تأیید کړې، چې له هغې جملې نه له اسلام کلانه تر کابله د اوسپنې د پټلې غزول، کابل ته نژدې (د لوګر په سقاوه د بنته کې) دیوه بل بین المللي هوایي ډګر جوړول، د مصنوعي سپوږمۍ له لارې د بین المللي مخابراتو سیستم، تلویزیون، د حاجي ګک د اوسپنې ویلې کول، د عینک د مس پروژه، د پکتیا ولایت د ځنګل داری پروژه، په کابل کې د فیات موټر جوړولو فابریکه، د افغانستان د جنوب د نفت او ګازو را ایستنه او په سیستان کې د کمال خان د برېښنا بندوو.

محمد داؤود د عمرې د حج تر اداکونې وروسته، کابل ته ستون شو او په اووه کلن انکشافي پلان کې یې اساسي بدلونونه پیشنهاد کړل چې په افغانستان کې د روسانو نفوذ کم او د پانګوالو هیوادو له خوا یې په افغانستان کې د تولیدي پروژو په تأسیس کې دپانګې اچونې زمینه زیاته کړه. محمد خان جلالر د دولت ټول جریانات مسکو ته واستول او د افغانستان په وړاندې یې ذکر ملین حساسیت لازیات کړ.

محمد داؤود همدا راز د امریکا د جمهور رئیس جیمي کارټر بلنه ومنله او پتییل شوی وه چې د ۱۳۵۷

په جوزا/د ۱۹۷۸ په مې کې واشنګټن ته سفر وکړی. هغه په هاواناکې د فیدل کاسترو تر ریاست لاندې د ناپییلو هیوادو د کنفرانس جوړیدل تحریم کړل.

## د محمد داؤود وروستی ورځې

د ۱۳۵٦ش په وروستیو او د ۱۳۵۷ په لومړیو/۱۹۷۸ کې د دولت د تولنیزو او سیاسي بدلونو په برخه کې، د محمد داؤود هڅې ښکاره شوې وې که څه هم چې، په نړیوال او د هیواد ترمنځ د اړیکو په کچ بې ښه عواقب درلودل، خو تولنیز حالت د اختناق پرلور روان و. د خلق او پرچم غړي چې له تیرو پنځو کالو راهسې یې د افغانستان د اداري شاهرګونه په لاس کې وو، له خپلو صلاحیتونه په ګټې اخستنې سره یې کوښښ کاوه، د داؤود پرځیره دا غونه کښنیږدي او هغه نور د ملي قاید په نامه یاد نکړي. د داؤود په شعارونو پورې به یې ملنډې وهلې دهغه عکسونه به یې یاپه له توهینه ډکو لیکنو او یا په عمومي انظارو کې داسې له منځه وړل چې د خلکو په منځ کې اندیښنې پیداکړي.

د کمونستانو تخریبي فعالیتونه په هرکچ موجود وو. کله چې محمد داؤود خپل اولسي فعالیتونه پیل کړل، اوکندهار، جلال آباد او میترلام ته یې سفرونه وکړل، عملاً یې غونډې تخریب شوې او پر خلاف یې شعارونه ورکړل شول. محمد داؤود یوازې د کمونستانو له اړخه له ستونزو سره مخ نه و، بلکې د نه په اداره کې هم اختناق موجود و. داؤود ته نږدې وزیرانو عملاً په خیانت لاس پورې کړ او د هیواد له وضعې نه بې خبره وو. قدیر نورستاني او حیدر رسولي په دولت کې بې انضباطه او د معنوي ارزښتونو نه درلودونکي ګڼل کیدل، چې و یې نشوای کړای د دولت اداره کنترول او د محمد داؤود له غوښتنو سره یې سم عیاره کړي. د کورنیو چارولو وزیر قدیر نورستاني سره د کابل د امنیې د عمومي قوماندان جنرال محمد طاهر چې د داؤود له مخلصینونه و، اختلافاتوکمونستو علاقه دارانو او ولسوالانو او د کورنیو چارو د مامورینو ترمنځ او ددې وزارت په مربوطاتوکې د ګټې اخستنې زمینه برابره کړې وه. په دفاع وزارت کې مسلمان افراد لوی درستیز جنرال عبدالکریم مستغني او د تشکیلاتو رئیس جنرال زکریا ابوی د کمونستانو د دسیسو په وسیله له صحنې نه وایستل شول او نور عوامل هم ددې باعث شول چې، د افغانستان په ادارو کې رشوت او ملي خیانت لاره وکړي او داؤود د هغه مخه و نه نیولای شي. دویم دا چې کمونستانو هم د دفاع وزارت په ادارو او سازمانو کې خپل د خوښې کسان پرحساسو او تیټو چوکیو مقرر کړي وو. زیاتره کمونستان په ټول افغانستان کې د جنرالانو او برجسته قوماندانانو د ضابط امر په توګه مقرر وو. چې د ثور کودتا په پیل کیدو سره، زیاتره جنرالان د خپل ضابط امر د تومانچو په سرمیو وویشتل او ووژل شول او یو شمیر یې هم ونیول شول. د قول اردوګانو یو شمیر قوماندانان یې

تفاوته پاتې شول او تر یوه وخته پورې یې له کمونستي رژیم سره هم خپله همکاري جاري وساتله، ترکودتا د مخه دا فعالیتونه بنبې چې، روسان د خلقیانو او پرچمیانو په سلاتړ، د محمد داؤود پر خلاف یوې بلې کودتا ته پیشبین وو او هغه یې له پخوانه سنجولې وه.

د محمد داؤود د جمهوریت په وروستیو کې، تخریبي فعالیتونه په دوو جهتونو کې پیل شوي وو: یو د افغانستان دهغو سازمانو فعالیتونه چې له هیواده بهر د پاکستان په سرحداتو کې یې له خپلو مرکزونو نه د افغانستان په ښارونو او ولایاتو کې پیل کړي وو، او دوهم هغه فشارو چې داؤود باید پخپله سیاسي تګلاره کې بدلون راولي، بل د خلقي او پرچمي کمونستانو په واسطه، تخریبي فعالیتونه، او د خلکو په مقدساتو او اسلامي فکر تیرې چې کمونستانو غوښتل د خلکو احساساتو ته صدمه ورسوي او له دې نه نظامي- سیاسي ګټه واخلي.

د محمد داؤود د جمهوریت په وروستیو کې د اداري د مسؤولینو یو بل خیانت افشا شو، او په قلعهٔ زمانخان کې یې یو ډله ییز قبر پیداکړ چې تر پنځوسو زیات کسان پکې ښخ وو او په ډیره فجیعه توګه وژل شوي وو. محمد داؤود چې ددې جنایت پوښتنه پیل کړې وه، قدیر نورستاني او فیض محمد یې د مسؤولینو په توګه را وغوښتل، مګر هغوی داؤود ته درواغجن نومونه ورکړل. د خلکو په ادعا هغوی زیاتره د دولت مخالفین اود مسلمانو مبارزینو له ډلې نه وو چې د کمونستانو او دولت د جنایتکارانو لکه قدیر نورستاني، په واسطه، د عقلي ناروغانو په زیرزمینیو کې ووژل شول. قدیر نورستاني د حیدر رسولي په همکارۍ نوموړي جسدونه په مرنجان غونډۍ کې ښخ کړل چې خلک زیاته غوغا جوړه نګړي مګر کمونستانو دداؤود په بدنامولو کې له دې جریانه غوغا جوړکړه چې په هیواد کې دنه ثبات باعث شوي و.

## د علي احمد خرم وژله

د ۱۳۵٦ د عقرب پر ۲٤مه/د ۱۹۷۷ د نوامبر پنځلسمه مرجان نومي یوکس چې د لغمان اوسیدونکی و، د پلان د وزیر علي احمد خرم د کار دفتر ته ننوت او له سکرتر نه یې د عاجلې کتنې غوښتنه وکړه. خرم له جاپاني هیأت سره په کتنه بوخت و، مرجان په بې حیایي سره، د وزیر د کار دفتر نه ننوت او د تومانچې په تهدید سره یې هغه دې ته اړایست چې د پلان وزارت له ودانۍ نه ورسره بهر ووځي او د ارګ خواته ولاړ شي. مرجان غوښتل چې غواړي له محمد داؤود سره وګوري، خرم پرته له دې چې د وزارت دساتونکو (محافظینو) له خوا یې ساتنه وشي، د پښتونستان په څلور لارې کې د همدې سړي د تومانچې په ډز ووژل شو. مرجان وتښتید، محمد داؤود دله دې پیښې نه له سخت وحشت سره مخ شو. امنیتي قواو مرجان په شاه شهید کې پخپل کور کې ونیو او زندان ته یې واچاوه. د تحقیق هیأت چې پر

عدلیه وزیر و فی الله سمیعي او خارنوالانو مشتمل و، تشکیل شو. څرنګه چې سمیع الدین ژوند د محکمې د رئیس په توګه چې په اخواني تمایلاتو مشهور و، د پرچم نفوذي افرادو هغه مجاهدینو او اخوانیانو ته منسوب وګڼانه او له داؤود نه یې وغوښتل چې بل هیأت وټاکي. دا ځل هم ډاکتر قطره، صمد ازهر، یعقوبي، اتمراو خیر محمد وټاکل شول. د مرجان تر تحقیق وروسته،د تحقیق د هیأت غړو چې ټول پرچمیان وو، اعلان وکړ چې د علي احمد خرم وژله د امریکا د جمهور رئیس جیمي کارتر په دستور او د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار په موافقه او محمد اعظم شینواري په همکاری ترسره شوی ده. (محمد اعظم شینواري چې تر ۱۳۶۷ش/۱۹۸۸م پورې د کابل د کمونستي رژیم له سرسختو مخالفانو و، د رهبرۍ د مهرې په بدلون او ډاکتر نجیب الله په راتګ سره له حزب اسلامي نه ووت او د کابل له رژیم سره ملګری شو نوموړی وروسته د ننګرهار دوالي په توګه مقرر کړای شو، په داسي حال کې چې د هغه تولهکورنۍ د تره کي او امین په دوره کې په زندان کې وو او څه یې په پلچرخي کې وژل شوي وو)

دا اعترافات د راډیو او مطبوعاتو له لارې هم خپاره شول، خو محمد داؤود د خرم د جنازې په مراسمو کې د افغانستان د خلکو په اړه د روسانو له تګلارې نه یوه شکایت وزمه او انتقادي وینا وکړه او د وژلې عاملین یې روسان اوکورنۍ کمونستان وګڼل. داؤود د اطلاعاتو اوکولتور وزیر عبدالرحیم نوین ته په تأکید سره وویل چې دا بیانیه د ډله ییزو رسنیو له لارې خپره شي. مګر د هغې مشورې پر اساس چې په کابل کې د روسانو سفیر پوزانوف د اطلاعاتو اوکولتور وزیر عبدالرحیم نوین ته ورکړې وه، د داؤود بیانیه په مطبوعاتوکې خپره نه شوه او دا په وژله کې د کمونستانو د لاس لرنې سند دی. مرجان زندان ته واچول شو او د ثور ترکودتا وروسته نور د هغه په باب هیڅ خبره سنځ ته رانغله. یو شاهد لیکي: "زه، کله چې د ۱۳۵۷کال په مرغومې کې په پلچرخي زندان کې بندي شوم، مرجان معلم مې په دریم بلاک کې ولید... حرکات یې غیر نورمال و اوکله یې دیوه روغ انسان په څیر خبرې کولې. مرجان د ۱۳۵۸ د جدی په پنځلسمه په عمومي بخښنه کې له زندانه را پریښودای شو."(۱۰)

واقعیت دا دی چې کمونستانو مرجان د نامه په بدلون سره روسیې ته بوت او تر عقلي اختلال وروسته چې عمداً یې د حقایقو د افشا د مخنیوی په خاطر په یوه لیوني بدل کړی و، کابل ته رالیږلی و چې د دې توطې د حقایقو په باب څه ونه ویلای شي.

## د میر اکبر خیبر ترور

خیبر په ۱۳۳۰ش/۱۹۵۰م کې له حربي پوهنتو نه فارغ شوی و چې د محمد نادر شاه پر قبر یې د ګلو د ګیډې په نه ایښودلو سره د فراغت سندورنکړ اود منصبوال د ریښې یې هم د هغه له ځانه وایسته. هغه د

څو کالو لپاره د دهمزنګ په زندان کې بندي و. خیبر د پرچم د سازمان یو فکري کمونست ګڼل کېده چې د خلق له فرکسیون سره یې تضاد درلود. د خیبر پر خلاف د تره‌کي او امین مخالفتونه به همیشه په دغو دوو ډلو کې د انشعابونو لامل ګرځېد. ددې سرچپه د خیبر ملاتړی ببرک کارمل همیشه په ائتلاف کې هڅه کوله چې نوموړی د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند په رهبري شورا کې کاندید کړي. خیبر چې په فصاحت کې ډیر خوږ ژبی و، په پرچمي ځوانانو کې یې خاص محبوبیت درلود. خیبر په اړیکو او د کمونستو ځوانانو په جلب او جذب کې له برخې اخستنې نه د کې جي بي په مشوره، پراخ فعالیتونه پیل کړل. خیبر له زندانه تر راخلاصیدو وروسته له عسکري مسلک نه طرد او د پولیسو په اکادمۍ کې دیوه نظامي کس په توګه نه، بلکې د یوه ښوونکي په توګه مقرر کړای شو.

هغه نه دا چې د ځوانو محصلینو د افکارو د بدلولو او کمونیزم ته یې د راښللو په برخه کې فعالیت کاوه بلکې کوښښ یې کاوه چې د مصونیت ملي له دویمه درجه استخباراتي مسؤول رسول جان سره هم اړیکې ټینګې کړي او داسې یو لړ رپوټونه جوړا و داؤود ته یې وسپاري چې د هغه پام ځان ته راواړوي. خیبر د حضرت صبغة الله مجددي پر خلاف یو غیر مستند رپوټ جوړ کړ او داؤود ته یې وړاندې کړ. مجددي پنځه کاله د دهمزنګ په زندان کې تیر کړل. خیبر غوښتل د محمد ظاهر شاه د سلطنت په وروستیو کې خپل فعالیتونه پراخ کړي او له رسمي کارنه استعفی وکړي، خود پارلماني انتخاباتو له لامله چې پتیېل شوي وه په ۱۳٤٤ش/۱۹٦٤م په کابل کې پیل شي، د حزبي ملګرو په مشوره یې وځنډول شوه. خیبر ځان د لوګر ولایت د وکیل او نماینده په توګه کاندید کړ. همدا راز د خلق او پرچم ګوندنو رغړي لکه نور محمد تره‌کي. حفیظ الله امین، ببرک کارمل، اناهیتا راتب زاد، سلطان علي کشتمند، سلیمان لایق، بارق شفیعي، هادي کریم، دستګیر پنجشیري، نظام الدین تهذیب، یعقوب کومک، معصومه وردک، میر محمد صدیق فرهنګ، عبدالکریم فرزان، رقیه ابو بکر، محمود بریالی، نور احمد نور، او شرعي جوزجاني د شورا لپاره کاندید وو چې یوه هم د افغانستان د پارلمان د کرسي لپاره مناسبې رایې ترلاسه نه کړای شوې.

د ۱۳۵۷ دوري په ۲۸مه/د ۱۹۷۸ د اپریل ۱۷مه، ماښام نژدې، میر اکبر له مکروریانو سره ترورشو. هیچا ددې قتل مسؤولیت پرغاړه وانه خست. خیبر چې د کارمل د سیاسي مشاور حیثیت درلود په رقابت کې یې لکه تره‌کي ته د حفیظ الله امین په څیر حیثیت درلود. پرچمیانو دا مسؤولیت د حفیظ الله امین پرغاړه اچاوه او ځان یې متأثر ښوده، په داسې حال کې چې له صحنې نه د خیبر په وتلوسره، کارمل دیکه تازې هیله پیداکړه لکه چې واک ته تررسیدو وروسته او هم یې دامین په وخت کې، کله هم خیبر یاد نکړ.

یوشمیر محققین ددې وژلې پړه د محمد داؤود پرپلویانو وراچوي چې د رژیم پر خلاف د کمونستانو د احساساتو په را پارولو سره دیو شمیر لوړ رتبه خلقي – پرچمي کمونستانو د نیولو پلمه په لاس ورشي.

دحزب اسلامي نشراتو دا ترور ددې ګوند د دوو تنو ښاري چریکانو ډاکتر عبداللطیف او عبدالصمد مجاهد رشادت بللې دی. حزب اسلامي وغوښتل چې، له یوې خوا د داؤود او کمونستانو اړیکي لا پسې خرابې کړي او له بلې خوا له کمونستانونه چې یو شمیر مسلمانان یې په زندان کې شهیدان کړي وو، غچ واخلي. "د خیبر په وژنې سره خلقیانوپولوی سیاسي مانور اجراکړ چې سردار محمد داؤود د خپل زور په ښوولو سره وویروي او هم له خلقیانونه د پرچمیانو د بیلیدو مانع شي"(۱۱) دولت د رادیو او ورځپانو له لارې اعلان وکړ چې، نور محمد تره کی، ببرک کارمل، شرعي جوزجاني، ډاکتر شاه ولي او حسن ضمیر صافي زندان ته واچول شول او نور ملګري یې ترتعقیب لاندې دي. د قدیر نورستاني او حیدر رسولي سست اوبې پا یې اجراآت، د دې لامل شو چې کمونستان د افغانستان په نظامي مراکز و کې د خوځښت لپاره چمتو شي. تردې حالت د مخه هم روسي الوتکو په غیر مسؤولانه الوتنو سره کابل ته تګ راتګ وکړ چې محمد داؤود ته یې اندیښنه را پیداکړې وه او څو ځلې یې د روسي سفیر پوزانف ته شکایت وکړ.

## د محمد داؤود پر خلاف د نظامي فعالیتو پیل

خلیقانو د نظامي عملیاتو قومانده د حفیظه الله امین په امر په لاس کې درلوده، په هرځای کې اوازې خپرې شوې چې سبا د ثور اوومه به په کابل کې مظاهرې وشي. داؤود امر وکړ چې نظامي قواوې تیارسي شي. کمونستانو په دې پلمه ټانکونه له فرقونه د کابل ښار ته ولیږدول. جنرال حیدر رسولي له ډګر جنرال عبدالعزیز (لوی درستیز) سره یوځای وغوښتل چې قطعات وګوري او ځان له وضعې نه خبر کړي. په داسې حال کې چې د اسلم وطنجار ټانک د کابل د ارګ دروازې ته رسیدلی و. رسولي ددې پرځای چې نظامي قطعاتوته امر ورکړي، د قرغې د فرقې خواته رهي شو. چې د کارته مامورین په درې لارې کې د کمونستوکودتا چیانو له خوا د لوی درستیز په ګډون یو ځای ووژل شو. قدیر نورستاني ارګ ته راغې چې د خپلې یوې تومانچې سره په مقابله لاس پورې کړي په داسې حال کې چې هغه د پولیسو قواو ته د تیارسي حکم ورکولای شو: خو زخمي شو او په څلور صد بستر روغتون کې ووژل شو. د امنیې عمومي قوماندان جنرال طاهر خان د پښتونستان له څلور لارې سره ووژل شو.

د ګارد قواو د صاحب جان تر قوماندې لاندې په مقاومت لاس پورې کړ او هغه ټانک یې چې غوښتل ارګ ته ننوزي وسوځاوه، محمد عمر پرچمي ټانکست هم ووژل شو. هوایي قواو ډګروال عبدالقادر په قومانده د ګارد قواوې تربمبارۍ لاندې ونیوې. هغه تر تولو دمخه د هوایي قواو قوماندان ډګر جنرال محمد موسی په هوایي ډګرکې د خپل کار ددفتر په تشناب کې وواژه او د دافع هوا قوماندان تورن جنرال عبدالمنان شینواری ته یې وویل چې جنرال موسی خان هغه ته لاربښوونه وکړه چې تاسې ته خبر

درکړم چې د مظاهرو د مخنیوي په خاطر، یو ځل دسروبي د دافع هوا قواوې وګوري. هغه چې بې ارتباطه پاتې شوي و، سروبي ته ولاړ او هملته ووژل شو. جنرال محمد موسی د سید محمد ګلابزوي او قادر په واسطه، د هوايي قواو د نورو غړو په وړاندې ووژل شو.

محمد داؤود غوبنتل چې د خپلې ورسره مخابرې په واسطه، له نظامي جنرالانو سره اړیکې ټینګې کړي، خو د مخابرې کوډیې کار نه کاوه داؤود وویل: "روسانو خپل کار وکړ". د محمد داؤود اړیکې له ولایاتو او نظامي مرکزونو سره قطع شوي وې. یوازې د ننګرهار د فرقې قوماندان جنرال یونس خان، خپلې قواوې تر سروبي پورې د داؤود مرستې ته استولي وې. خو د (خیریت) دغلط راپور په ترلاسه کولو سره متردد شو. یو شمیر قواوې په سروبي کې پاتې شوې او په خپله بیرته ننګرهار ته ولاړ، چې د خپل ضابط امر تورن ګل رنګ په واسطه له والي عبدالخالق رفیقي سره یو ځای ووژل شول او لیږل شوې قواوې له خوځښته پاتې شوې. دننګرهار د فرقې قومانده د جګړن بهرام الدین په لاس پریوته، نوموړی د ثور د کودتا تر بریا وروسته د ننګرهار د یو ولسمې فرقې قوماندان او د ننګرهار والي شو یعنې ملکي او نظامي دواړه دندې یې پرمخ بیولې او د ۱۳۵۸ش کال د ثور پر لومړۍ شپه د فرقې د یو شمیر مسلمانو منصبوالو او عسکرو په پاڅون کې ووژل شو. د کندهار، هرات، پکتیا او غزني د عسکري قواو قوماندانانو بې تفاوته اوغلې پاتې شول او کوم عکس العمل یې ونه ښود. په همغه ورځ د پنځلسمې زغره والي قوا ټانکونو حفیظ الله امین او خیال محمد کتوازي رادیو ته ورسول او هغه ځای یې د خپلې قوماندې مرکز وټاکه. په خپلو اعلامیو کې یې په پرله پسې توګه اعلانونه کول چې د غدار نادر د کورنۍ لړۍ د داؤود په وژل کیدو سره پای ته ورسیده او واک د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند او انقلابي شورا په لاس کې دی. جګړن محمد اسلم وطنجار او ډګروال عبدالقادر ځوځلي د انقلابي دولت اعلامیې لوستې او د خلق دموکراتیک ګوند د کامیابي مبارکي یې وویله. محمد خالد داؤود چې په تلویزیون کې و د زینب سینما ترڅنګ سیرمنو تولنې ته ولاړ چې خپل دوه زامن له ځانه سره په موټر کې سپاره کړي او ارګ ته ولاړ شي. هغه د ارګ په شمالي جاده کې د ټانک د ډزو په واسطه له منځه ولاړ، وروسته یې د داؤود مشر زوی محمد عمر په ارګ کې وواژه. د اسلم وطنجار ټانک، دویم ټانک و چې ارګ ته ننوت. د ارګ قواو په ۲٤ ساعته مقاومت کې زیات تلفات ورکړل. د ثور په اتمه، د محمد داؤود ټول وزیران د ارګ په اشپزخانه کې پټ شوي وو. محمد داؤود له خپل ورور محمد نعیم او خپلې کورنۍ سره په قصر کې کلابند پاتې شول. د کودتا قواوې ارګ ته ننوتې او یو تن کودتا چې لومړی بریدمن امام الدین له خپلو افرادو سره د ګلخانې قصر ته ننووت او داؤود ته یې امر وکړ چې تسلیم شي. محمد داؤود د خپلې تومانچې په وروستۍ مرمۍ پر هغه ډزو کړې. امام الدین ټپي شو او پر داؤود او د هغه پرکورنۍ یې داور امر ورکړ. (امام الدین د کمونستي حکومت د سقوط پر وخت د ډګر جنرالۍ په رتبه د پکتیا د قول اردو قوماندان (ژباړن) محمد داؤود تر وروستۍ شیبې پورې مقاومت وکړ. په دې تکر کې د محمد داؤود تولو

کورنی او دی پخپله شهیدان شول. د هغوی جسدونه بی د پلچرخي د غره دلمنی په کومه کنده کی واچول او د کورنی یو شمیر بنځی بی پلچرخي زندان ته بوتلی. د یوه تحقیق له مخی، وایي چی د محمد داؤودجسد بی په ماهیپر کی په کوم نامعلوم ځای کی واچاوه (د ۱۳۵۸د ثور ۸مه/ د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۸مه.)

## جمهوریت

## د افغانستان د جمهوری دولت خپرنی اورگان

جمهوریت ورځپانی، د چونگاښ د ۲٦ مي (۱۳۵۲) ترکودتا وروسته د اصلاح ورځپانی ځای ونیو او ددی ورځپانی اداری تشکیلاتو پر اختیا ومونده.

د تأسیس کال او ځای: د ۱۳۵۲ د زمری ۱۳مه/ د ۱۹۷٦ د اگست ځلورمه، کابل.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان جمهوری دولت

مسؤول مدیر: ډاکتر سهیل، سرشار روشنی

چاپ شمیره: ۸۰۰۰–۱۰۰۰۰، خپرنی ژبه: پښتو او دری همدا راز د جمهوریت په نامه په انگلیسی او عربی ژبو خپرونه.

د خپرونی دول، کچه، د چاپ بنه: سهارنی ورځپانه: ۵۸X٤۰ سانتی متره، په اتو مخوکی مصوره، دکار پای. د ۱۹۵۷ د ثور اوومه/د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۷مه.

محتوی: د دولت د اهدافو خپروونکی چی دولتی اعلامیې، رسمی خبرونه سیاسی او ټولنیزی مقالی، او د محمد داؤود بیانیی بی هم خپرولی. په اختصاصی ورځنیو مخو سربیره، د سیاست، اقتصاد، د ځوانانو ځانگړی اوونیز مخ، علمی او د ښوونی او روزنی په اړه موضوعات، ښځه او نوی ژوند او روغتیا په باب بی هم ځانګړی مخونه خپرول.

یادښت: دی ورځپانی پر رسمی ورځو سربیره، په خاصو ورځوکی هم خپرونی درلودی او همروزه به د افغانستان ولایاتو ته هم استول کیدی. همدا راز د جمهوریت مجله هم په هرو دری میاشتوکی په مصوره توگه خپریده، چی تفصیلی او معلوماتی رپوټونه به پکی خپریدل. په ۱۳۵۳ش کال جمهوریت ورځپانی دوه نوری موقوته خپرولی هم په ځلورو مخوکی د جمهوریت په نامه په انگلیسی او عربی ژبو خپرولی او په وړیا توگه د افغانستان د معرفی په خاطر، بهرنیو هیوادو او د نړی مطبوعاتی او فرهنگی مرکزونه استول کیدی.

هغه ورځپانی او مجلی چی د محمد ظاهر شاه په وخت کی خپریدی اود محمد داؤود په وخت کی

یې هم دوام وموند، داوی:

۱- انیس ورځپانه، چې د دوو سیاشتو تریوی لنډې وقفې وروسته د ۱۳۵۲ د ورې پر اوولسمه بې بیرته په خپرونو پیل وکړ.

۲- کابل تایمز ورځپانه، ۳- هیواد ورځپانه، ٤- اتفاق اسلام ورځپانه په هرات کې، ٥- طلوع افغان ورځپانه په کندهار کې، ٦- بیدار ورځپانه په مزار شریف کې، ۷- ورانګه ورځپانه په پکتیا کې، ۸- اتحاد ورځپانه په بغلان کې، ۹- سنایي ورځپانه په غزني کې، ۱۰- پروان ورځپانه په چاریکار کې، ۱۱- د آریانا ځانګړې مجله چې په کابل کې د اطلاعاتو او کولتور وزارت له خوا خپریده، ۱۲- میرمن مجله، د میرمنو ټولنې له خوا، ۱۳- زیری جریده د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې، ۱٤- د کمکیانو انیس مجله چې د مخه (د کوچنیانو انیس) په نامه خپریده، ۱۵- عرفان مجله، ۱٦- افغانستان مجله، د تاریخ ټولنې (انجمن تاریخ) له خوا -(د محمد داؤود په دوره کې په فرانسوی ژبه هم خپریده)، ۱۷- روغتیا مجله د عامې روغتیا وزارت له خوا، ۱۸- قضا مجله د عدلیې وزارت له خوا چې مسؤول مدیریې عبدالباری غیرت و.

تصمیم دبری لمړی شرط دی
تصمیم شرط اول موفقیت است

جمهوریت

دتا سیس نیټه : دزمری ۱۳ – ۱۳۵۲ هـ ش کال

# دافغانستان جمهوری بیرغ او نښان

## دبیرغ رنګونه:





دافغانستان دجمهوری دولت نښان



دانقلاب رهبر اودجمهوریت مؤسس
دولت رئیس اوصدراعظم ښاغلی محمدداؤد

## دافغانستان دجمهوریت ملی بیرغ

## باش جاودان

باش جاودان !

## بیرق جمهوری

## دتاریخ شمله

## بیرق ملی جمهوریت افغانستان بر افراشته شد

دوکتور آصف سهیل

۱۹ – اوقاف مجله، د ستري محکمې له خوا، مسؤول مدير يې مولانا محمد حنيف حنيف بلخي، ۲۰ – ژوندون مجله مسؤوله مديره راحله راسخ، ۲۱ – د ننګرهار دري مياشتنۍ مجله.

## د داؤود د دورې مطبوعات او فرهنګ

خپرنې رسنۍ سره له هغې چې د دولت د خپرونو په محدوده، کې واقع وې؛ خو د پراخ نظري تګلاره يې خپله کړې وه چې په ټولنه کې يې ځېل اغيز او نقش په ښه ډول تر سره کاوه، د ورځپاڼو چاپ شميره پورته تللې وه له ورځپاڼو او مجلو سره د خلکو مينه کاملاً محسوسه وه. جريدې او مجلې له بهرنيو مطبوعاتو سره په رقابت کې له افغاني ځانګړنو سره ځېل تخصصي نوښتونه ښکاره کول. پر ملي ورځپاڼو سر بيره، اختصاصي خپرونې هم په مختلفو ابعادو کې بازارته راووتې او په ولاياتو کې د جريدو شمير زيات کړای شو له هغې جملې نه.

د خپروني نوم: *آواز*

د تأسيس کال: ۱۳۵٤ش/۱۹۷۵

خپرندوی او د امتياز خاوند: د راديو افغانستان عمومي رياست.

مسؤول مدير: ناصر طهوري

د چاپ ځای: کابل، چاپ شميره: ۲۰۰۰، ژبه: پښتو – دري.

د خپروني ډول، کچه، د چاپ بڼه: پنځلس ورځنۍ يا مياشتنۍ مجله، ۲۵x۲۰ سانتي متره، ٤۰–۶۰ مخه، رنګه پښتي، مصوره. د کار پای: ۱۳۷۰ش/۱۹۹۱م، محتوی: د راديو تلويزيون د پروګرامونو شرح، هنري مطالب، داستان، شعر او ټولنيزې مقالې.

يادښت: آواز مجلې يو ځل بيا د استاذ رباني په دوره کې هم څه وخت خپلې خپروني پيل کړې – ژباړن.

د خپروني نوم: *بخوان وبدان*

د تأسيس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷۶م

خپرندوی او د امتياز خاوند: له بيسوادۍ سره د مبارزې ملي رياست.

مسؤول مدير:؟

د چاپ ځای: کابل. چاپ شميره: ۲۰۰۰–۳۰۰۰، ژبه: پښتو – دري، د خپروني ډول، کچه، او د چاپ بڼه: دوه مياشتنۍ مجله، ۲۷x۱۸ سانتي متره، له ٤۰–۶۰ مخه مصوره، د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور اوومه/د ۱۹۷۸ د اپريل ۲۸مه، محتوی: د ژبې د زده کړې مضامين او مقالې، کورنۍ لارښوونې، د هيواد د بې سواده طبقې د

اذهانو د تنویر په خاطر تولنیز مسایل.
د بخوان و بدان ځانګړی خپرونی د مورد ورځی او سواد په مناسبت په بنه کچه او بنه صحافت خپریدی چی زیات مخونه به یی درلودل.

د خپرونی نوم: *بلخ*
د تأسیس کال: د ۱۳۵۵ ش/۱۹۷٦
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت د ولایاتو د خپرونو مدیریت: مسؤول مدیر: عزیز احمد اورمل، د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: ۲۰۰ ګنی، ژبه: پښتو - دری.
د خپرونی دول، کچه، د چاپ بنه: فصلنامه مجله، ۳۰X۲۲ سانتی متره، د ٤۰-۷۰ مخه. رنګه پشتی مصوره، د کار پای: ۱۳۵۷ د ثور اوومه محتوی: تولنیز مطالب، شعر، داستان، تاریخی مقالی مرکی او ځانګړی رپوتونه.

د خبرونی نوم: *پروان* (په ۲۱۹ صفحه کی مطالعه وکړی)

د خپرونی نوم: *پولیس*
د تأسیس کال: ۱۳۵۳ ش/۱۹۷٤م
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د کورنیو چارو د وزارت د پولیسو اکادمی، مسؤول مدیر: محمد ایوب اصیل، د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: ۱۵۰۰ ګنی، خپرنی ژبه: پښتو-دری، د خپرونی دول، کچه او د چاپ بنه: میاشتنی مجله، ۲۸X۲۰ سانتی متره، ٤٥ مخه، دوه رنګه. د کار پای: د ۱۳۵۷ ش د ثور اوومه. محتوی: اختصاصی مطالب پیښنی او مختلفی مقالی.

د خپرونی نوم: *دیوه*
د تأسیس کال: ۱۳۵۲ ش/۱۹۷٤. خپرندوی او د امتیاز خاوند د جوزجان ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت. مسؤول مدیر: سیف الدین مستمند سلجوقی د محمد ظاهر شاه په دوره کی: (۱۳٤٦ ش/۱۹٦۷م) د دوهم وار د محمد داود خان به دوره کی: (۱۳۵۲تر ۱۳۵٤ ش/۱۹۷۳-۱۹۷٤م) ، د چاپ ځای: د شبرغان مطبعه. چاپ شمیره: زر ګنی، ژبه: پښتو- دری. د خپرونی دول، کچه او د چاب بنه: ورځپانه (په اونی کی څلور ځله) ۵۸X۳۰ سانتی متره، په ٤ مخو کی. د کار پای د ثور د کودتا په اجرا سره (۱۳۵۷). محتوی: خبرونه او دولتی اعلامیی، محلی خبرونه او تولنیزی او ادبی مقالی.

د خپرونې نوم: *رهنمایی*
د تأسیس کال: ۱۳۵۲ش/۱۹۷۳م. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ښوونې او روزنې د وزارت د مسلکي ښوونو او رهنمایي (لارښوونې) مدیریت. مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: د ښوونې او روزنې مطبعه. چاپ شمیره: ۲۰۰۰ ژبه: پښتو او دری. د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه: دری میاشتنی مجله (فصلنامه)، ۱۸X۲٦ سانتي متره، ٦۰مخه، د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور کودتا. محتوی: د تدریس د تګلارې په اړه له ښوونکو سره د مرستې لپاره، زده کړه، ځانګړې او ځیرنیز مطالب.

د خپرونې نوم: *سیستان*
د تأسیس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷٤م. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د فراه ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت، مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: فراه، چاپ شمیره ۵۰۰ ګنې، ژبه: پښتو – دری، د خپرونې ډول، کچه، او چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۳۰X٤۰ سانتي متره څلورمخه. د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور کودتا، محتوی: د باختر آژانس ورلیږلې خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *عاطفه*
د تأسیس کال: ۱۳۵۲ش/۱۹۷۳. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د سرې میاشتې عمومي ریاست. مسؤول مدیر:؟ د چاپ ځای: کابل چاپ شمیره: ۲۰۰۰ ګنې، ژبه: پښتو – دری، د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه: ورځپانه (په اوونۍ کې ۲ ځلې) ۳۰X٤۰ سانتي متره، څلور مخه، د کار پای: ۱۳۵۷/۱۹۷۸، محتوی: ټولنیز او بشري، مطالب او پیښې.

د خپرونې نوم: *فاریاب*
د تأسیس کال: ۱۳۵۲/۱۹۷۳م. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د فاریاب ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت: مسؤول مدیر: سیف الدین مستمند سلجوقي د محمد ظاهر شاه په دوره کې (حمل ۱۳٤۵ – میزان ۱۳٤۷ش/مارچ ۱۹٦٦–اکتوبر ۱۹٦۸م)، د چاپ ځای: د میمنې ښار. چاپ شمیره: زر ګنې، ژبه: پښتو – دری، د خپرونې ډول، کچه، د چاپ بڼه. ورځپانه (په اوونۍ کې دوه ځلې) ۳۰X٤۰ سانتي متره، څلور مخه، د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور کودتا، محتوی: مقالې، د باختر آژانس ورلیږلې خبرونه.

د خپرونې نوم: *فولکلور*
د تأسیس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷٤، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د فولکلور او ادب آمریت. مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: د اطلاعاتو او کولتور وزارت. چاپ شمیر: ۱۵۰۰ ګنې، ژبه: پښتو – دری او انګلیسي. د

خپرونې دول،کچه، او چاپ بنه: دوه میاشتنی مجله ۱۸X۲۸ سانتي متره په ۱۲۰ مخونو کې، مصوره. د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور کودتا. محتوی: مقالې د افغانستان دعنعنوي کلتور او فرهنگ د بیا را ژوندي کولو په برخه کې څیړنیزې لیکنې، عامیانه ادبیات، اصطلاحات او نور مسایل.

د خپرونې نوم: *کابل*

د تأسیس کال: ۱۳۵۲ش/۱۹۷۳

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د پښتو ټولنې مستقل اورگان؛ خود بنوونې او روزنې د وزارت په ارتباط، مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: کابل، چاپ شمیره: ۱۵۰۰ گنې، ژبه: پښتو. د خپرونې دول، کچه، چاپ بنه: دری میاشتنی ځانگړې مجله. ۱۶X۲۴ سانتي متره، ۵۰مخه، د کار پای: ۱۳۷۰ش/۱۹۹۱م د پښتو ژبې او ادب په باب څیړنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *کندز*

د تأسیس کال: ۱۳۵۲ش/۱۹۷۳، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کندز ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت، مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: کندز ښار، چاپ شمیره: ۱۰۰۰ گنې، ژبه: پښتو – دری، د خپرونې دول، کچه، چاپ بنه: ورځپانه (په اوونۍ کې دری ځلې) ۳۰X۴۰ سانتي متره، څلورمخه. د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور اوومه، محتوی: دولتي خبرونه او اعلامیې. محلي خبرونه، مقالې.

د خپرونې نوم: *کندهار*

د تأسیس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷۴م. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت د ولایاتو د نشراتو مدیریت، مسؤول مدیر:؟، د چاپ ځای: کابل مطبعه، چاپ شمیره: ۱۵۰۰ گنې. ژبه: پښتو دری، د خپرونې دول، کچه، چاپ بنه: دری میاشتنی مجله (فصلنامه) ۱۸X۲۵ سانتي متره، ۴۰–۶۰ مخه، رنگه پښتی، مصوره، د کار پای د ۱۳۵۷ د ثور اوومه، محتوی: ټولنیزې، تاریخي او ادبي مقالې.

د خپرونې نوم: *هرات*

د تأسیس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷۴. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اطلاعاتو او کولتور وزارت د ولایاتو د نشراتو مدیریت، مسؤول مدیر: سیف الدین مستمند سلجوقي د ظاهر شاه په دوره کې په (۱۳۴۴–۱۳۴۵ش/۱۹۶۵–۱۹۶۶م)، د چاپ ځای: د هرات مطبعه، چاپ شمیره: ۵۰۰–۱۰۰۰ گنې، ژبه: پښتو – دری، د خپرونې دول، کچه، چاپ بنه: مجله (فصلنامه) ۲۵X۱۶ سانتي متره، ۴۰–۶۰ مخه، مصوره رنگه پښتی، د کار پای: ۱۳۵۷، محتوی: ټولنیزې مقالې، داستان، د شعر، کلتور او تاریخي مسایلو معرفي.

د خپرونې نوم: *هلمند*

د تأسیس کال: ۱۳۵۳ش/۱۹۷٤م. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د هلمند ولایت د اطلاعاتو او کولتور مدیریت، مسؤول مدیر:؟، د کمونستانو په دوره کې محمد عمر فرحت. د چاپ ځای: د کندهار ولایت مطبعه. چاپ شمیره: ۵۰۰–۱۰۰۰ ګڼې، ژبه: پښتو – دري. د خپرونې ډول، کچه، چاپ بڼه: اوونیزه جریده، ۳۰×٤۰ سانتي متره، یورنګ، ٤ مخه د خپرونې د کار پای: د ۱۳۵۷ د ثور اوومه، محتوی: د باختر آژانس ورلیږلي کورنې او بهرنې خبرونه، محلي خبرونه او مقالې.

## د دولت مطبوعاتي او تبلیغي فعالیتونه

دولت په ټول هیواد کې د نشراتي ټګلارې د هماهنګۍ په خاطر، دیوه سیمینار په ترڅ کې د ولایاتو د مطبوعاتو له مسؤولینو وغوښتل چې ټولې مقالې او تبلیغات باید د دولت له پالیسۍ سره همګام وي. همدا راز داؤود د کولتوري قراردادونو په لاسلیکولو سره له شوروي اتحاد، بلغاریې او یوګوسلاویا نه د سینمایي فلمونو د راوړنې له لارې، د کمونستانو پرمخ د نفوذ او تبلیغاتو ور پرانست. کمونستي هیوادو د مطبوعاتو د مامورینو د روزنې لپاره تحصیلي بورسونه برابر کړل. دولت یو شمیر اساسنامې هم تدوین کړې چې عبارت وې له:

– د دولتي مطابعو اساسنامه، په پنځو څپرکو او شپاړسو مادو کې.
– د افغان فلم اساسنامه، په پنځو څپرکو او یوویشتو مادو کې.
– د افغان ننداري اساسنامه، په څلور څپرکو او پنځلسو مادو کې.
– د افغان اعلاناتو اساسنامه، په پنځلسو څپرکو او اوو مادو کې.

### *الف– د فلکلور او ادب آمریت:*

د دې دورې له مهمو فرهنګي کارونونه د فلکلور په مختلفو برخو – عامیانه ادبیاتو، رسم و رواج، الفاظو، کلماتو او اصطلاحاتو، لوبو او نورو په برخه کې څیړنه وه چې ددې ادارې له خوا د دې مطلبو تر را ټولولو وروسته، هم په جلا ډول د رسالو په بڼه او هم په فولکلور مجله کې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو خپریدې.

### *د– د مستظرفه صنایعو آمریت:*

دې آمریت د نقاشۍ د هنر، کاشي کارۍ او مجسمه جوړونې په هنر کې کارکاوه او د مسلکي کورسونو په جوړولو سره یې زیات شاګردان وروزل. د دې آمریت د فعالیتونو په انکشاف سره، د کابل

پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی په چوکات کی د ښکلو هنرونو دیپارتمنت هم جوړشو چی په منظمه توګه یې هنری ګالری هم ایجاد کړی وی.

### ج- دخطی نسخو راتولونه:

د داؤود د دوری یو ارزښتمن کار د ملی آرشیف مینځ ته راوړل او د خطی نسخو را تولول وو. په دی مرکزکی چی، د شاهی او صدارت کتابتونو زیاتره نسخی هم پکی را تولی شوی دی. هڅه وشوه چی، دولت په کلیو، بانډو او ښارونو کی له خلکو نه خطی نسخی په مناسبه بیه و پیری او همدا راز یو شمیر خلکو د دی آرشیف د تقویې په خاطر، ورسره خطی نسخی آرشیف ته ډالی کولی. دولت همدا راز هڅه کوله چی، له کتابتون او فرهنګی مراکزو سره په ارتباط، له هغو خطی نسخونه چی په دی مرکز کی سوجودی وی عکسونه واخلی او ددی مرکز د تقویې په جهت کی هڅه وکړی.

### د- مطبوعاتی جوایز:

د افغانستان په مطبوعاتو کی د هنری او ادبی چارو د پراختیا یو نوښت د مطبوعاتی جایزو ورکول او د لیکوالو او محققینو هڅونه وه چی د محمد داؤود د جمهوری ریاست په دوره کی منځ ته راغله. په دی برخه کی د مطبوعاتی او کولتوری جوایز ولایحه په دری څپرکو (فصلونو) او دیرشوما دوکی تنظیم کړای شوه او تر اجرا لاندی ونیول شوه. هر کال په مختلفو برخو کی د لیکوالو او هنر مندانو تقریباً زر اثره اخستل کیدل او له هغی جملی نه ۲۵۰ تنوته تر تدقیق او څیړنی وروسته جایزی ورکول کیدی. دی اداری په لاندی برخو کی آثار را تولول: د قرآن کریم قرائت، ادبیات، طبیعی علوم، اجتماعیات، ژورنالیزم او ارتباطات، دینی علوم، تاریخ او تاریخی جغرافیه، رجال او ژوند لیک لیکنه، پخلی، داستان او طنز لیکنه، سندری ویل، پردیوسری، (سازیتوب از یا ندګی)، نطاقی او شعر لوستنه، ډایرکټری او تمثیل، عکس اخستنه (فلمبرداری) عکاسی، رسامی، مجسمه جوړونه، مستظرفه صنایع او خطاطی.

### هـ- د تاریخی آثارواو آبداتو ترمیم

دلرغون پیژندنی د اداری په تشکیل کی یو بل ګتور کار د افغانستان د تاریخی آبداتو حفظ او ترمیم و، چی د هیواد د تاریخی یادګارونو په توګه مهم ګڼل کیدل. له هغی جملی نه:

د بامیان او د هغوی د د ننیو رواقونو ترمیم، د جلال آباد د هډی حفریات، د آیی خانم د آثارو حفریات او ساتنه، د ګازر ګاه شریف ترمیم، د خواجه د جومات ترمیم، جامع جومات د مصلی منارونه، ارګ، بالاحصار، په هرات کی د اختیار الدین کلا، په کندهار کی د میرویس نیکه مقبره، د احمد شاه بابا مقبره او د خرقی مبارکی ودانی، د لوګر د سجاوند د تخت جمشید مخروبی، د غزنی منارونه او هم د هیواد د موزیمونو تقویه او بهبود ددی دوری له ډیرو ارزښتمنو کارونونه شمیرل کیږی.

# په افغانستان کې د ژورنالیزم زده کړه

په افغانستان کې په اکادمیکه او تخصصي بڼه، د ژورنالیزم زده کړه په ۱۳۳۰ش/۱۹۵۱م کې کې پیل شوه او باید چې د محمد ظاهر شاه په دوره کې تر څېړنې لاندې نیول شوې وای مګر دا چې زه (لیکوال) په دې دوره کې ددې رشتې شاګرد وم او د خپل درانه استاد پوهاند حبیب الرحمن هاله په مقاله استنادکوم دا چې هغه هم د محمد داؤود په دوره کې د ژورنالیزم د دیپارتمنت آمرو، ددې برخې څېړنه لازمه بولم.

د ژورنالیزم په برخه کې د افغانستان لومړني متخصصین او د لوړو زده کړو خاوندان صباح الدین کشککي او محمد خالد روښان دي. چې په ۱۳۳۵ش/۱۹٦۰ د مشیګان پوهنتون په موافقه د امریکا متحده ایالاتوته دلوړو زده کړو لپاره واستول شول. په ۱۳۳۹ش/۱۹٦۰م کې دهغوی په بریالي راستنیدنه، په تدریسي تګلاره کې د یوه بدلون او په کابل پوهنتون کې د ژورنالیزم د زده کړې یوه تعلیمي بنیاد ته ارتیاوه. په لومړنۍ پنځه کلن انکشافي پلان کې د افغانستان د غیر متخصصو ژورنالستانو لپاره د ژورنالیزم او مطبوعاتو له اساساتو سره د اشنایي پخاطر، د مشیګان پوهنتون په همکارۍ او یوه امریکایي ژورنالست جالف په مرسته په کابل کې یو مسلکي کورس جوړ شو چې د مطبوعاتو د مستقل رئیس ډاکټر سهیل په ګډون زیاتره مسؤلین دزده کړې لپاره ورتلل. ور پسې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځۍ د رئیس ډاکټر عبدالحکیم ضیایي او ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځۍ د رئیس ډاکټر بهاء الدین مجروح په همکارۍ د یوه ګډ کمیسیون په اجنداکې یې د ژورنالیزم دیپارتمنت په کابل پوهنتون کې منځ ته راوړ او په ۱۳٤۱ ش/۱۹۷۳م کال دامریکا په مرسته دا دیپارتمنت تأسیس شو. صباح الدین کشککي د دیپارتمنت د آمر په توګه وټاکل شو. دې دیپارتمنت، په ۱۳٤٤ش/۱۹٦٦م خپل لومړی دوره فارغان تولنې ته وړاندې کړل. سره له هغې چې د تدریس سیستم د امریکایانو په واسطه پرمخ بیول کیده خو تګلاره یې د کابل پوهنتون د درسي اساساتو سره سمه وه او د کریډت سیستم نه و موجود. د ژورنالیزم په تدریس کې مضامین په اصلي مسلکي او فرعي ویشل شوي وو چې غالباً په فرعي مضامینو کې د علومو مبادي تدریس کیدې. همدا راز د پښتو، دري اوانګلیسي ژبو زده کړه ضروري وه. د ژورنالیزم استادان په دایمي اجیرو او بهرنیو ویشل شوي وو چې په مسلکي برخه کې یې هر کال د امریکا د پوهنتونو یو پروفیسر د تدریس لپاره افغانستان ته راته.

په ۱۳۵۱ش/۱۹۷۲م کې صباح الدین کشککي د محمد موسی شفیق په کابینه کې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په توګه وټاکل شو او د دیپارتمنت آمریت پوهنوال حبیب الرحمن هاله ته وسپارل شو چې په امریکا کې یې د ژورنالیزم په برخه کې مسلکي زده کړه کړې وه. د دې برخې درسي سویه، له نورو برخونه لوړه ګڼل کیده. د دې رشتې مینه والو باید د پوهنځي په لومړي کال تر ټولو لوړې نومرې وړې وای

او د ژورنالیزم په برخه کې د منل کېدو لپاره یې باید لومړنې شرایط پوره کړي وای اوله لیکوالۍ او ادبیاتو سره یې پوره اشنایی درلودای. په کابل پوهنتون کې د ژورنالیزم زده کړه په ډېره لوړه سویه وه چې په امریکا کې د ژورنالیزم د زده کړې سره یې برابري کوله. مسلکي کتابتون، د فوټو ژورنالیزم په برخه کې لابراتوارونو، د راډیو او تلویزیون او تکړه استاذانو موجودیت، ټولنې ته ممتاز شاګردان وړاندې کول سره له هغې هم د استاذ هاله په عقیده "لا یې هم درسي معیارونه ټیټ وو او د درسي مواد واو مسلکي لابراتوارونو د کمښت په وجه ستونزې موجودې وې."

"وروسته ترهغې چې د افغانستان د خلق د موکراتیک ګوند له نظامي لارې سیاسي واک ترلاسه کړ، غوښتل یې د مطبوعاتي قوې په استعمال سره، هغه ټینګ او پراختیا ورکړي، نو ځکه یې د تولنیزو رسنیو ټولې وسیلې تر خپل مستقیم کنترول لاندې راوستې؛ ځکه لینن، مطبوعات د خپلو ایډیولوژیکو اهدافو په پرمخ بیونه کې ډېر مهم او د ګوند بنې مټ ګڼه" (۱۲)

د ثور د کودتا په بریالي کېدو سره پوهاند هاله دیوه مسلمان او کمونستانو د مخالف په توګه، اته کاله په پلچرخي زندان کې تیر کړل. د دې دیپارتمنت ریاست توریالي راقم ته وسپارل شو. کمونستانو دخپلې خوښې او تګلارې سره سم د ژورنالیزم د دیپارتمنت بیارغاونه وکړه؛ د امریکایي تدریس تګلارې حذف او پر ځای یې روسي مواد او تګلارې دود شوې. د روسیې یو شمیر مطبوعاتي متخصصین په کارو ګومارل شول. همدا رازد افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند داجتماعي علومو انستیتوت تأسیس شو او د ژوزنالیزم پوهنځی هم په هغه انستیتوت کې په کار پیل وکړ. یو شمیر ځوانان د زده کړو لپاره سوسیالستي هیوادونه واستول شول. همدا راز د ژورنالستانو د نوی تشکیل شوی اتحادیې له خوا یو لړ سیمینارونه دایر شول چې پخواني مامورین، د ژورنالیزم په برخه کې د روسانو د وړاندې کړای شوی تګلارې سره اشنا شي. د دې دیپارتمنت زیاتره درسي مواد د ژورنالیزم د مسلکي موادو پرځای د ماتریالیزم دیالتیک د ایدلوژۍ تدریس و. د ژورنالیزم یو متخصص کله چې له ختیز المان نه کابل ته راغی او د دې دیپارتمنت د تدریس موادیې وکتل، و ویل: "د ماتیریالیزم د دیالتیک مضامین او د تاریخي ماتریالیزم تدریس، بنه دا و چې د ژورنالیزم د دیپارتمنت پر ځای د فلسفې په دیپارتمنت کې شوی وای" (۱۳)

د خلقیانو په سقوط او واک ته د پرچمیانو په رسیدو سره، د تعلیمي ادارو ریښتیني واک د روسي مشاورینو په لاس کې و چې د ژبې په برخه کې اداره د تاجکي کمونستانو په لاس کې وه. د دې دوو ډلو په اختلافاتو کې د کابل پوهنتون رئیس عزیز الرحمن سعیدي چې د خلقیانو د ډلې سړی و، ترور شو او پرځای یې د کاجي یې یو ګومارل شوی اسد الله حبیب د کابل پوهنتون رئیس شو. د ژورنالیزم دیپارتمنت د سلیمان لایق ورو بشیر لایق ته چې په مسکو کې یې زده کړه کړې وه وسپارل شو. د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د کابل اداري دیوی اجرائي مرجع په توګه کوښښ وکړ چې خپل

زیاتره کمونسست غړي او یا خپل پلویان د حزبي ژمنو حلقي ته راکاږي او وروسته د مارکسیزم لیننزم په تګلاره کي نیمه تحصیل یا فتګان په تعلیمي اداري او مطبوعاتي ادارو کي ځای پرځای کړي. په همدي خاطر له کابل پوهنتون نه د ژورنالستانو د روزني صلاحیت واخستل شو او مرکزي کومیټي او د ژورنالیستانو اتحادي ته وسپارل شو. دی اتحادیي دنه تجربي له لامله، هغه ځوانان چي خپلي موربني ژبي پښتو او دري یې نه وی زده، مسکو ته ولیږل او په شپږو میشاتو کي د ژورنالیزم په برخه کي له ماستریو سره بیرته راستانه شول. د زیاترو متخصصینو په اند له مسکونه د کمونستانو شپږ میاشتني ماستري عملاً د ژورنالیزم د زده کړي پر ځای کمونستي تیوري د تګلاري په برخه کي وي؛ ځکه هغوی په شپږو میاشتو کي نشوای کولای په لوستني او ابتدايي کچ په روسي ژبه خبري وکړي څه دا چي ژورنالیزم زده کړي.

## تلویزیون په افغانستان کي

په افغانستان کي د تلویزیوني خپرونو پروګرام هغه مهال په پام کي ونیول شو چي محمد موسی شفیق د صدار اعظم په توګه توکیو (جاپان) ته سفر وکړ. د محمد داؤود د جمهوریت په وخت کي یې د وداني د جوړولو کار، د سامان آلاتو پیرودنه، او د رادیو افغانستان ترخنګ د لیږونکي دستګاه (فرستنده) همدا راز د آسمايي غره پرسر دلیږونکي دستګاه نصب، ایران، جاپان او بلغاریي ته د اطلاعاتو او کولتورو وزارت د ځوانانو او ماموریتو چي زیاتره د رادیو یې پروګرامونو پروډیوسران و، لیږنه، تر سره شول. د دی مهمي دله ییزي خپرني د کار پروسه او تشکیل بشپړشو. ما (لیکوال) هم د ژورنالیزم د یوه فارغ او مسلکي کس په توګه، د دایرکټر او پروډیوسر په نامه په دی اداره کي په کار پیل وکړ. تلویزیون په ۱۳۵٦ او د ۱۳۵۷ش/۱۹۷۸په پیل کي پیلیزي خپروني پیل کړي. داؤود غوښتل چي تلویزیون تر رسمي خپرونو دمخه د بین المللي معیارونو سره سم د مستندو، هنري فلمونو په ژباړه او تهیه لاس پوري کړي. همدا راز راپور تاژونه، برابر کړي او ددی اداري آرشیف غني کړي او د تلویزیون خپرني مواد تر شپږ میاشتو دمخه آماده او ثبت شي. په کابل کي د افغانستان تلویزیون: ۱- اطلاعاتي او خبري برخه درلوده چي پر خبري سرویسونو سربیره، باید رپوتونه او تبصري هم ولري او په همدی خاطربي سیاری دستګاه وی (او، ب، وان) هم آماده کړي وی، ۲- د رادیو تلویزیون په تخنیکي برخه کي یې ځوانان له عالي تخنیکمه استخدام او لندمهالي بورسونه هم ورکړل شوی وو. د تلویزیون د تخنیکي برخي مسؤولیت تر پرانستو دمخه د محمد داؤود زوی انجنیر محمد خالد پرغاړه درلود، ۳- د روزني برخه چي تول، تولنیز پروګرامونه پکي شامل وو، ٤- د فلم برخه چي له نورو ژبونه په پښتو او دري ژبه د مستندو او هنري فلمونو په ژباړه مکلفه وه، ٥- د موسیقي او ډرامو برخه چي د افغانستان د موسیقي د پارچو په تهیه او ثبت او یا د غیر افغاني موسیقي د پروګرامونو او هم د ډرامو پر ثبت مکلفه وه. پر دی سربیره، د ادبیاتو او

نورو هنرونو په برخه کې، د رادیو د هنر او ادبیاتو اداری د تلویزیون تشکیلاتو ته هم لار پیدا کړه.

د ۱۳۵۷ د ثور په کودتا سره، د کمونستي واکمنو د سیاسي مصلحتونو له مخې تلویزیون خپلې عادي خپروني پیل کړې چې په پیل کې یې خپروني د شپې په دری ساعتونو ویشل کیدې. د روسانو مطبوعاتي مشاورینو توصیه کوله چې باید خپروني د شوروی له سیاستونو سره سمې عیاری کړای شي. د مارس آخذه دستگاه چې شوروی د خپرونو خپرني کانال سره تړل کیده او باید دا پروگرام د هغو له جانبي تبصرو سره، دوباره د افغانستان د تلویزیون له لاری خپور شوی وای، د کابل تلویزیون د ودانی شاته ځای پرځای کړای شو. په خپرونو کې محدودیتونه وضع کړای شول. تولې خپروني شعاري او سیاسي شوی وی، وروسته د همسایه بزرگ شمالي ما یا زموږ لوی شمالي گاونډي پروگرام د تلویزیون د تولو ابتکاری پروگرامونو ځای ونیو. د رادیو تولې خپروني خبرونه، اعلامیې د خلقي او پرچمي مشرانو اوږدې بیانیې، د ځانگړو حزبي متنگونو رپوټونه مبتذ له شعاری او غیر هنری اوله انساني عفته لری موسیقي، د سوسیالستي هیوادو فلمونه یا هغه مبتذل پاکستاني فلمونه چې د نور محمد تره کي د ذوق زیږنده وو، و. د کابل تلویزیون یو خپرني کانال درلود، خو روسانو هڅه کوله د مارس د دستگاه او مصنوعي سپوږمۍ له لاری، په دوو نورو کانالونو سره، د افغانستان عامه ذهنیتونه پخپله گټه وڅرخوی.

د کمونستانو په دوره کې د رادیو - تلویزیون تشکیلاتو د وزارت سطحې ته ارتقا وکړه او په بازاری او انحرافي پروگرامونو لکه (هنر د خلکو په خدمت کې) د افغانانو ځواني نوني، صحنو، او په لارو کوڅو کې رقص او تمثیل ته راکاږلي.

پر افغانستان د روسانو تیری، یوه لویه فاجعه وه چې په فرهنگي کچ یې تر اوسه ناوړه اغیزې پاتي دي. تلویزیون، په افغانستان کې د روسي قواو د پاتې کیدو لپاره بهترینه تبلیغاتي وسیله وه په همدې خاطر یې یوه اندازه تبلیغاتي او تخنیکي مواد د تلویزیون له لاری د همدې هدف لپاره خپرول. په ۱۳٦۸ ش/۱۹۷٤م کال یې آخذه اولیږونکې دستگاه په زیات قوت سره چې د روسیې له انتر سپوتنیک مصنوعي سپوږمۍ سره یې اړیکې درلودې د مخابراتو د وزارت پرسر نصب کړه. دا دستگاه چې د "شمشاد" په نامه نوموړ شوی او مشهوره شوی وه، په مخابروی او تصویروی پروگرامونو او رپوټونو کې مهم نقش لوباوه.

تلویزیون کمونستي رژیم ته دیوې مهمې تبلیغاتي او تفریحي وسیلې حیثیت درلود او روسانو ددې مفاهموی وسیلې په پراختیا کې زیات هاند وکړ. تر تولو لومړی یې د بدخشان، بغلان، بلخ، هرات، فراه، هلمند، کندهار، خوست، غزني او ننگرهار ولایتو په مرکزونو کې آخذوی وسیلې او د ثبت او خپروني کوچنې استدیوگانې نصب کړې او د استدیوهای ولایات یا د ولایاتو استدیوگانو په نامه تشکیلات یې هم منځ ته راوړل چې تبلیغاتي مواد تر ثبت وروسته، د شمشاد د مخابروی دستگاه په واسطه هلته استول کیدل او یا که به هغه مرکزونه د مجاهدینو په کلابندۍ کې وو، د هلیکوپترونو په واسطه به انتقالیدل.

د خلقیانو په وخت کې د رادیو تلویزیون وزیر حیدر مسعود او د تلویزیون رئیس اخکزی و. د

روسانو تر تجاوز او واک ته د پرچمیانو تر رسولو وروسته، وزارت مجید سربلند او دتلویزیون ریاست عبدالله شادان ته ورکړل شو. څرنګه چې تلویزیون په افغانی ټولنه کی یوه نوی مفاهموی پدیده وه، زیاتره به د خلکو پام د پروګرامو د چلوونکو حرکاتو، خبرو او اعمالو ته ور اوښت. په دی پروګرامونو کی، خپلچاری او د خلق، پرچم د ډلو او لوړو دولتی غړو ترمنځ اختلافات هم احساسیدل.

واک ته د صبغة الله مجددی او وروسته برهان الدین ربانی په رسیدو سره، بیا هم رادیو، تلویزیون د رژیم د شعارونو وسیله شوی وه. کابل تلویزیون د تبلیغاتی جنګ په نامه له حزب اسلامی سره په مخالفت کی چی قواوی یی د کابل په جنوب کی ځای پر ځای وی ستغی سپوری خپرولی. دا مهال د تلویزیون یو بل کانال د کابل په جنوب کی د حزب اسلامی له خوا (پیام ازادی رادیو – تلویزیون) په نامه په جلا فریکونسی خپلی خپرونی پیل کړی وی دغه خپرونی د ۱۳۷۹ زمری په لومړی ورځو کی /جولائی ۲۰۰۰م بیا په فعالیت پیل کړل. (ددی کتاب اتمی برخی ته مراجعه وکړی)

واک ته د طالبانو په رسیدو سره د تلویزیون خپرونی ودرول شوی.

## د پنځمې برخې پايليكونه او اخځونه

۱- داؤود خان د کاجي بي په لوموکي، ۱. هارون، دويم چاپ، خيبر څېړني مؤسسه، د ۱۳۷۳ ورې، پېښور، ٥٤ مخ.
۲- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان (۱۹۱۹-۱۹۹٦) عبدالحمید مبارز، ۱۳۷٥، ۳۳۲ مخ.
۳- اولین بیانیهٔ محمد داؤود رئیس جمهور وصدر اعظم افغانستان بمناسبت آغاز انقلاب جمهوری ۲٦ سرطان ۱۳٥۲ (رساله) انتشارات مطبعه دولتی.
٤- د ۱۳٥۲-۱۳٥۳ کالنی، دولتی مطبعه، کابل، ح مخ، اطلاعات و کلتور وزارت، کابل، ۱۳٥۲.
٥- جمهوري ورځپانه، د ۱۳٥۳ ش د ثور د ۱۹ مي/د ۱۹۷٤ د مي د نهمې گڼې لومړي مخ.
٦- داؤود خان د کاجي بي په لوموکي، هارون، ٦۸ مخ.
۷- "خطاب به مردم افغانستان" بیانیه (رساله) محمد داؤود د افغانستان جمهور رئیس، او صدراعظم، د ورې لومړۍ، ۱۳٥۲) دولتي مطبعهٔ، کابل.
۸- هماغه اخځ د (ترقي عمومي) برخه.
۹- سقوط افغانستان د عبدالصمد غوث ليکنه، د تحليل واقعات سياسي افغانستان په حواله، ۳٤٦ مخ.
۱۰- شب های کابل، جنرال عمر زی د ۱۳۷٤ لرم، پېښور، سبا کتابخانه، ۹٤ مخ.
۱۱- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان، مبارز، ۳٦٥ مخ.
۱۲- تعلیمات ژورنالیزم در افغانستان، (مقاله) پوهاند حبيب الرحمن هاله د فردای افغانستان سیمینار، اسلام آباد، د افغانستان د جهاد ثقافتي شورا، ۱۳۷۱، ٤۱۹ مخ.
۱۳- هماغه اخځ، ٤۲۰ مخ.

شپږمه برخه

# د کمونستانو کودتا (د ۱۳۵۷ د ثور اوومه)

## په افغانستان کې د فاجعې پیل

د ۱۳۵۷ د ثور ۷مه – د ۱۳۵۸ د مرغومي ٦مه

(د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۷مه/د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷مه)

د محمد داؤود پر خلاف د کودتا په پیلولو سره، کمونستانو تر ټولو د مخه په راډیو افغانستان حمله وکړه او لومړنی اعلامیه ډګروال عبدالقادر او بیا وروسته جګړن اسلم وطنجار د راډیو افغانستان له لاری ټول هیواد ته اعلان کړه اوویې ویل چې واک د غدارانو در له کورنی نه، د افغانستان وسله والو قواو د انقلابي شورا لاس ته ورغی. د دې اعلامیې له اعلان سره لا په جمهوري ارګ کې د محمد داؤود پر خلاف جنګ روان و. همدا راز کمونستان د کابل ولایت زندان ته ورغلل نور محمد تره‌کی او ببرک کارمل یې له نورو کمونستانو سره له زندانه راخوشې کړل او د راډیو افغانستان استدیو ته بوتلل شول چې له همغه ځایه یې اعلامیې ترتیبولې او لیږلې یې. همدا راز هغوی د دفاع وزارت مقر ته ولاړل او د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د انقلابي شورا فوق العاده غونډه جوړه شوه. په حقیقت کې غیر نظامي کمونستانو هڅه وکړه چې، د دې کودتا نوښت په دواړو شوراګانو د انقلاب شورا او نظامي شورا کې یوځای کړي. د ۱۳۵۷ د ثور پرلسمه د خلق د دیموکراتیک ګوند د مرکزي شورا غونډه جوړه شوه، چې نور محمد تره کی د خلق د دیموکراتیک ګوند د عمومي منشي او د دولت رئیس او ببرک کارمل او حفیظ‌الله امین یې د مرستیالانو په توګه وټاکل شول.

تره کی د ثور پر دولسمه خپله کابینه اعلان کړه "د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت په کابینه کې لکه چې د هغه ګوند په مؤسسه کنګره کې د خلق او پرچم ترمنځ توازن ساتلی شوی و، په پام کې ونیول شو: خو د هغې سره سره هم د پرچم ډلې وزن زیات و"(۱)

په دې کابینه کې دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او عمده دولتي منصبونه پرچم ډلې ته ورکړل شوي وو، او زیاته سیاسي ګټه پرچمیانو وکړه، د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت لومړنی کابینه دا ډول اعلان شوه:

## خلقیان:

۱- نور محمد تره کی: جمهور رئیس او صدراعظم.
۲- حفیظ الله امین: د صدارت دویم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر.
۳- جګړن محمد اسلم وطنجار: د صدارت دریم مرستیال او د مخابراتو وزیر.
٤- دکتور شاه ولی: د عامې روغتیا وزیر.
٥- صالح محمدزیری
٦- عبدالکریم میثاق: د مالیې وزیر.
۷- عبدالحکیم شرعي جوزجاني، عدلیه وزیر.
۸- محمد منصور هاشمي د اوبو او برېښنا وزیر.
۹- پوهاند محمود سوما د لوړو زده کړو وزیر.
۱۰- عبدالقدوس غوربندی: د سوداګرۍ وزیر.
۱۱- غلام دستګیر پنجشیري د ښوونې او روزنې وزیر.
۱۲- محمد اسماعیل دانش: د کانو او صنایعو وزیر.

## پرچمیان:

۱۳- ببرک کارمل د صدارت لومړی مرستیال.
١٤- نور احمد نور د کورنیو چارو وزیر.
۱۵- ډګروال عبدالقادر د دفاع وزیر (وروسته جنرال)
۱٦- سلطانعلی کشتمند: د پلان وزیر.
۱۷- محمد حسن بارق شفیعي: د اطلاعاتو او کولتور وزیر.
۱۸- سلیمان لایق: د رادیو - تلویزیون وزیر.
۱۹- اناهیتا راتب زاد: د ټولنیزو چارو او توریزم وزیره.
۲۰- نظام الدین تهذیب د سرحدونو او قبایلو وزیر.
۲۱- جګړن محمد رفیع: د فواید عامې وزیر (وروسته جنرال)

دری ورځې وروسته والیان مقرر شول او پخوانی لوړ رتبه مامورین او جنرالان یا له خپلو دندو ګوښه کړای شول او یا هم زندان ته واچول شول. کمونستانو د خپلې واکمنې په لومړیو کې د خپلو مبارزو او اعتصابونو او فعالیتونو په باب بیانیې ورکړې او د محمد داؤود په واسطه یې د خپلو رهبرانو پرنیول کیدو انتقاد وکړ. هغوی امان الله خان سره له هغې چې په شاهي او محمدزي کورنۍ پورې تړلی سړی و، له دې لامله چې له روسانو سره یې ښې اړیکې درلودې دیوه ترقي غوښتونکي پاچا په نامه یادکړ.

دولت د تولنیزو حالاتو د څارنې په خاطر، نظامي حکومت اعلان کړ او د شپې له لسو بجو وراخوا یې په ګرځېدو راګرځېدو بندیز ولګاوو. د دولت دری ګوني قواوې په انقلابي شوراکې مدغمې شوې او فرمانونو د قانون ځای ونیو. د کابل یې په مرسته شوی کودتا د انقلاب نوم غوره کړ په داسې حال کې چې ټولې دنیا په مطبوعاتو او سیاسي ټولنوکې هغه د کمونستانو دیوی ربښتینې کودتا په نامه یادوله.

بریژنف لومړنی سړی و چې نور محمد تره کي ته یې د مبارکۍ پیغام واستاوه، او د رژیم د په رسمیت پیژندنې په ترڅ کې یې، ددواړو خواو ترمنځ دښو اړیکو غوښتنه وکړه. په لومړنی هاند کې چې کمونستانو وکړ، ټول بندیان او لوړ رتبه دولتي مامورین د دفاع وزارت زیر زمینیو ته راوړل شول او تر شکنجې لاندې ونیول شول، څه یې ووژل او نوریې پلچرخي زندان ته انتقال کړل. د ثور کودتا په لومړیو ورځوکې د سلیمان لایق شعر "ای د آزادی خاوری تاته موسلام دی" د ناشناس په آواز کې په پرله پسې توګه د ثور له کودتانه په سلاتړ خپریده.

د "لینن کبیر!" کلمه چې د افغانانو په ذهنیتونوکې د منلو وړنه وه او احساساتو ته یې صدمه رسوله، په هره بیانیه او وینا، هره مقاله او رپوټ کې په طمطراق سره بیانیده. سره له دې چې خلقي او پرچمي کمونستان په دې پوهیدل چې د لینن کلمه افغان اولس ته د منلونه وه، خو د مخکني پلان له مخې یې عمداً په دې کار سره نیوړ، ترړل او وژل د خپل کورني سیاست برخه وګرځوله. ددې ادعا له مخې چې کمونستانو ځانونه د ملت په وړاندې خوارې کښ مخکښنان معرفي کړي وو، برعکس یې په عیاشۍ، او د عقدو په اوارولو پیل وکړ او د نفسي غوښتنو خواته یې مخه کړه. کمونستانو د امنیت د تأمین او د انقلاب د مخالفینو د ځپلو په نامه د اولس په ترلو او وژلو پیل وکړ. هغوی خلک د اخوانیانو اشرافیانو، فیودالانو، تنګ نظرو ناسیونالستانو، چپي افراطیانو اولویدیځپالو په نامه شکنجه کول او د اولس پر خلاف یې یو لوی جنګ پیل کړ. د علماو او روحانیونو په ګډون یې په زرګونو کسان زندانو ته واچول او په سولې یې وخیژول. کمونستانو خپلو شخصي عقدو او زړو شخصي دښمنیو ته هم تردې نامه لاندې د غچ اخستنې بنه ورکړه.

## داګسا د جاسوسي سازمان

دا سازمان همغه د داؤود دوخت د دولتي امنیت دستګاه وه چې ترکودتا وروسته د شکنجو په نویو وسایلو او نویو شکنجه ځایونوکې چې په صدارت، دکورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، او د کابل هوایي ډګرکې آماده شوې، د اسد الله سروري تر ریاست لاندې د خلکو په بندي کولو، او وژلو پیل وکړ.

اګسا "د افغانستان د ګټو ساتلو اداره" مخفف و. د کابل رژیم د شوروی په مشوره، یو شمیر بې تجربې او بې سواده ځوانان او پیغلې د جاسوسۍ دزده کړې لپاره شوروی ته واستولې. هغوی بې پنځلس ورځنیو تردوه میا شتنیو کورسونو په واسطه د شکنجې او تحقیق له دولونو او لارو چارو سره اشنا کړل. د اګساد غړو احساسات او اجراآت هم د زیات تشنج لامل ګرځېدل او زموږ زیات شمیر هیوادوال د آګسا د جاسوسی سازمان د قصابانو ترسا طور لاندې راغلل. اسد الله سروری یو سخت زړی او بې احساسه سړی و او تره کې ته له نږدې او خاصو کسانو نه شمیرل کیده. اګسا سازمان دکې چې بې تر لاربنوونې لاندې په زرګونو اولکونو کسان په ډېر فجیعانه ډول شهیدان کړل. شوروی ددې سازمان د پراخولو په لړ کې، په ولایتو کې هم د اګسا مدیریتونه جوړ کړي وو، چې په هغه ډول بې خلک نیول، شکنجه کول او وژل بې. د رژیم د مامورینو د اتریخ برخورد د رژیم او خلکو ترمنځ فاصلې پیداکړې. کمونست رژیم د احساساتي او بې تجربې وګړو په لرلو سره د خپلو اطلاعاتي فعالیتو یوازنی محصول همدا د خلکو شکنجه ګنلم، چې جعلي اسناد به بې وړاندې کول. د کمونستانو له خوا "هغه څوک قهرمان ګنل کیده چې له نورو نه به بې زیاتې دسیسې جوړولې"[۲]

د ثوړ کودتا پر لومړي میاشت، روسانو د شکنجې مختلف آلات له شوروی نه افغنستان ته راولیږل چې د آکسا په مختلفو مرکزونو کې ځای پر ځای کړای شول. د دې سازمان مرکزونه له پلچرخي او دهمزنګ له زندانونو جدا وو. او د تحقیقاتو او شکنجې جدا مرکزونه بې جوړ کړي وو چې مهم بې په لاندې ډول وو:

۱– د *چهار صد بستر روغتون زیر زمیني*: دا روغتون په تاریخ کې د کمونستانو له جنايي مرکزونونه ګڼل کیږي. دې روغتون ته زیاتره د کمونست ګوند غړي، منصبوال او د کا چې بې (اګسا، کام، خاد، واد) غړي د تداوی لپاره وړل کیدل او د کمونستانو د ژوند د اعادې په خاطر بې د مجاهدینو او مسلمانانو پر خلاف دنه منلو جنایات ترسره کول. په حقیقت کې د کابل چهار صد بستر، د رژیم د مخالفینو دله پوسته کولو په خاطر په پام کې نیول شوی و. کمونست رژیم به زیاتره وخت کله چې مخالف ځوانان ونیول او یا به بې له کورونو نه راوستل، د چهار صد بستر د زیر زمیني شکنجه ځای ته به بې بوتلل، د تحقیق په جریان کې به بې تری پوټکې ایست او په دې توګه به بې له منځه وړل.

کمونستانو په ترتیب سره تحقیق له مجاهدینو نه پیلاوه او لومړنی شکنجه به بې د هغوی د نوکانو ایستل او دغوښو څیرول وو. وروسته به په داسې حال کې چې بندی به ژوندی و، پوټکې به بې تری ایست. همدا راز به بې د هغوی ګردې، سږې، ځیګر، زړه او سترګې ایستلې، نوکان به بې تری ایستل، غوښې او وینه به بې تری ایسته او د روسي متخصصینو په واسطه به بې د کمونستانو د زخمونو د پیوندولو لپاره تری کار اخست. همدا راز به بې د بندیانو د وجود غړي په بوتل کې اچول او د روسانو د روغتونو د استفادې لپاره به بې مسکو ته استول.

۲- *د کابل بالا حصار او د مرنجان غونډۍ وسله تون:* دا د مسلمانانو د وله بیزی وژنې مرکز: یوه بندي راته وویل چې، دا ځایونه یې د اوږدو حمامونو او تونلونو په شکل جوړ کړي دي چې هیڅ منفذ نه لري او تپه تیاره وي. کله کله به چې جلا دان او مستنطقین هلته ورتلل نو دهغه ځای ګروپونه به یې روښانه کړل. د دې تونل څنډوته به ګرد چاپیره دیوه متر په اندازه داوسپنو سیلي ودرولي وی چې بندیان به یې په هغو پوری تړل. د دې شکنجه ځای ځلور خواته دیوالونه، د تویو کړای شویو ویئو په کربنو سره او تورو. سقف یې نم درلود او مختلف حشرات به پکی لیدل کیدل. څرنګه چې دا شکنجه ځای د وسلو د ساتنې لپاره هم و، تانکونه به یې هم دننه راوستل. یوبندی وایی چې زه یې پنځلس ورځې له یوه تانګه داسې له پښنو ځوړند کړی وم چې سرمې د تانک پر سطح تکیه نه شي. دورځې دوه ځلې به یې بهربیولم او په میلو پوری به یې تړلم، برق به یې راکاوه او په ډیره وحشیانه توګه به یې د اوسپنې په میلو داسې وهلم چې اوس معیوب شوی یم. (۲)

۳- *د قوای مرکز پخوانی ودانی:* دلته به هم د څهار صد بستر په څير له بندیانو سره له جنایته کار اخستل کیده او له په زرګونو کسانو یې پوستکی ایسته او د بدن غړی به یې شوروی ته استول.

٤- *د دفاع وزارت نظامی بارکونه:* په دی ځای کی او سپنیز میزونه ایښي و چې د انتقال وړ نه وو، او په کونجونو کی یې د بندیانو لپاره ولچک اوزولنې موجودې وې. همدا راز یې د برقي شکنجو زیات وسایل ځای پر ځای کړی وو چې بندیان به یې پری شکنجه کول.

٥- *د کاریز میر فارم طویله (تبیله)* ٦- *د ماهیپر او نغلو د بریښنا د بند زیر زمیني:* په دی ځایونو کی به یې د بندیانو سلاوی، غاړی او پښې ماتولې او بیا به یې پریښودل، هغوی به څو ورځې درد تیراوه او چغې به یې وهلې تر هغې چې شهیدان به شول.

د اګسا، کام او خاد د جاسوسی سازمان د نورو شکنجه ځایونو په باب غوارم مازی نوسونه یې واخلم چې عبارت وله: دصدارت زندان، د مهتاب کلا د مخابری قطعه، د شش درک د خاد زیرزمینی، په وزیر آکبر خان شهرنو او کارته سه کی ضبط شوی ودانی، د پلچرخی د ځلورو او پنځلسو زغره والو قواو وسله تونونه، په دارالامان کی پنځم خاد، په افشار کی د پولیسو آکادمی او د کابل ارګ جنوبی برخی (په دی برخه کی دی د "کمونستها و جنایات در افغانستان" د لیکوال اثر ته مراجعه وشی)

## د کمونستانو جنایات

تره کی د خپل ګوند غړو ته دستور ورکړی و چې په هر ډول کولای شی خپل مخالفین وتکوی او د حفیظ الله امین په وینا چې ویلی یې وو: "د افغانستان له اوولس ملیونه نفوس نه یوازی یو ملیون موږ ته

بس دی" په افغانستان کې د خلکو سر، مال او ناموس خوندی نه و، د عقایدو او مغزو تفتیش هر چیرته حاکم و. هر خلقي او پرچمي عام وتام صلاحیت درلود چي له مسلمان اولس سره څه ډول بې چې زړه وغواړي، عمل وکړي. د کمونست توب معیار د اوږدو بریتونو پریښودل، شراب څښل، د دین او روحاني شخصیتونو سپکاوی، په دین پوری توکې او ملنډې وهل، د شپې په مجلسونو کې ګډون، د ښځو او نارینه وګډون، روسي ښځه درلودل او په روسیه کې تحصیلات وو.

دګر د افغانستان خلکو په ځانګړی توګه په ښارونو کې خپل نیم عمرونه په زندانو او یا د کور دننه تیر کړل. د شپې آرامي د کمونستانو د جنایاتو لپاره، ډیر ښه وخت شمیرل کیده چې باید کورونه تلاشي او چور و چپاول کړي. د خلکو پر ناموسونو او د کورونو پر غولي تیری کیده، کمونستي رژیم یو شمیر جنایي بندیان چې د داؤود خان په وخت کې بندیان شوي وو، له زندانو نه پریښودل او په وسله والو ځواکونو او له انقلابه د دفاع په کومیټو کې په شاملولو سره یې د هغوی له صلاحیت او استعداده په دې جهت کې کار واخست. د دې جانیانو پر ځای روحانیون، عالمان او مسلمان ځوانان د زندانو د میلو شاته واچول شول. کوښښ کیده چې د غچ اخستنې په توګه یوه یې بندوباره ټولنه منځ ته راوړي او په دله ییزو فعالیتو کې چې غالباً ښځې او نجوني به هم پکې وې، مارکسستي ټولنه منځ ته راوړي. د لینن عکس او مجسمه هر چیرته او په هره اداره او هر سازمان کې لیدل کیده، چې دایې د مارکسیزم – لیننزم تګلارې ته د ژمني نخښه وه. دین او قرآني آیتو ته په سپکه سترګه کتل کیدل او سپکاوی یې کیده. کمونستانو د لینن عکسونه پخپلو کورونو کې ځړولي وو او زموږ پخوانیو فرهنګي ویاړونو او ملي شخصیتونو د اکتوبر انقلاب! په وړاندې خپل رنګ بایلود.

ټولنیز حالت دومره له اختناقه ډک او په اختلافاتو ښاشو چې د کورنیو غړو به یو د بل جاسوسي کوله؛ ښځې د میړه په وړاندې او اولاد د مور و پلار په وړاندې د زوړپالو او وروسته پاتو په نامه د روښانفکرو او انقلابیونو په وړاندې لیکي جوړې کړې وې. غالباً د کورنیو غړي یو د بل په وړاندې په نیولو، وژلو او زندان ته اچولو کې کمونستي رژیم ته په جاسوسي کې یو له بله مخکې کیدل. کورني ویاړونه له منځه ولاړل، ګاونډې پر ګاونډې اعتماد او باورنه درلود. هر چا په خپله مفکوره پټوله، د هیواد له بې وزله طبقې سره همکارۍ له منځه ولاړه. شخصي ملکیتونه او کورني سکتورونه اود پانګې اچونې سرچینې د خلق په نامه ضبط او چور و چپاول شوې، د افرادو ملکیتونه مصادره شول او مالکان یې زندانو ته واچول شول او له منځه یوړل شول.

خلقیانو او پرچمیانو د ستالین د تګلارې د وفادارو شاګردانو په توګه، د کې جي بې د مشاورینو په دستور چې د مشاورینو په توګه یې په ټولو اورګانو کې کلیدي چارې په لاس کې وې، د افغانستان د ټول اولس دیني تفکر په چټکتیا سره له منځه وړو او په دې باور وو چې، څومره ژر کیدای شي د علماؤ، روحانیونو او مسلمانو ځوانانو په له منځه وړلو سره، د اولس دیني او اسلامي فکر په ټولنه کې له منځه

یوسې، د (کور، ډوډۍ، کالي) تر شعار لاندې چې تره کي را منځ ته کړی و، غوښتل يې د ټولنې منځنی او فقیره طبقه، خپلی سیاسی سیکو لار ستي مفکورې ته راکاږي. روسانو په ټولو اداري چارو کي افغانستان ته خپل مشاورین رالیږلي وو چې په دیني او عدلي چارو کي به هم روسانو نظر ورکاوه.

له بلي خوا روسانو پیشبیني کړې وه چې دا ډول حرکات به د خلکو د احساساتو د راپاریدنې لامل شي او معتقد کسان به ژرو پیژندل شي، چې کمونستان کولای شي د يو شمیر کسانو په وژلو او زندان ته اچولو سره په کابل کي د مسکو د فکر یوه پیروه ټولنه جوړه کړي او دا ټګلاره يې د مقاومت دله منځه وړلو او د خلکو د روحي د ماتولو یوازنی لاره بلله.

نیول، تحقیقات، شکنجه، زندان ته اچول او وژل د کمونستي رژیم یو عاجل پلان و، په پیل کي به بې چې څوک نیول، د لیکنې پوښتنې او ځواب په نامه به يې ترې تحقیق کاوه خو د ثور تر کودتا یو دوه اوونۍ وروسته بندیان دومره زیات شول چې، حتی ساتنه يې کمونستانو ته ګرانه تمامیده او په پلچرخي زندان، صدارت، د دفاع وزارت زیرزمینیو، په وزیر اکبر خان مینه او نورو ځایو کي په ضبط شویو کورو کي، او د ښار په نورو ځایو کي چې د کا چې يې او اګسا د جاسوسیو د ځالوتر څارنې لاندې وو، په زرګونو کسان د (اشرار) او (انقلاب ضد) په نامه زندانوته واچول شول. کمونستي رژیم دغه له جنایته ډکه وضع په ولایتو کي هم پیل کړې وه. رژیم دهغه مخالفت له مخې چې د مجاهدینو له اسلامي مقاومت سره يې درلود، هغو کسانو ته چې د خلکو تر منځ به يې د اخواني په نامه شهرت درلود، د اخوان الشیاطین لقب ورکړ. د رباني او حکمتیار پوسترونه يې د اشرارو د مشرانو په نامه رسم او په ادارو او لارو کوڅو کي به يې ځوړند کړي وو، زیاتره زندانیان يې له اخونیانو سره د همکاری په جرم د ګلبدینی، په نامه اعدام کړل.

دا چې د بندیانو شمیر مخ په زیاتید وو، د خپل کار د اساني لپاره يې عاجلي ټولو ژنې پیل کړې. هر خلقي کمونست د خپل کار په ساحه کي شخصي صلاحیت درلود. حتی خلک به په شخصي سپاربښتنو وژل کیدل. هره ورځ به يې داشرارو په نوم لستونه برابرول او نیمه شپه به يې دله دله د پلچرخي په پولیګون کي وژل. وروسته دا ټګلاره نوره هم خونړۍ شوه او د وژلو پر ځای به يې ژوندي تر خاورو لاندې کول او په خپل تعبیر يې په اشرارو د سرمیولګښت یو اضافي کارګانه.

هرحزبي ملګري به په وژنه کي ځانګړې ټګلاره درلوده. درژیم لومړې درجه قصاب اسدالله سروري چې داګسادجاسوسی سازمان رئیس و، هره شپه به يې په لسګونو اوسلګونو کسان په صدارت کي ترشکنجو لاندې له منځه وړل. سروري پخپلو اداري تعاملاتو کي چې کله به يې شفاهي یا تحریري اویا رسمي دستور ورکاوه نولیکل به يې چې: "مجرم دی پاکستان ته ولیږل شي"دا به د هغه سرې د اعدام حکم و.

د حفیظ الله امین ورور عبدالله امین چې د شمال زون د رئیس په توګه يې د افغانستان شمالي ولایتونه اداره کول، په زرګونو بندیان به يې د ترانسپورتي الوتکو په واسطه د سالنګ د غره لپاسه له

الوتکو نه راغورځول او په دې توګه به یې وژل. منصور هاشمي د بدخشان، تخار او کندز په سمکونو کسان لاس او پښې تړلي په صندوقونوکې اچول او څه اندازه نیږی به یې ورسره واچولې او یا به یې یوازې په یوه کس پورې نیږی وتړلې او دکوکچې او آمو په سیندونوکې به یې غرق کړل.

د خلقي رژیم یو بل جاني او دکندز والي صاحب جان صحرایي د وریانو په مجلس کې وراندیز کړی و چې: "کنه چې د یو چا په باب د مجرم په توګه رپوټ ورکړل شو نورنو محاکمې او تحقیق ته حاجت نشته" او په همدې توګه یې د افغانستان په شمال کې د ښوونځي په سمکونو شاګردان قتل عام کړل.

د پنج والي صدیق عالمیار که به چې د شپې په ګرځیدو راګرځیدو بندیز ولګید خانګرې چرمې لباس به یې اغوست او د شرابو په څښلو سره به بیهوشه شو او همیشه به یې ویل: "رفیق ها! بیا بیدا مشو خوده ګلګون کنیم" او پڅپل لاس به یې د خلکو په وژله او قصابي پیل وکړ. وروریې عارف عالمیار چې په کابل کې د ترانسپورت رئیس و، د ځوانانو په وژلو او نجونو او ښځو په تېښتونه کې همدا ټګلاره درلوده، چې تر تجاوز وروسته به یې ووژلې.

د بغلان والي قادر چې د داؤود په وخت کې وروکې ضابط (خورد ضابط) و، د جنایت په جرم په اته کاله زندان محکوم شوی و، نوموړی د نور ترکودتا وروسته له زندانه پریښنودای شو او بدترین غیر اخلاقي اعمال یې ترسره کړل او په سلګونو کسان یې بې ګناه ووژل.

د غزنې والي عبدالاحد اولسی چې ظاهراً به یې سپینې جامې اغوستې او پټکی به یې پر سرا وه، په سلګونو روحانیون یې د اخواني په نامه ژوندي تر خاورو لاندې کړل. د کابل د عسکري لیسې قوماندان جګړن عبدالرشید لاجورد چې د غزنې اندړو، خپلې شخصي عقدې یې د انقلابي فعالیتو په نامه اوارولې اوله چا سره به یې چې له کلونو دښمني درلوده، د انقلاب ضد په نامه به یې پخپله شهیداوه.

د هرات والي ډګرمن ګل آغا دهرات په اولسي پاڅون کې (۱۳۵۸ ش/۱۹۷۹م) په زرګونو کسان له منځه یوړل. نور جنایتکار والیان لکه محمد خان آفت چې وروسته یې پیګیر تخلص کاوه په لوګر او بغلان کې، عزیز الله وګري وروسته (طوفان) په فاریاب کې او همدا راز دکندهار والي انجنیر ظریف چې یوځل یې د خپل کار په دفتر کې د ډنډو لسوالي اته څلویښت کسه قومي مشران په ساطور سره ووژل. د شبرغان والي فدا محمد ده نشین له هغو جنایتکارانو نه دي چې شرح یې په دې مبحث کې نشي راتلای. همدا راز د ننګرهار والي جګړن بهرام الدین او دکونړ والي جګړن نظام الدین هغه لوی جنایتکاران وو چې دکونړ دکرهالي د قتل عام جنایت یې ترسره کړ. (۱۳۵۸)

د رژیم با صلاحیته غړو د دغسې له احمقانه دکې اوضاع نه په ګټې اخستنې سره په چور و چپاول، غلا، رشوت، فحشا او د خلکو په ښځو او لوڼو تجاوزونه پیل کړل او رښتیا او قانوني خبره په درواغو بدله شوه.

په ښوونځیو او پوهنتونو کې د داسې پروګرامونو اساسات دشوروی اتحاد له درسي تګلارې سره پیوند وخوړ. د دیني مضامینو ځای تفریحي او سپورتي پروګرامونو ونیو. د نور محمد تره کي سوانح او د خلق د دیموکراتیک ګوند تاریخچه دیوه درسي مضمون په توګه په تدریسي پروګرام کې شامل کړای شو. روسي ژبې د نورو بهرنیو ژبو ځای ونیو. د ماتریالیزم دیالتیک د تاریخ ځای ونیو. په هر مکتب کې له انقلابه د دفاع سازمان منځ ته راغي، دځوانانو د راجلبولو لپاره پراخ فعالیت پیل شو او زیات شمیر کسانو په هغې کې غړیتوب ترلاسه کړ (د تفصیل لپاره وګورئ د "جنایات کمونستها در افغانستان" نومي کتاب د لیکوال لیکنه)

## د تلویزیوني خپرونو پیل

د تلویزیون خپروني، د پخواني پروګرام له مخې، د محمد داؤود په دوره کې باید د ۱۳۵۷ ش په نیمایي کې پیل شوې وای خو د ثور کودتا او د کمونستانو د تبلیغاتي پروګرامو بدلون، له تلویزیون نه یوه ښه خپرني او تبلیغاتي وسیله جوړه کړه، چې هم دکمونستانو د عقدو د اوارلو زمینه برابره شوه او هم د رژیم یوازني تفریحي وسیله وه. پردې اساس یې تر وخته د مخه په خپرونو پیل وکړ.

روسي مشاورینو د ظاهر شاه د دورې د دفاع د وزیر جنرال خان محمد خان په مصادره شوې کور کې چې د رادیو تلویزیون ترځنګ یې موقعیت درلود، خپرني پروګرامونه ټاکل. د رادیو-تلویزیون تشکیلات د وزارت ترکچ پورې لوړ کړای شو. حیدر مسعود د رادیو تلویزیون وزیر او خیال محمد کتوازي یې معین وټاکل شو. د نور محمد تره کي مجسمه د رادیو – تلویزیون د ننوتلو په سالون کې ولګول شوه. د رادیو تلویزیون ماموریں کمونستي سازمانو ته وبلل شوو او یو شمیر ماموریںو چې په کمونستي ګوند کې له شاملیدو نه دده وکړه یا زندان ته واچول شول او یا هم وتښتیدل. د رادیو – تلویزیون پروګرامونه له هنري او تعلیمي تګلارې نه شعاروزمه سیاسي او د اخلاقي انحراف تګلاره خپله کړه. رادیو – تلویزیون د فساد مرکز او د کمونستانو د عیاشۍ لپاره د ښځونو د راټولیدو په مرکز بدل شوی و. د رادیو – تلویزیون په اداره کې عملاً فحشا ترسره کیده، خو د کاملاً یوه عادي عمل په توګه وسره برخورد کیده.

کمونستي رژیم هنر او مطبوعات بازاري کړل او د (هنر د خلکو په خدمت کې) ترنامه لاندې کوڅې، پارکونه، د را ټولیدو سالونونه او کلوپونه د ورځې د عامو خلکو او د شپې له مخې، د کمونستانو د خاصو بزمي پروګرامونو لپاره ځانګړي شول او په دې توګه په تولنه کې د انحراف یونوی حرکت پیل شو چې زیاتره د ښوونځیو ځواني نجوني، د زده کړې په ځای د خلق د دیموکراتیک ګوند دغړو د بزمونو د تودولو

او د رقاصی بازار ته راکښنودل شوی وی. کله چی تره کی له امین سره مسکو ته رسمی سفر درلود تر ۱۵۰ زیاتی نجونی یی له ځانه سره مسکو ته بوتلی. د دی سفر یوه شاهد ماته وویل چی په الوتکه کی د تره کی د سفر پروخت د هغه او د دی هیأت د هر غړی دوارو خواوته دوه نجونی د تفنن او ساعت تیری لپاره کښینول شوی وی.

د خلقیانو او پرچمیانو د انحرافاتو تفاوت په دی کی و چی خلقیان سره له هغی چی فاسد وو، خو د خپلو ښځو او له بیگانه افرادو سره یی په برخورد کی متعصب او سختگیره وو؛ د بیلگی په توگه د حفیظ الله امین میرمن اسلام ته یوه معتقده ښځه وه. د خلقیانو دا تگلاره د هغوی د فرهنگی هویت زیږنده وه چی له کوم قشر نه یی سر را اوچت کړی و، خوله ځانه د بیگانه و ښځو سره یی په هره فحشا لاس پوری کاوه.

د تره کی دروکړی په کلیزه کی په سلگونو نجونو خپل عفت له لاسه ورکړ او د برچی په زوریی یو شمیر فحشا ته راکاږلی. د دی سرچپه پرچمیانو پخپلو ښځو کی او له روسانو سره سخاوتمندانه اړیکی درلودی او د ښځی او نارینه د اشتراکی تولنی غوښتونکی وو، لکه چی له اناهیتا راتب زاد سره د کارمل اړیکی په تولنه کی ددی انحراف سرچینه گڼل کیږی. د ښځو سازمان او د "افغان - شوروی دوستی" په پروگرام کی یی گډون عملاً پرچمیان د فحاشی د سازمان په ایجاد او روسی عسکرو د جنسی غوښتنو په رفع کولو کی، افغانی ښځی او نجونی د کرملین د مشر تابه لاندی د نړیوالی کارگری د خدمت په نامه بدکاری او جاسوسی ته راکاږلی. کمونستی رژیم د خلکو دله منځه وړلو په خاطر، د ملی بیرغ د بدلولو پروگرام سطرح کړ او دولتی بیرغ هم سور رنگ خپل کړ. د افغانستان نشان د کار او کارگر په ابزارو تبدیل کړای شو. سور بیرغ د ځانگړو مراسمو په ترڅ کی د ارگ د دروازی مقابل ته ودرول شو او د دولت مامورین او د ښوونځی او پوهنتونو شاگردانو باید اجباراً د سره رنگ یوی کړی وای او د تره کی په محکی د رسم گذشت په توگه تیر شوی وای. په افغانستان کی هر شی سور رنگ خپل کړ. هر څوک به چی زیات سور او زیات خو نړی و زیات انقلابی شمیرل کیده. یو شمیر ورځچارو (اپرچونستانو) د خپلو کورونو دروازی هم سری کړی. شعارونه او پوسترونه سره وو، خپرونی او مطبوعات به په سرو انقلابی شعارونو بارز کړای شول.

تره کی د افغانستان ملی جشن د ثور اوومی ته را ووست، د مرکزی کومیتی پرله پسی فرمانونه صادر کړای شول. د شپږم فرمان له مخی، پرنورو د خلکو پورونه وبخښل شول. د ځمکو ویش د کرگر او ځمکه وال د خاوند ترمنځ اړیکی ترخی کړی او داسی دښمنی یی وزیږولی چی د تکرونو لامل شو. سره له هغی چی د یو شمیر خانانو او د قومی مشرانو ځمکه والو مستردی کړای شوی ځمکی خلکو ته ورکړای شوی، خو هغه وعده چی باید له کارگرانو سره مرستی شوی وای تر سره نه شوی او خلک د بی تکدفی په حالت کی واقع شول. د اووم فرمان له مخی د ښځو مهر "دری سوه" افغانی وټاکل شو چی د کورنیو د

اړیکو د بې نظمۍ او د اسلام اساساتو ته دنه ژمنې او دزور د قانون د پیروۍ باعث شو. په ټولو غونډو کې په لوړ رتبه دولتي مامورینو د هر کلي ویلو په وخت د "هورا" چغې اجباري وې.

کمونستي رژیم په دې دوران کې د محمد داؤد او محمد ظاهر شاه ټول منقول سامان اولوازم او اثاثیه د خرڅون بازار ته وړاندې کړه.

## د رژیم په رسمیت پېژندنه او د هیوادونو غبرګونونه

د ۱۳۵۷ د ثور پرنهمه/ د ۱۹۷۸م د اپریل په دیرشمه، یعنې د کودتا تر اجرا دوه ورځې وروسته، لومړنی فرمان د سازدیګر پرپنځو بجو صادر شو او نور محمد تره کی یې دانقلابي شورا د رئیس، د مرکزي کومیټې د عمومي منشي او د افغانستان د صدر اعظم په توګه اعلان کړ. نیم ساعت وروسته په کابل کې د شوروي سفیر پوزانوف په ارګ کې له تره کي سره وکتل او کمونستي رژیم یې په رسمیت وپېژاند. څو ورځې وروسته د شوروي د کمونست ګوند عمومي منشي بریژنیف او صدر اعظم الکسي کاسګین د تره کي په نامه د مبارکۍ پیغام ولېږه. د ثور په ۲۸/ دمې ۱۸ مه حفیظ الله امین د ناپیلو هیوادو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې د ګډون لپاره، د مسکو له لارې او د شوروي له مشرانو سره تر لومړنۍ کتنې وروسته هاوانا ته ولاړ، او د راڅرګندېدو پروخت یې د افغانستان او شوروي د کمونستو ګوندونو له خوا د ګډې اعلامیې په خپرولو سره، تړیوالنوته داسې زښوده، چې د مارکسیزم - لېنینزم په نړیواله تګلاره کې سره د اشتراک وجه لري. پرهمدې اساس د کودتا په لومړیو درې نیمو میاشتو کې شوروي اتحاد، د کابل له کمونستي رژیم سره، د همکارۍ دیرش قرار داده لاسلیک کړل.

امریکا د محمد داؤد د جمهوري ریاست په وروستیو کې له افغانستان سره د اړیکو د ټینګښت او دوه اړخیزو همکاریو غوښتنه وکړه او خپل نوی سفیر آدلف دابس یې د اړیکو د ټینګښت او روسانو د نفوذ د مخنیوي لپاره کابل ته واستاوه. هغه له تره کي او امین سره وکتل هغوی له امریکا نه د هغو شل میلیونو ډالرو مرستې چې د مخه له داؤد سره یې وعده شوې وه، غوښتنه وکړه، خو امریکا ونه غوښتل چې له روسانو سره په رقابت کې د افغانستان په پروژو کې خپلې برخې اخستنې ته دوام ورکړي. څه موده وروسته، د امریکا سفیر د څلورو وسله والو کسانو له خوا اختطاف او کابل هوټل ته بوتلل شو او د ژاندارم او پولیس د عمومي قوماندان سید داؤد ترون دیوه عجولانه اقدام پراساس نوموړی سفیر له اختطاف کوونکو سره یو ځای ووژل شو. امریکا د خپل سفیر د وژنې په وړاندې غبرګون ونه ښود او غلې پاتې شوه.

پاکستان سره له هغې چې ددې هیواد اولس مشر ضیاء الحق د ۱۳۵۷ د وږي پر ۱۸مه/د ۱۹۷۸ دستمبر پر ۹ مه کابل ته راغی او له تره کي او امین سره یې وکتل؛ افغانستان یې د شوروي له اقمارونه

وګانه خو سره له دې يې هم نه غوښتل د کابل د رژیم حساسیت راو پاروي چې د پښتونستان موضوع رامنځ ته کول د کابل د رژیم د څواکمنتیا باعث نه شي. تره کي په هاواناکي له جنرال ضیاء الحق سره پخپله کتنه کې چې د ناپیلو هیوادو په سر سشریزه غونډه کې د برخې اخستنې لپاره هلته تللی و، وغوښتل چې پاکستان د افغاني مهاجرو پرمخ خپل سرحدونه وتړي. ضیاء الحق په ځواب کې ورته وویل چې تاسې هم باید په شمال کې خپل سرحدات وتړئ چې هدف يې افغانستان ته د روسي مشاورینو راتګ و "کابل، پاکستان او ایران په پرله پسې توګه دنارامیو د دوام او د افغانستان د کورنۍ جنګ په اړه تورنول او رژیم حاضر نه و اعتراف وکړي چې دا نارامي دیوه کورنۍ جنګ محصول دی، چې عامل يې پخپل رژیم دی" (٤)

د ایران پاچا رضا شاه د هغې اندیښنې له مخې چې درلوده يې "د کودتا ترقوع دوه ورځې وروسته د امریکا د جمهوري ریاست مرستیال جورج بش ته په تهران کې وویل چې دا کودتا دروسانو د لوبې طرحې يو بله بیلګه او د ایران د کلابندۍ لپاره د کمونستانو د تصمیم په اړه يو بل ثبوت کني" (٥)

د شوروي پرپله روانو هیوادوله هغې جملې نه ختیز المان، ویتنام او کیوبا د کابل رژیم په رسمیت وپیژاند خو نور هیوادونه په دې برخه کې محتاط پاتې شول په ځانګړې توګه چې تره کي هیوادونو ته په بدرد ویلو پیل کړی و او خپل پوازنی ملاتړي خپل لوی شمالي ګاونډي روس ګاڼه. رژیم د تړې له تولو هیوادو غوښتل چې په رسمیت يې وپیژني: یمن، عراق، سوریې او هند، رژیم په رسمیت وپیژاند. په تبلیغاتي تګلاره کې تره کي، امین او کارمل مظاهري پیل کړې او په خپلو ویناو کې يې امریکا، برتانیې، فرانسې، مصر، سعودي عربستان، چین، ایران او پاکستان ته بد رد ویل او انتقادي پرې کاوه چې د کابل رژیم پر خلاف يې د پانګوالو او اسلامي هیوادو په دریځنیونه کې منفي اغیز پرځای پریښود.

## د خلق او پرچم اختلافات

له اختناقه ډکې اوضاع او دخلقیانو او پرچمیانو سلیقوي خپلسرۍ د هغوی ترمنځ له کشمکشونو او صلاحیتونو د تاکنې لامل شو چې دې کار د خلق – پرچم خپلمنځي اختلافات زیات کړل. دې دواړو کمونستو ډلو واک ته د رسیدو پرسرهاندکاوه چې مقابل لوری يې صلاحیته وښيي او یا له دې حالته د يو بل تخریب پیل کړي. د افغانستان خلک د خلق – پرچم د اختلافاتو له لامله په یوه سقطعې سرګردانۍ کې واقع شوي وو.

تره کي او امین چې د کارکلي يې په لاس کې وه، پرچمیان له دولتي پستونو نه لرې کړل. د کابل رژیم د ۱۳۵۷ د غبرګولي پردولسمه/ د ۱۹۷۸ د جون ۲مه ببرک کارمل په پراګ، نور احمد نور په واشنګټن،

محمود بریالی په اسلام آباد، عبدالوکیل په لندن، فیض محمد په بغداد، ډاکتر نجیب الله په تهران، اناهیتا راتب زاد په بلګراد، راز محمد پکتین په مسکو، نظر محمد په بن، پاچاګل وفادار به ډیلی کی د افغانستان د سفیرانو په توګه مقرر کړل. همدا راز مجید سربلند بمبئ ته د افغانستان د سرقونسل په توګه واستول شو. په دی توګه خلقیانو د حفیظ الله امین په دستور د پرچمیانو شر له خپله سره کم کړ چی په ارت سټ حکومت وکړای شی. همدا راز امین د تره کی په موافقه د ۱۳۵۸ د ورې په ۱۱مه/ د۱۹۷۹ د مارچ پر ۳۱مه په لاندی ډول نوی کابینه اعلان کړه.

۱- حفیظ الله امین لومړی وزیریا صدر اعظم او د بهرنیو چارو وزیر، ۲- ډاکتر شاه ولی د صدارت مرستیال او د روغتیا وزیر، ۳- صالح محمد زیری دکرنی اواوبولګولو وزیر، ٤- عبدالکریم میثاق د مالیی وزیر، ٥- شیر جان مزدور یار د کورنیو چار وزیر، ٦- عبدالکریم شرعی جوزجانی عدلیه وزیر او لوی څارنوال، ۷- محمد اسلم وطنجار د دفاع وزیر، ۸- غلام دستګیر پنجشیری د فواید عامی وزیر، ۹- عبدالرشید جلیلی د ښوونی او روزنی وزیر، ۱۰- انجنیر صدیق عالمیار د پلان وزیر، ۱۱- خیال محمد کتوازی د اطلاعاتو او کلتور وزیر، ۱۲- صاحب جان صحرایی د سرحداتو وزیر، ۱۳- منصور هاشمی د اوبو او برېښنا وزیر، ١٤- محمود سوما د لوړو زده کړو وزیر، ١٥- سید محمد ګلابزوی د مخابراتو وزیر.

حفیظ الله امین پاتی پرچمیان د ۱۳۵۸ د زمری پر ۲۸مه/ د ۱۹۷۹ د اګست ۱۹مه په کابل کی د کودتا په تور نیول او زندان ته یی واچول. امین، کارمل او نور پرچمیان چی د سفیرانو په توګه یی مقرر کړی و کابل ته وغوښتل چی په دی توګه په یوه کودتایی عمل سره د هغوی شر له خپله سره کم کړی. کارمل او ملګری یی د امین له ویری د افغانستان پانګی له سفارتونه واخستی او ختیز المان ته روان شول. کارمل ۷٥۰۰۰ ډالر، ډاکتر نجیب ۲۰۰ ملیونه ریال، نور احمد نور ٤۱۰۰۰۰ ډالر، اناهیتا راتب زاد ۳٦۰۰۰ ډالر، له ځانه سره یوړل او په برلین کی سره یو ځای شول. هغوی د امین پر خلاف یوه اعلامیه خپره کړه. امین جنرال قادر او جنرال رفیع بندیان کړل. سلطانعلی کشتمند د تحقیق په دوران کی پر خپل جرم او دامین پرخلاف د کودتا پر پلان اعتراف وکړ چی د اعدام حکم یی صادر شو؛ خو روسانو یی ضمانت وکړ او په زندان کی وساتل شو. پرچمیانو د تحقیق پر وخت یو شمیر غیر کمونست افراد هم په دی کودتا کی د خپل سازمان غړی معرفی کړل چی له هغی جملی نه جنرال شاهپور احمدزی و چی د امین له خوا اعدام کړای شو او روسانو ددی نظامیانو ملاتړ ونه کړ. د تره کی او امین د دوری شعارونه دفیودالانو، اخوانیانو او جنرال زاده ګانو پرخلاف عنوانیدل چی له جنرال زاده ګانو نه یی هدف همدا پرچمیانو وو. بارق شفیعی او سلیمان لایق له یو شمیر نورو پرچمیانو سره چی دواړو خواوته یی سرونه خوځول، او په خپلو بیانیو کی به یی کارمل ته هیواد پلوری او خاین وایه، بیاهم د خلق د دموکراتیک ګوند له سیاسی بیرونه لری کړای شول او استعفا ته اړ شول.

نور محمد تره کی علناً کارمل او نورو پرچمیانو ته په بد رد ویلو پیل وکړ. هغوی یی په خپله هره بیانیه

کې د ارتجاع د عواملو او اپرچونیستانو په نامه کوبل. امین د بارق او لایق په استعفا اکتفا ونه کړه او پلچرخي زندان ته یې ولیږل.

یو مسلمان زنداني چې په پلچرخي کې د پرچمي کمونستانو د ارتجاعي دریځنیونو شاهد و، لیکي: "پرچمیانو د حفیظ الله امین د حزبي تصفیې له ویرې د امین په پلوی خپل دریځونه بدل کړل. ښه مې یاد دی چې یوه پرچمي د امین په وړاندې د دریځونو دټاکنې په انتخاباتو کې د سلیمان لایق په دریځ اعتراض وکړ چې په دواړو رای ګیریو کې دی لاس اوچت کړ. لایق وویل چې زه نه د خلق پروا لرم او نه د پرچم بلکې هغه څه غواړم چې د روسیې سفیر پوزانف یې له موږ نه غواړي"(٦)

## دمارکس اولینن ستاینه

کرملین ته د اخلاص سند ترینو نوکرانو په توګه د کابل رژیم له ویاړونو نه یو هم د مارکس اولینن ستاینه وه چې دی بې تجربې واکمنانو ته د "اکتوبر د انقلاب!" د شوم میراث په توګه پاتې و. د (انقلاب!) محرکین په خپلو وینا و او خپلو اجراآتو کې دشوروي ګټو ته په زیات درناوي قایلیدل. خبرې یې دشوروي دګټو له درناوي ډکې وې او شعارونه یې د اکتوبر د انقلاب میراث وې... دکمونستي نظام او مارکس، لینن او بریژنف ستاینه ورته اصل اود افغانستان د خلکو ګټې ورته فرعي حیثیت لرې. خپل رسالت یې هیر کړې اود سلت خوبنه یې د ستر ملګرې، په وړاندې له پامه غورځولې وه. د افغانستان اسلامي ټولنه د شوروي د قهرمانانو دستاینې په ډګر بدل شو."(٧)

د اکتوبر د انقلاب دوه شپیتمه کلیزه دروسانو په پرتله د افغاني کمونستانو له خوا زیات تجلیل شوه. حفیظ الله امین بریژنف ته د مبارکۍ په پیغام کې د "ثور انقلاب" د اکتوبر د انقلاب ادامه وګڼله. او دا ورځ یې د خوارې کښنو دژغورنې د جشن په نامه یاده کړه. (٨)

د نورو تاریخي ورځو له جملې نه د لینن د زوکړې ورځ، د تره کي د زوکړې کلیزه اودکارګر ورځ وه چې د رژیم له خوا په پرتمینو سراسموبې تجلیل کیده. د رژیم په کابینه کې هم ادلون بدلون راغی، جنرال قادر له دفاع وزارت نه لرې کړای شو او پرځای یې اسلم وطنجار راغی، شیر جان مزدور یار هم څه وخت د کورنیو چارو وزیرو.

## د تره کی او امین اختلافات

حفیظ الله امین که څه هم ځان د تره کي وفادار شاګرد ګڼه، ظاهراً د هیواد د دویم شخصیت په توګه

پېژندل کېده؛ خو هغه د کارمل تر تبعید وروسته هاند وکړ چې تره کي هم له واکه وغورځوي او مازې بې په تشریفاتي چارو کې دیوه سمبول په توګه وساتي. تره کي د شرابو په څښلو او د سووونځیو د نجونو د خصوصي کانسرتو په لیدنه وخت تیراوه او یا به یې د تلویزیون له لارې د پاکستاني پښتو فلمو کتنې ته زړه ښه کاوه او کله یې هم د سیاسي پلاو په کتنوکې تشریفاتي نقش ترسره کاوه.

دا دول لوبې د روسانو له نظره پټې نه وې او کارمل هم له خپلې لارې مسکوته د جریاناتو رپوټ ورکاوه چې روسان د هغه او پرچم ډلې ملاتړ ته وهڅوي. روسان چې پخپلو پیشبینیوکې تیروتي وو، کابل ته یې د خپل مختار وزیر زافرونچک په لیږلو سره غوښتل لومړی د خلق ګوند ترمنځ او بیا د خلق — پرچم ترمنځ خپلمنځي اختلافات تم کړي. "د تره کي او امین په جناح کې نه مساعدت او یا د شوروي ناکام کوښښونه به چې جریان لري، د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې به له (همغه ډول،) نه بد تر حالت چې د زیاتو نښتو او وینې توئیدنې او بې ثباتي لامل به شي، رامنځ ته کړي" (۹)

امین، د تره کي او د هغه دملګرو له هلو ځلونه لاپخوا خبرو او کوښښ یې کاوه چې په یو، مناسب وخت او یوه بهتره طریقه سره خپل سیاسي رقیبان له منځه لرې کړي. د تره کي او امین اختلافات هغه مهال اوج ته ورسیدل، چې تره کي د ناپیلو هیوادو په سرمشریزه کې د ګډون لپاره د مسکو له لارې هاواناته ولاړ. په دې سفر کې د امین دوه ملګرو ډاکتر شاه ولي د بهرنیو چارو د وزیر او سید داؤود ترون د هغه د یاور په توګه د تره کي ملګرتیا کوله. له روسي مقاماتو سره به یې د هغه د کتنو او مذاکراتو په باب امین ته رپوټ ورکاوه. روسانو په مسکوکې د تره کي — بریژنف خصوصي کتنه ترتیب کړه. په دې کتنه کې شوروي تره کي ته د امین د خپلسریو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړه او هغه یې دې ته متقاعد کړی و چې د امین په له منځه وړلو سره له پرچم ډلې سره بیرته ائتلاف وکړي او کارمل هم بیرته افغانستان ته ستون شي او په دې توګه وضع بیرته د روسانو د خوښې سره سمه عیاره شي. همدا راز بریژنف تاکید کاوه څرنګه چې رژیم یوازې له کمونستانونه تشکیل شوی دی، د افغانستان د خلکو غبرګون چې مسلمانان دي ورځ په ورځ سختیږي او له مجاهدینو سره یو ځای کیږي چې دا لوی خطر دی. مسکو په ټول افغانستان کې د مجاهدینو د جنګونو له تشدید نه چې د کابل د رژیم د سقوط امکانات یې زیاتول اندیښنه درلوده. پر دې اساس یې له تره کي نه وغوښتل چې لومړی امین له منځه یوړل شي، دویم له کارمل سره پخلاینه ترسره شي او دریم غیر حزبي خلکو لکه ډاکتر یوسف او نور احمد اعتمادي ته بلنه ورکړل شي او په رژیم کې د سمبولونو په توګه وټاکل شي خو اساسي کارونه به د خلق د یموکراتیک ګوند په لاس کې وي او په دې توګه به د خلکو باور جلب کړای شي او د مجاهدینو خواته به یې تمایل کم شي. روسانو تره کي د امین د خپلسریو له خطر نه خبر کړ او د هغه خپل موقعیت یې هم بې ثباته وګڼانه. "لیوند بریژنف، نور محمد تره کي ته داډ ورکړ څرنګه چې د هغه خلک او افغانستان په یوه سارزه بوخت دی نو څکه کولای شي همیشه د شوروي په هر اړخیزو او بې شائبه مرستو حساب وکړي." (۱۰)

امین د خپل پروګرام د عملي کولو په خاطر تر تولو دمخه د تره کي کلیدي پلویان لکه سید محمد ګلابزوی، اسلم وطنجار، شیر جان مزدور یار او اسد الله سروري (داګسا رئیس)، برطرف او د سروري د خوشالولو پخاطر یې هغه د علي البدل له مقام نه د حزب دمرکزي کومیټې په غړیتوب وسانه خو عملاً له کوم تحرک نه چي د امین پر خلاف یې اجرا کړی، پاتي شو. روسانو تره کي له وروستیو پیښونه هم خبر کړ او هغه شعار به چي امین همیشه د تره کي په مخکي زمزمه کاوه چي "حزب او تره کي د روح او تن حیثیت لري" پیکه شوی او پر امین د تره کي اعتماد سلب شو.

تره کي په مسکو کي له بریژنف سره ترکتنې یوه ورځ وروسته د افغاني محصلینو په غونډه کي د خپل سیاسي بي تجربه والي له لامله د خپلو مذاکراتو محتوی افشا کړه او ویې ویل چي د سرطان کومي داني چي د دولت او ګوند وجود لاندي کړي دي، هغه به له منځه ولاړه شي. ددې وینا ریپوټ د ترون په واسطه امین ته ولیږل شو. امین د تره کي د ورستنیدو پر وخت استقبالیه دروازې د تره کي په عکسونو او شعارونو بنکلي کړي وې او له هوا یې ډګره تر ارګ پورې یې د سرک دواړو خواوته د ښوونځیو شاګردان د ګلانو له ګیډیو سره ودرولي وو. تره کي مطبوعاتو ته وویل چي هغه له بریژنف سره په آزاده او ورور ګلویزه فضا کي سپیني خبرې وکړې. (۱۱) کله چي تره کي ارګ ته ننووت نو دیوه یرغمل حیثیت یې غوره کړ او تر درې ورځو پورې د هغه په باب په مطبوعاتو کي کوم خبر خپور نه شو.

د شوروي سفیر پوزانف درې ورځي وروسته له ګلابزوی، وطنجار او سروري سره تره کي ته ورغلل او د امین د وژني پروګرام یې جوړ کړ. امین ته یې خبر ورکړ چي دیوه عاجل ملاقات لپاره ارګ ته ورشي. "امین وسله او احساس یې کړه چي ددې سیلمستیا (مذاکرې) هدف د هغه پر خلاف د کومي توطئې عملي کول دي. په کابل کي د امریکا سفارت هم امین ته دیوې توطئې له عواقبو خبر ورکړ: خو پوزانف د امین د امنیت په باب ډاډ ورکړ." (۱۲) امین د خپلو محافظینو سره ارګ ته ننووت او کله یې چي غوښتل د قصر دروازې ته ننوزي د قصر د دیوالونو ترشنګ پرې ډزې وشوې؛ سید داؤود ترون چي د امین په مخکي دیوه سپر په توګه واقع و ووژل شو. د امین د ساتونکو څلور کسه نورهم ووژل شول. هغه د خپل موټر په وسیله له ارګه و ووت او د هغه د وژل توطیه له ناکامۍ سره مخ شوه.

روسان وارخطا شوي وو او نه یې شوای کولای تر دې زیات څه وکړي. وسله وال ځواکونه د امین تر قوماندې لاندې و. ارګ کلابند شو او تره کي یې د هغه له میرمنې سره ترځارنې لاندې ونیو. امریکایي د پلوماتان د دې پیښې په باب لیکي: "موږ شک لرو چي شوروي مایل وي یا وکړای شي د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت، هر مشر لرې کړای شي، که څه هم حتی ته امکان لري مسکو له هره هغه عنصره چي ددې رخ و ډب له منځه وړلو ته تمایل لري سلاتړ وکړي چي خبره د مرستو د غوښتني په نامه د شوروي مستقیمې مداخلي ته ونه رسیږي." (۱۳)

امین له تره کي نه په زوره د هغه پراستعفا لیک، لاسلیک واخست او د خلق دموکراتیک ګوند

غونډه، د ډاکتر شاه ولي تر مشرۍ لاندې جوړه شوه او پرېکړه یې وکړه چې نور محمد تره کی د ناروغتیا او جسمي کمزورتیا په وجه له خپل ګوندي او دولتي مقامونه استعفا وکړه. د خلق دموکراتیک ګوند سیاسي بیرو سلګري حفیظ الله امین د خلق دیموکراتیک ګوند د عمومي منشي په توګه اعلان کړ. یوه ورځ وروسته د تره کي عکسونه او مجسمې له دولتي ادارو نه د امین د پلویانو په واسطه ټولې کړای شوې او د خلقیانو خپلمنځي اختلافات اوج ته ورسیدل. د افغانستان مسلمانو خلکو پردې پیښې باور نه کاوه او چانشواي کولای د راتلونکي په باب پیشبیني وکړي. څو ورځې وروسته د مطبوعاتو له لارې د تره کي د مرګ خبر خپور شو. هغه د امین دیوه نژدې سلګري جنرال یعقوب په واسطه په بالښت خفه کړای شو. خو په هغه ریوټ کې چې د کار مل رژیم پرافغانستان د روسي قواو د تجاوز په لومړي ورځ د انیس ورځپاڼې له لارې خپور کړ لیکي چې: د ۱۳۵۸ د تلې په ۱٦مه، امین د ګارد قوماندان جانداد ته دستور ورکړ چې تره کي ووژني او خپل درې تنه ټیټ رتبه منصبوال محمد اقبال، عبدالودود او روزي یې مؤظف کړل چې د هغه داعدام پروګرام عملي کړي. د شپې یوولس نیمې بجې دقصر دویم پوړته چې تره کي هلته بندي و، ولاړل. تره کي پوهیده چې د اعدام حکم یې صادر شول دی نو څکه یې خپل د حزب د غړیتوب کارت ورکړ چې امین ته یې ورکړي او هم یې د پیسو او جواهراتو یوه خریطه ورکړه چې هغه دده (تره کي) میرمن ته وسپاري. د امین جلادانو تره کي لاندې پوړته راووست او په یوه بستر پورې یې وتاړه. د تره کي پښې اقبال ټینګې کړې او روزي یې پر بالښت پرخوله فشار راوړ چې ترپنځلسو دقیقو وروسته یې ساه ورکړه.

په هغه انقلابي محکمه کې چې د کارمل رژیم دایره کړې وه د۱۳۵۸ د غبرګولي په ۱۸مه/د۱۹۸۰د جون په اتمه یې دامین لس تنه ماموریں د اقبال، عبدالودود او جانداد په ګډون اعدام کړل. د تره کي اصلي قاتل روزي له زندانه تبنتیدلی و.(۱۱)

## نورمحمد تره کی

نور محمد تره کي د نظر محمد زوی چې په قوم تره کي غلجي دی، په ۱۲۹٦ش/۱۹۱۷م د غزني د مقر دناوې په کلي کې زیږیدلی دی. هغه د خپل پلار لومړنی او لادو چې سوادیې زده و، پلاریې د ځاریو په روزنه لګیاو او نیمه کوچیاني ژوند یې درلود. تره کي لومړني زده کړې په کندهار کې پای ته ورسولې او د قبیلوي اړیکو له امله چې له عبدالمجید زابلي سره یې درلودې، د کابل په تجارتي شرکت (پښتون) کې د کاتب په توګه مقرر کړای شو او همغه مهال دویښو ځلمیانو له سیاسي جریان سره اشنا شو او د دې جریان له غیر فعالو افرادو نه ګڼل کیده. په ۱۳۱۳-۱۳۱٤ش/۱۹۳٤-۱۹۳۵ کې یې څه موده په بمبئ کې د پښتون شرکت د نماینده په توګه کار وکړ او هلته یې انګلیسي او اردو ژبې زده کړې. همدا رازیې د

ACKU

انګلیسانو پر خلاف د هندیانو د مبارزو جریان تعقیباوه. د پاکستان د عوامي ملي ګوند له رهبر خان عبدالغفار خان او د هند د کمونست ګوند له غړو سره یې اړیکي او کتنې درلودې او دهند د کمونست ګوند غړیتوب یې هم تر لاسه کړی و. په ۱۳۰۶ش/۱۹۲۷م کې کله چې بیرته افغانستان ته راستون شو "د زابلي خصوصي کاتب وټاکل شو او د هغه په واسطه د تجارتي کتنو په لړکې دشوروي سفارت غړوته وروپیژندل شو. په ۱۳۲۰ش/۱۹٤۱م کې په سوداګرۍ وزارت کې مقرر شو خو د هغو استفادو له لاسه چې د زابلي له دولت او شتمنیونه یې کړې وې، بیرته منفک کړای شو."(۱۵) وروسته دازابل د حکمران شریف تره کي په واسطه، په شینکي اولسوالي کې د جزایي چارو دکاتب په توګه مقرر شو. هغه مهال چې محمد داؤود خان دکورنیو چارو وزیر و د تره کي تقرریي په دې اشتباه چې د انګلیسانو جاسوس دی، رد کړ. وروسته د عبدالرؤوف بینوا په منځګړتوب چې هغه هم د ویښو ځلمیانو غړی و، مقرر شو. د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د باختر آژانس د مرستیال په توګه خو میاشتې یې په واشنګټن کې په افغاني سفارت کې د فرهنګي آتشې په توګه کار وکړ؛ خو په کار کې دبې کفایتۍ په وجه د محمد داؤود له خوا کابل ته وغوښتل شو دا هغه کال و چې محمد داؤود خان دویښو ځلمیانو غړي زندان ته اچولي وو، تره کي د امریکا په مطبوعاتو کې د سلطنتي کورنۍ او داؤود دمستبد حکومت په باب مقالې ولیکلې او هم یې د سیاسي پناهندګۍ غوښتنه کړې وه خو وروسته پښیمانه او درې کاله یې درکه شو چې په غالب ګومان به شوروي هیوادو او ختیز بلاک ته تللی وی. وروسته یې د پاکستان لاره ونیوله. تره کي په پیښور کې د افغانستان د سرقونسل غلام حسن خان صافي په منځګړتوب کابل ته راغی او محمد داؤود د تره کي عذر او توبه ومنله-۱۳۳۵ش/۱۹۵٦م) او دا چې د ویښو ځلمیانو له برجسته غړونه، نه وشمیرل شوی بندي هم نکړای شو. "هغه کابل ته د داخلیدو پر وخت له کابل سینما نه داؤود ته تلفون وکړ چې زندان ته ولاړ شي که کورته: هغه ته وویل شول چې کورته ولاړ شي؛ خو هلته پولیسو ترڅارنې لاندې ونیو. تره کي تردې پیښې وروسته په تولنه کې دیوه غیر مهم سړي په توګه ژوندکاوه. دریځ یې کمزوری شو او په ځان کې یې د حکومت پر خلاف یوه همیشنی کوکر روزله، څکه د هغه شخصیت له دې پیښې نه صدمه لیدلې وه"(۱٦)

تره کي د شوروي له سفارت او کا جي بي سره پټې اړیکې ونیوې او روسانو هم د هغه په اړه علاقه وښوده. روسانو د دې لپاره چې په کابل کې یې د امریکا سفارت حرکتونه ترڅارنې لاندې وي، داسې زمینه برابره کړه چې تره کي په هغه سفارت کې د ترجمان په توګه مقرر شي (۱۳٤۱ش/۱۹٦۲م) هغه په انګلیسي د خبرونو او سرمقالو په ژباړلو سره د امریکا د فرهنګي مرکز پام ځان ته راواړاوه اووبې کړای شو او په ارت سټ کا جي بي ته جاسوسي وکړي. تره کي په ۱۳٤۳ش/۱۹٦٤م دغزني له مقرنه د اولسي جرګې غړیتوب ته کاندید شو خو رایې یې یونه وړې. تره کي وروسته د شوروي سفارت په مالي مرسته پامیر سینما ته مخامخ په میوند جاده کې د نور دار الترجمه جوړه کړه چې دا د جاسوسي فعالیتو او

کمونستي حزب د تشکیل مرکزو. په ۱۳٤٤ش/۱۹٦٥، کې بې له ببرک کارمل او څو تنو نورو کمونستانو سره یوځای لومړنی حزبي کنګره تشکیل کړه او ددې سازمان د منشي په توګه وټاکل شو. تره کې د مشروطیت په دوره کې د نوې اساسي قانون په انفاذ سره، د خلق جریدې د خپرولو اجازه ترلاسه کړه او د حسن بارق شفیعي په مسؤول مدیریت یې د خلق کمونست ګوند تبلیغاتي او فرهنګي فعالیتونه پیل کړل. د خلق جریدې تر مصادره کیدو وروسته، د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ انشعاب منځ ته راغی او تره کی د خلق کمونست ګوند تاد او کښیښود.

خلق جریده ترپنځو ګڼو وروسته د خلکو او مشرانو جرګې د مخالفت په وجه مصادره شوه او حسن بارق شفیعي د کارمل له ډلې سره د پرچم غړیتوب ومانه. تره کې وغوښتل چې د ظاهر افق په مسؤول مدیریت دیوې بلې جریدې د خپرولو اجازه واخلي خو د هغه مهال داطلاعاتو او کولتور وزیر ډاکتر محمد انس د هغه غوښتنه ردکړه.

تره کې د نور د اووسې ترکودتا د یوه دایم الخمر او کارته چار (شیر شاه مینې) د دکاندارانو ترمنځ دیوه ... ،عالمه سړي په نامه مشهورو. که چې هغه ځان د کابل اولس مشر ونوماوه د ۱۳۵۷ سرغومې پردوه ویشتمه، د ۱۹۷۹ د جنوری په شپاړسمه یې د خپلې زوکړې دوه شپیتمه کلیزه په داسې حال کې په ډیر شو وځوږ او زیات مالي لګښت په کابل ارګ کې تجلیل کړه چې په سلګونو نونجوني ساز ته ګډیدې او د حزب غړي د شرابو په څښلو لګیاو او ځانونه یې مستول. تره کې ته ډیر اورده القاب لکه معلم یا آموزګار، شرق نابغه، رهبر او داسې نور ورکړل شول. د غزنې په ناوه او شیر شاه مینه کې د تره کی کور له سره ترمیم او رنګ وروغن شو او د موزیم په توګه اعلان شو. حفیظ الله امین په مطبوعاتو کې د وفادار شاګرد لقب واخست تره کی د بنګ مسافرې په نامه کتاب خیور کړ چې هیڅ ډول تولنیز او ادبي ارزښت ... درلود، له بل اقتباس شوی کتاب سره چې د مارکسیزم - لیننزم د تر بیانوونکی و په شوروي کې چاپ شو. داکتاب د نوې تیورۍ په توګه په مطبوعاتو او تدریسي مراکزو کې جبراً ځای کړای شو.

د ۱۳۵۸ د وری پرشلمه/۱۹۷۹ دسټمبر ۱۱ مه که چې تره کی د هاوانا له سفره کابل ته ستون شو، د وه ورځې په مسکو کې پاتې شو او په مسکو کې یې له روسي مشر بریژنف، د بهرنیو چارو له وزیر اندری ګرومیکو او د بریژنف د بهرنیو چارو له مشاور اندری الکساندروف سره وکتل. هغوی د حفیظ الله امین له کړوورو ناخوښي وښوده او دې موافقې ته ورسیدل چې باید امین د افغانستان له سیاسي ډګر نه لرې کړي او د پرچم ګوند غړي له تره کي سره یو ځای د کابل رژیم رهبري کړي. ډاکتر شاه ولي چې په مذاکراتو کی دویم سړی و، له روسانو سره یې د تره کي د کښتې له جریانه، له مسکو نه امین ته خبر ورکړ. امین ظاهراً دغامه ادعاو او په تېره د حربیانو د اغفال لپاره د هغه تو د هرکلي وکړ او په کابل ارګ کې یې بندي کړ. د ۱۳۵۸ش د تلې په ۱۸ مه/ د ۱۹۷۹ د اکتوبر پرلسمه د تره کي د مړینې خبر په مطبوعاتو، راډیو او

تلویزیون کې په دې متن خپور شو: "د انقلابي شورا پخواني رئیس نور محمد تره کی د هغې شدیدې ناروغتیا له لامله چې له څه مودې وروسته وه پرون سهار وفات شو. د اروا ښاد جنازه پرون د هغه په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه" (۱۷) تره کی د امین د کسانو په واسطه پربالښت خفه کړای شو او له سیاسي ډګره لرې کړای شو. هغه یې د کابل په قول آبچکان کې خاورو ته وسپاره چې همغه کال د تلې پر ۲۷مه د حزب اسلامي دیوه چریکي قوماندان مصطفی کریم د چریکي ګروپ په واسطه یې قبر په بمونو والوزول شو او په یو: لویه کنده بدل کړای شو. د امین رژیم د مجاهدینو د دې اقدام په وړاندې بې تفاوته پاتې شو او هیڅ خبریې خپور نه شو. ځنې محققین لیکي چې د تره کي قبر د امین په دستور له منځه یوړل شو چې په اتلونکې کې یې نوم نښان پاتې نه شي.

## د حفیظ الله امین سل ورځنی حکومت

د ۱۳۵۸ د وږی په ۲۳مه/د ۱۹۷۹ دستمبر پر ۱٤مه د تره کي او امین ترمنځ تر وسله وال تکر وروسته، د رادیو افغانستان د اعلان پر اساس، وطنجار، ګلابزوی او مزدوریار او سروری له کابینې نه لرې کړای شول چې په حقیقت کې هغوی شوروي سفارت ته پناه وړې وه. په سبایې دشوروي سفیر پوزانوف ارګ ته راغی او له امین سره یې وکتل. روسانو له امین نه وغوښتل چې تره کي هغوی ته وسپاري خو دا وړاندیز رد شو او د دواړو خوا او پراړیکو یې اغیز وکړ. کله چې د ډاکتر شاه ولي په مشرۍ د ۱۳۵۸ کال د تلې د۲۵ مې نیټې غونډې تره کي خلع او امین یې پرځای وټاکه، د شهیدانو په غونډې (... غونډې) کې د سید داؤود ترون د تدفین لپاره ځانګړې مراسم ونیول شول. جلال آباد ښار په "ترون ښار" او ګرشک په "نواب ښار" ونومول شول. نواب د امین د ګارد یو بل وژل شوي کس و چې د اګسا مرستیال و. همدا راز جمهوریت روغتون د امین د یوه بل وژل شوي ګارد په نامه "اکبر روغتون" ونومول شو. د تره کي عکسونه او شعارونه له ګرد افغانستانه تول کړای شول. همدا راز امین، تره کي ته د روسانو هغه وړاندیز ته متوجه شو چې غوښتل یې نور احمد اعتمادي واک ته ورسوي، د امین پام اعتمادي ته ور واووښت. اعتمادي چې په پلچرخي کې بندي و همغه شپه، په اعدام کړای شو.

امین غوښتل خپل درې تنه نظامي مخالفین چې شوروي سفارت ته یې پناه وړې وه ونیسي خو روسانو ... په تابوتونو کې دوژل شو یو روسي عسکرو په نامه مسکوته انتقال کړل. په کابینه کې هم بدلون راغی. ډاکتر شاه ولي دبهرنیو چارو د وزیر او اسد الله امین د حفیظ الله امین وراره اوزوم د اګسا د رئیس په توګه وټاکل شول. ددې سازمان نوم یې په "کام" واړاوه. د امین مشر ورور عبدالله امین چې د شمال زون رئیس و او د قطغن څلور ولایته یې اداره کول، اجرایي صلاحیت پیدا کړ. د امین زوی عبدالرحمن د محصلانو او ځوانانو نوی تأسیس شوي سازمان ته لار پیدا کړه. اکبر مهر چې دامین له مخصصینو او د هغه له روزل شویو نه و د ګارد قوماندان وټاکل شو. هغه د بهرنیو چارو د وزارت د تشریفاتو

درئیس په توګه هم وظیفه اجراکوله.

د امین رژیم چې د پرچمیانو او د تره کي د پلوي خلقیانو له غیر متحرک حالت سره په مخالفت کې و، د "قانونیت، مصونیت او عدالت" تر شعار لاندې یې نوې سیاست غوره کړ او خلکو ته یې د اساسي قانون د تدوین وعده ورکړه؛ خو د کمونستانو وحشیانه تګلاره لا پر خپل ځای وه. همدا راز امین غوښتل له مخالفینو سره د تفاهم ور پرانیزي؛ نو ځکه امین د ګلبدین حکمتیار پلار او دوه ورونه بندیان کړل او له هغه نه یې وغوښتل چې د کابل رژیم په وړاندې خپله مبارزاتي تګلاره بدله او ورسره همکاري وکړي.

سید محمد ګلابزوی چې د روسانو ترتجاوز وروسته د کارمل په حکومت کې د کورنیو چارو وزیرو، د امین د اعمالو پر خلاف او د کارمل په پلوي دیوې تبلیغاتي برنامې پر اساس د امین او حکمتیار د مخفي اړیکو په باب ادعا درلوده چې د امین مخفي مامورین د ۱۳۵۸ ش په تله / د ۱۹۷۹م په اکتوبر کې پیښور ته ولاړل او له سي آی ای او پاکستاني مقاماتو سره د تماس په ضمن کې یې له حکمتیار سره هم اړیکې ونیولې او دیوه ګډ ائتلافي حکومت د جوړوني غوښتنه یې وکړه حکمتیار وړاندیز کړی و چې تر تولو لومړی د ثور انقلاب شعارونه ور نکړای شي... "(۱۸)

د یوه رپوټ له مخې امین حکمتیار ته ویلي وو چې د همکارۍ په صورت کې به د هیواد د دویم کس په توګه وټاکل شي. حکمتیار د امین دا وړاندیز رد او هغه یې د روس نوکر او ملحد وباله. امین د حکمتیار د خبرو په مقابل کې دغج اخستنې په توګه د هغه پلار، دوه ورونه او دوه ترونه اعدام کړل. تردې وروسته د حزب اسلامي د غړو نیول په پراخه پیمانه پیل شول او د کام په زندانو او پلچرخي کې تر نورو د حزب اسلامي غړي ډیر وو. پرچمي بندیان د روسانو له خوا حمایه شول او پوزانوف پخپله لومړی ناسته کې امین ته ګواښ وکړ چې د پرچمیانو په له منځه وړلو سره به د کابل رژیم هم دوام ونکړي.

روسانو د رسمي بلنې په پلمه له امین نه وغوښتل چې مسکو ته ولاړ شي؛ خو هغه چې د کا جي بي په باب کوم شناخت درلود له دې تګ نه ډډه وکړه. روسان هم بې پروګرامه شول او افغاني کمونستان یې په درې ډلو کې په اختناق او تضاد کې لیدل. دا چې "د امین په سقوط کې د روسانو کوښښونه ناکام شول، هغه نه دا چې خپل واک زیات کړ، بلکې د روسانو د تګلارو په باب یې هم د نارامۍ احساس کاوه. هغه د خلکو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې کولې او هاندېې وکړ چې له پاکستان سره خپلې اړیکې ښې کړي" (۱۹) روسان د امین له کمونستي — ناسیونالستي عملونو راضي نه وو "امین ځوګوني او سرموز شخصیت درلود او شوروي دولت پر هغه کافي باور نه درلود" (۲۰)

کمونستان که د امین غوښتونکي هم نه وو، ظاهراً یې له ویرې له هغه نه خپل ملاتړ اعلان کړ. امین درک کړی وه چې روسانو به په افغانستان کې د نظامي مداخلې اقدام وکړ؛ نو ځکه یې د دولت په اعلامیو کې اعلانول چې باید د شي له خوا د کوټو د کړکیو پردې راکش شوې وي او له کوټونه بهرد

تنویر وسایل لرې کړای شي. د شپې له خوا ګرځ بندیز زیات شو او د کابل او ولایاتو په فضا کې او هوایي ډګر ته نژدې د نظامي الوتکو غرهار زیات اوریدل کیده.

په حقیقت کې روسانو پرافغانستان د تجاوز پروګرام درلود؛ خو نه په هغه دول چې واقع شول. روسانو غوښتل امین د تره کي په وسیله له منځه یوسي او وروسته تره کي د مجاهدینو د فشار د مخنیوي په خاطر له روسانو نه مرسته وغواړي چې دا قوه د روسي مشاورینو په نامه افغانستان ته واستول شي، ځکه د هرات تر پاڅون وروسته د خلکو فشار او له رژیم سره مخالفت او له مجاهدینو سره پیوستون زیات شوی و. ضمناً روسانو په پام کې نیولي وو چې که د امین په له منځه وړلو سره، په اردو کې د امین د پلویانو له خوا مخالفت وشي، بیا به هم د تره کي له خوا ددې مخالفت د تکونې لپاره د روسي قواو را غوښتل نړیوال غبرګونونه له هغې توندې نه وغورځوي.

له روسانو سره د امین اړیکې په یوه بې باورۍ کې پرمخ تلې. الکساندرپوزانوف A. Puzanov چې د امین پر خلاف د خپل هیواد د غبرګون په چټکولو کې رول درلود، له امین سره یې په لومړي کتنه کې له هغه نه وغوښتل چې تره کي سهي وسلامت روسانو ته وسپاري. دې کار امین په غوسه کړ او له مسکو نه یې وغوښتل چې بل څوک کابل ته د سفیر په توګه ورولیږي. د ۱۳۵۸ د لیندې پر ۱۱مه/ د ۱۹۷۹ د دسمبر پرلومړۍ نیټه، روسانو فکرت تابي یوف Fikryat Tabeyev کابل ته د سفیر په توګه واستاوه خو تولي چارې د بریژنف د مشاور (زافرونچک) په لاس کې وې.

## د انقلاب د دفاع سازمان

حفیظ الله امین د ۱۳۵۸ د تلې پر دوییمه/د ۱۹۷۹ دستمبر پر ۲٤مه د اساسي قانون د تصویب لپاره یو کمیسیون تشکیل کړ. پخپله یې چې د پلویانو په اند (د ثور انقلاب اعلی قوماندان) ګڼل کیده، (له انقلابه د دفاع سازمان) په نامه یو سازمان را منځ ته کړ. د رژیم د ادعاله مخې او دروسانو په تأیید دا سازمان په خلکو کې د ثور کودتا (انقلاب) د اهدافو او همدا راز د کمونستي سیاستو د تګلارې د تشریح په خاطر اغیزمن ګڼل کیده، چې کولای یې شوای مخالف افراد تشخیص او تر څارنې لاندې یې ونیسي. د دې لپاره چې پخپلو دې اهدافو کې بریالي شي، غوښتل یې په کلیو، قریو او ښارونو کې د خلکو د څارنې لپاره کمیسیونونه جوړ کړي او دا کار دسرشمیرنې ترنامه لاندې وکړي. د امین دا پلان ناکام شو او حتی د روسانو د تجاوز پر وخت یې د کارمل او نجیب په وخت کې هم اجرائي بنه غوره نکړای شوه؛ ځکه د افغانستان زیاتره سیمې یا دمجاهدینو تر ولکې لاندې وې او یا سختو نښتو جریان درلود چې په ملیونو کسان یې پاکستان او ایران ته په هجرت کولو اړکړي وو، او یا هم د هیواد دننه آواره وو. یو شمیر نیمه پانګوال او زمکه وال د بې تفاوتۍ د دریځ په غوره کولو سره څه وخت کابل ته ولاړل. له انقلابه د دفاع

سازمان هاند وکړ چې ددې کورنیو غړی د جاسوسي او الحادي سازمانو غړیتوب ته را جذب کړي او د کمونستي سازمان په پراختیا کې عملاً د مجاهدینو په وړاندې ملیشه قوتونه تشکیل کړي. دا ډول فعالیتونه غالباً د نجیب الله په وخت کې تر سره شول چې وروسته به پرې خبرې وکړو.

## د کام جاسوسي سازمان

امین دخلکو د سلاتر د جذبولو په خاطر، د تره کي او د هغه د پلویانو پرخلاف تونډ سیاست او بد رد ویل پیل کړل چې ځانته د افغانستان د زرګونو مسلمانانو په وژنه کې دبرائت سند پیدا کړي، په داسې حال کې چې په زرګونو مسلمانان په زندانو کې بندیان وو او هر ورځ به، په سلګونو کسان په همغه پخوانۍ بنه د پلچرخي په پولیګون کې اعدامیدل. هغه، اګسا سازمان "چې یو کال د مخه یې د اختناق دیوی وحشیانه دستګاه په توګه تری کار اخستی و، د "کام" په نامه بدل کړ، او د جاسوسي ددې دستګاه غړي یې خلکو د مدافعینو په نامه د هیوادپالو افرادو په نامه یاد کړل.

امین د کام د جاسوسي دستګاه غړوته په خپلو بیانیو کې ظاهراً ځان د دیموکراسي او وګړنیزو ازادیو مؤید معرفي کړ، په داسې حال کې چې د دولتي دستګاګانو، د کورنیو چارو وزارت، صدارت، عدلیه وزارت څه په مرکز او څه هم په ولایت کې، په مختلفو نومونو د جاسوسي سازمانونو، انقلابي سازمانونو او د پلچرخي له وحشته ډک زندان په زرګونو بندیان، په له اختناقه ډکو او دکتاتورانه تګلارو شکنجه کول او په زرګونو تنه یې اعدامول. د برادشر په وینا: "آزار او تعذیب په افغانستان کې یوه معمولي حربه وه خو کمونستانو هغه زیاته استعمالوله"

د کام جاسوسي سازمان د پخوا نیو توافقاتو پر اساس د اوو میلیونو ډالرو په بیه د شکنجې او تعذیب وسایل چې له پرمختللې تکنالوژۍ نه برخمن وو، له شوروی نه، د شوراګانو د هیواد د همکاریو په توګه لاس ته راوړل، چې غالباً د جلادانو او مستنطقینو د روزنې لپاره د کې جي بي زیات شمیر مشاورین هم کابل ته راغلل.

ددې له اختناقه ډکو پیښو په وړاندې د خلکو عکس العمل زیات شو او امین چې نه شو ای کولای ځان له دې تنګسې نه وباسي، په یوه بله خدعه لاس پورې کړ او د ۱۳۵۸ د تلې پردویمه/ د۱۹۷۹ ش دستمبر پر۲۳مه یې (د فوق العاده انقلابي محکمې) په نامه د ثور د کودتا له پیله د بندیانو د د وسیو د خیرلو فرمان صادر کړ.

د ۱۳۵۸ د لړم پر۲۵مه/د۱۹۷۹ د نوامبر پرشپاړسمه یې د هغو بندیانو یا وژل شویو او یا هم یې د ډرکوکسانو د کورنیو چارو د وزارت د ننوتو له دروازې سره وځړاوه چې ددې لیستونو له مخې، د افرادو پیژندل ناممکن و بلکې خلکو ته یې یوبل سرخوږ پیدا کړ. دی لیستونو درشوت او اداری فساد زمینه

مساعده کړه. په دې لیست کې امین د ۱۲۰۰۰ کسانو په وژنه اوبې درک ټوب اعتراف وکړ، په داسې حال کې چې د خلق او پرچم د کمونستانو جنایات تردې زیات وو او د وژل شویو کسانو شمیر تر هغې زیات و چې، خلکو ته یې بښودل کیده. په هغو رپوټونوکې چې د افغاني کمونستانو په باب خپاره شوی دي د ثور د کودتا په لومړیو دریو میاشتوکې تر پنځو سوزرو زیات کسان په کمونستي زندانوکې وژل شوي دي. یوازې د هرات د پاڅون په دردوونکې پېښه کې ۴۵۰۰۰ کسه د کمونستانو له خوا په ډله ییزه توګه ووژل شول او ددې په څېر نور ډیر جنایات.

د کام جاسوسي سازمان د روسي مشاورینو په زیاتیدو سره، په یوې ویروونکي دستګاه بدله شوه. د امین پلویان او کورنۍ کمونستان ـ یې د افغانانو په شکنجه او وژنه بوخت کړي وو. کې جي بي دا دستګاه په کابل کې د شوروي په ګټه په کار بوخته کړې وه. همدا راز روسانو د دفاع وزارت ترڅنګ د ستلایټ (مصنوعي سپوږمې) یوه مخابروي دستګاه و درولې وه چې جریانات به یې مسکوته استول او هدایات به یې اخستل.

روسي مشاورینو امین په داسې ویره کې ساتلی و چې زمینه یې داسې مساعده کړه چې د کابل له ارګه بهرمیشت شي. امین پخپله په دې نظر و چې له بناره بهر استوګنه غوره کړي. امین د تاج بیګ ماڼي چې د امان الله خان د دورې استوګنځای ګڼل کیږي او د محمد ظاهر شاه او محمد داؤود په دوره کې ترک کړای شوې وه ترمیم او له خپلې کورنۍ او خپلو پلویانو سره هلته ولاړ. امین خپلې زیاتره اعلامې، کنفرانسونه او کتنې د تاج بیک د ماڼۍ په سالون کې ترسره کولې. روسانو امین ته ویلي وو چې د مجاهدینو له خوا د رژیم د سقوط امکانات موجود دي، بنه داده چې اجازه وکړې چې سورګاردهم د هغه له ساتونکې قوې سره یوځای شي.

په کام کې هم د کمونستانو ترمنځ اختلافات اوج ته رسیدلي وو او یو ځل د اسد الله امین پر خلاف یو اقدام هم وشو او تېې شو. دا پیښه په قوي احتمال د تره کي د پلویانو له خوا تر سره شو. داسې اوازې هم خپرې شوې وې چې وطنجار او ګلابزوی د روسانو له خوا په پټه بیرته کابل ته راوستل شوي دي.

## د امین وروستي ورځې

حفیظ الله امین ته د روسانو د غیر مستندو رپوټونو پر اساس چې د لویدیزو هیوادو په همکارۍ د مجاهدینو له خوا کودتا کیږي، امین سربداله کړی و چې نه یې شوای کولای یو مشخص دریځ غوره کړي. له یوې خوا یې پرروسانو باور نه درلود او له بلې خوا لویدیځ، پاکستان او مجاهدینو ته په تمایل کې نهیلي شوی و. سره له دې چې څیړونکي وایي د امین دا تمایل له روسانو نه دڅغورنې په خاطر و. په هغه سرکه کې چې امین د ۱۳۵۸ دورې پر ۱۵ مه/د ۱۹۷۹ دستمبر پر۶ مه د بهرنیو خبریالانو په وړاندې په کابل

کې وکړه، له واشنګټن سره یې د کابل د اړیکو په باب داسې وویل: "موږ متحده ایالات او چین (له شورشیانو نه په مستقیم ملاتړ) نه تورنوو. موږ غواړو چې له متحده ایالاتو او چین سره دوستانه اړیکې ولرو. په عین حال کې دخپل انقلاب په وړاندې ددې دواړو هیوادو احساسات نالیدلي نشو ګڼلای. دا احساسات د امریکا اوپیکن راډیوګانو له لارې خپاره شوي دي" (۲۱) زیات داسې ریپوټونه ورکړل شوي دي چې په کتنوکې له امریکا سره د امین له خوا د دوستانه اړیکو د تمایل څرګندونه شوې وه خوواشنګټن دا تمایلات ونه منل؛ څکه ویریده چې هغسې نه دیوه کمونستي رژیم په ملاتړ، د امریکا د پارلمان او سناتر نیوکولاندې راشي. واشنګټن د هغې ناکامې تجربې له مخې چې د پالپوټ له رژیم نه په ملاتړیې کړې وه د امریکا د سنا مجلس ترشدید انتقاد لاندې راغی؛ خو دایران د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي کتونکو په عقیده.

"سره له دې چې امین او شوروي یو له بل نه سخت کرکجن وو، خو بیا یې هم یو بل ته اړتیا درلوده" د متخصصینو په اند امین شوروي ته اړتیا درلوده ځکه:

۱ – امین د مجاهدینو په وړاندې چې له مخه یې د افغانستان ولایتونه نیولي وو، د وسلو او مهماتو مرستې ته اړتیا درلوده.

۲ – د هیواد د اداري په خاطر د مختلفو مالي او فني مرستو د ترلاسه کولو لپاره روسانو ته اړو. همدا راز روسانو په افغانستان کې د زرګونو مشاورینو د موجودیت په اړه چې شتون یې د روسانو ورووستیو اهدافو ته ضرورو، امین نه اړتیا درلوده. همدا راز شوروي د خپلو هغو اهدافو لپاره چې په تیرو څو لسیزو کې یې ترتیب کړي وو امین نه اړو. (۲۲)

روسانو د امین له سرګردانه دریځ نه استفاده وکړه او هغه نه په نژدې تشکیلاتوکې یې د روسانو د موجودیت غوښتنه وکړه. سرګارد د تاج بیګ غونډۍ څلورو خواو ته نظامي موقعیت ونیو. د امین د پخلنځي او د هغه ورځینو چارو څارنه د کا جي بي په وسیله سرته رسیدله. کام سازمان او نظامي مرکزونه د روسي مشاورینو تر ولکې لاندې وو. مطبوعاتو او راډیو – تلویزیون هم د روسي مشاورینو تر جاجونې پرته خپرونې نه شوای کولای، لکه چې دامین ورووستي بیانیې په مطبوعاتو او راډیو – تلویزیون کې خپرې نه شوې. په مجموع کې امین د روسانو په لاسوکې اسیر پاتې شو.

پیښیل شوي وه چې امین د ۱۳۵۸ د مرغومې پرشپږمه، د اردو منصبوالو ته وینا وکړي. له مطبوعاتو او نورو خپرنیو وسیلونه هم غوښتل شوي وو چې دا وینا خپره کړي. ټول منصبوالو په سالون کې منتظر ناست وو، خو امین نه لیل کیده. د منتظرینو انتظار په شک بدل شو او نا څاپه د امین د ګارد کسان ننوتل چې نن وینا نه کیږي او باید دیر ژر دا ځای ترک کړي. د راډیو – تلویزیون مامورینو هم په دیره چټکتیا سره خپل وسایل ټول کړل او حرکت یې وکړ. د تلویزیون دوه مامورین چې په شوخي سره یې د امین له یوه ساتونکي نه دوه سرې دوډۍ خوړلي وه دار الامان ماڼۍ ته نژدې بې حاله شول او زړونه یې بد

بدشول. د کابل تلویزیون یوه مامور ماته وویل: "کله چې موږ د ستورمانۍ له زینونه ښکته کیدو هر چیرته مود امین د ګارد کسناکتل چې په یوه کونج کې به بیهوشه پراته وو او وسله هم ورسره نه وه. د پخلنځي یوه کارګر چې لا یې دوډۍ نه وه خوړلې، وویل: " روسي اشپزانو د حفیظ الله امین په خوړو کې زهر اچولي او د هغه تولوکسانو ته یې ورکړي دي".

د ا پیښي ښيي چې روسانو امین د هغه له کورنۍ او همکارانو سره بیهوشه او مسموم کړی و. په لومړیو کې او ازه وه چې هغه یې په سرموز دول شوروی ته بیولی دی؛ خو نور رپوټونه جوتوی چې د سره ګارد په وسیله ترنیول کیدو وروسته ووژل شو؛ مګر هغه د ښخولو ځای یې نه دی معلوم. د کورنۍ یو شمیر غړي یې برتاج بیک د روسانو د حملې پروخت تپیان شول. د امین دوه لورګانې ګلالۍ او ملالۍ تر تداوی وروسته پلچرخي ته انتقال کړای شوې.

## د حفیظ الله امین ژوند لیک

حفیظ الله امین د حبیب الله خروټي زوی دی چې په ۱۳۰۰ش/۱۹۲۱م کې د کابل ولایت په پغمان کې زیږیدلی دی د پلار ترمړینې وروسته، د امین پالنه د هغه مشر ورور عبدالله امین ته ور په غاړه شوه. هغه خپلې لومړنۍ زده کړې په پغمان او عالي زده کړې یې په دار المعلمین او د کابل پوهنتون په علومو پوهنځي کې سرته ورسولې. نوموړی د دارالمعلمین د ښوونکي او سرستیال او وروسته د ابن سینا لیسې د مدیر په توګه مقرر شو. هغه د امریکا له تحصیلي بورس نه په ګټې اخستنې سره مقدماتي کورس په کابل کې ولوست او یوه نیمه میاشت یې په کابل کې دیوه امریکایي په کور کې تیره کړه چې د هغه د خصوصیاتو په باب څیړنه وکړي. امین په ۱۳۳۶ش/۱۹۵۷م کې امریکا ته ولیږل شو. امین خپله ماستري د ښوونې او روزنې په برخه کې له کولمبیا پوهنتونه لاس ته راوړه او یو کال وروسته افغانستان ته ستون شو. هغه د ښوونې اوروزنې په مؤسسه کې چې امریکایانو نوی په کابل کې جوړه کړې وه، مقرر شو. تصورکیږي چې امین په همدغه کال کې له نور محمد تره‌کي سره اشنا شوی او په خپلو دریځنیونو کې یې د هغه له چپي نظریاتونه ګټه اخستې وی؛ ځکه کله چې دیوه بل بورس په لړکې د دکتورا د اخستلو لپاره امریکا ته ولاړ، او هلته دافغاني محصلینو د رئیس په توګه هم وټاکل شو (۱۳۴۲ش/۱۹۶۳م) دوه اړخیز نقش یې ولوباوه. له یوې خوایي ځان د امریکایانو پلوی باله چې حتی وروسته یې هغه د سي آی ای نماینده باله او پرچم ګوند د هغه پر خلاف پراخ تبلیغات وکړل او له بلې خوا هغه، ځان د یوه چپي انقلابي په توګه چې د کارګر د ټګلاری پراساس له مارکسستي – لیننستي تمایلاتو سره روزل شوی، معرفي کاوه.

امین د محصلانو په اتحادیه کې د جوانان افغان په نامه یونوی غورځنګ رامنځ ته کړ چې خپله سیاسي ټګلاره یې د تولنیز عدالت خواته تمایل، وګړنیزې آزادۍ او سیاسي دیموکراتیکه ټګلاره بیان

کړه. د افغانستان حکومت دامین په دی دوه دوله دریځنیونو سره، د امریکا له دولت نه وغوښتل چی د هغه د تحصیل مخه ونیسی او بیرته یی افغانستان ته راواستوی. امین بیرته افغانستان ته ستون شو او د خپل فطری خصوصیت له مخی د نورو د عکس العملونو په وړاندی له عقدودک او د غچ اخستنی روحیه ورسره وه. زما په اند دافغانستان په دیموکراتیک ګوند کی د امین د غړیتوب علت سړی په دوه څیزوکی بیانولی شي: یو دده په راستنولوکی د امریکا غبرګون او د امریکا او کابل اداری په وړاندی د امین عقده من کیدل. "تروخت د مخه د کولمبیا له پوهنتو نه د امین ایستل د هغه د امریکایی ضداحساساتو اصلی علت دی" او بل له ګوینستی خصوصیت سره چی د هغه لید توکی ته یی وده ورکړی وه واک او د هیواد اداری ته رسیدل. نو ځکه امین په هغه لوسړنی ناسته کی چی د ۱۳٤٤ش/د ۱۹٦٥ د جنوری په لومړی نیټه د مرغوسی پر یوولسمه په کارته چهار (شیر شاه مینه) کی د تره کی په کورکی دایره شوی وه او دیرش کسه ځوانان پکی را ټول شوی وو، د افغانستان په خلق دیموکراتیک ګوند کی د خپل شمولیت پانه ورکړه. نو موړی دري کاله په رابعهٔ بلخی لیسه کی د ښوونکی په توګه دنده اجرا کړه. په ۱۳٤٧ش/۱۹٦۹م کی یی ځان د پغمان اولسوالی د وکالت لپاره کاندید کړ. هغه دوه ځلی ځان کاندید کړ، چی یوځل ناکام شو او بل ځل یی رایی وګټلی او د دیارلسمی دوري لپاره د پغمان د خلکو د وکیل په توګه وټاکل شو.

امین دخلق ګوندله سرسپارلو نه شمیرل کیده او له میر اکبر خیبر او ببرک کارمل سره یی له همغه پیل نه دښمنی اوکینه درلوده. بنایی ددی دښمنی علت د دووکسانو متضاد شخصیتونه وو. امین قاطع او صریح سړی و او په خپلو برخوردونوکی په دوو هم ګروهو دلوکی یا موافق و او یا مخالف او بی طرفی یی نه منله. ددی سرچپه د کارمل شخصیت متلون و او په هر قالب کی ځاییده. کله چی کارمل له خلق ګوند نه جلا شو او د پرچم تا دا وبی کښینبنود، دا تضادونه زیات شول. امین د تره کی په سیوری کی پرچم دله او کارمل کوبه چی په مجموع کی، خلقیانو، پرچمیان ددی اپرچونستی خصوصیت له مخی، هغوی مرتجع، جنرال زادګان او د سلطنتی کورنی نوکران ګڼل. امین د خلق او پرچم په تضادونو کی کلیدی نقش درلود او میر اکبر خیبر یی چی د پرچمیانو تیوریسن بلل کیده، د خلق دیموکراتیک ګوند مرکزی کومیټی ته لاری پیدا کولو ته نه پریښنود.

د ثور تر کودتا وروسته چی د روسانو په جبری منځګړتوب له داؤود نه دواک اخستلو په خاطر یو ائتلاف منځ ته راغلی و، د امین او کارمل اختلافات زیات شول او په دری لومړیو میاشتو کی یی پرچمیان د افغانستان له سیاسی اداری نه لری کړل. که چیری شوروی او کی جی بی مداخله نه وای کړی بنایی دیر پرچمیان یی نیست و نابودکړی وای. امین د ۱۳٥۷ش د ثور پر ۱۱مه/ د ۱۹۷۸ د می په لومړی نیټه دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت په لومړنی کابینه کی د صدر اعظم او د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شو. د ۱۳٥۷ د چونګاښ پر۱۷مه/د ۱۹۷۸ د جولای ۸مه د دیموکراتیک ګوند دمنشی په توګه

وتاکل شو. د ۱۳۵۸ دورې پر ۲۵مه/د۱۹۷۹ دستمبر پر ۱۶مه د خلق دیموکراتیک گوند په پولینوم کې د عمومي منشي، د انقلابي شورا د رئیس او جمهور رئیس په توگه وټاکل شو. کله چې روسانو پرافغانستان تیری وکړی امین یې په تاج بیگ ماڼۍ کې چې دکار دفتر یې هم هلته و، مسموم او د ۱۳۵۸د مرغومي پر شپږمه/ د ۱۹۷۹ دسمبر ۲۷مه یې له خپل زوی عبدالرحمن سره له منځه یوړ. پاتې کورنۍ یې د ښځو په گډون په پلچرخي زندان کې واچوله.

## د ثور انقلاب

## د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت مرکزي خپرني اورگان

په افغانستان کې دیوه کمونستي رژیم له منځ ته راتلو سره د افغانستان خپرنې بنیادونه هم بدل شول او د محمد داؤود د دورې جمهوریت ورځپاڼې خپل ځای ثور انقلاب ته پرېښود او د خلق دیموکراتیک گوند د دولتي خپرنې اورگان په توگه یې په خپرونو پیل وکړ. د جمهوریت ورځپاڼې ټول تشکیلات دی گوندي اورگان ته وسپارل شول.

د تأسیس کال: د ۱۳۵۷ د ثور ۷ مه/ د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۷مه

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دیموکراتیک گوند مرکزي خپرني اورگان. مسؤل مدیر: محمد عیان عیان، محمد زمان مومند، د چاپ ځای: کابل، دولتي مطبعه، چاپ شمیره له ۲۰۰۰-۴۰۰۰ خپرنې ژبه: پښتو-دری.

د خپرونې دول: کچه، د چاپ بڼه: سهارنۍ ورځپاڼه، ۳۸x۵۶ سانتي متره، دوه رنگه اته مخه، مصوره، د کار پای: د ۱۳۵۸ د مرغومي ۶مه/د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷مه، محتوی: خبرونه، سیاسي مقالې، دولتي اعلامیې، د رژیم د مشرانو بیانیې او مرکې.

# د ثور انقلاب

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت مرکزي ارګان

چهارشنبه ۱۳۵۸ هـ ، شمسي کال د عقرب (۱٦) — (۳۸٦) — لومړی کال


## د ملګري حفیظ الله امین د مبارکۍ پیغام د اکتوبر د ستر انقلاب د دوه شپیتمې کالیزې له امله مسکو ته مخابره شو

کابل ـ د بهرنیو چارو د وزارت د اطلاعاتو مدیریت خبر ورکوي د افغانستان د خلکو دموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس او لومړي وزیر حفیظ الله امین لخوا د اکتوبر د سوسیالیستي ستر انقلاب د دوه شپیتمې کالیزې له امله مسکو ته د ملګري لیونید برژنف او ملګري الکسي کاسیګین په نامه د مبارکۍ پیغام مخابره شوی دی.



د نړۍ د کارګري انقلاب لوړ لارښود او د شوروي اتحاد د کمونست گوند بنسټ اېښودونکی و. ا. لینن

## د ملګري امین پیغام د لـز بن د کانګرس د برخه والو، زیات تاوده هرکلي سره مخامخ شو یدی

## نن په ټول هیواد کې د اکتوبر د ستر انقلاب دوه شپیتمه کالیزه نمانځل کیږي

## د ایران لومړي وزیر د خپلې کابینې د ټولو غړو سره له خپلو وظیفو څخه استعفا وکړه



د سوسیالیستي شوروي جماهیرو د اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي او د عالي شورا د رئیسه هیات مشر لیونید برژنف چې د ... په وخت ...



د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي، د انقلابي شورا رئیس او لومړي وزیر حفیظ الله امین چې ... د افغانستان د ... لوی لارښود دی.

د افغانستان د ځوانانو د خلقي سازمان د عالي کنفرانس په توجه لوبیه کې

## د ځوانانو د خلقي سازمان اساسنامه تصویب شوه

د اکتوبر د ستر انقلاب د کالیزې په مناسبت

## مسکو ته د لومړي وزیر د مرستیال او د بهرنیو چارو د وزیر د مبارکۍ پیغام

## د افغانستان او شوروي اتحاد د دوستۍ د هیاتونو ترمنځ خبرې

# پر افغانستان د روسانو (شوروی اتحاد) تیری

د ۱۳۵۸ د مرغومی ٦ مه - د ۱۳٦۷ ش د سلواغی ۲٦ مه

(د ۱۹۷۹ د سمبر ۲۷ مه د ۱۹۸۹ د فبروری ۱۵ مه)

شوروی اتحاد د ۱۳۵۸ د مرغومی پرشپږمه/ د ۱۹۷۹ د دسمبر پر ۲۷مه پر افغانستان نظامی تیری وکړ. ددی حملی پلان لا د مخه جوړ شوی و. هغه څه چی روسانو غوښتل دکمونستانو په وسیله یی لاس ته راوړی په کابل کی د سیاسی اوضاع په بدلیدو، د تره کی په وژل کیدو او کارمل له هیواده ایستلو سره یی نشوای ترلاسه کولای. له بلی خوا مجاهدینو په ګرد افغانستان او په تیره د کابل په شاوخوا کی خپل مور چلونه ټینګ کړی وو. د برادشر په وینا: "روسان ویریدل چی بنایی چریکان د افغانی اردو د ناراضو قطعاتو په مرسته د امین حکومت ته سقوط ورکړی" (۲۱) خو ددی امکان هم موجود و چی امین د ناچاری او د روسانو د نه مرستی له لامله او هم یی د عقدو په زیاتیدو سره، پاکستان او د مقاومت دلو ته د مرستی لاس ورو غزوی چی په دی توګه دروسانو محاسبه له ماتی سره مخ کیده. سره له هغی چی روسانو له امین سره په خپل سلوک کی ډیر احتیاط کاوه او پخپلو اړیکو کی یی همیشه د مشرانو د پیغامونو په تبادله او یا همکاری کی همغه پخوانی لاره تعقیبوله.

د زیاترو سیاسی مفسرینو په اند د تره کی وژل کیدو او د امین خپلسریو او همدا رنګه اولسی پاڅونو لکه د هرات پاڅون پر افغانستان د روسانو د نظامی تیری انګیزه برابره کړه. د کارمل په څیر د یوه کمزوری او بلواکی شخصیت موجودیت هم پر افغانستان د روسانو په تجاوز کی لوی لاس کولای شو. تر تجاوز دمخه روسانو د افغانستان په سرحداتو کی څه فعالیتونه وکړل چی له هغی جملی نه په ازبکستان او فرغانه کی د روسانو د نظامی قواو موجودیت و.

د ۱۳۵۸ دوری پر ۱٦مه/ ۱۹۷۹ د اپریل ۱۵مه د روسانو د شپږو و جنرالانو په موجودیت کی یو نظامی هیأت چی ریاست یی د جنرال الکسی یاپوشوف Alaxiyepishev پرغاړه و، کابل ته راغی. نوموړی چی د چکوسلواکیا په اشغال کی تجربه درلوده، د اردو وضع ترڅیړنی لاندی ونیوه. د هرات په پاڅون او د مجاهدینو د مقاومت په زیاتیدو سره، روسانو د کابل رژیم ته د خپلو جنګی تجهیزاتو په زیاتولو او ترڅلورو زور زیاتو نظامی مشاورینو په رالیږلو او د مجاهدینو پر خلاف یی په عملیاتو کی په برخی اخستنی سره، عملاً مداخلی ته زمینه مساعده کړی وه. د ۱۳۵۸ د وری اوتلی په میاشتو/ د ۱۹۷۹ اګست او ستمبر کی د روسانو یو بل هیأت چی دولس جنرالان او پنځوس تنه نور لوړ رتبه منصبوال چی په مختلفو برخو کی یی تخصص درلود د روسیی د ځمکنیو قواو د عمومی قوماندان جنرال ایوان - جی

پاولوفسکی Ivan G. Pavolovsky تر ریاست لاندې په کابل او د رژیم په نظامي مراکزو کې د تحقیق او مطالعې لپاره راغلل او پر افغانستان بې د روسانو دنظامي تجاوز په خاطر د مقدماتو رپوټ تهیه او مسکو ته یې واستاوه. تر تجاوز یوه میاشت د مخه د ۱۳۵۸ د لیندۍ پر۷مه/ د ۱۹۷۹ د نوامبر پر۲۸مه د شوروی د صدارت لومړی مرستیال وکتور پاپوتین کابل ته راغی او خپل وروستنی رپوټ یې چې د هغې پر اساس روسانو پر افغانستان د نظامي یرغل تصمیم ونیو، جوړ او بیرته مسکو ته ستون شو. د ۱۳۵۸د لیندۍ پر ۱۲مه/د ۱۹۷۹د دسمبر ۳مه، په کابل کې د روسانو سفیر پوزانف برطرف او پرځای یې فکرت تابیف Fikrat Tabeyef وټاکل شو. واشنګټن د اوضاع په درک کولو سره د لیندۍ پر ۲۸مه/ د دسمبر ۱۹مه مسکو ته کواښ وکړ چې په افغانستان کې له نظامي خوځښتونه لاس واخلي: خو روسانو د امریکا دا تورونه رد کړل. د شوروی اتحاد رسمي مقاماتو د ۱۳۵۸ د جدي پر ۲مه/ د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۳مه د امریکا ادعاوې او د خپرنیو رسنیو رپوټونه د افغانستان په کورنیو چارو کې یو دول مداخله وګڼله. لویدیزو خپرنیورسنیو د افغانستان په شمال کې د دیرش زرو روسي عسکرو، همدا راز د بګرام په هوایي ډګر کې د څلور زرو روسي عسکرو او د ازبکستان په فرغانه کې د روسي عسکرو د تحرکاتو رپوټ ورکړ. د جدي په ۳مه په کابل کې هم خپرنیو رسنیو د لویدیز دخپرنیو رسنیو په حواله ولیکل: "د شوروی دکمونست ګوند خپرنۍ اورګان پراودا د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت او شوروی اتحاد د ګډو دښمنانو د رواغ ردکړی او لیکلي یې دي چې د دواړو هیوادو اړیکې د ښه ګاونډیتوب پر احساس، یو د بل په کورنیو چارو کې په نه لاسوهنه، مساوي همکارۍ او د طرفینو په ګټه استواری دي..."(۲۵)

پر اودا د نظامي تحرکاتو او پر افغانستان د روسانو دتهاجم د مخنیوي په اړه تر تجاوز درې ورځې دمخه د امریکا دادعا پر خلاف پخپلو مقالو کې ولیکل:

"د افغانستان پر خلاف د ا تخریبونه، د امریکا او نورو امپریالستي هیوادو له خوا د افغانستان په کورنیو چارو کې ښکاره مداخله ګڼل کیږي."(۲٦)

د شوروی اتحاد د بهرنیو چارو وزیر اندری ګرومیکو هم د لیندۍ پر ۳مه/د دسمبر ۲۱مه په یوه بیانیه کې د امریکا ددې څرګندونو په اړه، تعجب کوي او وایي چې "رپوټونه بیرونه ده، نور نه پوهېږو ناسي دځه په باب غږیږي:"(۲۷)

جنرال لوکین پخپلو خاطراتو کې لیکي: همغه ورځ چې حفیظ الله امین د روسانو له خوا مسموم کړای شو، زه له اندروپوف سره چې هغه مهال د کا جي بي رئیس و، ناست وم او د هغه خبر را ورسید. اندروپوف امر وکړ چې ژر تر ژره کیدای شي ببرک کارمل ته بیانیه جوړه کړي.

روسي عسکر د هغه هوايي پله له لارې چې له څو ورځو راسې د کابل - تاشکند ترمنځ جوړ شوی و، په حساسو دولتي مرکزونو کې ځای پر ځای شول او چې ډیر لږ مقاومت به یې لیده یا اشتباه به یې رانه په وژلو به یې لاس پورې کاوه. اداراتو ته پرته له دې چې د ماشیندارو د ډزو پرواو کړي ننوتل او غیر نظامي

ACKU

مرکزونه له هغې جملې نه رادیو – تلویزیون یې ونیو. روسان چې د افغانستان له ټولو نظامي مرکزونو سره بنه بلدوو، د جدي پر شپږمه یې اشغال کړل. له هغې جملې نه دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، ارګ، رادیو – تلویزیون، نقلیه غونډ، دارالامان ماڼۍ، ریشخور فرقه، قرغې فرقه، په پلچرخي کې څلورمه او پنځلسمه زغره والې قواوې او نور نظامي سرکزونه، د کابل هوايي ډګر، پلچرخي زندان او تاج بیګ غونډۍ چې دا ټول عملیات تر څلورو ساعتو په لږه موده کې ترسره شول. د جنرال وکتور پاپوتین په حکم یې چې هر څوک په عسکري یونیفورم کې لیده، باید پرې ډزې وکړي او تر اور لاندې یې ونیسي. روسانو د بګرام په هوايي ډګر کې ټول منصبوال دیوې غونډۍ په پلمه راټول کړل او تر څارنې لاندې یې نیولي وو او ټوله هوايي قوه د افغانانو له لاسه ووته او د روسانو لاس ته ورغله.

## د ببرک کارمل بیانیه

کارمل خپله لومړنۍ بیانیه د جدي په شپږمه نیټه د تاشکند رادیو له لارې خپره کړه. دا بیانیه د افغانستان د ملت په نامه څو ځلې په تکراري ډول خپره کړای شوه. دشپې یوولس نیمې بجې دیوه تاجک ویاند په خبرې اعلان سره، د هغې رادیو او وروسته درادیو افغانستان له لارې د کارمل بیانیه خپره کړای شوه. کارمل په خپله ویناکې د ځان د کامیابۍ او د امین دله منځه ورلو په باب خبرې وکړې. دا ځل یې بیانیه د لومړي ځل په پرتله په واضح توګه ثبت او خپره کړای شوه. د بیانیې متن داسې دی:

بسم الله الرحمن الرحیم

زه ببرک کارمل د افغانستان د خلق دیموکراتیک واحد ګوند د مرکزي کومیټې له خوا او د حفیظ الله امین دفاشستي رژیم د سرګونې سقوط په مناسبت چې د امریکا او امپریالیزم یوسفاک جاسوس، دکتاتور او اولس غولوونکی و ټاسې دافغانستان مسلمانو او عذاب لیدلو هیوادوالو، سنیانو، شیعه ګانو، پاکو او با تقوا علماو او روحانیونو، د اردو سربازانو او افسرانو، سوداګرو او ملي پانګوالو، هیوادپالو، ځمکه والو، خوارې کښونو، کسب ګرو، ځنګیالیو قومونو او قبایلو د هیواد آو... ځوچیانو او شپنو، دولتي مامورینو، روښانفکرانو او مخکښو ځوانانو، کارګرو نارینه واو ښځو، کرګرو، ورونو او خویندو ته چې تر اوسه د امین سرې وژونکو جلادانو او د تاریخ د شیادانو ترڅغ لاندې وو د ...ود در استوم او شاباس درته وایم او نړیوالو ته اعلانوم چې دآسیا په زړه کې امیني فاشستي اداري د استبداد د رنځیر وروستۍ کړۍ ماته شوه او د آزاد افغانستان د درنو خلکو د واحد دولت ملي بیرغ ... بیا هسک شو. دغاصب او یکه تازامین دا د افغانستان خلکو ته خاین، رژیم د خپلو جنایاتو تر فشار لاندې وځپل شو او د طاغوت وحشیانه ماجرا طوماریې نور ورتول شو او داسیني جنایتکارانو حاکمیت نور پای ته ورسید. د ا

د دیموکراتیک جمهوریت انقلابي شورا د خلکو د ستر انقلاب دلورو ارمانونو پر اساس، د افغانستان د آزادو او زنځیر شلوونکو خلکو د ارادې پر اتکا، د حزب او ملي متحدینو د بریالي انقلاب حکومت او دافغانستان د هیواد پالو افسرانو او سربازانو په اتکا، واک یعنې دولت بیا په لاس کې واخست...

کارمل همدا راز اعلان کړه چې: "د افغانستان د موکراتیک جمهوریت به دافغانستان د خلق واحد دیموکراتیک ګوند - د افغانستان د کارګرو او خوارې کښو حزب په مشرۍ له ټولو ملي او دیموکراتیکو قوتونو یوه پراخه جبهه تشکیله کړي."

کارمل په پای کې د خپلو دوو وژل شویو کمونستو خلقیانو تره کي او خپبر ته د درود په استولو سره لاندې شعارونه ورکړل:

"مخ په وړاندې د غاصبانو، لویچارو، څبیت لګرو او خرابکارانو د کاملې امحا په لور
مرګ پرنادرې او امیني وینو څښونکو
مرګ پر ارتجاع، امپریالیزم او د هغو په زنځیرې سپیانو
مخ په وړاندې د ثورد پرتمین انقلاب د ارمانونو په لارکې...

*دوستانو او ملګرو!*

د هیواد د اتحاد په لارکې د افغانستان تر ستر پرچم او ثور انقلاب لاندې د خپل ملي او دیموکراتیک، فیودالي ضد، امپریالیستي او کمپرا دورې (؟) ضد انقلاب دبریالیتوب په لارکې... د اورنیو او انقلابي سلامونو په وړاندې کولو سره... (۲۸)

په نیمه شپه کې د تکرونو اوازونه کم شوي وو او دامین پلویان هر چیرته چې وو له منځه تللي اویا هم زندان ته اچول شوي وو. خلکو فکر کاوه چې دا جنګ به د مجاهدینو او کمونستانو ترمنځ وي، خو چې کله یې د امین د مرګ د خبر په اړه د کارمل اواز واورید، د روسانو د تجاوز او کارمل د هیواد پلورنې قضیه ښکاره شوه. روسانو کارمل له مسکوه کابل ته انتقال کړ او د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مشر په توګه یې اعلان کړ. " په ډیرو نا برابرو او شرمیدلو شرایطو کې د کارمل ظهور خلک حیران کړي • ق،او ترخنګ د هغه موجودیت دومره کوچنې دی چې اصلاً د چاپام نه ور اوري... شخصي نا آګاهو عناصرو مکتبي او ایدلوژیک تکرونه بالاخره د هیواد سیاسي افغانستان د نظامي اشغال حربې، ببرک کارمل، تره کي او امین له ځانه ځای ته رسوي چې د هغې په نتیجه کې ملي واکمنې د سرولبنکړو لاس ته • تولنه په مستقیم دول دشوروي امپریالیزم تر تهدید لاندې واقع کیږي"(۲۹)

## د کارمل رژیم او یی وسي یی

لیوند بریژنف وروسته کارمل ته د مبارکی پیغام واستاوه چی دخپرنیورسنیو له لاري خپور شو او د ۱۳۵۸ د سلواغی پر ۲۹مه/ د ۱۹۸۰ د فروری پر ۱۸مه یی هغه ته دلینن مدال ورکړ. کارمل د کرملین په دستور پخپله سیاسی تگلاره کی بدلون راوست چی عامه اذهان دشوروی د تجاوز په وړاندی داده او غلی کړی. پر همدی اساس کارمل په پیل کی یوه گډه کابینه جوړه کړه. وطنجار، گلابزوی او سروری چی د امین له ویری یی د روسی سفارت ته پناه وړی وه او همدا راز یی جنرال قادر، رفیع، کشتمند او سلیمان لایق چی په پلچرخی کی بندیان وو، یو ځای کړل او په لاندی دول یی کابینه جوړه کړه:

۱- ببرک کارمل د افغانستان د واحد دیموکراتیک گوند عمومی منشی، د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیس، د رئیسه هیأت صدر او صدراعظم.

۲- اسد الله سروری د انقلابی شورا مرستیال او د صدراعظم مرستیال

۳- سلطانعلی کشتمند د انقلابی شورا دویم مرستیال، د صدراعظم مرستیال او د پلان وزیر.

٤-نور احمد نور، ٥- جنرال عبدالقادر، ٦- دگرمن اسلم وطنجار، ٧- دگرمن گل آغا د انقلابی شورا غړی، ۸- سیدمحمد گلابزوی د کورنیو چارو وزیر، ۹- شاه محمد دوست د بهرنیو چارو وزیر، ۱۰- دگرمن محمد رفیع ددفاع وزیر، ۱۱- داکتره اناهیتا راتب زاد د ښوونی او روزنی وزیره، ۱۲- عبدالوکیل دمالیی وزیر، ۱۳- محمد خان جلالر د سوداگری وزیر، ١٤- عبدالمجید سربلند د اطلاعاتو او کولتور وزیر، ۱۵- انجنیر نظر محمد د فواید عامی وزیر ١٦- شیر جان مزدور یار د ترانسپورت وزیر، ۱۷- اسماعیل دانش د کانو او صنایعو وزیر، ۱۸- فیض محمد د سرحداتو او قبایلو وزیر، ۱۹- عبدالرشید آرین عدلیه وزیر، ۲۰- فضل الرحیم مومند د کرنی وزیر، ۲۱- داکتر ابراهیم مجید د روغتیا وزیر.

خلقیان په دری برخوکی سره نیت و پرک شول: لومړی د امین پلویان چی زیاتره یی د کارمل د رژیم په واسطه اعدام کړای شول. دویم غولیدلی او تره کی ته مایل خلقیان چی د کارمل په رژیم کی د برخی اخستنی پلویان وو او دریم هغه اپرچونست یا ورځچاری خلقیان چه له روسانو او کارمل سره د ملگرتیا پلویان وو.

کارمل یو شمیر خلقیان د امین د جنایتکار باند په نامه د انقلابی محکمی د اعلامیی د صدور له لاری اعدام کړل. په اعلامیه کی راغلی دی: " انقلابی محکمی حفیظ الله امین د افغانستان د نجیبو خلکو پر خلاف د اجراکړو جنایاتو په خاطر چی په هغی کی د افغانستان دیر شریف خلک په ملکی او عسکری کچ حزبی فعالین، نمایندگان، مسلمان روحانیون، روښانفکران، کارگر او دهقانان شامل وو، په اعدام محکوم کړ او د انقلابی محکمی پریکړه تطبیق شوه..."(۳۰)

دا اعلامیه د کارمل د رژیم د برائت په خاطر نشر شوه په داسې حال کې چې حفیظ الله امین او د هغه د کورنۍ یو شمیر غړي لادمخه د روسانو په واسطه وژل شوي وو، چې له هغې جملې نه یې ورور عبدالله امین، هم زوم او هم وراره اسد الله امین، زوی عبدالرحمن امین او همدا راز یو شمیر نور ګوندي لوړ رتبه ملګري لکه صاحبجان صحرایي، انجنیر ظریف، صدیق عالمیار، د دفاع وزارت د سیاسي چارورئیس اقبال وزیري او اسد الله پیمان وو چې په مطبوعاتو کې یې یادونه وشوه. کارمل تول پیښې مصیبتونه د تیر رژیم پرولیو واچول. صالح محمد زیري، ډاکټر شاه ولي، دستګیر پنجشیري، اسماعیل دانش، بارق شفیعي، علیشاه پیمان، دفواید عامې د وزارت معین صالح محمد فیروز، عبدالقدوس غوربندي، کریم میثاق او دکوماندو د قطعې قوماندان صادق عالمیاربې پلچرخي زندان ته واستول. د امین میرمن او لونې او د زیري میرمن په دویم بلاک کې بندیاني شوې. تره کې ته یې ارواښاد ووایه او د تره کې د میرمن له خوابي رونالډریګان ته چې د جیمي کارتر پرځای د امریکا په اولس مشرۍ غوره کړای شوی و، یو لیک واستاوه چې په هغې کې، په افغانستان کې د امریکا له مداخلو نه شکایت شوی و. روسانو د هغه تفاهم له مخې چې تردې د مخه یې له تهران سره درلود، کوښښ وکړ چې د کابل – تهران په اړیکو امام خمیني ډاډه کړي چې په افغانستان کې د روسي قواو موجودیت د ایران لپاره خطرونه نه لري او په دې خاطر کارمل د (حضرت امام خمیني) په نامه لیک واستاوه.

د ۱۳۵۸ د مرغومې پر ۱۵مه/ د ۱۹۸۰ د جنورۍ پر ۵ مه د ملي ماتم ورځ اعلان شوه البته تردې د مخه د جدي په اوومه نیټه دروسي قواو په محافظت کې پلچرخي زندان ته ولاړ او یوه هیأت چې په ترکیب کې یې محمود بریالي، صمد ازهر، نظام الدین تهذیب او سرور منګل وو، وظیفه واخسته چې، پرچمي بندیان له نورو بندیانو جلا او ښار ته یې انتقال کړي. د ملي ماتم په ورځ هم چې زموږ ملیونی ملت په ویر او ماتم کې ناست، د واقعیتونو د ښکاره کیدو انتظار درلود، چې وکړای شي خپل ورک کسان بیا مومي او که نه: پرچمیانو د داؤود د دورې اتیا تنه جنرالان او نور لوړ رتبه مامورین او یو شمیر مجاهدین په زندان کې وساتل. دا کسان هغوی لادمخه په نخښنه کړي وو. یو شمیر بندیان له منځه یوړل شول او یا هم دروسانو په واسطه، دشاقه او اجباري کار لپاره سایبریا ته بوتلل شول، دا مسأله تر اوسه د هغو د موجودو ابهاماتو سره توضیح شوې نه ده. کابل او.د هغې د شاوخوا خلکو چې خپل ورک کسان یې ونه موندل ترنیمې شپې پورې د پلچرخي د زندان د دیوالو شاته منتظر پاتې شول او ژړل یې. په کابل کې تولې کورنۍ غمجنې وې. د کارمل رژیم په بې شرمۍ سره د جدي ۲۳مه/د۱۹۸۰ د جنورۍ ۱۳مه د ملي ماتم دورځې په توګه اعلان کړه چې که وکړای شي د خپل رژیم په اړه د خلکو خوشبیني را جلب کړای شي خو د دې شکلي عملونو ترڅنګ، پلچرخي زندان، صدارت او د همزنګ بیرته له بې ګناه خلکو نه چې ددې تجاوز مخالف وو، ډک شول.

کارمل دیوه بې صلاحیته رئیس په توګه د روسانو په اختیارکې و چې ان اشپز، مامورین او ساتونکي

بي هم روسان وو. ځوتنه افغان ساتونکي چي په شکلي ډول د کارمل ترځنګ لیدل کیدل، بي وسلي کړای شوي وو. کارمل د روسانو له اجازي پرته حق نه درلود چي یا وینا وکړي او یا له ارګه بهر ووځي. د دولتي مامورینو تقرر د روسانو په واسطه تر سره کیده. يو عمده دلیل چي د کارمل ډلي وکړای شو د زیاتي مودي لپاره د روسانو ملاتړ ورسره وي د کرملین ګڼو ته د کارمل او د هغه د ملګرو تر حده زیات اخلاص و. پرهمدي اساس روسانو کوښښ وکړ چي په همدي وخت کي په افغانستان کي په يو لړ خطرناکو پروګرامونو لاس پوری کړي چي د افغاني ټولني په روسي کولو کي اغیز من واقع شي له هغې جملي نه!

۱- *د وطن روزنتون*: چي د کارمل دمیرمن (محبوبي) تر ریاست لاندي بي افغاني یتیمان مرکز ته راټولول او د مغزپریمنځني لپاره بي شوروي ته استول. په شوروي کي له مور و پلار سره دنه اړیکو او د وطن له محیط نه دلري توب له لامله د یتیمانو روزني، هغوی بي بندوُباره، وحشي او ځان پلوري وروزل او روسانو غوښتل چي يوازي د کمونستي نظام په دیکته شویو معیارونو کي له هغوی نه ګټه واخلي. ددي یتیمانو شمیر چي هلکان او نجوني وي تر شلوز رو زیات و چي دروسانو نصاب بي نه پوره کاوه. زیاتره عالیرتبه کمونستانو د وطن روزنتون له لاري روسیي ته د خپلو کوچنیانو له لیږلو نه ډډه کوله او غالباً بي هځه کوله چي لویدیزو هیوادو ته بي واستوي. د خاد غړو له روسانو سره د کوچنیانو د پټولو په عملیاتو لاس پوری کړ. او "د ۱۹۸۰ د فروري په ۲۹مه/د ۱۳۵۸د سلواغي ۱۰ مه بي د وردګو له اسماعیل خیلو قریي نه ۲۱، د هود خیلو له منطقي نه ۲۰ نجوني او ۲۱ هلکان روسانو په حمله کي پټ کړل او شوروي ته بي ولیږل."(۳۱)

۲- د جاسوسي زده کړي په ټګلاره ښوونځي: د کارمل په دوره کي د ښوونځیو په تعلیمي او روزنیزه ټګلاره کي بدلون را منځ ته شو او له روزنیزو او فکري مسایلو پرته ورته پروګرامونه جوړ شول. د ښوونځیو شاګردان د جاسوسیو په بدل کي هڅول کیدل هم او چي چا به زیات فعالیت وکړ، د مسکي بورسونو په لړ کي به روسیي ته استول کیدل. يو له هغو عواملو چي افغانستان بي وروسته پاتي توب او د اوږده جنګ خواته راکاږه، د کارمل د رژیم په واسطه د ځوان نسل بي فرهنګه کول وو چي هځه بي کوله له دي ځواک نه په ګټي اخستني سره ځانونه د مجاهدینو په وراندي وژغوري او په نتیجه کي بي ملت ته د جنګ او وژلو فرهنګ ورزده کړ.

۳- *د اجیرو ملیشو روزنه*: کارمل يو شمیر ارذال او اوباشان او جرمي جنایتکاران چي د داؤود له وخته د فساد او اخلاق ضد جرمونو پخاطر زندان ته اچول شوي وو، پریښودل او زیاتره بي د اجیرو او جنګي ملیشو په توګه له انقلابه د دفاع په سازمان کي استخدام کړل او په ټولنه کي بي دفساد او بي نظمي زمینه برابره کړه. کارمل په کندهار کي د عصمت مسلم، په هرات کي دتورن رسول او داؤود "آدم خور" په جوزجان کي د رشید دوستم د ګلم جم، په سرپل کي د پهلوان غفار، په فاریاب کي د رسول پهلوان، په

کندز او تخار کی د صمدوف، په پلخمری او دوشی او بغلان کی دنادری (سید کیان)، په کابل، بامیان او غزنی کی د کشتمند د ملیشو او غارتگرو په ملاتړ سره یې په افغانستان کی ناسالمو ډلو ته رشد ورکړ چی د مجاهدینو د قدرت په وخت یې هم تخریبی نقش ولوباوه او په خلکو کی یې ددی ډلو د زیاتیدو زمینه برابره کړه.

د ثور تر کودتا وروسته، د رژیم فعالیت، د هغی طرحی په واسطه چی فیدل کاسترو حفیظ الله امین ته ورکړی وه، په مختلفو برخو کی د ملیشو په تشکیل کی عملی شو. نجیب الله د خاد د جاسوسی شبکی د رئیس په توگه وظیفه واخسته چی ددی قوتونو په تشکیل کی فعالیت وکړی چی له یوی خوا د انقلاب مدافع قوتونه تقویه کړی او له بلی خوا د ملیشه قوتونو په واسطه د اردو تیت و پرک کیدل تلافی کړی.

ملیشی غالباً بی سواده، کم تجربی او مجهول الهویته کسان وو، چی د ټولنی د ارزښتنو په وراندی په بی بندو باری سره منځ ته راغلل. هغوی باید د پیسو په مقابل کی انسانان وژلی وای او په ټولنه کی یې هر ډول فاجعی او فساد ته لاس اچولی وای. د خلکو دشتمنیو چور و چپاول او غارت او د کورنیو پرحریم تجاوز د ملیشو بنیادی اصل شمیرل کیده. په کابل کی د عصمت مسلم اعمالو ډیری بدی پیښنی وزیږولی. ملیشو د خپل مشر په توگه پرته له کوم معیاره هرډول جنایت ته لاس اچاوه. ملیشو ته پیسی، چور وچپاول، عیاشی، زنا، لواطت ساز و رقص و عیاشی د اصل حیثیت غوره کړ او دا معیارونه د رژیم له خوا منل شوی وو. د افغانستان په شمال کی د خلکو او جهادی قوماندانانو وژل هغه پیښنی وی چی احساسیدل روسان او د کابل رژیم ددی ډول امتیازاتو په واسطه د افغانی ټولنی او د هغوی د ملی یووالی د پاشلو له لاری د ویشاک (تجزیی) او بالاخره فرهنگی ارزښتونو دله منځه وړلو لپاره گرندی گامونه اخلی.

ملیشی ډیر ژر د رژیم د دفاع دیوه لوی قوت په توگه را منځ ته شوی او زیات شمیر کسان د هغوی پرشاو خوا را ټول شول. چی د خاد د قوی ترځنگ په گرد افغانستان کی د تعرضی - دفاعی قوی په توگه جنگ او جنایت ته وهڅول شول.

۴- *د بډو او انسان پیرودنی ترویج:* کارمل د ځان د بقا لپاره کوښښ وکړ د قومونو او قوماندانانو سره په تماس کی شی او د مادی امتیازونو په ورکولو سره، هغوی د روسانو د اهدافو پرشاوخوا و ځرخوي. کارمل د ظاهری پخلاینی له لاری په هرځای کی جنگ او دقومی اختلافاتو اورته لمن ووهه. د دی پروگرام په مقابل کی د مجاهدینو غبرگون شدیدو. کله چی کارمل، لومړنی هیأت د سرحداتو د وزیر فیض محمد په مشری ځدران ته واستاوه، د مجاهدینو له خوا د بډو د ورکولو پر وخت ووژل شو.

### ولی روسانو په افغانستان کی مداخله وکړه؟

پر افغانستان تیری دتزاري او وروسته کمونستی روسیی لپاره کوم نوی عمل نه و او په نولسمه او

شلمه پیړۍ کې یې همیشه مختلفې سیمې اشغال کړې دي. د تاتارستان، مرکزي آسیا، منګولیا، ختیځې اروپا اشغال او بالاخره دهند تودو او بوته رسیدل ددې ښکیلاګګر هیواد پخوانۍ هیله وه. د روسیې (وروسته د اشتراکي سوسیالستي جماهیرو اتحاد) پر سیاست د واکمنو د اروا پوهنې تحلیل ښيي چې هغوی په غاصبانه، دکتاتورانه او یو اړخیز ډول عمل کاوه. هغوی (روسانو) (د نړۍ د پرولتاري انقلاب دسنترالیزم) ترچتر لاندې ددریمې نړۍ فقیر او کوچني هیوادونه د مارکسیزم - لیننزم په مفکوروي تضادونو کې محدود کړي وو، او ددې هیوادو د احمقانه او ځان پلورنې له احساساتو نه په ګټې اخستنې سره یې کولای شوای ځانونه خپلو اهدافو ته ورسوي.

د روسانو د تجاوز قرباني شوی یو هیواد هم افغانستان دی چې د تره کي، امین، کارمل او نجیب په څیر ځان پلورو افرادو په واسطه یې په افغانستان کې د سیاسي - ټولنیز نفاق زړي وکرلای شو او وده یې ورکړای شوه. چې په ۱۳۵۷ کې یې د ثور کودتا له لارې ځانونه د مستقیمې ګټې اخستنې مرحلې ته ورسول. روسانو فکر کاوه چې دیوه کمونستي رژیم په موجودیت کې چې خپله یو نیمه مستقل رژیم وي او هم مسکو ته د نړۍ د کارګري انقلابونو د مرکز په توګه په درناوي سره کولای شي دا هیواد په یوه داسې پایګاه بدل کړي چې، هند بحر ترخپل سیاسي - اقتصادي نفوذ لاندې راولي.

روسانو په پیل کې غوښتل د افغانستان د مذهبي او ملي شخصیتونو په له منځه ورلو سره، خپلو اهدافو ته لار پرانزي. کمونستي رژیم د روسانو په مرسته داسې تولو وکړي چې تراوسه یې د نړۍ د هیڅ هیواد تاریخ ساری نه دی لیدلی.

څرنګه چې دا بې تجربې اعمال او د ځان پلورو افغاني کمونستي مشرانو او بې خبرو روسي مشاورینو په واسطه پیل شوي وو، نه دا چې نتایج یې د روسانو په ګټه نه وو بلکې اولسي ځواکونو یې د اسلامي مفکورې له لارې په ګرد هیواد بلکې ګرد جهان کې د مجاهدینو په نامه د حق غوښتنې د مبارزاتو د یوې نمونې په توګه معرفي کړل چې په څوارلسو کالو کې د مجاهدینو نه ماته نړۍ ته ثابته شوه، روسانو د بې اساسي برنامې له مخې، مقاومت ونه شو کړای او تر څوارلس کالو وروسته مجبور شول پردې اعتراف وکړي چې، پر افغانستان تجاوز د روسانو لویه تیروتنه وه. د شوروي اتحاد وروستي واکمن میخاییل ګرباچوف د شوروي د کمونست ګوند په اووه ویشتمه کنګره کې وویل: "موږ زیات شمیر ګاونډیان لرو او هغوی پخپلو کې سره تفاوت لري او موږ او هغوی سره کومه زمکنۍ ادعانه لرو او هغه یوهم نه ګواښو، مګر همغسې چې تجربو څو ځلې ښوولې ده د ګوتو په شمار کسان موجود دي چې زموږ هیواد د ګاونډیانو د ګټو په پام کې نه نیولو سره، هاندکوي د شوروي د سرحداتو وضع کړکیچنه کړي: د مثال په توګه افغانستان یې په ناسور تپ بدل کړی دی. موږ غواړو په نژدې راتلونکې کې په افغانستان کې د شوروي ځای پرځای شوي ځواکونو بیرته را وغواړو..." او روسان په افغانستان کې د خپلې خطرناکې ګاندې (آینده) ته په پام لرنې سره د نیکو بین المللي اړیکو په ټره بیاله افغانستان سره د

سوارېکو غوښتونکي شو: "شوروی اتحاد باید همیشه له حپو ګاونډیانو سره سوله ییزې او سې اړیکې ولري؛ ځکه زموږ ژوندنی او ملي ګټې په دې سیاست کې نغښتې دي او دا زموږ د بهرنۍ سیاست یو ډېر مهم هدف شمېرل کېږي."(۳۱)

روسان مدعي دي چې د افغانستان کمونستي مشران د ثور کودتا له پیله په افغانستان کې د روسي نظامي مداخلې پلویان وو. په همغو خبرو کې چې د هرات د پاڅون پروخت د تره کي او روسي صدراعظم الکسي کاسیګین ترمنځ د ترجمان په مرسته د تلفون له لارې وشوې، دا ادعا په وضاحت سره لیدل کېږي:

"کاسیګین: تاسې ددې پېښې (د هرات پاڅون) په باب څه ورانديز لرئ؟

تره کي: موږ غواړو چې تاسې له موږ سره عملي، انساني او تسلیحاتي مرسته وکړئ.

کاسیګین: دا خبره ډېره ګرانه ده.

تره کي: تر دې پرته به شورشیان(مجاهدین) کندهار ته مخه وکړي او تر هغې وروسته به کابل ته راشي. که تاسې اوس هرات ته کاري ضربه ورکړئ ممکنه ده انقلاب (ثور کودتا) ته نجات ورکړئ.

کاسیګین: ټول نړیوال به له دې پېښې خبر شي.

تره کي: هیله کوم مرسته وکړئ... که شوروی اتحاد تاجکان، ازبکان او ترکمنان په ملکي لباس کې راولیږي هیڅوک به یې و نه پېژني."(۳۲)

په افغانستان کې د روسي قواو عمومي قوماندان جنرال ګروموف لیکي چې ګرومیکو کرملین ته خبر ورکړ چې: "زه په افغانستان پورې د اړوندو ټولو چارو په باب د افغانستان د صدراعظم د مرستیال او بهرنیو چارو له وزیر حفیظ الله امین سره وغږیدم، ملګری استینوف هم له امین سره وغږید هغه په مستقیمه توګه وغوښتل چې شوروی باید خپل عسکر هرات ته وارد کړي."(۳۱)

د ۱۳۵۸ش د مرغومي پر دریمه/د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲٤مه په مسکو کې د دفاع وزارت د رهبرۍ د هیأت په غونډه کې اعلان شوه چې دشوروی اتحاد مشرانو تصمیم نیولی دی چې افغانستان ته خپل خواکونه واستوي او د تاکل شوي وخت سره سم د جدي پر شپږمه دورځې په یوه بجه/د دسمبر ۲۵مه څلویښتمه فرقه په مرکزي آسیا کې د نظامي قوماندانۍ له مرکزه، د حیرتانو د پله او وروسته (دوسي پل) له لارې چې شمېر یې پنځه زره کسه وو افغانستان ته داخل شول. د ګروموف د ادعا له مخې په کابل کې د شوروی سفیر او حفیظ الله امین لادمخه له دې جریانه خبر کړای شوي وو. امین لوی د رستیز جنرال بابه جان او د شمال زون رئیس عبدالله امین ته وظیفه ورکړه چې د څلویښتمې فرقې له قوماندان جنرال (تخاریف) سره په کندز کې خبرې وکړي. روسانو د حپلو نهاخمې عملیاتو د بهیر د ګرندي کولو په خاطر پر امو حو استحکامي پلونه جوړ کړل. دروسانو ۱۰۸ مه زغره واله قوه افغانستان ته ننوته چې د ترمز کابل او غزني له لارې او بله موتوریزه فرقه د تور غونډۍ - هرات له لارې د ګرد افغانستان اداري او نظامي مرکزونه اشغال کړي.

د کوماندو ۱۰۳ مه فرقه هم د پراشوت له لارې د کابل په هوایی ډگر کې راکوزه شوه، او دروسانو L-76 ترانسپورتي الوتکې په هرو درې دقیقو کې د کابل او بگرام په هوایی ډگرونو کې راکوزیدې او نظامي وسایل، عسکر، ټانکونه او نقلیه وسایط یې افغانستان ته را انتقالول. افغانستان ته دروسي قواو تر داخلیدو د مخه دروسانو د دفاع وزارت مرستیال مارشال اس، ال، اس کولوف او په ترکمنستان کې د سرو لښکرو عمومي قوماندان جنرال پوپ ماکسیموف هم په کابل کې وو. د روسي عکسرو مجموعي شمیر د مسکو رسمي سرچینو له سلوزرو تریوسلو شل زرو پورې ښوولې دي. لویدیزو هیوادو دا شمیر یوسلو پنځوس زره تنه ښوولې دي. د مجاهدینو سرچینې وایي چې په افغانستان کې دوه سوه او پنځوس زره تنه روسي عسکر موجود وو. څکه د ۱۳۵۸ په سلواغه/ د ۱۹۷۹ جنوری کې افغانستان ته د روسانو د ۲۰۱ مې قوې را ليږل د روسي قواو شمیر زیات کړی و او کله چې د مرکزي آسیا عسکرو له مجاهدینو سره نرمښه کار واخست، روسانو خپلې قواوې عوض کړې او له مسکوه د سرو لښکرو شمیر زیات کړای شو. د روسانو د دفاع وزیر مارشال اوستینوف په افغانستان کې موجودو اشغالگرو روسي لښکرو ته د "محدودو قطعاتو" نوم ورکړ. چې په کابل کې یې لاسپوڅې رژیم له خواهم او یا د کارمل په وینا "زمونږ دستر شمالي گاونډي، د شوراگانو د هیواد، د دوست هیواد محدود قطعات" ونومول شول، د لویدیزو محققینو په وینا په لومړیو څو اوو نیوکې د روسي قواو شمیر پنځه اتیازرو (۸۵۰۰۰) ته ورسید او وروسته د مسکو له خوا یوه بله دیرش زره کسیزه قوه هم ورولیږل شوه چې که وکړای شي د کابل د کمونستي رژیم د شریدلې اردو تر احیا پورې د رژیم ساتنه وکړي. یو محقق لیکي: "خلکو ترڅو سیاشتو وروسته د کمونستي رژیم ماهیت و پیژاند. په زرگونو روسي مشاورین د روسانو له ۱۵۰۰۰۰ – ۲۰۰۰۰۰ پورې روسي عسکرو د ملاتړ لپاره کابل ته ولاړل" (۲۵)

پر افغانستان د روسانو نظامي تجاوز زیات عوامل لرې له هغې جملې نه:

۱ – ***د مجاهدینو د شمیر ورځنۍ ډیرښت***: دې مسألې له پیله د کرملین نوکر افغاني کمونستي مشران اندیښمن کړي وو او د هرات، اسمار، پکتیا، لوگر، پنجشیر، لغمان، نورستان او بادغیس پاڅونونه هغه نمونې دي چې د کابل رژیم یې دې ته اړکړ چې، ممکن د لنډې مودې لپاره د ځواکونو په استولو سره وکړای شي د افغانستان د خلکو مقاومت له منځه یوسي او مزدور رژیم ته پایښت وروبخښي. یو محقق لیکي چې: "د روسانو تر نظامي مداخلې د مخه د افغانستان درې پرڅلور برخه د مجاهدینو تر ولکې لاندې راغلې وه" (۲٦) د شوروي دزمکنیو قواو عمومي قوماندان جنرال پاولوفسکي د کرملین واکمنانوته رپوټ ورکړی و چې د کابل او امین رژیم د پاشل کیدو په درشل کې دی او نشي کولای د مجاهدینو په وړاندې مقاومت وکړي. (د مجاهدینو د شمارزو په اړه دې په لنډه توگه ددې کتاب اوومې برخې او په تفصیلي توگه افغانستان په جلسه او شلمه پیړۍ نومې کتاب (د مؤلف لیکنه) ته مراجعه وشي.)

۲- *د کمونستانو خپلمنځي اختلافات:* دا اختلافات له پخوانه موجودو او د ثور په کودتا سره ژورشول. د امین او کارمل اختلافات هوسره بنیادي وو چې، د یو بل په منلوکې یې هیڅ ډول مسامحه نشوای منلای. د نظر دا اختلافات د هیواد د اداري د ناسالمې چلونې، اختناق او بالاخره د هغوی دله منځه تللي باعث شول. هري کمونستي ډلې د بلې په پرتله ځانونه د مسکو زیات مخلصین ګڼل او د افغان مظلوم ملت وصي ګڼل. دکمونستانو د خپلمنځي اختلافاتو د اورخس د افغانستان مسلمان ملت و چې د هغوی د هر یوه د واکمنۍ په دوره کې یې بې شمیره قرباني ورکړې. مسکو هم د خلق او پرچم په دې پیچلو مواضعو کې ګیرشو او په مقطعي ډول یې پخپل دریځ کې بدلون راووست. د مسکو لپاره د کابل پلورل شویو مشرانو ارزښت نه درلود د روسانو ټول پام دې خواته و چې پرسیمه تسلط پیداکړي او له افغانستا نه اقتصادي ګټې ترلاسه کړي.

۳- *دلویدیځ او مخالفینو خواته د امین تمایلات:* یو بل عمده دلیل چې روسانو پر افغانستان تجاوز وکړ دا و چې د تره کي - امین رژیم د پاشل کیدو په حالت کې و او له رژیم سره د خلکو کرکه ورځ په ورځ زیاتیده او د مجاهدینو خواته یې تمایل پیدا کاوه، حتی خانان او زمکه وال چې اقتصادي پشتوانه یې درلوده د مجاهدینو د کامیابۍ لپاره، عملاً له مختلفو ډلو سره همکاروو. له بلې خوا د اسلامي مقاومت ملاتړ کولای شو د خلکو په اسلامي او دیني تفکر کې ولټوو چې ټول اولس د هغه ملاتړو کړ. کمونستي رژیم دیوه مرتد، له خدایه منکر او د خلکو ددیني ارزښتونو مخالفه څیره څپله کړې وه. کمونستانو هم لومړنۍ ضربه پر اسلام سختو پابندو کسانو ته ورکړه، دې کسانو ټولنیز معیارونه هم د اسلام د اساساتو پربنا سنجول. مجاهدینو هم خلک د کمونستانو په مقابل کې ددین پر محور پرځان راټول کړل او د اسلامي عقایدو پر بنا تمایلاتو وکړای شو مجاهدین له هغه څه نه چې تصور یې کیده، د افغانستان په سیاسي ډګر کې زیات را ځرګند کړي.

په دغسې یوه دریځنیونه کې امین او تره کي پخپلو کې سره ونښتل او کارمل چې په روسیه کې و، غوښتل او به خپري کړي او کبان پکي ونیسي. سیاسي فضا په کابل کې داسې ځرخیده چې امین بې پردې ګروهمن کړي و چې باید له مسکو سره خپلې اړیکې وشلوي او پر لویدیځ تکیه وکړي. نو ځکه د امریکا او پاکستان له سفیرانو سره لیدنو کتنو او د مقاومت له ډلو سره زړه راښکون د روسانو شک په یقین بدل کړ. روسانو فکر کاوه چې که امین لویدیځ ته پناه یوسي او د مقاومت ډلو ته په څپله اداره کې ځای ورکړي، په سیمه کې به د روسانو ټولې ګټې له خطر سره مخ کړي.

٤- *د شوروي اتحاد د سرحدونو امنیت:* روسانو داسې وانګیرله چې که امین له مجاهدینو سره یو

ځای شو او یا مجاهدین په یوازې سر پردې بریالی شی چې د امین رژیم ته سقوط ورکړي، په داسې حالاتو کې به د افغانستان اداره په یوه بنسټپالې اسلامي اداري بدله شي چې ممکن اغیزې یې له سرحدونو تیرې شي او د مرکزي آسیا جمهوریتونه بیا تر خپل اغیز لاندې راولي. (دتفصیل لپاره وګورئ افغانستان په نولسمه او شلمه پیړۍ کې په دري ژبه دلیکوال اثر)

۵- *د هند تودو او بوته رسیدل:* دپتر کبیر له زمانې نه دروسانو هیله همدا وه چې کوچنی هیوادونه خپله مستعمره او دشوراګانو دهیواد جزء اعلان کړي او افغانستان چې په دې لاره کې لوی خنډدی هم باید کوچنی او کمزوری کړای شي؛ ځکه یې دنولسمې پیړۍ په ورووستیو کې دمځنی آسیا جمهوریتونه یو پر بل پسې اشغال کړل او دافغانستان لوی ښارونه له هغې جملې نه لوی پامیر (پامیر بزرګ)، خوقند، مرو، ترمز اوپنجده یې ونیول اوغوښتل یې چې هرات اوبادغیس هم دخپلې خاوری جزء وګرځوی. دافغانستان ضعیف النفسه امیران له یوی خوااو دانګلیسانو او روسانو ترمنځ د افغانستان د ویشاک لپاره بین المللي توطیه له بلې خوا اوهمدا راز دایران بې تفاوتی اوزمور له خاوری (سیستان) نه استفاده هغه عوامل وو چې، افغانستان دشلمې پیړۍ تر پیل پوری دیر کوچنی شو: خوروسان پردې هم بسیانه شول؛ دهند تودو اوبوته درسیدو په لارکې یې ترولکې لاندې دافغانستان راوستل په خپلو هیلوکې شامل کړل. دکودتاګانو، غیر عادلانه قرار دادونو، سیاسي قراردادونو او بالاخره دیوی پلورل شوی او د هیواد له ملي ګټونه د بې خبری دلې په استخدام سره یې په افغانستان کې د خپلو اهدافو د پراختیا لپاره زمینه برابر کړه.

## پر افغانستان د تجاوز په اړه نړیوال غبرګون

پر افغانستان د مسکو د سرولښکرو تیری له شدید نړیوال غبرګون سره مخ شو. د امریکا اولس مشرجیمی کارتر ددې مداخلې په غندلو سره پر روسانو د نړیوالو سیاسي - اقتصادي بندیزونو غوښتنه وکړه. امریکا په نړۍ کې د خپل سیاسي حیثیت دساتنې په خاطر او همدا راز په سیمه کې د خپلو ګټو دخوندی کولو لپاره، په خلیج کې خپلې قواوی تقویه کړې او پخپله یې هم پر روسانو بندیزونه ولګول چې لږ تر لږه د امریکا پلویان داډه کړې چې د کمونیزم خطر به تردې وړاندې ونه غزیږی اوکه کله هم کومه مسأله پیښه شي، د امریکا له ملګرو سره د امریکا د نظامي مرستې د همکاری له شدید غبرګون سره به مخ شي. روسانو د امریکا د دې مړ ژواندي غبرګون پروانه کوله او نه یې غوښتل خپل ځواکونو له افغانستان وباسي. بنایي امریکایانو په لوی لاس غوښتل د غسې یوه متعادله کړنلاره غوره کړي چې روسان په نړیوال کچ له سیاسي ستونزو سره مخ کړي او نظامي قواوې یې هم په دې ختوکې ونښلي.

واشنګټن د افغانستان د جیوپولټیک موقعیت او دافغانانو د شهامت په پام کې نیولو سره غوښتل له روسانو نه غچ واخلي او هغوی له داسې ستونزو سره مخ کړي چې په ویتنام کې د امریکائیانو له رسوایي سره ورته وي او دامریکا د اولس مشر جیمي کارتر په وینا: "مسکو باید خپل حاد سیاسي عواقب وګوري".

د شوروي دله بېړۍ خپرنې زستي څلور ورځي پته خوله وی چی سبایی هم د شوروي د کمونست ګوند د مرکزي کومیټې له خوا تبلیغاتي تکلاري نه وه، روښانه شوی. روسانو دلومړني عکس العمل په خواب کې ولیکل: "دا چې د افغانستان حکومت (تره کی، امین، کارمل) څو ځلي له شوروي اتحادنه نظامي مرستې غوښتې د امپریالیزم دسداخلاتو په وړاندې د دفاع لپاره، نظامي قواوې د هغوی مرستې ته ورغلي"(۳۷)

جیمي کارتر د ۱۳۵۸ د مرغومې د خوارلسمې د ۱۹۸۰ د جنوري د څلورمې نیټې په بیانیه کې ووېل: "کوم درس بې چې له تاریخه زده کړی دادی، که چې د تجاوز په وړاندی اقدام ونه شي، د یوې ساری ناروغي مثال لري چې زیاته یې به بې اداکړای شي... د نړیوالې تولنې غبرګون باید د افغانستان د له منځه وړلو سره د شوروي اتحادله هڅو سره برابر وي."(۳۸)

د امریکا دولت خپلې قونسلې اړیکې وځنډولې او پرشوروي یې سوداګریز بندیزونه ولګول. همدا راز یې د روسانو کب نیونکو بېړیو ته د امریکا په سواحلو او بوکي اجازه ورنکړه او په فرهنګي برخه کې پر روسانو بندیزونو ولګول شول. د ۱۹۸۰ د اولمپیا لوبې چې باید په مسکو کې شوی وی تحریم کړای شوی چې له هغې سره جوخت د نړی ۹۵ هیوادوهم له هغې نه پیروی وکړه. امریکا پر شو روی د خپلو اوولس ملیونو تنو غنمو پلورنه هم منع کړه او تر تولو مهمه د اتومي وسلود تحدید مذاکرات (سالت - ۲) چې له دری کالو راسی د امریکا او شوروي ترمنځ رواني وی او نژدی وه چې ترون یې لاسلیک شی، وځنډول شول.

اسلامي هیوادو پر افغانستان د روسي تجاوز په وړاندی شدید غبرګون وښود او دسعودي عربستان پاچا ملک خالد دیوی خاصې بیانیې په ترڅ کې ( پر اسلامي افغانستان، استعماري تجاوز) وغانده او له افغاني مجاهدینو او پاکستان سره یې د اقتصادي او نظامي مرستو غوښتنه وکړه. د مصر اولس مشر انور السادات عملاً له مجاهدینو سره حیله نظامي مرسته پیل کړه او له روسانو نه اخستی تولی وسلې یې د پاکستان له لاری افغاني مجاهدینو ته ولېږلې.

د ۱۳۵۸ د سلواغې په ۷-۹د ۱۹۸۰ د جنوري ۲۷-۲۹ په اسلام آباد کې د اسلامي هیوادو د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډه جوړه شوه چې پنځه دیرشو هیوادو پر افغانستان دروسانو تجاوز وغانده او له افغانستانه یې د روسانو د قواو بې قیدو شرطه وتل وغوښتل او غوښتنه یې وکړه چې د ببرک کارمل لاسپوځي رژیم باید په رسمیت ونه پیژندل شي.

ACKU

پاکستان د روسانو تر تجاوز یوه ورځ وروسته خپله شدیده اندیښنه وښوده او له افغانستانه یې د روسي قواو بې قید و شرطه وتل وغوښتل. پاکستان د نړۍ له ټولو هیوادو په ځانګړې توګه له امریکا او عربي نړۍ نه وغوښتل له پاکستان سره نظامي مرسته وکړي. جنرال ضیاء الحق د پاکستان موقعیت ډیر حساس وښود او د امریکا مرستې یې ډیر لږ ې وګڼلي چې په دې توګه د رونالډریګن په دوره کې امریکا له پاکستان سره زیاتې نظامي مرستې وکړې.

ایران خپل د بهرنیو چارو وزیر صادق قطب زاده د مطبوعاتي کنفرانس په وسیله چې د مرغومي پر اتمه/ د دسمبر پر ۲۹مه یې ورکړ، د شوروي له تجاوز سره خپل مخالفت څرګند کړ او وې ویل چې د ایران د حکومت اعتراض د سیاسي قدرت د ساتنې په خاطر یو سیاسي مانورنه بلکې هدف یې د هغو ځواکونو پر خلاف یو سیاسي مانوردی چې غواړي پر یوه مسلمان هیواد تجاوز وکړي. د مرغومي پر نهمه امام خمیني وویل: "مستضعف اولسونه دې پاڅیږي او د دیموکراسي او کمونستي مدعي دیکتاتوري دې پرخپل ځای کښینوي" که چې قطب زاده د بهرنیو چارو له وزارت نه ګوښه کړای شو، له بي بي سي رادیو سره په مرکه کې یې وویل: "امام خمیني د روسانو له تعرض سره مخالفت ونکړ: خو شوروي انو ته یې وویل چې په افغانستان کې نشي پاتې کېدای" قطب زاده یو داسې سیاستوال و چې له افغانستان او افغانانو سره یې ډیره مینه درلوده او د اعدام تر وخته یې د افغانستان له داعیې نه دفاع وکړه. آیت الله منتظري چې هغه مهال دولي فقیه جانشین ګڼل کیده د مرغومي پر لسمه یې د تهران د امام جمعه په حیثیت وویل: "ټوله نړۍ دې له افغان اولس نه خپلې مادي او معنوي مرستې نه سپموي او تر اخره دې د هغوی دفاع وکړي."

هند سره له دې چې په پیل کې یې د شوروي له تجاوز سره مخالفت وښود او د صدراعظمې اندیراګاندي او بهرنیو چارو د وزیر سرن سنګ له خوا اعلامیې خپرې شوې، خو د امریکا او اسلامي هیوادو له دې سیاسي بدلونو سره یې ځان له پاکستان سره نږدې وګاڼه او ریاض ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر آغا شاهي په سفر سره، د سعودي عربستان له خوا پر افغانستان د روسانو د تجاوز د څیړنې د کمیسیون رئیس وټاکل شو او د ۱۹۸۰ کال ترمې پورې د پاکستان د ډیپلوماتیکو هلوځلو په نړیوال کچ پراختیا وموندله. هند خپل سیاسي غبرګونونه د هند او پاکستان ترمنځ د قواو د توازن په پام کې نیولو سره، د مسکو په ګټه بدل کړل خصوصاً چې روسانو هڅه کوله په خپلو سیاسي هلو ځلو کې هند داده کړي اوله پاکستان سره په تضاد کې هغه د کابل رژیم دوستۍ ته راوبولي. د هند سیاسي اړیکي، د بین المللي تګلارې پر خلاف بدلې شوې. هند د روسانو دا ادعا چې موږ د افغانستان د دفاع لپاره قواوې لیږلي دي تأیید کړه او د کابل له کمونستي رژیم سره یې خپلې اړیکي پراخې کړې. هند په ۱۳۶۵ کال په ښکاره د کابل له کمونستي رژیم سره نظامي مرستې کولې او تر اوسه د کورنۍ جنګ په دوام او جهادي قوتونو او وروسته د طالبانو چې د پاکستان ملاتړو سره و اودې، په کمزوري کولو کې فعاونډه لري.

چین د هغو سیاسي – نظامي رقابتو له لامله چې له شوروی اتحاد سره يې درلود دا تجاوز په کلکو تکیو محکوم کړ او له پاکستان سره یې پخپلو اړیکو کې کوښښ وکړ چې له افغان مجاهدینو سره خپلې اقتصادي نظامي مرستې پراخې کړي او په سیمه ییزه ربړه کې يې تفاوته پاتې نه شي. د دریمې نړۍ هیوادو سره له هغې چې له روسانو سره يې څه اړیکې درلودې او نه یې غوښتل چې په ښکاره د روسانو تجاوز وغندي ویې غوښتل چې ملګري ملتونه دې دا مسأله په جدي توګه وڅیړي.

اروپایي هیوادو سره له هغې چې د روسانو تجاوزيې وغانده او د امریکا په پیروي یې د ۱۹۸۰کې په مسکو کې د اولمپیاکیدونکې لوبې تحریم کړې؛ خو په اقتصادي چارو کې له روسانو سره د معاملې پلویان وو. برتانیې په امریکا انتقاد وکړ چې باید د روسانو له دې حالت نه په ګټې اخستنې سره یې اقتصادي ګټې کړې وای او امریکا باید لومړی له لندن سره مشوره کړې وای. المان هم په ۱۹۸۰ کې له روسانو سره خپلو اقتصادي اړیکو ته دوام ورکړ اوّ دا اړیکې یې د خپلو سیاسي اهدافو (د دواړو المانو وحدت) په اړه مطرح کړې. په مجموع کې اروپایي هیوادو د روسانو تجاوز د مطبوعاتو او عادي سیاسي اړیکو په کچ محدود کړې و. په اروپایي هیوادو لکه ایټالیا، فرانسه، بلجیم کې کمونستي احزابو د روسانو پر تجاوز کلک تکو نه وکړل.

ملګرو ملتو د ۱۳۵۸ د مرغومې پر ۲۴مه٪ د ۱۹۷۹ د جنوري پر ۱٤مه بیړنی غونډه دایر کړه تر بحث وروسته یې د ۱۰٤ موافقو، ۱۸مخالفو او ۱۸ ممتنع رایو د یوې اعلامیې پر ترڅ کې فیصله وکړ چې روسي عسکر دې له افغانستانه ووځي او ددې هیواد بې طرفي، ځمکنی بشپړتیا او ملي واکمني دې اعاده کړای شي. د ملګرو ملتو په کلنیو غونډیو کې د روسي عسکرو تروتلو پورې، هرکال په غوڅ اکثریت له افغانستانه د روسي عسکرو د وتلو غوښتنه تکرار شوې ده او په دې برخه کې پریکړه لیکونه تصویب شوي دي. همدا راز د ملګرو ملتو په شپږو عادي کلنیو غونډیو کې هم چې له ۱۹۸۰/۱۳۵۸ – ۱۹۸۵/۱۳٦٤ پورې په نویارک کې د ملګرو ملتو د سازمان په مقر کې جوړيدې په غوڅ اکثریت سره پریکړه کیده چې روسي قواوې دې له افغانستانه ووځي او ددې هیواد د ځمکنی بشپړتیا او ملي واکمني درناوی دې وکړای شي. دې پریکړونه دا چې کوم اجرائي ښه نه درلوده بلکې د شوروی د لاسپو څو په مرسته یې پر افغانستان د شوروی فشار زیاتاوه او په تخمیني دول د ۱۹۸۵/۱۳٦٤ تر پایه تریو ملیونو زیات افغانان ووژل شول.

روسان چې له یوې خوا د اسلامي نړۍ له شدید غبرګون او له بلې خوا د مجاهدینو له بې ساري مقاومت سره مخ شوي وو، احساس کړه چې باید کابل رژیم ته په ملي او بین المللي کچ د دفاع او تعرض قوت ور وبخښي چې په افغانستان کې د روسي قواو له موجودیته دفاع وکړي. د شوروی د کمونست ګوند عمومي منشي لیونډ بریژنف پر افغانستان د روسي قواو تر تجاوز یوه اوونی وروسته څرګنده کړه: "د افغانستان د حکومت غوښتنه او د شوروی اتحاد له خوا ددې غوښتنې پوره کول په مطلقه توګه په همدې

دوارو هیوادو پورې اړه لرې چې د دوارو په موافقه د دوارو هیوادو د اړیکو پر بنایې عملي کړي او مسلماً له بهره دي دوه اړخیزو اړیکو ته د مداخلې اجازه نه ورکوي"(۳۹)

په افغانستان کې د روسي قواو عمومي قوماندان بوریس ګروموف پخپل کتاب کې د روس د بهرنیو چارو وزیر اندري ګرومیکو سره د کابل رژیم د بهرنیو چارو د وزیر شاه محمد دوست هغه خبرې چې غوښتل یې د ملګرو ملتو په عمومي غونډه کې د ګډون لپاره، نیویارک ته ولاړ شي او د کابل رژیم له دریځ او روسي قواو له موجودیت نه دفاع وکړي، د کا جي بي د آرشیف د کسست له مخې عیناً را نقل کړي او لیکي: "ګرومیکو شاه محمد دوست ته وایي: ملګري وزیرا غواړم تاسې د ملګرو ملتو په امنیت شوراکې د منځ ته راغلې جاري فضا نه خبر کړم او همدا راز ستاسې د ویناپه باب چې په ملګرو ملتو کې به یې وکړي... پکار ده چې په ځانګړې توګه پردې ټینګار وکړي چې شوروي اتحاد د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د مشرانو د پرله پسې غوښتنو له لامله چې له شوروي مشر تابه نه یې وکړي دي غوښتنې ته د ځواب ورکولو په عنوان څه محدود قطعات افغانستان ته را لیږلي دي.

او همدا راز وایي چې دا غوښتنه د مسکو د سفر پروخت د نور محمد تره کي او همدا راز حفیظ الله امین له خواهم شوي وه. کار تر غواړي یو داسې تصویر جوړ کړي چې ګویا شوروي اتحاد د افغانستان د نوي حکومت په غوښتنه خپلې قواوې دي هیوادته استولي دي مګر لازمه ده چې دا (وهم) په قاطعیت سره رد کړي او ووایي چې د افغانستان په کورنیو چاروکې د بهرنیو هیوادو د پرله پسې لاسوهنو له لامله دا هیواد دې ته اړ شوي و چې د مرستو لپاره څو ځلې شوروي اتحادته مراجعه وکړي"(۴۰)

## پر پنجشیر او پکتیا کې د روسانو حمله

د ۱۳۶۱ په مرغومي/د۱۹۸۲ په دسمبر کې چه په ګلبهار او د پنجشیر درې په خوله کې د احمد شاه مسعود د قواو اوروسانو ترمنځ یوه پراخه جګړه وشوه، روسان دې ته متقاعد شول چې وکړای شي له مسعود سره د مذاکراتو ورپرانیزي او توافق ته سره ورسیږي. "په ۱۳۶۱/۱۹۸۲م کې موکړای شو خپل مهم هدف ته ورسیږو موږ وکړای شو له احمد شاه مسعود سره اوږدې اړیکې ټینګې کړو چې له افغانستانه د روسي قواو تر وتلو پورې یې دوام وکړ. په افغانستان کې زموږ د نظامي حضور پر وخت له مسعود سره زموږ کار له متناوبو بریالیتوبونو سره پرمخ ولاړ. په دې حال کې د شوروي قواو قوماندانی د هغه د افرادو فعالیتونه څارل او کنترلول، خصوصاً چې په ۱۹۸۲ کال کې د څلویښتمې فرقې نمایندګانو او مسعود یو موافقه لیک، لاسلیک کړ. په دې موافقه لیک کې مسعود د ژمنه وکړه چې په جنوبي سالنګ کې چې هغه پرې یې تاجه پاچا یې کوله په روسي کاروانو حمله ونه کړي."(۴۱)

د ۱۳٦٤کال دثور په پیل/د ۱۹۸۵د اپریل پای کې وروسته تر هغې چې د احمد شاه مسعود او

ځلوېښتمي قوا ترمنځ څو موافقې لاسلیک او وروسته ماتي کړای شوي، روسانو تصمیم ونیو چې په پنجشېر او سالنګ کې پر احمد شاه مسعود پراخه حمله پیل کړي. د شوروي ځلوېښتمي فرقې د جنرال رایونف په قوماندانۍ د عمل نوښت په لاس کې واخست او د پنجشیر په بازارک او نور و حساسو نظامي سیمو کې پراشوټي قواوې، چې د توپ او ټانک او نورو درنو وسایلو سنګرتیا هم ورسره وه، مارشال اخرومیف او د شوروي د دفاع وزیر مارشال سوکولف د روسانو په بریالیتوب باوري کړي وو، روسانو غوښتل د پنجشیر او هندوکش د شاوخوا سیمو د اداري لپاره په پنجشیر کې یوه قومي پایګاه جوړه کړي. دا هیله د جنرال ګروموف په وینا: "په شمالي سیمو کې زموږ د قواو راکښته کېدل نه دا چې زموږ د کماندو بلکې د هلیکوپټرو د کامل نابودۍ په معنا و... د احمد شاه مسعود پر خلاف عملیات، موږ ته ترټولو سخت او پیچلي عملیات وو." (۲۲)

واقعیت هم همدا و چې د پنجشیر مجاهدین له اراضي سره د بلدتیا له لامله د روسي عسکرو پر خلاف دغرو پر سرونو سنګرونه نیولي وو، او هلیکوپټرې یې په ټانک ضد راکټونو ویشتلې اوله منځه یې وړلې. روسي عسکر د روحيې په له لاسه ورولو او د نابلدتیا په وجه له ویرې سره مخ شول او نه یې شوای کولای لرې ویشتونکي توپونه پنجشیر درې ته یوسي. روسي جنګي الوتکې په پرله پسې بمبار یو سره هم ونشو کړای د قواو توازن ته بدل کړي. روسي قواوې کلابندي شوې چې په سلګونو عسکر یې ووژل شول او نور یې وتښتېدل. پر پنجشیر د روسانو حملې په ټول افغانستان کې د روسي قواو د ماتې معنا درلوده روسان په همغه پیل کې پوه شول چې افغانستان نشي ایلولای اوله اوږده جنګ سره به مخ شي. سره له دې چې ډکې چې یې عمالو ډېر کوښښ وکړ چې د مجاهدینو په منځ کې رخنه وکړي او د جهادي ډلو ترمنځ اختلافات تشدید کړي.

پکتیا د افغاني مجاهدینو یو بل ټینګ مورچل و چې کمونستانو او روسي عسکرو پر خلاف د ګډو جبهو د تأسیس او ټینګښت لپاره لوی معبر ګڼل کېده. روسي مشاورینو د تره کي او امین په وخت کې زیاتره، خښرې او جنوبي سیمې لکه کونړ، ننګرهار، پکتیا او کندهار تر خپلو ګوزارونو لاندې نیولي څو پکتیا د مجاهدینو د روزنې د مرکز په توګه چې د وسلو او مهماتو زیاتې ذخیرې هم پکې ځای پر ځای شوې وې د روسانو ویره زیاته کړې وه د لوګر په ګډون په پرله پسې توګه د ورځې دوه ځلي یا تردې زیات بمبارېده.

د امین په وخت کې روسان پوه شول چې لاسپوځې رژیم نه دا چې د یو بل په کمزورۍ کولو پسې یې راخستې ده، بلکې د هند تودو او بوته د رسېدلو روسي پلان یې هم له ماتې سره مخ کړ. روسانو هڅه وکړه چې نظامي نوښتونه یې پخپل لاس کې وي. د افغانستان په اردو کې د کمونستانو ترمنځ سلقوي اختلافات موجود وو. پاکستان او په نهایت کې لویدیځ ته د امین تمایلات او د هغو پروګرامونو په تعقیب سره چې تردې د مخه موسی شفیق او داوود خان درلودل، د روسانو له بندنه ځان ژغورل، د

مسکو واکمنان دې ته اړ کړي وو چې په افغانستان کې ټولې نظامي چارې پخپله اداره کړي.

د روسانو تر نظامي تيرې د مخه ۱۵۰۰ اداري او ترڅلورو زرو زياتو نظامي مشاورينو افغانستان اداره کاوه. روسانو فکر کاوه چې کله هم د امين او مجاهدينو ترمنځ د سليقو له مخې او يا هم په اتفاقي ډول اتحاد منځ ته راشي، او يا هم امين د عقدې له مخې واک مجاهدينو ته وسپاري لکه چې اوازې يې د خلکو ترمنځ خپرې شوې وې چې امين غواړي واک حکمتيار ته وسپاري، روسان به ډېلا تکليفي له حالت سره مخ شي چې له هغه حالت نه ځان ژغورل ورته ډېر ګران ښکاريدل؛ ځکه مجاهدينو په کابل ښار کې خپل چريکي عمليات ګړندي کړي وو او په پکتيا، لوګر، او د کابل په شاوخوا کې د مجاهدينو قوي جبهې جوړې شوې وې. د ۱۳۵۸د لړم پر څلورمه/د ۱۹۷۸ د اکتوبر ۲۶مه د شوروي قوماندانانو تر قوماندې لاندې د روسي عسکرو او کورنيو کمونستانو لويه حمله پيل شوه. الوتکو هم بمبارد کاوه: د زغره والو قواو توپونو او ټانکونو د مجاهدينو مرکزونه تر ډزو لاندې نيولي وو. د مجاهدينو قوه چې زياتره يې د دوو اسلامي تنظيمونو وه په مقاومت لاس پورې کړ، دا دوه ډلې د عبدالرب رسول سياف او ګلبدين حکمتيار وې. د حزب اسلامي قواو په سپينه شګه کې د ځاځيو او (خرشتل) په لور قوي استحکامي مرکزونه جوړ کړي وو. د سياف قواو د زياتو امکاناتو سره سره هم ونشواى کړاى د پکتيا په دوزخ کندې کې د روسانو د هجوم په وړاندې مقاومت وکړي. حزب اسلامي هم په کلابندۍ کې واقع و د مهاجرينو په کمپونو خصوصاً ناصر باغ، کچه ګړي او اکوړې خټک کې د مهاجرينو ترمنځ خوځښت پيل شو او ځلويښت زره دا وطلب جنګيالي د پکتيا خواته روان شول چې د حکمتيار په موجوديت کې روسان په هغه ځای کې له ماتې سره مخ شول او زياتې روسي وسلې د مجاهدينو لاس ته ورغلې. د روسانو ماتې خوړلي نظامي کاروانونه د کابل په لور د تيښتې په حال کې وو. د امريکايي ليکوال برادشر په وينا: "د عمليتو په پای ته رسيدني او کابل ته د ټانکونو په ستنيدو سره، چريکانو (مجاهدينو) خپل پخوانۍ سورچلونه بيرته ونيول. امريکايان هم په ويتنام کې له دغسې يوې صحنې سره مخ شوي وو" د هغه په عقيده "د يوې لويې پاځون ضد ځواک لپاره دا ممکنه وه چې چيرته يې زړه وي هلته ولاړه شي، خو دا مفهوم نلري چې ټوله سيمه يې له پاځون کوونکو (مجاهدينو) نه پاکه کړه ځکه هغوی چې په هر ځای کې له دښمن سره مخ شي، هغه له منځه وړي او پاځون د قواو تر کمزورې کولو او تکولو وروسته سيمه بيرته چريکانو ته پريږدي."(۴۲)

## پلار وطنه ملي جبهه

روسانو فکر کاوه چې واک ته د ببرک کارمل په رسولو سره کولای شي د يو داسې پراخ تا داده لاسپوڅي حکومت چې هم د افغانستان د اولس هيلې تر سره کړي او هم نړيوال غبرګونونه را کم کړي، جوړ کړي. په دې ليد توګه سره کله چې يو رژيم په داسې يوه قاعده جوړ شي د افغانستان د اردو چې

وکړای شي له خپلو حزبي ګټونه دفاع وکړي، د احیا امکانات زیاتیږي، چې په دې توګه روسان کولای شي خپلې قواوې وباسي او دیو شمیر مشاورینو له لارې کابل رژیم ژوندی وساتي. روسانو په پیل کې ببرک کارمل ته وظیفه ورکړه چې د پرچمیان او خلقیانو رژیم ته د خوشبینو بې پرې کسانو په ګډون یو ائتلافي حکومت جوړ کړي او په بنکاره یو بدلون راولي. دا تحول د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ د خصمانه رقابتونو له لاسه له یوې خوا او د تره کي او امین وژل کیدل له بلې خوا ددې لامل شول چې یو د بل غندنه وکړي؛ د جنایاتو مسؤولیت یو پر بل واچوي او په سیاسي او مطبوعاتي کچ یو په بل پسې اعلامیې او بیانیې خپرې کړي. د خلقیانو او پرچمیانو یو پر بل اعتماد ختم شوی و او کارمل هم دوسره کمزوري، احساساتي او په روسانو پورې تړل شوی سړی و چې د روسانو د تجاوز په سیوری کې یې د خپلو انقلابي شعارونو حیثیت کاملاً له لاسه ورکړی و.

ببرک کارمل د مرغوبي تر شپږمې وروسته د کابل کمونستي رژیم (د انقلاب د نوې مرحلې) په نامه یاد کړ او د جنایاتو توله سلامتي یې د تره کي او امین پر غاړه ور واچوله. کارمل غوښتل د "تکاملي مرحلې" په یاد ولوسره، له یوې خوا کمونستي رژیم وساتي او له بلې خوا دامین په له منځه تګ سره، د چارو واګې پخپل لاس کې واخلي. "هغه غوښتل په دې کار سره، هغه بدلونونه چې په پام کې یې دي د انقلاب تر بیرغ لاندې د مارکسستي نظام او منطق په چوکاټ کې عملي کړي. هغه غوښتل وښیي چې دانقلاب په باب د تره کي او امین نظریات غلط وو او د انقلاب د تدریجي ودې په باب د پرچمیانو تحلیل سهي او د شورویانو له غوښتنو سره موافق دي. کارمل غوښتل پر امین خپل برې ثابت کړي او هم خپل علمي تحلیل او سیاسي واک د حزبي تیوریسنانو مخې ته وځلوي"(٤٤)

هغه په همدې خاطر له روسانو سره تفاهم ته رسیدلی و چې د روسانو په نظامي ملاتړ، کابل ته راشي. کارمل سره له هغې چې د روسي تجاوز په لومړیو کې به یې تره کي کله کله یا داوه خوپه خبرو او بیانیو کې به یې د خلقیانو خواته کوم تمایل نه لیدل کیده او د تره کي او امین په څیر یې خپلسري پیل کړه. وروسته تر هغې چې پرچمیان یې له پلچرخي نه راخلاص او په لوړو منصبونویې مقرر کړل داکسان هغو سره سفاک او په روسانو پورې تړلي خلک وو، چې جنایاتو یې ددې ملت زاړه زخمونه بیرته را تازه کړل "د کارمل د واکمنۍ په دوره کې په حزب کې دننه دډلبازیو کړې پراخه شوې وه. د ډلو ګټې، د دولت ترګټو لوړې ګڼل کیدې او د وخت په تیریدو سره د حزب او دولت په ټولو کلیدي پستونو کې (پرچمیان) مقرریدل..."(٤٥)

عقیدتي تضادونو زیاتره خلک مجاهدینوته ورمات کړي وو، رژیم له بې وسۍ سره مخ و، د پوهو او باتجربه خلکو نه موجودیت د کارمل رژیم له سقوط سره مخ کړی و او په مجموع کې په افغانستان کې د شوروي اشغال ګرو قواو موجودیت کارمل ته دیوه ګوډاګي نقش وربخښلی و چې خلکو د ثاني شاه شجاع، یاد روسي شاه شجاع، په نامه دا وه.

کارمل غوښتل د سوسیال دیموکراسي برنامه د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د دولت د اساسي تګلاري په توګه وړاندې کړي. او دسوسیالیزم نوم وانخلي. هغه چې له یوې په خپل اند غوښتل د مارکسستي انقلاب په تکامل کې دلیبرالیزم د طرح کړي تګلاری په واسطه عامه اذهان مغشوش کړي، د حزبي کدرونو په تګلاره کې بې یوه بې نظمي رامنځ ته کړه او د دیموکراتیک ګوند د فرکسونو ترمنځ بې سیاسي او سلیقوي اختلافونه را منځ ته کړل او د ځای پر ځای دریدو او نه نوښت باعث شول. خلکو د دې سیاسي تګلارې له بدلون سره علاقه و نه ښوده. په حقیقت کې د ثور کودتا او د خلق – پرچم کمونستي ډلې د الحادي ډلو په توګه په عامه اذهانوکې د منلو او اعتماد وړنه وې. زیاتره خلکو له (ثور انقلاب) او د هغه له رامنځ ته کوونکو سره کرکه درلوده. د کارمل بې محتوا تئوري په داسي شرایطو کې چې افغانستان د بیګانه قواو په اشغال کې و، جنګ په ټول افغانستان کې خپور او غیرګونونه په ټریوال کچ خپل اوج ته رسیدلي وو او د مجاهدینو مقاومت د اپوزیسیون په توګه ملت ته دمنلو شوی و، هغې پوچې خبرې وې.

روسانو د کارمل د واکمنې په پیل کې فکر کاوه د هغو اړیکو پر اساس چې له پرچمیانو سره یې لرې، کولای شي داسي رژیم واک ته ورسوي چې له یوې خوا د روسانو غوښتنې ترسره شي، او له بلې خوا خلک پرې قانع او غلي شي. د روسي ماموړینو په عقیده داکوم باطل تصور چې د افغانستان مشرانو (د کابل رژیم) درلود او په دې تمه چې خلک به د انقلاب (ثور کودتا) ملاتړ وکړي او افغانستان ته د روسي عسکرو په ننوتو سره به ماتې نه، له یوه سرابه وراخوا نور څه نه و"(٤٦)

د پلار وطنی ملي جبهې د اجرائیه کومیټې غړي دا وو:

رئیس:

۱ – ډاکتر صالح محمد زیری

مرستیالان:

۲ – محمد حسن بارق شفیعي، ۳– سلیمان لایق، ٤ – ډاکتر سعید افغاني، ٥– نجم الدین اخګر کاویاني، ٦– سید اکرام پیګیر

منشي:

۷– محمد نسیم جویا

## د کومیټې غړي

۸– ډاکتر اسد الله حبیب، ۹– اناهیتا راتب زاد، ۱۰– برهان غیاثي، ۱۱ – ستار پردلي، ۱۲ – ډاکتر عبدالغفار لکنوال، ۱۳– استاذ غیاث الدین، ١٤– ډاکتر حیدر مسعود، ١٥– مولوي محمد سالم علمي،

ACKU

۱۶ - میر چندورسا (د اتاق تجارت رئیس)، ۱۷- نور الله تالقانی، ۱۸- نعمت الله ارغندیوال، ۱۹- پوهاند علی محمد زهما، ۲۰- عبدالرحیم هاتف، ۲۱- فتح محمد، ۲۲- ډاکتر محراب الدین پکتیاوال، ۲۳- ډاکتر محمد موسی آنش نورستانی، ۲٤- عبدالسلام.-

د پلار وطنی ملی جبهې غونډه چې له یو شمیر لیکوالو، محققینو، علماو، قومی سپین رو بونه په دستوری او تحکمی توګه او د اړیکو له لاری تشکیل شوی وه د ۱۳۵۹ په غبرګولی/د ۱۹۹۰ په جون کی په کابل ارګ کی جوړه شوه او په مطبوعاتو کی هم داسی منعکس شوه چې د مختلفو قشرونو په ګډون د ملت د غوڅ اکثریت ملاتړ ورسره دی. د غونډی په پیل کی هم تاکید شوه چې "له هیواد، ملی خپلواکی او زمکنی بشپړتیانه دفاع د افغانستان د ټولو خلکو سپیڅلی وظیفه ده. ټول خلک، قبایل، قومونه او ملیتونه سره ورونه دی. ټول شرافتمند مسلمانان سنی وی که شیعه چې د هیواد د ازادی، شرف، ناموس او حیثیت لپاره په پلار وطنه ملی جبهه کی سره راټول شوی وی په سرښندنی سره د کورنیو او بهرنیو دښمنانو او انقلاب ضد د عناصرو په وړاندی مبارزه کوی او په زورورتیا سره له ځپل اولسی واکمنی نه دفاع کوی..."(٤٧)

د کارمل په بیانیه کی هم پلار وطنه ملی جبهه لکه څرنګه چې روسانو غوښتل چې بی پری او آګاه قشرپکی برخه واخلی او د مشرتابه په ټاکنه کی د کارمل بدیل وی، نه وه. کارمل دا جبهه د دیموکراتیک ګوند دملاتړ په خاطر پیشنهاد کړه او هاندبی وکړ چې که داکسان د پلار وطنی جبهې له لاری د کمونست ګوند تشکیلاتونه راکاری. ددی جبهې زیاتره غړی په یو دول نه یو دول له رژیم سره له همکاری نه ګوښه شول او وبی نه غوښتل چې ځانونه بدنام کړی.

د پلار وطنی ملی جبهې مرکزی کومیټی نور غړی پر هغو څلرویښتو کسانو سربیره چې د مخه ذکر شول دا وو:

۲۵- احمد علی کارګر، ۲۶- احمد علی کهزاد، ۲۷- بابه قلیچ، ۲۸- جان محمد پلار، ۲۹- حاجی محمد خمکنی، ۳۰- خدایداد بشر مل، ۳۱- موسی خان الیاس خلقی بابا، ۳۲- خلیل الله کوهستانی، ۳۳- خواجه نفس، ۳٤- رحم الله اولسی، ۳۵- زلیخا نورانی، ۳۶- زینب، ۳۷- سخی مرجان، ۳۸- سید احمد جان دهقان، ۳۹- سید نعیم میهن پرست، ٤۰- سیف الرحمن احمد وزیر، ٤۱- سید اکرام کارګر، ٤۲- شیر عباس مسعود، ٤۳- صالحه فاروق اعتمادی، ٤٤- عبدالحمید مبارز، ٤۵- عبدالحکیم خالق، ٤۶- عبدالرحیم کارګر، ٤۷- عبدالصمد ویسا، ٤۸- عبدالظاهر سمنګانی، ٤۹- عبدالغنی کارګر ۵۰- عبدالقادر آشنا، ۵۱- عبدالقیوم بیسد، ۵۲- عبدالکریم حقانی، ۵۳- عبداللطیف ناظمی، ۵٤- عبدالله بحبانی، ۵۵- غلام حضرت ابراهیمی، ۵۶- خورشید، ۵۷- فهیم الله یار، ۵۸- فیض محمد ذکی، ۵۹- فرید احمد مردک، ۶۰- فضل احمد طغیان، ۶۱- سید کریم خان مومند، ۶۲- ګل احمد فرید، ۶۳- ګل غنی، ۶٤- ګیج ګلدی، ۶۵- لطیفه، ۶۶- ماهره، ۶۷- محبوبه هوتکی، ۶۸- محرم علی،

۶۹- محمدآصف نبرد، ۷۰- محمد اسرائیل رسی، ۷۱- محمد اسلم اکرم، ۷۲- حاجي کندهاري، ۷۳- محمد اسلم، ۷٤- محمد الله وطندوست، ۷۵- محمد جمال فخري، ۷۶- محمد حسن سپاهي، ۷۷- محمد دین ژواک، ۷۸- محمد صادق کاوون، ۷۹- فریدون، ۸۰- محمد ابراهیم دهقان، ۸۱- محمدګل ساقي، ۸۲- محمد رفیق صادق، ۸۳- حاجي محمد کریم، ۸٤- حاجي سید فقیر الله، ۸۵- سید حسن هاشمي، ۸۶- خواجه داؤود شاه، ۸۷- حاجي جمعه خان، ۸۸- عرض بیګي، ۸۹- عبدالرحمن کاکه، ۹۰- کوهانډ خان بریدوال، ۹۱- هلال الدین بدری، ۹۲- ډاکتر محمود حبیبي، ۹۳- پوهاند غلام جیلاني عارض. (٤٨)

انیس ورځپانه د پلار وطني ملي جبهې د خپرنې اورګان په توګه وټاکل شو. غالباً د پلاروطني ملي جبهې غړې چې د دیموکراتیک ګوند غړیتوب یې نه درلود، په جبري توګه او یا هم د کارمل د پلویانو د چل ول په نتیجه کې په دې تولنه کې را ټول کړای شول.

## د خاد جاسوسي سازمان

کارمل د روسانو په سجاوزو قواو د سولې څواکونه (نیروهای صلح) او یا دوست څواکونه (قوای دوست) نوم کښېښود او د کام د جاسوسي سازمان نوم یې په خاد (خدمات اطلاعات دولتي افغانستان) واړاوه. ډاکتر نجیب الله چې دمخه په مسکو کې په دې برخه کې روزل شوی و، د خاد د رئیس په توګه وټاکل شو. د خاد تشکیلات د وزارت په کچ لوړ کړای شول او د روسانو له خوا نجیب ته د جنرال رتبه ورکړای شوه. د مخالفینو د محاکمې او اعدام لپاره د کریم شادان تر ریاست لاندې انقلابي محکمه او څارنوالي جوړه کړای شوه (شادان دمجاهدینو د واکمني پروخت په کابل کې ترور کړای شو). دعسکري مکلفیت دوره له ددو کالو نه دری کالوته لوړه کړای شوه چې که وکړای شي مرسیال څواکونه د روسي څواکونو ترڅنګ له رژیم نه دفاع وکړي. په پارکونو او عمومي لاروکې امنیتي پوستې جوړې کړای شوې او د ۱۵ -۱۶ کلنو پورته هلکان یې جبراً نیول او د جنګ لومړي کرښې ته یې استول کیدل په داسې حال کې چې هغوی یې هیڅ تجربه نه درلوده او زیاتره یې په جنګ کې وژل کیدل. کارمل غوښتل یې دې توګه له یوې خوا کورنی د مجاهدینو پر خلاف وجنګوي او تر ځیل ځنګ یې ودروي او له بلې خوا روسانو ته وښیي چې دا رژیم اولسي ملاتړ لري.

هغوک پچپوکورنیوکې څوندی نه وو، روسي عسکرو به د شپې له مخې د خادیانو په مرسته د خلکو په کورونو هجوم وړو وړ د خلکو په ناموسونو به تیری کیده او قیمتي څیرونه لکه ګانه، نغدې پیسې او قالینې به یې چور و چپاول کړې. د کارمل رژیم او روسي عسکرو په مرسته د خاد دجنایاتو په باب جنرال ګروموف پخپل کتاب کې لیکي: "سربازانو وظیفه درلوده چې له یوه خیابانه تیرشي، کورنه،

زیرزمیني، محوطې، او چارچا پیره ځایونه ولټوی؛ خصوصاً ځوښځینه خادستانو هم له افغاني عسکرو سره ملګرتیا کوله چې آزادانه د خلکو کورونو ته ورننوزي. کله به چې دا دول تلاشي پای ته ورسیده او سربازان به له خیابانه ووتل. هر یوه منقول ځیزونه به چې لاس ته ورغلل، پرولیو به یې کړل او له ځانه سره به یې په کشولو کشولو وړل لکه قالینچې او...

بنایي د هغوی په اند دا هغه غنیمتونه وو چې په قانوني توګه به لاس ته ورتلل... د خاد د مامورینو په عملیاتوکې امنیتي قوتونو او حزبي مشرانو هم برخه اخسته. مور وروسته متوجه شوو چې د ښار د خلکو له ښکاره چور و چپاوله مخنیوی وشي. د امنیتي او خاد قوتو ترمنځ اختلافاتو ته په پاملرنې سره مور هغوی په داسې توګه ښار ته دننه کول چې یو بل وڅاری او د څارنې او تعقیب له ویرې غلا ونکړي. په پیل کې دی مکانیزم ښه کارکاوه؛ خو تر هغې وروسته هر څه په عادي توګه روان وو. هغوی په دې احساس چې څوک هغوی نه کنترولوی او مجازات به نه شي، په ډیره چټکتیا سره هیر کړل چې څوک ګوندي دی او څوک خادستي، او تر پخوا یې زیات چور و چپاول پیل کړ."

هغه همدا راز د روسي عسکرو په مرسته د خادیانو د جنایاتو په اړه لیکي: "د خادیانو او روسي عسکرو یو بل انقلابي فعالیت دا و چې د ښار خلک به یې له کورنو را ویستل اولوبغالي ته به یې راوستل او بیایې له هغونه پوښتنې ګرویکنې شروع کولې. له لوبغالي نه بهربه روسي زغره وال ټانکونه ولاړ وو. نارینه به یې ډله ډله د ټانکونو له مخې نه تیرول. په هر ټانک کې به په خاد پورې مربوط څوکسان پټ ناست وو او چا به چې له مجاهدینو سره مرسته کوله په ګوته به یې وروښوول او بیا به د خاد افسرانو عمل کاوه. داسې موارد چې هغوی پر مجاهدینو سر بیره خپل شخصي مخالفین هم وربښوول، کم نه وو. په دې توګه به چې هغوی له کومو ښاریانو او خپلو ګاونډیانو سره کینه او رخه درلوده خپل حساب پاکاوه. زه پوهیږم چې خاد وزارت څه ډول خپل کارونه ارزیابي کول... او څه وخت وروسته به بیا همغه صحنه تکراریده."(۴۹)

د کارمل په وخت کې چې عسکري حکومت او شپې له خوا ګرځ بندیز زیات شوی و، د خلکو شکنجه او وژنه زیاته شوی وه، او مجاهدین د اشرارو په نامه یادیدل... زیاترو ځوانان له رژیم سره د نه مرستې له امله شکنجه او یا په بیړه سره اعدام شوي وي. زندانونه د کارمل په وخت کې ډیر ژر ډک شول، شکنجو او وژنو دوام وموند. د شکنجې سامانونه زیاتره له روس نه افغانستان ته راوړل شول او محکومین به یې دستحرکو برقي کرسیو په واسطه په څو ثانیو کې له منځه وړل. کې جي بي او خاد دې ته اړتیا درلوده چې خپل د اړتیا وړ تول اطلاعات له محکومینو او بندیانو نه ترلاسه کړي نو ځکه یې نه یوازې د فرد د شخصي جرم بلکې له اشخاصو او ډلو سره د اړیکو، د مجاهدینو د فعالیتونو د ځایونو، د مجاهدینو د نومونو، د وسلو د خوندي کولو د ځایونو او نورو نظامي مسایلو په اړه یې د تحقیقاتو او شکنجو له لارې له بندیانو نه معلومات ترلاسه کول. د بندیانو د نه خبرتیا په صورت کې به تر مرګه

شکنجه شول او له منځه به یوړل شول. د پلچرخي په پولیګون کې تولو دوام وموند او د کارمل د رژیم مامورین د روسي عکسرو او کاجي بې مندري په غوږ غلامان وو چې زیاتو جنایاتو ته به یې لاس اچاوه.

د خاد نوم د نجیب په وخت کې په (واد) بدل شو. روزان کلس په ۱۳۶۷/۱۹۸۸م کال د خاد یو تصویر دا ډول ترسیم کړی دی: "خاد یا واد پټ (مخفي) پولیس چې د کا جي بي په وسیله تربیه او په همغه توګه یې طرح کښل شوی په وزارتونو او د رژیم په عمده مؤسساتو کې حساس موقعیتونه لري. هغوی د شوروي له ۱۵۰۰ مشاورینو نه هدایت اخلي او کلني بودجه یې ۱۶۰ ملیونه ډالره ده. خاد ۴۰۰۰ افغاني مامورین لري چې لوړې زده کړې یې په شوروي کې کړې دي او په زړګونو څرې لري. که څه هم یو شمیر یې پلورل شوي دي خو بیا هم خپل ژوند په رژیم پورې تړلی ګڼي.."(۵۰)

که له افغانستانه تروتلو د مخه روسي قواوې وشړل شي، د روسي عسکرو او خاد ترمنځ تضاد موجود و. نجیب الله د دې لپاره چې له ځانه دفاع وکړي په ملیشه قوتونو او خاد یې زیات اعتماد کاوه. یو محقق د کمونېستانو د پاېښت په باب لیکي: "نو تر تولو زیات اعتماد، خادیان او څارندوی له ځانه بنیي، د دې سرچپه، د اردو عسکر، له خدمته تیښته د ځان لپاره ویاړ ګڼي او هغه هم د هغو شکنجو او قتل له لامله چې (واد) تر سره کړې دي. دواد ژوند به له رژیم سره یوځای روان وي او یا دا چې له هغه سره به یو ځای سقوط کوي. نجیب الله د کابل د دفاع لپاره، د ۴۰۰۰ کسانو په حدود کې دغسې باوري قوتونه په ځانګړي توګه په څارندوی کې روزلي دي. او دواد واحدونه په کندهار، غزني او ننګرهار کې د عمده پایګاه کانو د دفاع لپاره ګومارل شوي دي."(۵۱)

د امریکا د پنسلوانیا په کارلیسا ښارکي د ملي جنګونو د پوهنځي د آسیایي څېړنو رئیس جیمز کارکوران په خپل رپوټ کې لیکي: "نجیب د ځان د ساتنې لپاره ځانګړې ګارد ګومارلی دی چې دهغه ساتنې او اعاده شي ته خاصه پاملرنه کېږي... همدا اوس د نجیب ځواکونو له شل زره اجیرو او سرحدي ملیشو، شل زره خادیانو، دوه دیرش زره محلي اجیرو او ملیشه و او شل زرو پولیسونه تشکیل شوي دي. همدا راز پنځه زره کسه دېار تیزاني ضد جنګونو د زده کړې لپاره ویتنام ته استول شوي دي."(۵۲)

## زنده ګی نامه ببرک کارمل

ببرک کارمل له واک غوښتونکو نه یوو چې د پرچم په کمونستي ډله کې یې له روسانو سره زیاته ځانګړې لاره پرانستې وه. نوموړی په ۱۳۰۸ش/۱۹۲۹م کال د کابل په جنوب کې د کمریو په قریه کې وزیږید. پلار یې جنرال محمد حسین خان اونیکه یې محمد هاشم له هغو کشمیریانو نه و چې پنجشیر ته راغلي او هلته یې ژوند کاوه. خو ځنې په دې عقیده دي چې هغه په قوم کاکړدی چې د پښتنو یوه څانګه ده. خپلې زده کړې یې په نجات لیسه کې پای ته ورسولې او له سیاست سرېې د مینې له لامله د پلار په آشنایي د محمد داؤود په (ملي کلوب) کې فعالیتونه وکړل. (۱۳۱۹ش/۱۹۴۰م).

کارمل په ۱۳۰۷ش/۱۳۲۸م کال کې د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې شامل شو، او چې فعالیتونه یې کول او په دولتي ضد مظاهروکې یې اساسي رول لوباوه. هغه د آزادو مطبوعاتو په دویمه دوره

(د شاه محمود خان دوره) کې له "انګار" او "وطن" جرید وسره همکاري درلوده. د برادشر په نظر "سیاست" تردې سرحلې پورې کارمل ته دیوې ایدیولوژیکې ژمنې پرځای زیاتره دیوې احساساتي ماجرا حیثیت درلود؛ څکه لږې نخښې موجودې دي چې وښيي هغه کوچنې چې د سپینو زرو په کاچغه دوډۍ خوړلې او په بډایه کورنۍ کې روزل شوی د خلکو مصیبتونو او دردونو د درک فهم ولري په داسې حال کې چې تره کې له یوې عادي کورنۍ نه سرا اوچت کړی و..."(۵۳)

ببرک له ۱۳۳۱ - ۱۳۳٦ش/۱۹۵۲-۱۹۵٦م پورې د دولت ترڅارنې لاندې و چې هغه مهال ډاکتر عبدالرحمن محمودي او میر غلام محمد غبار هم بندیان وو؛ خو کارمل له لازمو اسانتیاو، اړیکو او آزادۍ نه برخمن و؛ څکه محمد حسین خان د داؤود له نژدې دوستانو نه او لا د مخه له کارمل سره بلد و. هغه په زندان کې له میر اکبر خیبر سره آشنا شو او د دوستۍ تړون یې وکړ چې کولای شو کارمل له ۱۳۳٤ش/۱۹۵۵م کال رایسې یو کمونست وګڼو"د کا جي بي له جاسوسي شبکې سره د هغه د پیوستون صحیح تاریخ نه دی معلوم، خو تر (۱۳۲۹ش/۱۹۵۰م) وروسته د پولیس له ممانعت پرته یې په کابل کې د شوروي سفارت ته تګ راتګ درلود."(۵٤)

د کې جي بي یو مامور ولادیمیر کوزیچ کین چې په انګلستان کې یې د سیاسي پناه غوښتنه وکړه، د ۱۳٦۱ د لړم پر شلمه ۲۰مه/ د ۱۹۸۲ د نومبر ۱۱مه له بي بي سي رادیو سره په یوه مرکه کې وویل: "کارمل د کې جي بي غړی او یولوړ رتبه مامورو او مسکو ته یې د ارزښت وړ خدمتونه کړي دي."

کارمل په ۱۳۳٦ش/۱۹۵۷م کې له پوهنتونه ترخلاصیدو د وروسته په ۱۳۳۷ کال د مکلفیت دوره سرته ورسوله او په پلان وزارت کې یې ماموریت پیل کړ "کارمل په حکومت کې د خپل ماموریت په دوره کې چې په ۱۹٦۵ (۱۳٤٤) کې پای ته ورسید د پاچا د معالج ډاکتر له میرمن، ناسید اناهیتا راتب زاد سره اشنا او همکار شو" (۵۵) "۱۹٦۰ له پیله له خپلې معشوقې اناهیتا راتب زاد سره د ببرک اړیکو.د هغه درسوایي موجبات برابر کړل.

کارمل، واک ته تر رسیدو پورې په مکروریانو کې اوسیده او همله یې فعالیت کاوه. میرمن یې محبوبي هم له هغه سره په حزبي فعالیتونو کې له هغه سره ملګرتیا کوله او د وطن د روزنتون د رئیسې په توګه یې په زرګونو افغاني کوچنیان د مغزې پریمنځنې او اخلاقي انحراف لپاره، د پخواني شوروي جمهوریتونه واستول چې په راتلونکې کې له دې قوت نه د خپل واک د ټینګښت په لار کې ګټه واخلي.

کارمل په ۱۳٤٤ (۱۹٦۵) کې له تره کې او طاهر بدخشي سره یو ځای په کابل کې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند په نامه کمونستي سازمان جوړ کړ. د خلق جریدې تر مصادرې وروسته ددې دري واړو ترمنځ انشعاب رامنځ ته شو چې هریوه مختلفې سیاسي کمونستي ډلې جوړې کړې. کارمل د پرچم ډله منځ ته راوړه او د ۱۳۵۲ د چونګابښ تر ۲٦ مې ۱۹۷۳م د داؤود تر کودتا پورې د خپلې ډلې سره په تخریبي اعمالو او د افغانستان دسیاستوالو په بدنامولو لګیاو. کارمل د اولسي جرګې د دولسمې او

دیارلسمې دورې لپاره د کابل له شیر شاه مینې نه کاندید او انتخاب شو. د داؤود په جمهوریت کې کارمل دداؤد په لوسرنیو اجراآتو کې اساسي رول درلود او هغه ته نژدې کسان لکه جیلاني باختري، حسن شرق، محمد خان جلالر اونعمت الله پژواک د داؤود د کابینې غړي وو. پخپله د سیاسي، تبلیغاتي اونظامي فعالیتونو په تنظیم کې له روسي مشاورینو سره په پټو فعالیتونو لګیاو. د ۱۳۵۷ د ثور په کودتا کې د صدراعظم مرستیال وټاکل شو او د خلق او پرچم د اختلافاتو په رامنځ ته کېدو سره بې هغه پراګ ته د سفیر په توګه واستاوه او له سیاسي ډګر نه لرې کړای شو، څه موده وروسته امین هغه د ځان پر خلاف د کودتا په تور له کاره ګوښه کړ او له هغه نه یې وغوښتل چې هیواد ته راستون شي. کارمل او د پرچم ګوند نوروسفیرانو د سفارتونو شتمنې لوټ کړې او په ختیز المان کې سره یو ځای شول. د خلق او پرچم اوکارمل او امین اختلافاتو د حزب دننه تضادونه دومره زیات کړي وو چې کارمل واک ته د رسیدو لپاره د روسانو هر ډول غوښتنو ته تسلیم شو او پخپله یې له بریژنف نه پر افغانستان د روسي عسکرو د تجاوز غوښتنه وکړه.

د ۱۳۵۸ د مرغومي پرشپږمه/د ۱۹۷۹ ددسمبر ۲۷ مه کارمل له روسي قواو سره یوځای کابل ته راوستل شو او د روسانو تر ځارنې لاندې او د هغوی د اطاعت په رعایت سره د کابل د رژیم د رئیس په توګه کښېنول شو. کارمل، روسان په ډېرولو رو نوموړنو یادول او ځان یې د کرملین ربښتینې دوست ګانه. د شوروي کبیر، لینن کبیر او انقلاب کبیر اکتوبر کلیمې به همیشه د هغه پر ژبه وې. غوښتل یې چې ډېرې لوړې او له مفهوم ډکې خبرې وکړي خو د خپلو کلیمو په بې مفهومیو کې به ورک شو او ناموزونه عبارات به یې تر خولې را ووتل. ګله یې چې د ۱۳٦۰ کال ذ لیندې په ۲٤مه/د ۱۹۸۱ د دسمبر پر ۱۵مه مسکو ته سفر وکړ، بریژنف ته یې د (خورشید افغان) طلایي مدال ورکړ.

د ۱۳٦۱ په لیندی/د ۱۹۸۲ نوامبر کې ببرک دبریژنف په جنازه کې د ګډون لپاره مسکو ته ولاړ، او په افغانستان کې یې عمومي ماتم اعلان کړ. ټولو حزبي مامورینو د بریژنف په مرګ د اروپایانو په دود سکوت غوره کړ.

د کارمل د لاسپوڅي رژیم په وړاندې په درست افغانستان کې پاڅونونه پیل شول او د روسي عسکرو په ګډون د کمونستانو غیرګون دیوه تمام عیار جنګ ادامه وه. د افغانستان ټول کلي او ښارونه د بمبارۍ په نتیجه کې ودان شول. ترپنځه نیم ملیونو زیات افغانان ګاونډیو هیواد وته مهاجر شول او څلورنیم ملیونه نور په هیواد کې دننه یې کوره بې اوره شول. په زرګونو کسان په زندانو کې په ډله ییزه توګه ووژل شول او په افغانستان کې په لوړ کچ د بشر حقوق ترپښنو لاندې کول د نړیوالو مؤسسو په اسنادو کې ثبت شول. خلکو به هغه ته کارغل، کارملوف، مزدور، وطن پلورې، او دویم شاه شجاع وایه او هغه شعرچې د شاه شجاع په باب ویل شوی و:

"سکه زد برسیم وزر شاه شجاع ارمنی – نور چشم لات و برنس خاک پای کمپنی"

په لاندې ډول واړول شو:

تکیه زد بر تخت و تاج کارملوف پرچمی - نور چشم بریژنف، خاک پای کی جی بی

"خوله تولو هغو ظلمونو سره سره چې کارمل وکړل، وبې نشوای کړای په افغانستان کې د مسکو د خوښې کمونستي رژیم تأسیس کړي او د افغانستان دایلولو لپاره بې هلې ځلې ناکامې شوې" (۵۷)

ګروموف، په افغانستان کې د شوروي اتحاد د قواو د عملیاتي قوماندان جنرال وارینکیف د شناخت پر استناد لیکي: "ښکاره وه چې کاجي بي په ۱۹۷۹ کې د افغانستان د نوي حکومت د رهبرۍ لپاره د ببرک په ټاکنه کې تیروتې وه. د کې جي بي رهبران پرخپله دې تیروتنه په نه اعتراف سره، هیله من و چې د انتلکتوئل (روښانفکرانو د سطحې ټیټوالې) او د کارمل سازمان ورکونې کمزورتیا به د حزبي او نظامي مشاورینو په فعالیت سره تلافي کړي" (۵۸)

ببرک په ۱۳۶۷/۱۹۸٦ کال د روسانو له خوا له کاره ګوښه کړای شو او یو کال وروسته د تداوي په نامه مسکوته واستول شو. کارمل په ۱۳۷٦/۱۹۹۸م کې په مسکو کې وسړ او د جنرال عبدالرشید دوستم په اجازه چې بلخ او شبرغان ولایتونه یې ترکنترول لاندې و په حیرتان بندر کې ښخ کړای شو. د طالبانو د تحریک د تسلط پروخت بې جسد آمو سیند ته واچول شو. ګروموف لیکي: "کارمل نه د خپلو همکارانو د اعتماد وړو، نه د خلکو اونه زموږ د مشاورینو. هغه بې ساري یا وه ګوی او فرکسیون پال و چې په استاذانه ډول بې ګولای شول د انقلابي خبرو په سنځ کې پټ شي." (۵۹)

# د نجیب الله د واکمنۍ دوره

د ۱۳٦٥ ثور – د ۱۳۷۱ وری

د ۱۹۸٦ می – د ۱۹۹۲ اپریل

له هغو سیاسي بدلونو سره چې په شوروي کې رامنځ ته شول او د ۱۳٦۱ په لیندۍ/ د ۱۹۸۲ نومبر کې بریژنف مړشو او د کې جي بي د جاسوسي د سازمان رئیس اندروپوف د مرکزي کومیټې د عمومي منشي او دشوروي حکومت رئیس وټاکل شو، کریوچکف د کې جي بي د رئیس په توګه وټاکل شو. هغه چې په افغانستان کې د خپلو عسکرو له نامطلوب حالت نه ښه خبرو، له کارمل سره یې سړې اړیکې درلودې او هغه یې یو بې محتوی سړی باله. د کمونست ګوند په مرکزي کومیټه کې په کابل کې د مهرې پربدلون د نظرتو پیروانه موجود وو. اندروپوف د خاد د جاسوسي سازمان فعالیتونه تر عسکري تشکیلاتو غوره ګڼل. د هغه سهال خادستان په جبهاتو کښې د مجاهدینو پر خلاف جنګیدل او په خاد کې د جلب وجذب لړې د رژیم تر اجراآتو زیاته وه. د نجیب الله اړیکې هم له کارمله جلا له کرملین سره پرمخ تلې. "د (انقلابي) دولت وروستي جمهور رئیس هم نه پټوله چې په یوه دول نه یودول په مستقیمه توګه د مسکو له مشرانو سره په تماس کې دی. په معموله توګه هغه لومړی د دفاع له وزیر بیا د کمونست ګوند له عمومي منشي او بیا ترکومه چې ...اته څرګنده ده د کا جي بي له رئیس کریوچکف سره اړیکې درلودې"(٦٠) د هغو اطلاعاتو له مخې چې اندروپوف د کا جي بي له لارې ترلاسه کړي وو، دې نتیجې ته رسیدلی و چې پر افغانستان حمله یوه تیروتنه وه. هغه غوښتل چې د لویدیځ په مرسته خپل ځواکونو له افغانستانه وباسي."(٦١)

تریوه کاله په لږه موده کې اندروپوف هم د ۱۳٦۳ په سلواغه/د ۱۹۸٤ په فبروري کې ومړ او پر ځای یې کنستانتین چرنینکو دشوروي د رئیسه هیأت صدر شو. د ۱۳٦٤ په وری/ د ۱۹۸٥ په مارچ کې چرنینکو هم مړشو او میخاییل ګرباچوف د هغه پرځای د دولت رئیس او دشوروي د کمونست ګوند عمومي منشي وټاکل شو. هغه چې د اندرویوف له پیروانونه و، د هغه نظریات یې تعقیبول او د خپل کار په لومړنیو اجراآتو کې یې ببرک کارمل له خپلې دندې ګوښه کړ او د ۱۳٦٥ په ثور/۱۹۸٦ په می کې یې نجیب الله د کابل د کمونست رژیم د رئیس په توګه وټاکه. دواک تر انتقال دمخه خاد او د نجیب الله پلویانو د روسانو په همکارۍ مهم ځایونه ترخپلې څارنې لاندې ونیول او د کارمل پلویان یې بې وسلې کړل. نجیب الله د ۱۳٦٥ په چونګاښ / د ۱۹۸٦ په جون کې پخپلو حکومتي تشکیلاتو کې بدلون را ووست او د مرکزي کومیټې غړي یې له پنځوسو نه ۹٦ ته لوړ کړل او ۲۸ کسه د مرکزي کومیټې نوي

نامزد غړی شول. په کابل کې د کارمل پلویانو د نجیب پر خلاف مظاهرې وکړې چې ژر غلې کړای شوې. د دې مظاهرو تنظیموونکې اناهیتا راتب زاد وه. نجیب په لومړي پړاو کې اناهیتا راتب زاد د میرمنو ټولنې له ریاست نه گوښه کړه او پرځای یې خپله یوه وفاداره خادمه فیروزه فدایي ورد ک مقرره کړه. کارمل دوه میاشتې هسې تش په نامه د وزیرانو د شورا رئیس او د افغانستان د خلق د دیموکراتیک گوند د سیاسي دفتر غړی و خو ترهغې وروسته یې برخلیکه کړای شو او مسکو ته ولیږل شو.

## ملي پخلاینه

نجیب الله د ۱۳٦٥ په مرغومي/ د ۱۹۸٦ په وروستیو کې له خپلو یوشمیر مامورینو سره مسکو ته ولاړ او له گرباچوف سره یې وکتل او له نوی لیدتوگې سره کابل ته ستون شو. هغه غوښتل د ملي پخلاینې پلان عملي کړي په داسې توگه چې مخالفینو ته د امتیازاتو په ورکولو سره، هغوی د دیموکراتیک گوند په څنگ کې د هغه چاپر خلاف را وپاوري چې په جگړه تینگار کوي. د نجیب الله د ادعا له مخې، خاد له ٤۱۷ کسو قوماندانانو سره چې ټول ۳۷ زره کسه مجاهدین کیدل په تماس کې وو او د ملي پخلاینې د پروگرام په عملي کولو کې ورسره موافقې ته رسیدلي و. "د گورباچوف له خوا د نجیب تود هرکلي پردې دلالت کوي چې مسکو هاند کاوه چې دیموکراتیک گوند په واک کې وساتي." (٦٢)

نجیب د ۱۳٦٥ د مرغومي له ۲٥ مې نه د ۱۳٦٦ دچونگاښ تر ۲٤ مې پورې (د ۱۹۸٦ د جنورې له پنځلسمې د جولای ترپنځلسمې) یې یو اړخیز اوربند اعلان کړ. دا اوربند د ټولو جهادي تنظیمونو له خوا په یوه خوله رد کړای شو. نجیب داسې انگیرله چې بنایي د ملي پخلاینې په وړاندیز سره د مجاهدینو د ساتي او کمونست رژیم د پایښت نفوذی ... وسوسي. گورباچوف هم په همدې تصور چې پر روسي عسکرو د جگړې فشار کم شي، نجیب ته د دې پروگرام د پراخولو توصیه وکړه؛ خو "د اوربند وړاندیز سرچپه نتیجه ورکړه او د مجاهدینو د مختلفو ډلو ترمنځ پیوستون یې تقویه کړ او د شوروي او کمونست گوند زمینه سازي یې داگیزه کړه." (٦٣)

همغه ډول چې شوروي په ۱۹۸٥/۱۳٦٤ کې په دې شرطو د خپلو عسکرو ایستلو ته چمتووالی وښود چې د کمونستي رژیم او مجاهدینو ترمنځ ائتلافي حکومت جوړ شي؛ خو مجاهدینو دا وړاندیز رد کړ. روسانو چې بله چاره ونه لیده، په یو اړخیز ډول یې اعلان وکړ چې که د دواړو خواو ترمنځ څه سیاسي جوړ جاړی وهم شي، بیا به هم روسان له افغانستانه خپل عسکر وباسي؛ خو روس د خپلو عسکرو په ایستلو کې یې تفاوته نه وو پاتې شوی او پریکړه یې کړې وه چې که کله هم مجاهدین له پیشنهاد شوي ائتلافي حکومت سره موافقه هم وکړي، بیا هم باید د هغوی پرخلاف نور فعالیت وشي او د جهادي تنظیمونو ترمنځ باید اختلافات زیات کړای شي. د کلس په وینا: "په بهرکې کاجي یې او واد د مجاهدینو

ترمنځ د اختلافاتو د را پیدا کولو په خاطر زیات کوښښونه وکړل او هڅه یې وکړه چې نړیوال ملاتړ تری سلب کړی."

کمونستانو د دروغجنو خبرونو په خپرولو سره چې ګویا ملي پخلاینه په پلاني ځای کې عمل شوی ده د مجاهدینو ترمنځ د اختلافاتو په زیاتولو کې عمده رول ولوباوه. نجیب الله ټولو خادستانوته وظیفه ورکړه چې په پیښور کې جهادي شخصیتونه ترور او د مجاهدینو تر منځ دو یری ترهی فضا رامنځ ته کړي. د تبلیغاتو په برخه کې یې هم د جهادي رهبرانو په تکولو سره د اختلافاتو د زیاتولو هلې ځلې کولې. د پاکستان عوامي نیشنل ګوند هم په پټه توګه له نجیب سره خپله همکاري اعلان کړې وه. نجیب تیټ رتبه او پټو جاسوسانو ته چې په جهادي تنظیمونو کې یې رخنه کړې وه او په اطلاعاتي ادارو کې تنظیم شوي وو، د ترفیع او زیاتو امتیازاتو وعده ورکړه.

د نجیب ملي پخلاینه د ټولو مجاهدینو له خوا رد شوه. مولوي محمد نبي محمدي د مجاهدینو د اسلامي اتحاد دویاند په توګه دا پخلاینه د روسانو توطیه وګڼله، او اعلان یې وکړ تر هغې چې روسان پرته له کوم قید و شرطه خپلې ټولې قواوې له افغانستانه ونه باسي، هیڅ ډول پخلاینه او مصالحه نه منو.

### د ژنیو تړون

د ژنیو معاهده د پاکستان او د کابل رژیم ترمنځ یو دوه اړخیز تړون و چې د امریکا او شوروي په منځګړتوب را منځ ته شو. په دې تړون کې چې د ۱۳٦۷ د وری په ۲۵مه/ د ۱۹۸۸ د اپریل پرڅوارلسمه دسویس په ژنیو کې لاسلیک شو. د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر جورج شولتز G. shultz او شوروي د بهرنیو چارو د وزیر ادواردشوار ناتزه E.Shevardnadze تر څارنې لاندې درې، دوه اړخیز قرار دادونه لاسلیک شول، چې دا قرار دادونه له افغانستانه د شوروي قواو د وتلو پروګرام ګڼل کیده. روسانو هاند کاوه چې ددې قرار داد په لاسلیک سره د کابل کمونستي رژیم ته په نړیوال کچ قانونیت ورویخښي او په مراحلو سره خپلو وتلو ته هم تاریخي وجاهت ورکړي. په حقیقت کې "یادې شوې معاهدې چې د افغانانو د غولونې او د روسي واک پر خلاف د هغوی د لس کلنې مبارزې پر خلاف لاسلیک شوې، د سیاسي کتونکو له خوا محکومې شوې." (٦٤)

د ملګرو ملتو په پریکړه لیک سره چې د ۱۳٦۰ د لړم پر ۲۷ مه/ د ۱۹۸۱ د نومبر پر ۱۸ مه د افغانستان په باب صادر شو، امریکا د دې پیښې حل د ملګرو ملتونو پرولیو ورو اچاوه او هغه مهال دیکوکاردوویز د ځانګړي استازي په توګه د پاکستان، کابل رژیم، مجاهدینو او ظاهر شاه له نماینده ګانو سره وکتل او د امریکا او شوروي په مشوره یې فعالیتونه پیل کړل، چې که وکړای شي په دې لړکې څه توافقات ترلاسه کړي. پاکستان د کابل رژیم د په رسمیت پیژندنې نه ډډه وکړه او مجاهدینو له کابل رژیم سره مذاکرات

په کلکه رد کړل. ۱۰ د ژنیو مذاکرات په هغه بنه چې د ملګرو ملتو په اجنداکې موجود وو ترسره نه شول او هاندوشو چې د پاکستان اوکابل رژیم په ناسته کې د بهرنیو مداخلو خاتمه، او د کابل رژیم پایښت او په رسمیت پیژندنه مطرح شي.

دیکوکار دوویز په ۱۳٦۲/۱۹۸۳ کې اعلان وکړ چې افغان لانجې د حل اجندا نوی فیصده حل شوې او یوازې له هغه هیواده به د روسي عسکرو دوتلو په باب موافقه ترلاسه کړای شي او خبرې باید د څلورو مسألو: د افغانستان ملي واکمني، زمکني بشپړتیا او سیاسي خپلواکي او د انتخابي حکومت تشکیل، د بهرنیو قواو (هدف روسي قواوې) وتل او افغانستان ته د مهاجرینو ستنیدل پکې مطرح شوي وای. د ژنیو مذاکراتو څلور کاله دوام وموند او له شوروي سره د امریکا په اخ ودب کې به مذاکرات کله وځنډیدل او کله به هم له سره پیل شول.

سره له هغې چې، شوروي اتحاد د ۱۳٦٦ له لیندی/۱۹۸۷ نومبر نه په مطبوعاتو او نړیوالو تولنوکې له افغانستانه د خپلو قواو د ایستلو غږ او چیچ کړی و؛ خو میخاییل ګورباچوف د ۱۳٦٦ د سلواغې پر ۱۹ مه/ د ۱۹۸۰ د فبروري ۸مه رسماً اعلان وکړ که چیری د ژنیو تړون د ۱۳٦٦ د کب پر ۲٤ مه/ د ۱۹۸۸ د مارچ ۱٦ مه د دوارو ارخونو له خوا لاسلیک شي، له افغانستانه به د روسي قواوو تل د ۱۳٦۷ د ثور پر ۲۵ مه/د ۱۹۸۸ دمی ۱۵ مه پیل اوپه ۹ میاشتوکې به دروسي عسکرو دوتلو بهیر بشپړشي. دامریکا متحده ایالاتو او اولس مشر رونالډ ریګن او دجیمي کارتر په اداره کې دملي امنیت سلاکار بریژنسکي دروسانو دی ضرب الاجل ته دشک په سترګې کتل اوعملاً یې له مجاهدینو نه خپل ملاتړاعلان کړی و.

ګورباچوف پخپله خاصه تواضع اولس مشر ریګن دی ته متقاعد کړ چې د شوروي پر اقداماتو باور ولري؛ څکه روسانو تردې د مخه د خپلو قواو د ایستلو لپاره یو څلور کلن مهال ویش وړاندی کړی و چې له اوسني وضعیت سره یې زیات توپیر درلود. د امریکا سنا مجلس هم دې خبرې ته د شک په سترګه کتل. سره له هغې چې د نه مداخلې او نه تجاوز د قرار داد د لاسلیک پلوي و او د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال رابرت ای پک په بنکاره خپله کړنلاره اعلان کړه. د امریکا سنا پریکړه وکړه تر هغې چې شوروي د کابل رژیم ته نظامي مرستې ورکوي، امریکا هم باید له مجاهدینو سره مرسته وکړي. د پاکستان اولس مشر جنرال ضیاء الحق هم د دې وړاندیز مخالف و، خو دامریکا سیاسي فشار وروسته تر هغې چې واشنګټن له دې مسألې سره موافقه کړې وه، پر پاکستان د ګورباچوف فشار او التماتیوم او د خاد د جاسوسانو په واسطه د تخریبکاري پیښې هغه عوامل وو، چې پاکستان یې د ژنیو معاهدې لاسلیک ته اړ کړ.

معاهده د ۱۳٦۷ د ثور پر ۲۵ مه/ د ۱۹۸۸ د مې ۱۵مه د کابل رژیم او پاکستان ترمنځ په ژنیو کې لاسلیک شوه، او افغاني مجاهدین د قضیې د یوه اړخ په توګه بهر وساتل شول. دا معاهده پر څو موافقتو مشتمله وه. لومړی قرار داد د دواړو خوا پر متقابلو اړیکو خصوصاً پرنه مداخله او نه تجاوز. دویم د

مهاجرینو داوطلبانه بیرته ستیدل. دریم د افغانستان د مسألی د حل لپاره خپلمنځی اړیکی پکی شاملی وی. همدارنګه د امریکا او شوروی له خوا د بین المللی تضمین اعلامیه هم لاسلیک شوه. د امریکا بی پلاوي ریاست شو لتز، د روسی شوارناتزه، د پاکستانی صاحبزاده یعقوب خان او د کابل د رژیم عبدالوکیل پرغاړه درلود، چی مذاکرات د ملګرو ملتو د ځانګړی استازی کور دوویز په منځګړتوب پیل شوی وو.

## په افغانستان کی د روسانو ماته

## او د شوروی اتحاد ټوټی ټوټی کیدل

نجیب الله د روسی قواو تر وتلو دمخه، یولړ زمینی مساعدی کړی او ځیره یی بدله کړه. کمونست نجیب ځانته اسلامی ځیره خپله کړه چی په دی توګه سره د ځان په باب د خلکو تصور بدل او د خپل رژیم پایښت تضمین کړی. په ښوونځیو کی هم د رژیم تدریسی تګلاره بدله شوه او په رادیو-تلویزیون کی به هم هغه مطالب خپریدل چی اسلامی مسایل په پکی ذکر شوی وویا به یی د ملی پخلاینی تبلیغ کاوه. نجیب الله د ملی پخلاینی په غونډه کی قرآن کریم په لاس کی واخست او سوګند یی وکړ. هغه به خپلی خبری د قرآنکریم په آیتو او په نبوی (صلعم) احادیثو پیل کولی او پای ته به یی رسولی. "په دی توګه د دولت سیاسی شاګرځ پیل شو او له اسلامی تبلیغاتو اوملی پخلاینی نه په ګټی اخستنی سره به هاند کیده چی د دولت وقار پورته ولاړ شی او مجاهدین سولی او پخلاینی ته راوبلی. څرنګه چی مجاهدین د کابل له رژیم سره خبروته چمتو نه وو جنګ ته دوام ورکوونکی بلل کیدل" (۶۵)

د روسی قواو د وتلو پلان زیات دلایل لری چی مهم یی د مجاهدینو مقاومت و چی د اولس له غوښ اکثریت نه برخمن و او هرکال به په نظامی محور کی د خلکو شمیر زیاتیده. روسانو چی د خپلو وراندلیدنو له مخی دوه کاله مقاومت سنجولی و، د زیاتولګښتونو او پرله پسی ماتو او زیانونو باریی نشو پورته کولای، د کرملین د دولت تګلاره یی سرچپه کړه. د روسانو شړیدلی اقتصاد د خلکو د کرکی او په هغه هیواد کی د کمونیزم د نابودی او سقوط لامل شو. په افغانستان کی د روسانو څوارلس کلن جنګ، د شوروی په جمهوریتو کی د کمونستی ضد ډلو د تشکیل لامل شو او لویدیځ او د دریمی نړی له زیاترو هیوادو سره د شوروی اړیکی زیانمنی شوی.

له افغانستانه د روسانو د وتلو پروګرام د ۱۳۶۷ د ثور پر ۱۵ مه/ د ۱۹۸۸ د می پر ۱۵ مه پیل او دا بهیر په لسو میاشتو کی د ۱۳۶۷ د سلواغی تر ۲۶می/ د ۱۹۸۹ د فروری تر ۱۵می پوری د حیرتانو پرپله د شوروی د یرغلګرو قواو عمومی قوماندان جنرال ګروموف په پوری وتلو سره پای ته ورسید.

## د شوروی اتحاد د کمونست گوند پیښنو ته یو ځغلند نظر

دشوروی سیاسی - تاریخی پیښې له پخوانه تر اوسه پورې د نړۍ د تاریخ مهمه مقطع گڼل کیږی، چی له افغانستان سره په اړیکو یې هم اغیز وکړ. د دی بدلونو پر اساس، پردی پیښو لنډ او ځغلند نظر اچوو. د روسانو د پیښو او دریځنیونو پرتله او ددی پیښو د شالید په باب خبرتیا د افغانستان د تاریخی جریانو د تحلیل سره هم مرسته کوی.

په ۱۲۷۷ش/۱۸۹۸م د روسیې د کارگرسوسیال دیموکرات گوند لومړی کنگره د سپینې روسیې په مینسک *Minsk* کی دایره شوه. په دی کنگره کی یی (۹) کسه د انقلاب ضد عناصرو په نامه ونیول او اعدام یی کړل. په ۱۲۸۱ش/۱۹۰۳م د روسیې د کارگری گوند دویمه کنگره د ولادیمیر ایلیچ لینن *welade-mir-e-lennin* ترمشری لاندی جوړه شوه. پردی بنا گویا چی توله کنگره له انقلابی مبارزینو نه تشکیل شوی ده، انشعاب رامنځ ته شو او د بلشویکانو، او منشویکانو په نامه سره وویشل شول.

په ۱۹۱۷/۱۲۹۵ کی کله چی لینن له یو شمیر بلشویکانو سره په اروپا اوسایبریا کی ژوند کاوه، د تزار پر خلاف د کارگرگوندیوه کودتا ناکامه شوه. (فبروری، د ۱۲۹۵ کب)

د ۱۲۹٦ د لړم پر ۳مه/ د ۱۹۱۷ د اکتوبر پر ۲۵مه بلشویکانو د یوی نظامی کودتا په نتیجه کی په سن پترز بورگ (لیننگراد) کی واک په لاس کی واخست او تزاریې له منځه یوړ. د ۱۲۹۸ په سلواغه/ د ۱۹۱۸ په جنوری کی د اساسی قانون د تصویب لپاره یوه غونډه جوړه شوه. څو ورځی وروسته دا قانون د لینن له خوا لغو شو. هغه د روسیې جمهوریت تشکیل کړ او په (برست لیتوفسک) کی له جرمنیانو سره د سولی تړون لاسلیک شو. لینن د روسیې پلازمینه، مسکوته انتقال کړه.

د ۱۲۹۹ د چونگاښ پر ۲٦مه/ د ۱۹۱۸ د جولای ۱۷مه دویم نیکولای له خپلی کورنی سره په "جیکاتینا" (وروسته دا بنار په "بیوردویسک" ونومول شو) په اعدام محکوم شو.

د ۱۲۹۹ د سنبلی ۹مه/ د ۱۹۱۸ د اگست ۳۱مه لینن د فخاکپلان او دوو ملگرو په وسیله یی، په توسانچه تبی کړای شوه، ځکه هغه مهال چی مختلفو ناروغتیا و او کاختی او لوری توله روسیه پر سر اخستی وه، تول اولس د لینن مخالف شوی و. په همدی کال بلشویکانو د روسیې د کمونست گوند نوم واړاوه او د بلشویک ضد عسکرو یا سپینو پر خلاف یی جنگ پیل کر. دی جنگ تر ۱۹۲۲/۱۳۰۱م پوری دوام وموند. ۱۳۰۰ش/۱۹۲۱م په کانگرس کی د داخلی اورگانونو فعالیتونه هم منع کړای شوو او تول اقتصادی تشکیلات د کمونست گوند تر اداری لاندی راغلل.

۱۹۲۲/۱۳۰۱ د لینن روغتیا یی حالت خراب شو او ستالین د هغه پر ځای د کمونست گوند عمومی منشی وټاکل شو. د ۱۳۰۳ د سلواغی لومړی نیټه/د ۱۹۲٤ د جنوری ۲۱مه لینن ومړ او ستالین

د "زینوویف" او "کمنیف" سره یو ځای دواک د مثلث په توګه واک په لاس کې واخست.

۱۳۰۶/۱۹۲۷، ستالین خپل یو مخالف "تروتسکي" له کمونست ګونده اخراج او تبعید کړ. نوموړی مکسیکو ته ولاړ او په ۱۳۱۹/۱۹۴۰ دستالین دیو ګومارل شوی په وسیله ووژل شو.

۱۳۰۸/۱۹۲۹، ستالین هغه اقتصادی تګلاره چې په ۱۳۰۰ش/۱۹۲۱م کې تصویب شوی وه له منځه یوړه او کرنیز سکتوربې دکرګر دا جوری او مالک د تصاحب په بنه رایج کړ. په صنعتي برخه کې یې هم کارخانې، پرکارګرانو په زور او فشار سره فعالې وساتلې.

۱۳۱۳ش/۱۹۲۴م د کمونست کوند کنګرې د دین ضد فعالیت پیل کړ او حکومت د خپلو مخالفینو د تصفیې په نامه په ملیونو انسانان ووژل او په ملیونوکسان نور سایبریا ته تبعید کړای شول چې شاقه کارونه پرې ترسره کړي.

د۱۳۳۱ دکب ۱٤مه/ د ۱۹۵۳ دمارچ ٥مه ستالین هم ومړاو پرځای یې خروسچف *Chreschev* واک تر لاسه کړ. د ۱۳۳٤ د ثور پر ۲٤مه/ ۱۹۵۵ د می ۱۵ مه وارسا تړون د شوروی اتحا دپه مشری رامنځ ته شو.

د ۱۳۳٤ دوری ۲۸مه/ د ۱۹۵۵ دستمبر ۱۹مه د فنلند د پورکالا *Porkkala* برخه په شوروی اتحاد پوری وتړل شوه.

۱۳۳٤ د سلواغې ۲۵ – د کب ٦مه/ د ۱۹۵٦ د فروری ۱٤–۲۵مه خروسچف د کمونست ګوند په شلمه کنګره کې د ستالین پر مظالمو شدید انتقاد وکړ او د دې دورې قربانیان یې یاد کړل.

د ۱۳۳۵ لړم/د ۱۹۵٦ نومبر روسانو پر هنګری نظامي تیری وکړ. د ۱۳۳۷ دوری ۷مه/ د ۱۹۵۸ د مارچ ۲۷مه بولګانین *Bolganin* له خپلې دندې ګوښه او پرې ځای یې خروسچف دشوروی صدر اعظم وټاکل شو. د ۱۳٤۰ د زمرې ۲۲مه/ د ۱۹٦۱ د اګست ۲۳مه د روسانو له خوا د برلین دیوال جوړ کړای شو او المان په د وو برخو ختیز اولویدیز المان وویشل شو. د ۱۳٤۱ تله/ د ۱۹٦۲ اکتوبر د شوروی او امریکا ترمنځ د کیوبا بحران ډیر حاد شو چې دتکر او دریم نړیوال جنګ امکانات را منځ ته شوی وو. د ۱۳٤۳ چونګابن – زمرې/ د ۱۹٦٤ جولای – آګست له چین سره د شوروی اړیکې خرابې او وشلیدې.

د ۱۳٤۷ د زمرې ۳۰مه/د ۱۹٦۸ د اګست ۲۱مه روسانو د وارسا تړون د هیوادو د همکارۍ په نامه په چکوسلواکیا کې نظامي مداخله وکړه.

د ۱۳۵۱ د جوزا له لومړۍ نیټې تر نهمې پورې/د ۱۹۷۲ د می ۲۲–۳۰ پورې د امریکا اولس مشر ریچاد نکسن مسکو ته سفر وکړ او د اتومي وسلو د محدودولو (سالت –۱) تړون یې لاسلیک کړ.

د ۱۳۵٤ د زمرې لسمه/ د ۱۹۵۷ د اګست لومړۍ نیټه د اروپا د سولې او امنیت لومړنۍ کنفرانس د فنلیند په پلازمینه هلسنګي کې جوړ شو چې دناتو او وارسا دواړو تړونو غړو پکې برخه واخسته او د دواړو خواو ترمنځ د تفاهم تړونونه لاسلیک شول.

د ۱۳۵٦ د زمری ۲٦مه/د ۱۹۷۷ د جون ۱٦مه بریژنیف *Bre-jenev* د شوروی د کمونست ګوند د عمومی منشی او دمرکزی کومیتی د رئیس په توګه وټاکل شو.

د ۱۳۵۸ د مرغومی ٦مه/د ۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷ مه شوروی اتحاد پر افغانستان نظامی تیری وکړ او تر ۱۲۰ زرو زیات روسی عسکر د افغانستان خاوری ته ننوتل.

د ۱۳۵۹ د کب له ۵می-۱۲می/د ۱۹۸۱ د فبروری له ۲٤می- د مارچ تر ۳می د شوروی د کمونست ګوند شپږویشتمه کنګره جوړه شوه او د افغانستان پرسسایلو او په پولینډ کی د سیاسی حرکتونو په پیل کیدو خبری وشوی. له هغی سره جوخت په پولیند کی د کمونست ګوند پر خلاف اعتصابونه او مظاهری هم پیل شوی.

د ۱۳٦۱ د لړم ۱۹مه/ د ۱۹۸۲ د اکتوبر ۱۱مه بریژنف ومړ او اندروپوف *Andropov* د کمونست ګوند د عمومی منشی په توګه وټاکل شو.

د ۱۳٦۲ د سلواغی ۲۰مه/ د ۱۹۸٤ د فروری ۹مه اندروپوف ومړ او پرځای یی کنستانتین چرنینکو *K.U. Charnenko* واک ترلاسه کړ.

د ۱۹٦۳ د کب ۱۹مه/د ۱۹۸۵ د مارچ لسمه چرنینکو و مړ او پر ځای یی ګورباچوف د کمونست ګوند عمومی منشی شو. ګورباچوف، ادوار دشوارناتزه *Shevardnadze* چی دګرجستان د کمونست ګوند منشی و د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکه او ګرومیکویی چی دیرش کاله د بهرنیو چارو وزیرو له کاره ګوښه کړ.

د ۱۹۸۵ په اکتوبر (د ۱۳٦٤تله) ګرباچوف خپله اقتصادی تګلاره د پروسترویکا *Prestrojka* په نامه اعلان کړه او محافظه کار بورس یلتسن د روسیی د فدراسیون د اولس مشر په توګه وټاکل شو. په دی وخت کی پر بوریس یلتسن باندی دګورباچوف اولیګاچوف تر مشری لاندی سیاسی فشارونه پیل شول چی هغه د مخالف ګوند له ریاست نه لری کړی.

د ۱۳٦٦ په مرغومی/۱۹۸۷ په دسمبر کی دګورباچوف او امریکا یی اولس مشر رونالډریګان ترمنځ د منځنی واټن توغندیو دله منځه وړلو تړون لاسلیک شو.

د ۱۳٦۷ په وری/د ۱۹۸۸ په مارچ کی دګورباچوف دپروسترویکا پر خلاف په ټول شوروی اتحاد کی مخالفتونه پیل شول؛ ځکه دشوروی اقتصاد مخ په شړیدو و او د پیسو ارزښت یی ورځ په ورځ ښکته راته. د روسیی محافظه کارانو دګورباچوف پر خلاف ګډه جبهه پرانسته.

د ۱۳٦۷ په تله/ د ۱۹۸۸ په اکتوبر کی ګورباچوف دشوروی اتحاد د اولس مشر په توګه هم وټاکل شو. هغه غوښتل خپل دواړه کارونه په یوه بهیر کی همګامه کړی.

د همدی کال په مرغومی (دسمبر) کی دشوروی اتحاد اساسی قانون نافذ شو چی د هغی پر اساس اولس مشر تر ټولو د ځواکمن شخص په توګه وپیژندل شو. د ۱۳٦۷ د سلواغی پر ۲٦ مه/ ۱۹۸۹ د

ACKU

فبروری په پنځلسمه د روسانو سری لښکری له افغانستانه ووتی.

د ۱۳٦۸ په وری/د ۱۹۸۹ په مارچ کی د شوروی د ملی شورا د کرسیو دلاس ته راوړلو لپاره انتخابات پیل شول او بوریس یلتسن په سلوکی نوی رایی ترلاسه کړی.

د ۱۳٦۸ په ثور/ د ۱۹۸۹ په اپریل کی د ګرجستان په تبلیسی ښارکی اولسی پاڅون وشو او دګرجستان د سیاسی خپلواکی غوښتنه یی وکړه. شوارناتزه، لیګاچوف یه دی اغتشاش تورن کړ.

د ۱۳٦۸ په ثور/ د ۱۹۸۹ په می کی د شوروی کانګرس، میخاییل ګورباچوف د پنځو کالو لپاره د شوروی د اولس مشر په توګه وټاکه.

د همدی کال په چونګاښ (جولای) کی ګورباچوف په ښکاره د اروپا له ګډ بازار سره خپل زړه راښکون څرګند کړ.

د ۱۳٦۸ په زمری/د۱۹۸۹ په اګست کی په پولیند کی ترڅلویښتو کالو وروسته یو انتخابی حکومت رامنځ ته شو او دی غیر کمونست حکومت، تیودور ماژویسکی د پیوستون له ګونده د هغه هیواد د صدراعظم یا لومړی وزیر په توګه اعلان کړ. وروسته د پیوستون د ګوند مشر "لخوا وینسا" واک ته ورسید.

د ۱۳٦۸ په تله/ د ۱۹۸۹ په آکتوبر کی ګورباچوف د ختیز برلین په څلویښت کلن کیدو هغه هیواد ته سفر وکړ او د ختیز المان رئیس اریش هونیکر هغه ته وویل: څوک چی ناوخته راشی، ژوند به یی پخپله مجازات کړی... او یوه میاشت وروسته د ختیز المان په لایپزیک ښارکی مظاهرې پیل شوی او هونیکرله واکه ګوښه شو.

د ۱۳٦۸ په لړم – لیندی/د ۱۹۸۹ په نوامبر کی د برلین دیوال ونړول شو. څو ورځی وروسته په ټوله چکوسلواکیا کی مظاهری پیل شوی او په هغه هیواد کی کمونستی نظام له منځه ولاړ. د چکوسلواکیا د جمهوریت له تأسیس سره جوخت د بلغاریا اولس مشر او دبریژنف نژدی ملګری ژیفکوف د اولسی فشار او مظاهرو په نتیجه کی له واکه وغورځول شو. د ۱۳٦۸ په مرغومی، /د۱۹۷۹ په دسمبر کی، ګورباچوف د امریکا له اولس مشر جورج بش سره په "مالتا" کی وکتل او د دوه اړخیزو مرستو اجندایی طرح کړه. په همغه ورځ په ټوله روسانیا کی اولسی پاڅون پیل شو او درومانیا ملی جبهی د الیاسکو تر مشری لاندی واک ترلاسه کړ او درومانیی دکمونست ګوند چاپسسکو له خپلی میرمنی سره په انقلابی توګه اعدام کړای شول.

د ۱۳٦۸ په سلواغه/د ۱۹۹۰ په فبروری کی د شوروی د کمونست ګوند کانګرس ترډری ورځنیو بیړنیو غونډو وروسته تصمیم ونیو چی دشوروی له سیاسی انحصار نه لاس واخلی.

د ۱۳٦۸په کب – د ۱۳٦۹ وری/ د ۱۹۹۰ په مارچ کی لیتوانیا استونیا اولیتویا له شوروی نه خپله سیاسی خپلواکی اعلان کړه او د لویدیزو هیوادوله خواهم په چټکتیا سره په رسمیت وپیژندل شول.

د ۱۳٦۹ په ثور/د ۱۹۹۰ په اپریل کې بوریس یلتسن دروسیې د فدراسیون د اولس مشر په توګه غوره کړای شو او ګورباچوف د هیواد د دویم کس په توګه پاتې شو.

د ۱۳٦۹ په چونګاښ/ د ۱۹۹۰ په جولای کې ګورباچوف بیا د کمونست ګوند د عمومي منشي په توګه غوره کړای شو. همدا راز د ګورباچوف او دلویدیز المان د صدراعظم هلموت کول ترمنځ دختیز او لویدیز المان د یو ځای کیدو په اړه خبرې اترې وشوې.

د ۱۳٦۹ په وږی/د ۱۹۹۰ په ستمبر کې د شوروی دبهرنیو چارو وزیر ادوارد شوارناتزه له خپلې د ندې استعفا وکړه او نورکسان لکه نیایف، پاولوف او پوګو دشوروی سیاسي ډګرته ور داخل شول.

د ۱۳۷۰ په وری/ د ۱۹۹۱ په مارچ کې په شوروی کې یوه عمومي خیړنه وشوه او په سلو کې ۷۲/٤ خلک د شوروی جمهوریتونو د خپلواکۍ پلویان وو او بالتیک جمهوریتونه (لیتوانیا، استونیا، لتویا) په رسمیت وپیژندل شول.

د ۱۳۷۰ په زمرۍ/ د ۱۹۹۱ په جون کې د جمهوریتونو خپلواکي او د روسیې د فدراسیون تشکیلات اعلان شول. د همدې کال د جولای په پیل کې ګورباچوف د اوو صنعتي هیوادو (G7) په غونډه کې چې په لندن کې جوړه شوه، برخه واخسته او ژمنه وشوه چې کله هم شوروی پخپله اقتصادي تګلاره کې د ازاد بازار سیستم اعلان کړي، دنړۍ صنعتي هیوادونه به ورسره مرسته وکړي. ددې ژمنې پر اساس د روسیې پارلمان خپل ملاتړ اعلان کړ او په هغې پسې ګورباچوف په مسکو کې له جورج بش سره د زروی وسلو د مخنیوی تړون لاسلیک کړ.

د ۱۳۷۰ د وږی پیل/ د ۱۹۹۱ په اګست کې د ګورباچوف د مرستیال نیایف په مشری یوه کودتا پیل شوه چې بهرنی فشارونه او هم د عامه ذهنیت بدلون د دې لامل شو چې ګورباچوف د کمونستانو له حلقې نه وباسي او سره په تضاد کې واقع شي. یلتسن د ګورباچوف ملاتړ وکړ او کودتا له ناکامۍ سره مخ شوه. ګورباچوف د توری بحیرې له څنګه د کریمیا له جزیرې نه مسکو ته ستون شو؛ د کمونیزم پلویان زندان ته واچول شول او یو شمیر یې ځانونه ووژل. ګورباچوف د کمونست ګوند له عمومي منشي توب نه استعفا وکړه او بوریس یلتسن واک په لاس کې واخست. ګورباچوف دشوروی له پنځلسو جمهوریتونه وغوښتل چې په نظامي – اقتصادي کچ یو تربله سره مرسته وکړي. د ګرجستان، ارمنستان، آذربایجان، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان د خپلواکۍ اعلان وکړ. د اروپا ګډ بازار هم په تناوب سره جمهوریتونه په رسمیت وپیژندل.

د ۱۳۷۰ په تله/ د ۱۹۹۱ په اکتوبر کې له اوکراین پرته دولسو جمهوریتونو د ګډ وګټو (کامنولت) اتحادیه جوړه کړه. روسیې هڅه وکړه چې د موجوده اسعارو، دتیلو، سروزرو او الماسو د بې کنترول یې په لاس کې وي.

د ۱۳۷۰ په سرغوسی/ ۱۹۹۱ دسمبر کې د شوروی اتحاد د پخوانیو اتو جمهوریتو په ګډون د

قزاقستان په الماتا کې یو کنفرانس جوړ شو او د خپلې خپلواکې په اعلان سره یې یوه خپلواکه اقتصادي ټولنه (کامنولتهـ) اعلان کړ. په دې کنفرانس کې اعلان شو چې، شوروي اتحاد رسماً منحل او دنیستۍ کندې ته وسپارل شو.

د ۱۳۷۰ د مرغومې خلورمه/ د ۱۹۹۱ د دسمبر ۲۵مه ګورباچوف دشوروي اتحاد له جمهوري ریاسته استعفا وکړه او دشوروي سور بیرغ د لور او څټک له نښان سره د کرملین له سره راکوز کړای شو او د هغې پر ځای د روسیې سپین، سور او آبي بیرغ پورته کړای شو. د لینن او مارکس مجسمې د شوروي په ټولو جمهوریتو کې له عامه ځایونو او دولتي ادارونه لرې کړای شوې. د شوروي (سي سي سي پي) علامې له خپلو ځایونه را وریستل شوې او په دې توګه د شوروي ساتې نه منونکې رژیم ساتي منونکې شو.

د ۱۳۷۰ د مرغومې پر شپږمه/ د ۱۹۹۱ د دسمبر پر ۲۷مه پر افغانستان د شوري قواو تجاوز د افغانستان په تاریخ کې دیوې توري پیښې په توګه د افغانستان د میړني اولس د مبارزې د پیل او شوروي د ماتې په توګه د نړۍ په تاریخ کې ثبت شوه چې نړیوال باید ددې غیرتي اولس ممنون و اوسي.(۲۶)

## په شوروي کې د اختناق تر چترلاندې د کارمل هڅې

په شوروي اتحاد کې اختناق او د نظامي کودتا له لارې د سیاسي واک بدلون، د مسکو حالت بدل کړ. دې حالاتو د شوروي په اقمارو هم اغیز وکړ. افغانستان دا مهال له یوې خوا د لوېدیځ له تبلیغاتي او نظامي مرستو سره د مجاهدینو د جګړې له فشار او له بلې خوا د شوروي د کورنیو بدلونو سره مخ و چې د وطن ګوند دغړو ترمنځ یې د نظر اختلافات زیات کړل.

سره له هغې چې د مسکو کودتا کامیابه نه شوه او ګورباچوف یې چې په کریمیا کې تر نظارت لاندې و، بیرته مسکو ته راستون کړ خو د کابل رژیم تصور یې پریوه واهې امید بدل کړ. نجیب الله د ګورباچوف د بیرته راستنیدو د مبارکۍ په پیغام کې چې د ۱۳۷۰ د زمرې په دیرشمه/د ۱۹۹۱ په اګست کې یې مسکو ته واستاوه، وویل: "موږ ډیر بختور یو چې تاسې بیرته مسکو ته راوګرځیدئ او اوضاع ستاسې ترڅارنې لاندې ده. د افغانستان په قضیه کې به د شوروي اتحا دنقش تکمیلي وي. موږ سره دوه دوست ګاونډیان یو او تاسې د ۱۹۸۸ کال د ژنو د توافقاتو یو ضامن هیواد یاست، چې د همدې توافقاتو پر اساس روسي عسکر په ۱۹۸۹ کې له افغانستانه ووتل.

ببرک کارمل د ۱۳۷۰ په وری/ د ۱۹۹۱ د اګست په وروستیو کې دسلطان علي کشتمند په مرسته هڅه وکړه چې ددیموکراتیک ګوندله کورنۍ انتشار نه چې په زرګونو کسان یې بهرته وتښتیدل، په ګټې اخستنې سره یونوی ګوند تشکیل کړي. دا پلان هله رامنځ ته شو چې داکتر نجیب الله د ۱۳۷۰ د وری

پر ٤مه/ د۱۹۹۱ داګست ۲٦مه دشوروی دهرج ومرج له اسله یوه اعلامیه خپره کړه چې دوطن ګوند درئیس فرید مزدک په واسطه اعلان شوه اوپرهغې یې اعتراف وکړ. دنجیب رژیم هغه سهال دشوروی اتحاد په وړاندې عکس العمل وښود چې بوریس یلتسن عملاً دنجیب پر رُژیم انتقاد وکړاویې ویل: "دشوروی خلک دتولو بهرنیو مسایلو په پرتله خورو اودسون موادوته ارتیا لري. تردې دمخه دنجیب انتصابي صدراعظم فضل حق خالقیار له روسانو نه دیو سلو پنځوس زره تنو غنمو غوښتنه کړې وه.

دکارمل پلوی کمونستانو هڅه وکړه چې دنجیب الله په وړاندې یوه کودتایي پلان عملي کړي اوزیاتره کمونستان چې په انزواکې وواویایي دنجیب له سیاسي اقداماتو سره مخالفت درلود، پرڅان راټول کړي، خوپه کابل کې حالات بدل شول اودتیښتې اوله مجاهدینوسره دکمونستانو دیوځای کیدوفضا ددې توطې پایښت نشوای تضمینولای. له بلې خوا بوریس یلتسن دشوروی اتحاد دشریدواودیوه مستقل هیواد په توګه د روسیې دتشکیل په اړه له امریکا سره موافقې ته رسیدلی وچې نورافغاني کمونستانو ته دهیلی ځای پاتې نه شو. په کابل کې موجودوسفارتونو ته دکمونستانو ورتګ زیات شو اودهند سفارت درپوټ پراساس، دشوروی څواکونوله وتلوسره جوخت یې افغاني کمونستانوته لس زره ویزې جاري کړې.

د ۱۳۷۰ د ورې پر پنځلسمه/ د ۲۷/۹/۹۱مه کارمل پخپل کورکې تر نظارت لاندې ونیول شو او تر دوسوو زیات پلویان یې ونیول شول چې یو شمیر نظامي افسران هم پکې شامل وو. د نجیب پرخلاف د کارمل خوښنتونه په مسکو کې د ګورباچوف پر خلاف له خوښنتونو نه تقلید و چې د پرچم ګوند تر منځ یې اختلافونه زیات کړل. خلق ډله هم د اختناق له دې حالته د تیښتې لار لټوله.

## *لومړنی اعتراف او په اختناق کې غبرګون*

شوروی اتحاد رسماً له مجاهدینو نه وغوښتل چې په مسکو کې سره وګوري. د نجیب ترمنځ داخلي اختلافات زیات شول او د دیموکراتیک ګوند د مرکزي کومیټې څلورو غړو د نجیب پر اجرآتو انتقاد وکړ او د ظاهر شاه بیرته راتګ یې د مسألې د حل په توګه پیشنهادکړ.

د سولې په پلان کې چې د ۱۳۷۱ د ورې پر ۲٦ مه له کابل رادیو نه اعلان شو، د رژیم مرکزي کومیټې وویل چې شوروی اتحاد، جنرال نجیب او افغاني کمونستان د افغانستان د ټولو بدبختیو مسؤول دی (٦۷) د "زبان صلح" چلوونکی غلام سخي غیرت چې د آزادې جریدې مسؤول و د حکمتیار د بیانیې په خپرولو زنداني شو او نشریه مصادره شوه. د لیکوالو د اتحادیې رئیس رهنورد زریاب چې د کابل تایمز مسؤول مدیر هم و او صدیق روهي د علومو د آکادمي د پښتو ادبیاتو د برخې امر اویو شمیر نور روښانفکران د کابل رژیم مخالف و.

## نجیب او د ائتلافي حکومت سیاسي مانور

نجیب الله د ۱۳۷۰ دوړی پرشپږمه/ د ۱۹۹۱ دستمبر ۲۸مه په خپله یو اوږده وینا کې چې درادیو او تلویزیون له لارې خپره شوه، دیوه لنډمهالي حکومت د تشکیل وړاندیز وکړ؟ داسې چې تولې په جنګ کې اخته ډلې پکې راټولې شي. هغه په صراحت سره د ظاهر شاه د پلویانو، د مجاهدینو دنیمه لبرالو ډلو، په ایران کې د میشتو شیعه ډلو او په امریکا او اروپا کې د میشتو افغانانو نومونه واخستل او وبې ویل: "دغسې یو حکومت کولای شي د هغه له حکومت سره د صدر اعظم فضل حق خالقیار تر ریاست لاندې او په پېښور کې میشت مجاهدین، یوه کلي تفاهم ته سره ورسیږي خو هغه په دې حکومت کې د حکمتیار، سیاف، خالص، او رباني د بنسټپالو ګوندونو ګډون رد کړ.

یوه ورځ وروسته محمد ظاهر شاه دامریکا غږ له درې سرویس سره په مرکه کې د نجیب داوړاندیز رد کړ او د ملګرو ملتو د پنځه فقره ییز پلان د تطبیق غوښتنه یې وکړه. ظاهر شاه په خپل غبرګون کې د نجیب له حکومت نه ناخوښي څرګنده کړه؛ ځکه نجیب تردې اعلان یوه میاشت دمخه د رسنیو خپرنیو له لارې امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ د لوی قاید په توګه یادکړ او محمد نادر شاه یې د پیرنګیانو لاسپوڅی وګاڼه. نجیب وروسته ډېر نرمښت وښود او د محمد ظاهر شاه افغاني هویت یې چې د ۱۳۵۷ د ثور په لومړیو کې د نور محمد تره کي په حکم اخستل شوی و دیوه پیغام په ترڅ کې بیرته ورکړ او افغانستان ته د هغه د بیرته راتګ په اړه یې زره راښکون وښود. د ظاهر شاه ویاند له نجیب سره د واک ویش ردکړ.

د ۱۳۷۰ د تلې پر ۹ مه/ د ۱۹۹۱ د اکتوبر لومړۍ نیټه نجیب الله د رادیو له لارې اعلان کړه چې غواړي له ګرد افغانستانه قومي او محلي شخصیتونه د مختلفو اړخونو د ګډ پروګرام د پیلولو په اړه د باصلاحیته مرجع په توګه راوغواړي. حکمتیار، خالص او سیاف په همغه ورځ دا پروګرام ردکړ او هغه یې د افغاني قومونو او جهادي ډلو ترمنځ د اختلافاتو د زیاتولو په خاطر د نجیب او خاد یو بل سیاسي مانور وګاڼه. شوروي له ړنګېدو ورته لوڅۍ تولنې نه وغوښتل چې، د افغانستان د واک په راتلونکې سیاسي ویش کې د نجیب رژیم ته د بقا چانس ورکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو د وزارت معین اکرم ذکي د امریکا دکولمبیا پوهنتون شاګردانو ته پخپل کنفرانس کې وویل: "دکمونستانو او مجاهدینو ترمنځ د واک ویش دکابل رژیم ته پایښت نشي ورکولای" (٦٨)

د نجیب الله سیاسي مانور د مجاهدینو ترمنځ د اختلافونو په زیاتولو کې مهم رول ولوباوه او د مجاهدینو عبوري حکومت خپل مؤثریت له لاسه ورکړ. حکمتیار، خالص او رباني له عبوري حکومت نه ووتل او دنجیب وړاندیزیې هم ونه مانه. وروسته سیاف هم له بنسټپالوګوندونو سره ملګری شو.

یادښت: د افغانستان پېښې د ۱۳۷۰ د تلې/ د ۱۹۹۱ له اکتوبر نه د دریځنیونو او پېښو پر اساس چې په پرتلیزه توګه تحلیل شوي دي ددې کتاب په اتمه برخه کې د: بېلن سیوان او له مختلفو خواو سره یې مذاکرات تر سرلیک لاندې ولولې.

# په افغانستان کې د کمونستانو جنایات

په افغانستان کې د کمونستانو جنایات یو تاریخي بحث دی چې نشوکولای سرسري ترې تېرشو مګر دا چې مو په دې باب په یوبل کتاب کې پردې مسأله اورد بحث کړی، دا لنډې خبرې د تاریخي پېښو د تداعي په توګه راوړم.

۱- *د واخان الحاق*: روسانو غوښتل د کابل له کمونستي رژیم سره د یوې معاهدې له لارې واخان د افغانستان له شمال ختیزې برخې نه جلا کړي. د افغانستان دا غرنۍ برخه چې زیاتې سرشارې طبیعي زېرمې له هغې جملې نه قیمتي کاني، یورانیم او سره زر لري چې اشغالګرو قواو پکې نظامي پایګاه جوړه کړه. روسانو ددې سیمې د څارنې په نامه د هغې سیمې ټول خلک هجرت ته اړایستل. ددې سیمې زیات خلک د چین مسلمان میشتو سیموته مهاجر شول. روسي متخصصینو د خپل حضور پر وخت د ګران بیه کانو په را ایستلو هم پیل وکړ. اوس هم زموږ شمالي سرحدات د جعلي نخښوپه وسیله تغییر کړي. روسانو ددې برخې ځینې سیمې د تاجکستان په واخان پورې تړلې دي.

"کابل او مسکو د ملګرو ملتو د توضیح غوښتنې په وړاندې د واخان له الحاق نه انکار وکړ، په داسې حال کې چې دا الحاق په ۱۳۵۹/۱۹۸۰ کال کې تر سره شو او له نوموړې هیواد سره د واخان د الحاق قرار داد په ۱۳٦۰ش/۱۹۸۱م کال لاسلیک شو. یاد شوی موضوع یو ځل د کابل راډیو له لارې خپره شوه خو ډیر ژر ترې انکار وشو. یوه ایټالوی خبریال چې ویې کړای شو ځان واخان ته ورسوي، د شوروي د بېرغونو چې د دولتي مؤسساتو پرسر رپېدل، عکسونه واخستل" (٦۹)

د ٦۰ *ملیونو ماینو بنخول*: یو له هغو هیوادو چې له زیاتو ستونزو سره مخ و، او روسي بلوسګرو یې د بدبختي تاد اوکښیښود، افغانستان دی. روسانو په افغانستان کې د ٦۹ ملیونو ماینو په ښخولو سره د ۱۳۷۲ش/۱۹۹٤م تر پایه پورې له ۵۰-۵۰۰ زره قربانیان درلودل د اریوټ امریکایي څېړاند سکاټ مک لیو په تایم مجله کې خپور کړی دی. هغه لیکي: "نظامي متخصصین پر دې باور دي چې، د افغانستان په خوارلس کلن جهاد کې روسانو په هغه هیواد کې ۹ ملیونه، ماینونه ښخ کړي دي" هغه ښخ کړای شوي ماینونه (پټ شوي قاتلان) نومولي دي. او لیکلي یې دي چې په افغانستان کې د ٦۰ ملیونو پټ شویو قاتلانو احصائیه اخستل شوې ده." (۷۰)

روسان له دی جنایاتو سره له افغانستانه تر وتلو وروسته پردی بسیانه شول او دکورنیو جنگونو په زیاتولو سره یې تر اوسه د افغانستان شمال ته د نورو ماینو رالیږلو لړی جاری ساتلې ده. له پاریس نه د بروس کروملی د رپوټ له مخې، تراوسه په افغانستان کې له ۳۵۰-۵۰۰ زرو پورې کسان د ماین قرباني شوي دي او له هر ولسو کسونه اته کسه پخوا تردې چې روغتون ته ورسیږي، له منځه تللي دي.

۳- *د کانو او نفت و گاز را ایستنه:* که چې روسان پوه شول چې د افغاني مجاهدینو په وړاندې د مقاومت وس نه لري او د لاربښود کدر په بدلون سره چې، گورباچوف لادمخه د روسیې په پارلمان کې پر افغانستان د شوروي تجاوز محکوم کړی و، روسي اقتصادي متخصصینو هاندوکړ چې د افغانستان د نفتو او گاز و د کوهیانو په بندولو سره چې د څلویښت کلنې پانگې اچوني او اوږده کار وزیار نتیجه وه، له افغانستان سره یو ځل بیا خپله دښمني سرته ورسوي. روسانو د ۱۳۶۷ له تلې نه ترسرغوبې/د۱۹۸۸ له اکتوبره تر دسمبره، د افغانستان په شمال کې لاندې نفتي حوزې بندې کړې.

- په درزآب پوړې مربوطه د چهارسای حوزه چې دولس نفتي کوهیان یې درلودل. داکوهیان یې تر ۴۷۰۰ مترو پورې له سمنتو ډک کړل او هغه ځای یې تخلیه کړ.

- د (طلاگل) گازي حوزه چې اتلس کوهیان یې درلودل. روسانو داکوهیان تر ۴۵۰۰ متر پورې په سمنتو ډک کړل.

- د (جنگل کلان) او (جمعه) گازي حوزه چې د کوهیانو شمیرېې نامعلوم دی ټول یې بند او تأسیسات یې له منځه یوړل.

- د جرقدوق حوزه او د گازو د تصفیې فابریکه چې ۲۶ گازي کوهیان یې درلودل، زیاتره ځاگانې بندې کړای شوي او تأسیسات یې فلج کړای شوي دي.

له نوموړو تأسیساتو نه په کال کې په اوسط دوه لس ملیارده مکعبه گاز استخراج او روسیې ته صادریدل. د روسانو د جنایاتو دلایل دا و چې له یوه خوا د افغانستان اقتصادي او تولیدي تأسیسات له منځه یوسي، چې افغانستان پردیو ته اړ او محتاج وي او له بلې خوا د افغانستان د نفتو او گازو د کوهیانو په ډکو سره په مرکزي آسیا کې د خپلو نفتو او گازو انحصاري سرچینې تقویه کړي" (۷۱)

٤- *د دوو ملیونو افغانانو وژنه:* یو بل ستر جنایت چې زموږ د هیواد په تاریخ کې دیوی پیچلې مسألې په توگه دبحث وړ دی، د روسانو د څوارلس کلن تجاوز او دهغوی دلاسپو څو د دکتاتورانه واکمنۍ په دوره کې په کرهاله، درهٔ صوف، هرات، چنداول، د کابل د کب د دریمې نیټې، د کابل پوهنتون د محصلینو، نجونو او هلکانو، او کابل او ولایاتو په زندانو کې تولوژنې (قتل عامونه) د روسانو او خلقي - پرچمي کمونستانو له وحشتونه گنل کیږي. خو یو بل واقعیت چې سترجرم گنل کیږي، په گرد افغانستان کې پر کلیو او قریو د روسانو او کورنیو کمونستانو پراخې حملې دي. روسانو په دې حملوکې کیمیاوي، زهري او او رزیږوو وسلې و کارولې او تر دوو ملیونو زیات انسانان یې چې ښځې، کوچنیان،

ځوانان او سپين ږيرې پکې شامل وو، ووژل

د هاليند چاپ السوير Elsvier مجلې د۱۹۹۱ په ۱اگست/د۱۳۷۰ په زمرې کې وليکل: "په دوو وروستيو کلونو کې يعنې له افغانستانه د روسي بلوسکرو لښکرو دو تلوراسې روسې ۲۵۰۰ لرې ويشتونکې سکډتوغندي د روسې مشاورينو او نجيب د رژيم په واسطه په ازادو ځمويو ښارونو او د مجاهدينو ترولکي لاندې سيمو توغول شوي دي او په زرگونو سړي يې پرځای پريښي دي. روسانو خپلې تولې هغه وسلې چې افغانستان ته يې راوړې وې نجيب ته پريښنو دي."(۷۲)

۵- *سايبريا ته د سياسي بنديانو استول:* د روسانو يو بل ستر جنايت چې تر اوسه د ابهام تر پردې لاندې پټ پاتې شوی دی، د سياسي بنديانو مسأله ده چې د رپوټو له مخې د کابل کمونستي رژيم له خوا په مختلفو دورو کې له رژيم سره د مخالفت په گناه پخواني شوروي، خصوصاً سايبريا ته استول شوي دي. دا جنايت به پخوا پخپله پر هغو روسي افرادو تطبيقيده چې د واکمن رژيم مخالفين به وگنل شول؛ چې په افغانانو يې هم د تطبيق امکان زيات دی. د ۱۳۷۱ د زمرې پر لوسړې/د ۱۹۹۰ د جولای پر ۲۳ مه، په پيښنور کې د حزب اسلامي د اطلاعاتو اداری د اختر محمد په نامه ددغه ډول يوه بندي په باب رپوټ ورکړ چې متن يې داډول دی:

" د افغانستان مؤمنو هيوادوالو: موږ ستاسې ورونه چې د خاين حفيظ الله امين په وخت کې په ۱۳۵۷ کې په کابل کې بنديان وو او بيا وروسته شوروي ته انتقال کړای شو، تر اوسه پورې د مجرم په توگه د گيلاس جوړونې په يوه فابريکه کې بې تنخواه کارکوو. زموږ شمير ۱۵۰۰ کسانو ته رسيږي. ژوندي او روغ رمټ يو هيله ده زموږ دا ليک هر مسلمان ولولي او د شوروي سفارت ته ولاړ شي او له هغه ځايه زموږ په باب معلومات ترلاسه کړي. نور زيات وخت نه و چې پټ رازونه ښکاره کړم. زه پخپله دلوگر ولايت يم او نوم مې اختر محمد او د پلار نوم مې خير محمد دی."(۷۳)

همدا راز يو بل ليک چې د روسي نه په وارد کړی شويو سالونو کې د پيښور په کارخانو مارکيټ کې د سوداگر له خوا پرانستل شوي، روحاني شخصيت محمد ابراهيم مجددي يې ژوندي ښوولي دي، حزب اسلامي بيا هم د ۱۳۷۱ په جوزا/ د ۱۹۹۲ په جون کې په پيښنور کې اعلان وکړ چې: "د باورې اطلاعاتو له مخې چې ترلاسه کړې يې دې حضرت محمد ابراهيم مجددي چې د قلعه جواد په حضرت مشهور و او محمد اسماعيل مجددي او دکورنې غړی يې تراوسه پورې ژوندي دي او د ازبکستان په يوه زندان کې ژوند کوي." او له شوروي اتحاد نه يې غوښتې وو چې د جنگي اسيرانو د موجوديت په صورت کې، حزب اسلامي د جنگي اسيرانو تبادلې ته چمتو دی.(۷۴)

د رپوټونو له مخې، د کابل کمونستي رژيم د کرملين په دستوراتر ځلو ښتو زرو زيات افغاني بنديان پخواني شوروي اتحادته استول شوي وي.

## د نجیب الله د رژیم رانسکورېدل

کمونستي رژیم د شوروي قواو په وتلو سره، د تناقضاتو، پخپلو کې سره لاس وګریوان کیدو، د نظر د اختلافاتو، انشعاباتو، توروونو، ترور او بهرته د وطن د ګوند غړو تلویاله مجاهدینو سره د پیوستون ښکار شو. دې تناقضاتو په حقیقت کې د کارمل له منځ ته راتګه د نجیب تر سقوط پورې اوږده لاره ووهله.. په لوسرپیو کې سره له دې چې افغاني کمونستانو تصور کاوه چې د شوروي اتحاد له همیشنیو مرستو نه برخمن دي او دشوارګانو هیواد به هم هیڅکله ونه پاشل شي نو ځکه یې جناياتو ته لاس واچاوه او ځانته تګ یې غوره کړه؛ خو د کارمل اداري کمزورۍ، د کاجي یې پټي اړیکي، د کشتمند او نجیب د حزب دننه جلا جریانات، د رژیم د له منځه تلو پیلامه وه. "د کمونستي رژیم دننه هم له کارمله دواک تر لاس ته کولو وروسته د ګوند دننه نوي فرکسیونونه منځ ته راغلي دي. په مقابل کې د خلق ناسیونالستي ګروپ چې د کورنیو چارو د وزارت پرخارندوی (پولیسو) متکي دی په پرچم کې مسکو ته وفادار دری ګروپونه دي چې عبارت دي له:

د نجیب پرچم، د ببرک پرچم، او د کشتمند پرچم. ددې ګروپونو پیروان په دولتي امنیت (واد – خاد) هوایي قواو، په ګارد او غیر پښتنو روښانفکرانو کې لیدل کیږي. په کابل کې د داسې ګروپونو ترمنځ زیاتره وسله وال ټکرونه هم لیدل کیږي. د افغاني کمونستانو ګوند (ح. د. خ. ا.) سیاسي سقوط د شوروي قواو تر ستنیدو وروسته ډیر ژر عملي شو؛ خو د شوروي مشاورینو په موجودیت کې به شاته ولویږي." (۷۵)

کله چې روسي قواو له افغانستانه په وتلو پیل وکړ، په شوروي اتحاد کې هم بدلونونه راښځ ته شول. دې بدلونو د کابل پر رژیم مستقیمي اغیزې درلودې. د ۱۳۷۰ په مرغومي/۱۹۹۱په دسمبر کې شوروي اتحاد و شړید او د شوروي اتحاد پنځلسو جمهوریتونو خپله خپلواکي اعلان کړه. د شوروي په له منځه تګ سره، پر افغانستان مرستي هم وځنډیدې چې دې کار د کابل رژیم دننه اختلافاتو ته لمن ووهله.

د ۱۳۷۰ په وروستیو/ د ۱۹۹۱ په پیل کې د نجیب یو شمیرجنرالان له هغه نه جدا شول، د دفاع وزیر جنرال شهنواز تنی کودتا او له حزب اسلامي سره یې پیوستون سره له دې چې له ناکامي سره مخ شو، خو د رژیم پایې یې ولړزولې. د جنرال عبدالرشید دوستم په مخالفت او په شمال کې دجنبش ملي په تشکیل سره په داسې حال کې چې په کابل کې یې بالقوه نظامي حضور هم درلود، د نجیب رژیم د مرګ د پولوپرلور ګامونه واخستل؛ په داسې توګه چې نجیب باید واک مجاهدینو ته وسپاري. دیکوکاردو ویز له ۱۳۶۷ش/۱۹۸۸م نه وروسته د کتنو په ترڅ کې د نجیب پر استعفا ټینګار کاوه چې د نجیب له خوا و منل شو. داسې انګیرل کیده چې ښايي سید محمد ګلابزوی د لنډمهالي دوري لپاره واک ترلاسه کړي. په هغه رپوټ کې چې د مسکو له خوا ملګرو ملتو ته وراندې کړای شو چې مسعود باید د نجیب پر ځای واک ترلاسه کړي، د پاکستان چاپ مسلم انګلیسي ژبې ورځپاڼي ولیکل: "د۱۹۸۸ د جولای پر

۲۸مه/د۱۳٦۷م د زمرې ٦مه د مسعود او روسانو ترمنځ نوی اوربند وشو" (۷٦) "د ځینو نورو کړیو له خوا د نجیب پر ځای دپنجشیر د قوماندان احمد شاه مسعود د ناستې خبرې کیږي. سور ته له تصوره ډیره لرې بنکاري چې روسان هغه د خپلو قواو د نوی کس په توګه وټاکي او له جنجال پرته ورسره سازش وکړای شي؛ مګر دا چې د مخه د هغوی ترمنځ اوربند شوی دی، موضوع واقعیت ته نژدې کوي." (۷۷)

د مجاهدینو سشرانو اعلان کړی و چې د روسي ځواکونو په وتلو سره به د کابل رژیم په یوه میاشت کې راوپرځیږي خو دا وړاندوینه سهي ثابته نه شوه. نجیب پر اسلام منګولي ښخې کړې، په بنکاره بې ځان مسلمان ګڼانه او عظیم الشان قرآن به یې په لاس کې ساته چې بیایي هم زموږ اولس له سرخوږ سره مخ کاوه. مجاهدینو د تاریخي واقعیتونو په درک کولو سره نشوای کولای کمونستان د اسلامي افغانستان په اداری کړي کې وګوري او یا یې ومني. د افغانستان یوه مسلمان ژورنالست د هغه مهال تاریخي واقعیتونه درک کړي او لیکلي یې وو: "د افغانستان خلک د نجیب او د هغه د ګوند درواغجنه مسلماني او افغانیت ښه پیژني او د دې تاریخي لاسپوڅي په خیرونه غولیږي. مګر په خواشینۍ سره د نویو پیښنوبهیر او د جهادی تنظیمونو بې اتفاقي او له دې واقعیتونه د نجیب ماهرانه تبلیغاتي ګټه اخستنه د نجیب د واک او د هغه د ګوند عمر زیات کړی دی." (۷۸)

روسانو د خپل سیاسي حیثیت دا عادي پخاطر او نجیب او دیموکراتیک ګوند د آرامي پخاطر، په هغو مذاکراتو کې چې نجیب په مسکو کې د ګورباچوف سره ترسره کړل، هغه ته داډ ورکړل شوی و چې مسکو به د مجاهدینو ترمنځ د اختلافاتو د زیاتولو او دیموکراتیک جمهوریت په ټینګښت کې خپل نقش ترسره کړي. په همدې خاطر روسانو له افغانستانه تر وتلو دمخه دنجیب اردو تقویه کړه او یولړ پروګرامونه یې ورته وضع کړل او نظامي تمرینونه یې اجرا کړل چې روسي پوستي څه دول وساتلای شي. له بلې خوایې په تبلیغاتي کچ لوی پروګرامونه تر اجرا لاندې ونیول.

د مجاهدینو په منځ کې ددې پرځای چې مرسته سلګرتیا راسنځ ته شي، هر تنظیم له نورو سره په اختلاف کې جلا تګلاره خپله کړه او هر یوه ځان د افغانستان د راتلونکې واک او ځواک یې سیاله میراث خور ګڼله. په دې اخ وډب کې مذهبي اختلافات هم ورځ په ورځ زیاتیدل. غیر ښښتنو د تاریخي اسنادو په استناد چې زیاتره ښښتانه په واک کې پاتې شوي وو، واک ته د لږکیو درسولو پلویان شول چې د هغوی په اند یې "ملي ستم" شوی وو. امریکا د اصل او نورو اړوندو هیوادو د فرعي په توګه له افغان رهبرۍ سره زړه راښکون نه درلود. امریکا پخپله دریځنیونه کې پردې پوهیده چې زیاتره جهادي تنظیمونو جهاد پر اسلامي تګلاره پیل کړی دی او ځواکمن شوي دي، نو ځکه یې په افغانستان کې له یوه اسلامي نظام سره زړه راښکون نه درلود او خپلې مرستې یې ودرولې. بشري مؤسساتو او کومیتو هم له مجاهدینو سره له نژدې والي نه ډډه کوله. هغوی خپل اورګانونه مستقل اوله خلکو سره د مرستو غوښتونکي شول. دغه دول یاد شوي عوامل ددې باعث شول چې د نجیب رژیم په اوږده موده کې

رانسکور شي چې د ۱۳۷۱ په حمل/د ۱۹۹۲ په مارچ کې د نجیب رژیمساه ورکړ.

## د نجیب الله ژوند لیك

نجیب الله د اختر محمد زوی او د پکتیا ولایت احمد زیو قوم ته منسوب و. په ۱۳۲۵/۱۹٤٦ کال زیږیدلی. لومړنی زده کړه یې په ګردیز او متوسطه یې په پیښوربښار کې چې پلار یې په ۱۳۳۹/۱۹٦۰ کال هلته د افغانستان د وکیل التجار په توګه وټاکل شو، سرته رسولې دی. نجیب دلیسې دوره په حبیبیه کې او خپلې تخصصي زده کړې د کابل پوهنتون په طب پوهنځي کې په ۹ کالو کې سرته ورسولې. نجیب د پرچم ګوند غړی و او په مظاهرو او د احزابو په جنګ کې یې خرابکارانه نقش درلود. هغه د محصلینو په اتحادیه کې هم تنظیموونکی غړی و اوله ګلبدین حکمتیار سره یې د عقیدو پر اختلاف یو ځای کار کاوه. یو ځل د امریکا د جمهوررئیس د مرستیال اګنیو د سپړلي پرموټر په حملې سره زندان ته واچول شو چې د پلار په تضمین یې چې شاهي کورنۍ ته یې وکړ راپریښنو دای شو.

نجیب الله د ثور د اووسې نیټې ترکودتا د مخه د مسکو له سفارت سره دوستانه او مستمرې اړیکې درلودې او څو ځلې دجاسوسې زده کړې لپاره شوروی ته ولاړ. نجیب په ۱۳۵٦/۱۹۷۷ کال د خلق ددموکراتیک ګوند د مرکزي کومیټې غړی شو او د ۱۳۵۷ د ثور ترکودتا وروسته یې د انقلابي شورا غړیتوب ته ارتقا وکړه. څه موده وروسته د خلق او پرچم ترمنځ د اختلافاتو په رامنځ ته کیدو سره پرچمیان له واکه وغورځول شول او د افغانستان د سفیرانو په توګه بهرته واستول شول چې په دې لړکې نجیب په تهران کې سفیر شو. کله چې حفیظ الله امین د کارمل له ډلې نه وغوښتل چې د تره کي اودده پر خلاف د کودتا په اړه خپل ځواب ووایي او د کشتمند او رفیع چې په پلچرخي کې بندیان وو، ځرګندونې تأیید کړي، نجیب الله په تهران کې د افغاني سفارت شتمني له ځانه سره واخستې اومسکو ته ولاړ. نجیب د ۱۳۵۸ د جدی ترشپږمې نیټې پورې یو لړ نظامي او اطلاعاتي زده کړې ترسره کړې چې له ځانه یې خاص لیاقت وښود او د کرملین د مقاماتو د پام وړوګرځید.

ډاکتر نجیب د ۱۳٦۵ په جوزا/د ۱۹۸٦م په مې کې دروسانو له خوا د افغانستان د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو او کارمل په شوروي کې د توري بحیرې پرغاړه استوګن کړای شو. نجیب پخپله سیاسي تګلاره کې، دوې متفاوتې تګلارې خپلې کړې: یوه دا چې داردو د تنخواه ګانو په زیاتولو، بنو امکاناتو، بنې غذا، سانورونو او له ایدلوژیکو فعالیتونو نه په ځنګ کولو سره یې د اردو روحیه پیاوړې کړه او بله دا چې یوګوندي سیستم یې لغوکړ او پلار وطني ملي جبهه یې چې کارمل یې په پښو ودرولو کې ناکام شوی و، د "ملي پخلاینې" ترنامه لاندې فعاله کړه او له پخواني پاچا محمد ظاهر شاه نه یې وغوښتل چې له روم نه کابل ته راستون شي او واک په لاس کې واخلي. له مجاهدینو نه یې هم وغوښتل چې په داسې یوه ډول د ملي پخلاینې په بهیر کې ور شریک شي، چې د کابل رژیم هم په واک کې ګډون ولري. په

داسې حال کې چې نجیب د عامه اذهانو د غولوونکو تبلیغاتو سره سره په ټول هیوادکې پر مجاهدینو شدیدې حملې پیل کړې. زه (لیکوال) د ۱۳٦٥ د لوی اختر پرشپه د لوګر په محمد آغه کې وم چې نجیب الله پخپله راډیویي ویناکې حکمتیار ته بلنه ورکړه چې وسله پر زمکه کېښېږدي، کابل ته ورشي او د اختر لمونځ هلته په پل خشتي جومات کې اداکړي. نجیب وویل: "ما ټولو وسله والو ځواکونو ته لارښوونه کړې ده چې د اختر په ورځوکې عمومي اور بند رعایت کړي."

حکمتیار کابل ته ولاړنه شو او پوهیده چې دا چل ول دی. د اختر د لمانځه د اداکولو پر وخت پر خلکو د کابل د رژیم بمبار پیل شو او په سلګونو کسه شهیدان شول. د کابل رژیم د اجراآتو او اقداماتو حاشیوي عوامل هم ددې باعث شول چې مجاهدین د نجیب پسته ژبه ونه مني او پخلاینې ته چمتو نه شي. نجیب د ملي پخلاینې په برنامه کې په داسې حال کې چې عظیم الشان قرآن یې په لاس کې اخستې و، خلکو ته وویل چې هغه یو کمونست نه بلکې یو ملت پال دی او پخپله یې د ظاهر شاه د حکومت په اجراآتو انتقادکاوه چې عامه اذهان تېرباسي.

د ۱۳۷۰ ورې په ۳۰/۱۱ مارچ ۱۹۹۱ کې چې مجاهدینو خوست ونیو د نجیب روحیه کمزوري شوه. روسان هم پوه شول چې نور له مجاهدینو سره د مقاومت وس نه لري نو د خپلو ځواکونو دایستلو دلارو چارو په فکرکې شول. نجیب مسکو ته ولاړ او له میخاییل ګورباچوف سره یې د ژنیو د توافقانو په لړ کې چې په ۱۹۸۸/۱۳٦۷ کې لاسلیک شوي وو، توافق وکړ. په دې توافقانوکې مجاهدین د افغانستان په قضیه کې دیوه سیاسي لوري په توګه له پېژندلونه ګوښه کړاي شوي وو. هغه مهال چې د تخار ترپېښې (چې په هغې کې د جمعیت اسلامي څوکسه قوماندان ووژل شول) د مجاهدینو او په ځانګړې توګه دحزب اسلامي او جمعیت اسلامي اختلافات او یو د بل پر خلاف تبلیغات اوج ته رسیدلي وو. د مجاهدینو تر منځ یې د همغږۍ او ګډ دریځ امکانات له منځه وړي وو. حزب اسلامي د خپلو نظامي او اطلاعاتي فعالیتونو په وسیله وکړای شو چې د رژیم یو شمیر جنرالان او عالي رتبه مامورین له مجاهدینو سره پیوستون ته وهڅوي. په ۱۹۹۰/۱۳٦۹ کې د دفاع وزیر شهنواز تنې کودتا ته اقدام وکړ اوددې امکان و چې نجیب راوپرځېږي. تنې غوښتل د نجیب د رژیم په له منځه وړلو سره، واک حزب اسلامي ته وسپاري. د پخواني ژمنې پراساس، سره له دې چې کودتا ناکام شوه، تنې له خپلو یو شمیر ملګرو سره پاکستان ته ورغی او حزب اسلامي د خپلې عمومي بخښنې تر فرمان لاندې راووست.

د شوروي په شړیدو او دکابل رژیم په نه ملاتړ سره د نجیب د له منځه وړلو زمینه زیاته شوه او د دموکراتیک ګوندکورنۍ اختلافات هم زیات شول او د کارمل پلویانو هڅه وکړه چې د نجیب په له منځه تګ سره د افغانستان په شمال کې یوه جلا اداره جوړه کړي او د افغانستان د تجزیې پلویان وو. نظامي جنرالانو د نجیب له ملاتړ نه لاس واخست او غوښتل یې له مجاهدینو سره د پټواړیکو په درلودلو سره ځان ته د ژغورنې لار پیداکړي. نجیب، د هغه دیوه نژدې ملګري اسحق توخي په وینا، په پورتنې توطیه

کې ارګ ته له تلونه ډډه وکړه او د کابل هوايي ډګر ته روان شو چې هند ته ولاړ او له خپلې کورنۍ سره يو ځای شي. په دې توطيه کې د خاد وزير جنرال فاروق يعقوبي ووژل شو او نجيب ونکړای شو چې له افغانستانه وتښتي. نوموړی د ملګرو ملتو دفتر ته پناه يوړه او د پناه اخستنې غوښتنه يې وکړه. کله چې طالبان د ۱۳۷۵ د تلې پر ٦/۵مه شپه / د ۱۹۹٦ دسمبر پر ۲٦مه کابل ته ننوتل، د شپې يوه بجه يوه، وسله واله ډله د ملګرو ملتو دفتر ته ورننوته او ترلنډو ناندريو وروسته يې نجيب او د هغه ورور شاهپور احمدزی ووژل. د هغوی جسدونه يې څو ورځې ارګ ته څيرمه په آريانا چوک کې ځوړند کړي وو، تر يوې اوونې وروسته، د احمد زيو د قوم په منځګړتوب يې اجازه ورکړه چې هغوی په پکتيا کې ښخ کړي.

يادښت: که څه هم وروسته بيا د طالبانو يوه مهم چار واکي ملا عبدالرزاق چې څه موده له جنرال عبدالملک سره په سيمنه کې اسير او بندي و، له بنده ترخلاصيدو وروسته له کراچۍ نه په اردو ژبه خپريدونکي طالب پلوې "ضرب مؤمن" اوونيزې جريدې سره په يوه اوږده مرکه کې د نجيب د وژنې مسؤوليت پر خپله غاړه واخست؛ خو سياسي کړي لاهم دي ته د شک په سترګه ګوري او د پاکستان د نظامي اعتخباراتو لاس پکې د خيل بولي خوپه دې اړه کوم ښکاره ثبوت نشته او څنې هم پردې عقيده دي چې هغه د تنې د ملګرو له خوا وژل شوی دی خو په هر حال نجيب چې څه کړلي وو، هغه يې وريبل (ژباړن)

# د کمونستانو د دورې ژورناليزم

. تردې ځايه پورې مو په هيواد کې واکمن نظامونه د هغو له سرچينو او منشاو او څرنګوالي اوله خلکو سره يې اړيکې په لنډه توګه وڅيړلې چې په هغې د واکمن ځواک مناسبات له مطبوعاتو سره په وضاحت سره ليدل کيږي مګر د کمونست رژيم او ثور کودتا په برخه کې په بل ډول وڅرخيدل چې د روسانو د تجاوز لپاره يوه پيلامه وه. د کمونستانو د دورې مطبوعاتو، تولنيز مناسبات په ځانګړې توګه ژورناليزم نه دا چې له فکري او سياسي تحجر سره مخ کړ بلکې د واک دا رکن يې عقده منو کسانو پخپلو آمرانه نظرياتو سره پخپل چور ليز (محور) څرخاوه چې د ژورناليزم په تاريخ کې يوه داسې فاجعه وه چې په افغانستان کې يې د سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي سقوط تاد اوکښيښنود. د کمونستانو د دورې ژورناليزم زياتره شعار وزمه، متحجر، ديکته شوی او له هر ډول هنري او ادبي تخليق نه تش و؛ لکه چې د نړۍ د ژورناليزم په تاريخ کې د کمونستي مطبوعاتو تاريخ جلا برخه لري او تخصصي بحث ايجابوي. د کمونستانو د دورې مطبوعات په ښکاره د شعاروزمه محتوا سره د رژيم د اهدافو بيانوونکي وو چې ځان يې د مارکسيزم – لينزم دو آتشه داعي معرفي کاوه؛ خو د مطبوعاتو محتوی د کمونيسم د نظرياتو نه

تشه وه. د کمونستانو مطبوعات د شوروي د مطبوعاتو هنداره او شعارې او د چوکاټ بندې شویو بیانو، بیانوونکي او د کابل رژیم د مشرانو د محدود دید ساحه کنټل کېده. پردې سربېره د شوروي د تاریخي ورځو درناوی؛ مثلاً د کار ګروږځ، د اکتوبر انقلاب، د لېنن د زوکړې ورځ او امثال يې ترسسکوه هم د افغانستان په مطبوعاتو کې په ډېر طمطراق سره منعکس شول.

د تره کي په دوره کې د خلق ګوند دغرو دبشمنانه غبرګونونه مقدس مآبي چې په ديني تضادونو کې يې د عقدو د تبارز بنوونه کوله له يوې خوا اوله بلې خوا سياسي دلي دلبازي، د ملت پرخلاف جنګ وشرارت، وژل، اختناق، د غير مسؤولانه بيانيو وركول ددې دوري مطبوعاتو د منځنيو پيريو د اسرانه او کمونستي مطبوعاتو تلفيقي بنه په ذهن کې تداعي کوله.

مطبوعاتو، د کمونستانو په دوره کې بنيادي بدلون ونه موند بلکي متخصصو افرادو له مطبوعاتي ادارونه ځانونه ګوښه کړل او د مطبوعاتو ازادي له منځه ولاړه. د ابتکار ځای تحجر اوديکته شويو محدوديتوونيو او د ژورنالستانو ترمنځ د اعتماد حس پاتي نشو. ډار او ويرې دليکوال د نظر وسعت له منځه يوړ او په پای کې کمونستي حکومت ځانته منسوب افراد په مطبوعاتي ادارو کې وګومارل چې د کمونستانو مقدس وزمه نظريات تأييد کړي او نور له ځانه وشړي.

د کمونستانو د دوری مطبوعات زمور په هيواد کې د اختناق ديوی دوری مطبوعات ګنل کېږي؛ په دوسره توپير سره چې د تره کي مطبوعات پر غلامي ولاړ مطبوعات وو او پردينې معتقداتو هم تيری کېده. د امين په دوره کې يې هم ځانونه د شوروی د مطبوعاتو د اصولو پيروان ګڼل خو تر ډېره حده د شوروی ورځپانو را اخستنې کمې شوی وی او کله چې حفيظ الله امين پوه شو چې د شوروی له ملاتړ نه برخمن نه دی، لويديځ ته يې په غير مستقيم تمايل سره هڅه کوله چې د شوروی مطبوعات لږ را واخلي. په تبليغاتي برخه کې امين غوښتل چې په کابل راديو کې انګليسي خپرونې زياتې کړی او کابل ټايمز په زيات تيراژ سره خپور او د نړيوالو او د پوهاتانو په واک کې يې ورکړي. امين د ټولو بدبختيو پړه پرتره کي ور واچوله او ځان يې بری الذمه کړ. په داسې حال کې چې د اولس د وژنې او زندان ته اچولو لړی مخ په زياتيدو وه او د امين قصابانو به دورځې له سلګونوکسانو نه پوتکي ايست.

پر افغانستان د روسانو په تجاوز سره، مطبوعات په کلي ډول د روسانو تر انحصار لاندې راغلل. روسي مشاورينو د افغانستان په تبليغاتي چارو کې محوری نقش درلود. د مسلکي او تخصصي خپرونو په شمول ټولې خپرونې بايد جبراً د مارکسيزم – لينينزم ايدلوژيکو مسايلو ته تبليغ کړی وای. همدا راز دروسي خپرونو مقالې پرته له هيڅ ډول تعديله په افغاني نشراتو کې خپريدې. د کمونستانو د دوری په مطبوعاتو کې د ملت پالنې تګلاره د منلو ورنه وه او د همغو مزدورانه شعارونو (مخ په وړاندې د انترناسيونالستي پر ولتا ريابي انقلاب پرلور) په هيواد کې د فرهنګي او هيواد دوستي مينه د ځوانانو له افکارونه وايسته. دې خطرناک پروګرام په حقيقت کې کمونستان د خپلو ملي شتمنيونه بيګانه کړل او که

چیری روسانو، افغانستان د خپلې خاورې د یوې برخې په توګه اعلان کړې وای، نه دا چې کوم غبرګون یې نه بنووه، بلکې تر روسانو به زیات خوشحاله شوی وای او د ګلانو د ګیډیو په وړاندې کولو سره به یې د هغې هرکلې هم کړی وای. روسانو تر تجاوز وروسته د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کومیټې تر نظر او څارنې لاندې مختلفې تبلیغاتي کومیټې جوړې کړې، چې له هغې جملې نه د چاپ اوخپرونو دولتي کومیته، د راډیو تلویزیون او سینما توګرافي کومیته، د خبر رسولو د اژانس کومیته، او د فرهنګ اوکولتور کومیته. دې کومیټو وظیفه درلوده چې د سیاسي زده کړو تر عنوان لاندې د مارکسیزم – لیننزم فکر ته د اداري او مسلکي مامورینو ترمنځ تبلیغات وکړي او د نشراتو په برخه کې هم د شوروي د دله ییزو خپرنیو وسیلو او نشراتو او مطبوعاتو تګلاره خپله کړي.

د اطلاعاتو اوکولتور وزارت په له منځه وړلو او د نومړو کومیټو په منځ ته راتګ سره، روسانو هڅه وکړه تولنیزې اتحادیې او فکري تولنې رامنځ ته کړي. "دا چې په افغانستان کې رښتیني واک د روسي مشاورینو په لاس کې و، کوښښ یې وکړ نه داچې د افغانستان مطبوعات د مارکسستي – لیننستي مطبوعاتو پرشاوخوا وڅرخیږي بلکې د مطبوعاتو له لارې شوروي تجاوز، د افغانستان دیوه ریښتیني دوست په توګه د روسانو انترناسیونالستي مرسته وښیي" (۷۹) روسانو لاندې سازمانونه تشکیل کړل:

۱ – *د ژورنالستانو اتحادیه*: دې اتحادیې د مسکو له مطبوعاتي تګلارې سره تطابق درلود. او بارق شفیعي یې د اداره کوونکي په توګه فعال نقش لوباوه چې د هغو ژورنالستانو او مسلکي افرادو کمبود چې د مخالفت په نامه یې یاله لاسه ورکړې او یا یې له منځه وړي وو، تلافي کړي. دا چې تبلیغات دیوه نظام په پایښت کې اساسي رول لري، هاندوشو چې د ژورنالستانو د اتحادیې په جوړولو سره،یو شمیر ژورنالستان چې د رژیم له اهدافو سره موافق وو او یا یې هغې خواته تمایلات درلودل د ځان خواته راکاږي او په تول هیوادکې نوې مطبوعاتي کدر منځ ته راولي.

ددې اتحادیې په اساسنامه کې ذکر شوي وو چې د دې سازمان له جوړولو نه هدف د افغانستان او شوروي د دوستي ټینګتیا ده. په کابل کې د ژورنالستانو اتحادیې د چکوسلواکیا په پراګ کې د سوسیالستي هیوادو له اتحادیې سره اړیکې درلودې دا اداره د شوروي تر اداري لاندې وه. د ملي پخلاینې په پروګرام سره، د کابل رژیم ظاهراً د دیموکراتیک ګوند چې زیاتره خلکو ورسره حساسیت درلود، نوم نه اخست. د خلکو د جذب بهترینه لار اتحادیې وې. ددې اداري رئیس ظاهر طنین او مرستیال یې عبدالله شادان و.

۲ – *د لیکوالو اتحادیه*: دا سازمان هم د روسانو تر نظر لاندې او دسوسیالستي هیوادو له لیکوالو سره د افغاني لیکوالو د اړیکو په منظور جوړ شوی و. دستګیر پنجشیري د دې سازمان په سرکې واقع و. په پیل کې بیاهم د ملي پخلاینې له فکر نه په ګټې اخستنې سره یې غوښتل د لیکوالو اتحادیه یوه ناپیيلې اداره وښیي. د ۱۳۶۸ش/۱۹۸۹م په پای کې په اتحادیه کې سرې انتخابات ترسره شول چې بارق شفیعي د

دیموکراتیک ګوند په نمایندګۍ او اعظم رهنورد زریاب د غیر حزبي افرادو په نمایندګۍ یې د ریاست لپاره کاندید شول. زیات شمیر کسانو رهنورد زریاب ته رایه ورکړه. نوموړي د ۱۳۷۰ په تله/۱۹۹۱م په اکتوبر کې استعفا وکړه او شخصي کاریې پیل کړ.

د لیکوالو د اتحادیې عملي فعالیتونه د کرملین د سیاسي – فکري تفکر د خپرولو پرشاو څرخیدل، چې داکار داولس د غوښتنو پر خلاف و. سره له دې چې په سلګونو زره کتابونه په پښتو او دري ژبه له شوروي نه د هیواد مرکز او ولایاتو ته رالیږل کیدل خود لیکوالونه زړه راښکون ددې لاسل شو چې، د دې سازمان رشد په ټپه و دریږي او ناکام شي. یو شمیر غیر حزبي لیکوالو د مجبوریتو اویا پلمو پر اساس له همکارۍ نه لاس واخست. تر رهنورد زریاب وروسته، اکرم عثمان د لیکوالو د اتحاد یې رئیس شو. په دې اتحادیه کې دولایاتو برخي هم په پام کې ونیول شوې چې وې نشوای کړای خپل کار پرمخ بوزي. ضمناً د شعر او کیسو د شپو په جوړولو سره یې د لیکوالو را تولیدو ته زمینه برابروله "څرنګه چې د لیکوالو له اتحادیې نه له شوروي تولنې سره د افغاني تولنې د نژدې کولو پخاطر د خلق د دیموکراتیک ګوند د وسیلې په توګه کار اخستل کیده، هغه یې کوله د کلکو نیوکو او تورونو له لارې خلک د شاهي او جمهوري رژیم په وړاندې کرکجن او حزب ته یې خوشبین کړي."(۸۰)

۳– د *هنرمندانو اتحادیه:* دې اداري بیا هم د افغان – شوروي د فرهنګي اړیکو تر اداري لاندې د دواړو هیوادو تر منځ د ګډا او سندرو د پروګرامونو په جوړولو سره رژیم ته د خلکو په راجذبولو کې مهم رول لوباوه. دا چې په افغانستان کې د هنري فعالیتو ساحه محدوده شوې وه او په ولایاتو کې د پروګرامونو عملي کول ګران و په کابل کې محدود پاتې شول او رژیم د اختناق او فساد په فضا کې هنري تمایلات د انحراف خواته راکاږل خوویې نشوای کړای پخپلو اهدافو کې بریالی شي.

٤– *خپرنې مؤسسې:* په افغانستان کې خپرې مؤسسې ډیرې محدودې او ناقصې وې او د دولتي اختناق اوسانسور له لامله لږ کتابونه چاپیدل. په افغانستان کې (۹) دولتي او نیمه دولتي خپرنې مؤسسې موجودې وې چې عبارت وې له: د افغانستان خپرني مؤسسه، دولتي مطبعه، د افغان کتاب خپرنې مؤسسه، تاریخ تولنه (انجمن تاریخ)، د علومو اکادمي، د کابل پوهنتون د خپرونو برخه، د کتاب خپرنې مؤسسه، د معارف وزارت خپروني، او د جغرافیې خپرنې مؤسسه.

# د کابل رژیم خپرونې

*د ۱۳۵۷ له ثور نه د ۱۳۷۱ تر وری پورې*

*د ۱۹۷۸ د اپریل ۲۸ مه - د ۱۹۹۲ مارچ*

ژورنالیزم او مطبوعاتي تګلاره دکمونستي رژیم په مختلفو دوروکې د شوروي د مطبوعاتي تګلارې نه په پیروي سره هڅه کوله ځان مسکو ته زیات انقلابي وښيي. د مطبوعاتو او ورځپاڼو د اداري جوړښت تاداو په همغه توګه چې په شوروي کې يې جريان درلود، ایښودل شوی و. مونږ به د هرې خپرونې دمحتوی په باب يادښتونه ولرو. دکمونستي رژیم زیاتره خپرونې په کابل کې چاپیدې او زیاتره په پښتو او درې ژبووې. روسانو د نژادي ارژښتيو اختلافاتو په رامنځ ته کولو سره هڅه وکړه چې په ازبکي، ترکمني، تاجکي، بلوچي اونورو محلي ژبو هم مستقل خپرني اورګانونه رامنځ ته کړي. دکمونستي رژیم زیاتره خپرونې دنجیب الله ترسقوط وروسته له منځه ولاړې.

په کابل کې د نجیب الله کمونستي رژیم د عامه اذهانو دغولونې لپاره هڅه کوله، چې د دیموکراسۍ خبرې وکړي او خلکو ته د آزادی رايي، نظر او خپرونواجازه ورکړي؛ نو ځکه يو شمير خپرونو چې د رژیم په ګټه يې هم خپرونې کولې د خپرونو اجازه وموندہ "مګر همدا چې بناغلي شفيق وجدان په يوه مقاله کې په رژیم کې د مطبوعاتو ازادي يو درواغجن حرکت وباله، له کاره ګوښه کړای شو" (۱۸) دنجیب الله د دوری مطبوعاتي ازادي يوتکتیکي په شاتګ ګنل کیده؛ ځکه له یوې خوا مجاهدين د نړۍ د زیاترو هيوادو له مادي او معنوي ملاتړنه برخمن وو او په نړیوال کچ دکمونستي رژیم د سقوط لپاره تبلیغات پیل شوي وو او له بلې خوا د شوروي اتحاد درې ورې کيدل او دافغانستان جنګ چې د شوروي اتحاد سیاسي نظام دله منځه تلو لامل شوی و، دشوروي اتحاد په هیوادو او اقمارو کې يې په اداري جوړښت کې يو بدلون منځ ته راوستی و. ګورباچوف بله لاره نه درلوده مګر دا چې، د دیموکراسۍ پرلور د تولنې بیا رغاونې ته مخه کړي.

په مسکو کې د لویدیځ په لور متمایل بدلونونه او ددې هیواد د شړیدنې امکان د افغانستان پر کمونستو مشرانو او په ځانګړې توګه د نجیب الله په اجراآتو مستقیم اغیز درلود. نجیب الله غوښتل د ګورباچوف په څير يو تکتیکي په شاتګ وکړي او په اساسي قانون کې بدلون راولي: تش په نامه انتخابات ترسره کړي، انقلابي القاب او شعارونه چې له مسکوه ورته دیکته کیدل پخپلو تبلیغاتو کې کم کړي، يې پرې خلک يې دعوت کړل، پلار وطنه ملي جبهه، ملي پخلاینه، ملي جبهه، يوه ائتلاف ته د مجاهدينو رابلنه، د جرګو تأسیس او دیوه تش په نامه ګوند اعلان دهغه له اقداماتونه وو. نجیب عمداً له ایدلوژیکي

تبلیغاتو نه شاگرځ وکړ او غوښتل یې په دې توگه د خلکو اعتماد ترلاسه کړي. تجیب په بنگاره پر عظیم الشان قرآن تمسک وکړ او پخپلو وېناوکی یې د خدای(ج) پیغمبر(صلعم) او قرآني آیتو یادونه کوله. هغه سوگند وکړ چې اسلام ته درناوی لري چې که وکړای شي رژیم له را پرځېدو او خپل جنایتکاران له محاکمې وژغوري.

ددې سرچپه هغه کتابونه چې په تبلیغاتي ساحه کې په پښتو او دري ژبو په شوروي اتحاد کې چاپ شوي وو، د سلگونو زرو په تیراژ د بیهقي د کتاب چاپولو د مؤسسې له خوا یا پلورل کېدل او یا هم وړیا وېشل کېدل. همدا راز په تبلیغاتي ساحه کې په تاجکستان او ازبکستان کې د (صلح، ترقي وسوسیالیزم) او (جوانان امروز) په نامه مجلې د روسانو له خوا خپرېدې او د انقلاب نه د دفاع د سازمان، د ښځو سازمان او ځوانانو سازمان له خوا وېشل کېدې. دې مجلو ماتریالستي – لیننستي اهداف تعقیبول. که څه هم چې روسانو د (صلح، ترقي، سوسیالیزم) مجله د افغانستان د خلق د دیموکراتیک گوند د بین المللي اړیکو د خپرني اورگان په توگه خپروله. د کابل د کمونستي رژیم د خپرنو په باب له مختلفو اخځونو نه استفاده شوې ده. د افغانستان په باب مقالې له مائوسستي دلو سره خوشبیني او د افغانستان له مسلمانو مجاهدینو سره مخالفت لري.

د خپروني نوم: *حقیقت انقلاب ثور*

د تأسیس کال: د ۱۳۵۸ د مرغومې ٦ هـ/د۱۹۷۹ د دسمبر ۲۷ مه (پر افغانستان د روسانود تجاوز ورځ)

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ددیموکراتیک جمهوریت دولتي خپرني اورگان، د ببرک کارمل اداره.

مسؤول مدیر: صدیق رهپو (کاوون) ظاهر طنین

محتوی: "د ثور انقلاب د تکاملي دورې مطبوعات، څه د جولي یا شکل او څه د محتوی له نظره پکې ژور بدلونونه راغلل... لکه چې د شوروي جمهوریتو د مرکزي کومیتو په زیاترو اورگانو کې د پراودانوم ضم شوې دی، د افغانستان - نمونست گوند د مرکزي کومیتې په اورگان کې د حقیقت د کلمې ضم کول دداسې واقعیت څرگندونه کوله چې گویا افغانستان د شوروي اتحاد یو جمهوریت دی او یا د دې هدف د ت... پر لور په حرکت کې دی." (۸۲)

محتوی: خبرونه، اعلامیې، سیاسي مقالې او د مارکسیزم – لیننزم ایدیولوژیک مطالب وو. دې خپروني، د انقلاب ثور، د ورځپاڼې ځای ونیو او دنوې مرحلې د انقلابي اهدافو بیانوونکې گڼل کېده. کله چې نجیب د دیموکراتیک گوند نوم په وطن گوند واړاوه، حقیقت انقلاب ثور هم بدل شو.

# حقیقت انقلاب ثور

ارگان دولتی جمهوری دموکراتیک افغانستان

* تقریبگاه دوستی و همبستگی — ص ۲
* جرایم صهیونیزم در فلسطین — ص ۲
* رویدادهای افغانستان برای تغییر سیاست امریکا بهانهٔ بیش نبود — ص ۳
* د شوروی اتحاد د پراخو مرستو په لړ کې د نګرهار د ناوې د پراختیا پروژه — ص ۵

دوره دوم شماره (۹۰)


درجلسهٔ تاریخی

## شورای انقلابی ج.د.ا. اصول اساسی دولت تصویب شد

کابل — جلسهٔ بزرگ و تاریخی شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان ... مرکزی حزب دموکراتیک خلق ... افغانستان رئیس شورای انقلابی ... شورا دایر گردید وطی آن اصول اساسی دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان ... و همبستگی تصویب شد. (ص ۷)





ببرک کارمل هنگام ایراد بیانیه افتتاحیه شان در جلسهٔ بزرگ شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان در مقر آن شورا

## دلنین دزیږیدو د کالیزې لمانځغونډه وشوه

کابل — د افغانستان د خلک د دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې ... (۷ مخ)



نور احمد نور د هغه وینا په وخت کې چې د پلازمینې په غونډه کې ... د لینن د زیږیدو د کالیزې په مناسبت ...

## کوبن هاګن ته د مبارکۍ ټیلګرام

(باس)

## جشن مذهبی اهل هنود (ویساکی) در درمسال شور بازار تجلیل شد

کابل — ... تجلیل ... (ص ۷)





دګرگان اهل هنود هنگام ایراد بیانیه در مراسم تجلیل از جشن مذهبی اهل هنود (ویساکی) در درمسال شور بازار.

د آزادو قبایلو پښتنو لخوا

## دامریکا، برتانیې او چین د دریځ غندنه

کابل — د ازادو قبایلو پښتنو په ... فیصله کړی ده ...

### د کورنیو چارو وزیر د پکتیا له اداري او کوټنۍ مشرانو سره خبرې وکړې

کابل — د کورنیو چارو وزیر سید محمد ګلاب زوی ... د پکتیا ولایت ... (۸ مخ)

# افتخار به لنین کبیر، دوست صدیق خلق افغانستان!

د حقیقت انقلاب ثور ورځپاڼې عکس

د خپرونې نوم: *آریانا*

مسؤول مدیر: عبدالهادی، رشید آشتی

یادښت: (د محمد ظاهر شاه د دورې خپرونو ته دې مراجعه وشي)

د خپرونې نوم: *آزادی*

د تأسیس کال او ځای: د ۱۳۷۰ ورې/ د ۱۹۹۱ مارچ، کابل،

خپرندوی: وطن ګوند. مسؤول مدیر: غلام سخي غیرت. نوعیت: اوو نیزه جریده، ژبه: پښتو او دري. چاپ شمیره: ؟، کچه ۴۲X۳۱ سانتي متره، د کار پای: د مسؤول مدیر تر زنداني کېدو وروسته د ۱۳۷۰د زمرې ۲۲مه/ د۱۹۹۱ د اګست ۱۳مه.

محتوی: سیاسي او اجتماعي مقالې

یادښت: دا جریده د نجیب الله د رژیم پر تکلاره د پرله پسې انتقادونو او د حزب اسلامي خواته په میلان او د حکمتیار په باب د مقالو په خپرولو مصادره او مسؤول مدیر یې بندي کړای شو."(۸۹)

د خپرونې نوم: *آواز* (مراجعه دې وشي)

د خپرونې نوم: *اتحادیه ملي،* مسؤول مدیر: سعید الدین

د خپرونې نوم: *اتفاق اسلام،* په کندهار کې اوونیزه جریده

د خپرونې نوم: *احسم*

د تأسیس کال: ۱۳۶۹/ ۱۹۹۰. د امتیاز خاوند د انصار الله اتحادیه، مسؤول مدیر: محمد منصور، نوعیت، اوونیزه جریده. محتوی: مقالې.

د خپرونې نوم: *اخبار هفته*

د تأسیس کال: ۱۹۸۶/۱۳۶۵ خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ژورنالستانو اتحادیه. مسؤول مدیر: طاهر طنین. نوعیت: اوونیزه جریده. د کار پای: ۱۹۹۱/۱۳۷۰. محتوی: دې خپرونې هم د کابل یې په مرسته او اقتصادي تمویل د سباوون مجلې پیروي کوله چې غوښتل یې د خلکو د افکارو په مهارولو د نجیب الله د رژیم په ګټه فعالیت وکړي او ځان یې پرې وښیي او په ډېره ماهرانه توګه په انتقاداتو سره له رژیم سره د خلکو زړه راښکون زیات کړي. همدا راز د اخبار په نامه یوه بله خپرونه د بیهقي د خپرني مؤسسې له خوا خپرېده.

د خپرونې نوم: *اردو*

مسؤول مدیر: عبدالقدیر رادمنش، انجنیر خلیل الله رؤوفي، سید اکرام الدین اسیري (محمد نادر شاه د دورې خپرونو ته مراجعه وکړې.)

د خپرونې نوم: ارشاد اسلام

د تأسیس کال او ځای: ۱۹۸۷/۱۳٦٦، کابل.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اوقافو وزارت، مسؤول مدیر: محمد سالم حارس
د خپروني نوم: *افغانستان*
د تأسیس کال: دویمه دوره ۱۳٦٤/۱۹۸۵
خپرندوی اود امتیاز خاوند: د البیروني خپرني مؤسسه، د علومو آکادمي او تاریخ ټولنه، مسؤول مدیر: ملیحه ظفر، عبدالوهاب فاني، ژبه: انګلیسي او فرانسوي.
د چاپ نوعیت: فصلنامه، مجله، محتوی: د سفارتونو د غړو او سوسیالستي هیوادو او بهرنیو اتباعو لپاره د رژیم تبلیغات.
د خپروني نوم: ننني *افغانستان* **Afghanistan Today**
د تأسیس کال او ځای: ۱۳٦٤/۱۹۸۵، کابل.
د امتیاز خاوند: دولتي. مسؤول مدیر: کریم حقوقي، نوعیت: دوه میاشتنۍ مجله. ژبه: انګلیسي چاپ شمیره: ۱۵۰۰ ګنې کچه: ۳۰x۲۱ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۷۰/۱۹۹۱محتوی: سیاسي، اقتصادي او اجتماعي مقالې.
د خپروني نوم: *الاسلام*
د تأسیس کال: ۱۳٦۷/۱۹۸۸. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دمسلمانو خلکو ګوند. مسؤول مدیر: قاري عبدالستار سیرت، مولوي نصر الله حنفي، نوعیت: میاشتنۍ مجله، دکار پای: ۱۳٦۹/۱۹۹۰.
یادښت: د نجیب الله رژیم د خلکو د غولونې لپاره په ۱۳٦٦ کې د لویې جرګې او هم د سیاسي ګوندونو چې کمونستان یې په سر کې واقع وې، د جوړوني نیت وکړ، نو ځکه یې د علماو او روحانیونو سازمان چې دمخه یې تأسیس کړی و او د رژیم په "شؤون اسلامي" پورې مربوط وو، د افغانستان د مسلمانو خلکو د حزب په نامه و نوماوه.
د خپروني نوم: *انیس*
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د پلار وطني ملي جبهې خپرني اورګان. مسؤول مدیر: جلال نوراني، محمد اسماعیل محشور.
محتوی: د پلار وطني ملي جبهې د اهدافو بیانوونکې، د ببرک کارمل بیانیې.
د خپروني نوم: *بامیان/په بامیان ولایت کې اوونیزه جریده*
د خپروني نوم: *بلخ، اوونیزه جریده، د خپروني ځای: مزار شریف.*
د خپروني نوم: *بیدار/اوونیزه جریده، مزار شریف.*
د خپروني نوم: *پلوشه.*

د تأسیس کال او ځای: ۱۹۸۸/۱۳۶۷، کابل. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان دیموکراتیک دولت. مسؤول مدیر: شاه زمان وریځ.

د خپرونې نوم: *پامیر*

دتأسیس کال (مراجعه وکړی) خپرندوی او دامتیاز خاوند: کابل ښاروالی، مسؤول مدیر: عزیز آسوده طهماس، د چاپ ځای: کابل. چاپ شمیره: ؟، ژبه: پښتو او دری، نوعیت، کچه، چاپ بنه: سیاشتنی، دکار پای ۱۹۹۲/۱۳۷۱.

یادښت: پامیر جریده د مجاهدینو د حکومت په وخت کی هم څه وخت د عبدالله فضلی په ریاست او مسؤول مدیریت او تر هغی وروسته د انجنیر مهر الدین مشید په ریاست او مسؤول مدیریت په بنه محتوی خپریده (ژباړن)

د خپرونې نوم: *پوهنتون کابل (فصلنامه)*

مسؤول مدیر: محمد کاظم آهنګ

د خپرونې نوم: *پیام*

د تأسیس کال: ؟

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د وطن ګوند مرکزی شورا. مسؤول مدیر: حمید روغ. د چاپ ځای، کابل. چاپ شمیره: ؟، نوعیت، کچه، چاپ بنه: اوونیزه د کار پای، د ۱۳۷۱ وری. محتوی: داخپرونه د حقیقت انقلاب ثور پرځای خپریده او پخوانی تشکیلات یی ساتلی وو؛ څکه د نجیب رژیم او روسانو غوښتل چی په شکلی بدلونو سره عامه اذهان له مجاهدینو سره دیوه ائتلافی حکومت لپاره چمتو کړی.

د خپرونې نوم: *پیام حق*

مسؤول مدیر: فرح شاه محبی، عبدالولی فتاح، محمد سلیم حارس، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د اوقافو وزارت. یادښت: (د محمد ظاهر شاه د دوری خپرونو ته دی مراجعه وشی).

د خپرونې نوم: *پیشآهنګ*

د تأسیس کال: ۱۹۹۲/۱۳۶۱. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دیموکراتیک ګوند د ځوانانو سازمان. مسؤول مدیر: ؟، محتوی: دا خپرونه له (پایونیز یسکه پروادا) نه په پیروی سره د کمونست ګوند د تنکیو ځوانانو لپاره ایدلوژیکی خپرونی کولی.

د خپرونې نوم: *تعاون*

د تأسیس کال: ۱۹٤۸/۱۳٦۳

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کارګرانو صنفی اتحادیه. مسؤول مدیر:؟، د چاپ بنه: دری میاشتنی مجله، محتوی: سیاسی مقالی، خبرونه، اعلامیی.

د خپرونې نوم: *جامعه دانش*: ٪نوعیت: دری میاشتنی.
د خپرونې نوم: *جرگه*
د تأسیس کال: د ۱۳٦۱٪تله:د ۱۹۸۲آکتوبر. خپرندوی او داستیاز خاوند: د اقوامو او قبایلو د وزارت د نشراتو ریاست. مسؤول مدیر: نجیب سرغندوی، شفق یار، عبدالباقی، ژبه: پښتو. د چاپ بنه: دوه میاشتنی مجله، مصور. د خپرونې دکار پای: ۱۹۹۱٪۱۳۷۰
محتوی: سیاسی، ادبی او تاریخی مقالی
د خپرونې نوم: *جنبش*. خپرندوی: د افغانستان دکارگرانو سازمان، نوعیت: اوونیزه جریده.
د خپرونې نوم: *جوزجان*. مسؤول مدیر: عالم افتخار
د خپرونې نوم: *جوانان*. د امتیاز خاوند: په کابل کې د شوروی اتحاد سفارت. اوونیزه جریده په پښتو او دری ژبو، مسؤول مدیر: ببرک احساس.
د خپرونې نوم: *حجت*
د تأسیس کال: ۱۹۸۸٪۱۳٦۷. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ناصر خسرو فرهنگی مرکز (کانون فرهنگی ناصر خسرو) مسؤول مدیر: نور الله. د چاپ بنه: میاشتنی مجله، محتوی: سیاسی، ادبی او تاریخی مطالب.
د خپرونې نوم: *حقیقت سرباز*
د تأسیس کال: ۱۹۸۱٪۱۳٦۰. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دفاع وزارت خپرنی اورگان. د تره کی، امین او کارمل دوره. مسؤول مدیر: سید جلال الدین فخر، د چاپ نوعیت: جریده، په اوونی کې دری ځلې.
محتوی: دا خپرونه د سره ستوری (کریسنایا زویردا)، مسکو چاپ په تقلید خپریده.
یادښت: دا جریده د نجیب په وخت کې د سرباز په نامه خپریده...
د خپرونې نوم: *څارندوی*
د تأسیس کال: ۱۹۸۳٪۱۳٦۲
خپرندوی او د امتیاز خاوند: دکورنیو چارو وزارت.
مسؤول مدیر:؟، د نوعیت: میاشتنی مجله،٪ دری میاشتنی، محتوی: مقالی، اعلامیی، خبرونه.
د خپرونې نوم: *خاور*
د تأسیس کال: ۱۹۸٦٪۱۳٦۵. خپرندوی او د امتیاز خاوند: سازمان کارگران جوان افغانستان (سازا). مسؤول مدیر: سید ابراهیم کوهستانی، نوعیت: اوونیزه جریده، پنځلس ورځنی، محتوی: سیاسی اوحزبی مقالی.
یادښت: دا جریده د بو شمیر کسانو په اند وروسته تر هغې چې (ساما) گروپ له کمونستی حکومت سره

ائتلاف وکړ، خپریده.

د خپروی نوم: د *خلکو هیله*

مسؤول مدیر: حبیب الرحمن جدیر

د خپرونې نوم: *دانش*

د تأسیس کال: ۱۳٦۸/۱۹۸۹. خپرندوی او د امتیاز خاوند: کابل پوهنتون. مسؤول مدیر: ؟، نوعیت: میاشتنی مجله. محتوی: د اجتماعی او طبیعی علومو په باب مختلفی مقالی.

یادښت: د علوم اجتماعی او علوم طبیعی د مجلو ترخپریدو دوه کاله وروسته کابل پوهنتون پریکړه وکړه چی دواړه مجلی مدغمی کړی او د دانش په نامه یوه مجله خپره کړی. د کابل پوهنتون پخوانی ځانگړی مجلی د کمونستانو په دوره کی له خپرونو نه پاتی شوی.

د خپرونې نوم: *درفش جوانان*

د تأسیس کال: ۱۳۵۹/۱۹۸۰. خپروندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د ځوانانو د دیموکراتیک سازمان دکومیتی اورگان، مسؤول مدیر: ضیاء الدین عبادی. جاوید جویا، فاروق ثواب. محتوی: دا خپرونه د روسی خپرونی (کمسمولسکیه پراودا) په پیروی خپریده.

د خپرونې نوم: *درفش محصلان/جریده* (درفش جوانان ته مراجعه وکړی)

د خپرونې نوم: *درفش محصل امروز جریده* (د درفش جوانان او درفش محصلان د خپرنو ادامه)

د خپرونې نوم: *دریځ/نوعیت:* دری میاشتنی مجله.

د خپرونې نوم: *دوستی. خپرندوی:* د سولی او پیوستون کومیته. میاشتنی، دری میاشتنی مجله.

د خپرونې نوم: *دهقان*

د تأسیس کال: ۱۳٦٦/۱۹۸۷. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دخواری کښو کرگرانو صنفی اتحادیه. مسؤول مدیر:؟ اوونیزه جریده، میاشتنی، محتوی: ایدلوژیک مضامین، اعلامیی او بیانیی.

د خپرونې نوم: *زنان افغانستان*

د تأسیس کال: ۱۳٦۳/۱۹۹٤. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو دیموکراتیک سازمان.

چاپ شمیره: ؟، ژبه: پښتو، دری، نوعیت، کچه، او چاپ بڼه: میاشتنی مجله، د کار پای: د ۱۳۷۰ کب د ۱۹۹۲ مارچ. محتوی: دا خپرونه د شوروی اتحاد "ښځه" د خپرونی په پیروی او دهغی خپرونی تر اداری لاندی خپریده او د شوروی کمونیزم په باب یی ایدیولوژیکی او سیاسی مقالی خپرولی.

د خپرونې نوم: *زندگی حزبی*

د تأسیس کال: ۱۳٦٦/۱۹۸۷، کابل، مسؤول مدیر:؟، خپرندوی: د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د ملی پخلاینی کومیته. نامنظمه خپرونه، ژبه: پښتو، دری، چاپ شمیره:؟ د خپرونی د کار پای:

۱۹۹۱/۱۳۷۰. محتوی: د کابل رژیم د حزبي فعالیتو په باب مقالي.

د خپروني نوم: *زیری*

خپرندوی: د افغانستان د علومو آکادمي. مسؤول مدیر: نصر الله ناصر. ژبه: پښتو. (دخپروني د نورو ځانګړنو په باب د محمد ظاهر شاه د دوری خپرونو ته سراجعه وکړی.)

د خپروني نوم: *ژورنالست*

د تأسیس کال: ۱۹۸۵/۱۳٦٤

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیه، مسؤول مدیر:؟، د چاپ څرنګوالي: خبری بولټن، اعلامیې.

د خپروني نوم: *ژوندون*

د تأسیس کال: ۱۹۸۰/۱۳۵۹. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د لیکوالو او شاعرانو اتحادیه. مسؤول مدیر: واصف باختری، قدیر حبیب، پنځلس ورځنی او یوه میاشتني مجله، محتوی: دا خپرونه په دوو مرحلوکی په پښتو او دری ژبه خپریدله او د نړی د ادبیاتو په باب يې مقالي او ژباړی او همدا راز داستانونه خپرول.

د خپروني نوم: *سباوون*

د تأسیس کال: ۱۹۸۳/۱۳٦۲

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیه. مسؤول مدیر: ظاهر طنین. چاپ شمیره: له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ ټوکو پوری، ژبه: پښتو او دری، نوعیت: مجله، د کار پای: ۱۹۷۰/۱۳٦۹، محتوی: په دی مجله کی د لوستو ور ذوقي مطالب خپریدل او ښکاره یی دیوی يې پری مجلی په توګه انتقادونه هم کول، چي دی کار د مجلی د تیراژ په لوړولوکی مرسته هم کوله.

یادښت: دا مجله د کی جی بی له خوا تمویلیده چي عامه اذهان د ذوقي خپرونو له لاری د رژیم پرشاو خواو څرخوی.

د خپروني نوم: *ستوری*/اوونیزه جریده.

د خپروني نوم: *سرباز*/ مسؤول مدیر عبدالرب اخلاق

د خپروني نوم: *سره میاشت*

مسؤول مدیر: سید اسد الله ستومان، حبیب الرحمن جدیر.

یادښت: د محمد ظاهر شاه د دوری نشراتو ته سراجعه وکړی.

د خپروني نوم: *سلام*

نوعیت: میاشتني مجله، مسؤول مدیر: محمد جان باوری.

د خپروني نوم: *سمنګان*/ مسؤول مدیر: رازق فاني، محسن حسن/ اوونیزه جریده.

د خپرونې نوم: *سنا*
د تأسیس کال ۱۹۸۷/۱۳٦٦. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت. سنا مجلس. مسؤول مدیر:؟، میاشتنی مجله، د کار پای: ۱۹۹۱/۱۳۷۰.
یادښت: دا خپرونه د نجیب د رژیم د اهدافو بیانوونکې وه چې د سناد انتصابي جرګې له لارې تبلیغیده.
د خپرونې نوم: *سواد*
خپرندوی: د معارف وزارت سواد آموزی، مسؤول مدیر: معلم ګل ځدران. یادښت: (د محمد داوود د دورې نشراتو ته دې مراجعه وشي)
د خپرونې نوم: *سوب*
د تأسیس کال ۱۹۸۵/۱۳٦٤. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اقوامو او قبایلو د وزارت د مشراتو ریاست. مسؤول مدیر: ولي محمد رخشاني، ژبه: بلوچي/دوه میاشتنی مجله، محتوی: د بلوچو لپاره د رژیم تبلیغات.
د خپرونې نوم: *شمشاد*
خپرندوی: د خوشحال خان خټک فرهنګي ټولنه فصلنامه مجله.
د خپرونې نوم: *شوخک*، مسؤول مدیر: عزیز مختار، د خپرونې ځای: کابل.
د خپرونې نوم: *صدای وطن*
د تأسیس کال: ۱۹۸۹/۱۳٦۸
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د راستنیدونکو یا عودت کوونکو وزارت
مسؤول مدیر: نجیب الله نجیب، ژبه: پښتو او دری. د چاپ ټوعیت: اوونیزه مجله، د کار پای: ۱۳۷۰/ ۱۹۹۱م محتوی، له ګاونډیو هیوادو پاکستان او ایران نه د راستنیدونکو مهاجرینو په باب مقالې او د رژیم قانوني ښوول او په مهاجرینو کې د داد او باور پیداکول.
د خپرونې نوم: *عدالت*
د تأسیس کال: ۱۹۸۷/۱۳٦٦. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دهقانانو د عدالت حزب، مسؤول مدیر: عبدالحکیم توانا، عزیز مختار، میاشتنی مجله. د کار پای: ۱۳٦۹/ ۱۹۹۰.
یادښت: دا مجله هم د رژیم د انحرافي خپرونو له جملې نه وه چې د دهقانانو د کوپراتیف اتحادیه یې د دهقانانو د عدا ت د حزب په نامه تأسیس کړه او د رژیم په ګټه یې تبلیغات کول.
د خپرونې نوم: *عرفان*
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د علومو آکادمی. مسؤول مدیر: محمد قاسم هیله من، پویا فاریابی
یادښت: (د محمد نادر شاه، د دورې نشراتو ته مراجعه وکړی)

د خپروني نوم: *علوم اجتماعی*

د تأسيس كال: ۱۹۸۷/۱۳٦٦ . خپرندوی او د امتياز خاوند: کابل پوهنتون. مسؤول مدير: ؟/مياشتنی مجله. محتوی: د ادب، فرهنګ، ښووني او روزني او نورو ټولنيزو مسايلو په باب مقالي.

د خپروني نوم: *علوم طبيعی*

د تأسيس كال: ۱۹۸۸/۱۳٦٧ . خپرندوی او د امتياز خاوند: کابل پوهنتون. مسؤول مدير:؟، د چاپ بڼه: مياشتني، دوه مياشتنی مجله. محتوی: د ساينسي علومو په ځانګړي توګه د بيولوژي، کيميا، فزيک او جيولوجي په باب مقالي.

د خپروني نوم: *غرجستان*

د تأسيس كال: ۱۹۸۵/۱۳٦٤ . خپرندوی او د امتياز خاوند: د اقوامو او قبايلو وزارت. مسؤول مدير: رضا مسکوب، د چاپ دول: فصلنامه، محتوی: دی مجلی په هزاره ګی ادبياتو د هزاره مليت لپاره خپرونی کولی.

د خپروني نوم: *فرهنګ خلق/* وروسته فرهنګ مردم

د تأسيس كال: ۱۹۸۱/۱۳٦۰ . خپرندوی او د امتياز خاوند: د فرهنګ دولتی کوميته. مسؤول مدير شمس الدين ظريف صديقی .

د چاپ بڼه: مياشتنی مجله، فصلنامه. محتوی: دی مجلی وروسته د فرهنګ نوم خپل کړ او فرهنګی مقالی، عاميانه ادبيات، داستان او نوری مقالی يی خپرولی.

د خپروني نوم: *قضا*

د تأسيس كال: ۱۹۸۱/۱۳٦۰ . خپرندوی او د امتياز خاوند: د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت ستره محکمه. مسؤول مدير:؟، د چاپ دول: فصلنامه مجله، محتوی: سياسی او قضايی مضامين او خبرونه.

د خپروني نوم: *قلم*

د تأسيس كال: ۱۹۹۰/۱۳٦۹ خپرندوی او د امتياز خاوند: د ليکوالو اتحاديه، مسؤول مدير: ضيادستور، حميد بهروز. محتوی: دی خپرونی سربيره پردی چی د افغانستان دليکوالو د ټولنی د اهدافو بيانکی وه، ادبی، ټولنيزی، هنری، او تحليقی ليکنی اوله شوروی سرچينو نه ژباړل شوی او ورليږل شوی ليکنی هم خپرولی.

د خپروني نوم: *کابل*

د تأسيس كال: ۱۹۹۲/۱۳۷۱، کابل. خپرندوی: آزاده خپرونه: مسؤول مدير: رزاق مامون، چاپ شميره: دوه زره ګنی، دول: اخباری او ونيزه، ۸ مخه کچه: ۴۰X۳۰ سانتی متره.

ژبه: پښتو، دری، د کار پای: د نجيب د رژيم سقوط، محتوی: خبری، ذوقی.

د خپروني نوم: *کابل نيوتايمز* **Kabul New Times**
د تأسيس کال: د کابل تايمز پرځای: ۱۳٦۲/۱۹۹۳
خپرندوی او د امتياز خاوند: د الـبيروني خپرني مؤسسه. مسؤول مدير: محمد کاظم آهنگ، غفور شکوري، صديق رهپو، رهنورد زرياب، محمد قبول او عبدالصبور رحيل. ژبه: انگليسي د چاپ بنه: ورځپانه. محتوی: دی ورځپاني په مسکو کي د شوروی دانگليسي ژبي ورځپاني (نيوتايمز شوروی) په پيروی خپل نوم بدل کړ. ددی ورځپاني محتوی لکه د نورو خپرونو په څير دشوروی او کمونستي رژيم د اهدافو خپروونکي وه.
د خپروني نوم: *کار*
د تأسيس کال: ۱۳٦۲/۱۹۸۳. خپرندوی او د امتياز خاوند: د تجارتي او صنفي اتحاديي د مرکزی شورا خپرني اورگان. مسؤول مدير: عبدالرشيد آشتي، همايون مجيد. د چاپ بنه: مياشتني.د کار پای: ۱۳٦۸/۱۹۸۷، محتوی: دا جريده د شوروی د (ترد) ورځپاني په پيروی خپريده، همدا راز د کار په نامه يوه مجله هم خپريده.
د خپروني نوم: *کتاب*
د تأسيس کال: ۱۳٦٤/۱۹۸۵ خپرندوی او د امتياز خاوند: د عامه کتابخانو رياست. مسؤول مدير:؟، خپرني نوعيت: مياشتني مجله.
محتوی: په ادبي، تاريخي، سياسي موضوعاتو کي مقالي، خبرونه او مرکي.
د خپروني نوم: *گوارش*
د تأسيس کال: ۱۳٦۵/۱۹۸٦. خپرندوی او د امتياز خاوند: د چاپ او نشر دولتي کوميته. مسؤول مدير: سيد مصدق اميني. چاپ شميره: زر گتي، ژبه: ترکمني. د چاپ ډول اوونيزه جريده. محتوی: خبرونه، اعلامبي او ماترياليستي مقالي.
د خپروني نوم *مليتهای برادر*
د تأسيس کال:۱۳٦۲/۱۹۸٤ خپرندوی او د امتياز خاوند: د اقوامو او قبايلو د وزارت د نشراتو رياست. مسؤول مدير: عبدالکريم نظر. خپرني نوعيت: فصلنامه، محتوی: مقالي، مصاحبي، او د رژيم اعلامبي.
د خپروني نوم: *ملي جبهه*
د تأسيس کال: ۱۳۷۰/۱۹۹۱ خپرندوی او د امتياز خاوند: د افغانستان د ملي جبهي خپرني اورگان، مسؤول مدير:؟، خپرني نوعيت: مياشتني مجله، فصلنامه د کار پای: ۱۳۷۱/۱۹۹۲، محتوی: دی خپروني د انيس ورځپاني ځای ونيو چي د پلار وطني ملي جبهي د خپرني اورگان په توگه يي تبليغاتي فعاليت کاوه. د پلار وطني ملي جبهي په ناکاميدو او له منځه تلو سره، د نجيب رژيم د ملي جبهي په نامه يو بل

سازمان تشکیل کړ او له مجاهدینو نه یې وغوښتل له رژیم سره په یوه ائتلافي حکومت کې همکاري وکړي. په دې خپرونه کې غالباً داسې مطالب خپریدل چې د مجاهدینو پر خلاف به پکې جبهه گیري نه وه شوې چې د مخالفینو اعتماد جلب کړي.

د خپروني نوم: *میهن*

د تأسیس کال: ۱۹۸۸/۱۳۶۷. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان (سازا) مرکزي خپرونه. مسؤول مدیر: غلام سخي غیرت، شجاع خراساني، د چاپ ځای: کابل. ژبه: دري، د خپروني ډول، کچه او چاپ بڼه: میاشتنۍ، ۴۲x۳۰ سانتي متره، اته مخه، د کار پای: ۱۹۹۱/۱۳۷۰ محتوی: د دې جریدې له مقالو نه څرگندیږي چې د ستم ملي د سیاسي اهدافو بیانوونکې دی. او لکه چې رژیم هڅه کوله غیر اسلامي متفرقې ډلې هم پر ځان راټولې کړي، ستم ملي هم له رژیم سره همکاري کوله او امتیازونه یې ترلاسه کول.

د خپروني نوم: *نای*

د تأسیس کال: ۱۹۹۰/۱۳۶۹. خپرندوی او د امتیاز خاوند د کانون "دوستداران مولانا" په نامه ډله. مسؤول مدیر:؟، د چاپ ډول: مجله، فصلنامه، محتوی: ادبي، هنري او سیاسي مقالې.

یادښت: نای د استاد رباني د حکومت تر سقوط وروسته څوگنې په پېښور کې د احمد شاه مسعود په مالي لگښت چاپ شوه چې د نیلاب رحیمي او حیردی وجودي په زیار له چاپه راوته خو د مالي لگښت په بندیدو، له چاپه پاتې شوه. (ژباړن).

د خپروني نوم: *ندای صلح*

د تأسیس کال او ځای: ۱۹۸۹/۱۳۶۸، کابل، خپرندوی: آزاده ورځپانه. مسؤول مدیر: محمد مقبول، چاپ شمیره:؟، ژبه: پښتو، دري.

د خپروني نوم: *نوا*

د تأسیس کال او ځای: ۱۹۸۰/۱۳۵۹، کابل.

خپرندوی: وطنپرستان آزادیخواه، مسؤول مدیر: فرهنگي هیأت.

د خپروني نوم: *نگاه*/ مسؤول مدیر: عبدالبصیر پاکزاد

د خپروني نوم: *ننگرهار*/ مسؤول مدیر: کریم هاشمي.

د خپروني نوم: *وطن*

د تأسیس کال او ځای: ۱۹۸۹/۱۳۶۸، کابل.

خپرندوی، *وطن گوند*/ مسؤول مدیر اسماعیل اکبر، چاپ، شمیر:؟،

د چاپ ډول: میاشتنۍ مجله، فصلنامه، کچه: ۳۰x۲۱ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، محتوی: سیاسي

مقالې
د خپرونې نوم: *اولسي جرګه*
د تأسیس کال: ۱۹۸۷/۱۳۶۶ خپرندوی او د امتیاز خاوند د افغانستان ملي شورا یا اولسي جرګه.
مسؤول مدیر:؟، د چاپ ډول: میاشتنی مجله. د کار پای: ۱۹۹۱/۱۳۷۰
محتوی: د رژیم د انتصابي ملي شورا له لارې د رژیم د اهدافو بیانوونکی.
د خپرونې نوم: *هرات/* مسؤول مدیر: جلیل شبګیر فولادیان (د محمد نادر شاه د دوری خپرونو ته مراجعه وکړی.)
د خپرونې نوم: *هری/* خپرندوی: دلرغونې هرات د فرهنګي تولنې یا انجمن فصلنامه
د خپرونې نوم: **هنر**
د تأسیس کال: ۱۹۸۳/۱۳۶۲ خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د هنرمندانو د اتحادیې خپرنی اورګان.
مسؤول مدیر: رؤوف راصع، فضل الحق فکرت، د خپرونې ډول، مجله.
دخپرونې نوم: **هیواد**
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وزیرانو د شورا او انقلابي شورا خپرنې اورګان. مسؤول مدیر: امین افغانپور، سلیم سلامت (د تره کي-امین دوره) عبدالله بختاني خدمتګار، حمید روغ. معاون: نظر محمد، نګار
محتوی: دا ورځپانه د (ایزویستیا) په تقلید خپریده.
د خپرونې نوم: *یاحق*
مسؤول مدیر: محمد طاهر محسنی
د خپرونې ډول: اخباري جریده، نامنظمه میاشتنی
د خپرونې نوم: *یلدوز*
د تأسیس کال: ۱۹۸٤/۱۳٦۱. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اقوامو او قبایلو د نشراتو ریاست. مسؤول مدیر: ایخان بایانی. ژبه: ازبکي. د خپرونې نوعیت: پنځلس ورځنی وروسته دوه میاشتنی مجله، محتوی د کمونستي رژیم لپاره تبلیغاتي مقالې، خبرونه او اعلانونه.
د خپرونې نوښونه: *کابل مجله*، مسؤول مدیر: محمد سلیم، *مجلهء خراسان*: مسؤول مدیر: ناصر رهیاب، *د لرغون پیژندنې یا باستانشناسي مجله*، مسؤول مدیر:؟، *د تحقیقات کوشاني مجله*، مسؤول مدیر:؟، د تأسیس کال: ۱۹۸۸/۱۳۶۷، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د علومو آکادمي، ژبه: پښتو او دری، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله فصلنامه. د کار پای: ۱۹۹۱/۱۳۷۰. محتوی: دی مجلې غالباً

تاریخي، ادبي او فرهنګي تخصصي مقالې خپرولې، خو بیا هم په سرمقالو او سیاسي مطالبو کې د رژیم په ګټه لیکنې کیدې.
په دې سربیره د کونړ او هلمند په نامه خپرونې هم کیدې.

ACKU

# په اروپاکې د خلق او پرچم کمونستي دلو خپرونې

د خپرونې نوم: *رویداد های افغانستان و منطقه*
دتاسیس کال: ۱۳۸٦/۱۹۹۷م. خپرونکی او دامتیاز خاوند:
د افغانستان د روښانفکرانو ټولنې خپرونه، سر محرریا مسؤول مدیر: انجنیر سلیم صابری.
د چاپ ډول: میاشتنۍ، کچه: ۲۱X ۲۹ سانتي متره، یورنګې، تایپ /فوتوکاپي، ۱۲ مخونه. محتوی: دافغانستان دمسلمانو مجاهدینو او دطالبانو غورځنګ پر خلاف، او اروپاته د پناه وړونکو پرچم دلې پاتې شو نوته د نوی مبارزاتي چلند په اړه مقالې.
د خپرونې نوم: *صریر*
د تاسیس کال: ۱۳۷٤/۱۹۹٥م، خپرونکی او دامتیاز خاوند: ناپیلي او ملي جریده،
مسوول مدیر او پاسرمحرر: حسن نیر بیات.
د چاپ ډول: میاشتنۍ. تایپ /فوتوکاپي او چاپي، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره.ژبه: دری: د چاپ ځای: روتردام هالیند محتوی: سیاسي مقالې او تحلیلونه، دغه خپرونه غواړي د بې طرفي په ادعا ځان معرفي کړي خو د خپرونې مسوول د کابل د کمونستي رژیم یو لوړ رتبه مامور ؤ او د خپرونې محتوی چپي تمایلات او د اسلامي ګوندونو مخالف دی.
دخپرونې نوم: *عصر جدید*
د خپریدو ځای او کال: جوزا ۱۳۷۸/جون ۱۹۹۹م سویډن.
ناشر: په سویډن کې هستوګن کمونست ایرانیان.
مسوول مدیر: بصیر زیار" پخوا زیارمل ؤ" چاپ شمیر:؟
د خپرونې ډول: میاشتنۍ. بولتن.۲۸ مخونه. په یوه رنګ قطع ۱۲/۲۹ سانتي متره. د کار پای: دوام لری محتوی: ددین پرخلاف مقالې او اسلامي شخصیتونو او مقدساتوته سپکاوی.
د خپرونې نوم: *کاروان حله*
د خپریدو کال: سرطان ۱۳۷٦/جون ۱۹۹۷م خپرونکی او د امتیاز خاوند: فرهنګي خپرونه، مسوول مدیر: ډاکتر اسدالله حبیب د چاپ ډول: مجله" فصلنامه" چې تراوسه یوازې دوې ګڼې چاپ شوې ده.
قطع: ۲۱X۲۹ سانتي متره/تایپ/کمپوتر. تصویری د چاپ ځای: هامبورګ،المان، ژبه : دری. محتوی: دمجلې په نشراتي تګلاره کې ذکر شوی دی چې د هنري نظریاتو ښکارندویه، ادبي، د هنرمندانو عالمانو اوشاعرانو معرفي، د افغانستان او نړی د هنري جریانونو نقد او تحلیل، سیاسي مقالې یې کمونستي

تمایلات لري.

د خپروني نوم: *فردا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷/۱۹۹۸م،سویډن، د امتیاز خاوند: دکتور اکرم عثمان، مسوول مدیر: عبدالرحیم غفوري، شمیر:؟ د خپروني ډول: نامنظمه میاشتنی، ژبه: دري،کچه ۲۱X۲۹ سانتي متره د کار پای: وقفه يې دوام لري، محتوی: د پردیو نظریاتو او ددین مخالف خپروني.

د خپروني نوم: *نای*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱/۱۹۹۲، کویټه، خپرندوی: دافغانستان کمونست حزب، سر محرر: میرزا حسیني نای قلعه، تیراژ:؟ د خپروني ډول: منظم نه دی ژبه: دري، د کار پای:؟ محتوی: سیاسي او د اسلام مخالفي مقالي.

د خپروني نوم: *ندای صلح*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷/۱۹۹۸م: نیویارک، خپرندوی: دافغانستان د صلح انجمن، سر محرر: محمد رزاق فاني، شمیر:؟ ډول: مجله میاشتني، کچه: ۲۰X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري دوام لري، محتوی: سیاسي.

## دافغانستان مائویستان

دمحمد داود خان د جمهوریت څخه وروسته له یوه پلوه د خلق پرچم ډ...و او له بلې خوا دستم ملي، سامایي او ګروه کار مائویستي ډلو په منځ کې زیات بدلونونه راغلل، په عمومي ډول شعله جاوید، ستم ملي، ساما، ګروه کار، رهایي، هجاما، فازا او نور وروکي سازمانونه د مائویستانو په نوم پیژندلی شو چې د خپل سیاسي فعالیت په وخت کې به يې شعار ورکاوه چې: موږ کولی شو چې له ټولو ستونزو او خنډونو څخه ووزو، زموږ ځواک ماته نه منونکی دی. په دې شرط چې که مترقي او پرمختللې ایدیولوژي خپله کړو. په دې شرط چې د اولس په زور ایمان ولرو او له اولس سره یوځای شو او هغه ته د وراندې ګټ لاربنونه وکړو(۸۸) انجنیر عثمان چې په" عثمان لنډی مشهور ؤ" د شعله جاوید یو تن فعال مشر په خپله، (تحلیلی ازوضع مناسبات طبقاتي جامعه) لیکنه کې د خپلې ماتریالیستي عقیدې پر بنیاد لیکي( دمترقي ایدیولوژي پر بنسټ) د دیموکراسي داعادې لپاره دامپریالیزم د زوال په وخت کې کوم جریان چې د خلکو د خدمت غوښتونکی دی باید دزحمت کښانو د مخکښې طبقې او مزدورانو او بزګرانو د عمده ځواک او د زحمت کښانود نژدې متحد په حیث او په متوسطې طبقې چې د خوارې کښنو داد من دوستان دی متکي وي، او په مشخصو شرایطو کې پردې وتوانیږي چې د منځنې طبقې پاسني قشرد خپلې رهبرۍ لاندې تنظیم کړي(۸٦)، داکتر رحیم محمودي، داکتر هادي محمودي،واصف باختري،

لهيب،درفش،.اسد شرف او عبدالله محمودی چی د شعله جاوید دو آتشه انقلابیون او تیورستان وو د محمد ظاهر شاه دديموكراسي په دوره کی ناکام ووتل او کومه سیاسی نظریه یی چی درلوده په تولنه کی یی لاره ونه موندہ.

## دمائويستانو سازمانی هڅی او انشعابونه

کله چی په ۱۹۷۲/۱۳۵۱م. کال کی د ځوانانو پر مترقی سازمان "شعله جاوید"کی انشعاب رامنځ ته شو، بیلی شوی ډلی په ۱۹۷٤/۱۳۵۳ کال کی د مجید کلکانی په مشری "افغانستان د خلکو انقلابی سازمان" په نوم ډله تاسیس کړه.

د شعله جاوید سازمان په ۱۹۷٥/۱۳٥٤م کی رسماً له منځه ولاړ، یو د هغو جنرالانو څخه چی د محمد داود خان له کودتا څخه بی د کمونستی رژیم تر نسکوریدو پوری په کابل کی رول درلود جنرال عبدالقادر ؤ چی یو شمیر پردی نظر دی چی هغه د "گروه انقلابی خلق افغانستان" غړی ؤ چی د شوار خیزه جاسوس رول یی لوباوه او دکمونستانو په منځ کی یی ځانته ملی گرا بنه ورکړی وه.

مائویستان یو کال وروسته یو پربل ور پریوتل چی یو شمیر یی ووژل شول او د " افغانستان د خلکو انقلابی سازمان" په ډله کی انشعاب راغی، یوه ډله تری بیله شوه او د" اخگر" په نامه یی سازمان جوړکړ، خو مجید کلکانی په هماغه پخوانی نامه د یو شمیر نورو نا راضو شعله یانو چی ځانونه یی لری کړی وو د بیا را بللو او جذب هڅی وکړی او د سازمان په تنظیم یی لاس پوری کړ، په ۱۹۷۸/۱۳٥۷م کی د ثور کودتانه وروسته د خلق او پرچم"روس پلوه" او شعله یانو " چینی پلوه"، کمونستانو تر منځ اختلافونه زیات شول. مجید کلکانی د "ساما" سازمان جوړکړ او فعالیت یی پیل کړ چی د اداری مرکزیی کوه – صافی او د شمالی کوهدامن ؤ، دوی د خپلو پخوانیو نظریاتو پر بنا چی مبارزه د کلیو څخه پیل او د انقلاب په بنه بنارونو ته ننوزو خپله مبارزه چی د ترور او ووژنو سره مل وه د کابل او ولایتونو په اطرافو کی پیل کړه.

شعلیان چی سره و پاشل شول خپل فعالیتونه یی د سازمان آزادی بخش مردم افغانستان "ساما" په نامه په ۱۹٥۹/۱۹٦۰م کال پیل کړل. ددغه سازمان د سیاسی مشی په سریزه کی لیکی:

په دی وخت کی چی د هیواد زیات انقلابی خواکونه دمایوسی او تیت پرک حالت کی شپی تیروی او ددوی ځینی ډلی یا منحل شوی دی او یاد شور وکی په پښو کی لویدلی دی. او ځینی هم داسی زبون ، وهلی دی چی په اعتقادی ځان وژنی لاس پوری کوی او یا د تیری کوونکو د ځیری په سینگار بوخت دی او ... په دغسی حالاتو کی ساماد خلکو دانقلابی مخکښانو په توگه د مقابلی او تکر میدان ته راوزی. (۸۷)

دساما د نظامی مسوولینو څخه یو تن د جنرال موسی خان هزاره په نامه د پاکستان له حکومت سره تماس ونیو او یوه اندازه وسله، پوځی مهمات او پیسی یی تر لاسه کړی.

د محمد ظاهر او محمد داود په جمهوریت او د کابل د کمونستی رژیم په دوروکی سختی هڅی وشوی چی د "ساما" رهبر مجید کلکانی ونیول شی، بالاخره په ناڅاپی توګه په ۱۳۵۹کال د جوزا ۱۸مه (۱۹۸۰) کال د جون ۸مه کی د کابل په مکروریانوکی وپیژندل شو او جیل ته ولوید، دکابل رژیم لخوا د مجید کلکانی وژل کیدل، لویدیز ته دده د ورور عبدالقیوم "رهبر" فرار چی د ساما سرپرستی یی پر غاړه وه د شعله جاوید پاشل کیدل، په کابل کی د عثمان لندی پټ فعالیتونه ددوی په مبارزه او چلن کی د یوله بله شلیدو سبب شول، تر دی چی دوی کله کله د شعله جاوید څخه دانشعابی ګروپونو د رقابتونو او سیالیو په دلیل چی ځینو یی د رژیم پټو پولیسو"خاد" ته نفوذ کړی ؤ د یو بل په وژلو لاس پوری کړ، مائویستان نور په افغانستان کی نه لیدل کیږی.(۸۸)

مائویستانو هڅه وکړه چی ددوو مخالفو قوتونو، له یوه پلوه حزب دیموکراتیک خلق"خلق او پرچم" او بل خواته د مجاهدینو د اسلامی ګوندونو په مقابل کی په یو شکل دافغانستان په دننه کی تنظیم شی.

او دری څلور جبهی یی په شکردره او فرزه د کابل په شمال کی او په نورستان، د هزاره جات په غرجستان او فراه کی تشکیل کړی، ددوی جبهی زیاتره د " آزاد" په نامه نومول شوی دی، قیوم کلکانی په شمالی کی د حزب اسلامی په مقابل کی مقاومت ونکړای شو. حزب اسلامی د مائویستانو جبهی ماتی کړی او د کابل دشمال سیمی یی ونیوی، او ددی سازمان غړی تیت او پرک شول، د مائویستانو لخوا چی تراوسه پوری په ځانګړیو غونډو، څېړونو او خپلو تبلیغاتو کی د حزب او د هغه د رهبری پر خلاف مائویستان ډیر سپک او توند الفاظ کاروی یو لوی سبب یی همدغه د حزب اسلامی بنیادی مخالفت دی چی له دوی سره یی لری.

د کابل رژیم هڅه کوله چی که مائویستان یوه ائتلاف ته مجبور کړی تر څو د هغو جبهو څخه په استفادی سره چی هغوی یی لری د مجاهدینو پر خلاف څه وکړی. ساما د خپلی سیاسی مشی په اساس چی د شعله جاوید پاتی شونی وو او دمائو قهر آمیزه مبارزه یی غوره بلله ظاهراً یی دروسانو پوځی تیری غندلو، غوښتل یی د آزادو او ملی جبهو په نوم د نویو جبهو بنسټ کیږدی.

د"ساما" سیاسی مشی د هزاره جات او دکابل په شمال سیموکی د حزب اسلامی له مخالفت سره مخامخ شوه او د حکمتیار نفوذی کسان وتوانیدل چی دساما دلی دغرجستان د جبهی مسوول" حسین" په څیر محوری کسان انشعاب ته وهڅوی، دحزب اسلامی یوه قوماندان د قره باغ محمد ناصر دهغوی پوځی مهمات اووسلی ددوی د نظامی او سازمانی اطلاعاتو سره له حسین څخه د پیسو په بدل کی وپیرل، په مرکزی او شمالی سیموکی یی اعلامیه هم خپره کړه،په هغه اعلامیه کی په کوه صافی، کوه

دامن او هزاره جات کې د حزب اسلامي په لاس د هغوی د جبهو، له منځه وړلو یادونه هم شوی ده او د دواړو لوریو تر منځ په ۱۳٦۰/۱۹۸۱م کال کې په جګړو کې د ساما مهم شخصیتونه د پردل، شفیق او خسرو په نامه ووژل شول. یو شمیر د ساما د ډلې غړي د کابل دولت ته تسلیم شول. هلته ددوی یو شمیر کسانو د کابل رژیم په جیل کې د لږ فشار په مقابل کې ټول نظامي او سازماني اسرار افشا کړل.

د ساما ډلې په غرجستان کې د" رسوای جدایی طلبانه" په عنوان په یوه اعلامیه کې دغه واقعیت تائید کړی دی لیکي:

د" دښمنانو" اعلامیه له تصور څخه په لیرې بې شرمۍ زموږ حماسه جوړوونکي رهبران چې داستعمار په وسله ټونونو کې یې اتلوال سرونه وبایلل او د خپل سازمان او غړو څخه یې دفاع وکړه د ریزیونستانو په نوم سلامت او بدنام کړي دي او له کینې څخه ډکې سترګې یې زموږ دوطن مقاوست پر ځلانده ستوری شهید مجید"ساما" بنسټ ایښودونکي او لارښود ګڼلي دی.(۸۹) همدارنګه په دې اعلامیه کې ساما ډلې ناخبره د خپلو دننه اختلافونو او ټکرونو په موجودیت اعتراف کړی دی لیکي (... ټولو ملګرو ددغو تورو ځیرو خیانت او توطیې درک کړی دی. او په دې اړه به هیڅ بدګوماني ته په مغز کې ځای ورنکړي،"

همدارنګه اعتراف کوي چې د ساما کسانو ددوی د خپلو غړو په نیول کیدو کې د کابل له رژیم سره مرسته کړې ده لیکي:

شهید عارف د علي احمد په مشرۍ انشعابي ګټه او چټوونکو په لاس د هغه مهال د مسوولو ملګریو درایي په خلاف د استعمار- ارتجاع د قصابانو د ساتور خولې ته وسپارل شول.(۹۰)

د ساما د ډلې یو شمیر افرادو د سلطان علي کشتمند په مرسته په مرکزي سیمو او د کابل په اطراف کې د ملیشو جبهې جوړې کړې چې ځانونه یې د غزنې د شوری اتفاق ډلې ته منسوبول. بنایي ځیني سامایان شوری اتفاق ته ورننوتلي وي، د پاکستان په کویټه کې هم د پښتنو او بلوڅو بیلتون غوښتونکو سره د مقابلې په خاطر. مائویستي حزب د" تنظیم نسل نو هزاره مغل" په نامه جوړېږي، مائویستان چې زیاتره د میرانو له کورنیو څخه دي دهزاره جات په پر مختلیلو سیمو." جاغوری اوبهسودو"کې د واک خاوندان دي، هغوی زیاتره د مارکسیستي او په عین حال کې د نشنلستي تنظیمونو په جوړولو لاس پورې کړې دي، دساری په توګه " حزب مغل او تنظیم نسل نو هزاره ګوند(۹۱) مائویستانو د څو اړخیزو رویشونو څخه په استفادې سره د "رهالی" په نامه یوبل ګوند جوړ کړی دی چې د ګروه انقلابي خلق های افغانستان او یې برخلیکو مائویستانو څخه تشکیل شوی دی، مشري یې داکتر فیض احمد پر غاړه واخسته، د رهایي سازمان کمونستانو شعله یانو د تګلارې په اساس چې انقلاب له کلیو څخه ښارونو ته رساوه، دیوه نوي دیموکراتیک انقلاب لپاره د تیارۍ په خاطر د خپل فعالیت مرکزونه کلي وګر ځول، تر څو د ښارونو د کلا بندۍ لارښوني د ۲ لیو له لارې عملي کړي، هغوی پرېڅو او تر ځمکه لاندې فعالیتونو

تکیه وکړه.(۲۲)

په دی ډول یو شمیر مائویستان چی په ښارونو کی وو کلیو ته واستول شول، او ددغه سازمان د پریکړی له مخی دغه کسان باید په کلیو کی کمیټی جوړی کړی او له خپل نیږدی ښار سره په تماس کی وی، له دی پرته دی په کابل کی د رهبری شوری سره تماس ولری. همدارنګه دغه سازمان د " او ضاع کنونی ووظایف ما" په نامه یوه بولتین کی په تکتیکی ډول خپل دریځ ته تغیر ورکړی او اعلان یی و کړچی د اسلام له دین او اسلامی مسایلو سره باید ستراتیژیک بر خوردوشی تر څو د خلکو حساسیتونه راونه پاریږی. هغوی درک کړه چی ملت ددین لپاره دکفر پر خلاف جهاد ته پاڅیدلی دی او د مائویستانو چلند به د خلق او پرچم سره په یوه لیکه کی ځای نیسی.

د ساما سازمان غړو په کابل کی د پېو صنفی اتحادیو او په کلیوکی د چریکی ګروپونو جوړولو هڅه وکړه او د هیواد دننه او بهر یی د خپرونو په چاپ هم لاس پوری کړ. همدارنګه مائویستانو د قومونو د مشرانو دځان غوښتنی او قدرت پالنی له عادتو نو څخه په استفادی سره دقومی جبهو په جوړولو لاس پوری کړ او د مجاهدینو د اسلامی ګوندونو د عکس العمل د نشتوالی په سبب وتوانیدل چی آرامه ساه واخلی او په تولنه کی ځان ځای کړی. د ساما ډلی وکولای شول چی د مجاهدینو ددغی کمزوری څخه استفاده وکړی او خپل نفوذی افرا دد هغوی لیکوته ور ننه باسی. له بلی خوا د قومی آزادو جبهو تشکیل د خاد د جاسوسانو ننوتلو ته هم زمینه برابره کړه، او دکابل رژیم پردی بریالی شو چی د معاملی له لاری یو شمیر مائویستان د امتیازاتو په تمه د هغو ائتلافونو په محور راتول کړی چی د کار مل ددوری په وروستیو او دنجیب د دوری په لومړیو کی په کابل کی منځ ته راغلل، تعهد ورکړل شو چی زیات مائویستان به له رژیم سره همکاری کوی او هغوی په پاکستان کی د جهادی شخصیتونو دترور ذمه واری واخسته. ساما یانو غیر مذهبی خانان ترمذهبی خلکو غوره وبلل، ددی دواړو ترمنځ یی د تضادونو هڅی کولی، تر څو خپله بقا تضمین کړی، په همدی خاطر ساما ډلی د" افغانستان آزاد انقلابی دولت" په نامه په ۱۹۸۱/۱۳٦۰م دوی جبهی په نورستان کی د ملا افضل په مشری جوړی کړی چی زیات شمیر مائویستان د هغه په شاوخوا را ټول شول څرنګه چی په نورستان کی قبیلوی اختلاف ؤ او ملا افضل د کاتی قوم ته منسوب ؤ. د انور خان" امین" په نوم یوبل خان چی د "کامدیش" قوم ؤ او د ثور دکودتا په وروستیو کی د کامدیش علاقه دار ؤ په ۱۳۵۸ش/۱۹۷۹م بله آزاده جبهه د " نورستان جبهه" په نوم جوړه کړه چی له پیله ددی دواړو جبهو تر منځ اختلافات وو بیاهم دواړه د مسلمانو مجاهدینو په مقابل کی د یوی شریکی موضع خاوندان وو. ددی جبهی دوه تنه سیاسی او نظامی مشاورین د پرچمی کمونستانو څخه وو چی اکبر شورماچ او موسی آتش نومیدل. د شونکری په سیمه کی د انور امین د کاکا زوی جمعیت الله جلال بله جبهه جوړه کړه، دوی په خپلوکی ائتلاف وکړد ساما له مرکز څخه ددستور په اساس یی هڅه وکړه چی "اسلامی" دکلمه په خپله جبهه کی ځای کړی او د " جبهه جهاد اسلامی

نورستان " په نامه یې نوی تشکیل جوړ کړ چې هغوی ته یې اسلامي هویت هم ورکړاو په پیښورکي یې په اسلامي ګوندونو کې د ساثویستي افرادو د نفوذ او ننوتلو زمینه برابره کړه. د ساما ډلې یوه بله جبهه د مولوی عبدالرزاق په مشرۍ جوړه شوه، ددغو دوارو جبهو نظامي مسوولیت د کاجې یې ډیوه مزدور ډګروال سرور نورستاني په اوږه ؤ. د کار سل ددورې په وروستیو کې چې نجیب الله د خاد مسوول ؤ د نظامي همکارۍ او تفاهم لپاره نو موړې په هلیکوپتر کې د شال درې ته ولاړ او دساماپانو د آزادو جبهو سره د سرور نورستاني په منځګړتوب په دوه اړخیزو همکاریو موافقې ته ورسیدل. ددې جبهو په ځنګ کې د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي جبهو هم فعالیت درلود، دوی چې د سامایانو د ډلې په تروریستي اهدافو پوهیدل د انجنیر شیر محمد او سلارستم په نامه ددوو قوماندانانو له عکس العمل سره مخ شول چې یو لړ جګړې یې هم تر منځ راغلې. ساما ډله چې د کمونستانو په نامه یې شهرت درلود بیاهم ونشواي کولی چې په ټولنه کې فعال او د منلو وړوي. دوی درهایي، سازمان تقویه کړ او وي غوښتل چې د کابل په رژیم کې هم کلیدي ونډه ولري.

پرچمیانو چې نه غوښتل ماثویستان د کابل په اداره کې شریک کړي. دروسانو سشاورینو هم د هغوی پر موجودیت ناخوښي ښکاره کړه بالاخره اختلاف راغي او د هغوی یو شمیر بندیان شول. د رهایي ډلې رهبر پیښور ته راغی او د خپلو فعالیتونو مرکزیې د کویټې ښار وټاکه، په داسې حال کې چې په پیښور کې ددې سازمان پټ فعالیتونه جاري وو تشکیلات یې سره ګډ وډ شول او د سامایو شمیرافرادو ځانونه له کابله راوایستل،درهایي سازمان غړو توندې هڅې کولې چې هویت یې پټ وساتي، او ورو ورو یې په ډیر صبر او زغم خپل فعالیت ته دوام ورکاوه.(٤٤) هغوی په کویټه کې د" افغانستان د ښځو انقلابي سازمان" جوړ کړ چې مشره یې د ډاکتر فیض احمد میرمن میناوه، نو موړې د "کشور کمال" په نامه هم مشهوره ده. درهایي سازمان په جهادي ګوندونو کې خپل غړي ورننه ویستل چې زیات شمیر یې د مولوي محمد نبي محمدي په حرکت انقلاب اسلامي کې ځای پر ځای شول. خو په محاذلې، جبهه نجات، جمعیت اسلامي. دمولوي خالص په مشرۍ حزب اسلامي او څو تنه د حزب اسلامي حکمتیار په ګوند کې هم وو اوکله چې افشا شول فرانسې ته وتښتیدل.

ماثویستان په"زاهدان"کې هم له سره فعال شول. او د ډاکتر صادق اکبر په رهبرۍ یې دنیمروز په ولایت کې هم د خپلو پخوانیو فعالیتونو پراساس د هغو ساحه بیا پرانسته، چې د کابل او نورو ولایتونو له مرکزونو څخه زیات کسان د نظامي زده کړو لپاره نیمروز ته ولاړل.د نیمروز ولایت زیاتره شیعه ګان غیر مذهبي خلک وو او د ماثویستانو له مشر پرویز سره یې د ملګرتیا او سرستي تمایل درلود. هغوی د شیخ تقوي پر خلاف وو چې د نهضت د وړوکې ډلې مشري یې پرغاړه وه او د نیمروز د ډیرو وړوکي اقلیت نماینده او د امام خمیني د اهدافو پیرو ؤ' له هغه سره یې ټکر هم راغی. په دې سیمه کې پخوا د شعله جاوید دوه تنه فعال کسان یو پرویز نوسیده د درې ژبو او اهل تشیع نمایندګي یې کوله او بل ګل محمد

رحیمی د غزابی خانانو څخه دیوه تن زوی ؤ چی د پښتنو په نمایندګی یی فعالیت کاوه او دبندکمال خان په سیمه کی یی چریکی او نظامی مرکزونه جوړ کړی وو.

د ۱۹۸۲ کال د فبروری په لومړیو (۱۳۶۰ حوت) کی ددی دواړو اختلافات ډیر شول او د ساما یانو ترمنځ جګړی وشوی چی ډیر کسان یی پخپلو کی سره ووژل دواړو ډلو د ایران له دولت څخه د مرستی غوښتنه وکړه، ایران د پرویز ملاتړ غوره وباله او ګل محمد "رحیمی" د پاکستان په سرحد کی ووژل شو. د مائوستانو فعال کسان احمد سلطان په پیښور کی، داکتر صادق اکبر په نیمروز کی، داکتر حمید طاهری او ابراهیم په جا غوریو کی. ګلاجان فراهی په کویټه کی او آمر دین محمد، انور امین او ملا افضل په نورستان کی دی.

په اروپا کی د مائویستانو فعالیتونه د (انجمن محصلان افغانی درخارج) په نامه تنظیم کړل، خو وروسته یی د فازا سازمان جوړکړ او خپرونی یی هم درلودی.

په ۱۹۸۷/۱۳۶٦م کال کی ډاکتر فیض احمد او میرمن یی مینا په پیښور کی د نامعلومو کسانو په لاس ترور شول. درهایی سازمان ددغه ترور تور په حزب اسلامی پوری کوی او تر اوسه د دښمنی نه ډک دریځ ته دوام ورکوی.

## د مائویستانو خپرونی

دغی کمونستی ډلی چی د محمد داؤد له وخته په دننه او بهرکی تبلیغاتی فعالیت درلود، دوی هڅه کوله چی د "آزاد" او "آزادی" په نامه ځانونه منظم کړی، د سیاسی ماتو دشالید په خاطر یی هڅه وکړه چی د نفوذی عواملو په څیر په اسلامی ګوندونو کی خپل ځانونه قوی کړی، اصلاً دوی خپله سیاسی ځانګړی تګلاره وراندی بیوله. مائویستان کوم کسان چی ډیر لږ هم د مذهب ښبنی پکی وی په تاریخی لحاظ د ځان دښمن بولی. او فکر کوی چی دا خطر شته چی مذهب یی په وجود کی پیاوړی شی او په دښمن بدل شی. د داسی کسانو څخه ترڅو کولی شی کار اخلی او بیایی د صافی په توګه لری غورځوی. (۹۵)

د مائویستانو یوه ځانګړتیا د پټو فعالیتونو او دخپلو اهدافو او غریو مرموز ساتل دی، چی دا ددو وعواملو اغیزه ده، اپورچونیسم اوله موقع څخه استفاده کول، چی غواړی د تاریخ په هر پړاو کی ځانونه منظم کړی او په انفرادی توګه یی بقا تضمین وی. بل دا چی په مبارزه کی که څه هم دوی ډیری توندی او اورنی خبری کوی، بی هدفه او بی پروګرامه معلومیږی او نورو ته د انتقاد په طریقه ځانونو ته قانونی رنګ ور بخښی. د افغانستان په ټولنه کی د موجود و نابرابر یو سره سره هڅه کوی چی د اختلافاتو لمن تر

تکرونو او بیلتون پوری ورسوی. د الیو رووا فرانسوی محقق په عقیده مائوستان هغه لار ورکې دی چې بې هدفه د تولنیزو ارځښتونو د له منځه وړلو هڅه کوی، څکه خو د دوی په زیاترو خپرونو کې د دوی دغه بې هدفي او سیاسي بې ثباتي تر سترګو کیږی. د دوی کسان تر پایه سره له دې چې ځانونه بې انقلابي کمونستان ګڼل د لویدیځ په ټولنه کې د بې لاری کولو او نورو د تیرایستلو لارخپلوی او ځانونه هم له هغوی سره دیوه ارځ د افرادو په حیث مطرح کوی.

هیڅکله بې هم په خپلو خپرونو کې د شخصیتونو، د سیاسي لاری او دریځ او د افغانستان دراتلونکې لپاره د سیاسي او ټولنیز پروګرام په باب څه شی نه دی خپاره شوی.

## د هیواد دننه او بهر د مائویستانو خپرونې

د خپرونې نوم: *از هر چمن سمنی*

د خپریدو ځای او کال: ۱۹۸۰/۱۳۵۹م، پیښور.

د امتیاز خاوند: د جاما ډله د دساما د سازمان یوه څانګه.

د خپرونې نوم: *استقلال*

کال او د خپریدو نیټه: ۱۹۷۹/۱۳۵۸ پیښور.

د امتیاز خاوند: د رستاخیز ګوند. سرمحرر: نه لری، شمیر: ؟ دول: خبری سیاستي، خلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰ x ٤٤ سانتي متره، د کارپای: هماغه کال، محتوی: سیاسي.

د خپرونې نوم: *افغانستان آزاد*

د خپریدو کال ۱۹۸۰/۱۳۵۹م. د امتیاز خاوند او خپروندوی: په امریکا کې د وطندوستو افغانانو او د محصلینو ملي او دیموکراتیک اتحاد. د امتیاز خاوند: فازا ډله. مسوول مدیر: نه لری، د چاپ ځای: انداوقر - امریکا، ژبه: دری، قطع او د چاپ ډول: غیر منظم بولتین. تایپ/فوتو کافي ۲۱ x ۲۷ سانتي متره، د خپرونې د کارپای: یوازی څلور ګڼې خپرې شوی دی ۱۹۸۰/۱۳۵۹، محتوی: د حکمتیار او حزب اسلامي پر خلاف مقامي، انقلابي اشعار او سرمقاله.

د خپرونې نوم: *اوربل*

د خپریدو کال: ۱۹۸۳/۱۳٦۲م. خپرونکي او دامتیاز خاوند: د افغانستان ناپیلې ملي او دیموکراتیکه اتحادیه، مسوول مدیر: نه لری د چاپ ځای: برلین، المان، ژبه: دری، د خپرونې ډول، چاپ او کچه: وروکې کچه، یوازی یوه ګڼه فوتوکافي او خپره شوه، محتوی: د افغانستان د مجاهدینو پر خلاف مقالې.

یادونه: بنایي دغه خپرونه د ببرک کارمل د ملګریو او مائویستانو لخوا په شریکه برابره شوی وی.

د خپرونې نوم: *پیام زن*
د خپریدو کال: ۱۹۸۷/۱۳٦٦م، خپرونکی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو انقلابي جمعیت، سر محرر یا مسوول مدیر: نه لري، د چاپ ځای: کویټه، پاکستان، شمیر: ؟، ژبه: دري. د خپرونې دول، کچه: مجله فصلنامه "دري میاشتنی"، تصویري ۲۰ x ۲٦ سانتي متره، یو رنګ، دخپرونې د کار پای: ۱۹۹٦/۱۳۷۵م په کابل کې د طالبانو له قدرت ته رسیدو سره، محتوی: د افغانستان د پیښنو او خبري موضوعاتو په اړه مقالې، چې زیاتره په توند لهجه او بې له دې چې د قلم عفت پکې مراعات شي مقالې دغې مجلې د افغانستان د سیاسي رهبرانو په اړه کارتونونه هم خپرول، یادونه: د دې خپرونې واقعي امتیاز د (راوا) په سازمان پورې اړوندو مائویستانو دی.
د خپرونې نوم: *ثار* د خپریدوځای: آلمان، خپرونکی: د فازا سازمان.
د خپرونې نوم: *دانش*
د تأسیس کال: ۱۹۸۳/۱۳٦۲م، د امتیاز خاوند او خپرونکی: د کابل د استاذانو او محصلینو اتحادیه، سرمحرر: ؟، د چاپ دول: تیپ/فوتوکاپي کچه: ۲۱ x ۲۹ سانتي متره. محتوی: دغه خپرونه د رهایی ډلې ده چې د ساما په هغه ډله پورې تړلې دی چې لومړی یې د کابل له دولت سره ائتلاف وکړ او وروسته بیا د اختلافاتو د را پیداکیدو او ددې ډلې د غړیو د نیول کیدو څخه په همدې خپرونه کې دوی وخت پر وخت خپلې اعلامیې او دریځونه خپرول.
د خپرونې نوم: *دریا*
کال او دخپریدو ځای:؟، په پاکستان، خپرندوی: د افغانستان د ښځو انقلابي جمعیت، دول: مجله، چاپي، کچه: ۲۱ x ۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، محتوی (سنځیانګه) د اسلامپالو مجاهدینو پر خلاف مقالې.
د ژباړن یادونه: دریا د هغو خپرونو لړی ده چې د مائویستانو اسرار یې افشا کول او د مجاهدینو په ملاتړ خپریده، دریا هغو کسانو خپرو له چې له مائویستانو څخه بیل شوي او د چپي نظریاتو څخه پښیمانه شوي وو، یو مهم غړی یې انجنیر خان محمد ؤ چې د "حبیب الله" په مستعارنامه یې په شهادت کې هم مضامین خپریدل.
دخپرونې نوم: *رستاخیز*
د خپریدو ځای او کال: ۱۹۹۷/۱۳۷٦م، آلمان، خپرندوی: شورای رستاخیز سامای افغانستان د "طاهر بدخشي ستمي ډله" سر محرر: هیأت تحریر، تیراژ: ؟ دول: نامنظم میاشتنی اخبار چاپي، په څلورو مخونو کې، کچه: ۳۰ x ٤۲ سانتي متره، ژبه: دري د کارپای: دوام لري، محتوی: د مجاهدینو، طالبانو او ستم ملي د پلویانو پر خلاف مقالې.

د خپرونې نوم: *رهایی*

د خپریدو کال: ۱۹۸۱/۱۳۶۰م. خپرونکی او د امتیاز خاوند: د جنبش انقلابی مردم افغانستان د هوادارانو سازمان،سر محرر یا مسوول مدیر: نلری، د چاپ ځای: آلمان. ژبه: دری، د چاپ ډول او قطع: میاشتنی ۲۱ ×۲۹ سانتی متره، فوتو کاپی، د خپرونې د کار پای: ۱۹۸۸/۱۳۶۷م محتوی: د کابل د رژیم او مسلمانو مجاهدینو پر خلاف سیاسی مقالې.

د خپرونې نوم: *سیمرغی*

د خپریدو کال: ۱۹۷۹/۱۳۵۸م، د امتیاز خاوند او خپروونکی: په بهر کې د افغانی محصلینو د عمومی اتحادیې فرهنگی ارگان، سر محرر یا مسوول مدیر: پته د غلام حسن په نامه، د چاپ ځای: بوخوم، آلمان، ژبه: دری، د خپرونې ډول، کچه او چاپ: نامنظمه رساله، ۱٤ × ۲۱ سانتی متره تیپ او فوتو کاپی، د خپرونې د کار پای: پوازې دوې گڼې خپرې شوې، محتوی: د چینی کمونیزم په باب ایدیولوژیکی مقالې د ماتریالیزم د یالکتیک او د نړۍ د کمونستانو د فعالیتونو په باب مقالې او دشوروی د اکتوبر له انقلاب څخه ملاتړ.

د خپرونې نوم: *سوم عقرب*

دخپریدو کال: ۱۹۷۹/۱۳۵۸م، د امتیاز خاوند او خپرونکی: فازا په بهر کې د افغانی محصلینو ارگان، سر محرر یا مسوول مدیر: نه لری، دچاپ ځای: کار لسرو، آلمان. ژبه: دری، ډول، کچه او دچاپ طریقه: نامنظمه، ۲۹×٤۲سانتی متره، دخپرونې دکار پای: د ۱۳٦۰کال میزان د۱۹۸۱ اکتوبر، محتوی: د مائویستی سازمانونو مقالې او د افغانستان د مجاهدینو خصوصاً حزب اسلامی پر خلاف مخالفه موضع.

د خپرونې نوم: *صدای افغانستان*

د خپریدو کال: سنبله ۱۳٦۱/سپتمبر ۱۹۸۲م، د امتیاز خاوند او خپرونکی: د فازا مائویستی سازمان، سرمحرر یا مسوول مدیر: نه لری د چاپ ځای: کارلسرو – آلمان، ژبه: دری، د چاپ څرنگوالی، قطع او ډول: تیپ/چاپ ۲۹ × ٤۲ سانتی متره میاشتنی. د خپرونې دکار پای: پوازې څلور گڼې خپره شوه، دلوه ۱۳٦۲/جنوری ۱۹۸٤م محتوی: د فازا اعلامیې او مقالې، د مجاهدینو او کابل د رژیم مخالف مضامین.

د خپرونې نوم: *صدای زن*

د خپریدو کال ۱۹۸۱/۱۳٦۰م. خپرونکی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو او نجونو انجمن، مسوول مدیر یا سرمحرر: خاطر. د چاپ ځای: ډیلی، هند، ژبه: پښتو او دری، ډول، کچه او دچاپ څرنگوالی: میاشتنی د جریدې په قطع ۲۹ × ٤۲ سانتی متره. د کار پای: ۱۳٦۸ × ۱۹۸۷م، محتوی: د افغانستان په باب مقالې، مائویستی ډلو ته خوشبینی ښکاره شوې او له افغان مجاهدینو سره مخالفت.

د خپرونې نوم: *صدای نورستان*

د خپریدو کال: عقرب ۱۳۵۸/اگست ۱۹۷۹م، خپروونکی او د امتیاز خاوند: د نورستان د خلکو د

اسلامي او ملي افکار و نشراتي ارګان، سر محرر يا مسوول مدير: ؟، د چاپ ډول: مياشتنی نامنظمه د جريدو په شکل قطع ۲۹ x ٤۲ سانتي متره، ليکني، چاپي. محتوی: د انور امين (د جبهي رئيس) وينا وي، خبرونه او سياسي مقالي.

يادون: ۰۰ ځ. خپرونه په اروپاکې د فازا د ولي لخوا تکثيرکيدله او په جريده کې هم دمادي او نورو مرستو په باب يادونه شوي چې د نورستان جبهي او مائوستانو ترمنځ، اړيکې په ګوته کوي.

د خپروني نوم: *فرياد*

د خپريدو کال: حمل ۱۹۷۲/۱۹۹۳م، د امتياز خاوند او خپرونکي: شوری ديموکراسي برای افغانستان. سر محرر يا مسوول مدير: نه لري، د چاپ ډول: مياشتني د جريدي په کچه ۲۹ x ٤۲ سانتي متره، يو رنګ، تايپي/چاپي، له ٦-۷ مخونو پوري، محتوی: د افغانستان په باب مقالي او راپورونه او د طالبانو تحريک او مجاهدينو پر خلاف پروپاګند.

د خپروني نوم: ۲۳ ثور

د تاسيس کال: ۱۹۷٦/۱۳٥٦م، خپروونکي او د امتياز خاوند: په بهرکې د افغاني محصلينو د عمومي اتحاديې خپرني ارګان. سرمحرر يا مسوول مدير: پته د غلام حسن په نامه، د چاپ ځای: بوخوم/هانور - آلمان، شمير: ؟ ژبه: دری، ډول کچه او د چاپ څرنګوالي: تر ١٤ مې ګني پوري په ۲۱ x ۲۹ سانتي متره کچه او وروسته بيا ۲۹ x ٤۲ سانتي متره، يو رنګ د خپروني د کار پای: د ۳۰ ګنو څخه وروسته ۱۹۸۱ / ۱۳٦۰، محتوی: د کابل رژيم پر خلاف مقالي، د حزب اسلامي پر خلاف او د افغانستا په اړه خبرونه، د مائويستي ډلو اهداف.

يادونه: دغه خپرونه د يوه آلماني انجمن

*Genetal Union Afghanischer Studenten in Ausland*

په نامه د مالي مرستو په زور چليده.

د خپروني نوم: *مشعل رهايي/صبح رهايي*

د تاسيسي کال: ۱۹۸۱/۱۳٦۰م، خپروونکي او د امتياز خاوند: عبدالقيوم رهبر، د "ساما ډله" ګروه خلق های انقلابي افغانستان. سر محرر يا مسوول مدير: نه لري، د چاپ ډول: تايپي، ګستتنر ۲۱ x ۲۹ سانتي متره، دشبنامي په بنه، د چاپ ځای: کابل. محتوی: په افغانستان کې د مائوستانو د فعاليتونو او هدفونو بيانوونکي.

د خپروني نوم: *ندای آزادی*

د تاسيس کال: ۱۹۸۱/۱۳٦۰م، خپروونکي او دامتياز خاوند: قيوم رهبر د مجيد کلکاني ورور د ساماډلي رهبر، سرمحرر يا مسوول مدير: نه لري، د چاپ ځای: راولپنډی، پاکستان، ژبه: دری، ډول، کچه او د چاپ

ځرنګوالی: نا منظمه میاشتنی، ۲۱ x ۲۹ سانتی متره، تایپی/چاپی، د خپرونی د کار پای: ۱۹۸۸/۱۳٦۷م، محتوی: سیاسی تحلیلونه او مقالی او د مجاهدینو پر خلاف موضع ګیری.

د خپرونی نوم: *ندای جوانان*

د تاسیس کال: ۱۹۸٤/۱۳٦۳م، خپروونکی او د امتیاز خاوند: دسازمان آزادی بخش مردم افغانستان ځوانان "ساما" محتوی: د ساما د سیاسی اهدافو او افغانستان په اړه مقالی.

یادونه: دغه خپرونه چی یوازی دوی ګنی، د فوتوکاپی په بنه خپره شوه آدرس نه لری. او د مجید کلکانی د ورور عبدالقیوم له خوا په آلمان کی "د پستی مهر په استناد" نشر شوی ده.

د خپرونی نوم: *Afghanistan Tribune*

د تاسیس کال: ۱۹۷۹/۱۳۵۸م، خپروونکی او د امتیاز خاوند: نه لری، ژبه: آلمانی د چاپ ډول: خبری بولتین چی نا منظم یوازی دری ګنی خپور شویدی ۲۱ x ۲۹ سانتی متره کچه، څلور مخونه، تایپی/فوټو کاپی، د چاپ ځای: د آګن بنار آلمان، محتوی: د ماڼوستانو اعلامی او سیاسی مقالی.

د خپرونی نوم: *نور*

د خپریدو کال او ځای: ؟، پیښنور، خپرندوی: د نورستان جبهه "ساما" سرمحرر: انور امین.

# د شپږم برخه اخځونه او پایلیکونه

۱: کمونست های چند حزبی افغانستان، انتونی هارنلد، A. Arnold او روزان روزان کلس R. Klass د پوهاند علمي ژباړه، د افغانستان د جهادي آثارو د ژباړې ټولنه، پرلپسی ګڼه ۱۳، جدی ۱۳۶۷، ۱۲ مخ.
۲: د شپې په ځیرتیاری ورځې (فاجعه افغانستان) پوهاند محمد قاسم فاضلی، پاریس، آکتوبر ۱۹۸۹ (میزان ۱۳٦۸) ۳۰م مخ.
۳: د لیکوال مرکه د حزب اسلامی افغانستان له قوماندان قاضی محمد عاطف سره په سمنګان کې، د ۱۳۷۳ کال قوس پیښور، پاکستان، د غړکسست د افغانستان د بیاودانولو او تحقیقاتو په انستیتوت کې په هالند کې.
٤: افغانستان او شوروی اتحاد، هانری برادشر، ژباړه د افغانستان د جهاد ثقافتي شوری اسلام آباد ۱۳۷۰، ۱۰٤ م مخ.
٥: هماغه منبع، ۷۲ مخ.
٦: د افغانستان څو حزبی کمونستان، ارنلد وکلس، ٦۱ مخ.
۷: د شپې په ځیر تیاری ورځې، فاضلی، ۱٦۰ مخ.
۸: د ثور انقلاب "ورځپانه" بریژنف ته د حفیظ الله امین پیغام، د آکتوبر د انقلاب د ٦۲ مې کلیزې په مناسبت د عقرب ۱٦ مه ۱۳٥۸ کال، کابل.
۹: د امریکا دجاسوسی خالی اسناد، افغانستان د بحران پیل لومړی برخه، ۲۲ لمبرسند، ۱۳٦۹ کال د امام دخط پیرو مسلمانو محصلینو خپرونې، تهران ۱۰٥ مخ.
۱۰: افغانستان او اتحاد شوروی، براد شر، ۹٤ مخ.
۱۱: حقیقت انقلاب ثور (ورځپانه) دوهم پړاو ۲۱۱ مه ګڼه د سنبلې ۱۹ مه د سپتمبر ۷ مه ۱۹۷۹ م، کابل.
۱۳: افغانستان، علی رضا علی آبادی، د ایران د بهرنیو چارو وزارت له خپرونو څخه، تهران ۱۳۷۲، ۱۹۷ مخ.
۱٤: حقیقت انقلاب ثور" ورځپانه" ۱۳٤ مه ګڼه دوهم پړاو، ۱۸ جوزا ۱۳٥۸، د ۱۹۷۹ م د جون ۸ مه، کابل.
۱٥: داود خان د کې جی بی په لومو کې، الف هارون، حمل ۱۳۷۳ د ۱۹۹٤ مارچ، دوهم چاپ پیښور (۱۰۳) مخ.
۱٦: افغانستان و اتحاد شوروی، برادشر، ۹۳ مخ.
۱۷: انیس و رځپانه، ۱٦۹ مه ګڼه ۱۳٥۸ د میزان ۱۸ مه د ۱۹۸۹ م د آکتوبر ۱۰ مه، ۸ مخ.
۱۸: د سید محمد ګلابزوی مرکه، حقیقت انقلاب ثور ورځپانه، د ۱۳٥۸ کال دسلواغې ۲ مه د ۱۹۸۰ کال د جنوری ۲۲ مه.
۱۹: افغانستان و اتحاد شوروی، برادشر، ۹۳ مخ.

۲۰: افغانستان، علی رضا علی آبادی، ۱٦٦ مخ.

۲۱: اسنادلانه جاسوسی امریکا بخش دوم، ۲۱ نمبرسند، تهران د ۱۳۵۸ کال دسنبلی ۳۱ مه د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر ۲۲ مه، ۹۱-۹۲ مخ.

۲۲: افغانستان، علی رضا علی آبادی، ۱٦۸ مخ.

۲۳: اسناد لانهٔ جاسوسی امریکا، افغانستان بخش دوم، ۹ لمبر سند، تهران، سنبله ۱۳۵۸/۲۹، د ۱۹۷۹ دستمبر ۱۱ مه، ۳٦۳ مخ.

۲٤: افغانستان و اتحاد شوروی، برادشر ۱۵٦ مخ.

۲۵: انیس ورځپانه، ۲۳۰ مه ګنه کابل د ۱۳۸۵ کال د جدی ۳مه د ۱۹۷۹ م د دسمبر ۲٤ مه.

۲٦: روزهای چون شب تاریک، فاضلی، د ۱۹۸۹ آکتوبر د ۱۳٦۸ میزان، پاریس ٦۷ مخ.

۲۷: په افغانستان د شوروی اتحاد یرغل (انګلیسی) وایتنی **whitny** د کرملن د قصر له خپرونو څخه ۱۹۸۹ م ۷۳ مخ.

۲۸: بیانیه رفیق ببرک کارمل رئیس شورای عالی جمهوری دیموکراتیک افغانستان، حقیقت انقلاب ثور ورځپانه، لومړی ګنه دوهم پراو د جدی ۱۱ مه ۱۳۵۸ د جنوری لومړی ۱۹۸۰ م، کابل.

۲۹: روزهای چون شب تاریک: فاضلی، ۷۳ مخ.

۳۰: اعلامیه محکمه انقلابی حقیقت انقلاب ثور ورځپانه د دوهم پړاو لومړی ګنه ۱۳۵۸ کابل څلورم مخ.

۳۱: داود خان د کی جی بی په لومو کې، هارون، ۱۲۹ مخ.

۳۲: بسوی جهان بهتر، میخائیل ګورباچوف د منوچهر طلوعی ژباړه د وزارت ارشاد اسلامی او فرهنګ وزارت خپرونه، لومړی چاپ، تهران ۱۳۷۰/۱۹۹۱م، ۱٦۲م.

۳۳: ارتش سرخ در افغانستان بوریس ګروموف، د عزیزا رینفر ژباړه، د ایران د بهرنیو چارو وزارت له خپرونه څخه لومړی چاپ، تهران ۱۳۷۵/۱۹۹٦م، ۲٦-۲۸ مخونه.

۳٤: هماغه منبع ۳۰مخ.

۳۵: پیمان جنیوا بازی با سرنوشت افغانستان، روزان ګلس **R. Klaas**، د پوهاند داکتر علمی ژباړه کانون ترجمه آثار جهاد افغانستان پیښور د ۱۹۸۸ م سپتمبر، د ۱۳٦۷ سنبله، ۸مخ.

۳٦: اسلام او په افغانستان کې مبارزه (انګلیسی) **Islam and Resistance in Afghanistan** الیو روا **Oliver Roy** د کمبرج پوهنتون چاپ، لندن ۱۹۸٦م ۱۳٦۵ لمریز، ۱۰۲ مخ.

۳۷: د پروادا ورځپانې اعلامیه، د اتحاد شوروی د کمونست ګوند نشراتی ارګان د تاس خبری آژانس لخوا نشر شوی نیټه ۱۳۵۸ کال د مرغومی ۱۰ مه د ۱۹۷۹م د دسمبر ۳۰مه مسکو، د افغانستان د بیا جوړونې او تحقیقاتو انستیتوت آرشیف، هالند.

۳۸: افغانستان او اتحاد شوروی، براد شر، ۱۳۷ مخ.

۳۹: ارتش سرخ در افغانستان بوریس گراموف، ۷٤ مخ.

٤۰: هماغه منبع، ۷۷ مخ.

٤۱: ارتش سرخ در افغانستان، بوریس گراموف ۱۱۷ مخ.

٤۲: هماغه منبع ۱۰۸ مخ.

٤۳: افغانستان و اتحاد شوروی، برادشر، ۱۰٦ مخ.

٤٤: روزهای چون شب تاریک، فاضلی، ۹۱ مخ.

٤٥: ارتش سرخ در افغانستان، گراسوف ۱۵۳ مخ.

٤٦: هماغه منبع، ۸٤ مخ.

٤۷: انیس ورځپانه، ۱۰۵٦ مه گنه کابل د ۱۳۵۹ کال د جوزا لسمه د ۱۹۸۰ د مې ۳۱ مه.

٤۸: **Afghanistan (organisation of people S. Fida Yunas Vol 1, Shinwari Publish Center p. 80-84.**

٤۹: ارتش سرخ در افغانستان، گراموف، ۱۰۱-۱۰۲ مخونه.

۵۰: د جنیوا تړون د افغانستان له برخلیک سره لوبې، روزان کلس ۳٦ مخ.

۵۱: افغانستان (۱۹۸۸-۱۹۸۹) د شوروی وتل، سیاسي راتلونکی او بیارغونه، پروفیسور آلبرت ستاهل، **Prof. Albert Stahel** او پاول بوشرر **Paul Bucherer** د داکتر احمد شاه جلال ژباړه، کانون ترجمه آثار جهاد افغانستان د ۱۳٦۸ سنبله، د ۱۹۸۹ سپتمبر، پېښور، پاکستان ۳۵ مخ.

۵۲: د السویر **Elsvier** مجله، هالندي مقاله (په افغانستان کې تر اوسه د روسي مشاورینو په واسطه تر (۲۵۰۰) زیات سکاد توغندي تو غول شوي دي. د ۱۹۹۱م اگست ۱۳۷۰ زمری، امستردام هالند.

۵۳: افغانستان و اتحاد شوروی، برادشر، ۲۹ مخ.

۵٤: کمونست چند حزبی در افغانستان، ارنلدوکلس ٦۲ مخ.

۵۵: افغانستان او اتحاد شوروی، برادشر، ۳۰ مخ.

۵٦-۵۷: کمونست چند حزبی، ارنلدوکلس، ٦٤ مخ.

۵۸: ارتش سرخ در افغانستان، گراموف، ۱۵۳ مخ.

۵۹: همدغه اثر، ۱۵۳ مخ.

٦۰: همدغه اثر، ۱۰۷ مخ.

٦۱: افغانستان، علی رضا علی آبادی، ۱۷۷ مخ.

٦۲: کمونست چند حزبی، ارنلدوکلس، ۳٦ مخ.

٦۳: همدغه اثر، ۳۷ مخ.

٦٤: د جنیوا تړون... لوبې.. کلس، دوهم مخ.

۶۵: افغانستان، علی آبادی ۱۸۱ مخ.

*66- 1/Perestrojka, Michail Gorbatsov, Harper&Row, NY, teranslation Het Spectrum BV,Schiedam 1989*

*2/De Sovjet Unie na 1963, Z.R.Dittrich&A.P.Goudoever,HES uitgevers,Utrecht*

*3/ Power & Policy in the USSR, R.Conquest, London 1961.*

*4/The Soviet party-state. The politics of ideocratic despotism. C.A.Linden. NewYork 1983.*

*5/Archief of Afghanistan Institute, Almere, The Netherland, 1999.*

*67- "Moscow invites Mujahedeen", The F.P., 19.09.91 Peshawar.*

*68- "Afghan transitional set-up", The F.P., 05.10.91 Peshawar.*

۶۹: د ژنیو ترون، له ... لوبی روزان کلس، ۳۲ مخ.

۷۰: پټ وژونکي، سکاټ مک لیو، تایم مجله، د البدر په جریده کې خپور شوی، د انستیټوت تحقیقات و باز سازی افغانستان خپرنی ارګان، ۴۶ مه ګڼه د ۱۳۷۲ کال مرغومی د ۱۹۹۳ دسمبر.

۷۱: د هېواد په شمالي کې د روسانو جنایات، شهادت ورځپانه د حزب اسلامی افغانستان خپرنی ارګان، ۱۴۷ مه ګڼه ۱۳۶۷ کال د لیندی ۱۲ مه پنځم مخ.

۷۲: السویر مجله *Elsvier* "هالندی" د ۱۹۹۱م ۹ اګست د ۱۳۷۰ زمری، امستردام هالند.

۷۳: ۱۵۰۰ بندی افغانان د روسیې د ګیلاس جوړولو په فابریکه کې "راپورتاژ" البدر جریده، د افغانستان د بیاجوړولو او تحقیقاتو انستیټوت خپرنی ارګان، ۳۶ مه ګڼه، اوم کال د ۱۳۷۱ کال سنبله، د ۱۹۹۲م کال سپتمبر.

۷۴: البدر جریده، فوق العاده ۳۵ مه ګڼه، اوم کال سرطان ۱۳۷۱/جولای ۱۹۹۲م.

۷۵: افغانستان او د شوروی وتل، البرت ستاهل او پاول بوشرر ۳۵ مخ.

۷۶: مسلم انګلیسی ژبې ورځپانه پاکستان چاپ، د ۱۹۸۸م د جولای ۲۸ مه د ۱۳۶۷ کال د مرغومی ۶ مه.

۷۷: افغانستان او شوروی ... وتل ستاهل او برشرر، ۴۱ مخ.

۷۸: مطبوعات کمونستی در افغانستان، پوهاند حبیب الرحمن هاله. د افغانستان د جهاد ثقافتی شوری پنځم سمینار د ۱۳۷۱ کال د غوایی، ۱۹۹۲ کال اپریل میاشت، اسلام آباد د ۳۶۴ مخ.

۷۹: همدغه اثر، ۳۶۰ مخ.

۸۰: تحلیل واقعات سیاسی افغانستان عبدالحمید مبارز، ۱۳۷۵/۱۹۹۶م، ۴۰۰ مخ.

۸۱: همدغه اثر، ۳۶۳ مخ.

۸۲: د لاندې منابعو څخه استفاده شوی ده:

الف: د پوهاند حبیب الرحمن هاله یادښتونه د کابل پوهنتون د ژورنالیزم استاد.

ACKU

ب: د اعظم رهنور د زریاب د افغانستان معاصر لیکوال یا د بیتونه، چې په دې برخه کې یې را سره مرسته کړې ده.

ج: په هالند کې د افغانستان د بیا جوړونې او تحقیقاتي انستیتوت آرشیف.

د: **The far East an Australia, EDS. Afghanistan**

هـ: **Afghanistan, S. Fida Yunus Vol-1, P-278,291 Peshawar.**

۸۳: مطبوعات کمونستي در افغانستان، هاله، ۳۶۰ مخ.

**84: Kabul. Daily Closed Projecting Hekmatyar The Frontier Post 13-08-91 Peshawar.**

۸۵: شعله جاوید جریده داکتر رحیم محمودي، لومړی گڼه د ۱۳۴۷ کال د حمل ۱۵ مه د ۱۳۶۸ کال د اپریل ۱٤ مه، کابل.

۸۶: زموږ د ټولنې د اجتماعي، طبقاتي اړیکو د اوسني حالت تحلیل د انجینر عثمان مقاله، شعله جاوید جریده، دریمه گڼه د حمل ۲۹ مه د ۱۳۴۷ (هـ لمریز، ۱۹۶۸م د اپریل ۲۸ مه، کابل).

۸۷: د "ساما" "سازمان آزادی بخش مردم افغانستان د کدر او مشر تا به پریکړه لیک د ۱۳۶٤ مرغومي ۹ مه د ۱۹۸۵ کال د دسمبر ۳۰ مه.

۸۸: افغانستان، اسلام و نوگرایي سیاسي، الیوروا د ابو الحسن سرو قدمقدم ژباړه، داستان قدس رضوي د خپرونو څخه لومړی چاپ، ۱۹۹۰/۱۳۶۹، تهران، ۲۱۸ مخ.

۸۹-۹۰: د غرجستان د واحد اعلامیه، "ساما" د جنبش انقلابي افغانستان لخوا تکثیر، ۱۳۶٤ د مرغومي ۵مه، د ۱۹۸۵ د دسمبر ۲۰ مه، په هالند کې د افغانستان د بیاودانولو او تحقیقاتو انستیتوت آرشیف.

۹۱: اسلام او مبارزه په افغانستان کې، انګلیسي:

**Islam and Resistance in Afghanistan** الیورروا **Oliver Roy** د کمبرج پوهنتون چاپ، لندن ۱۹۸٦م، ۱۳۶۵ لمریز ۲۲٤ مخ.

۹۲: دریا د افغانستان د مائوستانو د رسوائیو بیانونکې د هجرت موسی له خپرونو څخه، لومړی ټوک، پیښور ۳٤ مخ.

۹۳، ۹٤: همدغه اثر ۵۸ او ۵۹ مخونه.

اووم فصل

# د افغانستان اسلامي نهضت

## د پوهنتون له مبارزو څخه د مجاهدینو تر بری پورې

د ۱۳٤۸ کال د حمل له ۱٤ - د ۱۳۷۱ د ثور تر پنځمې

د ۱۹٦۹ کال د اپریل له ٤ - د۱۹۹۲ د اپریل تر۲٥ مې

د اساسي قانون له تصویب څخه وروسته چې محمد ظاهر شاه غوښتل د دیموکراسۍ د اصل سره سم په ټولنه کې یولړ آزادۍ راولي، سیاسي فعالیتونه یې هم عنوان کړل، هغه رسماً سیاسي احزابو ته د فعالیت اجازه نه وه ورکړې او د سیاسي ګوندونو او آزادۍ قانون یې نه ؤ تو شیح کړی، خو د روسانوتر ملاتړ لاندې کینې لاسو ګوندونو ته د فعالیت لاره خلاصه شوه.

دولت په خپلو قرار دادونو کې له روسانو سره د تعهد په اساس د دغو ګوندونو د رشد او فعالیت زمینه برابره کړې وه، کمونستي احزاب جوړ شول او رسماً یې پراخ فعالیتونه پیل کړل چې د دولت د لوړ رتبه مامورینو او پخپله د پاچا له غیر مستقیم ملاتړ څخه برخمن وو.

کمونستانو د هیواد په علمي موسسو او پوهنتون کې چې یوازینی علمي او د پوهې مرجع شمیرل کیده په نفوذ او پراخوفعالیتونو لاس پورې کړ او دکار او تبلیغاتو زمینه ورته برابره شوه، د ځوکلونو په موده کې یې وکړای شول چې په ټولو علمي موسسو او دولتي ادارو کې نفوذ او تسلط پیدا کړي. په دې موده کې اسلامي ګوندونه او سیاسي فعالیتونه یې په کابل کې نه وو، مسلمانو ځوانانو او ځینو روحانیونو او علماؤ و دکمونستانو په مقابل کې او د دولت د غیر مسوولانه کړو وړو په وړاندې دیوه اسلامي حزب د جوړیدو ضرورت احساسا وه.

د دغسې یوه حزب جوړیدل د هغه وخت د سیاسي او ټولنیز حالت له مخې له پوهنتون څخه بهر اغیزمن نه ؤ، ځکه چې د سیاسي فعالیتونو ساحه زیاتره د مسلمانو ځوانانو او د تعلیمي موسسو په منځ کې وه. د افغانستان په علمي موسسو خصوصاً په کابل پوهنتون کې مسلمان ځوانان ډیر وروسته د کومې پشتوانې د نشتوالي له امله پر دې و توانیدل چې دیوه منظم سیاسي حرکت په توګه ځانونه تنظیم کړي ځکه چې هر سیاسي حرکت یوې مناسبې زمینې ته ضرورت لري او له هغې پرته داسې تحریک ډیر بطی او ناکامیدو، په افغانستان کې جنبش او حرکت لپاره دیوه اسلامي حزب د جوړیدو زمینه په ۱۳٤۸/۱۹٦۹م کې برابره شوه، ځکه چې:

۱: دا چې زموږ، تولنه یوه اسلامي تولنه وه، خلک پر اسلام معتقد وو، دغه د فکري رشد لپاره غوره فکتور ؤ. چې یوازې تحریک کوونکې ته یې اړتیا وه، چې ګټه ترې واخستل شي. او دیوه منظم اسلامي سیاسي حرکت په څېر تبارز وکړي.

۲: د کمونستانو په مقابل کې د خلکو حساسیتونه وو، هغوی د خلکو په عقایدو سیاسي لوبې کولې او ملنډې یې پرې وهلې. افغان اولس چې مسلمان ؤ د الحادي ډلو د دغو کړو وړو په مقابل کې دیوه اسلامي حزب جوړیدو ته ضرورت درلود تر څو د دوی له عقایدو څخه چې په خطر کې وه دفاع وکړي.

د افغانستان د اسلامي نهضت په اړه څېړونکو یو لړ کارونه سر ته رسولي دي، او غالباً هغوی یو پربل پسې په یوه منبع استناد او تکیه کړې ده، واقعیتونه په یو لوري کش کړای شوي دي. او د نهضت بنسټ ایښودونکي څیني غلام محمد نیازي او یو شمیر نور استاد رباني بولي. څیني کسان مجددي ددغه نهضت د بنسټ ایښودونکي په توګه پیژني، خو لکه چې له نامه څخه یې ښکاري دغه نهضت د پوهنتون د تولنې له بطن څخه چې د مسلمانو ځوانانو د فکري حلقې مرکزؤ را منځ ته شو، چې په دې اړه به بحث وکړو.

د دې مطلب له یا دولو څخه هدف دا دی چې څېړونکي د لودویک آدمک Ludwig adamec الیوررواOlivire Roy آستا اولسن Asta Olesen په څېر باید د مقاومت له یوه لوري سره د اړیکو او تمایل په سبب له واقعیتونو څخه سترګې پټې نه کړي، دوی باید د پوهنتون د مسلمانو ځوانانو د نهضت د بنسټ ابتکار د عبدالرحیم نیازي په مشرې وبولي، او په نورو څېړنو او تحقیقاتو کې دې د دغه باب په سمونه او اصلاح کې هڅه وکړي، ددې اثر د لیکوال څېړنې که څه هم د په لاس کې اسنادو او شواهدو په اساس دې په دې اړه یولنډ بحث لري چې د سیاسي ګوندونو طبقه بندي د یوې تصویري کرونو لوژۍ په بڼه چې د مقاومت د تحریک د بنسټ او د مسلمانو ځوانانو د نهضت په باب د یوه تاریخي پراو واقعي تصویر بیانوي لري.

## حزب اسلامي

### (د افغانستان د مسلمانو ځوانانو نهضت)

دغه حرکت د یوې کارګرې انګیزې څخه پرته بیه دې چې خلک په یوه اسلامي انقلاب پوه شي یوازې د پوهنتون په یوه علمي تولنه کې د عقیدې پر احساس بیل شو، یو شمیر ځوانو او مسلمانو محصلینو چې د کمونستانو د کړوړو په مقابل کې وو د یوه اسلامي سیاسي جریان د جوړیدو تشکیل احساسا وه، د لومړي ځل لپاره د اسلامي حزب د جوړیدو فکر د پوهنتون دلیلیې په جومات کې د هغو

محصلینو سره چې د لمانځه لپاره را تلل پیدا شو چې دوی به دلمانځه نه وروسته د کمونستانو د کړو وړو په اړه له یوه بل سره بحث کاوه، څرنګه چې په کابل پوهنتون کې شرایط او وضعه داسې راغلې وه چې کمونستانو د پراخو مظاهرو او سرو شعارونو په اوچتولو سره د مسکو او ځان پرخلاف د هرډول فعالیت لاره بنده کړې وه، آن تردې چې د محصلینو په منځ کې په درسي ټولګیو کې هم مسلمانو ځوانانو جرئت نشوکولای چې د اسلام او معنویاتو دفاع وکړي، ورځ په ورځ په ځوانانو کې د مسکو او چین د کمونستي خپرونو له پرغل سره مارکسیستي مفکوره خپریدله.

په ۱۳٤۸ لمریز/۱۹٦۹م کال یو شمیر مسلمانانو ځوانانو د کابل پوهنتون په جومات کې د حزب اسلامي پر جوړولو تعهد وکړ، په هغوی کې د غه کسان وو: عبدالرحیم نیازی، چې د ځوانو مسلمانو د اسلامي حزب د لومړنۍ لاربنو د په حیث غوره شو عبدالرحیم نیازی په ۱۳٤۸/۱۹٦۹م کال د حزب اسلامي افغانستان بنسټ ایښودونکی دی چې عمر یې د شاه د رژیم په تنګسو کې قربان کړ. (۱)

د نهضت د شورا غړي دغه کسان وو: مولوی حبیب الرحمن، عبدالقادر توانا، ډاکټر محمد عمر، انجنیر ګلبدین حکمتیار، انجینر حبیب الرحمن، انجینر سیف الدین نصرتیار، غلام رباني عطیش، سید عبدالرحمن، استاذ ګل محمد، استاد عبدالحبیب او سید منصور آغا.

د ژباړن یادونه: اصلاً خواجه محفوظ منصور دی سید منصور حسین یار د حزب اسلامي یو بل تکړه قوماندان ؤ.

دغه دوولس کسان د لمانځه په لیکوکې په جومات کې له یو بل سره آشنا شول. د دوی له ډلې څخه یوولس تنه شهیدان شوي دي یوازې حکمتیار د نهضت د وصي په توګه د مبارزو په تاریخ کې رول ولوباوه، عبدالرحیم نیازی چې ناروغ شو، په غالب ګومان د رژیم په اشاره په روغتون کې مسموم او په شهادت ورسول شو، مولوی حبیب الرحمن، ۱۳٥٤/۱۹۷٥م کال د لغمان په عملیاتو کې په لغمان کې ونیول شو او وروسته اعدام شو، انجنیر حبیب الرحمن د داود رژیم پر خلاف د کودتا درهبرۍ په تور ونیول شو او اعدام شو، ډاکټر محمد عمر د کشم ولسوالۍ په وسله والو عملیاتو کې ونیول شو. او وروسته اعدام شو، انجنیر سیف الدین نصرتیار د داود په وخت کې جیل ته واچول شو او د تره کي په وخت کې د غلام رباني عطیش، سید عبدالرحمن او استاد عبدالحبیب حناني سره یو ځای په ګولیو ووژل شول، خواجه محفوظ منصور چې په ۱۳٥٤ کال یې په پنجشیر کې د عملیاتو مشري په غاړه وه په تې حالت کې ونیول شو او له استاذ ګل محمد او یو شمیر نورو سره په شهادت ورسول شول. (۲)

هغوی تصمیم ونیو چې د خپل سیاسي دریځ د اعلام او د تنظیمي تشکیلاتو لپاره غونډه وکړي او د حقوقو پوهنځي په یوه اطاق کې را ټول شول، دوهمه غونډه یې د ادبیاتو په پوهنځي کې وه، هغوی تر ټولو لومړی تصمیم ونیو چې د شب نامې په ډول یوه خپرونه تیاره کړي او د پوهنتون د محصلینو او نورو عالي ښوونځیو دزده کوونکو په منځ کې یې وویشي.

په لومړي وخت کې منظم اداري ارګان او د ډلو ویش او منظم سپارل یې دشورې د غړو په منځ کې

نه وو او تولی چاری بی په ډله ئیزه توګه سرته رسولی، عبدالرحیم نیازی د ځوانانو په جذبولو او د نهضت په اداره کی مهم رول درلود، تولو دده هوښیاری ته درناوی درلود او ددغه اسلامی سازمان قیادت بی په غاړه شو. د ځوانانو د اسلامی نهضت تشکیلات ډیر زر اوج ته ورسیدل او یوزیات شمیر محصلینو بی غړیتوب تر لاسه کړ.

ددی واقعیت په درک کولو سره چی اسلام په خطر کی دی او کینی لاسی ګوندونه د روس او چین په ملاتړ د وخت د واکمنو د شیطانی دسیسو په اساس د لویو ځواکونو په مشوره را منځته شوی دی... ځکه خو یو شمیر مسلمان محصلین په کابل پوهنتون کی سره را تول شول او د ځوانانو په منځکی بی د مارکسیزم، رلیننیزم د افکارو د خپریدو د مخنیوی د لارو چارو په باب هڅی وکړی. (۳)

## د اسلامی نهضت هدفونه

د مسلمانو ځوانانو اسلامی نهضت په افغانستان کی د مسلمانانو د لیکو د پیا ورتیا او له نړیوالو اسلامی تحریکونو سره د اسلامی نظام د جوړیدو په خاطر د پیوستون له هدفونو سره د خپل فعالیت بنسټ کیښود، دغه حرکت ورو ورو د پوخوالی مرحلی ته ورسید، د سازمان د غړو ځانګړی احساس سیاسی پوهی او شعور ته لوړ شو، د نظر او فکر سطحه بی لوړه شوه، همدارنګه د حاکم نظام را نسکورول او په تولو سیاسی، اقتصادی او تولنیزو ابعادو کی د اسلامی نظام نفاذ د اسلامی نهضت د اهدافو له جملی څخه وو.

## عبدالرحیم نیازی

### د اسلامی نهضت بنسټ ایښودونکی

عبدالرحیم نیازی په ۱۳۲۲ لمریز/۱۹۴۳م کال د فاریاب ولایت په پښتون کوټ سیمه کی دنیا ته سترګی وغړولی او په خپل ولایت کی د لومړنی او لیسی دوری زده کړو له پای ته رسولو وروسته بی د کابل پوهنتون ته لاروموندړ، دشرعیاتو په پوهنځی کی بی عالی زده کړو ته دوام ورکړ، نو موری د کابل پوهنتون د مبارزی او سیاسی فعالیتونو په هماغه پیل کی اصولی جلند او منظم سیاسی تشکیلات جوړ کړل، او د مسلمانو ځوانانو اسلامی نهضت بی را منځ ته کړ، که څه هم دغه ویاړلی عمر زر پای ته ورسید خو دمعقولو ابتکارونو په واسطه بی په لنډ عمر کی د کابل پوهنتون په ساحه کی د اسلامی نهضت بنسټ کیښود، چی وروسته د محصلینو له هماغی تولنی څخه سیاسی جریانونو ریښی وکړی او هر یو په ځانګړی نوم او روش د هیواد سیاسی ډګرته ننوتل. (۴)

نیازي چې د اسلامي نهضت د جوړېد و په مهال دوه ویشت کلن ؤ د ځوانۍ له احساساتو سره متین شخصیت او د سید جمال الدین افغاني په څېرېې خوځنده اروا درلوده، په خبرو او وینا ګانو کې د اصولي تفکر او تدبیر خاوند ؤ. اسلامي مسایل یې په داسې طریقه بیانول چې د پوهنتون په سطحه د ځوان قشر لپاره د فهم وړوو، هغه په هغه وخت کې د دیني پیورالیسم څخه خبرې کولې او مذهبي اختلاف یې رداوه، سني او شیعه یې په یوه لیکه کې د مسلمان په نامه تنظیمول چې له چپي ګوندونو (خلقي – پرچمي او شعلیانو) څخه یې توپیر وشي. عبدالرحیم نیازي د دیني پوهې او استدلال یوه نمونه ؤ چې د وخت پیښې یې د میټا فیزیسم او ماتریالیزم د یالکتیک سره په رابطه کې په مظاهرو کې داسې تحلیلولې چې د نهضت د پلویانو لیکې یې نورې هم زیاتولې، څرنګه چې کمونستانو خپل موقف په خطر کې لیده د حاکم نظام او پولیسو په مرسته یې هڅه کوله چې د مسلمانانو په غونډو کې مداخله وکړي او داسې زمینه برابره کړي چې د نهضت یو شمیر فعال غړي زنداني او شکنجه کړي.

مرحوم نیازي د کمونستي (روس او چین) د ډلو سره د سیاسي ائتلاف او ګډ فعالیت مخالف ؤ، هغه به ویل؛ موږ له دوی سره هیڅ شریکه وجهه نه لرو، ځکه له مظاهرو څخه د دوی هدف د سیاسي موقف ترلاسه کول او د خپټي ډکول دي. په داسې حال کې چې زموږ مظاهرې د اسلام او د افغانستان په اسلامي ټولنه کې د کفر دنفوذ مخنیوی دی. ځکه خوموږ په هیڅ ډول نشو کولی له کین لاسو سره ګامونه اوچت کړو. (٥)

اروابناد نیازي ته له څه مودې وروسته بدني کسالت پیدا شو، خو بیایې هم د کابل پوهنتون څخه تر زرنګار پارک پورې پلې لاره وهله او تر څلور ساعتونو زیاتې یې پرلپسې ویناوې کولې. د مظاهره چیانو په مخ کې به روان ؤ او هغوی ته به یې لارښونه کوله. د سیاسي او فرهنګي مسایلو له نظره یې مسلمان ځوانان دیو والي او د اسلامي نظریې پر محور را څرخول، هغه په پښتو، دري، عربي او انګلیسي ژبو برلاسی ؤ، په هره غونډه او مظاهره کې به یې نتیجه ګیري او پریکړه لیک صادرولو.

د اداري او تشکیلاتي مسایلو په برخه کې ډیر څیرؤ د کمونستانو تخریبي پلانونه به یې په وخت کشف او شنډول. د مظاهرې څخه یوه شپه وړاندې به یې دهرې لیسې او پوهنځي نماینده وروغوښت فعالیتونه او مسوولیتونه به یې ورو تاکل، هڅه به یې کوله چې په مظاهرو کې له توند حرکت او ټکر څخه ډډه وکړي.

نیازي به تل نینګار کاوه او ویل به یې:

په هیڅ صورت دښمن ته دا فرصت مه ورکوی چې د مظاهرې لیکې ګډې وډې کړي.

ځکه د شعله یې کین لاسو او پرچمي کمونستانو دا عادت ؤ چې د مسلمانانو پرخلاف په یوه ائتلاف کې په ګډوډي او جنجال لاس پورې کړي او په همدې سبب پولیس مداخله وکړي. نیازي هغه ځوانان منع کړل چې د ځینو افرادو او ډلو پر خلاف یې شعارونه ورکول او تل به یې ویل:

مرګ په هغو کسانو چې له اسلام څخه بده ګڼه اوچتوی. عبدالرحیم نیازی د ناروغی په سبب په علی آباد روغتون کی بستراو د ډاکتر عبدالفتاح نجم تر علاج لاندی شو.

د عینی شاهدانو څخه یو تن وایی: کله بی چی پوښتنی ته ورغلو، کوټه ډیره تنګه وه، یوازی شپږ کسانو اجازه اخسته چی اطاق ته ور ننوزو او د احوال پوښتنه یی وکړو، کله یی چی پر بستره سر ته ودریدو هغه یی سده ؤ، څو دقیقی وروسته را په سدشو، مور تولو ژړل خو هغه په یو جهان هیلو او بشپړ جرئت مور ته تسلی راکوله او ویل یی: مه ژاړی که هر څو جسماً یوله بل څخه لری کیږو زړونه موسره نژدی دی.

د اسلامی نهضت غړو ډیری هڅی وکړی ترڅو چی په یوه ورځ کی دوه لکه افغانی اعانه را ټوله شوه، کله چی د اسلامی نهضت غړو غوښتل هغه د علاج لپاره هند ته واستوی په الوتکه کی یی روح و سپاره، داسی آوازی شوی چی د دولت کسانو او ډاکتر عبدالفتاح نجم چی دپاچا محمد ظاهر شاه اعتمادی ډاکترؤ هغه ته زهر ورکړل، او مسموم شو، د ۱۳۵۰ کال د جوزا په ۲۹ مه /د ۱۹۷۱م د جون په ۱۹مه په شهادت ورسید. یوڅیړونکی لیکی: په حقیقت کی د عبدالرحیم نیازی ناروغی وژونکی او خطرناکه نه وه، خو د ځینو راپورونو په حواله یی هغه ته تدریجی زهر تزریق کړی وو. (۶)

د عبدالرحیم نیازی جنازه د مسلمانو ځوانانو د اسلامی نهضت یوشمیر غړوله کابل څخه فاریاب ته یو وړه، او هلته د پښتون کوټ په اولسوالی کی خاورو ته وسپارل شو، *"اروایی بناده او یاد یی دی وی"* عبدالرحیم نیازی د خپل شهادت څخه وروسته د مبارزینو دڅغورنی د پرښتی په بنه په اسلامی نهضت کی را څرګند شو. (۷)

د اروابناد نیازی څخه یو اثر (د اقتصاد اهمیت په اسلام او کمونیزم کی) په نامه پاتی دی.

"د تفصیل لپاره دی د لیکوال بل اثر (تاریخچه نهضت های اسلامی در جهان) ته رجوع وشی.

## رهبری شورا

د اروابناد عبدالرحیم نیازی له وفات څخه وروسته د مسلمانو ځوانانو نهضت مرکزی شوری د پولی تخنیک په جومات کی غونډه وکړه، او د رایو او انتخاباتو په واسطه یی د نهضت اسلامی د اجرائیه شوری لپاره پنځه تنه وټاکل، چی د سازمان د رهبری شوری او تنظیم د سیاسی چارو مسوولیت یی په غاړه واخست. دغه پنځه کسان عبارت وو له:

انجینر حبیب الرحمن چی د نهضت د رهبر په حیث هم وټاکل شو. غلام ربانی عطیش، انجینر ګلبدین حکمتیار، انجینر سیف الدین نصرتیار او مولوی حبیب الرحمن.

## د محصلینو اتحادیه

د پوهنتون په علمي مرکزونو کې د محصلینو د اتحادیې په تشکیل کې د مسلمانو ځوانانو نهضت هم برخه وا خسته په اولینو ټاکنو کې ددغه اتحادیې له ۲٦ کرسیو څخه ۹ کرسۍ د نهضت ځوانانو تر لاسه کړې، وروسته یې ددې اتحادیې اساسنامه او د دوهم ځل انتخاباتو لپاره د زمینې برابرو په اړه بحث اوکار وکړ.

په دوهم ځل انتخاباتو کې د اسلامي نهضت ځوانانو دوولس او په دریم ځل کې (۱۸) کرسۍ لاس ته راوړې. د زیاترو پوهنځیو د لوړنیو ټولګیو نمایندګان چې ټول (۱۱) پوهنځي وو د ځوانانو د اسلامي نهضت څخه غوره کړای شول. انجنیر حکمتیار او ډاکټر محمد عمر د ځوانانو د اسلامي نهضت لخوا د اتحادیې په اجرائیه کمېټې کې په کار پیل وکړ، د پرچم ګوند څخه ډاکټر نجیب او خلیل زمر، او د شعله جاوید څخه لهیب او شاکر. دوه تنه د خلق ګوند څخه او عصمتي د صدای عوام څخه د اجرائیه شورې په حیث وپیژندل شول.

د اجرائیه شورې په خبرو اترو او بحثونو کې پرچمیان، خلقیان او شعله یان په یوه لوري کې وو او نطاقان یې لهیب او خلیل زمر وو ډاکټر نجیب د پرچم ډلې په تشکیلاتي سطح کې څلورم کس شمېرل کېده. او هغوی چې غالباً د سوله ئیزې مبارزې شعار ورکاوه له ټکر څخه یې ډډه کوله. د محصلینو په اتحادیه کې ډیر ټکر او جنجال د ځوانانو د اسلامي نهضت او شعله یانو ترمنځ پېښېده، وروسته بیا نجیب د پرچمیانو د نطاق په حیث اتحادیې ته معرفي شو او د حکمتیار په قول د نجیب قلقلي چې د محتوی څخه تشې وې پخپله د پرچم ډلې د غړو لخوا له ملنډو سره مخ وې. هغه په بحث کې دهوښیارۍ استدلال او تحلیل نه درلود او د ده پرځای به خلیل زمر خبرې کولې.

## د مائوستانو او اسلام پالو ترمنځ ټکر

له هغو وروسته چې کیڼ لاسو ګوندونو دا درک کړه چې اسلامي نهضت ورځ په ورځ په ځوانانو کې محبوبیت پیدا کوي، چې که وضعه همدغسې دوام وکړي بنایي د کمونستانو تغر ورټول شي. ځکه خو هغوی د ټکر او جګړې زمینه برابره کړه تر څو دولت وویروي د محصلینو په اتحادیه او سیاسي فعالیتونو بندیز ولګوي. په هغه غونډه کې چې په کابل پوهنتون کې جوړه شوې وه. شعله یانو پر مسلمانانو ناځاپي حمله وکړه، مسلمان ځوانان یې مجبور کړل چې له ځانو دفاع وکړي. څو تنه ټپیان شول، او د سیدال په نامه یو تن شعله یي په روغتون کې مړ شو، د کابل د امنیې قوماندان مینه پال د حکمتیار له نیولو څخه وروسته ویلي وو: د پاچا زوم سردار ولي چې د قوای مرکز قوماندان ؤ پولیسو ته د محصلینو په مینځ کې د مداخلې امر ورکړی ؤ. (۸۱)

دولت د مسلمانو ځوانانو اته تنه، انجینر حبیب الرحمن، انجینر حکمتیار، مولوی سلطان محمد، معلم نذیر، احمد شاه، معلم طیب، نصرتیار او ډاکتر عمر ونیول او جیل ته یې واچول، حکمتیار او ډاکتر محمد عمر په یونیم کال بند او نور په کمه اندازه سزا محکوم شول. د هغوی څخه اوس حکمتیار او محمد طیب ژوندی دی او نور شهیدان شوی دی.

### د نهضت پټې فعالیتونه

د محمد داؤد د جمهوریت له راتلو سره اسلامی نهضت له یوه خطرناک ګواښ سره مخ شو. مسلمانو ځوانانو په خپلو مجلسونو کې محمد داؤد په افغانستان کې د کمونستانو مؤسس معرفی کاوه، که څه هم په غونډو او مظاهرو بندیز لګول شوی ؤ خو شعارونه بشپړ د داود، امریکا او روس پر خلاف وو، محمد داؤد چې د روسانو او کمونستانو په ملاتړ قدرت ترلاسه کړی ؤ په صراحت یې اعلان وکړ چې په دې وروستیو کې ترقی پال قوتونه د ارتجاعی ځواکونو تر فشار او تیری لاندی وو او د مترقی قوتونو د دفاع په خاطر موږ مجبور شوو په انقلاب لاس پوری کړو، د محمد داؤد هدف ددې دوو ډلو له بنو دلو څخه څرګندؤ چې نهضت ته یو لوی خطر ؤ. په حقیقت کې د داود کودتا موږ د نظامی حرکت په لور روان کړو. (۹)

له بلې خوا دغه روحیه په اردوکې ډېره اوج ته رسیدلې وه چې په داسې حال کې چې څو تنه کمونستان په ځوتانکونو وتوانېږی یو ٤٠ کلن نظام رانسکور کړی موږ مسلمانان چې زیات شمیر غړی د اردو په تشکیلاتو کې لرو ولی به په دې کار توان ونه لرو. دغه سیاسی حرکت چې یو اولسی او پخپله راپور ته شوی حرکت ؤ چې نه له بهر څخه حمایه کیده او نه یې د ننه له دولت سره سازش درلود. د ځوانانو د زیات ملاتړ څخه برخمن شو. په همدې روحیه د مسلمانو ځوانانو فعالیت د دفاع وزارت د ادارو په منځ کې زیات شو او یو شمیر نظامی افسران ورسره په تماس کې شول.

اسلامی نهضت ددې دوو عواملو له امله تصمیم ونیو چې د یو شمیر افسرانو سره اړیکی ونیسی همدارنګه عام ذهنیت او دنهضت غړی هم په دې برخه کې چمتوو.

د داود په جمهوری دوره کې د خلق او پرچم کمونستی ګوندونه نیغ له دولت سره همکار وو، خو د شعله جاوید ګوند سره پاشل شوی ؤ. څکه چې په پوهنتون کې د اسلامی نهضت سره د مظاهرو په وخت کې له تکر څخه وروسته له داخلی اختلافاتو سره مخ شول، په مختلفو ډلو انشعابونه پکی راغلل او سره تیت او پرک شول، له بلې خوا مائویستانو "شلعه یانو" د دولت له فعالو کمونستانو سره اختلافات درلودل چې دروس له حمایې څخه برخمن وو، هغوی بنیادی تضادونو په سبب د مقاومت توان له لاسه ورکړ. افغان ملت ګوند محافظه کارانه پر مخ تلو، اوله دولت سره یې د ملی ګرایانه تمایلاتو د

زیاتیدو په سبب همکاری زیاتوله، مساوات ګوند او پخپله میوند وال چې په افغانستان کې د کمونیزم له مخالفینو څخه ؤ دکودتا په جرم له یو شمیر نورو کسانو سره اعدام شو. یو شمیر نورو سیاسي څېرو تصور کاوه چې د محمد داؤد په نظام کې د فعالیت فرصت نشسته دا نزوا لاره یې غوره کړه او په فردي دول یې له دولت سره همکاري پیل کړه.

په اردوکې د مسلمانو ځوانانو پټو فعالیتونو د مشر تا به د مقام په موجودیت کې چې د انجینر حبیب الرحمن پرغاړه وه او حکمتیار تبلیغاتي چارې پر مخ بیولې د دولت سره د عکس العمل فضا زیاته برابره کړه، کمونستان چې د نظام په دننه کې زیات فعال وو د دولت استخبارات یې په واک کې وو او د نهضت پر خلاف یې تخریبي فعالیتونه پیل کړل. له څو میاشتو وروسته د عبدالمقتدر په نامه دیوه منصبدار د جاسوسۍ په سبب چې ځان یې مسلمان باله او د نهضت غړیتوب یې درلود دولت ته په اردوکې د اسلامپالو د فعالیتونو راز افشا شو. نو موسړی وروسته بیا د پرچم ډلې یو فعال غړی ؤ. انجینر حبیب الرحمن دداود پر خلاف دکودتا په جرم د نهضت له یو شمیر افسرانو سره زنداني شو. مسلمانو ځوانانو ددې لپاره چې په فعالیتونوکې یې رکود را نشي خپل تشکیلات یې له سره نوي کړل، او انجنیر حبیب الرحمن له زندان څخه په هغو لیکونوکې چې د تشناب پر کاغذ لیکل کیدل او پټ په جاموکې د هغه کورنۍ او وروسته حکمتیار ته رسیدل دا هدایت ورکړ چې په اردوکې د جذب او فعالیت چارې په لاس کې واخلي.

## په اردوکې د حکمتیار فعالیت

د افغانستان اسلامي نهضت په اردوکې د نظامي افرادو د جلب او جذب په خاطر پراخ فعالیتونه پیل کړل، زیات شمیر خلکو له دوی څخه د محمد داؤد د رژیم پر خلاف د نظامي تحرکاتو د پیل لپاره ځانونه تیار وښودل او ځوځله تصمیم هم ونیول شو، د اردو لوړ رتبه غړو لکه د هوایي قواؤ قوماندان ضیاء الدین او د زرهدارو د څلورمې فرقې رئیس ارکان جګتورن شیر علي خان د داود د نظام پرخلاف د عملیاتو بشپړ تیاری نیولی ؤ.

سره له دې چې د داؤد پر خلاف دکودتا پلان عملي نه شو خود اردو په منځ کې د نهضت اسلامي د نفوذ کار دوام درلود، د ۱۳۵۷ کال د ثورله کودتا څخه وروسته هغو افرادو له مجاهدینو سره مرستې کولې او زیاتره د افغانستان هغه نظامي قطعې چې د دوی په واک کې وې د مجاهدینو له لیکو سره یو ځای شوې. د نمونې په توګه کولای شو د اسمار، اعلي جرګې، پکتیکا، پروان او غور بند د غونډونو نومونه یاد کړو، چې دمسلمانو نظامي افسرانو په ابتکار هغوی له مجاهدینو سره یو ځای شول.

## د انجینر حبیب الرحمن شهادت

د ۱۳۵۳ کال د اسد په ۲۷مه انجینر حبیب الرحمن د کودتا په تور د یو شمیر پوځي افسرانو سره یوځای بندي شو. او د محکمې له حکم څخه وروسته په اعدام محکوم او شهید کړای شو. د انجینر حبیب الرحمن څخه د "جهان بیني اسلامي" په نامه یو اثر پاتې دی. نور نظامي افسران په مختلفو مودو بند محکوم شول، د حکمتیار د نیولو لپاره د دولت فعالیتونه جاري وو، او د پرچم ډلې غړي فیض محمد د داخله چارو وزیر له زندان څخه د حکمتیار خوشې کول ځوځله یوه لویه اشتباه وبلله.

د نهضت پاتې غړو پټه یوه اضطراري جلسه جوړه کړه او تصمیم یې ونیو چې عملاً د نظام پر خلاف قیام وکړي، حکمتیار چې په نظامي امورو کې د نهضت لخوا مسوول ؤ د جګتورن شیر علي خان په کور کې په کابل کې کلابند شو، هغه سرې پخپله هم پخوا د او د رژیم بندي کړي ؤ او پولیسو ئې کور تر څارنې لاندې نیولی ؤ چې که حکمتیار راغي ویې نیسي.

په داسې حال کې چې حکمتیار د کور دننه ؤ سبا ته یې ځان له محاصرې وویوست او د صادق په نامه د نهضت د غړي یو بل پوځي افسر کورته چې په کارته پروان کې ؤ ولاړ، وروسته بیا د نهضت د فعالیت مرکز ته چې د شمالي په قرزه کې ؤ د صفی الله پاچا کورته ولاړ، هغه مرکز هم دولت ونیو او د نهضت غړي یې بندیان کړي وو، حکمتیار او ډاکتر عمر په دوو برخو شمال او جنوب کې په تیت او پرک فعالیتونو پیل وکړ، ډاکتر عمر کشم ته ولاړ خو له پخوا څخه وپیژندل شو او ونیول شو. حکمتیار بیرته کابل ته راغي، د نهضت د پاتې غړو له تنظیم څخه وروسته دځای پربدلون مجبور شو تخار ته ولاړ او د سید عبدالرحمن په کور کې غلی ؤ. له هغه ځایه بدخشان ته د ډاکتر لطیف کورته ولاړ، خو دغه کسان تول پخوا بندیان شوي وو، بیرته د پکتیکا ارګون ته راغي، له هغه ځایه پکتیا ته ولاړ او پټ ژوند یې کاوه، ترڅو مناسبه زمینه برابره او وتوانیږي چې د قومونو اعتماد ور جلب کړي خو ناکام شو، هغه یوه موده د رباط په سیمه کې پټ پاتې شو. حکمتیار وایي: یوه موده مې چې د پکتیا په سرحدي سیمه "رباط" کې تیره کړه چې څو دوکانونه او غریبانه هوټل پکې وو، د هوټل خاوند یو وخت د رحمن بابا لیسې زده کوونکی ؤ چې دمسلمانو ځوانانو په مظاهرو کې یې ګډون کړی ؤ، زه یوه او نی په هغه هوټل کې پاتې شوم او ځان مې د سیمې او سیدونکې معرفي کړچې اصلاً زموږ کورنۍ له هغو ځایه کندر ته هجرت کړی دی. دغه سړي به د اسلامي تحریک او زما د نقش کیسې کولې، بیله دې چې ما وپیژني، ځکه دیر کلونه په دې منځ کې تیر شوي وو، هغه به پوښتل چې هغه ستاسو د ولایت ؤ آیاتاد هغه په باب څه اوریدلي دي... کومه ورځ مې چې د پاکستان خوا ته هجرت کاوه زه یې وپیژندلم.(۱۰)

هغه د نهضت له پاتې یوشمیر غړو سره د پاکستان د وزیر و سیمې میرا نشاه ته راغي، یو شمیر د نهضت غړیو پخوا پاکستان ته پناه راوړې وه.

### د داود پرخلاف لوسرتي وسله وال پاڅون

په ځلګو کې د نارضایتي خپریدل او دا چې زیاتره اولس په اندیښنه او اختناق کې ژوند تیر اوه، د نهضت تحرکات زیات شول، نهضت د محمد داؤد سیاسي موقعیت ډیر ښه درک کړی ؤ چې د روسانو او کمونستانو په اختیار کې دی، پخپله سازمان هم د سیاسي فشارونو لاندې ؤ چې بالاخره یې له دې پرته بله چاره نه وه چې د رژیم پر خلاف په ټول هیواد کې وسله وال عملیات پیل کړي.

د ځوانانو اسلامي نهضت چې د علماؤ او ځوانانو په غړیتوب د اسلامي نهضت او یا اسلامي حزب په نامه مشهور شوی ؤ د زیات شمیر علماؤ او ځوانانو له ملاتړ څخه برخمن ؤ د فشار دیوی قوی په حیث یې نشوای کولی چې یې تفاوتي غوره کړي، دا ځل د نظامي عملیاتو قومانده د ګلبدین حکمتیار پر اوږو وه، کله یې چې نظامي پلان د شورى له غړو سره مطرح کړ، برهان الدین رباني نه یوازې دا چې مخالفت و کړ بلکې دغه کار یې هلاکت وباله او پخپله د عملیاتو له پیلید و څخه دمخه مصرته ولاړ، مولوی خالص پخوا پاکستان ته تللی ؤ.

د نهضت غړو چې پاکستان ته یې پناه وړې وه، د پاکستان د حکومت په مرسته یې نظامي زده کړې وکړې او د نظام د رانسکورولو لپاره یې نظامي سرستي هم تر لاسه کړې که څه هم پخوا هم حکمتیار سرحدي ایالت ته راغلی ؤ هغه په یوه مرکه کې ویلي دي: د بوټو په وخت کې د پاکستان سرحدي سیمو ته پخواهم راغلی وم، او د وزیرستان له یوه بانفوذه مشر سره چې نیاز علي خان نوسیړی او د "کروپک" په سیمه کې یې لوی مرکز ؤ ساتماس ورسره درلوده د هغه پلار له افغانانو سره د انګریزانو په جګړه کې مهم رول درلود، له هغه څخه مې وغوښتل چې له مور سره مرسته وکړي، هغه ژمنه وکړه او عملاً یې مرسته راسره وکړه. (۱۱)

د عملیاتو پلان حکمتیار داسې طرح کړ چې د نهضت غړي یې په یوه وخت کې په کابل، لغمان، بدخشان، غزني، پکتیا او پنجشیر کې عملي کړي، د ۱۳٥٤ کال د سرطان په ۲۸مه (۱۹۷٥م د جولای ۱۹مه) چې د خپلواکۍ د جشن او د سرطان د ۲٦ مې د دریمې ورځې سره برابره وه. د عملیاتو ورځ غوره کړای شوه، د کابل عملیات د حکمتیار په قومانده وو، په داسې ډول چې د جشن په دریمه شپه محمد داؤد د مرنجان تپې لاندې د جشن سیمې ته د آتش بازۍ "اورلوبې" ننداري ته راتلو چریکي او ګوریلایي عملیات به پیل کیدل، په لغمان کې د عملیاتو قومانده د مولوی حبیب الرحمن او په پنجشیر کې د خواجه محفوظ، شاه ابدال او احمد شاه مسعود، په کشم کې د ډاکتر محمد عمر، په سرخرود کې د آدم خان په کونړ کې د استاد ګل محمد او محمد سالک د ننګرهار په ښې کوټ کې د عزیز الرحمن او عبدالرحیم په غاړه وه، په نظر کې وه چې د ملي پاڅون پیل به د نظامي افسرانو له اقدام سره یو ځای وي، د نهضت غړو په ځینو ځایونو کې د آزادو فعالیتونو زمینه برابره کړې وه، او په حقیقت کې اردو باید دغه قیامونه دیوه

کودتایي عمل په توګه پای ته رسولی وای. ددغه عملیاتو یوه ستونزه داوه چې دنهضت یو تن غړي ددغه نیتي له را رسید و څخه مخکي وتیول شو. هغه مخکي پوځي زده کړه کړې وه او ددغه پلان څخه پوره خبرؤ. اسلامي نهضت ددی ویری په سبب چې عملیات افشا نشي مخکي یې پیل کړل، څرنګه چې دغه فعالیتونه د جګړي او نظامي عملیاتو د تجربي د نه درلودلو په سبب ناکام شول یو شمیر قوماندانان ونیول شول. خو د مخالفت دیوه لوی حرکت په توګه یې محمد داؤد وار خطا کړ، هغه یې دی ته اړ کړ چې له روسانو سره په اړیکو په خپل سیاسي چلند او کابینه کي له سره غور وکړي.

محمد داؤد درک کړی وه چې د نظام دکړو وړو په وړاندی د ځوانانو اسلامي نهضت بې پروا نشي پاتي کیدای. ځکه خوبې ددغه نهضت د غړو په پیژندلو د دوی دري سوه تنه ونیول او جیل ته یې واچول.

د نهضت اسلامي (حزب اسلامي) د شوری زیاتره غړي جیل ته ولویدل، او د روسانو او کمونستانو د خلق پرچم، دلي فعالیتونه هم پراخه شول.

د ۱۳۵۵ کلا په وروستیو کي د محمد داؤد د رژیم ځانګړي محکمي د اسلامي نهضت دري تنه غړي په اعدام او ۲۳ تنه نور یې په عمري بند او پاتي نور یې په مختلفو مود و بند محکوم کړل پر اعدام محکوم شوی مولوی حبیب الرحمن، داکتر محمد عمر او خواجه محفوظ منصور وو. دغه دري تنه د ۱۳۵٦ کال د سرطان په ۱٤مه د ۱۹۷۵ د جولای ٥ مه اعدام شول، داکتر محمد عمر شهید یو کتاب د "شما ای فرزندان سیهن" لیکلی دی چې د حزب اسلامي افغانستان لخوا په پیښورکي بیا چاپ شوی دی.

## د افغانستان د اسلامي نهضت اړیکي او فعالیتونه

د افغانستان اسلامي نهضت د کار په پیل کي له هیڅ اسلامي حرکت سره په بهر کي ارتباط نه درلود، د دغه سازمان د مشرانو تیت او پرک اطلاعات د مصر داخوان المسلمین او د پاکستان د جماعت اسلامي په باب او همدارنګه د حسن البنأ، سید قطب او مولانا مودودي ځیني ژباړل شوی آثار ددوی پیوند د افغانستان څخه بهر د اسلامي اهدافو سره نښلاوه. وروسته بیا د میتافسیسم او ماتریالیزم د یالکتیک په باب مناقشوی کتابونو تود بازار پیدا کړ، اود خدای (ج) د ثبوت دلایل او فیلسوف نماها کتابونه او وړوکي نوري رسالي چې په قم کي د مکارم شیرازي لخوا چاپیدلي افغانستان ته راوړل شوی د افغانستان د ځوانانو اسلامي نهضت د هیواد څخه بهر د اسلامي سازمانو نوله هدفونو څخه اغیز من ؤ خو نژدي اړیکي یې ورسره نه درلودي.

کله چې قاضي حسین احمد کابل ته سفر وکړ د ځوانانو د نهضت اړیکي ورسره پیدا شوی، نهضت هم دوه ځله په ۱۳۵۲/۱۹۷۳م کال هیأت یوځل د انجینر حبیب الرحمن او بل ځل د انجینر نصرتیار په

مشری پاکستان ته واستول چې له بهر اسلامي تحریکونو سره د نهضت د لومړني بهرني ارتباط ځخه شمېرل کېږي.

د بارسوخه خلکو او استاذانو سره هم د ارتباط لپاره فعالیتونه پیل شول، غلام رباني عطیش او مولوي حبیب الرحمن د هغوی کسانو له ډلې څخه وو چې لوړې زده کړې یې پای ته ورسولې د ښوونکو په حیث یې دندې قبولې کړې. د استاذانو په ډله کې چې د محمد ظاهر شاه د سیاسي نظام او د کمونستانو مخالف وو پوهاند غلام محمد نیازي او استاذ رباني وو، چې د نهضت د جوړید و په پیل کې یې د اسلامي نهضت غړیتوب ونه مانه خو د ځوانانو د اسلامي نهضت د داعیې ملاتړ یې اعلان کړ. استاذ غلام محمد نیازي او استاذ رباني ددې نهضت غړیتوب نه درلود، هغوی وروسته نهضت ته ور وبلل شول، غلام محمد نیازي متاسفانه آن د شهادت تروخته د اسلامي نهضت غړیتوب ونه مانه، که چې هغه د شرعیاتو د پوهنځي رئیس هم ؤ له بهر څخه یې د نهضت تائید کاوه خو د رسمي غړي په توګه یې پکې له ګډون څخه ډډه کوله او ویل یې چې زما اداري مقام اجازه نه راکوي چې د مسلمانو ځوانانو په اسلامي نهضت کې شامل شم. (۱۲)

خو کله چې دولت هغه دیوه مسلمان په نامه له کاره ګوښه کړ او بیا یې جېل ته واچاوه، سره له دې چې تولنیز موقعیت یې بدل شوی ؤ د اسلامي نهضت سره یوځای نه شو. او دسیف الدین نصرتیار په خواب کې یې چې په جیل کې یې تماس ورسره ونیو وویل: (دې ته غواړې چې نوم یې ددې نهضت د غړو په لست کې ولیکل شي او له هغې څخه خطر پیدا شي). خو هغه په وار وار تکرار کړې وه چې دې له بهر څخه د نهضت تائید کوي.

## د ځوانانو په نهضت کې د رباني موقعیت

استاذ رباني هم تر هغه وخته چې د داؤد په دوره کې د نهضت غړي جیلونو ته کش شول د ځوانانو د اسلامي نهضت غړیتوب ونه مانه، لومړی ځل د ۱۳٤۸ کال په منځ کې کله چې په علي آباد روغتون کې بستري ؤ حکمتیار د شرعیاتو د پوهنځي له دوو تنو محصلینو سره پوښتنې ته ورغی د خبرو اترو په منځ کې یې غوښتنه تری وکړه چې په نهضت کې شامل شي. خو رباني سره له دې چې د ځوانانو اسلامي نهضت تائید اوه، د غړیتوب څخه ډډه وکړه.

له زندان څخه د حکمتیار د خلاصون نه وروسته په میرویس میدان کې د انجنیر کریم په کور کې د نهضت دغړوغونډه جوړه شوه. انجنیر حبیب الرحمن، ډاکتر عمر، مولوي حبیب الرحمن او سیف الدین نصرتیار د سیاسي بدلونو او د نهضت د فعالیتونو او له خلکو سره د اړیکو په باب راپورونه برابر کړل، په دې راپور کې هغوی وویل چې د پوهنتون له استاذانو سره نو اړیکي ونیوی. چې د نهضت سره

ملګرې او همکارې پیل کړې په دې ډله کې استاد رباني هم ؤ، رباني حاضر شوی چې په ۱۳۵۳/۱۹۷٤م کال د نهضت غړیتوب ومنې.

په هماغه غونډه کې پریکړه وشوه چې د نهضت د بنیادي اصولو د ګرندي کېدو په خاطر دې رباني ته وظیفه ورکړل شي چې د نورو هیوادونو د اسلامي ګوندونو له مرامنامو څخه په استفادې دځوانانو د نهضت لپاره اساسنامه برابره کړي.

رباني دارد و د افسرانو په منځ کې د نهضت له فعالیت څخه خبر نه ؤ خو د هغه ارتباط په سبب چې نهضت له ده سره نیولی ؤ دولت دده د نیولو حکم هم کړی ؤ، ده د شرعیاتو د پوهنځي د یو شمیر محصلینو په منځ کې ځان بې ګناه وباله او ویې ویل چې غواړي پولیسو ته ځان تسلیم کړي. د شرعیاتو د محصلینو یو تن اسلام الدین (قاضي اسلام الدین چې وروسته د جمعیت اسلامي مشهور قوماندان ؤ چې دتخار په پیښه کې ووژل شو) دده مخه ونیوه چې پولیسو ته ځان وسپاري، د نهضت غړو دې جمال مینې ته بوتلو جامې یې وربدلې کړې او د مولوي حبیب الرحمن او انجینر جان محمد سره جلال آباد ته بوتلای شو او د نازیانو له لارې یې پېښور ته راوست.

ده د نهضت له ټولو هغو غړیو سره چې پاکستان ته مهاجر شوي وو نه پیژندل او درې تنه شهید مولوي حبیب الرحمن، شهید استاد عبدالله او انجنیر جان محمد دده سره ارتباطي غړي وو، رباني پخپله هم نه غوښتل چې د نهضت د ټولو غړیو سره ارتباط ولري او افشا شي، ځکه هغه تصمیم درلود چې بیرته افغانستان ته ولاړشي او د افغانستان دولت ته د خپل برائت سند ورکړي چې د نهضت په فعالیتونو کې یې برخه نه درلوده. کله چې مولوي حبیب الرحمن د جماعت اسلامي او پاکستان له حکومت سره د افغانستان د اسلامي نهضت سره د همکارې په اړه ارتباط ونیو د نهضت د غړیو په منځ کې په غونډه کې پریکړه وشوه چې له افغانستان څخه د حکمتیار تر راتګ پورې څه پریکړه ونه شي.

استاد رباني د پاکستان جماعت اسلامي دیوه مسوول ارباب سعید په کور کې پیښورته نژدې اوسیده. کله چې حکمتیار له پکتیا څخه پیښور ته راغی تینګار یې وکړ چې په لومړني غونډې کې استاد رباني هم باید ګډون وکړي چې د نهضت د غړیو د تشویق سبب شي او همدارنګه د پاکستان جماعت اسلامي ګوند او حکومت دا درک کړي چې زموږ نهضت نور د ځوانو محصلینو له طبقې څخه او چت شوی دی او د پوهنتون استاذان او علما هم پکې غړیتوب لري خو رباني انکار وکړ. ځکه هغه نه غوښتل چې افشا شي، نو موږ شپږ میاشتې په پیښور کې پاتې شو او له هیچا سره یې تماس نه درلود، وروسته بیا د جماعت اسلامي په مرسته زمینه برابره شوه چې سعودي عربستان ته ولاړ شي؛ په حقیقت کې د نهضت غړیو هڅه وکړه چې استاذ رباني د نماینده او استازي په توګه سعودي ته واستوي چې د سعودي دولت او خلکو سره په لیدنو او ارتباط د هغوی مادي او معنوي مرستې جلب کړي.

رباني په سعودي عربستان کې زیاتې هڅې وکړې او د افغانستان د دولت له سفارت سره یې تماس

ونیو، د قاضي هدایت په واسطه یې چې د داؤد د رژیم د سفارت له کارکوونکو څخه ؤ هغه ارتباط ونیو او داډیې ترلاسه کړ چې که دنهضت غړی د دولت پر خلاف کوم فعالیت و نکړی عفوه به شي. رباني په پیښنور کې د نهضت غړیو ته لیک واستاوه او غوښتنه یې وکړه چې د دولت پر خلاف څه حرکت ونشي، وروسته په هیواد کې دننه به قومانده کوي او څه سرستي هم مه ترلاسه کوي، څکه ما له قاضي هدایت سره خبرې کړي دي، غوره داده چې له دولت سره تفاهم وشي، دغه لیک د نهضت د شورې په غونډه کې حکمتیار ولوسته، او یو شمیر دحکمتیار په شمول احساساتي شول او څرګنده یې کړه چې د استاذ رباني دغه لیک څه معنی لري. په داسې حال کې چې دولت د نهضت غړي اعداموي تفاهم څه معنی لري؟ حکمتیار په هغه غونډه کې وویل: تفاهم له داود سره مهم نه دی او د نهضت د ډیرو غړیو د اعدام سبب به شي. په هغه غونډه کې د رایو په اکثریت پریکړه وشوه چې رباني ته ځوابیه لیک واستوی او تینګار پرې وکړي چې هغه دا دنده نه درلوده چې د داود له دولت سره تفاهم وکړي بلکې نوري دندې یې په غاړه وې، څکه خو ژر تر ژره باید بیرته راشي.

## په حزب اسلامی افغانستان

### د ځوانانو د اسلامي نهضت د نامه بدلیدل

له سعودي څخه د رباني د بیرته له را ستنیدو سره دنهضت دغړیو چلن له هغه سره ډیر توند او سخت ؤ. استاذ ګل محمد او خواجه محفوظ ډیر توند انتقادات پرې وکړل، او دده لیک یې په داسې حال کې چې د داود د نظام پر خلاف وسله وال اقدامات په نظر کې وو د داود له رژیم سره د تفاهم په باب یو غیر مسوولانه کار وباله. په هغه غونډه کې د ١٣٥٤ کال د قیام د پیل په باب تصمیم ونیول شو. د نهضت د زیاترو غړو په اکثریت پریکړه وشوه او د تحریک ځوانانو نظامي زده کړې هم کړې وې. په هغه غونډه، کې چې پیښنور ته د استاذ رباني له راتګ سره وشوه د اسلامي نهضت د رهبرۍ د ټاکلو په باب باید تصمیم نیول شوی وای.

د انتخاباتو د په لار اچولو هیأت عبارت ؤ له مولوي نصر الله منصور، مولوي جلال الدین حقاني او مولوي رحمت خان څخه، د زعامت لپاره مولوي حبیب الرحمن، د حکمتیار لپاره تیرشو او د ١٢٢ تنو د نهضت له غړیو څخه (١١١) تنو حکمتیار ته رایه ورکړه، پنځه رایې استاذ رباني او (٦) رایې مولوي جمیل الرحمن او سستنکۍ وې، وروسته چې بیا حکمتیار د خپلې سیاسي تګلارې له مخې د ځوانانو د اسلامي نهضت پر ځای د تحریک نوم په حزب اسلامي افغانستان بدل کړ څکه چې علما، صاحبمنصبان، د قومونو مشران او خلک پکې د غړیو په حیث شامل شوي وو جمیل الرحمن هم عملي

همکاری ورسره پیل کړه او بیعت یې وکړ، رباني د مصر دسفر په پلمه د حکمتیار له همکاری څخه ډډه وکړه او قاهری ته ولاړ.

## د حکمتیار د زعامت ناکنه او د رباني انشعاب

کله چې د ۱۳٥٤ کال عملیات ناکام شول او د حزب زیات کسان جیل ته ولویدل رباني له مصر څخه راستون شو او له حزب اسلامی سره یې خپل مخالفت اعلان کړ، هغه عوامل چې د رباني او حزب اسلامی ترمینځ یې اختلاف راوست عبارت وو له:

۱: له حکمتیار سره دسلیقې اختلاف، رباني له داؤد سره د تفاهم هڅه کوله او وسله واله مبارزه یې یو ډول ځان وژنه بلله، په داسې حال کې چې حکمتیار د وسله والې مبارزې غوښتونکی و، چې د فشار دیوی قوی په حیث د داود دولت له روسانو او کمونستي ډلو سره د همکاری په پالیسی کې بدلون ته اړ شي.

۲: رباني چې د شرعیاتو پوهنځي د استاذ په حیث نسبتاً له لوړ مقام څخه برخمن ؤ له حکمتیار سره بیعت یې چې دپوهنتون یو محصل ؤ د ځان توهین او بې عزتي بلله همدغه د استاذ او محصل د نظر اختلافات د ځوانانو او د پوهنتون د استاذانو ترمنځ منځ ته راغلی ؤ. پوهاند غلام محمد نیازی د شرعیاتو پوهنځي رئیس سره له دی چې دکمونستانو او د محمد ظاهر شاه او محمد داؤد د سیاسی روش مخالف ؤ نه یې شو کولی له عبدالرحیم نیازی سره بیعت وکړی چې د شرعیاتو د پوهنځي د وروستي کال محصل ؤ او د ځوانانو د اسلامی نهضت رهبری یې په اوږو وه.

۳: استاذ رباني ته د پاکستان د دولت او جماعت اسلامی لخوا د ځانګړی تنظیم د جوړیدو زمینه برابره وه، او احمد شاه مسعود چې دحکمتیار او دهغه د پوځي ډولہ اداری څخه ستومانه شوی ؤ په ځانګړی ډول چې د پنجشیر په عملیاتو کې حکمتیار مسعود رټلی ؤ او ورته ویلی یې وو: دا ستا وراندیز ؤ چې باید د نهضت یو شمیر غړی له کابل څخه پنجشیر ته ولاړشي او پاڅون وکړی څکه هلته د مبارزی لپاره ښه زمینه برابره ده، مسعود خپل بیعت له حکمتیار څخه واخست او له استاد رباني سره یې عملاً همکاری پیل کړه.

په نهضت کې دوه ډوله تمایل، توند لاری او معتدل، شته چې په ۱۹۷٦م کال کې یو د بل په مقابل کې ودرید خو ترننه پوری یې ترمنځ تعارض نشته بلکې زیاتره د کارونو د ویش خبره مطرح ده. (۱۲)

## له اسلامی نهضت سره د مسعود اړیکې

له اسلامی نهضت سره د احمد شاه مسعود د اړیکو په باب مختلف نظرونه ویل شوی دی: یو شمیر په دی عقیده دی چې مسعود د حزب اسلامی له فعالو چریکانو څخه ؤ چې د حکمتیار، انجنیر نصرتیار،

شاه ابدال او خواجه محفوظ تر قوماندی لاندی یې د پنجشیر په قیام کې برخه واخسته، دوه وروستي کسان په پنجشیر کې د نهضت بنسټ ایښنودونکي وو.

د حزب اسلامي د فعالیتونو مرکز د پنجشیر چار قریه ؤ. یو شمیر د نفوذ خاوندان د مثال په توګه د شاه ابدال پلار مدیر صاحب نصر الله خان د قومي او اولسي نفوذ څخه برخمن وو، کله چې حکمتیار د نهضت د نظامي مسوول په حیث د حزب د یوه فعال غړي له نیول کیدو څخه خبر شو شاه ابدال او احمد شاه مسعود ته یې چې په کابل کې د نهضت د چریکي ډلې غړي وو په پنجشیر کې د پاڅون پلان ورکړ. احمد شاه مسعود وظیفه درلوده چې د پاڅون کوونکو خلکو څارونکي او ساتونکي به وي، ولسوالي په دې عملیاتو کې آزاده شوه او زیاته وسله یې په لاس راوړه، خو څرنګه چې پخوا د پنجشیر له مشرانو او سپین روږو سره مشوره نه وه شوې دوی د خلکو له ملاتړ څخه برخمن نه وو کله چې له کابل څخه د دولت قوي د پاڅون کوونکو پر خلاف حمله وکړه د دوی زیات شمیر د خلکو په مرسته ونیول شول، یو شمیر ووژل شول او مسعود له خپل سنګر څخه وتښتید او د پاکستان پیښور ته روان شو. حکمتیار په لومړي ځل لیدو کې مسعود و رټلو او بې تجربه سړی یې وباله، غالباً همدُغه چلن چې تش لفظي تکر ؤ مسعود د ځان سپکاوی و باله او له پاکستان څخه مصر ته روان شو. کله چې دیوه اسلامي سازمان په بنه حزب اسلامي په پاکستان کې تشکیل شو اوحکمتیار یې امیر وټاکل شو، مسعود له مصر څخه بیرته پاکستان ته راستون شو او له استاد رباني سره یې له حزب اسلامي څخه انشعاب وکړ. او په نژادي او ژبني اساس یې د جمعیت اسلامي په نامه د بل تنظیم بنسټ کیښنود.

حکمتیار په یوه مرکه کې داسې وویل: "مسعود تر دې پړاوه (د نهضت د لومړني قیام ١٣٥٤ش) اصلاً له مسلمانو ځوانانو سره هیڅ اړیکي نه درلودې، د مسعود د خور میړه غلام غوث چې وروسته په شهادت ورسید پیلوټ ؤ او د ځوانانو د اسلامي نهضت غړیتوب یې درلود چې د انجنیر حبیب الرحمن له خوا نهضت ته بلل شوی ؤ، هغه یې یو ځل ماته هم معرفي کړ اوزه یې کور ته چې په کارته پروان کې ؤ دلیدو لپاره ورغلم، کله چې پیلوټ غلام غوث د دولت لخوا ونیول شو او احمد شاه مسعود چې هغه هم په نهضت کې د فعالیت علاقه منډؤ پټ شو، وروسته بیا په هغه ډله کې چې له افغانستان څخه پاکستان ته ایستل کیدل دی هم ؤ. کله چې احمد شاه مسعود پاکستان ته راغی ماترې وپوښتل چې له چا سره دې ارتباط ؤ او له کوم وخته له نهضت سره اړیکې لرې؟ د نهضت په مظاهرو او غونډوکې دې برخه اخیستې ده که نه؟ مسعود وویل چې له چاسره مې اړیکې نه درلودې او په مظاهروکې مې هم برخه نه ده اخستې یوازې هغه وخت چې زما اوښې پولیسانو ونیو غوښتل یې ماهم په همدې جرم ونیسي ما نه غوښتل چې پولیسو ته تسلیم شم او پټ شوم چې بیا د اسلامي نهضت په ملاتړ پاکستان ته زما د راتلو زمینه برابره شوه. (٤٤)

د مسعود او حکمتیار ترمنځ د نظر اختلاف له هغه وخته پیل شو چې د ١٣٥٤ کال په پاڅون په پلان

ACKU

کې مسعود اتکل وکړ او په وروستیو ورځوکې چې ټول غړي د پاڅون د پیل لپاره تنظیم شوي وو، مسعود د نهضت د غړو په منځ کې فعالیت پیل کړ او یوشمیر یې د ځان د نظر پلوي کړل غوښتل یې په کابل کې د عملیاتو د پیلولو پرځای پنجشیر ته ولاړ شي. ځکه چې هغه سیمه یې خوندي او زیاته مناسبه بلله او کلیدي کسان لکه خواجه محفوظ شهید، شهید شاه ابدال او احمد شاه مسعود د پنجشیر وو داد یې ورکړ چې کولی شي هلته تسلط ومومي خو د قیام په جریان کې ددې پلان اصلي کسان بندیان شول او مسعود پیښور ته راغی. غالباً د حکمتیار او مسعود ترمنځ، خبرې لاندې باندې شوې چې د مسعود د عقدې اخستلو سبب شوې، د ۱۳۵٤ لمریز د پاڅون له ناکامي سره سم د رباني او حکمتیار ترمنځ هم د نظر اختلافونه رامنځ ته شول، چې د یادو شویو فکتورونو په سبب د ځانګړې سازمان دجوړیدو زمینه هم برابره وه او یو شمیر کسان د قومي او سیمه ایز تمایل په سبب د جمعیت اسلامي افغانستان د جوړیدو سبب شول، احمد شاه مسعود یو له همدغو کسانو څخه ؤ.

## د څرخي پله زندان د بندیانو پاڅون

د ۱۳۵۸ کال د جوزا ۸مه /۱۹۷۹ د مې ۲۹مه د څرخي پله جیل بندیانو چې زیاتره د اسلامي نهضت غړي او مسلمانان وو په غذایي اعتصاب او پاڅون لاس پورې کړ، په دې پاڅون کې د اسلامي نهضت ۱۳۵ تنه ډیر غوره بچیان د رژیم لخوا شهیدان شول. چې د هغې ډلې څخه پوهاند غلام محمد نیازي او انجینر سیف الدین نصرتیار، غلام رباني عطیش او درې تنه نور د تحریک درهبري کدر غړي هم وو.

## غازي سید اکبر

### د پاڅون او شهادت نمونه

د مسلمانو مجاهدینو له ډلې څخه یو تن چې د زندان په نا مناسبو شرایطو کې یې بندیان مقاومت او زړورتیا ته را بلل او د شکنجو سپکاوي او پر مسلمانو بنځو د تیرې په وړاندې چې د رژیم، ترخو نړیو پنجو او د څرخي پله زندان د آمر سید عبدالله تر ستم لاندې وو بې پروا پاتې نشو شهید سید اکبر دی، هغه یو د مبارزو او آزادي غوښتونکو میړنیو له جملې څخه دی چې ټول افغان اولس په تیره شاهي کورنۍ او حضرت مجددي باید تل د هغه روح ته دعا وکړي.

سید اکبر د اسلامي نهضت له علمبردارانو څخه یوؤ. چې د داود په وخت کې د نهضت له نورو غړیو سره بندي شو. کله چې د ۱۳۵۸ کال د جوزا په اتمه/۱۹۷۹ د مې ۲۹مه بندیانو په عمومي پاڅون لاس پورې کړ سید اکبر په ډیر شهامت د رژیم پر خلاف شعارونه ورکول او له مرګه نه ویریده دتره کي رژیم په هماغه ورځ د پرفیسور غلام محمد نیازي، نصرتیار، رباني عطیش او نور ۱۳۵ تنه د څرخي پله په

پولیګون کې دله ثبز اعدام کړل

د کمونستانو دی جنایت هغه نور هم عقده من کړ، که یې چې لیدل چې د هیواد د با عزته کورنیو سخي د بدکارو په منګولوکې لویدلي اود هیڅ ډول بې عفتۍ څخه یې مخ نه اړوی هغه د زندان د ساتونکو څخه د یوه سره پټ په تماس کې شو اود پنځه سوه افغانیو په بدل کې یې یو لوی چاقو په لاس راوړ.

هغه یه دی انتظار ؤ چې د خپل منت یه نمایندګی څه ډول د سید عبدالله بې رحمه او وژونکی څخه د جنایتونو بدل واخلي. مسمائو زندانیانو د عدابی اعتصاب په دوام غوښتل د تره کی، امین د رژیم پر خلاف خپل مخالفت څرګند کړي. رژیم د حبهو هری شپې وژنو په دوام د ۱۳۵۸ لمریز د جوزا په ۱۳مه تصمیم ونیو چې هغه شهید کړي. سید اکبر چې له (۹۰) تنو نورو سره په یوه کوټه کې زندانې ؤ د زندان آمر سید عبدالله لخوا وغوښتل شو. هغه ساتونکي ته په جرئت وویل: که آمر له ما سره کار لري پخپله دی دلته راشي.

د زندان قوماندان چې تر دی وخته له زندانیانو څخه د غسې ځواب نه ؤ اوریدلی، په غوسه شو او په کنځلو او قهر هغه ته راغی، سید اکبر هیڅ فرصت ورنکړ او په هغه چاقو چې په خپله جرابه کې یې پټ کړی ؤ د الله اکبر په ناره څو ګوزاره د زندان پر آمر وکړل او هغه یې له پښو وغورځاوه، کمونستي جنایت کار رژیم، سید اکبر او د هغه نور څوېښت تنه ملګری د زندان د شمالي دیوال شاته په ګولیو وویشتل او شهیدان یې کړل، چې تر میاشتو میاشتو ددغو شهیدانو د پایزار او جامو تخښي دوینو له خاپونو سره په دیوالونو لیدل کیدلې. د غازی سید اکبر دغه اتلوال برید په سبب د څرخي پله زندان بندیانو آرام ساه واخسته او د رژیم چلن تر یوه حده نرم او د بنځو عفت خوندی شو.

د ۱۳۵۸ کال د جوزا د ۱٤ مې پاځون د نورو لپاره د شهادت او مقاومت یوه نمونه وه، د څرخي پله بندیانو هر کال دغه تاریخي ورځ په اعتصابونو احتجاجونو او د ملت د پیوستون په نامه نمانځله او د جهاد د شهیدو سپړنیو په یاد به یې وینا وی کولی او د عا به یې ورته کوله. ارواېي ښاده او یاد یې د تل وی.

## عملیات او د مجاهدینو وسله وال پاڅونونه

د ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتا سره سم د مجاهدینو دریځ عملاً د وسله وال پاڅون بند غوره کړه، څکه سخکینی تیاری هم ؤ، د حکمتیار فکر او وسله وال قیام ته تمایل. او د رباني تفاهم له مخالفو دلو سره ددی دوو دلو سیاسي زمینه داسي کړه چې د یو ډول بنیادی نظریاتو سره سره دواړه له یو بل څخه جدا او آزاد فعالیت وکړي.

د کمونستانو په مقابل کې او وروسته د روسانو د تیری په وړاندی د خلکو د پاڅون یوه نتیجه دا وه چې

سرتاسري وسله وال پاڅونونه وشول چې د ملت د څواکمیندو سبب شول، دلته د کتاب په دې برخه کې په لنډه توګه د څینو پاڅونونو یا دونه کوو:

*د پکتیا د زیړوک پاڅون:* دغه پا څون د ثور کودتا څخه دوې ورځې وروسته وشو، د حزب اسلامي مجاهدینو د زیړوک علاقه داري ونیوله او یو زیات شمیر وسله یې پکې په لاس راوړه.

*د کوتړ د شیګل پاڅون:* په ۱۳۵۷ کال د جوزا په لومړۍ/۱۹۷۸م د مې ۲۳مه، د دولت قواو د کشمیرخان په مشرۍ د حزب اسلامي د مجاهدینو په مرکز حمله وکړه او درې تنه مجاهدین یې شهیدان کړل، غوښتل یې کشمیرخان ونیسي، هغه چې لاسونه پورته نیولي وو د رژیم پر افرادویې حمله وکړه وسله یې ترې واخسته او جګړه را منځته شوه، خلکو هم له مجاهدینو سره ملاتړ وکړ او دشیګل په دره کې پاڅون وشو، سیمه یې آزاده کړه، دغه عملیات دویګل په دره کې هم د مجاهدینو په ګټه پای ته ورسیدل.

*د نورستان پاڅون:* د ۱۳۵۷ کال د میزان ۱۲مه/۱۹۷۸م د اکتوبر ۱۵مه مجاهدینو د نورستان په مختلفو سیموکې پاڅون وکړ او دغه سیمه یې آزاده کړه.

*د جلال آباد فرقې پاڅون:* د ۱۳۵۷کال د حوت په لومړۍ/۱۹۷۹م د فبروري ۲۰مه د جلال آباد د فرقې افسرانو او سرتیرو د رژیم پر خلاف په قیام لاس پورې کړ اوله خپلو وسلو سره له مجاهدینو سره یو ځای شول.

*په دره صوف کې د خلکو وسله وال پاڅون:* د ۱۳۵۷ لمریز د کب په ٦مه/ د ۱۹۷۹م د فبروري په ۲۵مه د بلخ ولایت دره صوف خلکو او د بغلان اولس د رژیم پر خلاف پاڅون وکړ.

*دارزګان ولایت پاڅون:* د ۱۳۵۷ کال د کب په ۲۱مه د ۱۹۷۹ کال د مارچ په ۱۱مه ددې ولایت خلکو قیام وکړ.

*د فراه ولایت پاڅون:* د حوت په ۲۲مه ۱۳۵۷لمریز/د ۱۹۷۹ کال د مارچ په ۱۲مه د فراه ولایت خلکو د رژیم پر خلاف وسله وال پاڅون وکړ.

*د هرات تاریخي پاڅون:* د ۱۳۵۷ کال د کب په ۲٤مه د ۱۹۷۹م د مارچ په ۱٤مه د هرات په ولایت کې یو زورور پاڅون د رژیم پر خلاف وشو چې تر ۳۰ زرو تنو زیات بې ګناه خلک پکې شهیدان شول.

*دبادغیس دخلکو پاڅون:* دغه پاڅون د۱۳۵۸ کال د حمل په دوهمه د ۱۹۷۹م د مارچ په ۲۲مه وشو.

*دغور ولایت د مجاهدینو وسله وال پاڅون:* د ۱۳۵۸ کال د ثور په ۱۵مه/۱۹۷۹م کال د مې په ٥مه د غور مسلمانو خلکو په یوه پاڅون لاس پورې کړ او ټول دولتي مرکزونه یې ونیول.

*د لوګر د خلکو خونړۍ پاڅون:* د لوګر مسلمانو خلکو د ۱۳۵۸ کال د ثور په ۱۹ مه/۱۹۷۹م د مې ۹مه په وسله وال پاڅون لاس پورې کړ او له ۱۲۰ تنو څخه زیات مجاهدین پکې شهیدان شول.

*د پلخمرۍ د خلکو پاڅون:* په دغه خونړۍ پاڅون کې چې د ۱۳۵۸ کال دثور په ۱۹مه/۱۹۷۹م د مې

په ۹ مه نیټه ؤ د پڅمرې ولسوالي خلکو ونیوله او زیات شمیر مسلمانان پکې ووژل شول.

*د کابل د چنداولو پاڅون:* د ۱۳۵۸ کال د سرطان په ۲ مه /۱۹۷۹م د جون ۲۳مه د چنداولو مسلمانو خلکو د رژیم پر خلاف پاڅون وکړ، ددې پاڅون له عواملو څخه یو د محمدیه مدرسې سر پرست سید واعظ چې د تجدید حیات تشیع له فعالو مشرانو څخه ؤ له یوشمیر زده کوونکو سره یو ځای ترې تم کیدل وو، نوموړی د ۱۳۵۷ کال په حوت کې له زیاتو شاګردانو سره ورک شو(۵۱)

*د بدخشان د اولس پاڅون:* د سرطان په دوهمه ۱۳۵۸کال/د ۱۹۷۹م کال د جون ۲۳مه د تالقان، فیض آباد او کشم مسلمانو خلکو پاڅون وکړ.

*د لغمان د اولس قیام:* د ۱۳۵۸ لمریز کال د سرطان په ۸مه /د ۱۹۷۹ کال د جون ۲۹مه د چار باغ او مهتر لام خلکو د کابل رژیم پر خلاف پاڅون وکړ.

*د جلریز د خلکو پاڅون:* د جلریز ولسوالي خلکو د ۱۳۵۸ کال د سرطان په ۱۷مه پاڅون وکړ.

*د وردګو او میدان ولایت پاڅون:* د وردګو ولایت مسلمانو خلکو د ۱۳۵۸ کال د سرطان په ۲۰مه/۱۹۷۹م کال د جولای په ۱۱مه پاڅون وکړ او د دایمیر دا دو علاقه دارۍ، چک ولسوالي او یو شمیر نورې سیمې آزادې شوې.

*د ژباړن یادونه:* د وردګو ولایت د دایمردادو علاقه دارۍ او چک ولسوالي د غبرګولي په ۱٤مه او ۱۵مه عمومي پاڅون وکړ او له دولت څخه یې ۱۳ زره میله وسله یووړه.

*د کابل د بالا حصار پاڅون:* د کابل د بالاحصار مسلمانو سر تیرو او افسرانو د رژیم پر خلاف د ۱۳۵۸کال د اسد په ۱٤مه د ۱۹۷۹م کال د اګست په ۱۵مه په کودتا او پاڅون لاس پورې کړ چې د درنې جګړې او بمبارۍ څخه وروسته یو زیات شمیر پاڅون کوونکي شهیدان او زیات شمیر نور بندیان شول.

*د پنجشیر پاڅون:* د ۱۳۵۸ کال د اسد په ۱٦مه/د ۱۹۷۹م د اګست په ۷مه د پنجشیر مسلمانو خلکو پاڅون وکړ او د رژیم مرکزونه یې ونیول.

*له مجاهدینو سره د اسمار د غونډیو ځای کیدل:* د ۱۳۵۸ کال د اسد په ۳۱مه/۱۹۷۹م د اګست ۲۲مه د اسمار مسلمانو افسرانو او سرتیریو قیام وکړ او د حزب اسلامي افغانستان سره یو ځای شول.

*دغزني د اولس وسله وال پاڅون:* د ۱۳۵۸ کال د سنبلې په ۱٦مه /۱۹۷۹م د سپتمبر په ۷ مه د غزني مسلمان اولس پاڅون وکړ او دیوه وسله وال حرکت په ترڅ کې یې د ولایت مرکز ونیو.

## د افغانستان جهادي – سیاسي ګوندونه

د افغانستان جهادي – سیاسي ګوندونه د حکمتیار او رباني د سلیقوي اختلاف نه وروسته راوتو

کیدل، که څه هم نورو عواملوهم د دوی د تشکیل او جوړیدو په ګرندیتوب کې نقش درلود چې له هغې ځخه د عربستان - پاکستان او ایران نفوذ او مداخله، د دې زمینه برابرول چې مجاهدین باید په یوه واحد ګوندکې منظم نه شي، د قومونو جوړښت چې وروسته یې مذهبي نظریې او ژبنې تمایلات هم را منځته کړل، د ځینو شخصیتونو پخوانی شناخت او معرفت چې موجودیت یې یخپله دیوه سیاسي حزب په بنه را څرګند شو. د مختلفو هیوداونو او نورو اسلامي او بشري سازمانو او منابعو څخه د زیاتو مالي مرستو د ترلاسه کیدو امکانات چې زیاتره دغه جریانونه یې په نورو پورې وتړل، مختلف سیاسي تمایلات او له تولو مهم دځان غوښتني او اقتدار حس چې تر اوسه د دغو حزبونو د پاتې شونو په دریځونوکې لیدل کیږي، د افغانستان د جهادي - سیاسي ګوندونو د جوړښت اساسي ارخونه وو.

په دې پانوکې به د تاریخي پیښنو له لیکلو سره دحزبونو د جوړیدو کرو نولوژي د دوو تنظیمونو (حزب او جمعیت) له موجودیت څخه وروسته تحلیل او وڅیړو، په دې کتاب کې د تولو ګوندونو له بشپړ تفصیل او شرحه کولو څخه صرفنظر شوی دی، هغه سازمانونه تر بحث لاندې نیسو چې په سیاسي تصمیم نیولو او د رژیم پرخلاف په جګړه کې یې اساسي رول درلود. "د افغانستان د سیاسي حزبونو په اره بشپړ بحث له پیله تر پایه د "افغانستان د رقرن ١٩ و بیست" نومې کتاب کې چې د همدې اثر د لیکوال لیکنه ده لوستلی شي.

## حرکت انقلاب اسلامی

### د حکمتیار او رباني د بیا ائتلاف څخه زیږیدلی تنظیم

د جمعیت اسلامي له انشعاب څخه وروسته د دغه سازمان یو شمیر غړیو اسلامي احساساتو دغه سازمان له حزب اسلامي سره ائتلاف ته وهڅاوه، خود رباني او یا حکمتیار زعامت ددې ائتلاف لپاره تل دواړو ګوندونو ته یوه لویه ستونزه وه، دواړه لورې د (حرکت انقلاب اسلامي) غوښتونکي وو چې مشرتوب یې مولوي محمد نبي "محمدي" ته چې دحزب اسلامي افغانستان یو تن عالم ؤ وسپارل شو، نو سوړې چې یوه خلاصه ماضي درلوده استاذ رباني ته هم د منلوړؤ. محمدي د پاچا په وخت کې د ولسي جرګې غړې ؤ چې د لوګر ولایت څخه ټاکل شوی ؤ. د فکر له اړخه د سنت ګر املایانو په دله کې شمیرل کیږي، په هغه وخت کې په کویته کې په یوه جومات کې امام ؤ او د حزب اسلامي افغانستان غړیتوب یې درلود، د ځینو منابعو په وینا د محمدي ټاکل د حکمتیار په اشاره ترسره شوی دی چې غوښتل یې له هغه څخه د خپل لاس آله جوړ کړي، خو مولوي محمدي د حرکت انقلاب اسلامي واګې په لاس کې اخلې او د اقتدار د ترلاسه کولو او د خپل موقف د ځواکمن کولو لپاره د مائویستانو سره اتحاد

کوي. (١٦)

د حزب او جمعیت د بیا ائتلاف یو سبب د ثور کودتا پیښیدل وو چې د مجاهدینو لخوا د سر تاسري وسله وال جهاد پیل شوی ؤ.

مولوي محمدي بیا هم د خپل زعامت او قدرت غوښتلو په فکر کې ؤ چې د حزب او جمعیت د ائتلاف له برکته یې په لاس راوړی ؤ نه یې غوښتل له لاسه یې ورکړي او د حرکت انقلاب اسلامي په نامه یې مستقل جهادي تنظیم اعلان کړ. حزب او جمعیت پردې سر بیره چې بیا انشعاب وکړ یو بل تنظیم یې هم په خپل مقابل کې پیدا کړ، د حرکت انقلاب اسلامي له استقلال سره پیر ګیلاني او مجددي ته هم دغسې سیلاتونه پیدا شول.

هغه وخت چې رباني د حزب اسلامي له تنې څخه بیل شو او جمعیت اسلامي یې جوړ کړ، د قیادت احساس ورسره پیدا شو او هڅه یې وکړه چې د ائتلافونو په جوړولو نور پرڅان ورتول کړي. او د علماؤ او ځوانو روښانفکرانو ترمنځ د لیکو د بیلتون خلا چې د جبهو دننه وه څانته منسوبه کړي حزب اسلامي ددغو دریځونو په وړاندې په کلکه عمل کاوه، رباني د استادي او علم په مشترک اړخ و توانیده چې مجددي قانع کړي چې د افغانستان د ژغورنې لپاره د یوې ملي جبهې په جوړولو کې اقدام وکړي. په داسې حال کې چې له حزب څخه د رباني د شکیدو سره جوخت یې بیرته د دواړو ترمنځ د ائتلاف د راتلو هڅه کړې وه او د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان په نامه یې د دریم سري "مولوي محمد نبي محمدي" په قیادت وغوښتل چې په یوه تنظیم کې له سره منظم شي.

حکمتیار وایي: کله چې رباني په سعودي کې له مجددي سره په یوه ائتلاف کې د ملي نجات جبهې اعلان وکړ، ما مولوي محمدي ته وویل چې اوس دی باید ددې جبهې په وړاندې دریځ معلوم شي څکه رباني د حرکت انقلاب له ائتلاف څخه ووت او په یوه وخت کې په دوو تنظیمونو کې تعهد امکان نه لري، که غواړې د دې تنظیم "حرکت انقلاب اسلامي" د امیر په توګه پاتې شې زه حاضریم همکاري وکړم، خو مولوي محمدي د مرحوم مفتي محمود او نورو کسانو لخوا پخوا تشویق شوی ؤ چې غوره داده چې د افغانستان علما خپل مستقل هویت وساتي او دیوه ځانګړي حرکت په حیث منظم شي. مناسبه نه ده چې تاسو له اخوانیانو او حزب او جمعیت سره ائتلاف وکړئ. ملت له تاسو سره دی او روحاني نفوذ هم لرئ. چې کولای شئ د یوه مستقل حرکت په توګه عمل وکړئ بالاخره مولوي محمدي له حزب اسلامي سره خپله همکاري ونه منله، له حزب اسلامي څخه د مولوي محمد نبي محمدي په انشعاب کې د مولوي نصر الله منصور هم لوی لاس ؤ. چې غوښتل یې د روحانیونو صف له حزب اسلامي څخه بیل کړي. (١٧)

بنسایي د رباني له انشعاب څخه وروسته د حکمتیار او محمدي ترمنځ، د نظر اختلاف دا وي چې محمد نبي محمدي د حزب اسلامي غړیتوب درلود او د حکمتیار او رباني د ائتلاف د شرایطو له مخې

چې هغوی یوبل د ائتلاف د مشر په توګه نشوای منلی مولوی محمدی حزب اسلامی ته بنه بدیل شمیرل کیده چې هم یې د دې سازمان غړیتوب درلود او هم د روحانیونو له ډلې څخه ؤ، اما له حزب څخه د جمعیت د انشعاب نه وروسته د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان نوم د حزب د ملایانو او د دوی اړیکي له پاکستان حکومت سره ددې سبب شول چې محمدی د حکمتیار اطاعت ته پام ونکړی. مولوی موذن، مولوی جمیل الرحمن، مولوی نصر الله منصور او مولوی محمد یونس خالص هم په حزب اسلامی کې د استقلال او بیلتون غوښتونکي شول. او حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د ۱۳۵۷ کال په قوس /۱۹۷۸م دسمبر کې د ځانګړی او خپلواکې تنظیم په حیث اعلان شو.

حزب اسلامی په داخلي کې دیو ډول ګډوډی سره مخ شو او په دوو لوریو کې یې د بقا هڅې کولې، یو د کمونستانو پر خلاف جهاد او مبارزه، بل د حزب داخلی اداره او نظم چې د ربانی او وروسته د محمدی د انشعابونو څخه وروسته د داخلی ګډوډیو سره لاس او ګریوان شوی ؤ.

## د افغانستان د نجات ملی جبهه

حضرت صبغت الله مجددی دهغو مبارزینو له ډلې څخه دی چې د پاچا په وخت کې یې د کمونستانو له کړوړو او له هغوی سره د محمد داود له همکاری سره اختلاف درلود، محمد داود هم د مجددی له کورنی سره په تضاد کې ؤ او دهغو مخالفتونو د زیاتیدلو په سبب چې پرچمی کمونستانو دیر نقش پکې درلود د مجددی کورنی زیاتي ستونزی وزغملې.

کله چې د مسلمانو ځوانانو اسلامی نهضت جوړشو حضرت مجددی د هغو استادانو له جملې څخه ؤ چې له دې نهضت سره د شریکو هڅو غوښتونکي ؤ. او د ابن سینا بلخی په لیسه کې دنهضت د اداره کوونکي شوری له غړو سره په یوه غونډه کې مجددی د کمونستانو په مقابل کې دسیاسی برخورد او د شاهي رژیم په مقابل کې د نرمۍ وراندیزوکړ، چې له توندو عکس العملونو سره مخ شو، مجددی هم د مسلمانو ځوانانو غوښتنې ته درد ځواب ورکړ او د نهضت غړیتوب یې ونه مانه، خو د نهضت اهداف یې تائیدول. صبغت الله مجددی توند لارو اسلامپالو د دښمنۍ په دلیل د جنبش غړی نه دی، خو د غلام ربانی عطیش د اسلام پالو ځوانانو له غړی سره د تحریک د هیأت د غړی په توګه د تریپولی په اسلامی کنفرانس کې په (۱۹۷۳م) کال حاضر ؤ. (۱۸)

اصلاً د افغانستان د نجات ملی جبهه به سعودی عربستان کې د پاچا د یو شمیر پلویانو لخوا په دې ذهنیت جوړه شوه چې له کمونستانو سره په یوازې توګه مقابله امکان نه لری. او موږ د لویدیځ له مرستو او ملاتړ څخه پرته نشوکولی چې د داسې یوه رژیم مقابله وکړو چې د شوروی اتحاد په څیر زبر ځواک یې ملاتړ کوی، باید دلویدیځ مرستې را جلب کړو، لویدیځ د اسلام او جهاد په نامه له موږ سره مرستې نه

کوي او سلت هم د یوې رهبرۍ لپاره یو اعتمادي او مشهور قیادت ته اړتیا لري، ځکه خو دی کار ته محمد ظاهر شاه تر ټولو مناسبه څیره ده، سعودي عربستان هم د دغه سازمان د جوړیدو سره علاقه وښوده، او د صبغت الله مجددي، استاد رباني، محمد هاشم مجددي، انجینر احمد شاه "احمد زی"، عبدالستار "سیرت"، استاد خلیل الله "خلیلي" سردار ولي او د دوی په څیر نورکسان د ملي نجات جبهې جوړونکي وو، چې (جبهه نجات ملی) په نامه چې د اسلام یادونه پکې نشته کولی شي د لویدیز مرستې هم ترلاسه کړي او د کمونستانو پر خلاف مقابله هم وکړي. (١٩)

د نجات جبهې اداره کوونکي غړي په دې عقیده وو چې د افغانستان اسلامي نهضت چې دځوانو او ناپخو قیادتونو څخه جوړ شوی دی. د قیادت توان نه لري ځکه خو د محمد ظاهر شاه په څیر تجربه کار زعامت ته اړتیا پیښیږي چې د افغانستان د ژغورنې لپاره باید جبهه جوړه کړي. د ١٣٥٧ کال په جوزا کې مجددي له سعودي څخه پیښور ته راغی او د افغانستان د نجات ملي جبهه یې جوړه کړه، په حقیقت کې د نجات جبهه د مجددي او رباني ترمنځ ائتلاف ؤ، د جبهې مرستیالي موسی توانا ته سپارل شوې وه.

د افغانستان د نجات ملي جبهه په ١٣٦٠ کال جوزا/١٩٨١م کال جون کې د اتحاد اسلامي برای آزادی افغانستان له منحل کیدو وروسته پراخه شوه او د تګاب د حضرت میاګل جان آغا تنظیم (قیام اسلامی) ورسره مدغم شو او د هغې تولې اداري له جبهې سره یوځای شوې.

## د مجددي او رباني ائتلاف او بیرته انشعاب

کله چې حضرت صبغت الله مجددي غوښتل د عمل ابتکار په خپل لاس کې واخلي او ددې ملي جبهې د مشر په توګه تبارز وکړي د مجددي او رباني ترمنځ اختلافات را پیدا شول، د جمعیت غړي چې د ځوانانو د اسلامي نهضت پاتې شوي غړي وو غوښتل یې چې په افغانستان کې یو اساسي اسلامي نظام جوړ شي. په داسې حال کې چې مجددي غوښتل د کمونستانو پر خلاف ټول قوتونه په یوه جبهه کې را ټول او د سعودي عربستان په څیر رژیم منځ ته راشي. د استاد رباني او مجددي ترمنځ اختلاف ایدیولوژیکي او مبارزاتي نه ؤ بلکې د مجددي زعامت رباني نشوای تحمل کولای او پخپله د جبهې د رهبري غوښتونکي شو. د نجات ملي جبهې تر شا چې غالباً سعودي عربستان او امریکا هم دي له مجددي څخه یې زیاته پلوي وکړه او رباني له انشعاب څخه پرته بل عکس العمل نشو ښودلی.

د رباني سلاتر احمد شاه مسعود، د مزار شریف ذبیح الله او د لغمان طارق، غونډي قوماندانانو کاوه چې د حزب اسلامي په مقابل کې د جمعیت اسلامي د ځانګړي تبارز هیله من وو نه د یوې ملي جبهې سره د ائتلاف. صبغت الله مجددي هم د رباني د دوه مخي چلند سره د یو لړ ګډوډیو او بنیادي د نظر اختلافونو او د مبارزاتي روش سره مخ ؤ، نه یې شو کولای په ائتلافي جبهه کې د رباني ترځنګ خپل

مذهبي او ملي وجاهت وساتي، د مجددي سليقوي د نظر اختلافونه هم په دې انشعابونو کې اغيزمن وو، او مجددي ديوه اسلامي نظام غوښتونکی شو چي په نړيوالو اړيکو کې پراخ افق ولري او د لويديځ عکس العمل يې نه را پاراوه، ځرنګه چي وروسته په ائتلافونو کې وليدل شول چي مجددي د دغو اړيکو د ابتکار د خاوند په حيث وتوانيد چي آن د امريکا سنا او جمهور رئيس رونالد ريګن قانع کړي چي د روسانو په مقابل کې د افغانستان د اسلامي جهاد ملاتړ وکړي، او د مجاهدينو له پاره د کلني نظامي مرستې ونډه بيله کړي.

## له حزب اسلامي څخه د مولوي خالص انشعاب

حزب اسلامي د اداري تجربې د نشتوالي او د زرګونو مهاجرينو په را تلو سره چي زياترو د همدې سازمان سره خپله پيوستون اعلانا وه ديو ډول ګډوډيو سره لاس او ګريوان شو. او اداري کدر يې چي د نويو تنظيمونو په را منځته کيدو کې له لاسه ورکړی ؤ هڅه کيدله چي حکمتيار ددې ګوند مشرتوب په قاطعيت سره په لاس کې واخلي. کله چي مولوي محمدي بيل شو او رباني له مجددي سره د ائتلاف تعهد وکړ حزب اسلامي انتخابات وکړل. چي د نوي امير له ټاکلو سره سازمان خپل سياسي دريځ ښه مزبوت کړي، په دې انتخاباتو کې پردې سربيره چي له حکمتيار پرته بل څوک کانديد نه ؤ او يا معرفي شوی نه وو حکمتيار په اکثريت رايو د حزب اسلامي افغانستان د امير په توګه وټاکل شو، د ۱۳۵۸ کال په حمل /۱۹۷۹م مارچ کې د حکمتيار او مولوي خالص ترمنځ د نظر اختلافات پيدا شول، يونس خالص په ۱۹۷۹م کال له حکمتيار څخه بيل شو ځکه هغه يې په دې دليل چي په جګړو کې برخه نه اخلي ملامتاوه مولوي خالص چي هم سنتي ملاؤ (په ديوبند کې يې زده کړې کړې وې) او هم له اسلام پالو سره تړلی (د اسلامي تحريک له بنسټ ايښودونکو څخه دی او کله يې چي په دولتي خپرونو کې کارکاوه د تبليغ دنده يې پر غاړه وه) د خپل قوم (خوګيانيو) له ملاتړ څخه برخمن ؤ. څه شی چي ډير عجيب دی دا دی چي هغه چي کوم نظم جوړ کړ هم سياسي ؤ. او هم قومي (۲۰) مولوي خالص د فکر په اساس له دوو *(Generation)* توپير درلود چي په زياتو مسايلو کې يې د نظر اختلاف درلود. حکمتيار ځان مسلمان روښانفکر باله او عقيده يې درلوده چي يو ځوان ښايي تر يوه بوډا ښه فکر وکړای شي او په مسايلو ښه غور وکړي، په هغه سهال نوري دلې هم جوړې شوې وې، او حضرت مجددي هم ديوه نوي لوري په حيث مطرح شوی ؤ، د حزب اسلامي په اساساتو کې د ظاهر شاه نه منل د محافظه کارو مسلمانانو او انقلابي ځوانانو تر منځ پوره توپير راوستلی ؤ.

په ضمن کې د افغانستان تولنيز جوړښت داسې ؤ چي مولوي خالص د لوړ عمر سره د ځوان حکمتيار تراسارت لاندې په يوه زحمت کې لويده او په افغاني تولنه کې يې دده تولنيز، نظامي او قومي

وجاهت تر سوال لاندې راووست، حزب اسلامي هم چې غالباً پر ځوانانو ترکیز درلود د سنتي ملایانو اهدافو ته یې زیات سر نه ټیټاوه، همدارنګه موجوده سیاسي فضا هم باید له نظره نه وای غورځولې شوې، چې د افغانستان د جهاد په سطح د عاجلو شخصیتونو جوړولو او له هغوی سره د پراخو مالي او نظامي ملاتړ زمینه یکې برابره وه. ددغې دورې د افغاني دلو د زیاترو رهبرانو خصلت ذکرسي او قدرت سره مینه وه چې د اختلافونو او انشعابونو لپاره غوره انګیزه شمیرل کیده. مولوي خالص په دې فضا کې ونه غوښتل چې زیات د حکمتیار په محورکې جهاد ته دوام ورکړي او انشعاب را منځته شو.

حزب اسلامي افغانستان د لوسړي ځل لپاره د مولوي خالص پر خلاف په شهادت جریده کې چې نشراتي ارګان یې ؤ څېل دریځ څرګندکړ وبي لیکل: کومو کسانو چې په نوموړي اتحاد (پیمان اتحاد اسلامي افغانستان) کې د حزب اسلامي افغانستان په نامه ګډون کړی دی نه یوازې د حزب اسلامي نمایندګي نه کوي بلکه هغوی د ګوتو په شمیر دله وه چې لږ موده وړاندې له حزب څخه وتلي دي او غواړي چې د حزب اسلامي افغانستان په نامه وپیژندل شي. (۲۱)

د دې دریځ له نیولو سره په پکتیا کې د حزب اسلامي افغانستان یو بل قوماندان مولوي جلال الدین حقاني هم چې له لوی نفوذ څخه برخمن ؤ بیل شو او له مولوي خالص سره یو ځای شو.

## پیمان اتحاد اسلامي افغانستان

له حزب اسلامي څخه د مولوي خالص لرې کیدل او د حزب اسلامي افغانستان په نامه د ځانګړي ګوند د اعلان سره د پاکستان د جمعیت العلماء په منځګړیتوب زیاتې هڅې وشوې چې رباني، محمدي، مجددي او خالص په یوه ائتلاف کې د (پیمان اتحاد اسلامي افغانستان) په نامه راټول شي. د ۱۳۵۸ کال په اسد/۱۹۷۹م کال آګست کې د پاکستان په پیښور کې ائتلاف اعلان شو، دغې پیمان حکمتیار ته هم بلنه ورکړه چې په اتحاد کې و رسره شریک شي مګر یو پر بل پسې د رباني، محمدي او خالص انشعابونو حزب اسلامي ته نه جبران کیدونکې ضربه ورکړې وه او د حکمتیار شخصیت یې د قاطع، بنیاد ګر او مشوره نه منونکي په توګه په نړیواله سطحه په اذهانو او خبري رسنیو کې منعکس کړی ؤ، همدارنګه د ظاهر شاه په باره کې د مجددي د نرم روش پر خلاف حکمتیار ځانګړی موقف غوره کړ، حزب اسلامي د یوې اعلامیې په ترځ کې اعلان وکړ چې دغه ائتلاف یو اغیزمن او مثبت اتحاد نه دی څرګنده یې کړه: مرام او اتحادیې (پیمان اتحاد) د ایماني معیارونو له زاویې د تائید وړ نه دی او مبهم او نامعلوم دی. (۲۲)

دغه پیمان د مشرانو د رقابت او د واحد قیادت نه درلودو او یو له بل سره د بیعت نه کولو له امله زر له منځه ولاړ. دغه ائتلاف د خود خواهي او مقام غوښتنې د حس له امله چې متاسفانه له هماغه لومړیو وختونو یې د وینه په څیر د نهضت په لیکو کې ځای ونیو له خو میاشتو وروسته سره وشړید. (۲۳)

## د افغانستان د آزادی لپاره اسلامی اتحاد

دغه سازمان هغه وخت منځته راغی چی د شوروی اتحاد یرغلګری قواوی یوه سیاشت وراندی افغانستان ته راغلی او د افغانستان تولنیز، سیاسی شرایط نور هم پیچلی شوی وو، د مجاهدینو د تنظیمونو په منځ کی د تیری کوونکی شریک دښمن په مشترکه وجه تینګار کیده، خود اعتماد حس کمزوری او یو بل ته د سرتیتولو او واحد قیادت منلو احساس له منځه تللی ؤ. تولو مجاهدینو د تنظیمونو اتحادیو اصل منلی ؤ، کله چی رسول سیاف د څرخی پله له زندان څخه خوشی شو، د مجاهدینو په واسطه یوه ورځ وروسته پیښور ته راوستل شو، د دلوی په سیاشت ۱۹۸۰/۱۳۵۸م کال جنوری کی د مجاهدینو تنظیمونه په خپلو سینځونو کی دیوه اتحاد دراوستلو په هڅو کی شول. او له دی ځایه چی دوی نه غوښتل یو بل ته بیعت ورکړی د رسول سیاف شخصیت تولو ته دمنلو وړؤ، چی له هیڅ ګوند سره یی اړیکی نه وی د اسلامی نهضت له وتلیو شخصیتونو څخه بلل کیده او اداره او حزب یی نه ؤ جوړ کړی، د دوی په نظر سیاف د تنظیمونو په منځ کی د قیادت لپاره ښه نمونه ؤ.

په هغه غونډه کی چی د ربانی، خالص، مجددی، ګیلانی او محمدی ترمنځ وشوه توافق وشو چی د نوی اتحاد (اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان) مشر تا به مقام سیاف ته وسپاری، دپریکړی له مخی باید د تنظیمونو تول ارګانونه د سیاسی، نظامی او مالی کمیسونونو په شمول په دی اتحاد کی یو ځای شوی وای او په یوه اداره کی یی کار پیل کړی وای.

حزب اسلامی په دی اتحاد کی له شریکیدو څخه ډډه وکړه اعلامیه یی خبره کړه چی موږ د پنځو ګوندونو د ائتلاف سره مخالفت نه لرو... د لوی خدای (ج) له دربار څخه غواړو چی ددی اتحاد تول ګډون کونکی غړی ګروپونه په خپل تعهد او تړون کی تر پایه وفادار پاتی شی. ددغه اتحاد سره زموږ یو والی تر اوسه پوری ددی لپاره ځنډیدلی دی چی موږ د خپلو تیرو ترخو تجربو په رڼا کی د اتحاد د تحقق په هکله داده او مطمئن شو او دیوه اصولی اتحاد د تأسین زمینه برابره شی. که موږ په دی پوه شو چی نوموړی اتحاد یو مخلصانه او صادقانه اتحاد دی نو په دی صورت کی به موږ هم په خپل نظر باندی نوی کتنه وکړو، او حکمتیار څرګنده کړه: زه د خپلو تولو حزبی مجاهدو او سربښندونکو مؤمنو ورونو څخه په کلکه هیله لرم چی د دی اتحاد دتحکیم په جهت کی خپلی هلی ځلی په کار واچوی ..."(۲۴)

یو کال وروسته د دغه اتحاد ستونزی انتها ته ورسیدی، او مجددی په خپلو خبرونو کی د ربانی او سیاف له کړو وړو څخه انتقاد وکړ چی غوښتل یی په اسلام آباد کی د اسلامی هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کی ددی اتحاد درئیس په حیث تبارز وکړی.

د ۱۳۶۰ په ثور/ ۱۹۸۰ په اپریل کی د مجددی، ګیلانی، خالص او محمدی لخوا یوه اعلامیه خپره

شوه چې په جهادي اوږدو کې یې ددې اتحاد بدې اغیزې په ګوته کړې وې او څرګنده کړې یې وه چې سیاف په اتحاد کې له خپل مقام څخه سؤ استفاده کړې ده او د ځانګړې تنظیم غوښتونکې شویدی. هغوی سیاف ته اخطارو ورکړ چې له اتحاد سره د خیانت څخه ډډه وکړي اود اتحاد شورئ ته حساب ورکړي، ددې اعلامیې له مخې له سیاف څخه اعتماد سلب شو، اود اتحاد مجاهدین ..." سره وپاشل شول.

اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان دیوه ځانګړي تنظیم په توګه د سیاف په مشرۍ منځته راغلی، او څرنګه چې د سیاف شخصیت د خلیج په عربو کې د درناوی وړ ؤ د زیاتو مادي امکاناتو څخه برخمن شو او زربې وده وکړه.

د خپروني نوم: *اتحاد اسلامی "پینځګوني"*

ګال او د خپریدوځای: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، پیښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: اتحاد اسلامی برای افغانستان (فرهنګی کمیته) سرمحرر: نه لري، شمیر: زرګني، د خپروني دول: میاشتني، یورنګ، ژبه: پښتو، دري، کچه: ۲٤ x ۳۲ سانتي متره، د خپروني د کار پای: له یو کال وروسته په ۱۳۶۰/۱۹۸۱ کال کې. محتوی: د رهبرانو بیانیې او مقالې.

## د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد

په داسې حال کې چې د افغانستان جهاد د نړیوالو لپاره د کمونیزم پر خلاف د مبارزې د پیل ټکي شمیرل کیده د نړۍ هیوادونو په سیاسي دریځونو کې په محافظه کارانه ډول د مجاهدینو په پلوی او د کمونستانو په مخالفت تبلیغات کول. د هرګوند او جهادي شخصیتونو مقام په ټوله نړۍ کې د پام وړ وګرځیدل. او په دیپلوماسۍ کې د قهرمانو او مبارزو رهبرانو په حیث استقبالیدل، په دغسې وضعه کې د ډلو ترمنځ اختلافات ډیرې ستونزې راښځته کړې، دحزبونو ترمنځ د یووالي د را ژوندي کولو پر بنیاد ځینو د نفوذ خاوندانو او روحانیونو د پاکستان د مهاجرینو په منځ کې د عمل ابتکار په لاس کې واخست او هڅه یې وکړ. چې د "داعي" ترناسه لاندې د رهبرانو ترمنځ اړیکې بیرته عادي حالت ته را وګرځوي. ځکه چې د رهبرانو ترمنځ په خپرونو او بیانیو کې یو د بل پر خلاف سخت تبلیغات روان وو. او یو د بل د سپکاوي او تورنولو په ترڅ کې یې هڅې کولې چې ځانونه پر حق او نور ددې بدې وضعې مسوول وښیي، د هرګوند ځانګړې فعالیتونه په پاکستان کې د سیاسي فعالیتونو د فرهنګ برخه وګرځیدل.

په پاکستان کې پر جهادي تنظیمونو برسیره په هیوادونو پورې مربوط وړوکې سازمانونه هم جوړ شول چې د نړۍ د هیوادونو د بشري مرستو د کمیټو په ارتباط په پاکستان کې جوړ شوي وو، خو د پاکستان حکومت تر هغه مهاله یوازې شپږ ګوندونه په رسمیت پیژندل.

د بین المللی فشارونو او د پاکستان د حکومت په سنځګرېتوب د نړۍ د اسلامي حزبونو او په افغانستان کې د واقعي مجاهدینو د هڅو په نتیجه کې په ۱۳٦۰ د سرطان په ٤مه /۱۹۸۱م د جنون په ۲۵مه د شپږو جهادي تنظیمونو په منځ کې یو توافق وشو چې په سیاسي سطحه او د اختلافونو د حل لپاره بې پخپلو کې توافق وکړ چې د افغانستان د مجاهدینو د یو والي په نامه په کار پیل وکړي، دغه توافق د شپږو تنو علماؤ او د شپږو ګوندونو د شپږو صلاحیت لرونکو غړو لخوا لاسلیک شو. دغه اتحاد حکمتیار، رباني، ګیلاني، محمدي، مجددي او خالص لاسلیک کړ، که چې هر تنظیم باید د اتحاد شورئ ته لس لس تنه ور معرفي کړي وای د محاذ ملي پر غړو اعتراض وشو او پیرګیلاني د احتجاج په توګه له اتحاد څخه ووت، د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد د ۱۳٦۰ کال د اسد په ۳مه/۱۹۸۱م جولای ۲مه د عالي شورئ په غونډه کې بیرغ، نښان او د اتحاد اساسنامه اعلان کړه، او د ۱۳٦۰ کال د سنبلې په ۲۵مه د ۱۹۸۱م د سپتمبر په ۱٦مه په عامه غونډه کې مهاجرینو ته حکمتیار، رباني، خالص او د مجددي پرځای چې په بهرکې ؤ مولوی محمد میر ویناوې وکړې او په همدې غونډه کې د اتحاد بیرغ پورته شو.

## د مجاهدینو په منځ کې د اداري فساد پیل

سیاف هڅه وکړه چې له دې اختناق څخه د عربو د شتمنو هیوادونو د پام اړولو په ترځ کې ځان او خپل په میراث پاتې تنظیم "اتحاد اسلامي برای آزادی افغانستان" ته ښه او لوړ مقام په لاس راوړي، یوه ګډوډي چې جهاد ته یې ضربه ورکړه د مالي امکاناتو له لارې تنظیمونو ته د خلکو جلبول وو چې د دغه فساد د عمل ابتکار سیاف پیل کړ آن تردې چې هغه د اعیان چې د تنظیمونو د اتحاد هڅې یې کولې نوموړي د پیسو او امکاناتو په ورکولو ځان ته ورجلب کړل.

د تنظیمونو اداري او د ارتباط مسوولینو او قوماندانانو چې د سیاف سخاوتمندانه دریځ لیده چې خپلو قوماندانانو او د تنظیم مربوطو کسانو ته به یې زیاتې پیسې او امکانات ورکول د زیاتو مجاهدینو اخلاص او صداقت یې زیانمن کړ، او یو ډول په ټولو تنظیمونو کې د ګټې پالنې روحیه قوي شوه، ګټه خوښونکو کسانو له دې حالت څخه زیاته ګټه پورته کړه، مسخ شوو او استفاده کوونکو افرادو د پوښتنې او حساب او کتاب په وخت کې د خپل تنظیم پرځای بنه بدیلونه درلودل، چې بل تنظیم ته په تلو به یې نه یوازې مصؤونیت درلود بلکې سیاسي وجاهت به یې ترلاسه کاوه او مالي او نظامي ښه امکانات به یې ترلاسه کول.

د غنیمت مسأله د دې پر ځای چې څرنګه په اسلام کې تشریح شوې د غلا او لوټمارۍ په بڼه واوښت او د هرسړي د فکر او تصور سره سم توجیه شو، دغه حالت د جهاد په وروستیو شرایطو کې بلکل بدل شو او رهبران د خپلو قوماندانو د قانع کولو لپاره د هغوی په مالي او پوځي مرستو عادت شول

او د نورو تنظیمونو سره د رقابت لپاره یې هڅه کوله چې جګړه ساز او لوټمار خان ته جلب کړي. چې زیات مثالونه یې شته چې غلو او لوټمارانو د قوماندانانو په نامه د تنظیمونو تر پوښ لاندې د مجاهدینو په تنظیمونو کې راپورته او حمایه شول. څرنګه چې د مجاهدینو په منځ کې قانوني د صلاحیت خاونده مرجع نه وه، مجازات او مکافات هم په منځ کې نه وو، د ښه او بد توپیر او حلال او حرام صداقت او خیانت، په دې ګډوډیو کې رنګ بایللی ؤ. د مجاهدینو مقام یې کمزوری کاوه، د تنظیمونو په مالي او نظامي شتمنۍ کې غبن او خیانت کیدو او د مجاهدینو په منځ کې د وسلې خرڅولو ناروا عمل په روا بدل شو. قوماندانان ورو ورو تر اصلي مبارزې او جهاد زیات د خپل ژوند په آرامۍ او سمسورولو پوخت شول، د وسلو د خرڅولو او پیرلو بازار د پاکستان د خلاصو دروازو سرحدونو، د غلا او لوټ زمینه نوره هم برابره کړې وه، او د تنظیمونو د شتمنیو د لوټ او چور نه خبره او چته شوه د افغانستان طبیعي زیرمو او غنایمو ته لاسونه ور وغځیدل، د میوه دارو او بې میوو ونو باغونه او ځنګلونه، معدنونه او قیمتي کاڼي، باستاني آثار او د افغانستان د ملي مؤسسو او مرکزونو سامانونه او وسایل ټول د پاکستان په بازارونو کې پلورل کیدل، او په شخصي هوسونو ولګیدل.

کله چې د قواو توازن د مجاهدینو په لوري مات شو د کمونستي رژیم فاسد افراد هم تنظیمونو ته د جنګیالیو د جذب په هماغه فرهنګ په اساني ورننوتل، او د توانیدل چې د هغوی له شتمنیو څخه د ځانونو لپاره ګټه واخلي، یو بل دهغو عواملو له ډلې څخه چې مجاهدین یې بدنامۍ ته کش کړل د تنظیمونو ترمنځ د داخلي ویرانوونکي جګړو پیل ؤ. غالباً به کمونستانو ددې جګړو اور ته لمن وهله چې د دې جګړو د پراخیدو په سبب خپل جنایتونه او خیانتونه پټ کړي ترڅو له یوې خوا پر دې وتوانیږي چې ځانونه وساتي له بل پلوه پرې نږدي چې مجاهدین دیوه دیني نظام په جوړولو بری ومومي، د ښارونو لوټ او چور د خلکو د شتمنیو غلاکول او د عامو و دانیو او تاسیساتو له منځه وړل د هغو مثالونو له جملې څخه شمیرلی شو.

## د سنت ګرايي او بنسټ پالنې ترمنځ اختلاف

یو د هغو عواملو څخه چې سید احمد ګیلاني د اتحاد اسلامي مجاهدین سره خپلې اړیکې وشلولې، د لویو ګوندونو دغبرګونو عکس العمل ؤ. چې د محاذ ملي د شورا د غړو په څېرونې اعتراض وکړ او هغوی یې د صلاحیت څخه یې برخې وبلل، دغه رسم د مجاهدینو په اداره کې دننه په ډیر وسعت خور شو، او د جهاد له اصالت سره د ټولنې فضا هم داسې وه چې هغه کسان چې ډیره به یې تراشلې او پالنده وه او یا به یې جامې افغاني نه وې اغوستې تر کلک انتقاد لاندې راتلل او د اسلامي عقیدې په باب به یې شک کیده، دمجاهدینو دبرترې سیالۍ دخلکو په ظاهري څیروهم اغیزه وکړه، او څرنګه چې د

سپیڅلی جهاد او دافغانستان او اسلام ددفاع په لارکې دمجاهدینو ارمان اوهدف لوړ شمیرل کیده افرادو هم بایدځان ته داسې اسلامی رنګ ورکړی وای چې داسلام له لوړیو وختونو سره یې ورته والی درلود.

د مثال په توګه استاد سیاف د عربو په وړاندې ځان د حضرت عمر فاروق (رض) له کړو وروسره نژدې جوړ کړی ؤ، په یوه ساده جونګړه کې به یې پیوند جامې اغوستې وی اود هیوادونو او اسلامی حزبونو د مشرانو مخې ته به راووت، چې زیاتره به یې د نړی د مسلمانانو احساسات ولړزول چې دا د مالی او نظامی مرستو په جلب او د اسلامی شخصیتونو د جوړیدو بنه زمینه وه.

په دغسې تولنیزه فضاکې د محاذ ملی او ملی نجات جبهې او د حرکت انقلاب اسلامی یو شمیر افراد د خپلو پخوانیو تمایلاتو په سبب چې دوی له هغه پخوا سره چې لا ددې ګوندونو غړی نه وو درلود تل تر انتقاد لاندې وو.

تولو لوریو هریوه دا هڅه درلوده چې ځان ترنورو په اصولو کې بنه معرفی کړی او خپل رول او نفوذ د افغانستان په جهاد کې فوق العاده روښانه انځور کړی، دغه چلن په ځانګړی توګه په بهر کې په ډیر افراطی شکل تبلیغ کیده، چې بالاخره د جهاد فکر او سیاسی محتوی په دو و برخو وویشل شوه. د بنیاد ګرو ډله او ملی ګراډله، او یا بنسټ پالی او معتدل، هغه یوه لوری هڅه کوله چې بله ډله د پخوانی پاچا پلویان، معتدل، اوکله کله په نورو نومونو په عربی هیوادونو او مرستندویه حوزوکې معرفی کړی. او دې بل لوری هڅه کوله چې مقابل لوری په لویدیز و محافلو او مرکزونو او د نړی په سیاسی حلقو او په بهر کې پرتو افغانانو ته وچ ذهنه، متعصب، تنګ نظره، افراطی او اخوانی معرفی کړی. (٣٥)

د اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان له اعلان نه وروسته دغه انتقادات زیات شول او د اتحاد شوری ته د مجددی او محمدی ډلو د معرفی شویو غړو په شخصیت اعتراض وشو او هغوی ددې شوری د غړیتوب د شرایطو په نه درلودلو تورن شول، له بله پلوه د دغو ګوندونو ترمنځ د ننه ډله ئیز تضادونه په داسې شکل جوړ شول چې د پاس یادو شویو درې ډلو ځینی کسان د هغو مشترکو وجهو په درلودلو سره د بنیاد ګرایانو په ډله کې و دریدل او نور یې د سنتی اسلامپالو په نامه له دې محور څخه لرې کړل.

د ۱۳٦٠ کال د جدی ٣٠/د ۱۹۸۲م کال د جنوری په ۲۰مه د نظریاتو د دې اختلافاتو په نتیجه کې مجددی او محمدی عملاً له اتحاد څخه ووتل او سیاف یې چې تر هغه وخته یې د خپل اداری نظم په جوړولو پوخت ؤ د یو بنیاد ګرا تنظیم په حیث په رسمیت و پیژاند.

## اوه گونی اتحاد

په دی سیاسی کشمکشونو کی د تنظیمونو شمیر زیات شو او اوه ګونی اتحاد دافغانستان د اداری با صلاحیته سرجع معرفی شوه، د ١٣٦١ کال د جوزا په دوهمه /١٩٨٢م کال د مې په ٢٣مه اوه ګونی اتحاد (د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد) د پنډی په ښار کی په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی رسماً اعلان شو. چی د رهبری شوری څخه پرته یی مختلف کمیسونونه هم تشکیل کړل. په اوه ګونی کی اتحاد لاندینی تنظیمونه شامل وو:

١- د انجینر حکمتیار په مشری حزب اسلامی افغانستان.
٢- د استاد برهان الدین ربانی په مشری جمعیت اسلامی افغانستان.
٣- د مولوی خالص په مشری حزب اسلامی افغانستان.
٤- د عبدلرب رسول سیاف په مشری اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان.
٥- د مولوی محمد میر په مشری د نجات ملی جبهه، نوموری د مجددی له خاصو مشاورینو څخه ؤ چی انشعاب یی وکړ.
٦- د مولوی نصر الله منصور په مشری حرکت انقلاب اسلامی (له محمدی نه یی انشعاب وکړ)
٧- د مولوی موذن په مشری حرکت انقلاب اسلامی (له مولوی محمدی نه یی انشعاب کړی)

د اوه ګونی اتحاد شپېته کسیزه شوری ددی تنظیمونو د مشرانو او بانفوذه غړیو او روحانیونو څخه جوړه شوی وه، همدارنګه مختلف کمیسونونه جوړ شول چی په لاندی ډول وو:

١- سیاسی کمیسون: رئیس استاد سیاف، مرستیال استاد علی انصاری حزب اسلامی
٢- نظامی کمیسون: رئیس برهان الدین ربانی
٣- مالی کمیسون: رئیس د مولوی خالص معاون حاجی آغا دتګاب دمیاګل جان آغازوی، حاجی آغا د مولوی خالص مرستیال نه ؤ (ژباړن).
٤- قضایی کمیسون: رئیس مولوی رفیع الله موذن، معاون، مولوی احمد ګل
٥- د اطلاعاتو کمیسون: رئیس سید نور الله عماد (جمعیت) مرستیال: منشی عبدالمجید (حزب اسلامی)
٦- د مهاجرینو کمیسون: رئیس مولوی عبدالحی (حرکت انقلاب) مرستیال: سنګل حسین (حزب اسلامی)
٧- فرهنګی کمیسون: رئیس قاضی وقاد (حزب اسلامی) مرستیال: سخیداد فایز (جمعیت اسلامی)
٨- صحی کمیسون: رئیس مولوی ارسلان (حرکت انقلاب اسلامی) مرستیال مولوی امان الله (نجات ملی جبهه)
٩- د تعلیم او تربیی کمیسون: رئیس انجینر احمد شاه احمدزی (اتحاد اسلامی) مرستیال: استاد

احمد زی (جمعیت اسلامی)

۱۰- د دارلافتا کمیسون: رئیس مولوی محمد میر (جبهه نجات ملی) مرستیال مولوی عبدالمجید کدیخیل (حزب اسلامی)

۱۱- د پلان جوړولو کمیسون: رئیس مولوی سلطان عزیز، مرستیال انجنیر عبدالسلام هاشمی (حزب اسلامی)

۱۲- د دارلتحریر کمیسون: رئیس مولوی نصر الله منصور (حرکت انقلاب) مرستیال: حاجی دوران (حرکت انقلاب اسلامی)

۱۳- د دعوت او تنظیم کمیسون: رئیس مولوی سید آکبر (جبهه ملی نجات) معاون: میر حمزه (جمعیت اسلامی)

د اتحاد په عالی شوری کی د انتخاباتو په واسطه استاذ سیاف د رئیس او انجنیر حکمتیار د مرستیال په توګه وټاکل شول.

## په کعبه کی د لوړی مراسم

د پورتنیو دلو ترمنځ د منسجم اتحاد په جوړیدو استاد سیاف چی د اتحاد د رئیس په حیث غوره شوی ؤ د عمل ابتکار په لاس کی واخست او د سعودی عربستان د بلنی په سبب له تولو شپیتو تنو دشورا له غړیو سره مکی مکرمی ته ولاړل اود کعبی شریفی په منځ کی یی د وفاداری اوله یوبل سره د ملاتړ او همکاری سوګند وکړ، ژمنه یی وکړه چی د دی اتحاد په بقا او د جهاد په ساتنه کی به خپلی هر دول شخصی ګټی او مصلحتونه قربانوی او د اسلام او افغانستان مصالح به د تولو نه لوړ ګنی، د اوه ګونی اتحاد فعالیتونه په اداری او تشکیلاتی سطحه او تولنیز روابط دیر ورو پر مخ روان وو، او د دفتر (اداری) او سنګر (جبهی) ترمنځ فاصله زیاتیدله، د جبهی دننه مجاهدینو په اختناق او د هغو افرادو ترپیروکراسی لاندی چی تر اوسه یی حزبی تمایلات په اتحاد کی ساتلی وو لاره ورکه کړی وه او سر ګردان وو، د تنظیمونو غړیو د خپلو تنظیمونو مصالح او د مشران واجب الاحترام او د اتحاد له مصالحو څخه مخکی بلل، په سیاسی سطحه هم همدغه چلن او نا مأنوس روابط تمثیلیدل.

د سیاف د اتحاد او حزب ترمنځ، چی دبنه موقف څخه برخمن وو د اتحاد ساتنو روحیه او تمایل زیات ؤ، ربانی د بی تفاوتی حالت غوره کړی ؤ، څکه هغه د نظامی چارو د رئیس په حیث د تولو مجاهدینو د اداری او قوماندی صلاحیت نه درلود او نظامی مرستی هم په لوړه سطحه او د مرستندویو هیوادونو د نظر له مخی ترسره کیدی، تر تولو مهم د اداری او تشکیلاتی تجربی نشتوالی د مجاهدینو د سازمانونو په منځ کی او د غیر مسلکی خلکو په لاس کی د اداری انحصار ددی سبب شول چی دغه

اتحاد تبارز ونکړي او په بین المللي ډګر یې له هیوادونو سره اړیکې ټینګې نه شوې.

سیاف له ډېر بنه مقام څخه برخمن ؤ، او زیاترو اسلامي مرستندویو هیوادونه په تېره عربو دده په وده او د اتحاد اسلامي تنظیم په ځواکمنیدو کې ډیره هڅه وکړه، له هغه سره د مالي او نظامي زیاتو امکاناتو موجودیت او د نورو ګوندونو څخه د افرادو او قوماندانو د جذب لپاره د دروازو خلاص پرېښودل ددې سبب شول چې نور تنظیمونه له سختو ګډوډیو سره لاس او ګریوان شي. چې د تیرو دورو د پخواني اتحاد د تجربې د تکرار امکانات یې زیات کړل. او دغه ګډوډۍ او بې نظمي بیا هم د ډلو ترمنځ د بې اعتمادۍ سبب شوې. سیاف د ١٣٦٢ کال دلوې په ٢٠مه /١٩٨٤ د فبروري په ٤مه د اتحاد په کمیسونونو کې بدلونونه راوستل، قاضي محمد امین وقاد یې چې سیاف ته یې تمایل زیات شوی ؤ د استاد رباني پر ځای د نظامي کمیسون رئیس او انجنیر احمد شاه یې د مالي چارو د کمیسون رئیس وټاکه.

رباني، حکمتیار او خالص د سیاف له دې کار سره عکس العمل وښود. مولوي خالص په یوه اعتراضیه کې سیاف په ناوړه استفاده اختناق او د اتحاد اصولو او اساسنامې ته په نه تعهد تورن کړ او رسماً یې خپلې اړیکې له اتحاد څخه وشلولې، حکمتیار او رباني هم د سیاف له کړو وړو څخه خوښ نه وو، او په مکه مکرمه کې یې دسوګند پړه پر استاد سیاف وراچوله، هغوی خپل ګوندي تشکیلات بیرته منظم کړل او له اتحاد سره یې اړیکې د بې پروایي په حد کې وې، مولوي خالص هڅه وکړه چې ددې درې ناراضي تنظیمونو ترمنځ اتحاد وشي، ځرنګه چې د اتحادونو د تیرو ترخو تجربو په نتیجه کې پر یوبل بې اعتمادي زیاته شوې وه له دې طرحې څخه لاس واخستل شو ځینې داعیون او د نړۍ داسلامي تحریکونو یو شمیر مشران په دې هڅو کې شول چې اتحاد پر ځای پاتې شي. مګر اختلافونه په هغه سهال کې پر ایثار او ځان تیریدنې غالب شوي وو سره له دې چې پر چارو د څارنې او پلټنې هیئاتونه وګومارل شول خو دا هر څه د سیاف په محور څرخیدل.

د ١٣٦٤ کال د غوایي په ٥مه د ١٩٨٦م کال د اپریل په ٢٥مه داوه ګوني اتحاد اضطراري غونډه وشوه چې حکمتیار، رباني، او خالص پکې له ګډون څخه ډډه وکړه، د شورۍ نورو غړو سیاف د اتحاد د رئیس په حیث وټاکه هغه چې ددغه نه ملاتړ له عکس العمل څخه ډېرنا راضه ؤ دیوې اعلامیې په ترڅ کې یې څرګنده کړه:

اوس چې ځینې ورونه په مختلفو پلمو له اتحاد سره د ملاتړ څخه ځانونه لرې کوي دوه سببه لري، یا دا چې له اتحاد څخه بدبین شوي دي چې د قدرت تختونه یې لاندې ونه رغړي او یا د اتحاد له مسوولینو څخه ګرګه لري. او اتحاد ورته سخت تمامیږي، که له مانه نفرت لري په خپل منځ کې دې اتفاق وکړي او امیر دې وټاکي او تولې تنظیمي شتمنې دې هماغه ته تسلیم کړي. زه دې ته تیاریم چې بیعت ورسره وکړم او خپل تنظیم هغوی ته وسپارم. نه محاسبې، کنترول او محاکمې ته تیار یم، که له اتحاد څخه ګرګه لري باید په صراحت ووایم چې اتحاد د خدای (ج) امر او د جهاد او ملت غوښتنه ده اوزه به د خپلو وینو

په قيمت له اتحاد څخه دفاع کوم. (٢٦)

ددی اعلامیې له خپرېدو څخه وروسته حکمتیار، رباني او خالص د خپل درېځ د خپرېدو په ترڅ کې د اتحاد د شورى دتاکل شوى هيأت د پلټنو په رڼاکې څرګنده کړه چې د اتحاد موجوده شورى لغوه شوی، د مجددی محمدی او ګيلاني څخه را شکيدلي افراد د داعيونو د فعاليت په خاطر وو چې هغو تنظيمونو ته ضربه ورکړی او دوی ته يې خپلواک حيثيت ورکړ چې د اتحاد له لغوه کيدو وروسته اوس هغوی رسميت نه لری.

## له حکمتيار سره د وقاد اختلاف

قاضی محمد امين وقاد د حزب اسلامي له لوړوکسانو څخه ؤ، چې يو ځل يې د حزب د امارت مقام هم ترلاسه کړی ؤ او ددغه تنظيم د مرستيال په توګه يې دنده اجراکوله... د فکر له مخې وقاد له حکمتيار سره اختلاف نه درلود بلکې د سياسي وجاهت له مخې يې غوښتل په بيړه د رهبرى مقام ته لاره ووهي اوله حکمتيار سره سيالي او رقابت وکړی. د قاضی امين شخصيت چې پخپله هم د مسلمانو او تحصيل کرده ځوانانو څخه ؤ شخصي عقدو دسيالي حس او پرخپل سر د چارو پرمخ بيولو روش له حکمتيار سره په دووخاصو سليقوى ارخونوکې د حزب اسلامي داخلي فضا ګډه وده کړه او بالاخره په انشعاب پای ته ورسيده.

کله چې وقاد له سياف سره د اتحاد په مصالحوکې د حکمتيار څخه جدا درېځ غوره کړ د فرهنګي چارو په رياست قانع نه ؤ. له هغه تولو مالي او نظامي مرستو سره چې د اتحاد په نامه له سياف سره کيدلې دده علاقه پيدا شوه او چې کله د رباني پر ځای د نظامي امورو رئيس شو چې زياتې ګټې يې درلودی سياف ته يې تمايل زيات شو او له حزب اسلامي سره يې اړيکې غوڅې شوی. خوکله چې اوه ګونی اتحاد لغو شو وقاد ځانګړی تنظيم جوړ کړ او د نوروکسانو مثلاً مولوی محمد مير، نصر الله منصور، رفيع الله موذن په څيرېې په پاکستان کې د نه همکاری او سياسي خلا په سبب مخ ايران ته واړاوه، دغه کسان د خپلواکو وړوکو ډلو په حيث د ايران د منافعو له اهدافو سره وتړل شول. او د هغه هيواد د مصالحو په جهت کې يې زيات مالي امکانات لاس ته راوړل.

يوه مسأله ددی دواړو ترمنځ د نظر تفاوت ؤ چې حکمتيار د سعودی عربستان او پاکستان سره د نږدی کيدو غوښتونکی ؤ او له ايران سره يې اړيکې شليدلې وی په داسې حال کې چې وقاد له ايران سره علاقه او اړيکې درلودی، کله چې وقاد بيل شو، ايران يې مادی بنه منبع او اصلي ملاتړکوونکی ؤ، او د تبليغاتو په برخه کې چې حکمتيار له ايران سره کوم اختلافات درلودل نه يوازی دا چې وقاد يې د حزب اسلامي له تنی څخه بيل کړ بلکې نوری وړوکې ډلې لکه مولوی نصر الله منصور، مولوی موذن او زيات شمير نور افراد د ايران دسياست او عقيدی سره وتړل شول.

واقعیت دادی چی دافغانستان جهاد بیا هم د بهر هیوادونو له لاسو هنی څخه خوندی پاتی نه شو، دغه هیوادونو هریوه غوښتل چی د افغانستان د ملت له وینو او دپای ته رسیدونکی جګړ څخه ګټه پورته کړی چی د وروپوری ترلیو دلوله امله تر اوسه پوری دوام لری.

## داوه ګونی اتحاد خپرونی

د خپرونی نوم: *شعاع جهاد* ***The Jehad Rays***

د خپریدو کال او ځای: د ١٣٦١ کال د میزان ٢٨ مه/١٩٨٢م د اکتوبر ٢٠ مه، پیښور، خپروونکی او د امتیاز خاوند: د مجاهدینو اسلامی اتحاد، مسوول مدیر یا سرمحرر: فدایی، شمیر: ٢ زره ګنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، رنګه پښتنی، مصوره ٥٠ مخونه ژبه: انګلیسی، کچه ٢٩X٢١ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦٤ کال ثور/١٩٨٥م کال اپریل، محتوی: د افغانستان په اړه راپورونه او مقالی، د جهاد د شهیدانو ژوند لیک.

د خپرونی نوم: *د شهید پیغام*

کال او د خپریدوځای: ١٩٨٢/١٣٦١م، پیښور، د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد، مسوول مدیر: فدا محمد فایض شمیر: ٢٠٠٠ ګنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، کچه: ٢٩X٢١ سانتی متره، ژبه: پښتو، دری، د خپرونی د کار پای ١٩٨٥/١٣٦٢م محتوی: سیاسی مقالی او د افغانستان د شهیدانو ژوند لیک او یادونه.

د خپرونی نوم: *قیام حق*

د خپریدو کال او ځای: د ١٣٦١ کال د میزان لومړی /١٩٨٢کال دسپتمبر ٢٣مه، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد فرهنګی کمیته، ژبه: دری او پښتو کچه: ٢٩X٢١ سانتی متره، مدیر: ننګیال، شمیر: یوزرګنی د خپرونی دول: میاشتنی مجله، رنګه پښتنی، تصویری، ٥٠-٧٠ مخونه د خپرونی د کار پای ١٩٨٥/١٣٦٤م محتوی: د افغانستان د جهاد په باب راپورونه او مقالی، د اسلامی شخصیتونو معرفی او اشعار.

د خپرونی نوم: *النفیر العام*

کال او دخپریدو ځای: ١٩٨٢/١٣٦١م، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد، سرمحرر: عبدالاحد تارشی، شمیر: دوه زرګنی، د خپرونی دول: مجله، میاشتنی، رنګه پشتی، تصویری، ٦٠ مخونه، ژبه: عربی کچه ٢٩X٢١ سانتی متره، د خپرنی د کار پای: ١٣٦٣ لمریز/١٩٨٤م، محتوی: د جهاد خبرونه، مصاحبی اعلامیی او مقالی.

د خپروني نوم: *وحدت اسلامی*
د خپریدو کال او ځای: ١٣٦١/١٩٨٢م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد، سر محرر یا مسوول مدیر: نسیم ستانیزی/محمد نذیر بشارت، شمیر: زرګني د خپروني دول: جریده، نامنظمه، دوه رنګه، ٨ مخونه، ژبه: پښتو، دری، کچه: ٥٨x٤٢ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٦٤ لمریز کال د اتحاد له شړیدو سره. محتوی: د جهاد په باب مقالې، خبرونه او را پوروونه.

## دری ګونی اتحاد

دری ګوني اتحاد د محمدی، مجددی او ګیلاني ترمنځ چې داوه ګوني اتحاد څخه له ظاهر شاه سره داریکو په سبب لرې شوی وو جوړ شو. حضرت مجددی دیوی اعلامیې په ترځ کې څرګنده کړه: څرنګه چې د نجات ملي جبهه د الهي اوامرو په رڼاکې تل یوه ملي، اسلامي او واقعي اتحاد ته چمتو وه، دغه لوی هدف یې د دری د اسلامي تنظیمونو حرکت انقلاب اسلامي افغانستان، محاذ ملي اسلامي افغانستان او د نجات ملي اسلامي جبهې ترمنځ د بشپړ، واقعي او حقیقي اتحاد په سبب ترسره شو. او د اتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان په نامه اتحاد تشکیل شو. چې غیږه یې د پالیسي او منشور په اساس د افغانستان دټولو مسلمانانو پرمخ خلاصه ده، په هغه صورت کې چې هر اسلامي نهضت د اسلام د دفاع او ملاتړ په خاطر د افغانستان د ژغورنې غوښتونکي وی د افغانستان د مجاهدینو په اسلامي اتحاد کې د شاملیدو لپاره به یې موږ تود هرکلي وکړو.(٣٠)

د اوه ګاني اتحاد خپروني او تبلیغات په صراحت سره د دری ګوني اتحاد او د هغوی د شخصیتونو په هکله وو، چې په افغانستان د پخواني نظام د بیار راګرځیدو غوښتونکي دی. او دا زموږ د اسلامي جهاد له اهدافو سره مخالف دی. محمد ظاهر شاه دوی د کمونستانو د منځته راوړو اوله شوروی اتحاد سره د دوستي مسوول پاله. دری ګوني اتحاد د کمزوری ملاتړ په وجه ویره درلوده چې د اوه ګونو تنظیمونو د مجاهدینو دلي به د دوی د تیت او پرک کیدو او منحل کیدو زمینه برابره کړی، ځکه حضرت مجددی سیاسي هڅې پیل کړی اروپا ته یې سفروکړ، تر څو که په دی وتوانیږی چې د اروپا یې هیوادونو او هلته میشتو افغانانو مرستي ورجلب کړی. همدارنګه محمدی روم ته سفر وکړ چې له محمد ظاهر شاه سره د متحدی ملي جبهې په جوړیدو کې خپلې هڅې یو ځای کړی، تر دی چې د پاچا او د هغه د پلویانو تائیدیې تر لاسه کړ. پیښور ته د مجمدی د بیرته راستنیدو په وخت کې دری ګوني اتحاد یوه اعلامیه خپره کړه اوله پاچا څخه یې ملاتړ اعلان کړ. دغې اعلامیې توند عکس العملونه ترشا در لودل او د مجددی پر خلاف مظاهری وشوی، د دری ګوني اتحاد د رهبرانو ویناوی هر ځای اخلال شوی او په خپرونو کې د پاچا او دری ګوني اتحاد پر خلاف پراخ تبلیغات پیل شول.

د پیښور په سیاسي چاپیریال کې دری ګوني اتحاد ترسخت فشار لاندې راغی، او عام ذهنیت هم د

هغوی پر خلاف و اوبښت.

د ۱۳٦۱ کال د حوت په ۱٥مه/۱۹۸۲م د مارچ ۲مه، حضرت مجددی د دری ګونی اتحاد د رئیس په حیث د افغانستان د مجاهدینو د سرتاسری یو والی غوښتونکی شو، او په یوه لیک کی یې له سیاف څخه وغوښتل چی دواړه اوه ګونی او دری ګونی اتحادونه په یوه شریکه اداره کی یوځای کار وکړی. اوله اختلافاتو څخه ډډه وکړی. ده په دی اعلامیه کی څرګنده کړه: څکه خود افغانستان د مجاهدینو اتحاد په پوره خلوص دخدای (ج) د کلیمی لوړلو او د دښمن دبشپړی ماتی لپاره او د افغانستان د اسلامی خاوری د آزادی په خاطر خپل وړور اتحاد "اوه ګونی" ته بلنه ورکوم چی راځی پخپلو کی خبری اتری وکړو او دمجاهدینو د یوه پراخ اتحاد لپاره عملی لاری چاری وسنجوو. (۲۸)

د مجددی دغه غوښتنی ته سیاف په یو بدډول درد ځواب رکړ خو له یوی مودی وروسته بیا د مجاهدینو ترمنځ د اتحادخبری راپور ته شوی.

## د دری ګونی اتحاد خپرونی

د خپرونی نوم: *اتحاد مجاهدین*

د خپریدو ځای او کال: ۱۹۸۲/۱۳٦۱م پیښور، پاکستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اتحاد. سرمحرر: داکتر سید مخدوم رهین، چاپ شمیر: زرګنی، د خپرونی ډول: جریده میاشتنی، دوه رنګه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٥٠x٤٠ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: د دری ګونی اتحاد تر پایه محتوی: د افغانستان او مجاهدینو په اړه مقالی او راپوړونه.

د خپرونی نوم: *الجهاد*

کال اود خپریدو ځای: ۱۹۸۲/۱۳٦۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد، سرمحرر: عبدالباری غیرت، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی ډول: نامنظمه خبری خپرونه ٤-٦ مخونه، ژبه: عربی کچه: ٤٢x٣٠ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۹٤۲/۱۳٦۳م، محتوی: د دری ګونی اتحاد د رهبرانو دریځونه او خبرونه.

د خپرونی نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۲/۱۳٦۱م، پیښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اتحاد اسلامی فرهنګی کمیته، سر محرر: سید مخدوم رهین، شمیر: زرګنی، د خپرونی ډول: نامنظمه دری میاشتنی مجله، دوه رنګه، ۱۲۰ مخونه، ژبه: پښتو، دری، کچه ۳۰x۲۱ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۹۸٥/۱۳٦٤م، محتوی: د دری ګونی اتحاد د مشرانو راپور تاژونه او د هغوی بیانی.

د خپرونی نوم: *دافغانستان جهاد* ***The Afghanistan Jehad***

د خپریدو کال او ځای: د ۱۳۶۲ کال د حمل لومړی/۱۹۸۳م د مارچ ۲۱مه پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: Islamic unity of Afghnistan (I.U.A.M) سرمحرر: نلری، شمیر: ۱۵۰۰ ګنی، د خپروني دول: مجله میاشتنی نامنظمه، رنګه پښتي، تصویري، ۵۰ مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۳ لمریز/۱۹۸٤م، محتوی: د دری ګوني اتحاد د مشرانو وینا وې، مقالې، او د افغانستان د شهیدانو تصویرونه او ژوند لیک.

د خپروني نوم: ***مجاهدین کا اتحاد***

کال او د خپریدو ځای: ۱۳٦۱/۱۹۸۲م پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: اتحاد اسلامی، سرمحرر: فرهنګي کمیته، شمیر: دوه زره ګني، د خپروني دول: نامنظمه میاشتني مجله رنګه پښتي، ۵۰ مخونه، ژبه: اردو، کچه ۲۹X۲۱ سانتي متره، د کار پای: ؟ محتوی: د افغانستان په اړه د دری ګوني اتحاد دریځونه او اعلامیې.

## د افغانستان د قوماندانانو شوری

د افغانستان د قوماندانانو شوری د بیلتون غوښتونکو پلانونو څخه یوه وه چې د افغانستان زیاتره قوماندانان یې له خپلو تنظیمونو څخه خپلسری او بیلتون ته هڅول، او په غالب ګومان د قوماندانانو طرحه د پاکستان د (آی اس آی) لخوا جوړه شوی وه، چې د ننه د قوماندانانو څخه د تنظیمونو له اداری تشکیلاتو څخه بهریو قوت جوړ شي او دا یو مستقل حرکت ؤ، په ۱۳٦۹م کال د ثور ۱۷-۱۹ مې پوری د ۱۹۹۰ کال د مې له ۷-۹ مې پوری په پکتیاکې په تاریخي پریکړه کې یادونه شوی ده چې د قوماندانانو د شوری له تصمیم نیولو پرته هیڅ عمل ورته د منلو وړنه دی.

په دغه شوری کې لاندنیو قوماندانانو ګډون کړی ؤ:

۱/ سید حسن "جګړن" د شورای اتفاق څخه، غزنی. ۲/ اسحق محقق له بامیان څخه: ۳/ قاسمي د غزني له ناورڅخه. ٤/ ظاهر ابوذر د غزني له بهسودوڅخه. ۵/ مولوی صاحبداد له پروان څخه. ٦-قوماندان موسی له میدان بنار څخه. ۷/ داکتر شاهرخ ګران له کابل څخه. ۸/ شیر محمد له کابل څخه. ۹/ ملا شیرین اخوند له کندهار څخه. ۱۰/ څارنوال عبدالولي (محاذ) له کندهار څخه. ۱۱/ حاجي حبیب الله له کندهار څخه. ۱۲/ قاری عبدالعزیز له کندهار څخه. ۱۳/ قوماندان خیال محمد له غزنی څخه. ۱٤/ امین وردګ. ۱۵/ قاری بابا له غزنی څخه. ۱٦/ قوماندان پهلوان میر علم له پروان څخه. ۱۷/ قاری صدیق له فاریاب څخه. ۱۸/ مولوی عبدالاحمد حنیفي له لغمان څخه. ۱۹/ قوماندان عبدالجبار له جوزجان څخه. ۲۰/ قوماندان غیاث الحق له زابل څخه. ۲۱/ قوماندان اختر محمد له پکتیکا څخه. ۲۲/ قوماندان مصطفی وردک له وردګو "جغتو" څخه د ژباړن یادښت: مصطفی د امین

وردک ورور دی. ۲۳/ قوماندان ملا ملنګ له کندهار څخه. ۲٤/ قوماندان مولوی پاچا جان له پکتیکا څخه. ۲۵/ قوماندان انور د کابل له جګدلک څخه. ۲٦/ قوماندان مولوی الدین حقانی له پکتیا څخه. ۲۷/ قوماندان عبدالحق له کابل څخه. ۲۸/ مولوی تاج محمد له پکتیکا څخه. ۲۹/ مولوی ارسلا رحمانی له پکتیکا څخه. ۳۰/ حاجی عبدالخلیل له بغلان څخه. ۳۱/ مولوی، محمد قل له سمنګان څخه. ۳۲/ حاجی عبدل له کابل څخه. ۳۳/ قوماندان رحمت الله له پکتیکا څخه. ۳٤/ قوماندان حاجی اکبر آغا. ۳۵/ حکیم ولسوال له کابل څخه. ۳٦/ قوماندان نذیر له خورد کابل څخه. ۳۷/ مولوی نسیم آخوندزاده له هلمند څخه. ۳۸/ عبدالخالق له فراه څخه.

دغه شوری په ۱۳٦۹/۱۹۹۰م کال کې جوړه شوه او د عمل ابتکار یې احمد شاه مسعود په لاس کې واخست، لومړنی پیلیزه غونډه د قوماندانانو د سر تاسری شوری د توپخانې په سیمه کې په چترال کې د بدخشان په سرحد کې جوړه شوه او د غونډې برخوالو پرشوری د تائید کرښه راښکله، د ۱۳٦۹ کال د سرطان له ۱-٤ پوری/۱۹۹۰م د جون له ۲۲-۲۵ پوری دوهمه غونډه خوست ته نژدې د ژوره په غونډه کې وشوه. د قوماندانانو بله غونډه د ۱۳٦۹ کال د سنبلې په ۱۷مه د ۱۹۹۰ کال د سپتمبر په ۸مه په شاه سلیم کوتل کې وشوه. هغه قوماندانان چې په دې شوری کې شامل وو دا دي:

۱/ احمد شاه مسعود د شوری نظار رئیس د شوری رئیس. ۲/ جلال الدین حقانی د پکتیا قوماندان د شوری مرستیال. ۳/ قوماندان ملا ملنګ

٤/ قاری تاج محمد (بابا). ۵/ قوماندان شیر د پغمان. ٦/ محمد انور جګدلک. ۷/ مولوی شیرین چک وردګ. ۸/ ضابط آغا ګل د جبل السراج نماینده. ۹/ بلال نیرم د پغمان. ۱۰/ توپان د چار دهی کابل. ۱۱/ حبیب الله له کندهار څخه. ۱۲/ حاجی موسی د میدان. ۱۳/ عبدالحق د کابل. ۱٤/ قوماندان ګلروز د جګدلک. ۱۵/ اسماعیل خان د هرات. ۱٦/ تورن اختر محمد. ۱۷/ مولوی فقیر محمد. ۱۸/ امین وردګ. ۱۹/ ګوچار آخوندزاده صاحب. ۲۰/ خلیفه عبدالواحد. ۲۱/ سید جګرن. ۲۲/ جوادی. ۲۳/ تورن نظری. ۲٤/ تورن مختار. ۲۵/ زمانی. ۲٦/ اختر محمد تولواک. ۲۷/ مولوی عبدالعزیز. ۲۸/ مامور فضل الکریم. ۲۹/ عبدالحی حقجو. ۳۰/ عظیمی. ۳۱/ مسید اکرام امانی. ۳۲/ داکتر شمس، حاجی بریالی

*د ژباړن یادښت:* د قوماندانانو شوری لومړی غونډه هم په ژوره غونډه کې شوې وه او د شوری ریاست د هرې غونډې لپاره یو چا ته سپارل شوی دی، عمومي ریاست یې چاته نه دی سپارل شوی خو د نظامي چارو رئیس یې حقاني او د سیاسي چارو ریاست یې د احمد شاه مسعود په نمایندګی قانوني ته سپارلی ؤ.

## د افغانستان د مجاهدینو ائتلاف

د تنظیمونو د بیلا بیلو فعالیتونو له یوې مرحلې او د قوماندانانو تر منځ د داخلي جګړو څخه وروسته د مینه والو هیوادونو لکه سعودي عربستان او پاکستان فشارونه د دې سبب شول چې دپیښور اوه لوی ګوندونه پخپلو منځونو کې تفاهم وکړي اود افغانستان د مجاهدینو ائتلاف په نامه یې یوه مشترکه طرحه و راندې کړه. ددغه ائتلاف پیلیزه غونډه د سید احمد ګیلاني په همکارۍ وشوه او عمده تکې یې د دوو او نیو په ترڅ کې د ټولو لوریو د تائید وړشول. په ١٣٦٤ د ثور په ٢٦مه/١٩٨٥م د مۍ ١٦مه نیټه په پیښور کې د اوو لویو ګوندونو لخوا مطبوعاتي کنفرانس جوړ شو او دیوې اعلامیې په ترڅ کې یې څرګنده کړه چې:

"د پورتنیو هدفونو (د افغانستان خپلواکۍ او د جهاد دوام) لپاره د تنظیمونو رهبران موافقې ته ورسیدل چې خپل قوتونه د دښمن پر خلاف په یو والي او شریکه قومانده کړي او یوه قوي جبهه جوړه کړي، خپل اختلافونه د خپلو سنګرونو د لاپیاوړتیا په خاطر لرې کړي..." د دې اعلامیې له مخې به دوا ړه اوه ګوني او درې ګوني اتحادونه د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد په نامه شریک کار کوي، قوي شورې به جوړیږي چې د تنظیمونو د لازیات یووالي په اړه فعالیت وکړي. په دغه شپږ ماده ایزه اعلامیه کې یادونه شوې وه چې تنظیمونه به د خپل استقلال او خپلو تنظیمي ادارو او تشخص ساتلو سره د اصولو سره سم په اتفاق سره په شریک او ګډکار لاس پورې کوي. (٢٩)

په دې ائتلاف کې پریکړه وشوه چې د اوو مشرانو څخه به په اتفاق یو تن د درې میاشتو لپاره د مجاهدینو د ویاند په توګه وټاکل. د افغانستان د مجاهدینو ائتلاف دوې شوراګانې درلودې، یوه عالي شورې چې غړي یې د اوو تنظیمونو مشران یعنې حکمتیار، رباني مجددي، سیاف، ګیلاني، محمدي او خالص وو، بله مشورتي شورې چې دیوه کال لپاره یې غړي ټاکل کیدل او هر ګوند اوه کسه ور معرفي کول چې د پریکړو د عملي کیدو او د تنظیمو د مشرانو داهدافو لپاره یې کارکاوه.

د قرعې له مخې لومړني نطاق مولوي خالص وټاکل شو، چې په ١٣٦٤ کال د سرطان ٦مه، د ١٩٨٥م د جون ٢٧مه نیټه یې د ملګرو ملتونو سرمنشي ته یو اعتراضیه پیغام واستاوه او د بین المللي دپلوماسۍ له مخې یې د مجاهد دریځ ته دنړۍ توجه ور واړوله، په دې پیغام کې له ملګرو ملتونو څخه غوښتنه وشوه چې د افغانستان کرسي د افغانستان د خلکو واقعي نمایندګانو یعنې مجاهدینو ته وسپارې.

## د حکمتیار او ریګن د ملاقات معضله

په ١٣٦٤ د میزان ٩مه/١٩٨٥ د اکتوبر لومړۍ نیټه حکمتیار د مجاهدینو د ائتلاف دویاند په توګه وټاکل شو، نوموړی د مجاهدینو د ائتلاف د نمایندګانو په مشرۍ په ١٣٦٤ د میزان٢٨مه/١٩٨٥ د اکتوبر

۲۵مه نیټه نیویارک ته سفر وکړ ترڅو د ملګروملتونو د څلویښتمې کلیزې په مناسبت ددغه سازمان په عمومي غونډه کې د افغانستان د مجاهدینو پیغام واوروي او د کمونستي رژیم د نماینده په موجودیت اعتراض وکړي. حکمتیار دملګروملتونو د سرمنشي پریز دوکولیار په نامه په ١٣٦٤ د عقرب په دوهمه/۱۹۸۵ د اکتوبر ٢٤مه نیټه ولیکل: ... سره له دې چې د ملګروملتونو غړو اکثرو هیوادونو زموږ پر هیواد د شوروي اتحاد پوځي یرغل څو څو ځلې غندلی دی او د ملګرو ملتونو پریکړه لیکونو شوروي اتحاد په افغانستان کې دسیمې امن او آرامۍ ته یولوی ګواښ بللی دی، اتحاد شوروي تر اوسه پورې د ملګروملتونو د زیاترو غړو هیلو او غوښتنو ته غاړه نه ده ایښې، په دې موده کې یې په افغانستان کې د خپلو پوځونو شمیر او د افغان بې وسلې اولس پر خلاف په وحشیانه عملیاتو کې زیاتوالی راوړی دی. او زموږ د خلکو د آزادۍ غوښتونکو هڅو د ځپلو لپاره یې خپلې هڅې او اقدامات ګړندي کړي دي. باور مې دی چې ستاسو جناب دې ته پام دی چې ولې موږ د ملګرو ملتونو سازمان په دوه مخې سیاست تورنو و، ځکه چې له یوه پلوه یې په وارواړ په افغانستان کې د شوروي اتحاد لاسوهنه غندلې ده خوله بله پلوه یې د داسې رژیم نماینده چې دهمدې مداخلې څخه وروسته جوړ شوی دی د افغانستان د اولس د قانوني نماینده په حیث منلی دی ... ځکه خو له تاسو څخه غوښتنه کوو چې ملګري ملتونه باید دغیر قانوني رژیم د نماینده باور لیک ترې سلب او تشه شوې کرسي د افغانستان د اولس واقعي نماینده ګانو یعنې د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد ته وسپاري. (٣٠)

د افغانستان د ملت د مبارزو سره د امریکا د جمهور رئیس رونالد ریګن د علاقې له مخې امریکایي مقاماتو حکمتیار ته بلنه ورکړه چې سپینې ماڼۍ ته ولاړشي او له امریکا سره د مجاهدینو پراړیکو او د افغان لانجې د حل په اړه خبرې اترې وکړي. خو حکمتیار دغه بلنه رد کړه څرګنده یې کړه چې دی د مجاهدینو د ائتلاف دویاند په حیث نیویارک ته راغلی دی. چې دمجاهدینو پیغام ملګروملتونو ته ورسوي د سفر په اجنداکې د امریکا له جمهور رئیس سره د ملاقات څه یادونه نه ده شوې. په یوه مقاله کې د (نیویارک ته د اتحاد د سفر په اړه یو تحلیل) په عنوان چې په الصبح جریده کې خپره شوه. ددغه ملاقات د بلنې دردولو له دلایلو څخه یو دا ښودل شوی دی چې امریکا له روسانو سره په خپلو اړیکو کې سیاسي بهره برداري غوښته، همدارنګه حزب ادعا وکړه چې امریکا غوښتل د مجاهدینو د ملاتړ کوونکي او پلوي په توګه ځان وښيي د دې ملاقات یو بل هدف د ابنودل شوی دی چې د افغانستان اسلامي نهضت شکمن کړي او د نړیوالو په اذهانو کې د افغان اولس پر دغه اصیل او نا پیلې حرکت د "امریکایي" حرکت ټاپه ولګیږي. (٣١)

خو دغه تعبیرونه چې هسې لنډ مهالي وو اغیزمن ثابت نه شول، د امریکا د نه اعتماد اوله مجاهدینو سره بې فاصله زیاته شوه. حکمتیار کولی شوای په دغه ملاقات په نړیواله سطحه د مجاهدینو دریځ لوړ کړي او د تفاهم دروازې خلاصې پریږدي. حکمتیار له امریکا څخه الماني ته ولاړ، هغه له افغانانو سره د

کتنو په لړکې د کارګر ګوند له رئیس ویلي برانت سره هم وکتل. پیښور ته یې له راستنیدو سره د ائتلاف فضا شکمنه شوه او درونالدریګن په وړاندې د حکمتیار عکس العمل زیاترو مشرانو وغانده، مجددي له ریګن سره د حکمتیار له ملاقات څخه انکار په نړیواله سطحه په اړیکو کې مجاهدینو ته یو لوی ګوزار وباله.

دریم ویاند پیر ګیلاني وټاکل شو، چې زیاته موده یې په کشمکشونو او د ائتلاف په داخلي اختلافونو کې تیره شوه، په ۱۳٦٥ کال د حمل په ۱۲مه/۱۹۸٦م د اپریل لومړۍ نیټه څلورم ویاند برهان الدین رباني ؤ، چې وروسته یې له خالص، مجددي او ګیلاني سره یو ځای امریکا ته سفر وکړ او له رونالد ریګن سره یې ولیدل، د هیأت د بیرته راتګ سره په څېړونو او تبلیغاتو کې یو لړ مخالفتونه را منځته شول، او د څلورو جهادي مشرانو د امریکا د سفر په باب حزب اسلامي د "سوالات باکفار" رساله خپره کړه، چې د قرآن کریم د آیتونوپه استناد او نورو روایتونو یې له کفارو څخه د مرستې غوښتل مردود بللي اود رهبرانو دغه عمل یې غندلی ؤ. (٣٢)

هغه مشران چې له ریګن سره په ملاقات یې موافقه وه او په هیأت کې ګډ امریکا ته تللي وو د حزب اسلامي د عکس العمل په ځواب کې کنفرانسونه جوړ کړل، مرکې یې وکړې او فتوی ګانې یې صادرې کړې ترڅو دغه سفر په سیاسي لحاظ ګټور او له دیني اړخه جایز ثابت کړي.

## د عمومي بخښنې اعلان

انجنیر حکمتیار په هغه تاریخي غونډه کې چې پر افغانستان د شوروي لښکرو دیر غل د شپږمې کالیزې د غندنې په مناسبت په ورسک کمپ پیښور کې جوړه شوې وه دیوې اوږدې وینا په ترځ کې چې د افغانستان د جګړې په اړخونو وغږید دمهاجرینو په منځ کې د کې جي بي او کمونستي رژیم د جاسوسي فعالیتونو دله منځه وړو په اړه ګواښ وکړ، غوښتنه یې وکړه چې مجاهدین په مجموع کې په یوه مشترکه اداره کې خپل فعالیتونه دیوه اسلامي حکومت په چوکاټ کې منظم کړي، نو موړی اعلان وکړ چې د هیواد تربشپړې خپلواکۍ او دیوه اسلامي حکومت ترجوړیدو به یې مبارزه او جهاد دوام لري، نو موړی د افغانستان بشپړه خپلواکي، بې طرفي، اسلامي هویت او ځمکني بشپړتیا او د ملت په لاس د برخلیک ټاکلو حق تائیدکړ وېې ویل چې پردی قواوې دې په افغانستان کې له لاسوهنې لاس واخلي موږ پخپله دا اهلیت او کفایت لرو چې خلپمنځي مسایل پخپلو کې سره حل کړو، هره طرحه چې د افغانستان د بشپړ یو والي او آزادي ضمانت ونه کړي، زموږ د هیواد په تجزیه تمامه شي، زموږ د هیواد ځمکني بشپړتیا ته تاوان ورسوي موږ ته د منلو وړنه ده او په کلکه به یې مخالفت وکړو، موږ په هیڅ دول شرایطو کې د خپل هیواد له یو انچ خاورې څخه نه تیریږو، حکمتیار د افغانستان د بیا ودانولو په برخه کې

دکرنې او د راتلونکي نسل د ښوونې اوروزنې په باب په کليو او ښارونو کې د مجاهدينو پام وروګرځاوه وېي ويل- دا د قوماندانانو وظيفه ده چې خلک وهڅوي چې په يوه لاس کې توپک او په بل کې يوم واخلي او څرنګه چې بې سنګر ته پام دی دغسې کرنې او زراعت ته هم اهتمام وکړي. (٣٣)

حکمتيار دلوسړی ځل لپاره عامه بخښنه اعلان کړه وېي ويل-تولو هغوکسانو ته چې ددې مقاومت په دوران کې په سهوه او يا زور د ښمن خدمت ته کش شوي دي (په داسې حال کې چې په خپله تېره ګناه او کړووړو پښېمانه وي) او غواړي چې د ملت غېږې ته راشي او غواړي چې خپله ماضي جبران کړي عمومي عفوه اعلانوو، دغه عمومي بخښنه بايد د هغوکسانو په باب هم مراعات شي چې قصدي او په خپله اراده زياته موده د ښمن په خدمت کې وو، خو په دې شرط چې اوس د ښمن پر خلاف يوکار سرته ورسوي او پر خپلو تيرو کړو وړو پښېمانه وي، تر څو ثابته شي چې دوی په خپلو تيرو کړو وړو پښېمانه شوي دي، تيرې کړنې دې نسبتاً جبران کړي چې په اخلاص او صداقت يې ګواهي ورکړي.

سوړ تولو قوماندانانو او د حزب اسلامي هرغړي ته توصيه کوو چې دغسې خلکو ته امان او پناه ورکړي داسې تدبيرونه دې وسنجوي چې له ملت څخه ددغسې شليدليو خلکو د بيرته راګرځيدو لپاره لاره اواره شي ترڅو دښمن ته د خدمت څخه وژغورل شي، زموږ غېږې ددغسې خلکو لپاره خلاصې دي.(٣٤)

د نورو تنظيمونو او مجاهدينو او د کمونستي لوړ رتبه افرادو په منځ کې د عمومي ښښنې اعلان د عکس العملونو او غبرګون سبب شو، زياتره جهادي مشرانو د حکمتيار دغه دعفوي فرمان دده له صلاحيت څخه لوړو باله، څرګنده يې کړه چې له دې خلکو سره حساب اوکتاب او د دوی بخښل د افغانستان په اولس پورې اړه لري. دغه بخښنه او محاسبه د افغانستان د هغو زرګونو يتيمانو حق دی چې پلرونه يې يا د زندان په ګوتونو او يا د روسي جلادانو او د دوی د مزدورانو په لاس شهيدان شوي دي. (٣٥)

د مجاهدينو يو شمير مشرانو په هغو شرايطو کې چې مجاهدين واقع وو د افغانستان د جګړو مسوولو کمونستانو ته د هر ډول بخښنې او تيريدنې د وخت څخه وړاندې او يو طرفه عمل وباله، همدارنګه يو شمير افرادو چې امريکا ته د ځينو جهادي مشرانو سفر او له ريګن سره يې ملاقات د حکمتيار د دريځ له اسله په عامه ذهن کې بد معرفي کړې وو د کسات او بدل حس د حکمتيار د عمومي بخښنې اعلان د حکمتيار او حزب اسلامي د اهدافو د تخريب ښه موقع وبلله او د مقالو او څېړونو او بيانيولو لارې يې پراخ تبليغات وکړل.

## د مجاهدينو انتقالي اسلامي حکومت

د ۱۳٦۷ د جوزا په ۲۹مه/۱۹۸۸م د جون په ۱۹مه/په پېښور کې د اتحاد اسلامي مجاهدين افغانستان په مرکزي دفتر کې د مجاهدينو انتقالي اسلامي حکومت اعلان شو. دغه حکومت د مجاهدينو وياند پير سيد احمد ګيلاني ديوه خبري کنفرانس په ترڅ کې اعلان کړ او تولو د ائتلاف او و اړو مشرانو پرې موافقه وکړه. د انتقالي حکومت څخه هدف د مشترک اداري سازمان جوړيدل وو. د مجاهدينو انتقالي حکومت په لاندې ډول معرفي شو.

۱– انجينر احمد شاه احمد زی د انتقالي حکومت رئيس (اتحاد). ۲– ډاکتر ذبيح الله مجددي لومړی مرستيال نجات جبهه. ۳– مولوي محمد شاه فضلي دوهم مرستيال (حرکت محمدی). ٤– قاضي نجي الله د بهرنيو چارو وزير (حزب اسلامي حکمتيار) د کابل د شرعياتو ليسانسه ٥– حاجي دين محمد ددفاع وزير (خالص) د کابل د ادبياتو ليسانسه. ٦– سيد نور الله عماد (رباني) د کابل پوهنتون د سياسي پوهنځي ليسانسه. ۷– ډاکتر فاروق اعظم د بياودانولو چارو وزير (ګيلاني) د بيروت پوهنتون څخه د اقتصاد دکتورا. ۸– استاد علي انصاري د عدليې وزير (حکمتيار) د کابل پوهنتون حقوقو او سياسي علومو ليسانسه. ۹– محمد ياسر د دعوت او ارشاد وزير (سياف) د مديني منورې له جامعې څخه د شرعياتو ماستر. ۱۱– مطيع الله مطيع دکرنې وزير (خالص) د کابل دار المعلمين د ليسانس معادل. ۱۲– عبدالعزيز فروغ (؟) د اقتصاد ليسانسه زده کړې په امريکا کې. ۱۳– دين محمد ګران د علمي تحقيقاتو وزير (ګيلاني) دمصرله ازهر پوهنتون څخه د شرعياتو ماستري. ١٤– محمد اسماعيل صديقي د مالي وزير (محمدی). ۱٥– واثق واعظ زاده د روغتيا وزير (مجددی)

## د مجاهدينو ترمنځ تساند او تفاهم او مذهبي اختلاف

د ائتلاف شورې تصميم ونيو چې د افغانستان د سرتاسري مشورتي شورا په جوړولو کې بايد ګامونه واخستل شي. د ۱۳٦۷ کال د سرطان په ۱۹مه/۱۹۸۸م کال د جولای په لسمه پير سيد احمد ګيلاني د ائتلاف د رئيس او وياند په حيث اعلان وکړ چې يو هيئات به د اهل تشيع ګوندونو سره د تفاهم او تساند په خاطر تهران ته سفر کوي. ترڅو د افغانستان د مجاهدينو د سرتاسري اتحاد او ديوې عمومي شورا د جوړولو تياری ونيول شي.

اهل تشيع ګوندونه چې د زياترو مرکزونه په ايران کې وو په پېښور کې د مجاهدينو د انتقالي حکومت د جوړيدو په باب تونډ او بيړنی عکس العمل وښود. د شيخ آصف محسني په مشرۍ حرکت اسلامي په پېښور کې ديوه خبري کنفرانس په ترڅ کې په ۱۳٦۷ د سرطان ۱۹۸۸/۲۳ د جولای ١٤مه خپل عکس العمل وښود او سيد محمد هادي د حرکت اسلامي د مرکزي شورې غړي وويل– د مجاهدينو په لنډ مهالي حکومت کې شيعه اقليت ته مناسبه نمايندګي او امتياز نه دی ورکړ شوی. د

ACKU

ائتلاف ویاند پیر سید احمد ګیلانی د پاکستانی انګلیسی ژبی مسلم ورځپاڼی سره په مرکه کی وویل: دغه موضوع په انتخابی شوری پوری مربوطه ده، چی پیشنهاد شوی عبوری حکومت منی که یی ردوی.(٣٦)

د افغانستان اهل تشیع ګوندونو خپل نمایندګان د افغانستان د ائتلاف شوری ته د تفاهم لپاره پاکستان ته را واستول، ترڅو د مجاهدینو د لنډمهالی حکومت او مشورتی شوری په اړه تفاهم وکړی. دغه هیأت په ۱۳٦۷ کال د مرغومی ۱۵مه/۱۹۸۹کال د جنوری ٥مه په اسلام آباد کی له حکمتیار سره ولیدل. هیئات د عمومی انتخاباتو د دایریدو په باب د حکمتیار له وراندیز سره تمایل وښود، په دغه هیئات کی محمد کریم خلیلی د نصر سازمان نماینده او د شیعه اته ګونی ائتلاف رئیس، محمد اسحق اخلاقی د نهضت اسلامی، محمد طاهر زمانی د حزب الله، علی جاوید د حرکت اسلامی، محقق د اتحاد اسلامی نماینده، عرفانی د جبهه متحد اسلامی، هاشمی د نیروی اسلامی، احسانی د سازمان پاسداران جهاد اسلامی افغانستان نماینده ګډون درلود.

## د کوردوویز فعالیتونه

د ملګرو ملتونو د سرمنشی نماینده دیګوکوردوویز د مجاهدینو د موقت حکومت له اعلان سره د مجاهدینو او د کابل رژیم ترمنځ د تفاهم او ائتلافی حکومت له نوی طرحی سره پاکستان او ایران ته سفر وکړ، او ددغو هیوادونو له سیاسی مقاماتو سره یی پرخبرو اترو برسیره له جهادی ګوندونو سره هم بیلی خبری درلودی، ترڅو په وروستی ارزیابی کی دیوی سرتاسری طرحی په جوړولو پراخ کار وشی. نوموړی د ۱۳٦۷کال د سرطان په لومړیو/۱۹۸۸ جون کی تهران ته سفروکړ، له هغه ځایه پاکستان ته راغی اوله مجاهدینو سره یی خبری وکړی.

دکور دویز وراندیز د انتقالی حکومت له رئیس انجنیر احمد شاه احمد زی سره په خبرو کی ردکړای شو، د نو موړی وراندیز دکابل له کمونستی حکومت سره د ګډ حکومت تشکیل ؤ.

همدارنګه په هغه موافقه لیک کی چی د ۱۳٦۷ کال د میزان په ۱۳مه/۱۹۸۸م د آکتوبر ۱۵مه نیټه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان او د اتحاد شوروی د بهرنیو چارو وزیر د وارد شیو ردنادزی ترمنځ لاسلیک شو د اسلامی هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کی وراندیز وشو چی په کابل کی دی پراخ بنسټه او د خلکو د اکثریت په خوښه حکومت جوړ شی.

## د ملګرو ملتونو پنځه فقره یی طرحه او مجاهدین

ملګرو ملتونو د پریز د وکولیار ترځارنی لاندی د افغانستان د قضیی د حل لپاره یوه پنځه فقره ایزه

طرحه نړیوالې ټولنې او اسلامي کنفرانس تنظیم ته وړاندې کړه، ددې طرحې په مقابل کې مجاهدینو هم یوه ورته طرح وړاندې کړه چې دا دواړه طرحې عبارت دي له:

۱/ د افغانستان د بې طرفي او ناپیلتوب د حیثیت، سیاسي استقلال، حاکمیت، او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې ضرورت.

۲/ ۱/ حکومت د دول په ټاکنه کې د افغانستان د خلکو د حق په رسمیت پیژندل چې باید بیله هر دول لاسوهنې څخه په پوره خپلواکۍ او خپله اراده او بیله بهرنۍ فشار او زور څخه د هیواد سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام غوره کړي.

۳/ د عبوري دورې ضرورت، ددې مادې جزیات دي د بین لافغاني خبرو اترو په مهال و څیړل شي او داسې توافق دې وشي چې د پراخ بنسټه حکومت په جوړیدو پای ومومي.

الف– په همدې دوره کې اکثریت افغانانو ته د منلو وړ انتقالي دورې د تشکیل پر ضرورت ټینګار چې د یوه بې طرفه او معتبر سیکانیزم سره د مناسبو صلاحیتونو او قدرت سره چې وروسته به ټاکل کیږي، چې د ملت د اعتماد د وړوي او توانیږي چې په پوره داډ ملت ته د آزادو او سالمو انتخاباتو اطمنان ورکړي او د افغاني عنعنې سره سم دیوه پراخ بنسټه حکومت جوړیدو زمینه برابره کړي.

ب– په انتقالي دوره کې د نظامي عملیاتو د بندیدو ضرورت.

ج– د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو موسسو څخه په انتقالي دوره او د انتخاباتو د پروسې په وخت کې د لازمو مرستو غوښتنه.

٤/ د ټولو ادارو ترمنځ د یوې داسې موافقې راتلل چې خامخا عملي شي او ژر تر ژره وسلې را ټولې کړي.

٥/ د مهاجرینو د ستونزو په لرې کولو کې د مالي او مادي منابعو په رسمیت پیژندل او د دوی د بیرته ستنیدو لپاره لازم شرایط برابرول او د افغانستان د ټولنیز او اقتصادي بیا جوړولو لپاره ضروري بودیجه تیارول. مجاهدینو په دې طرحه د ملګرو ملتونو د سازمان سره عکس العمل وښود او په لاندې طرحه د قضیې د حل غوښتونکي شول:

۱/ د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ، نا پیلیوب او اسلامي هویت، ځمکنۍ بشپړتیا او د حاکمیت د حق خوندي کیدل.

۲/ د افغانستان د مسلمان ملت د حق په رسمیت پیژندل چې باید بیله کوم بهرنۍ فشار او لاسوهنې څخه د حکومت او اقتصادي، ټولنیز نظام د غوره کولو حق ولري.

۳/ د انتقالي دورې جوړیدو ضرورت چې د وطن ګوند او نورو غیر اسلامي ګوندونو څخه پرته د بین الافغاني خبرو اترو له لارې وڅیړل شي او موافقه پرې وشي. ترڅو په پای کې د داسې حکومت د منځته راتلو سبب شي چې د افغان مسلمان ملت د اکثریت له اعتماد څخه برخمن وي.

۴/ د ملګرو ملتونو د څلورمې مادې ضرورت نه احساسېږي، ځکه چې که دولت موجود وي پخپله به پرې وتوانيږي چې لازم اقدام وکړي.

## د روسانو او مجاهدينو ترمنځ سياسي خبرې اترې

روسانو چې دمجاهدينو د پوځي فشار د روند بار نشو وړای، د دوی مخکيني په نظر کې نيول شوي پلان ناکام شو، او په افغانستان کې د روسانو د تيري کوونکو قواو د عمومي قوماندان ګروموف په قول د افغانستان د کمونستي مشرانو هغه پوچ خوب او خيال چې اولس به د دوی انقلاب بدرګه کړي او د شوروي سرتيرو په ورتګ به "بيرته نه راګرځېدونکي" شي، له يو نه پايېدونکي سراب پرته بل څه نه ؤ. (۳۷) د مسکو سياسي مقامونو هڅې کولې چې له مجاهدينو سره د تفاهم لارې خلاصې کړي. په داسې دول چې خپلې او د مزدور رژيم ګټې هم په نظر کې ولري. په دې اساس له مجاهدينو سره د ملګرو ملتونو او يا د دريم ګړو هيوادونو په منځګړيتوب د خبرو اترو د زمينې پيشنهاد وشو.

د مجاهدينو د اتحاد عالي شورې د روسانو د دې تصميم په باب بې تفاوته پاتې نه شوه او پريکړه يې وکړه چې د ملګروملتونو له لارې دې مجاهدين د افغانستان د ملت رښتيني نمايندګان په نړيواله سطحه مطرح شي. کله چې په ۱۳۶۷ لمريز د عقرب مياشت/۱۹۸۸م کال نوامبر کې برهان الدين رباني د افغانستان د مجاهدينو د وياند په توګه وټاکل شو نيويارک ته يې سفر وکړ او د ملګروملتونو له سرمنشي پريز دوکوليار سره يې په خبرو اترو کې اعلان وکړ چې مجاهدين له روسانو سره نيغې رسمي خبرې اترې وکړي.

د ۱۳۶۷ لمريز د لنيدي په ۷مه/۱۹۸۸م د نوامبر ۲۸مه يوه روسي هيئات له افغانستان څخه د روسي پوځونو د وتلو او د بنديانود تبادلې په باب په اسلام آباد کې له مجاهدينو سره پيليزې او نيمه رسمي خبرې اترې وکړې، په دوهم پړاو کې دغه خبرې په اسلام آباد کې د مجاهدينو د اتحاد رئيس حضرت صبغت الله مجددي او د اتحاد شوروي د بهرنيو چارو وزارت معين وارنتسوف ترمنځ وشوې، روسانو ټينګار کاوه چې د افغانستان په راتلونکي حکومت کې د کابل رژيم نمايندګان ومنې، دغه خبرې اترې ناکامې شوې او څه نتيجه يې ورنکړه.

د ۱۳۶۷ کال د ليندی په ۱۲مه/۱۹۸۸م د سمبر په ۳مه د شوروي اتحاد يو لوړ رتبه هيئات د هغه هيواد د بهرنيو چارو وزارت د لومړي مرستيال يوري وارنتسوف په مشرۍ چې دګورباچوف له نژدې همکارانو څخه شميرل کيده. او د افغانستان په مسايلو کې يې زياته پوهه درلوده د لومړي ځل لپاره د سعودي عربستان په طايف ښار کې له مجاهدينو سره په نيغو خبرو اترو کيناستل. د مجاهدينو هيئات برهان الدين رباني، مجددي او عبدالقدير کرياب وو.

په دې خبرو اترو کې روسانو له افغانستان څخه د خپلو پوځونو دوتلو اعلان وکړ او وړاندیزیې وکړ چې د مجاهدینو او کمونستي رژیم ترمنځ یوه ائتلافي اداره جوړه شي. همدارنګه روسانو د افغانستان د بحران د حل په اړه دیوه نړیوال کنفرانس د جوړیدو وړاندیز وکړ، پر دې سربېره یې د بندیانو د تبادلې په څیر ځینې نور وړاندیزونه هم وکړل. مجاهدینو د شوروي پوځونو د بې قید او شرطه وتلو غوښتنه وکړه چې ورسره جوخت باید په افغانستان کې د مجاهدینو انتقالي حکومت قدرت په لاس کې واخلي، مجاهدینو د کمونستي رژیم سره د ائتلافي حکومت جوړولو وړاندیز په کلکه رد کړ، په دې خبرو اترو کې پردې تینګار وشو چې مجاهدین او روسان د قضیې دوه اصلي لوري دي او روسان باید له مجاهدینو سره د خبرو اترو لړۍ ته دوام ورکړي.

په ۱۳۶۷ کال دمرغومې په ۲۱مه/۱۹۸۶م د جنورۍ ۱۱مه دافغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد رئیس مجددي له روسانو سره د خبرو اترو د دوام بندیدل اعلان کړل وې ویل: مجاهدینو له روسانو څخه وغوښتل چې د دریم پړاو خبرو اترو څخه د مخه باید دوی خپل قوتونه له افغانستان څخه وباسي او د کابل رژیم له ملاتړ څخه لاس واخلي. (۳۸)

د ۱۳۷۰ کال د زمرې په ۲۱مه/۱۹۹۱م د اګست په۱۲م مجاهدین د لنډمهالي حکومت د دفاع وزیر مولوي محمدي په مشرۍ، انجنیر قطب الدین هلال د حزب اسلامي نماینده، انجنیر احمد شاه د اتحاد نماینده، اود حزب وحدت نماینده اخلاقي، د جمعیت اسلامي انجنیر ایوب، آیت الله محسني د حرکت اسلامي، جنرال رحیم وردګ د محاذ ملي په نمایندګۍ د جنرال کوزیروف په مشرۍ له روسي هیئات سره (په اسلام آباد کې د شوروي اتحاد لوی سفیر) سره خبرې اترې وکړې، په دغو خبرو اترو کې چې په اسلام آباد کې وشوې محمد شهریار خان د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت معین هم د منځګړي او د رسمي خبرو اترو دپیلوونکي په توګه حاضر ؤ، په روسي هیئات کې میخایلویچ کوتوف *Mikailovich Kotov* د شوروي اتحاد بهرنیو چارو وزارت د منځنۍ آسیا د برخې رئیس او بختیار حکیموف *Bakhtiar Hakimov* د بهرنیو روابطو مرستیال هم وو.

په دې خبرو اترو کې د پریزدیکولیار د ملګرو ملتو عمومي سرمنشي پنځه فقره ایزه طرحه هم تر بحث لاندې راغله، چې په افغانستان کې د یوه پراخ بنسټه حکومت په جوړیدو توافق ته ورسیږي، همدارنګه د روسانو د جنګي اسیرانو په اړه چې له مجاهدینو سره وو خبرې وشوې، د مجاهدینو هیئات د افغانستان په راتلونکي ائتلافي حکومت کې د نجیب الله ګډون په کلکه رد کړ، له دغو خبرو سره جوخت جمعیت اسلامي یوتن روسي اسیر چې دهرات د صفي الله افضلي په جبهه کې اوسیده اومسلمان شوی ؤ، د قربان علي (اسد الله) په نامه دیوه محفل په ترڅ کې په اسلام آباد کې نیکولای کوزیروف ته تسلیم کړ.

په حقیقت کې روسانو له دغسې خبرو اترو سره څه علاقه نه درلوده مګر دا چې په مجاهدینو خپلې

غوښتني وښي، او خپل لاسپوڅي رژیم د افغانستان په راتلونکي نظام کې د مجاهدینو په سلاتړ په اولس تحمیل کړي. همدارنګه روسانو له مجاهدینو سره دیوه مخالف قوت په حیث نه بلکې له مختلفو ډلو سره جدا جدا مذاکراتو چلن غوره کاوه، چې په مختلفو ځایونو کې کېدلې، د خبرو اترو طریقه او د سني او شیعه ډلو جدا طرحې او د تهران د امتیازاتو ترلاسه کول دقضیې د یو لوري په حیث د خبرو اترو په روش کې د تمایلاتو او بې لارې توب سبب شول.

## مشورتي شورې او نا مأنوس تړاوونه

د مجاهدینو انتقالي حکومت او د اووګوندونو قیادي شورې تصمیم ونیو چې (اتحاد اسلامي مجاهدین) مشورتي شورې جوړه کړي او دیوې رای ګیرې له لارې لنډ مهاله حکومت جوړ کړي. چې دنجیب الله درژیم ځای ونیسي. د ١٣٦٧ (لمریز کال د سلواغې په ١٢مه/١٩٨٩کال د فبرورۍ په ١٠مه د اووګوندونو دلسولسو تنو قوماندانانو او یاکسیزې شورې په غیر رسمي ډول غونډه وکړه او پریکړه یې وکړه چې د تنظیمونو قیادي شورې باید د لنډ مهالي حکومت د دولت اوکابینې د جوړولو واک مشورتي شورې ته وسپاري ترڅو په دې اړه بشپړه طرحه جوړه کړي. د ١٣٦٧کال د کب په لومړۍ/١٩٨٩م د فبرورۍ په ٢٠مه قیادي شورې خپل صلاحیتونه مشورتي شورې ته وسپارل، وروسته بیا یو ١٤ کسیز کمیسون د مولوي جلال الدین حقاني په مشرتا به د انتخاباتو د څارنې لپاره جوړ شو.

د افغانستان مشورتي شورې د ٥١٩ غړو څخه جوړه وه چې ٤٢٠ کسان یې د پېښور او دجهادي ګوندونو غړي وو ٦٠ تنه یې د اهل تشیع جهادي ګوندونو، ٢٠ تنه د افغانستان جید علماء او ١٩ تنه د هغو مسلمانو افغانانو څخه ؤو چې یا په داخل او یا له افغانستان څخه بهر اوسېدل. د شورې د غړیو د صلاحیتونو او شمیر په باب د اهل تشیع ګوندونو او د پېښور د سني تنظیمونو ترمنځ هغه وخت د نظر اختلافونه را پیدا شول چې د ایران میشتواتو ګوندونو څخه څلورو په شورې کې (٦٠) کرسۍ ونډه دوی په هیواد کې د خپل نفوذ او نفوذ سره متناسب نه بلل او داشمیریې غیر عادلانه باله په شورې کې یې دنه ګډون اعلان وکړ. د ١٣٦٧ کال د سلواغې په لومړیو/١٩٨٩ کال فبرورۍ کې حکمتیار د مجاهدینو د اتحاد په نمایندګۍ تهران ته سفر وکړ او یو لړ تفاهمونه وشول، وروسته مجددي هم تهران ته ولاړ او په تهران کې د سیشتو ګوندونو قناعت یې ترلاسه کړ.

د ژباړن یا دښت: مجددي د ٦٠ تنو پر ځای په مشورتي شورې کې شیعه ډلو ته ١٢٠ تنه وښل چې په پېښور کې د اوه ګوني اتحاد د نورو مشرانو له سخت عکس العمل سره مخ شو.

د ١٣٦٧ کال د کب په څلورمه/١٩٨٩کال د فبرورۍ په ٢٣مه د مدینة الحجاج په تالار کې (پنډۍ په ښار کې) د افغـانسـتـان د مجاهدینو سرتا سرې مشورتي شورې غونډه وکړه او پریکړه وشوه چې د شورې

هر غړی مختلفو ګوندونو ته د دوو رایو ورکولو حق لری، چې د انتخاباتو نتیجه په دی ډول وه:

١- صبغت الله مجددی ١٧٤رایې چې د دولت د رئیس او روغتیا وزارت ورکړای شول. ٢- عبدالرب رسول سیاف ١٧٢ رایې صدراعظم او د مخابراتو وزارت. ٣- مولوی محمد نبی محمدی ١٢٩ رایې، وزارت دفاع، د علمی تحقیقاتو وزارت او کرنی وزارت. ٤- انجنیر ګلبدین حکمتیار ١٢٦ رایې د بهرنیو چارو، سرحداتو او عدلیې وزارت. ٥- مولوی محمد یونس خالص ١٠٢ رایې داخله چارو وزارت دولتی امنیت او حج او اوقاف. ٦- برهان الدین ربانی ٩٩ رایې، بیاودانولو، دعوت او ارشاد او د کانو او صنایعو وزارتونه. ٧- پیر سید احمد ګیلانی ٨٦ رایې دستری محکمی ریاست او د مالیې او تعلیم او تربی وزارتونه.

*د اسلامی لنډمهالی دولت د کابینې نور کسان عبارت وو له:* ٨- جنرال یحی نوروز د دفاع وزارت معاون (حرکت انقلاب اسلامی). ٩- مولوی اسلام الدین د کرنی وزیر (حرکت انقلاب اسلامی). ١٠- علی انصاری د سرحداتو وزیر (حزب اسلامی افغانستان). ١١- قاضی نجی الله د عدلیې وزیر (حزب اسلامی افغانستان). ١٢- مطیع الله مطیع د داخله وزارت مرستیال (مولوی خالص). ١٣- حاجی دین محمد د دولتی امنیت وزیر (مولوی خالص). ١٤- مولوی عبدالرزاق د حج او اوقافو وزیر (مولوی خالص). ١٥- نجیب الله لفرایی د دعوت او ارشاد وزیر (ربانی). ١٦- ایشان جان عریف د کانو او صنایعو وزیر (ربانی). ١٧- انجنیر احمد شاه احمد زی د مخابراتو وزیر (سیاف). ١٨- نادر خرم د روغتیا وزیر (مجددی). ١٩- محمد یعقوب بارکزی د روغتیا وزارت معین (مجددی). ٢٠- نجیب الله مجددی د روغتیا وزارت دوهم معین (مجددی).

پیر ګیلانی کابینې ته د خپل تنظیم خلک معرفی نه کړل، موقت حکومت خپله لومړنی غونډه او خبری کنفرانس په ١٣٦٧ لمریز د کب په ١٩مه/١٩٨٩م د مارچ لسمه د خوست ولایت په (کوزه شیوه) کلی کی وکړه چې د پاکستان سرحد ته ١٢ کیلومتره نږدی وه. دی کنفرانس ته د نړی له ګوټ ګوټ څخه تر سلوتنو پوری ژورنالستان او خبریالان راغلی وو، ګیلانی د لنډمهالی حکومت د غندنی په لړکی د افغانستان د بحران د حل لاره لویه جرګه وبلله.

په دی انتخاباتو کی اهل تشیع ډلی ناراضه وی، له بله پلوه د ربانی او مجددی ترمنځ د هغو پټو موافقو په اړه توند اختلافونه منځ ته راغلل چې دوی کړی وی، په دی موافقو کی داسی پریکړه شوی وه چې د دواړو ګوندونو غړی به یو بل ته رایی ورکوی خو د رایو ورکولو په وخت کی د مجددی د تنظیم غړیو ربانی ته رایی ورنکړی، چې د ربانی مقام په انتخاباتو کی شپږم ته ښکته شو، پیر ګیلانی هم چې د بهرنیو چارو وزارت غوښتونکی ؤ د حکمتیار په مقام ناخوښ ښکاریده.

له دی انتخاباتو څخه وروسته حکمتیار د لنډمهالی حکومت د بهرنیو چارو وزیر په حیث ریاض ته

سفر وکړ او سعودی عربستان دغه حکومت په رسمیت وپیژاند، وروسته بیا لیبیا، مصر، سودان، عراق او نورو عربی هیوادونو ته ولاړ او د مجاهدینو د حکومت د په رسمیت پیژندلو غوښتنه یې وکړه.

د مالیزیا هیواد هم د مجاهدینو حکومت په رسمیت وپیژاند استاذ سیاف هم په ۱۳٦٧ د کب په ۲۷مه/۱۹۸۹م د مارچ ۱۸مه له مسکو څخه وغوښتل چې که په راتلونکې کې له افغانستان سره د ښو اړیکو غوښتونکې وی باید د مجاهدینو حکومت په رسمیت وپیژنی، حکمتیار هم د ۱۳٦٧ کال د کب په ۳٤مه/۱۹۸۹م مارچ کې د اسلامی هیوادونو د بهرنیو چارو وزارتو په کنفرانس کې چې په ریاض کې ؤ ګډون وکړ اود افغانستان کرسی یې اشغال کړه، همدارنګه هغه د ۱۳٦٨ کال په حمل/۱۹۸۹ کال مارچ کې د چین، مالیزیا، سنګاپور، اندونیزیا، استرالیا، بنګلادیش او فلیپین هیوادونو ته سفرونه وکړل او د هغو هیوادونو له مشرانو څخه یې وغوښتل چې مجاهدین په رسمیت وپیژنی.

په دغسې حالت کې د افغانستان د مجاهدینو د لنډمهال دولت رئیس صبغت الله مجددی د وری په ۲٤مه ۱۳٦٨/ اپریل ۱۳مه ۱۹۸۹م کال له پریس ترست آف اندیا *Press trust of India* سره په مرکه کې اعلان وکړ چې نور په افغانستان کې د پخوانی پاچا دوره تیره شوی ده او هغه نور دافغانی لانجې په حل کې هیڅ رول نشی لوبولی.

مجددی چې پخپله د مجاهدینو د دولت ریاست لاس ته راوړ له هماغه پیله یې په دریځونو کې ځان ته آزاد تبارز ورکاوه، او نه یې غوښتل له پخوانی پاچا سره په اړیکو خپل سیاسی مقام له لاسه ورکړی، دغی موضع ګیری د مجددی او پیر سید احمد ګیلانی به اړیکو هم بده اغیزه وکړه.

## د لنډمهالی دولت خپرونې

د خپرونې نوم: *اردو*

کال او د خپریدو ځای: ۱۹۸۹/۱۳٦٨م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د لنډمهالی دولت د دفاع وزارت، سرمحرر: ؟، چاپ شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونې دول: دری میاشتنی مجله، رنګه پښتی تصویری، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره د خپرونې د کار پای: د حکومت پای، محتوی: مسلکی لیکنی، د دولت اعلامیې او د مشرانو ویناوی.

د خپرونې نوم: *ارشاد*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦٨ کال سلواغه/۱۹۹۰م کال جنوری، پیښور خپروونکی او د امتیاز خاوند: د لنډمهالی دولت د مطبوعاتو ریاست. مسوول مدیر: شاه آقا صدیق مجددی، شمیر: ۲-۳ زره ګنی، د خپرونې دول: مجله، میاشتنی رنګه پښتی، تصویری په ۱۱۰ مخونو کې، ژبه: پښتو او دری، کچه ۲۰X۲٦ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۹ کال میزان میاشت د دولت له منځه تلوسره، محتوی: د

لندمهالي دولت اعلامیې او ویناوې، سیاسي مقالې او اشعار.

د خپرونې نوم: *افغانستان در مطبوعات جهان*

ځای او د خپریدو کال: د ١٣٦٩ کال وری/ ١٩٩٠م کال مارچ، پېښور، پاکستان خپروونکی او د امتیاز خاوند: د لندمهالي دولت د دعوت او ارشاد وزارت، سرمحرر: نه لري، شمېر: ١٥٠٠ ګڼې، د خپرونې ډول: خبري او نیزه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٢٩X٢١ سانتي متره، له ٣٠-٣٥ مخونو ټایپي، چاپ ګستتنر د خپرونې د کار پای: ١٣٦٩ لمریز میزان/ ١٩٩٠م آکتوبر، محتوی: د افغانستان د پېښتو خپرول چې د نړۍ د اوریدونکو چینلونو څخه خپریدل.

د خپرونې نوم: *تنویر*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٩/ ١٩٩٠م، پېښور، خپرندوی اود امتیازخاوند: د مجاهدینو د موقت حکومت د ارشاد او دعوت وزارت سرمحرر: ؟، شمېر: ١٥٠٠ ګڼې، د خپرونې ډول: سیاشتنی نامنظمه مجله، رنګه پښتي، تصویري، ٥٠ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٢٦X٢٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٧٠/ ١٩٩١م محتوی: د افغانستان په اړه مقالې او د دولت او مجاهدینو فعالیتونه.

د خپرونې نوم: *الخلافه*

کال او د خپریدو ځای: ١٣٦٥/١٩٨٦م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي انقلابي دولت، سرمحرر: اروپ، شمیر:؟ دخپرونې ډول: مجله نامنظمه دري میاشتنی، ژبه: دري، کچه: ٣٠X٢٠ سانتي متره، د خپرونې دکار پای:؟ (تولې دری ګڼې خپرې شوی) محتوی: د افغانستان په اړه مقالې او راپورونه.

د خپرونې نوم: *صبح پیروزی*

کال اود خپریدو ځای: ١٣٦٨ لمریز سرطان/١٩٨٩م جولای، پېښور، خپروونکی اود امتیاز خاوند: د موقت اسلامي حکومت د دعوت او ارشاد وزارت، سر محرر: نلري، شمیر: لس زره ګڼې د خپرونې ډول: اونیزه جریده، ٤-٨ مخونه، تصویري، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٥٨X٤٢ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٩ کال د ژمري لسم/ ١٩٩٠م د سی ٣١مه. محتوی: خبرونه، سیاسي مقالې، اعلامیې او اشعار.

د خپرونې نوم: *واقعیت*

کال او د خپریدوځای: ١٣٦٣/١٩٨٤م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند : د موقت دولت فرهنګي کمیټه، سرمحرر: عبدالغفور 'ن' شمیر: ؟، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، دوه رنګه ٨ مخونه، ژبه: پښتو او دري، قطع: ٥٨X٣٥ سانتي متره، د خپرونې د کار پای ١٣٦٣/١٩٨٥م، محتوی: دافغانستان په اړه سیاسي تبصرې او مقالې.

# د شورى نظار او حزب اسلامي اختلافونه

## د پنجشیر له درې د تخار تر پیښې

احمد شاه مسعود له حزب اسلامي څخه تربیلیدو وروسته له برهان الدین رباني سره تعهد وکړ، او بیرته د نظامي امکاناتو له ترلاسه کولو وروسته پنجشیر درې ته چې دده د زیږیدو ځای دی ستون شو، هغه په لومړي ګام کې د مختلفو سیمو په پاکولو لاس پورې کړ، او هغه قرارګاوې یې چې حزب اسلامي د پیشغور په سیمه کې درلودې ونیولې، او د چارقریه ولسوالي یې هم تر خپل واک لاندې راوسته، د شاه ابدال پلار مدیر نصر الله خان او محمد یحیی ددغو سیمو اداره په لاس کې درلوده چې د پنجشیر د دوهم پاڅون په ترځ کې یې په ۱۹۷۹/۱۳۵۸م نیټې آزادي کړې وې. د مدیر نصرالله خان زامن د اسلامي نهضت له لومړ یو علمبردارانو څخه وو او د ۱۹۷۵/۱۳۵٤م کال په پاڅون کې د محمد داود په دوره کې ونیول شول اود ثور د اوښي کرغیړنې کودتا په لومړیو کې (۱۲۵) تنو نورو زنداني مسلمانانو سره یوځای په څرخي پله جیل کې په ګولیو ویشتل شوي وو.

مسعود مدیر نصر الله خان تر ۱۹۸۸/۱۳٦۷م کال پورې په پنجشیر کې ترڅارنې لاندې ساتلی ؤ. مسعود پنجشیر د مبارزې خپل ځواکمن سنګر وګرځاوه، او د روسانو په لومړنې سرتاسرې حمله کې بنه وجنګیده او دشوروي لښکرو نا اتکل شوې ماته په ۱۹۸۲/۱۳٦۱م کال د نړیوالو ذهنیت د افغانستان لانجې په اړه واړاوه، خو د پنجشیر درې په دننه کې د مسعود اختلافات د حکمتیار له پلویانو سره توندشول، چې د حزب اسلامي د پلویانو د ۳۵ تنو د وژنې او د هغوی کورنیو ته د مړیو نه ورکولو پیښنه رامخې ته شوه، چې دا کار ددې دواړو تر منځ د دیرو کشمکشونو د پیداکیدو سبب شوه. هغه کورنۍ چې د حکمتیار طرفداري وې کوهستان، نجراب، سالنګ، چاریکار او نورو سیمو ته په هجرت مجبورې شوې، د پنجشیر د مهاجرینو قوماندان وویل: مسعود ددې لپاره چې خپل قدرت مزبوت کړي او له پنجشیر څخه نورو سیمو ته د خپل قدرت ریښې وغځوي، ترهرڅه روسې ئې د خپلو مخالفینو په ځپلو لاس پورې کړ، او موږ له دې پرته چې هجرت وکړو بله لاره مونه درلوده تر دې چې نجراب ته راغلو. (۳۹)

خو د مسعود ددغه عمل په مقابل کې په شمال کې د حزب اسلامي قوماندانانو د حزب اسلامي د نورو جبهو سره خپله خواخوږي او پیوستون وښوده او د هندوکش په جنوب کې یې د جمعیت اسلامي په مجاهدینو دتګ راتګ لاره بنده کړه، په کاپیسا کې د عبدالصبور فرید او په جبل السراج کې د انجینر طارق جبهو مجاهدینو پاکستان ته دتلو لاره وتړله، مسعود هڅه وکړه چې د جمعیت اسلامي قوماندانان د خپلو اهدافو په محور را وڅرخوي... هغه محوري کسان لکه انجینر عبدالرحیم، مسعود خلیلي، او

انجنیراسحق د جمعیت اسلامی په شوری کی د خپلو اهدافو عملبرداران گومارلی وو، ترڅو د جمعیت اسلامی د مقاماتو تائید حاصل کړی.

## د پهلوان احمد جان قضیه

یوه له شوره دکه او معماته ورته پیښنه چې په پنجشیر کې د مسعود د وسله والې مبارزې په پیل کې رامنځ ته شوه د پهلوان احمد جان قضیه ده.

نو موړی یو مسلمان ځوان او د هیواد یو مشهور پهلوان ؤ، چې د ثور د اوښتې له کودتا څخه وروسته یې د کمونستانو سره د مخالفت په جهت کې هڅې پیل کړې. احمد جان د خپل شهرت په سبب له پنجشیر څخه بهر هم زیات دوستان درلودل. او تصوریې هم کاوه چې د رژیم پر خلاف دوسله وال جهاد له لارې به پردې وتوانیږي چې ددې مقاومت یو مهم قوماندان شي. په غیر شعوري ډول یې فکر وکړ چې باید خپل د زیږیدو ځای "پنجشیر" ته ولاړ شي اوله مسعود سره یوځای مبارزه پیل کړي، د پهلوان احمد جان موجودیت د روحانیونو او پنجشیریانو په منځ کې د تفاهم او یووالي روحیه پاللې وه، یو زیات شمیر خلکو ده ته تمایل درلود او پهوان احمد جان په بشپړه زړورتیا دخلکو په منځ کې د غونډو جوړولو پلان پیل کړ. ولې ډلې خلکو به له ده سره خپله همکاری او ملاتړ اعلانا وه، چې ددې حرکتونو سره جوخت د احمد شاه مسعود موقعیت دتیرې بدې ماضي او له خلکو سره د بدچلن په سبب کمزوری شو.

مسعود پهلوان احمد جان ته بلنه ورکړه چې پراخ بنسټه پلان د کابل رژیم په مقابل کې طرحه کړي. څکه هغه احمد جان ته وراندیز وکړ چې د ستوری او په سرموز ډول ځان له یو شمیر نورو ملگریو سره د کابل رژیم ته تسلیم کړی اووعده ورکړی چې د مجاهدینو په خلاف به د ملیشوی ځواک په جوړولو لاس پوری کوی. په دې ډول هغه کولی شي چې زیاته وسله او پوځی مهمات د کابل له رژیم څخه تر لاسه کړی او بیرته پنجشیر ته راستون شي، دغه پلان ډیر په ځیرکی او حساب شوی سنجول شوی ؤ د احمد جان پهلوان احساسات یې را وپارول اود ۱۳۵۹ کال په جوزا/۱۹۸۰م کال په جون کې کابل ته ولاړ، د همغې طرحې له مخې رژیم هم غافل شو او هغه ته یې زیاته وسله، پیسې او پوځی مهمات د نقلیه وسایلو سره وسپارل.

له دې پیښې سره جوخت مسعود په پنجشیر کې هم تبلیغات پیل کړل چې گواکې احمد جان د رژیم ملیشه شو، کله چې هغه د ترلاسه کړیو وسلواو امکاناتو سره بیرته پنجشیر ته راوگرځید مسعود هغه علناً د ملیشه یې په گناه جیل ته واچاوه اود هیڅ ډول محاکمې څخه پرته یې له منځه یوور، په دې اره ډیر شواهد او اسناد شته دې.

۱- *شوری نظار او جمعیت اسلامی:* له هغه وروسته چې د انجنیر مسعود اختلاف د حزب

اسلامی له جبهو سره د پنجشیر له دری څخه بهرته ولاړل او د افغانستان د شمال تولو جبهو ته ورسیدل، پر پنجشیر دروسانو له یرغل او دهغوی له ماتی وروسته د روسانو او احمد شاه مسعود ترمنځ تفاهم وشو. چی په ۱۳٦۲/۱۹۸۳م کال د روسانو او مسعود ترمنځ لومړنی اوربند وشو... مسعود قوماندان عبدالحی د خوست او فرنګ له سیمی څخه د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره بدخشان ته واستاوه، او قاضی اسلام الدین بی له تخار څخه د نهرین ولسوالی ته واستاوه چی د"امام حسین" جبهه ونیسی، عبدالحی په ۱۳۹٦/۱۹۸۷م، کال کی د بشیر شهادتیار نظامی کاروان دیوی ناځاپی حملی په ترڅ کی بی وسلی اوونیوه، نظار شوری د بدخشان په کشم اویګان سیمه حمله وکړه او د حزب اسلامی جبهی بی ونیوی، قوماندان بهادر خان مدافع یی له سیمی څخه نورو سیمو ته وشاړه، دغه خوځښتونه د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی ترمنځ د زیاتو د اختلافونو سبب شول. د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی ترمنځ د تفاهم او د اختلافاتو دلری کیدو لپاره لومړنی هڅی د پنجشیر یوتن د حزب اسلامی اروند قوماندان ګلزار خان په نامه پیل کړی او هڅه بی وکړه چی په پیښور کی د حکمتیار اوربانی له تائید څخه وروسته پنجشیر ته ولاړ شی او مسعود قانع کړی چی د اختلافاتو زمینه له منځه لری کړی، نوموړی چی کله د پنجشیر د (زمان کور) سیمی ته ورسید په مرموز ډول ووژل شو. نظار شوری په حقیقت کی د حزب اسلامی او شوری نظار د دښمنی د پراخیدو څخه وروسته په ۱۳٦٦/۱۹۸۷م کال منځته راغله.

۲- د شمال په جبهو کی وسله والی نښتی: نظار شوری ددی پرځای چی د شوروی پوځونو پرخلاف د عملیاتو پلانونه عملی ګړی هڅه بی وکړه چی د افغانستان په شمال کی هغه سیمی چی د مجاهدینو تر واک لاندی وی او آزادی شمیرل کیدی تر خپلی اغیزی لاندی راولی، چی له هغی جملی څخه کولی شو زیاتی خونړی پیښی یادی کړو. د حزب اسلامی او مسعود ترمنځ د وینو تویول د ۱۳٦۳ کال د ثور/۱۹۸٤م اپریل نیټی څخه د بدخشان په ولایت کی پراخه شول، په همدغه نیټه د حزب اسلامی ۱٦٤تنه په دله ئیزه توګه ووژل شول چی په هغوی کی مولوی وجیه الدین سدید، مولوی محمد حسن حقانی، مولوی عبدالله، ملاخیر الدین، مولوی قوت، او ملا اسلام الدین شامل وو، دوی میاشتی وروسته د زمری په ۲۸مه د اګست په ۱۹مه د بدخشان په بهارک کی د سید علی آغا پر جبهه حمله وشوه او د حزب اسلامی د ۱۳ تنو قوماندانو او سرګروپانو په شمول د (۱٦۰) تنو څخه سرونه غوڅ شول. چی د هغوی له ډلی څخه مولوی نعمت الله، ملا رجب، امان الدین، جمعه خان، محمد یاسین، ملا سرور، میر احمد شاه، ملنګ، سرور خان، پاینده محمد، بای محمد او خیر الدین یا دولای شو.

په هماغه کال مسعود داندراب په جبهو حمله وکړه او د حزب اسلامی قوماندان اسد الله بنوال بی له منځه یوور.

- په ۱۳٦٤/۱۹۸٥م کی مسعود د تګاب او نجراب د حزب اسلامی د جبهو پر خلاف غلچکی بریدونه وکړل او د بغلان ولایت مربوط قوماندان انجنیر سلیم بی دیو شمیر نورو محلی قوماندانانو سره

په شهادت ورسول.

- په شمالي کې د حزب اسلامي د وتلي قوماندان محمد زاهد وژل هم د اختلاف عوامل زیاتوي.

- په بدخشان کې قوماندان عبدالودود د ډاکتر محمد عمر ورور چې د اسلامي نهضت د بنسټ ایښودونکو له ډلې څخه یوؤ په یوه توطیه کې له منځه یووړل شو، د۱۳٦٦ کال دحمل په وروستیو/۱۹۸۷م اپریل کې د جمعیت اسلامي د قوماندانانو په منځ کې نښتې چې (یو شمیر د مسعود پلویان او نور یې د مجاهدینو د یووالي پلویان وو) د بدخشان ولایت دجرم په ولسوالي کې منځته راغلي. قوماندان شمس الدین او یو شمیر نور ملګري یې د مسعود د پلویانو لخوا ووژل شول. د انجنیر باسط وژل کېدل چې دفاتحې مراسم یې جمعیت پټ ترسره کړل. په ارګوکې د مسعود د مخالفینو د ۲۵۰ تنو ډله ټیزه وژنه.

- په ۱۹۸۸/۱۳٦٦م کال کې د جمعیت/شورای نظار یو تن قوماندان قاضي اسلام الدین د کوچنی اختر په دوهمه ورځ د بدخشان په ولایت کې کمین ونیو اود حزب اسلامي قوماندان انجنیر عبدالوهاب یې وواژه او بشیر شهادتیار ټپي شو.

- د ۱۳٦٦ کال د اسد په لومړی/۱۹۸۷م د جولای ۲۳مه په دره نیکان کې د مسعود او حکمتیار د پلویانو تر منځ دوه میاشتنۍ جګړې دوام وکړ چې د حزب اسلامي د دوو قوماندانانو هر یو نور احمد او ضابط محمد نبي چې په حاجي ضابط مشهور ؤ په وژل کېدو د حکمتیار د پلویانو قوتونه له ماتې سره مخ شول. او د چال په علاقه داري د مسعود قوتونو د حملو د ګرندي کېدو اود سلوتنو له تلفاتوورکولو څخه وروسته په سلګونو کورنۍ پاکستان ته په هجرت مجبورې شوې او پېښور ته راغلي. (٤٠)

- د ۱۹۸۸/۱۳٦٦م کال په ژمي کې د مسعود قواؤ په "درایم" حمله وکړه اود حزب قوماندان محمد سرور ووژل شو.

- د ۱۳٦۷ کال د سرطان په ۲۵مه/۱۹۸۸م د جولای ۱٦مه د غلام محمد آرین پور په قوماندہ د بدخشان د کشم او شیګان په ولسوالوکې د مخالفینو پر خلاف په تصفیوی عملیاتو لاس پورې کړ.

- د ۱۳٦۷ لمریز د عقرب په میاشت کې/۱۹۸۸، نومبر، د شورای نظار قواوې د سید نجم الدین واثق په قوماندہ د بدخشان د بهارک په ولسوالي حمله وکړه او د (عمر بن عبدالعزیز) په نامه د حزب اسلامي مرکز یې له منځه یووړ.

- د جمعیت اسلامي د هغو قوماندانانو وژل کېدل چې د حزب اسلامي پلویان او یاور سره یوځای شوي وو د هغوی له ډلې څخه مولوي شا محمد د تخار ولایت چې په ۱۳٦۸کال حمل/۱۹۸۹م اپریل کې ترور شو. مولوي عبدالرحمن د بدخشان د راغ، اوسېدونکي چې په ۱۳٦۸ کال ثور/۱۹۸۹کال د اپریل په پای کې ترور شو. زمان الدین حقاني د بدخشان د جرم څخه او نادر صبور یار د تخار ولایت، قوماندان محمد صدیق، ملا خیر الدین او مولوي عبدالجلیل د بدخشان "شهر بزرګ" څخه قاضي محمد ایوب

د تخار ولایت له مرکز څخه، شمس الدین د کندز ولایت له مرکز څخه تول په ١٣٦٨/١٩٨٩م کال ترور شول.

په سیاب او بنګي کې د حزب اسلامي پر جبهو د قاضي اسلام الدین او سر معلم فضل حملې او د قوماندان مولوي نقیب الله وژل کېدل.

په ١٣٦٨ کال د حمل په ٢٢مه/١٩٨٩م د اپریل ١١مه شورای نظار د تالقانو "دنهر چمن" په سیمه کې د قزاق قربي، وکیل توره او اسماعیل سنګلاش پر مرکزونو حمله وکړه او دحزب اسلامي قوماندان امان الله و وژل شو.

نظار شورای د نهرین ولسوالي په (برکه) سیمه باندې حمله وکړه او د برکه عمومي قوماندان ملا حسن ووژل شو او په سلګونو تنه نور د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول.

د ١٣٦٨ کال د جوزا په ٢٧مه/ ١٩٨٩م جون ١٧مه د تخار ولایت په رستاق کې د حزب اسلامي او شورای نظار ترمنځ تونده جګړه ونښته په دې جګړو کې د حزب قوماندان "صبوریار" چې وروسته بیا ووژل شو تېښته شو، وروسته بیا د مسعود ځواکونو د تخار او بدخشان په ولایتونو کې د کشم، ارګو. شهر بزرګ او کلفګان په ښارونو په یوه وخت حملې پیل کړې، په دې حملو کې حزب اسلامي ماته و خوړه او د حزب قوماندانانو، عبدالرؤف د بدخشان د شهر بزرګ، قوماندان امان د کلفګان، عبدالخبیر د درایم او محمد رحیم د تخار ولایت په فرخار کې ماتې وخوړې او شورا نظار وتوانیده چې دغه سیمې ونیسي او د خپلو عملیاتو مرکزونه پراخ کړي، همدارنګه د مسعود قوتونو تخار ولایت د اشکمش په ولسوالي حمله وکړه او هغه یې هم ونیوه، د ١٣٦٨ کال د جوزل په ٢٠مه/ ١٩٨٩م، جون په لسمه نظار شورې د مسعود په قوماندې د کشم پر ولسوالي یرغل وروړ او د حزب اسلامي قوماندان، زین الدین او محمد حبیب یې د خپلو کورنیو او مجاهدینو سره ووژل.

٣- *د تخار پیښه:* د تخار پېښه خونړۍ شالید "پس منظر، لري چې د حزب اسلامي او شورې نظار ترمنځ د کلونو په اوږدو کې یې د هیواد په شمالي ولایتونو کې دوام درلود. او د ١٣٦٦ لمریز/١٩٨٧م د فرخار له جګړو څخه وروسته د مشرتا به په سطح د حکمتیار او رباني ترمنځ د اختلافاتو سبب شول. د مسعود لوړنۍ توطیه دقوماندان انجنیر حامد الله پر خلاف وه چې حزب اسلامي ته منسوب ؤ. د خالد بن ولید د جبهې قوماندان سید جمال (ولید) په فرخار کې په تیرو دوو کلونو کې د شورای نظار د تیریو په دفاع بوخت ؤ، احمد شاه مسعود چې دا په پام کې درلوده چې د خپلې قوماندې مرکز له پنجشیر څخه تالقان او فرخار ته ولیږدوي هڅه یې کوله چې تر هر څه، روسي په شمالي ولایتونو کې خپل مخالفین له منځه یوسي، او د شورې نظار د پراخیدلو طرحه په شمالي ولایتونو کې عملي کړي، مسعود غوښتل د شورې نظار پر محور قوماندانان د خپلو تنظیمي اړیکو څخه بیل دیوی خپلواکې قوې په حیث را منځ ته کړي، او په سیاسي صحنه کې له هغوی څخه د عمل ابتکار واخلي.

حزب اسلامی د شوری نظار له لومړۍ څل تشکیلیدو او په هغوکې د مختلفو قوماندانانو درا تولید و سره عکس العمل وښود، او په داخل کې یې د قوماندانانو د دغسې مستقل تشکیل جوړیدل د مجاهدینو د ځواکونو د کمزورۍ کیدو وسیله وبلله، له بله پلوه د حزب اسلامی د ننه جوړښت او نظامی اداره د هرم یعنې له قاعدې څخه راس ته پیروي کوله او زیاترو مجاهدینو له حکمتیار څخه چې د حزب امیر ؤ اطاعت کاوه، څرنګه چې د حزب لویو قوماندانانو لکه بشیر شهادتیار، قاضی عاطف، سید حمید الله، ډاکتر لطیف، مامور غیور، بشیر خان، سید جمال ولید، ډاکتر اسماعیل او نهضت یار عملاً د بدخشان، تخار، کندز او بغلان عمده برخې تر خپل کنترول لاندې درلودې.

په حقیقت کې د حزب او جمعیت ترمنځ د شمال جګړې قصدي وې ترڅو د اختلافاتو درزونه نور هم زیات شي او د پراخه غبرګون سبب شي. د ۱۳٦۷ کال د مرغومي په ۲ مه/ ۱۹۸٦م د سمبر ۲۳ مه پر سید جمال ولید حملې پیل شوې او د احمد شاه مسعود تر قوماندې لاندې په دې بریدونو کې قوماندان ملا ودود، ډاکتر حسین، آرین پور، مولوي سید میرزا او سید اقبال برخه واخسته، چې د دوو ډلو د مجاهدینو د قوماندانانو ترمنځ یې سؤ تفاهم زیات کړ او د بدل اخستلو تر بریده سره ورسیدل، د حکمتیار موقعیت هم د مجاهدینو د لنډمهالي حکومت په لوړه سطحه کې قرار درلود، نو موږ د بهرنیو چارو وزارت پرسرد رباني او ګیلاني له اختلاف سره مخ شو، پردې سربیره حکمتیار چې د مجاهدینو د حکومت په رسمیت پیژندلو په اړه کومې هڅې کولې سیاسي د عمل ابتکار دده په لاس کې ؤ، له دې سره جوخت حکمتیار اتو ولایتونو ته یو تاریخي سفر وکړ، او د نورو ورو کو تنظیمونو د قوماندانانو تنظیم له خپلو جهادي قوماندانانو سره د جمعیت د ځینو قوماندانانو په شمول مخالفینو ته د خطر زنګ ؤ، چې په هره بنه یې باید د پرمختګ مخه نیول شوې وای. د کابل رژیم مشر نجیب الله اعلان وکړ چې حکمتیار د بهرنیو چارو وزیر دی او باید په سیاسي کارونو بوخت شي، په داسې حال کې چې افغانستان ته د جبهو داخل ته راغلی دی.

د هیواد د ننه د حکمتیار له سفر سره جوخت د کابل رژیم لوګر، میدان، پکتیا، بامیان، غوربند، کاپیسا، لغمان، ننګرهار او کونړ چې د حکمتیار د سفر لیکه وه په سکڼ توغندیو وویشتل او یو شمیر تلفات یې واړول، زه د دې کرښو لیکوال چې په دې سفر کې له حکمتیار او عبدالله عزام سره ملګری وم، دا مې درک کوله چې باید د عبدالله عزام په منځګړیتوب په پروان کاپیسا کې د حکمتیار او مسعود ترمنځ د تفاهم فضا ایجاد شي، ځکه هغه د عربو د مجاهدینو لارښود او د افغانستان د مجاهدینو لپاره د مکتب خدمات رئیس ؤ، د ډیرو زیاتو سالي امکاناتو په لرلو سره یې په پام کې وو چې نغدي مرستې مسعود ته پنجشیر ته ورسوي، له ده سره ابوانس "زوم بي" او د مسعود یو باوري ملګری ابو شهید او ابو موذن او یو شمیر نور عربان هم ملګري وو.

حکمتیار په ۱۳٦۸ د چونګاښ په ۱۸ مه/۱۹۸۹م جولای ۹مه ماښام مهال د خپل معمول سره سم د

بي بي سي رادیو خبرونه اوریدل چې د سید جمال ولید او شورای نظار د یو شمیر قوماندانانو ترمنځ بې چې د فرخار له غونډې څخه را روان وو د ټکر او نښتې خبرو اورید، د دې ناڅاپي خبر په اوریدو هغه په چورت کې شو او بیایي عبدالله عزام ته وویل چې له مسعود سره اړیکې ونیسي او هغه د دغو نښتو د خپریدو څخه ایسار کړي، عزام د عربو له یوې ډلې سره پنجشیر ته لاړ او له مسعود سره یې چې په تخار کې ؤ تلفوني خبرې وکړې او د حکمتیار پیغام یې ور ورساوه، هغه چې ډیر په غوسه و وویل: حکمتیار باید ماته پنجشیر ته راشي او بخښنه وغواړي بیا به پریکړه کوم، عبدالله عزام چې له افغانانو سره د دوستي په احساس راغلی ؤ او د مسعود پیغام یې حکمتیار ته راوړ، حکمتیار وویل غوره دا ده چې مسعود دې ګلبهار ته راشي ترڅو دغه لانجه ستا په منځګړیتوب حل شي. عبدالله عزام بیا پنجشیر ته ولاړ او مسعود د حکمتیار دغه غوښتنه رد کړه.

د مسعود مخالفت له حکمتیار سره په دغسې اداري سیستم کې نه راتلو او د نښتو او د تنظیمونو ترمنځ د جګړو سبب شو. د تخار په پیښه کې د شورای نظار قوماندانانو د درې ورځو غونډو څخه وروسته تصمیم ونیو چې د فرخار په سیمه کې د سید جمال ولید د تسلط تغرور ټول کړي، فعالیتونه پیل شول، ددغې پیښې واقعیت د سید جمال ولید ورور په هالنډ کې د مجاهدینو د تبلیغاتو د فتر له هیأت سره په سرکه کې چې د هغې پیښې نه وروسته یې هلته سفر کړی ؤ داسې بیان کړ:

د تخار پیښه د سید جمال ولید پر جبهو د شورې نظار د پرلپسې بریدونو له شالید سره تړاو لري، چې له دې پیښې څخه د مخه یې ۳۵ ورځې د اشکمش له لارې دوام لرلو څو ځلې تر سلګونو کسانو پورې ووژل شول او زموږ د کورنیو مالونه او شتمنې چور شوې. په دې لوټمارۍ د تخار ولایت زیاتره خلک شاهدان دي، په هماغه وخت کې څو تنه عربانو له جملې څخه ډاکتر ابو دردا، ډاکتر صالح او عزیز ابراهیم هم ؤ، او جریانات یې پخپلو سترګو لیدلي دي او چې پیښور ته ولاړل راپوروونه یې ورکړل، کله چې استاد رباني بدخشان ته راغی. ډاکتر عبدالله عزام هم ورسره ؤ، سید جمال ولید هغوی ته ورغی او له مسعود سره د پخلاینې غوښتونکی شو، خود هغوی دواړو له تائید سره سره مسعود بیا د سید جمال ولید پر خلاف په جګړه او لوټ ماری لاس پورې کړ. لومړی یې د ورسج لاره ونیوه او غوښه یې کړه او قوماندانان مامور جمعه خان او مدیر عبدالغفور یې بي وسلې کړل سید جمال ولید مسعود ته احوال ورکړ چې باید دسولې په اساس لاره خلاصه او احیستي وسله بیرته وسپاري، مسعود نه یوازې دا چې په هغه تعهد پابند نه ؤ بلکې د هماغه کال د مرغومي په میاشت کې یې له څورو خواو، د چال علاقه داری، سیار او نمک آب درې له لوریو پر فرخار د سید جمال الدین ولید پر مرکزونو یرغل راوړ او (۸۰) تنه ووژل شول، دغې پیښې نورې بد مرغې نتیجې درلودې، په ۱۳٦۷ کال کې جګړو دوام درلود، تردې چې دشورې نظار قوماندانان د غونډې څخه وروسته بیرته د آغای ولید تر کنترول لاندې سیمې څخه تیریدل او د دې جبهې پوستو ته یې د بې پروایي په دود دزې کولې او ځینې کسان په دې دزو ووژل شول، چې پوستو په

ځوابي بریدکې د هغوی څخه شپږ تنه ووژل.

جمعیت اسلامي د وژل شویو شمیر (۲۶) تنه تبلیغوي، مسعود د کمونست رژیم د ملیشو او د سیمې د یو شمیر قوماندانانو په اخستلو سره سید جمال کلابندکوي، بشیر شهادتیار د بغلان د سفر په پلمه پیښور ته دروي، مسعود په قرآن کریم کې لیکلي او بیایي لاسلیک کړي چې په اسلام کې خپلمنځي جګړه نشته، که تسلیم شي نو وبه بخښل شي، او د ملیشو په چل او فریب سید جمال ژوندی نیول کیږي او له شرعي محکمې پرته اعدامیږي.

په حقیقت کې سید جمال ولید چې درې ځلې تخار د روسانو او کمونستانو څخه آزاد کړی ؤ د مسعود تر ټیرې لاندې راغي، پر هغوی د ورسج او پنجشیر د لارو بندول او (۶۰۰) کورنیو خان آباد ته هجرت د دې فاجعې د منځه راتلو سبب شول. (٤٠) او د نښتې په جریان کې د شورای نظار شپږ تنه قوماندانان هر یو قاضي اسلام الدین، ډاکټر سید حسین، سر معلم طارق، مولوي عزت الله، ملا عبدالودود او پاینده محمد له منځه ولاړل.

دغه پیښه لوسړنې ضربه وه چې له کلونو کلونو توطې جوړولو وروسته د څو قوماندانانو د وژل کیدو سبب شوه او بدمرغې نتیجې یې له څانه سره درلودې، تبلیغاتي مرکزونو غوغا ګډه کړه او لومړی شپه انجنیر عبید الله سیرت د حزب اسلامي مرستیال، دوهم ماښام عبدالقدیر کریاب او دریم ماښام ډاکټر عبدالحلیم کریم د حزب په نمایندګۍ وغږیدل خونه یې شوکولای چې د حزب اسلامي دریځ ووایي، بر خلاف رباني، مجددي او ګیلاني د اعلامیې په خپرولو سره په ناوړه الفاظو د پیښې مسوول حکمتیار وباله، او دا ډیرې حساسې شیبې وې چې غوښتل یې له حکمتیار څخه سیاسي انتقام واخلي، دغسې د یوه فرمان له مخې هغه د عبوري حکومت د بهرنیو چارو وزارت څخه هم بې واکه کړای شو، چې وروسته یې پخپله د حضرت مجددي، ګیلاني او رباني د عکس العملونو په سبب ځان ترې لرې ونیو.

حضرت مجددي توند عکس العمل وښود، په ۱۳۶۸ د زمرۍ ۲مه/۱۹۸۹م د ۲۳مه نیټه د ارشاد او دعوت وزارت شورا یوه اعلامیه خپره کړه او د دې عمل د غندلو په ترڅ کې یې ویلي وو چې ددغه وزارت مسوولین هیله لري چې لنډمهالي اسلامي حکومت د دې پیښې په اړه بې تفاوته پاتې نشي او پیښه ژر تر ژره عدلي ارګانونو ته راجع او شرعي حکم پرې صادر شي، دغه دریځ یوه ورځ وروسته د افغانستان د موقت اسلامي دولت لخوا هم څرګند شو. (٤١)

حزب اسلامي په پیښور کې د یوې غونډې په ترڅ کې له مولوي خالص، محمدي او عبدالرب سیاف څخه وغوښتل چې د څیړنې لپاره یو هیأت شمالي ته واستوي، مسعود پلاوی ونه مانه او د بدل اخستلو غوښتونکي شو، او هغه د نجیب الله د رژیم له درې تنو د ملیشه قواو قوماندانانو سره چې صمدوف، حکیم صدیقي او کورمالي نومیدل په تماس کې شو او د سید جمال د له منځه ورلو لپاره یې ائتلاف وکړ، سید جمال یې کلابند کړ په دې کلابندۍ کې د بشیر شهادتیار ځواکونو نه غوښتل چې نښتوته ور

ووژی او له سید جمال سره یې مرسته ونکړه شهادتیار له خپلو یو شمیر مجاهدینو سره پیښور ته ولاړ، او د بې طرفی دریځ یې غوره کړ، صمدوف د دریمګړی په حیث له ولید څخه وغوښتل چې خبرو اترو ته چمتو شي، هغه دغه وړاندیز ډیر ژر ومانه او په یوه فریب کې په ۱۳٦۸ لمریز د زمری په ۲مه/ ۱۹۸۹م د اګست ۱٦مه له خپل ورور ایشان میرزا او دوو تنو سر ګروپانو هر یو بابر شاه او فخر الدین سره یو ځای ونیول شول او مسعود ته وسپارل شول، مسعود سره له دې چې ژمنه کړې وه چې دوی به د مجاهدینو لنډمهالی حکومت ته سپاری ترڅو په دې لانجه کې څیړنی وکړی خو شورای نظار خپله ځانګړی محکمه دایره کړه او د پوښتنو او شکنجو څخه وروسته یې اعدام کړل. (٤٢)

## د مسعود وژنې او د اختلافونو دوام

نظار شورا همدغسې په بدخشان کې د حزب اسلامی په مرکزونو او قرارګاؤ حملې ور وړی او ددی حزب دوه سوه تنه یې دله ئیز و وژل. او پنځه سوه تنه نور یې د فرخار د پیرګل آغا او د چال علاقه داری قوماندان وطن په شمول بندیان پنجشیر ته یو وړل او هلته یې ترڅو روني لاندی ونیول. په ۱۳٦۸ د وری په ۱۲مه/۱۹۸۹م دسپتمبر په ۳مه حکمتیار په یوه غونډه کې چې د بدخشان د بهارک د حزب اسلامی (۱٦۰) تنو مجاهدینو د فاتحې په اړه جوړه شوې وه خبرې وکړې او جمعیت اسلامی ته یې اخطار ورکړ چې احمد شاه مسعود دې د وینو تویولو او وژنې څخه لاس واخلي که نه نو عواقب به یې بیا د جمعیت اسلامی او مسعود پرغاړه وی. (٤٣)

د جمعیت اسلامی یوه سیاسی منبع پردی باور وه چې: د تخار دسیسه اصلاً د جمعیت د ننه خپلمنځی توطیه وه، مسعود غوښتل چې په شمال کې د ډګر یوازینی سړی پاتې شی، په شمال کې د جمعیت د لویو قوماندانانو موجودیت لکه قاضی اسلام الدین چې ربانی ته ډیر نژدې و، ملا ودود، ډاکټر حسینی او خالد بصیر ده نشوای زغملی، له بله پلوه بصیر خالد او قاضی اسلام الدین داسی قوماندانان وو چې له حکمتیار سره یې ښې اړیکې درلودې، د دغه اړیکو ګډوډول له نښتو څخه و روسته او د اختلافاتو را منځته کول تول قصدی کارؤ، چې د هغو شړوتنو له جملې څخه قوماندان پاینده محمد چې د کندز د خاد ریاست مرستیال ؤ او د اشکمش د قوماندان په توګه غوره شوی ؤ پکی ماهرانه رول ولوباوه ترڅو له یوه پلوه د شوری نظار قوماندانان احساساتی کړی او له دری ورځو غونډې وروسته د حزب د جبهو پر خلاف تول ګډ عملیات پیل کړی. له بله پلوه یې غوښتل سید جمال ولید او بشیر شهادتیار په دې توطیه کی دمجرمینو په حیث او په مجموع کی حکمتیار د دې پیښو د مسوول په توګه معرفی کړی.

دا چې پاینده محمد په خپل دام کی پخپله له منځه ولاړ ناڅاپی پیښه وه، خو د مسعود زیاتره رقیبان چې هغه یې د نظار شوری په سشر تابه نه منلو له منځه پکی ولاړل، په دې پلان دوی نخښني ولګیدی او له

حزب اسلامی سره د نښتو بهیر دوام وموند.

د مسعود ترورونه او د حزب اسلامی پر خلاف د کینې او دښمنۍ لړۍ تر اوسه چې د تخار او بدخشان ولایتونو یوه برخه یې په لاس کې ده دوام لري. وروسته ډاکتر اسماعیل د نومورې د یوه سرګروپ داخستلو په ترڅ کې په ناځوانمردانه ډول له منځه یووړل شو، لږ موده وروسته د بغلان ولایت قوماندان مامور غیور، د دوستم د کسانو په ملاتړ په یوه غلچکي برید "کمین"کې ووژل شو، دا دواړه د مسعود د کړو وړو مخالفین وو.

په ۱۹۹۸/۱۳۷۷م کال کې په بدخشان کې د حزب یو او چت قوماندان مولوی خردمند نا ځوانمردانه ترور شو، په کندز کې وروسته قوماندان سید جان له منځه یوړل شو، په ۱۳۷۸ لمریز کال میزان/۱۹۹۹ اکتوبر کې قوماندان بهادر مدافع چې د رباني په تینګار له هغه سره کشم ولسوالی ته ولاړ د شورې نظار دیوه قوماندان (احمدی) په مرکز کې په داسې حال کې چې په سینډ کې یې اودس کاوه شهید کړای شو، یوه هفته وروسته په شمال کې د حزب اسلامی ډیر مهم قوماندان او د کندز ولایت د جهاد امیر سید حمید الله آغا د کمین په یوه دسیسه کې په شهادت ورسول شو.

## د شهنواز تنی کودتا

د ډاکتر نجیب الله پر خلاف د کودتا آوازه حکمتیار خوځله د کودتا له پیښیدو څخه د مخه اچولی وه، بنایي د نجیب په رژیم کې د اردو د منصبدارانو نارضایتي اوله حزب اسلامی سره د هغوی اړیکې د دې سبب شوې وې چې حکمتیار دغسې څرګندونې وکړي. خوحقیقت دا دی چې حکمتیار د ډاډمنو او متعهد و افرادو سره اړیکې درلودې لکه جنرال آصف شور چې د ښوونځي له وخته د مهتاب قلعې په حربي ښوونځي کې له حکمتیار سره تولګیوال او ملګری ؤ او تل یې په سیاسي بدلونونو کې په نظامي سطحه حساس رول لوبولی ؤ. حزب اسلامی په اردو کې دننه نفوذ درلود، له بلې خوا د حکمتیار د عمومي بخښنې اعلان هم پر اردو اغیزه وکړه او د رژیم د اختناق څخه یې د کرکې په سبب مجاهدینو ته تمایل پیدا کړی ؤ. د عفوی له دغه فرمان سره سم پاچاګل وفادار چې یو پخواني کمونست ؤ او تل یې په کودتاګانو کې اساسي نقش درلود په ۱۳٦۸ لمریز د لیندۍ په ۲٤مه/۱۹۸۹م د دسمبر ۱۵مه پیښور ته راغی، او دوې ورځې وروسته یې په یوه خبري کنفرانس کې ووېل چې دی د نجیب په رژیم کې د حزب اسلامی د پټو کسانو له جملې څخه یو ؤ چې. ټول اطلاعات یې پرلپسې حکمتیار ته را استول، پاچاګل وفادار چې د ۲٦ چونګاټن د داود په کودتا کې هم رول درلود او وروسته یې له کمونستانو سره هم په هره دوره کې رول لوبولی، حزب اسلامی د بخښنې د فرمان له مخې هغه ته پناه ورکړه او د دې زمینه یې برابره کړه چې بیاته په اردو کې دننه اړیکې ټینګې کړي. «٤٤» د شهنواز تنی او نجیب الله د اختلاف له را پیدا

کیدو وروسته د نجیب په رژیم کې د حزب اسلامي د نفوذ امکانات زیات شول، او هڅه وشوه چې د نجیب پر خلاف حرکتونه پیل شي. د کا جي بي سازمان د خاد په مرسته دغه فعالیتونه چې په افغانستان د روس لبنکرو د لسم کال د کلیزی سره جوخت وو کشف کړل او د کابل رادیو په قول ۱۳۰ تنه نظامي او ملکي افسران د دولت پر خلاف د کودتا په ګناه ونیول شول او جیل ته وا چول شول. چې په هغو کې ۴۸ تنه د حکمتیار د حزب اسلامي مربوط کسان دي. (٤٥)

حکمتیار سره له دې چې په لنډمهالي حکومت کې خپل فعالیتونه درولي وو، د ۱۳۶۸ کال د کب میاشتي په لومړي اونۍ کې مرکزی شوری او حضرت مجددی ته وراندیز وکړ چې د نجیب پر خلاف د یوې کودتا دپیښېدو په صورت کې بشپړه مرسته وکړي او د مجاهدینو ګډه شورا دې په کابل کې اقتدار په لاس کې واخلي، خو د حکمتیار او مجددی ترمنځ حساسیتونه دومره زیات شوي وو چې دغه وړاندیز یې رد شو او اعلان یې وکړ چې د کمونستانو کودتا نه مني، خو واقعیت دا دی چې د دوی د نظر او سلیقې او دید اختلاف د دې سبب شول چې یو له بل سره تفاهم ته چمتونه شي، د کمونستي جنرالانو ته منلو ادعا هغه مهال غیر منطقي ثابته شوه چې جنرال ظریف د لنډمهالي حکومت په محور مجددی او سیاف تود استقبال کړ. حکمتیار وغوښتل چې بیوازې پخپله د عمل ابتکار په لاس کې واخلي او په ۱۳۶۸ کال د کب په ۱۶مه د۱۹۹۰/م د مارچ په ۷مه د رژیم د دفاع وزیر جنرال شهنواز تنی په لاربښونه کودتا پیل شوه، روسانو د دفاع وزارت ټول مخابروی وسایل له کاره وغورځول، تنی چې ونه توانید په ټول افغانستان کې له خپلو ملګریو سره اړیکې ټینګې کړي د هغو روسي الوتکو تر برید لاندې راغې چې له تاشکند څخه یې الوتنې کولې او د مخالفینو هدفونه یې بمباری کول. حکمتیار په همغه ورځ په اسلام آباد کې د یوې مطبوعاتي مرکې په ترڅ کې له پاڅون څخه ملاتړ وکړ او وې ویل: موږ د کابل د بې دینه حکومت پر خلاف د هر هغه اقدام ملاتړ کوو چې د الحادی رژیم د رانسکورید و او اسلامي حکومت جوړیدو سبب شي، موږ د حزب اسلامي متعهدو افسرانو ته لاربښونه کوو چې له دې فرصت څخه په استفادې سره دې د کابل رژیم په رانسکورولو کې فعال رول اداکړي. باید له هغو لوریو څخه چې د کابل رژیم را چپه کړي او له مجاهدینو سره یو ځای شي ملاتړ وکړي. (٤٦)

له دې اعلامیې سره جوخت حکمتیار په حیات آباد کې په یوه لویه (۱۵۰) زره کسیزه غونډه کې د مجاهدینو د لنډمهالي حکومت د کار پای اعلان کړ، د لنډمهالي حکومت کابینې دیوې اعلامیې په ترڅ کې څرګنده کړه: تاسو ټولوته اعلانوو چې موږ د تفاهم له دوو لوریو سره د یوه لوری سره هم پیوستون او تفاهم نه لرو او نه دې ته چمتویو چې له کمونستانو سره په یوه صف او یوه شریکه اداره کې ژوند وکړو. (٤٧)

یوه ورځ وروسته دری هلیکوپتره چې ناکام کودتا چیان یې راوړل په پاړه چنار کې کښیناستې او د شهنواز تنی په قوماندانۍ یې حکمتیار ته د وفاداری لوړه وکړه او سلامي یې ووهله، د تنی نور ملګری

عبارت ووله: جنرال عبدالقادر آکا د هوایي مدافع عمومي قوماندان، تورن جنرال امیر حمزه، تورن جنرال غلام حضرت، تورن جنرال سیف الله د کابل د پولیسو قوماندان، ډګر جنرال محمد آصف شور، برید جنرال صالح محمد حقباش د اتمې فرقې قوماندان، ډګر جنرال عبدالغفور دتولو قواو د ریاست مرستیال، ډګروال محمد کبیر کاروانی، ډګر جنرال محمد فقیر سرتیر، ډګروال حاجي محمد او یوزیات شمیر ډګرمنان او نور د ټیټو رتبو منصبداران پکې شامل وو. نجیب الله په یوه رادیو يي بیانیه کې پاکستان د تنی - حکمتیار په کودتا کې پرلاس درلودلو تورن کړ. (٤٨) د ژباړن یادښت: آصف شور په کودتا کې ووژل شو، هغه په دغه ډله کې نه ؤ چې را تښتیدلي وو.

همدارنګه هغه د انقلاب د دفاع عالي شورې جوړه کړه او ٥٢ تنو افسرانو ته يي چې د ده په پلوي کودتا ناکامه کړه د جنرالي رتبې ور وبخښلې، همدارنګه په دې شورې کې پریکړه وشوه چې لاندني کسان د تنې په کودتا کې د ګډون په تور د خلق دیموکراتیک ګوند له مرکزي کومیټې څخه برطرف کړای شي: دستګیر پنجشیری، صالح محمد زیری، محمد هاشم وطنوال، هنرغیرت، ګلداد، عبدالرحمن، فدا محمد فدا، فهیم الله اندړی، خلیل الله کوهستانی، عبدالرشید ارین او محمد الله صافي.

## د پاکستان، ایران او مجاهدینو دری اړخیز کنفرانس

د ١٣٧٠ کال د وری په ٦-٧ نیټو/١٩٩١م د اګست ٢٨-٢٩ د سني او شیعه جهادي ډلو ترمنځ د تفاهم او دوی ته د مساوي امتیازاتو ورکولو په خاطر په تهران کې خبرې اترې پیل شوې. چې د مجاهدینو دری ډلو، د حکمتیار حزب اسلامي، خالص حزب اسلامي او د سیاف اتحاد اسلامي تحریم کړې. یوه ورځ وروسته د سعودي عربستان د استخباراتي سازمان مشر ترکي الفیصل د پاکستان له صدر اعظم نواز شریف سره په اسلام آباد کې خبرې وکړې او ددې غوښتنه يي وکړه چې د مجاهدینو ټولې ډلې د خبرو اترو په یوه میز د کابل رژیم پر خلاف را ټولې کړای شي او جنګ پای ته ورسول شي. د دې خبرو اترو په اعلامیه کې د افغانستان د اولس د مبارزو ملاتړ اعلان شوی او د افغانستان د اسلامي، آزاد او ناپیلي حیثیت په اعاده کې د پاکستان او ایران د همکاری تائید شوی و. پکې ویل شوي دي: د افغانستان خلک باید پردی و توانیزی چې د هرډول بهرنیو لاسوهنو څخه پرته پخپله خپل برخلیک وټاکي، په دې غونډه د اسلامي کنفرانس تنظیم او ملګرو ملتو سازمان خوښي ښکاره کړه او ټینګار وشو چې په ایران او پاکستان کې د پرتو مجاهدینو نمایندګان باید په ډاګارکې د اسلامي کنفرانس د سرمشرانو په غونډه کې د ګډون لپاره واستول شي، همدارنګه دې په اسلام اباد کې د خبرو اترو د دریم پړاو لپاره داسې دستور وضعه شي چې دیوه داسې اسلامي حکومت د جوړیدو وړاندیز وکړي چې د افغانستان ټولو خلکو ته د منلو وړوي.

## ایران د حکمتیار د وژلو حکم ورکړ

ایران د کیهان انترنیشنل په رسمي ورځپانه کې په ۱۳۷۰ لمریز د زمري په ۳۱مه/۱۹۹۱م د اګست ۲۲مه د یوې خبرتیا په ترځ کې ایران ته د یوه نه منل کیدونکي شخصیت په توګه د ګلبدین حکمتیار د وژلو امر صادر کړ. دغه خبر سره له دې چې د ټولې نړۍ په مطبوعاتو کې خپور شو او حزب اسلامي یوه احتجاجیه لیک په پېښور کې د ایران قنسلګرۍ ته وسپاره د ایران دولت څه عکس العمل ونه ښود او چوپ پاتې شول. دغه حکم د ایران او حزب اسلامي د اړیکو له شالید سره اړیکې لرې چې د اتیایمې کلیزې په پیل کې تیاره شوې. اوحزب اسلامي پردې مجبور شو چې په ایران کې خپلې نمایندګي او دفترونه وتړي، همدارنګه له سعودي عربستان او پاکستان سره د حزب اسلامي د اړیکو ښه کیدل د ایران د غبرګون سبب شول. د حکمتیار لخوا د ورېستیو دري اړخیزو خبرو اترو تحریم او د سیاف او حکمتیار له دریځ څخه د سعودي عربستان ملاتړ د ایران په مطبوعاتو او سیاسي حلقو کې د توند غبرګون سبب شول.

د ایران دغه عمل د برهان الدین رباني او قاضي امین وقاد لخوا په یوه ګډه خبري کنفرانس کې و غندل شو.

## په کنړکې د حکمتیار او مولوی جمیل الرحمن ترمنځ جګړه

په کونړ کې د حزب اسلامي او مولوي جمیل الرحمن په مشرۍ جماعة الدعوه ترمنځ جګړو د مجاهدینو په اړیکو کې یو ډیر ژور انعکاس درلود، که د کونړ د پیښو پر شالید "پس منظر" رڼا واچوو جهادي پیښې او د مجاهدینو فعالیتونه په دې ولایت کې د حزب اسلامي د نظریاتو له برید څخه بهرنه دي وتلي او خپلمنځي اختلافات او جګړې هم اصلاً د مولوي جمیل الرحمن اوحکمتیار سلیقوي اختلاف ؤ.

کونړدهماغو لومړینو ولایتونو څخه دی چې په کابل کې د کمونستانو دواکمنۍ ته رسید و سره جوخت وسله وال جهاد پکې پیل شو، او د رژیم د اردو په منځکې کې یې د پوځي افسرانو په منځ کې مرکزونه درلودل، دهغوی له جملې څخه داسمار دنظامي مرکز سقوط چې د۱۳۵۸کال په لومړیو/۱۹۷۹م کې د ډګروال عبدالروف خان په واسطه چې د هغه غونډ قوماندان اود حزب اسلامي غړیتوب یې درلود تسلیم شو او ټوله وسله او پوځي مهمات یې مجاهدینو ته وسپارل که څه هم عبدالروف د دې وضعې څخه خوښ نه ؤ او د مجاهدینو عکس العمل یې د ځینو قوماندانانو د خپلسرۍ دلیل وګڼانه، کنړ له هماغه وخته د نظامي فعالیتونو مرکز شو او پیچ دره، اسعد آباد مرکز او نورګل دره د مجاهدینو په لاس کې

ولویدل، مولوی جمیل الرحمن د کونړ ولایت د والي په توګه وټاکل شو، نوموړی چې د حزب اسلامی د اجرائیه او مرکزی شوری غړیتوب هم درلود د هیواد په ختیځو برخوکې د لږ نظامی قدرت څخه برخمن ؤ. د مولوی جمیل الرحمن له ټاکلو سره سم په کونړکی انتخابی شوری هم سنځته راغله، خو د حکمتیار او جمیل الرحمن ترمنځ، سلیقوی اختلاف او د جمیل الرحمن مذهبی روش د دواړو ترمنځ د تضاد سبب شو. هغه (وهابی) تمایل درلود چې د سعودی عربستان له سلاتړ څخه برخمن ؤ او ځان یې د حزب اسلامی څخه بیل اعلان کړ.

د هغه په واک کې زیات مالی او نظامی امکانات ورکړل شول، او کونړ ولایت یې د خپل فکر د تسلط مرکز وګرځاوه، زیاتره هغه عرب ځوانان چې وهابی تمایلات یې درلودل له ده سره یوځای شول.

جمیل الرحمن چې د پیچ دری په ننګلام دره کې زیږیدلی دی خپلې دینی زده کړې یې د صوابی د مولانا محمد طاهر پنج پیر څخه پای ته رسولی او د شیخ القرآن لقب یې ترلاسه کړ، نوموړی یو د فرهنګی فعالیتونو مرکز هم پرانست او له دری زره تنو زیات عرب ځوانان ور سره یو ځای وو.

مولوی جمیل الرحمن د ۱۳۷۰ لمریز کال په پیل/۱۹۹۱م اپریل کې په کونړکې د حزب اسلامی د مجاهدینو پر خلاف په عملیاتو لاس پوری کړ ځکه چې په کونړکې مذهبی اختلافونه ډیر توند شوی وو او د افغانستان زیاترو خلکو له مذهبی تمایلاتو څخه کرکه درلوده او عملاً یې عکس العمل ښود، د جمیل الرحمن ډله چې په اهل حدیث یا اهل سنت و جماعت مشهوره وه، په لاس کې دموجودو امکاناتو سره یې په نظامی عملیاتو لاس پوری کړ او د حزب اسلامی مجاهدین یې په بشپړ ډول د ټول کونړ څخه وایستل، مولوی جمیل الرحمن د کونړ ولایت دیوه خپلواک اسلامی ولایت په حیث اعلان کړ او د لنډمهالی حکومت لخوا هم د دایمی والی عنوان ورکړ شو.

د ۱۳۷۱ لمریز کال د زمری په وروستیو/۱۹۹۱م د اګست په ۲۲مه د حزب اسلامی مجاهدینو د نورو جبهو په ملګرتیا د جمیل الرحمن په مرکزونو عمومی تعرض پیل کړ، پیچ دره او د اسعد آباد ښاریې تری ونیول، اهل حدیث خلک او پخپله مولوی جمیل الرحمن باجوړ ته ولاړ، وروسته بیاحزب اسلامی د دواړو لوریو ترمنځ د اوربند غوښتنه وکړه او د مجاهدینو د نورو ډلو لخوا یو هیأت وټاکل شو چې دغه هیأت عبارت ؤ له: وحید الله سباوون، حاجی کشمیر خان او مولوی فقیر الله د حزب اسلامی څخه، مولوی عبدالبصیر، مولوی عبدالرحمن، او مولوی رحمت د اهل حدیث ډلی څخه، حاجی دین محمد او مولوی یاسر د مولوی خالص ډلی څخه، سید نور الله عماد او احمد جان محمد احمد زی د جمعیت اسلامی څخه دوی دکونړ مشترکه شوری جوړه کړه او د سولی پر موافقو یې دسهی کړبنه راکش کړه.

د هماغه کال د وری په ۹مه د اګست په ۳۱مه د جمعی د لمانځه پروخت د عبدالله رومی په نامه یوه عرب پر مولوی جمیل الرحمن د تومانچې ډزی وکړی او ویی واژه، نوموړی قاتل د جمیل الرحمن دیوه ساتونکی لخوا په د زو ځای پر ځای ووژل شو. د نوموړی د وژل کیدو پلټنې پټې پاتې شوې. یوه ورځ

وروسته مولوي سمیع الله د دې ډلې د مشر په توګه وټاکل شو. او په باجوړ کې یې دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل: نشم کولی چې یوه ډله او یا شخص د مولوي جمیل الرحمن په وژلو مسوول وبولم. (٤٩)

## بینن سیوان او له مختلفو اړخونو سره یې خبرې اترې

د افغانستان په لانجه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ښاغلي بینن سیوان *(Benon Sevan)* د سنبلې په ۱۲مه/ دسپتمبر ۳مه د کور دوویز لخوا وګومارل شو چې د پنځه فقره ایزې طرحې په باب د کابل رژیم او په پاکستان او ایران کې پر تو مجاهدینو سره خبرې اترې وکړي او یوه توافق ته ورسیږي. هغه د لومړي ځل لپاره په داسې وخت کې کابل ته سفر وکړ چې د ګورباچوف پر خلاف د مسکو د ناکامې کودتا څخه دوې ورځې تیرې شوې وې. او د کابل رژیم چې د شوروي اتحاد په اقتصادي مرستو پورې تړلی ؤ تر فشار او سیاسي ګواښونو لاندې ؤ، بینن سیوان په داسې شرایطو کې د عمل ابتکار په لاس کې واخست چې مجاهدینو د لانجې په سیاسي حل چندان باورنه درلود. سره له دې چې د کور دو ویز د طرحې په اړه پخوا یو څه مفاهمه موجوده وه.

نو موړي له مختلفو لوريو سره تر خبرو اترو او لیدلو وروسته د ۱۳۷۰ لمریز په لیندۍ میاشت/۱۹۹۱م دسمبر کې وویل: اوس د دې وخت راغلی دی چې د افغانستان د صلحې پروسه تر فشار لاندې راشي... داسې راپوروونه شته چې د مجاهدینو ځینو منځلارو ډلو چې د مسکو په خبرو اتروکې یې د مجاهدینو په هیأت کې غړیتوب درلود هغه کوله چې موافقې ته ورسیږي چې روسان د کابل رژیم سره په خبرو اترو له تینګار نه لاس واخلي او دوی له بنسټ پالو مجاهدینو سره د یوه حکومت په جوړولو کې برخه واخلي، بینن سیوان نیغ دا وضاحت ونه کړ خو ویې ویل چې مسکو د کابل رژیم په خاطر خبرې نه دي کړي، ملګرو ملتونو له هر ډول طرحې سره رضایت څرګند کړ خو دا ګواښ یې ورکړ چې هیڅوک نشي کولای چې د افغانانو نمایندګي وکړي یوازې له هغه صورت پرته چې ټول لوري پکې شریک وي.

بینن سیوان مجاهدینو ته چې د کابل له رژیم سره د تفاهم غوښتونکي نه وو اخطار ورکړ، چې هره ډله که هڅه وکړي چې د ملګرو ملتونو له طرحې څخه بیله لاره غوره کړي دا باید په پام کې ولري چې هغه حکومت به یې ډیر بې صلاحیته وي او د ملګرو ملتونو له نظره غیر قانوني دی. همدارنګه سیوان په غوسه پر مجاهدینو ودانګل وې ویل: د مجاهدینو مشران د خپل موقف په خاطر په چل او نیرنګ لاس پورې کوي، او د خپل صلاحیت بر لاس د انتخاباتو څخه مخکې ثابتوي، څکه خو د مجاهدینو د هغوی تنظیمونو ترمنځ چې د مسکو خبرې اترې یې تحریم کړې وې د نظر اختلافونه را برسیره شوي دي. (٥٠)

## امریکا او شوروي او په افغانستان د وسلو بندیز

په ۱۳۷۰ د وږی په ۲۲مه/۱۹۹۱م سپتمبر ۱۳مه نیټه واشنګټن او مسکو پخپلو کې موافقه وکړه چې په افغانستان کې بنکیلو لوریو ته د وسلو لیږل بند کړي، په هغه مجلس کې چې د جمیز بیکر *James Buker* او بوریس پانکین *Boris Pankin* د امریکا او روسیې د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ وشو دواړو لوریو تینګاروکړ چې د ۱۹۹۱ کال د جنوري له لومړی/۱۳۷۰لمریز کال د مرغومی ۱۱مې څخه دغه تړون عملي شي، او اعلان یې وکړ چې د دواړو لوریو (کمونستانو او مجاهدینو) ترمنځ باید په انتخاباتو موافقه وشي. (۵۱)

په ۱۳۷۰ لمریز د تلې په ٦مه/۱۹۹۱م د سپتمبر په ۲۸مه د شوروي د بهرنیو چاروو زارت د یوه احتجاج په ترځ کې د پاکستان سیاسي مقاماتو ته اعلان وکړ چې هغه هیواد مجاهدینو ته پوځي مرستو ته دوام ورکړی او د مسکو د خبرو اترو څخه یې سر غړونه کړې ده، مسکو له دې سره جوخت د کابل له رژیم سره چې کومې مرستې کوي و غوښتل لانجه په خپله ګټه ملګرو ملتونو ته یوسي.

د همدې کال د تلې په ۲۳مه/د اکتوبر ۱۵مه مجاهدینو اعلان وکړ چې روسان تر اوسه پورې د نجیب د رژیم د قواو پر اکمال مصروف دي او د ځمکې او هوا له لارې درنې وسلې هغوی ته سپاري، همدارنګه د جیټ الوتکو په بمباری اود لرې ویشتونکو سکاډ توغندیو په توغولو کې هم روسي مشاورین د نجیب رژیم له پوځیانو سره همکاري کوي.

## ملګري ملتونه او بین الافغاني خبرې اترې

د ملګرو ملتونو د جوړیدو د ٤٦مې کلیزې په مناسبت چې د ۱۹۹۱م د اکتوبر په لومړیو/۱۳۷۰ لمریز په میزان کې په نیویارک کې ونمانځل شوه د ملګرو ملتونو سرمنشي پریز دوکولیار اعلان وکړ چې دی ته چمتو دی چې په افغانستان کې د ټولو لوریو نمایندګان مفاهمې او لندمهالي عبوري حکومت جوړولو ته دعوت کړي. نوموړي وویل: اتحاد شوروي نور په افغانستان کې د سرتاسري انتخاباتو د ترسره کولو لپاره د عبوري حکومت په حیث د نجیب رژیم له ملاتړ څخه تیر دی، ملګري ملتونه هڅه کوي چې خپله پنځه فقره ایزه طرحه مختلفو اړخونو ته وړاندې کړي هغه دی ته اسیدوارڅ چې دیوه پراخ بنسټه حکومت تشکیل داسې وخت امکان لري چې بهرنۍ مداخلې بندې شي. سرتاسري اوربند وشي، وسله را ټوله شي او عمومي انتخابات دایر شي.

د ملګرو ملتونو په غونډه کې د مجاهدینو د عبوري حکومت رئیس حضرت صبغت الله مجددي او د نجیب الله د رژیم صدر اعظم فضل الحق خالقیار هم ګډون درلود. پریز دوکویار د دغې طرحې د عملي

کولو په اړه له دوارو لوریو سره وکتل، همدارنګه یې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صدیق کانجو او دایران د بهرنیو چارو وزیر علي اکبر ولايتي سره هم خبرې اترې درلودې. خالقیار د کابل رژیم په نمایندګۍ اعلان وکړ چې که د تفاهم لپاره د مجاهدینو، کابل رژیم او د ظاهر شاه د پلویانو ترمنځ په جینوا کې د ملګروملتونو په ریاست کنفرانس جوړ شي چې ټول د افغانستان په راتلونکې حکومت کې د ګډون حق ولري دوی به يې هرکلی وکړي.

صبغت الله مجددي له نیویارک څخه تر راستنیدو وروسته په اسلام آباد کې یوه مطبوعاتي کنفرانس ته وویل: دی د ملګروملتونو د پنځه فقره ایزې طرحې سره توافق لري خو د مجاهدینو او کابل رژیم او محمد ظاهر شاه د پلویانو ترمنځ د ګډون غونډې جوړیدو طرحه د نجیب نه بلکې د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر پانکین Pankin وړاندیز دی، مګر د مجاهدینو له نظره باید د (۲۰۰) تنو په شاوخوا کې افغاني مشران په جنیوا کې را ټول شي او د افغانستان د راتلونکې په اړه تصمیم ونیسي. که اکثریت د ظاهر شاه پلوي وکړي دی به يې شخصاً مخالفت ونکړي. (۵۲)

له هغې وروسته چې پربنارونو د مجاهدینو حملې ګړندي شوې او مهمې سیمې يې ونیولې، په ۱۳۷۰ کال د لړم په لومړۍ نیټه/۱۹۹۱م اکتوبر ۲۳مه نیټه د ملګروملتونو سرمنشي پریزدوکویار اعلان وکړ چې د افغانستان په باب يې د پنځه فقره ایزې طرحې څخه صرفنظر کړی دی او د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی بینن سیوان هم نیویارک ته روان شو. همدارنګه هغه د مجاهدینو له لنډمهالي حکومت څخه وغوښتل چې د یوه پراخ بنسټه حکومت د جوړیدو لپاره اوږ بند مراعات کړي.

صدیق کانجوکه څه هم له دې طرحې څخه پلوي وکړه د مجاهدینو د بنیادګرو ډلو مخالفت په سبب يې ددې عملي کول محال وبلل، علي اکبر ولايتي د پاچا د بیرته راتلو او په افغانستان کې د مذهبي لږکیو د حقوقو خوندي کیدو غوښتنه وکړه. رسول سیاف، حکمتیار او خالص له کمونستانو سره خبرې اترې او له محمد ظاهر شاه سره اقتدار شریکول رد کړل. حکمتیار له فرنتیرپست ورځپاڼې سره په یوه مرکه کې وویل: له کمونستانو سره د مجاهدینو یو ځای کیدل د مجاهدینو د کلابند کیدو په معنی دی. (۵۳)

### د ښارونو سقوط او له مجاهدینو سره پیوستون

د افغانستان ټولنیزه وضعه چې د مجاهدینو په قوت پورې تړلې وه او د اسلامي حکومت د جوړیدو خوشبیني وه د مقاومت لیکو ته يې نور هم ځواک وبانبه، او مجاهدینو په سراسر هیواد کې مهم بریالیتوبونه وګټل.

<u>کندهار:</u> د ۱۳۷۰ کال د وږي په ۵مه/۱۹۹۱م د اګست ۲۷مه د کندهار هوايي ډګر د قوماندان ملا خدا داد او د بابای ولي کوټل د قوماندان حاجي سرکاتب او حاجي محمد عسکر لخوا تر حملو لاندې

ونیول شو، په هماغه ورځ د لغمان په مهتر لام کې هم مجاهدینو حملې پیل کړې.

*پکتیا:* د مجاهدینو د یوه بل راپور له مخې د ۱۳۷۰ لمریز د ورې په ۲۹مه/۱۹۹۱م د سپتمبر په ۲۰مه د ګردیز پرښار او د کابل په شاو خوا حمله وشوه. (٥٤)

پر ګردیز حمله د هغو فرسایښي انتخاباتو په اړه وو چې نجیب له مجبورۍ څخه لاس پرې پورې کړې ؤ د مسکو د ناکامې کودتاه څخه وروسته د کابل رژیم بحران ژورشو نړیوال حامیان یې له لاسه ورکړل. د بلغاریا چاپ دیموکراسي ورځپاڼې ولیکل: د ګردیز د ګارنیزیون سقوط بنایي د نجیب رژیم د سقوط سبب شي او په تاسف باید و وایو چې د خپلو نظامي قواو په لاس د نجیب سقوط به د افغانستان ملت ته ډیر له اټکل څخه وتلې مصیبتونه او رنځونه راوړي. (٥٥)

د ګردیز جګړه او د هغه ځای نظامي مرکزونه د دوارو خواو لپاره ډیر د اهمیت وړ او د ټاکونکي رول درلودونکي وو، د کابل رژیم په خپلو تر لاس لاندې قواو حملو ته زور ورکړ، او د میزان په ۱۸٪ اکتوبر ۱۰مه دغه ښار بمباري شو او تر ۷۰ تنو زیات مړي یې پر ځای پریښودل، د تلې په ۲۰ مه د نجیب رژیم ٦ سکاډ توغندي د پاکستان سره په سرحدي سیمو وویشتل.

*ننګرهار:* د تلې په ۲۱مه٪ د اکتوبر ۱۳مه مجاهدینو د جلال آباد پرښار او ننګرهار حملې پیل کړې. همدارنګه د سرخرود په ولسوالۍ او دلته بند په کوتل کې هم د رژیم پوستې د مجاهدینو په لاس کې ولویدې، مهمو قوماندانانو لکه دین محمد او انجنیر محمود د مولوي خالص حزب څخه، فضل الحق مجاهد او فیض محمد د حزب اسلامي حکمتیار څخه، ساز نورد سیاف او مولوي اسرار الله د ګیلاني د ډلې څخه په دې عملیاتو کې شریک وو، په دې عملیاتو کې د خاد (۸۱) مرکزونه او څو نورې پوځي سیمې جلال آباد ته نژدې د مجاهدینو په لاس کې پریوتې. (٥٦)

مجاهدینو د ۱۳۷۰ لمریز د تلې په ۲۲مه/۱۹۹۱م د اکتوبر ۱۵مه د ثمرخیلو، ګردي غوث، چپرهار د جلال آباد جنوبي او ختیځ لورې یې ونیول او د دولت نظامي مرکزونو سقوط وکړ.

*هرات:* د ۱۳۷۱ کال د ورې په ١٤مه/۱۹۹۲م د اپریل ۳مه د مجاهدینو په یوه پراخ بریدکې د هرات امنیتي کمربند مات شو، او د رباط پریان، قلعه اصغرخان، قله ناوک، قلعه یادګار او کشکک مجاهدینو ونیول. د زنده جان او غوریان لارې هم د مجاهدینو تر کنترول لاندې راغلې. د دغو پیښو سره جوخت د هرات په ښارکې د ملیشو د دوو ګروپونو د ارباب داود، د رهیان د سیمې او امیر سید احمد ترمنځ جګړې ونښتې او د هغه ولایت په هوایي ډګر کې تولې عامه شتمنۍ د هغوی لخوا چور او لوټ شوې. وروسته ارباب داود د حضرت علي (ک) جبهې ته تسلیم شو، په هرات کې جمعیت اسلامي، حزب اسلامي او حزب وحدت اسلامي ډیر قوتونه او نفوذ درلود.

## د پاکستان پرتخریبي عملیاتو د مجددي انتقاد

حضرت صبغت الله مجددي په پېښور کې د مهاجرینو په منځ کې په یوه غونډه کې په صراحت وویل چې د پاکستان پټې اطلاعاتي شبکې د هغه هېواد دځینو سیاسي ارخونو په ملګرتیا هڅه کوي چې عامه تاسیسات او د افغانستان د انرژۍ منابع له منځه یوسي، آی اس آی دا پلان لري چې د درونټې، کابل، او هلمند بندونه ونړوي، نوموړی څرګنده کړه چې د پاکستان جاسوسي سازمان آی اس آی، ده ته دستور ورکړ چې د حملې په دوران کې دولتي تاسیسات او عام المنفعه دستګاوې له منځه یوسي، زه چې له ٤٠ کلونو څخه زیاته موده د جهاد په خدمت کې یم نه غواړم چې خپل جهاد په دغسې کارونو بدنام کړم.(٥٧)

دغه عکس العمل د پاکستان د خپرنیو وله ټیزو وسایلو په عقیده له امریکا څخه د مجددي د بیرته راستنیدو سره جوخت وو ګواکې نوموړی ته په امریکا کې د امریکا او شوروي اتحاد له مقاماتو سره په ملاقات کې د افغانستان د راتلونکي جمهوري ریاست وعده ورکړې شوې وه، مجددي په یوه ځانګړې مرکه کې چې د ١٣٧٠ لمریز کال د لړم په اتمه/١٩٩١م د اکتوبر ٢٠مه یې وکړه ټینګار وکړ چې پاکستاني مقاماتو جهادي قوماندانانو ته دستور ورکړی دی چې د سروبي، نغلو او کجکي د برېښنا بندونه والوزوي اوله منځه یې یوسي چې د قوماندانانو لخوا په کلکه رد شوه.

## په مسکو کې د روسانو او مجاهدینو رسمي ملاقات

د ١٣٧٠کال د لړم په ٢١مه/ ١٩٩١م د نومبر ١٢مه د برهان الدین رباني په مشرۍ د مجاهدینو هیأت مسکو ته ولاړ او د هغه هیواد د جمهوري ریاست له مرستیال الکساندر رو تسکوي سره یې دوه ساعته خبرې اترې وکړې. دا د دواړو بنکیلو لوریو ترمنځ په تیرو ١٤ کلونو کې لومړنۍ رسمي خبرې اترې وې، په دې خبرو اترو کې د کابل رژیم له اجندا څخه لرې کړای شو، روسانو په درې تکیو اعتراف او موافقه وکړه.

پر افغانستان یې خپل تیرې وغانده، او ټول هغه قرار دادونه یې چې د ثور له اوسې څخه تر هغه وخته لاسلیک کړي وو غیر قانوني وبلل او د نجیب رژیم ته یې د مرستو نه ورکولو تیاري اعلان کړ، همدارنګه په دې خبرو اترو کې روسي مقاماتو په افغانستان کې له یوه عبوري اسلامي حکومت جوړیدو سره توافق وښود چې په دوو راتلونکو کلونو کې به د کابل له رژیم څخه اقتدار اخلي او د ملګرو ملتونو او اسلامي کنفرانس تنظیم په مرسته به د آزادو او سرتاسري انتخاباتو لاره هواروي برهان الدین رباني په دې سفر کې په افغانستان کې د اسیرو روسي عسکرو له خپلوانو او دوستانو سره ولیدل او څرګنده یې کړه چې د دواړو لوریو د زندانیانو پرېښودل یوه انساني مسئله ده، خو باید یوه شي چې که له خپلو او لادونو څخه ستاسو لرې کیدل دردونکي دي، هغو په زرګونو افغاني کورنیو ته ترډې څوچنده د ردونکي دي چې د خپلو بچیانو

او دوستانو له برخلیک څخه نه دی خبر او کلونه کلونه کیږي چې د خپلو ورکو عزیزانو ویرکوي(٥٨)

د ۱۳۷۰ لمریز د لړم په ٥مه/۱۹۹۱م د نوامبر ٢٦مه په اسلام آباد کې د شوروي سفیر ویکتوریا کونین له حکمتیار سره ملاقات وکړ، د روسانو هدف له دی خبرو اترو څخه له حزب اسلامي سره د خبرو اترو د دروازو خلاصول وو. چې د مسکو خبري اترې یې تحریم کړې او ګډون یې پکې ونه کړ. د روسانو زیات فشار د هغو درې سوه تنو روسي افسرانو او سرتیرو بیرته ستنول وو چې د حزب اسلامي له مجاهدینو سره وو، حزب اسلامي د روسي عسکرو د خوشي کولو په بدل کې د هغو (٤٠) زره افغاني بندیانو د برخلیک په باب معلومات وغوښتل چې د جګړې په دوران کې شوروي اتحادته بیول شوي وو.

## له جنرال دوستم سره د نجیب اختلافات

د ملګرو ملتونو سازمان د ځانګړي استازي بینن سیوان ناکامي هڅې چې غوښتل یې د نجیب رژیم او مجاهدینو ترمنځ ائتلافي حکومت جوړ کړي د نجیب رژیم له یوه پلوه د خپلمنځي اختلافونو او د اردو د پاشل کیدو په سبب له بلې خوا د شوروي اتحاد نه ملاتړ په سبب چې پخپله د توته کیدو په حال کې ؤ سخت تر فشار لاندې ؤ، نه یې شو کولای چې یو ثابت دریځ د ملګرو ملتونو سازمان په منځګړیتوب ونیسي. جنرال رشید دوستم چې د نظامي ملیشو په حیث ډیر کلونه دیو لوی نظامي قوت په حیث د کابل په دروازو کې د مجاهدینو د نفوذ مخې ته ولاړ ؤ، فکر نه کیده چې هغه دی مجاهدینو ته تمایل ولري ځکه هغه د افغانستان د جګړې د مجرمینو څخه یوؤ، خو که هغه خپل سیاسي دریځ نه وای بدل کړی د دی توان یې نه درلود چې د مجاهدینو په مقابل کې مقاومت وکړي بلکې خپل دننه تنظیم به یې هم له منځه تلو.

د جنرال دوستم نه تمایل د جنرال شهنواز تني له کودتا څخه وروسته د نجیب په رژیم بله سرګوني ضربه وه، دوستم خپلې ملیشې د ځان تر فرمان لاندې تنظیم کړې اود هیواد شمالي ولایتونه یې تر اداري لاندې وو، له بله پلوه دوستم د کابل په مهمو ځایونو کې لکه د خواجه رواش هوایي ډګر -سرنجان غونډې- بالاحصار د ریشخور فرقه او دارالامان کې خپلې زیاتې قواوې ځای پر ځای کړې. چې د جنرال مجید روزي او جنرال مؤمن ترقوماندې لاندای یې عمل کاوه. له بله پلوه د جنرال دوستم د ملیشه قواو او د مزاري په مشرۍ د حزب وحدت افرادو او جنرال نادري (دکیهان زوی) ترمنځ پټې یو لړ موافقې لاسلیک شوې وې، دوستم د خپې پالیسي سره سم په دوو جهتونو کې سختې هڅې کولې.

۱- د قضیې د یوه لوري په حیث په جګړه کې پردې وتوانیږي چې د هیواد په راتلونکې اداري کې زیات امتیازات ترلاسه کړي چې د رباني د دورې په لومړیو کې یې په لاس هم راوړل. همدارنګه د دوی له جنایاتو ډکه سابقه چې کلونه کلونه د کمونستي رژیم په خدمت کې وو او زیات ظلمونه یې کړي وو باید

هیره کړای شي.

۲- د افغانستان د فدراسیون او تجزیې هڅه چې په دوو برخو شمال او جنوب بې وویشي، چې د مزار شریف د مرکزیت سره نه یوازې جنرال دوستم دیوی مهمې برخې محور ساته بلکې اکثریت کمونستان او د خاد د جاسوسي شبکې غړي به چې په خیانت او جنایت تورن وو په آرام خاطر د افغانستان په شمال کې د نوی اداری په جوړولو کې ونډه ولري. په دې خاطر په دې اړه یو شمیر هڅې هم وشوې چې که وکړای شي ژبني، قومي او آن مذهبي اختلافاتو ته لمن ووهي او په دې اړه تبلیغاتي فعالیتونه هم وشول. د مجاهدینو ډلو د هیڅ ډول مقاومت څخه پرته د ۱۳۷۰ کال د کب په ۲٦مه ۱۹۹۲م د مارچ په ۱۷مه د بلخ ولسوالي او د مزار شریف د ښار څنډې ونیوې. او د جنرال دوستم قوا د یوه بل سیاسي څرخ له خوړلو سره د مجاهدینو په لورې کې ودریده.

## د ملګرو ملتونو د مداخلې غوښتنه

د وطن ګوند د ۱۳۷۰ کال د کب/۱۹۹۲م، د مارچ په پریکړه لیک کې له بینن سوان څخه غوښتې وو چې ملګري ملتونه دې ګډې قواوې کابل اوولایتونو ته راولي، چې په راتلونکې یوې ائتلافي اداری کې د کابل درژیم بقاهم تضمین کړي، ددغه تصمیم په اړه که څه هم د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبله کې هیڅ ډول عکس العمل ونه ښودل شو خود مجاهدینو مختلفو ډلو په کلکه رد کړه.

عبدالرب رسول سیاف اعلان وکړ: د ملګروملتونو د ځانګړي استازی بینن سیوان ټولې هڅې په دې خاطر دي چې په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس دیوه اسلامي حکومت د جوړیدو مخه ونیسي. ګلبدین حکمتیار وویل: د ملګروملتونو د قواو ننوتل اسانه کار نه دی چې د مجاهدینو له موافقې پرته دې تر سره شي. په داسې حال کې چې موږ هیڅ پردي قواوې په هیڅ عنوان په افغانستان کې نه منو. موږ نه په ملګرو ملتونو اعتماد لرو او نه په خپل هیواد کې پردی قواوی منلي شو، کوم کسان چې ددغه سازمان له لارې له نجیب سره دیوه ائتلافي حکومت غوښتونکي دي، زموږ دریځ هیڅکله هم هغوی ته دمنلو وړنه دی.

برهان الدین رباني وویل: د اوسني وضعې په پام کې نیولو سره د ملګروملتونو سازمان طرحه فعلاً غیر عملي ده او د یوه توند کار ایجاب کوي. (٥٩)

## د نجیب استعفی

په ۱۳۷۰ کال د کب په ۲۷مه/۱۹۹۲م د مارچ ۱۸مه نیټه نجیب په یوه رادیویي وینا کې د سهار په ۹ بجو اعلان وکړ چې دی ته چمتو دی چې د جمهوري ریاست له مقام څخه استعفی وکړي اوقدرت هغه

عبوري حکومت ته وسپاري چې د ملګروملتونو لخوا پیشنهاد شوی وی. دده د وینا څخه وروسته حکمتیار له بي بي سي راډیو سره په مرکه کې څرګنده کړه: نجیب له دې پرته بله لاره نه درلوده چې استعفا ته راضي شي، د وطن ګوند نور غړي هم د نجیب په څېر باید له اقتدار څخه ګوښه شي. ځکه مجاهدین له وطن ګوند سره ائتلافي حکومت نه مني.(٢٠)

د نجیب د استعفا اعلان د رژیم د پلویانو روحیه د هیواد په ګوټ ګوټ کې کمزوري کړه، او د هیواد زیاتره سیمې له څه مقاومت پرته د مجاهدینو قوماندانانو ته تسلیم شوې، تولنیزه وضعه هم د مجاهدینو په لوری شوه، او زیاترو کمونستانو د ځان د بقا په خاطر ږیرې پرېښودې. پکولونه او واسکټونه یې واغوستل او د غاړې دسمالونه یې واچول. نجیب د امنیت دولتي وزیر فاروق یعقوبي ته دستور ورکړ چې د نجیب دیوه بل مشاور جنرال اسحق توخي سره یوځای د خاد اسنادوته اورواچوي او له منځه یې یوسي ترڅو په راتلونکې کې مجاهدین د خاد غړي او کمونستان د جګړې د جنایتکارانو په جرم ونه پېژني او محاکمه یې نه کړي. جنرال توخي د خاد له ٤٠ زره تنو څخه زیاتوکسانو اسناد وسوځول او له منځه یې یووړل. د وطن ګوندلوړ رتبه غړو او د نجیب د کابینې غړیو د کب په ٢٥-٢٦ نونیټو د کابل په ارګ کې اضطراري غونډه وکړې او پرېکړه یې وکړه چې:

١- نور نشي کولی په افغانستان کې خپل واک او اقتدار ته دوام ورکړي. ځکه خو پخوا له دې چې جیلونو ته ولوېږي باید ټول حزبي دفترونه او د جاسوسي فعالیتونو سندونه، مخابرات او د نظامي فعالیتونو دفترونه له منځه یوسي.

٢- دا چې د ملګرو ملتونو له لارې د عبوري حکومت په جوړېدو ټینګار وکړي چې په هغو کې د وطن ګوند هم برخه ولري. که د مجاهدینو له خوا رد شو نو د بې طرفه کسانو د عبوري حکومت پیشنهاد دې وشي همدارنګه له لویدیځو هیوادونو څخه چې دمجاهدینو ملاتړ کوونکي وو هم باید د دیموکراسي د ژوندي ساتلو په نامه د مرستې غوښتنه وشي.

٣- د مجاهدینو له مشرانو سره په تماس کې شي او د هغوی ترمنځ د اختلافاتو څخه باید ګټه واخستل شي. او یا د عمومي بخښنې په پناه کې دهغوی سره ځانونه تنظیم کړي. د مجاهدینو د ګوندونو د ننه خپلو فعالیتونوته دوام ورکړي. ترڅو له یوه پلوه هغوی ونه توانیږي چې یو واحد اسلامي حکومت جوړ کړي او له بله پلوه د دلو په منځ کې تکړونه اقتدار ته د رسیدو لپاره توند کړي.

٤- د قومي، ژبني او آن مذهبي تمایلاتو څخه باید استفاده وشي. باید هڅه وشي چې د وطن ګوند غړي په ټولو ګوندونو کې نفوذ وکړي او په راتلونکې کې بیا هم د هیواد اداري قدرت پخپله ګټه وڅرخوي.

٥- په نړیوالو رقابتونو کې او دا چې امریکا په افغانستان کې د مجاهدینو د اسلامي حکومت غوښتونکې نه ده، باید د لبرالیسم له موضع څخه د دیموکراسي د بیاراتلو لپاره تبلیغات وشي او رژیم دې له هغو څخه خپله پلوي وکړي. همدارنګه د ګاونډیو هیوادونو په رقابت کې باید هڅې وشي چې د دلو

دننه اختلافونو څخه پوره ګټه پورته کړای شي.

همدارنګه نجیب، جنرال نبي عظیمي د دفاع وزارت مرستیال مزار شریف ته واستاوه چې دیوه تاجک جنرال په حیث د جنرال دوستم (ازبک) او جنرال سید جعفر نادري (هزاره) ترمنځ په ائتلاف کې رول ولوبوي او دغه دوه جنرالان چې د رژیم د ملیشه یې قواو څخه وو په مزار شریف کې یوې واحدې اداري جوړولو ته وهڅوي ترڅود وطن ګوند تول غړي شمال ته ورشي اوخوندي پاتې شي. مګرسیاسي اوبښتونونو د هغو دوو جنرالانو تمایل مجاهدینولوري ته زیات کړی ؤ، او له احمد شاه مسعود سره پټو موافقو ته رسیدلي وو، د مزار شریف ښار د مختلفو ډلو ترمنځ ویشل شوی ؤ، او جنرال نبي عظیمي د دهدادي په ګارنیزیون کې غلي پاتې شو چې وروسته یې د عبدالوکیل په منځګړیتوب له احمد شاه مسعود سره د ملاتړ تعهد وکړ.

بینن سیوان هم د مجاهدینو ددریځ په درک کولو سره چې نه یې غوښتل د نجیب رژیم سره ګډ ائتلافي حکومت جوړ کړي له نجیب څخه د استعفی غوښتنه وکړه، هغه په یوه خبري کنفرانس کې وویل: دوه کاله موده بنایي ونیسي چې د افغانستان په لانجه کې یو نړیوال کنفرانس جوړ شي او په دې اړه تصمیم ونیسي. ده د عبوري حکومت غړیو لست چې بې طرفه وو او له مجاهدینو او دنجیب کمونستي رژیم سره یې اړیکې نه درلودې برابر کړ، دغه کسان عبارت وو له: رسول امین، هاشم مجددي، جمعه محمد (محمدي)، ډاکټر ابراهیم عظیم، جنرال یحیی نوروز، عبدالستار سیرت، دکتور کمال هاشم، عبدالصمد حامد، ډاکتر عبدالحکیم طبیبي، پوهاند اصغر، عنایت الله ابلاغ، جنرال عبدالکریم مستغني، پوهاند عبدالسلام عظیمي، سید شمس الدین مجروح او عبدالجبار ثابت.

په نورو راپو رونو کې راغلي دي چې دا لاندیني کسان هم په دې حکومت کې شامل وو:

ډاکټر محمد یوسف، جنرال عبدالحکیم کتوازي، یعقوب لعلي، شمس الرحمن (شمس)، اخترمحمد باختري، ډاکټر عبدالفتاح (نجم)، ډاکټر روان فرهادي، ډاکټر عبدالحلیم او غني غوثي په قوی احتمال سلګروملتونو په نظر کې درلوده چې د عبوري حکومت له فعالیدو سره سم د عمومي بخښنې اعلان وشي، وسله را ټوله شي او د محمد ظاهر شاه د بیرته راستنیدو زمینه برابره شي.

دنجیب د استعفی له اعلان سره د مجاهدینو دری تنو مشرانو صبغت الله مجددي، پیر سید احمد ګیلاني او مولوي محمدي څرګنده کړه چې د مقدماتي چارو دسمون او د واقعیتونو د لیدو په خاطر به کابل ته ستانه شي. د۱۳۷۱لمریز د وری په ٤مه ۱۹۹۲/م د مارچ ۲٤مه نجیب الله د ایران، تاجکستان اوازبکستان له هیوادونو څخه وغوښتل چې د افغانستان په مسئله کې مداخله وکړي او دوینو له توئیدلو څخه مخنیوی وکړي.

# د اوومه برخه اخځونه او پایلیکونه

1:- Reasons of Russian Occupation and dimesions of resistance in Afghanistan, Mohammad Zaman Muzammil, HIA press, September 1981 Peshawar, P. Introduction.

۲- د انجنیر ګلبدین حکمتیاروینا د حزب اسلامی افغانستان د جوړید د اتلسمی کلیزی په مناسبت، شفق مجله د حزب اسلامی خپرنی ارګان، ۱۲-۱۳ مخونه پېښور.

۳- د نړی د اسلامی نهضت سرغندویان، شهید عبدالرحیم نیازی حبل الله مجله ۳-٤ ګڼه، سنبله او میزان ۱۳٦۳ لمریز ۱۹۸٤م سپتمبر، تهران ٥۰مخ.

٤-٥: هماغه سبنع ٥۰مخ.

6: Afghanistan meet Soviet challenge, Rahman Aad B, A, Qureshi, Institute of regional Studies, 1981, P. 5,

7-Idem, P,6.

۸- د افغانستان د اسلامی نهضت تاریخچه میاشتنی (البدر) د اروپا د څانګی د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفترونو خپرنی ارګان دریمه ګڼه دریم کال. ۱۳٦۷ میزان/۱۹۸۸م نومبر پنځم مخ.

۹-۱۰: هماغه منبع ٦ مخ.

۱۱- د حزب اسلامی افغانستان نشراتی ارګان شهادت ورځپانه، د عبدالرب رسول سیاف سره مرکه ۱۳٦۱ لمریز د حمل ٤مه، پیښور او د البدر میاشتنی جریده دریمه ګنه ۱۳٦۷ کال میزان ٦ مخ هالند.

۱۲- د ځاځیو په حسن خیلو کی له حکمتیار سره د کتاب د لیکوال ځانګړی مرکه ۱۳۷٤ کال د میزان ۲۷ مه/۱۹۹٤م د آکتوبر ۱۹ مه د غږکست به هالندکی د افغانستان د تحقیقاتو د انستیتوت په آرشیف کی.

۱۳- افغانستان نوګرایی سیاسی د الیورروا، د ابو الحسن سروقد مقدم ژباره، تهران ۱۱۷ مخ.

۱٤- له حکمتیار سره ځانګړی مرکه اګست په هالندکی د افغانستان د تحقیقاتو د انستیتوت آرشیف.

۱٥- افغانستان، اسلام ونوګرایی، الیور روا ۱٤۸ مخ.

۱٦- افغانستان، اسلام ونوګرایی، الیور روا ۱۹۲ مخ.

۱۷- له حکمتایر سره ځانګړی مرکه، الیور روا ...

۱۸- افغانستان، اسلام ... ۱۱۲ مخ

۱۹- له حکمتیار سره ځانګړی مرکه ..

۲۰- افغانستان، اسلام ... ۲۰۳ مخ

۲۱-۲۲- شهادت ورځپانه، د افغانستان د حزب اسلامی اعلامیه ۱۳٥۸ کال اسد ۱۷ مه ګڼه، ۱۹۷۹م اګست

دوهم کال ٦ مخ پېښور.

٢٣- تحولات سیاسی جهاد افغانستان، ډاکتر ش، ن حقشناس ١٣٦٥ لمریز سرطان، لویدیځ المان ٢٩٠ مخ.

٢٤- شهادت ورځپانه، د حزب ... خپرنی ارګان دریم کال ١٣٥٩ لمریز حمل، دریم مخ، پېښور.

٢٥- تحولات سیاسی جهاد افغانستان، حقشناس، ٣٥٠-٣٥١ مخونه.

٢٦- د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد اعلامیه، په پښتو ژبه ١٣٦٤ لمریز د ثور ٥مه پېښور.

٢٧- د نجات ملی جبهې اعلامیه ١٣٦٢ کال د جوزا میاشت پېښور.

٢٨- د افغانستان مجاهدین د اسلامی اتحا درئیس صبغت الله مجددی لیک خپور شوی د بی بی سی رادیو سرویس ١٣٦١ کال د کب ١٥ مه جمعه، ١٩٨٣م د فبروری ٥مه.

٢٩- دا وو جهادی ګوندونو د مشرانو ګډه اعلامیه، وحدت اسلامی جریده د اتحاد اسلامی مجاهدین خپرنی ارګان، ٨٧مه ګڼه ١٣٦٤ کال د جوزا ١٥مه لومړی او دریم مخونه، پېښور.

٣٠- الصبح جریده، په اروپا کې د حزب اسلامی نمایندګی خپرنی ارګان، ٢٣مه ګڼه ١٣٦٤ کال عقرب ١٩٨٥م اکتوبر، لومړی مخ د المان بن ښار.

٣١- نیوبارګ ته د اتحاد د هیئات د سفر په اړه څیړنه، الصبح جریده ٢٤ مه ګڼه، ١٣٦٤ لمریز کب میاشت ١٩٨٦ کال مارچ دوهم مخ بن، المان.

٣٢- موالات؟ حکمتیار، د حزب اسلامی دنشراتو آمریت ١٣٦٥ لمریز میزان، ١٩٨٦ کال اکتوبر پېښور چاپ.

٣٣-٣٤- (اعلان عفو عمومی) د حکمتیار رساله، په اروپا کې د حزب اسلامی افغانستان له خپرونو څخه ١٣٦٤ کال کب، د ١٩٨٦م کال مارچ، لسم مخ، بن، المان.

٣٥- تحولات سیاسی جهاد افغانتسان، ډاکتر حقشناس، ٣٦٩ مخ.

٣٦- د پیر سید احمد ګیلانی مرکه، مسلم انګلسی ژبی ورځپانه، ١٣٦٧ لمریز د سرطان ١٤مه، ١٩٨٨م د جولای ٥مه، پېښور.

٣٧- سری لښکری په افغانستان کې بوریس ګروموف، د عزیز آرینفر ژباړه، د ایران د بهرنیو چارو وزارت د سیاسی اوْ نړیوالو مطالعاتو مرکز، ١٣٧٥ لمریز، تهران ٨٥ مخ.

٣٨- د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد د شوری اعلامیه، شهادت ورځپانه، ١٢٨مه ګڼه ١٣٦٧ لمریز د مرغومی ٢١مه اتم مخ.

٣٩- په نجراب کې د پنجشیر د مهاجرینو له مسوول (شارقی) سره د لیکوال مرکه، نجراب ولسوالی، ١٣٦٨ کال زمری، ١٩٨٩م اګست او، "پنجشیر در ماتم نشست"، البدر ١٨مه ګڼه ١٣٦٨ لمریز میزان/١٩٨٩م اکتوبر، څلورم مخ لاهد، هالند.

٤٠- د الحاج غلام حیدر ولید دسید جمال ولید له ورور سره مرکه د زبیر تنویر او علی تنویر په مرسته، کندز ولایت، خان آباد ١٣٦٨ کال میزان ١٩٨٩م اکتوبر، د غبر کست د افغانستان د څیړنو انستیټوت آرشیف،

المیر، هالند.

٤١- صبح پیروزی جریده، د افغانستان د لندمهالي حکومت ینشراتي ارگان، لومړی کال دوهمه گنه ١٣٦٨ کال د زمری ٢ مه، پیښور.

٤٢- سید جمال شرعاً په اعدام محکوم شو. شوری جریده، شورای نظار خپرنی ارگان، لسمه گنه دوهم کال، ١٣٦٨ لمریز د سلواغی ١٥ مه ١٩٩٠ م کال د فبروری ٤ مه، لومړی او شلورم مخ.

43- "Hekmatyar warns J.I.", the Frontier Post, 03.09.1989 Peshawar.

44- "Defeated Afghan ex-minister...", The F.P., 17.09.1989 Peshawar.

45- Radio Afghanistan, news service of 28 December 1989 Kabul.

٤٦- شهادت ورځپانه، ٢١٩ مه گنه ١٣٦٨ کال د کب ١٦ مه د ١٩٩٠ کال د مارچ ١٧ مه، پیښور.

٤٨- صبح پیروزی جریده، د موقت حکومت خپرنی ارگان ١٥مه گنه ١٣٦٨ د کب ٢٠ مه/مارچ ١٩٩٠م پیښور.

٤٨: د ډاکتر نجیب بیانیه د افغانستان راډیو، د کب ٢٨ مه ١٣٦٨ لمریز د مارچ ١٩ مه، ١٩٩٠م، دشپې ٩ بجې ٣٠ دقیقې کابل. د غږکست په هالند کې د افغانستان د تحقیقاتو انستیټوت په آرشیف کې دی.

49- "Afghan Mujahedeen leader murdered", ANA "Afghan News Agency", the Frontier post & BBC radio report,31.08.91, Peshawar, Pakistan.

٥٠- د بینن سیوان مرکه له راډیو بي بي سي سره "البدر" ٣١ مه گنه ١٣٧٠ کال لیندی ١٩٩١م دسمبر.

51- "Moskou en VS sluiten Afghanistan akkoord", Telegroaf, 14.09.91 Amsterdam, NL.

52- "Cuellar on intro-Afghan dialogue", APP News agency & Unitede Nations, 09.10.91. NY.

53. "Joining Najib's coalition...", The Frontier Post, 13.10.91., Peshawar.

54- "Gardez on Mujahedeen Target", ANA newsagency, 20.09.91.,Peshawar.

٥٥- جنگ ها بخاطر گردیز و سرنوشت رژیم، دیموکراسی، ورځپانه، د بلغاریې چاپ ١٩٩١ کال د اکتوبر ٤ مه، صوفیه.

56- "Mujahedeen attacks Jelalabad", The F.P., 13.10.91., Peshawar.

57- "Mujadeddi attacks Pakistan army", The F.P.m 26.10.91., Peshawar.

58- "Soviet -Mujahedeen Talks", Reuter newsagency, 12.11.91.

٥٩- البدر میاشتنی جریده، ٣٤ مه گنه ١٣٧١ کال وری، ١٩٩٢م اپریل، لاهه، هالند.

60- "Najib throw ball in Mujahedeen court", The F.P., 19.03.92., Peshawar.

اتمه برخه

# د افغانستان د مجاهدینو اسلامي حزبونه

## د مقاومت د دورې خپروني او ژورنالیزم

تردې مخکې چې د مجاهدینو دګوندي بدلونونو بیو بل پړاو ته ننوزو او د افغانستان د ټولو تنظیمو د ګډې شورۍ، د مجاهدینو د موقت حکومت طرح او د سني او شیعه جهادي ډلو د اختلافاتو په باب چې د ډیرو نورو اختلافاتو د را منځته کیدو سبب شول خپلو څیړنو ته دوام ورکړو، غوره بولم چې د سازمانونو، مشرانو، خپرونو او اطلاعاتي منابعو په باب چې په راتلونکو پیښونو کې رول لرې لنډ بحث وکړم."د افغانستان دوړ وکو سازمانونو او ټولنو په باب د (تاریخ افغانستان در قرن ۱۹ و ۲۰) د لیکوال اثر ته رجوع وکړئ"

د جهادي تنظیمونو جوړښت او کړه وړه د مختلفو عواملو په سبب سهي اداره نه شول او ویې نشو کولی چې د ملت اکثریت چې د کمونستانو اوشوروي تیغ یرغل مخالف ؤ په یوه محور را ټول کړي، پردې سربیره دغو سازمانونو د ملت د سرښندنې او قرباني په سبب ژوند اوبقا درلوده، او د تنظیمونو ټولې ګډوډي او کمزوري د ملت د قرباني په وړاندې پیکه کیدلې، د حزبونو په شاته تګونو کې نور اړخونه هم شامل دي چې له جملې څخه بهرنې نفوذي کانالونه، د تنظیمونو سره مالي مشروطي مرستې، د کار کوونکو بې تجربه ګي، حسادتونه او په لسګونو نوردغسې عوامل چې موږ یې له خپل اصل هدف څخه لرې کړو.

بیا هم د جهاد دوره د عامې سیاسي او شعوري ویښتیا به او د دین او ملي احساساتو دودې په حیث یوه وتلې او د یادونې وړ دوره ده، چې په فرهنګي ډګر کې یې هم یوڅه یادګار پریښې دي، په لنډوددی دوری دسیاسي ګوندونو په شالید، د مجاهدینو د مشر تابه ژوند لیک او د حزبونو ترمنځ اړیکو، لیکوالی او ژورنالیزم او د اطلاعاتي فعالیتونو په اړه بحث ته دوام ورکوم.

### حزب اسلامی افغانستان

حزب اسلامي افغانستان د (ځوانانو اسلامي نهضت) د سیاسي تکامل جریان دی، چې په ۱۳٤۸ کال د حمل په ١٤مه/١٩٦٩م د اپریل ۳مه په کابل پوهنتون کې د عبدالرحیم نیازي لخوا تاسیس

شو، د اجرائیه شورې غړی یې ۱۲ تنه وو، د نیازي له شهادت څخه وروسته انجنیر حبیب الرحمن د دې تنظیم مسوولیت په غاړه واخست د داود په وخت کې نوموړی د کودتا په ګناه ونیول شو او بیا اعدام شو. او د نهضت مسوولیت یې انجنیر ګلبدین حکمتیار ته وسپاره. په ۱۹۷۷/۱۳۵٦ کال د لومړي ځل لپاره په پیښور کې ددې سازمان د غړیو ترمنځ انتخابات وشول چې د ۱۳۲ رایوڅخه ۱۱۱ رایې حکمتیار یووړې او د ځوانانو د اسلامي نهضت د مشر په توګه غوره شو. نوموړي په هغه سیاسي تګلاره کې چې اعلان یې کړه د سازمان نوم یې په حزب اسلامي افغانستان واړاوه، وروسته برهان الدین رباني عملاً له دې سازمان څخه بېل شو او ځانګړی تنظیم یې د جمعیت اسلامي افغانستان په نامه جوړ کړ.

حزب اسلامي د دوو قانون نامو، "اساسنامې او د دغړو مسئولیتونو" درلودونکی دی. چې د دې سازمان هر غړي پرې تعهد درلود. حزب اسلامي یو د اساسي سازمانونو څخه دی چې د محمد ظاهر شاه او محمد داؤد له رژیمونو سره مخالف ؤ او بالاخره یې د کمونستانو پر خلاف وسله وال جهاد اعلان کړ اود ډیرو زیاتو قربانیو په ورکولو سره د شوروي یرغلګرو قواوو په ماته کې اساسي رول لري په تشکیلاتي لحاظ یې تنظیمي تګلاره په شپږو فصلونو کې بیان کړې ده. د حزب اسلامي په مرامنامه کې په سریزه کې د عمومیاتود بحث په جریان کې لیکي (... په دې ځمکه کې هغه فرهنګي او سیاسي فعالیتونه چې د غیر اسلامي عقایدو او د خپریدو لپاره په لار اچول کیږي او هغه ناروا هڅې چې زموږ اسلامي ټولنه په یوه غیر اسلامي ټولنه بدله شي... زموږ د تاریخي هیواد د ورکولو سره مترادفې دي ... د دغسې فعالیتونو پر خلاف به مبارزه کوو. (۱)

په دې عمومي بحث کې همدارنګه د ځمکنۍ بشپړتیا په دفاع، استقلال او د هیواد د بشپړیو والي او د هیوادو مشرتا به او د سیاسي سازمانونو د مسوولیتونه او په ځلورو مادوکې د فرد مسوولیتونه تشریح شوي دي او په ځانګړیو فقروکې قانون نامه بنودل شوي ده ... د دې مرامنامې لومړۍ برخه د قانون، دوهمه یې د مذهبي او اخلاقي اصلاحاتو، دریمه د ښوونې او روزنې، ځلورمه د اداري نظام، پنځمه د اقتصادي امورو، کرنې، سوداګرۍ، د کارګرانو او مامورینو د حقوقو اوعامو اقتصادي اصلاحاتو د ځانګړیو سکتورنو په باب او په شپږمه برخه کې د بهرنۍ سیاست په اړه بحث شوی دی.

<u>*د افغانستان د اسلامي حزب "مسوولیت های عضو":*</u> دغه قانون نامه چې د اساسنامې د مرستندویې په توګه ده د هرغړي د پابندۍ او منلو لپاره تاکل شوې ده، دهغه سازمان د هر غړي لپاره یې مسوولیتونه او مکلفیتونه تاکلي دي، ددې رسالې په سریزه کې راغلي دي: ...کوموکسانو چې د حزب اسلامي افغانستان غړیتوب ترلاسه کړی دی او هغوکسانو چې تصمیم نیولی د دغو خدای پالو مبارزینو په لیکوکې ځای ونیسي، عقیده، اخلاق عبادت اوکړه وړه یې باید د دې برنامې سره سم عیار کړي او د نهضت دیوه عزتمن غړي په توګه دې خپلو ایماني مسوولیتونو اداکولو ته چمتوشي. (۲)

د غړیو مسوولیتونه په ۱۸ فصلونو کې تیار شوي چې عبارت دي له: ۱- عمومیات، ۲- د عقیدې په

ساحه کې ٣- پر خدای ایمان، ٤- پر ملایکو ایمان، ٥- پر اسمانی کتابونو ایمان، ٦- پر پیغمبرانو ایمان، ٧- د آخرت پرورځ ایمان، ٨- پر قضا و قدر ایمان، ٩- د عمل په ساحه کې، ١٠- د شخصي ژوند په ساحه کې، ١١- د ټولنیز ژوند په ساحه کې، ١٢- کورنی مسوولیتونه، ١٣- د مسلمانو ورونو په وړاندې مسوولیتونه، ١٤- حزبي مسوولیتونه، ١٥- ټولنیز مسوولیتونه، ١٦- د شورى د غړو مسوولیتونه، ١٧- د امیر مسوولیتونه، ١٨- پایله.

<u>د حزب اسلامي افغانستان اداره:</u> دغه اسلامي سازمان د ١٣٥٦/١٩٧٧م کال څخه وروسته چې د درې سوه تنو په شاوخوا کې مهم غړي يې له لاسه ورکړل او د داود رژیم د کودتا په تور هغوی په ١٣٥٣ او ١٣٥٤ لمریز ١٩٧٤م، او ١٩٧٥ کلونو کې زندان ته واچول پاتې غړيو يې پاکستان ته پناه یووړه، د ذوالفقار علي بوټو حکومت د سیاسي دلایلو په اساس اسلامي بنسټ پالوته ځای ورکړ ددغه سازمان لومړنی دفتر د پېښور په فقیر آباد کې ؤ، چې وروسته يې په کوهاټ روډ "سیفن" او له هغه وروسته يې بیا شمشتو کې مرکزونه جوړ کړل او د افغانستان د عنعنوي اداري په څېريې مختلف مرکزونه او اداري جوړي کړې.

*د ژباړن یادښت:* د حزب اسلامي لومړنی دفترونه په نشترآباد او ځینې ځانګې په بیروسکو او مترو کې وې.

حزب اسلامي دغه کمیسونونه لري: سیاسي، دعوت او تنظیم، نظامي چې دورسک په سیمه کې يې موقعیت درلود، ښوونه او روزنه، مالي، عامې روغتیا، ټولنیزې رفاه، فرهنګي او دمهاجرینو کمیسون، د دغه سازمان نظامي کمیټې دولایت نظامي کمیټو څخه جوړې وې چې د هر ولایت مجاهدینو د هماغه کمیټې د صلاحیت په ساحه کې فعالیت درلود.

حزب اسلامي افغانستان د خپلو کارونو د ګړندیتوب لپاره په کویټه کې د جنوب لویدیځې حوزې په نامه د پېښور معادل تشکیل جوړ کړ چې مسوولین يې په ترتیب سره ډاکتر محمد حنیف، مولوي جانباز سرفراز او مولوي جلال وتاکل شول.

## <u>د افغانستان د ښځو اسلامي تنظیم</u>

### د افغانستان د ښځو لومړنی اسلامي سازمان

د افغانستان د ښځو اسلامي تنظیم د لومړي ځل لپاره په ١٣٥٨/١٩٧٩م کال په پېښور کې جوړ شو، رئیسه يې فاطمه یاسر ده، دحزب اسلامي د ښځو د اسلامي تنظیم تر ١٣٧١/١٩٩٢م، پورې په همدې نامه خپل کار ته دوام ورکړ، چې په سیاسي، ښوونه او روزنه ښځې مرستو او د مسلکي مهارتونو زده کړو په ځانګو کې يې فعالیت کاوه، په فرهنګي ساحه کې يې د افغانستان د مسلمانو ښځو د اهدافو او د مجاهدینو په دفاع کې فعالیت درلود، دغه سازمان وروسته بیا داجتماع زنان افغانستان په نامه بدل شو او

مرکز یې د مجاهدینو له بری وروسته کابل ته ولېږدول شو.

خو د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د اختلافونو په سبب یې د کار ساحه نه درلوده او بیرته یې اداره او ښوونځي پېښور ته را ولېږدول، د ښځو اسلامي تنظیم اوس په پېښور کې د څو لومړنیو، منځنیو او عالي ښوونځیو درلودونکي دی او د پوهنتون په سطحه یې یو علمي مرکز هم جوړ کړی دی چې یو زیات شمیر نجوني پکې زده کړې کوي.

د افغانستان د ښځو ټولنه ځانګړی مرامنامه لري چې د اولې څخه تر پنځمې مادې پورې د اسلام د اساساتو او افغاني مقبولي عنعنې په اساس د ښځو د مدني او ټولنیزو حقوقو، د تأمین لپاره او د افغاني ښځو ترمنځ د بشپړیو والي، همغږي او تفاهم د منځته راوړو لپاره، په ملي او بین المللي مسایلو کې د ښځو د مناسب اوورمقام د ترلاسه کولو، د ښوونې او روزنې د رواج او عامولو، د افغاني مېرمنو د ټولنیز، اقتصادي، روغتیایي او فرهنګي حالت د غوره کولو غوښتونکي دی. (۲)

دغه سازمان څلور کمیسونونه، د ټولنیزو چارو، فرهنګي، روغتیایي او بین المللي روابطو لري.

## د ګلبدین حکمتیار ژوندلیک

ګلبدین حکمتیار د حاجي عبدالقادر زوی او د عطا محمد خان لمسی دی د ۱۳۲۷ لمریز په میزان، ۱۹٤۸م په اکتوبر کې د کندز په ولایت کې د آمودسیند په غاړه د امام صاحب په ولسوالي کې زیږیدلی، د حکمتیار کورنی په هماغه کال له غزنې څخه کندز ته تللې اومیشته شوې ده، دی د خروټي قوم څخه دی چې دپکتیا او غزنې د پښتنو قومونو له جملې څخه دی، د خروټي قوم د افغانستان د کوچي قومونو له جملې څخه دی چې تل د پاکستان او افغانستان په منځ کې په تلو را تلو کې وي، پلار او درې ترونه یې د حاجي غلام قادر، غلام سرور او عبدالمالک په نومونو د داود په وخت کې زنداني او د تره کي په دوره کې شهیدان شول، د حکمتیار د بل نیکه نوم حکمت خان ؤ، چې دخپلې کورنۍ په ښوونه او روزنه کې یې ځانګړی پاملرنه درلوده په همدغه مناسبت یې دغه کورنی نوم ځان ته غوره کړ... د حکمتیار کورنۍ کر ګر او کوچیان وو، ده په ماشومتوب کې له توپ ډنډې سره زیاته مینه درلوده، لومړنی ښوونځی یې په امام صاحب کې لوستی او په حربي ښوونځي کې یې ترا تم ټولګي پورې د کابل په مهتاب قلعه کې درس ویلی، د نهم ټولګي څخه تر دوولسم پورې یې د کندز په شیر خان لیسه کې زده کړې بشپړې کړې او د ښونومرو په درلودو د کابل پوهنتون په انجنیری پوهنځي کې شامل شو. هغه د انجنیری له مسلکي کتابونو څخه علاوه د اسلامي کتابونو له مطالعې سره زیاته مینه درلوده اوزیاته مطالعه یې کړې ده.

او هغه مهال چې محصل ؤ سیاسي فعالیتونو زور واخست او د پوهنتون په جوماتکې یې له ۱۱ تنو نورو سره د افغانستان د ځوانانو اسلامي نهضت بنسټ کیښود، نو موږی هغه مهال چې عبدالرحیم

نیازي د نهضت مشرۀ د فرهنګي چارو مسوول ؤ، د انجنیر حبیب الرحمن په وخت کې د نظامي چارو مسوول ؤ، حکمتیار په ۱۳۵۱/۱۹۷۲م کال د سیدال سخندان چې د شعله جاوید د مائویستي ډلې یو تن مشرۀ د وژلو په تور یو نیم کال جیل ته ولوید.

د تحصیل په وخت کې یې دوه ځله د محصلینو په اتحادیه کې د مسلمانو ځوانانو په نمایندګي اجرایي رول درلود.

حکمتیار په ۱۳۵٤/۱۹۷۵م، کال د داود پر خلاف د کودتا او پاڅون پلان طرحه کړ، چې د کودتا د پلان د تغییر او د یوه فعال غړي د نیول کیدو په سبب چې اسناد او طرحه بشپړه ورسره وه دغه پاڅون له ناکامۍ سره مخ شو. او نوموړی یو کال ترڅارنې لاندې په سراسر افغانستان کې غلی ګرځیده. په ۱۳۵٦/۱۹۷۷م کال د سرحد څخه بهر د اسلامي نهضت په لومړنیو ټاکنو کې چې په پیښور کې ترسره شوې حکمتیار د نهضت د مشر په توګه وټاکل شو، اود (سازمان جوانان مسلمان) نوم یې په حزب اسلامي افغانستان بدل کړ، نوموړی د ۱۳۵۷/۱۹۷۸م څخه وروسته عملاً په وسله وال جهاد کې برخه واخسته، په ۱۳٦۱/۱۹۸۲م کال د اتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان په نامه اتحاد کې حکمتیار د سرستیال په توګه غوره کړای شو. په ۱۳٦٤/۱۹۸۵م، د مجاهدینو په ائتلاف کې د ائتلاف د رئیس او ویاند په حیث او په ۱۳٦٥/۱۹۸٦م کال د لنډمهالي حکومت په تشکیل کې یې د بهرنیو چارو وزارت واخست او دمجاهدینو د حکومت په رسمیت پیژندلو په اړه یې په بین المللي سطحه هڅې وکړې او فعال رول یې ولوبا وه ... د مجددي په مشرۍ د موقت حکومت د جوړیدو په وخت کې یې د مجاهدینو له اتحاد سره اړیکې وشلولې او د کابل رژیم او روسي پوځونو پر خلاف حزب اسلامي افغانستان د مقابلې ابتکار په لاس کې واخست، تردې چې له یوه پلوه د دوی اطلاعاتي هڅې او بل لوري ته د عمومي بخښنې اعلان ددې سبب شول. چې د کابل رژیم لوړ رتبه غړي له حزب اسلامي افغانستان سره اړیکې ونیسي او ورته جذب شي. شهنواز تنې دنجیب د دفاع وزیر ئې د نجیب پر خلاف د کودتا په اقدام کې حمایه کړ، که څه هم دغه کودتا ناکامه شوه خو د کابل رژیم په نسکوریدو کې یې ډیرې بدې نتیجې هغوی ته درلودې.

حکمتیار له ۱۳۷۱/۱۹۹۲م څخه وروسته په نړیواله سطحه منزوي شو او د سینه والو هیوادونو سیاسي او نظامي مرستې پرې بندې شوې، په همدې کال د نورو تنظیمونو د عکس العمل په سبب یا د حزب اسلامي د اشتباهاتو په سبب او یا د نورو د بې باورۍ په نتیجه کې د مجاهدینو په منځ کې سخت اختلافات را څرګند شول.

دبرهان الدین رباني اقتدار ته رسیدل اودکابل په اداره کې داحمد شاه مسعود رول حکمتیار وسله والو نبنتو ته کش کړ، اوده خپل مرکز له پیښور څخه د کابل جنوب څنډې چار آسیاب ولسوالي ته ولیږ داوه.

د نجیب نه د قدرت اخستل او د مجاهدینو په دلوکی دکمونستي رژیم د ملیشو څواکونو ننوتل، د جهادی دلو د خپلسر یو پروګرامونه، د جهاد د لیکوګډوډیدل او د فاسدو او لوټمارو افرادو ورننوتل اود قومی خلکو لخوا د ولایتی سازمانونو جوړیدل، د ولایتونو خپلسری او استقلال، د قومانداناننو خیانت او له سرحد څخه بهر یی دوسلو خرڅول. او د تنظیمونو اساسانونه نه پابندی او نوری په لسګونو دغسی ربړی د مجاهدینو د اداری د اختناق سبب شوی. اود مشرانو ترمنځ په تیره د احمد شاه مسعود او حکمتیار ترمنځ د واتن زیات شو.

د طالبانو د تحریک په منځته راتلو سره چی دپورتنیو عواملو له امله زمینه ورته برابره شوه د قواو توازن ګډوډشو، اود تنظیمونو د خپلمنځی اختلافونو او داخلی جګړو له امله د افغانستان ولایتونه یو پربل پسی د طالبانو ترواک لاندی راغلل، او د ۱۳۷۳ د سلواغی په ۲۵مه ۱۹۹۵ کال د فبروری ۱٤مه په چار آسیاب کی دحزب اسلامی مرکز طالبانو ونیو، حکمتیار له خپلو قوتونو سره سرو بی او جلال آباد ته په شاراغی، د ۱۳۷٤ کال په سنبله کی ۱۹۹۵/ په ستمبر کی د ربانی حکومت د حکمتیار غوښتنو ته تسلیم شو او د بی باوری په فضا کی شکلی ائتلاف د حکمتیار او احمد شاه مسعود ترمنځ منځته راغی. دکابل اداری غوښتل چی د حزب اسلامی د قواو څخه په استفادی سره د طالبانو په مقابل کی چی غوښتل یی کابل ونیسی مقابله وکړی. او حکمتیار د افغانستان د بی صلاحیته صدر اعظم په توګه په کابل کی وظیفه اشغال کړه. د ۱۳۷٤ کال د میزان په ۳مه/۱۹۹۵م د سپتمبر په ۲۵مه په سروبی کی د حزب اسلامی نظامی مرکز د طالبانو په لاس کی سقوط وکړ، او دوی ورځی وروسته حکمتیار له ربانی، مسعود او سیاف سره په هلیکوپتر کی پنجشیر او له هغو وروسته تخار ته ولاړ. نوموړی شپږ میاشتی په بغلان کی د حزب اسلامی له قوماندان بشیر خان سره چی د مسعود مخالف او د طالبانو پلوی ؤ پاتی شو. چی د سیاسی او نظامی فعالیتونو زمینه ډیره لږ ورته برابره وه. پر شمالی د طالبانو د حملی سره حکمتیار د الوتکی په واسطه د هیواد له شمال څخه تهران ته ولاړ، څکه چی پاکستان له حکمتیار سره په خپلو اړیکو له سره غور وکړ او د طالبانو تحریک یی د مجاهدینو په نسبت زیات حمایه کاوه، چی دی عامل پر حکمتیار د پاکستان ته دتلو دروازی وتړلی، نو سوری د یوی وړوکی غیرفعالی، شوری پرمحور د سیاسی فعالیت نه پرته چی پرځان یی راتوله کړی ده، پر خپل سرتصمیمونه نیول. دغی عامل د حزب اسلامی دننه جوړښت او اداره سره وپاشله، او په ډیره غیر مسوولانه طریقه یی د حزب اوچت غړی له ځانه لری کړل.

حکمتیار یو ځل بیا په ۱۹۹۷/۱۳۷٦م کال مزار شریف ته ولاړ او خپل مرکز یی د بلخ په ولسوالی کی دده دیوه قوماندان جمعه خان همدرد په همکاری جوړ کړ، خو د هیواد په شمال د طالبانو قبضه هغه بیرته تهران ته تیښتی ته اړ کړ. او اوس خپل اهداف د میثاق ایثار په نامه یوی جریدی په سطحه په محدوده ساحه کی خپروی او دغه سازمان په بنیادی واقعیت کی سره پاشل شوی دی. (۱)

حکمتیار سره له دې چې په افغانستان کې د انتخاباتو او د شورې د روش پلوی دی. خو عملاً یې د حزب اسلامی د ننه په تشکیلاتو کې د خپلسرې روش ته دوام ورکړی، چې دوهم سړی او یاقوی شوری چې د راتلونکې قیادت بدیل وی را منځته نه شول، هغه پر پښتو او دری برسیره په عربی، اردو او انګلیسی ژبو هم بشپړ مسلط دی.

## د انجنیر ګلبدین حکمتیار آثار

حکمتیار د مبارزی د کلونو په دوران کې په فرهنګی ډګر کې هم اوچت ګامونه اخستی دی، اود افغانستان د پیښو د سیاسی تحلیل او عقیدتی مسایلو په باب یې یو شمیر کتابونه لیکلی دی چې عبارت دی له:

١- د ملتونو دعروج اوزوال عوامل، ٢- امت اسلامی، ٣- تجلی ایمان درقول و عمل، ٤- جنګ از دیدګاه قرآن، ٥- حل سیاسی قضیه افغانستان، ٦- قرآن او اسیر ملتونه، ٧- مسوول قوماندان ته خطاب، ٨- درسی از عاشورا، ٩- حقیقت نفاق از دیدګاه قرآن (دغه اثر په ترکی او اردو هم ژباړل شوی او خپور شوی دی.)، ١٠- تقدم شعور بر ماده، دغه اثر په ترکی هم ژباړل شوی دی. ١١- د اسلام تیربرم ته د رسیدو لار. ١٢- ابراهیم در آزمون خدا(ج)، ١٣- هماغه د اسلام تاریخی لار، ١٤- اسلامی امت جوړ کړی، ١٥- معلم یا د فکری سنګر قوماندان، ١٦- خندق داران اتش، ١٧- کلید قرآن، ١٨- ویژه ګی های صف اسلامی، ١٩- راه حل سیاسی افغانستان، (په ترکی، انګلیسی، عربی او المانی هم ژباړل شوی) ٢٠- فکر آخرت، ٢١- د انقلاب دری مهمی قضیی او زموږ دریځ، ٢٢- عروج و نزول بنی اسرائیل، ٢٣- تقاضای ایمان و پاسداری از آن، ٢٤- دا د کابل غم ولی؟ ٢٥- موالات، ٢٦- سید احمد شهید، ٢٧- خدا، قرآن، انسان، ٢٨- آیا بحران افغانستان راه حل دارد، ٢٩- عقیده ما، ٣٠- خاطرات حکمتیار از حوادث افغانستان (در سه جلد). د ژباړن یادښت: د حکمتیار زیاتره خپاره شوی آثار بیاینی دی چې را ټولی شوی نه مقالی، همدارنګه دنوموړی د یادښتونو لوسړی توک د پټی توطی او بربنډی څیری په نامه نوی په پیښور کې چاپ شوی دی.

# شهادت

## د افغانستان د جهاد لمړنی جریده او ورځپانه

کال او د تاسیس ځای: ١٩٧٨/١٣٥٧م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی افغانستان د ارشاد او فرهنګ کمیسون، سرمحرر او یا مسوول مدیر: سید عمر اعزامی، محمد نذیر بشارت، محمد معروف فروغګر، قریب الرحمن سعید چاپ شمیر: له ٢-٨ زره ګنو پوری، د خپرونی دول:

جریده او نیزه، دوه ځله په اونۍ کې او ورځپانه، ژبه: پښتو، دری، کچه: په اوله او دوهمه ګڼه کې ۲۱x۲۹ سانتي متره په ځلورو مخونو کې، یو رنګ پنځلس ورځنۍ، د ۳-۱٤مې ګڼې پورې په ۲٥x٤۰ سانتي متره او له دوهم خپرنې کال نه وروسته په دوو رنګونو کې په ۳۰x٤٥ سانتي متره، او بیا په ٤۲x٥۸ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: د ۱۳۷۷ کال پیل د ۱۹۹۸م کال اپریل، محتوی: خبرونه او په سیاسي، ټولنیزو برخو کې مقالې، د حکمتیار وینا وې او د حزب اسلامي اعلامیې.

یادونه: د ۱۳٥۹ کال د ثور له میاشتې وروسته په دریم خپرنې کال د اروپا د برخې دحزب اسلامي نمایندګي د المان په بن کې شهادت د ۳ زرګنو په شمیر بیا چاپاوه. شهادت ورځپانې په څلورم خپرنې کال نزولي حرکت پیل کړ او په یوه رنګ په میاشتنۍ جریده بدله شوه، په ۱۳٦۲/۱۹۸۳م کې په پنځلس


استاد ربانی عطش شهید


دکتور محمد عمر شهید


انجنیر حبیب الرحمن شهید


سیف الدین (نصرتیار) شهید

شهادت

شماره مسلسل (٥٩) سال دهم شماره دوم چهارشنبه ١٩ سنبل سال ١٣٩٩ عقرب ربیع الاول ١٤٠٥


مولوی حبیب الرحمن شهید


مرحوم استاد عبدالرحیم (نیازی)

شاید شما شاه مخلوع را بیاورید تا به جرم جنایات نا بخشودنی اش بدست ملت انقلابی ما محاکمه شود زیرا تنها ظاهرشاه مجازات نشده و هنوز جزای خود را ندیده است.

★ آن عده از علمای حقانی که باوجود شرایط نامساعد مرگی را براه انداختند فریب روحانی نماهای درباری سرکوب شدند.

★ ازلحاظ اجتماعی انقلاب ما پیروز شده است امروز قیادت هدفمند و متعهد در همه سطوح جای قیادت گذشته را اشغال کرده است.

جمعیت باید بداند که عودت شاه یعنی تکرار فاجعه هرگز به تکرار فاجعه راضی نخواهد شد.

فاصله این عوام و روشنفکران باید می شد که امکان یک انقلاب ضد نظام برای همیش از بین برود.

# علمای کشور ما که باید نهضت را رهبری میکردند حکمتیار
# مظلوم ترین و محروم ترین طبقهٔ کشور ما را تشکیل میدادند

ملت بعد ازین دارای عقیدهٔ روشن اسلامیست آنها دیگر شاه را به عنوان ذات متقدس نه می شمارند که ملت ولی کمرش را بسته ، واجب الاحترام وغیر مسؤل باشد

صفحه (٤)

● شاه گفت که اشتراکی های عطری ازین بیرق های سرخ نیست خطر از بیرقهای سبز است.

★ برای نهضت اسلامی ما جز راه تصادم بارژیم راه دیگری نمانده بود سکوت و انتظار برای فرصت مناسب برای رژیم مهلت میداد تا پایه هایش را استوار تر بسازد و نهضت اسلامی را سرکوب کند.

هدف همهٔ ملت ما حکومت اسلامی است حتی به حکومت مختلط نیز راضی نیستند به حکومت ائتلافی هم قانع نمی شوند، میگویند حکومت صد در صد اسلامی تحت قیادت یک چهرهٔ مطمئن اسلامی.



## د پاک په علاقه داری کی د دښمن شل تنه ووژل شول

## ۱۵۰ کسه روسی مزدوران ووژل شول

باز هم دروغ پراگنی رادیو بی - بی - سی دستگاه تبلیغاتی غرب در مورد قضایای افغانستان افشاء گردد

صفحه (٥)

یک پروند هلیکوپتر سرنگون و ششتن هلاک گردیدند

## ۲۰ تن از عساکر روسی به هلاکت رسیدند

تقریباً ۳۰۰۰ تن از فرماندهان و مجاهدین بسته های مربوط ولایات جنوب غرب افغانستان باهمدیگر واحد خواهان قیادت جهادی برای آیندهٔ افغانستان شدند.

## ۱۷ میل سلاح بدست مجاهدین غنیمت گردید

## په غزنی کی د (ملی پخلاتوب!) تبلیغی دلگی له منځه یوړل شو

دکوه دلگی نخانه ووژل شول

دستور خروج هفت دیپلومات روسیه در پاریس صادر گردید

ترکیه حملات هوائی آخیر رژیم ملحد کابل بر مناطق سرحدی پاکستان را محکوم کرد

## عملیات مشترکه مجاهدین حزب اسلامی وجمعیت اسلامی در ولایت هرات تلفات سنگینی به دشمن وارد آوردند

احتمال شرکت جبهه اسلامی سردار در دولت

صفحه (٩)

تنگ است برمسلمین که اجازه بدهند مسائل مسلمین در کنفرانس های بین المللی که توسط امریکا و شوروی برپا می گردد حل وفصل شود

صفحه (٥)

دکتور عبدالرحمن

رهبر جماعت الجهاد مصر



سفارت ایران در بیروت دوباره کارش را آغاز کرد

صفحه (٩)

مسلمانان در کویت شکنجه می شوند

مسلمانان روسیه مجبور گردیدند تا تعدادی اولادی را کاهش دهند

صفحه (٩)

کنفرانس مسلمانان امریکای لاتین

صفحه (٩)

وضع صحی رئیس جبهه اریتریا وخیم است

صفحه (٩)



کسانیکه شاه پرست اند برای اعاده رژیم منحط شاهی چشم امید بسته اند ازصفوف ملت ما تجرید شده اند و در مقاومت یا اصلا نقشی ندارند و یا رول شان سخت ضعیف و ناچیز است

د شهادت ورځپاڼې د افغانستان د مجاهدینو لومړنی نشراتی ارګان

ورځنۍ جریده بدله شوه، په اتم خپرنی کال ١٣٦٤کب/١٩٨٦م فبروری کی په دوو رنګونو په لویه کچه ٦٦X٤٤ سانتي متره په شپږو مخونو کی چاپیدله. په ١٣٦٦ کال حمل/١٩٨٧م مارچ کی شهادت ورځپانه شوه او په پیبنور کی په اونی کی پنځه ځلی خپریدله، د مخونو شمیریې له ٨-١٢ پوری ورسید چاپ دوه رنګه او شمیریې د ٥-٨ زره ګنو پوری ؤ.

د ١٣٧٧ کال په پیل/١٩٩٨م په جنوری کی دخپرونی د چلوونکو د داخلی نظر اختلافونه له یوه پلوه او د حزب اسلامی او پاکستان د حکومت ترمنځ اختلافات بل لوری ته او بالاخره د حکمتیار عکس العمل ددی ورځپانی عمر پای ته ورساوه.

د خپرونی نوم: *شهادت*

کال او د خپریدو ځای: ١٣٦٦ سلواغه/١٩٨٨م، جنوری، سندیګو، امریکا، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د حزب اسلامی نمایندګی، سرمحرر: نه لری، شمیر: (٥٠٠-١٠٠٠ګنی) د خپرونی ډول: خبری میاشتنی په مختلفو مخونو، ژبه، پښتو، دری کچه: ٢١X٢٩ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ١٣٧١ مرغومی/دسمبر ١٩٩٢م، محتوی: د شهادت ورځپانی د مقالو او خبرونو کاپی.

د خپرونی نوم: *شهادت (افغان مجاهدین کا ترجمان)*

کال او دخپریدو ځای: ١٣٥٩/١٩٨٠م، پیبنور، شمیر: ١٥٠٠ګنی د خپرونی ډول: خبری میاشتنی، ژبه: اردو، کچه: ٢٩X٤٢ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦١ سرطان/١٩٨٢م جولای، محتوی: مقالی، خبرونه او اعلامیی.

د خپرونی نوم: *شهادت جوانان*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦١/١٩٨٢م، پیبنور، شمیر: ضمیمه او یا مستقل (١٥٠٠) ګنی د خپرونی ډول: مجله نامنظمه، یورنګ، ٦٠ مخونه، ژبه، پښتو او دری کچه: ٢١X٢٩ سانتی متره، د خپرونی دکار پای:؟ محتوی: ټولنیزی او سیاسی مقالی او راپورونه.

## خواهر شهید

### *د کابل د مجاهدینو لومړنی پټه خپرونه*

د افغانستان د مجاهدو ښځو لومړنی خپرونه چی پټه په کابل کی خپریدله "خواهر شهید" وه، دغه خپرونه په خپله لومړنی ګنه کی د خپل نشراتی مرام په اړه لیکی:

د آزادی دلاری دشهیدانو د وینو نمانځلو په خاطر او د سوسیال امپریالیزم استعمار او ستم پرضد د وطن د سبارزو خویندو او ورونو په تیره هغو ورونو او خویندو د قربانی او شهامت د نمانځنی لپاره چی د ١٣٥٩ کال د ثور په لومړی لسیزه کی یی د حاکمی طبقی او د دوی د بادارانو د طاغوتی زنځیرونو د شلولو

په غرض د شهادت جامونه پرسر واړول د حزب اسلامی افغانستان غړیو تصمیم ونیو چې یوه خپرونه د "خواهر شهید" د افغانستان د اسلامی انقلاب د ټولو شهیدانو د اروا په نامه چې د نړیخور استعمار او دهغوی د نوکرانو په مقابل کې شهیدان شوي دي ولري او خپلو هیوادوالو ته يې وړاندې کړي. (٥)

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٥۹ لمریز د ثور ۱٥مه/ ۱۹۸۰ د مې ٥مه کابل، خپروونکي او د امتیاز خاوند: دکابل پوهنتون د محصلینو اسلامي انجمن/حزب اسلامی افغانستان، سرمحرر: ظریف، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: نامنظمه خبري او نیزه، یورنګ، ٤ مخونه د ګستتنر چاپ، ژبه: دری، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۹۸۱/۱۳٦۰م، داتوګنو، خپریدو څخه وروسته، محتوی: خبرونه، مقالې، اعلامیې او حماسي شعرونه.

<u>د خواهر شهید دوهم خپرنې پړاو:</u> د رژیم په مقابل کې د کابل د ځوانو د ښوونځیو د پاڅون او دناهید او وجیهې د شهادت نه وروسته چې د هغو مبارزو د اهدافو د ژوندي ساتلو لپاره په ۱۳۷۱ د سلواغې په ۹مه/۱۹۹۳م جنوري ۲۹مه خواهر شهید د البدر د ضمیمې په توګه د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفتر لخوا دوهم ځلې خپره شوه، په پرله پسې ۹مه ګڼه (دوهم پړاو لومړۍ ګڼه) کې راغلي دي... په هغه وخت کې په کابل کې د استاد اکبر او مدیر نصرت په لارښوونه د دعوت حلقې فعالې وې، " او (خواهر شهید) په کابل کې د جهاد لومړنې بیانوونکې خپرونه وه چې پټه چاپیدله او د ښځو په ټولو ښوونځیو کې ویشل کیده. دغې خپرونې تبلیغي او اصلاحي اړخ درلود، ... خواهر شهید په حقیقت کې د مسلمانو خویندو د ارمانونو د تحقق لپاره په کابل کې روښنې خپرونه وه او دا دې د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر د اروپا په برخه کې د ښځینه طبقې لپاره فرهنګي حلقه جوړه کړي. (٦)

کال او د خپریدو ځای: ۱۳۷۱لمریز سلواغه/۱۹۹۳م جنوري، لاهه هالنډ خپروونکي او دامتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر سر محرر: انجنیر محمد نذیر (علی) تنویر، شمیر لس زره ګڼې، دخپرونې دول: سیاشتنی د البدر ضمیمه، دوه رنګه، دوه مخونه، ژبه: پښتو او دری. کچه: ٤٢x٣٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري. محتوی: په افغانستان او نړۍ کې د ښځو د حقوقو په اړه خبرونه او راپورونه، او په ټولنیزو- سیاسي او فرهنګي چارو کې د مسلمانو ښځو درول په باب مقالې.

## ANA "Afghanistan News Agency" "انا"

### د مجاهدینو لومړنې خبري آژانس

د افغانستان د مجاهدینو لومړنې خبري آژانس د افغانستان د اسلامي حزب په ابتکار په ۱۹۸٥/۱۳٦٤م کال په پېښور کې جوړ شو. دغه خبري او اطلاعاتي مرکز د خبرونو او تبصرو د ترلاسه کولو لپاره داسې لاره غوره کړه چې د مجاهدینو د اهدافو بیانوونکې ده. د انا خبري آژانس رئیس قریب

الرحمن سعید ؤ. او د زیاتره خبرو نو د رښتیا توب په خاطر دغه آژانس د پاکستان او نړۍ په خپرنیو وسایلو کې ډیر زر ډیر اعتبار تر لاسه کړ. او د پاکستان په همکارۍ یې مرکز له پیښور څخه اسلام آباد ته ولیږداوه. همدارنګه د انا خبرې آژانس د کار ساحه پراخه شوه او د تلکس، فکس او له نورو خبرې آژانسونو نه د خبرونو د اخستلو په تیلي پرنټر وسایلو مجهز شو.

انا هره اونۍ یو خبري بولتین په پښتو او درې د "گزارش های خبری هفته" په نامه او په انګلیسي ژبه *Press Release* خپرول، وروسته د انا د تبلیغاتي کار ساحه نوره هم پراخه شوه او د "راديوګانو او ریډلو مدیریت" په نامه یې یوه بله څانګه په تشکیل کې زیاته شوه چې یوه اونیزه خپرونه یې (رادیو های جهان چه میګویند) په نامه خپروله، او دراډیوګانو ټول راپورونه او خبرونه په تیره دنړۍ د پښتو او درې سرویسونو راپورونه یې دوهم ځلي خپرول.

د انا خپاره شوي راپورونه د بي بي سي، امریکا غږ، آل انډیا، راډیو کابل، رادیو مسکو، آلمان غږ، افغانستان آزاد، عربستان راډیو، د چین راډیو، او اسرائیلو راډیوګانو څخه وو.

کله چې په ١٣٧٠/١٩٩١م کال د تنظیمونو ترمنځ اتحاد رامنځه شو. ددغه اتحاد ډیریکرۍ له مخې د انا خبرې آژانس نوم واړول شو او امتیاز یې بل ارګان ته د میډیا *Media* په نامه ورکړل شو. دمیډیا آژانس د مجاهدینو د لنډمهالي حکومت د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر څارنې لاندې ؤ چې مسوول یې انجنیر عبدالرحیم د جمعیت اسلامي یو تن غړی ؤ او قریب الرحمن سعید لری کړای شو. د میډیا آژانس د ١٣٧١ کال د زمرې تر میاشتې/١٩٩٢م اګست پورې کار ته دوام ورکړ اوپه انګلیسي ژبه یې په *Monthly News Bulletin* خپرونه درلوده.

## "افغانستان غږ رادیو"

### د مجاهدینو په خپرنې تاریخ کې لومړنۍ اوریدونکې پیغام رسوونکې

د مجاهدینو لومړنی رادیو په ١٣٥٨ کال د ثور میاشت/١٩٧٩م اپریل کې د حزب اسلامي افغانستان له خوا د کونړ په اسمار کې په کار پیل وکړ. دغه استوونکې وړوکې دستګاه د ٨٠ کیلومتره مربع په ساحه کې د خپروني توان درلود، او د مجاهدینو او یا مخالفینو په راډیو مشهوره وه:

"د مخالفینو رادیو (د اسمار رادیو) چې یوه میاشت کیږي کله ناکله کار کوي د په غنیمت نیول شویو وسایلو څخه ده... د راپور له مخې دا یوه روسي استوونکې "مخابره" ده چې په یوه جیپ کې نصب شوی اود افغان پوځ څخه په ولجه نیول شوی ده. او دعمومي پروګرامونو د خپریدو لپاره یوڅه بدلونونه پکې راوستل شوي دي، دغه رادیو د ګلبدین حکمتیار د حزب اسلامي لخوا اداره کیږي. (٢)

د هماغه کال په زمرې میاشت کې ١٩٧٩/ م اګست، دغه رادیو د خوست ولسوالۍ د متون کلي ته د

افغانستان جنوب ته پورو پل شوه، چې په ۱٤ عشاریه ۲ میگاهرتز او ٦٥ او ۷۰ متروکې بې د شپې د اتو څخه تر نهو بجو خبری پروگرام خپرولو، د کابل رژیم او روسي مشاورینو له کابل، جلال آباد او تاشکند څخه اخلالوونکي پرازیت خپرول ترڅوخلک دحزب اسلامي د رادیو پروگرام وانه وریدای شي. د حزب اسلامي په یوه خپرونه کې چې په تهران کې چاپیدله راغلي دي: د افغانستان د اسلامي حزب رادیو په ازمویښتي خپرونو پیل کړی دی چې د تجربه کارو انجنیرانو په سرپسته فعاله شوی ده. دغه رادیو د ۱۳٥۸ کال د غبرگولي له ۲٦ می/۱۹۷۹ مې څخه هره ورځ د افغانستان په وخت د ماښام د اوه نیمو بجو څخه تر اته نیمو بجو پوری د ٥۳–٥٥ مترو څپو پرمخ خپل پروگرام خپروی. (۸)

د افغانستان غږ رادیو لومړنی چلوونکي احمد ضیا او حیات الله وحدت او جانباز سرفراز وو، دغه استوونکي دستگاه په ۱۳٦۲/۱۹۸۳م کال په بنو اسکاناتو د پکتیا په سپینه شگه کې د منځنیو اولنډو وڅپو له آنتنونو سره بنه موقعیت غوره کړ. او خپرونی بې هره ورځ تر دری ساعتونو پوری ورسیدی. چې یو ساعت د سهار او دوه ساعته د ماښام لخوا خپریدی. او پرخبرونو برسیره بې انقلابي ترانې او سندری هم په خپرونو کې شاملې شولې.

د ۱۳۷۱ کال په پیل/۱۹۹۲ په مارچ کې د رادیو نوم په (پیام آزادی) بدل شو، او له پکتیا څخه لوگر ته ولیږدول شوه، پیام آزادی رادیو په لنډو څپو ٤۲ مترو دسهار له شپږ نیمو تر اوه نیمو بجو پوری او ماسپښین له یوی څخه تر دوو بجو پوری او ماښام د ۷ بجوه٤ دقیقو څخه تر اتو بجو او ٤٥ دقیقو پوری په لنډو څپو ٤۱ مترو *(7.8 MHZ)*، ٤۹ مترو *(6.2 MHZ)* او ۷۰ مترو *3.8 MHZ*)( د خبرونو، سیاسي تبصرو راپورونو او دیني پروگرام او رزمي موسیقي او ترانو پراخه پروگرام درلود، دغه رادیو په ۱۳۷۲ کال دیوکال لپاره سروبي ته انتقال شوه او وروسته بیا د (پیام آزادی تلویزیون) د خپرونو له پیل سره بیرته چار آسیا ته ولیږدول شوه، همدغه وخت حزب اسلامي یوه *FM* استوونکي دستگاه واخسته او رادیو بې خپرونی بې د کابل بناریانو لپاره کولې. په چار آسیاب کې دحزب اسلامي له ماتي وروسته دغه دستگاوی درونتې ته ولیږدول شوی د پیام آزادی رادیو خپرونو د ۱۳۷٥ کال/۱۹۹٦ اپریل پوری دوام درلود.

## د افغانستان د اسلامي حزب خپرونې

د جهادي ژورنالیزم او نشراتو په برخه کې دغه حزب د مجلو، جریدو او ورځپانو په بنه په مختلفو ژبو عمده خپرونې کړی دی چې د جهادي خپرونو د محتوی د ارځونو په تحلیل کې په هر اړخیز او بیل بحث پری وکړو.

د خپروني نوم: *آزادی*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۲/۱۹۸۳م پیښور، پاکستان. خپرووونکي او د امتیاز خاوند: آزاده او ناپیلی

خپرونه، سرمحرر او یا مسوول مدیر: فریدون افراسیابی، د ۲-٤ زروګنو ترمنځ. د خپرونی ډول: او نیزه جریده پنځلس ورځنی، دوه رنګه اخباری چاپ، ٤-۱۲ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤٤x٦٠ سانتی متره، اوکله د ۳۰x٤۲ سانتی مترو په کچه، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۱ کال د لړم لوسړی/۱۹۹۲م د اکتوبر ۲۳مه د مالی امکاناتو د نه درلودلو په دلیل، محتوی: د مجاهدینو د ارمان څرګندویه انتقادی مقالی، او تازه موضوعات د آزادی نشراتی پالیسی سره.

یادونه: دغه خپرونه د حکمتیار په شخصی همکاری د حزب اسلامی افغانستان له لوری خپریدله.

د خپرونی نوم: *افغانستان فی اسبوع*

کال او د خپریدو ځای: سرطان ۱۳٦۷/جولای ۱۹۸۸م پاریس، فرانسه، ناشر او د امتیاز خاوند: په فرانسه کی د حزب اسلامی افغانستان نمایندګی. مسوول مدیر: نلری، شمیر، له ۲ تر ۳ زروګنو، د خپرونی ډول: اونیزه، خبری، ژبه: عربی، کچه ۲۱x۲۹ سانتی متره، په ۱۲ مخونوکی، یورنګ، فوتوکافی، د خپرونی د کار پای مرغومی ۱۳۷۰/دسمبر ۱۹۹۱م، محتوی: د افغانستان او حزب اسلامی مجاهدینو خبرونه.

د خپرونی نوم: *افغانستان در آئینه مطبوعات فرانسه*

کال او د خپریدو ځای: د ۱۳٦۹کب/۱۹۹۰م فبروری، پاریس، فرانسه. خپرندوی او د امتیاز خاوند: په فرانسه کی د حزب اسلامی نمایندګی. مسوول مدیر: محمد اکبر "رحیمزی" شمیر: زرګنی، د خپرونی ډول: میاشتنی په ۳۰ مخونوکی یورنګ، ژبه: دری کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۰/۱۹۹۱م محتوی: د افغانستان او اسلامی نړی خبرونه او راپورونه چی د فرانسی په مطبوعاتوکی خپریدل.

د خپرونی نوم: *افغان مجاهد* **The Afghan Mujahid**

کال او د خپریدو ځای: ۱۳٦۱وری/۱۹۸۲م مارچ، لندن- انګلستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: په لندن کی د حزب اسلامی نمایندګی. مدیر: ډاکتر محمد اشرف امانیار، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی ډول: میاشتنی مجله، دوه رنګه له ١٤-۲۰ مخونو، ژبه: انګلیسی، کچه ۲۱x۲۹ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳٦۹ سلواغه/۱۹۹۰م فبروری، محتوی: دمجاهدینو د جبهو خبرونه، د حزب اسلامی اعلامیی او د حکمتیار ویناوی.

د خپرونی نوم: *افغان مجاهدین* **Afghan Mujahideen**

کال او دخپریدو ځای: ۱۳٦۷/۱۹۸۸م، کانبیرا، استرالیا، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د حزب اسلامی نمایندګی: سرمحرر: نلری شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی ډول: خبری او نیزه، دوه رنګه ۸ مخونه، ژبه: انګلیسی، کچه: ۲۱x۲۹ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳٦۹/۱۹۹۰م، محتوی: د افغانستان خبرونه، د حکمتیار ویناوی او د حزب اسلامی اعلامیی.

د خپرونی نوم: *افق*

کال او د خپریدو ځای: ١٣٦١/١٩٩٢م، پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: حزب اسلامی افغانستان، مسوول مدیر:؟ شمیر: ١٥٠٠ ګنی، د خپرونی ډول: پنځلس ورځنی جریده، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٢X٢٩ سانتی متره، د خپرونی دکار پای:؟ محتوی (منځپانګه): سیاسی او فرهنګی مقالی.

د خپرونی نوم: *الهام*

کال او د خپریدو ځای: ١٣٧١ غبرګولی/١٩٩٢م جون، پاریس. دامتیاز خاوند او خپرندوی: په فرانسه کی د حزب اسلامی افغانستان نمایندګی، سرمحرر: نه لری، تیراژ: ٥٠٠ ګنی، د خپرونی ډول: موقوته خبری سیاشتنی، ژبه: دری، کچه: ٣٠X٢١ سانتی متره، ٤-٨ مخونه، یورنګ، فوتوکاپی/سنجاقی، د خپرونی د کار پای ١٣٧٣ چنګاښ/١٩٩٤م جولای، محتوی: د افغانستان خبرونه، د حکمتیار بیانیی د حزب اعلامیی.

د خپرونی نوم: *بامداد*

کال او د خپرونی ځای: ١٣٦٣ش/١٩٨٤م پشاور. د امتیاز خاوند: حزب اسلامی افغنستان، مسوول مدیر: د ارشاد او فرهنګ آمریت، شمیر: ٥٠٠ سوه ګنی، د خپرونی دول: میاشتنی خبری، یوه رنګ، ژبه: پشتو او دری، اندازه: ٣٨X٢٦ سانتی متر. د خپرونی د کار پای: ١٣٦٤ش/١٩٨٥م. (څلور شماره ګنی خپری شوی). محتوی: د مجاهدین اخبار.

د خپرونی نوم: *البیان*

کال اود خپریدو ځای: ١٣٦٦لیندی/١٩٨٧م نومبر، کویټه، پاکستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: حزب اسلامی افغانسان (جنوب لویدیځه حوزه) مسوول مدیر: محمد معصوم پویا، شمیر: دری زره ګنی، د خپرونی ډول: خبری میاشتنی، ٨ مخونه، دوه رنګه، ژبه: پښتو او دری، قطع: ٥٠X٣٦ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: د ١٣٦٨ کال پای/١٩٩٠م جنوری، محتوی: په جنوب لویدیځه حوزه کی د حزب اسلامی د مجاهدینو خبرونه او فعالیتونه. د افغانستان پیښی او د حکمتیار بیانیی.

یادونه: البیان له څلورسی ګنی څخه وروسته د مجلی په شکل په رنګه (١٠٠) مخونو کی چاپید له، د دی مجلی د ٢١ سی ګنی له خپریدو وروسته د جنوب لویدیځی حوزی دفرهنګی څانګی د منحل کیدو سره د خپرونی چاپ هم پائی شو.

د خپرونی نوم: *پیام زن مسلمان*

کال او د خپرونی ځای: ١٣٦٠/١٩٨١م پیښور: خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو اسلامی تنظیم خپرنی ارګان: فاطمه یاسر د حزب اسلامی افغانستان د ښځو د تنظیم رئیسه. مسوول مدیر: سعیده پاثیز، لیلا خرم، شمیر: ٢ زره ګنی، دخپرونی ډول: دری میاشتنی- سیاشتنی مجله، رنګه پښتی، تصویری، له ٥٠-٨٠ مخونه، ژبه: پښتو او دری. کچه: ٣٠X٢١ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٧١/١٩٩٢م محتوی: د ښځو د سازمان بیانیی، اعلامیی او د مشهورو جهادی ښځو معرفی.

د خپرونې نوم: *پیروزی*
کال او د خپریدو ځای: ۱۳۶۷ مرغومی/دسمبر ۱۹۸۸م، تهران – ایران، خپروندوی او د امتیاز خاوند: دحزب اسلامی نمایندګی په تهران کې، سرمحرر: نلری، شمیر: ۲۰۰۰ ګڼې، د خپرونې دول: سیاشتنی خبری ګستتنر چاپ، یو رنګ، ۱۰ مخونه، سنجاقی، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۳۰ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰ کال مرغومی ۱۹۹۱م دسمبر، محتوی: د افغانستان پیښې، د حزب اسلامی راپورونه او خبرونه او د حکمتیار ویناوی.

د خپرونې نوم: تکبیر
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۵ وری/ ۱۹۸۶م اپریل، نیویارک امریکا، خپرندوی: په امریکا کې دمهاجرنیو او محصلینو اسلامی انجمن د امتیاز خاوند: حزب اسلامی افغانستان، مدیر: نلری، شمیر ۲۰۰۰ ګڼې، دخپرونې دول: میاشتنی یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو، دری او انګلیسی، کچه: لویه ۴۲x۵۸ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: د جدی ٦مه ۱۳٦۵/۱۹۸٦م د دسمبر ۲۷مه. محتوی: اسلامی او سیاسی مقالې، مرکې او د افغانستان په اړه خبرونه.

د خپرونې نوم: *جهاد*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤/۱۹۸۵م، لوګر ولایت افغانستان، ناشر او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی افغانستان د کوماند و قطعی خپرنی ارګان، سرمحرر: نلری، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه خبری جریده، یورنګ، ګستتنر چاپ، صحافی، سنجاقی، ۸-۱۲ مخونه ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱x۳۰ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٦/۱۹۸۷م، محتوی: د جنګ خبرونه، د حکمتیار ویناوی او شعارونه او د کوماندو قطعی فعالیتونه.
یادونه: په همدې نامه د حزب اسلامی د کوماندو قوی لخوا په وردګو او میدان ولایت کې هم خپریده چې تر ۱۳٦۸ کال سلواغې پورې یې دوام درلود.

د خپرونې نوم: *جهاد اسلامی*
د خپریدو ځای او کال: کب ۱۳٦۲/جنوری ۱۹۸٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کابل مرکزی جبهه سرمحرر: احمدیار، شمیر:؟ د خپرونې دول: پنځلس ورځنی جریده، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۵x۵۰ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ؟ محتوی: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: حریت
د خپریدو کال او ځای: غویی ۱۳۷۰/ اپریل ۱۹۹۱م، پیښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی انقلاب د اهدافو خپروونکی: سرمحرر: محمد نذیر بشارت، شمیر: ۱۰۰۰ – ۳۰۰۰ ګڼو پورې، د خپرونې دول: مجله میاشتنی رنګه پښتې، متن کمپوتری ۸۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱x۳۰ سانتی متره د خپرونې د کار پای: حمل ۱۳۷۱/مارچ ۱۹۹۲م، محتوی: دمجاهدینو د معیاری خپرونو څخه وه چې غالباً په پیښور کې د مجاهدینو د سیاسی فعالیتونو څخه وروسته خپریده، او د قوماندانانو سره مرکې، د مشرانو ویناوی، او د نریوالو پیښو په باب تفصیل پکې ؤ.

یادونه: دغه خپرونه د پکتیا ولایت د حزب اسلامي د قومانداناتو په مالي مرسته خپریده.
د خپرونې نوم: *راه حق*
کال او د خپریدو ځای: چنګابن ۱۳۵۸/۱۹۷۹م جولای، تهران – ایران، د امتیاز خاوند او خپروونکی: د حزب اسلامي افغانستان نمایندګی، سرمحرر: د تحریر هیئات، شمیر: ۳۵۰۰ ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی اخبار، دوه رنګه، ۸–۱۲ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٥٨x٤٢ سانتي متره، د خپرونې د کارپای: ۱۳٦۷/۱۹۸۸م، محتوی: د افغانستان خبرونه، د تاریخي پیښو نمانځنه او یادونه، د اسلامي نړۍ راپورونه، ځانګړي مخونه، یادونه: د مجاهدینو دمعیاري خپرونو له جملې څخه شمیرل کیږي.
دخپرونې نوم: *رستاخیز اسلامی*
کال او د خپریدو ځای: ١٣٦٤/١٩٨٥م، اشتوتګارد، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانانو محلي اسلامي شوری، مسوول مدیر نه لري، شمیر:؟ د خپرونې دول: یو رنګ، ٤ مخونه ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٢x٣٠ سانتي متره، د کارپای: یوه ګنه خپره شوه، محتوی: سیاسي مقالې.
د خپرونې نوم: *رسالت*
د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٥ د مرغومي ٦مه/١٩٨٦م د دسمبر ٢٧مه اسلام آباد–پاکستان، خپروونکی او د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان د محصلینو تنظیم، سرمحرر: هیئات تحریر، شمیر: دو زره ګنې، د خپرونې دول: نا منظمه خپرونه، یو رنګ ٢٠–٤٥ مخونه صحافي سنجاقي، ژبه: پښتو، دری، کچه: ٣٤x٢٠ سانتي متره د خپرونې د کار پای:؟ محتوی: د حزب اسلامي اعلامیې، د افغانستان او نړۍ خبرونه.
د خپرونې نوم: *زندان*
د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٠/١٩٨١م پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي حزب، سرمحرر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه رساله یې، یورنګ، ٨–١٢مخونه ژبه: دری، کچه: ٣٠x٢١ سانتي متره، خپرونې د کار پای: هماغه کال د دوو ګڼو له خپریدو وروسته. محتوی: سیاسي مقالې.
د خپرونې نوم: *زن در سایه اسلام*
د خپریدو ځای او کال: د ١٣٦٢ غبرګولي/١٩٨٣م اپریل، بن، المان.
خپرندوی او د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان، سرمحرر: د اروپا د برخې د مسلمانو ښځو کمیټه، شمیر: ؟، د خپرونې دول: میاشتنی یو رنګ، ٨مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢٩x٢١ سانتي متره، د کار پای: ١٣٦٣ لمریز، کب/١٩٨٥م جنوری، محتوی: د افغانستان او د ښځو د مقام په اړه اسلامي مقالې.
د خپرونې نوم: *سراج منیر*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٦ لیندی/١٩٨٧م نومبر، پیښور.
د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی حزب/محمد الله ناقد، مسوول مدیر: ابو عبدالمنصور شریعت یار، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه ٣٨×٥٠ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٧/١٩٨٨ له شپږو ګڼو وروسته، محتوی: اخبار، مصاحبې او مقالې

د خپرونې نوم: *سپاهیان اسلام*

د خپریدو کال او ځای: د ١٣٦٢ کال د سلواغې ١٧مه/ ١٩٨٤م د فبروری ٦مه کاپیسا، افغانستان، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د پروان او کاپیسا د جبهو فرهنګی کمیسیون، مسوول مدیر: استاد عبدالصبور فرید، شمیر: ٥٠٠ تر زر ګڼیو، د خپرونې دول: میاشتنی (خبری –ګذارش) یو رنګ، ٤ مخونه د ګستتنر چاپ، ژبه: دری، کچه: ٢٥ ×٣٥ سانتی متره، د خپرونې دکار پای ١٣٦٥/١٩٨٦م، محتوی: سیاسی مقالې او د پروان کاپیسا د جبهو خبرونه.

د خپرونې نوم: *سیمای مجاهد*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٣ د سلواغې ٨مه/١٩٨٥م جنوری ٢٣مه پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د کندز ولایت مجاهدین، مسول مدیر: واصل نور، محمد رحیمی، شمیر:؟، د خپرونې دول: وړوکې خبری خپرونه، یو رنګ ٦–٨ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢١×٢٩ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٥/١٩٨٦م. د دری ګڼو له خپریدو وروسته، محتوی: د مجاهدینو خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *سیمای شهید*

د خپریدوځای او کال: ١٣٥٩ لمریز مرغومی/ ١٩٨٠م دسمبر، پیښور.
د امتیاز خاوند: حزب اسلامی، سرمحرر: فرهنګی کمیته، شمیر: دوه زره ګڼی د خپرونې دول: میاشتنی مجله، نامنظمه/د دوو ګڼو له خپریدو وروسته په اخباری بڼه هم خپره شوه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢٠×٢٧ سانتی متره او ٢٩×٤٢ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٠/١٩٨١م، محتوی: د افغانی شهیدانو ژوند لیک.

د ژباړن یادونه: دغه خپرونه د مجلې په بڼه تر ١١ ګڼو پورې خپره شوه.

د خپرونې نوم: *شاهد*

د خپریدو کال او ځای: ٢٣٦٥/١٩٨٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د بدخشان "غالباً تخار دی، ژباړن" د جبهو نمایندګی/بشیرشهادتیار. مسوول مدیر: جمعه خان، لبیب، شمیر: دوه زره ګڼی، د خپرونې دول: میاشتنی خبری ګزارش خپرونه یو رنګ، ٨مخونه، ژبه: دری، کچه: ٣٠×٤٣ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٧/١٩٨٨م، محتوی: د افغانستان د شمال جبهو خبرونه.

د خپرونې نوم: *شاهد*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٦/١٩٨٧م، بن، المان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اروپا نمایندګی حزب اسلامی، سرمحرر: نلری، شمیر: ٢٠٠٠ ګڼې د خپروني دول: مجله، یو رنګ، ٤٠-٥٠ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ١٥X٢١ سانتي متره.

د خپروني د کار پای: ١٣٦٩/١٩٩٠م، محتوی: اعلامیې د حکمتیار سرکي او د حزب اسلامی را پورونه.

د خپروني نوم: *شفق*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٥٩ لمریز وری/١٩٨٠م اپریل، پیښور، خپروندی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی حزب د ارشاد او فرهنګ کمیسون، سرمحرر: محمد معروف فروغګر، فدا محمد فایض، شمیر: ٣٠٠٠ ګڼې، د خپروني دول: مجله میاشتني، رنګه پښتني، تصویري، ٨٠-١٢٠ مخونه، ژبه: پښتو او دری - لومړی پراو: ٢٢X٢٩ او دوهم ١٤X٢١ سانتي متره، له څلورم خپرني کال وروسته په لویه کچه خپریدله، د خپروني د کار پای: ١٣٧٠ مرغومی/١٩٩٢م جنوری، محتوی: د مجاهدینو د دوری د معیاری مجلو څخه یوه وه، چې د راپورونو، مرکو، مقالو، شعر او ادب، د اسلامی نړی تاریخ او نړی د پیښنوپه خپرولوېی د لوستونکو په منځ، کې ځای درلود، یادونه: د ١٣٧٠ کال په پای/١٩٩٢ کال په پیل کې یو مرموز او غلی حرکت د مجاهدینو د خپرنیو ارګانونو په تخریب کې منځته راغی چې شفق مجله هم د همدی حرکت قرباني شوه.

د ژباړن یادونه: د دی مجلې د خپریدو په لومړی، پړاو کې مجلې مشخص مسوول مدیر نه درلود خو سرمقالې یې همایون جریر لیکلې.

د خپروني نوم: *شفق د کلیفورنیا چاپ*

کال او د خپریدو ځای: ١٣٧٣ لمریز/١٩٩٤م، کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی نمایندګی، سرمحرر: محمد داود عابدی، شمیر:؟ د خپروني دول: خبری، میاشتني، دوه رنګه، ٨مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢٩X٤٢ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٧٤/١٩٩٥م.

محتوی: د مجاهدینو په اړه خبرونه، راپورونه او مقالې.

د خپروني نوم: *شورا*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٠ مرغومی/١٩٨١ دسمبر، هامبورګ او بن ښارونه، المان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په اروپا کې د میشتو افغانانو د اسلامی اتحاد شوری/وروسته د حزب اسلامی افغانستان په نامه، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر: ٢ زره ګڼې، دخپروني دول: نامنظمه میاشتني، دوه رنګه، ٨ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢١X٢٩ سانتي متره د خپروني د کار پای: ١٣٦٤/١٩٨٥م، محتوی: د افغانستان او مجاهدینو په اړه خبرونه او مقالې او د شوری د فعالیتونو او مظاهرو راپورونه.

د خپروني نوم: *شهادت* (په (٦٦٤) مخ کې یې وګورئ)

ACKU

د خپرونې نوم: *شهید*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی افغانستان فرهنګی کمیته، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر: ۱۵۰۰ ګڼی، د خپرونی دول: ؟ ژبه: پښتو، دری، کچه: ۲۹X۴۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۳ لمریز ۱۹۸٤م، د ۱۲ ګڼو له خپریدو وروسته.

محتوی: د افغانستان په اړه مقالی.

د خپرونی نوم: *شهید پیغام*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۱ لیندی/۱۹۸۲م، پیښور.

خپروندی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد/ د افغانستان اسلامی حزب، مسوول مدیر: فدا محمد فایض / محمد معروف فروغګر، شمیر: ۲ زره ګڼی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله رنګه پښتی، تصویری، ۱۱۰ مخونه.

ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۳ لمریز/۱۹۸٤م، محتوی: رنګارنګ مقالی اشعار، د افغانستان د شهیدانو ژوند لیک.

د ژباړن یادونه: دغه مجله یوازی یوه ګڼه د حزب اسلامی په امتیاز د فروغګر په مدیریت خپره شوه.

د خپرونی نوم: *شهید پیغام (د کلیفورنیا چاپ)*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۳/۱۹۸٤م، کلیفورنیا، امریکا، خپروندوی او دامتیاز خاوند: په کلیفورنیا کی د افغانانو اسلامی اتحادیه/حزب اسلامی، سرمحرر: نه لری، تیراژ: ؟، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی، فوتو کاپی، ٤-۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه ۲۱X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ؟ محتوی: د افغانستان او مجاهدینو په اړه خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *الصبح*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، بن، المان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حزب اسلامی د اروپا څانګه، مسوول مدیر: لیکنی هیأت/محمد عثمان حلیف، شمیر: ۲ زره ګنی د خپرونی دول: میاشتنی دوه رنګه، ۸-۱۲ مخونه، له ۵۲ می ګنی څخه وروسته او نیزه، ٤مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X٤۲ سانتی متره، له ۵۲ می ګنی څخه وروسته ۲۱X۲۹ سانتی متره، خبری، د خپرویدو د کار پای د ۱۳۷۵ لمریز د زمری ۲۵مه/۱۹۹٦م د اګست ۱٦مه.

محتوی: د افغانستان او مجاهدینو په اړه خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *الصبح* ***Al-Sobh***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰/۱۹۸۱م، بن، المان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په المان کی د حزب اسلامی نمایندګی، مسوول مدیر او یا سرمحرر: بشیر وارد او عظیم آبرومند شمیر: دری زره ګنی، د

خپرونی دول: دوه میاشتنی مجله رنگه، پښتی، تصویری، ۳۰-۵۰ مخونه، ژبه: آلمانی، کچه:۲۱X۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۹۸۹/۱۳۶۸م، محتوی: د افغانستان راپورونه، د المان په خپرونو کی د افغانستان د پښتو غبرگون مرکی او راپورونه، د حکمتیار وینا وی، او د حزب اسلامی اعلامیی.

د خپرونی نوم: صف

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز وری/۱۹۸۷ مارچ، کارلزرو، بوخوم، المان، خپرندوی او د امتیازخاوند: په اروپا کی د افغانی محصلانو اسلامی انجمن/ حزب اسلامی افغانستان سرمحرر: ظریف، شمیر: ۲زره گنی؛ د خپرونی دول: میاشتنی/دوه میاشتنی، ۸مخونه، یو رنگ، چاپی، فوتوکاپی، ژبه: دری کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٤ وری/۱۹۸۵ سپتمبر. محتوی: اسلامی مقالی د کابل د رژیم او په اروپا کی د مائویستی کمونستانو په مقابل کی دریځ نیونه.

د خپرونی نوم: صف **Saff**

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، هامبورگ، آلمان د امتیاز خاوند او خپروونکی: *United Islamic associations of Afghan Students in Europe (U.I.A.A.S)*

سرمحرر: لیکنی هیأت، شمیر: زرگنی، د خپرونی دول: میاشتنی، یورنگ په ۸-۱۲ مخونو کی، ژبه: آلمانی، کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۰ لیندی/۱۹۸۱م نومبر.

محتوی: د افغانستان د مجاهدینو ملاتړ اودفاع او د افغانستان د وضعی خبرونه او راپورونه.

د خپرونی نوم:*الفلاح*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦٤ غوایی/۱۹۸۵ اپریل، استرالیا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی حزب، مسوول مدیر: احمد شاه صدیقی، محمود مستقل، شمیر: دوه زره گنی د خپرونی دول: خبری گزارش دوه میاشتنی، دوه رنگه، ٤مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X٤٤ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٦لیندی/۱۹۸۷م نومبر، محتوی: د اسلامی نړی او د افغانستان د جهاد خبرونه او راپورونه، سیاسی او اسلامی مقالی، شعرونه.

یادونه: په استرالیاکی د حزب اسلامی نمایندگی د اتحاد اسلامی د دفتر په نامه او وروسته د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفتر په نامه ونوموول شوه.

د خپرونی نوم:*قیام بیست و چهارم حوت هرات*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۹ زمری/ ۱۹۸۲م جولای، هرات. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامی حزب د هرات نمایندگی. سرمحرر: نه لری، شمیر: ؟، د خپرونی دول: نامنظمه خبری میاشتنی، یورنگ، گستتنر چاپ، مخونه:؟ ژبه: دری، کچه ۲۱X۲۹ سانتی متره، دکار پای: ۱۹۸۵/۱۳٦٤م، محتوی: د افغانستان په مسایلو او د هرات د مجاهدینو په اره خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *گواه*

د خپریدو ځای او کال: ۱۹۹۰/۱۳۶۹م، هامبورگ، المان خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی حزب (اروپا څانگه) سرمحرر او یا مسؤول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی، یورنگ ۲۰-۳۰ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۱۵ X۲۱ سانتی متره، د کار پای: ۱۹۹۲/۱۳۷۱م، محتوی: د حکمتیار بیانیی، د حزب اسلامی اعلامیی.

د خپرونی نوم: *لوای جهاد*

د خپریدو ځای او کال: ۱۹۸۸/۱۳۶۷، لوگر، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی لوای جهاد، سرمحرر: سید محمد حنیف، شمیر:؟ د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی، دوه رنگه، ٤-۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری. کچه: ۲٤X۳٤ سانتی متره. د خپرونی د کار پای:؟ محتوی: د لوگر د مجاهدینو خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *د مجاهدینو میاشتنی* ***Mujahedeen Monthly***

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۵/۱۳٦٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامی سیاسی کمیټه. مسوول مدیر: سورگل سپین، ډاکتر فیض الله کاکړ. شمیر: دری زره گنی، دخپرونی دول: میاشتنی مجله، رنگه تصویری، ۸۰ مخونه، ژبه: انگلیسی، کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره د کار پای: ۱۹۹۰/۱۳۲۹م، محتوی: د مجاهدینو د معیاری مجلو څخه یوه وه چی د افغانستان، اسلامی نړی او نړیوالوایکو په اړه یی تحلیلی مضامین درلودل.

د خپرونی نوم: *د افغان مبارزه* ***Resistance Afghane***

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦٦ مرغومی/ ۱۹۸۷م دسمبر، پاریس، فرانسه خپرندوی او د امتیاز خاوند: په فرانسه کی د حزب اسلامی نمایندگی مسؤول مدیر: محمد امین کریم، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: دوه میاشتنی رنگه پښتی، تصویری له ۳۰-٦۰ مخونه، ژبه: فرانسوی کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۹۸۸/۱۳٦۷م، محتوی: د افغانستان او په اروپا کی د حزب د فعالیتونو خبرونه او د حکمتیار بیانیی.

د خپرونی نوم: *مجاهدین سی سی* ***Mugahideen Sesi***

د خپریدو ځای او کال: ۱۹۸۷/۱۳٦٦م، بن، آلمان، خپرونکی او د امتیاز خاوند: په بن کی د افغانستان د حزب اسلامی نمایندگی، سرمحرر: نه لری. شمیر: دری زره گنی، د خپرونی دول: خبری او نیزه، دوه رنگه، ۲-٤ مخونه، ژبه: ترکی، کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۰ غوایی/ ۱۹۹۱م اپریل محتوی: د افغانستان خبرونه، د حکمتیار ویناوی او د حزب اسلامی د نمایندگی فعالیتونه د ترکانو په برخه کی او د مرستوویش.

د خپرونې نوم: *مجاهده خور*

د خپریدو ځای او کال: د مرغومي شپږمه ۱۳٦۳/۱۹۸٤م دسمبر، هامبورګ، آلمان، د افغانستان د ښځو سازمان نمایندګی/د افغانستان اسلامي حزب، سرمحرر: لیکنې هیأت، شمیر:؟ د خپرونې دول: نامنظمه دوه سیاشتنی مجله، دوه رنګه، ٢٦ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٦/۱۹۸۵م، محتوی: د کورنی تربيي په اړه او سیاسي مقالې.

د خپرونې نوم: *معارف اسلامي*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱ کال کب/ ۱۹۹۲م جنوری: پیښور.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دعوت او ارشاد مرکز/مولوی فیضان، مسؤول مدیر: الحاج سادات، شمیر: ۱۰۰۰-۲۰۰۰ ګنې د خپرونې دول: نامنظمه دری میاشتنی مجله، رنګه پښتی، دوه رنګه، ۹۰مخونه، ژبه: پښتو، دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۷۱/۱۹۹۲م، د دریو ګنو له خپریدو وروسته، محتوی: د افغانستان او اسلامي نړی په اړه مقالې.

د ژباړن یادښت: دغه مجله د حزب اسلامي له خپرونو څخه نه ده چې د اسلامي تحریک "تحریکیانو" لخوا خپریدو چې د مرکز مشر يې قاضي محمد حکیم او د مجلې مسوول مولوی فیضان ؤ.

د خپرونې نوم: *مقاومت* ***The Resistance***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ لمریز سلواغه/۱۹۸۸م جنوری، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حزب اسلامي، مسوول مدیر: عبدالقدیر کریاب، محمد نواب سلیم، شمیر: دوه زره ګنې، دخپرونې دول: پنځلس ورځنی خبری جریده، دوه رنګه ٤-۸ مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د کار پای: ۱۳٦۹، تله/۱۹۹۰م اکتوبر، محتوی: د افغانستان خبرونه، د حکمتیار پیغامونه او د حزب اسلامي اعلامیې.

د خپرونې نوم: *الموقف (جریده)*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٥۸/۱۹۷۹م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي حزب/موسس ګلبدین حکمتیار، مسوول مدیر: محمد زمان مزمل، شمیر: دوه زره ګنې د خپرونې دول: او نیزه جریده، دوه رنګه، ٤-۸ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۲ سلواغه/جنوری ۱۹۹٤م، محتوی: د حکمتیار بیانیې، د افغانستان او اسلامي نړۍ په اړه راپورونه او خبرونه.

د خپرونې نوم: *المؤقف (مجله)*

د خپریدو کال او ځای: ۱٤۰۲هـ قمري/ ۱۳٦۰ لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب

اسلامی فرهنګی کمیټه، مسؤول مدیر: محمد زمان مزمل/فضل الهادی وزین، شمیر: څلور زره ګنې د خپرونې دول: میاشتنی مجله، پښتنی او دننه متن رنګه او تصویری ۸۰-۱۰۰ مخونه، ژبه: عربی، کچه ۲۷X۲۰ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰ کب/۱۹۹۲م جنوری، محتوی: د جهاد د دوری د معیاری او معتبرو خپرونو څخه وه چی په نړیواله سطحه خپریدله.

د خپرونې نوم: *المؤمنات*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۵/۱۳٦٤م، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په فرانسه کی د حزب اسلامی د خویندو اسلامی انجمن، سرمحرر: فرهنګی کمیټه: شمیر:؟ د خپرونې دول: نامنظمه خبری میاشتنی جریده، یو رنګ ۸ مخونه، ژبه: عربی، کچه: ۳۵X۲۵ سانتی متره، د کار پای: ۱۹۸۹/۱۳٦۸م، محتوی: د مسلمانی ښځی د مقام په اړه مقالی د سیاسی جریاناتو په اړه مقالی.

د خپرونې نوم: *میثاق ایثار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز دوری ۹مه/۱۹۹۸م د اګست ۲۸مه، تهران، ایران، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان اسلامی حزب، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: له دوو تر دری زرو ګنو د خپرونې دول: خبری میاشتنی، یو رنګ، ٤-۱۲ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: دوام لری، محتوی: د افغانستان په اړه مقالی، د حکمتیار لیکنی، اشعار او اسلامی مقالی.

یادونه: میثاق ایثار په اسلام آباد کی د حزب اسلامی د نمایندګی لخوا په پښتو ترجمه او بیا خپریږی، همدا رنګه د هالند چاپ البدر په اروپا کی میثاق ایثار دوهم ځلی چاپوی او په بنه بنه بی په دری رنګونو کی د زرو ګنو په شمیر چاپوی.

د خپرونې نوم: *نبرد حق*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸٤/۱۳٦۳م، بدخشان، افغانستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بدخشان کی د حزب اسلامی مجاهدین، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی نامنظمه یو رنګ ٤-۸ مخونه، ګستتنر چاپ، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د کار پای: هماغه کال د اتو ګنو له خپریدو وروسته، محتوی: د بدخشان د مجاهدینو خبرونه او فعالیتونه.

د خپرونې نوم: *ندای جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۹/۱۳٦۸م، کویته پاکستان، خپرندوی اود امتیاز خاوند: حزب اسلامی/د فراه نمایندګی، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونې دول: خبری میاشتنی یورنګ، لس مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د کار پای: ۱۹۹۲/۱۳۷۱م، محتوی: د لویدیځو جبهو خبرونه، د مجاهدینو فعالیتونه او د حکمتیار بیانیی.

د خپرونې نوم: *نسأ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹ چنګابن/ ۱۹۹۰ جون، پیښور، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د افغانستان د بنځو اسلامي سازمان / حزب اسلامي، مؤسس: فاطمه یاسر، مسوول مدیر: خاتول افروز، شمیر:؟ د خپروني ډول: خبري سیاشتني، یو رنګ ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٢٩x٤٢ سانتي متره، د خپروني دکار پای: ۱۳۷۵ لمریز/ ۱۹۹٦م، محتوی: خبرونه، اسلامي او سیاسي مقالې، د مسلمانو ښځو د حقوقو په اړه لیکنې.

د خپروني نوم: وحدت **Vahdet**

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ د وری ٦مه/ ۱۹۸۱م د اګست ۲۸مه، بن - آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بن کې د حزب اسلامي نمایندګي، مسوول مدیر: عبدالکریم مهاجر زاد/ عبدالصبور اختری، شمیر: له ۳-۵ زروګنو د خپروني ډول: میاشتني مجله، دوه میاشتني، رنګه، پښتني، تصویري له ٦٠-٨٠ مخونه، ژبه: ترکي، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، دکار پای: ۱۳۷۲/۱۹۹۳م، محتوی: سیاسي مقالې، د حزب اسلامي فعالیتونو راپورونه د حکمتیار بیانیې، د مجاهدینو او مهاجرینو په منځ کې د سرستو د ویش په اړه راپورونه.

د خپروني نوم: *وارث شهید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ مرغومي/ ۱۹۹۵دسمبر، سندیګو، کلیفورنیا، امریکا خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامي نمایندګي، سرمحرر: نه لري شمیر: ۵۰۰ ګڼې، د خپروني ډول: پنځلس ورځنۍ جریده، د حزب اسلامي له خپرونو څخه اقتباس، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، دکار پای: ۱۳۷۵/ ۱۹۹٦م، محتوی: خبرونه او مقالې، او د حکمتیار بیانیې.

د خپروني نوم: هجرت

د خپریدوکال او ځای: ۱۳٦۱/ ۱۹۸۲م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد/حزب اسلامي افغانستان، مسوول مدیر: قریب الرحمن سعید/محمد خلیل، شمیر: یوزر تردري زره ګڼو پوري، د خپروني ډول: مجله میاشتني رنګه، پښتني، تصویري، ۸۰ مخونه، ژبه: اردو، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، د خپروني دکار پای: ۱۳٦۵/ ۱۹۷٦م، محتوی: مقالې، مرکې او د افغانستان او اسلامي نړۍ په اړه را پوورونه.

د خپروني نوم: هجرت

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ مرغومي/ ۱۹۸۵م دسمبر، اسن - آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب اسلامي نمایندګي. سرمحرر: نه لري، شمیر:؟ د خپروني ډول: میاشتني خبري جریده، دوه رنګه ٤ مخونه، چاپ فوتوکاپي، ژبه: دري او پښتو. کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، د خپروني دکار پای: ۱۳٦٦ د چنګابن ۱۹مه/ ۱۹۸۷م د جولای ۱۰مه، محتوی: د حزب اسلامي له خپرونو څخه د خبرونو او مقالو اقتباس.

د خپرونې نوم: مجاهدین او نیزه ***Mujahedeen Weekly***
د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٩ د وری ٢٠مه/ ١٩٩٠م د اپریل ٩مه پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د حزب اسلامی سیاسی کمیته، سرمحرر: ډاکتر فیض الله کاکړ، شمیر: دوه زره ټنې، د خپرونې ډول: خبری او نیزه جریده، دوه رنګه، ٤-٨ مخونه، ژبه: انګلیسی کچه: ٢٩x٤٢ سانتي متره، د خپرونې دکار پای ١٣٧٠ وری/ ١٩٩١م اپریل، محتوی: د افغانستان په اړه خبرونه او مقالې.

## د افغانستان اسلامی جمعیت

د افغانستان اسلامی جمعیت د افغانستان د مهمو تنظیمونو څخه یودی. چې د تشکیلاتو له پیل څخه١٣٥٦/١٩٧٧م تر اوسه پورې د هیواد په زیاتره پیښو او بدلونو کې د قضیې د یو لورې په حیث مطرح دی. وروسته له دی چې د مسلمانو ځوانانو اسلامی نهضت په حزب اسلامی باندی ونومول شو. او د نهضت د لومړنیو له هیواده بهر انتخاباتو کې برهان الدین ربانی پنځه رایې یوری د احتجاج په دود له غونډې څخه ووت، د جمعیت اسلامی جوړیدل د استاد ربانی او د نهضت د غړیو په،تیره ګلبدین حکمتیار ترمنځ د سلیقوی اختلاف نتیجه ده. "د جمعیت اسلامی ګوند په شمال ختیځ، شمال لویدیځ، مرکز او په ځانګړی توګه دتاجکانو په منځ کې... نفوذ لری. قومی تعصب او قبیله یی نشنلزم ډیر لری.(٩)

د جمعیت اسلامی مهم قوماندانان او د هغوی جبهې دا دی: احمد شاه مسعود په پنجشیر کې، اسماعیل خان په هرات کې او ذبیح الله په مزار شریف کې. چې د ذبیح الله په وژل کیدو د جمعیت اسلامی نفوذ هلته لږ شو. الیور روا فرانسوی څیړونکی او افغانستان پیژندونکی جمعیت اسلامی ددری طبقو خلکو څخه جوړ شوی بولی لیکی: جمعیت د افغان مقاومت د څلورو شبکو څخه د دری شبکو د یو ځای کیدو ځای دی. اسلام پال، صوفیان او مولویان، او له څلورمی شبکې "قبایلو" سره اړیکې نه لری. همدا سبب دی چې په جنوب کې له ستونزو سره مخ دی.(١٠)

جمعیت اسلامی د بنسټ پالوګوندونو څخه شمیرل شوی دی. په دی توپیر چې د دغه ګوند مشر د حکمتیار په نسبت له زیاتی تواضع څخه برخمن دی، او جمعیت اسلامی ګوند یی په خپل منځ کې د توند لارو په وړاندی د منځلاری اسلام پال ګوند په توګه معرفی کړی دی. جمعیت اسلامی په جهادی اقداماتو کې ډیر په احتیاط ګامونه اخستل، او په هره سیاسی لانجه کې یی محافظه کاری او نرم دریځ ته تمایل درلود، د ١٣٥٤/١٩٧٥م د لومړنی پاڅون څخه نیولی د محمد داود له رژیم سره د خبرو اترو او تفاهم تر جریان پورې چې برهان الدین ربانی په ریاض کې په لار اچولی ؤ د نظامی تحرکاتو نشتوالی او د

ثور له اوسي وروسته د وسله وال جهاد د پیل په چې په پیښور کې د مجاهدینو د ګوندونو په کډه غونډه کې پریکړه وشوه په اړه او د روسي قواو په وړاندې د مجاهدینو د مقاومت ناتوانۍ د برهان الدین رباني د محافظه کارانه دریځ او نظر فکتورونه وو چې که احمد شاه مسعود، ذبیح الله او اسماعیل خان غوندې قوماندانان ورسره نه وای جمعیت به ژوری کندې ته لویدلی ؤ.

مسعود د کابل رژیم او روسي قواو د حملو په وړاندې له ۱۳۵۹ لمریز څخه ۱۳۶۳/۱۹۸۰ – ۱۹۸٤م پورې په پنجشیر کې اوه ځله مقاومت وکړ او د کمونستانو د ماتې سبب شو، چې په دې یې خپل سیاسي او نظامي موقف او په مجموع کې د جمعیت اسلامي مقام په نړیواله سطحه لوړ کړ او نوموړی د مقاومت دیوې نمونې په توګه تبارز وکړ، له بله پلوه مسعود په پټه کې له روسانو سره له تفاهم څخه کار واخست او د اوربند موافقې ته سره ورسیدل تر څو د ده او روسانو ترمنځ د حزب اسلامي سره د رقابت لپاره د تفاهم دروازې پرانستې وي.

څرنګه چې مسعود نشو کولای د جمعیت په تنظیم کې لوړ مقام تر لاسه کړي او د جمعیت د غړوله مخالفت سره مخ ؤ، پخپله یې دیوه قوماندان په توګه د هیواد په دننه کې د عمل ابتکار په لاس کې واخست او د قوماندانانو د شورې په جوړولو یې لاس پورې کړ. چې د بهرنیو په تیره امریکا، فرانسې، انګلیس او ایران لخوا یې ملاتړ وشو. د دې شورې د پوځي ځواکمنې لپاره ورسره مرستې وشوې، په تبلیغاتي ډګر کې احمد شاه مسعود ته په توله نړۍ کې زیات کار وشو او زیاترو خبریالانو به د افغانستان د مقاومت د الهام منبع پنجشیر باله چې دا تول په جمعیت اسلامي کې د مسعود د موقف د قوت سبب شو، بالاخره د برهان الدین رباني او مسعود ترمنځ د کورنۍ روابط جوړ شول او د برهان الدین رباني لور د احمد شاه مسعود ورور احمد ضیأ ته په نکاح شوه چې د تصمیم نیولو محور د ده لاس ته ورغی.

جمعیت اسلامي چې د هیواد په جنوبي سیمو کې د خپل نفوذ کمبود احساسا وه غوښتل یې د مسعود د قوماندانۍ او قیادت څخه ګټه واخلي او زیات قوماندانان د افغانستان دیوې باصلاحیته ادارې په حیث پر خپل محور ور تول کړي د هغې جملې څخه رباني ته د مولوي یونس خالص ور نژدې کیدل او په پکتیا کې د مولوي جلال الدین حقاني، په هلمند کې مولوي نسیم اخوندزاده، په کندهار کې ملا نقیب الله او داسې نور وو چې د قوماندانانو په شورې کې له مسعود سره نژدې شول، د افغانستان په لویدیځ کې اسماعیل خان د هغه وجاهت سره چې د هرات په خلکو کې یې درلود دوی ته بنه بدیل ؤ تر دې چې جمعه خان، خلیفه سبحان، عبدالودود او نور یې د هغه په موجودیت کې نادیده وګڼل او د خلکو اکثریت چې غالباً په سلو کې تر اویا څخه زیاتو کسانو په هرات کې د حزب اسلامي غړیتوب درلود. هغوی تولو له اسماعیل خان سره همکاري پیل کړه، البته د صفي الله افضلي د جهادي شخصیت څخه چې د هیواد په لویدیځ کې د ربنتینولي او شهامت یوه نمونه ؤ باید سترګې پټې نه کړو.

جمعیت اسلامي په اداري او تشکیلاتي سطحه اوله نورو تنظیمونو سره په اړیکو کې په یوه خلا کې

پروت و، له یوه پلوه د مسعود د پلي دڼدو جمعیت اسلامي هماغه لوري ته ورکشاوه، له بله پلوه د رباني شخصیت د مجاهدینو د تنظیمونو په منځ کې د افغانستان د راتلونکي اسلامي د ولت په جوړېدو کې دیوه اړخ په حیث مطرح ؤ. د مجددي او رباني ترمنځ د اختلافونو له پیل سره هڅې وشوې چې جمعیت لنډمهالي ائتلافونه د حزب اسلامي په شمول له ټولو ډلو سره جوړ کړي. او د مسعود لخوا په نظامي او یا تبلیغاتي اړخ کې د حزب اسلامي پر خلاف هر اقدام د حکمتیار او رباني لنډمهالي تفاهم او پخلاینې ته د پای ټکی ایښود.

کله چې په ۱۳۷۱ لمریز کال/۱۹۹۲م کې د مجاهدینو لنډمهالي اسلامي حکومت منځته راغی، پریکړه وشوه چې د حضرت مجددي د دوو لومړنیو میاشتو د جمهوري ریاست څخه وروسته به رباني د شپږو میاشتو لپاره جمهور رئیس وي، دی دنده لري چې په دې موده کې انتخابات دایر کړي چې د افغانستان ملي شورې او را تلونکي حکومت جوړ کړي. خو رباني د طالبانو په لاس د کابل تر سقوط پورې خپل اقتدار ته دوام ورکړ او د افغانستان د قانوني! رئیس په توګه یې د اختلافاتو او جګړو دوام ته زیاته زمینه برابره کړه.

جمعیت اسلامي افغانستان اوس د احمد شاه مسعود د نظامي څواک پر محور د طالبانو د یوازینې مخالف په نامه د کابل په شمال کې مقاومت کړی دی او په دې توانیدلی چې د افغانستان د قضیې د یوه اړخ دعوه وکړي.

## د جمعیت اسلامي مرام او هدفونه

دغه اسلامي سازمان خپله مرامنامه په یوه رساله کې د فشرده مرام و اهداف جمعیت اسلامي، په نامه په ۱۳۶۲/۱۹۸۳م کال خپره کړه، چې په مختلفو ټولنیزو – سیاسي اړخونو کې یې یو لړ مطالب څرګند کړي دي. دغه مرامنامه په لسو مخونو کې خپره شوې چې څلور لومړني مخونه یې د پیښنو پرپس منظر (شالید) بحث شوی دی، په دوو مخونو کې یې اهداف او په دوو وروستیو مخونو کې یې فکري او ارماني غوښتنې راغلي دي چې زیات یوي اعلامیې ته ورته دي، په مرامنامه کې یادونه شوې ده چې: "دغه جمعیت غواړي چې افغان محروم ملت د اسلام د عالي نظام د تطبیق په واسطه د فقر، محرومیت، بې کارۍ، احتیاج، ظلم او استعمار له منګولو څخه وژغوري ... د دې خاورې ټول اوسیدونکي داسې په فضا کې ژوند وکړي، آبرو او عزت یې خوندي پاتې شي، حقوق یې ضایع نه شي. شخصي او ملي شتمنې او ملکیت یې د لوټ او چور څخه خوندي پاتې شي..."(۱۱)

## د برهان الدین رباني ژوند:

برهان الدین رباني د محمد یوسف زوی په ۱۳۱۹لمریز/۱۹۴۰م کې د بدخشان ولایت په فیض آباد

بنار کې زیږیدلی دی، دی د پښتلیانو څخه دی چې د افغانستان په شمال او په شمال او ماورالنهر کې له لویو قومونو څخه شمیرل کیږي. په ١٣٢٦لمریز/١٩٤٧م کې د فیض آباد په لومړنی/منځنی ښوونځی کې شامل شو په ١٣٣٥ لمریز/١٩٥٦م کابل ته راغی او د ابو حنیفه مدرسې په نهم ټولګی کې یې زده کړو ته دوام ورکړ، په ١٣٣٩/١٩٦٠م کال دشرعیاتو پوهنځی ته شامل شو او په ١٣٤٢لمریز/١٩٦٣م کې په غوره نومره تری فارغ او په همدی پوهنځی کې د استاد په توګه وټاکل شو، په ١٣٤٥/١٩٦٦م د (فلسفی او اسلامیاتو) په څانګه کې د لوړو تحصیلاتو لپاره د ازهر پوهنتون ته ولاړ او خپله علمي رساله یې د (جنبه های علمی و فلسفی زندګی نور الدین عبدالرحمن جامی) په عنوان ولیکله، کله چې رباني بیرته کابل ته راستون شو، سیاسي فعالیتونه د کابل په پوهنتون کې زیات شوی وو، نوموړی د هغو مسلمانو استادانو حلقې ته ورننوت چې د کمونستانو مخالف وو او د "خوانانو اسلامي نهضت" سره یې خپل پیوستون اعلان کړ، د اسلامي نهضت د وولسو تنو بنسټ ایښودونکو او رهبری کوونکو څخه دوه تنه دشرعیاتو پوهنځی څخه فارغ شوی استادان، غلام رباني عطیش او مولوی حبیب الرحمن هم وو، چې دنهضت او دمسلمانو استاذانو ترسنځ یې د رابطه کوونکو په حیث فعالیت کاوه، د پوهنتون د استاذانو له جملې څخه د پوهاند نیازی، برهان الدین رباني، رسول سیاف او موسی توانانوسونه اخستلی شو، هغوی سره له دی چې نیغ د اسلامي نهضت غړیتوب نه درلود په دی اړه یې خپلی همکاری کولی، هغوی په همدی سبب د داود د استخباراتو تر اشتباه لاندی وو، رباني په ١٣٥٣/١٩٧٣م کال د خوانانو د اسلامي نهضت غړیتوب ترلاسه کړ، هغه وخت چې غلام محمد نیازی بندی شو، رباني د نهضت د ورونو لخوا پیښور ته راوستل شو، نوموړی د ١٣٥٦ لمریز/١٩٧٧م کال په انتخاباتو کې چې په پیښور کې ترسره شول د دی نهضت د امارت د کاندیدانو څخه ؤ چې د حکمتیار د ١١١ رایو په مقابل کې یې ٥ رایې واخستلی ماته یې وخوړه او د احتجاج په توګه له نهضت څخه ووت او بیله دله یې جوړه کړه.

رباني په ١٣٥٦ کال رسماً د جمعیت اسلامي افغانستان بنسټ کیښود، احمد شاه مسعود او د نهضت ځینو نورو غړیو ورسره بیعت وکړ، رباني د (اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان) په جوړیدو کې ډیره ونډه واخسته او رسول سیاف یې قدرت ته ورساوه، دغه سازمان وروسته بیا د هغه ترمشر تا به لاندی پاتی شو او د جهادی ګوندونو په مجموعه کې زیاتوالی راغی، رباني (د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد) د نظامی چارو مسوولیت په غاړه درلود، یوکال وروسته سیاف د خپل موقف څخه ګته واخسته او قاضی محمد امین وقاد یې د حزب اسلامي له مرستیالی څخه انشعاب ته وهڅا وه او نوموړی یې د رباني پرځای د نظامی کمیټې دمسوول په توګه وټاکه، دغه کار د تنظیمونو په منځ کې د اختلافونو د را منځته کیدو سبب شو ... برهان الدین رباني په ١٣٦٥/١٩٨٦م کال د افغانستان د مجاهدینو د ائتلاف ویاند ؤ. او د یوه هیأت په مشری امریکا ته ولاړ او له ریګن سره یې وکتل، همدارنګه هغه د مجاهدینو د هیأت په مشری له روسانو سره په اسلام آباد او طایف کې نیغې خبری اتری وکړی، دی په کابل کې د

مجاهدینو د اقتدار ته رسیدو نه وروسته دو هم انتسابي جمهور رئیس ؤ چې باید په شپږو میاشتو کې يې واک د مجاهدینو انتخابي حکومت ته سپارلی وای، خو رباني په دې کرسي تر اوو کالو پورې پاتې شو تردې چې د طالبانو په لاس د کابل له نیول کیدو او د مجاهدینو د حکومت له پای ته رسیدو سره ده او نورو مشرانو د هیواد شمال ته پناه یووړه.

اوس (۱۳۷۸ کال لیندۍ/۱۹۹۹م نومبر) چې د افغانستان په شمال کې په سلوکې پنځه برخه د احمد شاه مسعود په واک کې ده د افغانستان د اسلامي دولت د رئیس له مقام څخه يې استعفی نه ده کړې، د دولت سیاسي ارګانونه او سفارتونه يې په واک کې دي، ځکه د طالبانو تحریک تر اوسه نړۍ په رسمیت نه دی پیژندلی او په ملګرو ملتونو کې د افغانستان کرسي او د افغانستان سفارتونه د جمعیت اسلامي د غړيو په لاس کې دي.(۱۲)

رباني پر ملي ژبو برسیره په عربي او اردو هم بلد دی، نوموړی په فرهنګي ډګر هم یو شمیر آثار پریښي دي چې عبارت دي له:

۱- د شهید سید قطب د تفسیر في ضلال القرآن د لومړي پارې دري ژباړه. ۲- اسلام و کمونیزم، ۳- فاجعه ۲۶ سرطان وزعامت داود خان. ۴- پیغام شهید، ۵- اصول بحث و تحقیق از نظر اسلام. ۶- تشریع عقاید معتزلیها، ۷- اصول تربیت در اسلام. ۸- د استان حل سیاسي، ۹- رهنمون جهاد. ۱۰- یادی از استاد غلام محمد نیازی، آموختنی های در مسیر انقلاب اسلامی، ۱۱- درس في قلب المعرکة.

## د جمعیت اسلامي خپرونې

د خپرونې نوم: *مجاهد (د افغاني مجاهدینو دوهمه جریده)*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۷۸/۱۳۵۷م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامي جمعیت دانقلابي اهدافو بیانوونکې/پروفیسور برهان الدین رباني، مسوول مدیر: عبدالقیوم ملکزاد، ع، ننګیال.

شمیر: ۲-۳ زره ګنې، د خپرونې دول: او نیزه جریده، دوه رنګه ۴-۸ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه ۵۰x۴۴ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۹۹۶/۱۳۷۵م، په کابل کې.

محتوی (منځپانګه): مجاهد جریده دافغانستان د معتبرو جریدو څخه یوه وه چې د افغانستان او نړۍ په اړه يې خبرونه سرکې، مقالې او راپورونه خپرول.

یادونه: دغه جریده تر ۱۶ مې ګڼې دوهم خپرنې کال پورې په باده شوي کچه خپریدله، خو وروسته يې کچه لویه شوه او په څلورو مخونو کې په ۱۹۸۶/۱۳۶۵م کال تر ۱۴۰ ګڼې پورې په ۴۲x۵۶ سانتي متره کچه

خپرید له، په کابل کې د برهان الدین رباني له واک ته رسیدو وروسته مجاهد جریدې د افغانستان د اسلامي دولت د خپرني ارګان په حیث کار پیل کړ او دطالبانو په لاس دکابل تر سقوط پورې يې دوام درلود. په همدې نامه "مجاهد" په پروان کې هم د جمعیت اسلامي یوه وړوکې خپرونه درلوده چې په ۱۳۵۹/۱۹۸۰م کال کې دري ګنې خپره شوه.

د آلمان په هیوادکې هم د (مجاهد) په نامه اونیزه د بن په ښارکې د جمعیت اسلامي د نمایندګی لخوا خپریدله چې تر ۱۳۷۲/۱۹۹۳م پورې يې دوام درلود.

د خپروني نوم: *د جهاد هنداره* ***Mirror of Jehad***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ سلواغه/۱۹۸۲م جنوري، پیښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: جمعیت اسلامي، سرمحرر: نه لري په ۱۳٦٤/۱۹۸۵م کې انعام روسي، شمیر: دوه زره ګنې، د خپروني ډول: دوه میاشتنۍ مجله، رنګه پښتي، تصویري، ٥٠ مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه: ۲٤x۱۸ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٥ تله/۱۹۸٦م اکتوبر، محتوی: مقالې او د جمعیت اسلامي کنفرانسونه او اعلامیې.

د خپروني نوم: *د افغانستان خبرونه* ***Afghanistan Journal***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦ وری/۱۹۸۷م د جولای آخر، بن – آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بن کې د افغانستان د اسلامي جمعیت نمایندګي، سرمحرر: نه لري، شمیر: زرګنې، د خپروني ډول: خبري میاشتنۍ، یورنګ، ٦ مخونه، ژبه: آلماني، کچه: ٤٦x۳۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: هماغه کال له ځلورګنو خپریدو وروسته. محتوی (سنخپانګه): دافغانستان خبرونه او د برهان الدین رباني وینا وې.

د خپروني نوم: *انقلاب اسلامي افغانستان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸/۱۹۷۹م، تهران – ایران

خپرندوی او د امتیاز خاوند: دجمعیت اسلامي د تهران نمایندګي فرهنګي کمیته. سرمحرر: عبدالمجید سالک، شمیر: له دوو تر دری زروګنو، د خپروني ډول: میاشتنۍ جریده، ژبه: دري، کچه: سنخني ۲۱x۲٤ سانتي متره دوه رنګه، د کار پای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٦م، په کابل کې د مجاهدینو له واک ته رسیدو سره، محتوی: د افغانستان د جمعیت اسلامي د اهدافو بیانوونکې.

د خپروني نوم: *ارمان مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ لمریز/۱۹۸۸م هرات – افغانستان، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د حضرت عليّ د غونډ عمومي آمریت (د فضل احمد ګرګ تر قوماندانۍ لاندې)، مسوول مدیر: غوث الدین رحیمي شمیر: دري سوه ګنې، د خپروني ډول: نامنظم خبري بولتین د مجلې په بڼه، ژبه: دري، کچه: ۳۳x۲۱ سانتي متره، یو رنګ، ګستتنر چاپ او فوتوکاپي، د کار پای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹، محتوی: د جمعیت اسلامي له شخصیتونو سره مرکې، د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: د افغان جهاد خبرونه **Afghan Jehad News**

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦لمریز/١٩٨٧م، واشنګټن ډی سی – امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی جمعیت، مدیر: نه لری، شمیر:؟ د خپرونې دول: میاشتنی خبری جریده، یورنګ، څلور مخونه، ژبه: انګلیسی، کچه: ٤٢X٢٩ سانتی متره، د خپرونې دکار پای ١٣٦٦لمریز/١٩٨٧م داتو ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې، راپورونه او خبرونه.

د خپرونې نوم: ***IOAOC NCAAMA***

د خپریدو کال او ځای: ١٣٥٩/١٩٨٠م، پیښور، پاکستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: جمعیت اسلامی، سرمحرر: نه لری، تیراژ: زرګنې، د خپرونې دول: نامنظمه خبری جریده، یورنګ شپږ مخونه، ژبه: روسی، کچه: ٤٢X٢٩ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٧ لمریز/١٩٨٨م، منځپانګه: د افغانستان خبرونه او د مجاهدینو دریځونه، یادونه: په روسی ژبه د مجاهدینو لوسرنی خپرونه ده.

د خپرونې نوم: *اسلام برغ*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٥٩ لمریز/١٩٨٠م، پیښور – پاکستان.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی جنوب لویدیځه حوزه، مسؤول مدیر: عصمت قانع، شمیر: دوه زره ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی خبری جریده، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٥٨X٣٥ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٩ لمریز/١٩٩٠م. منځپانګه: سیاسی مقالې او د جمعیت اسلامی ګوند راپورونه او خبرونه.

د خپرونې نوم: *امهات المؤمنین*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦لمریز/١٩٨٧م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د جمعیت اسلامی د خویندو انجمن، سر محرر: نه لری، شمیر: ١٥٠٠ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی جریده یورنګ، ٨ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٢X٣٠ سانتی متره د خپرونې دکار پای: ١٣٦٩ لمریز/١٩٩٠م، منځپانګه: مقالې او د جمعیت اسلامی اعلامیې او مرکې.

د خپرونې نوم: *بشارت*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٥٩ لمریز/١٩٨٠م، هرات – افغانستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د هرات ولایت عمومی امارت. مسؤول مدیر: معلم عبدالله، شمیر: ٣٠٠ ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی خبری جریده، دګستتنر چاپ، صحافی او سنجاقی، یورنګ، ژبه: دری، کچه: ٢٩X٢١ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٧ لمریز/١٩٨٨م منځپانګه: مقالې او د لویدیځو جبهو خبرونه.

د خپرونې نوم: *پیام آزادی*

د خپریدو کال او ځای: د ١٣٦٣ لمریز کال مرغومی/١٩٨٤م دسمبر پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د

پروان ولایت د امارت شوری/م قانونی، سرمحرر: سید حامد، شمیر/؟، د خپرونی دول: نامنظمه خبرنامه په گستتنر او یا فوتو کاپی چاپ، ژبه: دری، کچه: ۲۱ x ۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۵/۱۹۸۶م، منځپانگه: د جمعیت اسلامی خبرونه او راپورونه او د دی گوندله قوماندانانو سره مرکی.

د خپرونی نوم: *پیام افغانستان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹ ثور/ ۱۹۸۰م اپریل، تهران – ایران. خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بهرکی د جمعیت اسلامی نمایندگی، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر: ۵۰۰ گنی، د خپرونی دول: میاشتنی خبری جریده، یو رنگ، فوتو کاپی، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ؟، منځپانگه: خبرونه، مقالی او د افغانستان او جمعیت اسلامی په اړه راپورونه.

د خپرونی نوم: *پیام بلخ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۹لیندی/ ۱۹۹۰م نومبر، تهران خپرندوی او دامتیاز خاوند: د شهید ذبیح الله جبهه، مسؤول مدیر: عبدالعلیم حمیدی، شمیر:؟، د خپرونی دول: دوه میاشتنی مجله رنگه پښتی، په ۵۶ مخونو کی، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: هماغه کال د دری گنو له خپریدو وروسته، منځپانگه: سیاسی او اسلامی مقالی.

د خپرونی نوم: *پیام زن*

د خپرونی نوم: *پیغام مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۸ لمریز/۱۹۸۹م، بدخشان – افغانستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: د بدخشان امارت فرهنگی کمیته، مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه جریده، گستتنر چاپ، صحافی اوسنجاقی، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۹ لمریز/۱۹۹۰م، منځپانگه: د افغانستان د جگړی په اړه خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *توحید سنگر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۸ لمریز:۱۹۸۹م، مشهد-ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اسماعیل خان په قوماندانی د جنوب لویدیزی حوزی امارت، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ۳۰۰ گنی د خپرونی دول: میاشتنی مجله، لیکنی، فوتو کاپی، صحافی، سنجاقی، یو رنگ، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۹ لمریز/۱۹۹۰م، منځپانگه: د جمعیت اسلامی او افغانستان په اړه خبرونه او راپورونه،

د خبرونی نوم: *ثاقب*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷ لمریز/۱۹۸۸، د افغانستان دننه خپرندوی او د امتیاز خاوند: د سمنگان ولایت فرهنگی کمیته مدیر او یا سرمحرر: نه لری، شمیر: ۵۰۰ گنی، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی،

گستتنر چاپ، صحافي، سنجاقي، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٧ لمریز ۱۹۸۸م، منځپانگه: سیاسي مقالي او د جمعیت اسلامي اعلامیې.

د خپروني نوم: **جمعیت**

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥ لمریز/۱۹۸٦م، لاهور - پاکستان.

د امتیاز خاوند او خپرندوی: د افغانستان اسلامي جمعیت، مسوول مدیر: زاهدی احمد زی، شمیر:؟، دخپروني دول: نامنظمه، ژبه: اردو، کچه: ۱۲X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: هماغه کال له ځلورو گنو وروسته، منځپانگه: خبرونه او مقالي.

یادونه: همدارنگه په دې نامه بله خپرونه د امریکا په کلیفورنیا ایالت کې د ۱۳۷۱ - ۷۲ لمریز/۱۹۹۲-۹۳ میلادی کلونو په منځ کې خپریدله.

د خپروني نوم: *د جهاد پلوشه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز وری/۱۹۸۷م مارچ پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: جنوب لویدیځه حوزه، مسؤول مدیر: عصمت قانع، شمیر: ۵۰۰ گنې، د خپروني دول: میاشتنی مجله، دوه رنگه، ٤٥ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۱۵X۲٤ سانتي متره، د خپروني د کار پای: کب ۱۳٦٦/۱۹۸۸ جنوری، منځپانگه: تاریخي او ادبي مسایل او د افغانستان د پیښو راپورونه.

د خپروني نوم: *د جهاد غږ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٧/۱۹۸۸م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ننگرهار ولایت فرهنگي شوری، مسوول مدیر: مولوی عبدالجلیل، فقیری مراد، شمیر: ۵۰۰ گنې، د خپروني دول: میاشتنی خبری جریده، دوه رنگه فوتو کاپي نامنظمه خپریدله، ژبه: پښتو او دری، کچه ۲۰X۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٨ لمریز/۱۹۸۹م، منځپانگه: سیاسي مقالي او خبرونه.

د خپروني نوم: *دانشجو*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٧ د لیندی ۱۲مه/ ۱۹۸۸م د دسمبر ۳مه تهران، ایران. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت اسلامي د ځوانانو د اسلامي او انقلابي افکارو خپروونکي، سرمحرر: م، ی، شهباز، شمیر: دری زره گنې، د خپروني دول: دیني، فرهنگي، سیاسي او ټولنیزه میاشتنی جریده، یو رنگ، ٤ مخونه ژبه: دری، کچه: ۳٤X٤٨سانتي متره، د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز د مرغومي ۳۰مه/۱۹۹۲م د جنوری ۲۰مه، منځپانگه: د افغانستان خبرونه او راپورونه، د نړی پیښې او د رباني بیاني او اعلامیې.

د خپروني نوم: *راه حسین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥ لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د جمعیت اسلامي د هزاره جات څانگه، سرمحرر: نه لري، شمیر:؟ د خپروني دول: نامنظمه رساله یې، فوتو کاپي، ٤ مخونه، ژبه:

دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپروني دکار پای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م، منځپانګه: د جمعیت خبرونه او د بامیان ولایت د مجاهدینو خبرونه او راپورونه.

د خپروني نوم: ***راهیان سحر***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ لمریز/۱۹۸۵م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د فاریاب ولایت د جمعیت اسلامي نمایندګي، مسوول مدیر: ملکزاد شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه پنځلس ورځنۍ جریده، چاپ فوتو کاپي. ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٥ لمریز/۱۹۸٦م، منځپانګه: د جمعیت اسلامي اعلامیې او دفاریاب د مجاهدینو خبرونه.

د خپروني نوم: ***راهیان نور***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ثور/۱۹۸۸م اپریل، مشهد–تهران، د امتیاز خاوند او خپرندوی: په هرات کې د غلام محمد نیازي شهید قرارګاه، مسؤول مدیر: نه لري، شمیر: ۵۰۰ ګنې، د خپروني ډول: پنځلس ورځنۍ خبري جریده، چاپ، فوتو کاپي ٦۷ مخونه، ژبه: دري، کچه ۲۹X۲۰ سانتي متره، دکار پای: ۱۳٦۷ کال وروستی/۱۹۸۹م د ۱٦ ګنوخپریدو څخه وروسته، منځپانګه: د لویدیځو جبهو خبرونه، مقالي اود افغانستان د شهیدانو یادونه.

د خپروني نوم: ***رهروان سمیه***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ لمریز د وری ۱۵مه/۱۹۸۸م د سپتمبر ٦مه مشهد – تهران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په مشهد کې د جمعیت اسلامي فرهنګي څانګه، مسوول مدیر: آمنه افضلي، شمیر: ۵۰۰–۱۰۰۰ ګنې د خپروني ډول: میاشتنۍ مجله، لومړی دوره فوتو کاپي، دوهم دور چاپ، یو رنګ، ۲٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲٦X۲۰ سانتي متره، دوهم پړاو ۵۰X۳٦ سانتي متره، خبري جریده، د خپروني د کار پای:؟ منځپانګه: مقالي او د هیواد د لویدیځو جبهو خبرونه.

د خپروني نوم: ***سپیدهٔ جهاد***

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۳ لمریز/۱۹۸٤م، پاریس – فرانسه د امتیاز خاوند او خپرندوی: د جمعیت اسلامي نمایندګي، سرمحرر: نه لري، شمیر: ؟ د خپروني ډول: نامنظمه، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه ۲۹X۲۰ سانتي متره، د کار پای: هماغه کال له دوو ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: مقالي اود جمعیت اسلامي اعلامیې.

د خپروني نوم: ***سیمای مجاهد***

د خپریدوکال او ځای:؟ خپرندوی: په کندز کې د جمعیت اسلامي نمایندګي، ژبه: پښتو او دري د کار پای: ؟، د خپریدو ځای: پیښور.

د خپروني نوم: ***سنګر***

د خپریدو ځای او کال: ١٣٥٩/١٩٨٠م، دوهم پړاو ١٣٦٤/١٩٨٥م پیښنور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: بادام ظریفي، د جمعیت اسلامی د تبلیغاتو څانګه، دوهم پړاو د بغلان ولایت نمایندګي، مسوول مدیر: عبدالغفار کوتوال، په دوهم پړاوکې، اندیشمند، شمیر: پنځه سوه، د خپرونې ډول: میاشتنی خبري جریده، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٢X٢٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: هماغه کال له پنځوګنو څخه وروسته دوهم پړاو ١٣٦٧/١٩٨٨م، منځپانګه: د جمعیت اسلامی خبرونه او مقالې.

دخپرونې نوم: *شهید زیری*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٠/١٩٨١م، پیښنور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی فرهنګی کمیټه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟ د خپرونې ډول: میاشتنی، دوه رنګه، ٧٠ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٠X٣٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦١ لمریز/١٩٨٢م منځپانګه: د افغانستان د جهاد د شهیدانو ژوند لیک.

د خپرونې نوم: *صدای اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦ لمریز/١٩٨٧م، پیښنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی فرهنګی کمیټه، مسوول مدیر یا سرمحرر: جلال فرهیخته شمیر: ؟، د خپرونې ډول: میاشتنی خبری جریده، څلور مخونه، ژبه: روسی، کچه: ٤٢X٢٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٨/١٩٨٩م منځپانګه: د افغانستان خبرونه او راپورونه.

د خپرونې نوم: *صوت الجهاد*

د خپریدو کال او ځای: ١٤٠١ هـ قمري، خپرندوی او د امتیاز خاوند: ء جمعیت اسلامی فرهنګی کمیټه، مسوول مدیر: عبدالاحد تارشي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، تصویري، ژبه: عربي، کچه: ٤٠X٢٥ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦١/١٩٩٢م. منځپانګه: خبرونه، مرکې، درباني بیانیي او د جمعیت اسلامی اعلامیې.

د خپرونې نوم: *فتح*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧١لمریز/١٩٩٢م، پیښنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: جمعیت اسلامی، مسوول مدیر: هیأت تحریر، شمیر: یو زر او پنځه سوه ګنې، د خپرونې ډول: او نیزه خبري جریده یورنګ ٨ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٢X٢٩ سانتي متره، د کار پای: ١٣٧٤/١٩٩٥م، منځپانګه: د افغانستان پیښې او خبرونه او د نورو مجاهدینو پر خلاف مضامین.

د خپرونې نوم: *فروغ انقلاب*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦١ لمریز/١٩٨٢م، هرات، خپرندوی او د امتیاز خاوند: جمعیت اسلامی، سر محرر: ب، سوګوار، شمیر: ؟، د خپرونې ډول: پنځلس ورځنی/میاشتنی جریده، دګستتنر چاپ، یورنګ،

٤ مخونه، ژبه، دری، کچه ۲۹X۲۱ سانتي متره، د کار پای: ١٣٦٦ لمریز:١٩٨٧م، منځپانګه: مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *کابل*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦ لمریز/١٩٨٧م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی د کابل د مرکز نمایندګی، مسوول مدیر: فرهنګی شوری، شمیر: ؟ د خپرونې دول: خبری سیاشتنی، یورنګ ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٥٥x٣٥ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٩/١٩٩٠م، منځپانګه: د افغانستان خبرونه د رباني بیانیې، د جمعیت اسلامی فعالیتونه.

د خپرونې نوم: *کاروان جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦١ لمریز/١٩٨٢م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د بدخشان نمایندګی، مسوول مدیر: ف، فاضل، ع، پیمان، شمیر: ؟، د خپرونې دول: نامنظمه میاشتنی، یورنګ، ٨-١٢ مخونه ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ؟، منځپانګه: د مجاهدینو خبرونه او په بدخشان کې د جمعیت اسلامی فعالیتونه.

د خپرونې نوم: *لوای اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٣ لمریز/١٩٨٤م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حربی پوهنتون، سرمحرر: نه لری، شمیر:؟ د خپرونې دول: نامنظمه میاشتنی جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٥٠x٢٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:هماغه د خپریدو کال له څلورو ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه، شعرونه، د جهاد د شهیدانو یادونه.

د خپرونې نوم: *لوای حق*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦ وری/١٩٨٧م سپتمبر، تربت جام – ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د شهید حفیظ الله افضلی جبهې، سر محرر: نه لری، شمیر:؟ د خپرونې دول: میاشتنی مجله، یو رنګ، چاپ ګستتنر، ٤٠ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٧٠ لمریز ثور/١٩٩١م اپریل، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه شعرونه او د جهاد د شهیدانو یادونه.

د خپرونې نوم: *سرصد الجهاد*

د خپریدو ځای او کال: ١٣٦٣ لمریز/١٩٨٤م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: دجمعیت اسلامی د سمنګان ولایت فرهنګی شورا مسوول مدیر: عبدالله مستقیم، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه، دوه رنګه ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٣٥x٢٥ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٨/١٩٨٩م، محتوی: مقالې او دسمنګان او شمالي ولایتونو د جبهو خبرونه.

د خپرونې نوم: *المجاهدون*

د خپریدو کال او ځای: ١٤٠٧ هـ ق/ لړم ١٣٦٥/١٩٨٦م آکتوبر، خپرندوی او دامتیاز خاوند: فرهنگی کمیټه، مسوول مدیر: عنایت الله خلیل، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، رنگه پښتی، تصویری، ٦٠ مخونه، ژبه: عربی، کچه ٢١ X ٢٩ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦٩ کب/١٩٩٠م جنوری، منځپانگه: د مجاهدینو د معتبرو خپرونو څخه شمیرل کیږی، او د رنگارنگ راپورونو او مضامینو په سبب دیره د پام ور وه.

د خپرونی نوم: *مشعل*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٥/١٩٨٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: فرهنگی کمیټه د جمعیت اسلامی، مسوول مدیر: سید عبدالله، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی مجله، رنگه پښتی تصویری، ٦٠ مخونه، ژبه: اردو، کچه ٢١X٢٩ سانتی متره، د کار پای: ١٣٦٧/١٩٨٩م، منځپانگه: راپورونه او د افغانستان او جمعیت اسلامی د اهدافو په اړه مقالی.

د خپرونی نوم: *میثاق خون*

د خپریدو د کال او ځای: ١٣٦٠/١٩٨١م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی فرهنگی کمیټه، مسؤول مدیر: ف فاضل، عماد الدین وثیق، شمیر: دوه زره گنی د خپرونی دول: میاشتنی مجله/دری میاشتنی، رنگه پښتی، تصویری، د ٥٠-٨٠ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢١X٢٩ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦٩وری/١٩٩٠م سپتمبر منځپانگه: دافغانستان د جهاد یوه معیاری مجله وه چی د افغانستان د جهاد او اسلامی نړی په اړه یی ارښتناک مضامین خپاره کړی.

د خپرونی نوم: *ندای جمعیت*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٥٨/١٩٧٩م بدخشان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت اسلامی دراغ جبهه، سرمحرر: نه لری، شمیر: دوه سوه گنی، د خپرونی دول: وړوکی گستتنر شوی، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢١X٢٩ سانتی متره، د کار پای: هماغه کال له دری گنو خپریدو وروسته: منځپانگه: د جبهو خبرونه.

د خپرونی نوم: *ندای خواهران مسلمان*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٨ل/١٩٨٩م، تهران، خپرندوی او امتیاز: په ایران کی د افغانستان د اسلامی جمعیت مسلمانی خویندی، مسوول مدیر: هما فیضی، شمیر: زر گنی، د خپرونی دول: میاشتنی نامنظمه جریده، یورنگ څلور مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢٤ X ٣٤ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦٩ لمریز/١٩٩٠م، منځپانگه، د ربانی بیانیی، خبرونه او د افغانستان راپورونه.

د خپرونی نوم: *ندای مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٨ لمریز مرغومی/١٩٨٩م دسمبر نیویارک، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جمعیت نمایندگی مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ؟، د خپرونی دول: نامنظمه، یورنگ، ٨ مخونه،

ژبه: دری، کچه: ۳۰×٤٥ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳٦۹ د غبرګولی ۲٦مه/۱۹۹۰م د مې ۲۳مه، له دوو ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: مقالې خبرونه او دجمعیت اسلامی د مشر ویناوې.
د خپرونې نوم: *نیروی ایمان*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷ م، کویټه – پاکستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: جنوب لویدیځه حوزه، مسوول مدیر: عبدالغفورتیمن، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنۍ خبری جریده یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۳٥×٥۸ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹م، منځپانګه: مقالې، راپورونه او د ربانی پیغامونه.
د ژباړن یادونه: د جمعیت اسلامی افغانستان مربوط د وردګو او میدان ولایت د چک ولسوالۍ جبهې له ۱۳٦۳ – ۱۳٦٥ کلونو پورې یوه جریده د "پیمان مجاهد" په نامه خپروله چې نامنظمه له ۲–٥ سوه ګنو پورې خپریدله چاپ یې ګستتنر او مسوول یې: شیرباز کمین زاده ؤ. منځپانګه یې د وردګو او میدان د جبهو خبرونه، راپورونه او دجمعیت اسلامی مربوط خبرونه او سیاسی مضامین.

## د افغانستان د نجات ملی جبهه

د افغانستان د نجات ملی جبهه د یوه اسلامی او سیاسی سازمان په توګه د تشکیل څخه وروسته بیاهم د صوفیانه تصوراتو او د هغوی د پلویانو په چاپیریال کې څرخی، سره له دې چې د حضرت مجددی شخصیت لکه څنګه چې بنائید له چې صوفی توب د خپل کار پیل وګرځوی هغسی نه وه، یوازې د مجددی قیادت دطریقت د پیر په توګه د دوی د پلویانو په ذهنونو کې پاتې ؤ. د نجات ملی جبهه یو منځلاری اسلامی تنظیم دی چې له جوړیدو وروسته یې مرامنامه په دری فصلونو، دعمومی احکام، داخلی سیاست، او بهرنی سیاست، کې ترتیب اوخپره کړی ده، (د نجات ملی جبهه د یوه اسلامی حکومت د جوړیدو په خاطر چې په هغې کې ټولې سیاسی، اقتصادی او ټولنیزې چارې پر اسلامی بنوونو ولاړې وی مبارزه کوی، د هیواد د سیاسی اداری لپاره د شوری د اصل تثبیت او د فردی او ټولنیزو آزادیو تضمین د اسلام په اساس زمونږ د اساسی هدفونو څخه دی..."(۱۳)

د دې سازمان مشری د صبغت الله مجددی پر غاړه ده، په داسې حال کې چې حشمت الله مجددی او داکتر ذبیح الله مجددی هم د جبهې په چارو کې کلیدی رول لری، دغه تنظیم د مجددی د کورنی د پلویانو په سبب په ټول هیواد کې پلویان لری، په ۱۳۳٥ لمریز/۱۹٥٦م کال د فضل عمر مجددی له وفات څخه وروسته محمد ابراهیم مجددی چې په "شیر پادچا" مشهور ؤ د نقشبندیه طریقې پیری په غاړه اخلی، چې هغه د تره کی رژیم په ۱۳٥۷ لمریز کال سلواغه/۱۹۷۹م جنوری کې د کورنی له نورو غړو سره اعدام کړ، چې د پیری او تصوف رول هم د سیاسی فعالیتونو ترڅنګ حضرت صبغت الله مجددی ته د ملی

نجات جبهې په محور ورسیدل.

## د صبغت الله مجددی ژوند لیك

د مجددی کورنی د روحانیونو له جملې څخه ده، او له پخوا څخه یې د افغانستان په سیاست کې مهم رول لوبولی دی، دغې کورنۍ د امان الله خان د واکمنې په پیل کې په دې ګومان چې د سید جمال الدین افغانی (پان اسلامیزم) طریقه به راژوندی شي د هغه هر کلی او ملاتړ وکړ، خو د امان الله خان غیر مسوولانه کړو وړو دغه کورنۍ مخالفت ته ورسره مجبوره کړه، د "کودملا" له پاڅون سره جوخت چې په ۱۳۰۳ لمریز/۱۹۲٤م کې په خوست کې پیل شو د مجددی کورنۍ رول په دې پاڅون کې او د سلیمان خیل قوم پیوستون له پاڅون سره چې د دوی سریدان وو مهم ګڼل کیږي. کله چې حبیب الله کلکانی (د سقاو زوی) را منځ ته شو، د مجددی د کورنۍ ملاتړ یې له ځانه سره درلود، خو دوه مهم عوامل یو د غلا کړه وړه او بل د دین کشول نامناسب منطق ته د دې سبب شول چې غلزی قوم او د افغانستان جنوبی قبایل محمد نادر خان ته بلنه ورکړي او فضل عمر مجددی (شیر آقا) واک ته د نادر خان په رسولو کې مهم او محوری رول اداکړ، د مجددی کورنۍ د محمد نادر او محمدظاهر شاه په دربار کې د مشاورینو او با نفوذه روحانیونو په حیث وو. حضرت صبغت الله مجددی د محمد معصوم مشهور په میاګل جان آغا زوی او د شیخ المشایخ د شور بازار حضرت صاحب لمسی دی چې په ۱۳۰٤ لمریز/۱۹۲۵م په کابل بنار کې زیږیدلی دی. خپلې زده کړې یې په حبیبیه لیسه کې پای ته رسولې او په ۱۳۳۲/۱۹۵۳م کال یې د مصر په الازهر پوهنتون کې د اسلامی حقوقو په څانګه کې، خپلې زده کړې بیشپړې کړې، وروسته مجددی کابل ته ستون شو او د کابل په تعلیمی مرکزونو کې مثلاً دارلمعلمین، حبیبیه لیسه او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو په پوهنځی کې یې په تدریس لاس پورې کړ، هغه وخت چې محمد داود د صدارت منصب درلود د اتحاد شوروی صدر اعظم خروسچف او د کمونست حزب عمومی منشی بولګانین یې کابل ته دعوت کړل. دغه سفر په ۱۳۳٤ د لیندی ۲۲مه/۱۹۵۵م د دسمبر ۱۳مه تر سره شو، مجددی په هغوی د حملې په تور د وخت د استخباراتو د اداری مرستیال میر اکبر خیبر د غلطو راپورونو راپورونو په نتیجه کې ونیول شو چې ګواکې پر خروسچف یې حمله کوله او څلورنیم کاله یې د دهمزنګ په جیل کې تیر کړل. وروسته بیا له خپلې تولې کورنۍ سره تبعید شو او مصر ته ولاړ، مجددی یو مبارز شخصیت دی چې په ۱۳۳۸ لمریز/۱۹۵۹م کال یې د سویز کانال په جګړه کې د انګریزانو، فرانسویانو او اسرائیلو پر ضد عملاً برخه واخسته، مجددی د مصر له اخوان المسلمین ګوند سره اړیکې پیاوړې کړې او زیاتې همکاری یې ورسره وکړې، د جمال عبدالناصر حکومت د مجددی له کورنۍ څخه و ویره درلوده او د ده ورور محمد هارون مجددی یې ونیو او بندی یې کړ. کله چې د محمد داود حکومت له منځه ولاړ او په

افغانستان کې مشروطه قانون نافذ شو، مجددي بیرته کابل ته ستون شو، او په ۱۳۵۰ لمریز/۱۹۷۱م، یې جمعیت العلمای محمدي دله جوړه کړه، د هغو فعالیتونو سره جوخت چې د افغانستان ځینو علماؤ درلودل او په پل خشتي جومات کې یې د رژیم پر خلاف په مظاهرو کې ونډه درلوده، د ځوانانو د اسلامي نهضت سره یې هم نږدې اړیکې درلودې، په ۱۳۵۲ لمریز/۱۹۷۳م کال د نړیوال اسلامي کنفرانس په بلنه له غلام رباني عطیش سره یو ځای لیبیا ته ولاړ او د هیأت ریاست یې پرغاړه ؤ.

یو څېړونکی د پاچا په وخت کې د مجددي د کورنی مقام تحلیل کړی دی لیکي: ضد او نقیض جریانونه د مجددي کورنی جنجالونو ته ورکشوي په داسې حال کې چې په حاکم قدرت پورې (د شاه کورنۍ) تړلي دي د لویدیځ په لورمیلان او د رژیم پر قوانینو انتقاد کوي، سره له دې چې شتمن دي خو د پانګوالي پرمختګ څخه په څنګ کې پاتې شوي دي، سره له دې چې رسمي دندې لري خو په سیاسي لحاظ د رژیم د مخالفینو په ډله کې دي، او سره له دې چې محافظه کار دي له ځینو اسلام پالولوریو (سیاسي اسلام) سره پیوستون لري. (۱٤)

د ۱۳۵۲ لمریز د سرطان ۲٦مې/۱۹۷۳م د جولای ۱۷مې له کودتا سره چې شاهي رژیم له منځه ولاړ او دکمونستانو په مرسته د محمد داود جمهوریت را منځته شو، غلام رباني عطیش له یو شمیر نورو د اسلامي نهضت د ځوانانو سره ونیول شو، او مجددي له خپلې کورنی سره افغانستان پرېښود او بیروت ته ولاړ، له هغه ځایه سعودي عربستان ته ولاړ او هلته یې یو کال د (رابطه عالم اسلامي) په دفتر کې کار وکړ، څلور کاله یې د اسلامي چارو په اړه په سکانډیناوی هیوادونو کې د دنمارک د کوپن هاګن د مرکز سرپرستي وکړه.

د ثور د اومې ۱۳۵۷ د کودتا څخه وروسته د مجددي د کورنی ټول نارینه کمونستي رژیم په ډله ئیزه توګه اعدام کړل او د دې کورنی ښځې یې جیلونو ته واستولې، صبغت الله مجددي له کوپن هاګن څخه مکې مکرمې ته ستون شو هلته یې د اسلامي تولنو او دولت په تائید د نجات ملي جبهې جوړولو ته اقدام وکړ، او د پاکستان پېښور ته راغی، کوم وخت چې نوموړي په پېښور کې د نجات ملي جبهې د مشر په توګه خپل موجودیت اعلان کړ برهان الدین رباني له ده سره د ائتلاف کوونکو څخه ؤ چې انشعاب یې وکړ. په ۱۳۵۸ لمریز زمرې/۱۹۷۹م اګست کې د (اتحاد اسلامي افغانستان) په ائتلاف کې له برهان الدین رباني او مولوي خالص سره شامل ؤ. په ۱۳۵۸ لمریز سلواغه/۱۹۸۰م جنوري کې د (اتحاد اسلامي برای آزادی افغانستان) د ائتلاف یو لوری ؤ، که چې د مجاهدینو په ګوندونو کې د بنسټ پالو او ملت پالو په نامه اختلاف را منځته شو. اوه ګوني اتحاد جوړ شو او د نجات ملي جبهې ځیني غړي له بنیادګرایانو سره یو ځای شول، مجددي له محمدي او ګیلاني سره د درې ګوني اتحاد په جوړولو لاس پورې کړ. په ۱۳٦۰ لمریز کال/۱۹۸۱م په پېښور کې د یوې حملې څخه روغ ووت او ۲۳ کلن زوی یې عظیم الله

ووژل شو. په ۱۳٦۷ کال د غبرګولې ۲۹مه/۱۹۸۸م د جون ۱۹مه د مجاهدینو په انتقالي حکومت کې دده سشر زوی ډاکتر ذبیح الله مجددي د حکومت د مرستیال منصب ترلاسه کړ. مجددي په مشورتي شورې کې د سني او شیعه ګوندونو په یو والي کې زیاتې هڅې وکړې، همدارنګه په نړیوالو روابطو کې د مجددي رول له بهرنیو هیوادونو سره ډیر لوی ؤ.

د افغانستان د مجاهدینو په لنډمهالي حکومت کې په پیښور کې مجددي د دولت د رئیس دنده په غاړه درلوده، کله چې په ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م کال له کمونستانو څخه مجاهدینو ته د اقتدار لیږدولو پروسه ترسره کیده نوموړي د دوو میاشتو لپاره دغه دنده په غاړه درلوده، مجددي د خواخوږو او فعالو مشرانو له جملې څخه دی چې په افغانستان کې یې د اسلامي دولت د جوړیدو په لارکې ډیرې هڅې کړې دي، نوموړی احساساتي، خواخوږی او زړ خفه کیدونکی دی، په اردو، عربي او انګلیسي په مهارت خبرې کولې شي او د اسلامي فکر او اند په اړه د پام وړ شخصیت دی.

## د نجات ملي جبهې خپرونې:

د خپرونې نوم: *افغانستان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹ لمریز/۱۹۸۰م کوپن هاګن، ډنمارک د امتیاز خاوند او خپرندوی: د افغانستان د نجات ملي جبهه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنۍ نامنظمه، ژبه: دري او پښتو کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، یورنګ، ٤۰ مخونه، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، منځپانګه: سیاسي مقالې، خبرونه او په اروپا کې د افغانانو فعالیتونه، د صبغت الله مجددي بیانیې.

د خپرونې نوم: *پیام وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤لمریز وری/۱۹۷۵م اپریل، لاهور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د نجات ملي جبهه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنې، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، دوه رنګه په اتو مخونو کې، ژبه: پښتو، دري او انګلیسي، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۸لمریز زمری/۱۹۸۹م اګست. منځپانګه: مقالې، او د حضرت صبغت الله مجددي بیانیې او لیکنې.

د خپرونې نوم: *پیام عروة الوثقی*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۵ لمریز غبرګولې/۱۹۸٦م مې، پیښنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ملي نجات جبهې جمعیت العلماء محمدي، سر محرر: محمد عمر اثیر، شمیر:؟، د خپرونې ډول: مجله دوه میاشتنۍ، ژبه: پښتو او دري، کچه ۲۱ X ۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹م، منځپانګه: دیني، ټولنیزې، تاریخي او ادبي مقالې او د مجاهدینو راپورونه.

د خپرونی نوم: *جبهه آزادی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د نجات ملی جبهی فرهنګی کمیته، مسوول مدیر: هدایت الله متین، شمیر: زرګنی، د خپرونی دول: دوه میاشتنی جریده دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه انګلیسی، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۷ لمریز کب/ ۱۹۹۰م جنوری، منځپانګه: د مجددی بیانیی او د نجات ملی جبهی اعلامیی.

د خپرونی نوم: *جبهه جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ لمریز لیندی/۱۹۸۵م نوامبر، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ملی نجات جبهه، سرمحرر:؟، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی دول: نامنظمه جریده، دوه رنګه ٤-۸ مخونه، ژبه پښتو او دری، کچه: ۵۸x٤۰ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۸لمریز د غبرګولی ۲٤مه/۱۹۸۹م د جون ۱٤مه/ دوهم پړاو په ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، منځپانګه: د افغانستان خبرونه او د مجددی ویناوی.

د خپرونی نوم: *جهاد*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦۲ لمریز غبرګولی/۱۹۸۳م می، پیښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: د نجات ملی جبهی فرهنګی کمیته، سرمحرر: نه لری، شمیر:؟، دخپرونی دول: نامنظمه جریده، یو رنګ ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۳ چنګاښ/۱۹۸٤م جون، منځپانګه: خبرونه، سیاسی مقالی، او د نجات جبهی فعالیتونه.

د خپرونی نوم: *راستګویان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹م، کوپن هاګن، دنمارک، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د نجات ملی جبهی د نمایندګیو مرکزی دفتر، سرمحرر: نه لری، شمیر: دوه زره، د خپرونی دول: میاشتنی نامنظمه جریده، یورنګ، ٤-۱۲مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه ٤۲x۲۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، کابل ته د مجددی له تلو سره، منځپانګه: د مجددی ویناوی، خبرونه اود حزب اسلامی او حکمتیار پر خلاف مقالی.

د خپرونی نوم: *د مجاهد ږغ پانه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۳ لمریز: ۱۹۸٤م، هامبورګ، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د نجات ملی جبهی نمایندګی، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟ د خپرونی دول: نامنظمه، یورنګ په مختلفو مخونوکی، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۷لمریز:۱۹۸۸م (په څلوروکالوکی ۷ګنی خپره شوه) منځپانګه: د مجددی بیانیی، مرکی، مقالی او خبرونه.

د خپرونی نوم: *ندای اسلام*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۵۹لمریز (۱۹۸۰م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: فرهنگی کمیته، سرمحرر: نه لری، شمیر: زرگني د خپروني ډول: جریده نامنظمه، دوه رنگه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۰x۵۰ سانتي متره، د خپروني دکار پای: هماغه د خپریدوکال دوی گنی خپره شوه، منځپانگه: اعلامیې، او د مجددی بیانیې.

د خپروني نوم: ژغورونکی جبهه **Liberation Front**

د خپریدوکال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د نجات ملی جبهه، مسوول مدیر: هدایت الله (متین)، شمیر: زرگني، د خپروني ډول: میاشتنی / دوه میاشتنی مجله رنگه پښتی، تصویری، ٤٤ مخونه، ژبه: انگلیسی، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپروني دکار پای: ۱۳٦۷لمریز ۱۹۸۸م، منځپانگه: سیاسی مقالې، او د افغانستان په اړه د ملی نجات جبهې دریځونه.

## د افغانستان ملی اسلامی محاذ

د افغانستان ملی اسلامی محاذ د پیښور د اوه گونو گوندونو څخه یولوی گوند دی، چې د ۱۳۵۷ لمریز په وری/۱۹۷۸م سپتمبر کې جوړ شو، دغه گوند د افغانستان په جنوب کې د قومی نفوذ څخه برخمن دی، په خپله مرامنامه کې یې د محاذ ملی اسلامی تنظیم د تشکیل هدف د شوروی سزدورو او وطن پلورو خلق – پرچم گوندونو د جوړیدو چې د افغانستان دوگرو د ډله ئیزو وژنو سبب شول ښودل شوی دی. د ملی محاذ اهداف او فعالیتونه په دوو برخوکې د داخلی سیاست او بهرنی سیاست په ساحو کې ویشل شوی دی، د هیواد خپلواکی، ملی، اسلامی حاکمیت او ځمکنی تمامیت خپله ملی او دینی وجیبه بولی، د داخلی سیاست په برخه کې په شپږمه ماده کې د مطبوعاتو په اړه لیکی: د افغانستان ملی اسلامی محاذ د اسلام د سپیڅلی دین د احکامو په رناکې، د وضعه شویو قوانینو سره سم د مطبوعاتو آزادی او فردی او ټولنیزی آزادی ته درناوی لری.

ملی محاذ د افغانستان د راتلونکی ملی دولت په اړه دوهم اسلامی تنظیم دی چې د آزادو او سر تاسری انتخاباتو غوښتونکی دی او په دی هکله لیکی: د برخلیک ټاکلو پر حق د باور په اساس، یوازی هغه حکومت قانونی بولو چې د روا او آزادو انتخاباتو په واسطه جوړ شی. (۱۵)

اما محاذ پر انتخاباتو پرتینگار برسیره د لویې جرگې د جوړیدو پلوی شمیرل کیږی، او د افغانستان د بحران د سیاسی حل لاره لویه جرگه گنی، ملی محاذ همدا رنگه افغانستان ته د محمد ظاهر شاه اود هغه د کورنی د بیرته را ستنیدو او د نوموړی د واکمنی غوښتونکی دی.

په ۱۳۷۷ لمریز د مرغومی په ۱٤مه/۱۹۹۹م جنوری ٤مه د افغانستان د سولی او ملی یو والی ټولنه د پیر سید احمد گیلانی/ او حضرت مجددی په ابتکار په پیښور کې جوړه شوه ترڅو د طالبانو او د

افغانستان په شمال کې د هغوی د مخالفو ډلو ترمنځ د سولې د بدیل په حیث د پراخ بنسټه حکومت د جوړیدو د پلان په پلې کولو کې برخه واخلي.

## پیر سید احمد گیلاني ژوند لیك

پیر سید احمد گیلاني د سید حسن گیلاني زوی دی چې په نقیب صاحب مشهور دی په ۱۳۱۱لمریز/ ۱۹۳۲م په کابل کې زیږیدلی دی، نوموړی خپل تعلیم په کابل کې په ابو حنیفهؒ مدرسه کې پای ته رسولی او په ۱۳٤۳ لمریز/۱۹٦٤ د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ شوی دی، په همغه کال نقیب صاحب، د گیلاني پلار وفات شو او د مریدانو د ارشاد دنده ده ته چې مشر زوی یې ؤ وسپارل شوه، او نوموړی د لوړو تحصیلاتو څخه چې په نظر کې وه په الازهر کې یې سرته ورسوی پاتې شو، پیر سید احمد گیلاني دافغانستان د روحاني شخصیتونو څخه دی چې د ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتا څخه وروسته یې برالا د کمونستي رژیم مخالفت اعلان کړ اود پاکستان پیښور ته یې هجرت وکړ.

په ۱۳۵۷ لمریز د وری په میاشت/۱۹۷۸ سپتمبر کې یې د ملي اسلامي محاذ تنظیم جوړ کړ، او په ۱۹۷۹/۱۳۵۸م کې یې خپل نظامي تشکیلات هم تنظیم کړل، او په ۱۹۸۷/۱۳٦٦م د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د رئیس او ویاند په توگه وټاکل شو، کله چې مجاهدینو په کابل کې واک ترلاسه کړ پیر گیلاني په رهبری شوری کې د بهرنیو چارو وزارت ترلاسه کړ چې سید سلیمان گیلاني دلنډې مودې لپاره دغه مسوولیت پرغاړه درلود، د پیرگیلاني زامنو د افغانستان په سیاسي او تاریخي چارو کې او د شوروي اتحاد د تیری په مقابل کې په ملي او نړیواله سطحه فعال رول درلودلی دی، فاطمه گیلاني لوربې په نړیواله سطحه د یوې مسلماني افغاني په حیث ارځښتناک خدمتونه سرته رسولي دي او په خپلو سیاسي تحلیلونو یې وکولای شول چې دیوې مسلماني او افغاني ښځې رول په بری او غوره ډول تمثیل کړي، همدارنگه فاطمه گیلاني د ملي اسلامي محاذ د نماینده په توگه په لندن او د اروپا په سطحه فعالیت کوی.

د پیرگیلاني اړیکې زیاتره د قومونو او قبایلو له مشرانو سره وې او د سیاسي نظر له مخې هغه یو مسلمان منځلاری او لبرال شخصیت دی، "گیلاني عموماً قبیلي د خانانو په واسطه ترڅارنې لاندې ساتي، له خانانو سره دغه میلان یا له جگړې څخه په وړاندې وخت پورې تړلی دی (چې د دړانیو نه پرته نورو پښتنو کې د مرید اطاعت له پیر څخه دی) او یا له جگړې وروسته منځته راغلی (د دړانیو پاچاهي غوښتونکي اشرافیان چې له گیلاني څخه د خپلې سیاسي وسیلې په حیث استفاده کوی)... د گیلاني ډله یوازې د قبیلویو سیاسي تظاهر دی چې د لویو کورنیو څخه منځته راغلی دی." (١٦) د گیلاني کورنۍ له محمد ظاهر شاه سره هم خپلوی لري، او تل د پخواني پاچا بیا راستنیدل د افغانستان د قیادت بنه بدیل

بولي. د پیر ګیلاني طریقه قادریه ده، چې په افغانستان کې دغه کورنۍ ددې طریقې یوازینۍ پیران شمیرل کیږي. پیر ګیلاني چې د محمد ظاهر شاه په دوره کې هم د مشاورینو او روحانیونو له جملې څخه ؤ د بنومالي شتمنیو په درلودلو سره یې آرام ژوند تیر کړی دی.

پیر سید احمد ګیلاني په انګلیسي، اردو او عربي هم بلد دی.

## د افغانستان د ملي اسلامي محاذ خپرونې

د خپرونې نوم: *محاذ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ مرغومی/۱۹۸۱م دسمبر، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامي ملي محاذ، خپرني ارګان، سرمحرر: فرهنګي کمیته، شمیر: دوه زره ګنې، د خپرونې دول: خبري او نیزه، یورنګ، ٤–۸ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۵۲X۳۰ سانتي متره، د ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م کال څخه وروسته په ٤۲X۲۹ سانتي متره کچه د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د افغانستان را پورونه او خبرونه، د ملي اسلامي محاذ دریځونه، شعرونه او ځانګړي پاڼې، یادونه: دغه جریده د مجاهدینو د منظمو خپرونو له جملې څخه شمیرل کیږي.

د خپرونې نوم: *محاذ (اردو)*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م پیبنور، شمیر: دوه زره ګنې د خپرونې دول: دري میاشتنۍ مجله، رنګه پښتي، تصویري، ٦۰ مخونه، ژبه: اردو، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ؟، منځپانګه: راپورونه، مرکې، اعلامیې او د پیرګیلاني بیانیې.

د خپرونې نوم: ***محاذ The Front***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ لمریز/۱۹۸۷م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د محاذ فرهنګي کمیته، سرمحرر: ایوب اصیل، شمیر: دوه زره ګنې، د خپرونې دول: دري میاشتنۍ مجله، رنګه پښتي، تصویري، ٥٦ مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه: ۲۹X۲۱سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟، منځپانګه: د محاذفعالیتونه او سیاسي دریځ، د افغانستان په اړه خبرونه او راپورونه.

د خپرونې نوم: ***افغانستان Afghanistan***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٥٦لمریز/۱۹۸٦م، پیبنور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ملي محاذ، مسوول مدیر: محمد ایوب اصیل، شمیر: ۵۰۰ – زرګنې، د خپرونې دول: دري میاشتنۍ مجله (فصلنامه)، ژبه: انګلیسي، کچه: ۳۲X۲۲ سانتي متره، رنګه، تصویري، د خپرونې د کار پای: دغه خپرونه ډیره نا منظمه خپریده او یوازې څو ګنې خپرې شوې، منځپانګه: له پیر سید احمد ګیلاني سره مرکې، د محاذ ملي اعلامیې او د افغانستان را پورونه.

د خپرونې نوم: *پیام هرات*

د خپرونې نوم: *الوطن الاسلامی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پیښور: خپرندوی او د امتیاز خاوند: فرهنګي کمیټه، سرمحرر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: دوه میاشتنۍ مجله، رنګه پښتی، تصویري، ٦۰-۷۵ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۷ لمریز/۱۹۸۸م. منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې، خبرونه او راپورونه.

## د مولوي یونس خالص (حزب اسلامي)

دغه اسلامي تنظیم په فکري لحاظ د حکمتیار له حزب اسلامي سره یوشان دی. مرامنامه یې هماغه د حزب اسلامي د اساسنامې مواد دي او یوله بله توپیر نه لري، اصلي توپیر د مشرتابه په سلیقوکې ؤ. چې د حکمتیار روښانفکري تمایلات د مولوي خالص له روحانیت سره له یوې خوا او د نوبې او زړې سلیقې اختلاف او د یو بل نه منل د امارت په یوه اصل کې د دې سبب شول چې دوه بیل بیل تنظیمونه جوړ شول او دا هغه مهال ؤ چې د تنظیمونو جوړیدو ته ډیر ښه شرایط برابرو. دواړو تنظیمونو په یوه مستوی له یو بل څخه بیل فعالیت پیل کړ، دغه د نظر تفاوت د مولوي خالص د حزب اسلامي د مرامنامې په سریزه کې لیدل کیږي.

مولوي محمد یونس خالص د عبدالاکبر زوی په ۱۲۹۸ لمریز/۱۹۱۹م کال چې د افغانستان د خپلواکي له کلیزې سره برابره ده زیږیدلی دی. د زیږیدو ځای یې د خوګیانیو ولسوالي د ګندمک د قاضیانو کلي دی خپلې لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه وکړې، د پلار له وفات څخه وروسته یې د تدریس وظیفه په غاړه واخسته، یوه موده یې په سرحدي ایالت کې د علم په زده کړه تیره کړه، د ۱۳۲۸ لمریز/۱۹٤۹م څخه یې د امامت او تدریس چارې پیل کړې او د دار لقضات د استاذ په حیث یې هم کار کړی دی. په ۱۳۳۰ لمریز/۱۹۵۱م کال د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د افکارو د تربیې په څانګه کې په رسمي ډنده مشغول شو. یوه موده یې د پیام حق مجلې او دوړانګې جریدې د مسوول مدیر په توګه هم کار کړی دی، په ۱۹۷۳/۱۳۵۲م کال مولوي خالص د ځوانانو د اسلامي نهضت غړیتوب ترلاسه کړی دی او په سرحدي سیموکې یې په مبارزه پیل وکړ، زوی یې د محمد داود د رژیم کمونستانو له منځه یوړ، نو موړي په ۱۳۵۷لمریز کال په پکتیا، کونړ او ننګرهارکې د حزب اسلامي د قوماندان په توګه په وسله وال جهاد لاس پورې کړ، او یوه موده یې د حزب اسلامي افغانستان د مرستیال په توګه له حکمتیار سره یو ځای کار کړی دی. په ۱۳۵۸ لمریز/۱۹۷۹م کال یې ځانګړی تنظیم په هماغه نامه اعلان کړ، او په یوه ځای د حزب اسلامي مشهور قوماندان مولوي جلال الدین حقاني هم له حکمتیار څخه انشعاب وکړ او له

خالص سره یوځای شو.

په ۱۳٦۱ لمریز/۱۹۸۲م کال د مجاهدینو د ګوندونو په ائتلاف کې مولوی خالص د مالي چارو د رئیس په توګه مقرر شو. په ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م د افغانستان دمجاهدینو د اسلامي اتحاد د رئیس په توګه وټاکل شو. نوموړی یو ځل له رباني، مجددي او محمدي سره امریکا ته ولاړ او له رونالدریګن سره یې وکتل، کله چې مجاهدینو سیاسي اقتدار په کابل کې لاس ته راوړ، مولوی خالص د ډلو ترمنځ په اختلافاتو او جګړو کې شریکیدو ته تمایل ونه ښود او د طالبانو تحریک ته یې تمایل درلود، په ننګرهار کې د طالبانو له واکمن کیدو سره خالص له هغوی سره یوځای شو او خپل ټول مالي او نظامي شیان یې ورته وسپارل، اوس د خوګیانیو په ولسوالۍ کې اوسي.

## د مولوي خالص آثار:

مولوی خالص پر زیات شمیر مقالو برسیره چې په پیام حق مجله، وړانګه جریده او جهادي خپرونو کې خپرې شوې وې لاندې کتابونه لیکلي او ژباړلي دي:

۱- دحج لارښوونکی، ۲- روح الاجتماع، ۳- دین او انساني تمدن، ٤- خوږوته خوږه او ترخو ته ترخه (شعري ټولګه)، ٥- رمضانیه، ٦- اسلامي روح، ۷- تور زړیو ته توره او سپین زړیوته سپینه.

## د حزب اسلامي (خالص) خپروني:

د خپروني نوم: *النور*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٥۸ لمریز د تلې ۲۲مه/۱۹۷۹ میلادي ۳۰ آکتوبر، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: مولوی محمد یونس خالص، مسوول مدیر: فرهنګي ریاست، مولوی جانبازسرفراز، شمیر: دوه زره ګنې، د خپروني ډول: نامنظمه میاشتنې خپرونه، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۸x٥۰ سانتي متره د خپروني د کار پای: ۱۳٦۷ لمریز ثور/۱۹۸۸م اپریل.

منځپانګه: سیاسي مقالې او د مولوي خالص وینا وې.

د خپروني نوم: *الهجرت والجهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸٥/۱۳٦٤م، آسن، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د خالص حزب اسلامي نمایندګي، سرمحرر: نه لري، شمیر: ٥۰۰-۱۰۰۰ ګنې، د خپروني ډول: نامنظمه یو رنګ، ٦ مخونه، ژبه: دري او پښتو، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره د خپروني د کار پای: ۱۳٦۸ لمریز د زمري میاشت/۱۹۸۹م جولای په څلورو کلونو کې ١٤ ګنې خپرې شوې، منځپانګه: سیاسي مقالې او ددغه حزب راپورونه او خبرونه.

# مولوی محمد نبی "محمدی"

## د افغانستان حرکت انقلاب اسلامی

مولوی محمد نبی محمدی د الحاج مولوی عبدالوهاب زوی په ۱۳۰۰ لمریز/۱۹۲۱م کال د لوګر په ولایت بره کی برک ولسوالی د شاه مزار په قریه عباس کی زیږیدلی دی، لومړنی زده کړی یی د لوګر/وردګو او میدان او لغمان د ولایتونو له علماؤ څخه کړی وی، په ۱۳۳۲ لمریز/۱۹۵۳م کال یی شرعی علوم پآی ته ورسول او پخپله یی د مدرس په حیث په تدریس لاس پوری کړ.

د ولسی جرګی په دیارلسمه دوره کی د بره کی برک ولسوالی څخه د وکیل په توګه وټاکل شو، وروسته بیا د هلمند ولایت د مارجی ولسوالی ته ولاړ او د دینی علومو د ښوونکی په توګه یی تدریس پیل کړ. د ۱۳۵۲ کال د لیندی په ۱۱ مه/۱۹۷۳م د دسمبر ۲ مه د محمد داود د جمهوریت په وخت کی د خپلو شاګردانو په منځ کی د کمونستی ضد تبلیغاتو په تور بندی شو، له خلاصون وروسته په هلمند کی اوسیده، د ثور د اومی ۱۳۵۷ کال د کودتا څخه وروسته نوموړی د بلوچستان ایالت د کویټی ښار ته مهاجر شو او د حرکت انقلاب اسلامی تنظیم یی جوړ کړ یو زیات شمیر دینی طالبان ورسره یو ځای شول...

وروسته محمدی د ګلبدین حکمتیار او برهان الدین ربانی په بلنه پیښور ته ولاړ، او د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی په منځ کی یی د اتحاد د ریاست د (حرکت انقلاب اسلامی) په نامه منصب ترلاسه کړ. چی ددغه اتحاد د منحل کیدو څخه وروسته د حرکت انقلاب اسلامی تنظیم جوړ شو.

حرکت انقلاب اسلامی د محمدی په مشری د مستقل ګوند په توګه پاتی شو." په ۱۳۶۰/۱۹۸۱م د ده، ګیلانی او مجددی ترمنځ د دری ګونی اتحاد د رئیس په توګه وګومارل شو، او تر ۱۳۶٤/۱۹۸۵م دغه اتحاد دوام وکړ، محمدی د مجاهدینو په لنډمهالی حکومت کی د دفاع وزارت ځانته غوره کړ، او په کابل کی د مجاهدینو تر اقتدار ته رسیدو پوری نوموړی د قیادی شوری غړی ؤ، خو د حرکت انقلاب اسلامی د دریځونو لوری ورو ورو بدلیده، کله چی په پاکستان او دننه په افغانستان کی د مجاهدینو د اداری فساد په مقابل کی طالب را وټوکیده، محمدی د هغوی لوری ته میلان وښود او د حرکت انقلاب اسلامی جبهی له طالبانو سره پیوند شوی.

کله چی طالبانو کابل ونیو، مولوی محمدی د هغو مشرانو له ډلی څخه ؤ چی دوی ته د منلو وړؤ، نو موړی یی د افغانستان د اسلامی شوری د رئیس په حیث چی د ټول هیواد د علماؤ او روحانیونو

نمایندگان پکی وو وتاکه.

دغه اسلامی سازمان د فشردهٔ مرام حرکت ... انقلاب په نامه رساله خپره کړی ده چی له مقدمی وروسته د خپلو اهدافو په اړه لیکی: د حقانی علماؤ او تولو دردمنو او با احساسه مسلمانانو په مرسته، د مسلمانانو د تیت او پرک څواکونو تنظیمول، د اسلام د دښمنانو سره جهاد او د هر دول استثمار او استعمار څخه د افغانستان ژغورل، د جهاد د جذبی ایجاد، له نورو هیوادونو په تیره اسلامی هیوادونو سره تفاهم او په افغانستان کی د اسلامی جمهوریت منځته راوړل زموږ هدف دی. (۱۷)

همدارنگه په همدی (د افغانستان حرکت انقلاب اسلامی) په نامه دوه نور وړوکی تنظیمونه چی له حزب اسلامی څخه بیل شوی وو د مولوی رفیع الله موذن او مولوی نصر الله منصور په مشری هم وو چی یوه موده یی د بنسټپالو گوندونو په توگه په اوه گونی اتحاد کی له مولوی محمدی څخه بیل فعالیت درلود. یوه موده بیا د حرکت انقلاب اسلامی په نامه له مولوی محمدی سره په یوه ائتلاف کی شریک شول، خو څرنگه چی د دغو دوو وړوکو گوندونو آکمالاتی منبع ایران ؤ له محمدی سره یی د نیکو اړیکو په لارکی ستونزی درلودی څکه محمدی له ایران سره چندان ښه روابط نه درلودل.

د ژباړن یادښت: مولوی منصور او مؤذن له حرکت انقلاب اسلامی څخه بیل شوی دی.

## د حرکت انقلاب اسلامی خپرونی

د خپرونی نوم: *ارشاد*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: دحرکت انقلاب اسلامی جمعیت العلماء، مسوول مدیر: ؟، شمیر: زرگنی.

د خپرونی نوم: *بشارت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د انقلاب اسلامی حرکت، سرمحرر: فرهنگی کمیته، م.ش. پیمان، نجیب الله محسنی، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه جریده، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۵ x۳۰سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۷/۱۹۸۸م، منځپانگه: د افغانستان خبرونه او راپورونه اود مولوی محمدی بیانیی.

د خپرونی نوم: *حقیقت الاسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۳لمریز/۱۹۸٤م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د حرکت انقلاب اسلامی جمعیت طلبه، مسوول مدیر: ملا عماد الدین، مولوی فقیر محمد خنجری، شمیر: زرگنی، د خپرونی دول: خبری سیاشتنی، دوه رنگه، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۳X٥۸ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳٦۷ لمریز/۱۹۸۸م، منځپانگه: د افغانستان او اسلام په اړه خبرونه او مقالی.

د خپرونې نوم: *صدی المجاهدین*

د خپریدو ځای او کال: ۱۴۰۸هـ ق/۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي حرکت، مسوول مدیر: میر محمد الله هاشمي، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: نامنظمه میاشتنۍ مجله، پښتنې رنګه، تصویري، ۵۰ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۴x۱۸ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۸ لمریز/۱۹۸۸م، د څلور ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسي او اسلامي مقالې، د جهاد له مشرانو سره مرکې اود جهاد د شهیدانو ژوند لیک.

د خپرونې نوم: *هدایت الاسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۰ لمریز: ۱۹۸۱م، دوهم پړاو ۱۳۶۴ لمریز/۱۹۸۵م، پیښور، د امتیاز خاوند او خپروونکې: د افغانستان حرکت انقلاب اسلامي، لومړی پړاو د مولوی نصر الله منصور او مولوی موذن د ډلګیو لخوا جلا جلا، دوهم پړاو د مولوی محمد نبي "محمدي" تر څارنې لاندې، مسوول مدیر: لومړی پړاو یې نه لري، دوهم پړاو: محمد اسمعیل صدیقي او غلام حسن میرزي، شمیر: په دواړو پړاوونو کې درې واړه خپرونې: زرګنې، د خپرونې دول: په درې واړو پړاوونو کې خبرې میاشتنې، دوه رنګه، ٤مخونه، ژبه: په لومړي پړاوکې دواړو ګروپونو په پښتو او درې خپراوه په دوهم پړاوکې په اردو خپریده، د لومړي پړاو کچه: ۳۰x۵۰ سانتي متره، دوهم پړاو: ۳۵x۶۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: لومړی پړاو: منصور پنځه ګڼې او موذن درې ګڼې خپرې کړې، هماغه د خپریدو په کال بیرته له چاپه پاتې شو، په دوهم پړاو کې د ۱۳۶۷ لمریز تر وروستیو/۱۹۸۹م جنوري پورې یې دوام درلود، منځپانګه: د جبهو خبرونه او د هیواد راپورونه، د مربوطه ګوندونو د مشرانو ویناوې.

یادونه: دوی لومړی ډلې چې له مولوی محمدی څخه بیل شول دبنسټ پالو له ډلې څخه شمیرل کیږي چې په اوه ګوني اتحاد کې شامل وو، وروسته یې دوروکو ډلو په حیث د ایران په مرسته خپل مستقل موجودیت وساته اود مجاهدینو په ائتلافي دولت کې یې هم په دولتي ارګانونو کې ونډې واخستې، د منصور په وژل کیدو د دې ډلې خلک تیت او پرک شول او یو شمیر یې د طالبانو له غورځنګ سره یوځای شول، مولوی موذن او مولوی محمدي دطالبانو د اسلامي شوری رئیس، اوس هم له طالبانو سره عملاً کار کوي.

## د افغانستان د آزادۍ لپاره اسلامي اتحاد

د افغانستان د آزادۍ لپاره اسلامي اتحاد په خپله اساسنامه کې خپله سیاسي او ټولنیزه تګلاره په سریزه کې په عمومي موادو چې د خدای(ج) د رضا ترلاسه کولو، د اهل سنت او جماعت عقیده، د قرآنکریم احکام، د خدای(ج) حکم او د اسلام په اړه پوهه، دعوت (پرنیکیو امر اوله بدیو منع) او د

خدای(ج) په لار کې جهاد دی پکې ذکر شوی دی. خپل هدف یې په دوو مطلبونو کې څرګند کړی دی. چې عبارت دی له خلک د خدای(ج) بنده ګۍ ته نه ویستل او اسلامي خلافت څخه، دغه دواړه په عقیدوی لحاظ داسې یو ایډیال دی چې بنایي په اوسینو حالاتو کې امکان نه لري چې ترلاسه شي. او دغه تنظیم چې د خپل تشکیلاتي او اداري نظام په جوړولو کې له بحران سره لاس او ګرېوان ؤ دغسې یوه لوی آرمان ته رسیدل یې دیوی نه تر سره کیدونکې هیلې پرته بل څه نشي ګڼل کیدای.

د اتحاد اسلامي په دې اساسنامه کې خصوصي او عمومي هدفونه د سازمان له ستنو څخه ډېر پراخ او د اسلام د نړیوال کیدو او یا د دولتونو د جوړیدو د استاد سیاف په اصطلاح (سل په سلو کې اسلامي) خبره مطرح شوی ده، همدارنګه د (مسلمانانو د ټولګې) بحث او د شورى د ارکانو ځانګړنې په ۲۸ مادو کې یادې شوې دي. د اساسنامې وروسته برخه د تشکیلاتي ادارو په طبقه بندۍ، عالي شورى او دندې یې، قیادي مجلس او او یې امارت او د امیر صلاحیت پکې راغلي دي.

دغې تنظیم د افغانستان لپاره د اسلامي او مدني ټولنې د جوړولو په باب لږ تماس نیولی دی او د افغانستان د راتلونکې لپاره څه پلان نه ترسترګو کیږي.

## عبدالرب رسول سیاف ژوندلیک

عبدالرب رسول سیاف د فقیر محمد زوی په ۱۳۲۳لمریز/۱۹٤٤م کال کې د کابل ولایت د پغمان په ولسوالۍ کې زیږیدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې په پغمان کې سرته رسولي او په ۱۳۳٦ لمریز/۱۹۵۷م کال د کابل په ابن سینا لیسه کې په اووم ټولګي کې شامل شو. نهم ټولګی یې په ۱۳۳۹لمریز/۱۹٦۰م کال په ابوحنیفه مدرسه کې ولوست او په ۱۳٤۲لمریز/۱۹٦۳م کال له ابوحنیفهٔ مدرسې څخه تر فراغت وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ته شامل شو. په ۱۳٤٦لمریز/۱۹٦۷م کال په لومړۍ درجه فارغ شو او د عسکرۍ د مکلفیت دورې له تیرولو وروسته په ۱۳٤۸لمریز/۱۹٦۹م کال د استاذ په حیث د شرعیاتو پوهنځي په علمي کدر کې شامل شو، په ۱۳۵۰ لمریز/۱۹۷۱م د لوړو تحصیلاتو لپاره مصر ته ولاړ، د حدیثو په علم کې یې د ماسترۍ ترلاسه کولو وروسته بیرته افغانستان ته ستون شو. د ځوانانو له اسلامي نهضت سره یې پیوستون کې زیات تمایل درلود او له کمونستانو سره یې مخالفت ډېر برالاؤ. په ۱۳۵۳ لمریز/۱۹۸٤م کال استاذ سیاف امریکا کې د لیګل ترینګ په لړکې د تحصیل بورس ترلاسه کړ خو چې کله یې غوښتل د کابل له هوایي ډګر څخه امریکا ته ولاړشي د پولیسو لخوا ونیول شو اود اسلامي نهضت د غړیتوب په ګناه زنداني شو، نوموړی شپږ کاله د دهمزنګ او څرخي پله په جیل کې تیر کړل او په ۱۳۵۸ لمریز/۱۹۷۹م کال په معجزي ته ورته حالت کې له زندان څخه خوشې شو، چې د خوشې کیدو سره سم کمونستي رژیم هغه و پیژاند او کوریې په پغمان کې تر کلابندۍ لاندې ونیو، خو سیاف

مجاهدينو پيښور ته ورساوه.

په ۱۳۵۹لمريز/ ۱۹۸۰م کال هغه په دې خاطر چې ځانګړې ګوند نه درلود او دنهضت د مشرتابه له کدر څخه شميرل کيده د تولو اسلامي ګوندونو د مشرانو په اتفاق د افغانستان د آزادی لپاره د اسلامي اتحاد د رئيس په توګه وټاکل شو. (۱۸)

د کب ۱۸مه ۱۳۶۱لمريز/۱۹۸۳د مارچ ۹مه د دوهم ځل لپاره د افغانستان د اسلامي اتحاد د رئيس په توګه د دوو کالو لپاره وټاکل شو. ددغه اتحاد له منحل کيدو وروسته نوموړی په کابل کې د مجاهدينو تر قدرت ته رسيدو پورې د خپل تنظيم د رئيس په توګه پاتې شو. په لوسړيو کې يې په خپلمنځي جګړې کې ديوه لوری په حيث رول درلود، سياف يوه موده په پغمان کې پاتې شو او د خپل سازمان مرکز يې هم هلته انتقال کړی ؤ، نو سوړی د وسله وال جهاد په وخت کې د زياترو اسلامي سرچينو له ملاتړ څخه برخمن ؤ. په زياتو امکاناتو يې خپل مجاهدين و پالل، يوه موده يې دجمهور رئيس د مرستيال په توګه په کابل کې له برهان الدين رباني سره کار وکړ، او له حکومت سره يې د نظامي کدر دتحميلي يو ځای کيدو او د وسلو له ضبطيدو سره چې د احمد شاه مسعود لخوا ترسره شول عملاً احمد شاه مسعود ته نژدې شو او تر اوسه له هغه سره اوسي، استاذ سياف په عربي، اردو او انګليسي بلد دی، دوه اثره يې تر اوسه خپاره شوي دي چې د (عبرت درس) په پښتو او (هوشدار) په دری ژبه دي.

يادښت: په دې وروستيو کې په پيښور کې د استاذ سياف ويناوې او درسونه د دغه ګوند د مسوولينو په اهتمام خپريږي چې لوسړی توک يې چاپ شوی دی.

## د اسلامی اتحاد خپرونی

د خپرونې نوم: *د جهاد پوهه* ***Jehad Digest***

د خپريدو کال او ځای: د ۱۳۶۷ لمريز چنګاښ ۱۰مه/۱۹۸۸م د جولای لومړی پيښور، خپرندوی او د امتياز خاوند: د افغانستان اسلامي اتحاد، مسوول مدير: نه لری، شمير:؟، د خپرونې دول: پنځلس ورځنی جريده نامنظمه، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: انګليسي، کچه ۲۹X٤۲ سانتي متره، دخپرونې دکار پای: ۱۳٦۸لمريز د زمری لسم/۱۹۸۹م د اګست لومړی، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، د سياف دريځونه او بيانيې.

د خپرونې نوم: *اتحاد اسلامی*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳٦٤لمريز/۱۹۸۵م، دوهم پړاو: ۱۳۷۳ لمريز/۱۹۹٤م، پيښور، پاکستان، د امتياز خاوند او خپرندوی: د افغانستان د ازادی لپاره اسلامی اتحاد، سر محرر: د دعوت او ارشاد کميټه د پخش او نشر آمريت د جريدو او مجلو مديريت، شمير: دوه – دری زره ټوکه، د خپرونې ډول: پنځلس ورځنی

دوهم پړاو: اونیزه جریده، ژبه پښتو او دری، کچه: لویه ۵۸X۴۵ سانتي متره، ۴-۸ مخونه، دوه رنګه ، په دوهم پړاوکې د ۳۵۸مې ګڼې څخه وروسته په ۴۵X۲۹ سانتي متره وړوکې کچه خپریدله، د خپروني د کار پای: په لومړي پړاو کې له اوو میاشتو وروسته (له پنځلسو ګڼو خپریدو وروسته) ودریده، دوهم پړاویې د ۱۳۷۴لمریز/۱۹۹۶م کې کله چې د سیاف سیاسي تنظیم له رباني سره یو ځای شو، د خپروني منځپانګه: د افغانستان خبرونه، مقالې او د سیاف بیانیې.

د ژباړن یادښت: اتحاد اسلامي په ۱۳۷۵ لمریز کال په کابل کې د استاذ رباني د واکمنۍ په وروستیو کې شپږ ګڼې د اونیزې په توګه خپره شوه، چې د طالبانو په راتګ بنده شوه.

د خپروني نوم: *البنیان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۵لمریز/۱۹۸۶م، خپرندوی اود امتیاز خاوند د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد، مدیر: نه لري، شمیر: زر ګڼې، د خپروني ډول: میاشتنۍ خبري مجله، ژبه: اردو، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، محتوی: د افغانستان خبرونه او راپورونه.

د خپروني نوم: *البنیان المرصوص.*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۵لمریز/۱۹۸۶م، پیښور، خپرندوی او دامتیازخاوند: اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: دری زره ګڼې، د خپروني ډول: مجله میاشتنۍ، تصویري رنګه، ځلاند کاغذ، متن کمپیوټري، په ۱۲۰ مخونو کې، ژبه: عربي کچه: ۲۶X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، منځپانګه: د افغانستان او اسلامي نړۍ خبرونه او راپورونه.

یادونه: دغه مجله د افغانستان د جهادي خپرونو له معیاري مجلو څخه شمیرل کیږي.

د خپروني نوم: *پیغام مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۴لمریز لیندۍ/۱۹۸۵م نومبر پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د آزادۍ لپاره اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: سید عبدالله، شمیر: پنځه سوه ګڼې، د خپروني ډول: پنځلس ورځنۍ مجله، یورنګ، ۴۰ مخونه، ژبه: اردو، کچه: وړوکې ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۵لمریز/۱۹۸۶م، ټولې لس ګڼې خپرې شوې.

منځپانګه: د مجاهدینو په اړه خبري خپرونه، یادونه: په ۱۳۶۵لمریز/۱۹۸۶م کال د امریکا په لاس انجلس ښار کې د اتحاد اسلامي نمایندګي د فدا محمد میر په مسوول مدیریت دغه خپرونه په ۴۲X۲۹سانتي متره کچه خپروله چې تر ۱۳۶۹لمریز/ ۱۹۹۰م پورې یې په منظمه توګه خپرونو دوام درلود.

د خپروني نوم: *جهاد راستین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیازخاوند: د افغانستان لپاره اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: سید رسول، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګڼې، د خپروني ډول: خبري میاشتنۍ

جریده، ٤مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٥x٣٠ سانتي متره، دخپروني د کار پای: همامغه کال له څلورو میاشتو خپرونو وروسته، منځپانګه: د افغانستان خبرونه او د سیاف بیانیې.

د خپروني نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٢لمریز/١٩٨٣م، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد نمایندګي، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه جریده، فوتو کاپي چاپ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٢٩x٢٠ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٦٧لمریز١٩٨٨م، منځپانګه: د اتحاد اسلامي له خپرونو څخه اقتباس.

د خپروني نوم: *حق پاڅون*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٤لمریز/١٩٨٥م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد. سرمحرر نه لري، شمیر: زرګني، د خپروني ډول: مجله میاشتني، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٣٠x٤٥ سانتي متره، د خپروني د کار پای: همامغه کال له دری ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: مقالې، راپورونه او د سیاف بیانیې.

د خپروني نوم: *دانشجویان مسلمان*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٢لمریز/١٩٩٣م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دانشجویان مسلمان دافکار و او اهدافو خپروونکی/اتحاد اسلامي مجاهدین، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: یو زر او پنځه سوه ګنې، د خپروني ډول: خبری اونیزه، دوه رنګه، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٥x٣٠ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٧٣لمریز/١٩٩٤م، منځپانګه: د مجاهدینو خبرونه، سیاسي مقالې او د سیاف بیانیې.

د ژباړن یادونه: ددغه جریدی دوهم پړاو په کابل کی په وړوکي ٣٢x٢١ سانتي متره کچه خپریدله چې د طالبانو په لاس د کابل له سقوط سره يې خپروني بندې شوې.

د خپروني نوم: *د جهاد غږ* ***The Jehad Echo***

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٤لمریز د کب لومړی/١٩٨٦م فبروري ٢٠مه، پیښور، خپرندوی او امتیاز: اتحاد اسلامي، سرمحرر: نه لري، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنې، د خپروني ډول: میاشتني نامنظمه جریده، دوه رنګه، تصویري ٨مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه ٢١ x٢٩ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٦٨لمریز/١٩٨٩م، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، سیاسي مقالې او د سیاف بیانیې.

د خپروني نوم: *ندای حق*

د خپریدوکال او ځای: ١٣٦٦ لمریز زمری/١٩٨٧م جولای، نیویارک امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په نیویارک کې د اتحاد نمایندګي مسوول مدیر/ وردګ، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه میاشتني، یو

رنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو، دری، کچه: ۲۹ x ۴۲ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۷لمریز وری/۱۹۸۸م سارج سنځپانګه: د افغانستان په اړه مقالی او راپوروونه.

## د افغانستان شیعه ګوندونه

په افغانستان کی د سنی هغو ډلو څخه علاوه چی په پیښور کی یی مرکزونه وو شیعه ډلی هم وی چی دزیاترو مرکزونه په ایران کی وو، زیاتره د مجاهدینو ګوندونه د مذهب په پام کی نیولو سره جوړ شوی وو، آن تردی چی د شیعه ګوندونو په منځ کی هم فرقه ایی اختلافونه او د خانانو نفوذ ددی ګوندونو د نفوذ ساحی بیلی کړی وی. د حزب اسلامی افغانستان یوازینی ځانګړتیا د نورو سنی او شیعه ډلو څخه دا وه چی په هغه سازمان کی د سنی او شیعه ترمنځ توپیر نه ؤ، د دواړو مذهبونو په پیروانو کی یی مجاهدین او جبهی درلودی او د اجرائیه شوری تر سطحی پوری یی د مساوی حقوقو څخه برخمن وو، "د افغانستان شیعه ډلی د ثور د اومی کودتا نه وروسته جوړی شوی د شوروی اتحاد له تیری څخه وروسته د افغانستان په شیعه خلکو کی د دولت پر خلاف تحرکات زیات شول، او مختلف احزاب منځته راغلل، دغه ګوندونه تول ۱۴ ته رسیدل چی عبارت وو له:

۱: *د افغانستان د نصر سازمان:* د افغانستان د شیعه مجاهدینو له یوه مهم سازمان څخه عبارت دی. چی په ۱۳۵۸/۱۹۷۹م، د افغانستان په شمال کی د دره صوف له پاخون سره جوخت د ایران د قم په ښار کی جوړ شو، دغه سازمان د څو وړوکو ډلو څخه جوړ شوی چی نوسونه یی دا دی: ۱– مبارز روحانیت، ۲– حسینی ګوند، ۳– اسلامی دانشجویان، ٤– نوی روحانیت او د مستضعفینو ډله، د دغه سازمان مشری د عبدالعلی مزاری په غاړه وه، نصر سازمان په هرات، مزار شریف او هزاره جات کی نفوذ درلود او دکابل په چریکی جګړو کی یی هم د حزب اسلامی له مرکزی حوزی سره فعالیت کاوه، ددغه سازمان مشران ترڅو دوی له نورو شیعه ډلو سره ائتلاف نه ؤ کړی او د نورو شیعه ډلو په منځ کی یی تبارزونه کړ پټ پاتی وو. چی د الیور روا په نظر د نصر ډله د محلی ستونزو په مقابل کی تنظیم شوی وه نه دیوه سیاسی سازمان په حیث. دغه سازمان د نجف د مذهبی حلقو او د هغه ځای د فارغانو له خوا حمایه کیده، د هغی جملی څخه کولای شو. د (مبارز روحانیت) او"مستضعفینو" ډلی نوم واخلو، د نصر سازمان په ۱۳٦۲–۱۳٦۳/ ۱۹۸۳–۱۹۸٤م کلونو کی د خپل تسلط د پراخیدو په خاطر په هغو سیمو حمله وکړه چی د شورای اتفاق تر واک لاندی وی او د دغی شورا محلی فیوډالان یی له صحنی لری کړل. شورای اتفاق د مولوی نبی محمدی د حرکت انقلاب اسلامی او حکمتیار د حزب اسلامی ترمنځ د اختلافونو څخه استفاده وکړه او حرکت ته یی د ائتلاف لاس ورکړ، نصر سازمان هم د عکس العمل په دو ډله حزب

اسلامي سره يو ځای شو او د محمدي له حرکت انقلاب او شورای اتفاق سره تکر ته چمتو شو. دغه نښتې دومره توندی او ناوړه وی چې حرکت او یاد شورای اتفاق غړو به چې هر حزبي او یا د نصر سازمان کوم تن ولید او یا برخلاف نو په ډیره نادره بڼه به یې وژل، د هغو عواملو له جملې څخه چې مائویستان د مولوی محمدی په حرکت انقلاب کې ورننوتل یو د دوی او اتفاق شوری ترمنځ ائتلاف بنسټ. پردی سربيره د مزاری او محسني ترمنځ هم اختلافات ډیر ژوروو، چې د نښتو او د مزاری د میرمن او اولادونو د وژل کیدو سبب شول، چې دغه عقدی وروسته بيا د حرکت په اړه د حزب وحدت په کړو وړوکې بدمرغه بدلونو نه منځته راوړل.

د نصرسازمان مرکزی شورا عبارت وو له:

١- عبدالعلي مزاری د مزار شریف له چارکنت څخه.

٢- عزیز الله شفق د غزنی له بهسودو څخه (بامیان څخه: ژباړن)

٣- محمد ناطقی د بامیان له پنجاب ولسوالی څخه.

٤- محمدکریم خلیلی له پروان ولایت څخه.

٥- میر حسن صادقی ترکمنی پروانی د پروان ولایت څخه.

٦- قربان علي عرفانی د بامیان ولایت د یکاولنگ څخه.

٧- سید حسینی د سمنگان د دره صوف څخه.

٨- سید عباس حکیمی له غزنی ولایت څخه.

٩- یوسف واعظی شهرستانی د غور له ولایت څخه.

١٠- خادم حسین ناطقی دسمنگان ولایت څخه

## د نصر سازمان خپرونې

د خپرونې نوم: *پیام خون*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٠لمریز/١٩٨١م، خبری بولتین فوتوکاپی/گستنتر، یورنگ: ژبه دری، کچه: ٢٢X١٧ سانتي متره، د کارپای: د نهو گنو له خپریدو وروسته په ١٣٦٠ لمریز، منځپانگه: سیاسی او تولنیزه.

د خپرونې نوم: *پیام سنگر نشینان*

د خپرونې نوم: *پیام عصر*

د خپریدوکال او ځای: ١٣٦٨لمریز/١٩٨٨م، سرمحرر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: فوتو کاپی/گستنتر مجله، یورنگ، ژبه: دری، کچه: ٢٢X١٧ سانتي متره، د کار پای: له اووگنو وروسته په ١٣٦٧ کال، منځپانگه.

سیاسی.

د خپرونی نوم: *پیام مستضعفین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸ لمریز چنګاښ/۱۹۷۹م جون، قم، ایران خپرندوی: د نصر سازمان، سرمحرر نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: سیاشتنی خبری جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤٠×٣٠ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳٦۹ لمریز چنګاښ/۱۹۹۰م جون، منځپانګه: مقالی، خبرونه، کارتون، شعرونه او راپورونه، یادونه: دغه خپرونه وروسته بیا د مجلی په وړوکی کچه ۲۱×١٤ سانتی متره په یوه رنګ کی په ٦٠ مخونوکی تر ١٣٦٤ ثور/١٩٨٥م پوری خپریدله او وروسته یی کچه لویه شوه.

د خپرونی نوم: *پیام مقاومت*

د خپریدوکال او ځای: ١٣٦٦ لمریز/١٩٨٧م، غزنی، سرمحرر او یا مسوول مدیر:؟، شمیر:؟ دوِل: ګستتنر، ژبه: دری، دکار پای: هماغه کال له څلوروګڼو وروسته، منځپانګه: سیاسی.

دخپرونی نوم: *فلق*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦ لمریز/١٩٨٧م، مسوول مدیر: د پروان ولایت نمایندګی لیکنی هیأت، شمیر:؟، دول: خبری میاشتنی، کچه: ۲۲×۱۷ سانتی متره، ژبه: دری، دکار پای: د خپریدو کال او له شپږو ګڼو وروسته، منځپانګه سیاسی او خبری.

۲- *د افغانستان د مجاهدین خلق سازمان:* دغه سازمان ادعا کوی چی د محمد ظاهر شاه د مشروطه دوری څخه راهیسی سیاسی فعالیتونه کوی، خو په دی اړه شواهد په لاس کی نشته، د دی سازمان د جوړیدو هدف غالباً د چینی کمونیزم ته د مایلو چپی اهدافو سره ؤ، او په اروپا کی یی د محصلانو د انجمن او یا د سپاه انصار په نامه فعالیت درلود. د دی سازمان چلوونکی تل پټ پاتی شوی دی، اود افغانستان په سیاسی بدلونونوکی یی اغیزمن رول نشته.

د خپرونی نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸/۱۹۷۹م، تهران، سرمحرر:نلری.، شمیر:؟، دول: نامنظمه، چاپ، یورنګ، کچه: ٤٥×٣٠ سانتی متره، ژبه: دری، دکار پای:؟، محتوی: سیاسی.

۳- *د افغانستان دعوت اسلامی:* دعوت اسلامی ګوند په ۱۳۵۹ لمریز/۱۹۸۰م کی په قم کی جوړ شو، ددغه سازمان مشری د شیخ زاده قره باغی پر غاړه وه او نور کسان هم د رمضان علی - محقق افشاری، او نور محمد تقدسی هم ورسره وو.

د خپرونی نوم: *پیام دعوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، قم، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، ډول: اخباری، چاپ، یورنگ، ٤ مخونه ژبه: دری، کچه: ۳۰×٤٥ سانتی متره، دکارپای:؟، منځپانگه: سیاسی

د خپرونی نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵٦لمریز/۱۹۸٦م، مشهد، مسوول مدیر: حبیبی، شمیر/؟، د چاپ ډول: گستتنر، کچه ۲۱×۳۰ سانتی متره، ژبه: دری، دکار پای:؟، منځپانگه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *اخبار هفتگی جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۳لمریز زمری/۱۹۸۷م جون، تهران، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان دعوت اسلامی گوند، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ۵۰۰-۱۰۰۰ گنی، د خپرونی ډول: نامنظمه جریده، چاپ گستتنر، صحافی، سنجاقی، یورنگ، ژبه: دری-کچه: ۲۰×۳۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٦لمریز: کب/۱۹۸۷م مارچ، منځپانگه: د جگړی خبرونه او مقالی.

٤: *د افغانستان د اسلامی جهاد پاسداران:* دغه سازمان په ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م کال کی هغه وخت چی په شورای اتفاق کی له یوه پلوه د سید علی بهشتی او دده د قوماندان سید جگرن ترمنځ او له بلی خوا د اکبری او علوی او صادقی ترمنځ اختلافونه پیدا شول دغه دری تنه د اتفاق شوری څخه بیل شول او له نصر سازمان سره دیو ځای کیدو او ائتلاف ترځنگ ئی د(پاسداران جهاد اسلامی افغانستان) گوند اعلان کړ، په پیل کی دوی ډیر له نصر سره تړلی وو خو څرنگه چی نصر دی ته تمایل درلود چی د ایران په اړه خپله خپلواکی وساتی او له پاسدارانو سره منحل نه شی، اختلافونه را پیدا شول.(۱۹)

دغه سازمان په پیل کی د "پاسدار" په نامه ونومول شو، خو وروسته د گاونډی هیواد ایران دینی نفوذ د سیاسی جریانونو په اړخونو کی ددغه هیواد په مشوره دغه نوم بدل شود پاسدارانو ډله داتو شخصیتونو څخه جوړه شوی وروکی ډله ده چی وروسته بی پخپلو کی هم د نظر اختلافونه سره درلودل، او په دوو اړخونو مذهبی او غیر دینی چی غالباً بی د مائویسم، تمایلات درلودل په خلکو کی له نفوذ څخه بی برخی پاتی شول، پاسداران د ایران لخوا حمایه کیږی، او په نظامی اړخ کی بی مرستی هم ترلاسه کړی. یو شمیر هغه سیدان چی په ایران کی بی زده کړی، کړی وی له پاسدارانو سره یوځای شول.

د خپرونی نوم: *پیام پاسدار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ لمریز/۱۹۸۵م، تهران، مسوول مدیر: رضوانی او حلوص، شمیر؟ ډول: سیاشتنی گستتنر/فوتوکاپی، ژبه: دری، کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٤ له شپږ وگنو وروسته، منځپانگه: سیاسی، دینی.

۵- *د افغانستان اسلامي نهضت:* د افتخاري په رهبري دغه سازمان هم د ایران د انقلاب له شعار ورونکو څخه دی چې د امام خمیني د سیاسي تګلارې پیروي کوي.

د خپروني نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، هرات او مشهد مسوول مدیر: عوض علي اعتمادي، حمدي او جاغوری، شمیر:؟ دول: پنځلس ورځنی جریده، ګستتنر چاپ، کچه: ۲۱×۳۰ سانتي متره، ژبه: دری، د کار پای: ۱٤ ګڼې خپرې شوې، منځپانګه: سیاسي، مذهبي.

د خپروني نوم: *ندای انقلاب*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳۶۲لمریز/۱۹۸۳م، مشهد، مسوول مدیر: غلام علي زارع، شمیر:؟ چاپ ګستتنر، کچه:۲۱×۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *نهضت*

د خپریدو کال اوځای: ۱۹۵۸لمریز/۱۹۷۹م، قم، مسوول مدیر: عبدالله فخر، شمیر:؟، دول: نامنظمه چاپي جریده، کچه: ۳۰×٤۵ سانتي متره، ژبه دري، د کار پای:؟ منځپانګه: سیاسي.

٦: *د افغانستان اسلامي نیرو:* دغه دله د ایران د انقلاب پلوی ده او په ډیرو برخو کې له هغوی سره تړاو لري، زیات کسان یې په جاغوري او بهسود وکې وو چې د شورای اتفاق او نصر سازمان د پراخ نفوذ په سبب دوی و نه توانیدل پراخ شي، نیروی اسلامي ګوند د حسن کریمي په مشر تا به په ۱۳۵۹لمریز/ ۱۹۸۰م کال په غزني کې جوړ شو. له دې موده وروسته د دې دلې د شورې ځیني غړي تري بیل شول او د دې ګوند د پاشل کیدو سبب شول، د ګوند د شورا غړي لاندې کسان وو: سید محمد ظاهر محقق کابلي، بهسودي (سکرتر) میر حسین فصیحي، سید محمد هاشمي، غیاث الدین، شیخ عوض علي نبي زاده، سید معلم حسیني او آقای حیدري.

## د نیروی اسلامي افغانستان خپروني

د خپروني نوم: *سنان*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، تهران، سرمحرر: حسن کریمي شمیر:؟، دول: نامنظمه، فوتو کاپي، ژبه: دري، کچه:؟، د کار پای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *دفاع*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز وری/ ۱۹۸۰م اپریل، قم، ایران، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان نیروی اسلامي سازمان، سرمحرر یا مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، دخپروني دول: نامنظمه راپور نامه جریده،

یورنگ، په ۱٤ مخونوکې، ژبه: دري کچه: ۳۵x۲۵سانتي متره، د څېړونې د کار پای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، منځپانگه: سیاسي مقالې، د افغانستان راپورونه، شعرونه او د امام خمیني بیانیې.

۷- *د افغانستان شوری اتفاق اسلامي*: دغه شوری د سید علي بهشتي په لاربنونه جوړه شوی ده، چې د سید جگړن په څېر د مهم قوماندان په درلودلو سره په مرکزي سیمو او غزني ولایت کې د ښه موقعیت خاونده وه، دغه سازمان په ۱۳۵۸لمریز وری میاشت/۱۹۷۸م سپتمبر کې په مشهد ښار کې منځته راغی، چې په لومړیو کې دوی د (حزب ملي و مترقي غیر پشتون) په نامه د (ستم ملي) تمایلاتو درلودونکې یوه سیاسي جریان څخه بیل شول او مذهبي افراد او د هزاره قوم با نفوذه خانان هم ورسره ملگري شول، خو د دې سازمان دننه د اضدادو را تولیدل او د ښنسټه پالو اسلامپالو او غیرمذهبي (مائویستانو) ترمنځ کشمکشونه وروسته د تکرو او نښتو سبب شول، په پیل کې د شوری اتفاق مرکزي شورا په لاندې ډول جوړه شوه:

۱- سید علي بهشتي رئیس، ۲- محمد حکیم صمدي مرستیال،

۳- محمد حسین ناصري سیاسي مشاور، ٤- عبدالصمد آکبر بهرني چارې، ۵- سید حسین غزنوي په سید جگړن مشهور د دفاعي چارو مسوول، ٦- کربلایي عبدالعلي جاغوري د مالي چارو، ۷- سید احمد احساني فرهنگي چارې، ۸- سید جاوید عارفي عدلي چارې، ۹- اقای صادق نیلي دوهم مرستیال، ۱۰- فیاض د غزني والي، ۱۱- نادر علي مهدوي په ایران کې د سازمان نماینده وټاکل شول.

د شوری اتفاق لوړ رتبه غړی لکه آکبري په بهسودوکې، علوي په لعل او سرجنگل کې، او صادقي د سید علي بهشتي مرستیال په یو ځای له شوری اتفاق څخه بیل او د نصر له سازمان سره یو ځای شول، سید جگړن له میرانو څخه چې د قومي نفوذ خاوندان وو د ملاتړ غوښتنه کوله، او حاجي نادر ترکمني او د بهسودو غریبداد په څېلو مالي شتمنیو د نصر په مقابل کې د سید جگړن ملاتړ وکړ، همدا رنگه هغوی خپل بزگران هم د غزني په ناور او بهسودوکې د نصر سازمان پرخلاف قومانده کړل، د شورای اتفاق او نصر سازمان په وسله والو نښتوکې ډیر زیات کسان ووژل شول اوکومې سیمې چې د شورای اتفاق څخه د بیلو شویوکسانو په واک کې وې د سید جگړن لاسته ورغلې... د نصر سازمان له د ایکندي، دره صوف او دره ترکمني څخه په شاشو.

## د شورای اتفاق خپرونې

د خپرونې نوم: *توحید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۱/۱۹۸۲م، ایران - مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، ډول: میاشتنی ، چاپي ، یورنگ،

کچه: ۲۹x۱۲ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: ۱۹۸۳/۱۳۶۲م، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *پیام اتفاق*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ لمریز د مرغومي ٦مه/۱۹۸۵م د دسمبر ۲۷مه، پیښور. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اتفاق اسلامي انقلابي شوری، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني دول:؟، ژبه: دري، کچه: ٤۲x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: یوازې یوه ګنه خپره شوه.

<u>۸- رعد حزب اسلامي:</u> د شیعه دلې بل ګوند دافغانستان د رعد حزب اسلامي ؤ چې په ۱۳٦۰ لمریز/۱۹۸۱م، په مشهد کې جوړ شو، ددغه حزب رهبری شوری عبارت وه له: روح الله بدخایی، سید حجت فضلي، دانش بغاوی، محقق سرپلي، سید جعفر فضلي، واثق، سید محمد علي سجادی، غلام سخي مصباح، او برات علي جبرئیلي،

## د رعد اسلامي حزب خپرونې

د خپروني نوم: *پیکار اسلامی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م، مشهد-ایران، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان رعد حزب اسلامي، سرمحرر: نه لري، شمیر: زرګني، د خپروني دول: نامنظمه جریده، پورنګ، ٤-۸ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٤۳x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۹۸۰/۱۳۵۹م، منځپانګه: سیاسي مقالې او د افغانستان د جبهو خبرونه.

د خپروني نوم: *دختران زینب*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، مشهد - ایران، خپرندوی اودامتیاز خاوند: د افغانستان (رعد) حزب اسلامي، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه پنځلس ورځنی، پورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۵۰x۳۳ سانتي متره، د خپروني د کار پای: هماغه کال له دری ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، مقالې، اسلامي مضامین او د امام خمیني بیانیې.

د خپروني نوم: *پیام نور*

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۸۲/۱۳٦۱م، مشهد، خپرندوی: (رعد) حزب اسلامي، مسوول مدیر: دانش، شمیر:؟ د خپروني دول: میاشتنی دوه رنګه، ۳۰ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۱۷x۱۲ سانتي متره د کار پای: ۱۳٦٦ لمریزله/۱۹۸۷م اکتوبر، منځپانګه: اسلامي مقالې، سیاسي تبصرې او شعرونه.

<u>۹- هزاره نوی نسل (نسل نو هزاره):</u> دغه سازمان غیر مذهبي او د هزاره چې تمایلاتو

درلودونکو ځوانانو په منځ کې جوړ شوی دی، د دغه حزب ځینې غړي د هزاره اولس د فیوډالانو زاس وو دوی هڅه کوله چې ځانونه د په لاس کې موجودو مالي امکاناتو په واسطه سره منظم کړي، د دې سازمان د پلویانو څخه یو نظر محمد امیر بیګ ؤ چې د بیلتون غوښتونکو اهدافو په سبب یې غوښتل چې خپل نشنلیستي هدفونه (دستم ملی) په محور کې ځای کړي، نو موږ د قزل د سیمې ؤ چې یوه موده د نصر سازمان لخوا بندي شو او وروسته بیا پاکستان ته ولاړ د نسل نو هزاره ګوند غړي ادعاکوي چې د ظاهر شاه په دوره کې یې په کویټه کې سیاسي مبارزه پیل کړې وه، او له (افغان ملت) ګوند سره توند مخالفت لري. خود افغانستان د سیاسي بدلونونو په بهیر کې دغه ګوند په تولنه کې تبارز ونه کړ او سیاسي، فرهنګي او تولنیز فعالیت یې هم نه درلود.

د خپرونې نوم: **شعور**

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹م، کویټه.

۱۰- حزب الله: دغه ګوند د قاري احمد په مشرۍ چې په (قاري یک دست) مشهور ؤ د هرات په ښار کې تاسیس شو، او زیاتې نظامي سرستي یې چې له ایران څخه لاس ته راوړې خپل موقعیت یې پرې ځواکمن کړ. دغه سازمان د ایران د نظامي پاسدارانو تر اداره لاندې حرکت کاوه دغه ګوند په ۱۳۷۱/۱۹۹۲م کال په وحدت اسلامي حزب کې مدغم شو.

د خپرونې نوم: *فتح*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، مشهد، ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حزب الله د پوځي قواو عمومي قوماندانۍ، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه سیاشتنی مجله، دوه رنګه، ۷۲مخونه، رنګه پښتۍ، ژبه: دري، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م، منځپانګه: د افغانستان او اسلامي نړۍ په اړه سیاسي مقالې او تحلیلونه.

د خپرونې نوم: *ظفر*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز د غبرګولي ۱۵مه/۱۹۹۱م، د مي ٥مه پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د افغانستان حزب الله، سرمحرر: هیأت تحریر، شمیر: زرګنی، د خپرونې دول: نامنظمه میاشتنی خبري جریده، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۹X٤۲ سانتي متره د خپرونې دکار پای: ۱۳۷۰ لمریز سلواغه/۱۹۹۲م جنوري، منځپانګه: د افغانستان د مجاهدینو خبرونه، سیاسي مقالې، یادونه: دغه خپرونه د افغانستان د تشیع حزب الله ارګان سره اړیکې نه لري.

۱۱- *د افغانستان د مستضعفینو جنبش*: دغه سازمان د هغو تشکیلاتو څخه یو دی چې د

سیکولرزم، اسلام پالنې او نشنلزم د اهدافو ترمنځ یې قرار درلود په غالب ګومان د ایران د (مجاهدین خلق) ګوند لخوا مالي او پوځي مرستې ورسره کیدلې، دغه سازمان د ۱۳۵۸ لمریز کال په وروستیو/۱۹۸۰م کال کې په جاغوري کې د عرفاني، عبدالحسین اخلاقي او آقای عاقلي لخوا جوړ شو او ډیر ژر د عاقلي او اخلاقي په دوو برخو وویشل شو، په ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م کال آغای عاقلي چې په مشهد کې یې فعالیت کاوه په ناڅاپي توګه یې ورکه شو چې په قوي احتمال له منځه تللی دی، د دغه سازمان یوه څانګه د اخلاقي په مشرۍ په ۱۳٦۵ لمریز/۱۹۸٦م د حکمتیار په مشرۍ له حزب اسلامي افغانستان سره یوځای شوه.(۲۰)

د خپرونې نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹/۱۹۸۰م، تهران، سرمحرر: نه لري، شمیر:؟، ډول: کله کله نامنظمه، یو رنګ، ګستنتر، کچه: ۲۱X۱۷ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: د تاسیس کال له دري ګنو وروسته، منځپانګه: سیاسي.

۱۲- *روحانیت جوان:* د (راجا) روحانیت جوان سازمان د شیخ زاده په مشرۍ په تهران کې جوړ شو، چې وروسته د افغانستان له متحدی اسلامي جبهې سره یو ځای شو.

د خپرونې نوم: *رجا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، تهران، ګستنتري پاڼي یورنګ، کچه ۳۰X۲۱سانتي متره، ژبه: دري، محتوی: سیاسي.

د خپرونې نوم: *سیمای اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، تهران، سرمحرر:؟، شمیر:؟ ډول: نامنظمه اخباري جریده، چاپ په ٤ مخونو کې، کچه: ٤۵X۳۵ سانتي متره، ژبه: دري د کار پای: دوې ګڼې خپره شوه، منځپانګه: سیاسي.

۱۳- *د افغانستان آزادي بخښونکې اسلامي سازمان (الحدید):* د الحدید سازمان وروکې ډله وه چې په ۱۳۵۸ لمریز(۱۹۷۹م) کال یې په تهران کې فعالیت پیل کړ، د دې ډلې د دوو اداره کوونکو څخه عبدالوکیل او عبدالقیوم وو، چې ویې نشوای کولای د اسلامي ډلو په منځ کې ځانونه وساتي او د مجاهدینو له مسیر څخه یې انحراف وکړ، د الحدید ډلې خپل اهداف د خپل خپرنې ارګان (طارق) په لومړۍ ګڼه کې بیان کړي دي لیکي: د دې سازمان هدف د توحیدي جهان بیني او ایدلوژۍ پر بنا دیوی اصیلي او مکتبي مبارزې د دوام لپاره د خلکو د اصیلوبچیانو تنظیم کول دي، تر څو په فرهنګي اقتصادي،

سیاسي او نظامي ډګر کې د ختیځ او لویدیځ دتیرې کوونکو د تیرې مخه ونیسي او د هیواد خپلواکي او آزادي دادمنه او تأمین کړي. (۲۱)

د خپروني نوم: *طارق*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م، تهران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: الحدید سازمان، مسوول مدیر: هیأت تحریر: شمیر: ۱۵۰۰ګڼې، د خپروني دول: خبري میاشتنۍ، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۳٤x۲٤ سانتي متره، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

١٤- اسلام مکتب توحید: دغه سازمان د اسلامي فکر په اساس د اسلامي حکومت جوړیدو لپاره د ایران داسلامي انقلاب روش پلي کوي. او د غیر پښتنو ایران پلوه دله وه، چې په ۱۳۵۸ لمریز/۱۹۷۹م، کې په مشهد کې جوړه شوه، اجرائیه شورې یې عبارت وه له: اسد الله نکته دان، هاشمي لولنجي، مصطفی حقجو، ظهوري، مهدوي، قاسم، او محمد موسی څخه. دغه سازمان تر شپږو میاشتو په لږه موده کې پخپلو کې انشعاب وکړ، او هاشمي لولنجي له دوولسو تنو داجرائیه شورا غړو سره مصطفی، نکته دان او حقجو و شړل چې مصطفی او حقجو د اسلام مکتب توحید) په نامه تریوې مودې فعالیت ته دوام ورکړ دغه سازمان دري کاله بقا درلوده.

د خپروني نوم: *اسلام مکتب توحید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸لمریز لړم/۱۹۷۹م، نومبر، تهران خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اسلام مکتب توحید دلې پیروان، سرمحرر: نه لري شمیر: ؟، د خپروني دول: میاشتنۍ جریده نامنظمه په څلورو مخونو کې، ژبه: دري، کچه: ٤٥x۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، په دري کلونو کې ١٤ګڼې خپرې شوې. منځپانګه: د ایران د اسلامي انقلاب او د امام خمیني د نهضت په اړه مقالې. د افغانستان او اسلامي نړۍ پیښې.

د خپروني نوم: *ثار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰/۱۹۸۱م، تهران، دول: چاپي، نامنظم اخبار، کچه: ٤۹x۳۵ سانتي متره، ژبه: دري منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *ندای حق*، د خپریدو ځای او کال:؟- تهران.

## ١٥- د افغانستان مبارزو مسلمانانو سازمان:

د خپروني نوم: *پیام مبارز*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸ لمریز ثور/۱۹۷۹م اپریل، دوهم پړاو: ۱۳٦۰لمریز غبرګولی/۱۹۸۱ مۍ،

تهران خپرندوی اوداُمتیاز خاوند: د افغانستان مستضعف مجاهدین، د مبارزو مسلمانانو غورځنګ، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه رساله یې مجله، په یوه رنګ کې، ژبه: دري، کچه: ۲۱×۳۰ سانتي متره، او د دوو ګڼو یې ۱۷×۲۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: لومړی پړاو دری ګڼې دوهم پړاو دوې ګڼې خپرې شوې. منځپانګه: د افغانستان د سیاسي جریاناتو په اړه مقالې.

## د افغانستان د اسلامي انقلاب متحده جبهه

دغه سازمان په ۱۳۶۳/۱۹۸۳م کال په تهران کې جوړ شو چې د څوورکو ډلګیو له ائتلاف څخه منځته راغلی دی مثلاً:

۱/ اسلام مکتب توحید د هاشمي لولنجي، حقجو او قاسمي په مشرۍ چې د هغه سازمان د بیلې شوې برخې اکثریت ترې جوړ شوی ؤ.

۲/ فدایان اسلام د هغه د شورۍ د یو شمیر غړیو سره، لکه محمدي، مصباح، سید هادي، او آغای باقر.

۳/ فاماسازمان (فدایان امت مسلمان افغانستان) د رضایي ذکي په مشرۍ.

۴/ رجا سازمان (روحانیت جوان افغانستان) د شیخ زاده په مشرۍ.

۵/ د اخلاقي په مشرۍ د مستضعفینو غورځنګ.

د ۱۳۵۹ لمریز په پیل/۱۹۸۰ کال کې د دې پنځلس ډلو څخه شپږ پخپله یوه پر بله کې مدغم شوې اوله منځه ولاړې، لس ګوندونو نصر، حرکت اسلامي، د مجاهدین خلق سازمان، د مستضعفینو سازمان، رعد ګوند، اسلامي نهضت، ځوان روحانیت، شورای اتفاق او اسلامي نیرو په خپلوکې ائتلاف وکړ او د(افغانستان د اسلامي انقلاب آزادي بخښونکې جبهه) یې جوړه کړه. چې خپل هدفونه یې د یوې ګډې خپرونې د (عاشورا) له لارې خپرول، چې دغه ائتلاف د ځانګړیو ډلو د نه پاملرنې او بې میلې له امله له منځه ولاړ.

په دې اتحاد کې درې ډلې خلک وو، یو غیر مذهبي چې زیاتره مائویستان دي، او په کورنۍ لحاظ د پرچمیانو په څیر داهل تشیع له اشراف زادګانو څخه وو، او زیاتره د (میرانو) کورنیو ته منسوب وو، چې د تعلیم یافته اوکین لارو ځوانانو څخه د سیرانو د ملاتړ په سبب یې غیر مذهبي تمایلات منځته راوړل هغوی د نسل نوهزاره، الحدید سازمان، رعد ګوند، نیرو او یو شمیر په شورۍ اتفاق کې وو، دوهمه ډله هغوی چې په اسلامي بنسټپالو یې شهرت درلود، د هغوی له ډلې څخه کولای شو د شیخ آصف محسني د حرکت اسلامي او نصر سازمان نوم واخلو، دغه دواړه ډلې د بنیادي ډلو څخه شمیرل کیږي چې د ایران د انقلاب د اهدافو په پلوی برسیره یې خپل افغاني او ملي هویت او تمایل هم ساتلی ؤ، دغو ډلو د شیعه

فیودالانو سره چې زیاتره سیران وو مخالفت درلود، دریمه دله اپورچونستان سنت ګرا اسلامپال شیعه دي، چې هغوی د سیاسي حرکت سره سم ځانونه عیاروي او پر دي توانیدلي دي چې د شیعه تولو اکثریت په تیره وروسته له هغې چې په کابل کې جهادي حکومت ناکام شو لاس ته راوړي.

د کشمکشونو او اختلافونو بل دلیل تولنیز جوړښت او د خانانو لخوا پر بزګرانو د جبري قوانینو تپل وو، د مالیي ورکول، رشوت، د ښځو شتمني چورکول په زورو دونه کول، او یا د کورنیو پر حریم تیري کول، د غیر مذهبي آزادیو موجودیت او د ښځو او نارینه ؤ اړیکې د هغو عواملو له جملې څخه دي چې د افغانستان په مرکزي سیمو کې د شیعه دلو ترمنځ د اختناق، تولنیز او اداري فساد سبب شول.

د خپروني نوم: *آزادي*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۰/۱۳۵۹م، تهران، د امتیاز خاوند: متحده جبهه (دشپږ دلو ائتلاف) دول: میاشتني مجله، ژبه: دري، کچه: ۳۰x۲۱ سانتي متره، د کار پای: یوه ګنه خپره شوې، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *پیام جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۹/۱۳٦۸م، مشهد، مسوول مدیر: مصباح هراتي، شمیر:؟ دول: نامنظمه مجله او خبري بولتین، ژبه: دري، د کار پای: د ائتلاف له رنګیدو سره سم، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *سنګر انقلاب*

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۸۵/۱۳٦٤م، تهران، سرمحرر:؟، شمیر:؟ دول: نامنظمه جریده، ٤ مخونه، کچه: ٤۲x۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: هماغه د پیل کال له شپږو ګنو وروسته، منځپانګه: سیاسي.

## د مزاري او محسني اختلافات

اسلامي حرکت په خپلو مبارزوکې د نصر له سازمان سره زیات اختلافونه درلودل، ځکه چې نصر ګوند د امام خمیني د فقهي اهدافو پیرو ؤ په داسې حال کې چې حرکت اسلامي پخپله د محسني پیروي کوله چې هغه د آیت الله خویي له شاګردانو څخه ؤ او دخمیني مخالف ؤ... د کړووړو او چلن له مخې هم حرکت اسلامي منځلاري ؤ په داسې حال کې چې نصر قاطع او توند لاري ؤ.

کله چې نصر په ۱۹۸۳/۱۳٦۲م کال کې داوني کوتل ته نږدې د سیاسنګ په سیمه کې او په مزار شریف کې د حرکت اسلامي پر جبهو حمله وکړه د دواړو ګوندونو ترمنځ اختلافونه ډیر توند شول، او بیا پربل بې خوابي بریدونه او حملې وکړې، په ۱۳٦۳ المریز/۱۹۸٤م کال حرکت اسلامي په دره صوف او مزار شریف کې د نصر سازمان پر مرکزونو حمله وکړه او د عبدالعلي مزاري کورني یې دده دمیرمنې او اولادونو سره ووژل، د حرکت اسلامي د کسانو دغه ظلم د مزاري او محسني ترمنځ د دښمني د دوام سبب شو. او تر پایه دواړه په دې ونه توانیدل چې سولې او تفاهم ته سره کینې. همدارنګه د دې دوو

سازمانونو تګلاري سره مختلفي وي، نصر سازمان زياتره ځان حزب اسلامي افغانستان اود حکمتيار تګلاري ته نژدي باله، په داسي حال کي چي حرکت اسلامي او محسني له رباني سره ورته والي درلود، خو د محسني اړيکي د مجاهدينو تر واک ته رسيدو پوري له حکمتيار سره نيکي اوښي وي.

## د افغانستان حرکت اسلامي

دغه ګوند هم په ١٣٥٨لمريز/١٩٧٩م کال په کندهار کابل او مرکزي ولاياتو کي کمونستي ضد جهادي فعاليتونه پيل کړل، د مزار شريف د چارکنت علاقه داري د اولس له پاڅون وروسته د حرکت اسلامي وسله وال جهاد تنظيم شو، اود شيخ محمد آصف محسني تر لارښونه لاندي پرمخ تلو، حرکت اسلامي افغانستان ډله د شيعه وروکو ډلو څخه چي د افغانستان په ولايتونو او په کويټه کي خواره واره وو جوړ شو او ټول د محسني په محور راټول شول، د هغوی له جملي څخه کولي شو د ندای عدالت، سازمان آزادي او مهاجرين نوم واخلو.

## د شيخ آصف محسني ژوند ليك

شيخ محمد آصف محسني په مذهبي لحاظ د آيت الله خويي پيرو او شاګرد دی چي په عراق کي د امام خميني له رقيبانو څخه شميرل کيږي، دی دکندهار په ښار کي زيږيدلی اود افغانستان د قزلباشو پښتنو څخه دی، خو د محسني جهادي فعاليتونه د ١٣٥٧ لمريز کال د ثور کودتا نه وروسته په ١٣٥٨لمريز کال له سوربي څخه کويټي ته په راتلو پيل شول چي مرکز يي کويټه ؤ، محسني په ١٣٥٣لمريز/١٩٧٤م کال د محمد داود په دوره کي تبعيد شو او په ايران، عراق او سوريه کي اوسيد. نوموړی د ملي ګرا مفکوري خاوند دی او اسلامي فکر يي ډاکتر علي شريعتي ته نژدي دی. (٢٢)

شيخ آصف محسني د خپل ملي اصالت د ساتني له ځانګړتيا سره تل هڅه کړي ده چي خپل ملي مصالح له مذهبي اختلافونو څخه بيل وساتي، ځان يي تل افغان بللی دی او د ملي حاکميت، خمکني بشپړتيا، د هيواد خپلواکي او ملي وحدت څخه يي دفاع کړي ده. محسني چي کله کويټي ته راستون شو له حکمتيار او رباني سره يي اړيکي ډيري پراخي پيل کړي، خو د محسني تمايل تل مجددي او رباني لوري ته وو، په ځانګړي توګه کله چي مجاهدين واک ته ورسيدل او حرکت اسلامي له رباني سره په ائتلاف کي ښه مقام ترلاسه کړ، محسني د حکومت دوياند په توګه تل خبري کولي، او څرنګه چي نوموړی د ښه فصاحت خاوند اود وضعي په ښه تشريح بريالی ؤ ډير خلک يي ځان ته ورسات کړي وو او ښي نتيجي يي درلودي. د مجاهدينو له ساتوروسته چي طالبانو کابل ونيو، محسني ايران ته ولاړ او د قم په ښار کي ژوند کوي.

## د افغانستان د اسلامي حرکت خپرونې

د خپرونې نوم: *آوای هری* / د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۹لمریز/۱۹۹۰م، د هرات ښار، افغانستان. د امتیاز خاوند او خپروونکی: د حرکت اسلامي د هرات ولایتي آمریت، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ۵۰۰ ګنې، د خپرونې دول: موقوته نامنظمه میاشتنی، تایپي، فتوکاپي، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، یو رنګ، د خپرونې د کار پای: له پنځلسو ګنو وروسته د غوایي په میاشت کې ۱۳۷۱/۱۹۹۲م اپریل، منځپانګه: د جبهو خبرونه، سیاسي مقالې.

د خپرونې نوم: *استقامت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹ لمریز/۱۹۸۰م، پیښور، پاکستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان حرکت اسلامي، مسوول مدیر: حاج معلم زاده، میر حاتم امیري، شمیر: ۱۰۰۰–۱۵۰۰ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی مجله، تصویري، رنګه پښتي د دغه خپرونه تر ۵۰ مې ګنې توره او سپینه خپریده ژبه: دري، کچه: له لوري تر ۵۰ مې ګنې په ۱۵۱X۲۱ سانتي متره کچه، له هغې وروسته په ۲۴X۱۸ سانتي متره، ۱۰۰ مخونه. د کار پای: ۱۳۷۱غبرګولي/۱۹۹۲م مې، منځپانګه: ددغه سازمان د رهبري پیغامونه، دیني او سیاسي مقالې، سرکي، اشعار.

د خپرونې نوم: *برهان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حرکت اسلامي، مسوول مدیر: نه لري شمیر:؟، د خپرونې دول:؟ ژبه: دري، کچه ۴۲X۲۹ سانتي متره، ۴ مخونه، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰/۱۹۹۱م یوازې دری ګنې خپره شوه، منځپانګه: تنظیمي فعالیتونه او د افغانستان خبرونه.

د خپرونې نوم: *بسیج*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷ لمریز وری/۱۹۸۸م سپتمبر، کابل خپرندوی: د کابل ولایتي شوری، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، دول: خبري خپرونه په ۲ مخونو کې، تایپ، ګستتنر د شبنامې په بڼه، کچه: ۳۲X۲۱ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: دری ګنې خپره شوه، منځپانګه: د ګوند اعلامیې.

د خپرونې نوم: *پیام ایثار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷/۱۹۹۸م، تهران، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، دول: ګستتنر/فوتوکاپي، ژبه: دري، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *پیام بانوان اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۵لمریز سلواغه/۱۹۸۷م جنوري، د هیواد دننه، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي حرکت، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، دول: دغه خپرونه د شبنامې په بڼه په ګستتنر

چاپ او په ۲–٤ مخونو کې خپریدله، ژبه: دري، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: پوازې دوې ګنې خپرې شوې دي. منځپانګه: د حرکت اسلامي اعلامیې.

د خپرونې نوم: *پیام جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز کب/۱۹۸۸م مارچ، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حرکت اسلامي، مسوول مدیر: ع، کرار او، س، حقجو، شمیر: زر ګنې، د خپرونې دول: میاشتنۍ خبري جریده، دوه رنګه، ٤–۸ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٤۲x۵۸ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز کب/۱۹۹۱م مارچ، منځپانګه: د افغانستان خبرونه د حرکت اعلامیې اود محسني بیانیې.

د خپرونې نوم: *پیام سنگر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵ لمریز چنګاښ/۱۹۸٦م جون، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حرکت اسلامي ولایتي شورئ، مسوول مدیر: د لیکوالو شورئ، شمیر:؟،د خپرونې دول: د ګستتنر شویو پاڼو په بڼه، صحافي او سنجاقي، ژبه: دري، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م، منځپانګه (محتوی): د افغانستان خبرونه.

د خپرونې نوم: *پیام شهدا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷ لمریز چنګاښ/۱۹۸۸م جون، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د حرکت اسلامي د کابل ولایتي شورئ، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: ۱۵۰۰ ګنې، د خپرونې دول: خبري خپرونه، دوه میاشتنۍ، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۵x۳۵ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۱لمریز ثور/ ۱۹۹۲م مئ، منځپانګه: د حرکت اسلامي اعلامیې، د شیخ محسني بیانیې، د قوماندان انوري فعالیتونه اود افغانستان خبرونه، یادونه: دغه خپرونه یو ځل په انګلیسي هم خپره شوه.

دخپرونې نوم: *پیام قلم*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، اصفهان، ایران، خپرندوی: په اصفهان کې د حرکت اسلامي د طلابو انجمن، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: ؟، دول: فوتو کاپي، یو رنګ، ژبه: دري، د کار پای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، د ۱۲ ګنو څخه وروسته منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *پیام نو*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، پیښور، مسوول مدیر: صادق مدبر، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنې، دول: اخباري او نیزه، ژبه: دري، د کار پای: ۱۳۷٤ لمریز، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *طلوع سبز*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز د لیندۍ ۲٤مه/۱۹۹۷م د دسمبر ۱۵مه، پیښور، خپرندی او د امتیاز خاوند: په پاکستان کې د حرکت اسلامي نمایندګي، سرمحرر: هیأت تحریر، شمیر:؟، د خپرونې دول:

نامنظمه پنځلس ورځنی جریده، دوه رنگه ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: په غیر منظم ډول: دوام لري، منځپانگه: مقالي، د محسني بیانیې، خبرونه راپوروونه.

د خپروني نوم: *فجر امید*

د خبریدو کال او ځای: ۱۳۶۰لمریز تله/۱۹۸۱م اکتوبر، تهران، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي حرکت، مسوول مدیر: فرهنگي کمیته،شمیر: زرگني، د خپروني ډول: خبري میاشتني جریده، ژبه: دری او انگلیسي (ځانگړی) کچه: ٤۵x۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، منځپانگه: سیاسي مقالي او خبرونه، د محسني بیانیې، د حرکت اسلامي اعلامیې.

د خپروني نوم: *فروغ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز دوری ۱۵مه/۱۹۹۱م د سپتمبر ٦مه، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د هرات ولایتي امارت، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني ډول: میاشتني خبري جریده، دوه رنگه: ۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۰لمریز د کب ۱۵مه/۱۹۹۲م د مارچ ٦مه، منځپانگه: د عظیمي او محسني ویناوي، سیاسي مقالي، یادونه: دغه خپرونه د قوماندان محمد ظاهر عظیمي په مرسته خپریدله.

د خپروني نوم: *مسوولیت زن مسلمان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیښور.

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کابل ولایتي زینبیه شورا، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني ډول: میاشتني جریده: دوه میاشتني دوه رنگه، ٤–۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۱ لمریز غبرگولی/۱۹۹۲م جون، منځپانگه: د افغانستان راپوروونه او خبرونه، د ښځي په باب خبرونه او مقالي.

د خپروني نوم: *میزان*

د خپریدو کال اوځای:؟ ایران، ډول: چاپ زیراکسي، کچه: ٤۳x۳۰ سانتي متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانگه: سیاسي او خبري.

د خپروني نوم: *نوید پیروزی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، مشهد، خپرندوی: د هرات ولایتي شوری، مسوول مدیر: س، پژوهنده، شمیر:؟ د چاپ ډول: زیراکسي، کچه: ٤۲x۳۰ سانتي متره، دکار پای:؟، منځپانگه: سیاسي.

## *څلورگوني ائتلاف*

د مختلفو ډلو ترمنځ د کشمکشونو او د اختلافونو څخه وروسته د ایران په سنځگړتوب د افغانستان د

اهل تشیع ډلو دیوی صلاحیت لرونکی مرجع د جوړیدو په خاطر د څلورو تنظیمونو د افغانستان د نصر سازمان، د افغانستان د پاسداران جهاد اسلامی، د افغانستان د اسلامی انقلاب متحده جبهې او نهضت اسلامی ترمنځ، په ۱۳٦٤/۱۹۸۵م کال ائتلاف را منځته شو، عبدالعلی مزاری د نصر سازمان لارښود د دی ائتلاف دویاند په توګه وټاکل شو، خود خپلمنځی وسله والو نښتو او د اخلی اختلافونو په سبب دغه ائتلاف زر بیرته وشړید.

## د افغانستان د ائتلاف اسلامی شوری

دغه ائتلاف د ۱۳٦۵لمریز کال د پای/۱۹۸۷م کال کی په افغانستان کی د سیاسی پراخو بدلونونو په خاطر په افغانستان کی منځته راغی او په نړیواله سطحه یې هم عکس العملونه درلودل، بیاهم د افغانستان د نصر سازمان د افغانستان د اسلامی انقلاب متحده جبهه، د افغانستان حزب الله، حرکت اسلامی، د اسلامی جهاد پاسداران، نیروی اسلامی سازمان، د افغانستان اسلامی نهضت، او دعوت اسلامی ګوندونه په یوه تولګه کی د افغانستان د اسلامی ائتلاف شوری په نامه چی په اته ګونی ائتلاف هم مشهور دی را تول شول. په دی ائتلاف کی پریکړه وشوه چی د یو بل پر خلاف ناوړه تبلیغات بند کړی، خپلمنځی وسله والی نښتی به له منځه وړی، او له دی شوری څخه به د صلاحیت لرونکی مرجع په حیث اطاعت کوی. د دی شوری د اساسنامی سره سم هره ډله په خپله سیمه کی له خپلسری او خپلواکی څخه برخمنه ده چی د شیعه ګوندونو د بشپړیو والی لپاره به فعالیت کوی.

په دغه اته ګونی اتحاد کی خلیلی د نصر سازمان د سیاسی چارو مسوول د ویاند په توګه وټاکل شو او دوهم سړی یی زاهدی وټاکه، خو دریځونه په تیره د حرکت اسلامی دریځ د اته ګونی اتحاد څخه بیلا ؤه. او هری ډلی څرنګه چی په خپله تر واک لاندی سیمه کی د بشپړی خپلواکی خبری کولی د هری ډلی مشرانو هم دخپلواکی عمل کاوه او داته ګونی اتحاد شته والی بی اغیزی پاتی شو.

د خپرونی نوم: *ندای عدالت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز کب/۱۹۹۱م، جنوری، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ائتلاف شوری فرهنګی دفتر، مسوول مدیر: تقدسی او علی جاوید، شمیر: زر ګنی، د خپرونی ډول: نامنظمه میاشتنی، ژبه: دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتی متره د خپرونی د کار پای: وری ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م اګست، منځپانګه: خبرونه او مقالی، د شیعه مشرانو وینا وی.

د خپرونی نوم: *نوید پیروزی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز د تلی لسمه/۱۹۹۱م د اکتوبر ۲مه، خپرندوی او د امتیازخاوند: د ائتلاف شوری فرهنګی دفتر مسوول مدیر: نه لری، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنی، د خپرونی ډول: میاشتنی

جریده، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰لمریز کب/۱۹۹۲م جنوري، منځپانګه: د اهل تشیع ډلو خبرونه، د ډلو د مشرانو وینا وې او د افغانستان پېښې.

## د افغانستان وحدت اسلامي ګوند

ځينې څېړونکي د حزب وحدت جوړېدل د اکبري، عرفاني او سجادي د هڅو نتيجه بولي، چې په ۱۳٦٧/۱۹۸۸م کال يې د پنجاب او جاغوري په ولسواليو کې دوړوکو ډلو ترمنځ يو والي راوست، ددغه يو والي د پراخيدلو لپاره عرفاني ته دنده وسپارل شوه چې د محسني له حرکت اسلامي او حزب الله سره اړيکې ونيسي.

په باميان ښار کې په ۱۳٦٨لمريز د چنګاښ د ۲۵-۲۷مې/۱۹۸۹م د جولای ۱٦-۱۸مې پورې په غونډه کې د وحدت په ميثاق موافقه وشوه، د ۱۳٦۹ په زمري مياشت/۱۹۹۰اګست کې کريم خليلي چې د اته ګوني ائتلاف ويانه د ؤ د ائتلاف شورئ منحل اعلان کړه، د ځينو ډلومشرانو د يووالي ميثاق متن ليکلی او لاسليک کړی ؤ چې د هغې په اساس د شيعه ډلو اوه ګوندونه رسماً يو پر بل کې منحل او د (حزب وحدت اسلامي افغانستان) نوم يې پرې کېښود. دغه اوه شيعه ډلې عبارت وې له:

۱- د افغانستان د نصر سازمان، ۲- د افغانستان پاسداران جهاد اسلام، ۳- د افغانستان اسلامي نهضت، ٤- د افغانستان نيروی اسلام، ٥- شورای اتفاق اسلامی، ٦- د افغانستان د اسلامي انقلاب متحده جبهه، ۷- د افغانستان اسلامي دعوت ګوندونو څخه.

کومو کسانو چې د يووالي ميثاق لاسليک کړ هغوی دغه کسان وو: ۱- عبدالعلي مزاري، حکيمي، سجادي، هادي، استاد صفي او واحدي د نصر سازمان څخه. ۲- فياض، رضواني، عصمت الهی، مدرسي او هادي له حرکت اسلامي څخه. ۳- اکبري، رضواني، فکرت، واعظي او غفوري د پاسداران جهاد اسلامي څخه. ٤- احمدي او رضايي د اسلامي انقلاب د متحدې جبهې څخه. ٦- حسيني، جوادي او قايمي داسلامي نيروله سازمان څخه. ۷- آغای صيادي د حزب دعوت اسلامي څخه. يوه موده وروسته آغای بهشتي هم د شوری اتفاق څخه له حزب وحدت سره يوځای شو، او دقاري احمدي په مشرۍ حزب الله هم ورسره يو ځای شو، د ۱۳٦۹ لمريز په سنبله/۱۹۹۰م سپتمبر کې ددغو ډلو ټول دفترونه په حزب وحدت اسلامي پورې وتړل شول، او د وحدت اسلامي ګوند اصلي مرکز يې باميان اعلان کړ، د ائتلاف شورئ دفتر چې پخوا په تهران کې ؤ پيښوړته وليږدول شو. ترڅو په پيښور کې د ميشتو مجاهدينو سره تفاهم او اړيکې ولري: د افغانستان حرکت اسلامي ګوند په وحدت اسلامي ګوند کې د منحل کېدو څخه ډډه وکړه او ديوه ځانګړي ګوند په توګه تر پايه بيل پاتې شو، د وحدت اسلامي ګوند عمومي منشي

عبدالعلي مزاري غوره شو.

د دغه ګوند اجرائیه شورا غړي په دې ډول وو: ۱- آیت ا... صادقي پرواني د مؤسس اود روحانیت د مرجع په حیث، ۲- حسیني ڤاضلي د رهبري شورئ غړی، ۳- جنرال سید حسین په سید جګړن مشهور د لاربسودی شورئ غړی، ٤- قربان علي محقق د عمومي منشي مرستیال، ٥- استاد صادق ترکمني، ٦- حکیمي، ۷- افتخاري.

د مرکزي کمیتې غړي دا وو: عبدالعلي مزاري، قربانعلي محقق، سید حسن فاضلي، محمد کریم خلیلي، یوسف علي ذکي، مصطفی کاظمي، او نظامي، همدارنګه مرتضوي، قوماندان شفق حسن مقصودي، سید محمد سلیم معلم زاده، محقق زاده له خلیلي او عرفاني څخه پرته د افغانستان په اسلامي دولت کې د جهادي شورا غړي وټاکل شول.

د میثاق وحدت په ستن کې د قرآن او سنتو او د ولایت فقیه د اصل سره سم د اسلامي حکومت د جوړیدو په باب د مبارزې او هڅو په ګرندي کولو په لومړي ماده کې یادونه شوې ده "... د خپلواکۍ د ساتنې او د ځمکنۍ بشپړتیا، د افغانستان د ملي پیوستون اود بیلتون غوښتونکو او دلبازیو په مقابل کې مبارزه په هره بنه چې وي. (۲۳) تشریح شوې دی.

په ۱۳٦۱/۱۹۹۲م کال کې د مجاهدینو د لنډمهالي حکومت له جوړیدو سره شیخ آصف محسني له حزب وحدت څخه بیل شو او دیوه خپلواک ګوند په څیربې بیرته ځان منظم کړ.

## د مزاري او اکبري اختلافات

د ۱۳۷۳لمریز په چنګاښ میاشت/۱۹۹٤م جولای کې په داسې حال کې چې د حزب وحدت او شورئ نظار ترمنځ په کابل کې تونده جګړه روانه وه ددغه حزب د مرکزي شورئ انتخابات د کابل په دریمه کارته کې ترسره شول، د مشرتابه لپاره دوه تنه مزاري او اکبري کاندید وو... دواړو کاندیدانو د نظرونو د اختلاف سره چې درلود یې هڅه کوله چې ډیرې رایې واخلي، مزاري له حکمتیار او دوستم سره د همکارۍ تمایل درلود، په داسې حال کې چې اکبري، رباني او مسعود ته کوږوالي درلود.

په نتیجه کې له مرکزي شورئ څخه مزاري ٤٥ رایې او اکبري ۳۲ رایې ترلاسه کړې او مزاري د دوهم ځل لپاره د حزب وحدت د عمومي منشي په توګه غوره شو، په دغه انتخاباتو کې عالمي بلخي لومړی مرستیال، محقق ورسي دوهم مرستیال، باقري لومړی منشي، هاشمي بلخابي دوهم منشي، امیني سیداني، محقق زاده، ناطق کیان او موحدي د رئیسه هیأت دغړیو په توګه سیدیزدان شاه هاشمي د نظامي کمیتې مسوول، افضلي د فرهنګي کمیتې او اکبري د سیاسي کمیسون رئیس وټاکل شول. (٢٤)

پر دې انتخاباتو پسې اکبري له مسعود سره خپلې اړیکې پیاوړې کړې، همدارنګه حرکت اسلامي هم د مزاري په مخالف لوري کې ودرید، حزب وحدت اعلان کړه چې په "حرکت" کې د انوري او جاوید

شر اچوونکي باند چې کینه او دښمني یې زموږ له ملت سره له هیڅا ځخه پټه نه ده له آغای اکبری او مصطفی کاظمی سره چې متاسفانه له ماتي وروسته د حزب وحدت اسلامي په تاکنوکی د دوی هیلي ترسره نه شوې له عقدو ډک عمل ته یې لاس اچولی دی. (۲۵)

په لوسړی لمبر سند د افشای خاینانه... کی چې حزب وحدت خپور کړی دی په ٥ مه او ٦ مه ماده کی په صراحت یادونه شوې ده چې: یوه د پټې قوماندۍ ګډه کمیټه به د حزب اسلامي جنبش ملي او مخالفو حزبونو پر خلاف جوړ وو، د سیاست له صحنې څخه د مزاري غوندې افرادو ایستل دی... دغه سند برهان الدین رباني، احمد شاه مسعود، اکبری او سید ابولحسن فاضل لاسلیک کړی دی. (۲٦)

اکبری عملاً له مسعود د سره همکاري پیل کړه، او مصطفی کاظمی له جنرال فهیم سره په اطلاعاتي چاروکي د حزب وحدت د افرادو په تور او یا جیل ته اچولو کی مرسته کوله. مسعود خپل ټول نظامي وسایل انوری ته وسپارل او آغای جاوید او هادی د رباني په کابینه کی ځای کړای شول. په مخالف اړخ کی د مزاري او حکمتیار ترمنځ زیات پیوستون راغی، او له مزاري سره د حزب اسلامي مالي او پوځي مرستي زیاتي شوې، حکمتیار چې خوسره درنې وسلې ذخیره درلودې د لوګر له نیازیو او کنجک څخه یې د کابل جنوب ته راوړې او مزاري ته یې وسپارلې. په ۱۳۷۳ لمریز د تلې ١٤ مه/١٩٩٤م آکتوبر ٦ مه د حزب وحدت د مرکزي شورا په یوه پیغام کی اکبری او کاظمي د حزب وحدت له شورې څخه وایستل شول، اکبری د مسعود په ملګرتیا خپل ملګري له سره تنظیم کړل او د حزب وحدت یو شمیر قوماندانان یې په پیسو واخستل او په خپل مشر تابه یې د وحدت اسلامي ګوند جوړ کړ، دغه سیاسي جریان د طالبانو په لاس د کابل تر سقوط پورې دوام درلود.

### مزاري د مسعود د تپل شوې جګړې قرباني

حزب وحدت چې په خپله د داخلي اختلافاتو له امله په بد حالت کی قرار درلود ددغه ګوند ټول اسرار او اطلاعات د کاظمي په واسطه مسعود او جنرال فهیم ته په لاس ورغلل او زیاتي حملې یې ورغملې، له دې سره جوخت د طالبانو ناڅاپي حملې او د زابل، غزنې، میدان او لوګر د لارې په بهیر د حزب اسلامي نه اټکل کېدونکي ماتي او بالاخره له چارآسیاب څخه سروبي ته په شاتګ مزاري خپل همکار حکمتیار له لاسه ورکړ، حکمتیار دیوه تاکتیکي شاتګ په واسطه غوښتل طالبان د کابل له اداري سره مخامخ کړي او ځان تري وژغوري، مسعود چې دحزب اسلامي پرخلاف د خپلې حیلې په دام کی نښتي ؤ او د پخواني موافقي سره سم چې په میدان ښارکی یې له ملا بورجان سره کړي وه نه یې شوکولی چې صادق او ربښتیني پاتي شي او قدرت له لاسه ورکړي، مسعود په دې خبرو اترو کی له طالبانو سره تعهد کړی ؤ چې د کابل په جنوب کی دحزب اسلامي دله منځه تلو په صورت کی هغه چمتو دی چې د کابل اداره له وینو تویولو پرته طالبانو ته وسپاري.

په دغسې حالت کې مزاری د دوو دښمنو قواو په منځ کې پاتې شو. سره له دې چې حکمتیار له شاتګ څخه وراندې له ده سره تماس نیولی ؤ او ترې غوښتنې یې وو چې له ده سره یو ځای د کابل جنوب پریږدي، اما مزاری د خپل همیشنی عادت له مخې دغه غوښتنه رد کړه... طالبانو غوښتل چې د دوی او مسعود د قواو ترمنځ پروت د مزاری ځواک هر څومره ژر له مخې لرې کړي او په یوه سره تاسري برید کې یې د حزب وحدت ټولې درنې وسلې ونیولې، مسعود ددغه حالت له درک سره سم پر هغوی درنې حملې پیل کړې چې د مقاومت امکانات یې ډیر لږ وو، مزاری له ملا بور جان څخه وغوښتل چې د دوی درنې وسلې بیرته پرې وسپاری ترڅو له مسعود سره مقابله وکړي... ملا بور جان له مزاری وغوښتل چې د خبرو اترو لپاره چار آسیاب ته ورشي چې تعلیمي غونډ ته د رسیدو سره سم ونیول او بندي شو، طالبانو غوښتل مزاری د هلیکوپټر په واسطه کندهار ته ولیږدوي چې دده د ملګریو او دطالبانو د ټکر په سبب هلیکوپټر بیرته په چار آسیاب کې کوزیدوته اړشو او مزاری د سرکشې په عنوان له خپلو دوو قوماندانانو ابو ذر غزنوي او قائمي سره ووژل شو.

وحدت اسلامي ګوند په ۱۳۷٤ لمریز د وری په ۱۳مه/۱۹۹۵م د اپریل په ۲مه د وحدت ګوند د سیاسي چارو رئیس محمد کریم خلیلي د دغه ګوند د لارښود په حیث وټاکه، حیات الله بلاغي د ده پرځای د سیاسي چارو رئیس او عرفاني د حزب وحدت د مرستیال په توګه وټاکل شول.

## د وحدت ګوندا و اکبری اختلافات

اکبری له کاظمي سره یوه موده په ایران کې تیره کړه، وروسته بیرته بامیان ته ستون شو. کله چې په ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م طالبانو بامیان ونیو او مزار شریف هم د شمال ائتلاف د شوری له لاسه ووت، اکبری، عرفاني او آیت الله صادقي طالبانو ته تسلیم شول. او خپلو ملګریو ته یې هم لارښونه وکړه چې د مقاومت څخه لاس واخلي او د افغانستان اسلامي امارت تائید کړي، دغه دری واړه کسان طالبانو د افغانستان د عمومي اسلامي شورا په غړیتوب ومنل.

خو د اکبری او کاظمي ترمنځ نوراختلافات را پیدا شول، کاظمي چې تر اوسه د مسعود پلوی دی له اکبری سره یې خپل مخالفت اعلان کړ، او په تهران کې په یوه غونډه کې د زمري د میاشتې له ۲۲-۲۷مې ۱۳۷۸لمریز-۱۹۹۹م د اګست له ١٤-۱۸ مې پورې د وحدت ګوند د مرکزي شورا د رئیس په توګه وټاکل شو، همدارنګه نوری ټاکنې هم وشوې د هغو له جملې څخه: - عالمي بلخي د تصمیم ګیری شورې رئیس، افضلي لومړی مرستیال، او صادقي زاده دوهم مرستیال، مرتضوی د سیاسي کمیسون رئیس او آقای ضامن یې مرستیال، صارم د فرهنګي کمیسون رئیس، فاضل دره صوفي د نظامي کمیسون رئیس، شیخ باقر سلطاني یې لومړی او شعاع دوهم مرستیال، هاشمي لولنجي د تفتیش رئیس

اسکندر قیام د پلان رئیس او داکتر فدوی د صحي کمیسون رئیس وټاکل شول.
په دې غونډه کې د پراخې ملي جبهې جوړېدل د ټولو قومونو او ګوندونو په ګډون تصویب او د هر ډول توپیر او انحصار غوښتني سیاست مخالفت وشو، همدارنګه طالبان د جګړې عامل وبلل شول. (۲۷)

## د عبدالعلي مزاري ژوندلیك

عبدالعلي مزاري په ۱۳۲۵لمریز/۱۹٤٦م کال په یوه بزګره او غریبه کورنۍ که د مزار شریف د چار کنت علاقه داری په قریه نانوایي کې زیږېدلی دی، لومړنۍ دیني زده کړې یې د خپل کلي په مدرسه کې پای ته ورسولې بیا مزار شریف ته ولاړ، او خپلې نورې زده کړې یې د ایران په قم او د عراق په نجف کې سرته ورسولې... نو موړی د محمد ظاهر شاه په وخت کې څو ځلې جیل ته ولوید تردې چې له هیواده وتلو ته اړشو، کله چې په افغانستان کې د ثور کمونستي کودتا او وروسته د شوروي اتحاد نیغ یرغل وشو، مزاري افغانستان ته راغی او د مزار شریف د چارکنت، چمتال او شولګرې په پاڅون کې یې عملاً برخه واخسته، مزاري د رژیم د مخالف په حیث زیاتې ستونزې وګاللې، د هغه وخت حاکم نظام دده پلار حاجي خدا داد او تره حاجي محمد نبي اعدام کړل، له شوروي قواو سره په یوه مقابله کې یې ورور سلطان محمد او خور او اولاد ونه یې له لاسه ورکړل او د مزاري د کورنۍ زیات غړي جیل ته ولوېدل.
مزاري د افغانستان د نصر سازمان د لارښود په توګه د اهل تشیع دلو په منځ کې محوري رول درلود، د دلو په ائتلاف کې یې تل هڅې کولې، کله چې د وحدت اسلامي ګوند جوړ شو نوموړی یې د عمومي منشي په توګه وټاکل شو، خو ددغه حزب څخه یو شمیر غړیو د اکبري او کاظمي په څیر د برهان الدین رباني له حکومت سره ائتلاف وکړ، حرکت اسلامي په بشپړډول، محقق، اکبري علي جاوید، هادي او تر ټولو مهم انوري د نظامي عملیاتو په واسطه عملاً د کابل د افشارو په پیښه کې شامل وو چې مزاري مقاومت کاوه او د رانه تلفات یې وزغمل خو دده په اصطلاح د "درباري" ځواکونو په مقابل کې یې مقاومت وکړ، په دغسې حالت کې چې د وحدت اسلامي ګوند د پاشل کیدو په حال کې ؤ مزاري د حزب اسلامي له نظامي او تبلیغاتي مرستې څخه ګټه واخسته او د کابل په لویدیځ کې یې په ګډه د کابل د ائتلافي اداری په مقابل کې جګړه کوله.
کله چې طالبانو په چار آسیاب کې د حزب اسلامي پر مرکز یرغل ور وړ او حکمتیار له خپلو قوتونو سره سروبي او جلال آباد ته شاتګ وکړ، مزاري له خپلو ګوندي تشکیلاتو سره یوازې پاتې شو. سره له دې چې حکمتیار له شاتګ څخه وړاندې ده ته ویلي وو خو هغه په خپله سر سختۍ نه غوښتل ځای پریږدي، او په پام کې یې وو چې له طالبانو سره د تفاهم له لارې به د حزب وحدت جهادي حقوق وساتي او

د مسعود او سیاف قواوی به شاتګ ته اړی کړی، د ۱۳۷۳لمریز کال د کب په ۲٤مه/۱۹۹۵م مارچ نیمه یی د طالبانو قوماندان ملا بور جان ته چی په چار آسیاب کی ؤ ولیکل: تاسو زموږ درنی او سپکی وسلی موږ ته وسپاری چی له خپلو خلکو څخه مو دفاع وکړو. موږ حاضر یو چی له خپلو همدغو خلکو سره د ربانی – مسعود پر خلاف دفاعی جبهه جوړه کړو زموږ هیأت ستاسو خدمت ته درغی، خپل دریځ اعلان کړی چی هغوی د کابل لویدیځ قبضه کوی...". (۲۸)

ملابور جان د نیغو خبرو اترو غوښتونکی شو، او چی کله مزاری چار آسیاب ته ولاړ هلته ونیول او بندی شو، او د وژل کیدو څخه یی دوی ورځی وروسته مړی په غزنی کی د حزب وحدت مجاهدینو ته وسپارل شو، پلویانو یی مړی مزار شریف ته یوړ او هلته یی خاورو ته وسپاره.

## د وحدت ګوند خپرونی

د خپرونی نوم: *آرمان وحدت*

د خپریدوکال او ځای: پیښور، نوعیت: او نیزه جریده، چاپی، ژبه: دری

د خپرونی نوم: *امروز ما*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز کب/۱۹۹۵م مارچ، دوهم پړاو ۱۳۷۸لمریز سنبله/۱۹۹۱م سپتمبر، پیښور–پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د وحدت اسلامی ګوند خپرنی ارګان، سرمحرر: د لیکوالو شوری تر نظر لاندی، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی دول: اونیزه جریده، دوه رنګه، ۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤٥X۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: لومړی پړاو: ۱۳۷۷/۱۹۹۸م دوهم پړاو نامنظمه دوام لری، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، د کریم خلیلی بیانیی، اعلامیی، شعرونه، سیاسی او ادبی مقالی.

د خپرونی نوم: *بشارت*

د خپریدوکال اوځای: ۱۳۷۰لمریز وری/۱۹۹۱م اپریل، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان وحدت اسلامی ګوند د پیښور څانګه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: زر ګنی، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی، ژبه: دری کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، دوه رنګه، ۸ مخونه، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۰/۱۹۹۱م، (تولی لس ګنی خپری شوی) منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه، مرکی اود حزب وحد اعلامیی.

د خپرونی نوم: *بنیاد وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م مشهد، مسوول مدیر: علی فصیحی، شمیر:؟، نوعیت: او نیزه خبری، چاپی، ژبه: دری، کچه: ٤۲X۳۰ سانتی متره، د کار پای: دوام لری، منځپانګه: سیاسی او تولنیزه.

د خپرونی نوم: *پیام توحید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، شبرغان، افغانستان، خپرندوی او امتیاز: د بلخ ولایتی شوری، مسوول مدیر: تقی واحدی، شمیر: ۱۰۰۰ ګنی، د خپرونی ډول: خبری او نیزه، یو رنګ، ۱۲ مخونه ژبه: دری، کچه: ۲۰×۲۸ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷٤ لمریز لړم/۱۹۹۵م نومبر، منځپانګه: د حزب وحدت خبرونه او راپورونه او د کریم خلیلی بیانبی.

د خپرونی نوم: *پیام ما*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱/۱۹۹۲م، کندهار، مسوول مدیر: د کندهار ولایتی شوری، شمیر:؟، نوعیت، خبری بولتین ګستتنر چاپ، ژبه: دری، د کار پای: ؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *پیام وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹/۱۹۹۰م، خپرندوی او امتیاز: د وحدت ګوند پلویان، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی نوعیت: دری سیاشتنی خبری جریده، نامنظمه، یورنګ، ژبه: دری، کچه: ۱۸×۲۵ سانتی متره، د خپرونی د کار پای:؟، منځپانګه: د افغانستان او حدت ګوند راپورونه او خبرونه.

د خپرونی نوم: *پیک*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م، قم، مسوول مدیر: عبدالاحد مبارز، د خپرونی ډول: خبرنامه، کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، ژبه: دری.

د خپرونی نوم: *تجلی وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م تهران، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، نوعیت: اونیزه، کاپی، زیراکسی، ژبه: دری د کار پای: ؟، منځپانګه: خبری او سیاسی.

د خپرونی نوم: *صفحهٔ نو*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، پیښور، مسوول مدیر: نه لری، شمیر/؟، د خپرونی نوع: اونیزه، ژبه دری او پښتو، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *طلوع وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م، کویټه، نوعیت: اخباری میاشتنی، د کار پای: د دری ګڼو له خپریدو وروسته وتړل شوه.

د خپرونی نوم: *میثاق وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹ لمریز د لړم لومړی/۱۹۹۰م د اکتوبر ۲۳ مه، قم، ایران. خپرندوی او د امتیاز خاوند: د وحدت اسلامی ګوند. سرمحرر: سرور دانش، مهدی امیر ناصری، شمیر:؟، دخپرونی ډول: میاشتنی مجله، پښتی دوه رنګه، ٦۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱×۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م، منځپانګه: د اسلامی نړی او افغانستان د جهاد په اړه مطالب.

د خپرونې نوم: *نداء الوحدة*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، لبنان، مسوول مدیر: احمد اخلاقي، خدا یار ناصري، شمیر:؟، نوعیت: مجله چاپي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، ژبه: عربي، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي او اسلامي مقالې.

د خپرونې نوم: *وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۶لمریز/۱۹۸۷م، مشهد او ۱۳۶۹لمریز/۱۹۹۰م، قم، ایران، خپرندوی او امتیاز: وحدت ګوند، مسوول مدیر: په مشهد کې یې نه درلود، په قم کې سرور دانش، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې دول: خبري اونیزه، تصویري، دوه رنګه، ۸ مخونه، ژبه: دري، کچه: په مشهد کې ۲۹X۲۱ سانتي متره، په قم کې ۴۴X۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: په مشهد کې دوې میاشتنې خپره شوه، په قم کې دوام لري، منځپانګه: خبرونه، سیاسي مقالې او د حزب وحدت پیښنې.

یادونه: همدارنګه په ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، وحدت خبرنامه د دغه سازمان د نمایندګۍ لخوا په لندن کې په دوو ژبو انګلیسي او دري، په ۲۹X۲۱ سانتي متره،کچه له ۸-۱۲ مخونو کې په یوه رنګ خپریدله، چې تر ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م پورې یې پرله پسې دوام درلود دغه خپرونه په هرو دوو میاشتو کې په دوو ژبو خپریدله، چې سیاسي مقالې، خبرونه او د رهبرۍ د فعالیتونو (مزاري او خلیلي) راپورونه یې خپرول.

د خپرونې نوم: *الوحدة الاسلامیه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۴۱۱هـ ق. قم، ایران، مسوول مدیر: محمد مصطفوي، ژبه: عربي، دکار پای: نامنظمه، محتوی: سیاسي.

د خپرونې نوم: *هاجر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸لمریز وری/۱۹۹۸سپتمبر، قم، ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د وحدت اسلامي ګوند، د ښځو د چارو کمیسیون، سرمحرر: هیأت تحریر، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې نوعیت: او نیزه، دوه رنګه ۸ مخونه، ژبه: دري، کچه:۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د افغانستان خبرونه د ښځې نړۍ، شعر او ادب، او تاریخي مسایل.

## د متفرقه سازمانونو خپرونی

د لویو جهادی ګوندونو له خپرونو علاوه زیاتی جریدی د وړوکو سازمانونو او یا په لویو سازمانونو پوری د ناپییلوحلقو او افرادو لخوا خپرېږی چی د افغانستان د سیاسی او ټولنیزو حالاتو په اړه دریځونه او موقفونه پکی روښانه شوی دی.

د خپرونی نوم: *آذرخش*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، هلسنګی، فنلند، د امتیاز خاوند: د افغانستان د علم څیړونکو د بشر د حقوقو سازمان، مسوول مدیر: حامد شفایی، شمیر: زر ګنی، نوعیت: نامنظمه مجله(فصلنامه) یورنګ، چاپی، ژبه: دری، کچه: ۱۵×۲۰ سانتی متره، د کار پای: ادامه لری، منځپانګه: سیاسی مقالی، بهرنی راپورونه، د بشر د حقوقو اعلامیی.

د خپرونی نوم: *آرمان مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، پیښور، پاکستان، خپرندوی او دا متیاز خاوند: حرکت انقلاب د مؤذن ګروپ، مسوول مدیر:؟ شمیر:؟، د خپرونی نوعیت: نامنظمه جریده، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٠×٥٠ سانتی متره، دوه رنګه د خپرونی د کار پای:؟ منځپانګه: خبرونه او دافغانستان د جهاد په اړه مقالی.

د خپرونی نوم: *آرمان مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۳لمریز/۱۹۹٤م، پیښور، پاکستان، خپرندوی: د افغانستان د شمالی سمت اسلامی اتحادیه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ٥٠٠ ګنی، نوعیت: موقوته وړوکی خبری جریده، په یوه رنګ، نامنظمه، ژبه: دری، کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸٥م، منځپانګه: د جبهو خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *آریانا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز لړم/۱۹۹۰م نومبر د خپریدو ځای نامعلوم، خپرندوی او د امتیاز خاوند: آزاده او ناپیلی خپرونه، مسوول مدیر: عبدالله، شمیر:؟، نوعیت: غیر منظمه خبری میاشتنی جریده، یورنګ، ٤−۱۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱×۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: له څلور ګنو وروسته په ۱۳۷۱لمریز کال وری/۱۹۹۲م اپریل کی، منځپانګه: د احمد شاه مسعود خبرونه او را پورونه او شوری نظار ته تمایلات.

د خپرونی نوم: *آریانا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۷م، مشهد، خپرندوی او د امتیاز خاوند: زکریا مشکور کابلی،

سرمحرر: محمد هاشم عصمت الهی، شمیر:؟، د خپرونې نوعیت: مجله (فصلنامه) چاپ، ژبه: دری د کار پای: دوام لري.

د خپرونې نوم: *آزادی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهد ولس د هیلو بیانوونکی، مسوول مدیر: پوهنمل زمان ستانکزی، شمیر:؟ د خپرونې ډول: میاشتنی، ژبه: پښتو او دری او انګلیسی، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د کار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *آزادی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م، قم، ایران، د امتیاز خاوند: د افغانستان آزادی بخښونکی جبهه، مسوول مدیر:؟، د خپرونې ډول: مجله، بولتین فوتوکاپي چاپ، ژبه:دری، کچه/ ٤٢X٢٤ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۵۹لمریز/ ۱۹۸۰م، منځپانګه: سیاسي مقالې.

د خپرونې نوم: *آزادی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، اوسلو، ناروی، د امتیاز خاوند: د آزادی انجمن، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟ نوعیت: میاشتنی مجله، نامنظمه، فوتوکاپي چاپ په ۲٦ مخونوکی، ژبه: دری او پښتو، کچه:۲۱X۲۹ سانتي متره، د کار پای: هماغه د خپریدو کال، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *آسمایی*

د خپریدوکال او ځای: نه دی ذکر شوی، مونشن، ګلاباخ، آلمان، خپرندوی او امتیاز: د افغاني کورنیو لپاره فرهنګي خپرونه، مسوول مدیر: محمد اعظم عبیدی، شمیر: زرګنی د خپرونې ډول: دری میاشتنی مجله، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، رنګه پښتي، مصوره، په ٦۰ مخونوکی، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: مقالې، شعرونه، داستان، طنز او سرکې.

د خپرونې نوم: *آوای مهاجر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م، نوی ډیلی، هند. د امتیاز خاوند: د افغانستان د مهاجرینو اسلامی انجمن، نوعیت: میاشتنی مجله، ژبه: دری، کچه:۲۱X۳۰ سانتي متره، د کار پای:؟ منځپانګه: سیاسي او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *آئینه افغانستان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز غبرګولی/۱۹۹۱م جون کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: ډاکتر سید خلیل الله هاشمیان، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنی، د خپرونې ډول: نامنظمه میاشتنی، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۲۱X۳۰سانتي متره، د رسالې په ډول سنجاقي، له ۳۰-٦۰

مخونه، د خپروني د کار پای: نامنظمه دوام لري، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، اجتماعي، سياسي انتقادي مقالې، يادونه: د آزادی ملي، اسلامي او غير ګوندی مياشتنی مجلې تر عنوان لاندی خپروئي کوی.

د خپروني نوم: *آئينه جهاد*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳٦۷لمريز/۱۹۸۸م تهران، د امتياز خاوند: د افغانستان حرکت انقلاب اسلامی (منصور ډلګی) د خپرونی ډول: نامنظمه مياشتنی جريده، دوه رنګه: ژبه: دری، کچه: ٤۳X۳۹ سانتی متره، د کار پای:؟ محتوی: سياسی.

د خپروني نوم: *آئينه صحت*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳٦٤لمريز/۱۹۸۵م، پيښور، پاکستان. خپرندوی او امتياز: د افغانستان د مجاهدو ډاکترانو اتحاديه، مسوول مدير: فرهنګی کميټه، شمير:؟، د خپرونی ډول: نامعلوم، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٥X۳۰ سانتی متره، ٤ مخونه، د کار پای: يوازی دوی ګنی خپره شوه، منځپانګه: صحی او سياسی.

د خپروني نوم: *اتفاق اسلام*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳٦٤لمريز/۱۹۸۵م، د امريکا متحده ايالات، دامتياز خاوند او خپروندوی: په امريکا کی د مهاجرو افغانانو اسلامی او ملی شوری، مسوول مدير: نه لری، شمير: ۵۰۰-۱۰۰۰ ګنی د خپرونی ډول: موقوته خبری، نامنظمه، تايپی، فوتو کاپی، ژبه: پښتو او دری، کچه: ميانه ٤۲X۳۰ سانتی متره، دکار پای: ۱۳٦٤لمريز/۱۹۸۵م، له دوو ګنو خپريدو وروسته، محتوی: مقاله او خبر.

د خپروني نوم: *اتفاق افغان*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳۷۲/۱۹۹۳م، امريکا، د امتياز خاوند: د مهاجرو افغانانو اسلامی شوری، مسوول مدير: نه لری، د خپرونی ډول: مياشتنی، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤۲X۲۹ سانتی متره.

د خپروني نوم: *احرار*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمريز لړم/۱۹۹۰م آکتوبر، پيښور پاکستان، خپرندوی او امتياز: د افغانستان د اهل سنت او جماعت د اتحاديی خپرنی ارګان، مسوول مدير: نه لری، شمير: ۱۵۰۰ګنی، د خپرونی نوعيت: مياشتنی جريده، په اتو مخونو کی چاپ، ژبه: پښتو او دری، کچه: منځنی ٤٥X۳۰ سانتی متره، د کار پای: ۱۳۷۱لمريز/۱۹۹۲م، منځپانګه: د افغانستان او نړی خبرونه، يادونه: دغی جريدی د مولوی جميل الرحمن له ډلی سره هم اړيکی درلودی.

د خپروني نوم: *احيأ*

د خپريدو کال او ځای: ۱۳۷۲/۱۹۹۳م پيښور - پاکستان خپرندوی اود امتياز خاوند:د نيشه بی موادو د مخنيوی افغانی موسسه، مسوول مدير: عبدالله جاهد، شمير: ۱۵۰۰ ګنی، د خپرونی ډول: فصلنامه

نامنظمه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٥X۲۹ سانتي متره، یورنګ، څلور مخونه د خپروني د کار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م د څلورو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د نیشه یي موادو سره د مبارزې په اړه مقالې، په دې اړه خبرونه او راپورونه او د نیشه یي موادو د مخنیوي د کمیټو فعالیتونه.

د خپروني نوم: *اخلاص*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، پېښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامي نهضت د افکارو خپروونکي، مسوول مدیر: زاهدي احمد زی، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګڼې، د خپروني دول: سیاشتنی، ژبه: پښتو او دري، لویه کچه ٥۸X٤۱ سانتي متره، دوه رنګه، په څلورو مخونو کې د خپروني د کار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، محتوی: سیاسي مقالې، د جهاد خبرونه.

د خپروني نوم: *اخوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز د میزان ۱۲مه/۱۹۸٦م د اکتوبر ٤مه، پېښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دمصلحینو تولنه، مسوول مدیر: میراجان سحیقي، شمیر: زر ګڼې، د خپروني دول: میاشتنۍ جریده، ژبه: پښتو او دري، کچه لویه ٥۸X ٤۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: سیاسي مقالې اجتماعي لیکني او د مجاهدینو خبرونه.

د خپروني نوم: *اخوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، تهران، د امتیاز خاوند: د بیرخانه مجمع علمای شیعه وسني افغانستان، مسوول مدیر: نه لري، د خپروني دول: دوه میاشتنۍ ځانګړې مجله، چاپي، ژبه: دري.

د خپروني نوم: *ارشاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز لړم/۱۹۸۳م سپتمبر بوخوم، آلمان، د امتیاز خاوند او خپرندوی: محمدي انجمن، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه جریده، ٦ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۳۱ سانتي متره، فوتوکاپي، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٥لمریز لیندۍ/۱۹۸٦م نومبر، د ۹ ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې.

د خپروني نوم: *ارګین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز تله/۱۹۸۷م اکتوبر، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د شمال د اتحادیې فرهنګي انجمن، مسوول مدیر: م، ر، ملا قره، شمیر:؟، د خپروني دول: دري میاشتنی، چاپ ګستتنر، صحافي، سنجاقي، تصویري په ۹۲ مخونوکې، ژبه: دري او ازبکي، کچه: ۲٤X۱٦ سانتي متره د خپروني د کار پای: یوازې دوې ګڼې خپرې شوې، منځپانګه: جهادي مقالې، اشعار، د جګړې خبرونه او مرکې.

دخپروني نوم: *ارمغان فرهنګ*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٦لمریز/١٩٩٧م، پیښور، ناشر او امتیاز: د مولانا جامی د علمی او فرهنګی کانون خپرنې ارګان، مسوول مدیر: عبدالعزیز واحدی، شمیر: زرګنی، د خپرونې ډول: سیاشتنی، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٢٩X٤٢ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: دوام لری، منځپانګه: اجتماعی مقالی، طنز، داستان او شعر.

د خپرونې نوم: *استقلال*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٩لمریز کب/١٩٩٠م مارچ، پیښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د انقلاب اسلامی د محتدی جبهی مرکزی ارګان (انشعابی ګروپ) مسوول مدیر: د لیکوالو شوری شمیر:؟، د خپرونې ډول: اونیزه، تصویری، ٨ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٣٠X٤٢ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: د ١٣٦٩ لمریز کال پای/١٩٩١م، منځپانګه: مقالی او د افغانستان اونړی خبرونه او ذوقی مطالب، سرګرمی.

د خپرونې نوم: *استقلال*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٥لمریز/١٩٨٦م، پاریس، فرانسه، د امتیاز خاوند او خپرندوی: په پاریس کې افغانان، مسوول مدیر: د لیکوالو ډله، شمیر: ٥٠٠ګنی، د خپرونې ډول: دوه میاشتنی مجله، ژبه: دری، کچه: ٢١X٢٩ سانتی متره، تصویری، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٨لمریز/١٩٨٩م، منځپانګه: د افغانستان په اړه راپورونه او خبرونه.

د خپرونې نوم: *استقلال*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٢لمریز/١٩٨٣م، پیښور، د امتیاز خاوند: د افغانستان ملی دیموکراتیک ګوند (افغان ملت) مسوول مدیر:؟، شمیر: یونیم زرګنی، نوعیت: میاشتنی خبری، رپوټ، ٤–٨ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٣٠X٤٢ سانتی متره، د کار پای: ١٣٦٤لمریز/١٩٨٥م، منځپانګه: سیاسی او اجتماعی.

د خپرونې نوم: *د اسلام رڼا*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٤لمریز کب/١٩٩٥م ډیلی، هند، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په هند کې د افغانی مسلمانو محصلینو اتحادیه، مسوول مدیر: نور الدین (بابک) شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونې ډول: میاشتنی نامنظمه دوه رنګه، ٨ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢٩X٤٢ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٧٦لمریز/١٩٩٧م، منځپانګه: په هند کې دافغانی محصلینو فعالیتونه، سیاسی مقالی او د افغانستان خبرونه، یادونه: دغه اتحادیه د حزب اسلامی افغانستان د مینه والو لخوا جوړه شویده.

د خپرونې نوم: *د اسلام ستوری*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٥٨لمریز/١٩٧٩م، پیښور

خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامی فدایانو انجمن، مسوول مدیر یاسر محرر: صدیق الله

خوګیاني، شمیر:؟ د خپروني دول:؟، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۴۲x۲۹ سانتي متره، دخپروني د کار پای: هماغه کال له دری ګڼو خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان د جهاد په اړه مقالي.

د خپروني نوم: *افغانستان*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مسلمانو مجاهدینو او مهاجرینو شورا، مسوول مدیر: عزیز الرحمن الفت شمیر: ۵۰۰ګڼی، د خپروني دول: جریده پنځلس ورځنی، ژبه: پښتو او دری، کچه متځنی ۴۵x۳۰ سانتي متره، ٤ مخونه، د خپروني د کار پای ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، د نهو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان او مجاهدینو په اړه مقالي.

د خپروني نوم: *افغانستان آزاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، پیښور د امتیازخاوند: د افغانستان د مطالعاتو مرکز، مسوول مدیر: عبدالرسول امین، شمیر: زرګنی، نوعیت: میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری،کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي.

د خپروني نوم: *افغانستان در آیینه مطبوعات*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمّریز چنګابښ/۱۹۸۷م جون، بن، آلمان، خپرندوی اودامتیاز خاوند: له افغاني مهاجرینو سره د مرستو انجمن (افغان فرهنګي مرکز) مسوول مدیر: عبدالمجید ملک، شمیر: دوه زره ګنی، د خپروني دول: په ۳۰ مخونو کی میاشتني مجله، ژبه: دری، کچه: له اولی تر ۹۸ پوری په ۲۱x۱۵ سانتي متره او له هغی وروسته ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۳ لمریزکب/۱۹۹۵م مارچ، منځپانګه: د اروپا د خپرنیو وسایلو له لاری د افغانستان د راپوروتو غبرګون.

د خپروني نوم: *د افغانستان جنګ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م، اسلو، ناروی، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغان مجاهد اطلاعاتي مرکز، مسوول مدیر: محمد حسن ولسمل، شمیر:؟ د خپروني دول: خبری میاشتني جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: متځنی ۵٦x۳۰ سانتي متره، دکار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: سیاسي مقالي او د افغانستان راپورنه.

د خپروني نوم: *د افغانستان د ملی اسلامي تنظیمونو وحدت*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ لمریز وری/۱۹۸۱م سپتمبر، پیښور، خپرندوی اود امتیازخاوند: د افغانستان د ملي اسلامي تنظیمونو وحدت، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپروني دول:؟ ژبه: پښتو او دري، کچه: ۴۲x۲۹ سانتي متره، د کار پای: هماغه کال له یوی ګنی خپریدو وروسته، منځپانګه: د مجاهدینو د دریځونو په اړه مقالي.

د خپروني نوم: *افغانستان در مطبوعات جهان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز عبرګولی/۱۹۹۲م جون، لندن، انګلستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: نه دی یاد شوی، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: زر ګنی، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی خبری بولتین نامنظم، ژبه: دری، کچه ۲۱X۲۹ سانتی متره یورنګ، فوتو کاپی، په څلورو مخونو کی، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۳م مارچ، منځپانګه: د احمد شاه مسعود په ګته تبلیغات اود حکمتیار او حزب اسلامی په مخالفت کی، یادونه: دغه خپرونه د ولید مسعود او د احمد شاه مسعود د ورور چی د سفارت مسولیت یی هم درلود په مالی سرسته خپریده.

د خپرونی نوم: *د افغان غږ*

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۶۲لمریز/۱۹۸۳م، پیښور خپرندوی: د افغانستان ملی اسلامی اتحاد. مسوول مدیر: عبدالقادر بیانخیل، شمیر: زرګنی، د خپرونی دول: خبری میاشتنی، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۲۹ سانتی متره، د کار پای: د ۱۳۶۲لمریز کال په وروستیو کی/۱۹۸۴م له لسو میاشتو وروسته، منځپانګه: خبرونه او د روسی تیری کوونکو او کمونستانو پر خلاف د افغانانو د مبارزی په اړه مضامین.

د خپرونی نوم: *افغان ملت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، کانادا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: دافغان ملت اولسواک ګوند، مسوول مدیر: روښان خادم، شمیر: دوه سوه ګنی، د خپرونی دول: نامنظمه، ژبه: پښتو، کچه: ورو کی ۴۲X۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، منځپانګه: د روس ښکیلاک او کمونستی رژیم پر خلاف د افغان اولس د خپلواکی غوښتونکو اهدافو بیانوونکی د ملی ګرایانه پښتنی احساس سره.

یادونه: د دی خپرونی مسوول مدیر د افغانستان د نامتو ادیب قیام الدین خادم زوی دی.

د خپرونی نوم: *افغان ملت*

د خپریدو کال او ځای: کلن، آلمان، د امتیاز خاوند: انوار الحق احدی، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ؟ نوعیت: میاشتنی جریده ٤-۸ مخونه، یو رنګ، ژبه: پښتو، دری، کچه: ٥۸X٤۲ سانتی متره، د کار پای: دوام لری، محتوی: سیاسی، ملی.

د خپرونی نوم: *افغان نیوز* ***Afghan News***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۳لمریز/۱۹۸٤م، دوهم پړاو ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، نیویارک، امریکا،

خپرندوی او د امتیاز خاوند اومسوول مدیر: خان ضیا خان نصری، شمیر، یو زرگنی، د خپرونی دول: نامنظه فصلنامه، ژبه: دری، انگلیسی ،کچه: لویه ۵۸x٤۲ سانتی متره، یورنگ، دخپرونی د کار پای: ۱۳٦۳ لمریز/۱۹۸٤م، دوهم پړاو په نامنظمه توگه دوام لری، سنځپانگه: د محمد ظاهر شاه د بیرته راستنیدو پلویان، یادونه: دغی دلی په ۱۳٦۳ لمریز/۱۹۸٤م کال په امریکا کی جلاوطن حکومت جوړ کړ او په فکری لحاظ په افغانستان د شوروی له تیری سره مخالفت لری، خو دیوه حکومت په جوړیدو کی د مجاهدینو فکر هم نه منی.

د خپرونی نوم: *امت آزاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز مرغومی/۱۹۸۷م دسمبر پیښور–پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د افغانی محصلینو او ځوانانو د اسلامی انجمن خپرنی ارگان، مسوول مدیر: د انجمن فرهنگی ځانگه، شمیر: ۵۰۰–۱۰۰۰ گنی، د خپرونی دول: میاشتنی اخبار، دوه رنگه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٦لمریز کب/۱۹۸۸م مارچ، سنځپانگه: اسلامی مقالی، د افغانستان خبرونه.

د خپرونی نوم: *امید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸/۱۹۸۹م، پیښور–پاکستان، خپرندوی او امتیاز: اسلامی او ناپیلی خپرونه، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، تصویری رنگه پښتی، په ۸۰ مخونو کی، ژبه: پښتواو دری، کچه: ۲۳x۱۸ سانتی متره، د خپرونی د کارپای ۱۳۷۳لمریز لړم/۱۹۹٤م نومبر، سنځپانگه: د مجاهدینو د عقایدو او ارسانونو بیانوونکی، د مجاهدینو د معیاری او بنی محتوی درلودونکی مجلی څخه شمیرل کیږی. او زیاتره د افغان مقاومت پاخه لیکوالان یی قلمی همکاران وو. یادونه: دغه خپرونه داسلامی اتحاد د مشر عبدالرب رسول سیاف په مالی لگښت چاپیدله.

د ژباړن یادونه: امید لومړی (۸) گنی د اونیزی جریدی په بڼه خپریدله، وروسته له (اتمی) گنی څخه په میاشتنی مجله بدله شوه او لومړنی د یو نیم کال لگښت یی مکتب خدمات ورکاوه وروسته بیا د اتحاد اسلامی لخوا اکمالیدله.

د خپرونی نوم: *امید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان فرهنگی انجمن، مسوول مدیر: قوی کوشان، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: اونیزه/پنځلس ورځنی جریده، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، دوه رنگه، ۸ مخونه، د خپرونی د کار پای: دوام لری. سنځپانگه: د افغانستان په اړه مقالی او خبرونه، یادونه: دغه خپرونه د احمد شاه مسعود په ملاتړ خپریږی.

د خپرونی نوم: *امین شهید*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، مشهد، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د افغانستان د ښځو اسلامي انجمن، ژبه: دري.

د خپروني نوم: *انتظار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، قم، ایران، د امتیاز خاوند: د ارزګان فرهنګی تولنه، مسوول مدیر: د هیأت تحریر: ترنظر لاندی، شمیر:؟، نوعیت: فوتوکاپي، سیاشتنی په مختلفو مخونو کې، ژبه: دري، کچه:؟ د کار پای ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م.

د خپروني نوم: *اوګل*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م کویټه، پاکستان، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د کویټې هزاره محصلین، مسوول مدیر: نلري، شمیر:؟، ډول: میاشتنی، فوتوکاپي، ژبه: دري او اردو، د خپروني د کار پای: منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *ایثار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د حرکت انقلاب اسلامي جمعیت طلبه. مسوول مدیر: مولوی فقیر محمد خنجری، شمیر:؟، د خپروني ډول:؟، یوازې یوه ګنه خپره شوه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤٥x۳۰ سانتي متره.

د خپروني نوم: *ایمان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٥/۱۹۹٦م، (دوهم پړاو) پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اسلامي دعوت او ثقافت خپرني ارګان مسوول مدیر: نه لري، شمیر: ٥۰۰ ګنې، دخپروني ډول: میاشتنی مجله دوه رنګه، ٥۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، پښتي رنګه، تصویري، د خپروني د کار پای: په وقفه یې توګه دوام لري، منځپانګه: اسلامي مقالې، مرکې او راپورونه.

د خپروني نوم: *بابا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٥م، مشهد د امتیاز خاوند: د مزاری شهید بابا فرهنګي موسسه: مسوول مدیر: نلري، شمیر:؟ نوعیت: میاشتنی نامنظمه فوتوکاپي، ژبه: دري، کچه:؟، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *بازګشت به صدر اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز ثور/۱۹۸٦م اپریل خپرندوی او د امتیاز خاوند: د بازګشت خپرندوی انجمن، مسوول مدیر: استاذ ضیاء الحق، شمیر:؟ د خپروني ډول: نامنظمه، ژبه: دري، کچه: لومړی پړاو لویه کچه دوهم پړاو: ۳۰x۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: لومړی پړاو له دري ګنو خپریدو وروسته په ۱۳٦٥ لمریز چنګاښ/۱۹۸٦م مې کې، دوهم پړاو یوازې دوې ګنې په ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م په ډنمارک

کې، سنځپانګه: (د خدای لاری ته د حکمت او دلیل له لاری د خلکو بلنه بیانوونکی) تر نامه لاندی، اسلامی مقالی.

یادونه: دغه خپرونه په دوهم پړاوکی هم پېله پتی د فوتوکاپی په بنه خپره شوی ده.

د خپرونی نوم: *برګ سبز*

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیښور.

خپرندوی او امتیاز: د مدیرا Madera مؤسسه.

مسوول مدیر: سمیع الله تازه، شمیر: ۵۰۰ ګنې، د خپرونی دول دری میاشتنی مجله، رنګه پښتی په ٤۰ مخونو کی، ژبه پښتو او دری کچه: ۲۹x۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، منځپانګه: د افغانستان د بیا ودانولو په اړه مقالی، فرهنګی مطالب.

د خپرونی نوم: *برهان اسلام*

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیښور

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د علماؤ او قاضیانو د اسلامی شورا خپرنی ارګان. مسوول مدیر: احمد ضیأ عارفی شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظم، یورنګ، په څلورو مخونو کی، ژبه: پښتو او دری کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د کار پای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، په پنځوکلونوکی ۲۲ګنی خپری شوی، منځپانګه: د افغانستان لنډ خبرونه، مقالی. او بهرنی راپورونه.

د خپرونی نوم: *بشیر المؤمنات*

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریزمرغومی/۱۹۸۹م، دسمبر، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مسلمانو ښځو تربیوی او تعلیمی مرکز، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، د ۱۳۷۲لمریز کال حمل/۱۹۹٤م اپریل څخه وروسته، پوپل فراهی، شمیر: ۱۵۰۰ګنی، د خپرونی دول: دوه رنګه میاشتنی، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۳لمریز لیندی/۱۹۹٤م نومبر، منځپانګه: د مسلمانو ښځو د حقوقو په اړه مقالی او د افغانستان د پیښور راپورونه.

د خپرونی نوم: *بصیرت*

د خپرېدو کال او ځای:؟، پیښور، خپرندوی: د افغانستان د اسلامی انقلاب حرکت د مولوی منصور انشعابی ډله، مسوول مدیر:؟.

د خپرونی نوم: *بصیرت*

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م، مشهد، خپرندوی او امتیاز: د ولایت فقیه د پیروانو تعلیمی ټولنه، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، نوعیت: میاشتنی فوتوکاپی، ژبه: دری، کچه: ۲۹x۲۱ سانتی متره، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی، مذهبی.

د خپرونې نوم: **بعثت**

د خپریدو کال اوځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، قم، د امتیاز خاوند:د بعثت فرهنگی انجمن، مسوول مدیر: لیاقت علی امین، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه سیاشتنی، فوتوکاپی خپرونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: هماغه کال د اتو گنو له خپریدو وروسته، منځپانگه: مذهبي او سیاسي.

د خپرونې نوم: ***بلاغ***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د مکتب توحید خپرنی ارگان/ مولانا فیضانی، مسوول مدیر: معتصم بالله مذهبي، انجنیر زین الدین جاهد، شمیر: زرگنی، د خپرونې ډول: خبری او نیزه، دوه رنگه، په څلورو مخونو کی، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۳۰ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م، منځپانگه: مقالې، خبرونه، د افغانستان او اسلامي نړی په اړه سیاسي تحلیلونه.

د خپرونې نوم: ***البلاغ المبین***

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اسلامي انقلاب حرکت( مؤذن څانگه) مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۸X۳۰ سانتي متره، ٤مخونه، قلمي لیک، د خپرونې دکارپای:؟، منځپانگه: د افغانستان خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: ***بلخ***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۶لمریز/۱۹۸۷م، مزار شریف، د امتیاز خاوند: د بلخ پوهنتون، مسوول مدیر: سکینه بانو غضنفر، شمیر: زرگنی، د خپرونې ډول: فصلنامه، یورنگ، فوتوکاپی، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، دکار پای:؟، منځپانگه: سیاسي، اجتماعي او ادبي.

د خپرونې نوم: ***بلنه***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۴۳لمریز/۱۹۹٤م، پښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: اسلامي آزاده جریده، مسوول مدیر: ابومحمد فرهاد، شمیر: زرگنی، د خپرونې ډول: میاشتنی نامنظمه جریده، یورنگ، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م، (د۲۵گنو له خپریدو وروسته) منځپانگه: د شوری نظار دکړوړو پر خلاف انتقادی مقالې.

د خپرونې نوم: ***بنیاد***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۶لمریز حمل/۱۹۹۷ اپریل، نوی ډیلی، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د تمدن او فرهنگ، خپرنی ارگان، مسوول مدیر: عبدالاحد ترکمني، شمیر: یونیم زرگنی د خپرونې ډول: خبری ریوټ میاشتنی، ژبه: دری، کچه: ۵۰X۳۷ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: نامنظمه

دوام لري، منځپانګه: ادبي، سیاسي او ټولنیزې مقالې.
د خپرونې نوم: *بیان*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ملي انجمن، مسوول مدیر: محمد صدیق پتمن، شمیر:؟، د خپرونې دول: پنځلس ورځنۍ جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کارپای:؟ منځپانګه: اجتماعي او سیاسي مقالې.
د خپرونې نوم: *بی وطنان*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، هیوارد، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستا د بې طرفو او بې وسلو آزاد او چوپ اکثریت د افکارو خپروونکي، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظم په ٦ مخونو کې، یو رنګ، سنجاقي صحافت، فونو کاپي چاپ، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۱لمریز مرغومی/۱۹۹۲م جنوري، منځپانګه: انتقادي مقالې چې د قلم عفت پکې نه دی ساتل شوی.
د خپرونې نوم: *پیام اسلام*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م، پیښور
خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اسلام د انقلابي افکارو خپروونکي، مسوول مدیر: محمد ابراهیم ورسجي، شمیر:؟، د خپروونکي، مسوول مدیر: محمد ابراهیم ورسجي، شمیر:؟، د خپرونې دول: خبري میاشتنۍ جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري کچه: ۲۹ X٤۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۹ لمریزکب/۱۹۹۱م مارچ، منځپانګه: اسلامي او سیاسي مقالې.
د خپرونې نوم: *پیام ملیت ها*
د خپریدو کال اوځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، کویټه، د ملیتونو له برخلیک څخه د دفاع متحده شورا، مسوول مدیر: یاسر، شمیر: زرګنې، نوعیت، نامنظمه میاشتنۍ مجله، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.
د خپرونې نوم: *پیام مهاجر*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م، قم، ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د کانون مهاجر افغانستان خپرونه. مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: خبري میاشتنۍ، یورنګ، په اتو مخونو کې، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، منځپانګه: سیاسي مقالې، شعرونه او د افغانستان خبرونه.
د خپرونې نوم: *پیام وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۳ لمریز سلواغه/۱۹۸۵م، جنوري، نوی ډیلي، هند، خپرندوی او امتیاز: په هند کې د افغاني محصلینو اسلامي انجمن، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: زر ګڼې، د خپروني ډول: دوه میاشتنی یو رنګ، قلمي لیک، او چاپ، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۴۲X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۵ لمریز غبرګولی/۱۹۸۶م مې، منځپانګه: سیاسي مقالې، تبصرې، اشعار او اسلامي مضامین، یادونه: دغه خپرونه د حزب اسلامي د مینه والو څخه شمیرل کیږي.

د خپروني نوم: *پیام وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۳ لمریز/۱۹۸۴م، کویټه، خپرندوی: د مجاهدینو اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: عبدالحسین مقصودي، د مجلې ډول: میاشتنی نامنظمه، ژبه: دري، د کار پای: ۱۳۶۴ لمریز/۱۹۸۵م، منځپانګه: سیاسي.

د خپروني نوم: *پیغام افغان*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۶۵ لمریز مرغومی/۱۹۸۶م دسمبر، امریکا خپرندوی او امتیاز او مسوول مدیر: محمد روحاني میهني، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه میاشتنی خبري جریده، ژبه پښتو او دري، کچه: وړوکی ۳۰X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: د ۱۳۶۶ لمریز کال په وروستیو/۱۹۸۸م کال جنوري کې، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه.

د خپروني نوم: *پیام وحدت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۲ لمریز/۱۹۸۲م، کویټه پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحادیه، مسوول مدیر: حاجي عبدالحسین مقصودي (ولي بیک)، شمیر:؟ د خپروني ډول: میاشتنی جریده، یو رنګ ٤ مخونه، ژبه: دري، ازبکي، کچه: ۴۲X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: غبرګولی ۱۳۶۷ لمریز/۱۹۸۸م مې، منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه او راپورونه.

د خپروني نوم: *پیغام هزاره*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱ لمریز سلواغه/۱۹۹۳م جنوري، کوپن هاګن، ډنمارک، خپرندوی او امتیاز: دهزاره مهاجرینو اتحادیه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: پنځه سوه ګڼې، ژبه: دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، یورنګ، فوتوکاپي، د خپروني د کار پای: یوازې یوه ګڼه خپره شوه، منځپانګه: د هزاره قوم د لوړتیا غوښتنې په اړه تبعیضي مقالې.

د خپروني نوم: *د پیوستون غږ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۱ لمریز وږی/۱۹۸۲م سپتمبر، پیښور، خپرندوی او امتیاز: دستانکزي قوم اسلامي وحدت، مسوول مدیر: ملک شیر خان، شمیر:؟ د خپروني ډول:؟، ژبه: پښتو او دري، کچه: وړوکی ۲۹X۲۱ سانتي متره، دکار پای: له یوې ګڼې خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان او ستانکزي

قوم په اړه مقالې.

د خپروني نوم: *تبلیغ اسلامی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۲م، مزار شریف، خپرندوی: د رسول آکرم (ص) فرهنگی موسسه، مسوول مدیر: سید محمد علی صادقی، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانگه: مذهبی، اجتماعی سیاسی.

د خپروني نوم: *تجلی حق*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۹لمریز/۱۹۹۰م، مشهد، ایران، خپرندوی: د افغانستان د فتح مبین جبهه، مسوول مدیر: عبدالله مجددی، شمیر: زرگنې، د خپروني ډول: میاشتنی چاپی، ٤ مخونه، یو رنگ، کچه: ۳۰x٤٥ سانتي متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانگه: سیاسی، ټولنیزه.

د خپروني نوم: *ترجمان الحق*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: زاهدی احمدزی، شمیر:؟، د خپروني ډول: یوازې یوه گنه خپره شوه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰x٥۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، منځپانگه: خبرونه او مقالې.

د خپروني نوم: *ترورسی (ترگمی)*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰، پیښور،

خپرندوی او امتیاز: د لوی افغانستان ټولنه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: ٥۰۰گنې، د خپروني ډول: نامنظم، فوتوکاپي، ۸۹ مخونه، ژبه: پښتو، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز وږی/۱۹۹۱ سپتمبر، منځپانگه: مقالې، شعرونه او د پښتو ژبې د تاریخې، سیاسي او فرهنگي اصالت په اړه لیکنې.

د خپروني نوم: *تصویر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٥م، آلمان، خپرندوی: د افغانستان د مجاجرینو شورا، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر:؟، نوعیت، خبری میاشتني چاپي جریده، ٤-۸ مخونه، کچه: ۳۰x٤۲ سانتي متره، ژبه: دری، محتوی: سیاسی، اجتماعی.

د خپروني نوم: *تفاهم*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٥لمریز/۱۹۹٦م، نوی ډیلي/هند. خپروندی اود امتیاز خاوند: د اکبری ځانگې وحدت اسلامی گوند، مسوول مدیر: محمد انور اکبری، شمیر: له زر تر ۲ زره گنو، د خپروني ډول: میاشتني خبری جریده، یو رنگ، ٤-۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹x٤۲ سانتي متره، د خپروني د کارپای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، کابل ته د اکبری تلل او له طالبانو سره همکاری، منځپانگه: په هند کې د افغان

مهاجرینو په اړه خبرونه او را پوروونه.

د خپرونې نوم: *تله*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز وری/۱۹۹۱م، سپتمبر، نیویارک، امریکا، خپروندی او امتیاز: په افغانستان کې د عدالت سازمان، مسوول مدیر: الحاج عبدالعزیز سرخابي، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه فوتوکاپي، ۱٤ مخونه، ژبه: پښتو، دري او انګلیسي، کچه: ٤۲x۲۹سانتي متره، د خپرونې دکار پای: د دوو ګڼو له خپریدو وروسته په ۱۳۷۰لمریز لړم/۱۹۹۱م اکتوبر کې، منځپانګه: د افغاني کمونستانو په باب مقالې او راپورونه.

د خپرونې نوم: *توحید*

د تأسیس کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م، سدني، استرالیا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د محصلینو اسلامي ټولنه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: سیاشتنی مجله، نامنظمه، فوتوکاپي، ۱٦مخونه، ژبه: دري، کچه: ۳۰x۲۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۷لمریز لړم/۱۹۸۹م اکتوبر، محتوی: د افغانستان په اړه راپورونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *تول پښتون*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز تله: ۱۹۹۱م اکتوبر، برمنګهم، انګلنډ، خپرندوی او امتیاز:د پښتو انجمن خپرونه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: د مجلې په بڼه په نا معلوم نوعیت، فوتوکاپي صحافي، سنجاقي، په ٦۰ مخونوکې، ژبه: پښتو، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: (دري ګڼې خپره شوه)، منځپانګه: د پښتنو د قومي او نژادي مسایلو په اړه مقالې.

د خپرونې نوم: *الثبات*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۸۲لمریز/۱۹۹۲م پیښبور

خپرندوی او امتیاز: د شهید عبدالله عزام د تبلیغاتو مرکز، مسوول مدیر:؟، شمیر: ۳ زره ګڼې، د خپرونې دول: خبري میاشتنۍ، یو رنګ، ۸–۲۱ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۳۰x۲۰ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٥م، منځپانګه: د اسلامي نړۍ او افغانستان په اړه مقالې او تبصرې.

د خپرونې نوم: *جوالی*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳٥۸لمریز/۱۹۷۹م، قم، خپرندوی: کانون مهاجر، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، نوعیت: سیاشتنی چاپي، کچه: ۱۸x۱٥ سانتي متره، ژبه: دري، دکار پای: ۱۳٥۹لمریز/۱۹۸۰م د اتو ګڼو له خپریدو وروسته ودریده، منځپانګه: سیاسي، ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م، مشهد، خپرندوی:د افغانستان د اسلامي انقلاب غږ،

مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه، چاپ ګستتنر، صحافي سنجاقي، یورنګ، د مخونو په توپیر، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، د ۱۱ ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسي – ټولنیزه.

د خپروني نوم: *الجهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۳لمریز مرغومی/۱۹۸٤م دسمبر، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: مکتب الخدمات المجاهدین الافغانی، مسوول مدیر: ډاکتر عبدالله عزام، شمیر: ٤۰۰۰–٦۰۰۰ ګڼو پوری د خپروني ډول: میاشتنی مجله، رنګه چاپ، تصویري، ځلاند کاغذ، کمپیوتري متن، ۸۰–۱۲۰ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۳۵X۱۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۸لمریز مرغومی/۱۹۸۹م دسمبر، منځپانګه: د نړی د ژورنالیزم په سطحه یوه معیاری او بریالی مجله وه چی د افغانستان او اسلامی نړی په اړه یی خبرونه، راپورونه او مطالب خپرول.

یادونه: مکتب الخدمات المجاهدین الافغان د فلسطین د مبارز او روښانفکر عبدالله عزام په مشری یو مرکز ؤ چی د فرهنګی چارو څخه یی علاوه د مهاجرینو او مجاهدینو سره مالي مرستی هم کولی.

د خپروني نوم: *جهاد افغان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: محمد یعقوب شرافت، شمیر:؟، د خپروني ډول: پنځلس ورځنی خبری جریده، یورنګ له ٤–۸ مخونو، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۰–٤۵ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٤/۱۹۸۵م، محتوی: دافغانستان راپورونه اسلامی او سیاسی مقالی.

د خپروني نوم: *جهاد در سنګر انقلاب*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م زابل، ایران، خپرندوی: د فراه او نیمروز د اسلامي جهاد پاسداران، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د چاپ ډول: ګستتنر، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، پښتو، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی

د خپروني نوم: *جهاد هنداره*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز وری/۱۹۹۰م سپتمبر، پیښور، خپرندوی: د مولوی جلال الدین حقاني فرهنګي ټولنه، مسوول مدیر: عبدالباری ننګیال، محمد زبیر شفیقی، سید محی الدین هاشمی، شمیر: ۲ زره ګڼی، د خپروني ډول: اونیزه جریده، یو رنګ (وروسته بیا دوه رنګه) ٤–۸ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۰لمریز کال مرغومی/۱۹۹۲م سپتمبر. (ژباړن)

محتوی: سیاسی مضامین، د اسلامی نړی او افغانستان په اړه خبرونه، راپورونه او مضامین، د حقاني اعلامیې او بیانیې.

د خپرونې نوم: *جیحون*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، ایران، خپرندوی: په ایران کې میشت افغاني مهاجرین، د چاپ ډول: ګستتنر، کچه: ۳۰x۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *چراغ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، کویټه، خپرندوی: د همتا مؤسسه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه چاپي مجله، کچه: ۲۷x۱۹ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کار پای: هماغه کال له څلورو ګنو وروسته، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي او ادبي.

د خپرونې نوم: *حبل الله*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۳لمریز د غبرګولي ۳۱مه/۱۹۸٤م، ۲۱ جون، تهران، خپرندوی او امتیاز: د سید جمال الدین حسیني، خپرنې ارګان/ سید شهاب الدین، مسوول مدیر: محمد یوسف سمیع، شمیر: ۲ زره ګنې، د خپرونې ډول: معیاري مجله میاشتنۍ، تصویري، ۸۰ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٤۰x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۷لمریز د غبرګولي لومړۍ/۱۹۸۸م د مي ۲۲مه. منځپانګه: د افغانستان د جهاد د ارزښتناکو مجلو څخه یوه وه چې له پیل څخه تر پایه یې د اسلامي علمي جهان بیني په آساس فکري، علمي او اسلامي مقالې او د اسلامي نهضتونو د معرفي د نړیوالو او د افغانستان د قضایاؤ په اړه یې مقالې او منظم راپورونه خپرول.

د خپرونې نوم: *څپې*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د فدايي مسلمانانو ټولنه، مسوول مدیر: شاه ولي عزیز، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه، فوتوکاپي، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري او پښتو، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟، منځپانګه: اسلامي مقالې او د نورو په مقابل کې د مسلمانو مهاجرینو دریځونه.

د خپرونې نوم: *حق*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز ورۍ/۱۹۸۹م، اسلام آباد، خپرندوی او امتیاز: حق ویونکي مسلمانان، مسوول مدیر: مولوي عبدالرحمن ولي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه فوتوکاپي، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۰لمریز ورۍ/۱۹۹۱م اګست د اوو ګنو څخه وروسته، منځپانګه: سیاسي او انتقادي.

د خپرونې نوم: *حکمت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲ لمریز/۱۹۹۳م، قم، خپرندوی: حکمت فرهنګي ټولنه، مسوول مدیر: سرور جوادي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنۍ رقعي چاپ، زیراکسي، کچه: ۳۰x۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د

کار پای: یو کال وروسته د ۱۲ گڼو خپریدو څخه وروسته، منځپانگه: سیاسي او اجتماعي.

د خپروني نوم: *حوت خونين*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م، هرات، خپرندوی: د اسلامي انقلاب د سرتيرو شوری، شمیر:؟، د خپروني دول: رقعي چاپ، گستتنر، کچه، ۳۰x۲۱ سانتي متره، ژبه: دری او پښتو، د کار پای:؟، منځپانگه: سیاسي.

د خپروني نوم: *خاطرات*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۶لمریز/۱۹۸۷م، ؟، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د مهاجرو او مجاهدو ځوانانو شوری، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپروني دول: پنځلس ورځني جريده، دوه رنگه، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۷ لمريز لیندی/۱۹۸۸م نومبر د ۲٤ گڼو خپریدو وروسته، منځپانگه: د اسلامي کتابونو او خپرونو څخه اقتباس.

د خپروني نوم: *خپلواکي*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان ملي اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: حاجي محمد حسن، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظم، دوه رنگه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۸x٤۲ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م، محتوی: د افغانستان په اړه مقالې.

د خپروني نوم: *خپلواکي*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: افغان ملت گوند، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟ د خپروني دول: نامنظمه میاشتني، یورنگ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۳لمریز/۱۹۸٤م، منځپانگه: د افغانستان په اړه د "افغان ملت" گوند د نظریاتو په هند اره کې مقالې.

د خپروني نوم: *د خپلواکي ورمه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: ډاکتر امان الله رسول/ د افغانانو او آزادو انتخاباتو څخه د پلوی کمیټه، مسوول مدیر: محمدهاشم مهمند، شمیر:؟، د خپروني دول: میاشتني مجله، رنگه پښتي، ۵۲ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای:؟، محتوی: د محمد ظاهر شاه په پلوی مقالې او ليکني.

د خپروني نوم: *خدام الفرقان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: حرکت انقلاب اسلامي (مولوی منصور) مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه جریده، دوه رنگه، ۸

مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۵۰ سانتي متره، دخپرونی د کار پای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: مقالې، اعلامیې او د مجاهدینو بیانیې.

د خپرونې نوم: خدام الفرقان **Khddam-ul-Furqan**

دخپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریز زمری/۱۹۸۹م اګست، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حرکت انقلاب... منصور ګروپ، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: یوه شماره خپره شوه، ژبه: انګلیسي، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، منځپانګه: د مولوي منصور، امام خمیني او د ایران د نورو مذهبي مشرانو بیانیې، او د افغانستان خبرونه.

د خپرونې نوم: *خراسان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز، سلواغه، کب/۱۹۸۷ جنوري، فبروري، کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: محمد قوي کوشان، شمیر: زرګنې، د خپرونې ډول: دری میاشتنۍ مجله، دوه رنګه، ۸۰ مخونه، ژبه: دری او انګلیسي، کچه: ۱۹X۲٦ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۷لمریز تله/۱۹۸۸م اکتوبر د اوو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: ادبي مضامین، اشعار او نقد.

د خپرونې نوم: *خواهران*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغاني کونډو او یتیمانو ټولنه/بلقیس بلوچ، مسوول مدیر: هما ظفر، شمیر: زرګنې، د خپرونې ډول: دوه میاشتنۍ مجله، دوه رنګه، ۳۰ مخونه، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: هماغه کال له دوو ګڼو وروسته، منځپانګه: اجتماعي مقالې، داستان او شعر.

د خپرونې نوم: *خورشید جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م پیښور، خپرندوی: آزاده خپرونه.

د خپرونې نوم: *داد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز لیندۍ/۱۹۹۲م، نومبر کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په شمالي امریکا کې د هراره ګانو فرهنګي ټولنه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: راپوري نامنظمه، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه:۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: په هماغه کال کې له ۱۳ ګڼو خپریدو وروسته، منځپانګه: خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *دانا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: سید سلطان شاه همام، مسوول مدیر: محمد اسماعیل یعقوب، شمیر: ۵۰۰ ګنې، د خپرونې ډول: دری میاشتنۍ مجله، رنګه پښتۍ، ٤٦ مخونه، ژبه: دری او پښتو او ازبکي، کچه: ۲۰X۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟،

منځپانګه: ادبی، اجتماعی او فرهنګی مقالی.

د خپرونی نوم: *داعیون الی الخیر*

د خپریدو کال او ځای:؟، پیښور، خپرندوی او امتیاز: قومی امیرانو او مشرانو ته د داعیون الی الخیر دعوت، مسوول مدیر: مولوی سید انشاه برهان، شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامعلوم، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: د وی ګنی خپری شوی، منځپانګه: د افغانستان په اړه اسلامی او جهادی مقالی.

د خپرونی نوم: *درمان*

د خپریدو نیټه او ځای: ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: له وطن څخه بهر دطبی پرسونل او ډاکترانو تولنه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی ډول: ورو‌کی خبری جریده، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونی دکار پای:؟، منځپانګه: سیاسی او طبی مقالی.

د خپرونی نوم: *دعوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز لیندی/۱۹۸۸م نومبر، هارید، ناروی، خپرندوی او د امتیاز خاوند: آزاده اسلامی میاشتنی جریده، مسوول مدیر: محمد طارق بریالی بزګر، شمیر:؟، د خپرونی ډول: میاشتنی/دوه میاشتنی جریده، دوه رنګه، ۴-۱۲ مخونه، ژبه: پښتو او دری او انګلیسی، کچه: ۴۲X۳۰ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: په نامنظمه توګه دوام لری. منځپانګه: تر ځلورم خپرنی کال پوری د مجاهدینو پلوی او له هغو وروسته یی آزاده خپرنی پالیسی غوره کړه.

د خپرونی نوم: *دعوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۹لمریز زمری/۱۹۹۰م جولای، پیښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان جماعة الدعوه الی القرآن والسنه، مسوول مدیر: عبدالرحیم مسلم، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی ډول: مجله، میاشتنی، رنګه پښتی، تصویری، ۸۰ مخونه، ژبه: اردو، کچه: ۳۰X۲۰ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۰لمریز لیندی/۱۹۹۱م نومبر، منځپانګه: د توحید او جهاد مجله، او په همدی برخه کی مقالی.

د خپرونی نوم: *دعوت اسلامیه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۴لمریز/۱۹۸۵م، اشتوت ګار ښار، آلمان خپرندوی او امتیاز: په اروپا کی د افغانانو اسلامی تولنه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامنظمه خپرونه، دوه رنګه، اته مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۳۰ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، (تولی ځلور ګنی خپری شوی) منځپانګه: د مولوی جمیل الرحمن د ډلی د خپرونو او مقالو اقتباس چی په پیښور کی خپریدی.

د خپروني نوم: *الدعوه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵/۱۹۸٦م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان جماعت الدعوة الی القرآن والسنه، مسوول مدیر: مولوی غلام الله، شمیر: دوه زره ګنی، دخپروني دول: دوه رنګه سیاشتنی جریده، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، اسلامی مقالی او د همدغی دلی راپورونه.

د خپروني نوم: *دیوه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۷۵م، بن، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: محمد عثمان حلیف، شمیر:؟، د خپروني دول: ځانګری مجله، نامنظمه، یو رنګ ۳۰-۵۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱x۱۵ سانتی متره، د کار پای: دوام لری، منځپانګه: سیاسی تحلیلونه او مقالی، دینی او اجتماعی مضامین او د افغانستان په اره شعرونه.

یادونه: زیاتره د مسوول مدیر مقالی چاپیږی.

د خپروني نوم: *راستګویان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م هرات، خپرندوی: د ارشاد اسلامی شوری، مسوول مدیر: د جنوب لویدیځ حوزی نمایندګی، شمیر:؟، دول: چاپی سیاشتنی، کچه: ۳۰x۲۱ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی او خبری.

د خپروني نوم: *راه اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م، خپرندوی او امتیاز:؟، مسوول مدیر: سید رسول، شمیر: زر ګنی، د خپروني دول: پنځلس ورځنی جریده، یو یا دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤۲x۲۹ سانتی متره، د کار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: اسلامی او افغانی مقالی او خبرونه.

د خپروني نوم: *رسالت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، د ویکتوریا ښار،استرالیا، خپرندوی او امتیاز: په ویکتوریاکی د افغانانو اسلامی تولنه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه جریده، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۰x۳۰ سانتی متره، د خپروني د کار پای: وری ۱۳۷۲لمریز/مارچ ۱۹۹۲م، تولی پنځه ګنی خپری شوی، منځپانګه: سیاسی مقالی، خبرونه او شعرونه.

د خپروني نوم: *رنا*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳٦٦لمریز مرغومی/۱۹۸۷م دسمبر، نور نبرګ، آلمان، خپرندوی او امتیاز: شیر محمد یحی، مسوول مدیر: محمد یوسف، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه خبری میاشتنی جریده، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲x۳۰ سانتی متره، د کار پای: ۱۳٦۷/۱۹۸۸م، د څلور ګنو له

خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه، اعلامیې، راپورونه.

د خپرونې نوم: *رهروان اسلام*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٦لمریز/١٩٨٧م، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د اسلام بلونکي محصلین، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: سیاشتنی، نامنظمه، فوتوکاپي، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢٩X٢٠ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ١٣٦٨ لمریز/١٩٨٩م، منځپانګه: سیاسي تبصرې او مقالې.

د خپرونې نوم: *زن افغان*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٤لمریز/١٩٩٥م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو ټولنه مسوول مدیر: فتانه اسحق ګیلاني او لیکنې هیأت، شمیر: ١٥٠٠ ګڼې، د خپرونې ډول: سیاشتنې خبرې خپرونه، دوه رنګه: ٤–٨ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤٢X٣٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د ښځې په اړه خبرونه، مقالې او پیښې، د افغانستان د ښځو ټولنې راپورونه.

د خپرونې نوم: *زیری*

د خپریدو کال او ځای: د محرم میاشت ١٤١١هـ ق، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د احیأ الدعوه الاسلامیه اداره/د اهل حدیث جمعیت.

مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، رنګه پښتي، تصویري، ٥٠ مخونه، ژبه پښتو، کچه: ٢٣X١٧ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: هماغه کال له دری ګڼو وروسته منځپانګه: اسلامي مقالې او د افغانستان پیښې.

د خپرونې نوم: *ژغورنه*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٢/١٩٩٣م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د مخدره موادو سره د مبارزې موسسه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: زر ګڼې، د خپرونې ډول: دری میاشتنی خپرونه، رنګه پښتي، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٢٩X٢١ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٧٣لمریز/١٩٩٤م، دڅلورو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د نشه یي موادو سره د مبارزې په اړه مقالې او نړیوال راپورونه.

د خپرونې نوم: *سپین غر*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٥لمریز/١٩٨٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیا خاوند:؟، مسوول مدیر: بارکزی، شمیر:؟، د خپرونې نوعیت: نامنظمه خپرونه، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: په پښتو او دری، کچه: ٥٠X٣٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٥لمریز/١٩٨٦م، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې.

د خپرونې نوم: *سپیدی*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٣لمریز/١٩٨٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: محمد صدیق پسرلی/ دافغانستان کلتوری ټولنه، مسوول مدیر: محمد آصف صمیم، شمیر: لومړی پړاو: زر ګڼې، دوهم پړاو:

۰۰ ۱۵ ګڼې، د خپرونې دول: مجله، سیاسي، ادبي کلتوري، رنګه پښتني لومړي پړاو ۱۰۰-۱۲۰ مخونه، دوهم پړاو ۱۹۰-۲۸۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۱٤X۲۱ سانتي متره، د کار پای: لومړی پړاو ۱۳٦٤ لمریز کال له ۲۱ ګڼو خپریدو وروسته، دوهم پړاو ۱۳۷۱ کال، ټولې (۳۳) ګڼې خپرې شوې، منځپانګه: ادبي تحقیقي او تخلیقي مقالې، داستانونه، اشعار، نقد او تاریخي او فرهنګي مقالې.

د ژباړن یادونه: سپیدې مجله په جهادي ادب په تیره جهادي داستان کې د مشال حیثیت لري او یوه معیاري مجله شمیرل کیدای شي چې ځوان ادیبان یې وروزل. "سپیدې مجله او "افغان ادبي بهیر" د پیښور په چاپیریال کې د ځوانانو د ادبي ذوق په غوړیدو او وده کې ډیر رول لري.

د خپرونې نوم: *سحر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸ لمریز/۱۹۸۹م، تهران، خپرندوی، د افغانستان سید جمال الدین تولنه، مسوول مدیر: تقي واحدي، شمیر:؟، د چاپ دول: زیراکس. کچه: ۲۰X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي او راپور.

د خپرونې نوم: *سلام*

د خپریدو نیټه او ځای: ۱۳٦۸ لمریز/۱۹۸۹م، مشهد، خپرندوی: د سید جمال الدین تولنه، مسوول مدیر: نه لري. شمیر:؟، د خپرونې دول: پنځلس ورځنۍ رقعي، ګستتنري، کچه: ۲۱X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، دکار پای: ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م، د ۱۲ ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *سنګر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ لمریز/۱۹۸۱م، د بن ښار، آلمان، خپرندوی امتیاز او مسوول مدیر: مموزي، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی نامنظمه خبري جریده، یو رنګ، مخونه؟، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۹X٤۲ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٦ لمریز سلواغه ۱۹۸۸م جنوري، د ۵۹ ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه، یادونه: مقالې زیاتره په لاس لیکل کیدې او خپریدې.

د خپرونې نوم: *سیمای مقاومت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸ لمریز/۱۹۸۹م، تهران، خپرندوی: د افغانستان مسلمان مهاجرین، ژبه: دري.

د خپرونې نوم: *شرعیات*

د خپریدو نیټه او ځای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م، پیښور، خپرندوی او د امتیازخاوند: د دعوت او جهاد پوهنتون، مسوول مدیر: نعمت الله شهراني، شمیر: زر ګڼې، د خپرونې دول: میاشتنی ځانګړې مجله، دوه رنګه، ٦۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱ X۲۹ سانتي متره، د کار پای: ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م، منځپانګه: اسلامي مقالې.

د خپروني نوم: *شعاع*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹ش/۱۹۸۰م ایران
د خپروني نوم: *شوری*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، لندن-انګلستان خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان شورى نظار، مسوول مدیر: اصیل احمد صافي، شمیر: زرګني، د خپروني ډول: نامنظمه سیاشتني، چاپ فوتوکاپي، یو رنګ، ۸-۲ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م، منځپانګه: د احمد شاه مسعود بیانیې، د شورای نظار دریځونه او د حزب اسلامی او حکمتیار پر خلاف مقالي.
د خپروني نوم: *صبح امید*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، مشهد، خپرندوی: د یحیی بن زید فرهنګي مرکز، مسوول مدیر: ذکي سرپلي، شمیر:؟، د خپروني ډول: میاشتني خبری، کچه:؟، ژبه: پښتو او دری، د کار پای:؟ محتوی: سیاسي مقالي او خبرونه.
د خپروني نوم: *صدای آریانا*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۶لمریز/۱۹۸۷م، اسلام آباد، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د صدای آریانا خبری آژانس، مسوول مدیر: عبدالغفار ګداز، شمیر:؟ د خپروني ډول: پنځلس ورځنی جریده، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: خبری بولتین، شعرونه، کارتون.
د خپروني نوم: *صدای افغانستان*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۱م، تهران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په ایران کې د افغاني مبارزو محصلینو اتحادیه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپروني ډول: نامنظمه جریده، ٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: تله ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م آکتوبر، د شپږو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالي، اعلامیې او خبرونه.
د خپروني نوم: *صدای روستا*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۱م، کویټه، خپرندوی: د امداد خراسان کمیته، مسوول مدیر: ملا محمد فایق، شمیر:؟، نوعیت: میاشتني نامنظمه جریده، چاپي، کچه:؟، ژبه: دری، د کار پای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، تولې ۱۸ګڼې، خپرې شوې، منځپانګه: سیاسي - اجتماعي.
د خپروني نوم: *صراط المستقیم*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤/۱۹۸۵م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: آزاده اسلامي جریده/فاروق، مسوول مدیر: سید امیر تحسین، لیلا صبر تحسین، شمیر:؟ د خپروني ډول: میاشتني، دوه رنګه: ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۸X۳۵ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: اسلامي

مقالی او د افغانستان پیښې.

د خپرونی نوم: *طلوع*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، نوی ډیلی، هند، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په هند کی د افغانی محصلینو اسلامی ټولنه، مسوول مدیر: نه لری شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامنظمه خبری، دوه رنګه، څلور مخونه، ژبه: دری، کچه: ۵۰X۳۶ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۳لمریز/۱۹۸٤م، منځپانګه: مقالی، شعرونه، بیانی او اعلامیی.

د خپرونی نوم: *طلوع فکر*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۵۷لمریز/۱۹۷۸م، کویټه، خپرندوی: د هزاره محصلینو ټولنه، مسوول مدیر: حسین علی یاسا، شمیر:؟، د خپرونی ډول: ګستتنری، کچه: ۳۵X۲۱ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: اجتماعی او سیاسی مقالی.

د خپرونی نوم: *ظهور*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، مشهد، خپرندوی: د په لویدیځه حوزه کی د وحدت ګوند پلویان، د خپرونی ډول: نامنظمه اخباری، کچه:؟، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *عبرت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱، قم، خپرندوی: د سید جمال الدین افغانی ټولنه، مسوول مدیر: بصیر احمد دولت آبادی، شمیر: زر ګنی، د چاپ نوعیت: زیراکسل، کچه:؟، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه:سیاسی.

د خپرونی نوم: *عروة الوثقی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م، ایران، خپرندوی: نه لری، مسوول مدیر: نصیر احمد علوی، شمیر:؟، د خپرونی ډول: میاشتنی نامنظمه، کچه:؟، ژبه: دری، د کارپای:؟، منځپانګه: سیاسی او اجتماعی مقالی.

د خپرونی نوم: *عروة الوثقی*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۵۹لمریز، کب/۱۹۸۱م، مارچ، جینوا، سویس، خپرندوی، امتیاز او مسوول مدیر: ډاکتر عبدالحکیم طبیبی، شمیر:۲زره ګنی، د خپرونی ډول: دری میاشتنی مجله، رنګه پښتی، تصویری، ۸۰ مخونه ژبه: انګلیسی او عربی، (جلا، جلا) کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: د افغانستان او اسلامی نړی په اړه راپورونه، او په بین المللی اوضاع لیکنی، یادونه: دغه خپرونه د سید جمال الدین افغان او محمد عبده د کار دوام دی، چی ددوهم ځل لپاره د طبیبی په واسطه را ژوندی شو، ډاکتر طبیبی د ۱۳۷۷لمریز د وری په ۱۵مه/۱۹۹۸م د اپریل په څلورمه وفات شو،

دغه مجله اوس د هغه میرمن نجیبه طبیبي خپروي.

د خپروني نوم: *عصری برای عدالت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز، ثور/۱۹۹٦م اپریل – اسلام آباد خپرندوی او د امتیاز خاوند: د "رهبر شهید" فرهنگی کانون، مسوول مدیر: د لیکوالو شوری، شمیر:؟، د خپروني ډول: سیاشتنی مجله، نامنظمه دوه رنګه، ٥٤ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای:؟ منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالي او راپوروني.

د خپروني نوم: *علم و جهاد*

خپرندوی: په پیښور کي د شاه مقصودی د طریقت پلویان.

د خپروني نوم: *علمي ویښتیا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸٥م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د مسلمانو ځوانانو د ثقافتي او تربیوي پلانونو اداره، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپروني نوع: نامنظمه اخباری خپرونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹x٤۲ سانتي متره، د کار پای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: مقالي او مرکي.

د خپروني نوم: *عمران*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز غبرګولی/۱۹۹۲می، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د انجنیرانو اسلامي تولنه/انجنیر غلام حضرت متواضع، مسوول مدیر: محمد طاهر محبوبیار، شمیر: زرګنی، د خپروني ډول: دوه میاشتني مجله، رنګه پښتي، تصویری، ۸۰-۱۰۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۱۸x۲٤ سانتي متره، د خپروني د کار پای:؟ منځپانګه: د انجنیرانو د تولني فعالیتونه، مسلکي او د ساختماني او تخنیکي چارو په اړه مقالي، د افغانستان د بیا جوړولو په اړه.

د خپروني نوم: *غازی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، پیښور

خپرندوی: د لوګر ولایتي تنظیم، مسوول مدیر: احمد زاهدی، شمیر: زرګنی، د خپروني ډول: نامنظم اخبار، ٤ مخونه، کچه: ۳۰x٤٥ سانتي متره، ژبه: پښتو او دری، د کار پای: دری ګني خپری شوی. منځپانګه: خبرونه او سیاسي مقالات.

د خپروني نوم: *غزا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٥۹لمریز/ ۱۹۸۰م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: انقلاب (عبدالباری غیرت) شمیر:؟، د خپروني ډول: خبری خپرونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹x٤۲ سانتي متره، د خپروني د کارپای: یوه ګنه خپره شوه، منځپانګه: د افغانستان او مجاهدینو په اړه خبرونه او مقالي.

د خپروني نوم: *فانوس*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م، کویټه، خپرندوی: د غرجستان د عمران شورې، مسوول مدیر: توپان، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه، کچه:؟، ژبه: دري.

د خپرونې نوم: *فجر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، ایران، خپرندوی: د حضرت مهدی فرهنگي ټولنه، د کار پای: دري ګڼې خپرې شوي.

د خپرونې نوم: *فجر آزادی*

د خپریدو کال او ځای:؟، کویټه، د قیام مستضعفین توحیدي ګروه، مسوول مدیر: میثم اخګر، د خپرونې ډول: چاپي نامنظمه، ژبه: دري، د خپرونې د کار پای: دري ګڼې خپرې شوې، منځپانګه: سیاسي

د خپرونې نوم: *فلک*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م، مشهد، خپرندوی: د ساداتو ټولنه، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟ نوعیت: مجله، چاپي، نامنظمه، کچه: ۳۰X۱٤ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: هماغه کال له شپږو ګڼو خپریدو وروسته.

د خپرونې نوم: *فرهنګ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، بن، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: له افغان مهاجرینو سره د مرستې فرهنګي مرکز، مسوول مدیر: مجید سلک، شمیر:؟، د خپرونې ډول: دري میاشتنی مجله، یورنګ، ٤۰-۵۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري او آلماني، کچه: ۲۳X۱۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م منځپانګه: د افغانستان راپورنه، او د آلمان د ورځپانو د راپورونو ژباړه.

د خپرونې نوم: *فرهنګ انقلاب اسلامی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، تهران، خپرندوی:؟، مسوول مدیر: عبدالواحد عرفاني، شمیر:؟، ډول: پنځلس ورځنۍ اخباري چاپي جریده، کچه: ٤۵X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي، دیني.

د خپرونې نوم: *فریاد مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، پېښور، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د افغانستان د مسلمانو مهاجرینو سازمان، مسوول مدیر: سلیمان ولید، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه، ژبه: دري او پښتو د کار پای:؟، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، منځپانګه: د مجاهدینو په اړه مقالې او د افغانستان پیښې.

د خپرونې نوم: *الفتوی*

د خپریدو کال او ځای:؟، پېښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د علماؤ لجنه، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه اخباري، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د کار پای:؟،

منځپانگه: اسلامی او سیاسی مقالی.

د خپرونی نوم: *د فدایانو آواز*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، کویته – پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د اسلام د فدایانو تولنه، مسوول مدیر: انجنیر عصمت الله کندهاری، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه جریده، یورنگ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰×٤۲، سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۲لمریز/۱۹۸۳م، منځپانگه: د افغانستان په اره مقالی او خبرونه.

د خپرونی نوم: *فرزند سمیه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸، مشهد، ایران، خپرندوی او امتیاز: د شهید صفی الله افضلی جبهې، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی خبری رپوټ، ژبه: دری کچه: ۲۱×۳۰ یورنگ، ۸-۱۲ مخونه، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۸لمریز وری/۱۹۸۹م اپریل، منځپانگه: د جبهو دننه راپورونه، اسلامی مقالی او اشعار.

دخپرونی نوم: *فرزند شهید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٤ لمریز تله/۱۹۸۵م اکتوبر، مشهد، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظم، ژبه: دری، کچه: ۲۰×۳۲ سانتی متره، گستتنر چاپ یورنگ، ٤ مخونه، دکار پای: ۱۳٦٥ لمریز وری، ۱۹۸٦م مارچ، د نهوگنو له خپریدو وروسته، منځپانگه: مقالی او خبرونه.

د خپرونی نوم: *فریاد عاشورا*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، مشهد

د امتیاز خاوند او خپرندوی: تبیان فرهنگی – سیاسی مرکز، مسوول مدیر: نقیب الله حسینی مزاری، شمیر: ۲ زره گنی، د خپرونی دول: میاشتنی/پنځلس ورځنی جریده، یورنگ، ۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹×٤۲ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: نامنظمه دوام لری، منځپانگه: مقالی، مرکی، راپورونه، له بهرنیو منابعو څخه ژباړی او اشعار.

د خپرونی نوم: *فلق*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳٦۹لمریز دلرم ۱۹۹۰/۱۹م د نومبر ۱۰ مه پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: انجنیر حسن، شمیر: ۲ زره گنی، د خپرونی دول: خبری، رپوټ جریده او نیزه، دوه رنگه: ٦ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۲۹×٤۲ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، منځپانگه: د افغانستان خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *د قام غږ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز لړم/۱۹۹۵م اکتوبر، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مخورو شورئ/مولوی تره خیل، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: زرګنی، د خپرونی ډول: نامنظمه میاشتنی خبری جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: هماغه کال له شپږو ګڼو خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه او مقالی او د تره خیل بیانیې.

د خپروی نوم: *قسط*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز غبرګولی، ۱۹۸۷م می، پیښور، مسوول مدیر: سید فضل الله کابلی، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی ډول: سیاشتنی مجله، رنګه پښتی، تصویری، ۵۰–۷۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲٤X۱۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز مرغومی/۱۹۹۱م دسمبر، منځپانګه د افغانستان او اسلامی نړی په اړه سرمقالی او مقالی، نړیوالی پیښی، د جهادی شخصیتونو معرفی، شعر، کارتون.

د خپرونی نوم: *قضاوت*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۱ لمریز/۱۹۸۲م، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د وردګو ولایت اسلامی انقلابی شوری،

مسوول مدیر: وکیل محمد اکبر، شمیر:؟، د خپرونی ډول: خبری جریده، نامنظمه یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: هماغه کال د دری ګنو څخه وروسته، منځپانګه: د افغانستان او دوردګو "دچک ولسوالی د مجاهدینو" راپورونه، مقالی او خبرونه.

د خپرونی نوم: *قلب آسیا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰ لمریز/۱۹۸۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونی ډول: خبری او نیزه، یورنګ، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤٦X۲۳ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٦ لمریز/۱۹۸۷م، منځپانګه: مقالی، اخبار او کارتون، یادونه: دغی خپرونی ته د پاکستان حکومت مالی مرسته ورکوله.

د خپرونی نوم: *قلم*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان مسلمان محصلین او طلبه/ محمد عارف مسعود، مسوول مدیر: عبداله اخلاقیار، شمیر:؟، د خپرونی نوع: او نیزه، خبری، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: هماغه کال د څلورو ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د مجاهدینو د مشرانو بیانیې، خبرونه، شعرونه، وجیزی او

مقالې، یادونه، دغه خپرونه حزب اسلامي ته تمایل لري.

د خپروني نوم: *قلم در خدمت جهاد*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦٤لمریز/١٩٨٥م، امریکا، خپرندوی او دامتیاز خاوند او مسوول مدیر: صفي الله ثبات، شمیر:؟، د خپرونې ډول: خبري میاشتني جریده، چاپ: فوتوکاپي، یورنګ، ٨ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٢١X٢٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٥لمریز/١٩٨٦م، منځپانګه: د افغانستان په اړه خبرونه، مقالې، راپورونه.

د خپروني نوم: *قیادت*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٠لمریز مرغومی/١٩٩١م دسمبر، مشهد، خپروندی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دلویدیځو ولایاتو د قوماندانانو د هماهنګۍ کمیته، مسوول مدیر: عبدالله عقابي، شمیر: زر ګڼې، د خپروني ډول: میاشتینۍ مجله، پښتي دوه رنګه، ٥٠ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٢١X٣٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: هماغه د تأسیس کال د دوو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسي مقالې، د افغانستان او اسلامي نړۍ په اړه لیکنې او راپورونه، اشعار.

د خپروني نوم: *کابل*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٢لمریز د تلې ٣٠ مه/١٩٩٤م د اکتوبر ٢٢مه، پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د کابل د خلکو څخه ددفاع اسلامي ټولنه، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: زر ګڼې، د خپروني ډول: پنځلس ورځني جریده، دوه رنګه، ٨ مخونه، تصویري، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٢٩X٤٤ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٧٤لمریز/١٩٩٥م، منځپانګه: خبرونه، راپورونه، اسلامي، سیاسي او ټولنیزې لیکنې.

د خپروني نوم: *کلتور*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٦١لمریز/١٩٨٢م، بن، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: افغان فرهنګي مرکز، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: ٢ زره ګڼې، د خپروني ډول: دوه میاشتنۍ مجله، دوه رنګه پښتي، ٨٠ مخونه، ژبه: پښتو او دري او آلماني، کچه: ٢١X٢٩ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ١٣٧٠لمریز/١٩٩١م، منځپانګه: مقالې او په المان کې د افغانانو د فعالیتونو راپورونه، شعر او ادب.

د خپروني نوم: *کاروان*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٢لمریز/١٩٩٣م، کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی: د کاروان خپرندویه موسسه، مسوول مدیر: شکر الله کهګدای، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپروني ډول: اخباري رپوټ میاشتنۍ، مصور، په ١٦ مخونو کې، کچه: ٣٣X٥٤ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري او د افغانستان د پیښو په اړه راپورونه.

د خپرونې نوم: کوثر

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۸ لمریز د لیندی ۲۲مه/۱۹۸۹م د دسمبر ۱۳مه، پیښور، شمیر: له ۲ تر دری زروګنو پوری، د خپرونی دول: خبری او نیزه دوه رنګه: ۸-۱۲ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۴۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۰ لمریز د کب ۲۴مه/۱۹۹۲م د مارچ ۱۵ مه، منځپانګه: خبر، راپور او د افغانستان او اسلامی نړی په اړه تبصری او سیاسی تحلیلونه او نړیوالی پیښی، یادونه: کوثر جریده، وروسته په اونی کی دوه ځله خپریدله، او د ژورنالیزم له نظره د دی خپرونی شکل او محتوی په لوړه سطحه کی وو چی په منظمه توګه یی د افغانستان خبرونه، راپورونه سرکی او د مجاهدینو اعلامیی د سیاسی تمایل نه پرته خپرولی.

د ۱۳۶۹ لمریز د زمری ٦ می/۱۹۹۰م د جولای ۲۸می څخه د ۱۳۷۰ لمریز د وری تر ۱۷ می د ۱۹۹۱م د اپریل تر ٦می پوری د کوثر په اداره کی انشعاب راغی، انشعابی ډلی هم د کوثر په نامه اونیزه چی د حزب اسلامی دیوی ځانګړی ډلی د مالی مرستی په ملاتړ چلیده خپره شوه چی په یوه وخت کی د دوو "کوثر" جریدو خپریدل د لوستونکو په اذهانو کی د دواړو اړخونو ترمنځ د اختلافاتو په اړه سوالونه را پیداکړل.

د خپرونی نوم: کهکشان

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز تله: ۱۹۸۸م اکتوبر، لندن، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بریتانیا کی د افغانانو ډله، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی، یورنګ، ۱۲ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د کار پای: ۱۳٦۷لمریز مرغومی/۱۹۸۸م، د دوو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان راپورونه او خبرونه.

د خپرونی نوم: ګل سرخ

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، خپرندوی: د مجاهدینو اسلامی اتحاد، دول: میاشتنی، ژبه: پښتو او دری.

د خپرونی نوم: ګل سرخ

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، تهران، خپرندوی: د افغانستان مهاجری ښځی، مسوول مدیر: ص، هدی/ف، منیف، شمیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی، چاپ زیراکسی، کچه: ۳۰X۲۰ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟: منځپانګه: سیاسی، تولنیزه.

د خپرونی نوم: لشکر آزادګان

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز مرغومی/۱۹۹۱م دسمبر، بخش ناشویلی، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په امریکا کی د افغانی محصلینو اسلامی تولنه، مسوول مدیر: سید عبدالواسع اشعری، شمیر:؟، د خپرونی دول: له نورو خپرونو څخه اقتباس، فوتوکاپی چاپ، کچه: ۲۱X۲۹ سانتی متره، د

خپرونې د کار پای: یوه ګنه خپره شوه، منځپانګه: له نورو مطالبو څخه اقتباس.

د خپرونې نوم: *لوای توحید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۱ لمریز/ ۱۹۸۲م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د شمال د مجاهدو قومونو اسلامي اتحاد، مسوول مدیر: محمد آصف خاوری، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظم، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوې ګڼې خپره شوه، منځپانګه: سیاسي مقالې.

د خپرونې نوم: *ماین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیبنور، خپرندوی: د افغانستان د بیاودانولو او ماین پاکولو موسسه، مسوول مدیر: غلام غوث حیدری، شمیر:؟، د خپرونې دول: مجله میاشتنې چاپي، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، ژبه: پښتو او دری، د کار پای: دوام لري، محتوی: د موسسې فعالیتونه او د ماین په اړه اطلاعات.

د خپرونې نوم: *د مجاهد پیغام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲ لمریز/۱۹۸۳م، هامبورګ، آلمان، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې دول: اخباري، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: یوه ګڼه خپره شوه، منځپانګه: د مجاهدینو په اړه مقالې.

د خپرونې نوم: *مجاهد فردا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، پیبنور، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: عبدالرفیع کابلي، شمیر: زرګڼې، د خپرونې دول: پنځلس ورځنی، رنګه تصویري، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟ منځپانګه: اسلامي او ملي مقالې او ذوقي روزونکي مطالب.

د خپرونې نوم: *مجاهد ولس*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، اوسلو، ناروې خپرندوی امتیاز او مسوول مدیر: محمد حسن ولسمل، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګڼې، د خپرونې دول: میاشتنې خبري ریوټ جریده، ژبه: دری، پښتو او انګلیسي، کچه: لویه ۵۸X٤۲ سانتي متره، دکار پای:؟، منځپانګه: مقالې، اشعار او اعلامې.

د خپرونې نوم: *مرجان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، د خوېندو او میندو ځانګړې خپرونه، مسوول مدیر: لیکنی هیأت/آصف معروف، شمیر:؟، د خپرونې دول: دوه میاشتنې مجله، رنګه پښتې، تصویري، ٤٦ مخونه ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟،

منځپانګه: د کورنۍ په اړه مطالب، د ښځو او ماشومانو د چارو په اړه لیکنې.

د خپرونې نوم: *مردم*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م، کویټه، خپرندوی: ترقی غوښتونکې هزاره ډله: مسوول مدیر طاهر خان هزاره، شمیر:؟، ژبه: دری او پښتو.

د خپرونې نوم: *د افغانستان د همکاری مرکز* ***CCC News letter***

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، پېښور.

خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د بشر د حقوقو دفتر، مسوول مدیر: امین ناصر، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې ډول: میاشتنی راپور خبری دوه رنګه، ۸-۱۲ مخونه، ژبه: انګلیسي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د افغانستان په اړه د ملګروملتونو د سازمان خبرونه او راپورونه د پېښور د نمایندګۍ د دفتر فعالیتونه په پېښور او د افغانستان دننه، تحقیقي مقالې.

د خپرونې نوم: *المسلمون*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۹۸م، پېښور، خپرندوی اود امتیاز خاوند: د المسلمین د خلافت تحریک/مولوی غلام الله، مسوول مدیر: زمرک عابد، شمیر: زرګنې، د خپرونې ډول: میاشتنی خبری جریده، دوه رنګه: ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۰X۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، منځپانګه: تحلیلي او انتقادی مقالې، خبرونه، دیني مضامین مرکې او نور مطالب.

د خپرونې نوم: *د مشرقی اتحاد*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د مشرقي د مجاهدینو اسلامی او ملي اتحاد، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه ٤۲X۳۰ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م، منځپانګه: د افغانستان او د هیواد دختیزو سیمو په اړه مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *مشعل*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، پېښور، خپرندوی، امتیاز او مسوول مدیر: محمد صدیق پسرلی، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه خبری جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۸X۳۲ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوې ګڼې خپره شوه. منځپانګه: د مجاهدینو په اړه خبرونه او لیکنې.

د خپرونې نوم: *مصباح*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۹ لمریز د تلې ۵مه/ ۱۹۹۰م سپتمبر ۲۸مه، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟،

مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی جریده، دوه رنګه، ۸ مخونه، ژبه: دری، ازبکی، کچه: ۳۸X۲۵ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۱لمریز د وری ۲مه/۱۹۹۲م د اپریل ۱۳مه، منځپانګه: د افغانستان په اره مقالی او راپورونه.

یادونه: دغی خپرونی څلور مخونه په ازبکی ژبه (د اسلامی لی یوختس) یعنی د اسلام لاره، هم خپرول.

د خپرونی نوم: *مصلحت*

پیلیز کال او ځای:؟، خپرندوی: د افغانستان د ملیتونو د پیوستون شوری خپرنی ارګان، موسس: یاسین کاسب، د خپرونی دول: اخباری چاپی، کچه: ۴۵X۳۰ سانتی متره، ژبه: پښتو او دری، د کار پای:؟ منځپانګه: سیاسی، اجتماعی.

د خپرونی نوم: *المعروف*

پیلیز کال او ځای:؟، اسن او کلن ښارونه، آلمان، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د مهاجرینو او محصلینو اسلامی ټولنه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، د نهو کلونو په موده کی اته ګنی خپری شوی، منځپانګه: سیاسی مقالی.

د خپرونی نوم: *مقاومت*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، پیښور او امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان دیموکرات مترقی ګوند، مسوول مدیر: اندیوال د"هزاد" شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه خپرونه، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۴۲X۲۹ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۱لمریز/۱۹۸۲م، د دوو ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسی مقالی.

د خپرونی دول: *منبع الجهاد*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: جلال الدین حقانی، مسوول مدیر: عبدالکریم محب/ع، ننګیال، عوض الدین صدیقی، شمیر: زرګنی، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی مجله، رنګه: پښتنی، تصویری، ۷۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۴X۱۸ سانتی متره، د کار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، منځپانګه: د افغانستان راپورونه، د حقانی د جبهو خبرونه، بیانیی او مرکی او سیاسی او دینی مقالی.

د خپرونی نوم: *مهاجر*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۵لمریز/۱۹۸۶م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: استاد عشرتی، مسوول مدیر: مؤمن ګلبهاری، شمیر:؟، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۵۸X۲۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، محتوی: د افغانستان د جبهو خبرونه.

د خپرونی نوم: *سورچل*

پیلیز کال او ځای: ١٣٦٦لمریز/١٩٨٧م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د قبایلو اسلامی تحریک، مسوول مدیر: سباوون سومند سید ګلاب، شمیر: زرګنی، دخپرونی دول: مجله میاشتنی، دوه رنګه: ٤٠ مخونه، ژبه: پښتو، کچه: ٤٥x٣٠ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٦٨لمریز/١٩٨٩م، منځپانګه: د افغانستان په اړه راپورونه او خبرونه او د مختلفو لوریو دریځونه.

د خپرونی نوم: *المؤمنات*

دپیلیز کال او ځای: ١٣٧٥لمریز/١٩٩٦م، مشهد، ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو اسلامی نهضت/ آمنه افضلی، مسوول مدیر: ضیأ ګل سلطانی، شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی دول: خبری میاشتنی جریده، دوه رنګه، ژبه: دری، کچه: ٣٠x ٤٢ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: د ښځو او افغانستان په اړه خبرونه، مقالی، ژباړی، شعر او ادب، راپوراو مرکی...

یادونه: دغه خپرونه د معیاری خپرونو له جملی څخه شمیرل کیږی. پخوا په پیښور کی په نا منظم دول د ښځو د اسلامی تولنی لخوا چی د جمعیت اسلامی پلویان وو د آمنه افضلی په ابتکار خپریدله.

د خپرونی نوم: *میثاق*

پیلیز کال او ځای: ١٣٧٢لمریز/١٩٩٣م، مشهد، ایران، خپرندوی: توحید فرهنګی بنیاد، دول: رقعی زیرا کسی نامنظمه، کچه: ٣٠x٢١ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *میوند ږغ*

پیلیز کال او ځای: ١٣٧٦لمریز/١٩٩٧م، پیښور، خپرندوی، امتیاز او مسوول مدیر: انجنیر بارکزی، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه مجله، دوه رنګه: ٢٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ٢٩x٢١ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوی ګنی خپری شوی، منځپانګه: سیاسی، اجتماعی او تاریخی مقالی او راپورونه.

د خپرونی نوم: *سیهن*

د خپریدو کال او ځای: ١٣٧٢ لمریز/١٩٩٣م، قم، خپرندوی: د افغان سید جمال الدین تولنه، دول: اخباری چاپی خپرونه، کچه: ٤٥x٣٠ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای: یوه ګنه خپره شوه، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *نامه خراسان*

پیلیز کال او ځای: ١٣٦٩لمریز/١٩٩٠م، کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د مهاجرینو فرهنګی تولنه، مسوول مدیر: محمد قوی کوشان، شمیر ٥٠٠ ګنی، د خپرونی دول: دوه میاشتنی مجله، یو رنګ، ١٠٦ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٢٩x٢١ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ١٣٧١لمریز/١٩٩٢م، منځپانګه: مقالی، مرکی، اشعار.

د خپرونې نوم: نبرد

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۰م، برلین، المان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په لویدیځ المان کې د افغاني محصلینو اسلامي ټولنه، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٤٢X٢٩ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: هماغه د پیل کال له دوو ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه سیاسي مضامین او د مجاهدینو اعلامیې.

د خپرونې نوم: *النجم ثاقب*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶٦لمریز/۱۹۸۷م، چترال، پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د ادیبانو او شاعرانو اداره، مسوول مدیر: پیمان پنجشیري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، دوه رنګه: ٤ مخونه، ژبه: دري کچه: ٦٠X٤٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٧لمریز/۱۹۸۸م، د څو محدد ودو ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه سیاسي مقالې او راپورونه.

د خپرونې نوم: *ندای استقلال*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٣لمریز/۱۹۸٤م، آلمان، خپرندوی او امتیاز: افغان لیګAfghan Legue، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنۍ جریده یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٢٩X٢١ سانتي متره، د کار پای: ۱۳٦٣لمریز/۱۹۸٤م، منځپانګه: د افغانستان په اړه سیاسي مقالې او تبصرې.

د خپرونې نوم: *ندای جندالله*

پیلیز کال اوځای: ۱۳٦٦لمریزمرغومی/۱۹۸۷م دسمبر، پېښور، خپرندوی او امتیاز: د جند الله قرارګاه کابل ولایت/ محمد بلال نیرم... مسوول مدیر: فرهنګي شوری، شمیر: زرګنۍ/د خپرونې ډول: میاشتنۍ خبري جریده، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ٣٢X٢٠ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٧لمریز وری/۱۹۸۸م اګست، منځپانګه: مقالې او خبرونه او د قوماندان بلال بیانیې.

د خپرونې نوم: *ندای حق*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م، پېښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د مولو ی نصر الله منصور ګروپ حرکت انقلاب اسلامي، مؤسس: حضرت محمد اسماعیل مجددي، مسوول مدیر: مولوي شجاع الدین خدام، شمیر: زرګنۍ، د خپرونې ډول: میاشتنۍ نامنظمه خبري جریده دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ٥٨X٣٥ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦٧لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: د مولوي منصور بیانیې او اعلامیې، د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *ندای حق*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸٥م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: مولوي

عبدالستار صدیقی، شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامنظمه سیاشتنی خبری جریده، دوه رنگه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه ۳۰x۵۰سانتی متره، د کار پای: هماغه پیلیز کال د دری ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسی مقالی اوخبرونه.

د خپرونی نوم: *ندای خراسان*

پیلیز کال اوځای: ۱۳۶۳لمریز وری/۱۹۸٤م سپتمبر، کویټه، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی فرهنگی شوری، مسوول مدیر: سید میر حسین فصیحی، محمدعیسی غرجستانی، شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامنظمه مجله، ګستتنر، ٤۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦٦لمریز غویی، ۱۹۸۸م اپریل، د ۱۵ ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: ددی شوری فعالتیونه او دهزاره جات خبرونه، یادونه: فرهنگی شوری د سید میر حسینی، فصیحی په شمول په بهسودو کی مسموم شول.

د خپرونی نوم: *ندای سنگر*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٦ لمریز کب/جنوری ۱۹۸۸م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: ؟، مسوول مدیر: نعمت الله طیبی، شمیر:؟ د خپرونی ډول: نامنظمه خبری میاشتنی جریده، دوه رنگه: ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X٤۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای:؟، منځپانګه: خبرونه او مقالی.

د خپرونی نوم: *ندای وحدت*

پیلیز کال اوځای:؟، امریکا، خپرندوی: د افغانستان د قومونو د همغږی کانون، مسوول مدیر: محمد ابراهیم فن او علی رضوی، شمیر:؟، د خپرونی ډول: نامنظمه جریده، کچه: ۳۰X٤۲ سانتی متره، ژبه: دری، محتوی: سیاسی اجتماعی.

د خپرونی نوم: *ندای وحدت*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، هرات، خپرندوی: د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم قرار ګاه، مسوول مدیر: سید نصیر احمد علوی، شمیر:؟،ډول: میاشتنی ګستتنری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی، خبری.

د خپرونی نوم: *نصیحت*

پیلیز کال اوځای: ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م، مونشن، المان، خپرندوی او امتیاز: په مونشن کی د افغانی مهاجرینو اسلامی- فرهنگی ټولنه، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ۵۰۰ګنی، د خپرونی ډول: نامنظمه میاشتنی، یو رنګ، فوتوکاپی، ٤-۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۳لمریز/۱۹۸٤م، منځپانګه: سیاسی او اسلامی مقالی.

د خپرونی نوم: *نصرت الجهاد*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۸ ش/۱۹۸۹م پشاور، مسوول مدیر: سیدعبدالله پاچا، د خپرونی ډول: میاشتنی

مجله ٦٢ صفحی، رنګه. کچه: ۳۱X۲۹ سانتی متر. ژبه: اردو. د کار پای: ۱۳۷۰ش/۱۹۹۱م. منځپانګه: مقامی، د حقانی جهاتو راپورتاژونه.

د خپروني نوم: *نظامی پاڅون*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۱ لمریز/۱۹۸۲م کویټه، پاکستان، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی نظامی جبهه، مسوول مدیر: جمال الدین پیلوټ، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۰X۳۰ سانتی متره، د کارپای: ۱۳٦۳لمریز/۱۹۸٦م، منځپانګه: د افغانستان د جنوب لویدیځو جبهو خبرونه او راپورونه.

د خپروني نوم: *نوبهار*

پیلیز کال اوځای: ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م، بن، آلمان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: دافغانی پناه وړونکو کانون، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: ۵۰۰-۱۰۰۰ګنی، د خپروني دول: نامنظمه دوه میاشتنی مجله، رنګه پښتنی، ۱٤۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۳لمریز /۱۹۹٤م، منځپانګه: دکورنی روزنیز او ټولنیز مطالب.

د خپروني نوم: *وحدت اسلامی*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند د مجاهدینو اسلامی اتحاد/قاضی محمدامین وقاد، مسوول مدیر: محمد نسیم استانکزی، شمیر:؟، د خپروني دول: نامنظمه جریده، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۵X۳۰ سانتی متره، د خپروني او د کار پای: هماغه د پیل کال له څلورو ګڼو خپریدو وروسته، منځپانګه: د مجاهدینو راپورونه او خبرونه د وقاد بیانیی.

د خپروني نوم: *وطن*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م، پیښور، د امتیاز خاوند او خپرندوی: د افغانستان د شمالی ولایتونو اسلامی اتحادیه/آزاد بیګ، مسوول مدیر/ډاکتر زرغون، شمیر:؟، د خپروني دول: خبری میاشتنی جریده، یو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: دری او پښتو او ازبکی، کچه: ٤۵X۳۰ سانتی متره، د خپروني د کار پای: دوی ګنی خپری شوی، منځپانګه: د شمال اتحادیی خبرونه او راپورونه د آزاد بیګ فعالیتونه.

د خپروني نوم: *هدف*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز وری/۱۹۹۱م سپتمبر، پیښور، خپرندوی: د افغانستان اسلامی تحریک، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: دوه زره ګنی، دول: میاشتنی اخباری چاپی جریده، ٤ مخونه، کچه: ۵۸X٤۲ سانتی متره، ژبه: پښتو او دری، د کار پای: ۱۳۷۲لمریز د زمری ۱۵ مه/۱۹۹۳م د جولای ۱۳مه، منځپانګه: دینی، سیاسی او ټولنیزی مقالی.

د خپروني نوم: *همسنګران*

پیلیز کال اوځای:؟، فراه، خپرندوی: دګذره امارت فرهنګی کمیته،

د خپروني نوم: *هشدار*

پیلیز کال اوځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د پاکستانی، محصلینو په مرسته

افغانې محصلین، مسوول مدیر: نه لري، شمیر:؟ د خپرونې دول: خبري سیاستني جریده: دوه رنګه: ٤ مخونه، چاپ ګستتنر، ژبه: اردو، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د کار پای: هماغه د تاسیس کال له درې ګڼو خپریدو وروسته، منځپانګه: مقالي، د مجاهدینو خبرونه، شعرونه.

دخپرونې نوم: *الیرموک*

پیلیز کال اوځای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د ډاکتر عبدالله عزام د تبلیغاتو او څیړنو مرکز، مسوول مدیر:؟، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې دول: خبري سیاستني، مجله، سیاسي، یورنګ، ۲۲ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، منځپانګه: د افغانستان او اسلامي نړۍ په اړه سیاسي او اسلامي مقالي.

د خپرونې نوم: *یلدوز*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م، مزار شریف، مسوول مدیر: عبدالله روئین، شمیر:؟ دول: چاپي اخباري، ژبه: ازبکي.

# د افغانستان د جهاد

## د څیړنو او تبلیغاتو سازمانونه

### ۱: د افغانستان د جهاد ثقافتي شوری

د افغانستان ثقافتي شوری هیواد د عصر اوچت ژورنالست او لیکوال صباح الدین کشککي په ابتکار د ۱۳٦۲ لمریز د سنبلې په لومړیو ۱۹۸۲م اګست کې په اسلام آباد کې جوړه شوه. دغه څیړنیز – فرهنګي سازمان دیوې لاربنودې شورې لخوا اداره کیده د دې شورې غړي عبارت وو له: صباح الدین کشککي رئیس، محمد صدیق راشد سلجوقي مرستیال، حبیب الله غالب، پوهاند عبدالسلام عظیمي او محمد هاشم مجددي غړي، د دغې شورې سره بشرې سازمانونو مرستې وکړې او ارځښتناک کارونه یې ترسره کړل د هغې له جملې څخه:

۱/ د في ظلال القرآن تفسیر درې ژباړه او چاپ ژباړن راشد سلجوقي او د عبدالله یوسف علي د تفسیر درې ژباړه ژباړن کشککي.

۲/ د کتابخانې جوړول چې له پنځه زره توکونو زیات کتابونه او نادر دایرة المعارفونه پکې را غونډ شوي وو.

۳/ د افغانستان په آزادو سیمو کې د لومړنیو او منځینو ښوونځیو جوړول چې د نوي تعلیمي نصاب په اساس درسي مواد هم ورته برابر شوي.

٤/ تعلیمي او روښیز پروګرامونه د ټیپ د کسټونو له لارې د جهاد غږ په نامه.

۵/ د افغانستان د مستندو فلمونو جوړولو لپاره د عکاسي او فلمبرداري د ځانګي فعالول.

۶/ د افغانستان د ماشومانو لپاره د تعليمي نصاب برابرول چې د لومړي څخه تر نهم ټولګي پورې په پښتو او دری برابر او په لومړیو دوو ټولګیو کې تر اتیازره توکه کتابونه چاپ او تعلیمي موسسوته وسپارل شول.

۷/ د پراخو سمینارونو جوړول چې په مختلفو اړخونو لکه: ښوونه او روزنه، اقتصاد رسنیو وسایلو، د افغانستان را تلونکي او قانون جوړولو په اړه دایر شول او بیایې ټول راپورونه د (افغانستان سبا) په نامه په جلا جلا ټوکونو کې په پښتو، دری او انګلیسي ژبو خپاره شول. (۲۹)

د افغانستان ثقافتي شورۍ د افغانستان د سیاسي او ټولنیزی وضعې په درک سره هڅه کوله چې د ټولو سیاسي ډلو سره بې طرفانه اړیکي وساتي، او دهغوی په مرسته د خپلو پلانونو په اجرا او پراخیدو لاس پورې کړي، خو متاسفانه د مجاهدینو زیاترو تنظیمونو ددې شورۍ سره له همکارۍ څخه ډډه وکړه او شورۍ په عملي ډګر کې له ستونزو سره مخ شوه، چې بالاخره له شورا سره مرستندویو منابعو د هغوی مرستې رو بندې کړې او دغې شورۍ د ۱۳۷۰لمریز په پای/۱۹۹۲م جنورۍ کې خپل کار پای ته ورساوه.

د خپرونې نوم: ***افغان جهاد*** ***Afghan Jehad***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۶لمریز/۱۹۸۷م، اسلام آباد، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د جهاد ثقافتي شورۍ، مسوول مدیر: صباح الدین کشککي، شمیر: دوه زره ټنې، د خپرونې ډول: دری میاشتنی مجله (فصلنامه) ژبه: پښتو، دری او انګلیسي (بیلا بیلی) کچه: ۲۸X۲۰ سانتي متره، دوه رنګه، تصویري، په ۳۶۰ مخونو کې، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۳م، منځپانګه: تحلیلي راپورونه، د سیمینارونو د جوړولو نتیجې، ویناوې، د مجاهدینو او کمونستي رژیم د مطبوعاتو عمده مطالب، او د افغانستان په مختلفو مسایلو کې د شمیرنو او ارقامو خپرول، یادونه: دغه خپرونه په څیړنیز او مسلکي لحاظ په نړیوال معیار خپریده.

## ۲: د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفترونه

د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفترونه د فرهنګي او سیاسي دفترونو له جملې څخه وو چې په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م کې یې فعالیت پیل شو، ددغه سازمان مرکزیت د آلمان دبن په ښار کې ؤ وروسته یې هالند، بلژیک، فرانسې، اطریش، ډنمارک، استرالیا، او د امریکا متحده ایالاتو دوولس ایالتونو ته مرکزونه وغځیدل.

دغو دفترونو دیوی اساسنامې له مخې یو لړ فعالیتونه پیل کړل چې مجاهدین د افغانستان د قانوني مرجع په حیث په رسمیت وپیژنل شي، په اروپا کې د افغان مهاجرینو تنظیم د جهاد او مقاومت د دوام او

د روس د تیری پر خلاف د مبارزی دوام، د مختلفو مجاهدینو د نمایندګیو ترمنځ د پیوستون او د دوی ترمنځ د هر ډول توطیو شنډول د دی دفترونو د تګلاری اساسی ټکی وو. (۳۰)

همدارنګه د افغان مقاومت د معرفی په خاطر دغو دفترونو یو شمیر خپرونی درلودی او په تبلیغاتی ډګرکی د مجاهدینو له معتبرو مراجعو څخه شمیرل کیدی. دغه سازمان زیاتره د افرادو په څانګری سرسته آکمالیده، او په سیاسی لحاظ د افغانستان اسلامی حزب تر نورو ګوندونو زیات د هغوی سلاتړ کاوه. د مجاهدینو د تبلیغاتو دفترونه له ۱۳۷۱/۱۹۹۲م وروسته د داخلی جګړی له پیل سره ونه توانیدل چی دوام وکړی او عملاً یی سقوط وکړ.

## د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفترونو خپرونی:

دغو دفترونو تولی په لسوژبو مختلفی خپرونی درلودی او په لوړ تیراژ یی پراخ تبلیغاتی کارکاوه، چی په هغو جمله کی لاندی خپرونی وی:

د خپرونی نوم: *افغان مجاهد* ***Afghan Mujahed***

پیلیز کال اوځای: ۱۳۶۵لمریز تله/۱۹۸۶م آکتوبر، دینهاګ(لاهه) هالند، خپرندوی او دامتیاز خاوند: په هالندکی د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو مرکز، مسوول مدیر: محمد حلیم تنویر، شمیر: زرګنی، د خپرونی ډول: دری میاشتنی مجله، ژبه: هالندی، کچه: ۲۱ X ۲۸ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، منځپانګه: خپلی آزادی ته د رسیدو په لارکی د افغانستان د مجاهدینو د آرمانونو بیانونکی، چی سرمقالی، خبرونه، مرکی، د افغانستان د شهیدانو یادونه، او د مجاهدینو د سازمانونو د دفترونو د فعالیتونو فعالیتونه پکی شامل وو.

د خپرونی نوم: *البدر*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۵لمریز ثور/۱۹۸۶م اپریل، لاهه، هالند، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د اروپا د څانګی د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفترونو خپرنی ارګان، مسوول مدیر: انجنیر محمد نذیر (علی) تنویر، مؤسس: ډاکتر محمد حلیم تنویر همدی کتاب لیکوال). شمیر: له پنځه – لس زره ګنو پوری، د خپرونی ډول: میاشتنی جریده، دوه رنګه، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X۴۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: تحلیلی لیکنی، نقد، سیاسی راپورونه، د اروپا دمطبوعاتو د راپورونو انعکاس، مرکی، روزونکی تولنیز او اسلامی مطالب، د اسلامی نړی په اړه راپورونه، په نړی کی د اسلامی نهضت تاریخ.

یادونه: دغه خپرونه د ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹۴م کال څخه راپه دی خوا د افغانستان د بیا جوړولو او څیړنو دانستیتوت خپرنی ارګان دی.

د خپرونې نوم: *جوانان مسلمان*

پيليز کال او ځای: ۱۳٦٤لمريز/۱۹۸۵م، هانور، المان، خپرندوی او د امتياز خاوند: په هانور کې د مجاهدينو د تبليغاتو ددفتر نمايندګي، مسوول مدير: عبدالرشيد عزيزی، شمېر: پنځه سوه ګڼې، د خپرونې ډول: خبری نامنظمه، يو رنګ، ٤ مخونه، فوتوکاپي، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، دخپرونې د کار پای: ۱۳۷٦ لمريز مرغومی/۱۹۹۷م دسمبر، سنځپانګه: دحزب اسلامي افغانستان د خپرونو څخه د مطالبو اقتباس او د حکمتيار بيانې.

د خپرونې نوم: *جهاد اسلامی*

پيليز کال او ځای: ۱۳٦٤/۱۹۸۵م، کليفورنيا، امريکا، خپرندوی: د افغانستان د مجاهدينو د تبليغاتو دفتر، د امتياز خاوند: حزب اسلامی افغانستان، مسوول مدير: نه لري، شمېر: زر ګڼې، د خپرونې ډول: خبری مياشتنی جريده، يورنګ، ۱۲ مخونه، چاپ او فوتوکاپي، صحافي، سنجاقي، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتي متره، دکار پای: ۱۳٦۵لمريز/۱۹۸٦م، سنځپانګه: دافغانستان خبرونه او راپورونه.

د خپرونې نوم: *خواهر شهيد* (٤۷۲ مخ ته وګرځئ).

د خپرونې نوم: *د مجاهدينو لار* ***Mucahid Yolu***

پيليز کال اوځای: ۱۳٦۸لمريز/۱۹۸۹م لاهه، هالند، خپرندوی او امتياز: په هالند کې د مجاهدينو د تبليغاتو دفتر، مسوول مدير: محمد حليم تنوير، شمېر: دری زره ګڼې، د خپرونې ډول: نامنظمه دوه مياشتنی مجله،، رنګه پښتي، تصوير، ۳۰-٤۰ مخونو، ژبه: ترکي، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، دکار پای: ۱۳۷۰ لمريز/۱۹۹۱م، سنځپانګه: د افغانستان په اره مقالې او راپورونه او د تبليغاتو د دفتر فعاليتونه.

د خپرونې نوم: *رمز الجهاد*

پيليز کال اوځای: ۱۳۷۱لمريز/۱۹۹۲م، پاريس، فرانسه، خپرندوی او دامتياز خاوند: په فرانسه کې د مجاهدينو د تبليغاتو دفتر نمايندګي، مسوول مدير: نه لري، شمېر: دوه زره ګڼې، د خپرونې ډول: خبری او نيزه، يو رنګ، ٤ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳۷۲لمريز/۱۹۹۳، سنځپانګه: خبرونه او د افغانستان د مجاهدينو دريځونه، د حکمتيار ويناوی او دحزب اسلامی اعلامیې.

د خپرونې نوم: *صدی الجهاد*

پيليز کال او ځای: ۱۳۷۰لمريز/۱۹۹۱م، بن، آلمان، خپرندی او امتياز: په بن کې د مجاهدينو د تبليغاتو د دفتر نمايندګي/د حزب اسلامی نمايندګي، مسوول مدير: نه لري، شمېر: دری زره ګڼې، د خپرونې ډول: خبری رپوټ مياشتنی، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۳۰X٤۲ سانتي متره، د کار پای: ۱۳۷۱لمريز/۱۹۹۲م، سنځپانګه: د افغانستان او اسلامی نړی په اره مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *صوت المجاهدين*

پیلیز کال اوځای: ۱۳۶۶لمریز دکب ۲٤مه/۱۹۸۸م د مارچ ۱۵مه خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بلژیک کې د تبلیغاتو دفتر، مسوول مدیر: محمد قاسم همت، شمیر: دری زره ګڼې، د خپرونې ډول: میاشتنۍ مجله، پښتې او دننه پاڼې رنګه، تصویري، ٦۰ مخونه، ژبه: عربي کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۶۹ لمریز تله/۱۹۹۰م آکتوبر، منځپانګه: د افغانستان او اسلامي نړۍ خبرونه او راپورونه، دحکمتیار بیانیې.

د خپرونې نوم: *طریق المجاهدین*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۸لمریز مرغومی/۱۹۸۹م دسمبر، لاهه، هالند، خپرندوی او امتیاز: په هالند کې د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر، مسوول مدیر: محمد حلیم تنویر، شمیر: دری زره ګڼې، د خپرونې ډول: دری میاشتنۍ مجله، رنګه پښتې، تصویري، ٦۰ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د دری ګنو څخه وروسته په ٤۲X۲۹ سانتي متره، کچه په دوو رنګونو، ٤ مخونو کې خپریده، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۱ لمریز سلواغه/۱۹۹۳م جنوري، منځپانګه: د اسلامي نړۍ او افغانستان خبرونه، راپورونه او کارتون.

د خپرونې نوم: *افغان مجاهد* **Den Afghans ke Mujahed**

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م، آرهوس، دنمارک، د امتیاز خاوند او خپروونکي، په دنمارک کې د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر نمایندګي، مسوول مدیر: احمد شاه قیومي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه میاشتنۍ جریده، یورنګ، ۸ مخونه، فوتوکاپي چاپ، ژبه: دنمارکي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: د افغانستان او مجاهدینو په اړه خبرونه او مقالې.

د خپرونې نوم: *المجاهد افغان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۸لمریز وری/۱۹۸۹م مارچ، بروکسل، بلژیک خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بلژیک کې د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر مسوول مدیر: نه لري، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې ډول: پنځلس ورځنۍ/میاشتنۍ جریده، دوه رنګه: ٤–۸ مخونه، ژبه: فرانسوي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۶۹ لمریز/ ۱۹۹۰م، منځپانګه: د مجاهدینو راپورونه، د افغانستان خبرونه.

د خپرونې نوم: *المجاهد الافغاني*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز/۱۹۸۸م لاهه، هالند، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په هالند کې د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر، موسس: محمد حلیم تنویر، مسوول مدیر: هیأت تحریر، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې ډول: دری میاشتنۍ مجله، نامنظمه، رنګه پښتې، تصویري، ۵۰–٦۰ مخونه، ژبه: عربي، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۶۸لمریز/۱۹۸۹م، منځپانګه: د افغانستان خبرونه، د مجاهدینو راپورونه او د اسلامي نړۍ په اړه مقالې.

د خپرونې نوم: *نوید حق*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۷لمریز د زمری ۲۲مه/۱۹۸۷م د اګست ۱۷مه، لاس انجلس، امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو مرکز، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: زرګنی، د خپرونې دول: سیاشتنی خپرونه، یو رنګ، ۱۲مخونه، د حزب اسلامی له خپرونو څخه اقتباس، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، دخپرونې د کار پای: ۱۳٦۹لمریز وری/۱۹۹۰م اګست، منځپانګه: د حزب اسلامی فعالیتونه او د افغانستان پیښې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *هفته نامه*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٦لمریز د وری ۵مه/۱۹۸۷م د اګست ۲۷مه، بن، آلمان، خپرندوی او امتیاز: په بن کې د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: ۲-۳ زره ګنې، د خپرونې دول: اونیزه خبري جریده، دوه رنګه، ٤-۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳٦۹لمریز د غبرګولي ۹مه/۱۹۹۰ د مې ۳۰مه، منځپانګه: د افغانستان او حزب اسلامی په اړه خبرونه.

## ۳- د افغانستان د آزادو لیکوالو اتحادیه

د افغانستان د آزادو لیکوالو ټولنه د هیواد د فرهنګي او څېړنیزو مرکزونو څخه یو دی چې په ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م کال یې خپل فعالیتونه، په پېښور کې پیل کړي دي، په دغه اتحادیه کې د افغانستان پخواني موئارشي ته متمایل، لیکوالان را ټول شوي دي، او دیو شمیر لیکوالو کتابونه یې هم خپاره کړي دي، دغه اتحادیه په هیڅ ګوند پورې مربوط نه ده او داوی نه غواړي چې په هیڅ ډله او یا شخص تیری وکړي... سور هیله لرو حقایق لکه څنګه چې دي هغسې ووایو...(۳۱)

د دې اتحادیې نوري خپرونې پر کتابونو برسیره دادي:

د خپرونې نوم: *خپلواکي*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پېښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د آزادو لیکوالو اتحادیه، مسوول مدیر: پروفیسور عبدالرسول امین، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: دری میاشتنی مجله، دوه رنګه، ۱۳۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲٤X۱۵ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟ منځپانګه: علمي تاریخي، سیاسي او ادبي مجله.

د خپرونې نوم: *وفا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م، پېښور خپرندوی او د امتیاز خاوند: د آزادو لیکوالو ټولنه/پروفیسور عبدالرسول امین، مسوول مدیر: نه لري، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنې، د خپرونې دول: میاشتنی خبري رپوټ، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۷ لمریز ۱۹۹۸م کال، منځپانګه: راپورونه خبرونه او د افغانستان له شخصیتونو سره مرکې.

### ٤: د افغانستان د جهادی څیړنو مرکز

دغه سازمان په ١٣٦٤ لمریز/١٩٨٥م، په پیښور کې د ډاکټر فاروق اعظم او یو شمیر لیکوالانو لخوا چې له مختلفو تنظیمونو سره یې اړیکې درلودې جوړ شو. د دې مرکز د جوړېدو هدف د افغانستان د جهاد د مختلفو اړخونو په اړه څیړنې او تحقیقات وو، د سیاسي پېښو تحلیل، د تاریخي ورځو نمانځنه او په شعر او ادب څیړنه او نقد یې د مهمو کارونو څخه وو، دغه مرکز په 'قلم' مجلې برسیره یو شمیر کتابونه هم خپاره کړي دي.

د خپرونې نوم: *قلم*

پیلیز کال او ځای: ١٣٦٥لمریز/١٩٨٦م پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د جهادی څیړنو مرکز، لیکوال هیأت: حبیب الله رفیع، توریالی ځاځی، عارف غروال، شمیر: ١٥٠٠ ګنې، د خپرونې ډول: مجله دری میاشتنې، دوه رنګه، ٨٠ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٢٥×١٧ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ١٣٦٩لمریز/١٩٩٠م، سنځپانګه: په سیاسي اجتماعي او فرهنګي اړخ کې تحقیقي مقالې.

### ٥- د افغانستان اسلامي فرهنګي مرکز

دغه مرکز په ١٣٦٩لمریز/١٩٩٠م سپتمبر کې په پیښور کې جوړ شو، د دغه مرکز اساسي هدف د اسلام د فرهنګي ارزښتونو ساتنه او دافغانستان د فرهنګ په ټولو ابعادو کې یې ځلونه ده، دوی په دې اړه زیاتې او پرلپسې هڅې کړې دي. فرهنګي مرکز مختلف سیمینارونه دایر او سمعي او بصري مختلفې روزنیزې برنامې یې پلې کړې، مختلف دیني او روزنیز کتابونه یې خپاره او د انقلابي ترانو کستونه یې خپاره کړل، بالاخره هغوی د پیغام په پنځلس ورځني جریده هم خپره کړه، چې دا ټول د دوی اساسي کارونه وو، دغه مرکز مختلفو جهادي ګوندونو ته دمنسوبو لیکوالانو لخوا د ګوندي تعصوبونو څخه بیل د سعودي عربستان په مالي مرستو اکمالیږي.

دغه مرکز په ١٣٧٢لمریز کال د لړم ٧مه/١٩٩٣م د نومبر لومړی انتخابات وکړل او حسبنا الله متوکل د رئیس، هارون خطیبي د فرهنګي چارو مسوول او عبدالناصر شفیق، حافظ محمد بشیر، محمد الـ حق نیازي، فضل هادي وزین، غلام حبیب شهید او صفت الله قانت یې د اجرائیه شوری دغړیو په توګه غوره شول، فرهنګي اسلامي مرکز د مجاهدینو له برې وروسته په جلال آباد اوکابل کې خپلې نمایندګۍ پرانستلې خو د رباني د رژیم لخوا یې مرسته ونه شوه او د فعالیت ساحه یې محدوده پاتې شوه، دغه سازمان اوس بطي فعالیت لري.

اوس دغه مرکز د مستقبل په نامه مجله خپروي چې په سعودي کې د یو شمیر محصلینو د مرستو په

پانگه چلیږی او د لیکوالو شورئ مشر یې صفت الله قانت او مسؤول مدیر یې نصیر احمد نوید دی.
د خپروني نوم: *پیغام*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز د تلی ۱۸مه/۱۹۹۳م د اکتوبر لسمه، پیښور، خپرندوی او امتیاز: فرهنگی، اجتماعی او سیاسی، پنځلس ورځنی، مسوول مدیر: د لیکوالو شوری تر نظر لاندی، شمیر: دوه زره ټنی، د خپروني ډول: پنځلس ورځنی جریده، یو رنگ، تصویری، ٤–۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X٤۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۵لمریز دلړم ۲۱مه/۱۹۹٦م د نومبر ۱۲مه، منځپانگه: سیاسی، تولنیزی فرهنگی مقالی، د ځوانانو–ماشومانو او ښځو لپاره د ځانگړیو مخونو سره.

## ٦– د افغانستان د جهادی آثارو د ترجمې کانون

دغه موسسی په ۱۳٦۵لمریز/۱۹۸٦م کال په پیښور کی خپل فعالیت پیل کړ، موسس او چلوونکی یې پوهاند محمد یوسف علمي دی. د افغانستان د جهادی آثارو د ژباړی مرکز (کانون) د جوړیدو څخه تر اوسه د نړی په مختلفو منابعو کی د افغانستان د جهاد په اړه تبصری او راپورونه چی پر افغانستان د شوروی د تیری په اړه لیکل شوی دی په پښتو او دری ژبو ژباړلی او د مهاجرینو او مجاهدینو خدمت ته یې وړاندی کړی دی او هغوی یې د وروستیو جریاناتو څخه باخبر ساتلی دی. (۳۲)

دغه مرکز (کانون) په خپله میاشتنی خپرونه برسیره لاندی کتابونه هم خپاره کړی دی:

۱: (رویداد های جهاد افغانستان د پوهاند علمي تألیف)

۲: په افغانستان کی د بشر د حقوقو په اړه د ملگرو ملتونو د سازمان راپورونه (پروفیسور فیلکس ارمکورا)

۳: تاثیر جهاد افغان بر آسیای میانه د پروفیسور بنگس وشانتل لمرسیر (انگلیسی)

٤: د افغانی جهاد اغیزه په روسی تولنه د تراس کوزیو لکینه.

۵: نفوذ روس بر جوانان افغان د امریکا بهرنیو چارو راپور.

٦: پایمالی حقوق بشر در افغانستان، د المان مسیحی دیموکرات گوند را تولونه.

۷: د افغانستان په اړه د گورباجوف دریځ د مارین ستریکی لیکنه.

۸: افغانستان در آتش (له روسی افسرانو او سرتیرو سره مرکی)

۹: نگاه مختصری بر شوروی سازی معارف افغانستان (پوهاند علمی اثر)

۱۰: جینوا تړون

۱۱: افغانستان (۱۹۸٦–۱۹۸۷م) پروفیسور ستاهل او پاول بوشرر.

۱۲: افغانستان (نظامی او سیاسی راپورونه) د پوهاند علمی تألیف.
۱۳: دجینوا تړون د افغانستان له برخلیک سره لوبی روزان کلس.
۱٤: افغانستان او دشوروی جوړولو لسیزه (د مقالو مجموعه په انګلیسی)
۱٥: څو ګوندی کمونست آرنلډو کلس
۱٦: افغانستان له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۷م پوری ماریک سیلونکی.
۱۷: افغانستان - تیری او شاته تګ - د امریکا بهرنیو چارو وزارت.
۱۸: افغانستان او د شوروی بهره برداری او طبیعی زیرمی د نواب اصفی او جان شرودر تالیف.
۱۹: افغانستان (۱۹۸۸-۱۹۸۹م) البرت ستاهل او پاول بوشرر.

د خپرونی نوم: *افغانستان در مطبوعات جهان*
پیلیز کال او ځای: ۱۳٦٥لمریز وری/۱۹۸٦م مارچ، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جهادی آثارو د ژباړی مرکز، مسوول مدیر: دوکتور محمد یوسف علمی، شمیر زر ګنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله په یوه رنګ کی. ژبه: دری، کچه: ۱۸X۲٤ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۱لمریز حمل(۱۹۹۲مارچ، منځپانګه: د بهرنیو ژورنالستانو راپورونه او یا د د افغانستان په اړه بهرنیو دله ئیزو وسایلو راپورونه.

## ۷- د افغانستان د اسلامی دایرة المعارف انجمن

د افغانستان د اسلامی دایرة المعارف انجمن د فرهنګی ارګانونو څخه یو دی چی د یو شمیر اهل نظرو او لیکوالانو لخوا چی له حزب اسلامی افغانستان څخه بیل شوی وو جوړ شو. دا هغه کسان وو چی د کمونستانو او وروسته دروسانو پر خلاف یی مبارزه او جهاد پیل کړی ؤ. کله چی یو شمیر سیاسی شخصیتونو، علماؤ او لیکوالانو حکمتیار ته نژدی د یو شمیر کسانو د غیر مسوولانه کړو وړو پر خلاف عکس العمل وښود دغه سازمان یی پریښود خو ځانونه یی د افغانستان د اسلامی نهضت میراث خواره بلل ارام نه کښېناستل او دغه فرهنګی سازمان یی جوړ کړ تر څو تول د جهاد اسناد او شواهد را تول او د افغانستان د جهاد د دایرة المعارف په نامه یی خپاره کړی. د دی سازمان لوړ کسان او د شورا غړی لاندی کسان وو: قاضی نجی الله، ډاکتر محمد حنیف، محمد زمان مزمل، انجنیر عبید الله سیرت او قاضی محمد حکیم، دغه انجمن تر ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م پوری دوام وکړ خو ونه توانیدل چی دایرة المعارف بشپړ او خپور کړی. د دوی یو شمیر غړیو د ربانی له اداری سره سیاسی ائتلاف وکړ تر دی چی که د ربانی تر نظارت لاندی د حزب اسلامی معادل حزب جوړ کړی، د انجمن کارونه نیمګړی پاتی شول.

تحریکیان یوازی د حزب اسلامی غړی نه وو بلکی د جمعیت اسلامی او اتحاد غړی هم پکی وو انجنیر احمد شاه احمد زی او سخیداد فایز یی مثالونه دی.

د خپرونی نوم: *هدف*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۰لمریز/۱۹۹۱م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان اسلامی تحریک، مسوول مدیر: دلیکوالو شوری، شمیر: زرګنی، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی را پوری جریده، یورنګ، ٤-۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۰×۵۸، د خپرونی د کار پای: ؟ منځپانګه: د افغانستان په اره تحلیلی سیاسی، اجتماعی او انتقادی مقالی.

یادونه: دافغانستان اسلامی تحریک له حزب اسلامی څخه بیله شوی ډله ده چی په ۱۳٦۹ لمریز/۱۹۹۰م بی د روښانفکرانو تولنه جوړه کړه تر څو دافغانستان د فرهنګی چارو په اړه څیړنه وکړی. کله چی برهان الدین ربانی واک ته ورسید د دوی یو شمیر له دولت سره همکاری وکړه او دولتی پستونو ته ورسیدل.

## ۸- افغان اطلاعاتی مرکز

دغه مرکز د پوهاند داکتر بهاؤ الدین مجروح چی د کابل پوهنتون د لوړو استادانو له جملی څخه شمیرل کیږی په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۵م کال په پیښور کی جوړشو. ددغه مرکز د جوړولو څخه هدف د خبر ترلاسه کول او د نړی رسنیو اطلاعاتی شبکو ته ورکول وو. همدارنګه بی د افغانستان په اړه د بهرنیو لیکوالو مقالی او تحلیلونه په پښتو او دری ژباړل، د دی مرکز میاشتنی خپرونی په دری، پښتو او انګلیسی راپورونه خپرول، فعلاً افغان اطلاعاتی مرکز د افغانستان په نامه په دری واړو ژبو مجله خپروی.

د خپرونی نوم: *افغانستان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، پیښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: پروفیسور داکتر سید بهاو الدین مجروح، مسوول مدیر: سید نعیم مجروح، شمیر: یوزر او پنځه سوه ګنی، د خپرونی دول: مجله، میاشتنی، رنګه پښتی، تصویری په ۸۰-۱۰۰ مخونو کی، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: سیاسی، تولنیزی او تاریخی مقالی، مرکی، راپوروونه، شعر او داستان.

د خپرونی نوم: *افغان اطلاعاتی مرکز* ***Afghan Information Center***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م، پیښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: پوهاند داکتر سید بهاو الدین مجروح، مسوول مدیر: سید نعیم مجروح، شمیر: زرګنی، د خپرونی دول: خبری میاشتنی جریده، ژبه: انګلیسی کچه: ۲۱×٤۲ سانتی متره، دوه رنګه: د خپرونی د کار پای: ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م، منځپانګه: په افغانستان کی د جګړی خبرونه او راپورونه.

## په افغانستان کې د نړۍ بشري سازمانونه

د ثور داوړي له کودتا څخه وروسته په ځانګړې ډول کله چې روسانو عملاً په افغانستان یرغل وکړ د نړیوالو پام د افغانستان قضیې ته زیات شو، اود افغانستان خلک یې د کمونیزم پر خلاف مقاومت او جهاد ته وهڅول، په ملیونونو تنه افغانان د هیواد ګاونډیو هیوادونو ته په هجرت مجبور شول، نړیوالو بشري سازمانونو په مختلفو برخوکې د افغان کډوالو سره مرستې وکړې د افغانستان او پاکستان د سرحد په اوږدوکې په تیره بیا د پیښور اوکویټې په ښارونوکې یې مرکزونه جوړکړل چې په فرهنګي اړخ کې یې هم همکاري کولې، دغه مفصل باب د همدې اثر د لیکوال په (افغانستان په ۱۹مه او ۲۰مه پیړۍ کې) لوستی شی.

# د افغانستان مهاجر

## لیکوالان، شاعران او ژورنالستان

شاعران، لیکوالان او ژورنالستان، دافغانستان د جهاد په دوران کې یوه ځانګړې ډله جوړوله، چې د ډلو د ننیو اختلافاتو او ګډوډیو په منځ کې بیا هم پردې وتوانیدل چې د قلم مسوولیتونه په نافذ شویو محدودیتونو کې په بری سرته ورسوي. په دې ډله کې هغه فرهنګي شخصیتونه چې زموږ تو لنه یې له نامه سره آشنا وه له هغو نویو او ځوانو لیکوالانو سره چې د اسلامي فرهنګ په چوکاټ کې د جهاد او مبارزې په دوران کې جوړ شول یو ځای وو، دوی مبارز، د حوصلې خاوندان او با استعداده کسان وو او دی، دغه ډله کیدای شي چې په خپلو لیکنو او فرهنګي کارنامو د دې دورې د تاریخ بیانوونکې وشمیرل شي، د دې فرهنګي شخصیتونو فرهنګي آثار او ثمر باید د ژورنالیزم، شعر، داستان، مقالې، طنز، تاریخي څېړنو په ځانګړیو اړخونو کې هر یو بیل بیل وڅېړل شي او بحث پرې وشي.

ما دژورنالیزم په اړه دغه برخه جلا څېړلې ده او دا چې ژورنالیزم څومره په مسلکي بنیادونو کار کړی دی او څومره بازاري؟ ما د همدې کتاب په وروستیو پاڼو کې ځای ورکړی دی. (۳۳)

## آذرخش ٫ سرور

سرور آذرخش د افغاني شاعرانو او داستان لیکونکو څخه یو دی. چې په ۱۳۲۷ لمریز٫۱۹۴۸م کال د مزار شریف په ښار کې زیږیدلی دی. د باختر لیسه یې په همغه ښار کې په ۱۳۴٦لمریز٫۱۳٦۷م کې سرته رسولې او په ۱۳۴۹لمریز٫۱۹۷۰م کال د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ شوی دی. نوموړی څه موده د مزار شریف د "بیدار" ورځپاڼې سره همکاري وکړه د ثور د اوښې له کودتا څخه وروسته یې له کار څخه لاس واخست او زیات کلونه یې په پیښور کې هستوګنه درلوده، تر اوسه دده یوه شعري ټولګه د"سینای تلخ حجم مصیبت" په نامه په ۱۳۷٦لمریز٫۱۹۹۷م کال په پیښور کې خپره شوې ده.

## اڅکزی٫محمد حسن

محمد حسن اڅکزی د افغانستان یو څېړونکی لیکوال دی چې په ۱۳۱۲ لمریز٫۱۹۳۳م کال په کندهار ښار کې زیږیدلی دی، خپلې زده کړې یې د احمد شاه بابا په لیسه کې پای ته ورسولې او ۱۳۴۵لمریز٫۱۹٦٦م کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي "د فلسفې او منطق" له څانګې څخه فارغ

شو، پنځه کاله د "میرویس نیکه" په لیسه کې ښوونکي ؤ، وروسته بیا د کابل په نادریه لیسه کې مقرر شو، په ۱۳۵۰ لمریز/۱۹۷۱م کال یې د پښتو د پراختیا په ریاست کې دغړي په توګه په کار پیل وکړ، بیا په انیس ورځپانه کې د پښتو د ځانګې آمر ؤ د روسانو له تیرې سره هغه هیواد پریښود او المان ته یې پناه یو وړه. د اڅکزي آثار دادي:

۱- اسلام یوازې عبادت نه دی.

۲- معنوي انسان او که مادي انسان.

۳- ایمان یا عقیده او که عقل یا علم؟

## احمدزی، محمد جان

استاد محمد جان احمدزی په ۱۳۲۶لمریز/۱۹۴۷م کال د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالي د سرخاب په دره کې زیږیدلی، لومړنۍ ښوونځی یې په خپله سیمه کې په ۱۳۴۰لمریز/۱۹۶۱م کې سرته رسولی، منځنۍ زده کړې یې دابن سینا په لیسه او عالي یې د ابو حنیفه (رح) په عالي مدرسه کې پای ته رسولي په ۱۳۴۷لمریز/۱۹۶۸م کال دشرعیاتو په پوهنځي کې شامل او په ۱۳۵۱لمریز/۱۹۷۲م کې ترې فارغ شو او د حدیثو په څانګه کې داستاد په توګه وټاکل شو، همدا رنګه یې داسلام د تاریخ موضوعاتو ته هم مخه وکړه، احمد زی په ۱۳۴۸لمریز/۱۹۶۵م د ځوانانو داسلامي نهضت غړیتوب ترلاسه کړ او کله چې جمعیت اسلامي جوړ شو ده د دغه سازمان د فرهنګي چارو مسوولیت په غاړه واخست. احمد زی پرلپسې د کابل پوهنتون مجلو، شرعیات، قضاء اردو او پیام حق ته مقالې لیکلې، د جهاد په وخت کې د مجاهد جریدې، میثاق خون، شهید زیري، شهید پیغام، صوت الجهاد، النفیر العام او قیام حق د مجلو له لیکوالانو څخه ؤ.

آثار یې:

۱- د اسلام لار د شهید سید قطب د کتاب پښتو ژباړه. ۲- الجهاد في الاسلام (عربي). ۳- العده في الشریعه الاسلامیه (عربي). مشکوة المصابیح (ژباړه) دري.

د ژباړن یادونه: احمد زی د ۱۳۷۱ لمریز کال په لومړیو کې په هجرت کلي کې د نامعلوموکسانو لخوا شهید کړای شو.

## احمدی، محسن

محمد محسن احمدي د ځوانو افغاني داستان لیکونکو څخه یودی چې په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷۴م کال د پروان ولایت په ترکمن دره کې زیږیدلی دی، دیني علوم یې زده کړل او د کمونستانو لخوا دثور د اوسی

کودتا څخه وروسته له مجاهدینو سره یو ځای شو. او بالاخره مشهد ته په هجرت ولاړ، نوموړی له ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م کال څخه را په دې خوا داستانونه لیکلي دي او د بنیاد وحدت اسلامی په جریده کې د ادبي کارونو په برخه کې بوخت دی.

## ارشد ارشاد

ارشد ارشاد د مولوی محمد غوری زوی په ۱۳۳۹ لمریز/۱۹٦۰م کې د لرغوني هرات په یوه دیندار کورنۍ کې زیږیدلی دی. نوموړی په ۱۳۵٦لمریز/۱۹۷۷م کال کې د هرات د فخرالمدارس مدرسې څخه فارغ او د کابل د شرعیاتو پوهنځي کې شامل شو، خو د رژیم داختناقي شرایطو له امله د تعلیم پرېښودلو ته اړشو او د مجاهدینو د مقاومت له لیکو سره یو ځای شو، نوموړی چې د زلمی توب څخه د اتفاق اسلامی ورځپاڼې ته د مضامینو په لیکلو د لیکنې او ژورنالیزم ډګر ته ننوتلی ؤ د مجاهدینو په فرهنګي څانګه کې یې هم فعالیت وکړ او یو شمیر آثار یې ولیکل، څه موده وروسته بیا پاکستان ته راغی او د هغې مینې له امله چې له تعلیم سره یې درلوده د ماسټرۍ دوره یې د پنجاب په پوهنتون کې د (اسلامیاتو) په څانګه کې پای ته ورسوله، د ارشد ارشاد آثار دا دي:

۱- مسلمین در باز گشت به قرآن. ۲- نگرشی کوتاه بر انقلاب اسلامی افغانستان. ۳- در دری. ٤-جهاد در راه خدا، له عربي څخه په دري ژباړه. ۵- تجوید و علوم قرآن (ژباړه). ٦- برنامه اسلام (د امام حسن البناء د رسایلو ټولګه ژباړه). ۷- روز های زندګی من (د زینب الغزالي د خاطراتو ژباړه)

نوموړی په دې برسیره شهادت ورځپاڼې، راه حق جریدې شفق او سیمای شهید مجلو او یو شمیر ایراني ورځپاڼو ته مقالې لیکلې دي.

## اصیل/ایوب

ایوب اصیل د جهادي دورې د پرکاره لیکوالانو څخه دی چې په ۱۳۲۲لمریز/۱۹٤۳م، کال په کابل کې زیږیدلی دی، لیسه یې په ۱۳٤۰لمریز/۱۹٦۱ کې اولیسانس یې د پولیسو په څانګه کې په ۱۳٤۳ لمریز/۱۹٦٤م کې او ماسټرۍ یې د جنايي حقوقو په څانګه کې له مصر څخه په ۱۳۵۱لمریز/۱۹۷۲م کې ترلاسه کړې دي، نوموړی د هیواد په امنیتي اداره کې هم کار کړی دی او د "پولیس" مجلې د مسوول مدیر او د "پولیس خدمتګار مردم" رادیو یې پروګرام چلوونکی هم ؤ، اصیل څه موده حقوقي مشاور او د پاسپورټ د آمر په حیث په داخله چارو وزارت کې کار کړی دی د ثور له کودتا څخه وروسته یې پاکستان ته پناه راوړه، د مجاهدینو له سازمانونو سره یې فرهنګي همکاري پیل کړه، نوموړی د فرهنګي مشاور او د محاذ جریدې مسوول مدیر په توګه چې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو خپریده هم خدمت کړی دی،

اصیل د جنایي حقوقو په مختلفو اړخونو څو اثره لیکلي دي چې له جملې څخه.

۱- تحقیقات جنایي علمي. ۲- جرم و مطبوعات. ۳- نظري بر حقوق جزای عمومي و خصوصي، دیادولو وړ دي.

## اعزامي/سیدعمر

سید عمر اعزامي د محمد عمر زوی په ۱۳۳٤لمریز/۱۹٤۵م کال د بغلان ولایت په نهرین علاقه داري کې نړۍ ته راغی، او په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷٤م کال د لیسې له زده کړو پای ته رسولو وروسته د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځۍ کې شامل شو، په ۱۳۵٦ لمریز/۱۹۷۷م کال ترې فارغ شو او په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال پېښور ته مهاجر شو، هغه چې له پخوا نه د حزب اسلامي غړیتوب درلود د هغه سازمان په قضایي کمیټه کې وګومارل شو. په ۱۳۵۸لمریز کال سلواغه/۱۹۸۰م کال جنورۍ کې د حزب اسلامي د راډیو یې خپرونو د امر په توګه وټاکل شو او شپږ میاشتې یې د زابل په ولایت کې (اعلی جرګه) کې دنده ترسره کړه، وروسته بیا د شهادت ورځپاڼې د مسوول مدیر په حیث وټاکل شو، کله چې د مجاهدینو دولو ترمنځ اتحاد را منځته شو او فرهنګي اداري یو پربل کې ادغام شوې اعزامي د فرهنګي کمیسون د غړي په توګه کار ته دوام ورکړ، هغه تر ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م پورې په جلال آباد، چار آسیاب او پېښور کې د حزب اسلامي په خپرنیو او تبلیغاتي ارګانونو کې مهم رول درلود، شفق او پیام زن مسلمان مجلو او شهادت ورځپاڼي ته یې مقالې لیکلې، یو کتاب یې د ویژه ګي های تشکل اسلامي، په نامه تر اوسه پورې خپور شوی دی.

## اعظم/فاروق

غلام فاروق اعظم د ۱۳۲۲لمریز لیندی په ۲۲مه/۱۹٤۳م د دسمبر په ۱۳مه د کندهار په ښار کې زیږېدلی دی، لومړنی زده کړې یې په محمدیه مدرسه کې پیل او د کندهار په نورو مدرسو کې پای ته ورسولې او بیا کابل ته راغی د اقتصاد په پوهنځۍ کې شامل شو، د زراعت په څانګه کې یې د بیروت له امریکا یې پوهنتون څخه ماستري واخسته او په لندن کې د دکتورا په اخستلو بریالی شو، نوموړی یوه موده د مصر د اسوان په بند او د جفر په دره چې د "فورد فونډیشن" لخوا اداره کېدل کار وکړ، د داود په دوره کې کابل ته راغی او د تره کي په دوره کې جیل ته ولاړ، په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م کال د بندیانو د خوشې کېدو په پروګرام کې فاروق اعظم هم ؤ چې د څرخي پله جیل څخه خوشې شو کندهار ته ولاړ او هلته یې یوه موده عملاً د روسانو دتیري پر خلاف له مجاهدینو سره همکاري وکړه او پېښور ته یې هجرت وکړ، نوموړي داسلامي ملي محاذ غړیتوب ترلاسه کړ او د پیر سید احمد ګیلاني د مرستیال په توګه یې په چارو لاس پورې کړ، خو د مجاهدینو له نورو ډلو سره یې هم نیکې اوښې اړیکې وساتلې، ډاکټر فاروق

اعظم د مجاهدینو په منځ کې په لویو لویو منصبونو ټاکل شوی دی. د ډاکټر فاروق اعظم آثار دادي:

۱: د افغانستان مجاهدین ولې بې اتفاقه دي؟

۲: سرمایه داري او سوسیالیزم.

۳: افغانستان تولو ته یو درس او ازموینت.

د ژباړن یادونه: د ډاکټر فاروق اعظم تر ټولو مهم کار د جهاد په دوران کې د افغانستان د جهادي څېړنو د مرکز تأسیس او دقلم مجلې خپرول دي چې په خپل وخت یې ارزښتناک کار کړی دی او د جهاد دزیات اسناد یې خوندي کړي دي.

## الفت/عزیز الرحمن

عزیز الرحمن الفت د مرحوم ګل پاچا الفت زوی په ۱٤۱٥لمریز/۱۹۳٦م کال د کاپیسا ولایت په کوهستان کې زېږېدلی دی، د الفت کورنۍ د لغمان د قرغه یې له قومونو څخه دی، نوموړي خپل تحصیلات په لغمان او وروسته د کابل په حبیبیه لیسه کې پای ته رسولي دي، په ۱۳۳٥لمریز/۱۹٥٦م د حقوقو په پوهنځي کې شامل شو، په ۱۳۳۹لمریز/۱۹٦۰م، کال ترې فارغ شو، نوموړي پر اداري ماموریت برسېره انیس او اصلاح ورځپانو ته مقالې هم لیکلې، په ۱۳٤۳/۱۹٦٤م کال امریکا ته ولاړ او دهغه هیواد د انډیانا له پوهنتون څخه یې په اداره عامه کې ماستري واخسته، الفت بېرته افغانستان ته له راستنېدو سره په کندهار، پروان، کاپیسا او فاریاب کې دښاروال په توګه دندې ترسره کړې.

د ثور له کودتا سره سم د داخله وزیر فیض محمد په امر بندي کړای شو او چې کله د ۱۳٥۷لمریز په لیندۍ/۱۹۷۸م نومبر کې له جیل څخه خوشې شو پېښور ته مهاجر شو او د پېښور او اسلام آباد له راډیو سره یې د تبصرو او تحلیلونو په برخه کې همکاري پیل کړه، الفت په پېښور کې د "انتقام اسلامی" ګوند جوړولو هڅه وکړه خو ونه توانید چې دوام ورکړي، یونیم کال یې د مولوي خالص او پیر ګیلاني له تنظیمونو سره همکاري وکړه، همدارنګه هغه یوه موده دافغانستان په نامه پنځلس ورځنۍ جریده خپره کړه، الفت په ۱۳٦۲لمریز د وږي په ۲۹مه د ۱۹۸۳م په سپتمبر کې په پېښور کې شهید کړای شو.

د عزیز الرحمن الفت آثار: ۱–کودتای کمونستی در افغانستان. ۲– جهاد و دست های پشت پرده. ۳–اسلامی انتقام. ٤– آینده زعامت در افغانستان.٥– بحران افغانستان (په دري، عربي او اردو ژبو) ٦–فرستاده ګان روس در پشاور. ۷– افغانستان سرزمین سردها، جنګ هاوکوه ها. ۸– سیاسي لوبې.

## بشارت/محمد نذیر

محمد نذیر بشارت د حزب اسلامي د لیکوالو او مطبوعاتي مسوولینو څخه یو دی، نوموړی ۱۳٤۰لمریز/۱۹٦۱م د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالۍ کې زېږېدلی، خپلې زده کړې یې د سیمې په

لیسه کې کړې خو د شخصي او ځانګړي مطالعې په سبب پردې و توانیدچې د لیکوالي سطحه یې او چته شي، نوموړی د اوه ګوني اتحاد د وحدت اسلامي ورځپاڼي مسلکي غړی او وروسته بیامسوول مدیر شو وروسته بیا د شهادت ورځپاڼي مسوول مدیر شو، د قیام حق، شهید پیغام او شفق مجلو ته یې مضامین لیکل، وروسته یې سیاشتني حریت مجله خپروله، په کابل کې د طالبانو په لاس د حزب اسلامي له ماتې وروسته بشارت لندن ته ولاړ او هلته یې پناه واخسته.

د ژباړن یادونه: محمد نذیر بشارت په دې برسیره د حزب اسلامي افغانستان مربوط د پیام آزادی رادیو او تلویزیون مسوولیت هم پرغاړه درلود، همدارنګه نوموړی د سهار ورځپاڼي دمؤسسینو له جملې څخه دی چې لنډه موده یې سرمحرر هم ؤ.

## بلخي، میرزا حسین

سید میرزا حسین (م، سیلاد) بلخي د اوسینو لیکوالانو او داستان لیکونکو څخه یو دی چې په ۱۳۴۸لمریز / ۱۹۶۹م کال د جوز جان په بلخاب ولسوالي کې زیږیدلی دی، په ۱۳۵۹لمریز / ۱۹۸۰م ایران ته مهاجر شو او یو کال وروسته یې په قم کې د دیني علومو په زده کړه لاس پورې کړ، چې تر اوسه دوام لري، نوموړی د داستانونو او مقالو په لیکلو هم پیل کړی تر اوسه پورې یې د (سوره بچه های مسجد) په نامه اثر خپور شوی دی.

## بیرنګ، ګل آغا

ګل آغا بیرنګ یو صوفي مشرب به او تصوفي شاعر دی چې زیاتره آثار یې نورو ته د تصوف ورزمې خوروي، نوموړی په ۱۳۱۱لمریز/۱۹۳۲م کال د کابل ولایت د کوهدامن په قره باغ کې زیږیدلی دی، لیسانس یې د اداره تربیه معلم څخه ترلاسه کړی دی، ادبي فعالیتونه یې د ۱۳۴۰لمریز/۱۹۶۱م څخه پیل شوي دي، د شعر په زده کړه کې داستاد بسمل شاګرد ؤ. بیرنګ د ښوونې په وزارت کې د لیسو تر مدیریت پورې هم کارکړی دی او د نهضت جوانان، د مخکښو کسانو له جملې ګڼل کیږي نوموړی د ثور له کودتا څخه وروسته جیل ته ولوید، یونیم کال یې د څرخي پله په جیل کې تیر کړل او دول دول شکنجې یې وزغملې، کله چې په ۱۳۵۸لمریز مرغومي / ۱۹۸۰م جنورۍ کې د نورو بندیانو سره یو ځای له جیل څخه خوشې شو پنجشېر ته ولاړ او هلته یې عملاً په جبهاتو کې فعالیت پیل کړ، خو هغه د زده کړو او روزنې چارو ته زیات تمایل درلود پیښور ته ولاړ په جمعیت اسلامي افغانستان کې یې د تعلیم او تربیې د آمر په توګه دنده اجراکوله، د اوه ګوني اتحاد په وخت کې د تعلیمي نصاب د آمر په توګه وټاکل شو او د درسي کتابونو په ترتیب او لیکلو کې یو فعال غړی ؤ چې د اتحاد له ستحل کیدو څخه وروسته یې تریونیم

کال پورې دغه د تعلیمي نصاب مرکز فعال ساتلی ؤ، د اتحاد په اړه یې له جمعیت اسلامي سره د نظر اختلاف راغی او یوه موده په کور کښیناست وروسته یې د حزب اسلامي د ارشاد او فرهنګ په کمیسون کې دتاریخ تولنې د آمر په توګه له سره کار پیل کړ، د نوموړي دوې شعري ټولګې د نغمهٔ بسمل او (        ) په نامه خپرې شوې دي.

## پیام/علي

علي پیام د فولکلوري داستانونو نوی لیکوال په ۱۳٤٤لمریز/۱۹٦٥م کې د ارزګان ولسوالي په دایکندي کې نړۍ ته سترګې وغړولې، دیني علوم یې دهغه ولایت په مدرسو کې سرته ورسول په ۱۳٦۲لمریز/۱۹۸۳م کې ایران ته مهاجر شو او د دیني علومو په زده کړه بوخت شو، په ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م کې یې د فرهنګ او ادب په څانګه کې دیپلوم واخست، نوموړي د مرکزي سیموفو لکلوري داستانونه په دري (هزاره ګي) لهجه لیکلي د داستانونو یوه ټولګه یې د افغاني مختلفو لیکوالانو د داستانو څخه راټوله کړې ده او په مشهد کې د افغانستان د لیکوالو اتحادیې له خوا چاپ شوې ده.

## پژواک/عبدالرحمن

عبدالرحمن پژواک د افغانستان د مشهورو لیکوالو او شاعرانو څخه دی، چې په ۱۲۹۸لمریز/۱۹۱۹ کال په غزني ولایت کې زیږیدلی، لومړنی زده کړې یې له خپل پلار قاضي عبدالله خان څخه کړې، وروسته په (مطلع دانش) ښوونځي کې شامل شو، کله چې کابل ته راغی په ۱۳۰۸لمریز/۱۹۲۹م کال په حبیبیه لیسه کې شامل شو تر فراغت وروسته د طب په پوهنځي کې شامل شو خو له تاریخ او ادبیاتو سره یې مینه زیاته وه کله یې چې پلار وفات شو په طب څانګه کې یې خپلې زده کړې پریښودې او د کابل په ادبي انجمن کې د ژباړن په توګه وټاکل شو، څه موده د اصلاح ورځپاڼې مسوول مدیر او یوه موده د باختر خبري آژانس مسوول مدیر ؤ، پژواک وروسته د سیاسي چارو جریان ته ولوید او په لندن کې د سفارت د دوهم سکرتر په توګه وټاکل شو، د کار او کارګر په نړیواله موسسه کې یې دنده سر ته ورسوله، یوه موده په لندن او واشنګټن کې د افغانستان د سفارت فرهنګي آتشه هم ؤ، یوه موده بیا په کابل کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د دریمې څانګې سیاسي مدیر ؤ، څه موده په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دایمي نماینده په توګه نیویارک ته ولاړ، څه موده په هند کې د افغانستان سفیر ؤ د ثور د اوومې له کودتا وروسته چې کمونستان واک ته ورسیدل نوموړي له دندې څخه استعفا ورکړه او کابل ته راغی خو ده ته چې د کمونستانو مخالف ؤ شرایط ډیر سخت شول، د ناروغۍ په پلمه هند ته ولاړ او له هغه ځایه په ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م امریکا ته ولاړ، نوموړی د افغانستان د جهاد له داعیونو څخه ؤ یو شمیر لیکنې او آثار

ېې له ځانه پرېښودل، پژواک په ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م د اجل داعي ته لبیک ووایه، د نوموړي له آثارو څخه ۱-گل های اندیشه، ۲- افسانه های مردم، ۳- حدیث خون، دي.

د ژباړن یادونه: استاد پژواک د نړۍ د مشهور لیکوال خلیل جبران د (پیغمبر) مشهور اثر په درې د (پیشوا) په نامه ژباړلی دی چې یوځل د محمد ظاهر شاه او بل ځل په ۱۹۹۷کال په پېښنور کې خپور شوی دی. پر دې علاوه په جهادي آثارو کې د استاذ پژواک یو آزاد اوږد شعر د (ناهید نامه) په نامه چې د کابل د اتلې ناهیدې د حماسې په یاد لیکل شوی دی او په "سپیدې" ادبي مجله کې خپور شوی دی د جهادي شهکار اثر په حیث ارښښت لري.

## پسرلی/صدیق

محمد صدیق پسرلی د هیواد له پیاوړیو لیکوالانو او شاعرانو څخه یو دی چې په ۱۳۰۷لمریز/۱۹۲۸م کال د غزني په قره باغ ولسوالۍ کې زیږېدلی او په اوه کلنۍ یې له خپلې کورنۍ سره د کندز ولایت خان آباد ولسوالۍ ته تللی او مېشت شوی دی. پسرلی د هغه استعداد له مخې چې په لیکوالۍ او شاعرۍ کې یې درلود سره له دې چې د زده کړې شرایط ورته برابر نه وو، و توانید چې د مطبوعاتو په ساحه کې سروباسي او له ۱۳٦۰لمریز کال وروسته د مهاجرینو په چاپېریال کې را پورته شو، نوموړی په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م کې بلوچستان ته هجرت وکړ وروسته بیا پېښنور ته راغی یوه موده یې سپیدې ادبي مجله چلوله.

یادونه: محمد صدیق پسرلی د هیواد د یو شمیر مشهورو ادیبانو په همکارۍ د سپیدې ادبي مجله لومړی پړاو (۲۱) گڼې خپره کړه چې په جهادي ادبیاتو کې لومړی اساسي گام بللی شي، همدارنگه دغه مجله نوموړي د کلتوري ټولنې په چوکاټ کې په دوهم پړاو کې په لوړ تیراژ او حجم او په نوي کیفیت په دوه میاشتنۍ موده کې خپره کړه چې ۱٤ گڼې خپره شوه.

د پسرلي آثار دا دي: ۱- د وطن ویر. ۲- لیوني باد، ۳- بهارته، ٤- زهره، ۵- مرۍ او ښکلې، ٦- نن، پرون او سبا، ۷- ماته شپېلۍ، ۸- سره غالۍ، ۹- داسې هم وو، د تاجکستان سفر نامه (په سهار ورځپانه کې خپره شوې) او د غزلو یوه منتخبه ټولگه (دنۍ کوڅه) په نامه چې په ۱۹۹۸م کال کې خپره شوه.

محمد صدیق پسرلی دشل ژره بیته په شاو خواکې غزلې لري. پردې علاوه هغه د "افغان ادبي بهیر د اونیزو مشاعرو بنسټ گردی چې په پېښنورکې یې زیات ځوانان د شعر او ادب سره آشناکړل.

## پیغام/محمدشریف

محمد شریف پیغام د مقاومت د دورې له شاعرانو او لیکوالو څخه یو دی، نوموړی په ۱۳۳۷لمریز

۱۹٤۸م کال د بدخشان ولایت په بهارک ولسوالی کی زیږیدلی دی، لومړنی زده کړی یې د بهارستان په ښوونځی کی پای ته رسولی په ۱۳٤۲لمریز /۱۹٤۸م کال یی په حربی ښوونځی او وروسته په حربی پوهنتون کی خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او د بالاحصار په نظامی مرکز کی وټاکل شو د ۱۳۵۷لمریز کال د ثور د کودتا نه وروسته د پکتیا له مجاهدینو سره د همکاری په جرم جیل ته واچول شو، په ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م کال له جیل څخه خوشی شو او د بغلان له مجاهدینو سره یې په فرهنګی او جهادی چارو کی همکاری پیل کړه، پیغام د شعر په ویلو کی لاس بری دی اوله زیاترو جهادی خپرونو سره یې همکاری درلوده.

## تابش/سعادت ملوك

سعادت ملوک تابش د جهاد او مقاومت د دوری له شاعرانو او لیکوالانو څخه شمیرل کیږی، نوموړی پرسیاسی هڅو برسیره د شعر او ادب په هنر کی هم لاس لری، پر افغانستان د روسی لښکرو دتیری په لومړیو کی نوموړی د (رعد) حزب اسلامی ګوند له محوری شخصیتونو څخه ؤ د تابش آثار دا دی:

۱- حماسه انتظار، ۲- لحظه های طلوع، ۳- دوراهی همراه باچندرنجنامه دیګر، ٤- سروده های مهاجر، ۵- طور خونین.

## تارشی/عبدالاحد

عبدالاحد تارشی د ځوانو او زیارکښو لیکوالانو او شاعرانو په منځ کی یو وتلی نوم دی، د فاریاب ولایت د میمنی په ښار کی زیږیدلی دی، خپلی زده کړی یی د ابو مسلم خراسانی په مدرسه کی پای ته ورسولی او په ۱۳۵٦لمریز/۱۹۷۷م کی یی ځانګړی زده کړی د شرعیاتو په ځانګه کی د مدینی منوری په پوهنتون کی پیل کړی چی تر دریم کال پوری یی دوام ورکړ، خو د روسانو په مقابل کی یی د جهاد او مبارزی سره د مینی په خاطر خپلی زده کړی نیمګړی پرینښودی او پیښورته راغی، د جمعیت اسلامی عضویت یی ترلاسه کړ او د (صوت الجهاد) عربی مجلی مسوول مدیر وټاکل شو. د اوه ګونی اتحاد په وخت کی د (النفیرالعام) عربی مجلی مسوول مدیرؤ. څه موده بیا د جمعیت اسلامی د فرهنګی کمیتی مرستیال ؤ. اوبیو وخت یی د یو شمیر نورو نوښتګرو لیکوالانو په مرسته یوه فرهنګی حلقه جوړه کړه او د (امید) په نامه مجله یی خپروله چی انتقادی اشعار او مقالی یی خپرولی د تارشی آثار دا دی:

۱: همسنګران پیامبر اسلام (ص)، ۲: نګرشی بر تعصب و اثرت آن، ۳: از شرار درد تا خشم ایمان (شعری مجموعه)

## تنویر، محمد حلیم

*زېږېدنه:* ۱۳۳۲ د تلې ۱۹۵۳/۲۹م د اکتوبر ۲۱ د کابل ښار د باغ علیمردان په کوڅه کې، ابتدایي زده کړه په "دقیقي ښوونځي" او بکلوریا د حبیبي لیسې نه په ۱۳۵۲ش/۱۹۷۳م فارغ شول. او لیسانس د ژورنالیزم په رشته کې کابل پوهنتون د ادبیات او بشري علومو له پوهنځي نه په ۱۳۵۶/۱۹۷۷م واخیست. تنویر په ۱۳۷٤ش/۱۹۹۵کې خپل ماستري د دري ژبه او ادبیات په رشته کې د پیام نور پوهنتون په تهران کې سرته ورساوه او دکتورا د شرق د ادبیات او تاریخ په باره کې په ۱۳۷٦ش/ ۱۹۹۷م د تهران د پوهنتون نه علاوه لاس ته راوړ.

*اجتماعي کارونه:* ۱۳۵۳–۱۹۷٤/۱۳۵٦ – ۱۹۷۸م خبرنګار د انیس او جمهوریت په ورځپانه کې ۱۹۷۸/۱۳۵۷م د راډیوی مجله پروډیوسر د راډیو افغانستان هنر او ادبیاتو په اداره کې ۱۹۷۹/۱۳۵۸م د افغانستان و تلویزیون د اجتماعي پروګرامونو دایرکتر.

۱۳٦۱ – ۱۳۷۰ش/۱۹۸۲–۱۹۹۱م. د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفتر رئیس په هالند کې، ۱۹۹٤/۱۳۷۳م د افغانستان د تحقیقاتو د انستیتوت رئیس په هالند کې، ۱۳۷٦–۱۳۷۷ش/ ۱۹۹۷–۱۹۹۹م د علامه طباطبایي او د تهران د پوهنتون د تاریخ او ژورنالیزم د استاد په توګ. ۱۳۷۸ – ۱۹۹۹/۳۸–۲۰۰۰. افغانستان پژوندونکي او مؤرخ په حیث د هالند په بهرنیو چارو په وزارت کې.

*آثـــار: (د دې کتاب په پښتنې کې مراجه وکړئ)*

## چشتي، غلام فاروق

غلام فاروق چشتي د افغانستان معاصرو، پښتو او دري ژبو له شاعرانو څخه یو دی. نوموړی په ۱۳۰۰هـ لمریز/۱۹۲۱م کال د غزني په شلګر کې زیږیدلی کورنۍ یې کندز ته ولاړه او نوموړی خپل لومړنۍ زده کړې په کندز کې پای ته ورسولې. په ۱۳۲۲لمریز/۱۹٤۳م کال د پغمان له دارالمعلمین څخه فارغ شو، وروسته د تخار ولایت د سرای سنګ په ښوونځي کې د ښوونکي په حیث وټاکل شو، وروسته بیا د دشت قلعه د ښوونځي سرښوونکي شو، چشتي په شل کلنۍ د ادیبانو او شاعرانو مجلسونو ته لاره وکړه، په ۱۳۲۷لمریز/۱۹٤۸م کال د کندز ولایت د معارف آمریت مرستیال غوره شو، نوموړی په د ۱۳۳۳ لمریز/۱۹۵٤م کال د"سپین زر شرکت"کار کونکی شو او په اداري او سوداګري چارو کې د مسلکي کسانو څخه شمیرل کیده، چشتي په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م له کمونستي رژیم سره د مخالفت په سبب پاکستان ته مهاجر شو، نوموړی له محمد صدیق پسرلي سره په (سپیدی) مجله کې همکاري درلوده د چشتي آثار دا دي: ۱– شعري ټولګه د چشتي مخمسات، ۲– د شیخ محمود العقا د مشهور اثر چې علامه سلجوقي د (محمد (ص) در شیر خوارګي) په نامه ژباړلی ؤ په پښتو ژباړه.

## حبیبي

دغه داستان لیکونکی په ۱۳٤۷لمریز/۱۹٦۸م کال په غزني ښار کې نړۍ ته سترګې غړولې دي، په ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م کال ایران ته مهاجر شو په قم کې یې په دیني زده کړو پیل وکړ، د۱۳۷۱لمریز/ ۱۹۹۲م کال را په دیخوا یې داستان لیکلو ته پام اړولی دی، یوه داستاني ټولګه یې د (مهاجران فصل دلتنګي) په نامه خپره شوې ده.

## حکمتیار (٤٦٦) مخ ته وګرځئ.

## حلیف، محمد عثمان

محمد عثمان حلیف د افغانستان د جهاد دورې د زیارکښو لیکوالانو شاعرانو او ژورنالستانو له جملې څخه یودی چې په ۱۳۲۸لمریز/۱۹٤۹م کال د کوچي خیل په کلي کې په ګردیز کې زیږیدلی دی، خپلې زده کړې یې د ګردیز په ښار کې سرته رسولې یوه موده په هماغه لیسه کې د ښوونکي په توګه پاتې شوی

دی، په ۱۳۵۰لمریز/۱۹۷۱م کې د ادبیاتو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې څخه بریالي وتلی دی. لومړی یې د غږ او وروسته د انیس په ورځپانه کې د خبریالانو د مدیر په حیث دنده واخسته.

محمد عثمان حلیف د (ځوانانو اسلامي نهضت) له مخکښانو څخه یو دی چې په ۱۳۴۸لمریز/۱۹۶۹ کال یې ددې نهضت غړیتوب ترلاسه کړی دی، له حزب اسلامي سره یې په ډېر اخلاص کار وکړ، نو سوری د هجرت په کلونو کې له حکمتیار سره په یوه کوټه کې اوسیدلی دی او په فرهنګي څانګه کې یې له شهادت ورځپاڼې سره همکاري درلوده، یوه موده په تهران کې د فرهنګي مسوولینو او دتهران د نمایندګۍ مسوول مدیر ؤ. کله چې په ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م کال آلمان ته راغی د الصبح جریدې د مسوول مدیر په توګه یې د حزب اسلامي په نمایندګۍ کې په بن کې کار پیل کړ، په ۱۳۶۷لمریز سلواغه/۱۹۸۹م جنورۍ کې د اروپا په برخه کې د حزب اسلامي د انتخاباتو په نتیجه کې د آلمان د نمایندګۍ د مسوول په صفت وټاکل شو. نوموړی د ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م څخه راهیسې د "ډیوه" په نامه فصل نامه خپروي چې د افغانستان په اړه مقالې او تحلیلونه خپروي، همدارنګه د هغه مقالې پرلپسې په البدر کې هم خپرېږي، د حلیف تر اوسه پورې د پښتو او دري شعرونو یوه ټولګه د"ډیوه" په نامه خپره شوې ده.

## حنیف بلخي:

مولانا محمد حنیف حنیف بلخي د افغانستان په ادبي حلقو کې یو خوږ ژبی شاعر دی. چې زیاتره عمر یې مطبوعاتو او فرهنګي چارو ته وقف کړی دی، مولانا بلخي په ۱۳۰۵لمریز/۱۹۲۶م کې په مزار شریف ښار کې وزیږید، او 'اسدیه' مدرسه یې په (۱۳۳۱لمریز/۱۹۵۲م)، کال پای ته ورسوله، د مدرس په توګه په همدې مدرسه کې دري کاله په تدریس بوخت شو، یوه موده د سوداګرۍ دا طاقونو منشي، د مطبوعاتو آمر، دسترې محکمې د قضایي تفتیش غړی، دنشراتو عمومي مدیر او د اوقاف مجلې مسوول مدیر او د کابل د تمیز د محکمې غړی، او د دیوان عالي مدني محکمې غړي په توګه دندې اجرا کړي دي، نوموړی په ۱۳۶۰لمریز/۱۹۸۱م کې پاکستان ته راغی، د مولانا بلخي چاپ شوي آثار دا دي:

۱- پرطاووس، ۲- ارمغان بلخ، ۳- فقهای بلخ، ٤- دیوان اشعار، ٥- شعر و شرع، ٦- دردها و دردها، ۷- نیزار، ۸- خروش، ۹- مرد راستین و کلام راستین، ۱۰- چند قطره اشک، ۱۱- نفیر اشک، ۱۲- السواد اعظم (ژباړه) ۱۳- قصص القرآن (ژباړه).

**خالص** (٥٠٩) مخ ته وګرځئ.

## خاوري، جواد

محمد خاوري د ځوانو لیکوالو له جملې څخه دی په ۱۳۴۶لمریز/۱۹۶۷م د بامیانو په ښار کې زیږیدلی دی، نوموړی د مشهد په علمي حوزه کې زده کړې کوي، او د کار حوصله لري تراوسه پورې یې دوه داستاني ټولګې د "مجموعهٔ از افسانه های هزارستان، او دپشت کوه قاف" په نامه را ټولې او چاپ کړې دي.

## خلیلي، خلیل الله

استاد خلیل الله خلیلي د افغانستان د تاریخ او ادبیاتو یو ویاړلی شخصیت دی، نوموړی په ۱۲۸۶لمریز/۱۹۰۷م کال په کابل کې وزیږید، پلار یې میرزا محمد حسین مستوفي الممالک دی، چې د ګلبهار د سید خیلو اوسیدونکی او په قوم صافي ؤ، پلار یې چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې د مالیې وزیر ؤ د امان الله خان له واک ته رسیدو سره سم اعدام شو، خلیلي د خپلې کورنۍ یتیم بچی له ستونزو سره لاس او ګریوان ؤ او د شعري او ادبي قریحې په درلودلو سره یې د افغانستان د تاریخ او ادبیاتو په زده کړه او مطالعه کې زیات څه ترلاسه کړل، نوموړی د ښوونکي په حیث دنده درلوده، د محمد نادر شاه له واک ته رسیدو وروسته خلیلي خوځلي جیل ته ولاړ او د محمد ظاهر شاه په دوره کې د دربار د پام وړګرځید او حساس او لوی منصبونه یې په غاړه واخستل، یوه موده د دربار د منشي، د پوهنتون استاد، د اطلاعاتو او کلتور وزیر، فرهنګي مشاور او په سعودي عربستان او بغداد کې د افغانستان د سفیر په توګه یې دندې ترسره کړې دي.

کله چې دغوایي کودتا وشوه نوموړی په بغداد کې دافغانستان د سفیر په حیث دنده اجرا کوله، له دندې څخه یې استعفا وکړه او د پرلپسې کنفرانسونو له لارې یې د کمونستي رژیم سره خپل مخالفت څرګند کړ.

استاد خلیلي چې د خپل وخت د مشهورو شاعرانو له جملې څخه ؤ په عربي او دري ژبو یې ښه شعرونه ویل، په ۱۳۶۶لمریز د غوایي په ۱۴مه/۱۹۸۷م د مې په ٤ مه په پیښور کې وفات او د خپل وصیت سره سم په رحمان بابا هدیره کې خاوروته وسپارل شو.

داستاد خلیلي آثار او د چاپ ځایونه په لاندې ډول دي: په کابل کې: ۱- آثار هرات باستان، ۲- د مولانا شبیر احمد د تفسیر دري ژباړه، ۳- د کابلي تفسیر ۳۰ مه پاره ژباړه، ٤- شرح احوال حکیم سنایي، ۵- شرح احوال بیدل (رح)، ٦- سلطنت غزنویان، ۷- شرح آرامګان ناصر خسرو، ۸-داستان زمرد خونین، ۹- نی نامه، ۱۰- از بلخ تا قونیه (کابل او ترکیه)، ۱۱- شرح دیوان سنایي (کابل او ترکیه چاپ) ۱۲- زرین ګوربت (کابل او ترکیه) ۱۳- د ۱۱-۱۲سو ټولګیو لپاره دري قرائت، ۱٤- آرامګاه بابر، ۱۵- دیوان اشعار خلیلي په دوو ټوکونو کې (تهران چاپ)، ۱٦- الفقها للمغانیون په عربي ژبه (بغداد چاپ)،

۱۷- ابن بطوطه فی افغانستان په عربی ژبه (بغداد او مراکش چاپ)، ۱۸- دخلیلی رباعیات له عربی او انګلیسی ژباړی سره (کابل، لندن)، ۱۹- برګهای خزانی، ۲۰- درویشان چوخان (کابل)، ۲۱- پیوند دلها (تهران)، ۲۲- نورهان (کابل) ۲۳- د ټاګورد ځینو آثارو ژباړه (چاپ امریکا).

د نوموړی لاندینی آثار په پیښور کی چاپ شوی دی:

۲۴- یار آشنا له اردو ژباړی سره، ۲۵- نیایش، ۲۶- مسجد جامع هرات، ۲۷- پنجشیر و مسعود قهرمان له فرانسوی ژباړی سره، ۲۸- ماتم سرا، ۲۹- نخستین تجاوز روسیه در افغانستان، ۳۰- ایاز از نګاه صاحبدلان، ۳۱- ناهیدو دختران کابل، ۳۲- زمزم اشک، ۳۳- عیاری از خراسان، ۳۴- از سجاده تاشمشیر، ۳۵- از مدرسه تا سنګر، ۳۶- بهشتی که در اتش سوخت، ۳۷- سوزن زرو جامهٔ سفید، ۳۸- غوث الاعظم، ۳۹- سرور راستان، ۴۰- بیارګاه سعدی، ۴۱- تجلیل سالګرد امام ربانی، ۴۲- کاروان اشک، ۴۳- داستانی از داستانها، ٤٤- مادران ګلګون کفن، ٤٥- جشن آزادی پاکستان، ٤٦- پیام سلطان محمود، ٤٧- اشکها و خون ها.

داستاذ خلیلی ناچاپ آثار:

٤٨- قهرمان کوهستانی، ٤٩- خواجه سبزپوش، ۵۰- نماز عاشقان، ۵۱- بادشاه ودوراهی، ۵۲- دوشنبه نامه، ۵۳-مراسلات، ۵٤- زندګی در روستا، ۵۵- رویت ها و روایت ها، ۵٦- بلخ در ادب عرب، ۵۷- ابوزید بلخی.

## دردمند، عبدالمنان

عبدالمنان دردمند د افغانستان له مشهورو شاعرانو او لیکوالانو څخه دی چی په ۱۲۹۵لمریز/ ۱۹۱٦م کال دباجوړ په سیدانشاه کلی کی زیږیدلی دی، له لومړنیو زده کړو وروسته یی په غازی مدرسه کی خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او د افغان انګلیس د دریمی جګړی سره جوخت کابل ته ولاړ او له امان الله خان سره یی وکتل او په ضمن کی یی د دری کتابونو په زده کړه هم پیل وکړ، د سقاوی په زمانه کی لوګر ته ولاړ، کله چی محمد نادر شاه واک ته ورسید دردمند بیرته باجوړ ته راغی او په دوکانداری بوخت شو، له دی سره جوخت یی د مرحوم استاذ عبدالحی حبیبی تر نظر لاندی د 'لمبی' اخبار په خپرولو کی د تایپست په توګه همکاری پیل کړه، دردمند په ۱۳۱۳ لمریز/۱۹۳٤م کال بیرته کابل ته ستون شو او له محمد امین خوګیانی سره یی د انیس په ورځپانه کی کار پیل کړ، تر ۱۳۲۱-۱۳۲۵لمریز/۱۹٤۲-۱۹٤٦م پوری په هرات کی د پښتو انجمن د مدیر په حیث پاتی شو او د اتفاق اسلام د ورځپانی د مرستیال په توګه یی مسوولیت واخست. په ۱۳۲٦لمریز/۱۹٤۷م دفراه ورځپانی دمدیر او په ۱۳٦۰لمریز /۱۹۵۱کال د ورانګی ورځپانی مسوول مدیر مقرر شو، په ۱۳۳۱لمریز/۱۹۵۲م کال د کابل مجلی مدیر شو، په

۱۳۳۷لمریز ۱۹۵۸ میلادی د افغانستان د رادیو د پروګرامونو د تدقیق مدیر په ۱۳۳۸م/۱۹۵۹م د هیواد ورځپاڼې مرستیال په ۱۳۴۰لمریز/۱۹۶۱م د پښتو پروګرامونو آمر او په ۱۳۴۳لمریز/۱۹۶۴م کال د قبایلو په مستقل ریاست کې د تبلیغاتو د څانګې آمر وټاکل شو. په ۱۳۴۸لمریز/۱۹۶۹م د هلمند ورځپاڼې مسوول مدیر او په ۱۳۵۱ لمریز/۱۹۸۲م د اصلاح ورځپاڼې د پښتو خبرونو مدیر او په ۱۳۵۷لمریز/ ۱۹۷۸م کال د افغانستان رادیو د پښتو پروګرامونو آمرۍ د ثور له کودتا سره سم له کاره برطرف شو او په ۱۳۶۰ لمریز/۱۹۸۱م پاکستان ته مهاجر شو.

د دردمند ناچاپ آثار تر (۲۶) پورې رسیږي او (۱۲) آثار یې په کابل کې چاپ شوي دي چې دا دي: ۱-نوې خیال، ۲- نن سبا، ۳- سوچه پښتو لغات، ٤- ملي ناره، ٥- ادبي سوغات، ٦- ملي یووالی، ۷-قبایل شناسي، ۸- ملي غیرت، ۹- د خپلواکۍ ترون، ۱۰- پښتو لیکونه، ۱۱- نارنج ګل، ۱۲- پښتو ډرامې.

## دلجو حسيني

د افغانستان د جهاد دشاعرانو او لیکوالو له جملې څخه یو د لجو حسیني دی. نوموړی په ۱۳۲۸لمریز/۱۹۴۹م کال د هرات په ښار کې زیږیدلی او د ادبیاتو او بشري علومو له پوهنځي څخه یې لیسانس اخستی دی دلجو په ۱۳٤٤لمریز/۱۹٦٥م کال د اتفاق اسلام جریدې د مطبوعاتي غړي په توګه کار پیل کړ، شعرونه یې د هیواد په نورو خپرونو کې هم چاپ شوي دي، دلجو د مقالو او اشعارو په لیکلو له ایراني مطبوعاتو سره هم اړیکې درلودې، نوموړی د ۱۳٥٤-۱۳٥۷ لمریز/۱۹۷٥م-۱۹۷۸م پورې د ښوونکي په توګه دنده اجراکوله او وروسته بیا ایران ته مهاجر شو، هلته یې د حزب اسلامي له دفترونو سره په فرهنګي چارو کې همکاري درلوده، نوموړی د نهضت له پخوانیو کسانو څخه دی او یوه موده یې په جیل کې هم تیره کړې ده، دلجو وروسته د حزب اسلامي د ارشاد او فرهنګ رئیس په توګه هم دنده اجراکړې ده،کله چې برهان الدین رباني واک ته ورسید دلجو له حزب اسلامي څخه بیل شو او د کابل له اداري سره یې ائتلاف وکړ او د اطلاعات اوکلتور وزارت د معیین په توګه وټاکل شو، د دلجو حسیني دوه اثره خپاره شوي دي، ۱- بانګ رحیل (شعري ټولګه) او آفتاب مشرق (علامه اقبال ته د عقیدت ډالۍ.)

## ذيغم بدخشي

میر احمد شاه ذیغم بدخشي د افغان شاعرانو له ډلې څخه یودی. چې په ۱۳۳٤لمریز/۱۹٤٥م کال د بدخشان ولایت په بهارک ولسوالۍ کې زیږیدلی دی، تحصیلات یې په عالي دارالمعلمین کې پای ته

رسولي دی او بیا په بدخشان کې د معلم په توګه مقرر شو، د ثور له کودتا څخه وروسته نوموړی دوه ځله بندي او دری ځله واخان او جوزجان ته تبعید او جزایي واستول شو. د جمعیت اسلامي افغانستان غړیتوب یې درلود او یوه موده په اصفهان کې د جمعیت نمایندۀ. د ده په قول دری زره بیته یې د (اشک حسرت) نومی مجموعې په نامه ویلي وو چې د جهاد په جریان کې یې له لاسه ورکړل.

## رفیع، حبیب الله

حبیب الله رفیع د افغانستان یو نه ستومانه کیدونکی او پرکاره لیکوال او څیړونکی دی، نوموړی په ۱۳۲٤لمریز کال زمری میاشت/۱۹٤٥م اګست کې د وردګو ولایت په سید آباد ولسوالی کې زیږیدلی دی، په دری کلنی کې یې پلار مولانا نصر الله نقشبندی وفات شو، ده د خپلی روحاني او عالمي کورنی ترڅارنې لاندې د دیني علومو په زده کړه پیل وکړ، کله چې کابل ته راغی د (آریانا) (پوهنې) او (فولکلور) په مجلو کې یې دڅیړونکي او مسلکي غړي په توګه کار پیل کړ، ده همدارنګه په ۱۳٤٨لمریز/۱۹٦۹م کال کله چې مطبوعاتو د آزادی حق ترلاسه کړ د (افغان ملت) جریدی دمسوول مدیر په حیث څه موده کار وکړ، د ثور د کودتا څخه وروسته د رژیم د مخالف به توګه زندان ته ولوید، او چې له زندان څخه خوشې شو پاکستان ته یې هجرت وکړ او د مهاجرینو او مجاهدینو په منځ کې یې په فرهنګي چارو کې ډیر ارزښتناک رول ولو باوه، او ډیری ارزښتناکې لیکنې یې وکړې، چې تر اوسه پورې په هماغه جدیت، حوصله او اراده خپلو لیکنو او څیړنو ته دوام ورکوي، نوموړی د ځینو عواملو له امله په دی وروستیو کې کاناډا ته ولاړ او هلته یې پناه وغوښته.

د حبیب الله رفیع آثار او تألیفات دیوه نومیالي څیړونکي اولیکوال په حیث تر (۷٥) توکو زیات شوي دي چې (٦۰) آثار یې چاپ او نور یې لا نه دي چاپ شوي ، د نوموړي ځیني چاپي آثار دا دي:

۱- پوهنه او پښتو ادب، ۲- ولي، ۳- سکروټې، ٤- بریښ، ٥- د خلکو سندرې، ٦- د پښتو پخواني تذکرې، ۷- د افغانستان لومړنۍ کاغذي پیسې، ۸- د سقراط محاکمه، ۹- سقراط په زندان کې، ۱۰- د هوتکو ناري، ۱۱- د تاریخ تولنې کتابونه، ۱۲- د جمهوریت ورسې، ۱۳- ادبي ستوري، ۱٤- پښتو پانګه، ۱٥- په پښتو نظم کې د تاریخ استخراج، ۱٦- تیر یادونه، ۱۷- د روښان یاد، ۱۸- کتابونه دریابونه، ۱۹- خواجه عبدالله انصاری او دده مناجاتونه، ۲۰- پښتو د پیړیو په پوړیو کې، ۲۱- فولکلور د علم مور، ۲۲- پښتو ادبي ټولنې، ۲۳- ای هیواده، ۲٤- پښتو خپروني، ۲٥- په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه، ۲٦- پښتو کتابښود، ۲۷- معرفة الافغاني، ۲۸- د رحمن بابا دیوان، ۲۹- د پښتونخوا د شعر هار او بهار، ۳۰- دار الامان ښار او ماني، ۳۱- د سره غره ګلونه، ۳۲- شاشجاع او ببرک : تاریخ په تنه کې، ۳۳- زندان، ۳٤- وحشیانه تیری او شرمیدلی ماته، ۳٥- زړلي او ګولي، شعري غونډ، ۳٦- اورونه او

ویرونه (شعری ټولګه)

## روستار تره کی

پوهنوال ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی د افغانستان دحقوق پوهانو او لیکوالانو څخه یو اوچت نوم دی چې په ۱۳۲۰لمریز/۱۹٤۱م کال کې په کابل کې زیږیدلی دی، تحصیلات یې په ۱۳۳۹لمریز/۱۹٦۰م په استقلال لیسه کې پای ته ورسول او په ۱۳٤۳لمریز/۱۹٦٤م کال د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو له پوهنځی څخه فارغ شو، نوموړی په ۱۳٤٦لمریز/۱۹٦۷م کال د لوړو تحصیلاتو لپاره فرانسې ته ولاړ او د عامه حقوقو په څانګه کې یې دکتورا په ۱۳۵۱لمریز/۱۹۷۲م کال کې ترلاسه کړه او د کابل پوهنتون په حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی کې استاد وټاکل شو، نوموړی د ثور له کودتا څخه وروسته د اسلامی او ملی مفکوری درلودلو په جرم او دده په لارښوونه د روسی تیری پر خلاف په پوهنتون کې د استادانو د مخالفت په سبب د ۱۳٦۱لمریز په غوایی میاشت/ ۱۹۸۲م اپریل کې جیل ته ولوید، او دیرکلونه یې په څرخی پله جیل کې څورونه ولیدل، د نوموړی داعدام حکم هم صادر شو خو د بشر د حقوقو نړیوالو سازمانونو د فلیکس ارماکورا *Felix Ermacora* د ملګرو ملتونو د کمیسیون دراپور په واسطه وکولای شول چې روستار تره کی په ۱۳٦٦لمریز/۱۹۸۷م کال له جیل څخه را خلاص کړی.

ډاکټر تره کی د کابل په پوهنتون کې بیا د استاد په حیث د کمونستانو په خلاف په مبارزه لاس پوری کړ، چې په ۱۳٦۸لمریز/۱۹۸۹م کال بیا د (واد) د جاسوسی سازمان په لاس ونیول شو او زندان ته واچول شو، له خوشی کیدو وروسته پیښور ته ولاړ او د لیکوالو ټولنی سره یې په فرهنګی فعالیتونو لاس پوری کړ، نوموړی په دی ټولنه کې خپلی د زندان خاطری (هجرت) په نامه ولیکلی، له نوموړی څخه تر اوسه څو آثار پاتې دی او له افغانستان څخه بهریې په زیاترو معیاری څېړونوکی مقالی خپرېږی پردی سربیره هغه د یوه سیاسی مبصر په حیث د نړی خپرنیو وسایلو ته خپل سیاسی تحلیلونه ورکوی، روستار اوس په فرانسه کې ژوندکوی.

## رهنورد زریاب

اعظم رهنورد زریاب د افغانستان مبتکر داستان لیکونکی او منتقد لیکوال دی، نوموړی په ۱۳۲۳لمریز/۱۹٤٤م کال په ریکاخانه (کابل) کې زیږیدلی دی، لیسه یې په حبیبیه او عالی زده کړی یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی د (ژورنالیزم) په څانګه کې سرته ورسولی، او بیایې په اطلاعات او کلتور وزارت کې په کار پیل وکړ، یوکال وروسته انګلستان ته ولاړ او په هماغه څانګه کې یې (فوق لیسانس) شهادتنامه واخسته. د کمونستی رژیم په پیل کې دلیکوالو اتحادیې د رئیس په توګه وټاکل شو، خو

زربې استعفاء ورکړه او په کور کښېناست، څه موده وروسته له خپلې مېرمن "سپوږمۍ زریاب" سره فرانسې ته ولاړ، د زریاب داستانونه او مقالې له اوږدې مودې راپه دېخوا د افغانستان په خپرونو کې چاپېږي، تر اوسه یې لاندې آثار په کتابي بڼه خپاره شوي دي:

۱- حاشیه ها، ۲- ګنګ خواب دیده، ۳- برف و نقش های روی دیوار، ٤- سیب وارسطاطالیس (رمان)

## زاهدي/جان محمد

جان محمد زاهدي په ۱۳۲۷لمریز/۱۹٤۸م کال د لوګر ولایت په پل علم کې زېږېدلی، زده کړې یې په مدرسو کې له علماؤ څخه تر ۱۳٤۷ لمریز/۱۹٦۸م پورې پای ته رسولې او د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالۍ کې دبنوونکي په توګه وټاکل شو. په ۱۳۵۷لمریز/۱۹۷۸م کال پاکستان ته مهاجر شو، د زاهدي آثار دا دي:

۱- اسلامي قیادت، ۲- جهاد او غنیمت، ۳-کاجي یې د شلمې پېړۍ شیطاني شبکه، ٤- مهاجر او هجرت، ۵- ناروا خون. او یو شمېر نور آثار.

## ستانیزی/محمد نسیم

محمد نسیم شفق ستانیزی په ۱۳۳۲لمریز/۱۹۵۳م کال د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالۍ کې زېږېدلی دی، د لیسې زده کړې یې د کندز په شیرخان لیسه کې پای ته رسولې، او په ۱۳۵۲ لمریز/۱۹۷۳م سره کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي ته داخل شو، په ۱۳۵۵لمریز/۱۹۷٦م کال یې دپښتو ژبې او ادبیاتو په نړیوال څېړنیز مرکز کې کار پیل کړ، پاکستان ته له هجرت وروسته یې له شهادت جریدې سره همکاري پیل کړه، د اوه ګوني اتحاد په وخت کې د وحدت اسلامي او نیزې مسوول مدیر وټاکل شو، وروسته بیا د اتحاد د له منځه تلو پورې د (مجاهد) خبري آژانس د مرستیال په توګه پاتې شو، ستانیزی وروسته بیا دافغانستان د آزاد و لیکوالو ټولنې سره کار پیل کړ اوس په امریکا کې اوسېږي، ستانیزي لاندې آثا لري:

۱- خاله او توپان، ۲- د مارکسیزم اشتباه، ۳- د اسلام څلور ستر فاتحین، ٤- دلارې مشال (د شهید سید قطب د معالم في طریق اثر پښتو ژباړه)، ۵- د اسلامي انقلاب هنداره (ژباړه)، ٦- حقوق اساسی انسان (ژباړه)

۷- تحلیلی از نهاد های حکومت اسلامی ژباړه.

۸- جونګړه او ماني (افسانو ټولګه)

## سرفراز/ جانباز

جانباز سرفراز په مولوی سرفراز مشهور دی په ۱۳۳۰لمریز/۱۹۵۱م کال د ننګرهار ولایت په غنی خیلو ولسوالی کی زیږیدلی دی او په ۱۳۵۲لمریز/۱۹۷۳م د ننګرهار له نجم المدارس مدرسی څخه فارغ شوی دی. نوموړی د مجاهدینو له لومړنیو مهاجرینو څخه دی چی پاکستان ته تللی، په ۱۳۵٦لمریز/۱۹۷٦م کال دیوه تعلیمی بورس څخه په استفادی سره سعودی عربستان ته ولاړ او د(محمد بن سعود) په پوهنتون کی یی په زده کړو پیل وکړ خو د ۱۳۵۷لمریز کال د ثور له کودتا وروسته یی زده کړی پریښودی او په وسله وال جهاد کی د ګډون لپاره بیرته پاکستان او بیا افغانستان ته ستون شو، د سرفراز مقالی د آزادو مطبوعاتو په وخت کی هم د (سیار) په مستعار نامه په "ګهیځ" اسلامی جریده کی خپریدی، نوموړی په حزب اسلامی کی د لویو مسوولیتونو څخه پرته د جنوب لویدیځی حوزی د سرپرستی چاری په بری سره پر مخ بیولی، سرفراز په فرهنګی چارو کی هم فعال ؤ او د مجاهدینو د رادیو د آسر په توګه یی هم کار کړی دی، څه موده یی د مولوی خالص د النور جریدی مسوولیت هم په غاړه ؤ.

همدارنګه هغه شهادت ورځپاڼی، وحدت اسلامی جریدی قیام حق او شهید پیغام مجلو ته هم مقالی لیکلی ، د سرفراز چاپ شوی آثار دا دی: ۱- کوچیان د خپل کلتور په غیږ کی، ۲- دعوت او بغاوت (علی جریشه اثر)

د ژباړن یادونه: مولوی سرفراز اوس د احادیثو د مشهور کتاب مشکوة شریف په ژباړه بوخت دی.

## سعیدی/ محمد شریف

محمد شریف سعیدی یو پرکاره ځوان شاعر او لیکوال دی چی د هجرت په کلونو کی یی په ایران کی قیمتی آثار لیکلی، او اوس د ایران په قم ښار کی د لیکوالو د اتحادیی چلوونکی دی.

## سلجوقی/ محمد راشد

استاد محمد راشد سلجوقی په ۱۳۱۵لمریز/۱۹۲٦م کال د هرات په تاریخی او ادب پال ښار کی زیږیدلی دی، د خپل پلار مولوی نعمت الله خان څخه د لومړنیو زده کړو څخه وروسته فخر المدارس مدرسی ته شامل او ۱۳۳٦لمریز/۱۹۵۷م تری فارغ شو، نوموړی له ۱۳٤۸-۱۳۵۲لمریز /۱۹٦۹م-۱۹۷۳م پوری د کابل پوهنتون د ښوونی او روزنی په ځانګه کی د شپی د رسونو څخه په استفادی سره خپلی تخصصی زده کړی بشپړی کړی، له زده کړو سره جوخت یی د فخر المدارس په مدرسه کی د ښوونکی دنده هم تر سره کوله، په ۱۳٤۹لمریز/۱۹۷۰م کال د معارف وزارت د تعلیمی

نصاب د څانګې د آمر په توګه وګومارل شو، د ثور له کودتا څخه وروسته له کاره ګوښه کړای شو او د ابو حنیفه (رح) په مدرسه کې د ښوونکي په توګه پاتې شو، په ۱۳۵۸ لمریز/۱۹۷۹م کې د دینې مدرسو د آمر په حیث وټاکل شو، راشد سلجوقي په ۱۳۶۰ لمریز/۱۹۸۱م کال پاکستان ته مهاجر شو اود افغانستان د جهاد د ثقافتي شورۍ دیوه چلوونکي په حیث یې د هیواد د زده کړې او عمران په څانګوکې په څېړنو او خپرونو لاس پورې کړ، نوی تعلیمي نصاب یې د مهاجرو افغاني ماشومانو لپاره ترتیب او خپور کړ، نوموړي پر دې برسیره د شهید سید قطب ارځښتناک تفسیر "در سایه های قرآن" بشپړ وژباړه او خپور یې کړ.

د راشد سلجوقي تالیفات دا دي:

۱- د لومړۍ څخه نردریم لومړنیو ښوونځیو پورې او د څلورم ټولګي همدارنګه د اوم، اتم او نهم ټولګیو د زده کړې او دروزنې کتابونه د هغوی له لاربښود سره یوځای.

۲- درس های از قرآن وحدیث، ۳- ارکان اسلام، ٤- حضرت مسیح(ع)، ٥- ثالوث، ٦- محبت استاد باشاګردان، ۷- اصول حدیث.

همدارنګه نوموړي لاندې آثار ژباړلي دي:

۸- شرح مجله الاحکام، ۹- ارشادات اجتماعی، ۱۰- کارنامه های حضرت عمر فاروق (رض)، ۱۱- زندګی نامه حضرت بلال(رض)، ۱۲- دفی ظلال القرآن تفسیر دری ژباړه، ۱۳- السیاسه و تشریعه تألیف د امام ابن تمیه.

## سودا/ برات محمد

برات محمد سودا د افغانستان د جهاد د دوتلیو شاعرانو څخه ؤ چې په ۱۳۰۲لمریز/۱۹٤۱م کال د بدخشان دولایت په جرم، ولسوالۍ کې زېږېدلی دی، په ۱۳٤۳لمریز/۱۹٤٦م کال د هغه ولایت د غیاثي لیسې څخه فارغ شوی دی، نوموړی د دولتي مامور په توګه مختلفو دندو سرته رسولې دي. د ثور له کودتا څخه وروسته یې له مجاهدینو سره همکاري اعلان کړه او پاکستان ته یې هجرت وکړ، لنډه موده یې په چترال کې د جمعیت اسلامي د نماینده په توګه دنده ترسره کړه سودا ډېر شعرونه ویلي دي چې تر اوسه په کتابي بڼه نه دي چاپ شوي.

**سیاف** (٥١٤) مخ ته وګرځئ

## شارقي/محمد کاظم

محمد کاظم شارقي په ۱۳۳۰لمریز/۱۹۵۱م کال د بدخشان ولایت د بهارک په ښارکي زیږیدلی، په ۱۳۴۸لمریز/۱۹۶۹م کال د هغه ولایت له لیسې څخه فارغ او دارالمعلمین ته شامل شو د محمد داود په وخت کې د اسلامي نهضت ته منسوب او د دولت د مخالف په توګه په دری کاله بند محکوم شو، له جیل څخه د خوشې کیدو څخه وروسته بیا په دار المعلمین کې شامل شو، د ثور د کودتا څخه وروسته یو ځل بیا د رژیم ترځارنې لاندې راغی او هجرت ته اړشو، شارقي د اوه ګوني اتحاد په فرهنګي ریاست کې د نشراتو د آمر په توګه دنده اجرا کوله. نوموړی د ۱۳۶۴لمریز د چنګاښ په ۲۲مه/۱۹۸۵م د جولای په ۱۳مه په یوه ترافیکي پیښه کې په پیښور کې وفات شو.

د شارقي آثار دا دي:

۱- تابش هلال بر چهره های غمزده، ۲- آیا حقیقت زادهٔ واقعیت است؟

۳- چرا اقوام ذلیل عریز شده اند؟، ٤- باشمله های افغانی چرا عربده می کشند؟، ٥- چرا فرارکرد (داستان)، ٦- پدری که از پسر آموخت. ۷- اجتماع بی مسلک، ۸- مذهب عقاء، ۹- بردګان دل وهوا، ۱۰- ګوشهء یی از جام جهان نمای اسلام، ۱۱- چهره جاودانه تاریخ، ۱۲- ارزش خون در کمونیزم و اسلام، ۱۳- معیار حق و باطل، ١٤- تقاضاهای صلح در افسانه صلح، ۱٥- هجرت، ١٦- شهیدی که با تمکین زیست و باوقار به شهادت شتافت، ۱۷- یک سوال از آقای ببرک.

## شفیقي/محمد زبیر

محمد زبیر شفیقي په ۱۳۳۷لمریز/۱۹۵۸م کال د وردګو ولایت په چک ولسوالۍ کې زیږیدلی، په ۱۳۵٦لمریز/۱۹۷۷م کال د "بمبايي" لیسې څخه فارغ او د پولي تخنیک پوهنځي ته شامل شو خو د اسلامي فکر په خاطر تر ځارنې لاندې ؤ چې بالاخره د ۱۳۵۷لمریز وري/۱۹۷۸م کال کې پاکستان ته مهاجر شو، په همدې کال یې په پکتیا کې د حزب اسلامي په جبهوکې په عملي جهاد کې برخه واخسته، په ۱۳۵۸لمریز کال له نورو ملګرو سره خپلې ولسوالۍ ته ولاړ نوموړی په ۱۳۶۳لمریز کال د حزب اسلامي په فرهنګي کمیټه کې د لیکوال غړي په توګه کار پیل کړ، له شهادت ورځپاڼې، پیام زن مسلمان، شفق، سپیدی، امید، او حریت مجلو سره یې قلمي همکاري درلوده، شفیقي د حزب اسلامي د پیام آزادي رادیو تلویزیون د مرستیال په توګه هم دنده تر سره کړې او اوس له دری کالو را په دې خوا د سهار ورځپاڼې مدیر دی.

د شفیقي آثار دا دي:

۱- د جهاد زمزمې (شعري مجموعه)، ۲- دوینو پیغام - شعري غونډه، ۳- دتیارو په تل کې (دلنډیو کیسو مجموعه)، ٤- میږونه، ګرنګونه، منځنی داستان، ٥- په چک او دایمرد ادوکې اسلامي پاڅون

(تاریخي اثر). ٦- د میدان ښار فتحه د جهاد په اړه تاریخي اثر، ٧- په چک ولسوالۍ کې ښوونه او روزنه.

شفیقي لاندیني آثار ژباړلي دي چې چاپ شوي هم دي:

٨- شاهین دنسیم حجازي تاریخي ناول. ٩- محمد بن قاسم. ١٠- وروستی مور چل. ١١- د غازي داستان. ١٢- د ترورسي مسافر په سهار ورځپانه کې خپور شوي دي دنسیم حجازي تاریخي ناولونه ١٣- د افغانستان تاریخ او ... همدغه اثر د فدا محمد فایض سره په ګډه ژباړه.

چاپ ته چمتو آثاریې:

١٤- وروستی جګړه (د نسیم حجازي تاریخي ناول چې همدا اوس په سهار ورځپانه کې پرلپسې خپرېږي. ١٥- "د مرګ کاروان" د جهاد د دوران د څو جهادي کاروانونو مستندې پیښې او خاطرې. ١٦- له تکبیره تر فریاده (دکالمونو ټولګه). ١٧- ویر او ویاړ (شعري مجموعه). ١٨- د اوښکو په ژبه (د تکلونو ټولګه). ١٩- د قلم څار په سهار ورځپانه کې د خپرو شویو کالمونو مجموعه. او یو شمیر نور.

## شکوه/ محمود

سید محمود شکوه د افغانستان د حماسو او مقاومت د دورې یو شاعر دی، چې په ١٣٣٣لمریز /١٩٥٤م کال د بدخشان ولایت د جرم په ولسوالۍ کې زیږېدلی، نوموړی د بدخشان د غیاثي لیسې څخه تر فراغت وروسته په ١٣٥٣لمریز/١٩٧٤م کال د بشري علومو او ادبیاتو پوهنځي ته شامل شو او د ناروغي په سبب یې په دریم ټولګي کې زده کړې نیمګړې پرېښودې، په ١٣٥٨لمریز/١٩٧٩م پاکستان ته مهاجر شو، تر اوسه یې کوم ځانګړی اثر نه دی چاپ شوی خو مقالې او شعرونه یې د مجاهدینو په مجلو او خپرونو کې لیدل کیږي.

## شهراني/ نعمت الله

نعمت الله شهراني د مقاومت د دورې د لیکوالو او څېړونکو له جملې څخه دی، نوموړی په ١٣١٧لمریز/١٩٣٨م کال په بدخشان کې زیږېدلی دی په خپل ولایت او ابو حنیفه(رح) مدرسه کې پای ته رسولي په ١٣٣٨لمریز/١٩٥٩م کې یې د کابل په پوهنتون شرعیاتو پوهنځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، په ١٣٤٢لمریز/١٩٦٣م کال تر فراغت وروسته د پوهنتون په علمي کدر کې و منل شو، په ١٣٤٥لمریز/١٩٦٦م کال د عالي تحصیلاتو لپاره قاهرې ته ولاړ او په ١٣٤٨لمریز/١٩٦٩م کال یې د قرآني علومو او تفسیر په څانګه کې د ازهر له پوهنتون څخه ماستري ترلاسه کړه، په ١٣٥٥لمریز/١٩٧٦م کال کې د مقایسوي حقوقو په څانګه کې د یو نیم کال لپاره امریکا ته ولاړ، له ١٣٤٢لمریز ١٩٦٣م کال څخه راهیسې یې د الفلاح، پیام حق، قضاء او عرفان خپرونو سره همکاري درلوده، په ١٣٥٠لمریز/١٩٧١م کال

د شرعیاتو مجلې مسوول مدیر هم وټاکل شو، استاد شهراني د هجرت په موده کې په جهاد پوهنتون کې درس ورکاوه، نوموړی په عربي، انګلیسي، پښتو، دري او ازبکي ژبو ښه بلد دی، د شهراني تالیفات دا دي:

۱- المحکم والتشابه في القرآن (عربي)، ۲- قرآن شناسي، ۳- قوه روحي در جهاد، ٤- تفسیر سوره الحجرات، د نوموړي ژباړې دا دي:

٥- فقه اسلامي وقوانین عرب (د ډاکټر یوسف موسی اثر). ٦- ضرورت به اسلام، ۷- سکیت فردی در اسلام د ډاکټر عبدالله عربي اثر). ۸- طریق دعوت دفتحي یکن اثر، ۹- اسلام ومسایل جنسي. ۱۰- حقوق فرد و دولت در اسلام د عبدالکریم زیدان اثر. ۱۱-کتاب الکبایر د امام شمس الدین ذهبي اثر. ۱۲- مختصر شعب الایمان د بیهقي اثر

د مولانا مودودي لاندیني آثار یې په دري ژباړلي دي:

۱۳- بسوی وحدت اسلامی، ١٤- مسولیت جوانان مسلمان، ۱٥- ختم نبوت، ١٦- اسلام و نظام های اقتصادی جدید. ۱۷- سود خواری، ۱۸- حجاب، ۱۹- اسلام و تمدن غرب، ۲۰- متجددین و تجدید دین، ۲۱- راه پیشرفت مسلمانان، ۲۲- توشه راه از مصطفی مشهور، ۲۳- د احکام القرآن لومړۍ برخه د شیخ علي سایس اثر، ٢٤- د شیخ صابوني د احکامو تفسیر.

## شیدا/ عبدالحی

عبدالحی شیدا د افغانستان د جهاد یو ډیني قریحې او د لوړې پایې شاعر دی چې په ١٣٣٦لمریز /١٩٥٧م د بدخشان ولایت د کشم ولسوالۍ په (فرجغاني) کلي کې زیږیدلی دی، منځنۍ او لومړنۍ زده کړې یې د (میر فضل الله) په ښوونځي او لیسه یې په پښتونیار لیسه کې پای ته ورسوله. د ثورله کودتا وروسته شیدا د مسلماني په ګناه په تخارکې ونیول شو او د څرخي پله په جیل کې یې ځوکلونه په ربړونو کې تیرکړل د روسي تیري کوونکو قواو له یرغل څخه وروسته هغه د یو شمیر نورو بندیانو سره یو ځای له جیل څخه خوشي شو او له خپلو مجاهدو انډیوالانو سره په پیښنور کې یو ځای شو، هغه له څه مودې وروسته بیرته بدخشان ولایت ته ستون شو او هلته یې د حزب اسلامي جبهه تنظیم کړه، او دی پخپله د جهاد د امیر په حیث بوخت شو، شیدا په وسله وال جهاد کې ښه ونډه درلوده او حماسي یې وزیږولي او د قلم رول یې هم تر توپک کم نه ؤ، هغه هم د توري میړه ؤ او هم د قلم، داسي چې په یوه لاس کې یې قلم ؤ او په ژبه به یې شعرونه ویل او په بل لاس کې یې توره وه چې د دښمن پر تټر یې ښخوله.(٣٤)

شیدا د ١٣٦٦لمریز په تله/١٩٨٧م په اکتوبر کې دیوی ناځوانمردانه توطیې په ترڅ کې په رستاق کې له خپلو یو شمیر یارانو سره یوځای په ډله ئیزه توګه شهید کړای شو.

د شیدا آثار:

۱- خونابهٔ اشک، ۲- چگونگی آغاز انقلاب، ۳- نیازمندی های دعوت اسلام، ٤- ساربان نور.

## شجاعی/سیداسحق

سید اسحق شجاعی د افغانستان د مهاجرو لیکوالو او داستان لیکونکو څخه یو دی چې په ۱۳٤۲لمریز/۱۹٦۳م کال په جوزجان کې زیږیدلی دی، خپلې زده کړې یې په دینې برخه کې په قم کې پای ته ورسولې، اود (امین) مجلې مسوول مدیر دی، د ۱۳٦٥/۱۹۸٦م کال راهیسې یې داستان لیکلو ته پام اړولی دی او داستانونه یې د مهاجرینو په خپرونو کې چاپ شوي دي، په دې وروستیو کې د نوموړي په هڅو د (رهنورد زریاب) د داستانونو ټولګه په مشهد کې چاپ شوې ده.

## شیرزاد/منګل

منګل شیرزاد د پښتو ژبې له شاعرانو څخه یو دی چې په ۱۳۲٥لمریز/۱۹٤٦م کال د ننګرهار ولایت په کامه کې په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی چې د ننګرهار په لیسه کې یې د زده کړو له ترسره کولو وروسته په ۱۳٥٤لمریز/۱۹۷٥م کال د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ شو، نوموړي څو کاله د دولت د مامور په توګه دنده اجرا کړې ده، شیرزاد د ثور له کودتا وروسته له مجاهدینو سره د مرستې په تور بندي شو، وروسته بیا پېښور ته مهاجر شو او له حزب اسلامي افغانستان سره یې همکاري پیل کړه، څه موده وروسته المان ته ولاړ او د حزب اسلامي په نمایندګۍ کې یې دهامبورګ په ښار کې په فرهنګي ځانګه کې کار کاوه، هغه به زیاتره په پېښور کې ؤ او په (جهاد) پوهنتون کې یې درس ورکاوه، د شیرزاد تراوسه یوه شعري ټولګه د (انقلاب او شهادت) په نامه چاپ شوې ده.

## صدیق/محمد ظاهر

ډاکټر محمد ظاهر صدیق د افغانستان د اوچتو ژورنالستانو څخه دی، چې د ۱۳۱٥لمریز په وری/۱۹۲٦ په سپټمبر کې یې د کابل د چاردهي په قلعه قاضي کې دنیا ته سترګې وغړولې، په ۱۳۲۱لمریز/۱۹٤۲م کال یې لومړنۍ زده کړې په قلعه قاضي کې پای ته ورسولې په ۱۳۳٤لمریز/۱۹٥٥م کال له دارالمعلمین څخه تر فراغت وروسته په ۱۳۳۸لمریز/۱۹٥۹م دادبیاتو پوهنځي د فلسفې له څانګې څخه فارغ شو، په ۱۳۳۹لمریز/۱۹٦۰م کال یې شپږمیاشتنی د ژورنالیزم کورس پای ته ورساوه، له ۱۳٤۲-۱۳٤۸/ ۱۹٦۳م-۱۹٦۹م کال پورې یې د پراګ د چارلس له پوهنتون څخه په فلسفه کې دکتورا واخسته، ډاکټر صدیق د افغانستان په زیاترو مطبوعاتي ادارو کې دنده اجرا کړې ده او تر ۱۳٦۰لمریز/۱۹۸۱م په کابل کې وو، په ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م پېښور ته مهاجر شواود جمعیت اسلامي

افغانستان په فرهنگي ځانگه کې بوخت شو، د ډاکترصدیق آثار دا دي:

۱- تاریخ مختصر مطبوعات افغانستان، ۲- از اشغال چکوسلواکیا تا تجاوز بر افغانستان، ۳- آینده افغانستان مربوط به اتحاد ماست، ٤- جمعه خونین، ٥- شکست کمونیزم، ٦- قیام هرات.

## صمیم/محمد آصف

محمد آصف صمیم په ۱۳۳۱ لمریز/۱۹۵۲م کال د ننگرهار ولایت د کامې په ولسوالۍ کې زیږېدلی دی، په ۱۳٥۱لمریز/۱۹۸۲م کال د ننگرهار له لیسې څخه فارغ شو، په ۱۳٥٦لمریز/۱۹۷۷ کال یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د عربي ځانگې څخه برې لیک واخست، په ۱۳٥۸لمریز/۱۹۸۹م کال پېښور ته مهاجر شو او په سید جمال الدین افغان لیسه کې یې د حزب اسلامي تر اداري لاندې د ښوونکي په توگه دنده واخسته، پردې برسیره یې شهادت او وحدت اسلامي جریدو او قیام حق، شهید پیغام، شفق، سپیدې او قلم مجلو ته مضامین لیکل، د استاذ صمیم آثار دا دي:

رښتیاني کیسې، د رحمن بابا د دیوان نومښود، ابدي ژوندی، او نور.

د ژباړن یادونه: استاذ محمد آصف صمیم په ادبیاتو په تیره ژبه او گرامر کې د وتلیو او منلیو څېرو څخه دی، او لیکنې یې د پښتو معاصر ادب معیاري لیکنې گڼلی شي.

## طبیبي/عبدالحکیم

ډاکتر عبدالحکیم طبیبي زموږ د هیواد د مشهورو لیکوالو، شاعرانو او ژورنالستانو له جملې څخه یودی، نوموړی په ۱۳۰٤ لمریز/۱۹۲٥م کال په کابل کې زیږېدلی او خپلې زده کړې یې د حبیبیې په لیسه کې او وروسته بیا د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې سرته ورسولې. په ۱۳۳۱لمریز/ ۱۹٥۲م کال یې ماستري او په ۱۳۳۳لمریز/۱۹٥٤م کال یې دکتورا د امریکا د "جورج واشنگټن" پوهنتون څخه په حقوقو او بین المللي روابطو کې واخستلې، طبیبي د ۱۳۳٥-۱۳٤۳لمریز/ ۱۹٥٦-۱۹٦٤م پورې په ملگرو ملتونوکې د افغانستان د دایمي نماینده او د بهرنیو چارو په وزارت کې د وزیر مختار دسکرتر په توگه او وروسته یې بیا له ۱۳٤٥-۱۳٥۲۰/۱۹٦٦-۱۹۷۳م پورې په یوگوسلاویا، جاپان، هند، بلغاریه، فلپین او نیپال کې د افغانستان د سفیر په توگه دندې ترسره کړې دي. کله چې روسانو پر افغانستان تیری وکړنو موږ په ملگرو ملتونوکې د افغانستان دایمي سفیر ؤ چې د احتجاج په توگه یې له وظیفې څخه استعفی وکړه او په سویس کې یې سیاسي پناه وغوښته، له دې سره جوخت یې د (عروة الوثقی) مجله بیا را ژوندۍ او خپره کړه طبیبي په ۱۳۷۷لمریز د وری ۱٥مه/۱۹۹۸م د اپریل په ٤ مه د اجل داعي ته لبیک ووایه، د مرحوم طبیبي آثار دا دي:

۱- سیاست بین المللی، ۲- سازمان ملل متحد، ۳- دیموکراسی تطبیقی، ٤- حقوق ترانزیت، ٥-

حقوق بحر، ٦- سید جمال الدین و تصوف در افغانستان، ٧- خاطرات پریشان.

## عشرتي

استاد عبدالاحد عشرتي د افغانستان د اوچتو علماؤ، لیکوالانو او څېړونکیو څخه یو دی، عشرتي په ١٣١٠ لمریز/١٩٣١م کال په غزني کې زیږېدلی، زده کړې یې تر بکلوریا پورې په پغمان کې په شرعي مدرسه کې پای ته رسولې او لیسانس یې د شرعیاتو له پوهنځي څخه اخستی دی، ځانګړې لوړې زده کړې یې د قانون جوړولو په څانګه کې په مصر او ترکیه کې پای ته رسولې، عشرتي وروسته بیا دالفلاح مجلې مسوول مدیروتاکل شو، وروسته بیا دعدلیې وزارت په لوړو کدرونو کې د قانون جوړولو غړی ؤ، نو موړی د شرعیاتو په پوهنځي کې د استاذ په حیث درس هم ورکړی دی، له مجاهدینو سره یې پیوستون اعلان کړ او له هیڅ ګوند سره یې ځان ونه تاړه، په افغانستان کې د عشرتي چاپ شوی آثار دا دي:

١- میراث از نګاه مذاهب اسلامی، ٢- حقوق اطفال از دیدګاه اسلام، ٣- مسوولیت جزا، ٤- قصاص در اسلام، ٥- سیاست اقتصادی در اسلام، ٦- ملکیت در اسلام، ٧- اقتصاد در اسلام، ٨- حکومت فرد و اجتماع، ٩- تاریخچه قضا در اسلام، ١٠- ازما به جوانان، ١١- ګهیځ (پښتو رساله).

د هجرت په دوران کې د عشرتي چاپ شوی آثار:

١٢- جنګ های پارتیزانی از نګاه اسلام، ١٣- خونابه راز (شعری مجموعه)، ١٤- نهضت های جهانی اسلام، ١٥-، جنایات شوروی در افغانستان، ١٦- ستراتیژی و تاکتیک در اسلام، ١٧- تفسیر سوره الناس (مثنوی)، ١٨- خلوت در انجمن (مثنوی تصوفی)، ١٩- ثالوث، ٢٠- حضرت عیسی(ع)، ٢١- آفریدګار ما، ٢٢- مارکسیزم، ٢٣- سیاست شرعی، ٢٤- سواد آموزی برای کلان سالان. عشرتي تر ١٥ زیاتې څېړنیزې مقالې لیکلې چې په الفلاح، ګهیځ، میرمن او قضا خپرونو کې د محمد ظاهر شاه په دوره کې چاپ شوې دي. همدارنګه نوموړي ٢٣ کتابونه لیکلي دي چې تر اوسه پورې لا نه دي چاپ شوي، پردې علاوه کله چې مهاجر شولس آثار یې په افغانستان کې پاتې شول.

## علمي/محمد یوسف

پوهاند ډاکټر سید محمد یوسف علمي په ١٣٠٧ لمریز/١٩٢٨م کال د کابل د ساداتو په یوه کورنۍ کې وزیږېده، لومړنۍ زده کړې یې په کابل او کندهار او عالي یې په حبیبیه او د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې پای ته ورسولې، او د اسیستانت په توګه یې په هماغه پوهنځي کې په کار پیل وکړ، وروسته بیا د لوړو تحصیلاتو لپاره هند ته ولاړ د تاریخ په څانګه کې یې د کتور را لاسته راوړه، نوموړی داستاد په حیث د کابل پوهنتون په علمي کدر کې ومنل شو او د (تاریخ هنر افغانستان) کتاب په لیکلو یې په ١٣٤٧ لمریز/١٩٦٨م کال د پوهاند علمي رتبه واخسته، پوهاند علمي په ١٣٦٢ لمریز/١٩٨٣م کال

پاکستان ته مهاجر شو، نوموړي په پېښور کې په ۱۳٦٥لمریز/۱۹۸٦م کال د افغانستان د جهادي آثارو د ژباړې مرکز (کانون) تاسیس کړ، د دې ترڅنګ یې (د افغانستان در آئینه مطبوعات) په نامه مجله خپروله.

د نوموړي تالیفات دا دي: ۱- تاریخ معارف افغانستان، ۲- تاریخ قدیم شرق، ۳- تاریخ تمدن اسلام، ٤- تاریخ خطاطی در افغانستان، ٥- تاریخ هنر اسلام، ٦- مؤسسه خلافت، ۷-کوشانیان، ۸- ممیزات هنر نقاشی جامع التواریخ، ۹- رویداد های جهاد افغانستان، ۱۰- د مهاجرینو د تعلیمي نصاب لپاره د څلورم او اوم ټولګي د تاریخ کتابونه، ۱۱- د افغانستان شورایي کول (په انګلیسي ژبه) ۱۲- قیام سه حوت کابل، ۱۳- ابو جعفر عبدالله المنصور(انګلیسي)

د پوهاند علمي ژباړې:

۱-ګهرهای ناسفته، ۲- نور جهان و جهانګیر (په ژباړه کې د مطبوعاتو د لومړي جایزې وړونکې) ۳- زنداني شیلان، ٤- تاریخ یونان، ٥- تاریخ روم، ٦- زنده ګاني حضرت عایشه (رض)، ۷- زنده ګاني سیاسي علامه ابن خلدون ۸-ګزارشهای ملل متحد در مورد حقوق بشر در افغانستان، ۹- نفوذ روس بر جوانان افغان، ۱۰- معاهده جنیوا، ۱۱- افغانستان (سیاسي او نظامي راپورونه، ۱۲- تاریخ الافغان علامه سید جمال الدین افغان (چاپ شوی نه دی)

## غروال/محمد عارف

محمد عارف غروال په ۱۳۲٤لمریز:۱۹٤٥م کال د پکتیا ولایت په ځاځي میدان ولسوالۍ کې زیږیدلی دی او په ۱۳٤۳لمریز/۱۹٦٤م کال د رحمان بابا له لیسې څخه فارغ شویدی، په ۱۳٤۷لمریز/۱۹٦۸م د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو ادبیاتو له څانګې څخه فارغ شو، غروال په جهادي لیکوالانو کې مهم مقام لري او په مختلفو فرهنګي موسسو کې یې په لوړ و مقامونو کار کړی دی، د غروال آثار دا دي:

۱- دبنګړو شرنګ (د شعرونو مجموعه)، ۲- بمونه او غمونه.

غروال اوس هم د محاذ او نیزی جریدې مسوول او د محاذ د تنظیم د فرهنګي چارو مسوول دی.

## غمخور/عبدالله

عبدالله غمخور دافغانستان د پښتو ژبې اوچت او مشهور شاعر دی، د نوموړي اشعار خواږه، روان او د انتقاد او جرئت بنې نمونې دي، د غمخور لاندېني شعري ټولګي چاپ شوي: ۱- د آزادۍ غوغا... او

## غیرت/ عبدالباري

عبدالباري غیرت د جهادي دورې د شاعرانو او لیکوالانو څخه شمیرل کیږي. چې په دیني، سیاسي، تاریخي او ادبي برخه کې یې زیاتې مقالې لیکلې او خپرې شوې دي. نوموړی په ۱۳۲۳لمریز/۱۹٤٤م کې د وردګو ولایت په سید آباد ولسوالي کې زیږیدلی. په ۱۳٤۲لمریز/۱۹٦۳م کال یې د کابل عربي دار المعلمین پای ته رسولی دی، دوه کاله یې د ښوونکي په توګه دنده اجراکړه، او بیایې په ځانګړي تعلیم لاس پورې کړ، په ۱۳٤۷لمریز ۱۹٦۸م کال یې د (فقې قانون) په څانګه کې د کابل پوهنتون په شرعیاتو پوهنځي کې تحصیلات پای ته ورسول. په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷٤م کال د قضا مجلې مسوول مدیر ؤ، په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال یې پېښور ته هجرت وکړ او د حزب اسلامي په فرهنګي کمیټه کې مشغول شو، څه موده وروسته جمعیت اسلامي ته ولاړ، په ۱۳۵۹لمریز/۱۹۸۰م کال په اتحاد اسلامي کې دهغه ګوند د مجلې د مسوول مدیر په توګه وټاکل شو. وروسته بیا د محاذ ملي تنظیم ته ولاړ او د (محاذ) عربي مجلې مسوول مدیر وټاکل شو، په دری ګونی اتحاد کې د خبري آژانس مسوول ؤ، غیرت په ۱۳٦۳/۱۹۸٤م کال د پنجاب پوهنتون څخه د عربي ادبیاتو په څانګه کې ماسټري واخسته، دغیرت آثار دا دي: ۱- شرعي حدود او د ټولنې تنظیم، ۲- پښتو، دري، انګلیسي، اردو فرهنګ، ۳- په افغانستان کې لیدلې کتلې، ٤- امام ابو حنیفه المتکلم (ژباړه)، ٦- ادبي اوښکې (ادبي نثرونه)، ۷- غوره اشعار او یو شمیر نور آثار.

## فاضل/ فضل الرحمن

فضل الرحمن فاضل دځوانو او پرکاره لیکوالو له جملې څخه دی چې په ۱۳۳٦لمریز د سلواغې په ۲۱مه/۱۹۵۸م د فبروري په ۱۰مه د بدخشان په فیض آباد کې زیږیدلی دی. په ۱۳۵٦لمریز کال د ابو حنیفه (رح) له مدرسې څخه فارغ شو په ۱۳۵۷لمریز/۱۹۷۸م د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي ته شامل شو، یو کال وروسته پاکستان ته مهاجر شو او د جمعیت اسلامي په ګوندکې یې د (کاروان جهاد) جریدې او (میثاق خون) مجلې مسوولیتونه واخستل، په ۱۳٦۹لمریز/۱۹۹۰م کال د ددغه ګوند د لیکوالو ټولنې د رئیس په توګه وټاکل شو، د برهان الدین رباني له واک ته رسیدو سره سم په انقره کې د افغانستان د سفارت کلتوري آتشه وټاکل شو، د ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م کال څخه تر اوسه په نوي ډیلي کې د میزان میاشتنۍ جریدې (د افغانستان د سفارت خپرنې ارګان) د مسوول مدیر په توګه کار کوي.

د فاضل آثار دا دي:

۱- ردی بر شبهات دشمنان اسلام، ۲- دریچه ای بسوی مرگ، ۳- نعمت های بهشت، ٤- دعوت گر نامور، ٥- اسلام و آینده بشریت، ٦- دوشیزهٔ جاگار تا، ۷- سفرنامه مسکو، ۸- زندان سیار، ۹- درس فی قلوب المعرکه (ژباړه)، ۱۰- درس ها واندرز های از سیرت نبوی (ص)، ۱۱- تحقیق (نمایشنامه اسلامی)، پر دی علاوه څو نوری ژباړی هم لری چې له عربی نه یې پر دری اړولی دی.

## فایز، سخیداد

سخیداد فایز د جهادی دوری یو لیکوال دی چې په ۱۳۲۱لمریز/۱۹۳٤م کال د وردگو ولایت د چک ولسوالی په الیشنګ کلی کی زیږیدلی دی، لومړی دینی زده کړې یې دغزنی په نور المدارس مدرسه کی سرته رسولی او په ۱۳۳۹لمریز کال دعربی دار العلوم څخه په لوړه درجه فارغ شوی دی، نوموړی له ۱۳٤۲لمریز/۱۹٦۳م څخه د اطلاعات او کلتور وزارت د تلیغاتو د د فتر مسلکی غړی ود ژوندون، لمر او پیام حق مجلو او انیس، اصلاح او هیواد ورځپانو ته یې مقالی لیکلی، په ۱۳٥۷لمریز/۱۹۷۸م کال دځوانانو اسلامی نهضت له نور وغړو سره یو ځای پیښور ته مهاجر شو. او د حزب اسلامی، جمعیت اسلامی او اتحاد اسلامی په تنظیمونو کی یې مهم مسوولیتونه سرته رسولی دی، فایز په فرهنگی سطحه له مجاهد، میثاق خون، قیام حق او نورو جهادی خپرونو سره د قلم همکاری درلوده، آثار یې دا دی: ۱- اسلام و پیشرفت های دین، ۲- نقش اسلام در اجتماع، ۳- وثایق سری.

## فایض، فدا محمد

فدا محمد فایض د مقاومت د دوری په پښتو او دری ژبو برلاسی او وتلی لیکوال دی. چې په شعر کی هم پوره لاس لری او حوادثو ته هنری رنګ ورکوی. فایض په ۱۳۳۱لمریز/۱۹٥۲م کال د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالی بی بی سیدی بانډه کی زیږیدلی دی، لومړی زده کړې یې د برسلطانپور او چهارباغ صفا په لومړنیو ښوونځیو کی سرته رسولی (۱۳٤٦)، لیسه یې د جلال آباد ښار په ننګرهار لیسه کی (۱۳٥۲) او لیسانس یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشری علومو د پوهنځی د دری ژبی او ادبیاتو له دیپارتمنت نه ترلاسه کړی دی (۱۳٥٦). د ۱۳٥٦ په کب میاشت کی دننګرهار دکامی اولسوالی په مراد علی لیسه کی د ښوونکی په توګه مقرر شو. د ۱۳٥۸ د ثور په لومړۍ، ورځ د ننګرهار والی او پوولسمی فرقی د

قوماندان جګړن بهرام الدين د انقلابي وژل کيدو له پيښې سره په ارتباط چې د اسلامي غورځنګ ګړ شمير کسان ېکې ونيول شول، زندان ته واچول شو او د همدې کال د جدي پر ۱۲مه د ببرک کارمل په اصطلاح د عمومي بخښنې د فرمان په لړ کې له زندانه راخلاص او د دلوې په وروستيو کې پيښور ته مهاجرشو، څه موده يې د مولوي خالص له النور جريدې سره همکاري درلوده وروسته د ۱۳٦۱ په جوزا کې د افغانستان د مجاهدينو د اسلامي اتحاد په فرهنګي کوميټه کې د شهيد پيغام مجلې مسوول مدير وټاکل شو چې د اتحاد تر انحلال (د ۱۳٦٤ جوزا) پورې په همدې دندې پاتې شو. تر اتحاد وروسته يې په حزب اسلامي کې د تاريخ تولنې مديريت د تأليف او ترجمې لوی مديريت د افغانستان غږ راديو د پروګرامونو د د تهيې مديريت د شهادت ورځپاڼې د خبرنګارانود مديريت د شفق مجلې مديريت او د ارشاد و فرهنګ کوميټې د مرستيال د ندې ترسره کړې دي.

د ۱۳۷۲ ل په قوس کې يې په حزب اسلامي کې خپل ماموريت پای ته ورساوه او په دولت کې د اطلاعاتو و سلتور وزارت د عامه کتابخانو د رئيس په توګه وټاکل شو د ۱۳۷٤ په اسد کې د کابل ښاروالۍ د سلکيتونو د معين په توګه وټاکل شو او د ۱۳۷۵کال د ميزان تر پنځمې نېټې پورې چې طالبانو کابل ونيو په همدې دنده پاتې شو. کابل ته د طالبانو له رسيدو سره جوخت بيا پيښور ته ستون شو او له هغې نيټې نه تر اوسه پورې د سهار ملي ورځپاڼې د خبرونو د څانګې مسوول دی.

فايض د جهاد په دوران کې په پيښور کې د دريځ مياشتنۍ ازادۍ جريدې مسؤول مدير هم و دا جريده د انجينر عبدالغفار په امتياز او مالي لګښت خپريده. همدا رازيې په کابل کې د مجاهدينو د اسلامي دولت په وخت کې د فرياد عصر ملي جريدې د مسؤول مدير دنده هم پرمخ بيوله. برسيره پردې چې د فايض په سلګونو مضامين او پښتو شعرونه په جهادي، ملي، دولتي خپرونو کې خپاره شوي آثار يې دا دي.

۱- روسها از اسلام در هراس اند (ژباړه)

۲- ده سال تباهي و بربادي افغانستان ژباړه – له نسيم ستانيزي سره په ګډه.

۳- له ۷ ټولګي نه تردولسم ټولګي پورې د جهادي نصاب پښتو قرائت د ليکوالو د يوې ډلې په شمول.

٤- د همدغه اثر پښتو ژباړه له شفيقي سره په ګډه.

ACKU

## محمد معروف فروغگر

محمد معروف فروغگر د جهادی لیکوالانو په ډله کی مشهوره څیره ده، نوموړی د لغمان د قرغیو په اولسوالی کی زیږیدلی او د ننګرهار دارالمعلمین یی په ۱۳۵٦ لمریز کال پای ته رسولی. فروغګر په ۱۳٦۳ کال کی د اوه ګونی اتحاد سره فرهنګی کار پیل کړ او د شهید پیغام مجلی مرستیال ؤ، وروسته بیا په ۱۳٦٤ لمریز کال د حزب اسلامی په ارشاد او فرهنګ کمیسون کی د شفق مجلی مسوول مدیر ؤ چی څو کاله پرلپسی یی دغه مسؤولیت پر غاړه ؤ.

په ۱۳٦٦ کال کی د عبدالله عزام شهید مکتب الخدمات د ترجمی څانګی کی وګومارل شو په ۱۳٦۹ کال کی (بنیاد فرهنګی امید) غړی ؤ په دی بنیاد کی د امید مجله چاپیدله او برسیره په هغی څینی کتابونه هم په کی ژباړل کیدل.

په ۱۳۷۵ کال کی کابل ته ولاړ او هلته د اتحاد اسلامی په جریده کی د کار بوخت شو. ٦ شپږ شماری چاپ شوی میزان د میاشتی په ٦ نیټه طالبان راغلل او جریده بنده شوه.

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د عقرب په میاشت کی په سهار کی مامور شو او تر اوسه پوری د تصحیح د څانګی غړی او لیکوال دی.

*د فروغګر ژباړلی آثار دا دی.*

۱- د نوی نسل په روزنه کی د عقیدی نقش
۲- د قیام ستونځی
۳- د ایمان حلاوت
٤- اسلامی اخوت
٥- د غرب رهبران وایی
٦- هر غیرتی پلار ته
۷- د الله جل جلاله وجود
۸- د الله جل جلاله تجلی
۹- اسلامی نړی او تمدن
۱۰- روش تربیهٔ فکری و جهاد در اسلام
۱۱- اسلام او غربی تمدن
۱۲- اسلام او نشنالیزم
۱۳- د قرآن علمی اعجاز
۱٤- مومنی ښځی
۱٥- د دین اصول
۱٦ د حضرت امام اعظم ژوند

۱۷- له نا محرمی ښځې سره د خلوت تحریم
۱۸- ولاء وبراء (دوستي او دښمني)
۱۹- څه دول مسلماني؟
۲۰- د صهیونستانو پروتوکولونه،
۲۱- ماثوره دعاګانې

د حضرت صاحب، استاد رباني او طالبانو په حکومتونو کې یې کار نه دی کړی.

## فقیری/ محمد نسیم

محمد نسیم فقیری د دری ژبې یو لیکوال دی چې په ۱۳۳۵لمریز کال په وری، ۱۹۵٦م کال په سپټمبر کې په لغمان کې زیږیدلی دی، په ۱۳۵٤لمریز کال دروښان لیسې څخه فارغ او د حقوقو پوهنځي ته شامل شو، په ۱۳۵۷لمریز کال یې پیښور ته هجرت وکړ او له حزب اسلامی سره یې کار وکړ، وروسته بیا جمعیت اسلامی ته ولاړ او یوه موده په زاهدان کې د جمعیت نماینده ؤ. نوموړی د مجاهدینو له مختلفو جهادی خپرونو سره همکاری درلوده د فقیری آثار دادی:

۱- انقلاب در انقلاب ۲- چگونه چپ ها راست می شوند؟ ۳- یادها و بیداد ها، ٤- روح اعتدال در اسلام (ژباړه).

## قانع/ عصمت

عیسی محمد عصمت قانع په ۱۳٤۰لمریز/۱۹٦۱م کال د زابل ولایت د شاه جوی په ولسوالی کې زیږیدلی او په ۱۳۵۷لمریز/۱۹۷۸م کال چې په اتم ټولګي کې و زنداني شو، او د قلات او غزنی په جیلونو کې یې شپږ تیری کړی او زیاتی ستونزی یې وګاللې، له خوشی کیدو وروسته زاهدان ته ولاړ او له مجاهدینو سره یې همکاری درلوده په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال د زابل په ولایت کې د مجاهدینو له اعلامیو سره ونیول شو او د کندهار ولایت په هوایی ډګر کې بندی شو، له خوشی کیدو وروسته دجمعیت اسلامی لخوا د (اسلام ږغ) جریدی مسوول مدیر وټاکل شو، نوموړی د مجاهدینو له نورو خپرونو سره هم همکاری درلوده، آثار یې دا دی:

۱- دوینو سوغات (شعری لومړی ټولګه)، ۲- د پلو شودالی (دوهمه)، ۳- جرس (دریم شعری ټونډ) ٤- ساندی په نغمو کې (څلورمه ټولګه) او، ۵- د لندوکیسو مجموعه.

## کاکړ، محمد حسن

پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ د افغانستان له علمي او فرهنګي شخصیتونو څخه یو دی، نوموړی په ۱۳۱۳لمریز/۱۹۳٤م کال په لغمان ولایت ـ دنیا ته سترګې وغړولې، زده کړې یې د کندهار د احمد شاه بابا اود کابل په غازي لیسه کې پای ته ورسولې، د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې یې د جغرافیې په څانګه کې لیسانس واخست، وروسته یې د علمي انجمن د غړي په توګه د پښتو ژبې په اکاډمۍ کې ماموریت پیل کړ چې د کابل مجلې مدیریت یې هم پر اوږه ؤ. په ۱۳٤۰لمریز/۱۹٦۱م انګلستان ته ولاړ او د فلالوژۍ په څانګه کې یې په زده کړه پیل وکړ، چې پر دې سر بیره نوموړی د بي بي سي راډیو د پښتو او دري سرویس یو همکار هم ؤ. په ۱۹۷۱/۱۳۵۰م کال یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د استاد په توګه تدریس پیل کړ. په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷٤م کال یې دکتورا د امریکا له هارورډ پوهنتون څخه واخسته، په ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م کال په کابل کې د آزادۍ غوښتنې په ګناه د کمونیستي رژیم لخوا بندي او په اتو کالو بند محکوم شو، نوموړی د نړیوالو فشارونو په سبب په ۱۳٦٦لمریز دوری په سیاشت/۱۹۸۷م کال په مارچ کې له جیل څخه خوشې شو او پېښور ته یې هجرت وکړ، چې د افغانستان په بیا ودانولو او نورو علمي برخو کې یې دسیاسي جریانونو او نړیوالو موسسو سره همکاري وکړه، د کاکړ آثار دا دي:

١- تحکیم حکومت مرکزی در دوره امیر عبدالرحمن خان.

٢- تاریخ چه را می ګویند (د پروفیسور کاروتلي د اثر ژباړه)

٣- تاریخ جهان معاصر (د مک نیل د اثر ژباړه)

٤- افغانها و تشکیل دولت در هند، فارس و افغانستان.

## کامه وال، فضل غني

فضل غني کامه وال د پښتو له شاعرانو او ادیبانو څخه یو دی، چې په کال ۱۳۱٦ل/۱۹۳۷م د ننګرهار ولایت په کامه ولسوالۍ کې زیږیدلی، خپل تحصیلات یې د کابل په دارالعلوم کې سرته رسولي او په کابل ۱۳۵۷ل/۱۹۷۸م پاکستان ته مهاجر شو او د حزب اسلامي په مختلفو ادارو کې یې کار وکړ، د کامه وال آثار: ۱- دردونه (شعري غونډ)، ۲- ګیلې (شعر) تکوري او د تصوف یوه رساله او نور دي.

## کشاف/قیام الدین

قیام الدین کشاف په ۱۳۲۳لمریز/۱۹۰۲م کال د لغمان ولایت په الینگار ولسوالۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې، رواجي علوم يې دوخت له علماؤ څخه پای ته ورسول او په ۱۳٤٦لمریز/۱۹٦۷م کال يې ځانګړې زده کړې د کابل په عربي دار العلوم کې پای ته ورسولې، وروسته يې داطلاعات او کلتور وزارت دنماینده په حیث په پروان او فاریاب ولایتونو کې کار وکړ، یوه موده د پیام حق مجلې مرستیال او د افغانستان راډیو د دیني پروګرامونو مسوول ؤ، د ۱۳٥۷لمریز په زمرې/۱۹۷۸م په جون کې د کمونستانو لخوا جیل ته ولوید د هماغه کال دلیندې په یاشت کې له جیل څخه تر خوشې کیدو وروسته پیښور ته مهاجر شو. نوموړی د جمعیت اسلامي غړی ؤ او دمجاهد جریدې سره يې قلمي همکاري پیل کړه، د مجاهدینو د اسلامي اتحاد په وخت کې يې د فرهنګي ریاست د نشراتو آمریت دنده درلوده او یوه لنډه موده د ریاست سرپرست هم ؤ، نوموړی د رباني د دولت په وروستیو کې د حکمتیار په کابینه کې داطلاعاتو او کلتوروزیر ؤ.

دکشاف آثار دا دي:

۱- اسلام او اقتصادي وده، ۲- خوږه کیسه، ۳- په پښتو ژبه د مولانا مودودي د مشهورتفسیر تفهیم القرآن ژباړه، ٤- ابو لاعلی مودودي، دده ژوند، دعوت او جهاد (ژباړه) ٥- محمدي رسالت د پوهې په رڼا کې، ٦- د قرآن پوهنې رازونه (ژباړه)، ۷- د اسلام څلور اساسي اصول ژباړه، ۸- حق پالونکې ژباړه او تالیف، ۹- د مجاهدینو د ښوونځیو لپاره د لومړیو او دو همو ټولګیو درسي کتابونه.

۱۰- د علم په تله (ژباړه)، ۱۱- اسلامي نظام (دوه ټوکه)

## کمال شنیواری/سید حکیم

سیدحکیم کمال شینواری په ۱۳۱۳لمریز/۱۹۳٤م کال په ننګرهار ولایت په شینوارو کې زیږیدلی دی، زده کړې يې لومړې په جوماتو او وروسته د کابل په عربي دارالعلوم کې په ۱٦۳٦لمریز/۱۹٥۷م کال پای ته ورسولې، څه موده په حبیبیې لیسه کې ښوونکی ؤ. بیا يې د بغلان ولایت په ینګي قلعه او د کابل په بګرامي ولسوالۍ کې د قضا دنده درلوده، وروسته يې بیا د هلمند، زابل او غزنی په ولایتونو کې د محکمې د رئیس په توګه دندې ترسره کړې په ۱۳٥۲لمریز/۱۹۷۲م کال د اوقاف رئیس وټاکل شو، شینواری د ثور د کودتا په دوهمه ورځ ونیول شو او جیل ته واچول شو، په ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م کال له زندان څخه خوشې او پیښور ته مهاجر شو، د مقاومت په لیکو کې يې په فرهنګي خدمت لاس پورې کړ.

د کمال شینواری آثار:

۱- په اسلامي فقه کې دعقوبت فلسفه (له عربي څخه ژباړه د کابل چاپ)، ۲- قرآن او ښځه، ۳- اسلام اجتماعي دین دی، ٤- توحید، ٥- اسلامي شوری او قیادت، ٦- لس جنتي یاران، ۷- هجرت او جهاد.

## مجروح/سید بهاوالدین

سید بهاوالدین مجروح زموږ د هیواد د وياړمنو علمي او ادبي شخصیتونو څخه دی چې خپلې تولنې ته یې ارځښتناک خدمتونه کړي دي. نوموړی زموږ د تولنې واقعیت ګرا او نازک خیال شاعر دی چې په پښتو ادبیاتو کې یې ارځښتناک آثار پرېښي دي، پوهاند مجروح په ۱۳۰٦لمریز/۱۹۲۷م کال په کنړ کې نړۍ ته سترګې غړولي دي، لومړني زده کړې یې همالته کړې او لیسه یې د کابل په اسقلال لیسه کې پای ته ورسوله، په ۱۳۳۰لمریز/۱۹٥۱م فرانسې ته ولاړ مجروح په ۱۳۳٥لمریز/۱۹٥٦م لیسانس او په ۱۳٤۰لمریز ۱۹٦۱کال دکتورا په روانشناسۍ کې د پاریس له پوهنتون څخه ترلاسه کړه، د تخصصي زده کړو تر څنګ یې د آلماني او انګلیسي ژبو په ادبیاتو کې هم زیاتې مطالعې وکړې. پوهاند مجروح په ۱۳۳۸لمریز/۱۹٥۹م کال د ادبیاتو پوهنځي رئیس او په ۱۳٤۲لمریز/۱۹٦۳م کال د کاپیسا والي او په ۱۳٥۲لمریز/۱۹۷۳م د تاریخ تولنې رئیس ؤ، د محمد داود په دوره کې په زیاتو څېړنو او مطالعو بوخت ؤ، د ثور کودتا څخه وروسته د ٥۸ کال تر مرغومي د روسانو تریرغل پورې غلی په کورناست ؤ. بلاخره یې کورنۍ پاکستان ته هجرت وکړ او نوموړي د (افغان اطلاعاتي مرکز) په جوړولو لاس پورې کړ، چې د شوروي یوځونو د تیري او د مجاهدینو د مقاومت د بهیر په اړه یې راپوروته برابرول او څېړنې یې کولې، پوهاند مجروح له شپیتو کالو علمي او ادبي کار څخه وروسته په ۱۳٦٦لمریز د سلواغې په ۲۲مه/۱۹۸۸م د فبروري په ۱۱مه په پېښور کې په پردیو ځان خرڅې دلې لخوا په شهادت ورسید.

د استاذ مجروح آثار دا دي:

۱- د جبر او اختیار دیا لیکتیک، ۲- اژ دهای خودی په دوو توکونو کې (د کابل د تاریخ تولنې لخوا چاپ شوی دی) ۳- د ځانځاني ښامار (په دوو توکونو کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي چاپ)، ٤- د مور پیغام (پښتو منظومه)، ٥- دښمن وپېژنې.

## مجروح/سید شمس الدین

سید شمس الدین مجروح د افغانستان د اوچتو ادیبانو او شاعرانو څخه یو دی، چې ډیر عمر یې د رحمان بابا او حمید ماشوخیل داشعارو په څېړنه کې تیرکړی دی، نوموړی په ۱۲۸۹لمریز/۱۹۱۰م کال د کونړ ولایت په شینکورک کلي کې نړۍ ته سترګې غړولي دي، او خپلې زده کړې یې خصوصي ډول په

دری ادبیاتو او دینی علومو کې پای ته ورسولې، نوموړی د محمد هاشم خان د صدارت په دوره کې د مشرانو جرګې دغړي په توګه غوره شوی دی، هغه یو شمیر نوری اداری دندی او ماموریتونه هم ترسره کړی دی. مجروح د شاه محمود خان او دمحمد داود د صدارت په دوروکې د قبایلو د مستقل ریاست ذمه واری پر غاړه اخستی دی او د ډاکټرمحمد یوسف د صدارت په وخت کې د عدلیې وزیر ؤ. مجروح له ۱۳٤۳لمریز/۱۹٦٤م څخه تر ۱۳٤۷لمریز/۱۹٦۸م پورې په قاهره کې د افغانستان سفیر ؤ، د محمد داود د جمهوریت په وخت که تقاعد شو، او پر هیواد د شوروی له یوځې تیری سره مجروح له خپلې کورنی سره پیښور ته مهاجر شو، د مجروح د اشعارو ټولګه د (یاد فریاد) په نامه په ۱۳٦٤لمریز/۱۹۸۵م کال په پیښور کې خپره شوه.

## مزمل/محمد زمان

محمد زمان مزمل د افغانستان د اوچتو شاعرانو او ادیبانو له جملې څخه دی، په عربی ژبه یې هم زیاتی مقالې لیکلې دی، نوموړی په ۱۳۲۹لمریز/۱۹۵۰م کال دکابل په ده سبز ولسوالۍ کې زیږیدلی دی، لومړنی زده کړی او دینی علوم یې له مشهورو علماؤ څخه بشپړ کړی او په ۱۳۵۱لمریز/۱۹۷۲م کال یې له عربی دار العلوم څه د بری سند ترلاسه کړ، په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷٤م کال د اسلامی نهضت د وسله وال پاڅون څخه وروسته د هیواد جنوبی سرحدی سیمو ته راغی او په وسله وال مقاومت یې لاس پورې کړ، یو کال وروسته یې په سعودی عربستان کې د ملک عبدالعزیز په پوهنتون کې خپلو لوړو تحصیلاتو ته دوام ورکړ، په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال یې د شرعیاتو پوهنځی بشپړکړ او پیښور ته راستون شو، نوموړی د حزب اسلامی په سیاسی کمیټه کې په کار پیل وکړ، همدا رنګه مزمل د الموقف مجلې او جریدی مسوول مدیرهم ؤ، نوموړی دیوه سیاسی مفسر او پیاوړی لیکوال په حیث د افغانستان په اړه دنړی مهمو عربی مجلو ته په عربی ژبه مقالې لیکلې. دنو موړی مقالې د مصر په (الدعوه) دکویټ په (المجتمع) د لبنان په (البلاغ) د سعودی په الامان مجله او الندوه جریدوکې خپریدې، همدارنګه نوموړی شهادت ورځپانی، شفق، شهید پیغام، قیام حق، وحدت اسلامی او نورو خپرونو ته مقالې لیکلې اوس له سهار ورځپانی سره قلمی همکاری لری، مزمل د پښتو ژبې له ځانګړیو لیکوالو څخه یو دی چې په ادبی پارچې او طنزکې استادانه مهارت لری.

د نوموړی آثار دا دی:

۱- داسې مبارزه، ۲- افغانستان او کمونیزم، ۳- ابعاد المقاومه، ٤- ګوابن (شعری ټولګه)، ۵- مهاجره وروره تاته وایم، ٦- قبایلی باسواد، ۷- تیښته او بهانه، ۸- د تاریخ په وړاندې زما معذرت، ۹- برې او موانع، ۱۰- جهاد نابین المنطق العدو، ۱۱- کاندید او قیادت، ۱۲- اعتراف، ۱۳- و هذا یستقبل الروس فی العالم العربی، ۱٤- د ژینوخبری او راتلونکی افغانستان، ۱۵- تنظیم او شخصیتونه

د رحمت کاروان.

همدارنګه د مزمل یو شمیر آثار چاپ ته تیار دي چې مهم يې دا دي: ۱٦- په افغانستان کې دستراتیژيو بحران، په هدیره کې آذان، او نور.

## مژده/احمد وحید

احمد وحید مژده د افغانستان د دري ژبې د اوچتې پایې شاعر او لیکوال دی، چې په ۱۳۳۳لمریز/۱۹۵٤م کال په کابل کې زیږیدلی دی، لومړنی زده کړې يې په بغلان او عالي يې په حبیبیه کې سرته رسولي په ۱۳۵۵لمریز/۱۹۷٦م کال د کابل پوهنتون له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ شوی دی. نوموړی په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال افغانستان پریښود او ایران ته مهاجر شو، هلته يې د حزب اسلامي په نمایندګۍ کې د فرهنګي چارو مسؤولیت واخست، په ۱۳٦۱لمریز/۱۹۸۲م کال پیښور ته ستون شو او د مجاهدینو داتحاد په فرهنګي کمیته کې او وروسته بیا د شهادت ورځپاڼې د مهتمم په توګه وټاکل شو، نوموړی د (امید) آزادي مجلې په فرهنګي ټولنه کې غړیتوب درلود اوس د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت کې د بین المللی روابطو د دریم مدیریت مدیر دی. تراوسه يې یوه شعري ټولګه (ستیز باتوفان) خپره شوې ده.

## مظفری/ابوطالب

سید ابو طالب مظفري د افغاني معاصرو شاعرانو څخه یو دی، په ۱۳٤٤لمریز/۱۹٦۵م کال په ارزګان ولایت کې زیږیدلی، خپلې زده کړې يې په دیني علومو کې بشپړې کړې دي، تر اوسه يې یوه شعري ټولګه "سوګنامه بلخ" او "شعر مقاومت افغانستان" ادبي رساله چاپ شوې دي، نوموړی په مشهد کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې مسوول دی.

## ملکزاد/عبدالقیوم

عبدالقیوم ملکزاد د همدې دورې د شاعرانو څخه دی، نوموړی په ۱۳۳٦لمریز/۱۹۵۷م کال په فاریاب ولایت کې زیږیدلی دی، نوموړی له لومړنیو زده کړو وروسته په ۱۳۵٦لمریز/۱۹۷۷م کال د ابو مسلم خراساني له مدرسې څخه فارغ شوی دی، د نهم ټولګي څخه را په دیخوایې د فاریاب جریدې سره قلمي همکاري درلوده، او اشعار او لیکنې يې چاپ شوې دي، نوموړی په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال د دارلعلوم له ۱٤ ټولګي څخه فارغ شو او بیايې پیښور ته هجرت وکړ، د جمعیت اسلامي د نشراتي ارګان مجاهد جریدې مسوول مدیر وټاکل شو، د جمعیت اسلامي له نورو خپرونو سره يې هم قلمي همکاري درلوده تر اوسه پورې د نوموړي یوه شعري مجموعه د (بانګ رهایي) په نامه چاپ شوې ده.

## ناګار فضل ولي

فضلي ولي ناګار د پښتو ژبې شاعر دی چې په ۱۳۳۲لمریز/۱۹۵۳م کال د ننګرهار ولایت په بټي کوټ کې زیږیدلی، لومړنۍ زده کړې یې په جلال آباد او عالي یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې پای ته رسولي، نوموړی پیښنور ته له پناه وړو وروسته د حزب اسلامي په فرهنګي ریاست کې د لیکوال غړي په توګه وټاکل شو. د ناګار تر اوسه یوه شعري ټولګه دا هغه بالاحصار دی چاپ شوې ده.

## نصرت/امان الله

امان الله نصرت د مجاهدینو د مقاومت په ډله کې ځوان شاعر دی، په ۱۳۳۶لمریز/۱۹۵۷م کال دننګرهار په کور کونړ کې زیږیدلی دی، په ۱۳۵۲لمریز/۱۹۷۳م کال د نجم المدارس له عالي مدرسې څخه فارغ شوی دی.

په ۱۳۵۷لمریز/۱۹۷۸م کال د کمونیستي رژیم لخوا د ننګرهار په ۱۱مه فرقه کې بندي شو، له خوشې کیدو وروسته یې په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کې د حزب اسلامي په مهمند ره جبهه کې په وسله وال جهاد لاس پورې کړ وروسته بیا په پیښنور کې د ډاکترانو په ټولنه کې په کار بوخت شو، د نصرت آثار دا دي:

۱- دغیرت توره، ۲- د اور باران، ۳- سرې لمبې.

## ننګیال/عبدالباري

الحاج عبدالباري ننګیال د مقاومت د دورې د پرکاره لیکوالو او څیړونکو څخه یودی، چې له مختلفو جریدو سره له قلمي همکارۍ نه علاوه تالیفات هم لري، نوموړی د جمعیت اسلامي غړی ؤ او د جمعیت په فرهنګي ریاست کې یې د مجاهد جریدې غړی او وروسته مسوول مدیر دندې سرته رسولې، وروسته ننګیال د حقاني د فرهنګي دفتر مسوول ؤ چې څو څېړونې یې درلودې اوس نوموړی له (شریعت) د طالبانو اسلامي دولت نشراتي ارګان سره همکاري لري.

دننګیال آثار دا دي: ۱- سنګر داران قلم.

۲- په افغانستان کې د کمونستانوقدرت ته رسیدل، ۳- د افغان مجاهد آواز، ٤- د افغانستان سیاسي احزاب، ٥- د ګهیځ یاد، ٦- شارقي د خپلو انقلابي لیکنو په رڼا کې، ۷- بیا د سخنور سترګ استاد خلیلي، ۸- هغوی چې مرګ یې نشي وژلی، ۹- جهادي فتواګاني، ۱۰- اسناد تاریخي افغانستان، ۱۱- تاریخ تکراریږي، ۱۲- مزلونه او منزلونه، شعرونه، ۱۳- دا ور ترانې د ژوند شعرونه، ١٤- وینه په قلم کې، ١٥- ژوره د تاریخ په سپیده داغ کې، ١٦- د مرګ په وزرو (یونلیک)، ۱۷- د دوزخ په لمبو کې سوځیدلې جنت (یونلیک) او نور...

## وثیق/عماد الدین

فیض الرحمن (عماد الدین) وثیق د جهادی دوری د لیکوالو څخه یو دی چې په ۱۳۲٤لمریز/۱۹٤۵م کال د تخار د ینګی قلعه اولسوالی په مغلان کلی کی زیږیدلی دی، په یوکلنی بی پلار او په څلور کلنی بی مور وفات شوه، یوه موده دده پالنه د ترونو چی هغوی هم له اقتصادی ستونزو سره لاس او ګریوان وو پرغاړه وه. یوه موده بی سرپرسته پاتی شو چی بیا یوه نیک سړی د ارباب ظاهر په نامه پناه ورکړه او بنوونځی ته بی واستاوه په ۱۳۵۰لمریز/۱۹۷۱م کال بی په هغه ولایت کی د ابن سینا لیسه پای ته ورسوله، په ۱۳۵۵لمریز/۱۹۷۶م کال بی د حقوقو له پوهنځی څخه د قضایی څانګی څخه بری لیک واخست، او د مساعد څارنوالی په توګه بی د امام صاحب په ولسوالی کی په کار پیل وکړ، د ثور د کودتا په لومړیو کی پیبنور ته مهاجر شو د جمعیت اسلامی په فرهنګی کمیته کی بی کار پیل کړ او د میثاق خون مجلی غړی او یوه موده مسوول مدیر ؤ...

## وحدت/حیات الله

په ۱۹۶۰م کال د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالی د کوه ګرد په کلی کی وزیږید، د بنوونځی لومړنی دوره یی د شش قلعه په منځنی ښوونځی کی بشپړه کړه او بیا د کابل تخنیکم ته ولاړ، په کال ۱۹۸۰م دهمدی تخنیکم د برق له څانګی نه په لوړه درجه بریالی را ووت او د استاد د معاون په حیث همدلته مقرر شو، په نظر کی وه چی دلوړو تحصیلاتو لپاره مسکو ته ولاړ شی، مګر د کمونستانو د ورځ په ورځ زیاتیدونکی اختناق له کبله د وطن پریښودوته ارشو چی په کال ۱۹۸۰م کی پاکستان ته مهاجر شو. نوموړی د مجاهدینو د راډیو "د افغانستان غږ راډیو" له تا داو ایښودونکو څخه یو دی او دروسانو د وتلوتر وخته پوری په همدی راډیو کی د نطاق، سیاسی مبصر او وروسته بیا دپښتو خپرونو دمسؤل او دخبرونو د شعبی د مسؤل په حیث دنده درلوده، هغه په همدی وخت کی "سره ستوری څنګه ویلیدل" پښتوکتاب ولیکه، پدی کتاب کی لومړی لاس هغه مواد چی د روسانو د ژوند او ددوی نظریات او په افغانستان کی دروسانو دیرغل او دخلکو مقاومت څرګندوی را تول شوی، داکتاب په کال ۱۹۹۷م په افغانستان کی د ورکو شوو روسی سرتیرو د میندو د تولنی له خوا داتیایمی عیسوی لسیزی کتاب اعلان شو.

حیات الله وحدت د جهاد په دوران کی (دغیرتونو بهیر) او (باروت خبری کوی) کتابونه لیکلی، چی دواړه کتابونه د افغانستان د مجاهدو خلکو د کارنامو نه خبری کوی، او لومړی لاس اسناد لری، حیات الله وحدت تر ۱۹۹۰-۱۹۹۲ میلادی کلونو پوری د مطالعاتو د پالیسی له انستیتوت او دا سیاسی مطالعاتو له مرکز سره په اسلام آباد کی د محقق په حیث دنده درلوده، په همدی دوران کی بی په بین المللی روابطو او دیپلوماسی کی دیپلومه واخیسته، د جهاد په دوران کی بی د حزب اسلامی د تشریفاتو د مدیر په حیث او د بهرنیو روابطو د سیاسی کمسیون د مدیر په حیث هم دندی درلودی. په کال ۱۹۹۵م دیوولسو افغانی اوبهرنیوالو مؤسسو له خوا د ماینونو پرضد د افغانانو د تولنی دکاردیناتور په حیث انتخاب شو، چی دی تولنی زر تر زره د ماین پر ضد نړیوال سازمان د رهبری شورا عضویت ترلاسه کړ. چی دی تولنی د نړیوال سازمان په چوکاټ کی په کال ۱۹۹۷ د سولی نوبل جایزه یووړه. وحدت پرکال ۱۹۹۶م په اسلام آباد کی د ماین پاکی د سروی په دفتر کی د پلان مدیر تعیین شو، په کال ۱۹۹۸م د ملګرو ملتو د معیوبینو د پروګرام په اداره کی د اطلاعاتو د مسؤل په حیث مقرر شو، چی ددی کرښو تر لیکلو پوری په همدی دنده پاته شوی دی.

## وسا، رشاد

محمد رشاد وسا د ډاکټر محمد رسول زوی د افغاني با احساسه لیکوالو او شاعرانو څخه یو دی، خپل تحصیلات یې په حبیبیه کې پای ته رسولي اوپه ۱۳۴۲لمریز/۱۹۶۴م کال دادبیاتو اوبشري علومو له پوهنځي څخه دژورنالیزم په څانګه کې فارغ شو، نوموړی څه موده دحبیبیې په لیسه کې دښوونکي په توګه دنده اجراکړه رشاد وسا په ۱۳۴۷لمریز/۱۹۶۸م کال دروغتیا وزارت دخپرونو د مدیر په حیث وټاکل شو، وروسته بیا د اطلاعاتو اوکلتور په وزارت کې د فولکلور څانګې غړی شو، په کابل کې د کمونستي رژیم له راتلو سره یې په ۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال استعفا ورکړه اوله کورنۍ سره یې المان ته ولاړ.

د رشاد وسا آثار دا دي:

۱- افسانه های شیرین (له انګلیسي څخه په دري ژباړه)

۲- فریاد از سکوت دلنډو داستانونو مجموعه.

۳- چاربیتي ها، ٤- پیام وحدت (شعري مجموعه)

## ولس مل، محمد حسن

محمد حسن ولسمل د افغان مجاهد او مجاهد ولس چلوونکی او مسوول مدیر دی، نو موړی په ۱۳۱۶لمریز/۱۹۳۸م کال د ننګرهار ولایت په کامه ولسوالي کې نړۍ ته راغی، په ۱۳۳۸لمریز ۱۹۵۹م کال د کابل له زراعت لیسې څخه فارغ شو، په ۱۳۴۲/۱۹۶۳م کې یې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي پای ته ورساوه د افغانستان له مشهورو ورځپانو سره یې همکاري درلوده او په افغانستان راډیو کې یې د پښتو پروګرام د آمر په توګه دنده اجراکړه، یوه موده د تخار په خواجه غار او د هرات په زنده جان ولسوالي کې د ولسوال په توګه توظیف شو، په ۱۳۴۸لمریز/۱۹۶۹م د افغان جریدې مسوول مدیر ؤ، په ۱۳۵۲لمریز/۱۹۶۹م کال د بلخ ولسوال شو، له هغه وروسته د کندز په دشت ارچي کې ولسوال شو، د ثور له کودتا وروسته یوه موده بندي شو او یوکال وروسته د څرخي پله له جیله راووت او پیښور ته راغی، افغانستان مجاهد جریده یې خپره کړه، چې له یوې مودې وروسته دغه جریده د افغانستان کمشنري لخوا مصادره شوه، بیا ناروې ته ولاړ اود (مجاهد ولس) جریده خپروي.

## هاله، حبیب الرحمن

پوهاند حبیب الرحمن هاله د افغانستان داوچتې پایې له ژورنالستانو څخه دی. چې د پروان په ولایت کې زیږیدلی او د ادبیاتو په پوهنځي کې یې زده کړې، کړي دي. او له درسي بورسونو څخه یې په استفادې د ژورنالیزم په څانګه کې ماستري ترلاسه کړې وه، نوموړی په ژورنالیزم کې یوه رساله د (مقایسوي ژورنالیزم) په نامه لري، په ۱۳۵۳لمریز/۱۹۷٤م کال د ژورنالیزم د دیپارتمنټ د آمر په توګه وټاکل شو، د ثور له کودتا وروسته یې د ژورنالیزم د استاد په حیث په کابل پوهنتون کې درس ورکاوه، خو له یوه کاله څخه په لږه موده کې د مسلماني او د محمد داود له رژیم سره د اړیکو په ګناه بندي شو او اته کاله په جیل کې پروت ؤ، له خوشې کیدو وروسته پیښور ته ولاړ، د افغانستان په خپرونو کې د پوهاند هاله ډیرې مقالې خپرې شوې دي، نوموړی د (کانون ترجمه آثار جهاد) له لارې "همسفری ها با مجاهدین" د سندیګال اثر پر دري ژباړلی او خپور کړی دی.

# د اتمه برخه مأخذونه او پایلیکونه

۱- د حزب اسلامی افغانستان مرامنامه د فرهنګي ریاست له خپرونو څخه دریم چاپ ۱۳۵۹ المریز / ۱۹۸۰ م لومړی مخ.
۲- مسوولیت های عضو، د حزب اسلامی خپرونه، پنځم چاپ ۱۳۶۵ المریز (ی - م) مخ.
۳- د افغانستان د بنځو تولنی اساسنامه ۱۳۷۲ المریز/ ۱۹۹۳ م پیبنور ۵-۷ مخونه.
٤- د ګلبدین حکمتیار په ژوند لیک کی له لاندینیو منابعو څخه استفاده شوی ده:
الف:- (مقاومت) خپرونه، د افغانستان اسلامی حزب ۱۳۶۶ المریز د سلواغی ۱۲ مه/۱۹۸۸ م د فبروری لومړی، پیبنور.
ب: وینه په قلم کی الحاج ننګیال، د افغانستان جهادی څیړنو مرکز ۱۳۶۸ المریز لیندی/ ۱۹۸۹ م نوامبر، پیبنور.
ج: افغان جهاد (فصلنامه) د افغانستان د جهاد ثقافتی شوری لومړی کال دریمه ګنه، مرغومی - کب ۱۳۶۶ المریز/دسمبر ۱۹۸۷ - جنوری ۱۹۸۸ م، اسلام آباد.
د: د البدر میاشتنی جریده په اروپا کی د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو دفتر خپرنی ارګان، دریمه ګنه، دریم کال، تله ۱۳۶۷ المریز/ ۱۹۸۸ م آکتوبر، لاهه، هالنډ.
هـ: له حکمتیار سره د کتاب د لیکوال ځانګړی مرکه د ځاځیو په حسن خیلو کلی کی، ۱۳۷٤ المریز د تلی ۲۷ مه/۱۹۸۸ م نوامبر. افغانستان، د غزکست په هالنډ کی د افغانستان د تحقیقاتو انستیتوت په آرشیف کی.
۵- د (خواهر شهید) خپرونه، حزب اسلامی افغانستان. لومړی ګنه، لومړی مخ، ۱۳۵۹ المریز د غوایی ۱۵ مه.
٦- د (خواهر شهید بیا احیا) ځانګړی پانه پرلپسی ګنه ۹ مه، البدر میاشتنی جریده، ۳۹ مه ګنه په هالند کی د افغانستان د مجاهدینو دفتر، ۱۳۷۱ المریز سلواغه/ ۱۹۹۳ م کال جنوری.
۷- افغانستان: د بحران پیل دوهمه برخه د امریکا د جاسوسی ځالی اسناد د امام د لیکی پیرو مسلمان محصلین، پنځم توک، ۱۳۶۹ المریز غوایی میاشت تهران، ۲۸۳ مخ.
۸- (راه حق) جریده، د تهران نمایندګی د حزب اسلامی افغانستان، خپرنی ارګان، د ۱۳۵۸ المریز د زمری دوهمه.
۹- افغانستان، علی آبادی، د ایران د بهرنیو چارو وزارت له خپرونو څخه- ۱۳۷۳ المریز/تهران ۲۰۶ مخ.
*10: Islam and Resistance in Afghanistan Olivier Roy, Combridge Middle East Library, 1986 NY, U.S.A, P. 131.*
11 - فشرده مرام اهداف جمعیت اسلامی افغانستان (رساله) د فرهنګی کمیسیون له خپرونو څخه ۱۳٦۲ المریز/ ۱۹۸۳ م پیبنور ۷ مخ.

۱۲- د رباني د ژوند لیک په برخه کې له لاندې منابعو څخه استفاده شوې ده:
الف: (میثاق خون مجله) د افغانستان د اسلامي جمعیت خپرني ارګان لومړی او دوهمه ګڼه، ۱۳۵۹ المریز پیښور.
ب: وینه په قلم کې، الحاج ننګیال، ۲۱۲ مخ.
ج: البدر میاشتنی جریده څلورم کال ۱۸ مه ګڼه ۱۳٦۸ تله ۱۹۸۹ م اکتوبر، هالند ٤-٥ مخونه.
د: افغان جهاد (فصلنامه) د افغانستان د جهاد ثقافتي شورى دریمه ګڼه لومړی کال ۳۲ مخ.
۱۳- د ANLF اهداف، په لاهور کې د نجات ملي جبهې نمایندګي ۱۳٦۸ المریز/۱۹۸۹ م.
۱٤- افغانستان اسلام او... الیور روا ۷۳ مخ.
۱٥- د ملي اسلامي محاذ مرامنامه، د داخلي سیاست برخه، ۳-٦ مادې، محاذ مجله لومړی کال لومړی ګڼه، ۱۳٦٦ لمریز، وری/۱۹۸۷ م اپریل، پیښور.
۱٦- افغانستان، اسلام او ... (الیور روا ۲۱۳ مخ)
۱۷- د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان (فشرده مرام) رساله، (ماچه میخواهیم) برخه، فرهنګي کمیټه ۱۳٦۰ المریز/۱۹۸۱ م پیښور.
۱۸- اتحاد اسلامي جریده، د استاد سیاف سوانح د اتحاد اسلامي خپرني ارګان، لومړی ګڼه د ۱۳٥۹ لمریز دغویي لومړی/۱۹۸۰ م د اپریل ۲۱ مه، پیښور.
۱۹- افغانستان اسلام او... الیور روا، ۲۲۹ مخ.
*20: Afghanistan (Political Parties...) M.S. Fida Yunas, 1998 Peshawar P. 577.*
۲۱- طارق (جریده) د الحدید (سازمان آزادیبخش افغانستان) خپرني ارګان، لومړی ګڼه ۱۳٥۸ المریز د کب ۷ مه تهران، ٥ مخ.
۲۲- افغانستان، علي آبادي، ۲۲۲ مخ.
۲۳- په "افغانستان" کتاب کې د "میثاق وحدت" متن، علي آبادي اثر ۲۱۷-۲۲۰ مخونه.
۲٤- وحدت (خبرنامه) په اروپا کې د حزب وحدت اسلامي نمایندګي ۳۰ مه ګڼه ۱۳۷۳ المریز د چونګابن ۲۳ مه/۱۹۹٤ م د جولای ۱٤ مه لندن.
۲٥- افشای توطیه خاینانه...) د (وحدت) خبري لیک، ۳۲ مه ګڼه ۱۳۷۳ المریز د تلې ۸ مه/۱۹۹٤ م د سپتمبر ۳۰ مه، لندن.
۲٦- هماغه منبع لومړی نمبر سند دریم مخ.
۲۷- تفاهم جریده، په هند کې د حزب وحدت اسلامي ګوند نمایندګي، ٤۰ مه ګڼه، ۱۳۷۸ المریز د وری ٤ مه/۱۹۹۹ م کال د اګست ۳۱ مه، نوی دیلي.
۲۸- فشردهٔ زندګی رهبر شهید (وحدت) خبري نامه. په لندن کې د حزب وحدت اسلامي نمایندګي. ۱۳۷۳ المریز د کب ۲۸ مه/۱۹۹٥ م د مارچ ۹ مه، پنځم مخ.

٢٩ - (معرف فعالیتهای شورای ثقافتی جهاد افغانستان) پیژند پانه دانستنی ها ١٨ مه گنه، د افغانستان د ثقافتي شورۍ له خپرونو څخه ١٣٦٥ لمریز وږی/١٩٨٦م سپتمبر، اسلام آباد.

٣٠- په هالند کې د افغانستان د مجاهدینو د تبلیغاتو د دفتر اساسنامه، لومړی چاپ ١٣٦٤ المریز/١٩٨٥م، لاهه، هالند، ٥-٧ مخونه.

٣١- وفا جریده، د افغانستان د آزادو لیکوالو د ټولنې خپرنی ارگان لومړی کال لومړی گنه (عرض مرام) ١٣٧٠ المریز لرم/١٩٩١م د نومبر ٢٧.

٣٢- افغانستان (سیاسي او نظامي راپورونه) پوهاند ډاکتر علمي کانون ترجمه آثار جهاد افغانستان، د خپرونو لړۍ ١١ مه ١٣٦٧ المریز/د زمري میاشت پیښور، پیشگفتار.

٣٣- د دې بحث په ترتیب کې له لاندې منابعو څخه استفاده شوې:

الف: کلتور مجله، افغان کلتوري مرکز المان، د ١٣٦٤-١٣٦٨ المریز/١٩٨٥م-١٩٨٩م کلونو گڼې، بن، آلمان.

ب: وینه په قلم کې، الحاج ننگیال د افغانستان جهادي څیړنو مرکز، ١٣٦٨ کال سلواغه/١٩٨٩م جنوري.

ج: (در دری) فصلنامه، د افغانستاند لیکوالو د فرهنگي مرکز خپرونه، ١٣٧٧ المریز پسرلی/١٩٩٩م مشهد، ایران.

د: (شعر) مجله، د افغانستان ویژه نامه، ١٤ مه گنه، دوهم کال ١٣٧٣ المریز لرم/١٩٩٤م اکتوبر، تهران.

هـ: د افغانستان د بیا ودانولو او څیړنو انستیتوت آرشیف، آلمیر بنار - هالند.

٣٤: قافله بدر دعبدالحی شیدا د اشعارو ټولگه د ډاکتر محمد حلیم تنویر په زیار د افغانستان د څیړنو انستیتوت خپرونه، ١٣٧٨ المریز، هالند، ٥ مخ.

نهمه برخه

# د مجددي او رباني دوره

د ۱۳۷۱ لمریز له غوايي - ۱۳۷۵ لمریز د میزان تر ٤ مې
د ۱۹۹۲ م اپریل - ۱۹۹۵ م دسپتمبر ۲٦ مې

د مجددي او رباني دوره د مجاهدینو د واکمنۍ دوره بلل کېږي. که څه هم یو شمیر په دې نظر دي چې دغه اختناقي دوره باید مجاهدینو ته منسوبه نشي، ځکه د رباني اداره د شورې نظار، جمعیت او په کمونستي رژیم پورې تړلیو یو شمیر افرادو څخه جوړه شوې وه او چلن او روش یې هم د اسلامي حکومت په تشکیل کې د مجاهدینو د اساسي غوښتنو سره اړخ نه لګاوه، خو په اداره کې د مجاهدینو اغیزمن موجودیت په ګوندي او یا انفرادي توګه او د داخلي جګړو او بدمرغیو دوام د مجاهدینو واکمنۍ دوره تائیدوي که څه دغه دوره توره او یاناکامه وبلل شي. زه هم د پیښو د راوړو په بهیر کې دغه دوره د مجددي او رباني د مشرتابه په محور څیړم.

## له کمونستانو څخه مجاهدینو ته دواک دلېږدولو دوره

د کابل له رژیم څخه دواک لیږدول، د مجاهدینو ترمنځ دداخلي اختلافونو اوج او د کابل د رژیم د سره پاشل کیدو حالت په هیواد کې یوه دنا باورې فضا جوړه کړې وه.

زیاترو ډلو، آن قوماندانانو په محلي او ولایتي سطحه هڅه کوله چې په واک کې زیاته ونډه ترلاسه کړي. زه په دې بحث کې د ۱۳۷۱ لمریز کال د ورې له لومړۍ/۱۹۹۲م د مارچ ۲۱ مې څخه پیښې په لنډون راوړم.

د ۱۳۷۱ کال د ورې په لومړۍ ورځ د مزار شریف ښار د مجاهدینو او د نجیب الله د رژیم د مخالفو ځواکونو په لاس کې کیوت، دغه ښار دیوه قوم پالنې پر روحیه جوړ ائتلاف چې د احمد شاه مسعود، رشید دوستم، جعفر نادري (دسید کیهان زوی) او حزب وحدت ترمنځ راغلی ؤ سقوط وکړ. دغه ځواک د پښتنو دواکمنۍ پرخلاف جوړ شوی ؤ. د مزار له سقوط سره په وطن ګوند پورې مربوط زیاتره پښتانه قوماندانان حزب اسلامي ته تسلیم شول. د مزار شریف د سقوط سبب داؤ چې نجیب غوښتل هغه د غیر پښتنو قوماندانانو پرځای پښتانه وټاکي په دې وضع کې د مجاهدینو څو تنو مشرانو د هغوی له دلې

څخه حکمتیار، سیاف او مجددی د نوی کال په مناسبت په خپلو پیغامونو کی له نړیوالو په تیره ګاونډیو څخه وغوښتل چی د افغانستان په داخلی چارو کی له لاسوهنی څخه ډډه وکړی، په پاکستان کی څو سیاسی ګوندونو د عوامی نشنل ګوند په شمول له مجاهدینو څخه وغوښتل چی د افغانستان د ربړی د حل په خاطر دی د نجیب الله له رژیم سره نیغی خبری اتری پیل کړی او دریم لاس دی د افغانستان له چارو څخه ایسار کړی.

د نوی کال په شپه نجیب الله هم د کابل راډیو او تلویزیون څخه خپله ۱۲ دقیقه یی بیانیه واوروله، د ملګرو ملتونو سازمان دوراندی شوی طرحی د پلی کیدو په اړه یی امیدواری ښکاره کړه چی که وتوانیږی د دواړو ښکیلو لوریو ترمنځ تفاهم وکړی. د حکمتیار حزب اسلامی – سیاف او مولوی خالص د افغانستان د مجاهدینو په راتلونکی اداره کی د وطن ګوند ګډون او شریکیدل کلک رد کړل، د کابل رژیم د مجاهدینو په لاس د مزار د سقوط خبر رد کړ څرګنده یی کړه چی جنرال نبی عظیمی او اکرام پیګیر د نجیب له مشاورینو څخه یوتن د جنډی د اوچتولو په مراسمو کی ګډون کړی ؤ، په داسی حال کی چی د نړی په خپرنیو وسایلو کی د مزار شریف په ښار کی د ملیشو لخوا دخلکو د عامه شتمنیو د لوټ خبرونه خپاره شوی وو. نجیب الله له بینن سیوان سره په یوه دری فقره ئیز وړاندیز موافقه وکړه چی د نوی کال په مناسبت په وینا کی یی اشاره ورته وکړه.

هغه داسی ؤ:

۱- ده د رئیس جمهور پر کرسی پرپاتی کیدو ټینګار ونه کړ که بینن سیوان یوه لنډمهالی ۱۵۰ کسیزه شوری چی د مجاهدینو، د وطن ګوند او اولسی مشرانو څخه تشکیل شوی وی جوړه کړی.

۲- که دغه شوری او جرګه عبوری حکومت جوړ کړی دی به په لومړیو ورځو کی واک ور ولیږدوی.

۳- دغه لنډ مهالی حکومت باید د ملت ټولی غوښتنی د افغانستان د ملی وحدت او بشپړ مصئونیت په چوکاټ کی په پام کی ونیسی چی انسانی حقوق په هغو کی مراعات او انتخابات پکی ترسره شی. د وری په دریمه/۱۹۹۲ د مارچ ۲٤مه د نجیب الله حکومت د یوی اعلامیی په ترڅ کی د پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه د بیاراتلو هرکلی وکړ او د هر دول همکاری څرګندونه یی وکړه. (۱)

د حمل په ٤مه د مارچ ۲۵مه دافغانستان د مجاهدینو مشران د پکتیا ولایت په ځمکنیو ولسوالی کی د جمعیت اسلامی په یوه پوځی – سیاسی مرکز کی د دریم ځل لپاره غونډه وکړه او مجاهدینو ته دواک دلیږدولو د پروسی په ګړندی کیدو او د ملګرو ملتونو پر وړاندیزونو یی بحث وکړ. په دی غونډه کی برهان الدین ربانی، ګلبدین حکمتیار، عبدالرب رسول سیاف، مولوی خالص، حضرت صبغت الله مجددی، پیر سید احمد ګیلانی، مولوی محمدی، مولوی منصور، قاضی محمد امین وقاد د شوری اتفاق رئیس جاوید او شیخ آصف محسنی ګډون درلود، د غونډی اجندا په مزار کی د جنرال رشید دوستم او نادری د ملیشو د چور او لوټ خبره وه، چی د نجیب د رژیم پر خلاف د بغاوت په نامه یی د خلکو او عامه ملی شتمنی یی

لوټ کړي. هغه څه چې باید پرې بحث شوی وای سیاسی تګلاره وه چې هیڅ خبری پرې ونه شوی او د افغانستان په داخلي وضعه خوښی ښرګنده شوه چې رژیم د نسکوریدو په حال کی دی... د واحد قیادت د جوړیدو په اړه د حکمتیار او مجددی ترمنځ د نظر اختلاف راغی او وروسته بیا پریکړه وشوه چې ددوو میاشتو لپاره به مجددی د دولت ریاست پرغاړه اخلی دوی میاشتی وروسته به یی ربانی ته سپاری. په دی موده کی به سرتاسری انتخابات ترسره کیږی او یو انتخابی حکومت به د څلورو کلونو لپاره واک په لاس کی اخلی، حکمتیار د نجیب د رژیم په غوښتنه انتقاد وکړ او رد یی کړه چې د ایران او مرکزی آسیا له هیوادونو څخه یی د مداخلی غوښتنه کړی وه. (٢)

د حمل په اتمه نیټه د مارچ ٢٨مه حکمتیار د پیښور په شمشتو کی یوی لویی غونډی ته دواک د لیږد ولو یو دری فقره ایز وړاندیز وکړ، دغه وړاندیز داسی ؤ:

١- د نجیب الله بی قید او شرطیه استعفی او په مساوی توګه د ټولو ګوندونو مجاهدینو ته واک سپارل.

٢- د مجاهدینو لنډمهالی حکومت جوړیدل چې په شپږو میاشتو کی باید انتخابات دایر کړی.

٣- انتخابات او د افغانستان د اسلامی ملی شوری جوړیدل چې هغه به د دوه ثلثه رایو په اکثریت حکومت جوړوی او دغه مرحله باید په هرو څلورو کلونو کی د انتخاباتو له لاری بشپړه شی.

یوه ورځ وروسته نجیب په خپله بیانیه کی غوښتنه وکړه چې مجاهدین دی له حکومت سره خپل اختلافونه شاته کړی او ددی موضوع د حل په خاطر کیدای شی د ملګرو ملتونو قواوی پوځی مداخله وکړی او دغه توپیرونه له منځه یوسی. په کابل کی اختناق او ګډوډی اوج ته ورسیده او د خوراکی شیانو بیه ډیره جګه شوه. د پاکستان حکومت څرګنده کړه چې کابل ته به غذایی مواد ولیږی، مجاهدینو غوښتنه وکړه چې د کابل په ښار او په شاوخوا کی به دوی خوراکی مواد وویشی، او دا ادعایی کوله چې د خوراکی موادو مرسته به د کابل د ژریم د پیاوړی کیدو سبب شی. خو پاکستان شل ټنه غنم د هوا له لاری کابل ته واستول، چې د کابل د رژیم د بهرنیو چارو دوزیر له خوا په قدردانی ومنل شول، د ملګرو ملتو سازمان چې له نجیب سره موافقی ته رسیدلی ؤ یوه ورځ وروسته یی د پاکستان له صدر اعظم نواز شریف او د بهرنیو چارو له وزیر صدیق خان کانجو سره په اسلام آباد کی خبری اتری وکړی، په همغه ورځ یعنی د وری ١٤مه/د اپریل په ٣مه د هرات ښار د مجاهدینو په لاس کی ولوید، د وری په ١٥مه د افغانستان د اسلامی حزب د شمال ولایتونو (کندز – تخار او بغلان) قوماندانانو د یوه شریک دریځ په ترځ کی د یوه اسلامی نظام د جوړولو لپاره له کمونستانو سره د ائتلاف څخه پرته خپل دریځ اعلان کړ.

یوه ورځ وروسته حکمتیار له بی بی سی سره په مرکه کی دیوی لنډمهالی اداری له جوړولو سره موافقه څرګنده کړه چې د غیر ستنازغ او ټولو جهادی ډلو ته د منلو وړ شخصیتونو څخه جوړه شوی وی خو وی ویل: دی ته چمتونه یو چې له نجیب سره په یوه شریک حکومت کی ګډون وکړو.

په همدغه ورځ بینن سیوان هم په پاکستان کې له جهادي مشرانو سره ولیدل او بیا ایران ته ولاړ او د ایران دبهرنیو چارو له وزیر علي اکبر ولایتي سره یې په کابل کې د اقتدار د لیږدو لو په اړه بحث وکړ. ایراني مقاماتو هڅه کوله چې په خبرو اترو کې د قومونو او مذهبونو د آزادۍ په حق ټینګار وکړي، د حمل په ۱۸ مه د اپریل ۷مه بینن سیوان کابل ته ولاړ او له نجیب الله او صدر اعظم فضل الحق خالقیار سره یې د پتروس غالي د هغه پیشنهاد په اړه خبرې وکړې چې پخوایې په سویس کې څرګند کړی ؤ، په دې وراندیزکې د نجیب پر استعفی اود راتلونکې حکومت څخه د وطن ګوند په وتو ټینګار شوی ؤ.

# د شمال د ائتلاف شوری

پخوا له دې چې په شمال کې د رژیم د مخالفو ځواکونو ترمنځ ائتلاف را منځته شي، یوه سلسله خوځښتونه چې پرقومي مذهبي او ژبني تعصب بناو له یوه پلوه د نجیب د رژیم پر خلاف او بل لوري ته د هغو ډلو پر خلاف چې د پښتنو مشرانو سره ملګرې وو پیل شول. دغه پلان د مزار شریف له بنار څخه د کابل له رژیم څخه د جنرال رشید دوستم د لرې کیدو سره پیل شو، نوموړي غوښتل ځان جدا او آزاد تنظیم کړي.

د مزار شریف له سقوط سره سم د نظار شورای قوماندانانو او پخپله احمد شاه مسعود، د نادري، دوستم ملیشو او حزب وحدت ډلې هڅه وکړه چې خپل دغه نسبي یووالي وساتي او بو شریک دریځ ونیسي.

د حمل په ۱۹مه/د اپریل ۸ مه جنرال دوستم او د احمد شاه مسعود قوماندان علم خان په مزار شریف کې مطبوعاتي کنفرانس دایرکړ څرګنده یې کړه: موږ نه غواړو کابل بیل کړو، خو د پښتنو د واک ته رسیدو مخالف یو، اوس موږ د ایران پلوې ډلو "مطلب یې حزب وحدت او د جعفرنادري ملېشې وې" او جمعیت اسلامي سره د هغه یو والي په سبب چې ترمنځ مو راغلي دي موافقي ته رسیدلي یو او ، وافقه مولاسلیک کړې ده.

ثمر بیګ د جنرال دوستم د ملیشو یوه قوماندان بهرنیو خبریالانو ته وویل: پشتونها سالها موتر بنز می راندند و همیشه جنرال بودند، حال نوبت ماست.

جنرال رشید دوستم په دې کنفرانس کې وویل: نجیب غوښتل د خپل ولایت (پکتیا) پښتانه جنرالان په سمت شمال کې وټاکي خو موږ ددې موقع ورنکړه چې پښتانه بیا پر موږ واکمن شي.

د شمال ولایتونو د خوځښت سره سم د بلخ په ولسوالۍ کې چې زیاتره پښتانه او د جمعه خان همدرد تر قومانده لاندې د حزب اسلامي افغانستان سره اړوند وو.

نوموړی وویل: موږ به د ژوند تر وروستي سلګی د افغانستان د تجزیې او د ژبنیو، مذهبي او قومي اختلافاتو پر خلاف جهاد ته دوام ورکړو، د لویدیځو خبریالانو د را پورونو په اساس د مزار شریف په ښار کې د پښتنو کورونه لوټ شول، په ښځو تیري وشو او ځو تنه ووژل شول همدارنګه د پښتنو دوکانونه چور او لوټ شول. (۳) د شمال د ائتلاف شورې په یوه غونډه کې چې د احمد شاه مسعود، جنرال رشید دوستم، جنرال مؤمن اندرابي، سید منصور نادري او د وحدت ګوند ویاند خلیلي ترمنځ د جبل السراج د سمنتو د فابریکې په شمالي لمنه کې جوړه شوه یوه توافق ته ورسیدل، چې د دې توافق په اساس د کابل رژیم باید همدې شورې ته واک انتقال کړي او د "ائتلافي اسلامي شورئ" په نامه اعلان شوه. ددې شورې په اړه د حزب وحدت ګوند لارښود عبدالعلي مزاري لیکوال "ما" ته په یوه مرکه کې وویل چې: زه په دې بنه د شورا له جوړیدو سره مخالف وم، ما غوښتل چې د حزب اسلامي او جنرال دوستم سره تماسونه ونیول شي او دغه د عمل ابتکار په لاس کې واخلو، دوارو لوریو ته مې بلنه ورکړه چې د یوې ګډې شورې په جوړیدو سره دې د واک په لیږدولو کې ونډه واخلي، ماله حکمتیار سره خبرې وکړې او ترې ومې غوښتل چې د سمت شمال په ائتلاف کې استاد فرید د نماینده په توګه مزار شریف ته را واستوي، چې مشترکه شورې اعلان شي، خو حزب اسلامي ځان ګوښه وساته او مسعود چې خبر شو پخپله یې له موږ سره اړیکې ونیولې او دګډون هیله یې وکړه، په دې ډول مسعود د کارکیلې لاسته راوړه. (۴)

د نجیب د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل چې د ببرک کارمل د ترور زوی ؤ د خپلو تمایلاتو له مخې له یو شمیر نورو کمونستي جنرالانو سره احمد شاه مسعود ته زیات تمایل درلود، حزب اسلامي دیوې اعلامیې په ترځ کې ولیکل:

... څرنګه چې خبریاست د وطن کمونستي ګوند یو شمیر جنجال خوښوونکو او فرصت طلبه عناصرو یو ځل بیا په توطیه لاس پورې کړی دی، دوی په قدرت کې د پاتې کیدو او بقا لپاره د مجاهدینو په لیکو کې یو شمیر افراد تیر ایستلي او په کابل کې یې په یو لړ اقداماتو لاس پورې کړی دی، دغې ډلې چې یو وخت د بزګرو او کارګرو د حقوقو د دفاع شعارونه اوچت کړي وو اوس ځانونه دلږکیو حامیان بولي. په دې ډول غواړي په سلت او مجاهدینو کې پلویان پیدا کړي. او په دې ډول قومي، ژبنیو او مذهبي اختلافونو ته لمن ووهي او د مجاهدینو په منځ کې د نښتو سبب شي. ددغې ډلې په سرکې ببرک کارمل او سلطان علي کشتمند دي او د اردو یو شمیر افسران او د ملیشو قوماندان د وسله والو قواو په لیکو کې په شراچونه او جنجال جوړولو بوخت دي. دغه خاینه ډله ددې پر ځای چې په خپلې ننګینې سابقې پښیمانه شي او د خپلو پخوانیو جنایتونو بخښنه او معذرت وغواړي توبه وباسي او د خپلو تیرو شرمناکو کړو وړو جبیره وکړي برعکس د نورو فتنو په جوړولو او نورو وینو تویولو ته یې ملا تړلې ده.. هغوی په هغو ویشو ساړه نه شول چې تر اوسه پورې یې تویې کړې دي غواړي زموږ ملت د اسلام او کفر له جګړې څخه د لږ

کيو او ډېر کيو، شعيه اوسني، تاجک او پښتون او نورو قومونو او تبرونو ترمنځ جګړې نه ورکښ کړې. دغه ډله چې پخوا له مسکو څخه تغذيه او قومانده کيدله نن ورځ د يوه ګاونډي هيواد د يو شمير متعصبو، تنګ نظرو او پراختيا غوښتونکو عناصرو دلاس آله شوي دي. (۵) د وري په ۲۱ مه/ د اپريل ۱۰ مه نجيب الله د وضعې له بحراني کيدو او د جنرال دوستم او نورو جنرالانو د وتلو سره د افغانستان د مشهورو سوداګرو هريو د کندهار حاجي بابک، د مزار شريف حق مراد او د بدخشان له حاجي عبدالواسع څخه وغوښتل چې دده او جنرال دوستم ترمنځ منځګړيتوب وکړي او تفاهم يې ترمنځ راولي، خو د غوسوداګرو چې وضع د نجيب پر خلاف وليده دده غوښتنه يې ونه منله.

## د ملګرو ملتونو نوي وړانديز

### او د حزبونو ګډودوي

د بينن سيوان لنډمهالي او بدليدونکي طرحي او د پتروس غالي وړانديزونه داسې وو چې که وکولای شي د نجيب رژيم د بدل اخستونکو اقداماتو مخنيوی وکړي، او هغې پنځلس کسيزی بې طرفه شورى ته چې د مجاهدينو لخوا معرفي کيږي د موقت حکومت په توګه واک وسپاري... د محسني په مشرى حرکت اسلامي دغه طرحه رد کړه ويې ويل: د ملګرو ملتونو سازمان له مونږ سره په ۱۲ کسيزه شورى موافقه کړې ده اوس درې کسان پکې زيات شوي دي. مولوی محمدي وويل: مونږ دغه د پنځلسو کسونو مونه نه پيژنو او مجاهدينو نه دي تاکلي، د افغانستان اسلامي حزب اعلان وکړ: د ملګرو ملتونو سازمان هڅې د پنځلس کسيزې شورى د تپلو په اړه د افغانستان د ملت د غوښتنې پر خلاف دي او په کابل او ولاياتوکې وضعه له خطر سره مخ کوي، حضرت مجددي وويل: کوم کسان چې د لنډمهالي اداری په رأس کې راځي بايد د جهادي مشرانو د توافق سره سم وټاکل شي، له دې پرته بايد واک همدې حکومت ته (هغه حکومت چې دده تررياست لاندې جوړ شوی ؤ) وليږدول شي. کريم خليلي د حزب وحدت په نمايندګي وويل: د بې طرفه کسانو د نومونو ليکل د جهادي ډلو لخوا په دې معنى نه دی چې ملګرى ملتونه بشپړواک ولرى، رباني د سمت شمال د موقتي شورى پرجوړيدو ټينګار کاوه اوچوپ ؤ، د مولوى خالص حزب اسلامي او عبدالرب رسول سياف له دې پروګرام سره د مرستى څخه ډډه کوله.

د پتروس غالي د نوي وړانديز او د جهادي ډلو د عکس العمل سره بينن سيوان (جينوا) ته ولاړ، او د اروپا د ګډبازار له دوولسو سفيرانو سره يې وکتل او پردې يې ټينګار وکړ چې که دغه طرحه هم مختلفو لوريو لخوا ونه منل شي د واک له ليږ دولو څخه وروسته به په ۴۵ ورځوکې وظيفه لري چې د افغانستان په اړه يودسولې کنفرانس جوړ کړي.

د وری په ۲۲مه/ د اپریل په ۱۲مه د کابل رژیم د بهرنیو چارو وزیر په یوه تلویزیونی بیانیه کې په کابل کې او له امریکا غږ راډیو سره په مرکه کې د نجیب الله د حکومت پرځای واک بې پلوه پنځلس کسیزې شورا ته د لېږدولو هرکلی وکړ.

د وری په ۲۴مه/ د اپریل ۱۴مه ربانی، حکمتیار، سیاف، مولوی خالص او مولوی نبی د استاد احمد زی دفاتحې په مراسمو کې چې ترور شوی ؤ گډون وکړ او د بې طرفانو د حکومت مخالفت یې وکړ.

ددغه دریځونو له درک وروسته بینن سیوان و غوښتل چې زیات وضاحت وکړي خرگنده یې کړه: د ملگرو ملتونو سازمان نه غواړي چې عبوری حکومت وټاکی، دا د ملت حق دی چې ۱۴کاله جنگیدلی دی او اوس باید برخلیک وټاکي... په دې اړه د ایران او پاکستان له حکومتونو سره په تماس کې شوم او دهغوی موافقه مې ترلاسه کړه، امریکا او د کابل رژیم هم پرې موافقه کړې وه، نجیب الله هم په خپله راډیو یې وینا کې وویل: حاضر دی چې د جمهوری ریاست له کرسی څخه لرې او په کوم هیواد کې د سیاسی پناه غوښتنه وکړي. نوموړي د هند له حکومت څخه وغوښتل چې سیاسی پناه ورکړي.

## د ظاهر شاه له تیلو څخه د حکمتیار ویره

د ملگروملتونو زر زر بدلیدونکو او یوله بل سره توپیر لرونکو دریځونو د کابل رژیم بېرنیو وراندیزونو او د مجاهدینو د مختلفو ډلو مختلفو دریځونو چې د یو بل سره د رقابت په سیوری کې یې هڅې کولې زیاتې برلاسی وکتې او د گاونډیو او په قضیه کې د خپلو هیوادونو مداخلې د واک دلېږدولو او په عبوری اداره کې د نفوذ اوروول په اړه ابهامات درلودل. د همدغو ابهاماتو په چاپیریال کې د بې طرفانو او ظاهرشاه خبره هم را منځته کیدله چې توند لاري، اسلامپاله گوندونه سخت ورسره مخالف وو.

د ظاهر شاه د توندو مخالفینو له جملې څخه یو حزب اسلامی او پخپله حکمتیار دی چې تل یې د هغه دبیا راستنیدو مخالفت کړی دی. کله چې د ملگروملتونو لخوا د بې طرفه پنځلس کسیزې شورې لخوا د عبوری حکومت خبره را مخې ته شوه سیاسی تمایلات او تبلیغات داسې عیار شول چې دغه اداره به افغانستان ته د پخوانی پاچا د ستنیدو زمینه برابروي.

د وری په ۲۲مه/د اپریل ۱۲مه په پیښور کې په یوه خبری کنفرانس کې گلبدین حکمتیار د نجیب الله د رژیم پرځای د ملگرو ملتونو طرحه رد کړه ویې ویل: دغه سازمان په افغانستان کې د تصمیم نیولو صلاحیت نه لري، نوموړي د ملگروملتونو پر سازمان انتقاد وکړ چې هڅې یې د افغانستان د ملت د گټو سره جوخت نه دی بلکې د داخلی جگړو داوربلیدو زمینه برابروي، حکمتیار په دې کنفرانس کې نوې طرحه په دې ډول وړاندې کړه:

د پنځلس کسیزې شورې پرځای دې عبوری حکومت له داسې کسانو څخه جوړ شي چې د ظاهر

شاه پلویان او د نجیب پلویان او د مجاهدینو مخالفین پکې ګډون ونه لري. دغه حکومت دی په ۶ میاشتو او یا یوه کال کې دننه د عمومي انتخاباتو زمینه برابره کړي، او نظامي او امنیتي تشکیلات به د دې عبوري اداري په واک کې نه وي مجاهدین به لوبې لارې او مهم دولتي ارګانونه تر کنترول لاندې ساتي.

خو دغه طرحه هم د لسګونو نورو په څېرنه یوازې دا چې ونه منل شوه بلکې د واک له لېږدولو نه وراندې سیاسي او اجتماعي حالت بې بې معنی کړ.

## د مجاهدینو نظامي تحرکات

د وضعې د خرابیدو سره امریکا خپل د پوځ لوی درستیز جنرال بې هاور له یوه اقتصادي او سیاسي هیأت سره د افغانستان او پاکستان د وضعې د مطالعې لپاره راواستاوه، دغه هیأت د پاکستان له جمهور رئیس غلام اسحق خان سره په کتنه کې په افغانستان کې دیوه اسلامي حکومت په جوړیدو اندیښنه وښوده، له پاکستاني مقاماتو څخه یې وغوښتل چې درنې وسلې او ستنګر توغندي بیرته له مجاهدینو څخه را ټول کړي.، همدارنګه امریکا له پاکستان څخه وغوښتل چې له پاکستان څخه مجاهدینو ته د وسلو بندیز ژر تر ژره عملي شي.

د دې پرمختیاؤ سره جوخت د سالنګ دره د احمد شاه مسعود د قواو لاس ته ورغله او دوسلو او ټانګونو یو کتار یې له زیات شمیر سپکې وسلې سره لاس ته راوړل. د حزب اسلامي د جبهو مجاهدینو د بګرام په هوايي ډګر یرغل وروړ، د رویتر خبرې آژانس د راپور سره سم د ورې په ۲۶ مه/ اپریل ۱۵مه کمونستانو د استاد فرید او ځینو د احمد شاه مسعود سره د پخوانیو ژمنو او موافقو په اساس بیله وینو تویولو هډه مجاهدینو ته وسپارله او یوه ورځ وروسته یې په لاس کې کیوت، چې بیا د شورې نظار او جنرال دوستم د ملیشو ائتلافي قواو چاریکارو قوماندان فتح محمد د او د انجنیر طارق جبل السراج د او استاد فرید واره ګروپونه د پروان په ولایت کې شاته وزغلول او د بګرام هوايي ډګر د احمد شاه مسعود په لاس کې ولوید. د روسیې د سفارت کارکوونکې، پوځي مشاورین او د کا جي بي د اداري غړي د (ایرفلوت) الوتکو په واسطه پرله پسې د خواجه رواش د هوايي ډګر له لارې شوروي ته الوتنې کولې او ولاړل. هغوی د سفارت، دفاع وزارت او د خاد مربوط ټول اسناد چې په افغانستان کې د شورویانو د فعالیتونو ښکارندوی وو له ځانه سره یوړل، په کابل کې د نجیب او کارمل د پلویانو ترمنځ ژور اختلاف را څرګند شو، او د کارمل پلوی کمونستان د نجیب د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل په سنځګړیتوب له احمد شاه مسعود سره یوځای، شول او د دوی ترمنځ اړیکې ټینګې شوې. د جنرال دوستم ملیشه ځواکونو په چاریکار او بګرام کې د حزب اسلامي د مجاهدینو پر خلاف جګړه پیل کړه، چې د حزب اسلامي ځواکونو د درنو زیانونو له زغملو وروسته د سنجد درې – قره باغ او برج عبدالله پر لورې شاته ولاړل.

احمد شاه مسعود بهرنیو خبریالانو ته وویل چې کابل به زر سقوط وکړي او دده کسان به بښار ته ننوزي، په همغه شپه کابل رادیو مجاهدینو ته د بری مبارکي ورکړه او کابل ته بې د ورتلو هر کلي وکړ.

## د لنډمهالي اداري پنځه دیرش کسیز کمیسون وراندیز

د ورې په ۲۷ مه/اپریل ۱٦م نواز شریف ټول جهادي مشران د خپلو اختلافاتو لرې کولو او دیوې واحدې اداري جوړولو ته وروبلل، او ملاقات یې ورسره وکړ، زیاتره مشران د ملګروملتونو د ۱۵ کسیزې اداري له جوړېدو سره مخالف وو، نواز شریف چې پخوا له امریکایانو او ملګروملتونو سره بل مناسب بدیل طرحه کړي ؤ د ۳۵ کسیز کمیسون وړاندیزیې وکړ چې د مجاهدینو غړي او بې طرفه کسان به پکې وي، چې دیوې لنډمهالي یوکلنې دورې لپاره به واک په لاس کې اخلي او وظیفه به لرې چې ددې مودې له تیرېدو څخه وروسته به عمومي انتخابات داير وي، او دعمومي شورى د جوړولو او انتخابي حکومت تر تشکیل پورې به چارې پرمخ بیايي، په دغه کمیسون کې دغه کسان شامل وو:

۱ – داکتر روان فرهادي د کابل پوهنتون استاذ د پخواني پاچا او محمد داود دوخت د بهرنیو چارو وزیر، ۲/ جنرال یحیی نوروز د افغانستان د حرکت انقلاب اسلامي غړي او په پیښور کې د مجاهدینو په لنډمهالي حکومت کې مشاور، ۳/ محمد هاشم مجددي په عربستان کې د جوماتونو د نړیوالې شورى غړي او په اسلام آباد کې دافغانستان د جهاد ثقافتي شورى غړي، ٤/ د اوبو او برښنا پخواني وزیر انجنیر جمعه محمد محمدي، ٥/ داکتر ابراهیم عظیم د محمد داود په دوره کې د روغتیا وزیر، ٦/ عبدالصمد حامد په مشروطه دوره کې د صدارت مرستیال، ۷/ پوهاند عبدالسلام عظیمي د محمد داود په دوره کې د پوهنتون رئیس، ۸/ صباح الدین کشککي ژورنالست او د محمد موسی شفیق په دوره کې د اطلاعات او کلتور وزیر او د افغانستان د جهاد ثقافتي شورى رئیس. ۹/ نعمت الله شهراني یوتن څېړونکي (د جمعیت اسلامي غړي). ۱۰/ عبدالجبار ثابت په امریکا غږ رادیوکې نطاق او د افغانستان د اسلامي پوهنتون علمي مرستیال. ۱۱/ محمد یعقوب لعلي د مشروطه دورې وزیر. ۱۲/ عنایت الله ابلاغ د مشروطه دورې له وکیلانو څخه. ۱۳/ پوهاند فاضل د کابل پوهنتون د اروا پوهنې استاذ. ۱٤/ داکتر فیض الله کاکړ د علمي تحقیقاتو د انجمن رئیس (د حزب اسلامي غړي). ۱۵/ داکتر قاسم فاضلي د محمد ظاهر شاه د دورې مامور. ۱٦/ عبدالحي خراساني (د جمعیت اسلامي غړي). ۱۷/ فیض الله فیاض. ۱۸/ عبدالصمد سلیم د پخوانیو وزیرانو څخه یوتن. ۱۹/ جنرال علوزي شرف د اردو (حربي پوهنتون) پخواني استاذ. ۲۰/ عبدالستار سیرت د پاچا د دورې عدلیه وزیر. ۲۱/ عبدالاحد کرزي، ۲۲/ مولوي عمر شهید، ۲۳/ مولوي الله ګل، ۲٤/ مولوي غلام رباني، ۲۵/ عبدالجلیل/ ۲٦/ عبدالحمید معصومي، ۲۷/ مولوي احمد ګل، ۲۸/ امیر شاه حسن یار، ۲۹/ مولوي عبدالله ذاکري، ۳۰/ اختر محمد باختري، ۳۱/ علي

احمد، ۳۲/ محمد ناصر حسن زاده/ ۳۳/ جنرال عبدالحکیم کتوازی، ۳٤/ داکتر عبدالحکیم طبیبی پخواني وزیر او قاضي القضات، ۳٥/ او پخواني صدراعظم ډاکتر محمد یوسف.

په پیښور کې د جهادي مشرانو اضطراري جلسې رواني وې او حکمتیار، رباني، سیاف، جبرئیلي، محسني، خلیلي، محمدي، ګیلاني او مجددي پکې ګډون درلود، مولوی خالص د مخالفت په توګه په هغه غونډه کې برخه وانه خستله.

## د نجیب الله استعفی او د مسعود خوځښتونه

د مجاهدینو د مشرانو له غونډو سره جوخت نجیب الله د ۱۳۷۱ لمریز د وري په ۲۷مه/۱۹۹۲م د اپریل په ۱٦مه استعفی وکړه. او د وطن ګوند ځلور تنه یې پر خپل ځای وټاکل، ده چې خپله کورنی پخواهند ته استولې وه جنرال اسحق توخي خپل نژدې مشاور او د خاد وزیر غلام فاروق یعقوبي يې ځان ته ور وغوښتل اوهدایت يې ورکړ چې دده د استعفی له اعلان څخه د مخه دې د خاد د غرپو لستونه او تول اسناد له منځه یوسي، همدارنګه نجیب یعقوبي ته امر وکړ چې د کابل هوایي ډګر ته ولاړشي او هند ته دده د سفر لپاره یوه الوتکه ورته تیاره کړي، کله چې یعقوبي هوایي ډګر ته ولاړ د نجیب مخالفینو د بهرنیو چارو د وزیر عبدالوکیل او جنرال دوستم په شمول تصمیم ونیو چې د نجیب الله د وتلو مخه ونیسي او که په راتلونکې کې مجاهدین واک ته رسېږي دی باید د لومړي لمبر سړي په حیث محاکمه شي، د نجیب پر خلاف په دې فعالیتونو کې د پنجشیر او کابل رژیم ترمنځ د اړیکو جوړونکي فرید مزدک چې د پنجشیر او سیدونکی او د احمد شاه مسعود قومي ؤ، جنرال بابه جان، جنرال نبي عظیمي او جنرال آصف دلاور هم د همکاری اعلان وکړ، څکه خوبې یعقوبي ته وویل چې نجیب الله هوایي ډګر ته راوغواړي او هغه به دیر غمل په توګه وساتو او له مجاهدینو سره به په معامله کې تری کار واخلو، ویل کېږي چې ددې توطیې تر شا عملاً د ببرک لاس ؤ او غوښتل يې له نجیب څخه خپل کسات واخلي، د نجیب الله مخالفین چې زیاتره غیر پښتانه وو د قومي تمایلاتو سره یې د جبل السراج په ائتلاف کې هم د احمد شاه مسعود تائید کاوه چې د کابل د اقتدار پرسریې له حکمتیار سره سیالي درلوده.

د جنرال دوستم او کارمل پلویانو د جنرال مؤمن په ابتکار د خاد وزیر جنرال فاروق یعقوبي په هوایي ډګر کې ترڅارنې لاندې ونیو او هدایت یې ورکړ چې نجیب الله ته تلیفون وکړي او ورته ووایي چې الوتکه تیاره ده، خو یعقوبي نجیب ته په تلیفون کې وویل چې هوایي ډګر ته را نشي څکه چې دوستم او کارمل د سیسه جوړه کړې او غواړي تا ونیسي، جنرال مؤمن هغه ددې بې اطاعتي په ګناه له شانه په ککرۀ په تومانچه دوې ګولی وویشت او وېې واژه، او د رادیو له لارې يې اعلان وکړ چې جنرال فاروق یعقوبي ځان وواژه، نجیب الله خپله لاره د هوایي ډګر څخه د انصاري په ځلور لارې کې بیرته د ملګرو ملتونو د

نمایندګی دفتر ته ورکړه کړه او له خپل ورور احمد زی سره یې هلته دپناه اخستلو غوښتنه وکړه، همدارنګه د دفاع وزیر اسلم وطنجار او د داخله وزیر راز محمد پکتین هم ترڅارنی لاندی ونیول شول، د یوی افغانی خبری منبع (آ، ان، اس) په حواله پکتین د داخله وزارت په ودانی کی د نبی عظیمی د قواو لخوا کلابند شو او ترمنځ یې نښته هم وشوه.

مسعود اعلان وکړ چې د مجاهدینو مشران باید په یوه، دوو ورځوکی دشوری نظار او په مجموع کی د (سمت شمال د ائتلاف شوری) له خوځښتونو څخه خپل ملاتړ اعلان کړی ځکه چې دوی تصمیم لری چې ژر کابل ونیسی. (٦)

حکمتیار له مسعود سره د نه تفاهم په اړه ربانی ته وویل چې باید منځګړتوب وکړی او باید دمجاهدینو شریکی قواوی د کمونستی جنرالانو څخه پرته واک په لاس کی واخلی، که څه هم ربانی ظاهراً حکمتیار د دی کار وعده ورکړه خو د مسعود دلا تحرکاتو غوښتونکی ؤ، قدرت ته د رسیدو لپاره د جمعیت غړیو چې له سیاف او مجددی سره کلک تعهد کړی ؤ پیرګیلانی یې هم د دیپلوماتیکو منصبونو په ورکولو راضی کړی ؤ مولوی خالص یې په غوسه کړ او د سیاسی صحنی څخه یې لری کړی ؤ، د حکمتیار سوقف یې د مخالف په حیث دیوه واحد ګوند په توګه اتکل کاوه، حکمتیار هم زر تر اغیزی لاندی نه راتلو، او حزب اسلامی یې ددی مبارزو دیوه اسلامی نظام په جوړولو کی د واک اصلی مستحق یاله.

## د کابل د ښار د اطرافو د قوماندانو شورا

د وری په ۲۷ مه/ اپریل ۱٦ مه حکمتیار اعلان وکړ چې: که حکومت مجاهدینوته ونه سپارلی شی نو حمله به وکړی، ځکه چې شواهد ښیی چې د مجاهدینو پر خلاف به توطیه روانه ده. (٧)

ملګروملتونو له ټولو ښکیلو لوریو څخه وغوښتل چې پر کابل له یرغل څخه ډډه وکړی، حزب اسلامی دوری په ۲۸ مه د کابل د شاو خوا قوماندانانو ۳۸ کسیزه شوری اعلان کړه چې دوی به دیوی باصلاحیته اداری په حیث د کابل امنیت ساتی دغه شوری د ټولو ګوندونو د موثرو او مهمو قوماندانو څخه جوړه وه چې په دی ډول اعلان شوه:

بسم الله الرحمن الرحیم

ګرانو ربړیدلیو هیوادوالو!

د کابل نژدی فتحه او د کمونستی ظالم او منفور رژیم رانسکوریدلو زیری درکوو. د ببرک کارمل د پلویانو د حکومت له نسکوریدو وروسته به د کابل د شاوخوا د جبهو اغیز من قوماندانان د چارو واګی په لاس کی اخلی.

په دغه شورۍ کې دغه کسان شامل دي:

۱/ استاد فرید د حزب اسلامي د پروان کاپیسا د جبهو امیر، ۲/ محمد انور خان د شکردرۍ قوماندان (جمعیت اسلامي). ۳/ ملا تاج محمد (شکردره) قوماندان داتحاد اسلامي ٤/ حاجي جواد د شکردرۍ قوماندان (اتحاد اسلامي). ٥/ عبدالقادر خان له ده سبز څخه (حزب اسلامي). ٦/ عبدالکریم (عابد) د قره باغ څخه (حزب اسلامي). ۷/ صوفي محمد نعیم د کلکانو د میربچه کوټ څخه (حزب اسلامي). ۸/ استاذ ملنګ له ده سبز څخه (حزب اسلامي). ۹/عبدالله خان د میربچه کوټ څخه (حرکت انقلاب اسلامي). ۱۰/ قطب الدین د کابل له نرخ څخه (حزب اسلامي). ۱۱/ سید حسین انوری د سنګلاخ څخه (حرکت اسلامي). ۱۲/ بلال نیرم له پغمان څخه (د ملي نجات جبهه). ۱۳/ حاجي شیر علم د پغمان څخه (اتحاد اسلامي). ١٤/ مولوی علي نور له پغمان څخه (جمعیت اسلامي). ١٥/ انجنیر عبدالله د کابل د چلریز څخه (حزب اسلامي). ١٦/ دیدار د کابل د چاردهي څخه (حزب اسلامي). ١٧/ داکتر عزت الله د میدان بنار څخه (حزب اسلامي). ۱۸/ موسی خان له میدان څخه (اتحاد اسلامي). ۱۹/ حاجي سید محمد له لوګر څخه (جمعیت اسلامي). ۲۰/ ابوبکر د لبنکر ایثار قوماندان (حزب اسلامي). ۲۱/ عبدالحمید د لوګر له محمد آغې څخه (حزب اسلامي). ۲۲/ مصطفی بدر دبره کې برک "لوګرڅخه" (حزب اسلامي). ۲۳/داکتر فضل الله د لوګر بره کې برک څخه (جمعیت اسلامي). ٢٤/ حاجي احسان الله د لوګر ولایت د جهاد امیر (حزب اسلامي). ۲٥/ مولوی شرف الدین دلوګر له کلنګار څخه (مولوی خالص ګروپ). ٢٦/ مولوی صدیق الله اخوندزاده د لوګر (حزب اسلامي خالص). ۲۷/ استاد فتح محمد له پروان څخه (حزب اسلامي). ۲۸/ دیدار د خورد کابل او بګرامي قوماندان (ملي نجات جبهه). ۲۹/ نور آغا له چاردهي څخه (حزب اسلامي خالص). ۳۰/ درویش له چار اسیاب څخه (حزب اسلامي). ۳۱/عبدالحق له چار آسیاب څخه (حزب اسلامي خالص). ۳۲/ مدیر سید رحمن د فتح فرقې قوماندان (حزب اسلامي). ۳۳/ چار ګل نثار د وردګو د سید آباد څخه (حزب اسلامي). ٣٤/ ارسلا د چار آسیاب څخه (حزب اسلامي). ۳٥/ محمد انور د جګدلک څخه (جمعیت اسلامي). ٣٦/ امان الله خوږسن له میدان څخه (حزب اسلامي). ۳۷/ استاذ کریم د حزب اسلامي د مرکزي حوزې قوماندان. ۳۸/ انجنیر طارق له جبل السراج څخه (حزب اسلامي). ۳۹/ دوست محمد د کابل د بګرامیو څخه (حزب اسلامي). ٤٠/ انجنیر آصف د وردګو د چک څخه (حزب اسلامي). ٤١/ شفق یار له غوربند څخه (حزب اسلامي). ٤٢/ مولوی سلیم الله له سنګلاخ څخه (حرکت اسلامي)

دغې شورۍ په خپله لومړنۍ غونډه کې اعلان وکړ چې دیوه کال لپاره به دانتقالي دورې صلاحیت له دوی سره وي، او د افغانستان د هر ولایت په سطحه به همدغسې شوراګانې منځ ته راځي، له هر ولایت

څخه به دوه دوه تنه د نمایندګانو په حیث مرکزی شوری ته معرفی کیږی او دقوماندانانو شوری ته دواک د لیږدولو په صورت کی به پر کابل د حملی ضرورت نه وی، کابل ته به د وسله والو مجاهدینو د ننوتلو مخنیوی کیږی، دغه شوری خلکو ته ډاډ ورکړ چی هیچا ته به څه تاوان نه رسیږی، هر څوک به بی پخیل کورکی خوندی وی، هیڅوک هم بیله اجازی د چادوکان او یاکومی موسسی ته نشی ننوتلی، د امنیت د تامین مسوولیت به محلی امنیتی شوری ته سپارل کیږی، باید نړی ته ثابته کړو چی د افغانستان مجاهدین هم د جنګ سیرونه دی او هم د سولی د میدان اتلان، او پر دی توانیږی چی خپلی ستونزی بنی اواری کړی او د هیواد د اداری له مسوولیت څخه وتلی شی. (۸)

## مجاهدین او د ایران د لاسوهنی غندل

په همغه ورځ د هرات ښار د حزب اسلامی د جمعه خان او جمعیت اسلامی د اسماعیل خان په لاس فتح شو، وردګ او میدان ، لوګر، غور، بادغیس، بدخشان، د سمنګانو ایبک ښار، د سروبی ولسوالی، نورستان، د غزنی ولایت، او دشیر خان بندر څنډی او اسلام قلعه د مجاهدینو د قوماندانانو په لاس کیوتل.

زیاترو جهادی ګوندونو ایران د افغانستان په چارو کی په لاس وهنه تورن او محکوم کړ، چی شینډند هوایی ډګر ته بی پیلوټان او "سپاه پاسداران" څواک را لیږلی دی. په دی احتجاجیه کی یادونه شوی ده چی ایران الوتکی تبنتولی او یا له دی الوتکو څخه د هغوی مجاهدینو پر خلاف په عملیاتو کی کار اخلی چی د ایران د سیاستونو مخالف دی. په یوه خبری راپور کی یادونه شوی ده چی د افغانستان دوی پوځی ترانسپورتی الوتکی چی په مشهد کی کیناستی پیلوټان بی ایرانیان وو، ایران ٦٠ تنه پاسداران او ٢٠ تنه پیلوټان دغی هوایی هډی ته استولی وو چی د مجادهینو په لاس د هوایی ډګر له کیوتلو څخه د مخه د هغی تول نظامی مهمات او وسایل ایران ته ور سره یوسی. (۹)

د ای، ایف، پی د خبری آژانس د راپور په آساس تهران اعلان وکړ چی وضعه په افغانستان کی مخ په خرابیدو ده او ایران د خپل بهرنی سیاست په اساس د انقلابی ډلو (حزب وحدت) ګوند ملاتړ ته دوام ورکوی، او په دی اړه به له کابل سره تماسونه نیسو. داکتر علی آکبر ولایتی د تهران رادیو له څپو څخه په ۱۳۷۱ لمریز د وری ۲۸ مه نیټه وویل چی ایران له مجاهدینو او پاکستان سره د واک د لیږدولو په اړه تماسونه لری. په هماغه ورځ د کابل د کمونستی رژیم مامورین، د جنرال دوستم او سید کیان د زوی د ملیشو، حزب وحدت او احمد شاه مسعود یو ګډ هیأت له کابل څخه مشهد ته ولاړ او د ایران د حکومت ملاتړ بی ترلاسه کړ، د (ارنا) خبری آژانس ددغه هیأت د غړیو نومونه افشا نه کړل.

## په جبل السراج کې د وکیل او مسعود لیدنه

د ببرک کارمل او سلطان علي کشتمند پلوی کمونستانو د خپل موقف دساتنې او د مجاهدینو په تیره د حکمتیار او مسعود ترمنځ د اختلافاتو د راپیداکولو لپاره په یوه بله دسیسه لاس پورې کړ. په داسې دول چې له یوه پلوه یې له ټولو اړخونو سره د تفاهم دروازې پرانستې له بلې خوا یې د یوې خوا په واسطه د بلې د ځپلو لپاره په تخریبي کړو وړو لاس پورې کړ، عبدالوکیل د رژیم د بهرنیو چارو وزیر له احمد شاه مسعود سره په جبل السراج کې وکتل، په دې ناسته کې جنرال دوستم او جنرال مؤمن هم وو، وکیل مسعود ته د ائتلافي حکومت وړاندیزو کړ، چې یود بل په مرسته او همکارۍ په کابل کې د حزب اسلامي د پرمختګ مخنیوی وکړي، همدارنګه پر پخوانیو توافقاتو هم چې د دوی ترمنځ شوي وو تینګار وشو، چې د ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م کال په سپتمبر کې په پنجشیر کې دیوه ائتلافي حکومت په باب شوي وو. وکیل بهرنیو ژورنالستانو ته په یوه مطبوعاتي مرکه کې په کابل کې وویل: حکمتیار باید پر کابل د خپلو قواو له مارش څخه ډډه وکړي او د هغو موافقو سره سم چې د کابل اداري او قوماندان مسعود ترمنځ شوي دي له موږ سره همکاري وکړي. که هغه زموږ دې تکي ته له پاملرنې پرته خپل کارته دوام ورکړي موږ خپلو پوځي قواو ته امر کوو چې په وژونکې ګوزار ځواب ورکړي. موږ اوس د سیاسي لوبې توپ مجاهدینو ته سپارلی دی چې په څومره ګړندي توب کولی شي لوبه وکړي.(۱۰)

حکمتیار دغه ګواښ په صراحت ردکړ وي ویل: موږ له نظامي کودتاچیانو او هغه چا سره چې لاسونه یې د ملت په وینو رنګ دي ائتلاف نه کوو.(۱۱)

### د عبدالرحیم هاتف سرپرست ټاکل کېدل

د ۱۳۷۱ لمریز د ورې په ۳۰مه/ ۱۹۹۲م د اپریل ۱۹مه د وطن ګوند په منځ کې له ډېرو بحثونو او ناندریو وروسته د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي بینن سیوان په مرسته چې درې ورځې په کابل کې پاتې شو عبدالرحیم هاتف چې پخوا د جمهوریت ریاست مرستیال او د پلار وطني ملي جبهې رئیس ؤ د نجیب پرځای د موقت جمهور رئیس په حیث وټاکل شو. هاتف ٦٦کلن سړی ؤ چې د سیاسي تجربې سره د کندهار د پښتنو قومونو څخه یوؤ د نجیب الله د دورې د لویې جرګې په جوړولو او دده د جمهور رئیس په غوره کولو کې یې مهم رول درلود، پردې علاوه یې د نجیب د سیاسي مشاور او د ملي روغې جوړې د پلان په اړه اساسي رول درلود. خو عملاً اداره د نجیب د مخالفو جنرالانو په لاس کې وه، دیوې هفتې په ترځ کې تر څلور زره تنو زیاتې ملیشې د جنرال رشید دوستم او جنرال مومن په قومانده له مزار شریف څخه کابل ته راوستل شوې. د دغو ملیشو راوستل د ورې په ۲٦مه/د اپریل ۱۵مه پیل شول چې د مسعود د مجاهدینو په مرسته چې له جبل السراج څخه هغوی په هیکوپترو کې کابل ته راغلي وو

ملیشو د کابل حساسې او مهمې سیمې لاندې کړې. د نجیب او کابل د پلویانو ترمنځ اختلافونه تونند شول، دری ژبو کمونستانو د وکیل او فرید مزدک په منځګړتوب عملاً له مسعود سره همکاري پیل کړه، سیاسي دریځونه هم داسې وو چې مسعود نه غوښتل په کابل کې حزب اسلامي واک واخلي، د وری په ۳۰مه د کابل د هوايي ډګر سره په نښته کې د نجیب تر (۲) سوه تنو زیات ملګري و وژل شول. په کابل کې پر جنرال دوستم برسیره، جنرال مؤمن، جنرال نبي عظیمي، جنرال بابه جان، جنرال آصف دلاور، محمود بریالي، فرید مزدک او عبدالوکیل اجرائیه شورې جوړه کړه چې په پوځي چارویې څارنه کوله، دغې شورې کابل ښار په څلورو برخو وویشه، هوايي ډګر، جمهوري ریاست ماڼۍ، رادیو تلویزیون او مرکزي کمیته د جنرال مؤمن ترڅارنې لاندې، دریشخور او قرغې فرقې، بالاحصار او دارالامان د جنرال اصف دلاور تر څارنې لاندې بګرام هوايي ډګر او د خواجه رواش د هوايي سیدان پوځي برخه او دکابل او بګرام ترمنځ لاره د جنرال بابه جان ترڅارنې لاندې او خیرخانه او نظامي مرکزونه یې، د جاسوسې چارو ارتباطات او د خاد او وطن ګوند د غړولخوا د اختلافونو پیداکول او اختناق راوستل د جنرال نبي عظیمي تر څارنې لاندې مسوولیتونه وو.

د وری په ۳۱مه ۱۳۷۱ لمریز/ ۱۹۹۲ د اپریل ۲۰مه د څلور کسیز اجرایي کمیسون ترمنځ د واک د لیږ دو لوپه مسئله اختلافات تونند شول، په دې کمیسون کې عبدالرحیم هاتف او جنرال محمد رفیع حکمتیار ته د واک لیږدولو پلویان وو خو عبدالواحد سرابي او عبدالحمید محتاط غوښتل مسعود ته انتقال شي.

## د ایران، روسیې او پاکستان دریځونه

روسانو د خپلو ډیپلوماتانو په واسطه د یوې اعلامیې دخپرولو په اساس د واک د سوله ئیز لیږدولو هیله وکړه اعلان یې وکړ چې اتحاد شوروي او د مسکو اداري په افغانستان کې د ۱۳ کلنې جګړې په اوږدو کې خپل قدرت بایللی دی ترڅو بیرته خپله سیاسي ځواکمنه موضع ترلاسه کړي، د روسیې یوه لوړ رتبه مامور وویل: موږ منتظر یو او حالات ګورو... زموږ دریځ دا دی چې هر ځوک سوله ئیز بدلون راولي اوزموږ د افراد و ژوند تضمین کړي موږیې تائید وو... نجیب او د کابل رژیم کوم بل لوړ رتبه کس موږ ته د سیاسي پناه راوړو غوښتنه نه وه کړې... موږ په افغانستان کې د ازبکو او ترکمنو حقوقو ته پام لرو.

د ۱۳۷۱ لمریز د غوايي د میاشتې په لومړیو کې په کابل کې د روسانو ۱۳۲ تنه مشاورین او دری تنه نور د هیواد په شمال کې د ملیشو په حمایه کې په جاسوسي چارو بوخت وو ترڅو د قومي، ژبنیو او مذهبي تعصبونو پربنیاد داخلي جګړې پراخې او تونندې کړي، د افغانستان د داخلي جګړې او ربلول د شوروي حکومت له ډیرو ناروا تصمیمونو څخه ؤ. (۱۲)

ایران رسماً اعلان وکړ چې کابل د سیاسي خلا د ډکولو پرسر د قومي نښتو سبب کېږي چې اغېزې به یې د افغانستان د بریدونو څخه هم واوړي، د ایران رئیس جمهور علي اکبر هاشمي رفسنجاني اخطار ورکړ چې ځینې تنظیمونه د ۱۳ کلنې مبارزې په وروستیو کې چې بری ته نږدې ده ددغو اختلافاتو سبب شوي دي. هغه وویل: مور د ملګرو ملتونو د پلان ملاتړ او هر کلی کوو او خپل هیواد ته یې د افغان کډوالو د ستنیدو غوښتونکي یو، او نه غواړو چې د افغانستان شیعه ډله د هغه هیواد په راتلونکې کې سنزوې او ګوښې پاتې شي. (۱۳)

## د مجاهدینو د مشرانو دیووالي په اړه د نواز شریف ناکامي

دپاکستان د بهرنیو چارو وزارت دیوې اعلامیې په ترڅ کې وویل چې دغه هیواد له ایران سره نږدې تماسونه لري او دافغانستان د سیاسي وضعې شاهد دی اوس چې نظامي واک د جنرال نبي عظیمي په لاس کې دی، پاکستان د وطن ګوند سره د مسعود خبرو اترو اوله ملیشو سره د هغه د موافقو پلوی نه دی او پر کابل د حزب اسلامي حمله هم مردوده ګڼي، پاکستان په درې تکیو ټینګار وکړ:

۱- له وینو توئیدلو او وژنې څخه مخنیوی، ۲: د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه، ۳- په سوله ئیز ډول دواک لیږدیدل.

د حمل په ۳۰مه نیټه د پاکستان صدراعظم نوازشریف، د بهرنیو چارو وزیر صدیق کانجو، د بهرنیو چارو سکرتر اکرم ذکي، د مرکزي کابینې وزیر عبدالستار خان نیازي، د جماعت اسلامي امیر قاضي حسین احمد، جنرال ناصر جاوید د پاکستان د پوځي استخباراتو رئیس، او د جمعیت العلما یوې ډلې مشر مولانا سمیع الحق د مجاهدینو له مشرانو او نماینده ګانو سره اته ساعته خبرې اترې وکړې چې بېله څه نتیجې پای ته ورسیدې. د مجاهدینو مشران او یا د هغوی استازي دغه کسان وو:

برهان الدین رباني د جمعیت اسلامي مشر، پیر سید احمد ګیلاني د محاذ څخه، قطب الدین هلال له حزب اسلامي څخه، قاضي محمد امین وقاد د داعیه اتحاد اسلامي څخه، نجیب الله مجددي د ملي نجات جبهې څخه، انجنیر احمد شاه د اسلامي اتحاد څخه، کریم خلیلي د حزب وحدت څخه، محمد شاه فضلي د حرکت انقلاب څخه، مولوي نجم الدین د مولوي خالص حزب څخه او دائتلاف شورې "شیعه ګوندونو" ویاند جاوید، او انجنیر ایوب د شورای نظار د نماینده په توګه.

پاکستان وړاندیز وکړ چې د هر ګوند دې دوه دوه کسه یو نظامي او بل سیاسي د انتقالي شورې په نامه انتخاب او کابل ته دې ولاړ شي، خو شیعه ډلو او قاضي وقاد له پنځو څخه دشپږ وتنو غړیو غوښتنه وکړه، د سیاف او خالص ډلو هڅه وکړه چې مولوي خالص دمجاهدینو د قاید په توګه وټاکل شي او کابل ته ولاړ شي، جمعیت د مسعود وړاندیز وکړ او حزب اسلامي حکمتیار غوښت.

### د څرخي پله بندیان خوشي شول

د وري په ۳۱مه/ د اپریل ۲۰مه د کابل د اطرافو د (٤٢) کسیزې شورې مجاهدین د کابل ختیځ ته ورسیدل او د څرخي پله جیل بیله مقاومته فتحه شوه د ۱۵۰۰ تنو په شاوخوا کې بندیان چې د مجاهدینو ډلو او د جنرال شهنواز تني کودتا ته منسوب وو خوشي شول. د بندیانو په ډله کې یو شمیر ایرانیان او پاکستاني هم لیدل کیدل چې د مخالفینو سره د مرستې په تور نیول شوي او بندیان شوي وو.

### حزب اسلامي ته د مسعود ګواښ

احمد شاه مسعود په هغه رادیویي وینا کې چې د ۱۳۷۱ لمریز کال د غوایي په لومړۍ/۱۹۹۲م کال د اپریل په ۲۱مه په پاکستان کې خپره شوه له کمونستانو سره د هرډول ائتلافي حکومت درد کولو په ترڅ کې وویل: زموږ خبرې اترې له وطن ګوند سره د ائتلافي حکومت جوړولو په معنی نه دی، خو جمعیت اسلامي د بګرام په هوایي ډګر کې زیاتي قواوې او درنې وسلې د جنګي الوتکو په شمول په واک کې لري او چې هر وخت وغواړي کابل ته ننوتلی شي، هغه له جهادي مشرانو څخه وغوښتل چې د مجاهدینو د مشر تابه په اړه موافقې ته ورسیږي (هدف یې د قاید په توګه د ځان ټاکنه وه چې د ځینو مشرانو لخوا له نواز شریف سره په ګډه غونډه کې په کلکه رد شو).

په هماغه ورځ د حزب اسلامي په زر ګونو تنه مجاهدین د لوګر په لوري ولاړل، همدارنګه حزب اسلامي له ټولو ښوونځیو او لیسو څخه وغوښتل چې د کابل ښار د ساتنې او امنیت لپاره د ښوونځیو په رخصتولو سره ځوان زده کوونکي واستوي، د دغه تحرکاتو سره جوخت د کندهار ښار او شاوخوا پوځي پوستې یې فتح شوې، جنرال نور الحق علومي له خپلې کورنۍ سره کابل ته وتښتید. د مجاهدینو لخوا یوه یوویشت کسیزه شورې وټاکل شوه چې د ښار امنیت او اداره یې په لاس کې واخستله په ۱۳۷۱ لمریز د غوایي ۲مه د مسعود ورور یحیی مسعود په پیښور کې په یوه خبری کنفرانس کې جهادي مشرانو ته اخطار ورکړ چې ژر تر ژره دې د عبوري ادارې په جوړولو کې تصمیم ونیسي که نه نو ټولو هغو قوماندانانو ته به چې د دوی پلویان دي وواېي چې له مشرانو پرته یوه مستقله اداره جوړه کړي. د مسعود له اعلامیې سره د کابل د اطرافو د قوماندانانو له شورې څخه چې د حزب اسلامي په ابتکار جوړه شوې وه ځینو قوماندانانو مخ واړاوه، په هغوی کې سید حسین انوري د حرکت اسلامي او موسی خان د حرکت انقلاب اسلامي قوماندانان شامل وو. همدارنګه جنرال رحیم وردګ د محاذ ملي اسلامي، قوماندان انور جګدلک، انجنیر افضل د اتحاد اسلامي، د سید جګرن نماینده سنګ سلیمان، او ظابط محمد عمر د جلال الدین حقاني نماینده د مسعود له پلان څخه ملاتړ وکړ.

### له حکمتیار او مسعود سره د پاکستان اړیکې

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې هغه هیواد د حکمتیار او مسعود سره جدا جدا او د منځګړیتوب په توګه خبرې کړې دي او په کابل کې یې د اقتدار دسوله ئیز لیږدولو هیله کړې ده. محمد صدیق کانجو په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل: که مجاهدین د راتلونکي انتقالي حکومت په اړه توافق ونه کړي لویې ستونزې به را منځته کړي، همدارنګه قاضي حسین احمد چې له حزب اسلامي او جمعیت اسلامي سره ښې اړیکې درلودې، له مسعود نه یې د تیلفون له لارې وغوښتل چې د مجاهدینو د مشرانو له شورې څخه ملاتړ وکړي او یا د کابل د قوماندانانو له شورې سره مرسته وکړي. مسعود د قاضي حسین احمد غوښتنې ته ځواب ورنکړ او د کابل په نیولو کې یې د حزب اسلامي د نه مداخلې پر دریځ ټینګار وکړ.

مسعود وویل: حکمتیار باید د مجاهدینو له نورو مشرانو سره د تفاهم لپاره پېښور ته ولاړ شي او یوه عبوري اداره جوړه کړي که داسې ونکړي نو زمونږ ځواکونه به د عمل ابتکار په لاس کې واخلي. قاضي حسین احمد په تیلفون د مسعود شروطو نه حکمتیار ته وویل، حکمتیار وویل: مونږ د واک د ترلاسه کولو هڅه نه کوو، بلکې دیوه اسلامي حکومت جوړول، سوله او ملي حاکمیت او د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا تأمین موهدف دی، دی هدف ته د رسیدو لپاره د مجاهدینو قوماندې او د ملیشو او کمونستانو د بې وسلې کولو او دیوه لنډمهالي حکومت له جوړیدو پرته بله لاره نشته چې د کابل د اطراف قوماندانو شورا به یې پلې کوي، مسعود هم کولی شي په دې حکومت کې شریک وي په دې شرط چې له ملیشو سره له ائتلاف څخه لاس واخلي.

حکمتیار قاضي حسین احمد ته وعده ورکړه چې دی په پخپله نیغ په تیلفون له مسعود سره خبرې وکړي، پاکستان یو بل بدیل هم وړاندې کړ، چې د هغې په اساس به حکمتیار رئیس جمهور، رباني صدر اعظم او مسعود د افغانستان راتلونکې د دفاع وزیر وي، له بله پلوه د حکمتیار او رباني ترمنځ په ډیره ټیټه سطحه خبرې اترې او توافقات هم لاسلیک شول چې د هغو په اساس باید ددواړو لوریو تنظیمي اختلافات لرې شي.

## د مسعود او بینن سیوان خبرې اترې:

بینن سیوان د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې د هلیکوپټر په واسطه چاریکار ته ولاړ او له احمد شاه مسعود سره یې د ائتلاف او حزب اسلامي د قواو ترمنځ د جګړې د مخنیوی په باب خبرې وکړې.

هغه مهال د حزب اسلامي قواوې د کابل په ختیځ، جنوب او لویدیځ کې پرتې وې او د شمال ائتلاف ځواکونه د بګرام په هوایي ډګر او چاریکارو کې پوځي تیارې نیولې ؤ. مسعود له بي بي سي

تلویزیون سره په مرکه کې په صراحت وویل: حکمتیار باید پېښور ته ولاړ شي د دې پرځای چې د کابل د نیولو قومانده یې په لاس کې اخستې ده باید د مجاهدینو له مشرانو سره یوې پریکړې ته ورسیږي. مسعود همدارنګه ژورنالستانو ته وویل: زه د یوې بې طرفه شورې د جوړېدو هیله لرم چې د ملګروملتونو له اهدافو سره تغیر ونه لري. کله چې له ده نه پوښتنه وشوه چې له حکمتیار سره اړیکې لري که نه ځواب یې ورکړ چې: ساله حکمتیار سره تماس نه دی نیولی، سیوان له چاریکارو څخه بیرته کابل ته له ستنیدو وروسته خبریالانو ته وویل چې: مسعود د سولې په خاطر د کابل رژیم له پاتې شونو سره دیوه ائتلافي حکومت واک ته رسول غواړي چې زما په نظر دا نا مناسب کار نه دی.

عبدالوکیل د رژیم د بهرنیو چارو وزیر د بینن سیوان له خبرې وروسته وویل: د څو ځلې خبرو اترو او د منځته راغلي تفاهم په اساس چې زمونږ (د کابل اداره) او احمد شاه مسعود ترمنځ راغلي دی د کابل ښاریانو ته وعده ورکوو چې د کابل له ښار څخه د دفاع توان لرو. ښاغلي پطروس غالي د ملګروملتونو عمومي سرمنشي د غوایي په ۳مه د هند له مقاماتو سره په نوي ډیلي کې وکتل. هند هم د نجیب د سیاسي پناه غوښتنه ومنله، یوه ورځ وروسته هغه اسلام آباد او پېښور ته سفر وکړ او د پاکستان له سیاسي مشرانو او جهادي مشرانو سره یې وکتل. پطروس غالي له نواز شریف سره په خبروکې اعتراف وکړ چې د ملګرو ملتونو لخوا د پنځلس کسیزې شورې او عبوري حکومت پلان غیر عملي ؤ، اوس دغه سازمان غواړي چې د کمونستانو ژوند له مرګه وژغوري، نوموړی د یوه سوله ئیز او له وینو تویو لوړته حل غوښتونکی شو، غالي د غوایي په ۵مه تهران ته ولاړ.

امریکا هم د دې پیښو په اړه خپل دریځ اعلان کړ، او د لیبیا د پیښو په اړه د امریکا پر خلاف د حکمتیار د تونډ عکس العمل له امله دې هیواد سیاسي لوري بدل کړ او "مارګریت تاتویلر" د سپینې ماڼي نطاق وویل: امریکا د احمد شاه مسعود څخه په افغانستان کې د رهبرۍ لپاره د یوه نوي سړي په توګه په خوښي هرکلی کوي، او زمونږ په نظر دا ډیره ښه موقع ده چې باید د افغانستان جګړه پای ته ورسیږي، امریکا باید د مسعود پلویتوب وکړي.

هغې وویل: همدا اوس خبرې اترې رواني دي، او د ملګروملتونو ځانګړې استازی هڅه کوي چې ددې سازمان موافقې پلې او عملي شي، کابل آرام دی، د رژیم لنډمهالي شورې د کابل دننه او مجاهدین له مرکز څخه بهر یو له بل سره تماسونه لري او همدارنګه د ۱۹۹۱م د سپتمبر په ۱۳مه/۱۳۷۰ لمریز د سنبلې ۲۲مه د توافق په اساس چې د مسکو سره ترسره شوې ؤ ملګرې ملتونه هڅه کوي چې وسلې راټولې کړي خود دې پر وسې عملي کیدل په افغانستان کې ګران ښکاري، افغانان خپلې وسلې چا ته نه سپاري، او زه فکر کوم چې امریکا یوازینی هیواد دی چې تر اوسه پورې نه دی توانیدلی په افغانستان کې بشپړ نفوذ ولري، او خپل "ستنګر" توغندي بیرته را ټول کړي. خو بیا هم مونږ هڅه کوو چې هر ډول وې دغه وسله باید بیرته را ټوله کړو او یا ښایي د خپلمنځي جګړو په جریان کې مصرف شي. (١٤)

## په ګردیز، لوګر او چار آسیاب کې د مجاهدینو پرمختګ

د ګردیز د ښار له کلابندۍ سره جوخت او د مجاهدینو د ګډو عملیاتو په نتیجه کې د رژیم زیات شمیر قوماندانان تسلیم شول، جنرال امام الدین (د ثور په اومه د داؤود خان او د هغه د ورور او ټولې کورنۍ قاتل) پښې له جلال الدین حقاني سره موافقې ته ورسید او په یوه حمله ښار د مجاهدینو لاس ته ورغی، جنرال امام الدین وتوانیده چې په دې تفاهم خپل ژوند وژغوري، د حزب اسلامي قواو هم پرمختګ ته دوام ورکړ او د ډیرې زیاتې وسلې له لاس راوړو وروسته یې په لوګر کې د "چهل دختران" تر پښتې او "سم دل دل" ترسیمې چې د دوستم د ملیشو او مجاهدینو ترمنځ د جګړې لومړی کرښه وه پرمخ ولاړل، حکمتیار خپل پوځي مرکز په چار آسیاب کې تعلیمي غونډ وټاکه.

## په چار آسیاب کې د حکمتیار او رفیع لیدنه

کله چې د نظر اختلاف د نجیب الله د مرستیالانو ترمنځ چې وروسته هغوی د هیواد اداره په لاس کې واخسته راپورته شو پریکړه وشوه چې د دښمنۍ دلري کولو په خاطر باید له مخالفینو سره تفاهم او خبرو اترو ته کښنینو، جنرال رفیع، عبدالرحیم هاتف او راز محمد پکتین د حکمتیار لوری غوره کړ او حمید محتاط، واحد سرابي د کارمل له پلویانو سره د مسعود لوری انتخاب کړ، جنرال رفیع د هلیکوپټر په واسطه چار آسیاب ته ولاړ، غوښتل یې د حکمتیار دریځ د کابل له ننوتلو څخه د نه معلوم کړي، حکمتیار جنرال رفیع ته وویل: موږ هغو کسانو ته چې د مجاهدینو پر خلاف وسله وال خلې څانونه تسلیم کړي عمومي بخښنه اعلان کړې ده او تاسو هم له تسلیمیدو پرته بله لاره نه لرئ ځکه چې کابل به په نږدې وخت کې فتحه شي.

جنرال رفیع وویل: مګر یو شمیر کسان د قومي اختلافاتو په عنوانولو اوله پښتنو سره د اختلافاتو په سبب هم زموږ او هم ستاسو په لیکوکې غواړي د مسعود په مرسته واک بیا په لاس کې ولري.

حکمتیار: کوم کسان چې د ژبنیو، قومي او مذهبي اختلافاتو لپاره هڅې کوي بې ګټې دي او نتیجه نه لري.

رفیع: مګر عملاً د جبل السراج په ائتلاف کې دغه موضوع منځته راغله او وکیل (د نجیب د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل) هم د خپلو پلویانو په تشویق فعالیت کوي.

حکمتیار: زموږ جهاد په اسلامي بنیاد پرمخ ځي، نه د شخصي سلیقې او غوښتنې په اساس، او نه د مذهبي او قومي ډلبندیو پر اساس.

رفیع: موږ غواړو له تاسو سره همکاري وکړو، او واک درته وسپارو، داخله وزارت، ارګ او بالاحصار زموږ په لاس کې دي.

حکمتیار: تاسو نور وته هم ووایې چې ښار ته د مجاهدینو له ټنوټلو سره سم تولی اسانتیا وی د ښار د اداری او کنترول په خاطر مجاهدینو ته برابر کړل، مجاهدین په خپلو منځونو کی څه ستونزی نه لری.

رفیع: زه به ستاسو پیغام نورو ته ورسوم.

## له مسعود سره د حکمتیار تیلفونی خبری:

وضعه داسی شوه چې د حزب اسلامی او مسعود ائتلافی ځواکونو ترمنځ په کابل کی د ښښتو امکانات وو، حکمتیار غوښتل په دغه نامعلومه او دده او مسعود ترمنځ، د بی اعتمادی څخه په ډکه فضا کی له وسله والونښتو څخه دمخه د تفاهم او یو د بل په نظر د پوهیدو لاره پرانیزی، دیوه تیلفونی پیغام په ترڅ کی دیوه تاریخی واقعیت په توګه د دوارولوریو دریځونه معلوم دی، زه یی دلته بشپړ راوړم چې ددی خبرو اترو په اړه د راتلونکو پیښو او پوځی تګرونو په اړه قضاوت وشی.

حکمتیار: السلام علیکم!

مسعود: وعلیکم، انشاء الله روغ یاست؟

ح: بریالی اوس، تاسو ښه یاست؟

م: د پروردګار فضل دی، دی لوری ته خیرت دی ستاسو لوری ته خو خیرت دی؟

ح: الحمد لله دی لوری ته هم خیرت دی داد درکوم، زه ستا د خبرو د اوریدو انتظار کوم.

م: زه کومه خاصه خبره نه لرم، ښه ده لومړی ستا خبری واورم، بیا که څه وو ستا په خدمت کی به یی ووایم.

ح: بریالی اوسی، زه احساسوم چې فعلاً وضعه ډیره حساسه ده، او لازمه ده چې هر ګام په ډیر احتیاط پورته کړو او هره خبره اوګام سوباید سنجیدلی وی، او داسی کار ونکړو چې خدای مه کړه د مجاهدینوترمنځ د ښښتو سبب شی او یا اندیښنی ایجاد کړی، که څه هم زه ګومان کوم چې د ښښتو امکانات ډیر زیات کمزوری دی.

م: دوام غوږ می دی.

ح: حتماً سوپام دی چې زموږ د هیواد، اسلام او مجاهدینو دښمنان هڅی کوی چې د مجاهدینو ترمنځ د ښښتو سبب شی، افغانستان تجزیه کړی، زموږ ملی وحدت تیت او پرک کړی، او پری نږدی چې د مجاهدینو په لاس یو ځواکمن اسلامی حکومت جوړ شی، غواړی ژبنیو، قومی او مذهبی اختلافونو ته لمن ووهی، باید دغه تأویلونه درک کړو او په هوښیاری ددی توطیو په مقابل کی ودریږو او شنډی یی کړو، او باید د دښمن د پروپاګند تراغیزی لاندی رانشو، انشاء الله اوری؟

م: دوام غوږ می دی!

ح: د مجاهدینو د وروستي بری له را نژدې کېدو سره ګورو چې د دښمن توطیې هم توندې شوې. او د دښمن تبلیغات هم د دې توطیو یوه ورکې برخه جوړوي چې د مجاهدینو په منځ کې په لار اچول شوې دي، خدای دې نه کړي داسې ونه شي چې ځینې د دښمن د تبلیغاتي چینلونو تر اغیزې لاندې راشي چې کله بې دیوه اوکله د بل په پلوی کوي، داسې نښې چې دغه تبلیغات موږ ته یو داسې ذهنیت راکړي چې د هغې په سبب د خپل مسلمان ورور په مقابل کې ودریږو، زه د خپل لوری ځخه داد درکوم چې نه له نورو سره د جګړې غوښتونکي یم او نه پر ټول افغانستان د خپلې خوښې حکومت د تپلو غوښتونکی یم، خبری می اوری؟

م: غوږ می دی دوام.

ح: زموږ نظر دا دی چې لوسړی باید ټولو ډلو ته د منلو وړ یو لنډمهالی حکومت جوړ شي او د چارو واک هغه ته وسپارل شي، او د دې حکومت کار به یوازې د یوه کال په موده کې منتخب اسلامي حکومت ته دواک لیږ دول وي، دیوه کال په موده کې باید انتخابات وشي، زموږ اساسي شرط یوازې دا دی چې داسې یوه طرحه وضع شي چې انتخابات تضمین کړي، او داسې شرایط باید برابر کړو چې په راتلونکي کې باید زموږ هر حکومت د خلکو په خوښه او رایه جوړ شي، موږ په دې اړه په څوکلونو کې هڅه وکړه چې ټول ګوندونه پر دې اصل موافقه وکړي او دا باید تضمین کړو چې زموږ هر راتلونکی حکومت باید انتخاب شوی وي خو متاسفانه نورو دوستانو همکاري ونکړه او له انتخاباتو ځخه ویریدل، هغې بې ددې لپاره وې چې په داسې یوه طرحه توافق وکړي چې په نتیجه کې بې یو دوام دار او ثابت حکومت جوړ شي زه په دې نظر وم چې د خلکو رایو ته رجوع د ټل لپاره یوه اصولي لاره شي، ځینو په صراحت ویل چې په اسلام کې انتخابات نشته او هغې ته ضرورت نه حس کیږي، د حزبونو په منځ کې دې وزارتونه وویشل شي او د پېښور حکومت دې دیوه، دایمي حکومت په حیث وپیژندلی شي، نور دې ته ضرورت نشته چې په افغانستان کې انتخابات وشي، متاسفانه د نورو ډلو د ټینګار او یا مخالفت په سبب موږ و نه توانیدو دې هدف ته ورسیږو، که نورو له انتخاباتو ځخه ویره نه درلودای او موږ د انتخاباتو اصل منلی وای بنایي کار تر دې سرحده نه والي را رسیدلی، او موږ به د وخته پر دې توانیدلي وو چې یو لنډمهالی حکومت جوړکړو، انشاء الله زما خبری اوری؟

م: غوږ می دی دوام.

ح: دکابل وروستیو پیښو متاسفانه وضع نوره هم پېچلې کړه، او ځینو دا تائیدوله او امیدواري بې هم ورته درلودې، موږ هم دې نتیجې ته رسیدلي وو چې دکابل وروستي پیښې یوه خطرناکه دسیسه ده چې هدف تری د مجاهدینو په خپلو منځونو کې نښتي او ټکروو، وطن ګوند په مجموع کې او یا بې یوه برخه باید په واک کې شریک وي، او ائتلافي حکومت جوړ شي، آن تردې چې تصور موکاوه چې بنایي داسې لاسونه په کار لویدلي وي چې غواړي افغانستان د ژبې، قوم، نژاد او مذهب په آساس تجزیه کړي. د دې

پیښنو په ترڅ کې یې غوښتل مجاهدینو ته ستونزې پیدا کړي او یا لږتر لږه د جهادی ځواکونو ترمنځ د شخړو سبب شي... اوری؟

م: غوږ مې دی دوام.

ح: موږ وضعه داسې احساسوو چې مجبوریو په کابل کې عملیات وشي او کابل د مجاهدینو په لاس فتح شي، د کابل او د شاوخوا سیمو د جهادی قوماندانانو شوری دی جوړه شي او دی ته ورته شوراګانې دې په ټولو ولایتونو کې جوړې شي، بیا دې هره ولایتي شوری دوه دوه کسه مرکزی شوری ته معرفي کړي، همدغه د قوماندانانو شوری دی دیوه کال لپاره عبوری اداره جوړه کړي، په دې یوه کال کې دې د اسلامي شوری او جمهوری ریاست لپاره خامخا انتخابات وشي. چې دیوه کال په موده کښې به موږ دیوه منتخب حکومت خاوندان وو او عبوری حکومت به خپلې دندې انتخابي حکومت ته سپاری، اوری؟

م: غوږ مې دی دوام.

ح: په پیښنور کې بحث جریان لری چې باید حزب او جمعیت یو له بل سره توافق وکړی، موږ داسې تصور کوو چې د حزب او جمعیت توافق کافي وی او نوری ډلې هم له دې اصل سره توافق وکړی او ستونزه لرې شي. چې په دې اړه هم طرحي وړاندې شوی دی، بنابې د جمعیت ډیرو دوستانو تاسو ته جریان ویلی وی، موږ چې هر تعهد کوو په اخلاص او صداقت یې پابندی کوو، زموږ هیله له نورو دوستانو او ورونو څخه هم همدا ده چې هغوی څه خبری کوی او تعهد کوی هغو ته باید پابند وی او پرې ودریږی، پر تعهدونو د پابندی نه درلودل د دی سبب شوی دی چې یو لړ بې پروایی را منځ ته شي، اوری؟

م: غوږ مې دی دوام.

ح: که نور دوستان دا تعهد وکړی چې له دې وروسته د سازشونو له لارې د واک ترلاسه کولو په هڅو کې نه دی او انتخابات د افغانستان د راتلونکو حکومتونو د جوړیدو یوازینی لاره ګڼی زه د حزب لخوا دا تضمین ورکوم چې نه به وسلې ته لاس یوسو او نه به د کودتاګانو له لارې پر خلکو د خپلې خوښې حکومت د تپلو هڅه وکړو، موږ دغه لاره مردوده ګڼو، باید ټول درک کړی چې د کودتاګانو وخت د تل لپاره پای ته رسیدلی دی، او هیڅ ځواک نشي کولای چې د کودتا له لارې په کابل کې په خلکو حکومت وکړی، که څوک په کابل کې پردی و توانیږی بل ته واک وسپاری باید خپل واک او قدرت تضمین کړی، په داسې حال کې چې هغوی (د کابل رژیم) نن (۱۳۷۱ لمریز د غوایی ۲مه/۱۹۹۲م د اپریل ۲۲مه) پیښنور ته احوال استولی دی چې که هغوی ته طرحه وړاندې نه شي بنایې د نن ورځې په پای کې بده طرحه اعلان کړی. چې په نتیجه کې یې دوی له واک نه لاس واخلی او یوې بلې اداری ته واک وسپاری او وطن ګوند هم منحل شي. په کابل کې وضعه په دې ډول ده چې په داسې حال کې چې دوی پخپله ناتوانه دی او د خپلې بقا تضمین نشي کولی او ترټولو لویه غوښتنه یې له مجاهدینو څخه داده چې بخښنه ورته وشي څرنګه

ممکنه ده چې دوی دې بل چاته واک وسپاري... زه پردې باوریم چې د خلکو رایې ته د مراجعې نه پرته او د مجاهدینو او اکثریت ملت له ملاتړ څخه بغیر پر افغانستان حکومت کول امکان نه لري، اوري؟

م: اورم دوام.

ح: باید دا حساب وکړو چې ټولې اردو، څارندوی،ملیشو آن اتحاد شوروی د هغه لوی ځواک سره بې اوآن دوار ساپکت له نجیب څخه ملاتړ وکړ. مګر هغوی ونه توانیدل پر افغانانو حکومت وکړي، اوس پر افغانانو حکومت د هغوی له خوښې پرته د تل لپاره پای ته رسیدلی دی او د کودتایي حکومتونو چانس نه دی پاتې شوی، زما د خواخوږۍ وړاندیز دا دی چې راځئ توافق وکړو چې له دې وروسته د کودتاګانو او سازشونو له لارې قدرت ته د رسیدو لارې د تل لپاره وتړو، دورورۍ لاسونه سره ورکړو، د اعتماد فضا پخپلو کې جوړه کړو، ټول د اسلام په خدمت کې و اوسو هدف مو دا شي چې اسلام باید حاکم وي، د خلکو د خدمت لپاره حکومت تشکیل شي د وینې تویولو لړۍ د تل لپاره بندې شي او له دې وروسته هیڅوک هم دواک او اقتدار لپاره وسلې ته لاس وانه چوي او یو خاځکې وینه هم په دې لار کې تویې نه شي. امنیت ټینګ کړو، اسلامي او ځواکمن هیواد جوړ کړو، موږ په دې برخه کې له نورو حزبونو او ځواکونو سره هر ډول مرستې ته چمتویو د حزب اسلامي له لورې اطمینان درکوم،کومې لنډې خبرې مې چې غوښتې در سره شریکې کړم همدغه وې، هیله لرم ستومانه شوی نه وې.

م: وا مې وریدې،که نورې خبرې نه وې زه یو لړ مسایل لرم چې ستا خدمت ته یې وړاندې کړم.

ح: زما مقدماتي خبرې ختمې شوې، منتظریم ستا خبرې واورم.

م:که مې برداشت سهي وي ستا له خبرو څخه په درې مطلبونو وپوهیدم. یوه د کودتاګانو، توطیو او سازشونو مسئله، دوهم د عبوري حکومت جوړیدل او دریم د انتخاباتو لور ته تلل. د توطیو په اړه امکان لري پوره سره همنظره وو، نور یوه برخه حتماً تبلیغات دي، بنایې مختلف تبلیغات خپاره شوي او رسیدلي وي، او یا خلکو غوښتي دي چې پروپاګندو کړي، خو فکرکوم چې ماسشران په پیښنور کې په جریان خبر کړي دي، د بهرنیو چارو وزیر (عبدالوکیل د نجیب رژیم د بهرنیو چارو وزیر) حاضر دی چې جهادي حکومت قبول کړي، نور فکرکوم چې که پر قضیه له پیله تر پایه فکر وکړو د مطلب روح دا دی چې مخالف لورې یو جهادي حکومت قبول کړی دی، اصلاً د توطیې اوکودتا مسئله او د نظامي ځواک په واسطه د واک او اقتدار نیول او بل جریان وجود نه لري. واوریدل شول؟

ح: وا مې وریدل، منتظر یم خبرې دې پای ته ورسیږي وروسته بیا د وکیل د ملاقات په اړه غواړم څه ووایم.

م: ښه ده که څه لرې په همدې برخه کې یې ووایې.

ح: ترکومه چې زه له څو لوریو څخه خبر شوی یم کوم کسان چې له تا سره په خبرو اترو کې وو او آن د

جنرال رفیع چې هغه ورځ راغلی ؤ هغوی څو وړاندیزونه درلودل، لومړی یو ائتلافي حکومت، دوهم د کابل پرامنیتي کمربند د حملې نه کول، دریم که د کابل په امنیتي کمربندونو برید وشي باید ستاسو قوتونه (مجاهدین) د کابل په امنیتي کمر بندونو کې ځای پر ځای شي، څلورم که لنډمهالی حکومت جوړیږي باید د کابل - حیرتان د لویې لارې امنیت د شورای نظار، جنرال دوستم، او دولت (د نجیب رژیم) د ائتلافي قواو لخوا ونیول شي، دغه خبرې له څو منابعو ماته رسیدلې دي رشید دوستم ویلي دي خو ما ورسره توافق نه دی کړی او وسي ویل چې د ائتلافي حکومت وخت تیر شوی دی، وطن ګوند نور منحل دی او وجود نه لري او سبا ته مزار شریف ته ولاړل، جنرال رفیع هم دی ته ورته څرګندونې درلودې، نه پوهیږم حقیقت څه ډول دی؟

م: څلور مسئلې چې تاسوویل لومړی ځل چې وزیر خارجه راغلی ؤ همدغه څلور مسئلې بې وړاندې کړې، چې ما جداً ردکړې او ورته وسې ویل چې په هیڅ ډول هم له دې خوا د منلو وړنه دي، وروسته له دې راځو عبوري حکومت او د کابل پوځي اشغال ته، چې تاسوڅکي اشاره وکړه چې د نظامي اشغال په فکر کې یم. زما په نظر که چې دوی اعلان وکړ چې موږ جهادي حکومت منو، چې د کابل د فعلي حکومت ځای دی ونیسي، او ساهم واوریدل چې تاسو نور پر کابل حمله نه کوی او د کمربند په ماتولو سره کابل ښار ته نه داخلیږئ، تاسو په دې مرحله کې په کابل د پوځي حملې ضرورت وینئ؟

ح: زه احساس کوم چې هوسوږ مجبوریو د هغو دلایلو په سبب چې موجود دي، لومړی دا چې د مجاهدینو حکومت تر اوسه پوری نه دی جوړ شوی، دوهم دا چې هغوی (د کابل رژیم افراد) غواړي په راتلونکې حکومت کې شرطونه ولري او د دوی نظر مطرح وي، دریم تاسو سره له دې چې موافقه نه ده کړې خویو شمیر کسان مو په داسې ځایونو کې دي، که تاسو پر کابل ښار د حملې سره توافق نه لرئ نو باید د مجاهدینو د ټنوټلو سره له پخوا څخه باید لاس په کار شوی نه وای. همدا اوس د خواجه رواش په هوایي ډګر کې، په ګارنیزیون، د شمالي د یوې برخې د کمربند په پوستوکې، د لوګر لاری ته، موږ فکر کوو چې عملاً یو شمیر د ببرک کارمل پلوی جنرالانو د خپلو شرایطو د تپلو لپاره داکار کړی دی، ښنایي څینو (هدف یې ښنایي مسعود وی) ته یې داډ ورکړی وی چې خپل قوتونه د هغوی د مرستې لپاره ورواستوی، دغه عوامل د دې سبب شوی دی چې موږ دې لړی ته دوام ورکړو خو که د مجاهدینو حکومت نن ومنل شي او دپخواني رژیم پاتې شونې د کابل نظامي موقعیتونه پریږدي، د مجاهدینو حکومت د چارو واګې په لاس کې واخلي نور به په کابل د حملې ضرورت بشپړ له منځه تللی وي، زه پر هغې توافق لرم.

م: تاربنتیا وویل، بل دا چې دغه څواکونه چې تاوویل ځای پرځای شوي دي زه ترې منکر نه یم، د خواجه رواش په میدان کې زموږ قوتونه دي، که وضعه همداسې شي امکان لري په نورو عملیاتو هم لاس پورې کړو، ما پس له هغه چې تولو مشرانو ته مې اعلان وکړ چې دغه خلک حاضر دي جهادي حکومت ومني، ما پخپله اعلان ونه کړ او د کومې بلې توطئې په فکر کې هم نه وو او هر څه مو تاسو رهبر صاحبانو

ته راجع کړل، په انتظار کې کیناستلو چې رهبر صاحبان څه کوي، خو بیا هم له څلورو لوریو عملیات پیل شول. فکر مې وکړ چې نظم له منځه ځي، داسې حالت به راځي چې بنایي په راتلونکې کې یې بیا ترمیم هم نکړای شو، مجبور شوو چې په داسې عمل لاس پورې کړو، په دې برخه کې جمعیت او یا شورای نظار د کوم مقام غوښتنه نه لري، او مقابل لورې چې له موږ سره راغلي دي ویلي یې دي چې موږ حاضر یو جهادي حکومت ومنو او ماته یې وویل رهبران چې هر ډول موافقې ته ورسیږي موږ حاضر یو حکومت ورته تسلیم کړو، که هغوی کوم شرط او یا شرطونه لري موږ او تاسو به بیا شریک اقدام کوو تر څو د مجاهدینو ټول شرطونه ومنې، فعلاً هغوی حاضر دي چې ټول شرطونه ومنې، د شرطونو د منلو په صورت کې جګړې ته څه ضرورت پاتې دی؟

ح: مسعود وروره، باید عرض کړم په پاکستان کې په یوه غونډه کې چې زه متاسفانه پکې شریک نه وم، استاذ رباني د کابل د وروستیو پیښو څخه وروسته وویل چې مسأله ختمه شوې ده، اسلامي شورې په کابل کې جوړه شوې ده، تاسو ولې خپل وخت ضایع کوئ، د عبوري حکومت د جوړیدو په اړه د بحث ضرورت نشته، مسأله ټوله حل ده، په هغه غونډه کې تریو ساعت بحث او خبرو اترو وروسته دا څرګنده شوه چې واک نبي عظیمي او ملګرو یې ترلاسه کړی دی. حتی موضوع دده په واسطه تاسوته رسیدلې وه او استاذ داسې تعبیر اوه چې په کابل کې د جمعیت حکومت جوړ شوی دی او ستا له خبرونه هم زه دا استنباط کوم چې تاسو کابل ته راشئ او عملیات ستاسو په لاس کې وي ګومان کوم چې دا پر کابل د عملیاتو یوه انګیزه وي، په حقیقت کې باید زموږ او ستاسو عملیات شریک وای. د دې پرځای چې له نبي عظیمي او نورو سره ستاسو توافق راتلو باید پخپلو کې سره ناست وای او پخپلو کې مو موافقه کړې وای. ځانګړی تصمیم او له نورو سره توافق بدعواقب لري، تاسو څه فکر کوئ چې دیوه تنظیم مشر په یوه مشترکه غونډه کې چې ټول مشران پکې شریک دي راځي او وایي چې نوره مسئله حل ده، زه پوهیږم چې استاد رباني له کومو کسانو او کومو هیوادونو سره موافقې ته رسیدلی دی او څه کارونه ترسره شوي دي، چې زه کولی شم په دې رابطه اسناد هم وړاندې کړم. په هر صورت که د دې موضوع تفصیل ته ننوزو ډیر وخت غواړي. مسعود وروره! ته باید پام وکړې چې اوس د کابل اداره د نبي عظیمي په لاس کې ده، او د مجاهدینو په لاس کې نه ده، تر هغه وخته پورې چې په کابل کې دوی مسلط وي هیڅ دلیل نشته چې مجاهدین دې خپل عملیات ودروي، او تاسو باید هلته د مجاهدینو د عملیاتو مخنیوی ونکړې، په کابل کې تر اوسه د جمعیت حکومت هم نه دی جوړ شوی، که په کابل کې کوم کار سرته رسیږي باید د ټولو پر توافق او رضایت وي، زه پردې اعتراض نه لرم چې که جمعیت په کابل کې د حکومت پر جوړولو بریالی شي او پرې خوښیږم هم، او که یې دا کار څو کاله وړاندې کړی وای تر دې به هم پرې خوښ وو، که جمعیت یوازې پردې توانیدلی چې دا کار وکړي، وضعه به په کابل کې په دې ډول نه وه، موږ په کابل کې د

مجاهدینو د حکومت د جوړولو په خاطر مجبور یو په عملیاتو لاس پورې کړو، او تاسو باید پر کابل عملیات پر ځان ونه بولی او داسې استدلال مه کوی. ددغه عملیاتو ضرورت هغه وخت لری کیږی چې اقتدار عملاً د پولیت بیورو څخه مجاهدینو ته ولیږدول شی.

م: زه دا دعوه نه لرم چې حکومت د جمعیت په لاس کې دی او واضح ده چې حکومت تر اوسه د وطن ګوند په لاس کې دی، خو یوشی بیا تکراروم چې تا پخپله مخکې وویل چې رژیم وایی موږ جهادی حکومت قبلوو، او ترکومه چې زه له دوی سره په تماس کې یم هیڅ ډول شرطونه نه لری، چې حکومت په پیښور کې تشکیل شی او کابل ته راشی واک په لاس کې واخلی، په دې صورت کې هیڅ ضرورت نشته چې ښارونو ته ننوزو او د زور له لارې حکومت ونیسو.

ح: ښه نیت دی خو که تاسو دا خبره استاد ته هم وکړی ښه به وی.

م: زه له استاد سره په څه شی خبری وکړم؟

ح: تاسو ورته ووایی چې د مجاهدینو حکومت جوړ شی او دا تینګار دی نه کوی چې زیات امتیازات واخلی، بلکې د یوه داسې موقت حکومت په جوړولو دی توافق وکړی چې په شپږو میاشتو کې د دولت رئیس او تر یوه کاله منتخبه شوری جوړه کړی زه هم په کابل کې د پوځی عملیاتو ضرورت نه وینم.

م: آیا استاد ربانی د مجاهدینو دیوه موقت حکومت سره مخالف دی؟

ح: ښایی په لفظی لحاظ موافق وی خو په حقیقت کې حکومت نه دی جوړ شوی.

م: زه اطمینان درکوم که استاد ربانی یو لنډمهالی حکومت ونه منی زه فشار پری اچوم.

ح: څه وخت ، ډیر وخت نه لرو، ښایی نن شپه په کابل کې یوه اعلامیه خپره شی، چې موږ باید تیاری ورته ولرو، که نن داکار ونشی ښایی سبا ته موږ وخت و نه لرو.

م: نن څه وشی؟

ح: دلنډمهالی حکومت پر جوړیدو توافق، څو وړاندیزونه زموږ د میز پر سر دی که هغوی زموږ له هر وړاندیز سره موافقه وکړی موږ به یی ملاتړ وکړو.

م: ډیر ښه که جمعیت غواړی چې په کابل کې حکومت جوړ کړی بیا دومره انتظار او د رهبرانو خبرولو ته ضرورت نه ؤ اوزه باور لرم چې استاد ربانی په دې اړه هیڅ شک او شبهه نه لری.

ح: غواړم ووایم چې امانت کاری او اخلاص ته اړتیا ده، راځی چې اسین و اوسو او د خپلو شخصی هیلو او آرزوګانو له پا للوتیر شو، که ملت موږ ته واک راکوی باید هغوی ته خدمت وکړو، او که زموږ واکمنی رد وی باید د نا معقولی لاری څخه یی دنیولو هڅه ونه کړو.

م: زه د یوه اسلامی عبوری حکومت له جوړیدو سره توافق لرم، د دایمی حکومت د جوړولو غوره لاره انتخابات دی لکه تاسو چې وویل.

ح: که په پیښور کې موافقه وشی او واک همغه حکومت ته ولیږدول شی ورسره موافق یو. که دا

کارونه شو موږ به داسې یو اقدام وکړو چې د هیواد لپاره غوره وي.

م: موږ بنایي مختلفې خبرې وکړو باید واقعیتونه هیر نه کړو زه وایم چې نښتې به وشي او په سلګونو کسان به ووژل شي.

ح: ما چې څه ویل غوښتل ومې ویل.

م: په دې معنی چې ته د یکشنبې په ورځ حمله پیلوې او زه باید مخکې له مخکې تیاری ونیسم. (۱۵)

## د مجاهدینو ۵۱ کسیزې شورې جوړېدل

له بلې خوا په پېښور کې د بې اعتمادۍ او وابستګۍ په فضا کې د مجاهدینو د مشترکې ادارې لپاره چې واک ورته ولېږدول شي هڅې روانې وې، او د ۱۳۷۱ لمریز د غوایي په ٤مه/۱۹۹۲م د اپریل په ۲٤مه یوه ۵۱کسیزه شورې چې د مجاهدینو حکومت به ورته لېږدول کیده جوړه او لاسلیک پرې وشو، پردې پریکړه لیک حضرت مجددي، سیاف، مولوي محمدي، مولوي خالص، پیرګیلاني، برهان الدین رباني، او قطب الدین هلال دحزب اسلامي د سیاسي چارو رئیس د حکمتیار پر ځای د تائید کرښه راکش او لاسلیکو کړ، حکمتیار له خپلو قوتونو سره د کابل په څنډه پروت و، په همغه ورځ حزب اعلان وکړو چې د اسلام د مصلحت په خاطر یې په دې شورې موافقه کړې وه که نه نو د مجددي ددوه میاشتنې ریاست سره موافق نه وو. په دې پریکړه لیک کې مجددي د دوو میاشتو لپاره د دولت رئیس او د ۵۱ کسیزې شورې سرپرست وټاکل شو، د مجددي د دورې له پای ته رسیدو څخه وروسته به د څلورو میاشتو څخه تر دوو کالو پورې رباني جمهور رئیس وي خو په دې موده کې به خامخا عمومي انتخابات دایریږي، احمد شاه مسعود د دفاع وزیر، سیاف، ګیلاني او مولوي خالص د صدارت مرستیالان، مولوي محمد نبي محمدي دسترې محکمې رئیس او قاضي القضات وټاکل شو. د دې پریکړه لیک په دریمه ماده کې یادونه شوې وه چې ټاکل شوې موده به نوره نه اوږدیږي او د کابینې غړي باید دګوندونو د رهبرۍ څخه تېښ کسان وي.

حزب اسـلامي پرګـوندونو د دې شورې د کرسیو د برابر ویشل غیر عادلانه وبلل، هغوی په شورې کې د حزبونو د قدرت په تناسب د سهمونو ویشل غوښتل چې په دې دول وو. ۳۵ کرسي باید پېښور اوو جهادي ګوندونو ته ورکړل شي چې هغه هم د دوی په منځ کې د ځواک په تناسب باید وویشل شي، دشورې غړي باید مسلمان، او د کمونستي سابقې خاوندان نه وي، د غیرکمونست مسلمانو افغانانو لپاره (۲۰) کرسي چې د ګوندونو غړیتوب ونلري، پنځه کرسي په ایران کې د میشتو ګوندونو لپاره، پنځه کرسي د مجاهدینو، پنځه کرسي د اروپا او امریکا د مهاجرینو لپاره، او پنځه کرسي د پاکستان د مهاجرینو لپاره، د عبوري حکومت په دوران او یا په پای کې به عمومي انتخابات سرته رسیږي

اوکوم ګوند چې دوه ثلثه رایي په یوازېتوب او یا په ائتلافي ډول وګټي هغه ته باید د حکومت د جوړولو واک ورکړل شي. (۱۶)

په دې برخه کې د کارمل د پلویانو فعالیتونه هم په کابل کې ګړندي شول، او یو شمیر افسران او نظامي جنرالان چې د حکمتیار لورې ته یې تمایل درلود او نه یې غوښتل چې واک د مسعود او دوستم ائتلاف ته په لاس ورشي د نجیب الله پلویان او حامیان یې ونیول او جیل ته یې واچول؛ جنرال عظیم زرمتي د داخله چارو امنیتي سرستیال، جنرال عمر د دفاع وزارت د اطلاعاتو مسؤول،، جنرال اسد الله پیام د داخله وزارت د سیاسي څانګې مسوول جنرال عزیز الله عزیزي د داخله وزارت د جنایي څانګې مسوول، او جنرال قربان د کابل د ښاري کمیټې سرستیال، همدارنګه راز محمد پکتین داخله وزیر او اسلم وطنجار د دفاع وزیر یې هم د کورنیو چارو وزارت په انګړ کې کلابند او تر نظارت لاندې ونیول. هغو سیاسي – جهادي ډلو چې له ایران سره تړاو درلود دیوې اعتراضي اعلامیې په ترڅ کې یې د عبوري حکومت د دریځ په اړه د خلکو ناکتنې یو ډول دسیسه وبلله او له عبوري حکومت سره یې همکاري غوښه کړه، هغوی په دې اعلامیه کې څرګنده کړه چې: متاسفانه د پټو غونډو او د شپږو ګوندونو د سازشونو په سبب د یوې غیر عملي، یو طرفه او انحصاري پریکړې په نتیجه کې عبوري حکومت اعلان شو... ځکه موږ هغوی ته هیڅ التزام او تعهد نه لرو او ددغسې پریکړې د بدو عواقبو مسؤولیت به هم زموږ پراوږو نه وي. (۱۷)

دغه اعلامیه د حرکت اسلامي د مرستیال جاوید، د وحدت ګوند ویاندکریم خلیلي، د داعیه اتحاد مشر قاضي امین وقاد، د حرکت انقلاب د دوو ښا خونو مولوي موذن او مولوي نصر الله منصور لخوا خپره شوه.

حکمتیار په را دیویي پیغام کې د کابل رژیم پلویانو ته د (پیام آزادي) را دیو له لارې اخطار ورکړ چې د همغې ورځې تر پایه ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړي... نوموړي په خپل دې پیغام کې د ۵۱ کسیزې شورۍ سره مخالفت اعلان کړو یې ویل: موږ ۵۱ کسیزه شوری چې ټاکنې یې یې مشوري شوی وې او د پردیو لاسونه هم پکې شریک دي نه منو، او لازمه ګڼو چې د هغې پر ځای دې د کابل د اداري صلاحیت د کابل د اطراف قوماندانانو شورۍ ته وسپارل شي... د وزیرانو ټاکل د صدراعظم دنده ده، ترڅو یو څواکمن او باصلاحیته حکومت جوړ شي، موږ په کابل کې د وینو تویولو مخالف یو او غواړو واک په سوله ئیزه توګه مجاهدینو ته ولیږدول شي. "د حکمتیار په دې پیغام کې ښه درک کیږي چې حکمتیار د وزیر دفاع په توګه دسعود سره او د ځان په بې صلاحیتي راضي نه ؤ.

بلې خوا ته د مجددي په مشرۍ د عبوري حکومت او ۵۱ کسیزې شورۍ ټاکل د ائتلاف او جمعیت اسلامي لارې ته میلان سنخته راوړ، مجددي د کابل د اطراف قوماندانانو پرځای د کابل امنیتي شوری جوړه کړه چې پنځه تنه قوماندانان پکې وو: احمد شاه مسعود د شورۍ رئیس، قوماندان عبدالحق

(مولوي خالص)، دیدار (مجددي)، شیر علم (سیاف)، صدیق الله چکري (رباني) او شاه رخ (ګیلاني) پکې شریک وو. د مجددي له دې اعلان سره د رباني سره د ده د پخواني تفاهم یوه بېله نظامي جبهه را منځته کړه.

## کابل فتحه شو

د ۱۳۷۱ لمریز د غوایي په پنځمه/۱۹۹۲م د اپریل په ۲۵مه د شنبې په ورځ کابل له وینو توئېدلو پرته دسولې په فضا کې د مجاهدینو په لاس کېوت، د ارګ جنوبي، ختیځ او لویدیځ برخې، د کورنیو چارو وزارت، عظمې صدارت او بالاحصار د عبدالرحیم هاتف راز محمد، پکتین او جنرال رفیع لوري په پل محمود خان کې د حزب اسلامي مجاهدینو ته تسلیم کړل، قوماندان کریم عابد په قره باغ کې د حکمتیار قوماندان دکورنیو چارو وزارت اداره په لاس کې واخسته، انجنیر فیض محمد ارګ او بالاحصار په لاس کې درلود، په داسې حال کې چې د مسعود قواو د ارګ شمالي لوري او د لکشاماني اشغال کړه، یوې ډلې ماشومانو شنه بیرغونه په لاس کې په جادو کې مارش کاوه او د بري شعارونه یې ورکول، په موټرو کې سپاره مجاهدین د الله اکبر په تکبیرونو او د بري د شعارونو په بدرګه په جادوکې تیریدل او د مجاهدینو د بري جشن یې نمانځه. حزب اسلامي په کابل کې د ډیپلوماتانو ته خبرو رکړ چې له ګرځېدو راګرځېدو ډډه وکړي چې مال اوسریې د کمونستانو او ملیشو له چور او لوټ څخه خوندي وي، ځکه د کارمل د رژیم پلوي کمونستان د مجاهدینو د بدنامولو لپاره لافعال وو.

د (ای، ایف، پي) آژانس یوه عکاس خبر ورکړ چې ارګ او کورنیو چارو وزارت په آرامه فضا کې بېله دې چې ویني تویې شي د حزب اسلامي لخوا فتح شول، د همغې ورځې له ماسپښین څخه وروسته د مسعود او دوستم د ائتلافي قواو موټرو د کمونستانو په همکارۍ خلکوته امر کاوه چې تیت او پرک شي. مازدیګر په څلورو بجو په رادیو ستیشن اووزیر اکبر خان مینه کې د ملیشه او حزب اسلامي د ځواکونو ترمنځ جګړه ونښته، خونباه کوونکې جګړه د همغې ورځې په ماښام ونښته او د حزب اسلامي په سلګونو تنه د دې جګړو په نتیجه کې یا له منځه ولاړل او یا اسیران شول... دغه نښتې د کابل په ختیځو او جنوبي برخوکې پراخې شوې او د دوستم ملیشو پر بالاحصار حمله وکړه.

حکمتیار د ثور په ۶مه د مجاهدینو د بري په ویاړ د خپلې مبارکۍ په پیغام کې د همغې پریکړه لیک په اړه چې حزب اسلامي له نورو تنظیمونو سره لاسلیک کړی ؤ خپل التزام څرګند کړویې ویل: زموږ په نظر د پخواني رژیم څخه مجاهدینو ته دواک لیږ دولو شورۍ ضرورت د انتخاباتو تر دایرولو پورې منتفي شویدی، موږ هیڅکله هم د زور له لارې د حکومت غوښتونکي نه یو، حکمتیار نورو ته چې غالباً یې مسعود ته اشاره وه بلنه ورکړه چې باید تیرهیر کړو او یو بل ته دورورۍ او اخوت لاسونه سره ورکړو. (۱۸)

حضرت مجددی د حکومت د رئیس په توګه اعلان وکړ چې کابل د دفاع وزیر احمد شاه مسعود په واک کې دی. په دی تبصره کې چې د کابل رادیو څخه خپره شوه حکمتیار د نجیب الله په مرسته د مجاهدینو پر خلاف په کودتا تورن شو. (۱۹)

په هماغه تاریخ مارګریت تاتویلر *Margret Tutwiler* د سپینې ماڼې ویاند څرګنده کړه چې چمتو یو دیوه عبوری حکومت لپاره له حزب اسلامی سره خبرو اترو ته کښېنو.

په دی نښتو کې جنرال نبی عظیمی د رژیم د وسله والو قواو د ګارنیزیون قوماندان او ددفاع وزارت مرستیال دیوی رادیو یی بیانیې په ترڅ کې په کابل کی د رژیم د ټولو وسله والو قواو څخه وغوښتل چې د احمد شاه مسعود څخه اطاعت وکړی، مسعود هم هغه د ائتلاف له غړیو او (د اسلامی جهاد دشوری) غړی وتاکه، حکمتیار بیاهم اخطار ورکړ چې تر څو د کابل رژیم پاتې شوني په کابل کې وی جګړی ته به دوام ورکړی، هغه بل لوری ته د مجاهدینو ترمنځ، د پراخ بنسټه حکومت غوښتونکی شو، د ایران دولت په یوه اعلامیه کی چې د بهرنیو چارو وزیر داکتر ولایتی صادره کړه له مسعود څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. (۲۰)

په پېښور کی برهان الدین ربانی له مولوی خالص او د حزب اسلامی له هیأت چې انجنیر قطب الدین هلال او مولوی سرفراز پکې وو د پاکستان د صدراعظم نواز شریف او دعربستان د استخباراتو د رئیس ترکی الفیصل سره اضطراری غونډه وکړه او دحزب اسلامی او مسعود د ځواکونو ترمنځ ئی اوربند اعلان کړ.

## د مجددی دوه میاشتنی دوره

د ثور ۷ – د سرطان ۶ ىی پوری، د اپریل ۲۷ – جون ۲۷.

حضرت صبغت الله مجددی د ۵۱ کسیزی موقتی شوری سرپرست د دوشنبی په ورځ د ۱۳۷۱ لمریز کال د ثور په ۷ مه د شوری له (۱۸) کسیز کمیسون سره یوځای د تورخم له لاری کابل ته روان شو نوموړی په تورخم کی د تشریفاتی مراسمو په ترڅ کی چې د پاکستان د حکومت لخوا ورته برابر شوی وو د هغه هیواد د میلمه پالنې څخه چې د مهاجرینو په حق کی یې کړی وه قدردانی او مننه وکړه ویې ویل: پاکستان زموږ زړونو ته ډیر نژدی دی، مسعود ورانديز کړی ؤ چې مجددی د هوا له لاری باید کابل هوایی ډګر ته راشی خو مجددی د امنیت په خاطر ځمکنی لاره غوره کړه.

اتلس کسیز کمیسون عبارت ؤ له: د خورد کابل قوماندان دیدار، د کندز قوماندان فضل الکریم، د جبهی یو قوماندان مولوی سید محمد، مولوی محمد میر، محمد یاسر د اتحاد اسلامی، مولوی محمد قاسم، سید اسحق ګیلانی، انجنیر محمد اکرم، قوماندان حفیظ بای، داکتر شاهرخ ګران (د نجات ملی

جبهې) قوماندان احمد شاه مسعود دجمعیت چې په کابل کې ؤ، حاجي نعیم کوچي، ډاکتر نجیب الله (د نجات له جبهې څخه)، قوماندان صدیق الله د حرکت انقلاب اسلامي څخه قوماندان محمد رسول د (حرکت انقلاب اسلامي) قوماندان جلال الدین حقاني، قوماندان مولوي عبدالمنان او حاجي عبدالحق د(مولوي خالص) ۵۱ کسیزه شورۍ د پوشمیر قوماندانانو، لسو تنو علماؤ او د حزبونو دلسوتنو سیاسي شخصیتونو څخه جوړه وه د مجددي له روانیدو څخه دمخه د حزب اسلامي او جمعیت – شورۍ نظار د قواو ترمنځ اوربند لاسلیک شو خو د ثور په ۹ مه د اپریل په ۲۹ مه دوهم ځلی جګړه پیل شوه او د مشرانو ترمنځ د نظر اختلافونه هم ژور شول. مجددي په کابل کې د جګړې مسوول حکمتیار وباله او ګیلاني د نوموړي له صدارت سره مخالفت اعلان کړ، رباني د اندونیزیا په سفر کې نیغ حکمتیار ته کنځلې وکړې حکمتیار چې دیوه حلیف او همکار په لټه کې ؤ له سیاف سره یې په یوه ټکي توافق راغی، چې دکابل څخه دې کمونستي ملیشې وایستل شي، هغه همدارنګه په یوه بیانیه کې وویل: په داسې حال کې چې موږ په وار وار دا خبره تکرار کړې ده چې له رباني سره جګړه نه لرو، زموږ جګړه د کمونستي وحشي ملیشو سره ده چې د دولت په حساسو موقعیتونو په تیره په دفاع وزارت او ملي امنیت کې یې نفوذ کړی دی، ... مولوي خالص انزوا غوره کړه او هیڅ لوري یې تائید او یاردنه کړ، محسني عملاً د مسعود او ائتلاف د دریځونو ترڅنګ ودرید، مزاري د جبل السراج د تړون په اساس ځان د مسعود د ګروو ړو متعهد باله مسعود په دوو سیاسي او نظامي اړخونو کې پیل موقف درلود. له یوه پلوه یې د مجاهدینو له مشرانو سره تفاهم کاوه، او په یوه دول یې هغوی قانع کول، او له بله پلوه یې په نظامي سطحه خپل ځانګړي روابط ساتل او غوښتل یې چې د جمهوري ریاست د دورې له پای ته رسیدو وروسته پخپله واک ترلاسه کړي.

## حضرت مجددي د خپلې کابینې غړي په دې دول اعلان کړل

جمعیت اسلامي: ۱– احمد شاه مسعود د دفاع وزیر، ۲–نجیب الله لفرایي د بهرنیو چارو وزیر، ۳– محمد صدیق چکري داطلاعاتو او کلتور وزیر، ۴– موسی توانا د لوړو تحصیلاتو وزیر، ۵– عبدالرحیم کریمي د فواید عامې وزیر، ۶– ډاکتر عبدالرحمن د توریزم او هوا نوردۍ وزیر، ۷– قوماندان محمد انور د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر، ۸– محمد یاسر د بیاودانولو وزیر، یاسر د اتحاد اسلامي غړی دی.

حرکت انقلاب اسلامي: ۹– رحمت الله واحد یار د مهاجرینو د بیرته ستنیدلو د چارو وزیر، ۱۰– مولوي ارسلان رحماني د حج او اوقافو وزیر، ۱۱ – محمد نعیم کوچي د سرحدي چارو او قبایلو وزیر، ۱۲– جنرال محمد یحیی نوروز د ملي امنیت وزیر (نوموړی په دې دلیل چې د احمد شاه مسعود په موجودیت

کې يې ځان يې صلاحيته ليده او هم دولتي امنيت چې د خاد د جاسوسي شبکې مرکز ؤ او غړي يې تر اوسه فعال وو ددغې بدنامي دندې څخه استعفا وکړه او وبې نه منله.)

حرکت اسلامي: ۱۳- سيد محمد علي جاويد د پلان وزير، ۱٤- الحاج خالد زاهد د ترانسپورت وزير، ۱۵- شيخ سيد هادي د کرنې وزير.

محاذ ملي اسلامي: ۱٦- سيد سليمان ګيلاني د صدارت مرستيال او د بهرنيو چارو وزير، ۱۷- ډاکټر شاهرخ ګران د اوبو او برېښنا وزير، ۱۸- حاجي عبدالحفيظ بيګ د کليو جوړولو وزير، ۱۹- انجنير محمد اکرم د مخابراتو وزير، ۲۰- جنرال رحيم وردګ د دفاع وزارت مرستيال (نوموړی دتاکل کيدو څخه يوه اونۍ وروسته د احمد شاه مسعود لخوا برطرف شو او پرځای يې جنرال آصف دلاور کمونستي جنرال وټاکل شو.)

د نجات ملي جبهه: ۲۱- جنرال حميد الله رحيمي د ماليې وزير، ۲۲- ډاکټر ذبيح الله مجددي د عالي تحصيلاتو معين، ۲۳- عبدالاحد کرزی د قبايلو وزير، ۲٤- حاجي سليمان ياري د غذايي موادو او سپکو صنايعو وزير، ۲۵- ډاکټر جليل شمس د روغتيا وزارت معين، ۲٦- حامد کرزی د بهرنيو چارو وزارت معين، ۲۷- ذبيح الله خاوري د قبايلو وزارت معين، ۲۸- مولوي ولاجان وثيق د اطلاعات او کلتور وزارت معين، ۲۹- ډاکټر حشمت الله مجددي د ښوونې وزارت معين.

اتحاد اسلامي: ۳۰- انجنير احمد شاه احمدزی د صدارت مرستيال او کورنيو چارو وزير، ۳۱- مولوي جلال الدين حقاني د عدليې وزير.

خالص حزب اسلامي: ۳۲- حاجي دين محمد د صدارت مرستيال او د تعليم او تربيې وزير، ۳۳- ډاکټر يعقوب بارکزی د عامې روغتيا وزير

وحدت اسلامي ګوند: ۳٤- ډاکټر عبدالواحد سرابي د سوداګرۍ وزير، ۳۵- انجنير يعقوب لعلي دکانو او صنايعو وزير.

جنبش ملي افغانستان (دوستم): ۳٦- مولوي احمد نظر د کار او اجتماعي امورو وزير، ۳۷- سيد اسحق ګوهري، د کليود بيا احيا او پراختيا وزارت.

د افغانستان اسلامي حزب: ۳۸- د صدارت پست، دغه مقام حزب ونه مانه، خود ۱۳۷۱ لمريز د ثور په ۹مه/۱۹۹۲م د اپريل په ۲۹مه عبدالصبور فريد چې په استاد فريد مشهور دی په پروان کاپيسا کې د حزب اسلامي عمومي قوماندان د حزب لخوا د صدراعظم په حيث اعلان شو.

حضرت مجددي دغسې د خپلې کابينې ترڅنګ ځينې نور کسان هم وټاکل چې د هغوی له ډلې څخه د قضا رئيس مولوي عبدالله ذاکري، د کابل والي محمد موسی، کابل ښاروال فضل الکريم ايماق د پوليسو اکادمۍ رئيس قوماندان عبدالحق، د ترافيکو عمومي رئيس قوماندان ديدار د سيلوګانو او غذايي موادو رئيس سيد اسحق ګيلاني او دجمهور رئيس مشاور مولوي محمد مير يادولای شو. د کابينې له

اعلان څخه وروسته مجددي په خپله ویناکې وویل:

د دې دولت موده به دوه کاله وي او د دوو میاشتو خبره په منځ کې نشته، زه د پیښور په پریکړه قناعت نه لرم، اوس دافغانستان زیات خلک زما په جمهوري ریاست خوښي ښکاره کوي، د دلو مشران ددغسې بیانیې وروسته د حل لارې په لټه کې شول، رباني چې یوه اونۍ پخوا حکمتیار ته کنځلې کړې وې او په خپلو مطبوعاتي کنفرانسونوکې یې ډیر پراخ پرو پاګند ورپسې کاوه بیرته هغه ته مخ وراړاوه او دا ډېې ورکړ چې د مجددي له نسکوریدو او د واک له لیږدولو وروسته به د حکمتیار له وړاندیزونو سره موافقه کوي، حکمتیار د رباني په خبرو وغولیده او پنځه تنه د اجرائیه شورې غړي یې کابل ته واستول، مجددي د هغوموافقو په اساس چې له دوستم سره یې کړې وې فکر یې کاوه چې د ګلم جم ملیشې کولی شي دی په واک کې وساتي، ځکه یې یو طرفه دریځ غوره کړ.

رباني د مجددي د بیرنیو کړو وړو څخه ګټه واخسته او غوښتل یې چې هغه د ملت په وړاندې بدنام کړي، ځکه خوبې د عفوې هغه فرمان چې د نجیب الله لپاره یې غوښتنه کړې وه تر انتقاد لاندې ونیو وې ویل: نجیب دې پخپل نوبت د خپلو جنایتونو او ګناهونو د سزا لپاره محاکمې ته راکش شي.

د مجاهدینو د ګوندونو یو شمیر مشران د مولوي نبي، برهان الدین رباني، محسني، سیاف، مولوي سرفراز او علي انصاري په مشرۍ د حزب اسلامي د اجرائیه شورې د پنځو تنو غړو په شمول جلال آباد او له هغه ځایه کابل ته ولاړل چې د مجددي د دوه میاشتنۍ دورې له پای ته رسیدو وروسته رباني ته د واک لیږ دولو په وخت حاضر وي.

د ۱۳۷۱ لمریز ثور په ۲۳مه/۱۹۹۲م د مې په ۱۳مه اندري کازیروف د روسیې د بهرنیو چارو وزیر کابل ته راغی چې د دوارو هیوادونو د اړیکو د روسي بندیانو د تسلیمي او بیرته ستنیدو او د کمونستي رژیم د پاتې شونو په اړه له مجددي سره خبرې اترې وکړې. د انترفکس د خبرې آژانس د راپور په اساس د موافقې په صورت کې روسیه دې ته چمتووه چې بشري مرستې کابل ته واستوي. همدارنګه په افغان لانجه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازی کابل ته راغی اوله مجددي سره یې د هغه سازمان د بشري مرستو په باب خبرې وکړې، نوموړي وړاندیز وکړ چې په افغانستان کې باید بشپړه سوله او آرامي راشي او د افغانستان د بیا ودانولو لپاره مناسبه طرحه جوړه شي، د سیوان له سفر سره جوخت د ملګرو ملتو سرمنشي بناغلي پطروس غالي په نیویارک کې هم د افغانستان لپاره د هر اړخیز او پراخ کمک تیاری اعلان کړ.

## د کابل په بګرامیوکې د مسعود او حکمتیار د سولې تړون

کله چې مجددي مزارشریف ته ولاړ او له دوستم سره یې د همکارۍ تړون وکړ د مسعود اعتماد پر

دوستم او نادري کمزوري شو، جنرال مؤمن مسعود ته راپور ورکړ چې دوستم غواړي له مجددي سره د کابل واک په لاس کې ولري، په داسې حال کې چې د حزب اسلامي او دوستم د ملشو ترمنځ په بالاحصار او مرنجان تپه کې توندي جګړې رواني وې، د جهادي شخصیتونو په منځګړیتوب او د سعودي عربستان او پاکستان د اسلامي ګوندونو او حکومت په همکارۍ یو لړ هڅو جریان درلود چې د دواړو لوریو ترمنځ د سولې اوهمکارۍ تړون وشي، مسعود هم سیاسي مانور اجرا کړ او غوښتل یې چې د حزب اسلامي د پیاورو قواو په استفادې سره خپل نوی حریف له پښنو وغورځوي او دا یوه ښه موقع وه چې حزب د ابهاماتو ترپردو لاندې غیر فعال وساتي. دغه موافقه د سعودي د پاچا ملک فهد د ځانګړي نماینده عبدالله نایف په منځګړیتوب د حکمتیار او مسعود ترمنځ د اوه ساعته پرله پسې خبرو اترو څخه وروسته په اتو مادو کې لاسلیک شوه چې داسې وه:

۱- ژر تر ژره د انتخاباتو د ایریدل، ۲- د مشترک کمیسون فعالیدل د انتخاباتو د څرنګوالي او کیفیت د ټاکلو لپاره، ۳- د انتقالي دوري تر پایه د انتخاباتو دایریدل، ٤- د پخوانیو موافقو په اساس د وخت د حکومت د کار دوام، ٥- د واک دلیږ دولو دهیأت د کار موده دوی میاشتې ده، ٦- د کابل د ښار امنیت باید د کورنیو چارو وزارت لخوا د مجاهدینو په واسطه ونیول شي.

۷- د لانجو د حل په خاطر د خبرو اترو دوام، ۸- له کابل څخه د وسله والو خلکو ویستل چې د څرنګوالي په اړه به یې په قیادي شورۍ کې وروستی تصمیم نیول کیږي.

## پاکستان ته د مجددي سفر

د دې تړون له اعلان سره که څه هم مسعود ناراضه ښکاریدو او د پوځي قواو وتل یې له کابل څخه د خپل واک پای باله، خو د حزب اسلامي شته والی یې په خپل څنګ کې د داسې یوې اداري تر څارنې لاندې چې شورای نظار او جمعیت یې په سرکې وو اغیز من باله، دغه تړون د مجددي دهدفونو لپاره د فشار وسیله شو. هغه په ناڅاپي ډول پاکستان ته ولاړ او له رئیس جمهور غلام اسحق خان، صدراعظم نواز شریف او دسرحد ایالت وزیر اعلی میر افضل خان سره یې ولیدل، هغه پلان درلود چې د قبایلي مشرانو سره هم وګوري او د مرستې غوښتنه تري وکړي، پاکستان له مجددي سره چندان ښه چلن ونه کړ، ځکه هغه مهال یې د حکمتیار د اقتدار ته رسولو تمایل درلود، مجددي له اویاتنو د انتقالي شورا له غړیو او قوماندانانو سره نا امیده له پیښور څخه کابل ته په الوتکه کې روان شو.

د آریانا افغان الوتکه د کابل په هوايي ډګر د راکوزیدو په وخت کې وویشتل شوه چې د پیلوټ او د هغه د مرستیال او څو تنو نورو پرتیې کیدو برسیره روغه پرزغل لیکه کیناسته، د الوتکې څوکه د توغندي په واسطه وویشتل شوه او ولګیده خوښبینه په خیر تیره شوه څوک پکې تپي شوي نه دي.

مجددي له خبریالانو سره په لومړني مخامخ کیدو کې د دې پیښې او دزو پړه پر حکمتیار وراچوله، څکه چې یو خو دواړو لوریو یو پربل پسې توند پروپاګند کاوه او دوهم دا چې حزب اسلامي ګوابن کړی ؤ چې الوتکې به په هوایي ډګر خوندی الوتنې ونشي کولی، څکه خو دیره اشتباه په همدوی کیده. خوکله چې له واک څخه ګوښه شو خپله دغه خبره یې لویه اشتباه وبلله او ویې ویل .چې پوهیږی چې په دې دسیسه کې مسعود لاس درلود، زیات ګومان دا دی چې مجددي د نوی سیاسي دریځ په خپلولو سره چې نه یې غوښتل استعفا ورکړی او رباني چې واک ته د رسیدو لپاره شیبې شمیرلې د مجددي د منځه ورو په دسیسه کې د ځینو په نظر په قوي احتمال د مسعود لاس ؤ، ترڅو له یوه پلوه له مجددي څخه ځان خلاص کړي او بل لوری ته یې له حکمتیار سره د موجود حساسیت او اختلاف څخه ګټه واخلي، مجددي وروسته له هغې چې له واک څخه ګوښه شو د پاکستان د نوای وقت ورځپاڼې سره په یوه مرکه کې چې په ۱۳۷۱ لمریز د چنګابن په ۱۱مه/۱۹۹۲م د جولای په ۲مه خپره شوه وویل: پر الوتکه حمله د حکمتیار کار نه ؤ، زما د دوستانو کار ؤ.

## وینې توئیدل او لوټماری

ددغې دورې له تاریخي بحثونو څخه یو د کابل په ښارکې د ملیشود بې شمیره لوټماریو او وینو تویولو موضوع ده، د جوزجاني ملیشو چې په ګلیم جم مشهورې دي د شمال له ائتلافیونو سره د جنرال عبدالمجید او جنرال فوزي تر قوماندې لاندې دنادرې د ملیشو په همکارۍ د کابل په مرکز او ختیځو او جنوبي څنډو، نظار شوری له کمونستي جنرالانو او د خاد له غړیو سره د کابل په مرکز او شمال کې، وحدت ګوند له غزني اوبامیان څخه د راوستلیو افرادو په واسطه دکابل په لویدیځ او جنوب یرغل راووړ، او په هره څلور لارې کې یې پوستې واچولې، د کورونو په چور او لوټ یې لاس پورې کړ، تر هر څه روسي دولتي مرکزونه او اداری چور شوی، وروسته په کورونو حملې وشوې او د ښځمنیو پر لوټ برسیره پر ښځو او ماشومانو جنسي تیری وشو.

وروسته بیــا پــردی هــم بـسـنــه ونه شوه د خلکو څخه د قوم، ژبې او مذهب پر اساس سرونه غوڅ شول او له تصور څخه لرې عامې وژنې وشوې، چې د هغو له جملې څخه په کانتینرونوکې د خلکو سوځول، پرسرو نود میخونو ټک وهل، مثله کول او نور داسې جنایات ترسره شول چې د دې کارونو زیات نسبت وحدت ګوند او د محسني حرکت اسلامي ته کیږي. همدارنګه دې ته ورته جنایات د افشارو په جګړوکې هم د شورای نظار او سیاف د کسانو لخوا شول چې باید سترګې ترې پټې نه شي، د حزب اسلامي افراد چې د کابل په جنوبي څنډوکې وو په کابل کې د مخالف لورې سره په جګړو او په چور او

لوټ محکوم دی.

جنرال مجید روزی په یوه خبری کنفرانس کی وویل: یوازی د دوی تر قوماندی لاندی ملیشی په کابل کی د چور او لوټ مسوولی نه دی بلکی په اتحاد کی شامل نور مجاهدین هم پکی شامل دی، چی مور نشوکولی مخه یی ونیسو، ځکه چی د دی اتحاد د منځه تللو خطر را منځته کوی. (۲۱)

د سعودی عربستان د سفارت یوه مقام خبر ورکړ چی د ۱۳۷۱ لمریز کال د غوایی په ۸مه/اپریل ۲۸مه - د غوایی ۱۸مه/اپریل د می ۸مه اود غوایی په ۲۲مه/د می په ۱۲مه دری ځلی شورای نظار او ګلیم جم ملیشو ته منسوب ځواکونه سفارت او د سفیر کورته ورننوتل او تولی شتمنی یی تری لوټ کړی دغه ګار په نورو دیپلماتیکی مرکزونوکی هم شوی دی.

د کابل خلک چی د ملیشو او مجاهدینو د ډلو تر تیری لاندی راغلل په دیره در دوونکی بنه جلال آباد او پیښور ته راغلل او د هجرتونو سیلاب پیل شو. (۲۲)

## له کابل څخه د ملیشو پروتلو د حکمتیار ټینګار

حکمتیار له هغی وروسته چی د ثور په پنځمه د ائتلافی مخالفو قواو تر حمله لاندی راغی او له ښار څخه بهر ته وشړل شو، نوی موضع یی ونیوه، نوموړی له پاکستانی خبریالانو سره په مرکه کی وویل: ترڅو د ګلیم جم ملیشی په کابل کی وی امن اوسوله هلته نه ټینګیږی(۲۳) د حکمتیار دغه دریځ زیاترو مشرانو او قوماندانانو بدرګه کړ او له حزب اسلامی سره یی ژمنی او تعهدونه کول، مولوی خالص له روسانوځخه د مجددی د مرستی غوښتنه وغندله. وحدت ګوند د ایران په ټینګار او په دی دلیل چی په شوری کی یی لږ کسان غړیتوب لری د انتقالی شوری سره دنه همکاری اعلان وکړ.

## د مجددی تیروتنی

حضرت مجددی د انتقالی دوری په ناځرګنده او اختناقی وضعه کی ؤ. هڅه یی وکړه چی خپل سیاسی دریځ په دوو میاشتو کی پیاوړی او روښانه کړی، سره له دی چی د ګوندونو د خپلمنځی حساسیتونو دننه هم رابنکیل ؤ او هر سازش یی د سیاسی مصلحت په توګه مانه، د پرچم ډلی اته کسیزی ډلی د محمود بریالی په مشری له ده سره وکتل، چی که وتوانیږی په دی دوره کی خپل موقف ته بقا وبخښی او یا د یوی اجرایوی قوی په توګه له حزب اسلامی سره په ټکر امتیازات ترلاسه کړی، مجددی له محمود بریالی، فرید مزدک، سرابی، آصف دلاور، جنرال بابه جان، جنرال نبی عظیمی او عبدالوکیل سره په خبرو اترو او مفاهمه لاس پوری کړ، که څه هم د کارمل پلوی ډله په ائتلاف کی د مسعود پر محور را څرخیده، د مجاهدینو د مشرانو په منځ کی یی د اختلافاتو پراخیدل د خپلی بقا تر ټولو غوره لاره بلله او د خپلو

وسایلو او خبری څېړنیو منابعو له لاری بی تبلیغات کول.

مجددی په ۱۳۷۱ لمریز د غوایی په ۲۶مه/۱۹۹۲م د می په ۱٦مه د نجیب الله د بخښنی غوښتنه وکړه چی د ملګروملتونو دفتر ته یی پناه وړی وه، نوموړی وویل: نجیب الله باید د عمومی بخښنی تر فرمان لاندی، راشی که داسی ونشی نو بیا خوښایی په زرګونو ته په سزا محکوم کړو. (۲٤)

## ۱ – جنرال دوستم ته د لوړ مقام ورکول

مجددی د ۱۳۷۱ لمریز کال د غبرګولی په لومړی نیټه مزار شریف ته ولاړ او هلته یی د ګلیم جم ملیشو له قوماندان جنرال دوستم او د اسماعیلیه فرقی د ملیشو له مشر جعفر نادری او د هغوی له زیات شمیر نورو کسانو سره وکتل، نوموړی ټولو ملیشوته د جنرالی رتبی ورکولو نه علاوه دوستم ته دستر جنرال رتبه او د خالد بن ولید، لقب ورکړ او په مزار شریف کی یی د شاه ولایت مئآب په انګړ کی په یوه وینا کی رشید دوستم ته "لوی مجاهد" لقب ورکړ چی شپږ کاله یی د اسلام په لار کی جهاد کړی دی، مجددی د مجاهدینو بری چی د نجیب رژیم یی رانسکور کړ دروغ وباله، دغه وینا د افغانی لوریو لخوا یوه اشتباه او غیر مسوولانه وینا وبلل شوه. د مجددی دی اشتباه نه یوازی دا چی د مجاهدینو دریځ کمزوری کړ بلکی د دوستم موقف یی ځواکمن کړ. دوستم چی په همغه حال کی هم سلطان علی کشتمند او ببرک کارمل ته په مزار شریف او حیرتان کی ځای ورکړی ؤ، په مفاهمه او د واک په ویش کی یی هڅی کولی چی د مجاهدینو او کمونستانو په منځ کی خپل نفوذی رول ځواکمن کړی ... سیاف د مجددی ددی بیانیی څخه وروسته په پاکستان کی اعلان وکړ چی: مجددی خپلی پښنی له ګلیم څخه زیاتی اوږدی کړی.

## ۲ – د مجاهدینو د ګوندونو خپلمنځی پروپاګند

مجددی د ثور په ۱۵مه د کابینی له اعلان څخه وروسته د حکمتیار ددی دریځ پرخلاف موقف ونیو چی ویل یی د کابل له ښار څخه باید ملیشی ووزی، مجددی وویل: حکمتیار نور په افغانستان کی رول نه لری، او په سلو کی ۹۹ کسان ددی دولت سره موافق دی. همدا اوس له ۲۰-۵۰ زرو د هیواد د ختیځو سیمو مجاهدینو له موږ سره خپل پیوستون اعلان کړی دی، بی له دی چی زه امر ورته وکړم د حکمتیار نښنه او خاوره به هم پاتی نه شی. (۲۵)

حکمتیار د جوزا په ۹مه ګردیز ته ولاړ او د قومونو په منځ کی یی خپل دریځ داسی اعلان کړ چی مجددی په کابل کی هیڅ واک نه لری او ټول واک د کمونیستی جنرالانو سره دی. او په همدی اساس یی له کمونستانو سره د جګړی دوام اعلان کړ.

## ۳- د اداری چارونه تنظیمول

د مجددی یوه اشتباه دا هم وه چی اداری او مسلکی کدر یی نه درلود، چی په هغه اضطراری حالت کی یی کولای شوای چی په حوصله او پرله پسی زیار دولتی ارګانونه منسجم کړی، مجددی د دوستم او نادری د ملیشو قواو پر تکیه تصور کاوه چی کولی شی تر ډیره وخته په واک کی پاتی، له دی پرته چی په هیواد کی څه حالت دی، د مجددی د ٥١ کسیزه شورا غړیو چی باید په تولو دولتی چارو کی ابتکار ښودلی وای له مختلفو لوریو سره په محافظه کارانه تماسونو او دریځونو نیولو لګیاوو. یوه لوری ته یی حکمتیارته قناعت ورکاوه او امتیازات یی ترلاسه کول بلی خوا ته یی له ربانی سره موافقی کړی وی، چی د مجددی د دوه میاشتنی واکمنی له پای ته رسیدو وروسته هم په واک کی پاتی شی، د مجددی اداری کدر په هغه تاریخی مقطع کی په کابل کی له لنډی مودی تیرولو وروسته بیرته پیښور ته راستانه شول، او زیاتره قوماندانان او د کابینی غړی د حج په مراسمو کی د ګډون لپاره سعودی عربستان ته ولاړل، د حج په دی مراسمو کی ربانی هم ؤ، او له بیرته راګرځیدو وروسته هم په پیښور کی پاتی شو ترڅو د مجددی د استعفا مهال را ورسیږی. د امریکا دولت هم خپل استازی "پیترتامسن" کابل ته واستاوه او د حقایقو او وضعی په اړه یی له مجددی سره لیدنه وکړه، د چنګابن په ٦مه/جون ٢٧مه د پاکستان د بهرنیو چارو سکرتر جنرال اکرم ذکی کابل ته ولاړ او مجددی ته یی د نواز شریف د پیغام رسولو په ترڅ کی له هغه څخه هیله وکړه چی د خپلی دوری په پای ته رسیدو استعفا وکړی او له واک څخه ګوښه شی، د نظار شورا قواو د خپلو ځواکونو د تقویه کولو سره په کابل کی دحزب وحدت سره جګړی پیل کړی.

# د برهان الدین رباني دوره

## ځانځاني او د مجاهدینو لویدل

د ۱۳۷۱ لمریز سرطان له ۷مې...؟

حضرت مجددي د خپلې دورې له پای ته رسولو وروسته د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د جمهوري ریاست په ګلخانه ماڼۍ کې چې په ۱۳۷۱ لمریز د سرطان په ۷مه ۱۹۹۲/ د جون ۲۸مه نیټه ترسره شول د برهان الدین رباني، شیخ آصف محسني، استاد علي انصاري، سید حامد ګیلاني، حاجي دین محمد، قاضي محمد امین وقاد، او مولوي نصر الله منصور په مخ کې واک قیادي شورى ته وسپاره، چې وروسته محسني له رباني څخه وغوښتل چې د څلورو میاشتو لپاره دتحلیف مراسم اداکړي. مجددي دواک له لیږدولو نه وړاندې په بیانیه کې وویل: احمد شاه مسعود د دفاع وزیر او د شورای نظار قوماندان زما له حکومت سره هیڅ ډول همکاري ونه کړه، او د کابل په راډیو تلویزیون کې یې زما دوینا و. او خبرو د خپرولو مخنیوی کاوه. همدارنګه ځیني رهبران دده له خبرېدو او داد پرته عربستان او پاکستان ته ولاړل او یو لړ ماموریتونه یې ترسره کړي دي... د دفاع وزارت زما د دوه میاشتنې واکمنۍ په موده کې د امنیت د ټینګولو په اړه هیڅ اقدام نه دی کړی. مجددي همدارنګه وویل که رباني خپل کار په شورایي ډول سرته ونه رسوي نوداسې انقلاب به وشي چې هیڅوک به یې مخه ونشي نیولی.(۲۶)

له مجددي څخه رباني ته د واک لیږدولو پر وخت حکمتیار په چار آسیاب کې پخپل مرکز کې له بي بي سي سره په مرکه کې وویل چې موږ له کابل څخه د ټولو وسله والو ډلو دوتلو غوښتونکي یو ځکه چې ګومان کوو رباني ته هسې په نامه واک لیږدول شوی دی، باید د کمونستانو پاتې شوني له واک څخه لرې شي اونجیب او ببرک دواړه ملي خاینان دي او باید محاکمې ته راکش شي.

## د ننګرهار جهادي شورا

د ننګرهار جهادي شورى وروسته له دې چې هغه ولایت د مجاهدینو په لاس کې پریوت په جلال آباد کې دیوې غونډې په ترڅ کې جوړه شوه، حاجي قدیر د شورى د رئیس په توګه (دمولوي خالص حزب غړی) او شمالي د ننګرهار عمومي قوماندان چې ملي محاذ ته منسوب ؤ د مرستیال په توګه وټاکل شول د شورى نور غړي فضل الحق مجاهد، او انجنیر غفار د حزب اسلامي او سازنور د اتحاد اسلامي غړي وو، او انجنیر محمود د مولوي خالص د ګوند غړی ؤ.

د ننګرهار شورا د جوړیدو هدف سیاسي او نظامي استقلال او خپلواکي وه چې د کابل په پیښو کې

بی تل د منځګړی رول لوباوه او خپل موقف بی ساتلی دی. په دی شوری کی قومی تمایل ته تر اسلامی زیات اولیت ورکول کیده، څکه خو د شمالی او حاجی قدیر ترمنځ دیو لړ اختلافاتو بنه داسی شوه چی شمالی بی (احمد زی) قوم ته د نسبت په خاطر د ننګرهار نه باله او بیا په جلال آباد کی دیوی دسیسی په ترڅ کی له خپلونورو همکارانو سره ووژل شو، د شمالی د وژلو بل سبب د حاجی قدیر په مقابل کی د هغه بنکاره دریځ ؤ، چی د ننګرهار د شورا رئیس د خپل سیاسی - نظامی موقف څخه په استفادی سره دیری ځمکی او شتمنی تصرف کړی وی... همدارنګه حاجی شمالی حکمتیار ته تمایل درلود او د حزب اسلامی له دریځ څخه بی زیاته دفاع کوله، او د حزب اسلامی په اداره کی د فضل الحق مجاهد د محافظه کارانه دریځ په موجودیت کی د ننګرهار شورا د سقوط امکانات وو.

## د افغانستان ملی اسلامی جنبش

د افغانستان ملی اسلامی جنبش د شمال ائتلاف د جبهی یو نظامی - سیاسی سازمان دی چی د جنرال عبدالرشید دوستم په مشرتابه د برهان الدین ربانی له قدرت ته رسیدو وروسته په ۱۳۷۱ لمریز زمری/۱۹۹۲م جون کی منځته راغی.

د دی سازمان شالید د رشید دوستم د ژوند پر محور څرخیږی چی د پنځوسمی لمریز لسیزی څخه په کابل کی پیلیږی. کله چی رشید د "دوستم" په تکیه کلام وروسته په همدی تخلص وپیژندل شو د مزار شریف د کود او برق په فابریکه کی یو عادی کارګرؤ په ۱۳۵۰ لمریز کال د پرچم ډلی د تبلیغاتو تر اغیزی لاندی راغی، هغوی چی د هیواد په صنعتی مرکزونو کی خپل فعالیتونه پیل کړل، دوستم هم د دوی د مینه والو څخه شمیرل کیدو چی لیک او الوست بی هم نه وو زده، خو د زور بنودلو په کړو وړو سره زر د پام وړوګرځید. (د دی کتاب اووم فصل کارمل او د رژیم ناتوانی، ته دی مراجعه وشی)

رشید دوستم په ۱۳۵۹ لمریز/۱۹۸۰م د تخریبی عملیاتو او د شمال د قوماندانانو پر خلاف د پراخو پوځی عملیاتو په نتیجه کی د نجیب الله لخوا د "ملی اتل" لقب وګاته او دده تصویرونه د کابل په مختلفو برخو کی وځړیدل.

هغه چی په کمونستی څواکونو کی د لوړ ارځښت څخه برخمن شو، د فعالیت ساحه بی د جوزجان په ولایت کی پراخه کړه او د نورو سیمو د ملیشو له مشرانو سره بی په شریک فعالیت لاس پوری کړ، جوزجانی ملیشی د سید کیان له ملیشو سره د خپلو کړو وړو په اثر د "ګلیم جم" ملیشو په نامه مشهوری شوی او هڅه بی وکړه چی د شمال په مختلفو ساحو کی د شوروی اتحاد د لبنکرو پرځای د دوی پوستی جوړی شی. مسکو د دوستم له دی کړو وړوڅخه راضی بنکاریدو او نوموړی د بی له قید او شرطه پلوی څخه برخمن شو. د ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان جمهوریتونه هم د ګلیم جم ملیشو د کوماندو نی زده کړو او مشقونو مرکزونه شول، او تول مادی او پوځی سهولتونه او امکانات په لاس کی ورکړل

شول، ترڅو چې له نجیب سره د مرستو لړۍ د ۱۳۶۹ - ۱۳۷۰ لمریز کلونو په اوږدو کې د حیرتان او شیرخان بندر له لارې دوستم ته سپارل کیدې، دده موقف د نجیب د رژیم په وروستیو کې ډیر اوچت شو او د روسانو زیاترې پوستې د جوزجاني ملیشو او د دوې د ائتلافي اندیوالانو لخوا حمایه کیدې، په تیره بیا په جنوبي او ختیځو ولایتونو کې د جوزجاني ملیشو د فاعي کمربند پردې توانیدلي ؤ چې تریوه حده د مجاهدینو د پرمختګ مخه ډب کړي او د درنو تلفاتو په ورکولو یې شاتګ ته اړکړي.

د شهنواز تني د کودتا نه وروسته رشید دوستم په داسې موقف کې شو چې د نجیب ټول انحصار پر همدوې شو. او کله چې ببرک کارمل دهغه عقده لرونکې رقیب وغوښتل چې د نجیب د سزا ګانو خواب ورکړي جوزجاني ملیشې یې د دې کار لپاره محور وباله، له بله پلوه ببرک کارمل غوښتل چې له نجیب څخه بدل د پښتون قوم څخه انتقام وګڼي او هغه پراخ کړي که وکولی شي په راتلونکې کې افغانستان په دوو شمالي او جنوبي برخو وویشي چې، په شمال کې د (تاجک، ازبک او هزاره) قومونه تر خپلې واکمنۍ لاندې د خپلو مرستیالانو په حمایه راولي او جنوب دیوه سره پاشل شوې سازمان په اختناق کې پریږدي چې د پښتون قوم جوړښت په قومي اختلافونو کې سره وویشل. له بله پلوه د نجیب الله له نسکوریدو څخه د مجاهدینو برې د آزادۍ غوښتنې د مبارزو د یوې مقطع په توګه حتمي ؤ. څکه خو پرچمیانو غوښتل دغه تاریخي افتخار بدنام او شکمن کړي.

روسي مشاورینو د جهاد مشرانو د فردي ځانګړتیاؤ په درک کولو سره د دوې له حساسیتونو او عواطفو څخه په ماکیاولستي ډول استفاده وکړه او د ټولو مشرانو په منځ کې یې د بې اعتمادۍ او عقدې حس را ژوندی کړ او د افغانستان د راتلونکې واکمنۍ پرسربې توند کړل. کمونستانو د افغانستان د جهاد دوې اساسي مهرې په سیاسي لوبو کې واچولې، او مسعودبې دیوه ائتلاف په محور کې له رشید دوستم، د کارمل پلوي پرچمیان، وحدت ګوند او د سید کیان د ملیشو سره د جهادي مشرتابه له بدن څخه بیل کړ، چې دغه پروسه وروسته د مائویستانو اوستم ملي په نفوذ سره آن په کابل کې د رباني رژیم په کړو وړو او سیاست کې نیغ نفوذ او اثر درلود او د مجاهدینو دیووالي پر خلاف تصمیمونه ونیول شول، رشید دوستم د نجیب الله د وتلو مانع شو او غوښتل یې هغه بندي کړي.

دوستم د شمال ائتلاف یوه اساسي کړۍ وه چې وتوانیده له وینو تویولو پرته د حزب اسلامي په لاس د کابل د نیولو څخه وروسته هغوی ته درانه زیانونه وروړوي او تر چار آسیاب او سقاوې دښتې پورې یې تر ۳۰ کیلومترې پورې په شاو زغلوی. کله چې مجددی مزار شریف ته ولاړ هغه ته یې د (خالد بن ولید) لقب او دستر جنرالۍ رتبه ورکړه، پردې سربیره یې یو مجاهد وباله، د مجددی دې کار رشید دوستم د جهادي اسلامي سازمانو حلقې ته ورشامل کړ، او له مسعود سره یې ائتلاف ده ته د مجاهدینو په اداره کې د شریکیدو لاره پرانستله، کله چې برهان الدین رباني په کابل کې واک ته ورسید هغه ته یې د جمهوری ریاست د مرستیالۍ منصب وبابنه، د ګلیم جم ملیشې د افغانستان د جنایت کار و، اوډیرو

فاسدو او ورانوونکو ډلو له جملې څخه وي، چې وتوانیدلي د ببرک کارمل اهداف د مجاهدینو په بدنامۍ او د دوی په ناکامیو کې ترسره کړي چې دا کار یې د لوټ، چور، وژنې او تولنیز فساد د خپرولو له لارې وکړ، د رشید دوستم او احمد شاه مسعود ترمنځ د نظر اختلافونو له را څرګندیدو وروسته دوستم په ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م په یوه ستراتیژیک سیاسي او نظامي تغییر سره د مزاری له حزب وحدت او د حکمتیار له حزب اسلامي سره د "هماهنګۍ شورئ" اعلان کړه او بیرته یې د رباني او مسعود پرخلاف جګړې پیل کړې، مجددي هم چې په نه زړه د جمهوري ریاست له کرسي څخه استعفا ورکړې وه له دې شورا سره یو ځای شو او له شلوکلونو ائتلاف او ګډدریځ وروسته یې له رباني سره مخالفت او دښمني پیل شوه.

په شمال کې د جنبش ملي تشکیلات په کابل کې د رباني د اداري په نسبت ښه او منظم وو، ځکه چې له یوه پلوه د نفتو او ګازو د تولید زمینه برابره وه، د شمال او جنوب د سوداګرۍ لاره د شیرخان بندر او حیرتانو له لارې پرانستې وه، له بله پلوه مختلفوقوماندانانو په شمال کې هغه سرمایې په کار لګولې وې چې د چور او لوټ او یا د وسلو د خرڅولو له لارې یې لاسته راوړې وې، په دې علاوه هغوی د نشه یي موادو د قاچاق لارې هم خلاصې ساتلې وې چې د نسبتاً غوره اقتصاد څخه برخمن وو، د دوستم پوځي قوه د ٤٠ زره تنو په شاوخوا کې وه چې جنګي الوتکې، بار وړونکې، هلیکوپترې او بې شمیره ټانګونه یې درلودل، دوستم په یوه بله حیله هم وتوانید چې د قوماندانانو شمال راوړې شتمني او د سوداګرو سرمایې د مزار شریف په ښار کې په کار واچوي ټولو ته یې د سوداګرۍ زمینه برابره کړه، زیاترو قوماندانو د لوړ پوړه ودانیو په جوړولو او دسیمه ایزې سوداګرۍ په واسطه د دوستم د سیاسي اوپوځي کړو وړو اسیران شول.

دوستم د ببرک کارمل له پلویانو اومینه والو څخه ؤ، چې دری کاله یې هغه ته سیاسي پناه ورکړه او په حیرتان کې یې د هستوګنې سیمه په اختیار کې ورکړې وه، کله چې دهغه ناروغي سخته شوه د تداوې لپاره یې مسکو ته واستاوه او کله چې مړشو په حیرتان کې یې مړی خاوروته وسپاره، د شمال د جنبش پوځي تشکیلات او اداري جوړښت له پیل (۱۳۷۲ لمریز/۱۹۹۳م) څخه د طالبانو په لاس د مزار دلویدو (۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۸م) پورې دجنبش د افرادو او د مختلفو جهادي – سیاسي ډلو له قوماندانانو او افرادو څخه جوړ شوي وو د شمال د ولایتونو او ولسوالیو په سطحه په دې ډول وو:

۱– مولوي محمد عثمان سالک زاده تر ۱۳۷۳ لمریز پورې وروسته مولوي محمد علم (د جمعیت اسلامي ګوند) د بلخ والي، د ولایت مرستیالان: استاد ګل خان احمدي، الحاج ډګر جنرال عبدالباري او قاضي عبدالبصیر خدنګ.

۲– د فاریاب والي رئیس عبدالرحمن رحماني، اوانجنیر خالقیار مرستیال، ۳– مولوي عبدالظاهر د کندز والي، ٤– ډګر جنرال سید جعفر نادري د بغلان والي، ٥– مولوي عبدالقدوس رحماني د سمنګان والي، ٦– ډاکتر محمد کریم زارع د جوزجان والي. هغه ګوندونه او یا قوماندانان چې له جنبش ملي سره

بی ائتلاف کړی و داوو:

وحدت ګوند: ډګر جنرال سید الحاج نعمت الله په شمال کی د وحدت ګوند د ځواکونو قوماندان، ۲- ډګر جنرال خدا داد په حزب وحدت کی لوی درستیز، ۳- ډګر جنرال شیخ باقر سلطانی د اداری او نظامی چارو رئیس، ٤- عبدالهادی بلخی (عبدالغفار محقق)، ٥- حجت الاسلام عالمی بلخی، ٦- حسین نوری، ۷- موحد بلخی د مرکزی شورا غړی، ۸- بناغلی شیخ سلیمان په بلخ ولایت کی د حزب وحدت مرستیال او سرپرست. ۹- په مزار شریف کی د وحدت ګوند رئیس کاظمی جعفری او ۱۰- ډګر جنرال باقر مسعود په مزار شریف کی د حزب وحدت د ګارنیزیون رئیس.

جمعیت اسلامی: ۱۱- ډګر جنرال استاد عطا محمد د افغانستان د ملی اسلامی جنبش مرستیال او په شمال کی د جمعیت نماینده،، ۱۲- مولوی محمد شاه د ۱۷ می لوا قوماندان او د جمعیت د اجرائیه شورا غړی، ۱۳- سید محمد مجلسی د فرهنګی شورا رئیس، ١٤- قوماندان عارف خان په حیرتان او شیر خان بندر کی د جمعیت قوماندان،۱٥- سید هدایت الله نقشبندی په مزار شریف کی د سیاسی چارو مسؤول، ١٦- ملا عبدالرحمن د بلخ ولایت په شولګره ولسوالی کی قوماندان.

د نجات ملی جبهه: ۱۷- آمر کمال د شمال په شوری کی د مجددی استازی، ۱۸- الحاج میر بادخان د بلخ په ولایت کی د سرحدی چارو آمر.

حرکت اسلامی (محسنی): ۱۹- ډګر جنرال سید عبدالواحد، د ملی اسلامی جنبش مرستیال، ۲۰- الحاج دین محمد په بلخ ولایت کی د حرکت اسلامی ولایتی رئیس.

حزب اسلامی: ۲۱- تورن جنرال أمیر جان په بلخ ولایت کی د حزب اسلامی نماینده، ۲۲- قوماندان لطیف د آمو د څنډی له شیر خان بندر - حیرتانو پوری د حزب قوماندان، ۲۳- انجنیر نسیم مهدی په فاریاب ولایت کی د حزب امیر او د جنبش مرستیال، ٢٤- مولوی عبادی، په سرپل کی د حزب قوماندان او د جنبش د اجرائیه شوری غړی.

محاذ ملی: ۲٥- بشیر غلام په شمال کی د محاذ نماینده.

د افغانستان حرکت انقلاب اسلامی: تورن جنرال احمد شاه د مولوی نبی نماینده په شمال کی، ۲۷- ډګر جنرال قاری نعمان سالک زاده د ٥٢٦ لمبر لوا قوماندان او د بلخ ولایت مرستیال.

د جنبش ملی نظامی غړی چی په شمال کی یی په کابل کی د ربانی رژیم سره جوخت خپل فعالیتونه پراخول دیوه منظم پوځی نظام په جوړولو بریالی وو، له هغو وروسته چی مجددی، دوستم ته دستر جنرال رتبه ورکړه، نو موری پخپله خپلو نورو ملګریو ته نظامی لوړی رتبه وبخښلی چی په افغانستان کی د غیر مسلکی جنرالانو شمیر زیات شو.

د رشید دوستم د ملیشو حزبی تشکیلات او هغه کسان چی په پوځی سطحه مطرح وو په لاندی ډول وو:

۱- د شمال سمت د قواو اعلی قوماندان جنرال عبدالرشید دوستم.

۲- د هوایي قواو قوماندان ډگر جنرال هلال الدین الیاس چې په(پیلوټ) مشهور ؤ، ۳-ډگر جنرال محمد علم رزم د جنبش نظامي مشاور او د عالي شوری غړی، ٤- د پلخمري د شپږم لمبر فرقې قوماندان ډگر جنرال سید جعفرنادري، ٥- په سمنگانو کې د شپږم لمبر فرقې د ٥٤ مې لوا قوماندان ډگر جنرال حسام الدین چې اصلي نوم یې قاري محمد صدیق دی او وروسته دغه لوا تخار ته انتقال شوه.

٦- د ٦٤٠ مې لوا قوماندان تورن جنرال امیر شاه، ۷- د ٥٠٢ لمبر لوا قوماندان تورنجنرال خان محمد، ۸- د ٥٧٤ لوا قوماندان تورنجنرال محمد ابراهیم، ۹- د ٥٧٥ لمبر لوا قوماندان مولوي عبادي، ۱۰- د فاریاب ولایت والي او داوسي فرقې مرستیال ډگر جنرال محمد رسول پهلوان، نوموړی په ۱۳۷٦لمریز د لړم په ٦مه/۱۹۹۷م نومبر کې ووژل شو او قاتل یې دوستم بنودل کیږي ځکه چې رسول پهلوان د جنرال ملک او مسعود په ملاتړ د دوستم پر خلاف کودتا وکړه، ۱۱- ډگر جنرال عبدالغفار پهلوان د سرپل د ٥۱۰ لمبر قوی عمومي قوماندان، ۱۲- ډگر جنرال عبدالمجید روزي د بلخ د اتلسمې قوی قوماندان چې له تورنجنرال عزت الله او برید جنرال محمد سرور سره یې ګډه فعالیت درلود، ۱۳- ډگر جنرال عبدالمؤمن د شمال ددفاع د عالي شوری غړی او د حیرتان د ۷۰ مې قوی قوماندان چې په یوه هوایي پیښه کې په ۱۳۷۳ لمریز ۱۹۹٤م کال ووژل شو، ۱٤- ډگر جنرال حسام الدین حقبین د۸۰ لمبر قوی قوماندان، ۱٥- ډگر جنرال محمد ابراهیم اندخویي د سرحدي لومړی لمبر قوی قوماندان، ۱٦- تورنجنرال احمد پهلوان د دوهم لمبر سرحدي قوی قوماندان، ۱۷- ډگر جنرال محمد علم خان آزادي، د لومړی لمبر جهادي قوی قوماندان، په دې قوو کې د قوماندانۍ مرستیال لعل محمد خان، برید جنرال حاجي محمد فقیر سیاسي رئیس او برید جنرال محمد آصف د ماشیني وسایلو قوماندان هم وو. "د دوستم د نظامي افرادو تفصیلي معرفي ته مراجعه وکړی "په نولسمه او شلمه پیړی کې د افغانستان تاریخ" د همدې کتاب د لیکوال اثر ته"

# د جنبش ملي اسلامي خپرونې

دغه سازمان په خپرنې او تبلیغاتي اړخ کې هم فعالیت کاوه، د مزار شریف رادیو تلویزیون هم په وقفه یې توګه دجنبش د فعالیتونو خبرونه او را پوروونه خپرول، پردې برسیره مستند فلمونه، کارتون، او هنري فلمونه چې د ایران، تاجکستان، روس، ترکیې او ازبکستان خپرنیو منابعو برابرول د مزار شریف له تلویزیون څخه خپریدل، د جنبش په دوره کې طباعتي خپرونې په لاندې ډول وې:

د خپرونې نوم: *ارمغان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م مزار شریف
خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ملی اسلامی جنبش د ارسانونو خپروونکی، مسؤول مدیر: انجنیر سردار محمد، شمیر: زرگنی، د خپرونی دول: سیاشتنی مجله، دوه رنگه، ۵۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱x۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: کلتوری، سیاسی او ټولنیز مطالب.

د خپرونی نوم: *اسلامی یولو (د اسلام لاره)*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، خپرندوی او امتیاز: د جنبش ملی د اهدافو بیانونکی، مسوول مدیر: استاد محمد علم لبیب، شمیر: زرگنی، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی جریده، ٤-۸ مخونه، ژبه: ازبکی، کچه: ٤۲x۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: سیاسی او اجتماعی.

د خپرونی نوم: *جنبش*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م. مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د ملی اسلامی جنبش د عالی شوری خپرنی ارگان، مسؤول مدیر: خالق او قاسم کارمند، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، ٦۰ مخونه، دوه رنگه، ژبه: دری، کچه: ۳۰x۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: مقالی، رسمی اعلامیی او دجنبش د افرادو وینا وی.

د خپرونی نوم: *سوغات*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م، پیبنور، مسوول مدیر:؟، شمیر: ۱۵۰۰ گنی، د خپرونی دول: پنځلس ورځنی اخباری چاپی جریده، ٤ مخونه، دوه رنگه، تصویری، کچه: ٤۵x۳۰ سانتی متره، ژبه: دری او ازبکی، د خپرونی د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: *ناشریکه*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹٦م، مزار شریف، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د ملی جنبش د فرهنگی کمیتی خپرنی ارگان، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونی دول: اونیزه، اته مخونه، دوه رنگه، ژبه: دری، ازبکی، کچه: ٤۲x۳۰ سانتی متره د خپرونی د کار پای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: د جنبش ملی سیاسی اهداف.

د خپرونی نوم: *ندای اسلام*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د جنبش ملی اسلامی د عالی شوری خپرنی ارگان، مسوول مدیر: محمد همایون خیری، شمیر: دوه زره گنی، د خپرونی دول: اونیزه، دوه رنگه، ٤-۸ مخونه، ژبه: دری، کچه: ٤۲x۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای:

۱۳۷۶لمریز/۱۹۹۷م منځپانگه: اسلامی او سیاسی مقالې.

## آزادی متفرقه خپرونې

د خپرونې نوم: *اندیشه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: اختصاصی خپرونه، مسوول مدیر: محمد نظیف مستضعفی او اسد الله ولوالجی، شمیر:؟ دخپرونې دول: میاشتنی ناسنظمه، ژبه: دری، کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۶ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانگه: ادبی، سیاسی اوټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *بیان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د دانشجویان مسلمان فرهنگی ټولنې خپرنی ارگان مسوول مدیر: علی بهرازی، شمیر: زر گنې، د خپرونې دول: میاشتنی مجله، ۵۰ مخونه، ژبه: دری،کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، د خپرونې د کارپای: ۱۳۷۶لمریز/۱۹۹۷م، محتوی: اجتماعی مقالې، مرکې او ذوقی مطالب.

د خپرونې نوم: *حرم*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م مزارشریف، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د بلخ په ولایت کې د وحدت اسلامی گوند فرهنگی کمیټه، مسؤول مدیر: محمد بلخی، شمیر: پنځه سوه گنې، د خپرونې دول:؟، ژبه: دری، کچه: ۳۰×٤۰ سانتی متره، د خپرونې دکارپای: ۱۳۷۶ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانگه: د حزب وحدت راپورونه او مختلفې سیاسی مقالې.

د خپرونې نوم: *خواهر برادر سلام!*

د خپریدو ځای اوکال: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: آزاده، مسؤول مدیر: برهان ابدالی، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی مجله، ۵۰–۶۰ مخونه، ژبه: دری،کچه: ۲۱×۳۰ سانتی متره، دخپرونې د کار پای: ۱۳۷۶لمریز/۱۹۹۷م،منځپانگه: دول دول مقالې.

د خپرونې نوم: *راه*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، مزارشریف، خپرندوی: د بلخ ولایت د لیکوالو ټولنه، مسوول مدیر: عبدالفیاض مهر آئین شمیر: زر گنې، نوعیت: میاشتنی اخبار، ٤–۸ مخونه، چاپی کچه، ۳۰×٤۲ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟ منځپآنگه: سیاسی،ټولنیزه، ادبی او ذوقی.

د خپرونې نوم: *سلام*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۶ لمریز/۱۹۹۷م، مزارشریف، خپرندوی او امتیاز: د حسینی ذکریانو ټولنه،

مسؤول مدیر: برهان ابدالي، شمیر: پنځه سوه ګنی، د خپروني دول: سیاشتنی ځانګړی خپرونه، ٤-٨ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: مذهبی مقالي، سیاسی او ادبی مطالب.

د خپروني نوم: **شوخک**

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: ذوقي خپرونه، مسوول مدیر: عبدالعزیز مختار، شمیر: ؟ د خپروني دول: میاشتنی ځانګړی مجله، ۵۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره د خپروني د کار پای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م،منځپانګه: ذوقي مقالي، طنز او ادبی لیکني.

د خپروني نوم: *کوثر*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، مزار شریف، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په بلخ کی د حزب وحدت د خویندو د اسلامی تولنی خپرنی ارګان، مسؤول مدیر: فایزه فلاح، شمیر: زرګنی، د خپروني دول: میاشتنی مجله، دوه رنګه: ٦٠ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، منځپانګه: اجتماعی سیاسی او فرهنګی مقالی او په تولنه کی د ښځو د رول په اړه لیکني.

د خپروني نوم: *پیام توحید*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، مزار شریف، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د وحدت اسلامی ګوند خپرنی ارګان،مسؤول مدیر: تقی واحدی، شمیر:؟، د خپروني دول: میاشتنی مجله، ژبه: دری،کچه: ۲۱X۳۰ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، منځپانګه: روزنیز، سیاسی او فرهنګی مطالب.

د خپروني نوم: *وحدت*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، مزار شریف، خپرندوی او دامتیاز خاوند: په مزار شریف کی د وحدت اسلامی ګوند نمایندګی، مسؤول مدیر: محمد موسی اکرمی، شمیر:؟، د خپروني دول: خاصه خپرونه، له ٤-٨ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۳۱X٤۲ سانتی متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، منځپانګه: اعلامیی خبرونه او د حزب وحدت دریځونه.

د خپروني نوم: *یاغدو*

پیلیز کال او ځای:؟، مزار شریف، خپرندوی: د امیر علی شیر نوایی د فرهنګی تولنی مرکزی شوری، مسوول مدیر: سید محمد عالم لبیب شمیر:؟، د خپروني دول: رقعی خپرونه، ګستتنر چاپ، ژبه: ترکمنی د خپروني د کار پای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، منځپانګه، سیاسی او اجتماعی.

د خپرونی نوم: یولو

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹۴م، مزار شریف، خپرندوی او امتیاز: آزاده خپرونه، مسؤول مدیر: نه لری، شمیر: ؟، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، ۵۰ مخونه، ژبه: ازبکی، کچه: ۳۰X۲۱ سانتی متره، د خپرونی دکار پای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، سنځپانګه: رنګارنګ مقالی.(۲۷)

ACKU

# د عبدالصبور فرید

## د صدارت لنډه موده

عبدالصبور فرید د پروان - کاپیسا د ولایتونو قوماندان چې د احمد شاه مسعود سیال ؤ د هیواد د صدراعظم په توګه پیشنهاد شو، او د ۱۳۷۱ لمریز دچنګابښ په ۱٤مه/۱۹۹۲م جولای ٥مه د کابل - پروان له لویې لارې کابل ته راورسید، او د کابل د ښاریانو لخوا د ګلانو په شیندلو بدرګه شو، نوموړی خپله تګلاره د چنګابښ په ۲۳مه/ د جولای په ۱٤مه اعلان کړه، او له دوارو ښکیلو لوریو څخه یې وغوښتل چې: راځئ څرنګه چې په جګړه کې په نمونه او مثال شو په سوله، امنیت او دیوی اداری او حکومت په پیاوړتیا کې هم نمونه شو... هغه وکړو چې په همدی وخت کې د خپل کار لاره د حقایقو د ویلو پر بنیاد که څه هم ترخه دی غوره کړو... موږ د جګړې په صحنه کې دغدار رژیم له پاتې شونو سره چې تر اوسه شته دی د پاخون له مرحلې څخه د نظام نوی پړاو ته راغلي یو... هغه له افغانی ښځو څخه وغوښتل چې له اسلامی حجاب څخه د خپل عزت او آبرو د دفاع دسنګر په څیر استقبال وکړی. (۲۸) د استاد فرید په موجودیت کې د حزب او جمعیت ترمنځ سؤ تفاهم کم شو، او دچنګابښ په ۲۷مه/ د جولای ۱۸مه ربانی او قیادی شوری اعلان وکړ چې د نادری او رشید دوستم وسله والی ملیشې دی ژر تر ژره کابل خوشې کړی.

نوموړی د ۱۳۷۱ لمریز دزمری په ۱٤مه/۱۹۹۲م کال د اګست/ په ۱٥مه په یوه دری ورځنی سفر اسلام آباد ته ولاړ، او له هغې وروسته ایران، تاجکستان او سعودی عربستان ته ولاړ، د فرید له سفر سره جوخت په کابل کې جګړې توندې شوې.

### د عبدالصبور فرید ژوند لیك

استاذ عبدالصبور فرید د عبدالشکور خان زوی په ۱۳۲۹ لمریز/۱۹٥۰م کال د کاپیسا ولایت د کوهستان ولسوالی په چشمه "الله داد" کې زیږیدلی دی. لومړنی او منځنی دوری زده کړی یې په ګلبهار او عالی زده کړی یې په جبل السراج کې پای ته رسولی، وروسته بیا د پروان د روښان له عالی دارالمعلمین څخه فارغ شو او د میر مسجدی په لیسه او وروسته د پنجشیر درخه په لیسه کې یې دښوونکی په توګه دنده سرته رسوله، نوموړی په ۱۳٤۸ لمریز/۱۹٦۹م کال له انجنیر سیف الدین نصرتیار سره آشنا شو او د اسلامی نهضت غړیتوب یې ترلاسه کړ، نوموړی د ۱۳٥٤ لمریز د پاځون څخه وروسته تر څارنې لاندې راغی او سمنګان ته تبدیل شو، بیا بیرته کابل ته راستون شو اودعالی تحصیلاتو په بشپړولو ئې لاس

پورې کړ، استاد فرید د ۱۳۵۷ لمریز د ثور کودتا څخه وروسته چې د پنجشیر په رخه کې ښوونکی و تر څارنې لاندې راغی چې بالاخره هجرت ته اړشو، هرات او بیا ایران ته ولاړ، یوځل پیښور ته راغی خو د خلکو د جذب او نظم لپاره بیرته ایران ته ولاړ او د تایباد په ښارکې یې د حزب اسلامی نمایندګی جوړه کړه. همدارنګه یې د مهاجرینو د اولادونو لپاره یوښوونځی پرانیست، وروسته بیا وظیفه ورکړای شوه او هرات ته ولاړ او د مجاهدینو قومانده یې په لاس کې واخسته.

فرید په۱۳۵۸لمریز/۱۹۷۹م کال پرهیواد دروسی لښکرو دتیری څخه وروسته کاپیسا ته راغی او څو ځلې یې په ۱۳۶۲لمریز/۱۹۸۳م له روسي قواو سره مقابله وکړه او ټپي شو او بیرته کوهستان ته ستون شو.

کله چې څارنوال عبدالروف حجت شهید شو د پروان - کاپیسا ولایتونو د جهاد امارت ذمه واری یې په غاړه واخستلې، هغه سره له دې چې له احمد شاه مسعود سره تنظیمي اختلافونه درلودل، نه یې شو کولی چې په خپلو فعالیتونوکې خلاص لاس ولری، خو په دواړو ولایتونوکې یې د ښوونځیو او عامه ادارو د جوړولو په سبب زیات محبوبیت وګاټه، استاد فرید د جهاد د اوچتو قوماندانانو له جملې څخه یودی. چې د عامه تاسیساتو په ساتنه کې یې جدي پاملرنه کړې وه، د ګلبهار د نساجی فابریکې له فتحې سره نه یوازې ددې فابریکې تولیدات بند نه شول بلکې دوام یې وکړ او ټول وسایل یې وساتل شول، د ګلبهار د جومات او ګلخانې بیا جوړول د جنګ په سختو شرایطوکې د جهاد ددغه ویاړمن بچي د امانت کاری ښکارندوی دی.

د مجاهدینو له واک ته رسیدو وروسته نوموړی د اولین صدراعظم په توګه معرفي شو. دده په اداری چارو له بوختیدو سره جوخت یې په سازمان کې اختلافات را منځته شول او ورونویې دده پر خلاف بغاوت وکړ او د خلکو په آزار، ځورولو او ربړولو یې لاس پورې کړ. چې دده په محبوبیت یې منفي اغیزه وکړه، په کابل کې د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی د جګړو په توندیدو سره استاد فرید کابل پریښود او کاپیسا ته ستون شو، خو ورونو یې له یو شمیر نورو قوماندانانو سره له مسعود څخه مالي امکانات او وسلې ترلاسه کړې وې او د ده پر خلاف یې کودتا وکړه او عبدالصبور فرید له خپلو دوو تنو ملګریو سره پلې د نجراب او تګاب له لارې سروبي ته راغی. ما "لیکوال" هغه په داسې حال کې ولید چې له سروبي څخه تر پیښوره یې د سفر خرڅ نه درلود او د فلمبرداری کامره یې په سروبي کې وپلورله او ځان یې پیښور ته ورساوه، څه موده هلته پاتې شو، د ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٦م کال په وروستیو کې بیرته کاپیسا ته ستون شو او تر ۱۳۷۸ لمریز/۱۹۹۹م پورې چې طالبانو شمالي ونیولو د پروان دوالي په توګه په چاریکارو کې کار کاوه.

استاد فرید د ښه چلن، وقار، ادیب او هوښیار سړی دی، چې له تاریخ، شعر او ادب سره سرو او کار لري هغه د اسلام په تاریخ کې ښه پوه دی، د اس له سپارلې اوتخنیي ویشتلو سره مینه لري، یوځل د حج د

ادا لپاره سعودي عربستان ته تللی دی او متأهل دی دري اولادونه لري.

## په کابل کې داخلي جګړې

په کابل کي داخلي جګړې د ۱۳۷۱ لمریز کال د زمري میاشتي په دوهمه اوني کي توندي شوي. په هماغه پیل کي د شوری نظار قواوي په کابل کي زیاتي شوي او چور او لوټ هم زیات شو. د شورای نظار او حزب اسلامي ترمنځ نښتني هم له سره پیل شوي، دا چې نښتني یو په یو ځنګه پیل شوي مرموز لاسونه په دوارو لوریو کي وو چي ښه نفوذ یې درلود. حضرت مجددي چي ډنمارک ته تللی ؤ د یوي اعلامیې په ترځ کي د خپل زوی نجیب الله مجددي له استعفی وروسته چې د روغتیا وزارت کرسي یې درلوده مسعود یې کفایته سرې وباله. ویل کیږي چې مسعود د روغتیا وزارت معین د وزیر له موافقي او پوښتني پرته وټاکه چي نجیب الله مجددي اعتراض کړی ؤ او مسعود هغه پر مخ پرځپیړه وهلی ؤ. چي هغه سمدستي استعفا ورکړه او پیښور ته ولاړ.

استاذ فرید او د حزب اسلامي نور غړي د رسمي سفر په پلمه پیښور ته ولاړل حزب اسلامي اخطار ورکړ او د کابل پر هوایي ډګر د الوتکو الوتني بندي شوي، حکمتیار په یوه مطبوعاتي سرکه کي وویل: د راتلونکو خطرناکو پیښو مسوولیت د هغه چاپرغاړه دی چي ژمني یې ماتي کړي دي... نوموړي وویل چي د پوځي رقابتونو پر ځای باید سوله ئیزه سیاسي مبارزه او سیالي وشي... خو مسعود د تبلیغاتو ټولي منابع او د کابل رادیو تلویزیون په واک کي درلودل.

وضعي ډیر ژر بل ډول تغیر وکړ، مسعود او حکمتیار یو د بل په وړاندي د دښمني دریغ غوره کړ، په داسي حال کي چي د دی پیښو سره جوخت د هیواد په ولایتونو کي د حزب او جمعیت ترمنځ مشترک نظامي مرکزونه جوړ شوي وو چي د ملیشو پر خلاف فعالیت وکړي. د مثال په ډول په بغلان کي د حزب اسلامي د مجاهدینو چي نهضت یار یې قومانده پرغاړه درلوده او د جمعیت د عبدالحي حقجو ترمنځ د کیهاني ملیشو پر خلاف ائتلاف وشو.

په کابل کي جګړې پراخ اړخونه ونیول، د کابل هوایي ډګر د جنرال دوستم د ملیشو په واک کي ؤ، د دارالامان قصر او اطراف یې، د تاج بیک غونډۍ او د پنځم خاد مرکز د جنرال مؤمن، خیرخانه او قرغه د جنرال بابه جان، د کابل ختیځ د جنرال نبي عظیمي په واک کي وو، د زمري په ۲۰مه د سیاف د اتحاد اسلامي او وحدت اسلامي ګوند ترمنځ د کابل په لویدیځ کي جګړه پیل شوه او ښارته وغځیده ائتلافي ملیشو پر پغمان او چار آسیاب توغندویي بریدونه وکړل، او حزب پر بالاحصار او مرنجان غونډۍ حمله وکړه، د جګړې زیانونه په بګرامي، چار آسیاب، کوته سنګي، ریشخور او پغمان کي وو، د مسعود - دوستم هوایي ځواکونو په چار آسیاب کي د ګلزار په تعلیمي غونډ کي د حکمتیار پر کور بمباري وکړه او

څلور تنه ساتونکي یې ووژل شول، پخپله هغه سهال په لوګرکې ؤ، د علماؤ د سولې هیأت د ډاکتر فاروق اعظم او مولوی امین الله حلیم په مشرۍ کابل ته راغی او دحزب او جمعیت ترمنځ یې د سمدستي اوربند غوښتنه وکړه... حکمتیار اعلان وکړ چې له جمعیت سره جګړه نه لري، خو د کمونستانو او ملیشو مرکزونه یې تر برید لاندې نیولي دي، په دې جګړو کې په بګرامي، کارته نو، میوند واټ، چهلستون ماڼۍ، اوکوټه سنګي کې زیاتي دولتي او عامه ماڼي او وداني وراني او له منځه ولاړې او مالونه یې په غلا لوټ شول.

مولوی خالص او مولوی محمدي د جهاد له یوه بانفوذه هیأت او د افغانستان د قومونو د سپین روږو له یوه هیأت سره کابل ته راغلل چې د حکمتیار او رباني ترمنځ منځګړیتوب وکړي، برهان الدین رباني له حکمتیار سره د مخالفت په دود دیوه اعلان له مخې استاد فرید د صدارت له مقام څخه لرې کړ. د ننګرهار جهادي شورا د ورې په ٥مه/اګست ٢٥مه دواړو اړخونو ته یوه د سولې طرحه وړاندې کړه چې توافق هم پرې وشو، دغه طرحه په دې موادو مشتمله وه:

١-سرله سبا څخه د اور بند اعلان، ٢- له کابل څخه د ملیشو ویستل، ٣- له دولتي ادارو څخه د کمونستانو تصفیه، ٤- د ولایتونو د شورا د نمایندګانو لخوا د اسلامي اردو جوړول، ٥- داخله وزارت د مجاهدینو په شمول د کابل او اطراف د امنیت په اړه باید تصمیم ونیسي، همدارنګه رباني د حزب اسلامي له مجاهدینو څخه وغوښتل چې د کابل له جنوب څخه دکابل شل کیلو متري ته په شاولاړ شي.

## د افشار جګړه

د سنبلې په پای کې د شورای نظار او اتحاد اسلامي ځواکونو د عبدالعلي مزاري د وحدت اسلامي ګوند پر خلاف د کابل په لویدیځ (افشار) کې پراخې حملې پیل کړې. او ددغې ګوند ډیر زیات کسان او د دوی کورني چور، لوټ او تر جنسي تیري لاندې راغلل او په بې رحمي ووژل شول، مزاري څلور ورځې تر وروستي شیبې پورې مقاومت وکړ، چې بالاخره د حزب وحدت ځواکونو نه کار ته سه ته په شاراغلل، او هغوی چې د حزب اسلامي لوري ته تمایل درلود حکمتیار یې مرستې ته د جنرال امان الله په قومانده خپلې قواوې له درنو وسلو سره د وحدت ګوند مرستې ته ورواستولې.

او هغوی یې د بشپړې تباهۍ څخه وژغورل، د حکمتیار دغې مرستې مزاري نور هم هغه ته ورنژدې کړ او عملاً د دواړو لوریو ترمنځ د کابل په لویدیځ او جنوب کې ائتلاف را منځته شو.

حزب اسلامي د درنو وسلو په مرسته چې له کنجک څخه حزب وحدت ته وراستول کیده یوه ګډه تعرضي قوه جوړه کړه چې د دوستم د ملیشو ځواکونه یې له ماڼۍ سره مخ کړل، او د کابل په شمال سمت

بې حملې زیاتې کړې، د شورې نظار کلکې مور چلې د آسمایې په غره کې وې، له بله پلوه د دوستم د ملیشو او مسعود ترمنځ د نظر اختلافونه هم ددې سبب شول چې ملیشې په سرنجان غونډۍ او بالاحصار کې هم ماته وخوري او جګړ د کابل په زړو کوڅو او سیوند واټ کې په لا پراختیا خلکو ته د مرغیو زیري راوړ دوستم خپل څو تنه جنرالان د جنرال مجید روزي، جنرال مؤمن او جنرال عبدالرحمن جرمن په شمول مزار ته وروغوښتل.

## بهرنې اړیکې او نا متجانس دریځونه

د مسعود – رباني او حکمتیار بهرنې روابط د نړۍ له هیوادونو سره د داخلې جګړو له توندیدو او په دننه کې د دوی د دریځونو د بدلیدو سره بدلون وکړ، څرنګه چې اړوندو هیوادونو د خپلو اټکلونو اوتحلیلونو له مخې له مختلفو ګوندونو څخه د خپلو سیاسي مصالحو سوافقو دریځونو هیله درلوده دغه اړیکې په دوو برخوکې څیړو:

## الف: د پاکستان او سعودي عربستان سره د حکمتیار د اړیکو خرابیدل

حکمتیار د تلي په میاشت/۱۹۹۲م اکتوبر کې د عربي تولنو او هیوادونو په تیره د سعودي عربستان او د هغه هیواد د مفتي شیخ بن باز پر فتوی انتقاد وکړ، شیخ بن باز په یوه فتوا کې وویل چې د افغانستان کورنې جګړه ورور وژنه ده او د قتل حکم لري، چې باید دواړه لوري (مسعود او حکمتیار) بې له دوام څخه لاس واخلي، حکمتیار دغه فتوی غیر شرعي او د عربستان مقامات یې لاس وهونکي وبلل چې د افغانستان په چارو کې غیر عادلانه قضاوت کوي... هغه همدارنګه د پاکستان پر حکومت انتقاد وکړ چې د خپلو مصالحو په خاطر زموږ له دښمنانو سره هرډول مصلحت ته غاړه ږدي، انجنیر قطب الدین هلال د حزب اسلامي د سیاسي چارو رئیس وغوښتل د حکمتیار خبره بل ډول تعبیر کړي او عربي تولنې یې د عربستان او حکمتیار د اړیکو د خرابي ذمه واري وبللې.

کله چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صدیق کانجو قاضي حسین احمد ته په یوه لیک کې چې په پاکستاني مطبوعاتو کې هم خپور شو ولیکل چې حزب اسلامي د رباني په جمهوري ریاست او د مسعود په دفاع وزارت موافقه کړې وه حکمتیار توند عکس العمل وښود او ادعایې درلوده چې ده په قیادي شورې موافقه کړې وه او اوس زموږ ستونزه له کمونستانو سره د رباني او مسعود ائتلاف دی، او د پاکستان حکومت باید زموږ په چاروکې له لاسوهنې لاس واخلي.

حکمتیار د نشنل عوامي ګوند د مشر عبدالولي خان پر خلاف د توند دریځ په سبب د پاکستان د سیاسي ګوندونو ملاتړ هم له لاسه ورکړ، ولي خان د ۱۳۷۱ لمریز دوړې په ۹مه/ ۱۹۹۲م د اګست په

۳۱مه له حکمتیار څخه وغوښتل چې د یو پښتون قاید او مشر په حیث په افغانستان کې تبارز وکړي او وبې ویل چې عوامي نشنل ګوند به په دې اړه دوی ته هر ډول همکاري ته تیار وي، حکمتیار اعلان وکړ:

زه یو پښتون نه بلکې یو مسلمان یم، ولي خان د افغانستان له کمونستانو سره د همکارۍ پر شالید ماته د سټلو وړنه دی، اجمل خټک د عوامي ملي ګوند رئیس ورته وویل چې: حکمتیار پښتون هویت نه لري، د پاکستان حکومت باید پوځي مرستې پر حکمتیار بندې کړي. (۲۹)

سردار آصف علي د پاکستان د کورنیو چارو وزیر د ورې په ۱۸مه/سپټمبر په ۹مه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې حکمتیار یو جاه طلبه سړی وباله چې غواړي په افغانستان د د زور له لارې حکومت ترلاسه کړي.

## ب: ایران او روسیې ته د رباني کږیدل:

*برهان الدین رباني د ائتلاف دننه د اختلافونو او افشار د جګړې په سبب چې حزب وحدت یې له مسعود سره د ائتلاف څخه لرې کړ د ایران تر فشار لاندې راغی، نوموړی په ۱۳۷۱ لمریز د تلې ۵مه / ۱۹۹۲م دسپتمبر په ۲۷مه تهران ته سفر وکړ او له ایران سره یې یو لړ تعهد ونه وکړل، له حزب وحدت څخه ناراضه او بېل شوي افراد د هغوی له جملې څخه آکبري او محقق د حزب وحدت ترنامه لاندې له ائتلاف سره بېرته پیوند شول، اومحسني هم د رباني په اداره کې د لوړ مقام څخه برخمن شو چې په دې ډول وتوانیده هغه دایران رضایت ترلاسه کړ او دې ته یې تیاری وښود چې د ژمي تر را رسیدو د مخه غذایي مواد او وسلې دوی ته ورسوي. . . همدارنګه نوموړی ازبکستان ته ولاړ او هڅه یې وکړه چې د هغه هیواد داولس مشر اسلام کریموف په منځګړیتوب دوستم بیا پردې قانع کړي چې له دې ائتلاف سره مرسته وکړي او له مسعود سره خپل د نظر اختلافونه بابیزه وګڼي، له هغه ځایه مزار شریف ته لاړ، له رشید دوستم، انجنیر مهدي او د ملیشو له څو تنو قوماندانانو او کمونستانو سره یې هم ولیدل، چې که وتوانیږي د جنبش ملي او حزب وحدت صلاحیتونه بیرته په ائتلاف کې فعال کړي، ددې موافقو سره جوخت حکمتیار، سیاف، محمدي او خالص اعلان وکړ چې ملیشې د عقرب تر۶ مې/د آکتوبر تر ۲۸ مې چې د رباني د جمهوري ریاست موده پای ته رسیږي باید له کابل څخه ووزي. او رباني باید واک قیادي شورۍ ته وسپاري.*

همدارنګه رباني له روسیې سره د اړیکو د ښه کولو په خاطر نیغ او یا د منځني آسیا د هیوادونو له لارې هڅه وکړه، او مسکوته یې استازي واستول، د روسي لوري هم د دې سیاسي لوري بدلولو هرکلی وکړ او د سیاسي، پوځي او اقتصادي روابطو د بیا پراخولو هیله یې له سره وکړه، تر دې چې د غذایي موادو او وسلو ورلیږلو او د افغاني بانکنوټونو چاپولو په برخه کې یې عملاً د رباني له ادارې سره مرسته وکړه، د افغانستان د اقتصاد شړیدلو یو ستر عامل د افغانستان د داخلي جګړو په جریان کې د زرګون، پنځه زریز اولس زریز

بې شمیره بانکنوټونو چاپ ؤ چې هره میاشت د الوتکې په واسطه کابل او مزار شریف ته راوړل کېدل او د کابل اداري په واک کې ورکول کېدل.

## د هرات او شینډنډ جګړې

د ۱۳۷۱ لمریز د میزان په دوهمه اوني/۱۹۹۲م اکتوبر کې په هرات او شینډنډ هوايي ډګر کې چې د حزب اسلامي په لاس کې ؤ د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د قوماندانانو ترمنځ جګړه پیل شوه، د اسماعیل خان او علاوالدین په قومانده د جمعیت اود حزب وحدت ګوند له شریکو ځواکونو سره د ایران په نظامي ملاتړ پردې وتوانیدل چې شینډنډ هوايي ډګر ترکلابندۍ لاندې راولي، حزب اسلامي چې د خلقي افسرانو په مرسته تولې جنګي الوتکې په اختیار کې درلودې نه یې شوکولای چې له هغې لرې فاصلې څخه کندهار ته چې د جمعیت مربوط د ملا نقیب یا ننګرهار هوايي ډګر ته چې د ننګرهار شورې په لاس کې والوتني وکړي، له بلې خوا دنظامي چارو نظم له منځه تللی ؤ د حزب یو شمیر محلي قوماندانان چې په باج تولولو او لاره نیولو بوخت وو د هرات خلقو له هغوی څخه ملاتړ نه کاوه، د هرات نظامي فرقه د حزب اسلامي د قوماندان صوفي عبدالجبار په لاس کې وه، چې اسماعیل خان په یوه تعرضي برید کې د هرات ښار تول ونیو، معلم میرولي د فراه ولایت قوماندان له خپلو قواو سره د شینډنډ په شاوخوا کې ساته وخوره او د هلمند په لور په شاو تبنتید. د کمونستي رژیم پوځیان د حزب اسلامي پلویان وو د حزب اسلامي د مرکز د قوماندۍ او د انسجام په انتظار وو چې هغوی ته رسیدګي ونشوه او اسماعیل خان وتوانید چې د ۱۳۷۱ لمریز د تلې په ۲۳مه/۱۹۹۲م اکتوبر ۱۵مه د شینډنډ هوايي ډګر ونیسي، په شینډنډ کې د (۱۰۰) پرونده مختلف ډولونه جنګي الوتکې د سوخوی Sukui په شمول موجودې وې، چې په هغو کې درې الوتکې روغې وې نورو ضربه ولیده او یا بشپړې له منځه ولاړې، ۲۰ هلیکوپترې وې چې څلور یې له منځه ولاړې او ۱۶ نورې یې اسماعیل خان ته د هوايي ډګر د سقوط سره په لاس ورغلې، په دغه هوايي ډګرکې ۹ جیټ میګ ۲۱ الوتکې هم وې، په شنیډنډ کې د حزب اسلامي ساتې د دې ګوند پر ځواک یوه ډیره بده ضربه وه.(۳۰)

خبري آژانسونو خبر ورکړ چې دوې جیټ الوتکې چې پیلوټان یې د حزب اسلامي پلویان وو له شینډنډ څخه پورته شوې د مزارشریف ښار یې بمباري کړ او په جلال آباد کې راکوزې شوې، حزب اسلامي دغه خبر دروغ وباله، اسماعیل همدغسې په تورغنډۍ چې د ملي محاذ د قوماندان میر حمزه تر واک لاندې ؤ حمله وکړه او د ۱۳۷۱ لمریز د تلې په ۲۱مه/ ۱۹۹۲م د اکتوبر ۱۳مه یې هغه ونیو.

## د دوستم، مسعود او حکمتیار مخالفتونه

د سالنګ د لارې د کنترول پر سرد مسعود، نادري او دوستم ترمنځ اختلافونه را پیدا شول چې دیو لړ نښتو سبب هم شوي ملیشو د ملا شمس او عبدالحي حقجو جبهې په خوښت او فرنګ کې یې وسلې کړې او د دوشي لاره یې تر کنترول لاندې راوسته د جمعیت د قوماندان علم خان او ملیشو ترمنځ په مزار شریف کې جګړې پراخې شوې او نورو ځایونو ته هم وغځېدلې، د مسعود او دوستم ترمنځ د واک پر سر اختلافونه او په دولتي دستګاکې د دوستم او د هغه د ائتلافي اندیوال "وحدت ګوند" د بانفوذه غړیو نه موجودیت ددې دواړو لوریو ترمنځ شکونه او بدګوماني را پیداکړې.

برهان الدین رباني د ۱۳۷۱ لمریز د تلې په ۵مه/۱۹۹۲م د سپتمبر په ۲۷مه پاکستان ته ولاړ تر څو د خپل جمهوري ریاست د دورې اوږدولو او د مسعود د واکمنۍ حقانیت تائید او ملاتړ تر لاسه کړي. د پاکستان حکومت درباني سره په یوه مهال جنرال دوستم ته هم بلنه ورکړه او هغه ته یې سیاسي حیثیت ورکړ، دوستم تردې وړاندې سعودي عربستان ته هم سفر کړی ؤ او حج او عمره یې اداکړل، هغه د سعودي له استخباراتي او دولتي مقاماتو سره هم خبرې اترې وکړې، چې داکار د ترکیې په ابتکار اوتفاهم ترسره شو، رباني ایران ته ولاړ چې دحزب وحدت ګوند د زیاتو غړیو په تاکنه کې دهغه هیواد غوښتنې وښي، همدارنګه رباني د اهل حل او عقد شورې د جوړېدو طرحه له ځانه سرې وړې وه، چې د ټولو دلو په شمول د خپلې واکمنۍ "جمهوري ریاست" موده د اوږدېدو لپاره کار وکړي، هغه غوښتل چې دی د هیواد د لومړي سیاسي قدرت او مسعود د لومړي پوځي او نظامي ځواک په حیث وي او د هیواد اداره د دوی تر کنترول لاندې وي.

د رباني او مسعود د قواو او د حزب وحدت او دوستم د ځواکونو ترمنځ د جګړو فشار مسعود دې ته اړکړ چې له دوستم سره د واک په وېش کې تفاهم وکړي، دوستم په کابینه کې په اغېزمن ډول د جنبش ملي اسلامي د ګډون غوښتنه وکړه. یونس قانوني د رباني ویاند د ۱۳۷۱ لمریز کال د مرغومې په ۲۹مه/۱۹۹۳م د جنوري ۱۹مه اعلان وکړ چې حکمتیار له صدارت څخه برطرف دی او پیر ګیلاني به د دې مقام خاوند وي، د دې اعلان سره سم حزب اسلامي کابل ترتوغندویي حملې لاندې راوست او تر دوه سوه زیات توغندي یې پرې وویشتل چې، (۱۶) تنه یې ووژل او (۲۰) تنه نور ټپیان شول. (۳۱) د رباني اداري دوستم ته زیات امتیاز ونه ومنل، چې د هغو له جملې څخه د جمهوري ریاست مرستیالي او د دفاع وزارت مرستیالي دوستم ته ورکول وو، دوستم هم خپلې قواوې د حزب اسلامي مقابلې ته راوستې، جګړې په کابل کې تاوندې شوې، حزب اسلامي اعلان وکړ چې په هیوادکې د یوه ملي حکومت ترمنځ ته راتلو پورې به جګړې ته دوام ورکړو.

## له استعفی څخه د رباني انکار او د بلې جګړې پیل

د ځینو جهادي قوماندانانو په منځګړیتوب د هغوی له جملې څخه د ننګرهار د شورې مرستیال

شمالي اود ځينو جهادي مشرانو دريځونه داسې شول چې برهان الدين رباني د ۱۳۷۱ لمريز کال د لړم په ۷مه/ ۱۹۹۲م د اکتوبر ۲۹مه بايد استعفي وکړي. او رهبري شوری مولوي محمد نبي محمدي د افغانستان د موقت جمهور رئيس په توګه وټاکه، له بله پلوه د جنرال دوستم د پخواني وعدې په اساس چې هر وخت رباني استعفي وکړي دوی به بې خپل ځواکونه له کابل څخه وباسي، داسې هيلي او اميد واري پيدا شوی چې په کابل کې سوله ټينګه شي، د دې موافقې په اساس د اهل حل او عقد د شورا رئيس په توګه پير ګيلاني ته وظيفه ورکړل شوه چې د يوې مياشتې په موده کې دغه شورا جوړه کړي، رباني پردې پلمه چې شورا وجود نه لري ځکه خو استعفي نه ورکوي دده دغه دريځ د جهادي ډلو په منځ کې د توندو عکس العملونو سبب شو.

حکمتيار خپلې درې زره کسيزې قواوې د هيواد له ختيځ څخه سروبي ته واستولې چې پر کابل د حملې تياري ونيسي، همدارنګه هغه د کابل د شاوخوا لارې چې ددوی تر کنترول او څارنې لاندې وې وترلې او د غذايي موادو لپاره يې دوی سيمې د کابل په جنوب ۸ کيلومترۍ کې خير آباد او په لويديځ کې په پنځه کيلومترۍ کې د ارغندی چوک خلکو ته پرانستې پريښودې. دغه دوه بازارو نه د "بازار ګلبدين" په نامه مشهور وو.

## په کابل کې انارشي "ګډوډي"

په حقيقت کې کابل اداره نه درلوده، د ښار هره برخه د يوه ځانګړي قوماندان او يا ډلې نيولې وه او په پوره خپلسرۍ يې خپله لنډې پاچهي پکې جوړه کړې وه چې له نورو لوريو سره يې د ټوپک پر ژبه خبرې کولې، هرې ډلې خپل ځانګړی پوځي نظام درلود، په خپلو پوستو کې يې درنې وسلې او خپلسرې انتقام اخستونکي وسله وال کسان ځای پر ځای کړي وو، د څلور لارو او د ښار د مهمو ځايونو څارنه يې د جګړې د لوبې کرښې په څېر کوله. د خلکو ژوند، آبرو، مال او کورونه يې تر ګواښ لاندې وو، چې ورل يې پنه کول او ظلم يې پرې تحميل کړی ؤ. د اختناق دغې فضا زياتې کورنۍ له کابل څخه جلال آباد، مزار شريف پيښور او نورو ځايونو ته په هجرت مجبورې کړې، خو په کابل ښار کې هم زياتې کورنۍ اوسيدې چې له فقر او جګړې سره لاس او ګريوان وې، او خپل نيم ژواندې لاشونه يې د دبقا په لور کشول، او د بې هدفه ټوپک والو هر ظلم او ستم يې زغملو، بې پروايي او د خلکو په ښځو، ځوانانو او تنکيو ماشومانو تيرې يوفن او دکسات او بدل په توګه يو عمل ګرځيدلی ؤ چې د قومي، ژبني او مذهبي تضادونو په نامه يې خلک په ډير بد حالت کې اچولي وو، د خاد د سازمان غړي چې بدکارۍ او فاحشې ښځې پکې وې د اسلامي دولت ترنامه لاندې او د ملي امنيت د وزير جنرال فهيم او د داخله وزارت د معين قره بيګ د ملاتړ په محور د شراب خوړلو او عياشۍ محفلونه جوړول، دغه محفلونه به زياتره په هغو کورونو کې

جوړیدل چې یا بې ګناه وژل شوی وو او یا د هغو کسانو چې په تیښته بریالي شول او زیاتره په باغ بالا، خیرخانه، وزیراکبر خان مینه، نوی ښار او کارته پروان کې وو، ترڅو له یوه پلوه خپسری، غله، او بدکاره خلک چې ددې ائتلافي سازمان د برخې په توګه په جګړه کې مصروف وو په طمع کې خوښ وساتي، له بلې خوا کمونستي ډلې، پرچمیان، مائویستان، ستمیان او "ګروه کار" ډله له هماغه پخوانیو کړو وروسره (د اسلامي حکومت) تر نامه لاندې تنظیم او فعال وساتي.

د مسعود او رباني بې قانونه او انارشستي اداره د کابل دیوې برخې واک هم په لاس کې نه درلود، او په هغو خبرو اترو کې چې ددلو مشرانو ترمنځ په پغمان کې کیدلې هغوی د باغ بالا څخه تر پغمان پورې له ۲۰–۳۰ عرادو ټانګونو او موټرو پورې وسله افراد په شپږ پوستو کې ځای پر ځای کړل او بیا له سیاف او حکمتیار سره د خبرو اترو لپاره پغمان ته ولاړل، د حزب وحدت کسانو به په خوشحال خان مینه، میرویس میدان، قلعه شاده، او جمال مینه کې خلک تر کنکې تلاشي، ځارني او پټلو لاندې راوستل، وضعه دومره بې باوره وه چې حکمتیار په شپه کې د لوګر له لارې له ٦ ټانګونو او له ځمکې څخه هوا ته وسلو او ټانک ضد راکټونو سره د سهار له را رسیدو د مخه پغمان ته ولاړ چې د تفاهم په خبرو اترو کې برخه واخلي.

د ښار په ختیځ کې د ماهیپر له خولې تر ښاره د حرکت انقلاب مولوی صدیق الله او شورای نظار پوستې وې چې خلک بې ځورول او چور او لوټ بې پیل کړی و.

د کابل په جنوب کې په شاه شهید، کارته نو او بالاحصار کې بې خلک په رنګارنګ ډول ځورول او مالونه بې تری لوټل د دوستم د جنایتکارو ملیشو د بدو کړو وړو په باب ډیر راپورونه خپاره شوی دی د مثال په توګه د ۱۳۷۱ لمریز د وږی په ۲۹مه/۱۹۹۲م دسپتمبر په ۲۰مه د کارته نو په سرک اول کې یوی ۱٦ کلنی نجلی له وحشي ملیشو څخه د خپل عفت او آبرو د ساتنې په خاطر ځان ته ځان وغورځاوه او شهیده شوه. دهماغه کال د سنبلې په ۳۱مه د رشید دوستم د ۵۳مې قطعې افرادو په زړو مکروریانو کې د اتفاق جومات شاته د پرویز په نامه یو ځوانلس کلن هلک پوستې ته بوتلو او له هغه سره د ډله ئیزې بدفعلی څخه وروسته بې وواژه او سری بې ددې په خاطر چې و نه پیژندل شي وسوځاوه.

د ښار دننه هم د شوری نظار کسانود خلکو په کورونو حملې وروړی او په ښځواو ځوانو نجونو بې تیری کاوه، د سنبلې د میاشتې په پای کې د شورای نظار کسانو په مکروریانو کې غوښتل په یوه نجلی "ناهید" تیری وکړی هغې د مفسدینو له شر څخه د ژغورنې په خاطر ځان د څلورم پوړ څخه وغورځاوه او شهیده شوه، دشوری نظار دغه عمل دخلکو د توند عکس العمل سبب شو، او دهغې نجلی سری بې چې دوو زرو په شاوخوا کې ښځې پکې شریکې وې د یوې مظاهرې په شکل د ارګ دروازې ته یووړ او له برهان الدین رباني څخه بې وغوښتل چې په خپله استعفی په کابل کې دغه ستره غمیزه پای ته ورسوي مظاهره چیان د برچې په زور او د ځو نورو کسانو په وژل کیدو تیت او پرک شول، ما (د کتاب لیکوال) په شیوه کیو کې د نجلی له پلار سره ملاقات وکړ چې له دی وضعې څخه د شکایت لپاره حکمتیار ته چار

آسیاب ته ورغلی ؤ، او دغه جنایات په څېړنیو وسایلو کې هم خپاره شول. (۳۲)

د حزب اسلامی پوستو هم له سروبی څخه تر درونټې پورې په لاره نیولو، غلا او لوټ بوختي وې، چې مهاجرین به یې لوټل او له مسافرو او موټرو څخه یې پیسې اخستې او زرداد، قلم، چمن، لیوني، ناصر، غفار قوماندانانو په پاټک اچولو اولاره نیولو تورن وو چې خلک یې له دې لارې ډېر ځورولي دي، په دې علاوه په سرخکان کې د محاذ او اتحاد پوستو د حاجي قدیر او انجنیر محمود په مشرۍ پاټکونه درلودل چې خلک یې لوټل او بې امنیتي یې راوستې وه، د جنوبي په لویه لاره هم دحزب اسلامي څو پوستو د حق العبور په نامه له خلکو څخه پیسې اخستې، پردې سربېره هغوی فلزي او اوسپنیزې توټې ویجاړې شوې وسلې د کباړ په نامه پاکستان ته یووړې اوویې پلورلې. "دکباړ په اړه حقایق تردې ډېر ترخه او ډېر دردناک دي. چې روغې فابریکې او د هیواد ډېرې لوېې شتمنۍ پکې او به او د ځوکسانو د هوسونو قرباني شوې، په دې اړه کتابونه لیکل کېدای شي او دغه لنډې کرښې یې تفصیل نشي خوندي کولی. ژباړن"

په ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹۴م کال د جګړو له توندیدو سره له خلکو څخه غلا شوې مالونه د چار آسیاب په بازار کې د جګړه مارولخوا آزاد پلورل کېدل او په جلال آبادکې یو بل لوی بازار د خلکو دچور شویو مالونو ؤ.

## د حکمتیار پر خلاف د امریکا دریځ

د مجاهدینو د مقاومت په پیل کې په تیره د رونالدریګن په دوره کې امریکا د حکمتیار په اړه خوشبیني درلوده، تردې چې دوخت له جمهور رئیس سره یې د حکمتیار نه سلاقات بابېزه وګانه، آن تردې چې کله د ۱۳۷۱ لمریز دغوايي په ٦مه/ حزب اسلامي په کابل کې د دوستم او مسعود د قواو په لاس ماته وخوړه او د کابل څخه یې وزغلاوه مارګریت تاتویلیر *Margret Tutwiler* د سپیني ماني نطاق وویل چې چمتو دي چې د یوه عبوري حکومت په اړه له حزب اسلامي سره خبرو اترو ته کښېني.

خو د حزب اسلامي سیاسي او نظامي دریځونه د امریکا د منافعو پر خلاف وو او په کابل کې د داخلي جګړو توندېدل، د کومکي و سلود بیرته را تولو په اړه د امریکا له پلان سره نه همکاري، پر لیبیا د امریکا د بمباری په سبب د امریکا ددغه عمل پر خلاف توند او له احتجاجه ډک عکس العمل او دریځ او د ظاهر شاه د بیاراتلو له پلان سره مخالفت او بالاخره د پاکستان او عربستان له حزبونو او دولتونو سره د حکمتیار د اړیکو خرابېدل د حکمتیار په اړه د امریکا د ښه باور اونظر لوری بدل شو.

د ۱۳۷۱لمریز کال د تلې په ۱۲مه/۱۹۹۲م د اکتوبر ٤مه سپیني ماني پر کابل د توغندویي برید په سبب د حکمتیار د محکومولو په ترځ کې وویل: حکمتیار باید د افغانستان له سیاسي صحنې څخه بهر

شي.(۳۳)

د دې د ریخ سره جوخت جنرال عبدالرحیم وردګ د دفاع وزارت د لوی درستیز په توګه پیشنهاد شو، نو موږي په امریکا کې تحصیل کړی او دمحاذ ملي غړی دی، دغه ګوند د ظاهر شاه د راستنیدو عوښتونکی دی او د امریکایي سیاستمدارانو په فکر په افغانستان کې د دیموکراسي د راتلو زمینه کېدای شي. مسعود د دغه وړاندیز تو د هرکلي وکړ چې که وتوانېږي حریف یې (حکمتیار) کمزوری کړي، خو عملاً په دې کار راضي نه ؤ.

حزب اسلامي په یوه خبرګون کې د امریکا عمل دافغانستان په چارو کې لاسوهنه وبلله او د نړۍ د مسلمانانو د حقوقو د حمایې په ترڅ کې یې له هغوی وغوښتل چې د اسلام د دښمنانو پر خلاف پاڅون وکړي.

په پاکستان کې د امریکا سفیر نیکو لاس پلاټ *Nicolas Platt* په پیښور کې په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د افغانستان تولو مجاهدینو ته اعلان وکړ چې نور له دښمن سره د جنګ دوره پای ته رسیدلې ده او باید له دوی سره مرسته شوی وسلې په تیره ستنګر *Stinger* د الوتکو ضد توغندي بیرته امریکا ته ورکړي، هغه دحزب اسلامي د عکس العمل له مقابلې څخه ځان تیر کړ خووی ویل:

زمونږ د مرستې وسلې په افغانستان کې د کورنۍ جګړې د دوام لپاره نه دي. (۳۴)

## د اهل حل او عقد شورا

د مرغومي په ۹مه د اهل حل او عقد شورې چې ۱۳۱۵ تنه غړي یې درلودل د کابل په انترکانتیننتال هوټل کې د برهان الدین رباني په وینا پرانستل شوه. د شورې ریاست د جمعیت اسلامي د مرستیال سید نور الله عماد په اوږه ؤ، ددغې شورې زیاتره غړي د رباني د اداري لخوا ټاکل شوي وو او د ده د جمهوري ریاست ددورې په اوږدولو یې د تائید کربنه راکاږله، د محتوی په لحاظ دغې شورې داسې تغیر او یا ابتکار نه درلود چې بالاخره د جګړې په پای ته رسولو خبره ختمه کړي. په دې شورې کې رسول سیاف هم د ائتلافي اداري همکار ؤ... د مجاهدینو مشرانو دغه شورې تحریم کړه، او په قوي احتمال په شورا کې ټاکل شوي غړي د سابقه بیروکراسي د روش په اساس چې د محمد ظاهر شاه په دوره کې معمول وو د پیسو په بدل کې اخستل شوي وو او هیڅ د رایې او نظر حق نه درلود او ویناوې ونه شوې. اهل حل او عقد شورې داسې وخت جوړه شوه چې په کابل کې نا آرامي او د وسله والو افرادو چور او لوټ دوام درلود، برهان الدین رباني د جمهوري ریاست یوازینی کاندید وپیژندل شو او خلک هم پخوا ده ته په رایه ورکولو مکلف شوي وو، د دې شورې له جوړیدو وړاندې دری کاندیدان نور حضرت مجددي، مولوي خالص، او پیرګیلاني هم وو، چې د کابل اداري په حېلسرې یې اعتراض وکړ او شورې یې تحریم کړه.

## د کابل اداره او مائویستان

شوری نظار د هغو مفاهمو په اساس چې پخوایې له مائویستانو (شعلیانو) سره درلودی د هغوی یو شمیر کسان په سیاسی او نظامی ډګرکې تقویه او د اسلامی دولت د څواکونو په نامه معرفی کړل. د مائویستانو دوه مشهور قوماندانان صمدسنګی او شیدا وو چې په سیربچه کوټ او کلکان کې یې څواکمن نظامی مرکزونه جوړ کړل، هغوی د کابل پروان په سړک د خلکو څخه مالونه او پیسې لوټولې او د مائویستانو د وړوکو سرګروپانو ترمنځ یولړ نښتې هم وشوې او په ۱۳۷۱ لمریز مرغومی میاشت/۱۹۹۲م دسمبر کې د هغوی زیات شمیر پخپل منځی جګړو کې له منځه ولاړل، ددغه سازمان نور لاره نیوونکی د ضابط جلال او باشی په نامه وو چې دلاری په اوږدو کې به یې خلک لوټول.

## د حزب اسلامی د ننه انشعاب

د حکمتیار ځانګړ یو تصمیمونو په تیره د یو شمیر ظاهراً مخلصو خو چاپلوسو او استفاده کوونکو خلکو پری ورتولیدل ددغه سازمان فعالیتونه له یو لړ ګډوډیو سره مخ کړل، د حزب یو شمیر فعال افراد سره له دی چې د حکمتیار له قیادت سره موافق وو خو د حزب په داخلی چلن او کړو وړو کې یې یولړ بنیادی بدلونو نه غوښتل، هغوی په پښپړه توګه جګړه رد وله. او پردی یې ټینګار کاوه چې حزب اسلامی دیوه بنسټ پال ګوند په توګه باید په فرهنګی، اجتماعی برخوکې فعالیت پراخ کړی او په هیواد کې خلکو ته دا امید ورکړی چې د حزب اسلامی غوندی سازمان کولی شی د خبرو اترو او تفاهم له لاری ستونزی حل کړی نه د ټوپک د فرهنګ له لاری.

حکمتیار د خپل خاص مشاور همایون جریر د فکر په محور راځرخیده، او هردول بیاغور او نرموالی بی د ګوند په ګټه نه باله، د حزب اسلامی افغانستان یوه ډله علماء او روښانفکران لکه انجنیر عبید الله سیرتُ د حزب مرستیال، منشی عبدالمجید، محمد زمان مزمل، ډاکتر محمد حنیف، مولوی امین الله حلیم، قاضی محمد حکیم، مولوی عبدالوارث د حزب دوهم مرستیال، مولوی خنجانی او ډاکتر انور له حزب اسلامی څخه بیل شول.

مسعود د حکمتیار د موقف د کمزوری کولو په خاطر دغو افرادو ته د کابل په اداره کې هغوی ته دروازی پرانستی پریښودی او د هغوی یو شمیر یې پرلوړو کرسیو وټاکل، چې د هغوی له جملی څخه منشی عبدالمجید د کورنیو چارو وزارت سرپرست، دلجو حسینی د اطلاعات او کلتور وزارت معین وو چې د حزب اسلامی پر خلاف تبلیغ کې یې د ربانی په اداره کې سختی هڅی وکړی.

له بله پلوه د حزب اسلامی په فرهنګی ارګانونوکې هم انشعابونه راغلل او د حزب اوچت لیکوالان

او فرهنگی کسان د روښانفکرو لیکوالانو پر محور یوه نوی فرهنگی ټولنه په پیښور کی تاسیس کړه اود امید په نامه مجله یی چی د عبدالرب رسول سیاف لخوا مرسته ورسره کیده هره میاشت خپروله. لیکوالان چی د حزب اسلامی له تنی څخه جدا شوی وو عبارت وو له: محمد معروف فروغگر، احمد وحید مژده، عوض الدین صدیقی همدارنگه د جمعیت اسلامی هغه کسان چی جګړه یی نفی کوله لکه عبدالاحد تارشی له دی ټولنی سره یوځای شو.

د ژباړن یادونه. "امید مجله لومړی ځل د پنځلس ورځنی جریدی په توګه خپریده چی د اتمی ګڼی څخه وروسته یی بنه په مجله بدله شوه، مؤسسین یی عبدالاحد تارشی، محمد معروف فروغگر، محمد نذیر بشارت، عبدالکریم خرم او محمد زبیر شفیقی وو وروسته بیا عوض الدین صدیقی، احمد ضیأ رحیمزی، احمد وحید مژده، محمد نعیم تائب، او زیات شمیر نور لیکوالان ورسره یوځای شول، خوټولو لیکوالانو خپل تنظیمی تعهد ساتلی ؤ او دامید مجلی د لومړی کال مصارف "مکتب خدمات" دفتر ورکول، وروسته یی بیا لګښت استاد سیاف ومانه، چی بیا د مجلی پخوانی بی پری پالیسی هم بدله شوه او یو لړ نانددری هم پکی خپری شوی چی د مجلی پخوانی وزن یی زیانمن کړ."

د کابل اداری د حزب اسلامی انشعاب لوی بری وباله او په کابل کی یی دحزب اسلامی افغانستان په نامه سیاسی حزب اعلان کړ اوکابل د حکمتیار او حزب اسلامی له ټولو پلویانو څخه وغوښتل چی له هغه نوی سازمان سره یوځای شی، ربانی وویل چی دوی له حزب اسلامی سره نه بلکی له حکمتیار سره مخالفت لری، همدارنگه داسی آوازه وه چی څوک کابل ته ولاړشی له ډیرومادی او معنوی امتیازاتو څخه برخمن کیږی، او زیات کسان په همدی امید دکابل له اداری سره یو ځای شول.

د څیړونکو څخه یو تن د حزب اسلامی د راتلونکی پر باب چی پاکستان او امریکا د هغه پر خلاف دریغ غوره کړی دی لیکی: د حزب نظامی افراد او همکاران ددغه ګوند د تیاره راتلونکی په خاطر او د مالی او پوځی امکاناتو د محدودیت په خاطر د حزب له څنګه لری کیږی او له یوی بلی قوی ډلی سره به یو ځای کیږی. په دغسی شرایطو کی حکمتیار ته مناسبه او معقوله لاره داده چی د ملګرو ملتونو له طرحی څخه جدی ملاتړ وکړی، څکه په دی کار کولی شی هم خپل سیاسی دریغ وساتی او هم په یو ډول د خلکو د اذهانو په ترسیم لاس پوری کړی، دلته باید یادونه وکړو چی که څه هم حزب اسلامی سمدستی د قدرت له معادلی څخه لری شوی د وی خو په سیاسی لحاظ تر اوسه پوری د لانجی یو مهم اړخ بلل کیږی. (۳۵)

د حزب اسلامی څخه دری فرصت غوښتونکی او ګټه پالونکی مهمی کړی همایون جریر، وحید الله سباوون او عبدالهادی ارغندیوال د ایران په اشاره د ډیرو امکاناتو په بدل کی تری بیل شول، دغه کسانو د داخلی جګړو په دوران کی کلیدی رول درلود او تصمیمونه یی نیول او د حزب اسلامی له لاری همدوی د داخلی جګړو مسوولیت پرغاړه لری، سباوون د ربانی له هیواده بهرکابینه کی غړی شو، همایون جریر او

ارغندیوال د نړیوال تجارت او په ایران کې د کمیشن په اساس د بهرنیو کمپنیو په منځګړتوب د بهرنیو سرمایو د په کار اچولو له لارې زیاتې پیسې ګټلې، همایون جریر چې زیات کلونه د حکمتیار خاص مشاور ګڼل کیده اوس یې لټ وخوړ او خپل پخوانی منسوب شوی سازمان (ګروه کار) ته یې د دیموکراسی تر عنوان لاندې کارکوی او د باد راوړیو پیسو په زور په قبرس کې غونډې جوړوی او غواړي د ظاهر شاه د پلویانو او سوسیالستانو په مرسته ځان د افغانستان په راتلونکې کې د سیاسي څیرې په توګه مطرح کړي. حکمتیار له حزب څخه د دغو درې تنو د انشعاب وضاحت په سیثاق ایثار کې داسې کوي: ... اوس ایران یو شمیر له حزب اسلامي څخه په انشعاب او د ځانګړې ډلې جوړولو او له مسعود او رباني سره پیوستون اود هغوی تر قوماندې لاندې جګړې ته هڅولي دي... یو یې سیاسي چارو ته ګومارلي دي او په یې محتوی غونډوکې چې د التقاطي، شاه پرستانو، منځلارو، ملي ګرایانو او دحزبونو څخه ناراضیانو او لویدیځپالو حزبونو او یو شمیر د جهادي سابقې درلودونکي افرادو څخه جوړې شوې او پرهغوی پانګه اچوي، او ګومان کوي چې دوی به کار پرمخ بوزي... یو بل یې هڅولي دي چې د رباني – مسعود په حکومت کې شامل شي او د حزب غړي یې په پېښو کې حلال کړي. (۳۱)

## پیام آزادی رادیو تلویزیون

پیام آزادی تلویزیون د حزب د دله ئیزو ارتباطي بهمو وسایلو له جملې څخه ؤ چې په ۱۳۷۱ لمریز/۱۹۹۲م کې د کابل په ۱۵ کیلومتري جنوب لوري ته په چار آسیاب کې تأسیس شو. ددغه ارګان رادیو یې پروګرامونه د افغانستان غږ رادیو له ادغام سره د پروګرامونو د یو څه پراخه کیدو د تلویزیون د عمومي ریاست له تشکیلاتو سره په کار پیل وکړ، او مختلفې خپرونې یې په لنډو څپو او (ا ف ا م) موج د کابل بناریانو لپاره درلودې، چې د کابل اداري پرازیتو یې د پروګرام په اخلالولو کې اغیزه نه درلوده، د پیام آزادی رادیو تلویزیون لیږونکي دستګاه سیاره وه چې ستود یو یې د ګلزار په تعلیمي غونډ کې چې د ... آسیاب ولسوالۍ کې دی وه، ورځنی پروګرام په هماغه ستودیوګانو کې تیاریده چې زیاتره موادیې د ... انتنونو له لارې د نړیوالو چینلونو څخه او په پیښور کې د پیام آزادی رادیو تلویزیون د هنري څانګې ... برابریدل، ددغه تلویزیون د خپرونو موده له ۲-٤ ساعتونو پورې هره ورځ وه لیږونکي آنتن د دستګا... موسیقي دغره پر څوکه و چې د کابل بنار زیاتره ساحې یې د خپرونو د لیدو په ساحه کې راتلې. په ... وخت کې د دغه تلویزیون چې د پاکستان د جماعت اسلامي په مرسته له جاپان څخه را پیرل ... سیاره وړو کې ستودیو درلوده چې وروسته یې په تعلیمي غونډ او بیا موسیقي کې ثابتې ستود... درلودې او یوڅه غوره خپرونې یې لیدونکو ته وړاندې کولې، د ماشومانو د روزنیزو پروګرامونو، ... فلمونو، ورزشي سیالیو او هنري فلمونو د ژباړې دتیارۍ په برخه کې په هالنډ کې د افغانستان د مجاهد...

تبلیغاتو مرکز همکاری کوله او زیات فلمونه یې په هالنډ کې تیارول او له ژباړې وروسته یې پیام آزادی تلویزیون ته استول. په ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م کال یو لیږونکی او اخستونکی آنتن په لته بند کوتل کې هم ودرول شو چې له هغه ځخه د تیلفون او مخابراتو په برخه کې پر استفادی برسیره په نظر کې وه چې تلویزیونی خپرونې لغمان - جلال آباد او سروبی ته هم وغځول شی. په هماغه کال د پیام آزادی تلویزیون ثابته ستودیو د کابل اداری د بمباری په سبب له منځه ولاړه چې د تلویزیون څو تنه پکی ټپیان او ووژل شول، چې وروسته بیا ستودیو د لوګر د محمد آغې ولسوالی په یوه وړوکې کلی کې جوړه شوه او بیا په موسیقی کی ځانګړی ستودیو او دفتر جوړ شول او هلته ولیږدول شول.

د پیام آزادی تلویزیون خپرونې په چار اسیاب کې د حزب اسلامی له ماتې سره جوخت و دریدی چې بیا یې منقول وسایل او دستګاه دروتمی ته انتقال شول او ستدیو او ځه وسایل یې د نظار شوری غنیمت یوورل. د ژباړن یادونه: د پیام آزادی رادیو تلویزیون چې څه د پاسه دوه کاله یې منظمې خپرونې درلودی د کابل پر اوسیدونکو سربیره د لوګرتر پل علم پورې لیدلی شوی چې په تبلیغاتی او ځینو نورو پروګرامونو کې یې د کابل له دولتی تلویزیون څخه اغیزی زیاتی وی. ددغه اداری عمومی رئیس محمد نذیر بشارت او سرستیال یې ددی کتاب ژباړن (محمد زبیر شفیقی) ؤ.

## د اسلام آباد تړون

د ۱۳۷۱ لمریز کال د سلواغې او کب/۱۹۹۳ کال د جنوری او فبروری په میاشتو کې د مختلفو ډلو ترمنځ جګړی توندی شوی، چې لهدی سره جوخت جمعیت او حزب یو د بل پرخلاف د توندو تبلیغاتو څخه وروسته یو د بل پرخلاف په جګړو لاس پوری کړ، دغو جګړو نه جبرانیدونکی بربادی راوړی، په زرګونو کابل بناریان ووژل شول او په زرګونو نور تری وتښتیدل، د سره صلیب نړیوال سازمان *Read Cross (ICRC)* په خپل یوه راپور کی د ۱۳۷۱ لمریز د سلواغې په ۲۳مه/۱۹۹۳م د فبروری ۱۲مه یو خبرورکړ چې تر پنځو زرو تنو زیات کسان په دی جګړو کی د مجاهدینو له واک ته رسیدو وروسته وژل شوی دی.

په همدی اساس د ښکروښتونو او ذیعلاقه هیوادونو لحواځی پیل شوی او د ګوندونو مشران یې اسلام آباد ته وغوښتل، د ۱۳۷۱ لمریزکال د کب په ۱۷مه/۱۹۹۳م د مارچ په ۸مه د پاکستان، ایران او سعودی عربستان د اسلامی کنفرانس تنظیم په منځګړیتوب له شپږو ورځو خبرو اترو وروسته د افغانستان د راتلونکی سیاسی جوړښت په اړه توافق وشو. ددی تړون اساسی ټکی دا دی:

۱- برهان الدین ربانی به د ۱۸ میاشتو لپاره جمهور رئیس او ګلبدین حکمتیار به صدر اعظم وی. ۲- دوسله والو قواؤ اداره او قومانده به دیوه کمیسیون پرغاړه وی، ۳- د یوی مشترکی دفاعی شوری لپاره باید

د هر ګوند څخه دوه دوه تنه معرفي شي، ٤- د انتخاباتو کميسيون بايد ژر ژره جوړ شي، ٥- د ټولو لوريو ټول جنګي بنديان بايد سمدستي خوشي کړای شي، ٦- بايد ټول د خلکو او عامه شتمنيو لوټ شوي مالونه بيرته خپلو مالکانو او موسساتو ته وسپارل شي، ٧- کابينه بايد په ١٥ ورځو کې دننه د صدراعظم لخوا د جمهور رئيس او جهادي مشرانو په مشوره معرفي او وټاکل شي. ٨- د رشيد دوستم په اړه به وروسته پريکړه کيږي، ٩- پر اوربند دڅارنې لپاره به يوه کميسيون د ګوندونو د نمايندګانو او د اسلامي کنفرانس تنظيم د نماينده په شمول جوړيږي، ١٠- ټولې لوېې لارې بايد پرانستل شي.

دغه تړون لاندينيو کسانو تائيداو لاسليک کړی دی:

برهان الدين رباني، ګلبدين حکمتيار، د حزب وحدت د لارښودې شورې غړی آيت الله فاضل، پير سيد احمد ګيلاني، مولوي محمد نبي محمدي، حضرت صبغت الله مجددي، شيخ آصف محسني، او د اتحاد اسلامي مرستيال انجينر احمد شاه احمد زی.

خوسبا ته د کمونستي جنرالانو، جنرال بابه جان او جنرال مؤمن لخوا د بنار په جنوب کې د حزب وحدت او حزب اسلامي پرسنګرونو حملې پيل شوې او په ميربچه کوټ کې د حزب اسلامي افراد د جمعيت لخوا بې وسلې شول، تر اوسه لا رباني په آکوره خټک کمپ کې او حکمتيار په ناصر باغ او شمشتو کې په ويناګانو بوخت وو چې په کابل کې په هرګوټ کې دجګړو لمبې پور ته شوې. (٣٧)

رباني او حکمتيار له نواز شريف سره سعودي عربستان ته ولاړل له ملک فهد سره يې وکتل او د تړون په پلې کيدو يې ټينګار وکړ. بيا تهران ته ولاړل او له رفسنجاني سره يې هم خبرې اترې او توافقات وکړل، حکمتيار پخپله د صدارت منصب واخست او د کابينې په جوړولو يې لاس پورې کړ.

کله چې حکمتيار د صدارت دنده واخسته او له دې وروسته چې سعودي، ايران او پاکستان دوستم د قضيې د يوه اړخ په توګه په رسميت ونه پيژانده اوله مجاهدينو څخه يې هم وغوښتل چې د جنبش د ټګلارۍ په بدلون سره بايد خپلمنځي اختلافات سره حل کړي، دوستم خپل دريځ نرم کړ او د اسلام آباد له تړون څخه يې ملاتړ اعلان کړ، حکمتيار په يوه سرکه کې چې په اسلام آباد کې ديوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې تر سره شوه له دوستم سره د خبرو اترو په اړه وويل: زه له هيچا سره دښمنې نه لرم اوله دوستم سره د خبرو په اړه د حزب اسلامي د اجرائيه شورا د پريکړې منتظريم. (٣٨)

د کابينې په ټاکلو کې رباني بياهم د دفاع وزارت لپاره د احمد شاه مسعود وړانديز وکړ، حکمتيار اعلان وکړ چې د کابينې اعلان د صدر اعظم کاردی او رئيس جمهور د مداخلې حق نه لري. څکه يوه ورځ وړاندې د ١٣٧٢ لمريز د وری په ١٤مه/١٩٩٣م د اپريل ٤مه نوموړي د کابينې لست رباني ته واستاوه. رباني ويلي وو: حکمتيار د کابينې د منحل کولو حق نه لري. د حکمتيار او رباني ترمنځ دغه فکري او سليقوي تضاد د واحد زعامت د جوړيدو مسئله لاپيچلې کړه، د اسلام آباد د تړون يو نقص همدغه ؤ چې صدراعظم ته يې د کابينې جوړولو حق ورکړی ؤ خو ويل شوي وو چې د جهادي مشرانو او

رئیس جمهور په مشوره باید داکار وکړي.

### د حکمتیار وړاندې شوې کابینه داسې وه

۱- حضرت صبغت الله مجددي د دفاع وزیر، ۲- احمد شاه مسعود د بهرنیو چارو وزیر اود صدارت لومړی مرستیال، ۳- سید نور الله عماد د اطلاعات او کلتور وزیر، ٤- سلیمان ګیلاني د صدارت مرستیال او دبنار جوړولو او د هستوګنې کورونو برابرولو وزیر.

٥- عبدالصبور فرید د صدارت مرستیال، ٦- قاضي محمد امین وقاد د کورنیو چارو وزیر، ۷- انجنیر فیض محمد د ابو او برښنا وزیر، ۸-کریم خلیلي د مالیې وزیر، ۹- داکتر فاروق اعظم د کرنې وزیر، ۱۰- عبدالستار صدیقي د عدلیې وزیر، جلال الدین حقاني د ښوونې وزیر، ۱۲- حاجي قدیر د ټولنیزو چارو او کار وزیر، ۱۳- عبدالله فیض الباري د لوړو زده کړو وزیر، ١٤- انجنیر احمد شاه احمدزی د کانو وزیر، ١٥- ببرک زی د سرحداتو وزیر، ١٦- سید محمد علي جاوید د پلان وزیر، ۱۷- عبدالحق شفق دکلیو د پراختیا وزیر، ۱۸- سید حسین انوري د ترانسپورت وزیر، ۱۹- مولوي عبدالقدوس لوی څارنوال، ۲۰- مولوي سلطان عزیز د راستنیدونکو، معیوبینو او شهداو وزیر، ۲۱- ډاکتر محمد امین فاطمي د روغتیا وزیر، ۲۲- قوماندان سراج الدین د هوانوردۍ وزیر، ۲۳- استاد سید محمد د لارو جوړولو وزیر.

همدا رنګه یې د ټولنیزو چارو وزارت جنبش ملي ته ورکړ، او سیاف د جمهوري ریاست د مرستیال په توګه پاتې شو. په دې کابینه کې د دفاع، بهرنیو او کورنیو چارو وزارتونه د مشترکو شوراګانو په واسطه چې د تنظیمونو د لوړ رتبه غړیو تر سرپرستۍ لاندې به جوړیده باید د اساسي حکومت تر جوړیدو پورې اداره شوي وای.

د تنظیمونو د مشرانو عکس العمل د دې کابینې په اړه د خپلوګټو د پاللو په محور ؤ او هرګوند په یو دول کابینه تحریم کړه ،رباني د دفاع وزارت لپاره مجددي رد کړ، سیاف دعوه درلوده چې د کابینې په جوړولو کې مشوره نه ده ورسره شوې ځکه ورته د منلو ورنه ده، مولوي محمدي هم په کابینه کې دبنه نفوذ نه درلودلو له امله له ده سره د مشورې نه کیدو په پلمه ځان لرې وساته، پیرګیلاني لویه جرګه د افغانستان د ستونزو د حل یوازینۍ لاره وبلله او کابینه یې رد کړه، رباني سره له دې چې د حکمتیار لخوا د پخوانۍ کابینې د منحل کیدو اعلان وشو هغې ته د کار د دوام امر وکړ. د ۱۳۷۲ لمریز دوري په ۱۹مه/۱۹۹۳م د اپریل په ۹مه رباني او حکمتیار د پلچرخي د حجارۍ او مرمرو او رخام دبرو په فابریکه کې سره وکتل، مسعود هم د دغې کابینې په اړه خپل عکس العمل وښود او همایون جریر د هغه خصوصي مشاور او د حکمتیار اعتمادي سړي او زوم یې ونیو او بندي یې کړ، چې دې پخپله د حکمتیار درول په کمزورې کولو اوپه یې ارځښنته کولو کې مهم اغیز درلود، حکمتیار هم دغه مطلب له رباني سره د خبرو په اجندا کې شامل کړی ؤ. د رباني او حکمتیار په خبرو کې پردې توافق وشو چې جهادي مشران او د کابینې غړي

باید په جلال آباد کې غونډه وکړي چې د هغوی له جملې څخه مجددي،حکمتیار او دوحدت ګوند سیاسي رئیس خلیلي حاضر شول... مجددي په یوه اعلامیه کې رباني، مسعود او سیاف د کابل د جګړو عاملین وبلل،.. حکمتیار افشاکړه چې په پلچرخي کې له رباني سره په خبرو اتروکې د بحث مهمه موضوع احمد شاه مسعود ته د دفاع وزارت سپارلو مسئله وه.

## د جــلال آبـاد تـــړون:

په کابل کې د جګړو له توندیدو سره دا ځل د ننګرهار جهادي شورى د سولې، اوربند او تفاهم ابتکار په لاس کې واخست او له ټولو جهادي مشرانو څخه یې وغوښتل چې په جلال آباد کې راغونډشي او یوې موافقې ته ورسیږي. دغه زیارونه د دې سبب شول چې همدغه کال د غوایي په ۱۰مه د ۱۹۹۳م د اپریل په دریمه رباني، حکمتیار، سیاف، ګیلاني، مجددي، د مولوي خالص مرستیال حاجي دین محمد، محسني،کریم خلیلي او محمدي په جلال آبادکې را ټول شي، د جلال آباد دې غونډې اتلس ورځې دوام درلود. ټولو تنظیمونو پردې تینګار کاوه چې باید دفاع وزارت څخه احمد شاه مسعود لرې کړې شي او دغه وزارت یوه شریک کمسیون ته وسپارل شي، بالاخره پردې موافقه وشوه چې د دفاع اوکورنیو چارو وزارتونو سرپرستي رباني او حکمتیار ته وسپارل شي. او د دوو میاشتو په موده کې د قوماندانو شورى ددغو دوو وزارتونو لپاره وزیران وټاکي.

د جلال آباد په غونډه کې د ننګرهار د شورى او بهرنیو عواملو لخوا چې بنایي د پاکستان ای، سي، ای هم پکې شریک وي یو بل پراخ پروګرام پټ طرحه شوی ؤ. چې که د مشرانو ترمنځ موافقه ونه شوه ټول باید و وژل شي، د ننګرهار شورى ټول مشران د جلال آباد په ارګ کې تر څارنې لاندې ساتل او هغوی د بیرون وتلو اجازه نه درلوده. سیاف له دې دسیسې څخه خبر شو او په یوه حیله یې ځان له جلال آباد څخه ویوست او کابل ته روان شو، په دې دسیسه کې یوبل احتمال هم و چې مسعود د ننګرهار جهادي شورى رئیس او والي ته د ډیرو زیاتو مادي امکاناتو په سنلو غوښتل چې د جهادي مشرانو ژوند پای ته ورسوي او ځان ترې وزګارکړي او میدان یوازې ورته پاتې شي. د سیاف او مسعود ترمنځ چې کوم پیوستون او ائتلاف ؤ د هغې په اساس یې دا راز هغه ته ویلی ؤ چې باید له جلال آباد څخه ووزي.

د جلال آباد خبرو اترو سره له دې چې ډیرې زیاتې اوږدې شوې چندان پریکنده نتیجه یې نه درلوده، او د نجراب، تګاب او سروبي په حدودوکې د حزب او شورى نظار ترمنځ توندې جګړې رواني وې، د پروان، کاپیسا ولایتونه د مسعود په لاس کې ولویدل، او د حزب اسلامي اوه زره تنه مجاهدین مسعود ته تسلیم شول، د قره باغ کریم عابد د حزب اسلامي قوماندان د مسعود لخوا کلابند شو،.. په دغسې له اختناق

څخه ډک حالت کې د واک د ویش په مسئله ټینګار تول لوری له داخلي کشمکش سره مخ کړل.

حکمتیار د ۱۳۷۲ لمریز غبرګولي په ۲۸مه/۱۹۹۳م د جون په ۱۸مه د کابل په لویدیځ حیدر خان کلاکي، د جمهوررئیس رباني په موجودیت کې د لوړې سراسم ترسره کړل او دهیواد له وزیرانو سره یې غونډه وکړه، په دې کابینه کې رشید دوستم ته امتیاز نه ؤ ورکړ شوی او دوستم دسرطان په ۱٦مه نیټه/ د جولای ۷مه د حکمتیار صدارت په رسمیت ونه پیژاند او د حزب پرسنګرونو یې بریدونه ګړندي کړل، حکمتیار ددې ورځې وروسته اعلان وکړ چې د رشید دوستم څخه پرته په افغانستان کې د سولې پروسه نه بشپړیږي، د چنګابښ په ۲۲مه/د جولای په ۱۳مه د مزاري د حزب وحدت په منځګړیتوب د حزب اسلامي او ملي جنبش ترمنځ بالاحصار ته نژدې په قلعه چه کې ترون لاسلیک شو او یوه ورځ وروسته د دوستم او حکمتیار ترمنځ په دار الامان ماني کې خبرې اترې وشوې (دغه ملاقات په همغه لومړي ورځ په قلعچه کې ترسره شو. ژباړن)

حکمتیار رشید دوستم ته چې له ۱٤کاله دښمنۍ وروسته سره یو ځای شوي وو د دوو وزارتونو وړاندیز وکړ، مولوي عبدالباقي ترکستاني د جنبش ویاند دوه تنه د ملي جنبش غړي د سراج الدین او مختوم عبدالمنان په نامه د حکمتیار کابینې ته ور معرفي کړل. (۳۹)

د ۱۳۷۲لمریز په زمرې میاشت/۱۹۹۳م اګست کې حکمتیار ایران او پاکستان ته رسمي سفرونه وکړل او ددغوهیوادونو له لوړ رتبه چارواکو سره یې خبرې اترې وکړې، د تلې اوورې په میاشتو کې د اساسي قانون د جوړولو ګډکمیسیون وتاکل شو چې د وحدت ګوند له مخالفت سره په دې دلیل مخ شو چې د افغاني شیعه ګانود حقوقو یادونه پکې نه ده شوې، پر هغه یې انتقاد وکړاو ردیې وباله.

## هماهنګي شورې اود حزب اسلامي د پاشل کیدو پیل

د وحدت ګوند سره د اتحاد او مسعود جګړه د ګوندونو په منځ کې د اړیکو نوې ابعاد را منځته کړل، حزب وحدت د اکبري مزاري، و محقق ترمنځ دا نشعابونو سره مخ شو چې اکبري او محقق مسعود ته په نژدې کیدو هڅه وکړه د مزاري پلویان په سیاسي صحنه کې منزوي کړي، کله چې رباني خپله د جمهوري ریاست دوره اورده کړه، شیخ محسني نه غوښتل چې عکس العمل وښیي او د تداوې په پلمه لندن ته ولاړ، نورو مشرانو پردې ټینګار کاوه چې باید واک مولوي خالص او یا مولوي محمد نبي محمدي ته وسپارل شي، ددې انکشافاتو سره جوخت په کابل کې جګړې پراخې شوې، او د مزاري او دوستم ائتلاف د دې سبب شو چې هغوی د کابل زیاتي مهمې سیمې ترکنترول لاندې راولي اود کابل لویدیځ، جنوب ختیځ او هوايي ډګر د کابل په شمال کې تر خپل واک لاندې وساتي. مزاري په سیاسي صحنه کې د رباني، حکمتیار، حزب وحدت او دوستم د غونډې وړاندیز وکړ، او په خپل منځګړیتوب یې عملاً

دوستم د حزب اسلامي په لور وباله.

د ۱۳۷۲ لمریز د لړم په ۲مه/۱۹۹۳ د اکتوبر ۲٤مه د مسعود ویاند په دفاع وزارت کې حزب اسلامي تورن کړ چې د دوستم له یوه کمونست قوماندان اسد الله مارخور سره یې په بالاحصار کې پټه کتنې دی، له دې عکس العملونو څخه څه موده وروسته څلورو سیاسي ډلو هریوه: ۱- حزب اسلامي، ۲- ملي اسلامي جنبش، ۳- د افغانستان نجات ملي جبهې، او وحدت اسلامي ګوند د ۱۳۷۲ لمریز د مرغومي په ۱۱مه/د ۱۹۹٤کال په پیل کې رسماً ائتلاف وکړ چې د افغانستان د اسلامي انقلاب د همغږۍ شورا وبلل شوه. چې د رباني د ادارې په وړاندې یې دغه غوښتنې اعلان کړې:

الف- د افغانستان د جمهوري ریاست له مقام څخه د برهان الدین رباني استعفی.

ب- په افغانستان کې د سرتاسري انتخاباتو لپاره د لنډمهالي حکومت تشکیل.

ج- دعسکري نظام بیارا ژوندي کول او مشترکه دفاع.

د- له کابل څخه د ټولو وسله والو افرادو وتل.

هـ- د کابل امنیت د کابل د قوماندانانو شورۍ ته سپارل.

و- د هیواد د حساسو دولتي ادارو څخه د کمونستانو تصفیه.

## د رباني اشتباهات

## ۱- په اداره کې د کمونستانو مقررول

د رباني - مسعود د ادارې یوه اساسي او عمده اشتباه د سیاسي قدرت دساتلو په خاطر د کمونستانو او د ټولنې د نورو نامطلوبو اشخاصو ساتل وو، دغوکسانو په داخلي جګړو اود مجاهدینو د ادارې په بدنامۍ کې اساسي رول درلود چور او لوټ، پرېنځو تیري، بې رحمانه وژنې او د قومي، ژبنیو او مذهبي تضادونو اور ته لمن وهل یې اساسي فعالیتونه وو. چې مهم یې دغه کسان وو.

۱- جنرال عبدالرشید دوستم د جمهور رئیس د مرستیال او د دفاع وزارت د مرستیال په توګه.

۲- قره بیګ پنجشیري دکورنیو چارو معین چې د منشي عبدالمجید له استعفی وروسته ددغه وزارت سرپرست شو.

۳- جنرال آصف دلاور لوی درستیز.

٤- جنرال نبي عظیمي د دفاع وزارت مرستیال.

٥- عبدالواحد سرابي د ډاکټر نجیب مرستیال د ملي ستم تمایل درلودونکی د سوداګرۍ وزیر په توګه.

۶- تورن جنرال جیلاني باسري د پرچم دلي يو غړی او دبغلان ولايت د خاد رئيس د دفاع وزارت د تخنيکي معين په توګه.

۷- غلام رسول توپان د خاد د اتمي مرکزي حوزې رئيس (ملي امنيت) همدارنګه يو شمير روسي مشاورين چې پخوانۍ د نجيب الله له رژيم سره همکاري کوله د کابل د ائتلافي اداری په غوښتنه بيا کابل ته واستول شول، چې شمير يې اتلس تنو ته رسيده، د هغوی له جملې څخه پنځه تنو د ازبکستان په جمهوريت کې د کې جي بي د امنيت د کوميتې غړيتوب درلود او هغه يې کوله چې په کابل کې استخباراتي عمده ځانګې د پخوانې رژيم د پاتې شونو څخه فعالې کړي... دغه کسان عبارت وو له:

۱- ايرين ولانتين الکسويچ پخوا د نجيب الله ترجمان د دولتي امنيت وزير يعقوبي مشاور او په افغانستان کې د کې جي بي د کميټې رئيس ؤ چې د ډګر من په رتبه افغانستان ته راغی او تر تورنجنرالۍ پورې ورسيد. د رباني په دوره کې يې د مولوی فهيم د سشاور په توګه په دولتي امنيت کې کارکاوه. (فهيم د دولتي امنيت رئيس د دارالعلوم فارغ ؤ چې په جنرال فهيم مشهور دی، ژباړن)

۲- الکساندر اندريور، پخوا د کا جي بي مرستيال او په پنځم خاد کې په کابل کې مشاور، اوس د امنيت وزارت د پنځم رياست د رئيس ډاکتر عبدالله د مشاور په توګه. ۳- ليستوفکين د دولتي امنيت په وزارت کې د وسلو او مهماتو په چارو کې د کې جي بي د کميتې مرستيال، اوس د ملي امنيت او دفاع وزارت سکاد توغنديو مشاور، ٤- داروبيک بلاد ژاکنيويچ پخوا او اوس د خاد د نظامي رياست مشاور، ٥- بيک جان پخوا د لومړی اداری او دولتي امنيت په وزارت کې د دولسم رياست مشاور، اوس لومړی خاد په دولسم رياست کې د سرحداتو د ځانګې مسوول، چې د پاکستان او ايران په اړه دنده لري.

## ۲: له روسانو سره اړيکې او تړاو

د رباني اداری په خپلې خپلسری د يوی مالي او پوځي پشتوانې او ملاتړ ضرورت درلود. چې د ايران څخه پرته چې د طالبانو په مخالف لوری کې واقع دی له روسانو او هند سره هم دوی پيوستون درلود، له روسانو سره د رباني د اداری د چارواکو خبری اتری زياتره له روسيې څخه د مالي او سياسي ملاتړ د ترلاسه کولو په خاطر وی، ترکوم وخته چې رشيد دوستم افغانستان په شمال کې خپل تسلط ټينګ کړی ؤ، دغه اړيکې دوسره افشا نه وی، خو د شمال د جنبش له ماتې وروسته چې دوستم ترکيې ته وتښتيد زيات اختلافات رامنځ ته شول او د رباني اداری غوښتل پر مسکو تکيه يې د دوام او بقا سبب شي.

## د مسعود او رباني خپلسری:

د دغې اداری يوه بله عمده اشتباه د احمد شاه مسعود او برهان الدين رباني خپلسری وه، چې نه يوازې

په هیڅ تعهد او تړون پابند نه وو بلکې تل به یې یو طرفه دریځ غوره کاوه تر څو پر قدرت پاتې شي،...
پرپیمانونونه دریدل د دلو ترسنځ د داخلي جګړو د مهمو عواملو څخه شمیرل کیږي.

### اداری فساد او غیر مسولا نه کړه وړه:

د رباني اداره د غیر مسوولو افرادو په محور چې په اداري فساد او ملي خیانت تورن دي تر اوسه پورې دیوه مرکزي حکومت د نشتوالي له امله شر خپږي. دغه کسان نه یوازې دا چې جهادي څیرې نه دي بلکې د جمعیت اسلامي د غړیو په منځ کې د "مسعود کاوبایان" په نامه شهرت لري او د جمعیت اسلامي تګلاره او د سیاست کیلي یې په لاس کې ده، ددغو افرادو موقف د یې لاري توب او انحراف سبب شوی دی. چې د هیواد ملي منافع او څمکني بشپړتیا یې د تجزیې له خطر سره مخ کړې دی د افغانستان زیاتره مالي منابع چور ار خوړل شوي دي او د دوی په بانکي حسابونو کې په امریکا، اروپا او عربي هیوادونو کې سرمایه ګزاري شوي دي.

## د برهان الدین رباني د دوری خپرونی

د خپروني نوم: *ارشا دنسوان*
د خپریدو کال او ځای: لومړی دوره (د امان الله خان دوری ته رجوع وکړی)
دوهم پړاو ۱۳۷۳ لمریز لرم/۱۹۹٤م اکتوبر، کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د نسوان عالي موسسه، مسوول مدیر: لیلا صراحت روشنی، شمیر: زر ګنی، د خپروني نوعیت: میاشتني جریده، یورنګ، ۸ مخونه، تصویری، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۴۲X۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: ۱۳۷۵لمریز تله: ۱۹۹٦اکتوبر، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي، ادبي اود ښځو د حقوقو، ژوند او فعالیتونو په اړه لیکنې.
د خپروني نوم: *انیس*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپروندی:؟، سرمحرر: عبدالرسول قرلق، شمیر:؟، د خپروني دول: ژبه: ؟، کچه: د خپروني د کار پای: تله ۱۳۷۵ لمریز/ اکتوبر ۱۹۹٦م، منځپانګه:؟،
د خپروني نوم: *اخوت*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او امتیاز: د اسلامي اخوت او صلح جبهه، مسوول مدیر: ؟، شمیر: ؟،
دخپروني دول: اونیزه جریده ژبه: پښتو او دری.
د خپروني نوم: *اردو*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دفاع وزارت، مسوول

مدیر: ډګروال غلام فاروق، شمیر:؟، د خپرونی دول: دری میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری.
د خپرونی نوم: *آواز*
دخپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان رادیو تلویزیون، میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری.
د خپرونی نوم: *بالا حصار*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹٦م، کابل، خپرندوی او امتیاز:؟، مسوول مدیر: ؟، شمیر:؟، د خپرونی دول: اونیزه جریده.
د خپرونی نوم: *پولیس*
خپرونی دول: مجله، مسوول مدیر: ډګروال نثار احمد نوری
د خپرونی نوم: ترجمه
دخپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او امتیاز: د امام غزالی فرهنګی بنیاد، مسوول مدیر: انجنیر عبدالرحیم احمد پروانی، شمیر:؟، نوعیت: میاشتنی مجله.
د خپرونی نوم: *جوانان مسلمان*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او امتیاز:؟، مسؤول مدیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی جریده، شمیر:؟، ژبه: پښتو او دری، کچه: د خپرونی د کار پای:؟، محتوی: یادونه:
د خپرونی نوم: *جوانان*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د ځوانانو اسلامی اتحادیه، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونی دول: ؟، ژبه: دری او پښتو، کچه: د خپرونی د کار پای:؟، محتوی:
د خپرونی نوم: *دریغ*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند: ډاکتر عبدالرحمن، شمیر:؟، د خپرونی دول: اونیزه جریده. د وروسته بیا په اونی کی دری ځله شوه.
د خپرونی نوم: *دفاع*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د دفاع وزارت، مسؤول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونی دول:میاشتنی، ژبه: پښتو او دری، کچه:؟، د خپرونی د کار پای: منځپانګه: سیاسی، فرهنګی او پوځی مطالب.
د خپرونی نوم: *ژوندون*
د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د لیکوالو تولنه، مسؤول مدیر: اسحق ننګیال، شمیر:؟، د خپرونی دول:؟، ژبه: پښتو او دری، کچه:؟، خپرونی د کار پای: ۱۳۷۵ لمریز تله ۱۹۹٦م اکتوبر، منځپانګه: ادبی مجله.
د خپرونی نوم: *سپیده*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹٦م، کابل، خپرندوی او دامتیاز خاوند: هفته نامه کابل، مسوول مدیر: عبدالرزاق مامون، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری، کچه: ؟، شمیر: ؟، دخپرونې دکار پای: ؟، محتوی: سیاسی، اجتماعی او ادبی.

د خپرونې نوم: *سینا*

د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسؤول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی خپرونه، ژبه: دری.

د خپرونې نوم: *شهر*

د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او دامتیاز خاوند: جمعیت اسلامی، مسؤول مدیر: عبدالرحیم پروانی، شمیر: د خپرونې ډول: میاشتنی خپرونه، ژبه: پښتو او دری.

د خپرونې نوم: *صبح امید*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: عبدالعلی دانشیار، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی خپرونه، ژبه: دری او پښتو، کچه:؟، د خپرونې دکار پای:؟، منځپانګه: ادبی، سیاسی، اقتصادی او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *فریاد عصر*

فریاد عصر یوه ازاده ملی جریده وه چې په پښتو او دری ژبه یې خپرونې کولې په ۱۳۷۳ یې په خپرونو پیل وکړ او کابل ته د طالبانو په رسیدو (د۱۳۷۵ میزان) له نشره پاتې شوه. څه وخت د تحریر هیأت له خوا رهبری کیده او وروسته یې فدا محمد فایض مسؤول مدیر و.

د خپرونې نوم: *قلم در خدمت جهاد*

دخپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: صفی الله ثبات، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، یا فصلنامه، ژبه: دری او پښتو.

د خپرونې نوم: *دکمکیانو انیس*

د خپریدو کال او ځای:؟، خپرندوی او دامتیاز خاوند: انیس ورځپانه، مسوول مدیر: طیبه سهیلا، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله،ژبه: پښتو او دری.

د خپرونې نوم: *کابل تایمز*

د خپریدو کال او ځای:؟، خپروندی او د امتیاز خاوند:؟ مسوول مدیر: شکوری، شمیر:؟، د خپرونې ډول:؟، ژبه: انګلیسی.

د خپرونې نوم: *المومنات*

دخپریدو کال اوځای:۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، مشهد، ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹۵م، په کابل کې

۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م مشهد، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د ښځواسلامي نهضت، امنه افضلي، مسوول مدیر: ضیأ گل سلطاني، شمیر: دوه زره گڼې، د خپروني ډول: سیاشتنی خپرونه دوه رنگه، اته مخونه، ژبه: دري، کچه: ۴۲X۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: نامنظمه دوام لري. منځپانگه: اجتماعي، سیاسي، ادبي او په ټولنه کې د ښځو د دریځ په اړه لیکنې، یادونه:

د خپروني نوم: *مهد*

د خپریدو کال او ځای: خپرندوی او د امتیاز خاوند:؟، مسؤول مدیر:؟، شمیر: ؟، د خپروني نوعیت: میاشتني خپرونه، ژبه: دري او پښتو، کچه:؟، د کار پای: منځپانگه: د ښځو په اړه مطالب، اجتماعي، ادبي.

د خپروني نوم: *میثاق خون*

د خپریدو کال او ځای: لومړی پړاو په پیښور کې (د جمعیت اسلامي افغانستان خپروني بحث ته وروگرځي) دوهم پړاو: ۱۳۷۴لمریز/ ۱۹۹۵م، کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان جمعیت اسلامي، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپروني ډول: میاشتنی مجله، ژبه: دري، پښتو.

د خپروني نوم: *سیرمن*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، کابل، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د نسوان عالي موسسه، مسوول مدیر: حواسلگي، شمیر: زرگڼې، د خپروني ډول: دري میاشتني مجله، ژبه: دري او پښتو، کچه:؟، دخپروني د کارپای: ۱۳۷۵ لمریز تله/۱۹۹۶م اکتوبر، محتوی: سیاسي، اجتماعي، ادبي او ذوقي.

د خپروني نوم: *هفته نامه کابل*

د خپریدو کال او ځای: خپرندوی او دامتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: عبدالرزاق مامون، شمیر:؟ د خپروني ډول: اونیزه جریده، تصویري: ژبه: پښتو او دري، کچه:؟، د خپروني د کار پای:؟، محتوی: سیاسي، ادبي، ټولنیزه، یادونه:؟

د خپروني نوم: *هیواد*

د خپریدو کال او ځای: مسوول مدیر: اجرالدین اقبال، د خپروني ډول: ورځپاڼه، تصویري، ۸ مخونه، ژبه: پښتو اودري.

د خپروني نوم: *میزان*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م، نوی ډیلي هند، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په نوی ډیلي کې

د افغانستان د اسلامی دولت د سفارت فرهنگی روابط، مسوول مدیر: فضل الرحمن فاضل، شمیر: ۲-۳ زره گنی، د خپرونی ډول: میاشتنی خبری جریده، یورنگ، له ۸-۱۲ مخونو، ژبه: پښتو او دری، کچه: لویه ۵۰x۳۵ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: د افغانستان د سفارت فعالیتونه، د استاد ربانی ویناوی، د جمعیت اسلامی او احمد شاه مسعود اعلامیی، فرهنگی، تاریخی تحلیلی مقالی، یادونه: دغه خپرونه د خپل سیاسی تمایل څخه بیله د درنی او ښی محتوا درلودونکیو خپرونو څخه شمیرل کیږی.

# په نړۍ کې د افغانانو خورې ورې خپرونې
## د طالبانو له دورې څخه تر اوسه

د خپرونې نوم: *آشتی*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۶لمریز/۱۹۹۷م، پېښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د تعاون مرکز، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: اختصاصي سیاشتنی، جریده، دوه رنګه، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۹X۴۲ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ۱۳۷۷/۱۹۹۸م، منځپانګه: په افغانستان کې د مختلفو ارخونو ترمنځ د اختلافاتو د لرې کیدو او تفاهم په اړه مقالې.

د خپرونې نوم: *آینده افغان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، امریکا، خپرندوی او امتیاز:؟، مسؤول مدیر: نثار احمد زوری، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله په شل مخونوکې، ژبه: دري، کچه: ۲۱X۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري: منځپانګه: ټولنیز، فرهنګي او سیاسي مطالب.

د خپرونې نوم: *آیینه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، اسلام آباد، د امتیاز خاوند: د ملګروملتو سازمان نمایندګي، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: مجله (فصلنامه) ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: مقالې، شعرونه، داستان، مرکې او راپور.

د خپرونې نوم: *آیینه فرهنګ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹۶م، فرانسه، خپرندوی: د افغانستان د فرهنګ ټولنه، نوعیت: نامنظمه میاشتنی مجله، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، محتوی: سیاسي، ادبي او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *ارشاد*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳۷۷ لمریز لیندی/۱۹۹۸م نومبر، پېښور، پاکستان، خپرندوی او امتیاز: د بلخ فرهنګي بنیاد، مسؤول مدیر: عبدالشکور واقف حکیمي، شمیر:؟، دخپرونې ډول: دري میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، دخپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: فرهنګي، ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *ارشاد النسوان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۶ لمریز/۱۹۹۷م، مشهد، خپرندوی: د افغانستان د ښځو د ارشاد اسلامي

مرکز، مسوول مدیر: افسانه نوشین ناکبر زاده، شمیر:؟، د خپرونی دول: اخباری جرید، چاپ زیراکس، کچه:؟، ژبه: دری، د کار پای: دوام لری، محتوی: سیاسی او د ښځو په باب مقالی.

د خپرونی نوم: *اطلاعات*

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۶۷لمریز زمری/۱۹۸۸جون، پیښور، خپرندوی: د امریکا کلتوری سرکز، مسوول مدیر:؟ شمیر: دوه زره ګنی، د خپرونی دول: سیاشتنی جریده، تصویری، دوه رنګه، کچه: ۳۶X۲۵ سانتی متره، ژبه: پښتو او دری، د کار پای: دوام لری. منځپانګه: اخبار، معلوماتی مقالی، او د افغانستان په اړه د بهرنیو خبریالانو، راپورونه.

دغه خپرونه د افغانستان په اړه د امریکا د رسمی نظر او دریځونو ترجمانه ده.

د خپرونی نوم: *اعتصام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۸م، تهران، خپرندوی: د حزب وحدت د نمایندګی شوری، مسوول مدیر: فکرت، شمیر:؟ د چاپ دول: زیراکسی، کچه: ۳۰X۲۱ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای: یوه ګنه خپره شوه، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: ***افغان رویو (بررسی) Afghan Review***

د خپریدو کال او ځای ۱۳۷۸ میزان/۱۹۹۹م اکتوبر، نیویارک خپرندوی: افغان محصلین، مسؤول مدیر: خانزاده عبدالوحید عزیزی، علی قایض او سید عظیم سادات، دول: مجله (فصلنامه)، مصوره، رنګه، شمیر:؟، ژبه: انګلیسی، دری، پښتو، د کار پای: دوام لری، منځپانګه: اجتماعی، ادبی.

د خپرونی نوم: *امروز*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، مسکو، خپرندوی او مسوول مدیر: فیض پرویز، شمیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی، ژبه: دری، د خپرونی د کار پای: دوام لری، محتوی: سیاسی.

د خپرونی نوم: *امین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز جوزا/۱۹۹۸م می، مشهد، ایران، خپرندوی او د امتیاز خاوند: ادبی، تولنیزه او فرهنګی تولنه، مسوول مدیر: سید اسحق شجاعی، شمیر:؟، د خپرونی دول: میاشتنی مجله، رنګه، تصویری، ۸۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: د افغانستان او نورو هیوادونو د ادبی او فرهنګی مختلفو ابعادو په اړه تحلیلی مقالی.

یادونه: دغه خبرونه د معیاری خصوصی خپرونو څخه شمیرل کیږی.

د خپرونی نوم: *انه‌یوال*

د خپریدو کال اوځای: ۱۳۷۸لمریز/۱۹۹۹م ویرجنیا – امریکا، د امتیاز خاوند: ؟، مسوول مدیر: قدیر کبیر سراج، شمیر:؟، د خپرونی دول: نامنظمه میاشتنی جریده د طنز په ژبه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتی متره،

د خپروني د کار پاى: دوام لري، محتوى: د ژورناليزم په معيار په تيته سطحه کي ده چي مقالي پکي د تفنن په خاطر ليکل کيږى.

د خپروني نوم: *بامیان*

د خپريدو کال او ځاى: ۱۳۵۷لمريز/۱۹۹۸م قم، خپرندوى: نوروز على حميدى، مسوول مدير: نعمت الله صادقي او دين محمد جاويد، شمير:؟، د خپروني ډول: مياشتني مجله، ژبه: درى، د کار پاى: دوام لري، منځپانګه: سياسى، اجتماعى.

د خپروني نوم: *بخوان و بدان*

د خپريدو کال او ځاى: ۱۳۷٦ لمريز سلواغه/۱۹۹۸م فبرورى، نيويارک - امريکا، خپرندوى او د امتياز خاوند: نه لري، مسؤول مدير: انجنير کبير نظامى، شمير:؟، د خپروني ډول: دوه مياشتني مجله، رنګه پښتى، ٦۰ مخونه، ژبه: درى او پښتو، کچه:۲۱x۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پاى: دوام لري، منځپانګه: اسلامى، ملي او اجتماعي مقالي.

د خپروني نوم: بشر

د خپريدو کال او ځاى: ۱۳۷۷لمريز کب/۱۹۹۹م جنورى، پيښور، خپرندوى او دامتياز خاوند: دافغانستان د بشر د حقوقو کميسون، مسوول مدير: کوتوال - ؟، شمير: زرګنى، د خپروني ډول: ناسنظمه مياشتني جريده، يورنګ، ۸ مخونه،ژبه: درى او پښتو او انګليسى،کچه: ۳۰x٤۲ سانتي متره، د خپروني د کار پاى دوام لري، منځپانګه: د بشر د حقوقو سازمان راپورونه او د افغانستان په تولنيزو مسايلوکي مقالي.

د خپروني نوم: بشير

د خپريدو کال او ځاى: ۱۳۷٦لمريز/۱۹۹۷م، تهران، خپرندوى:؟، د چاپ ډول: زيراکس، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، ژبه: درى، د کار پاى:؟، محتوى: سياسى.

د خپروني نوم: *بلاغ* ***The Balagh***

د خپريدو کال او ځاى: ۱۳۷۵لمريز/۱۹۹٦م، پيښور، خپروندى او د امتياز خاوند: مکتب توحيد: انجنير زمان جهاد، مسوول مدير: محمد عمر صافي، شمير:؟، د خپروني ډول: نامنظمه خپرونه، تصويرى، ٤ مخونه، ژبه: انګليسى، کچه: ۲۹x٤۲ سانتي متره، د خپروني د کار پاى: دوام لري، محتوى: د افغانستان په اړه را پورونه اوخبرونه.

د خپروني نوم: *بلاغ*

د خپريدو کال اوځاى: ۱۳۷٦لمريز/۱۹۹۷م، قم، خپرندوى: د افغانستان د ليکوالو شورى، مسوول مدير:؟، شمير:؟، د چاپ ډول: رقعي چاپي، ژبه: درى، د کار پاى: دوام لري، منځپانګه: سياسى اجتماعي او ادب.

د خپرونی نوم: *بلاغ*

د خپریدو کال او ځای: ؟، قم، ایران، خپرندوی: د امام صداق فرهنگی بنیاد، مسوول مدیر: طلاب جاغوری، شمیر:؟، د چاپ ډول: زیراکس، ژبه: دری، کچه: ۳۰x۲۱ سانتی متره، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی او تولنیزه.

د خپرونی نوم: *بلخ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، دوشنبه، تاجکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند، په تاجکستان کی د افغانستان مهاجرین، مسوول مدیر: نه لری، شمیر: ۱۵۰۰ ګنی، د خپرونی ډول: خبری ریوټ اونیزه، ۸-۱۲ مخونه، دوه رنګه، ژبه: دری، کچه: ۳۰x۲۰ سانتی متره د خپرونی د کار پای: نامنظمه دوام لری، منځپانګه: د افغانستان اوسیمی په اړه مقالی او راپوړونه.

د خپرونی نوم: *پامیر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، تهران، خپرندوی: په تهران کی افغانی مسلمان محصلین، مسوول مدیر: باقر محقق او سردار محمد رحیمی، شمیر:؟، د خپرونی ډول: میاشتنی/دوه میاشتنی/دری میاشتنی مجله، ژبه: دری، د کار پای: دوام لری، منځپانګه: سیاسی، تولنیز، ذوقی او روزنیز مطالب.

د خپرونی نوم: *پرستو*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹۶م، مسکو خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان آزاد فرهنګیان، مسوول مدیر: حضرت وهریز، شمیر:؟، د خپرونی ډول: میاشتنی مجله چاپی، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۳۰x۲۰ سانتی متره، د کار پای: دوام لری، منځپانګه: سیاسی او تولنیزه.

د خپرونی نوم: *پرستو ها*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، مشهد، خپرندوی: د خویندو آزاده فرهنګی خپرونه، مسوول مدیر: بتول سرادی، شمیر:؟، د چاپ ډول: زیراکس، کچه: ۳۰x۲۰ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی او اجتماعی.

د خپرونی نوم: *پګاه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز لیندی/۱۹۹۸م نومبر، تورنتو کانادا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: الحاج پیکار پامیر، مسوول مدیر:؟، شمیر: زر ګنی، د خپرونی ډول: میاشتنی مجله په پنځوس مخونو کی، ژبه: دری، کچه: ۳۰x۲۱ سانتی متره، تصویری، د خپرونی د کار پای: دوام لری، محتوی: ذوقی مطالب فرهنګی او تولنیزی لیکنی، یادونه: دغه خپرونه د ظاهر شاه د پلویانو ده.

د خپرونی نوم: *پیام استقلال*

د تأسیس کال او ځای: ۱۳۷۶لمریز/۱۹۹۷م، تهران، خپرندوی: د سید جمال الدین افغان تولنه، مسوول

مدیر: دانش بختیاری، شمیر:؟، د خپرونې ډول: اخباری اونیزه چاپي، کچه: ۴۲X۳۰ سانتي متره، ۸مخونه، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *پیامبر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز پسرلی/۱۹۹۸ مارچ قم، ایران، خپروندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اسلامی انقلاب د هنر او ادبیاتو دفتر، مسوول مدیر: عزیز حامدی، شمیر:؟، د خپرونې ډول: دری میاشتنی مجله، یورنګ، ۳۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟، منځپانګه: اجتماعي او ادبي مقالې، شعر او داستان.

د خپرونې نوم: *پیام صبا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، پیښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د خوېندو تعلیمي او فرهنګي مرکز، مسوول مدیر: لیکنی هیأت، شمیر: زر ګڼې، د خپرونې ډول: فصلنامه دری میاشتنۍ، یورنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د مؤسسینو د شورى اجتماعي فرهنګي او روزنیزه خاصه خپرونه.

د خپرونې نوم: *پیام مجاهد*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، پروان، افغانستان خپرندوی: د نظار شورى، مسوول مدیر: فرهنګي کمیته، شمیر: ؟، د خپرونې ډول: اونیزه، رقعي، فوتوکاپي چاپ، سنجاقي، کچه، ۲۹X۲۱ سانتي متره، ژبه: دری، محتوی: سیاسي.

د خپرونې نوم: *پیغام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸لمریزغبرګولی/۱۹۹۹م جون نوی ډیلي، هند خپرندوی او د امتیاز خاوند: د شهید علامه بلخي فرهنګي ټولنه، مسوول مدیر: شاه عبدالقدیر دلیری، شمیر: یوزراوپنځه سوه ګڼې د خپرونې ډول: میاشتنۍ، یو رنګ، تصویری، ۱۲ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۴۲X۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، محتوی: اجتماعي، فرهنګي، سیاسي مسایل.

د خپرونې نوم: *پیغام*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، اسلام آباد، پاکستان، د امتیاز خاوند: د ملګروملتونو نمایندګي، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنۍ مجله، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبرونه او راپورونه.

د خپرونې نوم: *پیمان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸لمریز وږی/۱۹۹۹سپتمبر امریکا، د امتیاز خاوند: داکتر عنایت الله شهرانی، مسوول مدیر: محمد رحیم عابدی، د خپرونې ډول: فصلنامه مجله.

د خپرونې نوم: *تعاون*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۱لمریز/۱۹۹۲م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د تعاون (متا) مرکز، مسؤول مدیر: لیکنې هیأت، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: دوه میاشتنی اختصاصی مجله، دوه رنګه، ۱۲۰مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۳X۱۶ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه په فرهنګې او ټولنیزو برخوکې د بیاودانولو په اړه تحلیلی مقالې.

د خپرونې نوم: *جوانان مهاجر*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸لمریز/۱۹۹۹م، مشهد، خپرندوی: د افغاني مهاجرینو کانون، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د چاپ دول: زیراکس، کچه: ۲۱X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، دکار پای: دوام لري: محتوی: سیاسی.

د خپرونې نوم: *حدیقه*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷٦لمریز د غبرګولی ۱۹۹۸/۱۳د جون ۳مه پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند د حکیم سنایي د ټولنې خپرنی ارګان، مسوول مدیر: عبدالباقي هیله من غزنوی، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: آزاده میاشتنی جریده (خبری) یورنګ، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹X٤۲ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: همدغه کال له دری ګنو خپریدو وروسته، منځپانګه: عرفانی، ادبی او ټولنیزې ناپیلې لیکنې.

د خپرونې نوم: *د حق لاره*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، پراګ، چک، خپرندوی او دامتیاز خاوند: آزاده اجتماعی، فرهنګی خپرونه، مسوول مدیر: داکتر صلاح الدین سعیدی، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی نامنظمه خپرونه، فوتوکاپي چاپ، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې دکار پای:؟، منځپانګه: ټولنیزې او سیاسی لیکنې.

د خپرونې نوم: *خواهران*

د خپریدوکال اوځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م پیښور، د امتیاز خاوند: د افغانستان د ښځو سازمان، مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري. منځپانګه: د افغانستان او نړۍ د ښځو د حقوقو په اړه سیاسی لیکنې.

د خپرونې نوم: *در دری*

د خپرونې کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز پسرلی/۱۹۹۷م مارچ، مشهد، ایران، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د لیکوالو فرهنګی مرکز، مسوول مدیر: سید ابو طالب مظفری، شمیر:؟، د خپرونې دول: دری میاشتنی مجله، رنګه، پښتې، ۱٦۰مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: دوام لري، منځپانګه: ادبی مقالې، شعر، داستان، رمان، هنر او د افغانستان د ټولنیزو مسایلو په اړه لیکنې، یادونه:

دغه موسم نامه په اختصاصي خپرونوکي د معیاري خپروني په حیث گڼل کیږي.

د خپروني نوم: *رنگین کمان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: راز محمد دلیلی، مسوول مدیر: خواجه غلام جیلاني شبل، شمیر: زرگنی، د خپروني ډول: سیاشتنی مجله، رنگه پښتی تصویري، ٤٤ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۲۰X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانگه: اجتماعي، اسلامي مقالي، شعر، کارتون، اود ماشومانو لپاره مطالب.

د خپروني نوم: *روزنه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز کال پای/۱۹۹۹م جنوري، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د افغانستان د ښځو له حقوقو څخه د دفاع کمیټه، مسوول مدیر:؟، شمیر: دوه زره، د خپروني ډول: خبري ربوټ میاشتني، یورنگ، ۸ مخونه، ژبه: دري، کچه: ۳۰X٤٥ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانگه: د افغانستان او د ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو په اړه مقالي.

د خپروني نوم: *رویداد*

پیلیز کال اوځای: ۱۳۷۷ لمریز وږی/۱۹۹۸م سپتمبر، امریکا خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: عنایت شریف، شمیر:؟، د خپروني ډول: پنځلس ورځنی مجله، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانگه: په ټولنیزو، سیاسي او فرهنگي برخوکي تحلیلي مقالي.

د خپروني نوم: *زرنگار*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٥م، کاناډا، د امتیاز خاوند: زلمی بابا کوهي، مسوول مدیر: مریم محبوب، شمیر:؟، د خپروني ډول: موسم نامه (دري میاشتني)، ژبه: دري، کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري.

د خپروني نوم: *زنان مهاجر*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، مشهد، ایران، خپرندوی او امتیاز: د ښځو ځانگړې ټولنیزه، فرهنگي آزاده خپرونه، مسوول مدیر: نوشین آکبر زاده، شمیر:؟، د خپروني ډول: دري میاشتني مجله(موسم نامه) یورنگ، ۲۰مخونه، ژبه: دري کچه: ۲۱X۲۹ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانگه: په اسلام او مدني ټولنوکي د ښځي د حقوقو او مقام په اړه لیکني، شعرونه او داستان.

د خپروني نوم: *زنگ تفریح*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، مشهد، خپرندوی: د گلشهر د ماشومانو خپرونه، مسوول مدیر: کاظم محقق، شمیر:؟، دچاپ ډول: زیراکس، کچه: ۲۱X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د خپروني دکار پای: دوام لري، منځپانگه: ذوقي، روزنیز.

د خپرونې نوم: *سباوون*
پیلیز کال او ځای: ۱۲٦۰لمریز/۱۹۸۱م، خپرندوی او امتیاز: له هیواده بهرداستادانو ملي او اسلامي اتحادیه، مسوول مدیر:؟ شمیر:؟، ډول: نامنظمه سیاشتنی اخباری، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۰X۳۰ سانتي متره، دکار پای: هماغه کال، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او را پوروونه.
د خپرونې نوم: *سباوون*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲ لمریز/۱۹۹۳م کلیفورنیا، امریکا، خپرندوی او مسوول مدیر: عبدالقیوم مومند، د خپرونې ډول: مجله فصلنامه (موسم نامه) تصویری پښتي یورنګ، ٤۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۸X۲۱ سانتي متره، دکار پای: دوام لري، منځپانګه: فرهنګي، اجتماعي او سیاسي مجله.
د خپرونې نوم: *سباوون زیری*
د خپریدو کال اوځای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، پیښور، خپرندوی او امتیاز: د مخلصو مهاجرینو او مجاهدینو د ارمانونو بیانونکي، مسوول مدیر: مجددي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه جریده، دوه رنګه، ٦ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۲X۳۰ سانتي متره، د خپرونې دکار پای: ۱۳٦۷لمریز/۱۹۸۸م، د دری ګڼو له خپریدو وروسته، منځپانګه: سیاسي مقالې د افغانستان اخبار.
د خپرونې نوم: سحر
پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، پیښور، خپرندوی:؟، مسوول مدیر: محمد آصف معروف، شمیر:؟، نوعیت: مجله سیاشتنی، تصویری، ۵۰ مخونه، رنګه پښتي، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، ژبه: پښتو او دری، دکار پای:؟، محتوی: روزنیز، اطلاعاتي او ذوقي مطالب.
د خپرونې نوم: *سهار*
پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۵ لمریز د عقرب ۲۸ مه/۱۹۹٦م د نومبر ۱۸ مه، پیښور، خپرندوی او د امتیاز خاوند: حاجي محمد نعیم مصطفی حسین خیل/سهار موسسه، مسوول مدیر او سرمحرر: محمد زبیر شفیقي، د خپرونې ډول: ورځپانه، کچه: ۵۸X٤۱ سانتي متره، ٤ مخونه، یورنګ، شمیر: ۳۰۰۰-٤۰۰۰ ګڼې، ژبه: پښتو او دری، د خپرونې دکار پای: دوام لري، منځپانګه: د هیواد اسلامي نړۍ او نړۍ په اړه سیاسي معلوماتي مقالې، خبرونه او راپورونه، د ځوانانو، شعر او ادب، سپورت او اسلامي مطالبو لپاره ځانګړې پاڼې، سیاسي او ادبي مرکې او نور...
یادونه: سهار ورځپانه د افغانستان په وروستي اوسني تاریخ کې د هیواد په سطحه یوازینې ورځپانه ده چې تردرې کالو زیاته موده پرله پسې هره ورځ خپریږي او د هجرت په چاپیریال برسیره د هیواد زیاترو ښارونو ته رسیږي، دغه ورځپانه د محتوی په لحاظ یو ځانګړی وزن لري او د ملي ورځپانې په حیث مختلفو سیاسي او پوځي ډلو ترمنځ بې پرې پالیسي لري، سهار ورځپانه د هیواد د ملي وحدت د تامین، د خمکنی بشپړتیا، خپلواکۍ، او د هیواد د عظیمي قرباني او جهاد د دفاع په اړه خپرونې کوي، سهار ورځپانه د با محتوی خپرونو له جملې څخه ده. (ژباړن)

د خپرونې نوم: *سروش*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز سلواغه/۱۹۹۹ جنوری، پېښور – پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند او مسوول مدیر: خواجه جاوید (شبل غوری) شمیر: زرګنې، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، فصلنامه، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، شل مخونه، د خپرونې د کار پای: دوام لري، محتوی: د ښوونځی د زده کوونکو د تعلیمي سطحې د لوړلو لپاره مقالې.

د خپرونې نوم: *سروش کودکان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، پېښور، مسوول مدیر: جاوید، شمیر:؟، د خپرونې ډول: تصویري میاشتنی مجله، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، ژبه: دری او پښتو، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: اطلاعاتي، روزنیزه او ذوقي.

د خپرونې نوم: *شبخند*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، پېښور، خپرندوی: محمود بهزاد، مسوول مدیر: لالا برفک، شمیر:؟، نوع: نامنظمه میاشتنی مجله، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، ژبه: دری او پښتو، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: اجتماعي او طنزي لیکنې.

د خپرونې نوم: *شعار مبارز*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۶۱ لمریز/۱۹۸۲م، پېښور،

خپرندوی او د امتیاز خاوند: مولوی محمد غلام، مسوول مدیر: زرک عابد، شمیر: ۵۰۰ ګنې، د خپرونې ډول: میاشتنی خبري جریده، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰x۵۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای هماغه کال د دری ګنو له خپریدو وروسته، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او خبرونه.

د خپرونې نوم: *شمس النهار*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۵۹ لمریز/۱۹۸۰م، خپرندوی او امتیاز: د سرتیرو تولنه، مسوول مدیر: خان محمد وزیر وال، شمیر:؟، د خپرونې ډول: خبري جریده، ژبه: دری او پښتو، کچه: ۲۱x۲۹ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: د یوې ګنې له خپریدو وروسته هماغه کال، منځپانګه: د افغانستان خبرونه او مضامین.

د خپرونې نوم: *شګوفه ها*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۲ لمریز/۱۹۹٤م، هرات،

خپرندوی: وحدت مدرسه، نوع: موسم نامه، نامنظمه رقعي، زیراکس چاپ، کچه: ۲۱x۳۰ سانتي متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: اجتماعي او سیاسي.

د خپرونې نوم: *شمع*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، کویټه، خپرندوی: د محصلینو تولنه، مسوول مدیر: عبدالواحد

صابری، شمیر:؟، د خپرونې ډول: نامنظمه چاپي جریده، ٤-۸ مخونه، کچه: ۵۰x۳۰ سانتي متره، ژبه: دري او پښتو، د کار پای: هماغه د پیل کال له څلورو ګڼو وروسته، محتوی: سیاسي او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *شهر*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، مسوول مدیر: لطیفه سعیدی.

د خپرونې نوم: *صبح آیندګان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۳لمریز/۱۹۹٤م، مشهد، خپرندوی: د حزب وحدت پلویان، ډول: جریده، نامنظمه، چاپ: زیراکسي، کچه: ٤۵x۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: دري ګڼې خپرې شوې، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *صداقت*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، کویټه، ناشر: مسوول مدیر:؟، شمیر:؟، ډول: مجله، چاپي، کچه: ۳۰x۲۱ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي او اجتماعي.

د خپرونې نوم: *صدای امروز*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، پېښور، خپرندوی: آزاده خپرونه، مسوول مدیر: اسماعیل اکبر، شمیر:؟، د خپرونې ډول: اونیزه، پنځلس ورځنۍ جریده، چاپي، ٤ مخونه، کچه: ٤۵x۳۰ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي او ټولنیز مطالب.

د خپرونې نوم: *صدف*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، مسکو، روسیه، مسوول مدیر: سعید ورکزی، ډول: نامنظمه مجله، کچه: ۳۰x۲۱ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کارپای:؟، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي، ذوقي.

د خپرونې نوم: *صدف*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز سنې/۱۹۹۷م اکتوبر، پېښور، خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان د تعاون مرکز، مسوول مدیر: هما ظفر او خالده فروغ، شمیر:؟، د خپرونې ډول: دري میاشتنۍ مجله، رنګه پښتي، ژبه: دري او پښتو، کچه: ۲۹x۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟، منځپانګه: یه ټولنه کې د ښځو د حقوقو او اجتماعي لیکنې.

د خپرونې نوم: *صراط*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، قم، خپرندوی، د شهید مزاری موسسه، مسوول مدیر: سرور دانش، شمیر:؟، د خپرونې ډول: میاشتنۍ مجله، چاپي، کچه: ۳۰x۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونی نوم: *صراط المستقیم*

پیلیزکال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، مشهد، خپرندوی:؟، مسوول مدیر: س، آزاد، شمیر:؟، د چاپ ډول: زیراکسی پنځلس ورځنی خپرونه، نامنظمه، کچه:۳۰x۲۱ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای: ؟، منځپانگه:سیاسی.

د خپرونی نوم: *غازی*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۶لمریز سرغوبی/۱۹۹۷م دسمبر، پیښور، پاکستان، خپرندوی او امتیاز: سید اقتدار علی مظهر، مسوول مدیر: سید فضل مولا لتون، شمیر:۲-۳ زره گنی، د خپرونی ډول: جریده/ورځپانه: په هفته کی له جمعی پرته هره ورځ خپریږی. ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۸x٤۱ سانتی متره، ٤ مخونه، د خپرونی د کار پای: ۱۳۷۸لمریز غوایی/۱۹۹۹ اپریل، د بودجی د کمبود په سبب (شپږمیاشتی بی خپرونو دوام درلود) محتوی: د افغانستان او نړی په اړه، خبرونه، سیاسی او اجتماعی مقالی، یادونه: دغه خپرونه په جلاډول په انگلیسی او اردو هم خپرونی لری.

د خپرونی نوم: *غنچی*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، قم، خپرندوی: د همبستگی خپرونی ضمیمه. مسوول مدیر: محمد حسین محمدی، شمیر:؟ د خپرونی ډول: نامنظمه چاپی، کچه: ۲۸x۱۸ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای: دوی گنی خپره شوه، محتوی: ټولنیزه ذوقی.

د خپرونی نوم:*فرهنگ*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز سرغوبی/۱۹۹۷م دسمبر، تورنتو، کانادا- خپرندوی او امتیاز: دافغانانو د اسلامی فرهنگ د ټولنی بنیاد، مسوول مدیر: محمد یوسف افروز، شمیر:؟، د خپرونی ډول: دوه میاشتنی مجله، دوه رنگه، تصویری، ٤۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۹x۲۱ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: اسلامی، روزنیزی ټولنیزی اوتاریخی مقالی.

د خپرونی نوم: *فرهنگ آریانا*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، دوشنبه، تاجکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په تاجکستان کی افغانی مهاجرین. سرمحرر:؟، شمیر: زر گنی، د خپرونی ډول: دری میاشتنی مجله، نامنظمه دری میاشتنی، دوه رنگه، ۵۰-٦۰ مخونه، ژبه: دری،کچه:۳۰x۲۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: فرهنگی، سیاسی او تاریخی مقالی.

د خپرونی نوم: *فریاد بی گناهان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز غوایی/۱۹۹۷م اپریل: آرلینگټون-امریکا، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان له ماشوماتو سره د مرستو موسسه، مسوول مدیر: ثریا سدید، شمیر:؟، د خپرونی ډول: دری میاشتنی جریده، یورنگ، ۱۲ مخونه، ژبه: دری او انگلیسی، کچه: ۲۹x۲۱ سانتی متره د خپرونی د کار

پای: دوام لري، منځپانګه: د افغانستان په اړه مقالې او د موسسې د فعالیتونو د سرسټو په جلبولو او په افغانستان کې پر ماشومانو د هغو دویش راپورونه.

د خپرونې نوم: *ګلبانګ*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، قم، دوحدت اونیزې ضمیمه، مسوول مدیر: محمد شریف سعیدي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: پنځس ورځنۍ جریده، چاپي، دوه رنګه، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کارپای: دوام لري، منځپانګه: ذوقي او ټولنیز مطالب.

د خپرونې نوم: *ګلستان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، اسلام آباد، خپرندوی: غلام حافظي، مسوول مدیر: فواد کبیر، شمیر: دوه زره ګڼې، د خپرونې ډول: دري سیاشتنۍ مجله، ژبه: دري، کچه: ۲۰X۱٤ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: ادبي، ټولنیزې مقالې او اشعار.

د خپرونې نوم: *مساوات*

پیلیز کال او ځای: ۱۳٤۵لمریز د مرغومي ۲۸مه/۱۹٦٦م دجنورۍ ۱۸مه دوهم پړاو/۱۳۷۷لمریز /۱۹۹۸م، پېښور، خپرندوی: د مترقي دیموکراتو د افکارو خپرندوی، مؤسس: شهید محمد هاشم میوندوال، مسوول مدیر: لیکنې هیأت، شمیر: زر ګڼې، ډول: اخباري جریده، نامنظمه فصلنامه، دوه رنګه، ۱۰ مخونه، کچه: ٤۲X۳۰ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي، تاریخي او ټولنیزې لیکنې.

د خپرونې نوم: *مستقبل*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۸لمریز غویی/۱۹۹۹م مي، پېښور، خپرندوی او امتیاز: د مؤسسینو شورا، مسوول مدیر: صفت الله قانت/ نصیر احمد نویدي شمیر: زر ګڼې، د خپرونې ډول: مجله، میاشتنۍ، تصویري، رنګه پښتې، ٥٤ مخونه، ژبه: دري او پښتو، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي، اجتماعي او ادبي.

د خپرونې نوم: *نجات*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، مزار شریف، اوس په قم کې خپرېږي، خپرندوی: د رسول اکرم(ص) فرهنګي موسسه، مسوول مدیر: سید محمد علي صادقي، شمیر:؟، د خپرونې ډول: چاپي او نیزه، په اتو مخونو کې، کچه: ٤٥X۳۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي د ایران د اسلامي انقلاب پیرو.

د خپرونې نوم: *ندای قلم*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز وری/۱۹۹۷م مارچ، پېښور، خپرندوی او امتیاز:؟،مسوول مدیر: دلیکوالو

ACKU

شوری تر نظر لاندې، شمیر:؟، د خپرونې دول: پنځلس ورځنۍ جریده، یورنګ، ۱٦ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۹X۲۱ سانتي متره، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: اسلامي او اجتماعي لیکنې، اشعار یادونه: آزاده او ناپیلې خپرونه.

د خپرونې نوم: *نقد و آرمان*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، ویرجنیا – امریکا، مسوول مدیر: ولي پرخاش احمدي، شمیر:؟، دول: مجله موسم نامه، چاپي په ۱٤۰ مخونوکې، کچه: ۲۱X۱٤سانتي متره، ژبه: دري او انګلیسي، د کار پای: دوام لري، محتوی: فرهنګي، سیاسي، ادبي.

د خپرونې نوم: *نوید بامداد*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٦م، پېښور، خپرندوی: د افغانستان د خلکو د همغږي کولو اتحادیه، مسوول مدیر: محمد آصف ضعیفي حسیني، شمیر:؟، د خپرونې دول: میاشتنۍ جریده، چاپي اخباري، کچه: ٤٥X۳۰ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسي.

د خپرونې نوم: *نینوا*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، مشهد، خپرندوی: د حزب الهي های افغانستان د انسجام شوری، مسوول مدیر: هروي او ع شیخ زاده، شمیر:؟، د خپرونې دول: چاپ فوتو کاپي، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، ژبه: دري، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي او اجتماعي.

د خپرونې نوم: *واژه*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹٤م، کانادا، خپرندوی: د افغانستان د فرهنګیانو ټولنه، مسوول مدیر: زلمي باباکوهي، شمیر:؟، د خپرونې دول: نامنظمه چاپي مجله، ژبه: دري، د کار پای:؟، محتوی: ادبي، سیاسي او تاریخي.

د خپرونې نوم: *وطن*

پیلیز کال او ځای: حمل ۱۳۷۸لمریز/۱۹۹۹م مارچ، پېښور، پاکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: د افغانستان د اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي اهدافو خپروونکې، مسوول مدیر: لیلا خرم، شمیر: زرګنې، د خپرونې دول: میاشتنۍ مجله، ٦۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۲X۳۰ سانتي متره، رنګه پښتې، تصویري، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: د اقتصاد، اجتماعي او نړیوالو مسایلو په اړه مقالې، اشعار، ادبي څېړنې او نور.

د خپرونې نوم: *هفت قلم*

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/۱۹۹٥م، هرات، خپرندوی: د هرات اطلاعات او فرهنګ، مسوول مدیر:

لیکنی هیأت، شمیر:؟، د خپرونی دول: فصلنامه مجله، چاپی، ۵۰ مخونه، کچه، ۳۰X۲۰ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای: ۱۳۷٦ لمریز/۱۹۹۷م، منځپانګه: ادبی هنری، احتماعی او تاریخی.

د خپرونی نوم: **همبستګی**

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، قم، خپرندوی: د شهید مزاری موسسه، مسوول مدیر: محمد صابر عرفانی، شمیر:؟، دول: ناسنظمه اونیزه زیراکسی چاپ، کچه: ۳۵X۲۵ سانتی متره، ژبه: دری، د کار پای:؟، منځپانګه: سیاسی.

د خپرونی نوم: **همبستګی**

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز سلواغه/۱۹۹۹ جنوری، دوشنبه، تاجکستان، خپرندوی او د امتیاز خاوند: په تاجکستان کی میشت افغان مهاجرین، مسؤول مدیر: داکتر محی الدین مهدی، شمیر:؟، د خپرونی دول: خبری رپوټ خپرونه، دوه میاشتنی، یو رنګ، ۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X٤٥ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانګه: د افغانستان د بحران په اړه اقتصادی او سیاسی مقالی.

د خپرونی نوم: **همبستګی**

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م، قم ایران.

## په المان کی د افغانانو خوری وری تلویزیونی خپرونی

*ارغوان*/ چلوونکی: همایون ثمر، ځای: هامبورګ، آلمان، وخت په دوو اونیو کی یو ساعت.

*افغان*/ چلوونکی: د افغانستان د کمونستی ډلو پلویان، ځای: هامبورګ.

*بامداد*/ ځای: هامبورګ، آلمان

*جرګه*/ ځای: هامبورګ، آلمان

*پیام*/ چلوونکی: احمد جان احمدی پنجشیری، ځای: هامبورګ، محتوی: د شورای نظار پلوی توب.

*رنګین*/ چلوونکی: حیدر اختر، ځای: هامبورګ، محتوی: د مجاهدینو مخالف او دکین لاسو (شعله یانو) پلویان.

*هندوکش*/ چلوونکی: صالحه خالقی، ځای: هامبورګ، آلمان، محتوی: دیموکرات او دافغانستان د ملی وحدت پلویان.

## په نړۍ کې دول دول معاصرې خپرونې

د خپرونې نوم: *آرمان افغان*

د تأسیس کال او ځای: ۱۳۷۹لمریز سپرلی/۲۰۰۰م، مارچ – هیرلین – هالنډ، د امتیاز خاوند: د افغانانو ټولنیز او فرهنګي مرکز، مسؤل مدیر: علی اصغر دلیری. د خپرونې ډول: میاشتنی غیر منظمه خپرونه. ژبه: دری او هالنډي. کچه: ۳۰X۲۰سانتي متره. د کار پای:؟، محتوا: خبرونه او اجتماعي مقالې.

د خپرونې نوم: *آریانا*

کال او د تأسیس ځای: ۱۳۷۹لمریز/۲۰۰۰م سویډن، مسؤل مدیر: عبدالرسول رهین. د خپرونې ډول: مجله، فصلنامه، ۷۰ مخیزه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، د کار پای: دوام لري.

منځپانګه: علمي، فلسفي او تاریخي مطالب.

د خپرونې نوم: *آیینه*

د خپریدو کال او ځای: د ۱۳۷۹ لمریز کال حمل/۲۰۰۰م کال مارچ، د امتیاز خاوند: د افغاني پناهندګانو فدراسیون، مسوول مدیر: احمد عزیز زاده، د خپرونې نوعیت: میاشتنی، ژبه: دری د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي او ټولنیزه.

د خپرونې نوم: *آیینهٔ انکشاف*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۷۷م، پیښور، د امتیاز خاوند: د ایریا موسسه، په افغانستان کې د بیا جوړونې او انرژۍ د ساتنې د موسسې خپرنی ارګان، مسوول مدیر: عبدالرفیع کابلي. د خپرونې ډول: خبري خپرونه، دوه رنګه، څلور مخونه، ژبه: پښتو، دری او انګلیسي، کچه: ۳۰X۲۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري.

یادونه: په انګلیسي ژبه بیله خپریږي.

د خپرونې نوم: *ارشاد النسوان*

د خپریدو کال او ځای: جوزا ۱۳۷۹ لمریز/۲۰۰۰می، مشهد، ایران.

د خپرونې نوم: *اصالت*

دخپریدو ځای او کال: سنبله ۱۳۷۹لمریز/سپتمبر دوه زرم میلادي، پیښور، د امتیاز خاوند: ؟ سرمحرر: اسحق نیازمند، د خپرونې ډول: میاشتنی، دوه رنګه، د خپرونې د کار پای: دوام لري. منځپانګه: اسلامي، ملي خپرونه.

د خپرونې نوم: *افغان رساله* **Afghan Post**.

د خپریدو کال او ځای: لړم ۱۳۷۸لمریز/۱۹۹۹م نوامبر، انتاریو، کاناډا، د امتیاز خاوند: نه لري،

مسوول مدیر: احمد شاه هوتکی، د خپرونی دول: سیاشتنی، تصویری دوه رنگه، ۲۸ مخونه، ژبه: پښتو او دری/انگلیسی، کچه: ۳۰ x ۴۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای. دوام لری. منځپانگه: خبری، تحلیلی، تاریخی او فرهنگی.

د خپرونی نوم: *امر*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۹لمریز سنبله/ ۲۰۰۰ میلادی سپتمبر، د امتیاز خاوند: نهضت ملی افغانستان، مسوول مدیر: محمد آصف زاهد، د خپرونی دول: میاشتنی، څلور مخونه، ژبه: پښتو او دری/انگلیسی، کچه: ۳۰ x ۴۲ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری.

د خپرونی نوم: *امن*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز:۱۹۹۷م میلادی، د امتیاز خاوند: د اوو خیریه مؤسسه، مسوول مدیر: شیرخان رشتین، د خپرونی دول: مجله/فصلنامه، رنگه پښتی، تصویری، ۳۰ مخونه، ژبه: پتو او دری/انگلیسی، کچه: ۲۰ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: خبری - روزنیزه.

یادونه: رشتین، شیرخان په ۱۹۹۸ میلادی کال په یوه ترافیکی پیښه کی مړ شو.

د خپرونی نوم: *اندیشه*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷۹لمریز د زمری میاشت/ ۲۰۰۰م جولای، مشهد - ایران.

د خپرونی نوم: **پرمختگ**

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، پیښور، د امتیاز خاوند: افغان پرمختیایی تولنه، مسوول مدیر: سید هاشم فولاد، د خپرونی دول: مجله، فصلنامه، رنگه پښتی، تصویری، ٦۰ مخونه ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۰ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری - محتوی: خبری او روزنیزه راپورتاژونه.

د خپرونی نوم: *پیام وجدان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸ لمریز د مرغومی ۲۵مه/ ۲۰۰۰م د جنوری ۱۵مه، تورنتو، کانادا، مسوول مدیر: عبدالاحد ترکمنی، د خپرونی دول: نامنظمه، ژبه: دری.

د خپرونی دول: *تحریم ماین*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٤لمریز/ ۱۹۹۵م پیښور، د امتیاز خاوند: له ماین سره د افغانانو د مبارزی تولنه، مؤسس: سید آقا، د خپرونی دول: خبری بولتین، دوه رنگه، تصویری په څلورو مخونو کی، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۰ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: خبری - راپور، یادونه: دغه خپرونه جلا په انگلیسی ژبه هم خپریږی.

د خپرونی نوم: *توان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، پیښور، د امتیاز خاوند: د افغانستان د معیوبینو سرتاسری موسسه، د خپرونی نوعیت: دری میاشتنی خبری، راپور مجله، دوه رنگه، تصویری، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۰ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونی د کار پای: دوام لری، منځپانگه: راپورونه او مضامین.

د خپرونې نوم: *دریغ*

د خپریدو ځای او کال: دوهم خپرنې پړاو/۱۳۷۸لمریز لیندی/۱۹۹۹م نومبر، نوی ډیلی، هند، د امتیاز خاوند: نه لری. د مسوول مدیر: ډاکتر عبدالرحمن، د خپرونې ډول: سیاشتنی په اتو مخونو کی یو رنګ، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۲۵ x ۳۵ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: دوام لری. منځپانګه: سیاسی، تاریخی

د خپرونې نوم: *روشندلا ن*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م میلادی پیښور د امتیاز خاوند: د افغانستان د نابینایانو انجمن، مسوول مدیر: عبدالباقی بریال، د خپرونې ډول: مجله، فصلنامه، رنګه پښتی، ۲۰ مخونه، ژبه، پښتو او دری، کچه: ۲۰ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: دوام لری، منځپانګه: روزنیزی او ټولنیزی مقالی او راپورونه.

د خپرونې نوم: *الزهرا*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز/۱۹۹۷م، مشهد، حزب وحدت اسلامی، د آکبری څانګه، مسوول مدیر:؟، د خپرونې ډول: پنځلس ورځنی نامنظمه، ژبه: دری، کچه: ٤۲ x ۳۰ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ؟ منځپانګه: سیاسی او خبری مقالی.

د خپرونې نوم: *سراج*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م، قم، ایران، د امتیاز خاوند: د افغانستان د لیکوالانو فرهنګی مرکز، مسوول مدیر: سرور دانش، د خپرونې ډول: فصلنامه، دوه رنګه ۲۸۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۱۷ x ۲۳ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: دام لری، محتوی: سیاسی، فرهنګی، تاریخی مقالی.

د خپرونې نوم: *سلسلهء ادب و دانش برای کودکان و نوجوانان*

د خپرونې کال او ځای: ۱۳۸۰غبرګولی/د سی د میاشتی ۲۰۰۱م، د امتیاز خاوند: مرکز نشرات اسلامی صبور، تیراژ: دوه زره، ژبه: دری، کچه: ۲۱ x ۱٤ سانتی متره، رنګه پښتی، ۱٦ مخونه، محتوی: د ماشومانو لپاره ښوونی او روزنی مطالب.

د خپرونې نوم: *صدای اطفال*

د خپریدو کال او ځای: د جوزا ۱۱مه ۱۳۷۹لمریز/دجون لومړی ۲۰۰۰م کال د بلخ ولایت، افغانستان، د امتیاز خاوند:؟ د خپرونې ډول: اونیزه پیښ څلورو مخونو کی، ژبه: دری، د خپرونې دکار پای: له پنځلس ورځو راډیویی خپرونو وروسته د طالبانو په واسطه بنده شوه، یادونه: صدای اطفال پر اونیزی جریدی برسیره هره ورځ ماښام له پنځو بجونه وروسته د۱ دقیقی راډیویی خپرونه هم وه چی په مزار شریف کی خپریده.

د خپرونې نوم: *صدای زن*

د خپریدو کال او ځای: وری ۱۳۷۸لمریز/۱۹۹۹م سپتمبر، قم، ایران، د امتیاز خاوند: قنبر محمدی، مسوول مدیر: معصومه محمدی، د خپرونې ډول: مجله، فصلنامه، تصویری، ٦۰ مخونه، ژبه: دری، کچه: ۲۰x۳۰ سانتی متره، د خپرونې دکار پای: ؟ محتوی: ټولنیزی مقالی، په تیره افغانستان د ښځو په باره کی.

د خپرونې نوم: *هجرت*

د خپریدو ځای او کال: غوایی ۱۳۷۹لمریز/اپریل ۲۰۰۰م/کیف، اوکراین د امتیاز خاوند: نه لری،

مسوول مدیر: ع عاطفي، د خپروني ډول: نامنظمه، ژبه: پښتو او دري، منځپانګه: خبرونه، سیاسي، اجتماعي او فرهنګي مطالب.

د خپروني نوم: *فرهنګ انقلاب اسلامی افغانستان*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹۶م، تهران، دامتیاز خاوند، د افغانستان د فرهنګي انقلاب اسلامي څیړنیزه او خپرنیزه موسسه، مسوول مدیر: سیمین حسن زاده، د خپروني ډول: میاشتنی مجله، ژبه: دري، کچه: ۲۰×۳۰ سانتي متره، دخپروني دکار پای: څلور ګڼې خپره شوه، منځپانګه: سیاسي، تولنیزه.

د خپروني نوم: *فکر*

د خپریدو کال او ځای: جوزا ۱۳۷۹/۲۰۰۰م مي، پیښور، د امتیاز خاوند: نه لري، مسوول مدیر: مولوي محمد مختار مفلح د خپروني ډول: مجله، فصلنامه، دوه رنګه، ۴۲ مخونه، ژبه پښتو او دري، کچه ۲۰ × ۲۹ سانتي متره، د خپروني دکار پای: دوام لري. منځپانګه: ديني او روزنیز اجتماعي مطالب.

د خپروني نوم: *فقه*

د خپریدوکال او ځای: ۱۳۷۹لمریز غویی/۲۰۰۰م مارچ، کلیفورنیا، امریکا، مسوول مدیر: غني مجددي، د خپروني ډول: میاشتني مجله دوره رنګه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، د خپروني دکار پای:؟ منځپانګه: ديني مضامین.

د خپروني نوم: *کتیبه*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، پیښور، د امتیاز خاوند: د افغانستان د فرهنګي میراث د ساتنې ټولنه، مسوول مدیر: صبور الله سیاه سنګ، د خپروني ډول:،مجله، دري میاشتنی، رنګه پښتي، تصویري، ۳۰-۵۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۰-۳۰ سانتي متره، د خپروني دکار پای: وقفه يې دوام لري، منځپانګه: تاریخي خبرونه او ددې ټولنې د هیواد د داخلي فعالیتونو راپورونه.

د خپروني نوم: *کیوان*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۹ لمریز وری/۲۰۰۰ کال سپتمبر، پیښور، د امتیاز خاوند:؟، مسوول مدیر: محمد رحیم وحدت، د خپروني ډول: میاشتني، ژبه: پښتو او دري.

د خپروني نوم: *مرسته*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۶لمریز تله/۱۹۹۷م اکتوبر، مسور، د امتیاز خاوند د صحت نړیوال سازمان، مسوول مدیر: هدایت الله وطنیار، د خپروني ډول: مجله، دري میاشتني تصویري، رنګه پښتي، ۵۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري/انګلیسي، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، د خپروني دکار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري ګزارش.

د خپروني نوم: *مشعل*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۹ لمریز د غویي ۲۷مه/۲۰۰۰م د مي ۱۷مه، پیښور، د امتیازخاوند: د افغانستاند ښځو اسلامي تنظیم، مسوول مدیر: ذکیه هاجر، د خپروني ډول: مجله، دري میاشتني، ۵۰

مخونه، دوه رنګه، ژبه: پښتو او دري او عربي، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري. محتوی: دیني او اجتماعي مضامین.

د خپرونې نوم: ***مشعل آزادی***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۹ لمریز وږی/ ۲۰۰۰ سپتمبر، پیښور، د امتیاز خاوند: د حرکت اسلامي د ځوانانو انجمن، مسوول مدیر:؟ د خپرونې دول: میاشتنی، ژبه: دري، کچه: ؟، د خپرونې د کار پای: دوام لري، محتوی: سیاسي او ټولنیز.

د خپرونې نوم: ***معارف***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸ لمریز مرغومی/ ۲۰۰۰ جنوري، اسلام آباد، د امتیاز خاوند: د ملګرو ملتونو سازمان نمایندګي دفتر په اسلام آباد کې مسوول مدیر: انجنیر عبدالقیوم کریم، د خپرونې دول: میاشتني مجله، دوه رنګه، پنځوس مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۰ × ۲۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري او روزنیزه.

د خپرونې نوم: ***سیهن***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۹ لمریز چنګاښ/ ۲۰۰۰م د جولای ٥مه، مشهد، ایران، موسس: انجنیر تورپالی، مسوول مدیر: احمد شاه فروزان، د خپرونې دول: مجله، دري میاشتنی، ژبه: دري، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ؟، محتوی: ټولنیز او سیاسي.

د خپرونې نوم: نور

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۹ لمریز د غویي ۱۱مه/ ۲۰۰۰م د بي لوبري اسلام آباد، د امتیاز خاوند: د فاطمة الزهرا ټولنه: مسوول مدیر:؟ د خپرونې دول: مجله دري میاشتني، دوه رنګه ٦۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، ٦۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۰ × ۳۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: ؟ محتوی: سیاسي او ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: ***نوید***

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۰ لمریز/ ۲۰۰۰م کال، سان فرانسسکو، امریکا، د امتیاز خاوند: ؟، مسوول مدیر: عبدالسلام شایق، د خپرونې دول: ؟، ژبه: پښتو او دري.

د خپرونې نوم: هنر

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۹ لمریز غبرګولې/ ۲۰۰۰م جون پیښور، مسوول مدیر: رهرو عمرزاد، د خپرونې دول: نامنظمه مجله، دوه رنګه، ۸۰ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۰ × ۲۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای:؟، منځپانګه: د مجسمې هنرونو بیانونکې.

د خپرونې نوم: الاحداث

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۳ لمریز/ ۱۹۹٤م، پیښور، د امتیاز خاوند: د مجاهدینو د خدمتونو دفتر، مسوول مدیر: ابو عبدالله المهاجر د خپرونې دول: میاشتني دوه رنګه، کچه: ۳۰ × ۲۰ سانتي متره، ۱٦ مخونه د خپرونې د کار پای: ۱۳۷٥ لمریز/ ۱۹۹٦م، محتوی: خبري راپور.

# د نهمه برخه اخځونه او پایلیکونه


1- "Kabul hails Zahir's pledge to...", AFP News agency, 25,03,92, Kabul.

2- a/"Najib inviting Iran's intererence", Radio Payam-i-Azadi", HIA, Jalal Abad.
b/The Frontier Post, 23,03,92 Peshawar.

3- a/Radio BBC,Persion service 08,04,92.
b/AFP News agency.
c/"Mujahedeen - militia alliance...", The Frontier Post, 09 april 1992, Peshawar.

٤- د حزب وحدت ګوند له مشر عبدالعلي مزاری سره د ليکوال مرکه، کابل دريمه کارته ۱۳۷۱ل/۱۹۹۲م.

٥- د افغانستان د اسلامی حزب اعلاميه، ۱۳۷۱ لمريز د وری ۲۱مه د ۱۹۹۲م اپريل ۱۰مه، چی په پاکستانی او افغانی خپرونوکی خپره شوه..

6- "Afghanistan: Ultimatum Massuds", Basler Zeitung, 23,04,92, Germany

۷- د افغانستان اسلامی حزب اعلاميه، د انا خبری آژانس، ۱۳۷۱ لمريز دوری ۲۷مه پيښور.

۸- د کابل د اطرافو د موثرو جهادی قوماندانانو د شوری اعلاميه او د هغوی دريځ شهادت ورځپانه، د افغانستان د اسلامی حزب خپرنی ارګان. ٤٦۷ مه ګنه د ۱۳۷۱لمريز کال د غويی لومړی/۱۹۹۲د اپريل ۲۱ مه پيښور.

۹- "انزال عسکری ايرانی غرب افغانستان و خلافات بين المجاهدين"، الحيات ورځپانه ۱۹۹۲ د اپريل ۱۸مه.

10- "Masood-Wakil agree to work.." & AFP news agency & The Frontier Post, 19,04,92 Peshawar.

11- "HIA regjects Wakil - Masood move", ANA news agency 19,04,92 Peshawar.

۱۲- سری لبنکری په افغانستان کی، بوريس ګروموف د عزيز آرينفر ژباړه، د ايران دبهرنيو چاروو وزارت خپرونی، تهران ۱۳۷۵ لمريز/ ۲۲۷مخ.

۱۳- نګرانی ايران از جنګهای نژادی در افغانستان، جمهوری اسلامی ورځپانه تهران چاپ، ۱۳۷۱ لمريز د وری ۳۰مه/۱۹۹۲م د اپريل ۱۹مه.

١٤- د افغانستان په اړه د سپينی مانی موقف، مارګريت تاتويلر د سپينی مانی وياند، سی ان ان تلويزيون د ۱۳۷۱ لمريز د غويی ٤مه. ۱۹۹۲م د اپريل ۲٤مه.

۱٥- د حکمتيار او مسعود ترمنځ تيلفونی خبری، د غږ کسټ د غويی ۲مه ۱۳۷۱لمريز/۱۹۹۲م د اپريل ۲۲مه، دافغانستان د څېړنو انستيتوت آرشيف، هالنډ، المير.

١٦- د حزب اسلامی افغانستان اعلاميه ۱۳۷۱ لمريز د ثور ٤مه پيښور.

۱۷- د عبوری حکومت په اړه د پنځو جهادی تنظيمونو اعلاميه ۱۳۷۱ لمريز د غويی ٤مه پيښور.

۱۸- شهادت ورځپانه، د افغانستان د اسلامی حزب خپرنی ارګان ٤۷۲ مه ګنه ۱۳۷۱ لمريز د غويی اتمه/ ۱۹۹۲م د اپريل ۲۸مه، پيښور.

19- "masood in controle of Kabul: Mujaddedi", Radio Afghanistan, monitoring report of F.P., 26.04.92. Peshawar.

20- "Iran prijst guerrillaleider Masoud", de Volkskront (newspaper), 24.04.92, amsterdam,NL.

۲۱- نوای وقت ورځپانه ۱۳۷۱ لمریز د غوبي ۲۲مه/۱۹۹۲م د مې ۱۲مه پاکستان.

22- "Kabul resident flee to Jalalabad", The Frontier Post newspaper, 05.05.92.,Peshawar.

۲۳- د کابل اصلي واکمن رشید دوستم دی. شهادت ورځپانه، ٤٧٦مه ګڼه، ۱۳۷۱لمریز د غوبي ١٤مه/۱۹۹۲م د مې ٤مه پېښور.

24- Reuter news agency, 16.05.92.

۲٥- په کابل کې د کابینې له اعلان څخه وروسته د حضرت مجددي بیانیه، بي بي سي راډیو، ۱۳۷۱ لمریز دثور ۱٥مه/۱۹۹۲م د مې ٥مه.

۲٦- د مجددي سره مرکه د نوای وقت ورځپانه ۱۳۷۱ لمریز د سرطان ۱۱مه/۱۹۹۲م د جولای ۲مه، پاکستان.

27- Afghanistan, S.Fida Yunas, Vol2, Shinwari publishing Center, 1998 Peshawar. P. 767.

۲۸- شهادت ورځپانه ٥٧٧ګڼه، ۱۳۷۱لمریز د سرطان ۲۳مه/۱۹۹۲م د جولای ١٤مه لومړی مخ.

29- "Hekmatyar not symbool of Pakhtoon...", Ajmal Khatak, F.P. newspaper, 02,09,92, Lahor, Pakistan.

30- "Most aircraft at Shindand...", AFP news agency, Kandahar 16.10.92.

31- Reuter news agency. 19.01.93.

32- "Women weep at the gate of Afghan prsidential palace...", Photo AFP, F.P. report, 23.09.92. Peshawar.

33- "US vows to stop Hekmatyar...", F.P. Bureau report, Islamabad. & CNN TV cannal 04.10.92

34- "US demand its Stingers back...", The Frontier Post newspaper, 09.10.92 Peshawar.

۳٥- افغانستان د شیطاني مصیبت د طلسم په دایره کې، داکتر عبدالله کاظم. د ۱۳۷٦ لمریز کابل دوری ۲مه، ۱۹۹۷م مارچ، ٥٨م مخ.

۳٦- ایران او حزب جوړول، میثاق ایثار (اونیزه) دریم کال، ۸۷مه ګڼه، ۱۳۷۸لمریز دوری ۲۸مه/۱۹۹۹م د سپتمبر ۱۹مه څلورم مخ.

37- "Attacks on HIA bases", idem newspaper 06.03.93 Peshawar.

38- "Hekmatyar ready to talk with Dostam", idem newspaper 14.03.93 Peshawar.

۳۹- د افغانستان د ملي اسلامي جنبش دوه نمایندګان، جمهوری اسلامي ورځپانه، ۱۳۷۲ لمریز دوری ٤مه ۱۹۹۳م د اګست ۲٦مه تهران.

لسمه برخه

# د طالبــانــو اسلامي امارت دوره

## په هیواد کې د طالبانو د سفر تاریخ

د افغانستان تولنیزه وضع په ځانګړې توګه په کندهار او مزارشریف ښارونو کې د احلاقي او اداري فساد له امله ډېره خرابه شوه د کابل اداري هم هڅه کوله چې په یو ډول خلک و هڅوي، د ۱۳۷۲لمریز وري په ۳۰مه/۱۹۹۳م اپریل په ۱۹مه، د صدیق چکرې په مشرۍ له زیاتو پیسو سره یو هیأت کندهار ته ولاړ چې د نورو تنظیمونو قوماندانان د ملا نقیب په مرسته ورجلب کړي. ملانقیب د پیسو پرسر د نورو قوماندانانو سره اختلاف وکړ او د ده (جمعیت) او د اتحاد د عبدالحلیم، د جبهه نجات د حاجي احمد او د محاذ ملي د آسر لالي ترمنځ توندې جګړې ونښتې، چې په هرات دروازې، عیدګاه، نوي ښار، ډنډ او سر پوزې کې دغه نښتې د زیاتو وینو توئیدلو سبب شوې، همدارنګه د کندهار وضعه ډېره خرابه او له فسادونو ځخه ډکه شوې وه، قوماندانان د بچه بازۍ په ناوړه عمل دومره تاوده شوي وو چې د هلکانو د ودولو مراسم یې جوړول او په دې کې یې یو له بل سره سیالي کوله. په دې ډول د بد اخلاقۍ، ویرې، اختناق او بدې استفادې د سر او مال خطر فضا په کندهار او شاوخوا کې ډېره بده حاکمه وه، د ۱۳۷۳ لمریز کال د تلې په ۱۹مه/۱۹۹٤م آکتوبر په ۱۱مه د سپین بولدک په سرحد کې طالبانو د مجاهدینو له قوماندانانو سره نظامي تکروکړ او هغوی په خپله لومړنۍ اعلامیه کې د شر او فساد د ډلو د منځه وړلو لپاره د ځګړې ضرورت اعلان کړ، او وېې غوښتل چې د پاکستان د هغه تجارتي کاروانونو د لارو امنیت ونیسي چې د سپین بولدک له لارې یې غوښتل ترکمنستان ته د افغانستان له لارې ولاړ شي.

د ۱۳۷۳ لمریز د لړم ۱۲مه/ ۱۹۹٤م د نومبر ٤مه د کندهار په ښار کې د طالبانو او مختلفو ډلو د قوماندانانو ترمنځ توندې جګړې ونښتې، ملانقیب الله د رباني په هدایت غوښتل له طالبانو سره تفاهم وکړي، چې د طالبانو لخوا هم د همکارۍ ژمنه ورسره وشوه، خوکله چې قوماندان ملنګ د کندهار په هوايي ډګر کې په دار راوځړول شو او حاجي سرکاتب په سرپوزه کې یې وسلې کړای شو طالبانو غوښتل ملانقیب بندي کړي، خو هغه وتښتید او د کندهار ښار د دوی په لاس کې ولوید.

د لیندۍ په ۸مه/ د نومبر ۲۹مه پاکستان یوه اعلامیه خپره کړه اودغه ادعایې رد کړه چې طالبان د کرنیل امام او جنرال نصیرالله بابر په واسطه منځته راغلي دي.

۱۳۷٤ لمریز د سرغوسي په ۱۲مه/۱۹۹۵م د جنوری دوهمه طالبانو د غزني او زابل په ولایتونو کې

خپلې حملې پیل کړې، په غزني کې د جمعیت اسلامي قوماندان قاري بابا چې حساس موقعیتونه یې درلودل وغوښتل له حزب اسلامي سره تفاهم وکړي.

خو مسعود ددې تفاهم مخالف شو، حکمتیار د خپلو (۴۰۰) تنو سره غزني ته ولاړ چې د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسي هغه لا په روضه شریفه کې ؤ چې دده شاته په غونډیو کې پراته د حزب اسلامي قوماندانان طالبانو ته تسلیم شول. او حکمتیار له هغې محاصرې څخه دوردګو په لور وتښتید چې دده د نیولو لپاره طرحه شوې وه، د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د ډلو د اختلاف په نتیجه کې ډیر ژر غزني د طالبانو په لاس کې ولوید.

د ۱۳۷٤ لمریز د سلواغې ۱۸مه/۱۹۹۵م د فبروري ۷مه طالبانو دوردګو په ولایت حمله ور وړه او د حزب اسلامي محلي قوماندانانو مقاومت ونه کړ، یوازې د حکمتیار سرسنندویو ځواکونو د تنګي په دره کې له طالبانو سره مقابله وکړه، د حزب اسلامي د مهمو قوماندانانو لکه چارګل نثار، امان الله، ابوبکر، انجنیر فیض محمد، احسان الله او کشمیر خان وسله وال کسان وتښتیدل او یا له طالبانو سره یوځای شول، څکه خو حزب اسلامي مقابله ونکړای شوه او حکمتیار له خپل ساتونکي ګارد سره چار آسیاب ته په شا ولاړ.

د ۱۳۷۳لمریز د سلواغې په ۲۱مه/۱۹۹۵م د فبروري په لسمه د هماهنګۍ شورې او طالبانو ترمنځ هغه خبرې اترې چې له تیرو شپږو میاشتو را په دې خوا د پاکستان په منځګړیتوب رواني وې ناکامۍ پای ته ورسیدې. او طالبانو تر میدان ښار پورې د وردګو ولایت ونیو.

د سلواغې په ۲۲مه/د فبروري ۱۱مه احمد شاه مسعود د وردګو ولایت "شیخ آباد" ته ولاړ او پر کابل د طالبانو د برید له قوماندان ملا بور جان سره یې ولیدل. په دې خبرو اترو کې مسعود طالبانو ته ډاډ ورکړ چې د کابل په شاوخوا او د وردګو او لوګر په ساحو کې د حزب اسلامي جبهې له منځه وړلو شې دې تیار دی چې واک طالبانوته وسپاري، له دې موافقو سره جوخت د رباني ویاند یونس قانوني حکمتیار ته په تیلفون ډاډ ورکړ چې که طالبان پر چار آسیاب حمله وکړي دوی به بمباري پرې وکړي.

د سلواغې په ۲۳مه/ د فبروري ۱۲مه د بابوس په دښته کې د طالبانو ځواکونو له لسګونو ټانکونو سره جګړه وکړه، چې حزب اسلامي ماته وخوړه او طالبانو پر لوګر حمله راوړه، یوه ورځ وروسته حکمتیار خپلو ځواکونو ته امر وکړ چې چار آسیاب پریږدي او سروبي، لغمان او ننګرهار ته په شاولاړ شي، په همغه ورځ حکمتیار مزارې ته وویل چې دوی هم باید خپل ځای پریږدي چې د مزارې لخوا دغه وړاندیز رد شو.

د ۱۳۷٤لمریز د سلواغې په ۲۵مه/۱۹۹۵ د فبروري په ۱٤مه په چار آسیاب کې د حزب اسلامي

مرکز د مسعود او طالبانو په لاس کې ولوید، طالبانو د مسعود ځواکونو ته امر وکړ چې د حزب اسلامي مرکز دوی ته پرېږدی.

د ۱۳۷٤ لمریز د کب په ۱۹مه/۱۹۹٥م د مارچ ۱۰مه طالبانو پر کارته سه یرغل وروور او د مزاری وحدت ګوند یې بې وسلې کړ.

د کب په ۲۰مه د مارچ ۱۱مه د مسعود ځواکونو په وحدت ګوند حملې پیل کړې، عبدالعلي مزاری په چار آسیاب کې ملا بور جان ته خبر ورکړ چې د ځان څخه ددفاع په خاطر د دوی وسلې بیرته ورکړي، ملابورجان مزاری ته بلنه ورکړه چې د خبرو اترو لپاره چار آسیاب ته ورشي... مزاری له خپلو څلورو تنو قوماندانانو سره ونیول شو او کندهار ته واستول شو. د هلیکوپتر په منځ کې د مزاری د ملګریو او طالبانو ترمنځ نښتې وشوې چې هلیکوپتر په غزني کې کښیناسته او مزاری او ملګری یې ووژل شول.

د کب ۲۸ مه د مارچ ۱۹مه مسعود پر چار آسیاب حمله وکړه او هغه یې ونیوله.

د ۱۳۷٤لمریز د وری ۱٤مه/د ۱۹۹٥م د اپریل ۳مه ملا محمد عمر اخوند ته د (۱٥۰۰) تنو علماؤ لخوا په کندهار کې په یوه شوری کې د امیر المؤمنین لقب ورکړ شو او بیعت ورسره وشو.

د غبرګولي په ۱۸مه/ د جون ۸مه طالبانو د فراه ولایت د جمعیت اسلامي له قوماندان علاو الدین څخه ونیو او علاء الدین هم ووژل شو. ځینې وایي چې علاو الدین د هرات او تولو نورو لویدیځو ولایانو له نیولو وروسته د پټو فعالیتونو په جریان کې د طالبانو لخوا ووژل شو)

د ۱۳۷٤لمریز د چنګاښ په پنځمه/۱۹۹٥م د جون ۲٦مه د حکمتیار او مسعود ترمنځ ، ماهیپر کې یو تړون لاسلیک شو چې د هغې پر اساس د مسعود د غوښتنې پرخلاف حکمتیار بیا ـ صدراعظم په توګه کابل ته ولاړ او د وفاداری لوړه یې وکړه، کابل ته د حکمتیار له ننوتو سره سم طالبانو پرښار توغندويي برید وکړ، د ۱۳۷٤لمریز د زمری ۱۲مه/۱۹۹٥م د اګست ۳مه د طالبانو جنګي الوتکو د روسیې یوه په وسلو بار الویشن الوتکه په کندهار کې راکوزیدو ته اړه کړه چې له البانیې څخه یې د رباني اداری ته وسلې او پوځي مهمات راوړل. د الوتکې اوه تنه سپرلي هم طالبانو اسیران کړل.

طالبانو د دې بندیانو په مقابل کې د هغو افغاني بندیانو د خوشې کیدو غوښتنه وکړه چې د روسانو د لیرې پروخت سایبریا ته وړل شوي وو، د روسیې منابعو د افغاني بندیانو له موجودیت څخه انکار وکړ، د زمری په ۲٥مه/د اګست په ۱٦مه د روسي کوماندو یو ګروپ د یوې الوتکې په واسطه کندهار ته ورسید او بندیان یې ورسره وتښتول. د وږی په ۱۲مه/سپتمبر په ۳مه طالبانو د هیواد په لویدیځ کې خپلو حملو ته دوام ورکړ او د شینډنډ هوایی ډګر یې د یو ساعته مقاومت څخه وروسته د حزب اسلامي له قوماندان معلم سیرولي څخه ونیو.

د وږی په ۱٤مه/د سپتمبر ٥مه د ننګرهار ولایت حصارک ولسوالي طالبانو ونیوه، حاجي قدیر چې له پاکستاني مقاماتو سره د ژوندی ځان ژغورلو په بیه موافقې ته رسیدلی ؤ د پیښور له لارې المان ته

وتښتید. همدارنګه د ننګرهار شورا د خپلمنځي اختلافونو په نتیجه کې جلال آباد هم د طالبانو په لاس کې ولوید حاجي منجي د خپل ورور قوماندان شمالي د بدل اخستلو په خاطر چې د حاجي قدیر په واسطه وژل شوی ؤ تراحم ته نژدې په دکه کې کې د ننګرهار شورۍ ۷۳ تنه لوړ کدر د انجنیر محمود او سازنور په شمول ووژل او پخپله یې له طالبانو سره پیوستون اعلان کړ.

د وری په ۱٤مه/سپتمبر ٥مه طالبانو د هرات پر لور هم حملې پیل کړې. او د جمعیت یو شمیر قوماندانان چې طمع ورکړل شوی وه له مقاومت څخه لاس پرسر شول اسماعیل خان له خپلو کسانو سره ایران ته وتښتید او هرات طالبانو ونیو.

د وری په ۲۰مه مسعود د تګاب له لاری سروبي ته مرستندویې قواوې واستولې. چې د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسي چې دغه قواوې په وزیبنمین تنګی کې ځای پر ځای شوې.

د وری په ۲۲مه/سپتمبر ۱۳مه طلبانو د مهمتر لام بسار چې د لغمان ولایت مرکز دی ونیو او د طالبانو قواو په وریبنمین تنګي کې د مسعود او حکمتیار د ځواکونو په مقابل کې مورچلې ونیوی.

د وری په ۳۱مه/ سپتمبر ۲۲مه د طالبانو اتو سوو تنو پر کونړ حمله وکړه او د حزب اسلامي قوماندان کمشیر خان له طالبانو سره مرسته وکړه د ولایت مرکز اسعد آباد د طالبانو لاس ته ورغی.

د تلې په ٤مه/ دسپتمبر ۲۶مه طالبانو په وریبنمین تنګي کې خپلې قواوې په دوو لوریو قومانده کړې. د هغوی څلور سوه کسیزی قوی د وریبنمین تنګی له لاری په یوه تونده حمله سروبی، تګاب، تجراب او کوهستان فتح کړل او د بګرام هوایی ډګر یې تر خپلې قبضې لاندې راوست، بله ۱۲سوه کسیزه قوا دلته بند او ساهیپر له لاری پنچرخی ته ورسیده اوله هغه ځایه یې پر کابل ښار برید وکړ، د رباني اداره د ده په شمول، حکمتیار، سیاف، مسعود د شمال په لورو تښتیدل او د یوی اعلامیې په ترځ کې یې اعلان وکړ چې موږ د وینو توئیدو د مخنیوی لپاره کابل پریښود.

د تلې په پنځمه/د سپتمبر ۲۷مه د کمونستي رژیم وروستي جمهور رئیس نجیب الله له خپل ورور شاهپور احمدزی سره یوځای په کابل کې د ملګرو ملتونو په نمایندګۍ کې ووژل شول او د ارګ د دروازې په مخه کې په دار وځړولی شول.

د تلې په ۷مه/ سپتمبر ۲۹مه د طالبانو ځواکونو په پروان حمله وکړه. او د بګرام هوایي ډګر او چاریکار ښارېې ونیول، د پنجشیر په لور یې خپلو حملو ته دوام ورکړ. یوه ورځ وروسته ملا محمد عمر اخوند له ټولو ښکیلو لوریو څخه وغوښتل چې له مقاومت څخه لاس واخلي. د تلې په لسمه د اکتوبر دوهمه طالبانو اعلان وکړ چې له رشید دوستم سره موافقې ته رسیدلي دي چې د خبرو اترو له لارې خپلې ستونزې حل کړي. د تلې په ۱۱مه/اکتوبر ۳مه په پنجشیر او سالنګ کې کلک مقاومت وشو او قوماندان بصیرسالنګي چې پخوایې له طالبانو څخه پیسې اخستې وې لاره یې خلاصه پریښودله. خو

وروسته یې خپل دریغ بدل کړ او د طالبانو پر خلاف له مسعود سره ودرید او د طالبانو تر اته سوه تنو زیات یې کلابند او ووژل. طالبانو د پنجشیر په خوله او سالنګ کې ماته وخوړه.

د تلې ۱۲مه/اکتوبر ٤مه د روسیې، قزاقستان، قرغزستان تاجکستان او ازبکستان مشرانو په الماتا کې بیړنۍ فوق العاده غونډه وکړه او تصمیم یې ونیو چې د افغانستان سره شریک سرحد ته ګډې قواوې واستوي، تر څو د سرحد له اخوا څخه د طالبانو د ننوتلو مخه ونیسي.

د میزان په ۱۳مه/ اکتوبر ٥مه طالبانو اعلان وکړ چې د مجاهدینو مشران لکه رباني، حکمتیار، مسعود او سیاف که ونیسي نو د نجیب الله په څیر به یې اعدام کړي.

د ۱۳۷٥ په لومړي میاشت/۱۹۹٦م کال طالبانو د نیمروز، هلمند او فراه ولایتونه ونیول او د هرات ولایت هم کلابند شو د ۱۳۷٥ لمریز کال د غوایي په ۲۹مه/۱۹۹٦م د مې میاشت د فاریاب ولایت هم ونیول شو چې د جمعیت قوماندان اسماعیل خان هم پکې اسیرو نیول شو.

د غبرګولي په ۳مه/د مې ۲٤مه طالبانو د مزار شریف ښار ونیو جنرال دوستم د ازبکستان له لارې ترکیې ته وتښتید، ملا عبدالرزاق د بلخ والي وټاکل شو.

د غبرګولي په پنځمه د مې ۲٦مه عربي اماراتو او سعودي عربستان د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژاند.

د غبرګولي په ٦مه د مې په ۲۷مه طالبان په مزار شریف کې د جنرال ملک، حزب وحدت او شورای نظار د قواو تر کلابندۍ لاندې راغلل چې تر درې زرو تنو زیات ووژل شول او ۰ پنځه زره تنو په شاوخوا کې اسیران شول.

## د طالبانو تحریک څوک او څه شی دی؟

دطالبانو د تحریک پیل، فکر ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹٤م کال په پیل کې په کندهار ښار کې د قوماندانانو د زیاتي ګډوډۍ او بې سرۍ په سبب پیدا شو، طالبانو د خپلو حملو لپاره اسلام د قانوني مجوز په توګه تمثیل کړ.(۱)

یوه بله منبع لیکي چې د طالبانو تحریک د پاکستان د کویټې په ښار کې د پاکستان د مذهبي حلقو او چار پیژندونکو په ابتکار پیل شو او هغه افغانان یې چې په پاکستاني مدرسو کې یې زده کړې کړې وې سره راټول کړل او د انارشۍ، ګډوډۍ او اختناق پر خلاف دیو عکس العمل په بڼه را پورته شول.(۲)

انتوني د یویس *Anthony Davis* یو بل څیړونکی لیکي چې د طالبانو غورځنګ د میوند ولسوالي د "سنګ حصار" په مدرسه کې جوړ شو، هغه ځای چې د طالبانو د تحریک اوسنی مشر ملا محمد عمر

یکې زده کړې کولې او د کمونستانو او روس تیرې کوونکو په مقابل کې دده د مبارزې جبهه وه، کله چې غلاګانې، لارې وهل، چور لوټمار او فساد په کندهار کې زیات شو ملا محمد عمر له لسګونو نورو مبارزینو سره د ۱۳۷۲لمریز کال په وری/۱۹۹٤م کال سپټمبر کې بیا وسلې اوچتې کړې او د شر او فساد د دلود له منځه وړلو په نامه یې پاڅون وکړ. (۳)

د طالبانو تحریک د ۱۳۷۳-۱۳۷۵لمریز/۱۹۹٤-۱۹۹٦م کلونو په منځ کې چې د لسګونو تنو څخه مبارزه پیل کړې وه د پښتنو قبیلو په منځ کې د ۳۵ زره تنو داوطلبه جګړه ئیز قوت په را تولولو بریالی شو. پښتانه چې د افغانستان د نفوسو ٦۰ په سلو کې جوړوی د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان په مشر تابه کې تاکونکې رول لرې، د افغانستان ختیځ او جنوبي ولایتونه په بشپړ اکثریت او د شمال په ولایتونو کې له پنځلس څخه تر ۲۵ فیصدو پورې خلک په پښتنو قومونو پورې تړلې دی.

د ۱۳۷۵لمریز کال په تیره د طالبانو په لاس د کابل له سقوط وروسته د نورو قومونو سیلان هم د دوی غورځنګ ته زیات شو، د جنرال دوستم ملي جنبش په دوو سره بیلو جهتونو (په شمال جبهه کې غړیتوب) او د "کمونیستي ګوند سره د جنرال دوستم پخوانی غړیتوب" له پیوستون سره سره په مذهبي لحاظ سني طالبانو ته ورکوړ کړ، بنابې په دې سیلان کې پر ازبکستان او ترکیه د سعودي عربستان فشارونه او له استاد رباني او احمد شاه مسعود سره د ناباورۍ او بې اعتمادې فضا هم رول درلودلې وی، چې جنرال دوستم یې طالبانو ته ور خوشبین کړ. طالبانو ته د فاریاب او بادغیس ولایتونو تسلمیدل او د ازبکانو د نماینده په توګه د طالبانو په شورې کې د نسیم مهدي غوره کولو د دې زمینه برابره کړه چې طالبان په مزار شریف کې نفوذ وکړي. خو د دوستم خپلمنځي اختلافونو او د رسول پهلوان وژل کیدو د عمل ابتکار جنرال ملک ته ورکړ، چې په تاکتیکي دول یې دیوی مخکې سنجول شوی د سیسې له لارې له مسعود سره یوځای له یوې خوا او له بلې خوا طالبانو د وسلو په راټولوکې د بیړنې اقدام په سبب توندې جګړې ونښتې چې په مزار شریف کې طالبان له کلکې ماتې سره مخ شول.

انجنیر نسیم مهدي د جنرال ملک او طالبانو له ائتلاف څخه وروسته او په شمال کې د طالبانو د ځپل کیدو څخه ډیر وروسته له طالبانو سره ملګرې شو. چې وروسته بیا د دوهم ځل لپاره طالبان مزار ته ولاړل او جنبش ملي ماته وخوړه.

همدارنګه طالبانو وکولای شول چې په بامیان کې د هزاره ګانو په مشر تابه کې انشعابونه راولي، او د وحدت ګوند دری تنه د نفوذ خاوندان غړي کابل ته راغلل، د طالبانو د مرکزي شورې غړیتوب یې ترلاسه کړ، هغوی آیت الله صادقي پرواني، محمد اکبري او عرفاني وو.

## د طالبانو نظامي غړي

د طالبانو نظامي غړي او کسان زیاتره د مهاجرینو زامن دي چې د ۱۳۵۷-۱۳۷۱لمریز/ ۱۹۷۸-۱۹۹۲م کلونو په منځ کې د روسي لښکرو او کمونستي رژیم له فشار او ستونزو څخه پاکستان ته مهاجر شوي وو هغوی زیاتره د مهاجرینو په کمپونو کې زیږېدلي دي او په دیني مدرسو کې یې په زده کړو لاس پورې کړې دی، د طالبانو غړي په درې برخو ویشلی شو:

۱- اصلي طالبان: دوی د دیني مدرسو طالبان دي چې د (دین د عالم) تر حده یې لوړې زده کړې سرته رسولې دي.

۲- ملیشې: هغه کسان دي چې په دیني فکر نه دي روزل شوي او وسله یې اخستې ده ترڅو د طالبانو له مخالفو ډلو سره وجنګیږي، ددوی څیني کسان د بې کارۍ په سبب د طالبانو له ملیشو سره یوځای شوي دي. د طالبانو د ملیشو په لیکو کې د مولانا فضل الرحمن په مشرۍ د پاکستان د جمعیت العلماء او د قاضي حسین احمد په مشرۍ د جماعت اسلامي زیات شمیر غړي هم شته چې د اسلام آباد له غوښتنې پرته په داوطلبانه ډول ورسره یو ځای شوي دي او وخت پر وخت په جګړه کې برخه اخلي، یو شمیر عربان چې پر افغانستان د روسي پوځ د تیرې په وخت کې د جهاد لپاره راغلي وو هغوی هم د جهادي ګوندونو د سره پاشل کیدو څخه وروسته د طالبانو پرشاوخوا راټول شول او پرلپسې په جګړو کې برخه اخلي، کله چې اسامه بن لادن هم افغانستان ته پناه راوړه د عربانو له ۳-۵ زره کسانو پورې یې تنظیم کړل په افغانستان کې د ننه زیاتره عربان د عبدالله عزام د "الجهاد" د ډلې څخه دي، نوموړی په ۱۳۷۲لمریز/۱۹۹۳م کال په پیښور کې دیوه بم په چاودنه کې له دوو زامنو سره له منځه ولاړ.

۳- مجاهدین او پخواني کمونستان: د غه دوی ډلې د مختلفو نظریاتو له درلودلو سره سره له طالبانو سره یوځای شوي دي، مجاهدین د داخلي اختلافونو او د جهاد له اهدافو څخه د انحراف په سبب له تنظیمونو څخه بېل او له طالبانو سره یوځای شوي دي، چې د مجاهدینو د نه اتکل کیدونکي ماتې یو عامل هم بلل کیږي. یا ګوښه شوي وو او د طالبانو تحریک یې د دین او اسلامي تحریک په حیث تود استقبال کړ. کمونستانو هم د طالباو سره په ملاتړ کې له یوه پلوه ځانونه دیني اسلامي تحریک په لیکو کې خوندي کړل چې د محاکمې خبره یې نه مطرح شي او له بله پلوه په راتلونکي کې هم په یوه یله بڼه د افغانستان په سیاسي ډګر دیوه بدیل په حیث مطرح شي.

خو د کمونستانو زیاتره افرادو چې طالبانو ته تمایل درلود په قومي لحاظ پښتنو ته منسوب وو او یا په کمونستي ډلو کې "خلق" لورې ته منسوب دي چې هغوی په شمال کې د احمد شاه مسعود سره تضاد لرې چې عملاً یې دلته د پښتونخوا د قومي لړکیودستم خبره مطرح کړه چې د نورو قومونو احساسات راو پاروي هغوی هم د طالبانو تر سیورې لاندې راټول شول او فعالیتونه یې پیل کړل. خو تر اوسه پورې داسې شواهد نشته چې کمونستانو دی د طالبانو په تحریک کې دننه سازماني تحرکات پیل کړي وي او

طالبان دې له اختلافونو او انشعابونو سره مخ کړي.
افغاني کمونستان او یو شمیر پاکستاني نظامي مشاورین په پوځي مسلکي چارو او وسلو او نورو چاروکې د طالبانو تر اداره لاندې د شریعت له اصولو سره سمه همکاري کوي.

## ملا محمد عمر "مجاهد"

ملا محمد عمر آخوند چې په "مجاهد" مشهور دی د طالبانو د غورځنګ بنسټ ایښودونکی دی، نو موړی په ۱۳٤۰لمریز/۱۹٦۱م په کندهار ولایت (نوده) کلي کې په یوه غریبه کروند ګره کورنې کې زیږیدلی دی. نوموړی د پښتنو د غلجي – دراني په قبیلي پورې اړه لري خو موربې د (هوتک) د قوم ده.
ملا محمد عمر مجاهد د روسانو د تیري په وخت کې د حزب اسلامي افغانستان غړیتوب ترلاسه کړ خو ډیر ژر له دې ګوند څخه ووت او د ملا فیض الله اخوند تر قوماندې لاندې یې د حرکت انقلاب اسلامي په ګوند کې په جهاد لاس پورې کړ، هغه یوه موده په جمعیت اسلامي ګوند کې هم ؤ خو بیا حزب اسلامي ته ورغی او د ملا نیک محمد تر قوماندې لاندې یې مبارزې ته دوام ورکړ، نوموړي د جهاد په وخت کې یو ځل ډیر کلک ټپي هم شو او یوه سترګه یې له لاسه ورکړه.
په کندهار کې دا خبره ډیره مشهور ده چې ملا محمد عمر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خوب لیدلی دی او هغه امر ورته کړی چې په افغانستان کې د سولې لپاره مبارزه پیل کړي، هغه له دې وروسته په لسګونو تنه پرڅان ورتول کړل تر څو د خپلو پخوانیو ملګرو (مجاهدینو) پر خلاف مبارزه پیل کړي چې په فساد، بد اخلاقي او اختناق اوښتي وو.(٤)
ملا محمد عمر په شرعي امورو نظم او اداره کې د انظباط خاوند بلل کیږي، هغه تر دې د مخه چې د طالبانو ځواک منظم او قوماندې کړي د کندهار په سنګ حصار مدرسه کې له (٤۰) تنو نورو سره په دیني زده کړو بوخت ؤ، د ۱۳۷۵ لمریز د ورې په ۱٤مه / ۱۹۹٦م د اپریل په ۳مه په یوه غونډه کې د افغانستان د (۱۵۰۰) تنو علماؤ لخوا په کندهار کې د اسلام تر ټولو لوی لقب (امیر المؤمنین) ورو بخښل شو، چې په دغسې سیاسي او مذهبي جوړښت یې د طالبانو نفوذ او ځواک زیات کړ. اوس د طالبانو ځواک په څلورو برخو کې ځیرلی شو. لومړی د کندهار عمومي شورئ، دوهم وزارتونه، دریم مذهبي د امنیي او استخباراتو ځواک، څلورم ملیشې.
د۱۳۷۸لمریز کال د ورې په لومړی/۱۹۹۹م د اګست په ۲۳مه د طالبانو مخالفینو په کندهار کې په یوه لارې موټر کې د ملا محمد عمر مجاهد د وژلو لپاره د بم یوه چاودنه وکړه. چې ناکامه شوه، وروسته بیا

طالبانو د محسني په حرکت اسلامي پورې اړوند یو شمیر کسان ونیول اوددغې دسیسې تورېې پرایران ولګاوه چې لاس بې پکې درلود.

## د کندهار شورا

د کندهار شورا د افغانستان د اسلامي امارت په عمومي شورا نومول شوې چې د طالبانو یو صلاحیت لرونکې ارګان دی چې د رایو په اتفاق د هیواد پر مسایلو پریکړې کوي، په ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م کال د ښځو د تعلیم او کار موضوع هم دې شورا ته وراندې شوه چې په موقتي ډول محدود ..ونه پرې ولګیدل... په دې شورې کې د ۲٦ ولایتونو نمایندګان ګډون لري. د پروان، بدخشان او تخار ولایتونو چې د شمال د ځواکونو په ولکه کې دي د ۱۳۷۸ لمریز/۱۹۹۹م تر اګست پورې په شورې کې نمایندګان نه درلودل. خو د پروان او کاپیسا او د تخار د ولایت د ځینو برخو له نیولو وروسته ددې ولایتونو نمایندګان هم پکې شامل شول. چې اوس د هیواد دانه ویشت ولایتونو نمایندګان د هیواد په رهبرو کې د مقننه مرجع په توګه تصمیم نیسي. خو د شورې پریکړې بیا هم د امیر المؤمنین پر توشیح او تصمیم پورې تړلې دي چې د هغه له موافقې پرته د اجرا وړنه دي، دکندهار شورا دلویې جرګې له طریقې او بنې سره چې غړې بې روحانیون او د قوم مشران وي ورته والي لري، بنایي چې د کندهار شورا د احمد شاه بابا د لویې جرګې د عالي شورې په څیر جوړه شوې وي چې که وکولی شي د دې شورې په مرسته په هیوادکې ملي حاکمیت او ځمکنې بشپړتیا له یوې شل کلنې جګړې وروسته تامین شي. زیاتره په خپلمنځي جګړو کې هغه هیوادونه چې په داخلي اوردو جګړو کې ښکیل وي د مذهبي، ژبني او نژادي اختلافاتو ښکار کیږي او بالاخره د هغه هیوادونو د توټه کیدو سبب شوي دي، په افغانستان کې هم د ګاوندیو هیوادونو د لاسوهنې او د جګړې د دوام له امله دغه احتمال تصور کیده، د طالبانو د تحریک لوی خدمت دا دی چې ځمکنې بشپړتیا او د افغانستان ملي حاکمیت بې تامین کړ او د افغانستان د تجزیې خطر ونه بې له منځه یوړل. طالبانو په داخلي سیاست کې تر اوسه سیاسي حزبونه او جریانونه د جهادي ګوندونو په شمول په رسمیت نه دي پیژندلي او دوی څو ګوندیز نظام ردوي، طالبان غواړي چې نور حزبونه د همدوی پر محور ورټول شي او د امارت زعامت ومني، د جهادي مشرانو او د طالبانو غورځنګ ترمنځ یو اختلاف همدغه دی څکه چې د مجاهدینو هرګوند څانګړې امیر لري او د طالبانو له امارت سره بیعت د ځانو لپاره کسر شان بولي. په تیره حکمتیار چې ملا محمد عمر خپل مجاهد ګڼي، له بله پلوه له طالبانو سره د مجاهدینو د ګوندونو یو ځای کیدل د مبارزاتي جهادي دلو د له منځه تلو په معنی دی.

## د افغانستان اسلامي امارت

د حکومت او دولتي چلندله مخې که چې طالبانو د هیواد پر زیاته برخه تسلط وموند د با تجربه کار

کوونکو او مامورینو له کمبود سره مخ شول، داخلي جګړې چې توني عامه شتمنی او ودانی له منځه وړې وې مسلکي کسان یا له طالبانو سره د سلیقوي اختلاف او یا د مجبورۍ په سبب بهرته ولاړل چې دی کار د هیواد په اداره کې ګډوډی را منځته کړه.

په کابل کې د امارت اسلامي سرپرسته شوری د ملا رباني په مشرۍ جوړه شوه، طالبانو په نظامي او امنيتي لحاظ ډیر په غورګام واخست او تر خپلو لاس لاندې سیمو کې یې د وسلې را ټولول د لومړنۍ روش په توګه پلې کړل. د امنیت را منځته کیدل په ښار کې په لومړنی پړاو کې ترکور او ډوډۍ زیات د خلکو لپاره حیاتي ارځښت درلود، د لویو لارو امنیت او د نرخونو کنټرول تر ډیره حده د داخلي خپلسرۍ او انارشۍ مخه ونیوله.

طالبانو په ۱۳۷٦ لمریز ثور میاشت/۱۹۹۷ مي کې ۲۰ وزارتونه د اسلامي امارت د سرپرستۍ شورۍ ترنظارت لاندې اعلان کړل، د هر وزارت په سر کې د طالبانو د امارت یو تن اعتمادي سړی وخو تول وزیران د سرپرستو وزیرانو په حیث کارکوي چې په راتلونکې کې د طالبانو په دولتي سیستم کې د بدلونونو راوستنو امکانات منځته راوړي. د خلکو دنه پیژندلو او داخلي ګډوډیو په اثر زیاترو اپور چونستو او فرصت طلبه افرادو ځانونه په ظاهري بڼه له طالبانو سره همرنګ کړي (ږیرې یې پریښې اوسپینې جامې او توري لونګۍ تړي) هغوی عملاً د طالبانو په اداره کې ننوتي دي، خو د جدي څارنې په سبب تر اوسه پورې دغه نفوذي افراد پردې نه دي توانیدلي چې د خپلو دلو په ګټه فعالیت وکړي.

## مرکزي عالي شورا

۱- ملا محمد عمر اخوند امیر المؤمنین چې مرکز یې په کندهار کې دی.

۲- ملا محمد رباني د افغانستان د اسلامي امارت مرستیال او په کابل کې د سرپرستۍ عالي شورا رئیس.

۳- مولوي احسان الله احسان د اسلامي امارت د مقام مشاور. نوموړی په مزار کې د جنرال ملک د توطئې په ترځ کې شهید شو.

٤- مولوي وکیل احمد متوکل د اسلامي امارت د مقام مشاور.

٥- حاجي محمد حسن رحماني د بهرنیو چارو وزارت سرپرست.

٦- ملا عبدالرزاق د هرات والي او د شمالي او لویدیځو جبهو قوماندان.

۷- مولوي سید غیاث الدین آغا د ازبک ملیت نماینده او د رهبري شورا غړی له فاریاب څخه.

۸- ملا حاجي محمد غوث.

۹- ملا نور جان د طالبانو عمومي قوماندان چې د کابل له فتحې لږ وړاندې په سروبي کې له منځه

ولاړ.

۱۰- ملا محمد حسن اخوند د هرات والي چې په کابل د طالبانو د تسلط نه وروسته د سرپرستي شورى د رئيس په توگه هم انتخاب شو.

۱۱- مولوي نور الدين، ۱۲- مولوي شیر محمد ملنگ، ۱۳- مولوي عبدالرحمن، ۱٤- مولوي محمد ابراهيم، ۱۵- مولوي محمد صادق، ۱٦- ملا فضل محمد داررگان، ۱۷- ملا امیر خان متقي، ۱۸- عزیز خان مالک(۵)

همدارنګه د ۱۳۷۷ لمریز کال په پای/۱۹۹۸م کې کله چې د بلخ، فاریاب، او بامیان ولایتونه هم طالبانو ونیول لاندینې کسان د شورا په غړیتوب ومنل شول:

۱۹- انجنیر نسیم مهدي په فاریاب کې دحزب اسلامي عمومي قوماندان او د ملي جنبش مرستیال او د اجرائیه شورى غړی.

۲۰- محمد اکبري د حزب وحدت څخه جدا شوی څانګه.

۲۱- آیت الله صادیق پرواني د مزاری د حزب وحدت پخواني د اجرائیه شوری غړی.

۲۲- عرفاني.

له دغو یادو شویو کسانو څخه پرته د افغانستان د اهل تشیع کسانو څخه لاندې کسان له طالبانو سره یو ځای شول او له ملا محمد عمر سره یې بیعت وکړ: قوماندان حسان، قوماندان انصاري د مرکزي شورى غړی، استاد محقق ورثي د حزب وحدت د مرکزي شوری مرستیال، فکوري د مرکزي شوری غړی، آیت الله بخشي، حاجي محمدي د ورث ولسوالي عمومي قوماندان، د ورث سابقه ولسوال قوماندان احمدي، قوماندان صابري، قوماندان شجاع، قوماندان سهراب، قوماندان قنبر، مدير يوسف خان، قوماندان حاجي واعظي، قوماندان محقق، قوماندان بازل، قوماندان خليل او حاجي واحدي.(٦)

### د افغانستان د اسلامي امارت کابینه

د افغانستان د اسلامي امارت لومړی کابینه له داسې کسانو څخه جوړه شوې ده چې د تحریک له قیادت سره یې بیعت کړی دی او په تشکیلاتي جوړښت کې د طالبانو خاص کسان دي، طالبانو هڅه کړې ده چې د وزارتونو په سر کې خپل اعتمادي کسان راولي او نور تشکیلات د هغوی تر څارنې لاندې وي، د اسلامي امارت لومړنی کابینه په ۱۳۷٦لمریز سلواغه/۱۹۹۸م فبروري کې په دې ډول اعلان شوه:

| وزارت | وزير | معين |
|---|---|---|
| ۱- د بهرنیو چارو وزیر | ملا محمد حسن اخوند | ملا سید محمد حقاني |

| | | |
|---|---|---|
| ۲- داخله وزارت | ملا خیر الله خیر خواه | ملا خاکسار |
| ۳- د عامه رفاه وزارت | ملا محمد عباس اخوند | فضل الربی |
| ٤- د اوبو او برښنا وزارت | مولوی سید عیسی | |
| ٥- د ښوونې او روزنې وزارت | سید غیاث الدین آغا | عبدالسلام حنفی |
| ٦- دفاع وزارت | ملا عبید الله اخوند | ملا عبدالروف اخوند |
| ۷- د مخابراتو وزارت | ملا الله داد آخوند | عبدالحکیم منیب |
| ۸- د مهاجرینو بیرته ستنیدو وزارت | مولوی عبدالرقیب | واحد یار |
| ۹- د عامه زده کړو وزارت | ملا احمد الله نعمانی | |
| ۱۰- د کانو او صنایعو وزارت | حاجی احمد جان آخوند | حمد الله زاهد |
| ۱۱- د پلان وزارت | قاری دین محمد | مولوی عزت الله |
| ۱۲- د زراعت وزارت | مولوی لطیف منصور | مولوی عتیق الله |
| ۱۳- د عامې روغتیا وزارت | الله داد | رستم |
| ۱٤- د بانکداری وزارت | مولوی عبدالرحمن زاهد | عبدالرب |
| ۱٥- د مالیې وزارت | ملا محمد | عارف الله عارف |
| ۱٦- د سوداګرۍ وزارت | قاری محب الله | قاری نیک محمد |
| ۱۷- د اجتماعی چارو وزارت | مولوی عبدالسلام مخدوم | |
| ۱۸- د اطلاعات او کلتور وزارت | ملا امیر خان متقی | مولوی رحیم الله زرمتی |
| ۱۹- د حج او اوقافو وزارت | محب الله حفیظ | مسلم حقانی |
| ۲۰- د توریزم او هوانوردی وزارت | ملا اختر محمد منصور | عمی |
| ۲۱- د عدلیې او هوانوردی وازت | ملا نور الدین ترابی | مولوی جلال الدین شینواری |
| ۲۲- د ترانسپورت وزارت | مولوی حبیب الله | څارنوال فدا محمد |
| ۲۳- د سرحداتو وزارت | مولوی جلال الدین حقانی | محمد عمر |
| ۲٤- د معیوبینو او شهداو وزارت | مولوی رشیدی | |
| ۲٥- د حسابداری وزارت | قاری حمد الله | ملا احسان الله |

د۱۳۷۸لمریز دلړم په شپږمه/۱۹۹۹ داکتوبر په ۲۸مه ملامحمدعمر توی کابینه وټاکه اودولت ۲۸ کسیزه کابینه یې نوی وټاکله په دغه بدلون کې دکابینې تول غړی وزیران وو اودسرپرست کلمه یې چې دطالبانو، واکمنې له پیله دکابینې له غړوسره پیوست وه له منځه وړله، په دې کابینه کې لاندې کسان غوره شول:

۱- مولوی وکیل احمد متوکل د بهرنیو چارو وزیر

۲- ملا قدرت الله جمال د اطلاعاتو اوکلتور وزیر

۳- ملا عبدالرزاق دکورنیو چارو وزیر

پردې سربیره ملا محمد ربانی چې رئیس الوزرا تاکل شوی ؤ د غویی ۱۳۸۰ش/۲۰۰۱کال د اپریل په نیمه په پنډۍ کې پښن یوه روغتون کې مړشو او په همغه ماښام په کندهار کې خاورو ته وسپارل شو، تر اوسه د نوموړی پر ځای څوک نه دی ټاکل شوی.

"د افغانستان د اسلامي امارت د پراخو تشکیلاتو لپاره دی د همدی کتاب د لیکوال اثر "افغانستان در قرن نوزده و بیست" ته رجوع وشي.

"د افغانستان د اسلامي امارت د پراخو تشکیلاتو د تفصیل لپاره د همدی اثر د لیکوال "افغانستان په ۱۹ سه او ۲۰مه پیړی کې" نومي اثر ته مراجعه وکړی.

طالبانو د مجاهدینو په اړه ځانګړی او یوازی پر دوی پوری اړوند دریځ ونیو، دوی دیوه پراخ بنسټه حکومت په جوړیدوکې چې نور ګوندونه او سازمانونه هم پکې شریک شي په کلکه مخالفت کوی، د مجاهدینو د ګوندونو له جملې څخه مولوی محمد یونس خالص طالبانو ته تسلیم شو او خپل ټول پوځي وسایل یې هغوی ته وسپارل، اوس هغه د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالي خوګیاني کې داسي ژوند کوی چې هیڅ سیاسي واک نه لری.

مولوی محمد نبي له طالبانو سره یوځای شو او د حرکت انقلاب اسلامي نوری وړوکي ځانګې (مولوی منصور او مولوی مؤذن) هم له محمدی سره یوځای شوی وو چې اوس یې ځینی غړی په دولتي ادارو کې مقرر شوی دی. محمدی پخپله هم د کندهار د عالي شوری د رئیس په حیث وټاکل شو... مولوی جلال الدین حقاني هم له طالبانو سره یوځای شو، او په اوله مرحله په کابل کې یې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ریاست عهده ترلاسه کړه. نوموړی بیا د سرحدی چارو وزیر.

حکمتیار چې له طالبانو سره د واک د ویش غوښتونکي ؤ پخپله ونه توانید چې د طالبانو په سیاسي صحنه کې رول ولوبوی ایران ته یې پناه یوړه، په داسي حال کې چې د حزب اسلامي زیاتره قوماندانان او مجاهدین له طالبانو سره یوځای شول د هیواد زیاتره برخه یې د طالبانو په واک کې ورکړه، د اهل تشیع مشرانو لکه اکبری، عرفاني او پرواني د طالبانو په لاس د مزار او بامیان له لویدو وروسته د اسلامي امارت سره بیعت وکړ او له هغوی سره یوځای شول.

حضرت مجددی او پیر ګیلاني د خپل منځلاری چلن له مخې او دصوفیانه تمایلاتو په اساس د طالبانو د محبت څخه یې برخې پاتې نه شول او په عادی ډول په پیښور کې خپلو سیاسي او فرهنګي فعالیتونو ته په داسي بڼه دوام ورکوی چې د طالبانو له اهدافو سره ټکر نه کوی.

سره له دی چې د افغانستان په سلو کې له ۹۰ –۹۵ برخو پوری د طالبانو واکمنی ده نړیوالي ټولني او هیوادونه تر اوسه پوری د دوی د په رسمیت پیژندلو څخه ډډه کوی او د طالبانو په چلن کې د بدلونونو غوښتونکې دی، له دی جملې څخه د ژوند په ټولو اړخونو کې د ښځو د حقوقو اعاده، د اسامه بن لادن سپارل امریکا ته چې په افغانستان کې یې پناه اخستي ده او د انساني حقوقو درناوی اونور یاد ولای شو.

طالبانو د کابل له نیولو څخه وروسته کرار کرار خپله سیاسي تګلاره او اهداف اعلان کړل، چې عمده ټکي یې دا دی:

۱– په افغانستان کې د اسلامي نظام جوړیدل چې د اسلام دین باید د هیواد په ټولو دولتي، مذهبي او ټولنیزو اړخونو کې تطبیق او عملي شي.

۲– د ژبینو، نژادی او قومي تبعیضونو له منځه وړل چې د دی پر اساس به دافغانستان راتلونکي اداری

کدر د هیواد د دیندارو او مسلمانو کسانو څخه وي.

۳- د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت د دفاع لپاره د ملي اردو جوړول.

٤- د هیواد په اقتصاد کې د اسلامي روش پلي کول او د هیواد صنعت او زراعت ته پراختیا ورکول.

٥- د تولنیزو .. و .. ره د زکات او عشر د اصل تطبیق چې د هیواد له شتمنو خلکو او سازمانونو څخه به را ټولیږي.

## مذهبي پولیس (امر بالمعروف او نهي عن المنکر)

د طالبانو د اساسي او منظمو ارګانونو څخه یو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر سازمان دی، چې د هغوی په واسطه طالبان په ټولنه کې د شریعت د پلي کولو هڅه کوي، طالبان ادعا کوي چې په ټولنه کې د اسلامي شریعت د نافذېدو له لارې خلک نیکیو ته راوبولو او له بدیو یې ایسار کړو پخپله به ایډیالي اسلامي ټولني ته هغوی رهبري کړو. دغه سازمان په ۱۳۷۷لمریز د غبرګولي ٤مه/۱۹۹۸م د مې ۲۵مه وزارت ته لوړ کړای شو. په پیل کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اداري د هر وزارت په چوکاټ کې ځانګړې تشکیل درلود، خود امنیت د ټینګښت او دشریعت د تطبیق په خاطر یې ځانګړی تشکیل د وزارت په سطحه منظور شو.

د جزا طریقه هم د اسلامي احکامو په بنه برابره شوې چې په قرآن کریم کې یې ټینګار شوی دی، همدارنګه د پیغمبر (ص) د ژوند او نبوي احادیثو په بنا د حنیفي فقهې پر اساس د ژوند د تنظیم هڅه کیږي، همدارنګه په هغو مسایلو کې چې دوی کومې د حل لارې ته د رسیدو په لار کې له ستونزو سره مخ کیږي د اهل سنت او جماعت د اکثرو علماؤ د (اجماع) په اصل عمل کیږي. څرنګه چې د افغانستان مرکزي خواک د تیرو شلو کلونو جګړو په سبب له منځه تللی دی او قضایي صلاحیت لرونکی مرجع هم تر اوسه پوری منځته نه ده راغلې په سیمه ایزو ولسوالیو اوکلیو کې د سیمې د عالم لخوا د شرعي پریکړې په اساس فیصلې کیږي او همغه عملي کیږي. د هیواد د اداري په اړه پریکړې بیا د امیر المؤمنین ملا محمد عمر لخوا کیږي چې د سیمه ایزو پریکړو څخه لوړې او د تطبیق وړې وي. په امنیتي مسایلو او د خلکو ترمنځ د اختلافاتو ربړې لومړې د همغه ځای پولیسو ته مراجعه کیږي که هغوی د حل لاره پیدا نه کړي بیا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کمیټو ته سپارل کیږي. دغه کمیټې دلومړنیو محکمو سره اړیکې لري او که ربړې او مجرم د دواړو لوریو په موافقه حل نه شوې عالي محکمې ته سپارل کیږي او هغوی بیا وروستی پریکړه کوي.

## د شمال متحده جبهه

کله چې جنرال عبدالملک، د طالبانو پر خلاف درېځ غوره کړ او د حزب وحدت او مسعود په مرسته یې پر مزار شریف دوهم ځلې واک ترلاسه کړ د ۱۳۷٦ لمریز د غبرګولې په ۲۲مه ۱۹۹۷/م د جون ۱۲مه د طالبانو دمخالفو مختلفو ډلو ترمنځ د افغانستان د ملي اسلامي متحدی جبهی په نامه یو ائتلاف را منځته شو، په دغه جبهه کې د جنرال ملک په مشرۍ ملي اسلامي جنبش، جنرال فوزي (وروسته دوستم) وحدت ګوند (خلیلي او محقق) د محسني حرکت اسلامي او د مسعود د شورای نظار لخوا په مزار شریف ښار کې لاسلیک شو. دوی ورځې وروسته د ۱۳۷٦لمریز دغبرګولې په ۲٤مه رباني هم له ازبکستان څخه مزار شریف ته راستون شو. د ایران، هند او روسیې هیوادونو د شمال د متحدی جبهې پرجوړېدو خوښي وښوده او خیلې پوځې مرستې یې زیاتې کړې، خود جنبش ملي په منځ کې د جنرال دوستم او ملک ترمنځ اختلافونه د دغو ائتلافونو په واسطه له منځه نه تلل او په یوه دایمي کینه او بدبینۍ وو. د وستم مزار شریف ته ستون شو او عبدالملک ایران ته وتښتید، طالبانو دده د ورسپارلو غوښتنه وکړه ځکه چې د مزار شریف عامي وژنې زیاتره پر هغه ور تپل شوې دي چې د طالبانو بندیان یې له روغتون څخه وژنتون ته یوړل او وېې وژل.

له بل پلوه جنرال دوستم له مسعود سره هم چندان ښې اړیکې نه درلودې او د سمت شمال بیا ائتلاف هغه همکارۍ ته ونه هڅولې شو همدارنګه د هغه پخوانۍ د هماهنګۍ شورا همکار او حلیف (حکمتیار) هم د شمال له جبهې سره د شریک حرکت پلوی نه ؤ او مسعود یې رداوه، حکمتیار وروسته له ایران څخه مزار ته ستون شو او په بلخ کې یې خپل مرکز جوړ کړ او غوښتل یې چې د خپل قوماندان جمعه خان همدرد په ملاتړ چې له دوستم سره یې ښې اړیکې او له مسعود سره یې رقابت درلود دبیرته ځان منظم کړي، د وحدت ډلې په مشرانو کې هم د نظر اختلافات موجود وو، اکبرې جګړې ته چندان میلان نه درلود، او خپل مصلحت یې په دې کې لیده چې له طالبانو سره د تفاهم او سولې لاره غوره کړي، په داسې حال کې چې خلیلي او محقق پر جګړه ټینګار کاوه، پر دې سربېره د محسني حرکت له خو اړخونو سره د همکارۍ له مخې ځان ته بقا ور بخښلې وه او زیاته ګټه یې اوچتوله.

## په شمال جبهه کې د ایران نفوذ

ایران چې پخپلو ختیځو سرحدونو کې د طالبانو موجودیت په خپل مصلحت نه لیده په افغانستان کې د سیاسي سیالیو په لوبو کې له پاکستان څخه وروسته پاتې ؤ، د نظامي او سیاسي مرکزونو جوړولو ته یې زیات پام واړاوه، د مزار شریف قسنلګرۍ یې د یوې اطلاعاتي او نظامي شبکې ترحده پورې پراخه کړه، همدارنګه د بامیان هوايي ډګر د پوځي مهماتو د لیږلو یو مرکز شوی ؤ، هره ورځ له دری څخه تر پنځو پوځي الوتکو پورې د مشهد څخه تر بامیان پورې د وسلو او مهماتو په رسولو بوختې وې.

د ایران د بهرنیو چارو معین علاؤ الدین بروجردی د طالبانو د مخالفو ډلو د جوړولو په اړه یوه پراخه طرحه وړاندی کړه او ټولو سیاسی ډلو ته یې هدایت ورکړ چې له هغې څخه پیروی وکړی، همدارنګه د بناعلی نجفی (ستا د پشتیبانی افغانستان) او ابراهیمی تر څارنې لاندې د مجمع افغانستان ټولنو عملاً په تهران کې په هغو طرحوکار پیل کړ، او د افغانستان د سیاسی ډلو څنګ یې ډله ئیز او یا په ځانګړی توګه تطمیع کړل او دهغوی په تنظیم کې یې عملاً ونده واخسته، د١٣٧٦ لمریز کال دزمری په میاشت ١٩٩٧م اګست کې د نجفی، مسعود او حکمتیار تر منځ په یوه غونډه کې هدایت ورکړل شو چې پر کندر یوه مشترکه حمله وشی، دغه دستور حکمتیار عملی نه کړ او مزار شریف ته ولاړ، داسې فکرکیده چې هغه به بیا ایران ته ولاړ نه شی څوکله چې بیا مزار شریف طالبانو ونیو هغه تهران ته ستون شو.

دا ځل ایران پخپله د عمل ابتکار په لاس کې واخست او دخپلو کارکوونکو د وژلو نه وروسته یې د افغانستان په سرحد کې د یوی دری سوه زره کسیزی قوی په مانور لاس پوری کړ، د ځینو روایتونو په اساس ایرانی کوماندو د شینډنډ پر هوایی ډګر حمله وکړه او افغانی الوتکې یې وتښتولې، وروستی جګړی نه یوازی د ایران په ګټه پای ته ونه رسیدی بلکې د اهل شیعه ګروپونو په منځ کې یې انشعابونه هم را منځته کړل او د هغوی یو شمیر له طالبانو سره یو ځای شول. جنرال دوستم چې تشو کولای په خوښه د مسعود تر څنګ د طالبانو په مقابل کې ودریږی ترکیې ته روان شو او ملی جنبش هم سره وپاشل شو.

د جګړو د بیا پیل کیدو او د ١٣٧٨ لمریز کال د زمری په پای ١٩٩٩م اګست کې د شمالی او تخار دیوی برخی سقوط د شمال جبهه د شوری نظار او ربانی په محور کې پاتی شوه، سره له دی چې د افغانستان له لس فیصده خاوری څخه لږه برخه د مسعود په لاس کې ده د ځینو نړیوالو ستونزو له امله تر اوسه طالبان نړی په رسمیت نه دی پیژندلی او زیاتره بهرنی نمایندګی د ربانی - مسعود د ډلویانو په لاس کې دی. چې د همدغو نمایندګیو د مالی امکاناتو او د روسیې، ایران او هند د پوځی مرستو څخه په استفادی هغوی توانیدلی دی چې په نړیوال ډګر کې بیا ځانونه مطرح کړی.

همدارنګه د ١٣٧٨لمریز کال د وری په ١٧مه١٩٩٩م د سپتمبر په ٨مه د ایران په سنځګړتوب په پنجشیر کې یوه غونډه جوړه شوه او ربانی نوی سیاسی دفتر اوکابینه په لاندی ډول اعلان کړه:

١- برهان الدین ربانی رئیس، ٢- سیاف مرستیال، ٣- عباس کریمی منشی، د دفتر غړی عبارت دی له احمد شاه مسعود، وحید الله سباوون، حاجی عبدالقدیر، سید حسین انوری، او عبدالله خان. (٧)

دغه تشکیل له اوه کسیزی کابینی سره په حقیقت کې دشورای نظار د تبارزیو ډول ؤ چې که وکولی شی بیا د نړی دهیوادونو ملاتړ ترلاسه کړی.

## امریکا او طالبان

د طالبانو غورځنګ په داسې وخت کې جوړ شو چې د مجاهدینو ډلې په خپلو کې په جګړه بوختې وې او د قواو توازن د مداخله کوونکو هیوادونو د نظامي او اقتصادي ملاتړ په سبب برابر او دیوه پراخ بنسټه حکومت جوړیدل په افغانستان کې ناممکن وو. امریکایان چې د افغانستان او مرکزي آسیا د جمهوریتونو د نفت او ګازو د ترلاسه کولو په خاطر پانګې اچونې ته لیوال وو، د بې نظیر بوټو او دهغه د با تجربه مشاور جنرال نصیر الله بابر له طرحې سره زیات علاقمند وو. هغوی د پاکستان د جمعیت العلماء ډلې او دهغوی د مشر مولانا فضل الرحمن چې د بې نظیر بوټو ائتلافي ملګری ؤ، د طالبانو ډله چې د میوند په دښته کې پخپله را منځته شوی وه او د "شر او فساد" پر خلاف یې وسله را او چته کړې وه حمایه کړه، ځکه دې ډلې د دیني مدرسو څخه په پاڅون لاس پورې کړ، هغوی د فکر په لحاظ سنتي مسلمانان او صوفیانه تمایل خاوندان بلل کیږي چې د پاکستان او سعودي عربستان د حکومت د فکر انداز ته ډیر ورته دي.

له بله پلوه د پاکستان حکومت د حکمتیار له ملاتړ څخه زړه توری شوی ؤ او اړیکې یې ورسره سړې شوې وې. امریکا هم له حکمتیار څخه ښه زړه نه درلود او سعودي عربستان هم د هغه له بې اطاعتۍ څخه تر پزې راغلې ؤ.

امریکا یو داسې تنظیم ته چې دین له سیاست څخه بیل وبولي که څه هم نظام د اسلامي وضعه شویو قوانینو پابندوی هم د بنسټ پالو جهادي ګوندونو په نسبت چې د مبارزاتي فکر او جنګي تجربې خاوندان دي زیاته ترجیح ورکوله.

نصیر الله بابر چې پخپله هم د داود په وخت کې د ذوالفقار علي بوټو د ډلې څخه ؤ او د ضیأ الحق له ویرې یې کابل ته پناه وړې وه د افغانستان د وضعې په اړه یې د رواني څیړنې په اساس د تجربې وړاندیز وکړ چې بیاهم د دین په اساس کیدای شي په افغانستان کې کلیدي واک ترلاسه کړای شي او دا کار طالبان کولی شي، ځکه چې د ۱٦کلونو جګړو په اوږدو کې په افغانستان کې زیاتره نوی نسل د جمعیت علماء په مدرسو کې تربیه شوی او په زړګونو تنه نور د هغوی پلویان هم له دوی سره هر ډول حرکت ته چمتو کیدای شي، له بله پلوه خلک د تنظیمونو له اوږدو خپلمنځي جګړو څخه ستومانه شوي وو او د ټولنیز فساد لمن محلي قدرتونو ته پراخه شوې وه.

په ۱۳۷۳ لمریز/۱۹۹۴م کال د افغانستان د جنوبي برید (سپین بولدک) څخه د طالبانو د پوځي مارش له پیل سره د قواو توازن ویجاړ شو، او محلي ډلو او د مجاهدینو تنظیمونو د طالبانو پر محور را تولیدو تمایل وښود، کله چې د ۱۳۷۵لمریز کال د میزان په ۵مه/۱۹۹٦م د سپتمبر په ۲۷ مه طالبانو کابل ونیو د طالبانو په باب د امریکا نیک نظر زیات ؤ. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په خپل لومړنې غبرګون

کې وویل:

"د طالبانو ګوښې کېدل د افغانستان او هیڅ کوم بل هېواد په ګټه نه دي"(۸)

امریکا د طالبانو تحریک د دیموکراسي دا عادي لپاره د بوی عبوري دوري په توګه ګانه، عربستان، متحده عرب امارت او پاکستان لومړني هیوادونه وو چې د طالبانوامارت یې په رسمیت وپېژاند، خو امریکا په کابل کې د شرعي قوانینو د وضعه کولو په خاطر د هغوی له یه رسمیت پېژندلو ډډه وکړه.

میرمن رابن رافایل د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معین پاکستان ته د خپل سفر په ترځ کې وویل: امریکا اخلاقي مسوولیت لري چې په افغانستان کې د سلګرو ملتونو د سولې د هڅو څخه ملاتړ وکړي او هغې ته دوام ورکړي. په داسې حال کې چې طالبان د سلګرو ملتونو هڅو ته چندان میل نه لري، هغې وویل: د امریکا متحده ایالات په هیڅ ډول د طالبانو اداره په رسمیت نشي پېژندلی سره له دې چې د طالبانو د غورځنګ په باب په پیل کې د امریکا په سیاسي کړیو کې یو ډول خوشبیني موجودې وې. (۹)

امریکا تصور کاوه چې د طالبانو په واک ته رسیدو به د خوسیمه ایزو ستونزو دهغې له جملې څخه د نشه یي موادو په مبارزه کې بریالي شي، هغه ربړې عبارت وې له:

۱- په افغانستان کې د وسلو راټولول او د سولې ټینګښت.

۲- د دیموکراسۍ را ژوندي کول او د محمد ظاهر شاه د کورنۍ بیا راستنیدل او د لویدیځ پلوی معتدل رژیم را منځته کېدل.

۳- د وسله والو جنګي ډلو له منځه تلل چې په راتلونکې کې په نورو اسلامي هیوادونو او نړۍ کې د جګړې او خطر سبب کېدای شول.

٤- د تریاکو دکر لومړی محدودول او وروسته یې تولید بندول او د افغانستان له لارې د هیروئینو د لیږلو بندیدل.

٥- د اسلامپالو ډلو د روزنې د مرکزونو له منځه وړل چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه افغانستان ته را تلل.

٦- په افغانستان کې پانګه اچول چې ټولې تولیدي منابع له منځه تللي دي او د ځمکې لاندې ستمنې یې بشپړې پاتې دي.

۷- د منځنۍ آسیا د هیوادونو د تیلو او ګازو د ذخیرو ترلاسه کول او د افغانستان له لارې د پایپین غزول چې په دې پروژو کې پاکستان هم علاقه درلوده.

۸- په افغانستان او منځنۍ آسیا کې اقتصادي او ستراتیژیکو اهدافو ته د روسیې او ایران لاره بندول

امریکایانو د طالبانو دواک ته رسیدو په لومړیو ورځتونو کې ډیر خوشبینانه فکر کاوه، که چې طالبانو په کابل کې واک ترلاسه کړ د امریکا د غوښتنو پر خلاف یې عمل وکړ او امریکا چې کوم دستورونه طرح کړي وو عملي جامه یې ور وانه غوستله، او د پاس ذکر شویو موادو په اړه یې په لاندې ډول اقدام وکړ.

۱- طالبانو تر خپل کنترول لاندې له ټولو سیمو څخه وسله را ټوله کړه او د دوی له امر څخه سر غړونکو ته د سختو سزاګانو د عملي کولو په سبب پردې وتوانیدل چې زیاتې وسلې را ټولې کړي، خو لکه چې امریکا او بنایي پاکستان ته درلوده چې د امریکا اغیزمنه وسله بېرته دوی ته وسپارل شي. طالبانو له دې کار څخه ډېره وکړه، له همدغو وسلو څخه پر ټول هیواد د تسلط لپاره تر اوسه کار اخلي.

۲- طالبانو عملاً د لویدیځې تولنې په بنه دیموکراسي رد کړه او د شریعت د نفاذ لپاره یې د اسلامي قوانینو پلي کول پیل کړي دي. همدارنګه هغوی د افغانستان د راتلونکي زعامت لپاره د محمد ظاهر شاه او د هغه د کورنۍ د کوم غړي له مثلو نه ډډه کوي، څرګنده یې کړه چې ظاهر شاه کولی شي دیوه افغان په توګه بېرته هیواد ته ستون شي او ژوند وکړي، خو هغه د یوه مشر او قاید په حیث نه پیژني.

۳- د طالبانو تر کنټرول لاندې سیموکې د جګړه مارو ډلو له منځه تلل د طالبانو یوه بریالۍ طرحه وه، خو وروستي جګړې چې امریکا هم مینه نه ورسره درلوده او د ملګرو ملتونو منځګړتوب او نه توجه له یوه پلوه او دطالبانو مخالفو ډلو ته دا تکل نه زیات د وسلو او جنګي مهماتو مرستې له بلې خوا ددې سبب شول چې د افغانستان خلک تر اوسه په جګړوکې بشکیل پاتې شي او وسله ترې راټوله نشي.

٤-د تریاکوکرنه عملاً تر پخوا په افغانستان کې زیاته شوې ده. اود ملګرو ملتونو د شمیرنو پر اساس د افغانستان زیاتره کروندګر اوس تر نورو حاصلاتو تریاک زیات کري. د طالبانو اداري له ملګرو ملتونو څخه غوښتنې دي چې له کروندګرو سره زیاتې مرستې وکړي چې که وتوانیږي د یوه کال لګښت یې پوره شي، تر اوسه د ملګرو ملتونو لخوا ددې لپاره بودجه نه ده تصویب شوې. طالبانو هم د خپل واک د ټینګښت په خاطر تر اوسه نه دې غوښتنې چې له خلکو سره عملاً لاس او ګریوان شي.

د ملګروملتونو سازمان د نشه یي موادو سره د مبارزې کمیټې د ۱۹۹۹م کال په رسمي راپورکې اعلان وکړ چې د نړۍ په سلوکې (۷۵) برخې نشه یي مواد په افغانستان کې تولیدیږي. همدارنګه د دوه زرم کال د مارچ په وروستیوکې ملګروملتونو په افغانستان کې دکوکنارو د کرد مخنیوي لپاره څلورکلن پلان تصویب کړ چې هرکال به ۲۵ میلیون ډالره په دې کارکې لګوي. (دژباړن یادښت)

٥- په افغانستان کې د اسلام پالو ډلو د نظامي زده کړې د مرکزونو له منځه وړلو لانجه د امریکا او اسامه بن لادن ترمنځ دلانجې پرسر پراخ ابعاد خپل کړي دي، او په افغانستان کې د اسامه بن لادن د مرکزونو د بمبارد سره د طالبانو او امریکا ترمنځ د نظر اختلافونه نور هم زیات شول او اوس دغه موضوع د دواړو لوریو د بهرنۍ سیاست او اړیکو محوري ټکي دي. "په دې اړه د امریکا او بن لادن معما بحث ته رجوع وکړئ".

٦- لویدیځو شرکتونو د امریکا یې شرکتونو په شمول په افغانستان کې پانګې اچونې ته زیاته علاقه ښودله. هغوی په دې هیله وو چې طالبان بشپړ پر هیواد مسلط شي. د دې جملې څخه یوه کاناډایي شرکت له کابل څخه تر هرات پورې د ریل پټلۍ غځولو، امریکا یې شرکت د مصنوعي سپوږمۍ له

لاري د تيلفوني سيستم د فعالولو، فرانسويانو او ارجنتاين د عينک د مسو دکان څخه د ګټې اخستلو د کابل د نړيوال هوايي ډګر فعالول، په کندهار کې دسمنتو د فابريکې فعالول د چين لخوا او داسې نور بټالونه د هغو ګټورو کارونو له جملې څخه وو چې پلاوي يې کابل ته ولاړل او د دې کارونو د ترسره کولو پلانونه يې جوړل کړل، خو دا ټول د امريکا او طالبانو د اړيکو د خرابي څخه اغيزمن شول.

۷- د امريکا له پلانونو څخه يو دا ؤ چې په افغانستان او يا له همدې لارې په منځنۍ آسياکې ترځمکه لاندې طبيعي زيرمو ته څانونه ورسوي، انتوني ديفس *Anthony Davis*. د امريکا د يو نيکال شرکت رئيس په پاکستان کې د امريکا له پخواني سفير رابرت اوکلي *Robert Oakley* او په اسلام آباد کې د سنګرو ملتونو نماينده چارلز سنتوز *Charles Santos* سره تر مشورې وروسته دغه پلان ترلاس لاندې ونيو او په کار يې پيل وکړ. په لومړي پړاو کې يې ۱۰۸ مليون ډالره دکار د پيل لپاره بيل کړل، د وې کمپنۍ د "يونيکال" او "دالتا" په نامه په دې پروژه کې شريکې شوې، خو له يوه پلوه چې د اسامه بن لادن په سبب د طالبانو په اړه د امريکا بهرني سياست بدلون وموند له بلې خوا د افغانستان په سرحدونو کې دايران د پوځ را توليدل او نظامي مانورې اجرا کول په افغانستان کې ددغه عمراني پروژې دکار د منځه تللو سبب شول، د امريکا پروژه اصلاً د ايران د منزوي کولو د ستراتيژي يوه برخه ده چې د افغانستان او پاکستان له لاري د تيلو او ګازو ددغه پايپ لاين د غځيدو په سبب به خامخا د ايران اقتصاد ته ضربه رسيږي. (۱۰)

## د بن لادن معما او طالبان

اسامه بن لادن اوله امريکا سره يې اړيکې د هغو مسايلو له جملې څخه دې چې په کنيا او تانزانيا کې د امريکا د سفارتونو د بم ايښودلو په پيښو کې د لاس درلودلو له تورڅخه دمخه د سپينې ماڼۍ په سياسي محفلونو کې مطرح وې.

کله چې د ۱۳۷۵ لمريز په تله/ ۱۹۹٦م سپتمبر کې طالبانو کابل ونيو سندي ګال له کابل څخه د لندن سندي تايم ورځپاڼې ته يو راپور واستاوه چې کابل ته يې په پټه د اسامه بن لادن د تلو او له طالبانو سره يې د خبرو اترو خبر پکې راغلی ؤ.

خو دغه خبر په نړيواله سطحه د چا د پام وړنه ؤ، او داسې فکر کيده چې دغه تعقيب د (الافغانيان) په نامه مشهور و عربو او دهغوی له جملې څخه د اسامه په باب د هماغو پخوانيو هغو دوام دی چې امريکا د پاکستان په مرسته يو شمير کسان ونيول او يا رباڼي د هغوی ۲۰ تنه مصر ته د تګ په وخت کې د حسني مبارک جيلونو ته ور وسپارل. دغه آوازې د نړۍ په دله ئيزو تبليغاتي وسايلو او د امريکا په سياسي محافلو کې داسې را غبرګيدې چې په خرطوم کې د اسامه بن لادن شته والی پرسودان د اقتصادي او

سیاسي تحریمونو سبب شو او آن تر دې دغه هیواد د د اخلي جګړې او نورو ګاونډیو سره د سرحدي لانجو سبب شو. سوډان ددې فشارونو په مقابل کې مقاومت ونکړای شو او امریکا ته یې د اسامه د سپارلو پرځای هغه ته اجازه ورکړه چې په خپله خوښه هر چیرته ځي ولاړ دې شي.

هغه د جهادي پس منظر او له روسانو سره د مقابلې پر وخت په افغانستان کې د اوسیدو په سبب همدغه هیواد خوښ کړ او د طالبانو له چارواکو څخه یې د پناه غوښتنه وکړه، د کنیا او تانزانیا په سفارتونو کې د بمونو د چاودنو له پیښو څخه وروسته اسامه په دې پیښو کې په لاس درلودلو تورن شو، او امریکا له طالبانو سره تکر وکړ، پر لوګر، جلال آباد او خوست توغندویې برید د طالبانو پر خلاف د امریکا د بنکاره او عملي عکس العمل څخه یو ؤ، بالاخره د ۱۳۷۸ لمریز د تلې په ۲۳مه د ۱۹۹۹م د اکتوبر ۱۵مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورى د امریکا په وړاندیز په افغانستان یو لړ اقتصادي بندیزونه ولګول. او څرګنده یې کړه چې که د همغه کال د نواسبر تر پایه پورې اسامه بن لادن امریکا ته ونه سپارل شي دغه بندیزونه به عملي کیږي.

اوس د اسامه بن لادن موضوع د امریکا د اجندا په سرکې ده، او د طالبانو تر فشار لاندې راوستلو لپاره ډیره بنه پلمه ده. خو امریکایانو یوه موضوع په تاریخي ډول تر مطالعې لاندې نه ده را وستې او یا نه غواړي چې هغې ته پام واړوي چې د افغانانو د ملي او کلتوري ځانګړتیاؤ څخه یوه سیمه پالنه ده، یعنې که څوک د دوی د بښمن هم وي او کورته یې ورشي دا خوپریږده چې پناه دې ترې وغواړي له کوره شړل یې ننګ او عار ګڼي، د دوهمې نړیوالې جګړې په وخت کې هم داسې یوه پیښه را منځته شوه او د روسیې، انګلستان او امریکا هیوادونو د افغانستان له دولت څخه وغوښتل چې دوه ، ،ره تنه الماني، جاپاني او ایټالوي اتباع چې د افغانستان د تخنیکي او اقتصادي پروژو تخنیکي مشاورین وو دوی ته وسپاري.

صدراعظم هاشم خان او پخپله ظاهر شاه دغه غوښتنه په کلکه رد کړه او څرګنده یې کړه چې که دغه هیوادونه له زور څخه کار واخلي هم د افغانستان دولت به د خپلو میلمنو د دفاع په خاطر مقابلې ته چمتووي.

افغانان په تیره بیا پښتانه له خپل میلمانه څخه دفاع د ځان لپاره یو ویاړ ګڼي اوس د اسامه بن لادن مساله د افغانستان پر ملت دیوه افغاني ننګ په حیث تپل شوې ده چې د دوو متضادو حالتونو سره مخ شوې دی، که طالبان اسامه امریکا ته وسپاري خپل ملي او افغاني حیثیت به وبایلي او خامخا به د طالبانو د سقوط او خپلمنځي جګړو سبب شي. او که د امریکا د غوښتنې په وړاندې مقابله او ټینګار وکړي د طالبانو نیم ژواندې حکومت چې تر اوسه پورې په داخلي جګړه مصروف دې نشي کولی په پښنو ودریږي، د طالبانو مخالفینو هم دامریکا له دې حساسیتونو څخه سؤ استفاده کړې ده او غواړي بیا په نړیواله سطحه ځانونه مطرح کړي، خو د امریکا حکومت د رباني - مسعود له اداري څخه هم ښه زړه نه درلود او په هغوی به اعتماد ونکړي.

## د اسامه بن لادن ژوند

اسامه بن لادن د شیخ بن لادن د وروستیو زامنو څخه یو دی. لادن چې اصلاً د یمن دی او د ملک عبدالعزیز له پیاوړو پوستنو څخه دی چې د سعود کورنۍ د دولت د بنسټ ایښودونکو څخه دی، پردې سربیره نوموړی د مکې معظمې او مدینې منورې د جوماتونو د ودانیو او انګړونو پراخونې له ستکړینو څخه دی چې په دې برخه کې یې ډیرې هڅې وکړې او د خدای د کور او د مکې د جومات او د مدینې منورې د نبوي جومات ودانۍ یې د خپلې ۱۳۰ میلیارد ډالرې شتمنۍ څخه جوړ کړل، هغه په نظر کې درلوده چې د مسلمانانو دریم مقدس مقام په بیت المقدس کې د اقصی جومات هم په خپلو پیسو جوړ کړي.

اسامه د لادن د ۲٤ نارینه او ښځینه اولادونو په جمله کې یو دی چې سوریې د سعودي عربستان ده نوموړی په ۱۳۳٤ لمریز/۱۹۵۵م د مکې معظمې په ښار کې زیږیدلی چې د سعودي عربستان په بیاودانولو کې یې لوی رول درلود نوموړی خپله شتمنۍ دیوې فرانسوي کمپنۍ سره د بوینګ الوتکو د پیرلو په لار کې په کار واچوله، همدارنګه نوموړی په منځنۍ ختیځ کې پراخ سوداګري کارونه لري، مثلاً په قاهره کې یې د ودانیو جوړولو شرکت جوړ کړ، کله چې دلبنان کورنۍ جګړه په ۱۳۷۵ لمریز/۱۹۹۰م کال پای ته ورسیده، اسامه تیاري ونښود چې د بیروت د ښار په بیا جوړولو کې برخه واخلي، او کله چې د عراق او کویټ جګړه پای ته ورسیده اسامه د لادن د ورونو د ستونزو په لرې کولو کې مهم رول درلود.

کله چې روسانو په ۱۳۵۸ لمریز/۱۹۷۹م پر افغانستان تیری وکړ، اسامه هغه مهال چې یو خوځند او له نشاطه ډک ځوان ؤ او د ریاض له پوهنتون څخه د مهندسي په څانګه کې فارغ شوی ؤ د افغانستان په جهاد کې د ګډون تصمیم ونیو. هغه جهاد ته له تنو د مخه د سعودي د شهزادګانو په مخکې خپله اراده ښکاره کړه او د هغوی د پراخې مرستې غوښتنه یې وکړه، هغه د دوو لویو کارونو لپاره جهاد لازم باله.

۱- د اسلام د سترو یادګارونو ژوندی کول او خوندي کول په ټوله نړۍ کې، چې ددې سترو یادګارونو په ساتنه به د اسلام د تبلیغ زمینه برابره شي.

۲- په وسله وال جهاد کې ګډون ترڅو افغانستان آزاد شي او بیا ددغه جګړې ځپلی هیواد په بیارغونه کې لاس په کار شي. په همدې خاطر په هر ځای کې چې مجاهدینو تسلط درلود د ودانیو، لارو او روغتونونو په جوړولو یې لاس پورې کړ، او د غذایي موادو او درمل په برابرولو کې یې مرسته وکړه. اسامه په خطرناکو جګړو کې برخه واخسته د هغې له جملې څخه په پکتیا کې د حزب اسلامي او اتحاد اسلامي پر مرکزونو د شوروي پنځلس زره کسیزې قوې په حمله کې؛ همدارنګه د ننګرهار د ثمرخیلو اود لوګر او وردګو او میدان په جګړو کې یې ونډه درلوده او دروسانو په مقابل کې یې د پنجشیر له جبهې او له

احمد شاه مسعود سره د مالي مرستو په کولو کې د عربو په منځ کې محوري رول درلود. په ۱۹۸۸/۱۳۶۷م اسامه په افغانستان کې د عربو مجاهدینو له تشکیلاتو سره زیاتې مرستې وکړې، او په ۱۹۸۹/۱۳۶۸م کال چې په افغانستان کې د روسي پوځونو له ماتې او تیښتې وروسته د داخلي رقیبو ډلو ترمنځ کورنۍ جګړې پیل شوې، اسامه بیرته له افغانستان څخه سعودي عربستان ته ولاړ، او په جده کې یې له خپلو ورونو سره په سوداګرۍ لاس پورې کړ. همدارنګه اسامه د سعودي د دولت پر سیاستونو انتقادونه پیل کړل، په تیره چې د امریکا ۳۵ زره تنه قوه په سعودي عربستان کې پلې شوه او قرارګاوې یې جوړې کړې د نوموړي اعتراضونه توند شول، د سعودي دولت ددې انتقادونو بار نشو اوچتولی نوموړی یې له هیواده و شاړه او تابعیت یې لغو اعلان کړ. په ۱۳۷۰ لمریز/۱۹۹۱م کال اسامه له سعودي څخه تبعید شو او سودان ته ولاړ، په سودان کې یې د خرطوم د لویې لارې او د سمندري ختیځ بندر په جوړولو لاس پورې کړ او د هغو لګښتونه یې په خپله غاړه واخستل.

څرنګه چې د سودان بهرني سیاست د امریکا د ګټو مخالف ؤ پر هغه هیواد د اقتصادي بندیزونو او کورنیو جګړو او وروسته له ګاونډیو سره په سرحدونو کې د لانجو په سبب د خرطوم په اداره فشار ډیر زیات شو، همدارنګه امریکا غوښتنه وکړه چې اسامه دوی ته وروسپاري چې د خرطوم له لورې د هغوی غوښتنه رد شوه، خو دا تصمیم ونیول شو چې اسامه یو بل هیواد ته پریږدي په ۱۳۷۵لمریز/۱۹۹۶م کال اسامه افغانستان ته بیا راغی او د پناه اخستو غوښتنه یې وکړه، اسامه واده کړی او له خپلې میرمنې او زامنو سره اوس په افغانستان کې اوسي.(۱۱)

## ایران او کسات غوښتونکې عکس العملونه

ایران چې ډیر کلونه کیږي په سیاسي سرګردانه فضا کې پروت دی. د ډیرو هڅو سره بیا هم په افغانستان کې د پښې ځای په موندلو بریالي نه شو. آن تردې چې اهل تشیع ډلو اود مسعود – رباني اداري هم د اقتصادي ګټې په خاطر اړیکې ورسره درلودې، وروستي پیښې چې په مزار شریف او بامیان کې د طالبانو د پرمختګ سبب شوې د شمال د جبهې په له منځه تلو او د جنرال دوستم او جنرال ملک ترمنځ اختلاف او بالاخره د ایران د قونسلګرۍ د ۱۱ تنو وژل کیدل په مزارکې د ایران د حکومت د توند غبرګون سبب شول، د ایران مطبوعاتو او روښانفکرې تولنې عملاً د اداری او نظام پرسیاستونو اعتراضونه او نیوکې وکړې، دغو اعتراضونو او غوغا د ایران دولت تر فشار لاندې راوست او باید په یو ډول دوی د اسلامي انقلاب او د ایراني دولت د چاړواکو سیاسي حیثیت اعاده کړی وای.

له بله پلوه د طالبانو په مقابل کې د ایران د چاړواکو غیر سیاسي چلند او د هغوی لفظي مناقشې او بیانیې د هغه هیواد د سیاسي کمزورۍ څرګندوی وې، چې د طالبانو په وړاندې د خلکو احساسات را

وپاروي او خپلې کورنۍ ستونزې په همدې پلمه له اذهانو وباسي.

ـ ایران پردې هم بسوالي ونکړ او د افغانستان په سرحدونو کې یې د پوځي ځواک په شکلي نندارې او مانور لاس پورې کړ، بناغلي رفسنجاني په خپله وینا کې وویل: موږ به ددې اجازه ورنکړو چې طالبان د اسلام او قرآن سپیڅلې څېره بدنامه کړي... ایران نشي زغملی چې زامن یې د طالبانو د لومړنیو پیړیو د دلې په لاس بندیان شي. (۱۲)

همدارنګه آیت الله خامنه یې د افغانستان د بحران او دطالبانو د غندلو په ترڅ کې په خپل دریځ کې وویل: طالبانو ته اخطار ورکوو چې د ایراني کارکوونکو د نیولو شوم عمل زر تر زره جبران کړي. او د زور واکې په روحیه یې په سپکه لهجه زیاته کړه: د ایران دولت او وسله وال ځواکونه د امریکا شرارت او شیطنت هم نشي زغملی وارخو د دې حقیرو اوکم ارځښته وړوکو کسانو شو... (۱۳)

ملا محمد عمر دطالبانو مشر په ځواب کې وویل: په ایران کې چې په څه شي د اسلام ادعا کیږي، اسلام نه دی او د اسلامي اهدافو سره توپیر لري؛ ... طالبان له هر ډول دسیسو سره مقابلې ته چمتو دي. (۱٤)

کله چې امریکا په افغانستان لرې ویشتونکي توغندي وتوغول او دنړیوالو پام یې خپل لورته وراړاوه د ایران د بهرنیو چارو وزارت څرګنده کړه: که داکار نه وای شوی ایران به پر افغانستان حمله کړې وای.

که څه هم ایران ویریده چې په افغانستان کې به د پوځي مداخلې په سبب په یوه اوږده جګړه کې ښیا کیوزي او د طالبانو په اړه به د امریکا سیاست بدل شي او بیا به یې ملاتړ وکړي د کورنۍ جګړې په دوام کې اساسي رول لري او تر اوسه پورې د لږکیو پر ملي ستم ټینګار کوي.

## نتیجه:

طالبان د امریکا او ملګرو ملتونو سازمان د ضرب الاجل په وړاندې له هغه هیواد سره د خبرو اترو غوښتونکي شول او په نیویارک کې په ملګرو ملتونو کې د طالبانو نماینده عبدالحکیم مجاهد په ۱۳۷۸لمریز د لړم په ٤مه/۱۹۹۹ د اکتوبر ۲٦مه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د سنځنی آسیا د څانګې له رئیس اندرفورت سره خبرې اترې وکړې. چې د امریکا دغه غوښتنه د خبرو اترو له لارې حل شي. طالبانو اعلان وکړ چې له امریکا سره هیڅ ډول مخالفت او دښمني نه لري، خو د اسامه بن لادن د ورسپارلو او د افغانستان د سیاسي لانجې په اړه به د طالبانو غوښتنې نوې ابعاد خپل کړي، ملګرو ملتونو یو ځل بیا د افغانستان کرسي دیوه کال لپاره د رباني اداري ته ورکړه، او د دې مطالب دادي چې د افغانستان لانجه به د ۱۳۷۹لمریز – ۲۰۰۱م تر پایه په ننیو ابهاماتو او بې توازنه حالت کې پاتې وي، او د نړۍ هیوادونه به طالبان

چې د هیواد تر نوی زیاته برخه یې په لاس کې ده په رسمیت ونه پیژني. طالبان به په نړیوالو اړیکو کې لاندیني غوښتنې ولري:

۱- د طالبانو د حکومت په رسمیت پیژندل.

۲- د اقتصادي مرستو او پانگه اچونو جلبول.

۳- د افغانستان له سیاسي صحنې څخه د مسعود - رباني ډرول له منځه تلل او افغانستان ته د مهاجرینو بیرته ستنیدل.

٤- د اسامه بن لادن په اړه باید د افغانستان او سعودي عربستان په شمول د نورو اسلامي هیوادونو د علماؤ شورا پریکړه وکړي او طالبان به دهغې پریکړې د عملي کولو پابند وي، په داسې ډول چې د دوی اسلامي او افغاني حیثیت او سیاسي اعتبار ته ضربه ونه رسیږي.

امریکا او نړیواله ټولنه ظاهراً له طالبانو سره د هیڅ ډول شرط او قرار داد غوښتونکې نه دي، او میرمن البرایت د ۱۳۷۸ لمریز کال د لړم په دریمه ۱۹۹۹/م د آکتوبر په ۲۵مه څرگنده کړه چې اسامه بن لادن باید له کوم قید او شرطه پرته دوی ته ور وسپارل شي. که نه نو طالبان به د هراړخیز سیاسي او اقتصادي تحریم سره مخ شي. امریکا د اسامه د ورسپارلو نه علاوه د افغانستان د سیاسي اداري په جوړښت کې غواړي چې:

۱- د خلکو د مدني حقوقو اعاده په تیره د ښوونې او روزنې، کار او رایې حق په برخه کې د ښځو د حقوقو اعاده.

۲- په افغانستان کې د ترياکو د کرنې او دنشه یي موادو د تولید له منځه تلل.

۳- د هغو پوځي کمپونو له منځه تلل چې د مختلفو هیوادونو څخه کسان پکې روزل کیږي او په نړۍ کې د تروریزم په پیښو کې لاس لري.

## د افغانستان اسلامي امارت مطبوعات او ډله ئیز رسنی وسایل

مطبوعات او ډله ئیز رسنی وسایل د شریعت د پلي کیدو د سیاست او د شر او فساد د سرچینو دله منځته وړلو په اساس نیم فعال او ځنډیدلي پاتې دي، تلویزیون اوس خپروني نه لري او راډیو یې خپروني هم تر خبرونو راپورونو او دیني زده کړو پورې محدودې دي، خپروني په دولتي سطحه د اطلاعات او کلتور وزارت تر څارنې لاندې دي او آزادې خپروني نشته، خو په دې وروستیو کې د "اورنگ هشتم" خپرونه د هرات دادبي ټولنې لخوا خپریږي چې د هغه ولایت د اطلاعات او کلتور ریاست تر څارنې لاندې د سیاسي اړیکو څخه جدا او آزاده خپریږي، چې دغه خپرونه د طالبانو د دورې لومړنۍ نیم آزاده خپرونه بللې شو، د طالبانو د خپرونو محتوا زیاتره خبرونه او راپورونه دي او تر اوسه چې په افغانستان کې کورنۍ جگړه دوام لري او په نړیواله سطحه افغانستان تر اقتصادي او سیاسي فشارونو لاندې ساه اخلي،

زیاتره مقالې دیني بحثونه، اعلامیې او د جنګ خبرونه، فرمانونه او تربوي اندازې د لږ لږ جوړوني او عمراني پروژو د فعالیت په باب خبرونه دي.

د خپروني نوم: **شریعت** (د افغانستان د اسلامي امارت رسمي خپرني ارګان)

پیلیز کال او ځای: ۱۳۷٤ لمریز/۱۹۹۵م، پیښنوز د ۱۳۷۵لمریز د تلې میاشتې څخه وروسته په کابل کې د طالبانو له واک ته رسیدو سره سم په کابل کې خپریږي. خپرندوی او دامتیاز خاوند: د افغانستان اسلامي امارت، مسؤول مدیر: عبدالرحمن هوتک/عبدالرحیم ثاقب، شمیر: دری زره ګڼې، د خپروني ډول: جریده چې په اونۍ کې دوه ځله خپریږي، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو، دری، کچه: ۵۸x۳۸ سانتي متره د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبرونه، د دولت اعلامیې، راپورونه، د شعر پانه، تولنیزې لیکنې. یادونه: شریعت تر ۱۳۷۵ لمریز کال پورې په پیښنور کې خپریده وروسته پر کابل د طالبانو له ولکې وروسته د کابل په دولتي مطبعه کې چاپیږي او په پیښنور کې بیا تکثیریږي، په کابل کې یې کچه وړوکې شوې ده (۳۸x۲۹ سانتي متره).

د خپروني نوم: *اتفاق اسلام*

په هرات کې اونیزه جریده، مسوول مدیر: غلام حضرت جهید. ډول: پخواني حروف چیني چاپ، څلور مخونه، کچه: ٤۹x۳۵ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري.

د خپروني نوم: *الا مارت اسلا میه*

د خپریدو کال او ځای: ربیع الثاني ۱٤۲۱هـ قمري، ۱۳۷۹لمریز سرطان/۲۰۰۰م جون، کندهار، خپرندوی: د اطلاعات او کلتور ریاست. امتیاز: اسلامي امارت. مسوول مدیر: نه لري. کچه: ۲۱ x ۲۹ سانتي متره، ژبه: عربي، د خپروني ډول: میاشتنۍ مجله، رنګه پښتۍ، ٤۰ مخونه، منځپانګه: سیاسي او تولنیزې مقالې.

د خپروني نوم: *انیس*

د خپریدو کال او ځای: ۱۰۳٦لمریز/۱۹۲۸م، کابل، خپرندوی: د انیس خپرندویه موسسه، مسوول مدیر: خادم احمد حقیقي، شمیر: دری زره ګڼې، د خپروني ډول: په اونۍ کې دوه ځله، جریده، یورنګ، څلور مخونه، چاپي، کمپیوټري، ژبه: پښتو او دری، کچه: ٤۰x۳۰ سانتي متره، د خپروني د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري، روزنیز، تولنیز او ادبي مطالب.


شریعت

اونیزه

دافغانستان وطالبانو داسلامي تحریك مرکزي نشراتي ارگان

نبوي ارشاد

الهي فرمان

د اسلام سپیڅلی سپین بیرغ د هیواد د شمال په ... او سیموکې رپانده شو

در نتیجه این قیام فقط هزاران تن از عساکر دشمن بشمول ده ها تن از جنرالان ... و چندین هزار میل اسلحه ثقیله و خفیفه بدست آمده است

د پلیګون په سپیڅلي مشهد کې درنه او پرتمینه غونډه جوړه شوه

از روز جهاني تیلي کمونیکشن تجلیل به عمل آمد

سرمقاله

قیام مردم مجاهد صفحات شمال کشور نوید دهنده تأمین وحدت ملي و تمامیت ارضي کشور ما میباشد

ما از هم پاشیده شدن لانه هاي ملیشه هاي بدنام دوستمي و اندیوالان ائتلافي شانرا که بزرگترین مانع در راه وحدت دیني و ملي اقوام و ملیتهاي برادر مسلمان کشور ما بود، به ملت مجاهد افغان و مقام رهبري کشور تبریك عرض مینمائیم

د شریعت ورځپاڼې عکس

د خپرونې نوم: *اورنگ هشتم*
د خپریدو ځای او کال: د ۱۳۷۸ لمریز کال د غبرګولي ۱٦مه/۱۹۹۹م د مې ۳۰مه، هرات، خپرندوی: د هرات اد بي ټولنه مسوول مدیر: غلام دستګیر قیومي، شمیر: ؟، دول: پنځلس ورځنۍ جریده، اخباري، دوه رنګه، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۳۰X٤۰ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: ادبي، تاریخي او فرهنګي.
د خپرونې نوم: *بیدار په مزار شریف کې اونیزه جریده*
د خپرونې نوم: *الخلافه اسلامیه*
د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۷ لمریز/۱۹۹۸م اسلام آباد مسوول مدیر: د طالبانو غورځنګ او د اسلامي جهاد علماء، شمیر: له دري ترڅلور زرو ګنو پورې، دول: اونیزه جریده/ پنځلس ورځنۍ، چاپ په څلورو مخونو کې، کچه ٤۰X٥٦ سانتي متره، ژبه: اردو، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: سیاسي.
د خپرونې نوم: *خلافت*
د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م کندهار، خپرندوی: د اسلامي امارت خپرنی ارګان، د امتیاز خاوند: د کندهار د اطلاعات او کلتور ریاست. مسوول مدیر: سردار محمد شکیب، شمیر: یو زر او پنځه سوه ګنې، د خپرونې د کار پای: دوام لري، کچه: ۲۱ X ۲۹ سانتي متره، ژبه: پښتو او دري، د خپرونې دول: دوه میاشتنی مجله، رنګه، پښتې ۹۰ مخونه، تصویري، منځپانګه: تاریخي، سیاسي او ټولنیزې مقالې.
د خپرونې نوم: *سنګر*
میاشتنی مجله، د خپریدو ځای: کابل سنبله/۲۰۰۰م سپتمبر مسوول مدیر: نه لري، د خپرونې دول: دوه میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دري، کچه: ۲۱ X ۲۹ سانتي د خپرونې د کار پای: دوام لري.
د خپرونې نوم: *سره میاشت*
بیرته بې په وقفه بې خپرونو پیل کړې دی، د.دفاع وزارت خپرونو هم په نامنظم دول له ۱۳۷۸ لمریز راهیسې پیل شوي دي.
د خپرونې نوم: *ضرب مؤمن*
د پیلیدو کال او ځای: ۱۳۷٦لمریز سلواغه/۱۹۹۷م جنوري، کراچی، پاکستان، مسوول مدیر:؟، شمیر: دري زره ګنې، د خپرونې دول: اونیزه جریده چاپي ٤ رنګه، ٤–۸ مخونه، کچه: ٤۰X٥۸ سانتي متره، ژبه: اردو، د کار پای: دوام لري، محتوی: سیاسي.
د ژباړن یادونه: دغه خپرونه نیغه د طالبانو لخوا نه خپریږي بلکې د الرشید ټرسټ لخوا خپریږي چې په پاکستان کې د طالبانو په ګټه تبلیغ کوي.

د خپرونې نوم: *طلوع افغان، په کندهار کې اونیزه جریده*

د خپرونې نوم: *کابل تایمز* **Kabul Times**

مسوول مدیر: عبدالستار یوسفزی، شمیر: زرگنی، د خپرونې ډول: جریده، په اونۍ کې دوه ځله، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: انګلیسي کچه ۵۲X۲۸ سانتي متره، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري، رپوټ.

د خپرونې نوم: *کندهار*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۳۹لمریز/۱۹۱۸م دوهم پړاو ۱۳۷۷لمریز/۱۹۹۸م، کندهار، خپرندوی: د اطلاعات او کلتور ریاست مسوول مدیر: عبدالحی مطمئن، شمیر:؟ د خپرونې ډول: دوه میاشتنی مجله، رنګه پښتنی، تصویري، ۵۰ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۳۰X۲۱ سانتي متره، د کار پای: دوام لري، منځپانګه: دیني، سیاسي او ټولنیزې مقالې.

د خپرونې نوم: *کمکیانو انیس*

د ۱۳۷۸ لمریز د ورې له میاشتني/۱۹۹۹م اپریل څخه را په دې خوا میاشتنۍ مجله خپریږي.

ننګرهار/ اونیزه جریده چې په جلال آباد کې خپریږي.

اوس په اونۍ کې دوه ځله خپریږي.

د خپرونې نوم: *قلم*

د خپریدو ځای او کال: ۱۳۷۹ لمریز/۲۰۰۰م کابل، د امتیاز خاوند: اطلاعات او کلتور وزارت، د خپرونې ډول: میاشتنی مجله، ژبه: پښتو او دری، کچه: ؟، د کار پای: دوام لري

د خپرونې نوم: *کونړ*

د خپریدو کال او ځای: ۱۳۷۸لمریز وری/۱۹۹۹م سپتمبر، خپروندی: د اسلامي امارت د اطلاعات او کلتور ریاست، د امتیاز خاوند، د افغانستان اسلامي امارت، مسوول مدیر: مولوی شمس الدین منصور، د خپریدو ځای: په جلال آباد کې د اطلاعات او کلتور ریاست.

د خپرونې دکار پای: دوام لري، کچه: ۲۹ X ۲۱ سانتي متره نوع: مجله، دری میاشتنی، ٤۰ مخونه، ژبه: پښتو، محتوی: اجتماعي، سیاسي او ادبي مطالب.

د خپرونې نوم: *هیواد*

د خپرونې ډول: په اونۍ کې دوه ځله، یورنګ، ٤ مخونه، ژبه: پښتو او دری، کچه: ۵۳X۳۸ سانتي متره، د خپرونې د کار پای: دوام لري، منځپانګه: خبري

# د لسمه برخه پالیکونه او اخځونه

*1- The Taliban: war, religion and the new order in Afghanistan, peter Marsden, Londen 1998. P34.*

*2- The Taliban Phenomenon (Afghanistan 1994-1997), Kamal Matinuddin, Oxford Univeristy, Karachi 1999,p.22.*

*3- Fandamentalism reborn? Afghanistan and the Taliban, Anthony Davis, Univeristy of conberra 1998,p.43 p.70.*

*4- Who is Mallah Mohammad Omar? http://www.Afghan web. com/politiecs/Omar.html.*

*5- Afghanistan (1982-1998), S.Fida Yunas, vol.two Peshawar, Pakistan..p 773.*

٦- د استاذ اکبری په شمول... شریعت جریده، د افغانستان د اسلامی امارت مرکزی خپرنی ارگان، ۱۸۱مه گنه، د۱۳۷۷ د لرم ۲٤مه/۱۹۹۸د نومبر ۱۵ مه، کابل.

۷- پیام مجاهد، د شورای نظار جریده، ۱۲۲ گنه، دریم کال د ۱۳۷۸ لمریز کال د وری ۱۸ مه/۱۹۹م د سپتمبر ۹مه.

۸- د راین رافایل **Rabin Raphel** د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معین وینا د افغانستان د بدلونونو په اره، واشنگتن د۱۹۹٦ کال د نومبر ٤مه.

۹- په داکه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معین میرمن راین رافیل خبری کنفرانس، بنگلا دیش، ۱۹۹۷ د جنوری ۲۸ مه

*10- The United State and the Taliban, Richard Mackenzie, fandamentalism reborn, editor.w. Maley NY university press, 1998, P, 92-100.*

۱۱- لاندې مأخذونو ته جوع وکړی.

الف: **"A modern Assdssin"** د لویډگارنر **(David Gamer)** له فنینشل تایمز ورځپاڼې څخه **Fanantial Times**، ۹۸، ۰۸، ۲۲م، لندن.

ب: هر الد تریبون ورځپانه، **"International Herald Tribon"** واشنگتن چاپ – امریکا آگست ۲۲-۲۳/۱۹۹۸.

ج: الحیات ورځپانه، لندن چاپ، د آگست ۲۲ مه گنه ۱۹۹۸ م.

د: د افغانستان د بیا جورولو او تحقیقاتو انستیتوت المیرینار هالند.

۱۲- هاشمی رفسنجانی (ما اجازه... سلام ورځپانه، ۱۳۷۷ لمریز، زمری ۲٤مه/۱۹۹۸م د آگست ۱۵مه،

تهران.
۱۳- د انقلاب دلاربښو د ویناوې د افغانستان د بحران په اړه جمهوري اسلامي خبري آژانس، ورځپانه (سلام) د ۱۳۷۷ لمریز د زمري ۲۸مه/۱۹۹۸م د اګست ۱۹مه، تهران.
۱٤- د اسلامي امارت د رهبر ملا محمد عمر مجاهد مرکه د بي بي سي راډیو پښتو سرویس، د ۱۳۷۷ لمریز د زمري ۲۹مه ۱۹۹۸م د اګست ۲۰مه، لندن.

## وروستی خبری

په افغانستان کې ژورنالیزم چې له یوسل او شلو کالو زیات عمر لري د سیاسي موقعیتونو په سبب دول دول بدلونونه ولیدل، د فکر خاوندانو او ژورنالستانو په افغانستان کې د مطبوعاتو د فکر بنسټ ایښودونکي افغاني سید جمال الدین څخه په پیروي دول دول ستونزې وګاللې اوله مصیبتونو سره یې دغړې ووهلې، د جیلونو د ورې یې تیرې کړې، د حقایقو په خاطر یې خپل ژوندونه له لاسه ورکړل، خو هیڅکله هم له کاره لاس پرسر نه شول، ژورنالیزم په افغانستان کې په تاریخي مختلفو مرحلوکې بیل بیل رنګ درلود، په آسیاکې لوی افتخارونه د افغان ژورنالستانو په برخه شوي دي، کله چې شمس النهار چاپ شو ګاوندي هیوادونه، ایران، منځنۍ آسیا، او د هند یوه برخه د فرهنګي بې وسۍ او سیمه ایز تعصب په تیاروکې اوسیدل، د سراج الاخبار خپریدل له افغانستان څخه بهر په نورو هیوادونوکې د تولنې په جوړښت کې د خلکو ذهنونه روښانه کول، د افغاني لیکوالو او ژورنالستانو لیکنې او تحلیلونه د روښانفکرۍ روش په توګه تر استعمار لاندې اولسونه قیام او پاڅون ته هڅول.

د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې مور د درې پړاوونو آزادو مطبوعاتو شاهدان یو، چې ددغې قوانینو تسوید لا په ګاونډیو هیوادونوکې نه ؤ، دغه د بیان آزادي که څه هم د لنډمهالي سیاسي مقطع په هسکو تیټوکې بیلې بنې او دریځونه درلودل چې یوازې همدغه دورې یې مثالونه کیدای شي، خو د خلکو د سیاسي شعور په راویښولو او روزلوکې یو ګټور عمل ګڼل کیږي، افغانانو پر ګوډسات اقتصاد او فقر برسیره خپل فرهنګي اصالت ساتلی دی او زیاتره خلک یې تراوسه د خلاص سیاسي فکر خاوندان دي.

دا چې ولې ورځپاڼې او مطبوعات ونه توانیدل په تولنه کې خپل تاکونکي رول ولري مختلف عوامل موجود دي چې د هغې له جملې څخه یو فقر او وروسته د داسې مرکزونو نشتوالي چې فرهنګ ثمر ته ورسوي او بې سوادي له منځه یوسي یا دولې شو. خو د تولنې په باسواده او روښانفکره پاټکي کې ورځپاڼې خپل اساسي ځای ساتلی دی او د هرې چاپي پاڼې په اړه ځیرونکي تراوسه پورې خپلو ځیرنو او

پلټنو ته دوام ورکوی او د مختلفو سیاسی دورو د سیاسی انګیرنو او فکر په اړه ارځونې کوی. د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې ددې دورې د اختناق او درې نورې دورې د رژیم ترخارنې لاندې د سانسور دورې دې، د امیر عبدالرحمن خان او د محمد نادر شاه دورې له یو بل سره په توپیرونو سر بیره د افغانستان د مطبوعاتو او ژورنالیزم د اختناق او زندی کیدو دورې بللې شو. د عبدالرحمن خان په دوره کې اصلاً د اخبار خپرولو ته اجازه ورنکړای شوه او دخلکو نظریات او فکر باید پټ پاتې شوی وای، ځکه دغه دوره ډیره حساسه شمیرل کیدای شي ځکه چې له یوه پلوه لاسوهونکو هیوادونو لکه ایران، روس او انګلیس د افغانستان د ښارونو د نیولو هڅې کولې، امیر د خلکو د اکثریت له ملاتړ څخه برخمن نه ؤ او زیاتره د قیام مشران یې اعدام کړی او وژلی وو، پوهیده چې مطبوعات به بیا بلا پرې راولي او دی به بیا و نه توانیږي چې پر کابل خپل حکومت وساتلی شي.

له بله پلوه هغه له انګلیسانو سره د وابستګې او له هغوی سره د قرار دادونو په لاسلیک، د سرحدونو په ټاکلو او د ډیورنډ تړون په اساس د هیواد د جنوبي برخې له لاسه ورکول او همدارنګه د قوقند عشق آباد، او پنجدی له لاسه ورکول د هیواد په شمال کې د روسانو په واسطه، سیستان، بلوچستان، او د لویدیځو سرحدونو یوه برخه د بیرجند په لوری د ایران لخوا نیول کیدل په داسې حال کې وو چې امیر یې د بیرته ترلاسه کولو څخه ناتوانه ؤ او اولس هم ورسره ملاتړ نه درلود، امیر پخپله هم له تیرو کوونکو هیوادونو سره په مقابل کې واک له لاسه ورکاوه. بیا به هم کورنې جګړې نښتې چې یا به د افغانستان په تجزیه پای ته رسیدې او یا به د ایران، روس او انګلیس لخوا د هیواد نورې سیمې هم نیول کیدلې، ځکه هغه هڅه کوله چې تولنه په ناپوهۍ او ظلمت کې وساتي.

د امیر حبیب الله په دوره کې خلکو ته یو لږ آزادي ورکړای شوې او د هیواد د ژورنالیزم وياړمن شخصیت محمود طرزی تر نظر لاندې د بیان او مطبوعاتو آزادی نوی ساه واخسته. هغه د ژورنالیزم او فرهنګی سویې لوړولو لپاره نوی طریقه وړاندې کړه، په دې دوره کې د لومړي ځل لپاره د ماشومانو لپاره د "سراج الاطفال" خپرونه خپره شوه. که څه هم د دې خپرونې زیات لوستونکي د ټولنې لویان وو د مشروطیت غورځنګ سر راپور ته کړ، امان الله خان چې د پلار د بې پروایي په سبب د دې غورځنګ غړی ؤ د سیاسي مختلفو نظریو را منځته کیدل یې بیانول، خو دغه جریان ډیر زر حاکم نظام تر کنترول لاندې راوست او وځپل شول، د هغې دورې روښانفکران جیل ته ولاړل خو ټولنه د پوهې او فکری رشد په لور باقي پاتې شوه په ځانګړې ډول د آزادی غوښتنې فکر نوی ساه واخسته او په دې لارکې د نظر یو والي اود پاڅون ضرورت زور واخست، د یادونې وړده چې ټولنیز جوړښت او اداری اړیکې په دې دوره کې د امیر د استراحت غوښتنې په خاطر داسې وې چې اداری فساد، رشوت او سؤ استفاده ډیر زیات شوی وو.

امانی دوره د غوره تاریخی مقطع څخه ګڼل کیږي. چې فکر او نظر یوه ساه واخسته او ثمرته ورسیدل،

هیواد دخپلواکۍ ساه اخسته، اساسي قانون نافذ شو د بیان آزادي خلکو ته ورکړل شوه، او سیاسي تشکیلات د مختلفو نظریاتو پربنیاد بالاخره د مشروطه غوښتونکو حلقو د جوړېدو سبب شول، په ختیځ کې د افغاني ښځو لومړنۍ خپرونه (ارشاد النسوان) وځلیده، دغه ټولې ښکېنې د محمود طرزي له برکته ګڼلې شو، چې د فکر تومنه یې د افغان سید جمال الدین څخه اخستې وه. هغه دیني فکر له ملي مصالحو سره کوښیر کړ او غوښتل یې ټولنه د ټولنیزې سوکالۍ او پرمختګ په لورې وخوځوي، که د امان الله خان بیړنۍ خپلسرۍ، سیکولریستي تمایلات او دیني تضادونه نه وای خامخا د هیواد او ټولنې مزل دیوې مدني او پرمختللې جامعې په لور دېر ګړندی ؤ.

د نادر شاه دوره د حبیب الله کلکاني د شاته تلونکې دورې او د امانیه دورې د بیړنیو کړووړو د تجربې په اساس ټولنیزه وضعه د نظام نظم او د سپلین لور ته لېږدولې وه نادر شاه او د هغه ورونه د سیمه ایزو ګډوډیو په چوپولو او ځپلو بوخت وو.

په کوهستان کې د حبیب الله کلکاني او وروسته د پردل خان شته والي، د څرخي د کورنۍ نفوذ او د غلام نبي خان څرخي خوځښتونه د هرات، منګلو، شینوارو او کوهستانونو پاڅونونه، د قومونو او قبایلو د مسوولیتونو ساتنه او توازن چې د محمد نادر شاه د واکمنۍ په بقاکې یې عمده رول درلود د هغه پادشاهي لنډه موده جوړوله. په دغسې وضعه کې مطبوعات د دولت ترڅارنې لاندې وو او د بیان د آزادۍ لپاره خوځښتونه نه وو، زیاتره د امانیه دورې روښانفکره ژورنالستان تر تحقیق لاندې وو او د محي الدین انیس او عبدالهادي داوي په څېر شخصیتونه جیل ته واچول شول. انیس په جیل کې ساه ورکړه او ورځپانه یې د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې تلپاتې بقا وګڼله.

د محمد ظاهر شاه په څلوېښت کلنه دوره کې د سیاست او مطبوعاتو په ډګر کې ډول ډول بدلونونه راغلل، د هغه د پاچاهۍ لومړۍ کلونه د محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې د محمد نادر شاه د پاچاهۍ په څېرو چې مطبوعاتو او د بیان آزادۍ ته پکې ځای نه ؤ، تردې چې د پاچاکورنۍ د وضعې له ستم څخه ترپړې راغلې وه، د غازي شاه محمود خان له واک ته رسیدو سره چې د هیواد یو ریښتنی خدمتګار ؤ د مطبوعاتو د هم قانون د هغې له جملې څخه د آزادو مطبوعاتو او احزابو قانون نافذ شو. آزادو نشراتو مرشوطه خواهي مطرح کړه او یو شمیر کسانو د کین لاسو نظریاتو په درلودو هم د دې آزادۍ په وخت کې لاره خلاصه کړه. که څه هم شاه محمود خان د همدې وضعې د دوام غوښتونکی ؤ، خو د کین لاسو د دین ضد دریځونو او دشاه محمود خان د قدرت په پای ته رسولو کې پر پاچا د داود خان فشار وضعه بل ډول کړه، د داود خان له صدارت ته رسیدو سره جوخت د مطبوعاتو قانون له منځه ولاړ، او مطلقه شاهي مطبوعات تر څارنې لاندې ونیول. محمد داؤد په ترېوالو اړیکو کې زیات پر پوځي سطحه زور واچاوه او د پښتونستان مسئله یې مطرح کړه.

دولتي مطبوعاتو هم په همدې لاره کې د خلکو د ملي احساساتو په را پارولو کې پراخ رول درلود،

روسانو د افغانستان او پاکستان داختلاف څخه په ګټه اخستلو ځان د افغانستان دولت ته نژدې کړ او د اقتصادي - فرهنګي او پوځي قرار دادونو په لاسلیک یې زمونږ په هیواد کې د نفوذ لاره پرانستنه، که څه هم مطلقه نظام تینګ ؤ خود مسکو پلوی کمونستانو د محمد داود غوندي کسان په ملاتړ له زیاتو استیازاتو څخه برخمن وو چې د هیواد په اداره کې یې نفوذ وکړ، څکه خود محمد داود له ګوښه کیدو او د مشروطه رژیم له اعلان سره سم کین لاسو ډلو د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند تشکیل کړ، د روسانو په منځګړیتوب تره کي او امین (خلقیان) ببرک او خیبر (پرچمیان) دستګیر پنجشیري - طاهر بدخشي او کشتمند (ستمیان) سره یوځای او په یوه محور را ټول شول، او د مطبوعاتو د دریم قانون له نافذیدو سره د آزادو خپرونو په لړ کې د دوی خپرونې هم پیل شوې، د چین هیواد هم په د ې سیاسي سیالیو کې بې پرواه نه ؤ او د مائویستانو اړخ (شعله جاوید) یې د محمودي په مشر تابه حمایه کړ.

د مشروطه شاهي دوره د سیاسي بدلونونو او دپنځو صدر اعظمانو د راتلو په اساس د هیواد یوه تاریخي او مهمه دوره بللې شو، د مختلفو احزابو جوړیدل، دکمونستانو څخه نیولې تر ملي ګرایانو (افغان ملت) او اسلام پالو "د ځوانانو اسلامي نهضت" حزب اسلامي، د مظاهرو په لار اچول، د شورا او د محصلینو د اتحادیې انتخابات، د نړیوالو تړونونو لاسلیک او نړیوالې اړیکې او د هغوی په مقابل کې دسیاسي احزابو غبرګون د هغو بدلونونو له جملې څخه دي چې زمونږ د ټولنې جوړښت یې له بیلابیلو تمایلاتو سره کوشیر کړ. ژورنالیزم هم په دې دوره کې خپله طریقه بدله کړه او زیاتره د سیاسي هدفونو ترجمان او بیانوونکې ګڼل کیده.

د سانسور او مطبوعاتو د څارنې دري دوري هم د هرې دورې له توپیرونو سره بیاهم د محمد داود د جمهوریت دوره، د ثور له کودتا وروسته د کمونستي رژیمونو دوره او اوسنی د طالبانو د حاکمیت دوره بللې شو. د محمد داود په دوره کې ژورنالیزم او مطبوعات په نړیوال معیار په لوړه سطحه پرمخ تلل او د ژورنالیزم اساسات هم د لوړتیا په لور روان وو، پیاوړې اود تخصص خاوندان ژورنالستان د تجربو خاوندان شول، خو د کار ساحه یې د جمهوري نظام د فکر او نظریاتو په محدوده کې ایساره وه د آزادو خپرونو حق یې نه درلود، پردې سربیره څرنګه چې د محمد داود د رژیم د لومړیو دریو کلونو چارواکي داسې کسان وو چې کین لاسي نظریات یې درلودل اود "پرچم" ډلې ته منسوب د مسکو پلویان شمیرل کیدل، خو په وروستو کلونو کې ملي تمایلات او دیني نظریات هم په خپرونو کې لیدل کیدل، او د همدې نظریو خاوندان په مطبوعاتو کې ټاکل شوي وو.

د محمد داود د جمهوریت له منځته راتلو سره د آزادۍ او مطبوعاتو دوره پای ته ورسیده، سره له دې چې کمونستانو عملاً د افغانستان اداره په لاس کې اخستې وه. دداود خان په چلن کې د یو حزبي او یولیډرې فکر وروسته په ټولنه کې نور اړخونه منځته راوړل، په تیره کله چې نوموړي د کمونستانو او په مجموع کې د روسانو له عملونو څخه زړه توری شو او غوښتل یې چې د خپل سیاست په بدلون له

لویدیځ سره اړیکې ټینګې او د دیموکراسۍ د ژوندي کیدو غوښتونکي شو. له روسانو سره د شکلي محدودیتونو او د روسانو پرخلاف د داود خان عکس العمل په ټولنه کې د مارکسیزم – لینینیزم په لور د ژور بدلون زمینه برابره کړه.

د غوایي داوسي کودتا په افغانستان کې د غمیزې او بدمرغیو پیل دی. په دې دوره کې کمونستانو عملاً د خلکو دعقیدو په تفتیش لاس پورې کړ او د بیان آزادي او سیاسي تحرکات منع کړای شول، مطبوعات کمونستي شعارونو او نظام ته محصور پاتې شول، او په افغانستان کې د دله ئیزو رسنیو سیستم د شوروي اتحاد په څیر شو، روسانو د ښوونې او روزنې سیستم هم بدل کړ. او افغان ځوان نسل یې په داسې لورې وګرځاوه چې له یوه پلوه په آسانۍ وتوانیږي د کمونستي انقلاب دفاع کوونکي خواک جوړ کړي او له بل پلوه له افغانستان څخه داسې ګته واخلي چې دمنځنۍ آسیا له جمهوریتونو سره توپیرونه لرې، د ژورنالیزم محتوی په دې دوره کې د مارکسیزم – لیننزم تر شعارونو پورې را ټیټه او محدوده شوه. پردې سربیره د جګړې خبرونه او تبلیغات او یو طرفه دروغ خبرونه جوړول په یوه نا برابره جګړه کې چې د مجاهدینو د مقاومت د ډلو او د دوی ترمنځ نښتې وه د مطبوعاتو دنده شوه. چې مطبوعات یې د مسکو د هدفونو په محور کې محدود کړي وو.

د ثور کودتا چې د افغانستان د بدمرغیو د پیل او د اختناق‌د بیان د آزادي ضد او د عقایدو د تفتیش دوره وه، تاریخي حقایق په دې ګواه دي چې د ثور د کودتا په درې لومړنیو میاشتو کې له پنځوس زره کسانو څخه زیات د دیني فکر او عقیدې او له کمونستانو سره دمخالفت په جرم زنداني او بیا زیاتره په مختلفو شکنجو او ډول ډول طریقو ووژل شول، ژورنالیزم د کمونستي شعارونو او لا پوښاپو په مقابل کې خپل ټول معیارونه له لاسه ورکړل، د بیان آزادي خو نه وه بلکې د خلکو د عقیدو تفتیش او پلټنې د کوڅې او بازار په سطحه ټولنه له زوال سره مخ کړې وه، ورځپاڼې او نور خپرنې وسایل د مسکو د مارکسست لینینیست فکر او عقایدو منعکس کوونکي وو، د دغې دورې په خپرنیو وسایلو کې درې موضوع ګانو ډیر انعکاس درلود:

۱– د مارکسیزم ایدیولوژۍ تبلیغ، چې جوخت د شخصیت پالنو طریقه هم ورسره پرمخ تله.

۲– د جګړې خبرونه او د مخالفینو پر خلاف پروپاګند.

۳– طبقاتي شعارونه او ځان ښوونې.

د ثور له کودتا سره جوخت د مجاهدینو د مقاومت ډلې جوړې شوې او خپله سیاسي استراتیژي یې جوړه کړه، سره له دې چې خو ډلې او سره تیت او پرک وو، سلیقه وي اختلاف یې ترمنځ ؤ پردې وتوانیدل چې په نړیواله ټولنه او عامه اذهانو کې ځای پیدا کړي او د نړۍ پام ورو اوړي. مجاهدینو چې د دین فکر او عقیدې پر اساس دغه مقاومت یو مقدس جنګ "جهاد" اعلان کړ او د افغانستان اکثریت ملت یې چې له دین سره یې کلکې اړیکې درلودې ځان ته ورکش کړ.

د مجاهدینو د دوری ژورنالستیک فعالیتونه هم د افغانستان د معاصر تاریخ د ډیری ځلانده او ځانګړی دوری په حیث شمیرل کیږی. سره له دی چی د ژورنالیزم مسلکی تجربه نه وه خو زیاتره خپرونی پر دی توانیدلی وی چی خپل تبلیغی اهداف تر سره او خپل پیغام ورسوی.

دجهاد د دوری زیاتره خپرونو محتوی د جهادی ډلو د مشرتابه د فکر په محور او په مجموع کی د روسانو پر خلاف د افغانستان د جهاد په اړه څرخیده، پر دی سربیره د افغانستان د تیروخت د سیاست د تاریخی ګوښو بیان او غبرګون مطالب هم درلودل.

د مقاومت د دوری ژورنالیزم او لیکوالی د افشا کونی او بیان د آزادی په اړخ کی ځانګړی ځلا درلوده، که څه هم هری ډلی له بلی سره اختلاف او یو د بل پر خلاف موقف درلود، خود همدغه اختلاف په برکت ددی دوری تاریخی حقایق یادګار پاتی دی، که د دی دوری د خپرونو تحلیل او څیړنه وشی نو د ډلو د اعلامیو او مشرانو له وینا ؤ څخه علاوه د جګړی خبرونه، دینی مقالی، سیاسی تبصری، شعر او ادب تاریخی او د کمونستانو د جنایاتو بیانونکی راپوروونه.

د سیاسی ډلو د دریځ د کمزورو اړخونو څخه یو د دوی تمایل او وابستګی یا د ولای شو، چی زیاتره د دوی دغه تمایل ار وابستګی په خپرونو کی هم غبرګون موند. او د مرستندوی هیواد د ذوق او سلیقی سره سم به یی سیاسی دریځ غوره کاوه، د سیاسی ډلو د خپرونو نه پرته یو زیات شمیر افغانی جریدی په ګاونډیو هیوادونو، اروپا او امریکا کی هم خپریدلی، په ایران کی پرخپرو شویو خپرونو کی د هغه هیواد د محدودیتونو دلګولو په سبب زیاتره لیکنی د ایران د سیاست او اسلامی انقلاب د فکر سره موافقی خپریدی، خو په نورو هیوادونو کی یی خپلواکه او آزادی غوښتونکی بنه درلوده او د سیاسی او تولنیزو افشا ګریو په اړه یی هم لیکنی درلودی.

په افغانستان کی د ژورنالیزم بل پړاو د نجیب الله د رژیم سقوط او د مجاهدینو د حکومت جوړیدل دی، د ربانی اداری په کابل کی یوازی په خپل انحصار کی او د دوی په ائتلاف کی شریکو ډلو خپرونی درلودی چی د دوی د سیاسی دریځ په محور کی یی خپرونی کولی، د جهاد د سپیڅلی جنګ، پای ته رسیدو او کورنی جګړی پیل د افغانستان د ژورنالیزم په بهیر اغیزه وکړه، چی د ۱۳۷۱ لمریز څخه تر ۱۳۷۵ لمریز پوری چی طالبان واک ته ورسیدل ژورنالیزم نه یوازی دا چی معیاری نه ؤ بلکی بازاری شوی ؤ.

# آماتور ژورنالستان او بې مسووليته

## او بازاري خپروني

په دې وروستيو کې ځينې پاڼې په ډيرو لويو نومونو زموږ لاسونوته رارسيږي چې د ژورنالېزم بازار يې منحرف کړي دی. او ډير بازاري او تيټ سواد خلکو ته وړاندې کوي، د عام ذهنيت د روښانولو پرځای انحراف، اختلاف، فساد او تيار و ته کش کوي.

واقعيت دا دی چې قلم او کاغذ د ژورنالېزم د وسايلو په حيث هماغسې چې په پاک قرآن کې ياد شوی دی، عفت او پاکي غواړي، په دې پاکو وسايلو کې بايد دروغ ونه ترل شي، بايد له ناوليو فکرونو څخه استفاده ونشي، د کاغذ او قلم لار په اسلام کې سولې او نيکۍ ته بلنه او لارښوونه ده.

په افغانستان کې له هغه وخته چې زموږ هيواد کمونستانو تر تيرې لاندې راغی د مجاهدينو مقاومت د دوری ليکوالي او ژورنالېزم د ۱۳۵۷ لمريز - ۱۳۷۰لمريز/۱۹۷۸م-۱۹۸۹م پورې سره له دې چې معياري نه ؤ خو له هغه ځايه چې د قلم سپڅلتيا او عفت مراعات کيده، آن تردې چې نامنظمو او بې ترتيبه پاڼو هم ملت ته يو پيغام رساوه او د جهاد او مجاهد هدف اذهانو ته رسول کيده.

دغې بهير ورو ورو دبنې بدلون وموند او د جهادی تنظيمونو زياتره خپروني وقفه بې شوی او دخپرونو په بڼه او منځپانگه کې معيار نه ؤ. په تيره چې کله مجاهدين د اختلاف په اور او په کابل کې د سياسی اقتدار د ترلاسه کولو پرسر په سياليو او رقابت کې بوخت وو، ژورنالېزم د نيمه باسواده خلکو لاس ته ولويد، چې هرڅه پوچ او پرچاوبې په چاته کې درلودل د کاغذ پر مخ بې توبې کړل او نوم بې پرې ورځپانه او يا جريده؟ کيښود.

دمجاهدينو ځينی خپرونی چې له پيله ديوه ځانگړې فکری نظم او دسپلين اواسلامی اصولو په چوکاټ کې خپريدی دنابودی په دې کنده کې له لويدووساتل شوی او خپله لاره بې هماغسی نيغه ووهله.

زياتره بې اصوله خپرونو د نړی له نورو برخو څخه سرونه را اوچت کړل او د خو گنود خپريدو زمينه بې برابره کړه، بيله دې چې د مسووليت احساس وکړی له رهبر او قايد څخه نيولی تر مجاهد او عالم او تربې وسه ملت پوری تولو ته سپکی سپوری وايی او ځانونه د ملت دعوه داران معرفی کوی.

زه د دې بې هدفه او انحرافی خپرونو د نوم له اخستلو څخه ډډه کوم خو بايد د افغانانو لپاره معيار وی، چې سالم قضاوت وکړی او د اجيرو او غرضی خپرونو چې د څو نيم باسواده خلکو په لاس چاپ او ويشل کيږی په اړه بايد نظر ورکړی، هغه رد او تکذيب کړی او دغه کنځل نامی او بې ارځښته بازاری پاڼی تحريم کړی، پرې نږدی چې دغسی پاڼی د دوی کورته لار وکړی چې د کورنی دغريو اخلاق بې بې لاری نه کړی ژورنالېزم يو مسلکی کسب دی چې يو شمير اصول او قاعدی بايد پکی مراعات شی، ژورنالست بايد د

مفاهمې پرېښښودې چې پیام بې کوم اړخونه لرې وپوهېږی هغه باید په پام کې ولرې او وروسته بې د پروپاګند، زده کړې او یا خبر په اړخ کې خپل لیدونکې، لوستونکې او اوریدونکې ته په زړه پورې الفاظو او غوره طریقه وړاندې کړې. متاسفانه دغه بنسټ لکه چې زموږ د هیواد د ټولنیز ژوند په هیڅ اړخ کې نه دی مراعات شوی د ژورنالیزم په اړخ کې هم په پام کې نه دی نیول شوی، زیاتره داسې کسان چې د ژورنالیزم له کوڅې نه هم نه دی تیر شوی کاغذ بې تور کړی وی او په مکرته ورته کلام بې خپل او زموږ د ملت مخ تور کړی دی.

د امریکا او اروپا په ښارونو کې زیاتره افغانان د بې پروګرامې له امله د کاذب شخصیت جوړولو له لارې زیاتره سیاستمداران او اماتور ژورنالستان شوی دی، دغه ډله یوازې د عقدو له مخې پرته له دې چې د هیواد او ټولنې مصالح په پام کې ونیسې په اوتوبو تو او یا په سیاسې اړخ کې په پوچ پرچا ولګیا دی او د خپلو اړیکو بازاریې تود کړی دی.

څرنګه چې افغانان د عقیدوی او احساساتې پېښو په مقابل کې جبهه نیسې، هغه څه چې د دوی د خولې له خوند سره برابر وی منې بې او بیا په همغه ناوړه تبلیغات کوی، د ځینو نیمه باسوادو خلکو بې حیایې په مستعارنامه د بازارې پانو په خپرولو سره د ځینو بې تفاوته عناصرو د تخریبکارانه مجلسونو بازار ته لاره کړې ده چې نه بقا لرې او نه به د افغانستان د راتلونکې برخلیک لپاره څه رول ولرې.

د پاس یادونو په اړه بیا تکرار وو چې جګړې په افغانستان کې د خلکو هغه اړخښتونه تر اغیزې لاندې راوستل، موږ د ګوندونو او یا ځینو کسانو د مجموعې په خپرونو کې د فرهنګې بدلونونو شاهد یو چې په ګاونډیو او یا په لرې هیوادونو کې هغوی څومره په غموونکې انداز د قلم عفت تر پښو لاندې کړ او تر اوسه هم داکار کوی.

د یوویشتمې پیړۍ له پیل سره به د افغانستان برخلیک په کوم لوری ولاړ شی؟ آیا کورنې جګړه به پای ومومی او د افغانستان ملی حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا به تامین شی؟ او که به د مداخله کوونکو هیوادونو لاسوهنې نورې هم زیاتې شی او دهیواد په تجزیه به پای ومومی؟

که طالبان وتوانیږی چې د خپل یوازینې مخالف (مسعود) قواوی له صحنې څخه وباسی د نورو هیوادونو د غوښتنو سره جوخت به د دوی په سیاسې تګلاره کې بدلون راشی که نه؟ آیا مدنې ټولنه به بیرته جوړه شی؟ آیا امریکا به د اسامه له غوښتنې څخه تیر شی که به د هغه د ورسپارلو په خاطر پر طالبانو نور هم فشارونه زیات کړی چې بالاخره به دوی پر دی مجبور شی چې اسامه ور وسپاری؟ آیا د افغانستان ملت به له نارینه ؤ څخه تر ښځینه پورې د خپلې ایډیالې ټولنې په جوړښت کې عمده رول ولرې؟ او نورې د غسې پوښتنې هغه پوښتنې دی چې تاریخ به د راتلونکو بدلونونو په رڼاکې پرې قضاوت کوی او تاریخ لیکونکې به قلم پرې چلوی، په افغانستان کې د سولې د راتلو په هیله د راتلونکو نتیجو په اړه د څه ویلو دروازه خلاصه پرېږدو چې سترګو لیدلې حقایق په راتلونکې کې په تاریخ کې ثبت شی.

# داشخاصو الفبایي فهرست


## آ

آبرومند /عظیم ۴۷۹.
آخوندزاده/ محمد نسیم (مولوی) ۶۸۶.
آدمک/ لودیک ۱۲۶، ۳۸۱.
آذرخش / سرور ۵۹۰.
آرنولد/ انتونی۱۵۸
آرنی/ جورج ۱۳۸
آریا/محمد نجیم ۱۰۲
آرین/عبدالرشید ۱۵۸، ۲۹۹.
آسوده طهماس/عزیز ۳۵۲.
آشتی /رشید ۳۵۰، ۳۵۸.
آغا شاهی ۳۰۹.
آصفی/ صمد ۲۰۵.
آهنگ، محمد کاظم ۳۵۲، ۳۵۸.
آیزنهاور ۱۵۲.
آیینه/یوسف ۱۰۳.

## الف

ابراهیم بیگ (بسمه چی) ۱۱۶، ۱۲۶، ۱۳۰.
ابراهیم المویلجی ۱۷.
ابلاغ/عنایت الله ۴۵۶، ۶۴۰.
ابن خلدون ۱۹.
ابن رشد ۳۵
ابن سینا ۱۹، ۳۵.
ابوبکر/رقیه ۲۴۸، ۳۱۳، ۳۱۷.
ابولهدی (مفتی) ۲۳.
ابوی/ ذکریا (جنرال) ۲۴۵.
اتاترک / مصطفی کمال ۷۸،، ۸۲، ۱۱۴.
اثیر/ محمد عمر ۵۰۱.
اچکزی / محمد حسن ۵۹۰.
احدی/انورالحق ۵۴۶.
احراری/میرزا عبدالکریم ۸۹.
احمدزی/ محمد جان ۴۴۷.
احمدزی / احمدشاه ۴۰۴، ۴۱۳، ۴۲۵-۴۲۶، ۴۲۹، ۴۳۱، ۵۸۷، ۶۴۷، ۶۶۴، ۶۶۷.
احمدزی/ پیر دوست محمد خان ۴۹.
احمدزی/ شاهپور(جنرال) ۲۷۸، ۳۴۳.
احمدشاه ابدالی ۴، ۵۵، ۷۴، ۲۳۷.
احمدشاه (شهزاده) ۲۲۵.
احمد ضیا ۴۷۲.
احمدی/ قاری(یک دست) ۵۲۲، ۵۳۳.
احمدی / محسن.
اختر محمد (جنرال) ۳۴۱.
اختری/عبدالصبور ۴۸۴.
اخلاقیار/عبدالله ۵۶۸.
اخلاص / معصوم ۱۸۹
اخلاق /عبدالرب ۱۸۱، ۳۵۵.
اخلاقی/ عبدالحسین ۵۴۳.
اخلاقی/ محمد اسحق ۴۲۶، ۴۲۹.
اخگر/ میثم ۵۶۶.
ادبیار/گل محمد ۹۰، ۲۲۰.
ازهر/ عبدالصمد ۱۶۸، ۱۸۷، ۲۳۱، ۲۳۴، ۲۴۷، ۳۰۰.
اسامه بن لادن ۷۳۵، ۷۴۱، ۷۴۷-۷۵۱.
استالین /جوزف ۱۱۶،۱۴۸،۲۷۱.
استالیتوف ۱۲.
استانکزی / شاه زمان ۱۷۸، ۵۴۱.
استانکزی/محمدنسیم ۴۱۶، ۵۷۷، ۶۰۶.
اسحق/ ادیب ۱۷،۲۵.
اسکندر میرزا ۱۵۱.
اسلام الدین(قاضی) ۳۹۳، ۴۳۶-۴۳۷، ۴۴۱.
اسما سمیه ۸۵.
اسماعیل افندی ۸۷، ۹۷-۹۸.
اسماعیل(جنرال) ۲۲۸.
اسماعیل خان (قوماندان) ۴۸۵-۴۸۶، ۶۸۷.
اشعری / عبدالواسع ۵۷۰.
اصیل / محمد ایوب ۵۰۵، ۵۹۲.
اعتمادی / صالحه امین ۲۱۷.
اعتمادی /صالحه فاروق ۲۱۷.
اعتمادی/ گویا ۱۹۹.
اعتمادی، نوراحمد ۱۳۳، ۱۶۶، ۱۶۸، ۱۷۰-، ۲۲۸، ۲۸۰، ۲۸۵.
اعزامی / سید عمر ۴۶۶، ۵۹۳.
اعظم / محمد فاروق ۴۲۵، ۵۸۵، ۵۹۳، ۶۸۴.
افراسیابی/فریدون ۴۷۳.
افروز/خاتول ۴۸۴.
افروز / محمد یوسف ۷۱۸.
افضلی/آمنه ۴۹۴، ۵۷۴، ۷۰۶.
افضلی/صفی الله (قوماندان) ۴۸۶، ۵۶۶.

افق / ظاهر ۲۸۴
افتخاری ۵۱۹،
افغان، سیدجمال الدین ۱۰، ۱۴-۳۶، ۵۸، ۶۰، ۹۷، ۱۶۷، ۳۸۴، ۴۹۹، ۵۶۴
افغان، ملا محمد خان ۵۰،
افغانپور / امین ۲۱۷، ۳۶۰،
افغانی، سعید ۲۲۷، ۲۳۸، ۳۱۵
اقبال / اجرالدین ۲۱۷
اقبال لاهوری ۱۲۴، ۱۳۱،
اکبر / اسماعیل ۷۱۷،
اکبرزاده / یونس ۷۰۹، ۷۱۴،
اکبری / حجت الاسلام / ۵۲۲، ۵۳۵، ۵۳۷، ۶۸۶، ۷۰۰، ۷۴۱
اکبری / وکیل محمد
اکبری / انور ۵۵۳
الفت / عزیزالرحمن ۵۲۵، ۵۹۴،
الفت / گل پاچا ۱۴۵، ۱۴۷، ۲۰۰
الکوزی / عبدالعزیز ۹۰، ۱۱۸،
الماسک / غلام محمد ۱۸۰
الهام، عبدالرحیم ۱۸۸، ۲۰۹
الله نواز (دکتور) ۸۷،
امام الدین (جنرال) ۶۵۱،
امان الله خان (شاه) ۵۴، ۵۶، ۶۱-۶۲، ۶۹، ۷۱-۸۴، ۸۶، ۹۷-۹۹، ۱۰۴-۱۰۵، ۱۰۷، ۱۱۰، ۱۱۳-۱۱۷، ۱۲۳-۱۲۹، ۱۳۱، ۱۴۰، ۲۳۸، ۲۶۷، ۳۳۵، ۴۹۹
امانیار / محمد اشرف ۴۷۳
امیر محمد (ترقه مشر) ۶۸،
امیری / حاتم ۵۲۸
امیری / سید اکرام الدین ۳۵۰
امیری / مهدی ناصر ۵۳۸
امین / رسول ۲۵۶، ۵۲۵، ۵۸۴
امین / حفیظ الله ۱۵۸، ۱۵۹، ۱۶۹، ۱۸۱، ۲۲۸، ۲۳۳، ۲۴۸-۲۵۰، ۲۶۶-۲۶۷، ۲۷۰، ۲۷۲، ۲۷۵-۲۷۶، ۲۷۸-۲۸۲، ۲۸۴، ۲۹۵، ۲۹۷، ۲۹۹، ۳۰۰، ۳۰۲، ۳۰۴، ۳۰۶، ۳۱۱-۳۱۲، ۳۱۴، ۳۲۱، ۳۳۸، ۳۴۱، ۳۴۳،
امین / عبدالله ۲۳۳، ۲۷۲، ۲۸۵، ۲۹۱-۳۰۰، ۳۰۲،
امین / اسدالله ۲۸۵، ۲۸۹، ۳۰۰
امینی / لیاقت علی ۵۵۰
انتونوف ۱۵۳،
انځور / ورس ۲۰۱
اندری / عبدالکریم خان ۴۹،
انصاری / ابوایوب ۶۳
انصاری / علی ۴۱۵، ۴۲۵، ۶۶۵، ۶۷۱،
انصاری / میرنجم الدین ۱۶۴
اندروپوف ۲۹۵، ۳۲۳، ۳۳۰،
انګار / فیض محمد ۱۴۳، ۱۴۷،
انګربت، فان کورنیلوس ۱۴۰،
انوری / حسین (قوماندان) ۵۳۳، ۶۴۸، ۶۹۸، ۷۴۴
انوري / فریده ۹۶،
انیس / غلام محی الدین ۹۳، ۹۶، ۱۰۳، ۱۰۵، ۱۱۷، ۱۲۷، ۱۳۳، ۳۰۴
اوپیانی / غلام قادر خان ۴۸
اورعل / عزیز احمد ۲۵۴
اورمل / غلام محمد ۱۹۱، ۲۵۳
اوستینوف ۳۰۵
اولسن / آسنا ۳۸۱،
ایوبی / محمد شریف ۱۸۸،

## ب

باباکوهی / زلمی ۷۱۴، ۷۲۰
بابک / نورالدین ۵۴۴،
بابر / نصیرالله (جنرال) ۷۴۵،
بابه خان (جنرال) ۳۰۴، ۶۴۱، ۶۴۶، ۶۶۸، ۶۸۳، ۶۹۷،
بابه قاشقاری / میر درویش خان ۴۹،
باختری / اختر محمد ۴۵۶، ۶۴۱،
باختری / غلام جیلانی ۲۲۷، ۲۳۸، ۳۲۰
باختری / واصف ۳۶۳
بارکزی / عبدالعزیز ۸۲
بارکزی / محمد یعقوب ۴۳۱، ۴۶۲،
بارکزی / نصرالله ۵۶۴
باقی زاده / احمد راتب ۱۰۴
بالکنداس (دکتور) ۲۳۴
بامداد / سید محمد ۱۸۳،
باوری / محمد خان ۲۵۵
باورس / صحانتال ۷۷
بابایی / فتح محمد خان ۴۹
بدخشی / طاهر ۱۵۷، ۱۶۰، ۱۶۲، ۱۷۹، ۳۲۰
برادشو / هانری ۱۵۵، ۱۵۸، ۲۹۵، ۳۱۳
برانت / ویلی ۴۲۳
بریونیف / لئونید ۱۵۲، ۲۴۳، ۲۴۴، ۲۶۸، ۲۷۶، ۲۷۹، ۲۸۰، ۲۸۴، ۲۸۷، ۲۹۹، ۳۱۰، ۳۲۱، ۳۲۳، ۳۳۰
بریژینسکی ۳۳۵،

برښنا (استاد) ۲۰۰.
برکت/ عبدالرحیم خان ۴۹
بروجردي/ علاالدین ۷۴۴
برهاني/ سیدانشاه ۵۵۹.
بریال/ عبدالباقي ۷۲۴
بریالی/ محمود ۲۴۸، ۲۷۸، ۳۰۰، ۶۴۶، ۶۶۸.
بریښ/ میر سعید ۱۷
برکو/ محمد طارق بریالی ۵۵۹.
بسمل/ محمد انور ۱۳۳
بشار/ مولوي محمد ګلاب ۲۱۰
بشارت/ محمد نذیر ۴۱۶، ۴۶۶، ۴۷۵، ۵۹۴، ۶۹۶.
بشیر/ علي اصغر ۱۸۰.
بشیر خان بغلان (قوماندان) ۴۳۹، ۴۶۵.
بصیر/ خالد ۴۸۶.
بکدانوف/ ام.ال ۱۴، ۳۶.
بلاغي/ حیات الله ۵۳۵.
بلخي/ برهان الدین ۱۵
بلخي/ میرزا حسین ۵۹۵
بلقیس (شهزاده) ۱۵۳.
بلوچ/ بلقیس ۵۵۸.
بلنت/ ولفرد ۳۰
بنوال/ اسدالله ۴۳۶
بوټو/ بینظیر ۷۴۵.
بوټو/ ذوالفقار علي ۳۴۲، ۴۶۳.
بورجان (ملا) ۵۳۴، ۵۳۷، ۷۳۰-۷۳۱
بوش/ جورج ۲۷۷، ۳۳۰.
بولګانین ۱۵۱، ۳۲۹، ۴۹۹.
بهایي/ شیخ محمد ۳۹
بهزاد/ محمود ۷۱۶
بهشتي/ سید علي ۵۱۸، ۵۲۰، ۵۳۲.
بیدل/ میرزا عبدالقادر ۵۹
بیرنګ/ ګل آغا ۵۹۵.
بیښ/ عبدالقیوم ۲۰۴-۲۰۵.
بیکر/ جیمز ۴۴۹.
بینا/ عبدالرحمن ۲۰۵.
بینوا/ عبدالروف ۱۴۷، ۲۳۰، ۲۸۳.

پ

پاپونس/ ویکتور ۲۹۵، ۲۹۷.
پاتکین/ بوریس ۴۴۹.
پاس یوسفي/ محمد آصف ۲۳۳، ۲۴۸
پالمر/ ایلي اي ۱۴۰
پاولفسکي/ ایوان ۲۹۵، ۳۰۵.
پاییز/ سعیده ۴۷۴
پتمن/ محمد صدیق ۵۵۱.
پرخاش احمدي/ ولي ۷۲۰.
پردلي/ ستار ۳۱۳
پربردوکولا بار ۴۲۲، ۴۲۹، ۴۴۹.
پروانه/ امان الله ۱۷۸
پرواني/ عبدالرحیم ۷۰۴-۷۰۵
پرواني/ میرحسن صادقي ۹۶، ۳۳۳، ۷۴۱
پژواک/ عبدالرحمن ۱۳۲، ۵۹۶.
پژواک/ فضل الربي ۲۳۳
پژواک/ نعمت الله ۲۲۵، ۲۳۱، ۲۳۸، ۳۳۱
پسرلي/ صدیق ۵۶۱، ۵۷۲.
پښاوري/ عبدالقادر ۳۹
پغماني/ بروبر ۴۳، ۴۸.
پکتین/ راز محمد ۲۷۸، ۶۴۳، ۶۵۱، ۶۶۰، ۶۶۱
پنجشیري/ پیمان ۵۷۵.
پنجشیري/ دستګیر ۱۵۸-۱۶۰، ۲۴۸، ۲۶۷، ۲۷۸، ۳۰۰، ۳۴۵، ۴۴۵
بوزانف ۲۴۹، ۲۸۱، ۲۸۵-۲۸۷، ۲۹۵.
پوهیار/ سید مسعود ۵۶.
پویا/ معصوم ۴۷۴.
پیام/ اسدالله (جنرال) ۶۶۰.
پیام/ علي ۵۹۶
پیغام/ محمد شریف ۵۹۵.
پهلوان/ محمد رسول ۶۷۶.
پیکیر/ سید اکرام ۳۰۵، ۶۳۳.
پیلوټ/ بیت الله ۲۳۴.
پیلوټ/ جمال الدین ۵۷۷
پیوند/ علي ګل ۱۰۳

ت

تابش/ سعادت ملوک ۵۹۸.
تابیوف/ فکرت ۲۸۷، ۲۹۵
تاتلوبلر/ مارګریت ۶۹۱
تاتیلر/ فرانسر ۱۳۹
تاج/ برات علي ۱۴۸.
تارښي/ عبدالاحد ۴۱۶، ۴۹۵، ۵۹۸، ۶۹۴.

ACKU

تازه/سمع الله ۵۴۹.
تامسن / پیتر ۶۷۰.
تتمدره یی/ جلندر خان ۴۸.
تره خیل (مولوی) ۵۶۸.
تحسین/الیلا ۵۶۳.
ترکمنی/عبدالروف ۱۶۰، ۱۷۹.
ترکمنی/عبدالاحد ۵۵۰.
ترکی / الفیصل ۴۴۵، ۶۶۲.
ترون/سید داود ۲۷۶، ۲۸۰.
تره کی / محمد زمان ۱۳۲.
تره کی/ نـور محمـد ۱۴۷، ۱۵۰، ۱۵۷، ۱۵۹-۱۶۰، ۱۶۹، ۱۸۱، ۲۴۳، ۲۴۸-۲۴۹، ۲۶۳، ۲۶۶-۲۶۸، ۲۷۴-۲۷۶، ۲۷۹-۲۸۹، ۲۹۲، ۲۹۵، ۳۰۳-۳۰۴، ۳۰۶، ۳۱۱-۳۱۲، ۳۱۴، ۳۲۰، ۳۳۵، ۳۴۱، ۳۴۳.
تکابی/ محمد شاه خان ۴۸.
تلمیذ/ صوفی ۱۵.
تفویض/غلام محی الدین ۱۸۸.
تنویر / محمد حلیم ۵۸۰، ۵۸۲.
تنویر/ محمد نذیر(علی)مهندس ۴۷۰، ۵۸۰.
تنی/ شهنواز (جنرال) ۲۳۵، ۳۳۹، ۳۴۲، ۴۴۳-۴۴۵، ۴۵۳، ۴۶۴، ۶۴۸، ۶۷۳.
توانا/عبدالقادر ۲۳۷، ۳۸۲.
توانا / موسی ۶۶۳
توخی/اسحق ۳۴۲، ۴۵۵، ۶۴۱.
توفیق پاشا ۱۷.
تهذیب/نظام الدین ۲۴۸، ۲۶۷، ۳۰۰.
تیتو/جوزف (مارشال) ۲۴۳.
تیمور شاه ۴.
تمین/عبدالغفور۴۹۸.

ث

ثابت / عبدالجبار ۴۵۶، ۶۴۰.
ثاقب / عبدالرحیم ۷۵۳.
ثبات/صفی الله ۵۶۹، ۷۰۵.
ثریا (ملکه)۶۱، ۸۰-۸۱، ۱۱۳.

ج

جانسن/لیندن ۱۶۶.
جاوید/علی ۴۲۶، ۵۳۱، ۵۳۳-۵۳۴، ۵۳۷، ۶۶۰، ۶۶۴، ۶۹۸.
جاهد /زین الدین ۵۵۰.
جریر/ همایون ۶۹۳-۶۹۴.
جدیر / حبیب الرحمن ۳۵۵.
جفای / ستار ۳۰۴.
جگدلک / محمد انور ۶۶۳.
جلال آبادی/ غلام نبی ۸۵.
جلال الدین محمد بلخی /مولانا ۵۹.
جلالر/محمد خان ۲۲۷، ۲۴۳، ۲۹۹.
جلیا / حمید ۳۰۴.
جلیلی / عبدالرشید ۲۷۸.
جمیل الرحمن/مولوی ۳۹۴، ۴۴۶-۴۴۸، ۵۵۹.
جوادی/سرور ۵۶۱.
جوزجانی/عبدالحکیم شرعی ۱۵۸، ۲۴۸-۲۴۹، ۲۶۷، ۲۷۸.
جویا/محمد سرور ۸۹، ۹۸، ۱۰۲، ۱۰۵، ۱۱۸، ۱۴۸.
جویا/ نسیم ۳۰۵.
جهید / غلام حضرت ۷۵۳.

چ

چرخی/غلام جیلانی ۷۱، ۱۲۶-۱۲۸.
چرخی، غلام حیدر ۴۳، ۴۵، ۴۸، ۱۲۶.
چرخی/غلام صدیق ۷۸، ۸۲، ۱۲۶.
چرخی/غلام نبی ۷۲، ۱۱۶، ۱۲۳، ۱۲۶-۱۲۸.
چرنینکو / کانستانتین ۳۲۳، ۳۳۰.
چشتی / غلام فاروق ۵۹۹.
چکری/ صدیق ۶۶۳، ۷۲۹.
چلمسفورد/لارد ۷۲.
چمکنی / حاجی محمد ۲۳۲.

ح

حارس / محمد سالم۳۵۱-۳۵۲.
حامد/عبدالصمد ۱۶۴، ۱۷۱، ۴۵۶، ۶۴۰.
حبیب.اسدالله ۲۶۱، ۳۰۵، ۳۶۲.
حبیـب الرحمـن/ مهنـدس ۲۳۲، ۲۳۵-۲۳۶، ۲۸۲، ۲۸۵، ۲۸۷-۲۸۸، ۴۶۱، ۴۶۴.
حبیـب الرحمـن(مولـوی) ۲۳۶، ۲۸۲، ۲۸۵، ۲۹۰-۲۹۴، ۲۹۶، ۴۸۸.
حبیب الله(امیر) ۴۵-۵۶، ۶۰-۶۱، ۶۵-۶۹، ۷۵، ۸۵.
حبیب الله (صدراعظم) ۴۵.

حبیب الله(بچه سقاو) ۸۲، ۹۹، ۱۰۱. ۱۰۹-۱۱۰. ۱۱۳-۱۲۶.
۱۲۹، ۱۳۱، ۱۳۳، ۱۹۳، ۱۹۹، ۴۹۹.
حبیبی / شفیقه محمود ۱۶۹.
حبیبی/عبدالحی ۹۰، ۱۴۷، ۱۹۴-۱۹۸، ۶۰۲.
حبیبی/محمود ۱۳۳، ۱۶۹، ۲۳۲.
حداد/ قدرت الله ۱۷۶.
حسن / محسن ۳۵۵.
حسن البناء/ امام ۳۹۱.
حسن یار / امیر شاه ۶۴۰.
حسنی زاده / سیمین ۷۴۲.
حسین احمد/قاضی/ ۳۹۱، ۶۴۷، ۶۴۹، ۶۸۵، ۷۳۵.
حسین علی خان (سپه سالار) ۴۹.
حسینی/سید ایشان ۸۶.
حکمتیار/گلبدین ۱۷۳، ۱۸۷، ۲۳۵، ۲۸۶، ۳۱۳، ۳۲۴-
۳۳۵، ۳۴۱-۳۴۲، ۳۶۵، ۳۶۸. ۳۸۲. ۳۸۵-۳۸۶.
۳۹۰، ۳۹۳-۳۹۵. ۳۹۸، ۴۰۱-۴۰۲. ۴۰۴-۴۰۹. ۴۱۳-۴۱۶.
۴۲۱-۴۲۳. ۴۳۰-۴۳۱. ۴۳۴، ۴۳۶. ۴۳۸-۴۴۲. ۴۴۴-۴۴۷.
۴۵۰. ۴۵۴-۴۵۵. ۴۶۱. ۴۶۳-۴۶۶. ۴۸۲. ۴۸۵. ۴۸۸. ۵۰۶.
۵۱۵. ۵۲۳. ۵۲۷. ۵۳۴. ۵۳۶. ۵۴۶. ۶۳۳-۶۳۴. ۶۳۷.
۶۴۱-۶۴۲. ۶۴۵-۶۴۷. ۶۴۹-۶۵۷. ۶۵۹-۶۶۲. ۶۶۴-۶۶۸.
۶۶۹-۶۷۰. ۶۷۴، ۶۸۳-۶۸۶. ۶۸۸-۶۹۳. ۶۹۶-۷۰۰، ۷۳۰.
۷۳۱، ۷۴۱، ۷۴۴.
حکیموف /بختیار ۴۲۹.
حلیف/محمد عثمان ۵۶۰، ۵۹۹.
حلیم/امین الله ۳۱۰، ۶۸۴، ۶۹۳.
حقیقی/ خادم احمد۱۰۳، ۷۵۳.
حقانی/ جلال الدین ۳۹۴، ۴۰۶، ۴۲۰، ۴۳۰، ۴۸۶، ۵۰۶.
۵۷۴، ۶۵۱، ۶۶۳، ۷۹۸.
حمید الله (معین السلطنه) ۱۱۴.
حمیدی/عبدالحلیم ۴۹۲.
حمیدی / نوروز علی ۷۰۹.
حمیرا(ملکه) ۲۲۵.
حنانی /عبدالحبیب ۳۸۲.
حنیف / محمد(دکتور) ۵۸۷، ۶۹۳.
حنیف / حنیف بلخی ۲۵۳.
حنیفی/محمد عارف ۱۸۴.
حیدر / ضیاً ۱۷۷.
حیدری / غلام غوث ۵۷۱.
حیران/محمد یونس ۱۰۲.


## خ


خادم/روشان ۵۴۶.
خادم/قیام الدین ۱۷۷.
خاطر/غلام نبی۱۷۹، ۱۸۳.
خاوری / جواد ۶۰۱.
خالد (ملک) ۳۰۸.
خالص/ محمد یونس ۲۲۶، ۳۳۵، ۳۶۸، ۳۹۰، ۴۰۳، ۴۰۵-
۴۰۹، ۴۱۳-۴۱۵، ۴۲۱، ۴۳۱، ۴۴۷، ۴۴۹، ۴۵۰، ۴۸۶، ۵۰۰،
۵۰۶-۵۰۷، ۳۳^، ۶۴۷، ۶۵۷، ۶۸۴، ۶۸۶، ۶۹۲، ۷۰۰..
خالقی / صالحه ۷۲۱.
خالقیار/فضل حق ۳۳۴-۳۳۵، ۶۳۵.
خامنه یی/ علی ۷۵۲.
خان عبدالغفار خان ۱۴۷، ۲۴۲، ۲۸۳.
خان/ عبدالولی ۲۴۲، ۶۸۵.
خان محمد خان (وزیر دفاع) ۱۷۳، ۲۲۵، ۲۷۴.
خان محمد خان (معاون لوی درستیز)۲۳۳.
خاوری / محمد آصف ۵۷۱.
خاوری / ذبیح الله۶۶۳.
ختک / اجمل ۲۴۲.
خدام/شجاع الدین ۵۷۵.
خراسانی/ عبدالحی ۶۴۰.
خرم/ علی احمد ۲۲۸، ۲۴۶-۲۴۷.
خرم/ لیلا ۴۷۴، ۷۲۰.
خروسچف ۱۵۱، ۱۵۳، ۳۲۹، ۴۹۹.
خسته/مولانا ۱۹۰.
خطیبی / هارون ۵۸۵.
خلیل / عنایت الله ۴۹۷.
خلیلی/خلیل الله ۱۶۴، ۴۰۴، ۶۰۱-۶۰۲.
خلیلی/ محمد کریم ۴۲۶، ۵۱۶، ۵۳۱-۵۳۲، ۵۳۵، ۶۳۶،
۶۴۷ ۶۶۰، ۶۹۸.
خلیلی / مسعود ۴۳۴.
خمینی/ امام ۳۰۰، ۳۰۹، ۵۲۶، -۵۲۷.
خنجانی / عبدالرحیم (مولوی) ۶۹۳.
خنجری/ فقیر محمد ۵۰۹.
خوگیانی / صدیق الله ۵۴۴.
خوگیانی/محمد امین ۳۲، ۸۷، ۱۰۲، ۱۰۵، ۱۳۲، ۶۰۲.
خویی (آیت الله) ۵۲۶-۵۲۷.
خیبر/ میراکبر ۱۵۹، ۱۷۸، ۲۴۷-۲۴۸، ۲۹۲، ۳۲۰، ۴۹۹.
خیریه ۶۱.


## د

دابس آدلف ۲۷۶
دادګر / سید محمد کاظم ۱۶۱
دانش/اسماعیل ۲۶۷، ۲۹۹-۳۰۰
دانش /سرور ۷۱۷، ۷۲۴.
دانشیار عبدالعلي ۷۰۵
داود محمد خالد ۲۵۰، ۲۶۲
داود محمد عمر ۲۵۱
داود شاه خان(نایب سالار) ۴۸، ۷۸، ۹۱
داوي عبدالهادي ۶۶، ۶۸، ۸۵، ۱۰۳، ۱۰۶، ۱۰۹، ۱۲۷
دردمند عبدالمنان ۶۰۳.
دلاور محمد آصف (جنرال) ۶۴۱، ۶۴۶، ۶۶۲، ۶۶۸، ۷۰۱
دلجو حسیني ۶۰۳، ۶۹۲.
دلیري / عبدالقدیر ۷۱۲
دلیري / علي اصغر ۷۲۲
دن /سرلوتیس ۵۴
دوپري/لویس ۴۸، ۷۴، ۱۳۸، ۱۸۱-۱۸۲
دوست محمد خان(امیر) ۴، ۶، ۳۱، ۵۱-۵۲.
دوست شاه محمد ۲۹۹، ۳۱۱
دوستم/ عبدالرشید ۳۰۱، ۳۲۲، ۳۲۹، ۴۵۳، ۴۵۵، ۶۳۵-۶۳۶، ۶۴۱، ۶۴۴-۶۴۵، ۶۵۶، ۶۶۱، ۶۶۵-۶۶۶، ۶۷۳، ۶۶۹-۶۷۰، ۶۸۳-۶۸۴، ۶۸۸، ۶۹۱، ۶۹۷، ۷۰۰-۷۰۱، ۷۴۳.
دولت آبادي /بصیر احمد ۵۶۴
دوګل / شارل ۱۶۶
دیکنار /میخائیل واسیلویچ ۱۴۹، ۱۵۳
دین محمد (حاجي) ۴۲۵، ۴۳۱، ۶۷۱، ۶۹۹.
دیورند /سرموتایمر ۴۷

## ذ

ذاکري/ عبدالله ۶۴۰
ذبیح الله (قوماندان) ۴۰۴، ۴۸۵-۴۸۶.
ذکي/اکرم ۶۴۷.
ذوعلال/ سعید ۳۴.
ذیغم /بدخشي ۶۰۳.

## ر

راتب زاد /اناهیتا ۱۵۷، ۲۲۸، ۲۴۸، ۲۶۷، ۲۷۵، ۲۷۸، ۲۹۹، ۳۱۵، ۳۲۰، ۳۲۳
راحل/سید شفیع
رادمنش /عبدالقدیر
راسخ/راحله ۲۱۲، ۲۵۳
راضي / محمد حسین ۲۰۹.
راعي / قیام الدین ۲۰۹.
راقم / نوربالي ۲۶۱.
رامین/ احمد ۱۵
رباني /برهان الدین ۸۶، ۹۶، ۱۶۲، ۲۲۶، ۲۶۴، ۳۳۵، ۳۸۱، ۳۹۰، ۳۹۴-۳۹۵، ۳۹۸، ۴۰۱-۴۰۴، ۴۰۶، ۴۱۲-۴۱۶، ۴۲۸، ۴۳۱، ۴۳۹، ۴۴۱، ۴۵۲، ۴۵۴، ۴۶۴، ۴۸۵-۴۸۹، ۵۰۰، ۵۲۷، ۵۳۴، ۵۳۶، ۶۳۷، ۶۴۲، ۶۴۷، ۶۵۹، ۶۶۲، ۶۶۵، ۶۷۰-۶۸۰، ۶۸۴-۶۸۶، ۶۸۸، ۶۹۳، ۶۹۶-۷۰۰، ۷۲۹، ۷۴۴، ۷۵۱.
رحماني /ارسلا ۶۶۳
رحمني / غوث الدین ۴۹۰
رستاخیز / عبدالله ۱۶۱
رسول /امان الله ۱۶۴
رسولي / حیدر (جنرال) ۲۲۵، ۲۴۰-۲۴۱، ۲۴۵-۲۴۶.
رشاد عبدالشکور ۱۸۸، ۲۱۷.
رشیا /سید قاسم ۱۶۴.
رښتین / شیرخان ۷۲۳.
رښتین /صدیق الله ۲۱۲.
رضا شاه ۷۸، ۲۷۷.
رضوي / علي۲۰۸.
رعد/ شکریه ۲۱۳.
رفسنجاني / علي اکبر هاشمي ۶۴۷، ۶۹۷، ۷۵۲
رفیع/ حبیب الله ۱۷۶، ۱۹۰، ۵۸۵، ۶۰۴.
رفیق / محمد بشیر ۱۰۱
رفیقي / عبدالخالق۲۵۰.
رنان/ارنست ۱۹، ۳۳.
روا /الیور ۳۸۱، ۴۸۵، ۵۱۵.
روستار تره / محمد عثمان ۶۰۵
روتسکوي/الکساندر ۴۵۲.
روح افزا ۸۵.
روزي/ عبدالمجید (جنرال) ۴۵۳، ۶۶۷-۶۶۸، ۶۸۵.
روښان/خالد ۱۰۲، ۲۰۶.
روښنضمیر / محمد اکبر ۲۱۰.
روښني سرښار/غلام محمد ۱۰۲، ۲۴۱، ۲۵۱، ۳۵۲، ۳۶۰
رؤف/سپوږمۍ ۱۹۲.
رؤفي / خلیل الله ۳۴۹
رونیس عبدالله ۵۷۸.
روهي صدیق ۳۳۴.
رهبر عبدالقیوم ۱۶۱، ۳۶۳، ۳۷۳
رهیو/صدیق ۳۴۸، ۳۵۸

ACKU

رهرو/عمرزاد ۷۲۶
رهگذر/شفیع ۱۰۲
رهنورد/زریاب اعظم ۳۳۴، ۳۴۶، ۳۵۸، ۶۰۵
رهین/سید مخدوم ۴۱۸
رهین/عبدالرسول ۲۰۹، ۷۲۲
ریګن/رونـــــالد ۳۰۰، ۳۰۹، ۳۲۶، ۳۳۰، ۴۰۵، ۴۲۲، ۴۲۴، ۴۸۸، ۵۰۷، ۶۹۱

## ز

زابلی/عبدالمجید ۱۹۹، ۲۸۲، -۲۸۳
زارع/غلام نبی ۵۱۹
زافرونچک ۲۸۷
زاهد/محمد آصف ۷۲۳
زاهدی/احمدی ۵۶۵، ۶۰۶
زرغون شاه(ډګروال) ۲۳۴
زرمتی/عظیم(جنرال) ۶۶۰
زرمتی/غلام نبی ۱۹۰
زغلول/فتحی ۱۷
زکریا/فیض محمد ۱۳۹
زیار/مجاور احمد ۲۱۷
زیری/صالح محمد ۱۵۸، ۲۶۷، ۲۷۸، ۳۰۰، ۳۱۵، ۳۴۵

## ژ

ژوند/سمیع الدین ۲۴۶

## س

سادات/انور ۲۴۴، ۳۰۸
ساربو(قوماندان) ۶۷۱
سالک/عبدالمجید ۴۹۰
ساوون/وحیدالله ۶۹۴، ۷۴۴
سبزواری/هادی(ملا) ۱۵
سپین/سور گل ۴۸۱
ستومان/سید اسدالله ۳۵۵
سحیقی/میراجان ۵۴۳
سدید/ثریا ۷۱۸
سرابی/عبدالواحد ۶۴۶، ۶۵۱، ۶۶۴، ۷۰۱
سربلند/مجید ۲۶۴، ۲۷۸، ۲۹۹
سرخابی/عبدالعزیز ۵۵۴
سرکاتب/حاجی(قوماندان) ۴۵۰، ۷۲۹
سرفراز/جانباز(مولوی) ۴۶۳، ۴۷۲، ۵۰۷، ۶۰۷، ۶۶۲، ۶۶۵
سروری/اسدالله ۱۵۸، ۲۶۸-۲۶۹، ۲۷۲، ۲۸۱، ۲۸۵، ۲۹۹
سعدالدین(قاضی) ۱۲
سعید/قریب الرحمن ۴۶۶، ۴۷۰، ۴۸۴
سعیدی/عزیزالرحمن ۳۶۱
سعیدی/محمد شریف ۶۰۷، ۷۱۹
سعیدی/صلاح الدین ۷۱۳
سعیدی/لطیفه ۷۱۷
سلجوقی/راشد محمد صدیق ۵۷۸، ۶۰۷
سلجوقی/سیف الرحمن مسمند ۲۱۸-۲۲۰، ۲۵۵-۲۵۷
سلجوقی/صلاح الدین ۸۷، ۸۹، ۱۴۱، ۲۰۰، ۲۰۸
سلطان محمد خان مهمند ۹
سلطان محمود غازی ۱۵۳، ۱۵۶
سلطان محمود غزنوی ۵۸
سلطانی/ضیاء گل ۵۷۴، ۷۰۶
سلکی/حوا ۷۰۶
سلیم/عبدالصمد ۶۴۰
سلیم/نواب ۴۸۲
سلیمی حسن ۸۵، ۹۲، ۱۳۲
سکندر/نظر محمد ۲۲۸، ۲۳۸
سمیع الله(مولوی) ۳۹
سمیعی/وفی الله ۲۱۶، ۲۴۷
سمیع/یوسف ۵۵۶
سمیع الحق(مولانا) ۶۴۷
سنگروال/شهسوار ۲۰۱
سودا/برات محمد ۶۰۸
سوما/محمود ۲۶۷، ۲۷۸
سهاک/نیک محمد(جنرال) ۲۳۲
سهیل/محمد آصف ۱۰۲، ۲۴۱، ۲۵۱، ۲۶۰
سهیلی/سید حبیب ۲۲۹
سیاف/عبدالرب رســول ۳۱۳، ۳۳۵، ۴۰۷، ۴۱۵، ۴۳۱، ۴۴۱، ۴۴۴، ۴۴۶، ۴۵۰، ۴۶۵، ۴۸۸، ۵۱۱، ۵۱۲، ۵۳۷، ۶۳۳، ۶۳۷، ۶۴۴، ۶۵۹، ۶۶۹، ۶۸۳-۶۸۴، ۶۸۶، ۶۹۰، ۶۹۸-۶۹۹، ۷۴۴
سیاه سنگ/صبورالله ۷۲۵
سید احمد خان ۱۷
سید اکبر(غازی) ۳۹۷
سید جگرن(قوماندان) ۵۲۰، ۵۳۳
سید حسین کلکانی ۱۱۳-۱۱۴، ۱۱۶، ۱۲۵

سید حمید الله آغا (قوماندان) ۴۴۳
سید خلیل ۱۰۲.
سید قطب ۳۹۱.
سید محمد قاسم ۸۴-۸۵. ۹۱. ۱۰۳.
سید نور محمد شاه ۶. ۸.
سیرت / عبدالستار ۳۵۱. ۴۰۴. ۴۵۶.
سیرت / عبیدالله(مهندس) ۴۴۱. ۵۸۷. ۶۹۳.
سیوان/بینن ۳۳۶. ۴۴۸. ۴۵۳-۴۵۴. ۴۵۶. ۶۳۳. ۶۳۵. ۶۳۷. ۶۴۵. ۶۴۹. ۶۶۵.

## ش

شادان/عبدالله ۲۶۴. ۳۶۵.
شادان/کریم ۳۱۷.
شارقی / محمد کاظم ۶۰۹.
شاکر / غلام عمر ۹۷-۹۸.
شاه شجاع ۵۱. ۳۱۴. ۳۲۱.
شاه ابدال ۲۳۷. ۲۹۰. ۳۹۶. ۴۳۴.
شاه محمود خان(صدراعظم) ۳۰. ۷۳. ۸۹. ۱۱۹. ۱۲۴۱۲۶. ۱۲۸.۱۳۸. ۱۴۰. ۳۱۹.
شاه ولی(دکتور) ۲۶۹. ۲۷۸. ۲۸۰. ۲۸۴-۲۸۵. ۳۳۰.
شاه ولی خان(مارشال) ۷۳. ۱۲۴. ۱۲۸. ۱۵۳-۱۵۴. ۱۵۶. ۲۲۴.
شایق /عبدالسلام ۷۲۶.
شایق افندی / هاشم ۹۲. ۱۳۶.
شبل / غلام جیلانی ۷۱۴.
شجاع الدوله ۶۹. ۱۰۱.
شجاعی/ سید اسحق ۶۱۲. ۷۰۹.
شرافت/ یعقوب ۵۵۵.
شرق/ محمدحسن ۲۲۷. ۲۳۱. ۲۴۱. ۳۲۱.
شریعتیار / عبدالغفور ۴۷۷.
شریف / عنایت ۷۱۴
شعور / اسدالله۹۶.
شفیعی/ محمد حسن بارق ۱۵۹. ۱۸۱. ۲۴۸. ۲۶۷. ۲۷۸. ۲۸۴. ۳۰۰. ۳۱۵. ۳۴۵.
شفیق/ محمد موسی(صدراعظم) ۹۴. ۱۳۲-۱۳۳. ۱۶۴. ۱۷۱-۱۷۴. ۲۲۴. ۲۳۹. ۲۶۰. ۲۶۲. ۳۱۳. ۶۴۰.
شفیقی / محمد زبیر ۵۵۵. ۶۰۹-۶۱۰. ۶۹۴. ۶۹۶. ۷۱۵.
شمالی (فرمانده) ۵۷۶. ۶۲۲.
شمس / جلیل ۵۷۰.
شمس / شمس الرحمن ۴۵۶.
شکوه / محمود ۶۱۰.
شمالی (قوماندان) ۶۷۲. ۶۸۹.
شور/ محمد آصف (جنرال) ۴۴۳. ۴۴۵.
شورانتزه/ادوارد ۳۲۵. ۳۲۷. ۳۳۰.
شولتز/جورج ۳۲۵. ۳۸۰.
شهادتیار/ محمد بشیر ۴۳۶-۴۳۷. ۴۳۹. ۴۴۱. ۴۷۷.
شهرانی/ نعمت الله ۲۱۴. ۵۶۲. ۶۱۰. ۶۴۰.
شهرستانی / علی اکبر ۲۰۹.
شهید / غلام حبیب ۵۸۵.
شیخ محمد بهایی ۳۸.
شیدا / عبدالحی ۶۱۱.
شیدا / محمد رحیم ۱۴۵.
شیرازی/ میرزا حسن خان ۲۲.
شیرزاد / منگل ۶۱۲.
شیرزی / عبدالاحد ۲۳۲.
شیرعلی خان(امیر) ۴-۱۲. ۱۴. ۳۵. ۳۸. ۴۶. ۵۹..
شینواری / عبد المحمد ۲۳۲.
شینواری / عبدالحنان (جنرال) ۲۴۹.
شینواری / محمد اعظم ۲۴۷.
شینواری/ محمدعارف ۲۳۴.

## ص

صابری / عبدالواحد ۷۱۶.
صادق / مسافر ۱۷۷.
صادقی / سید محمد علی ۵۵۳. ۷۱۹.
صالح محمد خان ۷۲
صافی/اصیل احمد ۵۶۳.
صافی/ محمد عثمان خان ۴۸.
صافی/ محمد موسی ۴۸.
صحرایی/صاحبجان ۲۳۳. ۲۷۳. ۲۷۸. ۳۰۰.
صدقی/ محمد عثمان ۱۰۳.
صدیق/محمد ظاهر ۲۱۶. ۲۱۹. ۶۱۳.
صدیقی / احمد شاه ۶۸۰.
صدیقی/ عبدالستار ۱۹۰. ۵۷۶. ۶۹۸.
صدیقی / عوض الدین ۵۷۳. ۶۹۴.
صدیقی/ محمد اسماعیل ۴۲۵. ۵۱۰.
صراحت / لیلا ۷۰۳.
صمیم / محمد آصف ۵۶۱. ۶۱۳.
صنوع / ابونظاره ۱۷.

## ض

ضعیفی / محمد آصف ۷۲۰.
ضیاءالحق / محمد(رئیس جمهور) ۲۴۲، ۲۷۶-۲۷۷، ۳۰۹، ۳۲۶، ۷۴۵.
ضیائی/عبدالحکیم ۲۶۰.

## ط

طارق/مهندس (قوماندان) ۴۳۴.
طبیبی/عبدالحکیم ۳۴، ۴۵۶، ۵۶۴، ۶۱۳، ۶۴۱.
طیبی / نعمت الله ۵۷۶.
طرزی / جلال الدین ۹۲.
طرزی/غلام محمد ۱۴، ۵۹-۶۰.
طرزی/ محمود ۱۴، ۳۵، ۵۳، ۵۶-۶۶، ۶۸، ۷۲، ۷۵، ۸۲، ۸۴-۸۵، ۱۰۹، ۱۱۴.
طنین/ ظاهر ۳۴۵، ۳۴۸، ۳۵۵.
طهوری/ محمد ناصر ۱۰۳، ۲۵۴.

## ظ

ظریف صدیقی/شمس الدین ۱۳۴، ۳۵۷.
ظفر/ هما ۵۵۸، ۷۱۷.
ظفر / ملیحه ۳۵۱.

## ع

عابد/ زمرک ۷۱۶.
عابدی / عبدالرزاق ۲۳۲.
عابدی / محمد داود ۴۷۸.
عابدی / محمد رحیم ۷۱۳.
عارفی /ضیأ ۵۴۹.
عالمی/ بلخی ۵۳۵.
عالمیار/صدیق ۱۵۸، ۲۷۳، ۲۷۸، ۳۰۰.
عباسی/محمد ابراهیم ۱۰۲
عبدالباقی (جنرال ) ۲۳۲.
عبدالجبار(روزنامه نګار) ۸۵-۸۶.
عبدالحق (قوماندان) ۶۶۰.
عبدالحمید پاشا ۱۵، ۲۳.
عبدالخالق ۱۲۸، ۱۳۸.
عبدالرحمن خان(امیر) ۴۳-۵۳، ۵۹، ۶۵، ۶۷، ۹۷، ۱۲۶، ۱۳۱، ۱۷۵.
عبدالرحمن(دکتور) ۶۶۳، ۷۲۳.
عبدالرحیم (مهندس) ۴۳۴، ۴۷۱.
عبدالرحیم زی/ عبدالملک ۱۵۱، ۲۳۴.
عبدالرحیم زی / عبدالقیوم ۱۷۷.
عبدالرزاق(جنرال) ۲۳۳.
عبدالرسول خان ۱۵۱.
عبدالروف (دګروال) ۴۴۷.
عبدالطیف (دکتور)۲۴۷.
عبدالظاهر (صدراعظم) ۱۷۰-۱۷۱.
عبدالغفار(قوماندان) ۶۷۱.
عبدالله / وحید ۲۲۸، ۲۴۴.
عبدل الله / سید ۲۲۷ -۲۲۸.
عبدالعزیز (مولوی) ۳۳۲.
عبدالقادر پشاوری ۳۵.
عبدالقادر(جنرال) ۲۵۰، ۲۶۶--۲۶۷، ۲۷۸-۲۷۹، ۲۹۹، ۳۶۴، ۴۴۵.
عبدالقدوس(اعتماد الدوله) ۷۲-۷۳، ۱۶۸.
عبدالقدیر/حاجی ۶۹۸، ۷۴۴.
عبدالقیوم (پوهاند) ۲۲۸
عبدالمجید (دکتور) ۲۲۷، ۲۴۱.
عبدالمجید /منشی ۶۹۳.
عبدالناصر/جمال ۴۹۹.
عبدالوکیل ۲۷۸، ۲۹۹، ۳۲۷، ۴۵۶، ۶۳۶، ۶۳۹، ۶۴۱، ۶۴۴، ۶۴۶.
عبدالولی(شهزاده) ۱۵۳-،۱۵۴، ۱۵۶، ۱۷۳، ۲۲۴، ۴۰۴.
عبیدی/ اعظم ۵۴۱.
عثمان/محمد اسحق ۱۶۳.
عرفانی / قربان علی ۴۲۶، ۵۱۶، ۵۳۵.
عرفانی/ عبدالواحد ۵۶۶.
عرفانی / محمد صابر ۷۲۱.
عریف/ ایشان جان ۴۳۱.
عزام/ عبدالله (شیخ) ۴۳۹-۴۴۰، ۵۵۴-۵۵۵، ۵۷۸.
عزیز / عبدالحی ۱۴۴، ۱۴۷.
عزیززاده / عبدالاحد ۷۲۲.
عزیزی : عبدالرشید ۵۸۲.
عزیزی / عزیز الله(جنرال) ۶۶۰.
عشرتی/ عبدالاحد ۲۱۴.
عصمت الهی/ هاشم ۵۳۳، ۵۴۱.
عطالله خان ۸۳، ۱۹۹.

عطیش/ غلام ربانی ۲۳۶، ۳۸۲، ۳۸۵، ۳۹۲، ۳۹۷، ۴۰۳، ۴۸۸، ۵۰۰.
عظیم/ محمد ابراهیم ۴۵۶.، ۶۴۰.
عظیمی/ عبدالسلام ۲۴۱، ۴۵۶، ۵۷۸.
عظیمی/ محمد ظاهر (قوماندان) ۵۳۰.
عظیمی/ نبی (جنرال) ۲۲۵، ۴۵۶، ۶۳۳، ۶۴۱، ۶۴۲، ۶۴۶، ۶۶۴، ۶۸۳، ۷۰۱.
عقابی/عبدالله ۵۶۹
علمی/ محمد یوسف ۵۸۶، ۶۱۴-۶۱۵.
علومی/نورالحق (جنرال) ۶۴۸.
علوی/سید فقیر ۱۳۲-۱۳۳.
علوی/ نصیر احمد ۵۶۴، ۵۷۶.
علی احمد خان ۷۲، ۷۵، ۷۶.
عماد/ سید نور الله ۴۱۲، ۴۲۵، ۴۴۷، ۶۹۲، ۶۹۸
عمر خیل/ عبدالکریم ۲۳۲
عمری/ عبدالوکیل ۲۱۷
عنایت الله خان (معین السلطنه) ۶۱، ۷۱
عیان/ محمد عیان ۲۹۳

غ

غالی/ پطروس ۶۳۵، ۶۳۷، ۶۵۰، ۶۶۵
غالب/ حبیب الله ۵۷۸
غبار/ غلام محمد ۸۰، ۹۱، ۱۰۷-۱۰۸، ۱۱۳، ۱۲۷، ۱۴۴، ۱۲۷، ۱۴۸، ۳۳۰
غرجستانی/ محمد عیسی [illegible]
غروال/ حمید گل ۲۲۴
غروال/ محمد عارف [illegible]
غزنوی/ عبدالرحمن ۴۸
غزنوی/ غلام حسن ۹۰
غضنفر/ سکینه بانو ۵۵
غلام اسحق خان ۶۳۷، ۶۶۶
غلام فاروق (جنرال) ۲۲۵
غلجایی/ محمد شاه خان ۴۸
غمخور/ عبدالله ۶۱۵
غنچوری/ سلیم ۱۷.
غوث/ عبدالصمد ۴۲۴
غوث الدین خان ۴۷
غوثی/ غنی ۴۵۶
غوربندی/ عبدالقدوس ۲۰۷، ۳۰۰
غیرت/ عبدالباری ۲۵۲، ۴۱۸، ۵۶۵، ۶۱۶
غیرت/ غلام سخی ۲۲۴، ۳۵۰.
غیرت/ هنر ۴۴۵.
غیور (قوماندان) ۴۴۰، ۴۴۳

ف

فارانی/ محمود ۱۸۳
فاضل/ ابوالحسن ۵۳۴
فاضل/ فضل الرحمن ۱۰۳، ۴۹۶، ۴۹۷، ۶۱۶، ۶۹۷، ۷۰۶.
فاضلی/ محمد قاسم ۶۴۰
فان سید/ مایر (کاپیتان) ۵۵.
فانی/ رازق ۹۰، ۳۵۵
فانی/ عبدالوهاب ۳۵۱
فایز/ سحیداد ۲۱۰، ۴۱۲، ۵۸۷، ۶۱۷
فایض/ فدا محمد ۱۰۳، ۴۱۷، ۴۷۸، ۴۷۹، ۶۱۰، ۶۱۷
فایق/ غوث الدین ۲۲۴، ۲۲۷
فتاح/ عبدالولی ۳۵۲
فدا/ فدا محمد ۴۲۵
فدایی/ فدا محمد ۱۶۳، ۱۹۰
فدایی/ فیروزه وردک ۳۲۴
فراهی/ یوسف ۲۲۷
فرحت/ بنده محمد ۱۰۳
فرحت/ محمد عمر ۳۵۸
فرزان/ عبدالکریم ۱۶۳، ۱۸۴، ۲۴۸
فرقانی/ عبدالسلام ۱۸۵
[illegible]
[illegible]
فروغ/ خالده ۷۰۷
فروغ/ عبدالعزیز ۴۲۵
فروتن/ محمد معروف ۴۶۶، ۴۷۸، ۴۷۹، ۶۱۹، ۶۹۴
فرهاد/ غلام محمد ۱۶۲، ۱۷۰
فرهادی/ روان ۴۵۰
فرهنگ/ میر محمد صدیق ۱۴۴، ۱۴۸، ۱۶۴، ۲۴۸
فرهمند/ جلال ۴۹۵
فرید/ عبدالصبور ۴۳۴، ۶۳۷، ۶۳۹، ۶۴۳، ۶۶۴، ۶۸۱، ۶۸۴، ۶۹۸
فرید/ گل احمد ۱۶۳
فصیحی/ سید میر حسین ۵۷۶
فضل الرحمن (مولانا) ۷۳۵، ۷۴۵.
فضلی/ عبدالله ۳۵۲

فضلی / محمد شاه ۴۲۵، ۶۴۷.
فقیری / محمد نسیم ۶۲۰.
فوری (جنرال) ۶۶۷.
فیضان (مولوی) ۴۸۲
فیضانی، محمد عطا الله (مولانا) ۲۳۲
فیض محمد (وزیر) ۱۶۸، ۲۲۷، ۲۳۱، ۲۳۸، ۲۴۹، ۲۷۸، ۲۹۹، ۳۰۲، ۳۸۹.
فیض محمد (مهندس) ۴۵۱، ۶۶۱، ۶۸۸.
فیضی / هما ۴۹۷.

## ق

قاسم / محمد (استاد) ۱۹۹.
قاضی غلام ۱۳.
قانت / صفت الله ۵۸۵، ۷۱۹.
قانونی / محمد یونس ۶۸۹.
قانع / عصمت ۴۹۱، ۴۹۳، ۶۲۰.
قربان علی (موسیقی) ۱۹۹
قولق / غلام رسول ۱۰۴، ۷۰۳.
قره باغ / محمد ناصر عابد (قوماندان) ۳۶۵، ۶۴۳، ۶۶۱، ۶۹۹.
قطب زاده / صادق ۳۰۹.
قطره (دکتور) ۲۳۱.
قیومی / غلام دستگیر ۷۵۵.

## ک

کابلی / سید فضل الله ۵۶۸.
کابلی / عبدالرفیع ۵۷۱.
کابلی / غلام حیدر ۴۳، ۴۸
کابلی / زکریا مشکور ۵۴۰.
کارتر / جیمی ۲۴۴، ۳۰۰، ۳۰۷-۳۰۸، ۳۲۶.
کاریروف / اندری ۶۶۵
کاموی / محمد ابراهیم (مولوی) ۱۱۹
کانجو / صدیق ۲۵۰، ۶۳۴، ۶۶۹.
کارمل / ببرک ۹۶، ۱۵۷، ۱۵۹-۱۶۰، ۱۷۸، ۱۸۱، ۲۲۷-۲۲۸، ۲۳۴، ۲۴۸-۲۴۹، ۲۶۶-۲۶۷، ۲۷۵، ۲۷۷، ۲۸۰، ۲۸۷، ۲۹۴، ۲۹۵، ۲۹۷-۳۰۱، ۳۱۳-۳۱۵، ۳۱۷ -۳۲۲، ۳۲۳، ۳۳۹، ۶۳۶، ۶۳۹، ۶۵۶، ۶۶۹، ۶۷۳.
کاظمی / مصطفی ۵۳۳-۵۳۴، ۵۳۶.
کاسترو / فیدل ۲۴۵، ۳۰۲.
کاسیګین / الکسی ۲۷۶، ۳۰۴
کاکړ / فیض الله ۴۸۱، ۴۸۵، ۶۴۰.
کاکړ / محمد حسن ۱۳۳، ۶۲۱.
کاکړ / ملا عبدالرحیم ۴۸
کامه وال / فضل غنی ۶۲۱.
کاموال / هاشم ۲۳۴
کاوفمن (جنرال) ۱۲
کاویانی / نجم الدین اخګر ۳۱۵
کبیر / عبدالبشیر ۱۸۳.
کبیر / فواد ۷۱۹.
کتوازی / عبدالحکیم (جنرال) ۲۳۵، ۴۵۶، ۶۴۱.
کتوازی / خیال محمد ۲۰۱، ۲۵۰، ۲۷۸.
کرزن / لارد ۵۳.
کرزی / حامد ۶۶۲.
کرزی / عبدالاحد ۶۴۰، ۶۶۴.
کریم / عبدالحلیم (دکتور) ۴۴۱
کریم / عبدالقیوم ۷۲۵
کریاب / عبدالقدیر ۴۲۸، ۴۴۱، ۴۸۲.
کریم / مصطفی ۲۸۵.
کریموف / اسلام ۶۸۶.
هادی / کریم ۲۴۸.
کشاف / قیام الدین ۶۳۲.
کشتمند / اسدالله ۲۰۱
کشتمند / سلطان علی ۱۵۹-۱۶۱، ۲۴۸، ۲۶۷، ۲۷۸، ۲۹۹، ۳۰۲، ۳۳۳، ۳۳۹، ۳۴۱، ۳۶۷، ۶۴۵، ۶۶۹.
کشککی / برهان الدین ۸۷، ۱۰۸-۱۰۹، ۱۱۵، ۱۱۷، ۱۳۲
کشککی / صباح الدین ۱۰۲، ۱۳۳، ۱۳۶، ۱۵۸، ۱۶۰، ۱۷۰، ۱۸۴-۱۸۵، ۱۸۷، ۲۶۰، ۵۷۸-۵۷۹، ۶۴۰.
کشمیر خان (قوماندان) ۳۹۹-۴۰۰
کلکانی / عبدالمجید ۱۶۱، ۳۶۴.
کمال شینواری / سید حکیم ۶۳۲.
کمپ بل (شیرمحمد خان) ۵۱.
کمک / محمد یعقوب ۱۸۵، ۲۴۸.
کمیں زاده / شیرباز ۴۹۸.
کندهاری / عصمت الله ۵۶۷.
کندهاری / محمد جعفر ۱۰۴.
کونوف / میخائیل ۴۳۹.
کوچی / محمد نعیم ۶۶۳
کوردویز / دیګو ۳۲۵، ۳۲۷، ۴۲۶، ۴۴۸.
کوزیروف / نیکولائی ۴۲۹.
کوهدامنی / میر بچه خان ۴۳، ۴۸.
کوهستانی / بردل خان ۱۲۵
کوهستانی / خلیل الله ۴۲۵

ACKU

کهگدای/ شکرالله ۵۶۹.
کیوناری / لونی ۱۲.

## گ

کاندی / ایندرا ۳۰۹.
کداز/ عبدالغفار ۱۸۴. ۵۶۳.
کراموف / بوریس ۳۰۴. ۳۱۱-۳۱۲. ۳۱۷. ۳۲۲. ۳۲۷. ۴۲۹
کران / شاهرخ ۶۶۳.
کران / دین محمد ۴۲۵
کرانت/هملتن ۷۵.
کردیری / عزیزه ۲۱۷.
کریفن ۴۵.
کرومیکو/ اندری ۱۵۴. ۳۱۱.
کلایـــزوی/ســـید احمـــد ۱۵۸. ۲۷۸. ۲۸۰. ۲۸۵-۲۸۶. ۲۹۹. ۳۳۹.
گل آغا (دکرمن) ۲۹۹
گلداد ۴۴۴.
گلبهار خان (جنرال) ۲۳۳.
گل محمد (استاد) ۳۸۲. ۳۹۰. ۳۹۴.
گورباچوف/میخـــائیل ۳۲۴. ۳۲۶. ۳۳۰-۳۳۳. ۳۴۲. ۳۴۷. ۴۴۸.
گود ملا (ملای لنک) ۶۳.
گولد سمت/ فردریک ۹.
گیلانی/ سید احمـد ۴۰۲. ۴۰۴-۴۱۰. ۴۱۷-۴۱۸. ۴۲۱. ۴۲۳. ۴۲۵-۴۲۶. ۴۲۸. ۴۳۱-۴۳۲. ۴۳۹. ۴۴۱. ۴۵۶. ۵۰۰. ۵۰۳-۵۰۵. ۶۳۳. ۶۴۲. ۶۵۹. ۶۶۳. ۶۸۸-۶۸۹. ۶۹۲. ۶۹۷-۶۹۹. ۷۴۱.
گیلانی /سید اسحق ۶۶۳.
گیلانی / سید حامد ۶۷۱.
گیلانی/ سید سلیمان ۶۶۴. ۶۹۸.
گیلانی/ فاطمه ۴۶۴.
گیلانی/ فنانه اسحق ۵۶۱.
کهیځ/ منهاج الدین ۱۸۵-۱۸۷. ۱۹۱.

## ل

لابی/ ولی محمد ۱۰.
لایق/ سلیمان ۱۵۹. ۱۷۸. ۲۴۸. ۲۶۷-۲۶۸. ۲۷۸. ۳۱۵.
لتون / سید فضل مولا ۷۱۸.
لطیفی/ رشید ۹۲. ۱۰۲. ۱۳۷. ۲۰۰. ۲۰۴-۲۰۵.
لعلی/ یعقوب ۴۵۶. ۶۴۰. ۶۶۴.
لغرایی / نجیب الله ۱۶۲. ۴۳۱. ۶۶۳.
لقانی / ابراهیم ۱۷.
لکنوال/ عبدالغفار ۳۱۵.
لندی/ عثمان ۱۶۰-۱۶۱-۳۶۳.
لنگری/ ملا عبدالغفور ۴۸.
لودی/رفیق ۸.
لودین/عبدالرحمن ۶۶. ۱۰۶. ۱۲۷.
لوگری/محمد حسن خان ۳۸
لیتن ۱۱.
لینن/ ولادیمیر ۷۷. ۱۵۸. ۲۰۱. ۲۶۸. ۲۷۱. ۲۷۹. ۳۲۸.

## م

مارکس/ کارل ۲۷۹.
ماکسیموف / یوپ۳۰۵.
مامون / عبدالرزاق ۷۰۵-۷۰۶.
مبارز/ عبدالحمید ۱۰۲. ۱۶۴:
متواضع / غلام حضرت ۵۶۵.
متوکل / حسبنا الله ۵۸۵.
متوکل / وکیل احمد ۷۳۸. ۷۴۰.
متین / هدایت الله ۵۰۲.
مجاهد / عبدالصمد ۲۴۸.
مجاهد/ فضل حق ۴۵۱. ۶۷۱-۶۷۲.
مجددی/ ابراهیم ۳۳۸. ۴۹۸.
مجددی/ اسماعیل ۳۳۸. ۵۷۵.
مجددی/ حشمت الله۴۹۸. ۶۶۴.
مجددی/ ذبیح الله ۴۲۵. ۴۹۸. ۵۰۱. ۶۶۴.
مجددی / شاه آقا ۴۳۴.
مجددی/ صبغـــت اللـه ۲۴۸. ۲۶۴. ۳۸۱. ۴۰۲-۴۰۶. ۴۱۷-۴۱۸. ۴۳۰-۴۳۲. ۴۴۱. ۴۴۴. ۴۴۹. ۴۵۲. ۴۵۶. ۴۸۷. ۴۹۸. ۵۰۱-۵۰۳. ۵۲۷. ۶۳۳-۶۳۴. ۶۳۷. ۶۴۲. ۶۵۹. ۶۶۲-۶۷۰. ۶۸۳. ۶۹۲. ۶۹۷-۶۹۹. ۷۴۱.
مجددی / فضل الرحمن ۱۸۶.
مجددی / فضل عمر۱۲۸. ۴۹۸
مجددی / محمد صادق ۱۲۹. ۴۹۹
مجددی/ نجیب الله ۶۸۳.
مجددی/ هارون۴۹۹.
مجددی/ هاشم ۴۰۴. ۴۵۶. ۶۷۸. ۶۴۰.
مجروح/بهاءالدین ۳۵. ۲۶۰. ۵۸۸. ۶۲۳.
مجروح /سید نعیم۵۸۸.

مجروح/شمس الدین ۱۴۷. ۱۶۴. ۴۵۶. ۶۲۳.
مجید/ابراهیم ۲۹۹.
محب/ عبدالکریم ۵۷۳.
محبوب / مریم ۷۱۴.
محبوبیار/محمد طاهر ۵۶۵.
محتاط/عبدالحمید ۲۲۷. ۲۳۸. ۶۴۶. ۶۵۱.
محسنی/ شیخ آصـــف ۴۲۵. ۴۲۹. ۵۲۶-۵۲۷. ۵۳۳. ۶۲۳. ۶۶۳. ۶۶۵. ۶۹۷. ۶۹۹-۷۰۰. ۷۴۱..
محسنی / محمد طاهر ۱۷۹.
محسنی/ نجیب الله۵۰۹.
محشور / محمد اسماعیل ۱۰۳. ۳۵۱.
محقق ۴۲۶. ۵۳۳. ۵۳۶. ۶۱۶. ۷۰۰.
محمد اسماعیل /دکتور (قوماندان) ۴۳۹. ۴۴۳.
محمد اعظم خان(امیر) ۴-۵. ۸. ۱۴. ۲۱.
محمد افضل خان(امیر) ۴-۵. ۵۱.
محمد انس (دکتور) ۲۸۴.
محمد ایوب خان (غازی) ۴۳-۴۵. ۴۸. ۵۹.
محمد بشیر (روزنامه نگار) ۸۷. ۹۳. ۱۱۹.
محمد بشیر خان بغلان(قوماندان)
محمد حسین (روزنامه نگار) ۹۱. ۱۱۷.
محمد حسین (جنرال)۲۳۲. ۳۱۹.
محمد داود (رئیس جمهور) ۸۹. ۱۳۸-۱۴۰. ۱۴۴. ۱۴۷-۱۵۷. ۱۶۴. ۱۶۷. ۱۷۰. ۱۷۳. ۱۷۵. ۱۸۸. ۲۰۵. ۲۰۸. ۲۱۱. ۲۱۹. ۲۲۴-۲۵۱. ۲۶۷. ۲۷۱. ۲۷۴. ۲۷۶. ۲۸۳. ۲۸۹. ۳۱۲. ۳۸۷. ۳۹۰-۳۹۱. ۳۹۴. ۴۰۳. ۴۶۲. ۴۸۵. ۵۰۰.
محمد رفیـــع (جـــنرال) ۲۶۷. ۲۷۸. ۲۹۹. ۳۴۱. ۶۴۶. ۶۵۱-۶۵۲. ۶۵۶. ۶۶۱.
محمد صفر / ناظر ۵۵.
محمد طاهر (جنرال) ۲۴۵. ۲۴۹.
محمد طاهر/ مولانا پنج پیر ۴۴۷.
محمد ظاهر شاه ۸۲. ۸۹. ۹۳-۹۴. ۱۲۵. ۱۳۳. ۱۳۸- ۱۴۳. ۱۴۸. ۱۵۱. ۱۵۳. ۱۵۶. ۱۷۰. ۱۷۳. ۱۸۸. ۲۰۵. ۲۲۸. ۲۳۰. ۲۵۱. ۲۷۴. ۲۷۶. ۲۸۹. ۳۲۵. ۳۳۵. ۳۴۱. ۳۶۴. ۳۸۰. ۳۹۲. ۳۹۵. ۴۰۳. ۴۵۰. ۵۰۳. ۵۰۵. ۶۲۳. ۶۳۷. ۶۹۲. ۶۴۶-۶۴۷.
محمد عارف(جنرال) ۱۴۸.
محمد عبده ۱۷. ۲۵. ۳۲. ۳۴. ۵۶۴.
محمد عزیز(سردار) ۱۲۷-۱۲۸.
محمد عمر(دکتور) ۲۳۶. ۳۸۲. ۳۸۶-۳۸۷. ۳۸۹. ۳۹۱.
محمد موسی (جنرال) ۲۴۹.
محمد نادر(شـاه) ۷۲-۷۶. ۸۸. ۹۱. ۹۳. ۹۹. ۱۰۶. ۱۱۰. ۱۱۶-۱۱۷. ۱۱۹. ۱۲۳-۱۳۹. ۵~ ۱۹۳ ۱۹۹. ۲۲۸. ۲۴۷. ۳۲۵. ۴۹۹.
محمد نعیم(سردار) ۱۴۸. ۲۰۰. ۲۵۰.
محمد نوروز ۱۰۴.
محمـــد هاشـــم(صدراعظـــم) ۱۰۰. ۱۲۴-۱۲۵. ۱۳۱. ۱۳۹-۱۴۱. ۱۴۵. ۱۵۳. ۱۷۵.
محمد یاسر ۶۶۳.
محمد یوسف (صدراعظم)۱۶۴-۱۶۵. ۱۷۰. ۴۵۶. ۶۴۱
محمد یونس (جنرال) ۲۵۰.
محمـــدی/محمـــد نبـــــی ۳۲۵. ۳۶۸. ۴۰۱-۴۰۳. ۴۰۶. ۴۴۱. ۵۰۲-۵۱۰. ۵۱۵. ۶۳۳. ۶۳۷. ۶۵۹.
محمدی/ جمعه محمد ۴۵۶. ۶۴۰.
محمد / محمد حسن ۷۱۸.
محمدی/ معصومه ۷۲۴.
محمود (مهندس) ۴۵۰.
محمودی/عبدالرحمن ۱۴۳-۱۴۴. ۱۴۸. ۱۶۱. ۳۲۰.
محمودی/عبدالرحیم و عبدالهادی ۱۶۱. ۱۸۳. ۳۶۳.
محمود ساعی البدوی ۱۷.
مختار / عزیز۱۸۴.
مخزومی/ پاشا ۲۲. ۲۶.
مدافع/ بهادر خان ۴۳۶. ۴۴۳.
مدبر / صادق ۵۲۹.
مذهبی/معتصم بالله ۵۵۰
مراد / فقیری ۴۹۳.
مراغه ای/ حاج مستان شاه ۳۲.
مرتضوی ۵۳۴.
مزاری/ عبدالعلی ۵۱۵-۵۱۶. ۵۲۶. ۵۳۱-۵۳۴. ۵۳۶. ۶۳۶. ۶۷۴. ۶۸۴. ۷۰۰. ۷۳۰.
مزاری/ نقیب الله حسینی ۵۶۷
مزدک / فرید ۳۳۴. ۶۴۶. ۶۶۸.
مزدوریار/شیرجان ۱۵۸. ۲۷۸-۲۸۰. ۲۸۵. ۲۹۹.
مزمل/ محمد زمان ۴۸۲-۴۸۳. ۵۸۷. ۶۲۴. ۶۱۳.
مژده/ عبدالحکیم ۱۷۵.
مژده/ وحید ۶۲۵. ۶۹۴.
مستقل / محمود ۴۸۰.
مستقیم / عبدالله ۴۹۶.
مستغنی/ عبدالکریم ۲۲۵. ۲۲۸. ۲۴۵. ۴۵۶.
مسعود/ احمد شاه ۱۶۲. ۳۱۱-۳۱۲. ۳۳۹-۳۴۰. ۳۹۰. ۳۹۵- ۳۹۷. ۴۰۴. ۴۲۰. ۴۳۴-۴۴۲. ۴۵۶. ۴۶۴-۴۶۵. ۴۸۵- ۴۸۷. ۵۱۲. ۵۳۳-۵۳۴. ۵۳۶.۵۴۴. ۶۲۲. ۶۳۵-۶۳۶. ۶۳۹. ۶۴۱. ۶۴۴-۶۵۹. ۶۶۰. ۶۶۲-۶۶۸. ۶۷۰. ۶۸۱-۶۸۴. ۶۸۶. ۶۸۸. ۶۹۰-۶۹۱. ۶۹۸. ۷۰۲. ۷۳۰. ۷۳۵. ۷۵۱.
مسعود/حیدر ۲۶۳. ۳۱۵.
مسعود/ محمد عارف ۵۶۸.

ACKU

مسلم / عبدالرحیم ۵۵۹
مسید / مهرالدین ۳۵۲
مصطفی حسین خیل / محمد نعیم ۷۱۵
معلمّن / عبدالحی ۷۵۶.
مطیع / مطیع الله ۴۲۵، ۴۳۱.
مظفری / ابوطالب ۶۳۰، ۷۱۳
معروف / اسف ۵۷۱، ۷۱۵
مفلح / محمد مختار ۷۴۱
مقصودي / حسین ۵۵۲
ملا محمد رباني ۷۳۸
ملا عبدالحق ۱۲
ملا قرد ۵۴۳
ملا محمد خان / آخندزاده موسهی لوګر ۱۴۶.
ملا محمد عمر ۱۴
ملا محمد عمر مجاهد ۷۳۳-۷۳۴، ۷۳۶-۷۳۸، ۷۵۲
ملا محمد فایق ۵۶۳.
ملا مشک عالم ۱۵، ۴۳، ۴۵، ۴۸، ۹۷
ملا ملنګ ۴۲۰.
ملا نجم الدین هده ۴۸، ۵۵
ملا نصر الله ۱۵
ملنیار / علی احمد ۱۷۶
ملک / عبدالمجید ۵۴۵، ۵۶۶
ملکزاد / عبدالقیوم ۴۸۹، ۶۲۵.
ملک فهد ۶۶۶، ۶۹۷.
ملکم خان ۲۱، ۳۱
ملک محسن ۱۱۳-۱۱۴.
ملکیار / عبدالسلام (جنرال) ۲۳۳
معوری ۴۹۵
منصور / خواجه محفوظ ۲۳۹، ۳۸۲، ۳۹۰-۳۹۱، ۳۹۴، ۳۹۶.
منصور / نصرالله (مولوی) ۳۹۴، ۴۰۲-۴۰۳، ۴۱۲، ۴۱۵، ۵۰۹-۵۱۰، ۵۷۵، ۶۳۳، ۶۶۰، ۶۷۱.
منتظری (ایت الله) ۳۰۹
منګل / سرور ۳۰۰.
مودودي / ابو علی ۱۸، ۳۹۱.
مؤذن / رفیع الله ۴۰۳، ۴۱۲، ۴۱۵۷ ۵۰۹-۵۱۰، ۶۶۰.
موسولیني ۱۴۰
مولوی عبدالروف ۱۴، ۶۱-۶۵، ۶۷.
مولوی نجف علی ۶۸
مولوی یعقوب حسن خان ۸۹.
مومن (جنرال) ۲۵۳، ۶۳۶، ۶۴۱، ۶۴۵-۶۴۶، ۶۸۳-۶۸۵، ۶۹.
موممد / سناوون ۵۷۴.
موممند / عبدالقیوم ۷۱۵
موممند / فضل الرحیم ۲۹۹
موممند / محمد زمان ۱۰۳، ۲۹۳
مهاجرزاد / عبدالکریم ۴۸۴
مهدی / محمد نسیم (قوماندان) ۶۸۶.
مهدی / محی الدین ۶۲۱
مهربان / محمد رحیم ۱۹۱
مهمند / سلطان محمد ۹
مهمند / محمد کل ۱۳۹

میثاق / کریم ۲۶۷، ۲۷۸، ۳۰۰
میر احمد شاه ۲۳۳
میرزا شاهرخ خان ۸۷.
میروای / حسن شیرازی ۲۲.
میرزا شیر محمد خان (طبیب) ۸۹.
میرزا عبدالعلی ۳۸-۳۹.
میرزا علی اصغر ۲۱.
میرزای کرماني ۲۳
میرزا محمد حسن خان (دبیر الملک) ۷-۸
میرزا محمد اکبر خان ۸۶
میرزا میر غلام ۱۰۴
میروزي / غلام حسن ۵۱۰.
میمنه کی / دلاور خان ۴۹.
میوندوال / محمد هاشم ۱۰۳، ۱۶۳، ۱۶۵-۱۶۸، ۱۷۳، ۱۷۶، ۱۸۸، ۱۹۱، ۲۰۵، ۲۱۲، ۲۱۸، ۲۳۳، ۲۳۵، ۲۸۸، ۷۱۹.
میوندي / عبدالغني ۱۸۸
میهني / روحاني ۵۵۲.

## ن

نادري / سید جعفر ۳۰۲، ۴۵۳، ۴۵۶، ۶۳۵-۶۳۶، ۶۴۴، ۶۶۹
ناشر / سرور ۱۸۲
ناصر / امین ۵۷۲.
ناصر / نصرالله ۳۵۵
ناصرالدین شاه ۲۰، ۲۲، ۲۳
ناصري / عبدالحق ۱۷۵
ناصري / عبدالرحیم ۲۳۴
ناصري / فیض محمد ۱۰۳
ناصري / محمد رحیم (جنرال)
ناقد / محمد الله ۴۷۷
ناکار / فضل ولی ۶۲۶.

ACKU

نایف ، عبدالله ۶۶۵.
نتو (استاد موسیقی) ۱۹۹.
نجم/عبدالفتاح ۳۸۵. ۴۵۶. |
نجی الله (قاضی) ۴۲۵. ۴۳۱. ۶۸۷
نجیب الله(دکتور) ۱۷۸. ۲۰۸. ۲۳۱. ۲۷۸. ۲۸۷-۲۸۸. ۳۰۲.
۳۱۷-۳۱۹. ۳۲۲. ۳۲۵-۳۳۰. ۳۳۳-۳۳۶. ۳۳۹-۳۴۳.
۳۴۷. ۳۸۶. ۴۳۰. ۴۴۳-۴۴۴. ۴۴۹. ۴۵۳-۴۵۶. ۴۶۳.
۶۳۳-۶۳۵. ۶۳۷-۶۳۹. ۶۴۵-۶۴۶. ۶۵۷. ۶۶۲. ۶۶۴.
نسیم آخوند زاده ۴۸۶.
نشاط / عبدالطیف ۲۰۶.
نصرالله خان(نائب السلطنه) ۵۳. ۵۴-۵۶. ۶۹. ۷۱.
نصرت / امان الله ۶۲۶.
نصرتیار / سیف الدین ۲۲۶. ۳۸۲. ۳۸۵. ۳۹۱-۳۹۲. ۳۹۶-
۳۹۷. ۶۸۱.
نصری/ شیر احمد ۲۱۶.
نظامی/ کبیر ۷۱۰.
نظر محمد (وزیر ۲۷۸. ۲۹۹
نقیب/شیرآغا(گیلانی) ۱۲۸.
نقیب الله (ملا) ۴۸۶. ۶۸۷. ۷۲۹
نکسن/ ریچارد ۱۵۰.
نګاه/ سید مقدس ۱۸۸. ۲۰۴.
ننګیل / اسحق ۷۰۴.
ننګیال/ عبدالباری ۴۱۶. ۵۵۵. ۵۷۳. ۶۲۶.
نوابی / غلام حبیب ۱۴۵.
نواز شریف ۴۴۵. ۶۳۴. ۶۴۰. ۶۴۷. ۶۵۰. ۶۶۲. ۶۶۶.
نور/ واصل ۴۷۷.
نور/ نوراحمد ۱۵۷. ۱۸۱. ۲۲۸. ۲۴۸. ۲۶۷. ۲۷۷. ۲۹۹.
نورانی/حلال ۱۰۳. ۲۱۲. ۳۵۱
نورزاد/ نورالله ۱۷۷.
نورزایی/کبرا ۱۶۶
نورستانی / جلیل ۲۳۱.
نورستانی / سرور۲۲۷. ۳۶۸.
نورستانی/عبدالقدیر ۱۶۸. ۲۲۴. ۲۴۳. ۲۴۵-۲۴۶. ۲۴۹
نوروز/ یحیی (جنرال)۴۳۱. ۴۵۶. ۶۴۰. ۶۶۳.
نوری/ نثار احمد ۲۵۵. ۷۰۴.
نویدی / نصیر احمد ۷۱۹
نوین/ عبدالرحیم ۱۸۰. ۲۲۷. ۲۴۶
نیازمند / اسحق ۷۲۲
نیازی / عبدالرحیم ۱۸۰. ۲۲۸. ۲۴۷. ۲۸۱-۳۸۵. ۳۹۵.
۴۶۰. ۴۶۳
نیازی / عبدالستار ۶۴۷.
نیازی/ غلام محمد ۲۲۶. ۳۸۱. ۳۹۲. ۳۹۵. ۳۹۷. ۴۸۸.
نیازی/ محمد اسحق ۵۸۵.
نیرم/ بلال ۵۷۵.

## و

واحدی/ نقی ۵۶۲.
واحدی/ عبدالعزیز ۵۴۴.
واحدیار / رحمت الله ۶۶۳.
واحد/ محمد قاسم ۱۰۲.
وارد /بشیر ۴۷۹
وارنر /ادکرمن) ۵۵.
وارنستوف ۴۲۸
واصف/ محمد سرور ۴۷
واصفی/عزیز الله ۲۳۲. ۲۴۰.
واثق / سید نجم الدین ۴۳۷.
واعظ زاده / واثق ۴۲۵
واقف حکیمی / عبدالشکور ۷۰۸.
واله/ عبدالحق ۱۸۴
وثیق ، عماد الدین ۶۲۸.
وثیق / عماد الدین ۴۹۷
وجدان/ محمدشفیق ۳۴۷.
وحدت/ حیات الله ۴۷۲. ۶۲۷.
وحدت / محمد رحیم ۷۲۵.
وردک / رحیم(جنرال) ۴۲۹. ۶۴۸. ۶۶۴. ۶۹۲.
وردک/ عبدالاحد ۸۲.
وردک/ محمد جان خان ۴۳. ۴۵. ۴۸.
وردک / معصومه ۲۴۸.
وردکی/ غلام حیدر خان ۴۵
ورسجی/ ابراهیم ۱۴۶. ۵۵۱.
ورشیلوف ۱۵۲.
ورکزی/ سعید ۷۱۷.
وریځ/ شاه زمان ۳۵۲
ورین/ فضل الهادی ۴۸۳. ۵۸۵.
وطنجار/ محمد اسلم ۲۴۹-۲۵۰. ۲۶۷. ۲۷۹. ۲۸۱. ۲۸۵.
۲۹۹. ۶۴۳. ۶۶۰
وطنوال/ محمد هاشم ۴۲۵.
وطنیار/ هدایت الله ۷۲۵
وفادار/گل باچا ۱۵۸. ۲۲۴. ۲۲۷. ۲۳۸. ۲۷۸.
وقاد/ محمد امین ۴۱۲. ۴۱۵. ۴۴۶. ۴۸۸. ۵۷۷. ۶۳۳. ۶۴۷.
۶۶۰. ۶۷۱. ۶۹۸
ولایتی، علی اکبر ۴۵۰. ۶۳۵. ۶۴۴. ۶۶۲

ACKU

واسمل/ محمد حسن ۱۷۶، ۵۴۵، ۵۷۱، ۶۲۸.
واسی/عبدالاحد ۲۷۳.
ولف/ سردورموند ۲۱.
ولی/عبدالرحمن ۵۷۰.
ولید / سلیمان ۵۶۶.
ولید / سید جمال ۴۳۸-۴۴۰.

## هـ

هاتف / عبدالرحیم ۳۱۶، ۶۴۵، ۶۵۱، ۶۶۱.
هاتفي / سبحان ۷۲۵
هاجر / ذکیه ۷۲۵
هادي / سید محمد ۴۲۵، ۵۳۴، ۵۳۶، ۶۶۴.
هاشم / کمال ۴۵۶.
هاشمي / سید داود ۲۳۲.
هاشمي / سید محی الدین ۵۵۵.
هاشمي / عبدالسلام ۴۱۳.
هاشمي / محمد منصور ۲۶۷، ۲۷۳، ۲۷۸.
هاشمي/ میر محمد الله ۶۱۰.
هاشمیان/ سید خلیل الله ۵۴۱.
هاله/ حبیب الرحمن ۲۰۹، ۲۶۰، ۶۲۸.
هدف / عزیز الله ۲۰۴.
هروي/ عبدالله قانع ۸۹.
هروي/ مایل ۱۴، ۳۸.
هزاربز/ حاجی الله نظر ۲۳۴.
هزاره/ طاهر خان ۵۷۶.
هزاره / محمد علی ۲۳۹.
هلال /قطب الدین ۴۲۹، ۶۴۷، ۶۵۹، ۶۶۲، ۶۸۵.
هلباوی / ابراهیم ۱۷.
همام/ سید سلطان شاه ۵۵۸.
همت / محمد قاسم ۵۸۳.
همدرد/ جمعه خان (قوماندان) ۴۶۵.
همفریز/ فرانسیس ۸۰، ۱۱۳، ۱۱۶.
هوتک/ صالح محمد ۹۰، ۱۱۱ -۱۱۲، ۲۱۲.
هوتک / عبدالرحمن زاهد ۷۵۳.
هوتک / ملا محمد اکرم آخندزاده ۵۹.
هوتکي / احمد شاه ۷۳۴.
هوسا/ محب الرحمن ۱۸۲.
هیتلر / آدلف ۱۳۹.
هیله من غزنوی / عبدالباقی ۷۱۳.
هیواد مل / زلمی ۲۱۷.

## ی

یاپیشوف / الکسی ۲۹۵
یاسا/ حسین علی ۵۶۴.
یاسر/ فاطمه ۴۶۴، ۴۷۴.
یالتسین/ بوریس ۳۳۱-۳۳۲، ۳۳۴.
یاکونین/ ویکتور ۴۵۳.
یعقوب/ محمد اسماعیل ۵۵۸.
یعقوب خان (امیر) ۱۰، ۱۲.
یعقوب خان/ صاحب زاده ۳۲۷، ۴۲۶.
یعقوبی/ غلام فاروق ۲۳۱، ۲۳۴، ۲۴۷، ۳۴۳، ۴۵۵، ۶۴۱.
یوسف خان(سردار) ۱۲۶.
یوسفزی / عبدالستار ۷۵۵.

# دخپرونی او جمعی رسنیو الفبایی ردیف

دافغانستان دمطبوعاتو په تاریخ کی، ددلئیزی خپرونی او رسانی د الفبائی توری په لیک کــی، مختلفی جریدی او ورځپانی، په متفــاوتو دورو کی په هماغه یو نامه سره ذکر شویدی.
د لوستونکو او پلتونکو د لا زیــاتی آســانتیاوی دپاره د یوه نامه لرونکی خپرونی مــو پــه یــوه لیک کی راوری.

## آ


آرمان افغان ۷۲۲.
آرمان مجاهد ۴۹۰، ۵۳۷، ۵۴۰-۵۴۱.
آرمان وحدت ۵۳۷.
آریانا ۲۰۸، ۲۵۲، ۳۵۰، ۵۴۰، ۷۲۲.
آزادی. ۳۵۰، ۴۷۲، ۵۲۶.
آذرخش ۵۴۰.
آسمایی ۵۴۱.
آشتی ۷۰۸.
آواز ۱۰۳، ۲۵۴، ۳۵۰، ۷۰۴.
آدای مهاجر ۵۴۱.
آوای هری ۵۲۸.
آگاهی جهاد ۵۱۲
آینده افغان ۷۰۸
آینه ۱۴۵، ۷۰۸، ۷۲۲.
آینه افغانستان ۵۴۱.
آینه انکشاف ۷۲۲.
آینهء جهاد ۵۴۲.
آینه صحت ۵۴۲.
آینه عرفان ۹۱-۹۲، ۱۳۶.
آینه فرهنگ ۷۰۸.


## الف


ابلاغ ۸۶.
ابونظاره ۳۵.
اتحاد اسلام ۹۰.
اتحاد افغان ۱۱۹، ۲۱۸.
اتحاد بغلان ۲۱۸، ۲۵۲.
اتحاد اسلامی ۵۱۲.
اتحاد مجاهدین ۴۱۸.
اتحاد مشرقی ۸۲-۸۸، ۱۰۹، ۱۳۶، ۲۱۸.
اتحاد ملی ۱۷۵.
اتحادیه ملی ۳۵۰.
اتفاق اســلام ۸۹، ۱۰۵، ۱۱۸، ۱۳۶، ۱۹۳، ۲۱۸، ۲۵۲، ۳۵۰، ۵۴۲، ۶۰۲، ۷۵۴.
اتفاق افغان ۵۴۲.
اتوم ۱۴۵.
الاحداث ۷۲۶.
احرار ۵۴۲.
احسم ۳۵۰.
احیأ ۵۴۲.
اخبار هفته ۳۵۰.
اخبار هفتگی ۵۱۸.
اخلاص ۵۴۳.
اخوت ۵۴۳، ۷۰۳.
ادب ۲۰۹.
اردو ۹۰، ۱۳۴، ۳۵۰، ۴۳۳، ۷۰۳.
اردوی افغان ۱۳۷.
ارشاد ۴۳۲، ۵۴۳، ۷۰۸.
ارشاد الاسلام ۳۵۰.
ارشاد النسوان ۸۵-۸۶، ۷۰۳، ۷۰۸، ۷۲۲، ۷۶۰
ارغوان (تلویزیونی پروگرام) ۷۲۱.
اصالت ۷۲۲.
ارکین ۵۴۳.
ارمغان ۶۷۶.

ارمغان فرهنگ ۵٤۳.
از هر چمن سمنی ۳۷۰.
استقامت ۵۲۸.
استقلال ۳۷۰، ۵٤٤.
اسلام ۱۹۱، ۳۵۱.
داسلام رنا ۵٤٤.
اسلام ژغ ٤۹۱، ٦۳۱.
داسلام ستوری ۵٤٤.
اسلام مکتب توحید ۵۲٤.
اسلامی یولو ٦۷۷.
اصلاح ۹۳-۹٤، ۱۰٦، ۱۳۱-۱۳۳، ۱٤۰، ۱۵۰، ۱۷۲، ۲۰۸، ۳۵۱، ۵۹٤.
اعتصام ۷۰۹.
افغان ۸۳، ۱۰٤، ۱۷٦.
افغان اطلاعاتی مرکز **Afghan Information Centre** ٦۲۲، ۵۸۸.
افغان تربیون ۳۷٤.
افغان جهاد ۵۷۹.
دافغان جهاد خپرونه(اخبار جهاد افغانستان) Afghan Jehad News ٤۹۱.
افغان رساله Afghan post ۷۲۲.
افغان رفیو(بررسی) Afghan review ۷۰۹.
افغان مطبعه ۱۰۳.
افغانستان ۱۳۱، ۲۰۹، ۲۵۲، ۵۰۱، ۵۰۵، ۵٤۵، ۵۸۸.
افغانستان آزاد ۳۷۰، ۵۰٤.
افغانستان امروز ۳۵۱.
افغانستان بانک ۲۰۹.
د افغانستان جنگ ۵٤۵.
دافغانستان جهاد ٤۱۸.
دافغانستان خبرونه(اخبار افغانستان) Afghanistan Journal ٤۹۰.
افغانستان در آیینه مطبوعات ۵٤۵.
افغانستان در آیینه مطبوعات فرانسه ٤۷۳.
افغانستان در رادیو های جهان ٤۳۳.
افغانستان در مطبوعات جهان ٤۳۳، ۵٤۵، ۵۸۷.
دافغانستان د ملی اسلامی تنظیمونو وحدت ۵٤۵.
دافغانستان دهمکاری مرکز **CCC Newsletter** ۵۷۲
دافغان غژ ۵٤٦.
افغانستان فی اسبوع ٤۷۳.
افغان فلم(موسسه) ۲۰٤-۲۰٦.
افغان کالنی(سالنامه) ۱۳٤.
افغان مجاهد ٤۷۳، ۵۸۰، ۵۸۳.
افغان مجاهدین ٤۷۳.
افغان ملت ۱۷٦، ٤۷٤.
افغان نیوز **Afghan News** ۵٤٦.
افغان ولس ۱۷۷.
افق ٤۷٤.
افکار نو ۱۷۷.
اقتصاد ۱۳٦.
الفبا ۱٤٦.
الاهرام ۱۷.
الهام ٤۷٤.
امان افغان ۸٤-۸۵، ۸۸، ۱۰٦، ۱۰۹-۱۱۰، ۱۱۵.
امت آزاد ۵٤۷.
امر ۷۲۲.
امروز ۷۰۹.
امن ۷۲۳.
امید ۵٤۷.
امین ٦۱۲، ۷۱۹.
امین شهید ۵٤۷.
امهات المومنین ٤۹۱.
امروز ما ۵۳۷.
انا(آژانس) ٤۷۰.
انجمن ادبی کابل ٦۷-٦۸، ۱۰۵، ۱۱۱، ۱۳۳-۱۳٤.
انجمن ادبی کندهار ۱۳۵
انجمن تاریخ افغانستان ۱۹۵، ۲۰۹.
انتظار ۵٤۸.
اندیشه ٦۷۸، ۷۲۳.
اندیوال ۷۰۹.
انقلاب اسلامی افغانستان ٤۹۰.
انکار ۱۲۸، ۳۳۰.
انیس ۸۳، ۹۳-۹٤، ۹۷-۱۰۳، ۱۳۱، ۱۳۳، ۱٤۰، ۱۵۰، ۱۷۲، ۲۰٤، ۲۰۸، ۲٤۱، ۲۵۳، ۲۸۲، ۳۵۱، ۵۹۱، ۵۹٤، ٦۰۰، ۷۰۳، ۷۵٤.
اوگل ۵٤۸.
اوربل ۳۷۰.
اورنگ هشتم ۷۵۵.
اوقاف ۲۵۳.
ایثار ۵٤۸.
ایمان ۵٤۸.


ACKU

ب

بابا ۵٤۸.
باختر (آژانس)۵۹٦.
بازگشت به صدر اسلام ۵٤۸.
باستان شناسی ۳٦۰.
بالاحصار ۷۰٤.
بامداد ٤۷٤.
بامداد(تلویزیونی پروگرام) ۷۲۱.
بامیان ۳۵۱، ۷۱۰.
بخوان و بدان۳۵۳، ۷۱۰.
بدخشان ۳۱۹.
البدر ٤۷۰، ٤۸۳، ۵۸۰- ٦۰۰.
برگ سبز ۵٤۹.
برهان ۵۲۸.
برهان اسلام ۵٤۹.
بسیج ۵۲۸.
بشارت ٤۹۱، ۵۳۷.
بشر ۷۱۰.
بشیر ۷۱۰.
بشیر المومنات ۵٤۹.
البصیر ۳۵.
بصیرت ۵٤۹.
بعثت ۵۵۰.
بلاغ ۵۵۰، ۷۱۰.
بلاغ المبین ۵۵۰.
بلخ ۳۵۳، ۳۵۱.
بلدیه هرات ۱۳۵.
بلنه ۵۵۰.
بنیاد ۵۵۰.
بنیاد وحدت ۵۳۷
البنیان ۵۱۳.
البنیان المرصوص ۵۱۳.
بیان ۵۵۱، ٦۷۸.
البیان ٤۷٤.
بیدار ۹۰، ۱۱۸، ۱۳٦، ۲۱۸، ۳۵۳، ۳۵۱، ۵۹۰، ۷۵۵.
بیست و سوم(۲۳ثور) ۳۷۳.
بی وطنان ۵۵۱.

پ

پامیر ۱٤۵، ۳۵۳، ۷۱۱
پرچم۱۷۷.
پرستو ۷۱۱.
پرستو ها ۷۱۱.
پرمحتک ۷۲۳.
پروان ۳۱۹، ۳۵۳، ۳۵۵.
پروانه ۱۷۸.
پښتو ۱۳۵.
پښتو تولنه ۱۹۵.
پښتون ژغ ۸۳، ۱۰۳.

پکتیکا ۱۷۸.
پګاه ۷۱۱.
پلوشه ۳۵۱.
پولیس ۳۵۵، ۵۹۳، ۷۰٤.
پوهنتون کابل ۳۵۳.
پوهنه ۳۱۰.
پیام(تلویزیونی پروگرام) ۷۲۱.
پیام ۳۵۳.
پیام آزادی (رادیوتلویزیون) ۳٦٤، ٤۷۳، ۵۹۵.
پیام آزادی ٤۹۱.
پیام اتفاق ۵۲۰.
پیام استقلال ۷۱۱.
پیام اسلام ۵۵۱.
پیام افغان ۱٤٦.
پیام افغانستان ٤۹۳.
پیام امروز ۱۷۹.
پیام ایثار ۵۲۸.
پیام بانوان اسلام ۵۲۸.
پیامبر ۷۱۳.
پیام بلخ٤۹۳.
پیام پاسدار ۵۱۸.
پیام تندرستی ۱۳۷
پیام توحید ۵۳۷، ٦۷۹.
پیام جهاد ۵۲٦، ۵۲۹.
پیام حق ۱۸٦، ۳۱۰، ۳۵۳، ۵۰٦.
پیام خون ۵۱٦.
پیام دعوت ۵۱۷.
پیام زن ۳۷۱.
پیام زن مسلمان ٤۷٤، ۵۹۳.

پیام ستمدیده گان
پیام سنگر ۵۲۹.
پیام سنگرنشینان ۵۱٦.
پیام شهدا ۵۲۹.
پیام صبا ۷۱۲.
پیام عروه الوثقی ۵۰۱.
پیام عصر ۵۱٦.
پیام قلم ۵۲۹.
پیام ما ۵۳۸.
پیام مبارز ۵۲٤.
پیام مجاهد ۷۱۲.
پیام مستضعفین ۵۱۷.
پیام مقاومت۵۱۷.
پیام ملیت ها ۵۵۱.
پیام مهاجر ۵۵۱.
پیام نو ۵۲۹.
پیام نور ۵۲۱.
پیام وحدت ۵۰۱، ۵۳۸، ۵۵۱-۵۵۲.
پیام وجدان ۱٦۰، ۱۷۹-۱۸۰، ۷۲۳.
پیام هرات ۵۰٦.
پیروزی ٤۷۵.
پیشاهنگ ۳۵۲.
پیغام ۵۸٦، ۷۱۲.
پیغام افغان ۵۵۳.
پیغام شهید ٤۱۸.
پیغام مجاهد ٤۹۲، ۵۱۳.
پیغام هزاره ۵۵۲.
پیک ۵۳۸.
پیکار ۱۸۰.
پیکار اسلامی ۵۲۱.
پیمان ۷۱۲.
پیمان مجاهد ٤۹۸.
دپیوستون غږ ۵۵۲.

## ت

تبلیغ اسلامی ۵۵۳
التجاره ۱۷، ۲۵.
تجلی حق ۵۵۳.
تحریم ماین ۷۲۳.
تجلی وحدت ۵۳۸.
تحقیقات کوشانی ۳٦۰.
ترجمان ۱۸۰.
ترجمان الحق ۵۵۳.
ترجمه ۷۰٤.
ترکمی ۵۵۳.
تصویر ۵۵۳.
تعاون ۳۵۲، ۷۱۳.
تعلیم و تربیه ۲۱۱.
تفاهم ۵۵۳
تکبیر ٤۷۵.
تلویزیون افغانستان(موسسه) ۲٦۲-۲٦٤، ۲۷۳.
تنویر ٤۳۳.
توان ۷۲۳.
توحید ۵۲۰، ۵۵٤.
توحید سنگر ٤۹۲.
تول پشتون ۵۵٤.
تیاتر(موسسه) ۲۰٤.

## ث

ثار ۳۷۱، ۵۲٤.
ثاقب ٤۹۲.
ثبات ۵۵٤.
ثروت ۸۷، ۱۹۳.
دثور انقلاب ۲۹۳.

## ج

جامعه و دانش ۳۵۳.
جبهۀ آزادی ۵۰۲.
جبهۀ جهاد ۵۰۲.
جبهۀ رهایی بخش The Liberation Front ۵۰۳.
جبهۀ ملی ۱۸۱.
جرگه(تلویزیونی پروگرام) ۷۲۱.
جرگه ۳۵۳.
جریده الایمان ۱۱۸.
جغرافیه ۲۱۱.
جمعیت ٤۹۳.

جمهوریت ۱۳۲، ۲٤۱، ۲٥۱.
جنبش ۳٥۳، ٦۷۷.
جوالی ٥٥٤.
جوانان ۳٥۳، ۷۰٤.
جوانان مسلمان ٥۸۳، ۷۰٤.
جوانان مهاجر ۷۱۳.
جوزجان ۳٥۰.
جهاد ٤۱۸، ٤۷٥، ٥۰۲، ٥۱٤، ٥۱۷، ٥۱۹، ٥۲۳، ٥٥٤.
الجهاد ٤۱۸، ٤۹٦، ٥٥٥.
جهاد اسلامی ٤۷٥، ٥۸۳.
جهاد افغان ٥٥٥.
جهاد افغانستان
جهاد پلوشه ٤۹۳.
دجهاد پوهه Jehad Digest ٥۱۲.
جهاد در سنگر انقلاب ٥٥٥.
جهاد راستین ٥۱۳.
دجهاد غز ٤۹۳، ٥۱٤.
دجهاد هنداره Mirror of Jehad ٤۹۰، ٥٥٥.
جیحون ٥٥٦.

## چ/څ

چراغ ٥٥٦.
څارندوی ۳٥۳، ٥٥۷.
څانګه
څپې ٥٥٦.

## ح

حبیب الاسلام ۹۹ -۱۰۰۷-۱۰۹ - ۱۱۰، ۱۱٥.
حجت ۳٥۳.
حدیقه ۷۱۳.
حرم ٦۷۸.
حریت ٤۷٥.
حق ٥٥٦.
حق پاخون ٥۱٤.
د حق لاره ۷۱۳.
حقیقت ۸٦
حقیقت اسلام
حقیقت انقلاب ثور ۳٤۸.
حقیقت سرباز ۳٥۳.
حکمت ٥٥٦.
حی علی الفلاح ۱۳٥.
حوت خونین ٥٥۷.

## خ

خاور ۳٥۳.
خپلواکی ٥٥۷، ٥۸٥.
دخپلواکی وژمه ٥٥۷.
خدام الفرقان ٥٥۷-٥٥۸.
خراسان ۳٦۰، ٥٥۸.
خلق ۱۸۱.
دخلکو هیله
خلافت ۷٥٦.
الخلافه ٤۳۳.
الخلافه الاسلامیه ۷٥۳.
خواهران ٥٥۸، ۷۱۳.
خواهر برادر اسلام ٦۷۸.
خواهر شهید ٤٦۹- ٤۷۰.
خورشید جهاد ٥٥۸.
خیبر ۱۸۳.

## د

داد ٥٥۸.
دارالسلطنت(مطبعه) ٤۹ -٥۰، ٥٦، ٦۸، ۸٦، ۹۱.
داعیون الی الخیر ٥٥۹.
دانا ٥٥۸.
دانش ۳۷۱.
دانش (مطبعه) ۸۹، ۱۰٥.
دانشجو ٤۹۳.
دانشجویان مسلمان ٥۱٤.
دختران زینب ٥۲۱.
در دری ۷۱۳.
درفش جوانان ۳٥٤.
درفش محصلان/امروز ۳٥۱.
درمان ٥٥۹.
دریا ۱۹۱، ۳۷۱.
دریځ ۳٥٤، ۷۰٤، ۷۲۳.

دعوت ۵۵۹.
دعوت اسلامیه ۵۵۹.
الدعوه ۵٦۰.
دفاع ۵۱۹، ۷۰٤.
دوستی ۳٥٤.
دهقان ۳٥٤.
دیوه ۲۱۹، ۳۵۵، ۵٦۰.

ډ

ر

رادیو اسمار ٤۷۱.
رادیو افغانستان (موسسه) ۱۹۹-۲۰۳.
رادیو پیام آزادی(صدای افغانستان) ٤۷۱.
رادیو تلویزیون پیام آزادی ٦۹۵.
راستگویان ۲۰۳، ۵۰۳، ۵٦۰.
راه ٦۷۸.
راه اسلام ۵٦۰.
راه حسین ٤۹۳.
راه حق ٤۷٦.
راهیان سحر ٤۹٤.
راهیان نور ٤۹٤.
رجاء ۵۲۳.
رسالت ٤۷٦، ۵٦۰.
رستاخیز ۳۷۱.
رستاخیز اسلامی ٤۷٦.
رفیق (مطبعه) ۱۳.
رمز الجهاد ۵۸۲.
رنگین(تلویزیونی پروگرام) ۷۲۱.
رنگین کمان ۷۱٤.
رنا ۲۱۱، ۵٦۰.
روحانیت جوان ۵۲۳.
روز ۱۸۲.
روزگار ۱۸۲.
روزنه ۷۱٤.
روښدلان ۷۲۳.
روغتیا ۲۵۲.
روغتیا زیری ۱۳۷.
رویداد ۶۱٤.
رویداد های افغانستان ۳٦۲.
رهایی ۳۷۲.
رهبر اسلام ۱۱۸.
رهروان اسلام ۵٦۱.
رهروان سمیه ٤۹٤.
رهنمایی ۳۵٦.

ز

زرنگار ۷۱٤.
زن افغان ۵٦۱.
زنان افغانستان ۳٥٤.
زنان مهاجر ۷۱٤.
زن در سایه اسلام ٤۷٦.
زندان ٤۷٦.
زنده گی حزبی ۳٥٤.
زنگ تفریح ۷۱٤.
الزهرا ۷۲٤.
زیری ۲۱۲، ۲۵۲، ۳۵۵، ۵٦۱.

ژ

ژغورنکی جبهه Liberation Front ۵۰۳.
ژغورنه ۵٦۱.
ژورنالیست ۳۵۵.
ژوندون ۲۱۲، ۲۵۳، ۳۵۵، ۷۰٤.

س

ساینس ۲۱۳.
سبا ۱۷۹، ۱۸۲.
سباوون ۳۵۵، ۷۱۵.
سباوون زیری ۷۱۵.
سپاهیان اسلام ٤۷۷.
سپرغی ۳۷۲.

سپیده ٧٠٥.
سپیده جهاد ٤٩٤.
سپیده دم ١٨٣.
سپیدی ٥٦١، ٥٩٧.
سپین غر ٥٦١.
ستاره ٢١٩.
ستاره افغان ٨٨، ١٠٧.
ستوری ٢٢٠٧ ٣٥٥.
سراج ٧٢٤.
سحر ٥٦٢، ٧١٥.
سراج الاخبار ١٤، ٥٨، ٦١، ٦٥-٦٧، ١٠٩، ٧٥٨.
سراج الاطفال ٦٨.
سراج المنیر ٤٧٦.
سرباز ٣٥٥.
سروش ٧١٦.
سروش کودکان ٧١٦.
سره میاشت ٢١٣،٣٥٥، ٧٥٥.
سلام ٣٥٥، ٥٦٢، ٦٧٨.
سمنگان ٣٥٥.
سنا ٣٥٦.
سنان ٥١٩.
سنایی ٢٢٠، ٢٥٣.
سنگر ٤٩٥،٥٦٢، ٧٥٥.
سنگر انقلاب ٥٢٦.
سهار ٥٩٥.
سواد ٢١٣، ٣٥٦.
سوب ٣٥٦.
سوم عقرب ٣٧٢.
سیستان ٢٢٠، ٢٥٦.
سیمای اسلام ٥٢٣.
سیمای شهید ٤٧٧.
سیمای مجاهد ٤٧٧، ٤٩٤.
سیمای مقاومت ٥٦٢.
سینا ٧٠٥.

## ش

شاهد ٤٧٧ - ٤٧٨.
شبخند ٧١٦.
شرعیات ٣١٤.
الشرق ١٧.
شعار مبارز ٧١٦.
شعاع ٥٦٣.
شعاع جهاد ٤١٦.
شعله جاوید ١٨٣.
شعور ٥٢٢.
شفق ٤٧٨، ٥٩٣، ٥٩٥.
شکینه ١٢٤.
شگوفه ها ٧١٦.
شمس النهار ٦، ١٤، ٣٦ -٣٨، ٧١٦، ٧٥٨.
شمشاد ٣٥٦.
شمع ٧١٦.
شوخک ١٨٤ ، ٣٥٦، ٦٧٩.
شورا ٤٧٨.
شوری ٣١٤، ٥٦٣.
شهادت ٤٠٦، ٤٢٦-٤٦٩، ٥٩٣، ٥٩٥.
شهادت جوانان ٤٦٩.
شهادت افغان کا ترجمان ٤٦٩.
شهر ٧١٧.
شهید ٤٧٩.
شهید پیغام ٤١٦، ٤٧٩، ٥٩٥.
شهید زیری ٤٩٥.

## ص

صبح آینده گان ٧١٦.
الصبح ٤٢٢، ٤٧٩، ٦٠٠.
صبح امید ٥٦٣، ٧٠٥.
صبح پیروزی ٤٣٣.
صداقت ٧١٧.
صدای آریانا ٥٦٣.
صدای اسلام ٤٩٥.
صدای اطفال.
صدای افغانستان ٣٧٢، ٥٦٣.
صدای افغانستان/دافغانستان غږ(رادیو) ٤٧١.
صدای امروز ٧١٧.
صدای جهاد ٥١٤.

ACKU

صدای روستا ۵٦۳.
صدای زن ۳۷۲، ۷۲٤.
صدای عوام ۱۸٤.
صدای ملت ۱٤٦.
صدای نورستان ۳۷۲.
صدای وطن ۳۵٦.
صدی الجهاد ۵۸۲.
صدی المجاهدین ۵۱۰.
صراط ۷۱۷.
صراط المستقیم ۵٦۳، ۷۱۸.
صریر ۳٦۲.
صف ٤۸۰.
صفحهء نو ۵۳۸.
صوت الجهاد ٤۹۵، ۵۹۸.
صوت المجاهدین ۵۸۳.

ض

ضرب مومن ۷۵۷.
ضیاءالخافقین ۲۲، ۳۳.

ط

طارق ۵۲٤.
طریق المجاهدین ۵۸۳.
طلوع ۵٦٤.
طلوع افغان ۹۰، ۱۱۸، ۱۹۵، ۲۱۸، ۲۵۲، ۷۵٦.
طلوع سبز ۵۲۹.
طلوع فکر ۵٦٤.
طلوع وحدت ۵۳۸.

ظ

ظفر ۵۲۲
ظهور ۵٦٤.

ع

عاطفه ۳۵٦.
عبرت ۵٦٤، ۷۲٤.
عدالت ۳۵٦.
عرفان ۱۰۹، ۱۳٦، ۲۵۲، ۳۵٦.
عروه الوثقی ۱۵، ۱۸ -۱۹، ۲۱، ۳۲-۳٤، ۵٦٤.
عصر جدید ۳٦۲.
عصری برای عدالت ۵٦۵.
علم و جهاد ۵٦۵.
علوم اجتماعی ۳۵۷.
علوم طبیعی ۳۵۷.
علمی ویشتیا ۵٦۵.
عمران ۵٦۵.
عنایت (مطبعه) ۵٦.

غ

غازی ۸۸، ۵٦۵، ۷۱۸.
الغازی (مطبعه) ۸۹.
غچی ۷۱۸.
غرجستان ۳۵۷.
غزا ۵٦٦.
غیرت الاسلام ۱۲۰.

ف

فاریاب ۲۲۰، ۳۵٦.
فانوس ۵٦۵.
فتح ٤۹۵، ۵۲۲.
الفتوی ۵٦٦.
فجر ۵٦٦.
فجر ازادی ۵٦٦.
فجر امید ۵۳۰.
د فدایانو آواز ۵٦۷.
فدک ۵٦٦.
فردا ۳٦۳.
فرزند سمیه ۵٦۷.
فرزند شهید ۵٦۷.
فروغ ۵۳۰.
فروغ انقلاب ٤۹۵.

فرهنگ ٥٦٦، ٧١٨.
فرهنگ اریانا ٧١٨.
فرهنگ انقلاب اسلامی ٥٦٦، ٧٢٤.
فرهنگ خلق/مردم ٣٥٧.
فریاد ٣٧٣.
فریاد بی گناهان ٧١٨.
فریاد عاشورا ٥٦٧.
فریاد عصر ٧٠٥.
فریاد مجاهد ٥٦٦.
فغان افغان ١٣١.
فکر ٧٢٤.
فقه ٧٢٥.
الفلاح ٢١٤، ٤٨٠.
فلق ٥١٧، ٥٦٧.
فلکلور ٢٥٦.

## ق

د قام غږ ٥٦٧.
قسط ٥٦٨.
قضا ٣٥٢، ٣٥٧.
قضاوت ٥٦٨.
قلب آسیا ٥٦٨.
قلم ٣٥٧، ٥٦٨، ٥٨٥.
قلم در خدمت جهاد ٥٦٩، ٧٠٥.
قیادت ٥٦٩.
قیام بیست چهارم حوت ٤٨٠.
قیام حق ٤١٦، ٥٩٥.

## ک

کابل ٦، ١٤، ٣٥، ١٣٣، ٢٥٧، ٣٥٧، ٣٦٠، ٤٩٦، ٥٦٩، ٦٠٣.
کابل تایمز ٢١٥، ٢٥٢، ٧٠٥، ٧٥٦.
کابل (مطبعه) ٩٤، ١٣٦.
کابل نیو تایمز ٣٥٨.
کار ٣٥٨.
کاروان ١٨٤، ٥٦٩.
کاروان جهاد ٤٩٦، ٦١٦.
کاروان حله ٣٦٢.
کانو او صنایعو ٢١٥.
کتاب ٣٥٨.
کتیبه ٧٢٥.
کرنه ٢١٦.
کلتور ٥٦٩.
کمک ١٨٥.
کمکیانو انیس ٢٥٣، ٧٠٥، ٧٥٥.
کندز ٢٥٧.
کندهار ٢٥٧، ٧٥٦.
کوثر ٥٧٠، ٦٧٩.
کوچنیانو انیس ٢١٥، ٢٥٣.
د کور غم ١٢٠.
کوکب الشرق ١٧، ٣٥.
کونړ ٧٥٦.
کهکشان ٥٧٠.
کیوان ٧٢٤.

## گ

گلبانګ ٧١٩.
گلستان ٧١٩.
گل سرخ ٥٧٠.
گوارش ٣٥٨.
گواه ٤٨١.
گهیځ ١٨٥ - ١٨٧، ٦٠٧.

## ل

لښکر آزاده گان ٥٧٠.
لمر ٢١٦.
لوای اسلام ٤٩٦.
لوای توحید ٥٧١.
لوای جهاد ٤٨١.
لوای حق ٤٩٦.

## م

ماهنامه خبری
ماهنامه مجاهدین Mujahedeen Monthly ۴۸۱.
ماین ۵۷۱.
المجاهد افغان ۵۸۳.
المجاهد الافغانی ۵۸۳.
مبارزه افغان/افغان مبارزه Resistance Afghan ۴۸۱.
مجاهد ۴۸۹ -- ۴۹۰.
د مجاهد پیغام ۵۷۱.
مجاهد فردا ۵۷۱.
مجاهد ولس ۵۷۱.
مجاهد ژغ پانه ۵۰۲.
المجاهدون ۴۹۶.
مجاهده خور ۴۸۳
د مجاهدینو لار Mujahid Yolu ۵۸۲.
مجاهدین بی بی سی ۴۸۱.
مجاهدین کا اتحاد ۴۱۹.
مجموعهء صحیه ۹۲، ۲۰۴.
مجموعهء عسکریه ۹۰، ۱۳۷.
محاذ ۵۰۵.
مرجان ۵۷۱.
مردم ۱۸۸، ۵۷۲.
مرسته ۷۲۵.
مرصد الجهاد۴۹۶.
مساوات ۱۶۷، ۱۸۸-۱۸۹، ۷۱۹.
مستقبل ۷۱۹.
المسلمون ۵۷۲.
مسولیت زن مسلمان ۵۳۰.
دمشرق ستوری(ستاره شرق) ۲۵
د مشرقی اتحاد ۵۷۲.
مشعل ۴۹۷، ۵۷۲، ۷۲۵.
مشعل آزادی ۷۲۵.
مشعل رهایی ۳۷۳.
مصباح ۵۷۲.
مصر (جریده) ۲۵.
مصلحت ۵۷۳.
معارف ۷۲۵.
معارف اسلامی۴۸۲.
معرفت ۱۸۹.
معرفت معارف ۹۱.
المعروف ۵۷۳.
مقاومت The Resistance ۴۸۲
مقاومت ۵۷۳.
مکتب ۹۲.
ملت ۱۹۰.
ملیت های برادر ۳۵۸.
ملی جبهه ۳۵۸.
منبع الجهاد ۵۷۳.
الموقف ۴۸۲.
المومنات ۴۸۳.
مؤید الاسلام ۱۱۸.
مورچل ۵۷۴.
المومنات ۵۷۴، ۷۰۶.
مهاجر ۵۷۳.
مهد ۷۰۶.
مهری ۲۱۶.
میثاق ۵۷۴.
میثاق ایثار ۴۶۵، ۴۸۳.
میثاق خون ۴۹۷، ۶۱۶، ۷۰۶.
میثاق وحدت ۵۳۸.
میدیا(آژانس) ۴۷۱.
میرمن ۲۱۶، ۲۵۳، ۷۰۶.
میزان ۵۳۰، ۶۱۶، ۷۰۶.
میوند ژغ ۵۷۴.
میهن ۳۵۹، ۷۲۵.

## ن

ناشریکه ۶۷۷.
نامه خراسان ۵۷۴.
نای ۳۵۹، ۳۶۳.
نبرد ۵۷۵.
نبرد حق ۴۸۳.
نجات ۷۱۹.
النجم الثاقب ۵۷۵.
نخله ۲۵.
ندای آزادی ۳۷۳.
ندای استقلال ۵۷۵.
ندای اسلام ۵۰۲، ۶۷۷.
ندای انقلاب ۵۱۹.
ندای جمعیت ۴۹۷.
ندای جند الله ۵۷۵.

ACKU

ندای جهاد ۴۸۳.
ندای جوانان ۳۷۴.
ندای خراسان ۵۷۶.
ندای حق ۱۹۰، ۵۱۴، ۵۲۴، ۵۷۵.
ندای خلق ۱۴۳.
ندای خواهران ۴۹۷.
ندای سنگر ۵۷۶.
ندای صلح ۳۵۹، ۳۶۳.
ندای عدالت ۵۳۱.
ندای قلم ۷۱۹.
ندای مجاهد ۴۹۷.
ندای وحدت ۵۷۶
ندای الوحده ۵۳۹.
نسأ ۴۸۴.
نسیم سحر ۸۳، ۱۰۳.
نصرت الجهاد ۵۷۶.
نصیحت ۵۷۶.
نظامی پاخون ۵۷۶.
النفیر العام ۴۱۶، ۵۹۸.
نقد و آرمان ۷۲۰.
نګاه ۳۵۹
ننګرهار ۸۸، ۲۵۳، ۳۵۹.
نوا ۳۵۹
نوبهار ۵۷۷.
نور ۳۷۴، ۷۲۶.
النور ۵۰۷.
نوروز ۸۳، ۱۰۳.
نوید ۷۲۶.
نوید پیروزی ۵۳۰ - ۵۳۱.
نوید حق ۵۸۴.
نهضت ۵۱۹.
نهضت الحبیب ۱۱۹.
نیروی ایمان ۴۹۸.
نیلاب ۱۴۴.
نینوا ۷۲۰.

و

وارث شهید ۴۸۴.
واژه ۷۲۰.
واقعیت ۴۳۳.
وحدت ۱۹۰، ۴۸۴، ۵۳۹، ۶۷۹.
وحدت اسلامی ۴۱۶، ۵۷۷، ۵۹۹.
الوحده اسلامیه ۵۳۹.
وژمه ۲۱۷.
وړانګه ۲۲۰، ۲۵۳، ۵۰۶، ۶۰۲.
وطن ۱۴۴، ۳۲۰، ۳۵۹، ۷۲۰.
الوطن اسلامی ۵۰۶.
وطن ګوند(حزب وطن) ۳۵۹.
وفا ۵۸۴.
ولس ۱۴۵.
ولسی جرګه ۳۶۰.

هـ

هاجر ۵۳۹.
هجرت ۴۸۴.
الهجرت و الجهاد ۵۰۷.
هدایه السلام ۵۱۰.
هدف ۵۷۷، ۵۸۸.
هرات ۱۳۵، ۲۵۷، ۳۶۰.
هری ۳۶۰.
هفت قلم ۷۲۰.
هفته نامه ۵۸۴.
هفته نامه کابل ۷۰۶.
هفته نامه مجاهدین(مجاهدین اونیزه) Mujahedeen Weekly ۴۸۵.
هلمند ۲۵۸.
همبستګی ۷۲۱.
هندوکش(تلویزیونی پروګرام) ۷۴۱.
هنر ۳۶۰، ۷۲۶.
هوشدار ۵۷۸.
هیواد ۱۵۰، ۲۱۷، ۲۲۰، ۲۵۳، ۳۶۰، ۷۰۶، ۷۵۵.

ی

یاحق ۳۶۰.
یاغدو ۶۷۹.
یولو ۶۸۰.
الیرموک ۵۷۸.
یلدوز ۳۶۰، ۵۷۸.

PROPERTY OF ACKU 12873

# History & Journalism in Afghanistan



**انتشارات علمی و فرهنگی**

**انستیتوت تحقیقات و بازسازی افغانستان**

## کتابهای از همین نویسنده

۱/ تاریخ و روزنامه نگاری افغانستان (د افغانستان تاریخ او خپرونی)

۲/ تاریخ نهضت های اسلامی

۳/ باران (مجموعه، داستان کوتاه)

٤/ خر بی فرهنگ (مجموعه، طنز)

٥/ افغانستان در سایه سیاست، اقتصاد و فرهنگ

٦/ زنان سخنور و نامور افغانستان

۷/ جنایات کمونیست ها در افغانستان

۸/ از شور بازار تا کلفورنیا (مجموعه، طنز)

۹/ گل آقای پتونی (مجموعه، طنز)

۱۰/ زنده گی نامه و آثار سید جمال الدین افغان

۱۱/ تاریخ افغانستان در قرن نزده و بیست

۱۲/ قافله بدر (مجموعه اشعار عبدالحی شیدا

Printed by Saboor Islamic Publication Ph: 92-91-843382

ISBN 90-805342-1-8

9 789080 534216